جاوید احمد غامدی

میزان

ژباړن:
عبدالغفور پیروز

المورد
د علم او څېړنې اداره

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

میزان

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جاوید احمد غامدي

میزان

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

ژباړن:

عبد الغفور پیروز

المورد

د علم او څېړنې اداره

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تول حقوق خوندي دي

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

خپرندوی: المورد

چاپوونکی:

لومړی چاپ: ۲۰۱۶

بیه:

ISBN : ۹۷۸-۹۶۹-۶۸۱-۰۰۱-۸

Address: Post Box ۱۵۸۵, Lahore Pakistan.

Post Box ۷۱۰۶, Karachi Pakistan.

Website: www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فهرست

مقدمه

(۱)

اصول او مبادي

۱۵-۷۵

پر قرآن د غور اساسات ۱۸

لرغوني عربي ۱۸ -د ژبې وضاحت ۳۲ -ځانګړي اسلوب ۲۵

ميزان او فرقان ۲۸ -متشابه کتاب ۴۸ -د دين وروستی کتاب ۵۰

د نبوي وېرونې داستان ۵۵ -د کلام نظم ۵۷ -سبع مثاني ۶۱

تاريخي شالید ۶۴

پر سنت د غور کولو اساسات ۶۶

لومړی اصل ۶۶ -دويم اصل ۶۷ -درېيم اصل ۶۸ -څلورم اصل ۶۸

پنځم اصل ۶۹ -شپږم اصل ۶۹ -اووم اصل ۷۰

پر احاديثو د غور کولو اساسات ۷۰

د حديث سند ۷۱ -د حديث متن ۷۱ -د عربيت ذوق ۷۳

د قرآن رښا ۷۴ -موکه او محل ۷۴ -د باب احاديثو ته کتنه ۷۵

عقل او نقل ۷۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مقدمه

(۲)

حق دین

۷۶ - ۹۰

ـ الحکمة ـ

ایمانیات

۹۲ - ۲۲۴

پر الله ایمان ۹۸

ذات ۱۰۴ -صفات ۱۰۶ -سنن ۱۱۹

پر ملایکو ایمان ۱۳۶

پر انبیاوو ایمان ۱۴۲

د نبوت حقیقت ۱۴۵ -د نبي اړتیا ۱۴۷ -د نبي پېژندنه ۱۴۸

د نبي بشریت ۱۵۴ -د نبي فطرت ۱۵۷ -د نبي عصمت ۱۵۸

د نبي ریاضت ۱۶۱ -د نبي فضیلت ۱۶۲ -د نبي اطاعت ۱۶۴

د نبي شفاعت ۱۶۷ -ختم نبوت ۱۷۰

پر کتابونو ایمان ۱۷۲

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تورات ۱۷۳ -زبور ۱۷۴ -انجیل ۱۷۴ -قرآن ۱۷۵

د جزا پر ورځ ایمان ۱۷۸

شواهد ۱۸۰ -نبۍ (علامې) ۱۹۹ -حالات ۲۰۴ -پرا وونه ۲۰۸

اخلاقیات

۲۲۵ - ۲۹۴

بنستیز بحثونه ۲۲۶ -د اصولو اصل ۲۳۰

فضایل او رذایل ۲۳۳

د الله عبادت ۲۳۹ -له مورو پلار سره ښه چلند ۲۴۲

د الله تعالی په لار کې نفقه ۲۴۹ -عفت او عصمت ۲۵۶

د انساني نفس درناوی ۲۵۹ -د یتیم په مال کې خیانت ۲۶۱

په وعده وفا ۲۶۱ -په ناپ او تول کې دیانت ۲۶۳

د خرافاتو پیروي ۲۶۴ -غرور او تکبر ۲۶۶

جمال او کمال ۲۷۳

اسلام ۲۷۴ -ایمان ۲۷۵ -قنوت ۲۷۹ -صدق ۲۷۹ -صبر ۲۸۰

خشوع ۲۸۴ -صدقه ۲۸۶ -روژه ۲۸۶ -د فرجو ساتنه ۲۸۷

ډپر ذکر ۲۸۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ـــ الکتاب ـــ

د عباداتو قانون

۲۹۶ - ۴۵۶

لمونځ ۲۹۶

د لمانځه تاریخ ۳۰۹ - د لمانځه هدف ۳۱۶ - د لمانځه شرایط ۳۱۷

د لمانځه اعمال ۳۲۴ - د لمانځه اذکار ۳۲۹ - د لمانځه وختونه ۳۴۵

د لمانځه رکعتونه ۳۴۹ - په لمانځه کې رعایت ۳۵۰ - د لمانځه جماعت ۳۵۳

په لمانځه کې تېروتنې ۳۶۲ - د لمانځه اداب ۳۶۴ - د جمعې لمونځ ۳۷۲

د اختر لمونځ ۳۷۴ - د جنازې لمونځ ۳۷۵ - نفل لمنځونه ۳۷۷

زکات ۳۸۶

د زکات تاریخ ۳۸۹ - د زکات هدف ۳۹۱ - د زکات قانون ۳۹۲

روژه ۳۹۶

د روژې تاریخ ۴۰۱ - د روژې هدف ۴۰۴ - د روژې قانون ۴۱۱

حج او عمره ۴۱۵

د حج او عمرې تاریخ ۴۲۰ - د حج او عمرې هدف ۴۲۹

د حج او عمرې ورځې ۴۲۹ - د حج او عمرې ځایونه ۴۳۰

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د حج او عمرې طریقه ۴۳۴

قرباني ۴۵۰

د قربانۍ تاریخ ۴۵۲ - د قربانۍ هدف ۴۵۴ - د قربانۍ قانون ۴۵۴

مدني قانون

۴۵۷ - ۵۴۰

نکاح ۴۶۰

محرمات ۴۶۱

نسب ۴۶۲ - رضاعت ۴۶۳ - مصاهرت (خسرګنۍ) ۴۶۵

حدود او شرایط ۴۶۷ - دندې او حقوق ۴۷۲

د میرمنو شمېر ۴۷۸ - د جنسي اړیکو حدود ۴۸۵

ایلاء ۴۸۸ - ظهار ۴۸۹ - طلاق ۴۹۲

تر طلاق وړاندې ۴۹۴ - د طلاق حق ۴۹۴ - د طلاق طریقه ۴۹۶

د طلاق عده ۵۰۸ - تر طلاق وروسته ۵۱۲

د میړه مړینه ۵۱۶ - د نارینه او ښځې اختلاط ۵۱۹

مور و پلار ۵۳۱ - یتیمان ۵۳۳ - مرپییتوب ۵۳۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د سیاست قانون

۵۴۱ - ۵۵۸

بنسټیز اصول ۵۴۲ - اصلي دنده ۵۴۵ - ديني مسئوليتونه ۵۴۸

تابعیت او حقوق يې ۵۴۹ - حکومتي سيستم ۵۵۳

مالي قانون

۵۵۸ - ۵۹۷

د ملکیت درناوی ۵۶۱ - ملي شتمنۍ ۵۶۲

ناروا مالونه خوړل ۵۶۴

قمار ۵۶۷ - سود ۵۶۸

لیکنه او شاهدي ۵۷۴ - د میراث وېش ۵۸۰

د دعوت قانون

۵۹۸ - ۶۴۷

نبوي دعوت ۵۹۹

انذار ۶۰۰ - عامه انذار ۶۰۲ - اتمام حجت ۶۰۴

هجرت او برأت ۶۰۵ - جزا او سزا ۶۰۷

د ابراهیم د اولادې دعوت ۶۱۴ - د علماوو دعوت ۶۱۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دولتي دعوت ۶۲۲ - فردي دعوت ۶۲۳ - دعوتي تګلاره ۶۲۶

ذهني وړتيا ته پاملرنه ۶۳۰ - رواني حالت ته پاملرنه ۶۳۲

د خبرو ډول ۶۳۹ - د استدلال طريقه ۶۴۲ - د دعوت طريقې ۶۴۴

د جهاد قانون

۶۴۸ - ۶۸۲

د جهاد اجازه ۶۴۹ - د جهاد امر ۶۵۱

د مسئوليت ډول ۶۵۲ - د جګړې هدف ۶۵۶ - اخلاقي حدود ۶۶۰

د ګام اخيستلو موخه ۶۶۵

الهي مرسته ۶۷۳ - د جګړې بنديان ۶۷۵

د غنيمت مالونه ۶۷۹

حدود او تعزيرات

۶۸۳ - ۷۰۶

جګړه او په ځمکه کي فساد ۶۸۵

تقتيل (په عبرتناکه توګه وژل) ۶۸۶ - تصليب (په دار ځړول) ۶۸۶

بې ترتيبه د لاسو او پښو غوڅول ۶۸۷ - له وطنه شړل ۶۸۷

مرګ ژوبله ۶۹۱ - زنا ۶۹۸ - قذف ۷۰۱ - غلا ۷۰۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خوراک او څښاک

۷۰۷ - ۷۱۷

دودونه او اداب

۷۱۸ - ۷۲۷

قسم او کفاره يې

۷۲۸ - ۷۳۰

وروستۍ خبرې

۷۳۱ - ۷۳۳

ماخذونه

۷۳۴ - ۷۳۹

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ژباړې په اړه د لیکوال لنډې څرګندونې

درونډ او محترم مولانا عبد الغفور پیروز صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله

تاسو زما کتاب میزان د هغه قوم په ژبه ژباړلی چې ارادې یې لا هم د فطرت مقاصد ساتي. زما لپاره په دې وجه هم د خوښۍ فرصت دی چې په دې سره زه یو ځل بیا هغې خاورې ته ستون شوم چې څو پیړۍ وړاندې زما نیکونو او پلرونو تر ې هجرت کړی وو. ستاسو له پیرزوینې مننه.

لیرې نه ده، دا هڅه له هغه حالت څخه د ویاړلو افغانانو د راوتلو وسیله شي چې له بده مرغه هغوی پکې ښکېل کړای شوي دي. وما توفیقنا الا بالله

غامدي

اکتوبر ۲۰۱۵/۲۲

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پیلامه

د الله په نزد دین یوازې اسلام دی، د یوې پېړۍ د نژدې څلورمې برخې په مطالعه او تحقیق کې چې مې د دین څه زده کړې په همدې کتاب کې مې بیان کړې دي. هره پر ځای خبره یې د الله پېرزوینه او زما د جلیل القدر استاذ امام امین احسن اصلاحي له افکارو د اخذ او استفادې نتیجه وګڼئ او که کومه خبره په نظر کمزورې درشي نو زما د علم پر ضعف یې حمل کړئ.

ملکت عاشقي و گنج طرب

هر چه دارم زیمن همت اوست

المورد، لاهور — جاوید

۱۰/اپریل/۱۹۹۰م

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مقدمه

۱

اصول او مبادي

دين الهي لارښوونه ده چې لومړی يې د انسان فطرت ته الهام کړې او تر دې وروسته يې له ټولو تفصيلاتو سره د خپلو رسولانو په وسيله انسان ته ورکړې ده، د دې لړۍ وروستی رسول محمد صلی الله عليه وسلم دی، ځکه نو پر دې ځمکه د دين يوازينی سرچينه د رسول الله لوړ ذات دی. انسان تر قيامته يوازي د ده په شخصيت کې د خپل رب لارښوونې تر لاسه کولای شي او دا يوازي د ده مسئوليت دی چې د خپلې وينا، فعل او تقرير په وسيله کوم څه دين وګڼي نو د دنيا تر پايه دين وبلل شي.

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ (الجمعة: ۶۲: ۲)

"دی هغه ذات دی چې له دې نالوستو يې دوی ته يو رسول را لېږلی چې د ده ايتونه ورته تلاوت کوي، تزکيه يې کوي او همدوی ته د قانون او حکمت زده کړه ورکوي."

همدا قانون او حکمت هغه حق دين دی چې د اسلام په نوم يادېږي، موږ يې د ماخذ تفصيل په دې توګه وړاندې کوو چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دا دين د هغه د صحابه وو په اجماع او قولي و عملي تواتر را نقل

شوی او تر موږ په دوو صورتونو را رسېدلی دی:

۱) قرآن کريم

۲) سنت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن کريم په اړه هر مسلمان په دې حقيقت خبر دی چې الله دا کتاب پر خپل وروستي رسول نازل کړی او له خپل نزول څخه وروسته تر ننه په مسلمانانو کې د دوی له لوري په اجماعي ډول له دې صراحت سره موجود دی چې همدا کتاب پر رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی وو او د ده صحابه وو د خپلې اجماع او قولي تواتر په وسیله له بشپړ حفاظت سره له هر ډول تغیر پرته نړۍ ته نقل کړ.

له سنت څخه مو مراد د ابراهیمي دین هغه روایت یا طریقه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر نویتوب او بیا سمون وروسته له ځینو زیاتونو سره خپلو پیروانو ته د دین په توګه پرېښې ده. ده ته په قرآن کې د ابراهیمي ملت د اتباع حکم شوی چې دا طریقه یې یوه برخه ده. الله عز وجل ویلي:

ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (النحل ۱۶: ۱۲۳)

"بیا مو تا ته وحي وکړه چې د ابراهیم د ملت پیروي وکړه چې ښځي یوې ګوښې ته وو له مشرکینو نه وو."

په دې وسیله چې موږ ته کوم دین را رسېدلی، هغه دادی:

عبادات

۱) لمونځ. ۲) زکات او سرسایه (صدقه فطر). ۳) روژه او اعتکاف. ۴) حج او عمره. ۵) قرباني او د تشریق د ورځو تکبیرونه.

ټولنیزې لارښوونې (معاشرت)

۱) نکاح، طلاق او د هغو اړوند احکام. ۲) په حیض او نفاس کې د ښځې او مېړه تر منځ اړیکې.

خوراک او څښاک

۱) د خنزیر، وینې، مردار شوي او د غیر الله په نوم د ذبح شوي حیوان حرمت. ۲) د الله د نوم په یاد ولو د حیوانانو حلالول.

دودونه او اداب

۱) د الله په نوم او راسته لاس خوراک څښاک. ۲) د مخامخ کېدو پر مهال السلام علیکم او د هغه ځواب. ۳) د پرنجې پر وخت الحمد لله او په ځواب کې یې یرحمک الله. ۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

)د بريتونو کمول. ۵)تر نامه د لاندي ويښتانو اخيستل. ۶)د بغلونو د ويښتانو پاکول. ۷)د لويو نوکانو غوڅول. ۸)د ماشومانو سنتي. ۹)د پزې، خولې او غاښونو پاکول. ۱۰)استنجا. ۱۱)تر حيض او نفاس وروسته غسل. ۱۲)د جنابت غسل. ۱۳)د مړي غسل. ۱۴)تجهيز او تکفين. ۱۵)بښخول. ۱۶)کوچنی اختر (عيد الفطر). ۱۷)لوی اختر (عيد الاضحی).

همدا سنت دی او په دې اړه دا بالکل يقيني ده چې د ثبوت له مخې د ده او قرآن تر منځ هيڅ توپير نه شته، لکه څرنګه چې قرآن د صحابه وو په اجماع او قولي تواتر را نقل شوی همداسي سنت د دوی په اجماع او عملي تواتر را نقل شوی او د قرآن په څېر په هره زمانه کې د مسلمانانو په اجماع ثابتېږي. له همدې املې يې په اړه نور د بحث او شړې امکان نه شته.

د يقيني دين همدا دوه صورتونه دي، له دې پرته نه هيڅ شی دين دی او نه دين بلل کېدای شي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قول، فعل او تقرير يا تائيد احاد خبرونه چې په عمومي ډول احاديث بلل کېږي د هغو په اړه دا نه ردېدونکی حقيقت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې هيڅکله تبليغ او ساتنې ته پاملرنه ونه کړه، بلکې او ېدونکو او ليدونکو ته يې اجازه ورکړه چې که وغواړي نورو ته دي ورسوي او که نه غواړي خوشي دي کړي، ځکه نو په دين کې هيڅ عقيده او عمل نه شي زياتولای. په هغو کې چې د دين په اړه کوم شيان راځي هغه د حقيقت له مخې په قرآن او سنت کې د محصور شوي همدې دين د پوهولو، بيان او پر هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د عمل اسوه حسنه ده. همدا د احاديثو دايره ده، ځکه نو د دين په توګه له دې دايرې دباندې هيڅ شی نه دين کېدای شي او نه يوازې د احاديثو پر بنسټ منل کېدای شي.

په همدې دايره کې دننه يې پر هر هغه چا حجت قايمېږي چې په صحت يې تر اطمنان وروسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قول، فعل او يا تائيد په توګه مني، تر دې وروسته د هغه لپاره انحراف جايز نه دی بلکې اړينه ګرځي چې که پکې د رسول الله کومه پرېکړه او يا حکم بيان شوی وي نو په وړاندې يې د تسليمی سر ټيټ کړي.

قرآن کريم، سنت او حديث درې واړه د تدبر وړ دي، له همدې املې د هغو په اړه د سم درېځ خپلولو لپاره چې زمونږ په اند بايد هر عالم کومو شيانو ته پام وکړي دلته به يې له يوه ترتيب سره بيان کړو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر قرآن د غور اساسات

لومړی هغو اساساتو ته پام وکړئ چې پر قرآن د غور پر مهال باید په پام کې ونیول شي.

لرغونې عربي

لومړی شی دادی چې قرآن کریم په کومه ژبه نازل شوی هغه د ام القری لرغونې عربي ده چې د جاهلیت پر مهال د قریشو وګړو پرې خبرې کولې، په دې کې شک نه شته چې همدا ژبه الله په خپل کتاب کې د فصاحت او بلاغت تلپاتې معجزه ګرزولې خو د خپل حقیقت له مخې هماغه ژبه ده چې د الله رسول پرې خبرې کولې او په هغه وخت کې د مکیانو ژبه وه.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا (مریم ۱۹ : ۹۷)

"موږ دا (قرآن) ستا په ژبه ډېر اسانه او موزون ګرزولی چې په وسیله یې متقیانو ته زېری ورکړې او ضد کوونکي کسان ښه خبر کړې."

له همدې کبله اوس د دې کتاب پوهه د دې ژبې له سمې زده کړې او کره ذوق سره تړلې ده، پر هغه د تدبر او شرحې و تفسیر لپاره اړینه ده چې انسان د دې ژبې پیاوړی عالم او د اسلوبو له داسې ذوق سره یې اشنا وي چې د قرآن مدعا ته په رسېدو کې لږ تر لږه ورته د هغه ژبه خنډ جوړ نه کړای شي.

دا حقیقت تر دې زیات وضاحت ته اړتیا نه لري خو د دې ژبې په اړه باید هر زده کوونکی په پوره وضاحت سره وپوهېږي چې دا عربي نه د حریري، متنبي، زمخشري او رازي لیکل شوې عربي ده او نه دا مهال د مصر او شام په ورځپاڼو کې خپرېدونکې او د هغوی د ادیبانو او شاعرانو په قلم لیکل کېدونکې عربي. دا هم یو ډول عربي ده، مګر هغه عربي چې قرآن پکې نازل شوی او په مناسب ډول لرغونې یا لوړه عربي بلل کېدای شي د دې او هغې ژبې د ډول طرز، سبک، اسلوبو، الفاظو او محاوراتو تر منځ لږ و زیات هماغه توپیر دی چې د ببلګې په توګه د میر و غالب او سعدي و خیام د ژبې او زموږ په ننني عصر کې د هند و ایران د ورځپاڼو او جریدو د اردو او فارسي تر منځ دی. له همدې کبله دا یو حقیقت دی چې په دې سره نه یوازې د قرآني ژبې سلیقه نه شي را منځ ته کېدای

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بلکي سرچپه يې تر پې پردې کوي او که پر همدې ډېره تکيه وشي نو ډېر ځله انسان د قرآن کريم له فهم څخه بې برخې کېږي.

ځکه نو په قرآني ژبه د پوهي لپاره چې بايد لومړی کوم څه ته رجوع وشي هغه په خپله قرآن کريم دی، په دې اړه هيڅوک دا حقيقت نه شي ردولای چې کله دا کتاب په ام القری کي نازل شو نو له شک پرته اسماني حقيقت يې تر يوه وخته د شخړې ډګر وو خو عربيت يې هيڅکله هم چيلنج نه کړای شو. قرآن وويل: دا د کوم عجمي کلام نه شي کېدای او دليل يې دا وړاندي کړ چې په څرګنده عربي نازل شوی، ځان يې د ژبې، ادب، فصاحت او بلاغت يوه معجزه وبلله او قريشو ته يې چيلنج ورکړ چې د هغه په څېر يوه سوره دي وړاندي کړي، ان اعلان يې وکړ چې د دې کار لپاره دي خپل اديبان، ويناوال، شاعران، کاهنان او يوازي انسانان نه بلکي د خپلې خوښې پېريانان، شيطانان او شاپېريان هم را وبولي خو دا يو نه ردېدونکی تاريخي حقيقت دی چې په عربو کي نه هيڅوک د هغه له عربيت څخه انکار وکړای شو او نه يې چا هيڅکله د چيلنج ځوابولو توان وموند.

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (البقرة ٢ : ٢٣)

"او که تاسو د هغه څه په اړه شکمن ياست چې پر خپل بنده مو نازل کړي، نو د هغه په څېر يو سورت راوړئ او د دې لپاره له الله پرته خپل ټول ملګري را وبولئ، که رښتني ياست."

قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَـذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا (بني اسرائيل ١٧: ٨٨)

"ووايه! که پېريانان او انسانان ټول پر دې را غونډ شي چې د دې قرآن مثل راوړي، نو را به يې نه وړي که څه هم د يوه بل مرستندويان شي."

يوازي دا خبره نه ده، کله چې په مکه کي د وليد بن مغيره په څېر د ادب کره کتونکي (ناقد) دا کلام واورېد نو بې اختياره يې وويل:

والله ما منكم رجل أعرف بالاشعار منى و لا أعلم برجزه و لا بقصيده منى ولا باشعار الجن والله ما يشبه الذى يقول شيئا من هذا، والله ان لقوله الذى يقوله حلاوة و انا عليه

"قسم په الله! په تاسو کي هيڅوک تر ما نه په شعر نه پوهېږي، نه يې په رجز او قصيده او نه د پېريانو په الهام، قسم په الله! د ده پر ژبه جاري کلام په دې کي هيڅ شي ته ورته نه دی. قسم په الله! په دې کلام کي ډېر خوږوالی او ښکلا ده،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لطلاوة و انه لمثمر اعلاه مغدق اسفله و انه ليعلو و لا يعلى و انه ليحطم ما تحته.

(السيرة النبوية ابن كثير ۱ / ۴۹۹)

څانګې يې مېوې ورکوي او جړې يې سمسورې دي. دا به حتما بريالی کېږي، هيڅ شی به وربانديې بريالی نه شي او تر خپل ځان لاندې به هر څه وځپي."

د سبعه معلقه په شاعرانو کې لبيد هغه مهال ژوندی وو، دا هغه شاعر دی چې د ده يوه شعر[1] ته د فرزدق په څېر شاعر پر سجده پرېووت، ليکن دی يې هم په وړاندې داسې ګونګ شو چې کله تر ې عمر فاروق د شعر غوښتنه وکړه نو ويې ويل: تر بقرې او آل عمران وروسته شعر چيرې دی؟. ما كنت لاقول شعرا بعد ان علمنی الله البقرة و آل عمران.[2]

دا صرف د يوه شاعر اقرار نه وو، بلکې معنا يې دا وه چې د ټولو عربو فصاحت او بلاغت يې په وړاندې سر تيټی شوی دی.

دا هم يو حقيقت دی چې د ژبې او ادب دا معجزه له هر ډول تغير او د الفاظو له هر ډول بدلون پرته په هماغو الفاظو تر موږ را نقل شوی، دا اوس بېخي يو منل شوی حقيقت دی چې دا نه يوازې پر ځمکه د دين حتمي حجت دی بلکې د خپل وخت د ژبې لپاره هم يو پرېکنده قول او څرګند دليل دی.

تر قرآن کريم وروسته د نبوي احاديثو او صحابه کرامو د اثارو ژبنی ذخيره موندل کېږي، په دې کې شک نه شته چې د بالمعنی روايت له امله د دې زېرمې ډېره کمه برخه داسې ده چې اوس د ژبې په څېړنه کې د سند او دليل په توګه وړاندې کېدای شي، مګر بيا هم چې څومره پاتې ده د ذوق د خاوندانو لپاره يوه ګران بيه وسيله ده. دا د عربو، عجمو او صحابه کرامو د فصيحو کسانو ژبه ده، د خپلو الفاظو، محاورو او اسلوبو له مخې د هغې ژبې غوره بېلګه ده چې قرآن پکې نازل شوی. څرنګه چې د رسول الله په دعاګانو، تمثيلونو او له صحابه کرامو سره د ده په مکالمو کې په عمومي ډول لفظي روايت ته پام شوی له همدې امله د دې ژبې بېلګې تر ټولو ډېرې په همدې روايا تو کې موندل کېږي. که د قرآن کريم د ژبې زده کوونکي په دې ستر سمندر کې لامبو ووهي نو د

---

[1] شعر دادی: وجلا السيول عن الطول كانها – زبر تجد متونها اقلامها

[2] الاستيعاب، ابن عبد البر، بهامش الاصابه ۳ / ۲۳۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځان لپاره ډېري ملغلرې غونډولای شي او د قرآن د لفظي او معنوي ستونزو په حل کي له دې زېرمي ډېره مرسته ترلاسه کولای شي.

تر دې وروسته د دې ژبې تر ټولو لوی ماخذ عربي کلام دی، دا د امرء القیس، زهیر، عمرو بن کلثوم، لبید، نابغه، طرفه، عنتره، اعشا او حارث بن حلزه په څېر د شاعرانو او قس بن ساعده په څېر وینا والو کلام دی. علماء پوهېږي چې د دې لویه برخه د شاعرانو په دیوانونو، اصمعیاتو [۳]، مفضلیاتو [۴]، حماسه [۵]، سبع معلقات [۶] او د جاحظ، مبرد او همدارنګه نورو ادیبانو په کتابونو کې را غونډه ده [۷]. دا مهال د جاهلیت د شاعرانو داسي ډېر دیوانونه هم خپاره شوي چې وړاندي نه موندل کېدل. په دې کي شک نه شته چې د عربي ژبې د لغاتو ډېره برخه د همدې ژبې د ویونکو په اجماع او تواتر نقل شوي او یوه لویه ذخیره یې د لغت په مشهورو کتابونو التهذیب [۸]، المحکم [۹]، الصحاح [۱۰]، الجمهرة [۱۱]، النهایه [۱۲] او نورو کې خوندي ده. مګر له دې سره دا هم یو حقیقت دی چې د عربي ژبې کومه ذخیره دا ډول متواتره نه ده، د هغې د تحقیق لپاره تر ټولو مستند ماخذ همدا عربي کلام دی. سره له دې چې بې قانونه لغات هم ورګډ شوي مګر لکه څرنګه چې د حدیثو د نقد علماء د کره او ناکره روایاتو تر منځ توپیر کولای شي، همدارنګه د دې کلام کره کتونکي هم د روایت او درایت د ډېرو څرګندو معیارونو پر بنسټ خالص او ګډ

---

[۳] اصمعیات: ابو سعید عبد الملک بن قریب الاصمعي.

[۴] مفضلیات: المفضل بن محمد بن یعلی بن عامر بن سالم الضبي.

[۵] حماسه: ابو تمام حبیب بن اوس الطایي.

[۶] دا د عربي ژبې د اوو غوره قصیدو ټولګه یا مجموعه ده.

[۷] د بېلګي په توګه د جاحظ البیان و التبیین، د مبرد الکامل فی اللغة و الادب او نور. پر دې سربېره د ابو زید جمهرة اشعار العرب، د ابن الشجري مختارات شعراء العرب، د ابو تمام الفحول، د بحتري، خالدیان او ابن الشجري ابو هلال العسکري حماسه، همدارنګه د ابو هلال دیوان المعانی دا ډول لیکنې دي.

[۸] التهذیب في اللغة د ابو منصور محمد بن احمد الازهري.

[۹] المحکم و المحیط الاعظم د علي بن سیدة.

[۱۰] تاج اللغة و صحاح العربیة د ابو نصر اسماعیل الجوهري.

[۱۱] الجمهرة في اللغة د ابو بکر محمد بن درید الازدي.

[۱۲] النهایة في غریب الحدیث و الاثر د ابو السعادات المبارک بن محمد الجزري ابن الاثیر.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

-وړ له يوه بله بېلولای شي. همدا وجه ده چې د لغت او ادب امامان تل پر دې متفق دي چې تر قرآن وروسته پر همدې کلام باور کېدای شي او د کره نقل و روایت باللفظ پر بنسټ د ژبې په څېړنه کې د استدلال او معیار حیثیت لري. د خزانة الادب[۱۳] لیکوال لیکي:

الكلام الذي يستشهد به نوعان: شعر و غيره، فقائل الاول قد قسمه العلماء على طبقات اربع. الطبعة الاولى: الشعراء الجاهليون، وهم قبل الاسلام كامرئ القيس و الاعشى، و الثانية: المخضرمون، وهم الذين ادركوا الجاهلية و الاسلام كلبيد و حسان، و الثالثة: المتقدمون، و يقال لهم الاسلاميون، و هم الذين كانوا فى صدر الاسلام كجرير و الفرزدق، والرابعة: المولدون، و يقال لهم المحدثون، و هم من بعدهم الى زماننا كبشار بن برد و ابى نواس. فالطبقتان الاوليان يستشهد بشعرهما اجماعا. (۱ / ۳)

" کوم کلام چې د ژبې په استشهاد کې وړاندې کېږي پر دوه ډوله دی: شعر او نثر. لومړی ډول یې علماوو پر څلورو برخو وېشلی، لومړی، برخه یې تر اسلام وړاندې د جاهلیت شاعران دي لکه امرء القیس او اعشی، دویمه مخضرمین دي چې د اسلام او جاهلیت دواړو زمانه یې موندلې لکه لبید او حسان، درېیمه یې متقدمین دي چې اسلامیین هم بلل کېږي. دا د اسلام په سر کې تېر شوي، لکه جریر او فرزدق. او څلورمه مولدین دي چې محدثین هم بلل کېږي، په دوی کې ټول هغه کسان شامل دي چې تر لومړنیو درو وروسته زمونږ تر وخته را روان دي لکه بشار بن برد او ابو نواس. په دوی کې د لومړنیو دوو ډلو په اړه اجماع ده چې په شعرونو یې استشهاد کېدای شي."

همدا خبره عمر فاروق ﷺ پر خپل منبر مسلمانانو ته په وینا کې وکړه:

عليكم بديوانكم لاتضلوا. قالوا: ما ديواننا؟. قال: شعر الجاهلية فان فيه تفصيل كتابكم و معانى كلامكم.

(انوار التنزيل د بيضاوي ۱ / ۴۵۹)

" خپل دیوانونه وساتئ، بې لارې به نه شئ. دوئ وویل: زمونږ دیوان څه شی دی؟. ده وویل: د جاهلیت اشعار، ځکه په دې کې ستاسو د کتاب تفسیر او د خپلو خبرو معاني دي."

په صحابه وو کې د دین ستر عالم ابن عباس ﷺ ویلي:

[۱۳] خزانة الادب و لب لباب لسان العرب د عبد القادر بن عمر البغدادي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اذا سئلتم عن شيء من غريب القرآن فالتمسوه في الشعر فان الشعر ديوان العرب. (المزهر في العلوم اللغة د سيوطي ۲۶۱/۲)

"که په قرآن کي په کوم نا اشنا لفظ پوهېدل غواړئ نو په (جاهلي) اشعارو کي يې ولټوئ ځکه همدا شاعري په حقيقت کي د عربو ديوان دی."

دې خبرې ته هم بايد پام وکړو چې د جاهليت کلام يوازې د ژبې او د هغې د اسلوبو ماخذ نه دی، له دې سره د عربو د هغه تهذيب او ثقافت هنداره هم ده چې که د سړي په ذهن کي يې سم تصور نه وي نو په قرآن کي د اشارې، تلميح، تعريض او کنايې د هغو اسلوبو فهم ګرانېږي چې د ادب په دې بې سارې ټوټې کي د بلاغت اصلي پانګه ده. د عربو د ټولنې بنسټيزې ځانګړتياوې څه وې، دوی څه شی معروف او څه شی منکر بلل؟، د دوی په ټولنه کي د خير او شر معيارونه څه ول؟، د دوی مذهبي او دودیز کولتور څه وو؟، د دوی تمدن پر کومو بنسټونو ودان وو؟، د دوی ټولنه له کومو عناصرو جوړه شوې وه؟، د دوی سياسي افکار او په شپه و ورځ کي د دوی ساتېرې او بوختياوې څه وې؟، ايا هغوی يوه تيت - پرک رمه وه چې اسلام را يو ځای کړه او د نړۍ رغونې منصب ته يې ورسوله او که له خپل وحشت سره - سره د ځينو ځانګړتياوو او صفتونو درلودونکی يو ملت وو چې له کبله يې د قرآن په څېر کتاب ورکړل شو او د الله له لوري د ټولې نړۍ لپاره د حق د ګواهۍ منصب ته ورسول شول؟. دا ټولې هغه پوښتنې دي چې سم ځواب يې په همدې کلام کي موندل کېږي او همدا ځواب دی چې په رښا کي يې زده کوونکو او څېړونکو ته د قرآن کريم د اشاراتو، تلميحاتو، تعريضاتو او کناياتو بې سارې ادبي ښکلا او کامل معنويت څرګندېږي.

نو يوازې د ژبې لپاره نه بلکي د دې ټولو شيانو لپاره هم بايد زده کوونکي دې کلام ته رجوع وکړي.

د ژبې وضاحت

دويم شی دا دی چې قرآن يوازې په عربي نه بلکي په څرګنده عربي نازل شوی دی، يعني يوه داسې ژبه چې ډېره واضحه ده او هيڅ مشکل نه لري، هر لفظ يې ښکاره او هر ډول اسلوب يې د خپلو مخاطبينو لپاره اشنا دي، لکه چې وايي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ * عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ * بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ*

(الشعراء ٢٦ : ١٩٣ – ١٩٥)

" (اې رسوله!) دا ستا پر زړه روح الامين نازل کړی، څو ته (د خلګو لپاره) ډنډير شې، په څرګنده او ښکاره عربي ژبه."

قُرآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ

(الزمر ٣٩ : ٢٨)

" د يوه عربي قرآن په بڼه چې هيڅ کوږوالی پکې نه شته، څو دوئ (له عذابه) وساتل شي."

دا د قرآن په اړه يو څرګند حقيقت دی، که ومنل شي نو د لازمي نتيجې په توګه به يې دا خبره منل کېږي چې د قرآن کريم هيڅ لفظ او هيڅ ډول اسلوب هم د خپل مفهوم له مخې شاذ نه شي کېدلای، د خپلو مخاطبينو لپاره په بشپړو پېژندل شويو معروفو الفاظو او اسلوبو نازل شوی، د ژبې له مخې يې هيڅ شی په خپل ذات کې هيڅ ډول نا اشنايي نه لري بلکې له هره اړخه څرګند او واضح دی. نو هر ځای يې بايد په تفسير او ترجمه کې د الفاظو پېژندل شوې معنا ته پام وشي، له دې هاخوا يې هيڅ تاويل په هيڅ حالت کې نه شي منل کېدای. په (وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ) [١٤] کې د النجم معنا په ستورو کېدای شي، په (إِلاَّ إِذَا تَمَنَّى) [١٥] کې د تمنی مفهوم خواهش او ارمان دی، په (أَفَلاَ يَنظُرُونَ إِلَى الإِبِلِ) [١٦] کې ابل د اوښ لپاره کارول شوی دی. په (كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ) [١٧] کې بيض د هګيو په معنا دی او په (فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ) [١٨] کې د نحر لفظ د قربانۍ لپاره راغلی دی چې دا هر يو د بوټو، تلاوت، ورېځې، د هګيو د پټ باريک پوست او پرسيني د لاس نيولو په معنا نه شي کارېدای.

له الفاظو پرته د اعراب د طريقې او بلاغت د اسلوبو هم دا حال دی، د نحوې او بلاغت علماوو د دې فنونو په اړه د قرآن ډېر شيان شاذ او مستثنی ګڼلي دي، مګر حقيقت دادی چې پوره پلټنه او تحقيق نه دی شوی. په دې اوسني دور کې چې د فراهي مکتب مشرانو

[١٤] الرحمن ٥٥ : ٦
[١٥] الحج ٢٢ : ٥٢
[١٦] الغاشية ٨٨ : ١٧
[١٧] الصافات ٣٧ : ٤٩
[١٨] الكوثر ١٠٨ : ٢

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

امام حميد الدين فراهي او استاذ امام امين احسن اصلاحي د قرآن پر ژبه کوم کار کړی په دې سره دا حقيقت څرګند شوی چې په دې ټولو معاملاتو کې د قرآن اسلوب د عربو پېژندل شوي اسلوب دي. د قرآن کوم زده کوونکی چې له دې بحثونو سره مينه لري، په دې لړ کې د امام فراهي له مفردات القرآن، اسالیب القرآن، جمهرة البلاغة، مجموعه تفاسیر او د امام امين احسن اصلاحي له تدبر القرآن څخه د ځان لپاره ډېر څه تر لاسه کولای شي. د قرآن په تفسير کې دې اصولو ته پاملرنه د همدې واضحې ژبې غوښتنه ده او لکه څرنګه چې پورته يادونه وشوه ابانت يا واضحه ژبه يې د قرآن په نص ثابته ده. دې ته له پام پرته د قرآن هيڅ ډول تشريح او وضاحت صحيح نه شي ګڼل کېدای.

ځانګړي اسلوب

درېيم شی دادی چې د قرآن اسلوب ځانګړي اسلوب دي، په دې کې د نثر ساده والی، ربط او تسلسل دی خو نثر نه شي بلل کېدای، په ځان کې د شعر نغمې، موسيقي او ښکلی تناسب لري، مګر شعر هم نه شي بلل کېدای. دا هغه ډول کتاب هم نه دی چې موږ ورسره اشنا يو او هلته د بابونو او فصلونو په رامنځ ته کولو پرېوه موضوع او يا موضوعاتو بحث کېږي. عربو به کله شاعري ګڼله او کله به يې د کاهنانو سجعې ته ورته کلام باله، خو د هغوی دا شک په خپله څرګندوي چې دوی پر خپله خبره ډاډه نه وو. حقيقت دادی چې قرآن د خپلو اسلوبو له مخې بالکل ځانګړی کتاب دی، په دې کې د سيندونو روانې او د سمندرونو زور دی، د غوره استدلال ځانګړتياوې لري، د معنوي ربط اداګانې دي، بېلګې يې وړاندې کړې، داستانونه لري، په کلام کې يې د خپل مرکز پر لور بيا -بيا رجوع ده، د تهديد، ترټنې او عتاب بېلابېل سبکونه دي، افسوس شته، ارمان دی، سخت باور دی، د تبښتې بېلابېل شکلونه دي او د اعراض مختلف ډولونه. په دې کې د مينې او التفات پر مهال د «اين چيست که چون شبنم بر سينه من ريزي» کيفيت دی او د غوسې پر مهال د سيندونو په څېر روانې لري چې زړونه رېږدوي، د خطاب هغه حيرانوونکي تغيرونه پکښې دي چې انسان بالکل ورته حيرانېږي. د دې اسلوبو همدا ځانګړتياوې دي چې هغو ته په پام يې ويلي دي:

لَوْ أَنزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا

"(اې رسوله!) که مو دا قرآن پر کوم غره نازل کړی وای نو تا به ليدلی وای چې د الله له وېرې يې عاجزي کوله چاودېدی او موږ دا مثالونه د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (الحشر ۵۹ : ۲۱) هغو خلکو لپاره بيانوو چې شايد غور وکړي."

خو د دې نوعيت څه دی؟ په دې اړه چې تر ډېره څه ويل کېدای شي دا دي چې تر يوه بريده د ويناوالو کلام ته ورته دی، په دې کې شک نه شته چې د کلام له دې ډول سره يې ورته والی صرف د مشابهت ترکچې دی، په بشپړ ډول خطيبانه کلام هم نه شي بلل کېدای، مګر هغه ته نژدې دی او له همدې پلوه چې له خپلو زده کوونکو د کومو شيانو غوښتنه کوي هغه دادي:

اول دا چې په هغه د پوهېدو لپاره يې بايد په چاپېريال د پوهېدو هڅه وشي يعني هغه شالید، غوښتنې او حالت دي معلوم کړای شي چې هغو ته په پام د قرآن کوم سورت نازل شوی، د دې لپاره له قرآن نه دباندې بل څه ته اړتيا نه شته، دا هر څه په خپله د قرآن په ژبه کې بالکل څرګند دي. انسان چې کله پر قرآن غور کوي، د هغه پر الفاظو تم کېږي، د لفظونو پر تړاو او د جملو د ربط فهمولو هڅه وکړي نو په ټول سورت کې د کلام د استعمال ځايونه په ډېر ښه ډول څرګندېږي او پر خپل ځان د ځان لپاره داسې دليل ګرزي چې له

دې پرته بل دليل ته اړتيا نه وي. استاذ امام امين احسن اصلاحي ليکي:

"... کره طريقه يوازې داده چې تاسو په خپله د قرآن له لارښوونو د هغه په شالید د ځان پوهېدو هڅه وکړئ، کله چې تاسو پوه شئ چې کلام کومو کسانو ته خطاب کوي، چا ته چې خطاب کېږي په هغوی کې کومو ته مستقيم او کومو ته په واسطه دی؟. مخاطب د کوم پړاو له حالاتو سره مخ دی او دې پړاو کومې پوښتنې را پورته کړې چې ځوابونو ته يې دوست هم په انتظار دی او دښمن هم، همدا ډول د دښمنانو مخالفت کوم رنګ خپل کړی او دوست په کوم حالت کې دی؟، مخالفې ډلې له کومو تکتيکونو څخه په ګټې اخيستلو راغلې او ملګرې ډلې څه ډول فکر کوي؟ نو په خپله به د کلام ټول نظام ستاسو په وړاندې څرګند شي، دا هر څه د کلام په مخته او شاته بيان کې څرګندېږي، له همدې امله که د خواری په کښلو يې د معلومولو هڅه وشي نو د کلام نظم به په خپله درته څرګند شي او د قرآن کريم د يوه سورت تلاوت به پر زړه داسې اثر وکړي لکه له حالت سره د ښه مناسبت درلودونکې غوره خطيب د خطبې اوربدل چې يې پرې کوي."

(مبادی تدبر قران: ۲۱۰)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم دا چې په هر ځای کې يې د خطاب لوری معلوم شي، په قرآن کريم کې تر لنډو وقفو وروسته بلکې ځينې وختونه په يوه ايت کې د خطاب لوری څو ځله بدلېږي، همدا اوس مسلمان مخاطب وو بيرته مشرکينو ته واوښت، له اهل کتابو سره خبره روانه وه چې ناڅاپه د کلام لوری د مسلمانانو پر لور وګرزېد، همدا بدلون د مفرد او جمعو په صيغو کې هم را منځ ته کېږي. دا حالات يوازې د خطاب په پای کې نه بلکې په سر کې هم وي، همدا اوس د الله له لوري خبره کېده چې نابېره د جبريل امين له لوري پيل شوه، د جبريل د ژبې خبره د رسول الله ژبې ته واووښته. لنډه دا لکه يو خطيب چې د خپلې لهجې او طريقې په تغير د خپلو ستر ګو و ديد په حرکت او کلام د حالت په بدلون د خبرو په منځ کې مخاطبين بدلوي، همدا رنګه په قرآن کې شيبه پر شيبه خطاب بدلېږي، له همدې امله اړينه ده چې د قرآن په تشريح او تفسير کې دې ته پوره ارزښت ورکړل شي او په هر ځای کې څرګنده شي چې د بېلګې په ډول د خطاب سرچينه الله تعالى، جبريل، رسول او که خلګ دي؟ همدا رنګه يې بايد د منتهی په اړه وټاکل شي چې الله، رسول او که خلګ دي؟، د خلګو تر منځ هم توپير په کار دی چې مسلمانان دي، که منافقين، يهود و نصارا، د بني اسماعيل مشرکين، په دوی کې دوه، درې او که ټول؟. په دې کې د التباس يا ګډ - وډې ځايونه هم وي، رسول الله ﷺ ته په خطاب کولو په حقيقت کې امت ته خطاب کېږي، همدا رنګه ظاهرا د خبرو لوری ده ته متوجې وي خو هدف يې د قريشو مشرکان او يا يهود و نصارا وي، په قرآن کې ځای پر ځای د دې ګڼ مثالونه موجود دي، له همدې کبله ضروري ده چې په پوره پاملرنه يې توپير وشي او په بشپړ تعين سره دا وويل شي چې د قرآن د کلام لوری په حقيقت کې د چا پر خوا دی؟، له دې پرته د قرآن هدف په سم ډول واضح کېدای نه شي.

درېيم دا چې د عام او خاص تر منځ يې توپير وشي، په قرآن کې ځای پر ځای دا طريقه کارول شوې چې ظاهري الفاظ يې عام وي مګر د سياق او سباق دلالت يې په پوره باور سره ښيي چې مراد يې عام نه دی، قرآن د اَلنَّاس لفظ ذکر کوي خو ټوله دنيا څه چې ډېر وختونه يې مراد د ټولو عربو وګړي هم نه وي، د عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهِ تعبير غوره کوي خو مراد يې د نړۍ ټول دينونه نه وي، د اَلْمُشْرِكُوْنَ لفظ کاروي خو د ټولو مشرکينو په معنا يې نه اخلي، د اِنَّ مِنْ اَهْلِ الكِتَابِ الفاظ راوړي خو د ټولې نړۍ اهل کتاب يې هدف نه وي او د الانسان په لفظ خپله مدعا بيانوي، مګر مقصد يې د ادم ټوله اولاده نه وي. دا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن عمومي اسلوب دي، که ورته پاملرنه ونه شي نو د تشريح او وضاحت پر مهال به د متکلم د کلام هدف بېخي له منځه ولاړ شي او خبره به له يوه ځايه بل ته ورسېږي. له همدې کبله اړينه ده چې په دې معامله کي د قرآن د عرف او سياق و سباق و اکمني يې پر الفاظو په هر حالت کي حاکمه وي.

ميزان او فرقان

څلورم شی دا دی چې قرآن پر دې ځمکه د حق او باطل تر منځ د ميزان او فرقان، همدا رنګه د وحي پر ټوله لړۍ د يوه مهيمن په حيث نازل شوی دی.

اللَّهُ الَّذِي أَنزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ (الشوری ۴۲ : ۱۷)

"الله هماغه دی چې له حق سره يې کتاب يعني ميزان نازل کړی دی."

په دې ايت کي تر والميزان وړاندي واو د تفسير لپاره دی، په دې توګه دلته الميزان په حقيقت کي د الکتاب بيان دی، د ايت مدعا داده چې الله د حق او باطل تر منځ د توپير لپاره قرآن نازل کړی چې په حقيقت کي د عدالت ترازو دی او د دې لپاره يې نازل کړی چې هر سړی پرې تول وکړي او ووينې چې حق او باطل څه دي؟. همدا کتاب د تول لپاره دی او په دې نړۍ کي بل هيڅ داسي شی نه شته چې دی پرې وتلل شي.

تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا (الفرقان ۲۵ : ۱)

"هغه ذات ډېر برکتمن دی چې پر خپل بنده يې دا قرآن نازل کړی، د دې لپاره چې د نړۍ والو لپاره نذير شي."

دلته الفرقان په همدې معنا دی يعني يو داسي کتاب چې د حق او باطل تر منځ د توپير لپاره قاطع حجت دی، دلته هم هدف د دې حقيقت بيانول دي چې په هره چاره کي دا کتاب پرېکنده وينا او د معيار صحيفه ده. په ټولو اختلافاتو کي به مرجع ګڼل کېږي، هيڅ شی پرې حاکم کېدای نه شي، بلکي د علم او هدايت په حدود و کي به هر ځای واکمن وي او هر سړی مکلف دی چې تر دې هيڅ شي ته لومړيتوب ورنه کړي.

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ "او (اې رسوله!) موږ دا کتاب له حق سره پر تا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ عَمَّا جَاءكَ مِنَ الْحَقِّ(المايدة ۵ : ۴۸)

نازل کړی د هغه کتاب په تصدیق کي چي تر ده وړاندي موجود دی او د هغه لپاره مهیمن، ځکه نو ته د دوی ترمنځ له هغه هدایت سره سمه پرېکړه وکړه چي الله نازل کړی او د هغه حق په پرېښود و چي تا ته راغلی د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه."

دلته د همدې مفهوم لپاره د مُهَيْمِنْ لفظ کارول شوی، دا له (هیمن فلان علی کذا) څخه جوړ شوی اسم صفت دی چي د ساتونکي او څارونکي په معنا راغلی، په ایت کي قرآن کریم پر مخکینیو صحیفو مهیمن بلل شوی. د دې مطلب دادی چي د الهي کتاب اصلي او د باور وړ نسخه قرآن کریم دی، له همدې امله چي کله د نورو کتابونو متن ورک شو او په ژباړه کي يې هم ډېرې لاس وهنې وشوې نو د هغو د حق او باطل ترمنځ د توپیر لپاره همدا معیار او ملاک دی. څه چي دلته کره ثابت شي هغه کره دي او څه چي کره ونه خېژي نو یقینا کوټه دي او لازما باید رد شي.

قرآن کریم همدا حیثیت د خپل ځان لپاره ثابت کړی، له همدې امله چي پر دې بنسټ کوم شیان د قرآن په اړه باید د اصولو په ډول ومنل شي هغه دادي:

اول دا چي له قرآنه دباندي هیڅ پټه یا څرګنده وحي ان د الله هغه رسول هم چي دا وحي پرې نازله شوې د هغه په هیڅ حکم کي د محدودیت، تخصیص او هیڅ ډول ترمیم و تغیر نه شي کولای. په دین کي د هر ډول رد او قبول پرېکړه به د هغه د څرګندو ایاتونو په رڼا کي کېږي، د ایمان او عقیدې هر بحث به له ده پیلېږي او پر ده به پای ته رسېږي، هره وحي، هر الهام، هره القا. هر تحقیق او هره رایه به د ده تابع وي او په اړه به يې دا حقیقت منل کېږي چي پر ابو حنفه و شافعي، بخاري و مسلم، اشعري و ماتریدي، جنید او شبلي ټولو د قرآن واکمني ده او د هغه پر خلاف يې هیڅ شی منل کېدلای نه شي.

دویم دا چي د الفاظو دلالت يې پر خپله معنا بشپړ یقیني دی، هغه چي څه وایي په پوره باور يې وایي او په هیڅ معامله کي خپله مدعا نیمګړې نه پرېږدي، مفهوم يې هغه دی چي الفاظ يې مني، نه ورڅخه مختلف دی او نه ورسره ضد، د معانیو بڼه د رسېدو يې یوه دروازه ده چي هغه يې الفاظ دي، دی خپل مفهوم په پوره باور سره توضیح کوي. په دې کي د هیڅ شک او ګومان لپاره ځای نه شته.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا دواړې خبرې د قرآن کریم د میزان او فرقان د صفتونو تقاضاوې دي، د هغه په اړه دوې رایې نه شي کېدلای، خو څو پوښتنې داسي دي چې د ځینو کسانو لپاره په دې اړه د شک سبب کېدای شي:

اول دا چې د قرآن په ځینو ځایونو کې د قرأتونو اختلاف دی، دا اختلافات د الفاظو په ادا کې نه بلکې ځیني ځایونه یې پر معنا هم اغېز کوي، په داسي حالت کې د اختلافاتو پر مهال هیڅ شی پرېکنده نه وي، د بېلګې په ډول د سورت المایدې په شپږم نمبر ایت کې ارجلکم په زور او زېر دواړو سره ویل کېدای شي، نو د قرآن پر بنسټ څرنګه دا خبره په پوره باور کېدای شي چې په اوداسه کې د پښو مینځل ضروري دي مسح پرې نه شي کېدای؟.

دویم دا چې موږ د قرآن کوم مفهوم ترلاسه کوو نو د هغه د الفاظو او جملو له ترکیب څخه یې اخلو، زموږ دا فهم چې د ژبې او بیان له کومو علومو سره تړلی یعني لغت، نحو، بلاغت او نورو هغه ټول ظني دي نو بیا څرنګه دا خبره کېدای شي چې د قرآن د الفاظو دلالت پر خپل مفهوم بالکل یقیني دی؟. امام رازي دا سوال په خپل تفسیر کې داسي تشریح کړی دی:

دلالة الالفاظ على معانيها ظنية لانها موقوفة على نقل اللغات و نقل الاعرابيات و التصريفات مع ان اول احوال تلك الناقلين انهم كانوا آحادا و رواية الآحاد لا تفيد الا الظن، و ايضا فتلك الدلائل موقوفة على عدم الاشتراک و عدم المجاز و عدم النقل و عدم الاجمال و عدم التخصيص و عدم المعارض العقلي، فان بتقدير حصوله يجب صرف اللفظ الى المجاز، و لا شک ان اعتقاد هذه المقدمات ظن محض، و الموقوف على الظن اولى ان يكون ظنا. (تفسير الكبير ۱/ ۲۸)

" پر خپلو معانیو د الفاظو دلالت ظني دی ځکه د لغاتو له اعراب او تصریفاتو له نقل سره تړاو لري، له دې سره- سره یې په پیل کې نقلوونکي احاد وو او د احادو په اړه منل شوې ده چې ظن فایده کوي، پر دې سربېره د الفاظو دلالت پر نه اشتراک، نه مجاز، نه نقل، نه اجمال، نه تخصیص او عقلي معارض پر نه موجودیت مبني دی، ځکه چې کوم عقلي معارض شتون ولري نو له حقیقي معنا یې اړول ضروري دي. په دې کې شک نه شته چې دا ټولې مقدمې صرف د ظن پر بنسټ منل کېږي نو څه چې پر ظن ولاړ وي هغه په درجه اولی ظني دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېيم دا چې په قرآن کريم ځای پر ځای ويل شوي چې ځينې ايا تونه يې محکم او ځينې يې متشابه دي، د متشابهاتو په اړه په خپله قرآن ويلي چې په معنا يې صرف الله پوهېږي. دا شی هم قرآن پرېکنده وينا ته نه پرېږدي، که مو ږ محکم او متشابه جلا -جلا ونه پېژنو او د متشابه په معنا هم نه شو پوهېدای نو څرنګه په دې ايا تونو کې د قرآن هدف معلومولای شو؟ او د دې مدعا پر بنسټ يې څرنګه پر بل شي فيصله کوونکی بللای شو؟.

څلورم دا چې د ځينو احاديثو مضمون ظاهرا د قرآن په معنا کې تغير راولي، علماء يې ځينې ځايونه په نسخه او ځينو ځايونو کې په محدوديت، تخصيص، تقييد او نورو اصطلاحاتو تعبيروي. که دا شی ومنل شي نو بيا د قرآن هغه حيثيت څرنګه منل کېدای شي چې پورته بيان شو؟.

همدا هغه پوښتنې دي چې په عمومي ډول په دې لړ کې وړاندي کېږي.

د قرأتونو اختلاف

د لومړۍ پوښتنې ځواب دادی چې قرآن کريم صرف هغه دی چې په مصحف کې ليکل شوی او د مغرب له څو سيمو پرته په ټوله نړۍ کې يې د امت ډېری وګړي همدا مهال تلاوت کوي. دا تلاوت چې له کوم قرأت سره سم ترسره کېږي له دې پرته نه بل قرأت قرآن دی او نه د قرآن په توګه وړاندي کېدای شي ځکه نو له مو ږ څخه په دې اړه هيڅ پوښتنه نه شي کېدلای.

لاندي د خپل دې نظر تفصيل وړاندي کوو.

سَنُقْرِؤُكَ فَلاَ تَنسَى * إِلاَّ مَا شَاء اللَّهُ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَى* (الأعلى ۸۷: ۶، ۷)

"ژر به يې پوره درته ولولو نو ته به يې نه هېروې مګر هغه چې الله يې وغواړي، بې شکه دی په هغه څه هم پوهېږي چې دا مهال (ستا) مخته دي او په هغه څه هم (چې له تا) پټ دي."

لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ * إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ * ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ* (القيامة ۷۵: ۱۶-۱۹)

"(اې رسوله!) د دې (قرآن) د ژر تر لاسه کولو لپاره خپله ژبه پرې چټکه مه ښوروه، د هغه را غونډول او اورول ټول پر مو ږ دي، له همدې کبله چې يې کله مو ږ ولولو نو (زمو ږ) د قرأت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پیروي وکړه، بیا یې (ستا لپاره که اړتیا شوه) وضاحت پرمو ړ دی."

په دې ایاتونو کي چې د قرآن د نزول او ترتیب و تدوین په اړه د الله ﷻ کومه نقشه بیان شوې هغه داده:

اول: رسول الله ﷺ ته ویل شوي چې حالاتو ته په پام قرآن په څه ډول پرتاورو -ورو نازلېږي همدا یې د نزول غوره طریقه ده، مګر د ساتنې، را غونډونې او ترتیب په اړه یې هیڅ اندېښنه ونه لرې، د نزول پر مهال چې یې کوم قرأت لوستل کېږي تر دې وروسته به یې یو بل قرأت هم درته وړاندي شي. که په دې وخت کي الله د خپل حکمت له مخې د کوم څه ختمول وغواړي نو د هغه تر ختمولو وروسته به یې تا ته داسي ولولي چې د هیڅ سهوې او نسیان امکان به پاتي نه شي او په خپل وروستي شکل به په بشپړ خوندي ډول درته وسپارل شي.

دویم: ده ته ویل شوي چې دویم قرأت به د یو کتاب په بڼه د قرآن تر را غونډولو وروسته وي او له دې سره به ته مجبور یې چې په راتلونکي کي د هغه پیروي وکړې، بیا به یې له لومړني قرأت سره د ویلو اجازه نه وي.

درېیم: ویل شوي چې که د قرآن د کوم حکم په اړه تشریح یا وضاحت ته اړتیا وي نو پر هماغه مهال به وړاندي شي، په دې توګه به دا کتاب په خپله د هغه د نازلوونکي له لوري تر غونډولو، ترتیب، پوهونې او بیان وروسته له هره پلوه بشپړ وي.

د قرآن همدا وروستی قرأت دی چې په اصطلاح د عرضه اخیره قرأت بلل کېږي، له روایاتو معلومېږي چې څومره قرآن به نازل شوی وو جبریل به هر کال د روژې په میاشت کي رسول الله ﷺ ته ور اوراوه، د ده د ژوند په وروستي کال کي چې کله د عرضه اخیره قرأت ترسره شو نو رسول الله ته یې دوه ځله واوراوه. ابو هریره ﷺ وایي:

كان يعرض على النبي صلى الله عليه وسلم القرآن كل عام مرة فعرض عليه مرتين في العالم الذي قبض فيه. (بخاري، شمېره: ۴۹۹۸)

"رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به هر کال یو ځل قرآن وړاندي کېدی، خو د هغه د وفات په کال دوه ځله ورته واورول شو."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کله چې رسول الله ﷺ له دنیا ولاړ نو همدا یې قرأت وو، تر ده وروسته خلفاء راشدینو او ټولو مهاجرینو و انصارو صحابه وو له همدې قرآن سره موافق قرآن تلاوت کاوه. په دې اړه د دوی تر منځ هیڅ اختلاف نه وو چې وروسته همدا قرأت عامه قرأت وبلل شو. له ابو عبد الرحمن السلمي څخه روایت دی:

كانت قراءة ابی بكر و عمر و عثمان و زيد بن ثابت و المهاجرين والانصار واحدة، كانوا يقرءون القراءة العامة وهی القراءة التی قرأها رسول الله صلى الله عليه وسلم على جبريل مرتين في العام الذی قبض فيه، وكان زيد قد شهد العرضة الاخيرة، وكان يقرئ الناس بها حتى مات. (البرهان، الزركشي ۱/ ۳۳۱)

" د ابوبکر، عمر، عثمان، زید بن ثابت او ټولو مهاجرینو او انصارو قرأت یو وو، له عامه قرأت سره سم یې قرآن وایه. دا هماغه قرأت دی چې له دې سره سم رسول الله د خپل وفات په کال جبریل علیه السلام ته دوه ځله قرآن واوراوه، د عرض اخیره په دې قرأت کې زید بن ثابت هم موجود وو، له دنیا څخه تر ټولو پورې یې خلګو ته له همدې سره سم قرآن وایه."

د صحابه کرامو له زمانې تر ننه یوازې همدا قرأت قولي تواتر لري، زمونږ علماء یې د حفص قرأت ګڼي مګر دا عامه قرأت دی او لکه پورته چې مو وویل سلفو دا مفهوم عموما په همدې الفاظو معرفي کاوه. د ابن سیرین روایت دی:

القرأة التی عرضت علی النبی ﷺ فی العام الذي قبض فيه هی القرأة التی يقرأها الناس اليوم. (الاتقان د سیوطي ۱/ ۱۸۴)

" رسول الله ﷺ ته چې د وفات په کال قرآن په کوم قرأت واورول شو دا هماغه قرأت دی چې نن هم خلګ له هغه سره سم د قرآن تلاوت کوي."

پر قرآن که د هغه د نظم په رڼا کې غور وشي نو داخلي شواهد یې هم په پوره یقین سره دا پرېکړه کوي، د فراهي مکتب مشرانو علماوو چې دا مهال پر قرآن کوم کار کړی له هغه دا خبره په دلیل سره ثابتېږي چې د قرآن متن له دې پرته بل قرأت نه مني. د امام امین

[۱۹] پر ده سربېره به حتما نور صحابه کرام هم موجود ول، همدا خبره د عبدالله بن عباس ﷺ په یوه روایت کې د ابن مسعود ﷺ په اړه نقل شوې ده. (المعجم الكبير للطبراني، شمېره: ۱۲۶۰۲)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

احسن اصلاحي په تفسير تدبر قرآن کي چي هر څوک وغواړي مثالونه يې ځای پر ځای لیدلای شي. دی په خپله لیکي:

"په دې تفسیر کي د قرأتونو اختلاف هم له منځه وړل شوی دی، مشهور او متواتر قرأت هغه دی چي زمور په لاسونو کي قرآن له هغه سره سم لیکل شوی دی. په دې قرأت کي د قرآن د هر ایت او هر لفظ تاویل، د عربي لغت، کلام د نظم او قرآني شواهدو په رڼا کي داسي ترسره کېږي چي د هیڅ شک احتمال نه پاتېږي، ما هر ایت د همدې قرأت پر بنسټ تشریح کړی او په پوره باور سره وایم چي له دې پرته د بل قرأت پر بنسټ د قرآن تفسیر کول د هغه د بلاغت، معنویت او حکمت له مجروح کولو پرته ممکن نه دی."

(تدبر قرآن ۸ / ۸)

ممکن د ځینو کسانو لپاره د سبعة احرف روایت هم د سرخوږي سبب وي، دا روایت په موطا کي داسي نقل شوی دی:

عن عبدالرحمن بن عبد القاری انه قال: سمعت عمر بن الخطاب یقول: سمعت هشام بن حکیم بن حزام یقرأ سورة الفرقان علی غیر ما اقرؤها، و کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اقرأنیها، فکدت ان اعجل علیه، ثم امهلته حتی انصرف، ثم لببته بردائه، فجئت به رسول الله صلی الله علیه وسلم فقلت: یا رسول الله، انی سمعت هذا یقرأ سورة الفرقان علی غیر ما اقرأتنیها، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ارسله، ثم قال: اقرأ یا هشام، فقرأ القراءة التی سمعته یقرأ، فقال رسول الله صلی الله علیّ وسلم: هکذا انزلت، ان هذا القرآن انزل علی سبعة احرف، فاقرؤوا ما تیسر منه.

"له عبد الرحمن بن عبد القارئ څخه روایت دی چي عمر بن الخطاب زما په مخ کي وویل چي له هشام بن حکیم بن حزام څخه مي د سورت الفرقان تلاوت له هغې طریقې مخالف واوریدل چي ما تلاوت کاوه او په خپله رسول الله راته ویلی وو، غوښتل مي هماغه وخت یې را ونیسم، بیا مي له لمانځه تر خلاصېدو وخت ورکړ، تر څادره مي ونیو، په کشولو مي رسول الله ﷺ ته راووست او ومي ویل: اې د الله رسوله! دی سورت الفرقان له هغې طریقې مخالف تلاوت کوي چي تا ماته رابنوولې وه. ویې ویل: خوشي یې کړه. هشام ته یې وویل: ته یې ووایه. ده هماغه ډول ولوست چي ما ترې اوریدلی وو، رسول الله ﷺ وویل: همداسي نازل شوی دی. بیا یې ما ته وویل چي ته یې ووایه، ما هم ولوست نو ویې ویل: همداسي نازل شوی دی، قرآن پر اوو حرفونو نازل شوی تاسو ته چي کوم یو اسانه وي هغه ډول یې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(شمېره: ۵۶۷) ولولئ."

د دې روایت په اړه که لاندینیو څو حقایقو ته پام وشي نو ترې په ډاګه کېږي چې دا بالکل بې معنا روایت دی او باید په دې بحث کې هیڅ پاملرنه ورته ونه شي.

اول: که څه هم روایت د احادیثو په مشهورو کتابونو کې راغلی مګر مفهوم یې یوه داسې معما ده چې د امت په تاریخ کې هیڅا تر اوسه حل نه کړای شوه. امام سیوطي یې په خپل کتاب کې د معنا د تعین په اړه ګڼې وینا وې نقل کړې دي، بیا یې د هرې یوې کمزورې احساس کړې او د موطا په شرح تنویر الحوالک کې یې بالاخره اقرار کړی چې دا باید د هغو متشابهاتو له ډلې وګڼل شي چې په حقیقت یې له الله پرته بل څوک نه پوهېږي. دی لیکي:

وارجحها عندی قول من قال: ان هذا من المتشابه الذی لایدری تأویله. (۱/ ۱۵۹) "په دې اړه زما په نزد غوره وینا هغه ده چې ویلي یې دي: دا د متشابهاتو له ډلې دی، په تعبیر یې څوک نه پوهېږي."

دویم دا چې که یې یوازینی کومه معقوله توجیه کېدای شي نو هغه به دا وي چې سبعة احرف د عربو د بېلابېلو لغاتو او لهجو په معنا واخیستل شي، مګر موږ وینو چې د روایت متن یې ردوي، هر سړی پوهېږي چې په کوم روایت کې د عمر فاروق ﷺ او هشام تر منځ د اختلاف یادونه شوې نو هغوی دواړه قریشیان دي او ښکاره ده چې تر منځ یې د دا ډول هیڅ اختلاف تصور نه شي کېدای.

درېیم: که اختلاف د بېلابېلو قبیلو د افرادو تر منځ هم وای نو د انزل لفظ د توجیه وړ نه وو، ځکه قرآن د خپل ځان په اړه په پوره صراحت وایي چې دا د قریشو په ژبه نازل شوی دی. تر دې وروسته یقینا دا خبره د منلو وه چې بېلابېلو قبیلو ته دي له خپلې ژبې او لهجې سره سم د تلاوت اجازه ورکړل شوې وي، مګر دا به څرنګه ومنل شي چې الله د مختلفو قبیلو په ژبه نازل کړی وو؟.

څلورم: تاریخي روایات وایي چې هشام د مکې د فتحې په وړځ مسلمان شو، نو که دا روایت ومنل شي بیا به دا هم منل کېږي چې د مکې تر فتحې وروسته لا هم د رسول الله ﷺ نژدې ملګري ان د عمر فاروق ﷺ په څېر د شپې او ورځې ملګری په دې نه وو خبر چې رسول الله ﷺ له دوی څخه په پټه نورو خلګو ته په بېل ډول قرآن ورزده کاوه او د نژدې شلو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کالوپه دوران کي له هغې طریقې جلا وه چې په ښکاره یې تړې اوربد او د ده له لارښوونو سره سم یې په سینو او پاڼو کي خوندي کاوه. هر سړی اټکل کولای شي چې دا څومره خطرناکه خبره ده او د ګوزار زوریې ترکومه ځایه رسېدلای شي؟.

همدا معامله د هغو روایاتو هم ده چې د ابو بکر صدیق او تر ده وروسته د عثمان ﷺ په دور کي د قرآن د غونډولو او تدوین په اړه د احادیثو کتابونو نقل کړي، لکه څرنګه چې مو د دې بحث په پیل کي وویل: قرآن په دې هکله ښکاره صریح دی چې هغه د الله له لارښوونې سره سم د رسول الله ﷺ په ژوند کي ترتیب شوی مګر روایات د دې برخلاف یو بل داستان بیانوي چې نه یې قرآن مني او نه یې عام عقل منلو ته چمتو کېدای شي. دا روایت په صحاحو کي اصلا د ابن شهاب زهري په وسیله نقل شوی چې د رجال پوهنې امامان یې په تدلیس او ادراج تورنوي، له دې سره باید هغو ځانګړتیاوو ته هم پام وشي چې امام لیث بن سعد د امام مالک په نوم یوه لیک کي بیان کړې دي، ځکه نو د هغه روایت په دا ډول مهمو معاملاتو کي د باور وړ نه شي کېدای. دی لیکي:

وكان يكون من ابن شهاب اختلاف كثير اذا لقيناه، و اذا كاتبه بعضنا فربما كتب في الشيء الواحد على فضل رأيه و علمه بثلاثة انواع ينقض بعضهابعضا، و لا يشعربالذى مضى من رأيه فى ذالک الامر، فهو الذى يدعونى الى ترک ما انكرت تركى اياه.

(تاريخ يحى بن معين، الدوري ۱۰۹/۴)

"موږ چې به کله له ابن شهاب سره مخ شوو نو ډېر تضادات به را څرګند شول، کله چې به چا په موږ کي د لیک په وسیله پوښتنه ترې وکړه نو د علم او عقل له فضیلت سره – سره به د یوه شي په اړه د هغه ځواب درې ډوله وو او هر یوه به له بل سره تضاد درلود او په دې خبره به نه وو خبر چې ترې ورځ اندي یې څه ویلي ول؟، ما د همدې شیانو له کبله هغه خوشي کړ چې ستاسو خوښه نه شوه."

دا د همدې روایاتو حقیقت دی، له همدې کبله دا ښکي باوري ده چې زموږ په قرآنونو کي ثبت یو قرأت باوري دی، پر دې سربېره چې کوم قرأتونه په تفسیرونو کي لیکل شوي یا په مدرسو کي ویل کېږي او په ځینو سیمو کي خلګو غوره کړي دا ټول د همدغو فتنو پاتي شوني دي چې له بده مرغه

زموږ د علومو هیڅ برخه ترې خوندي پاتي نه شوه.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پيل يې ممکن تر عرض اخيره وړاندي قرأت پر بنسټ د خلګو ټينګار او په دې کي د راويانو د تېروتنې او هېري له کبله وي، مګر وروسته د هماغو لاملونو له مخې چې د احاديثو د جوړولو سبب شول د دې قرأتونو د ډېرېدو حالت دا وو چې د امويانو د واکمنۍ تر پای ته رسېدو يې شمېر سلګونو ته رسېدلی وو. ويل کېږي چې ابو عبيد قاسم بن سلام (مړينه: ۲۲۴) په خپل کتاب کي پنځوس تړې غوره کړي ول، دا مهال چې کوم اووه قرأتونه مشهور دي هغه ابو بکر بن مجاهد د درېيمې پېړۍ په وروستيو کي يو مهال غوره کړي ول، له همدې کبله دا خبره په عمومي ډول منل شوې چې د قرأتونو شمېر معلوم ښه ای نه شي، بلکي هر هغه قرأت قرآن دی چې سند يې صحيح وي، په يو ډول له عثماني مصاحفو سره موافقت ولري او په يو نه يو ډول له عربيت سره سم بلل کېدای شي. په دې کي خلګ ځينې متواتر ګڼي، حال دا چې په کتابونو کي يې کوم سند ونه موجود دي د هغو تر کتنې وروسته په دې کي هيڅ شک نه شته چې هغه احاد دي او ډېرې راويان يې د رجال پوهانو له مخې مجروح بلل شوي دي نو د قرآن متواتر قرأت څه چې د نظر خاوند يې د يوه حديث په توګه هم په اسانۍ نه شي منلای.

د الفاظو دلالت

د دويمې پوښتنې ځواب دادی چې د الفاظو د دلالت په اړه دا ټول بيان د نقد وړدی، د نړۍ د هرې ژوندۍ ژبې الفاظ او اسلوب چې پر کومو مفاهيمو دلالت کوي هغه ټول پر تواتر بنا او له هره پلوه قطعي دي. لغت، نحو او دا ډول نور علوم همدا تواتر بيانوي، په دې کي د نقل کوونکو دروغ و رښتيا او د هغوی شمېر له سره تر بحث لاندي نه نيول کېږي، کوم الفاظ او اسالیب چې نا اشنا او غريب ګڼل کېږي هغه هم د خپل مفهوم له مخې نه بلکي د خپل استعمال د لرې والي او ډېرې والي او د اوږدونکو و لوستونکو د علم او خبرتيا له مخې په شاذ او غريب يادېږي. د لفظ او معنا سفر هيڅکله له يوه بله بېل نه دی ځو چې استعمالېږي نو له خپلې معنا سره يو ځای وي، موږ د يوه لفظ په مفهوم نا خبر پاتېدای شو او په تعين کي يې تېروتنه هم کولای شو، مګر دا چې هغه د خپل مفهوم له قطعيت پرته کارول کېږي يا يې په يوه زمانه کي استعمال ترسره شوی، د دې هيڅ تصور نه شي کېدای. د مجاز، کنايې، اجمال، تخصيص او نورو استعمالاتو شعور هم همدغه ډول متواتر دی، دا د نړۍ په ټولو ژبو کي د انسانانو ګډه سرمايه ده، زمرې د ځنګلله پاچا دی او د يوه زمري راتګ دی چې هوسۍ رېږدي، په دې جملو کي يقينا يو څوک د مجاز او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حقيقت په جلا -جلا پېژندنه کي تېروتنه کولای شي خو د انسان دا اجتماعي شعور هيڅکله مترددد نه وي او موږ د همدې په رښا کي يو فرد خپلې تېروتنې ته متوجې کوو. د ژبې په اړه همدا حقيقت دی چې پر بنسټ يې موږ څه وايو او ليکو په دومره اعتماد سره يې وايو او ليکو چې بل به تر يې هماغه څه فهموي چې موږ يې ويل غواړو. په نړۍ کي چې هره ورځ کوم اسناد ليکل کېږي، کومې پرېکړې او رول کېږي، کوم فرمانونه صادرېږي، موږ ته کوم خبرونه را رسېږي او کوم علوم نورو ته رسول کېږي، د هغو په اړه که د يوې شيبې لپاره هم دا فکر پيدا شي چې د الفاظو دلالت يې پر خپله معنا قطعي نه دی نو په دې کي هر څه به په بشپړ ډول بې معنا پاتې شي. له همدې وجې دا فکر شک پرستي ده چې د علم په نړۍ کي هيڅ ځای نه شي موندلای، شاه اسماعيل شهيد په خپل کتاب عبقات کي په دې اړه د تبصرې پر مهال کاږي:

لايخفى على من له ادنى ممارسة باسالیب الكلام ان هذا القول ناش عن جهل متراكم اذ وضع الالفاظ لمعانيها من المتواترات فلا مدخل لعصمة الناقلين فيه. (عبقة ۵)

" څوک چې د کلام له اسلوبو سره لږ اشنا وي له هغه دا خبره پټه نه شي پاتېدای چې دا نظر پر ډېر جهل بنا دی، ځکه د معنا لپاره د الفاظو جوړښت په تواتر ثابت دی، له همدې امله په دې کې له تېروتنې څخه د نقل کوونکو د ساتنې هيڅ پوښتنه نه پيدا کېږي. "

محکم او متشابه

د درېيمې پوښتنې ځواب دادی چې دا خبره هيڅ حقيقت نه لري چې موږ محکم او متشابه په پوره باور سره له يوه بله نه شو بېلولای يا د متشابهاتو په مفهوم د پوهېدو توان نه لرو. د قرآن هغه ټول ايات چې محکم دي چې هدايات يې ورپورې تړلي او متشابهات يوازې هغه ايات دي چې پکې د اخرت د پېرزوينو او عذابونو د کومې لورينې يا عذاب بيان د تمثيل او تشبيه په ډول راغلی وي، يا د الله صفات او افعال همدارنګه زموږ له علم او مشاهدې هاخوا د محسوساتو د نړۍ يوه خبره په تمثيلي اسلوب بيان شوې وي لکه په ادم کي د خپل روح پوکل، له پلار پرته د عيسى عليه السلام زېږېدنه، د جنت او دوزخ احوال، پراوونه او نور. هغه ټول شيان چې لا هم الفاظ ورته نه وي جوړ شوي، د تمثيل او تشبيه په اسلوبو بيانېدای شي، د نالېدلې نړۍ حقايق د نړۍ د ټولو ژبو په ادب کي همداسي بيانېږي، له ننه دوې پېړۍ وړاندې که په موږ کي چا د راتلونکي په اړه علم درلودای او د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

برښنا پرکا يې يادولای نو غالبا به يې داسي ويل چې په دنيا کي به داسي څراغونه پيدا شي چې نه به تېل ورا چول کېږي او نه به د اور بلولو ته اړتيا لري، د متشابهو ايا تونو نوعيت بالکل همداسي دی. هغه نه ناڅرګند دي او نه يې په مفهوم کي ابهام شته، الفاظ يې د څرګندې عربي الفاظ دي او موږ يې په معنا هم له څه شک پرته پوهېږو. هو! دا ضروري ده چې په حقيقت يې په دې نړۍ کي نه شو پوهېدلای، مګر څرنګه چې د هغه په حقيقت پوهېدل يا نه پوهېدل د قران له فهم سره هيڅ تړاو نه لري له همدې امله بايد د ايمان خاوند ورپسې نه شي. استاذ امين احسن اصلاحي يې په تشريح کي ليکي:

"... دا شيان چې له کوم بنسټيز حقيقت سره تړاو لري هغه پر خپل ځای واضح او منطقي وي، عقل يې په دومره برخه پوهېدای شي څومره ته چې اړتيا وي، خو څرنګه چې له يوې نالېدلې نړۍ سره تړاو لري له همدې کبله يې قرآن د تمثيل او تشبيه په ډول وړاندي کوي چې زده کوونکي د خپلې وړتيا په اندازه تر يې ګټه واخلي او اصل شکل و حقيقت يې الله ته وسپاري. دا شيان د الله له صفاتو، افعالو، د اخرت له نعمتونو او دردونو سره تړاو درلودونکي وي، څومره برخه چې يې زموږ د پوهې لپاره اړينه وي هغومره پرې پوهېږو او په دې سره زموږ علم او باور زياتېږي. خو که موږ تر خپل حد تېرې وکړو او په اصل شکل و حقيقت يې د پوهېدو په هڅه کې شو نو له دې څخه فتنه جوړېږي او نتيجه يې يوازې دا را وزي چې انسان له خپله ذهنه د شک د يوه اغزي ايستل غواړي او په نتيجه کي يې بې شمېره اغزي ورجګېږي ان د دې نامومندل شوي په لټه خپله موندل شوي پانګه هم بايلي او ډېر څرګند حقايق له دې امله دروغ بولي چې شکل او صورت يې لا هم ده ته څرګند شوی نه دی." (تدبر قرآن ۲ / ۲۵، ۲۶)

د قرآن د کوم ايت پر بنسټ چې خلګ د متشابهاتو په مفهوم د نه پوهېدو په ناسم پوهاوي اخته شوي په هغه کي الله داسي نه دي ويلي چې د متشابهاتو په معنا له ده پرته بل څوک نه پوهېږي، بلکي ويلي يې دي چې په حقيقت يې له الله پرته بل څوک نه پوهېږي. د دې لپاره په حقيقت کي د تاويل لفظ کارول شوی او عيني په هماغه معنا دی چې په سورت يوسف کي راغلی دی: وَقَالَ يَا أَبَتِ هَـٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا [۲۰] (ده وويل: اې زما پلاره! دا زما د هغه خوب حقيقت دی چې ما وړاندي ليدلی وو، زما رب ربښتنی کړ.) قرآن چې دا خوب په کومو الفاظو بيان کړی معنا يې هر چا ته څرګنده ده،. د عربي ژبې يو عام زده کوونکی هم له څه مشکل پرته د قرآن د هغه ايت په مفهوم

[۲۰] (يوسف ۱۲ : ۱۰۰)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پوهېږي چې دا خوب پکې بيان شوی.[۲۱] مګر دا چې يوسف علیه السلام ته د سجده کوونکو لمر، سپوږمۍ او يوولسو ستورو مصداق څه وو؟ د دې په حقيقت هيڅوک له پوره باور سره تر هغه وخته نه شوای پوهېدای چې مصداق يې د خلګو په وړاندې په خپل اصلي شکل نه وای څرګند شوی، قرآن همدا شيان متشابه ګڼلي، د خلګو له عمومي فهم سره يې معنا د شک او ابهام نه ده چې په دې سره د حق او باطل تر منځ د توپير کوونکي په توګه د قرآن د ميزان او فرقان صفت تر پوښتنې لاندې راشي. هغه ايت دادی:

هُوَ الَّذِيَ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْـهُ آيَـاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَـابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاء تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلاَّ اللّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ

(آل عمران ۳: ۷)

"دی هغه دی چې پر تا يې کتاب نازل کړ، د هغه ځينې ايات ونه محکم دي چې د کتاب اساس دي او ځينې نور يې متشابه "نو د کومو کسانو په زړونو کې چې کوږوالی دی هغوی يې په متشابهاتو پسې کېږي، د دې لپاره چې فتنه پيدا کړي او په حقيقت يې پوه شي. حال دا چې په حقيقت يې له الله پرته بل څوک نه پوهېږي او کومو کسانو ته چې په علم کې رسوخ ورکول شوی هغوی وايي: موږ پرې ايمان راوړی، دا ټول زموږ د رب له خوا دي او له دې هغه څوک نصيحت تر لاسه کوي چې عاقلان وي."

حديث او قرآن

د څلورمې پوښتنې ځواب دادی چې د احاديثو په وسيله د قرآن د نسخې، محدوديت او تخصيص مسئله يوازې د ناسم فهم او کم تدبر له امله را منځ ته شوې. داسې هيڅ نسخ، تحديد او تخصيص نه دی را منځ ته شوی چې په يو ډول د قرآن کريم ميزان او فرقان

---

[۲۱] ۱۲: ۴

[۲۲] په دې ايت کې د محکم او متشابه الفاظ د هغه خاص مفهوم لپاره کارول شوي چې موږ يې پورته وضاحت وکړ، د قرآن په ځينو نورو ځايونو کې دا دوه الفاظ له دې په جلا معنا هم کارول شوي يعني محکم د هر اړخيزو او لنډو اياتونو لپاره او متشابه د همرنګه او هم اهنګه په معنا. وګورئ دهود (۱۱) او الزمر (۲۳) ايات ونه.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حیثیت شکمن کړي. کله چې بعضي کسان د قرآن ځینې اسلوب او د ایاتونو ځای و مقام سم ونه پېژني نو د هغو په اړه د رسول الله ﷺ د لارښوونو ډول هم ورته واضح نه وي. دا ډول چې په عمومي توګه څومره مثالونه وړاندي کېږي د ټولو حالتو یې همدا دی. د ځینو روایتونو پر سند نیوکې هم شته، مګر څرنګه چې وړاندي کېږي له همدې املې یې سند ته له پام پرته یو -یو را اخلو او په اړه یې خپل نظر په وضاحت سره بیانوو.

۱) په دې دنیا کې چې الله تعالی کوم حیوانات پیدا کړي ځینې یې د خوراک لپاره دي او ځینې یې نه دي، دا دویم ډول حیوانات که وخوړل شي نو څرنګه چې د انسان پر تزکیه اغېز کوي له همدې املې ترې منع کول د انسان د فطرت برخه ده. د انسان فطرت په عمومي ډول هغه ته لارښوونه کوي او له څه شک پرته دې پرېکړي ته رسېږي چې باید څه وخوري او څه ونه خوري؟. ده ته څرګنده ده چې زمری، ګیدړ، فیل، کارغه، خر، باز، مار، لړم او په خپله انسان د خوراک شی نه دی، دی پوهېږي چې اس او خر د سترخوان د خوراک لپاره نه بلکې د سپرلۍ لپاره پیدا کېږي، د دې حیواناتو د بولو او مردارو په نجاست هم ښه خبر دی. په دې کې شک نه شته چې دا فطرت یې کله -کله مسخ کېږي، مګر په نړۍ کې د انساني عاداتو مطالعه ښیي چې یو لوی شمېر یې په دې چاره کې په عمومي توګه نه تېر وزي. له همدې کبله الهي شریعت د دې حیواناتو حلت او حرمت خپله موضوع نه ده ګرزولې، بلکې صرف دومره یې ویلي چې ټول پاک شیان حلال او چټل شیان حرام دي او انسان یې د خپل فطرت رهبري ته پرېښی. په دې اړه د شریعت موضوع یوازي هغه حیوانات او په هغو پورې تړلي شیان دي چې د حلالوالي او حراموالي په اړه یې یوازي د عقل او فطرت لارښوونه د انسان لپاره ممکنه نه وه، خنځیر د انعام په څېر له بهائمو څخه دی مګر د ځناورو په څېر غوښه هم خوري نو ایا هغه د خوراک حیوان وبلل شي او که نه؟. هغه حیوانات چې موږ یې په حلالولو خورو که له تذکیې پرته مړ شي نو حکم یې باید څه وي؟، ایا د دې حیواناتو وینه یې د مردارو په څېر نجسه ده او که به حلاله او پاکه ګڼل کېږي؟. که له الله پرته دبل چا په نوم ذبح شي نو ایا بیا حلال دي؟. څرنګه چې د انسان لپاره د دې پوښتنو واضح او یقیني ځواب سخت وو له همدې کبله الله د خپلو رسولانو په وسیله ورته وویل چې خنځیر، وینه، مردار شوی حیوان او د الله له نوم

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پرته دبل چا په نوم ذبح شوی حیوان هم[۲۳] د خوراک لپاره پاک نه دی او انسان باید تر پ ډډه وکړي. د حیواناتو په حلت او حرمت کې د شریعت موضوع اصلا همدا څلور شیان دي، له همدې کبله قرآن ځینې ځایونه د قُلْ لاَ اَجِدُ فِيْمَا اُوْحِيَ اِلَيَّ او ځینې ځایونه د انما په الفاظو له پوره حصر سره ویلي چې الله ﷻ د حیواناتو د حلالوالي او حراموالي په باب کې یوازې همدا څلور شیان حرام بللي دي.

دبقرې په سورت کې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْ لِلّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ * إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ (البقرة ۲ : ۱۷۲، ۱۷۳)

"اې مومنانو! هغه پاک شیان وخورئ چې موږ درکړي او د الله شکر ادا کړئ، که د ده عبادت کوونکي یاست. ده پر تاسو یوازې مړۍ، وینه، د خنزیر غوښه او هغه څه حرام کړي چې له الله پرته پرې د بل څه اوازشوی وي."

په الأنعام سورت کې دي:

قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ

(الأنعام ۶ : ۱۴۵)

"ووایه! ما ته چې څه وحي شوې په هغې کې هیڅ خوراک کوونکي ته یو شی چې دی یې خوري حرام نه مومم مګر دا چې مړۍ که، یا بهېدلې وینه او یا د خنزیر غوښه وي ځکه دا ټول ناپاک دي او یا د الله په نافرماني کولو له الله پرته د بل چا په نوم ذبیحه وي."

په ځینو روایاتو کې ویل شوي چې رسول الله ﷺ د داړونکو ځناورو، د منګولو درلودونکو مرغانو او د کورني خره د غوښې له خوړلو منعه وکړه.[۲۴] له پورتنۍ بحث څخه

---

[۲۳] څرنګه چې د الله له نوم پرته د بل چا په نوم د حلال شوي حیوان د حرمت سبب د قرآن په اصطلاح په خپله د حیوان مرداري نه بلکې د حلالوونکي فسق دی ل همدې کبله که دا فسق په نورو صورتونو کې هم وموندل شي نو د عقل تقاضا داده چې حکم یې باید له دې بېل نه وي، ځکه نو قرآن ویلي چې د الله له نوم پرته یا پر دربار حلال شوی حیوان او په قمار کې ګټل شوې غوښه هم تر دې لاندې دي.

[۲۴] مسلم، شمېره: ۳۴۳۲، ۴۹۹۴ - بخاري شمېره: ۴۲۱۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په ډاګه کېږي چې دا په انسان کې د موجود فطرت بیان دی، خلګو دا تېروتنه کړې چې دا يې د فطرت د بیان پر ځای شریعت ګڼلی. حال دا چې په قرآن کې د شریعت کوم تحریمونه بیان شوي دا له هغه سره هیڅ تړاو نه لري چې له کبله يې په حدیث سره د قرآن د نسخې یا د هغه په مدعا کې د بدلون پوښتنه پیدا شي.

۲) قرآن چې په کومه ژبه نازل شوی د هغې عام اسلوب دادي چې د الفاظو او شواهدو دلالت او د عقلي حکم تقاضا وي چې خپل مفهوم په خپله بیانوي په الفاظو نه بیانېږي، مقسم علیه، د شرط ځواب، معلله جمله، معطوف علیه او د تقابل په اسلوبو کې د جملې د ځینو برخو حذف يې عام مثالونه دي. مثلا د سورت النساء د میراث په ایت کې[۲۵] تر فَوقَ اِثْنَتَيْنِ وړاندي اثنتین تر فَلاُمِّهِ ثُلُثٌ وروسته وَلابيهِ الثلثان تر فلامِّهِ السُّدس وروسته د ولابیه یا دې ته ورته الفاظ او د سورت النساء په (۱۲۷) ایت کې د وَاِنْ تَقُوْمُوا لِلْيَتٰمٰى بِالقِسْطِ معطوف علیه د همدې اسلوبو له مخې حذف شوي دي. د سورت الأنعام یو ایت داسي دی:

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلاَّ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم (الأنعام ۶: ۳۸)

"او په ځمکه کې هیڅ پر پښو تلونکی حیوان او په فضا کې په دوو وزرونو الوتونکی مرغه نه شته مګر ټول ستاسو په څېر امتونه دي."

دلته وینو چې د مقابل اړخ ځینې الفاظ حذف شوي دي، مثلا د جملې په لومړۍ برخه کې د في الارض الفاظ دي خو په دویمه برخه کې د في السماء الفاظ نه شته. همدارنګه په دویمه برخه کې د يَطيرُ بِجَنَاحَيْهِ الفاظ شته خو په لومړۍ برخه کې تدب علی رجلیها یا ارجلها الفاظ حذف شوي دي. بې شکه زمونږ په ژبه کې دا اسلوب نه شته خو د قرآن په ارزښتمنه عربي کې يې مثالونه ځای پر ځای لیدل کېدای شي. قرآن چې په کوم ځای کې د نکاح لپاره د جایزو ښځو یادونه کړې هلته يې دوه ځایه همدا اسلوب غوره کړې دي. الهي وینا ده:

وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ (النساء ۴: ۲۳)

"او ستاسو هغه مندې هم حرامې دي چې تاسو ته يې تي درکړی او د رضاعت خوندې هم."

---

[۲۵] ۴: ۱۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ (۴: ۲۳)

"او دا هم چې تاسو په نکاح کې دوې خوندې يو ځای کړئ، مګر څه چې پخوا شوي."

په لومړي حکم کې قرآن کريم له رضاعي مور سره رضاعي خور هم حرامه ګڼلې، که خبره يوازې پر رضاعي مور پای ته رسېدای نو بې شکه پکې د زيادت امکان نه وو، خو که د رضاعت تړاو له يو ځای تی رودونکې نجلۍ خور جوړوی نو ښکاره ده چې د رضاعي مور نورو قريبانو ته به هم دا حرمت غزېږي. د شيدو په رودلو کې شراکت چې يوه ښځه خور ګرزولای شي نو د رضاعي مور خور ولې خاله، مېړه يې پلار، د مېړه خور، ترور او د هغه د زوی و لور لونې ولې ورېږي او خورځې ګانې نه شي ګرزولای؟. له همدې کبله دا ښکې يقيني ده چې دا ټول قرابتونه هم حرام دي، دا د قرآن لارښوونه ده او د اخواتکم من الرضاعة الفاظ پر دې دلالت کوي چې پر قرآن له تدبر کوونکي هيڅ عالم څخه دا حکم په هيڅ ډول پټ نه شي پاتې کېدای.

همدا حالت د دويم حکم دی، که د ښځې او مېړه په تعلق کې د خور يو ځای کول له دې څخه فحاشي جوړوي نو له ترور (عمه) سره دوريږي او له تورې يا خاله سره د خورځې يو ځای کول هم ګواکې له مور سره د لور يو ځای کول دي. له همدې کبله په يقيني ډول د قرآن مدعا داده چې ان تجمعوا بين الاختين و بين المرأة و عمتها و بين المرأة و خالتها مطلب يې همدادی، مګر تر بين الاختين وروسته يې دا الفاظ له دې امله را نه وړل چې يادمطلب له خپلې عقلي تقاضا سره په دې مفهوم کې داسې څرګند دی چې د قرآن په اسلوبو خبر هر زده کوونکی يې په فهم کې تېروتنه نه شي کولای. رسول الله ﷺ ويلي:

يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولادة. (الموطا شمېره: ۱۸۸۷)

"هر هغه قرابت چې د ولادت له امله حرام دی په رضاعت هم حرامېږي."

لا يجمع بين المرأة وعمتها و لا بين المرأة و خالتها. (موطا شمېره: ۱۶۰۰)

"نه يوه ښځه او عمه يې په نکاح کې يو ځای کېدای شي او نه يوه ښځه او د هغې خاله."

د رسول الله ﷺ داوينا د هماغې قرآني مدعا بيان دی په دې کې د شرحې او بيان له حدودو هيڅ تېری نه دی شوی، د سورت النساء په يوولسم او دوولسم نمبر ايا تونو کې د ميراث د وېشلو حکم بيان شوی دی. هلته که له يوې خوا الله د بېلابېلو وارثانو برخې بيان

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړې دي له بلې خوا يې دا خبره هم په ډېره نرمه طريقه واضح کړې چې د ميراث حق پر کوم بنسټ را منځ ته کېږي هغه ګټور قرابت دی لکه چې ويلي يې دي:

آبَآؤُكُمْ وَأَبناؤُكُمْ لاَ تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعاً فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيماً حَكِيمًا (النساء ۴: ۱۱)

"تاسو نه پوهېږئ چې ستاسو په مور و پلار او اولادونو کې څوک د ګټې په لحاظ درته نژدې د؟، دا د الله تعالى فريضه ده بې شکه الله عليم حکيم دی."

د مور و پلار، اولادونو، ورونو، خوندو، مېرمنې، مېړه او نورو خپلوانو په تعلق کې دا ګټه په طبعي ډول موجوده ده او په عامو حالاتو کې همدوئ له څه شک پرته وارثان بلل کېږي. مګر که په دوی کې څوک د خپل ميراث خور لپاره د ګټې پر ځای په سراسر زيان بدل شي نو د حکم دا علت تقاضا کوي چې د وراثت له حقه محروم شي. که فکر وکړو نو په دې حکم کې دا استثنا له دې باندې نه ده راغلې، په پيل کې ورسره يو ځای ده له همدې کبله که د قرآن کوم عالم هغه بيانوي نو دا هيڅکله تغير او تبديل نه دی بلکې عيني د هماغې مدعا بيان دی چې د قرآن په الفاظو کې پټه ده. رسول الله ﷺ همدې ته په پام د عربي ټاپو وزمې د مشرکينو او يهودو و نصارا وو په اړه ويلي:

لا يرث المسلم الكافر و لا الكافر المسلم. (بخاري شمېره: ۶۷۶۴)

"نه مسلمان د کافر ميراث وړلای شي او نه کافر د مسلمان."

يعني د حق تر وضاحت او د دليل تر روښانتيا وروسته چې د حق منکرين له الله او مسلمانانو سره ښکاره دښمني پيل کړي نو د يوې لازمي نتيجې په توګه بايد د دوی او مسلمانانو تر منځ د قرابت ګټه هم د تل لپاره ختمه شي، ځکه نو بيا د يوه او بل وارثان نه شي کېدای.

۴) د سورت المايدې په (۳۳، ۳۴) ايا تونو کې الله په ځمکه کې د فساد کوونکو مجرمينو سزا دا بيان کړې چې په ډېره بده طريقه وژل کېدای هم شي، په دار کول يې هم روا دي، لاسونه او پښې يې هم بې ترتيبه غوڅولای شئ او له خپله وطنه هم شړل کېدای شي. رسول الله ﷺ همدا حکم د خپلې زمانې پر بد لمنو ښځو تطبيق کړ او ويې ويل:

خذوا عني خذوا عني فقد جعل الله لهن سبيلا "له ما يې واخلئ، له ما يې واخلئ الله د دې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

البكر بالبكر جلد مأة و نفى سنة و الثيب بالثيب جلد مأة و الرجم.

(مسلم شمېره: ۴۴۱۴)

ښځو لپاره لارا وايسته، په دا دول مجرمينو کي به پېغله د ځوان په مقابل کي په سلو درول وهل کېږي او يو کال به له وطنه شړل کېږي، همدارنګه به وديکني هم د سزا له مخې له يوه بل سره وي، د سلو درو او سنګسار سزا به ورکول کېږي."

د رسول الله ﷺ هدف دا وو چې دا ښځې يوازي د زنا جرم نه کوي بلکي له دې سره بد معاشي او جنسي بې لاري يې خپل هدف ګرزولې ځکه نو په ځمکه کي د فساد جرم کوي، له همدې کبله چې په دوی کي يې کومې د خپل حالت له مخې د نرمي وړ وي هغوی به د زنا په جرم د سورت النور د دويم ايت له مخې سل درې وهل کېږي او د دوی له شر و فساد څخه د ټولنې د ژغورلو لپاره به د سرکښي په سزا کي د مايدې د (۳۳) ايت له مخې د نفې يا جلا وطني سزا ورکول کېږي، همدارنګه چې له کومو سره يې نرمي ممکنه نه وي هغوی به د همدې ايت له مخې د (ان يقتل) پر بنسټ رجم کېږي.[۲۶]

۵) الله چې کوم شيان حرام کړي يو پکي ميتې يا مړزګه ده، د عربي ژبې په اسلوبو خبرهر سړی پوهېږي چې دا يو لغوي مفهوم لري او بل د عرف و عادت له مخې هم استعمالېږي، په لومړي صورت کي هر هغه شي ته وايي چې مرګ پرې راغلی وي، مګر په دويم صورت کي يې په عربي بلد سړی د بېلګې په توګه د مړه ملخ او يا مړه ماهي لپاره نه شي استعمالولای. له همدې کبله ويل شوي چې رسول الله ﷺ وويل:

احلت لنا ميتتان و دمان الجراد و الحيتان و الكبد والطحال.[۲۷]

(البيهقي شمېره: ۱۱۷۸)

"موږ ته دوه مړه شوي شيان او دوې وينې حلالې دي، مړه شوي شيان ملخ او ماهي دي او دوې وينې ينه او تريخی دی."

---

[۲۶] په روايت کي له دې سره يو ځای د سلو درو يادونه هم شوې خو دا يوازي د قانون د وضاحت لپاره ده، له مرګ سره که کومه بله سزا وي نو په قانون، پرېکړه او حکم کي بيانېږي خو عملا هيڅکله نافذ نه ږي نه.

[۲۷] دا روايت چې په کوم سند بيان شوی د محدثينو په نزد موقوف دی، همدارنګه چې وړاندي د غلا په اړه کوم روايت نقل شوی هغه هم مرسل دی، د دې مضمون يو روايت د حسن درجې دی او د سنن نسايي په (۴۹۶۰) شمېره کي نقل شوی دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

امام اللغة زمخشري ليکي:

فان قلت: في الميتات ما يحل وهو السمک و الجراد. قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: احلت لنا ميتتان و دمان، قلت: قصد ما يتفاهمه الناس و يتعارفونه فى العادة. الا ترى ان القائل اذا قال: اكل فلان ميتة، لم يسبق الوهم الى السمک و الجراد، كما لو قال: اكل دما، لم يسبق الى الكبد والطحال. و لاعتبار العادة و التعارف قالوا: من حلف لا ياكل لحما فاكل سمكا لم ينحث، و ان اكل لحما فى الحقيقة. (الكشاف ۱/ ۲۴۰)

" که پوښتنه وکړئ چې په مړو شويو کې ځينې شيان خو موږ ته حلال هم دي لکه ماهی او ملخ او رسول الله ﷺ ويلي: موږ ته دوه مړه شوي شيان او دوه ډوله وينې حلالې دي نو موږ به په ځواب کې ووايو: په قرآن کې د ميتة لفظ د عرف او عادت پربنا استعمال شوی دی، ايا تاسو نه وينئ چې کله څوک ووايي: فلاني مړزګه وخوړله نو زموږ ذهن د ماهي او ملخ پر لورنه اوړي لکه هغه چې ويلي يې وي: فلاني وينه وخوړله نو ذهن هيڅکله ينې او تريخي ته نه نقلېږي. د عرف او عادت پر بنسټ فقها وو ويلي: که چا قسم وکړ چې دی به غوښه نه خوري، بيا يې ماهی وخوړ نو قسم يې نه ماتېږي حال دا چې په حقيقت کې يې غوښه خوړلې ده."

۶) د قرآن کريم په مائده سورت کې د غله سزا داسې بيان شوې ده:

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهُمَا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

(المايدة ۵: ۳۸)

" او د غله نارينه وي او کښه ښځه د دواړو لاسونه غوڅ کړئ، د دوی د عمل د ځواب او د الله له خوا د عبرتناکې سزا په توګه او الله غالب حکيم دی."

له دې ښکاري چې دا سزا د نارينه غله او ښځينه غلې لپاره ده، قرآن د دې لپاره د سارق او سارقة الفاظ کارولي، د عربي ژبې هر عالم پوهېږي چې دا د صفت صيغې دي او د فعل په را منځ ته کېدو کې پر اهتمام دلالت کوي. له همدې کبله يې اطلاق د غلا پر داسې ډول کېدای شي چې ترسره کول يې غلا او ترسره کوونکی يې غل بلل کېدای شي، نو که کوم ماشوم له خپل پلار او يا يوه مېرمن له خپل خاوند څخه يو څه روپۍ پټې کړي، يا يو سړی د ډېر معمولي قېمت شی غلا کړي، يا د باغ مېوه او يا د کښت ځينې سبزي وشکوي، يا له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ساتنې پرته يو ځای غورځېدلی مال ورواخلي، پر خپل سر ايله غويی يا ګامښ له ځان سره بوزي او يا د ډېر مجبوريت له امله دا ډول کار وکړي نو شک نه شته چې دا سم کار ونه نه دي، بايد د تاديب او خبرداري په توګه سزا هم ورکړل شي مګر هغه غلا نه ده چې په دې ايت کې يې حکم بيان شوی دی.

په دې لړ کې چې په عمومي ډول رسول الله ﷺ ته منسوب کوم روايات وړاندې کېږي هغه د همدې قرآني مدعا بيان دی، له دې حدود و پکې هيڅ تېری نه شته. ده ويلي:

لا قطع فی ثمر معلق و لا في حريسة جبل فاذا اواه المراح او الجرين فالقطع فيما يبلغ ثمن المجن. (موطا، شمېره: ۲۵۹۴)

"په ونه پوري پر ځوړنده مېوه او په غره کې د څرېدونکي پسه پر بوولو لاس پرې کول نه شته، خو که کوم پسه خپل ځای ته ورسېږي او مېوه د ساتنې ځای ته راوړل شي نو لاس پرې کېږي په دې شرط چې قېمت يې له ډال سره برابر وي."

متشابه کتاب

پېنځم شی دادی چې قرآن خپله مدعا په دوه مره مختلفو شکلونو او ډول -ډول پرګرافونو بيانوي چې په نتيجه کې يې دی په خپله د خپل اجمال، تفصيل او د معجزانه کلام داسي شرح او تفسير ګرزي چې د نړۍ په نورو هيڅ کتابونو کې يې بېلګه نه شي وړاندې کېدای. له همدې امله يې ځان په کتابا متشابها معرفي کړی دی. الله ويلي:

اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ (الزمر ۳۹: ۲۳)

"الله غوره کلام نازل کړی، يو داسي کتاب چې اياتونه يې يوه بل ته ورته دي او سورتونه يې جوړه -جوړه دي."

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَـٰذَا الْقُرْآنِ لِيَذَّكَّرُوا[۲۸] او د دې مضمون په نورو اياتونو کې قرآن همدا حقيقت د تصريف په لفظ توضيح کړی چې د ګرزېدو په معنا دی يعنې يوه خبره په بېلابېلو طريقو او ډول -ډول اسلوبو وړاندې کول. همدارنګه يې ويلي:

كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ "دا يو داسي کتاب دی چې اياتونه يې لومړی

[۲۸] ۴۱ : ۱۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حَكِيمٍ خَبِيرٍ (۱۱:۱)

محکم نازل شوي، بيا يې د حکيم او خبير الله له لوري تفصيل شوی دی."

يعني لومړی د لنډوالي، جامعيت او اختصار طريقه اختيار شوې بيا د همدې را غونډو شويو جامعو او مختصرو ګواکي درياب په کوزه کي جملو تفصيل ورکړل شوی دی، استاذ امام امين احسن اصلاحي د قرآن د همدې وصف په وضاحت کي ليکي:

"... که تاسو قرآن تلاوت کړئ نو احساس به کړئ چي يو مضمون په بېلابېلو سورتونو کي بيا -بيا ليدل کېږي، يو مبتدي يې په ليدو فکر کوي چي د يوه مضمون تکرار دی، مګر پر قرآن غور کوونکی پوهېږي چي هغه له صرف تکرار څخه بالکل پاک دی، په هغه کي چي بيا -بيا کومه خبره تکرارېږي نو عيني په يوه ډول سياق و سباق او په يوه ډول مخکي و وروسته قيدونو نه راځي، ګواکي هر ځای يې اطراف، اړخونه او تعلقات و روابط بدل شوي وي، د مقام په مناسبت پکي له حال سره مناسب بدلونونه را منځ ته کېږي. په يوه مقام کي يې يو اړخ پټ وي، په دويم کي واضح کېږي. په يوه ځای کي يې اصل لوری ناڅرګند وي او په دويم سياق و سباق کي يې هغه لوری بالکل څرګند ېږي. بلکي زما شخصي او د مودو تجربه داده چي يو لفظ په يوه ايت کي بالکل ناڅرګند ښکاري او په بل کي تشريح کېږي. همدارنګه يو ځای د يوې خبرې دليل نه معلوميږي مګر بل ځای ېبخي د لمر په څېر روښانه وي، څرګنده ده چي د قرآن دا اسلوب د دې لپاره غوره شوي چي د هر زده کوونکي په ذهن کي ځای ونيسي. زه د تحديث نعمت په ډول وايم چي ما ته چي د قرآن مشکلات څومره په خپله د قران له مخې واضح شوي په بل هيڅ شي سره نه دي واضح شوي، مير انيس ويلي: د يوه ګل مضمون وي په سلو رنګونو يې ترم. ممکن دا د خپل کلام په اړه د هغه له خوا شاعرانه مبالغه وي خو د قرآن په اړه بالکل پر ځای ده، يوه -يوه خبره په دومره بېلابېلو او رنګارنګ اسلوبو بيانېږي چي که هر څوک روغ ذهن ولري نو تر لاسه کولای يې شي." (تدبر قرآن ۱/ ۲۸)

دا په اوسني دور کي تر امام حميد الدين فراهي وروسته په قرآن د يوه پوه انسان وينا او د ټول ژوند تجربه ده، د قرآن هر زده کوونکی چي يې هم په تدبر سره مطالعه کړي دا حقيقت به يې په هره پاڼه کي ثبت شي. له همدې امله بايد د دې په رڼا کي د اصولو په ډول ومنو چي القرآن يفسر بعضه بعضا يعني قرآن د خپل ځان تفسير کوي. دا خبره يوازي د قرآن د لارښوونو، تاريخي اشاراتو او تلميحاتو تر حده صحيح نه ده بلکي دا د قرآن يوه عجيبه معجزه ده چي د خپلو الفاظو او اسلوبو د ستونزو حل کولو لپاره هم په خپل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځان کي د شواهدو او اسنادو يوه قيمتي ذخيره لري. استاد امام ليکي:

"دلته د تفصيل بيانولو امکان نه شته که نه موږ به څرګنده کړې وه چې قرآن څرنګه له عامو خبرو –اترو يو معمولي لفظ را اخلي او له عادي معنا څخه يې په يوه لوړه معنا کي استعمالوي او بيا د خپل استعمال له متنوعې طريقې د هغه لپاره داسي ځانګړې چاپېريال پيدا کوي چې د لسان العرب او جوهري د صحاح له لارښوونې پرته د قرآن يوزده کوونکی د هغه لفظ ټول ماله وماعليه داسي فهموي چې هيڅ شی يې هم باور نه شي لړزولای، پر مفرد و الفاظو سربېره د کلام د اسلوبو او نحوي تأليف په اړه هم د قرآن دغه حالت دی. د نحوې پوهان چې د قرآن په کومو ترکيبونو کي سرګردانه دي او په هيڅ ډول يې نه شي سمولای، که يې په خپله په قرآن کي مثالونه ولټوئ نو تر يوه ډېر به وموميئ او د سياق و سباق له داسي قراينو سره به په لاس درشي چې د هغو په اړه به زموږ اطمنان هيڅ شی مجروح نه کړای شي." (مبادي تدبر قرآن: ۶۰)

د دين وروستی کتاب

شپږم شی دادی چې قرآن کوم دين وړاندي کوي دا يې لومړنی نه بلکي وروستی کتاب دی، د دې دين تاريخ دادی چې کله الله انسان نړۍ ته را وليږه نو د هغه بنسټيز حقايق يې د ده په فطرت کي ځای پر ځای کړل. بيا يې د هغوی د پلار ادم ﷺ په وسيله ورته وويل چې دوی په پيل کي يو خالق لري چې هغه دا وجود ورکړی، هماغه يې مالک دی او د همدې د لازمي نتيجې په توګه بايد يوازي هماغه معبود وګڼل شي. دويم دا چې دی دې دنيا ته د ازموينې لپاره را ليږل شوی او ده ته د خير و شر لارې له پيل ورځخه ورکړل شوې دي، يوازي اراده او اختيار نه بلکي د ځمکې واک هم ورکړل شوی دی. په دنيا کي دا امتحان به د ده د ژوند تر وروستۍ شېبې دوام لري، که په دې کي بريالی شو نو په بدل کي به يې د الله هغه ابدي پاچاهي په برخه شي چې هلته به نه د تېر وخت سزا وي او نه د راتلونکي اندېښنه. درېيم د هغوی ضرورتونو ته په پام به يې خالق وخت پر وخت خپل هدايات ورليږي، نو چا چې د دې هدايت پيروي وکړه له هر ډول بې لاريو به خوندي وي او که يې له هغو د تېښتي لار ونيوه نو په قيامت کي ابدي بد مرغي به يې تقدير وي.

الله خپله دا ژمنه پوره کړه، په انسانانو کي ځينې اشخاص يې غوره کړل او د هغوی په وسيله يې بني ادم ته هدايات را وليږل چې په دې کي هم حکمت وو او هم شريعت. څرګنده

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ده چي حکمت له هرډول تغيراتو لوړوو، مګر د شريعت معامله داسي نه وه، د هر قوم ارتياوو ته په پام نازلېدی، ان تر دې چي د ابراهيم عليه السلام په نبوت کي يې د ټول انسانيت لپاره احکامو تر ډېره بريده د يوه واضح سنت بڼه خپله کړه. د موسی عليه السلام په زمانه کي چي کله د بني اسرائيلو د يوه رسمي حکومت د را منځ ته کېدو مرحله راغله نو تورات نازل شو او د اجتماعي ژوند په اړه شرعي احکام هم ورکړل شول. په دې موده کي د حکمت ځينې ارخونه له سترګو غايب شول نو د زبور او انجيل په وسيله يې ورته څرګند کړل. بيا چي کله د دې کتابونو اصل متن په خپلو اصلي ژبو پاتي نه شو نو الله محمد ﷺ د خپل وروستي رسول په ډول را ولېږه او دا قرآن يې ورکړ لکه چي ويلي يې دي:

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ عَمَّا جَاءكَ مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاء اللّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ آتَاكُم فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ إِلَى اللهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ

(المائدة ۵: ۴۸)

"او (اې رسوله!) موږ دا کتاب پر تا له حق سره نازل کړی، د هغه شريعت په تصديق کي چي تر ده وړاندي موجود دی او د هغه ساتونکی، له همدې کبله ته د دوی (اهل کتابو) تر منځ له هغه هدايت سره سم فيصله وکړه چي الله نازل کړی او د هغه حق په پرېښودو چي تا ته درکړل شوی د دوی د خواهشاتو پيروي مه کوه، موږ په تاسو کي د هر يوه لپاره يو شريعت او عملي کړنلاره ټاکلې او که الله غوښتلای نو تاسو به يې ټول يو امت ګرزولي وای مګر دی غواړي چي څه يې درکړي تاسو پکي وازمويي نو په نېکيو تريوه بل د وړاندي کېدو هڅه وکړئ، تاسو ټول به الله ته ورګرزئ بيا به هغه ټول شيان دروښيي چي تاسو پکي اختلاف درلود."

همدا د دين تاريخ دی، نو د قرآن دعوت چي دې ته په پام له کومو کلمو پيلېږي هغه دادي:

۱) فطري حقايق

۲) د ابراهيمي دين سنت

۳) د انبياوو صحيفې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لومړی شی د ایمان او اخلاقو له بنسټیزو حقایقو سره ترلی او یوه لویه برخه یې په خپله اصطلاح په معروف او منکر تعبیروي، یعني هغه خبرې چې په انساني فطرت کې د خیر په توګه پېژندل کېږي او هغه شیان چې فطرت ترې منعه کوي او بد یې ګڼي. قرآن یې یو جامع او هر اړخیز فهرست نه وړاندې کوي، بلکې د دې حقیقت په منلو چې مخاطبین یې له پیله معروف او منکر دواړه له پوره شعور سره جلا - جلا پېژني له هغوئ غوښتنه کوي چې معروف خپل کړي او منکر پرېږدي.

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ (التوبة ۹: ۷۱)

"او مومن نارینه او مومنې ښځې د یوه بل ملګري دي، دوی یو بل ته د معروف نصیحت کوي او له منکره منع کوي."

د دویم شي لپاره قرآن د ابراهیمي ملت تعبیر غوره کړی، لمونځ، روژه، حج او زکات دا ټول د هغه ملت احکام دي چې د قرآن مخاطب په بشپړ ډول ورسره اشنا بلکې تر ډېره بریده یې پلي کوونکي وو. د ابو ذر ﷺ د ایمان راوړلو کوم روایت چې په مسلم کې بیان شوی په هغه کې دی په صراحت سره و ایي چې د رسول الله ﷺ تر راتلو وړاندې یې لمونځ کاوه.[۲۹] د جمعې د لمانځه په اړه هر چا ته معلومه ده چې د قرآن د مخاطبینو لپاره یو نا اشنا شی نه وو.[۳۰] دوی د جنازې لمونځ کاوه.[۳۱] همدارنګه یې د اسي روژه نیوله لکه موږ چې یې نیسو.[۳۲] زکات په دوی کې بالکل هغه ډول یو معلوم حق وو لکه اوس چې معلوم دی.[۳۳] د حج او عمرې په اړه هر عالم په دې پوهېږي چې له شک پرته قریشو پکې ځینې بدعتونه داخل کړي ول مګر په عمومي ډول یې مناسک هغه ول چې له هغو سره سم دا عبادات اوس ترسره کېږي، بلکې له روایاتو ښکاري چې خلګ په دې بدعتونو خبر هم ول. د بخاري او مسلم دواړو روایت دی چې رسول الله ﷺ تر بعثت وړاندې کوم حج وکړ

[۲۹] مسلم، شمېره: ۶۳۵۹
[۳۰] لسان العرب ۲ / ۳۵۹
[۳۱] المفصل فی تاریخ العرب قبل الاسلام د جواد علي لیکنه ۶ / ۳۳۸
[۳۲] بخاري، شمېره: ۲۰۰۲، مسلم، شمېره: ۲۶۴۱
[۳۳] المعارج ۷۰ : ۴۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه د قريشو له بدعتونو جلا عيني په هماغه طريقه وو چې پر کومه طريقه د ابراهيم عليه السلام له زمانې څخه همېشه حج دوام درلود.[۳۴]

همدا حالت د قربانۍ، اعتکاف، سنتي او ځينو نورو رسومو او ادابو دی، دا ټول شيان له پخوا رواج، معلوم او ټاکلي ول، نسل پر نسل يې د يوه دود په توګه دوام درلود او پېژندل کېدل، له همدې کبله هيڅ اړتيا نه وه چې قرآن يې تفصيل بيان کړي. په عربي ژبه کي چې د دې لپاره کوم الفاظ کارول کېدل مصداق يې خلګو په خپلو سترګو ليد، قرآن چې دوی ته د لمانځه د قايمولو، زکات د ورکړې، روژې نيولو او حج و عمرې ته د راتلو امر ورکړ نو دوی پوهېدل چې لمونځ، زکات، حج او عمره د څه شي نومونه دي؟. قرآن په دې کي هيڅ شی له سره نه دي پيل کړي، په هغو کي يې سمون راوستلی او په دې اړه يې تر هغې اندازې وضاحت کړی څومره چې يې بيا سمونې او اصلاح ته اړتيا وه. د ابراهيمي دين دا برخه چې په اصطلاح کي په سنت تعبير ېږي د قرآن په نزد د الله دين دی او کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ابراهيمي ملت د اتباع امر کوي نو ګواکي هغه ته يې د پوره - پوره خپلولو سپارښتنه کوي:

ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (النحل ۱۶: ۱۲۳)

"بيا موتا ته وحي وکړه چې د ابراهيمي ملت پيروي وکړه چې بالکل يوه اړخ ته وو او له مشرکينو نه وو."

درېيم شی هغه صحيفې دی چې دا مهال د تورات، زبور او انجيل په بڼه د بايبل په مجموعه صحايفو کي دي. د هغو بد مرغو پيروانو که څه هم د دوی يوه برخه ضايع کړې او ډېرې لاس وهنې يې پکي کړې دي، مګر له دې سره- سره د الله تعالى د نازل کړي حکمت او شريعت يوه لويه خزانه د الله په خاصو اسلوبو کي لا هم پکي ليدل کېدای شي. د قرآن زده کوونکي پوهېږي چې دې ته ځای پر ځای حوالې ورکول شوې، د انبياوو کيسې پکي بيان شوې، هغوی ته يې اجمالي اشارې کړې، په هغو کتابونو کي يې د يهودو او نصارا وو پر لاس وهنه رد کړې او د دوی پرو راندې شوي تاريخ يې تنقيد کړی دی. پر اهل کتابو د قرآن د حجت يا دليل پوره کولو يا اتمام حجت پر همدې صحيفو بنا دی او په ډاګه اعلانوي چې د دې سرچينه هماغه ده چې د هغو صحيفو ده.

[۳۴] بخاري، شمېره: ۱۶۶۴، مسلم شمېره: ۲۹۵۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ * مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ الْفُرْقَانَ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِآيَاتِ اللّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَاللّهُ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ*

(آل عمران ۳: ۳، ۴)

" (اې رسوله!)ده په حقه پر تا کتاب نازل کړ د هغه په تصديق کي چي تر ده وړاندي موجود دی او ده د خلګو لپاره تورات او انجيل نازل کړي، تر دې وړاندي د هدايت په توګه او (تر هغو وروسته) يې دا قرآن نازل کړی، بې شکه کوم کسان چي د الله له ايا تونو منکر شوي د هغوی لپاره ډېر سخت عذاب دی الله پياوړی د انتقام څښتن دی."

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ وَالأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا

(النساء ۴: ۱۶۳)

" (اې رسوله!) تا ته مو هماغه ډول وحي وکړه لکه نوح او تر هغه وروسته پيغمبرانو ته چي مو کړي وه او ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب، د هغوی اولادې، عيسی، ايوب، يونس، هارون او سليمان ته چي مو وحي کړې وه او داود ته مو زبور ورکړ."

همدا د قرآن شالید دی چي هغه ته په پام يې بايد په شرح او تفسير کي دا څو خبرې د اصولو په ډول ومنل شي: اول دا چي ټول دين د نبه او بد پر شعور له بنا هغو حقايقو سره يو ځای پوره کېږي چي په انساني فطرت کي له اولې ورځې ځای پر ځای شوي او قرآن په معروف و منکر ورځخه تعبير کوي. د شريعت کوم اوامر او نواهي چي په قرآن کي په تعين سره بيان شوي هغه تر دې معروفو او منکراتو وروسته د هغو پر اساس ولاړ دي، له دې پرته که د شريعت هر تصور خپل شي نو له هره پلوه به نيمګړی او د قرآن له هدف به خلاف وي.

دويم دا چي سنت تر قران وروسته نه بلکي تر قرآن وړاندي دي، له همدې امله به د هغه د پيروانو له اجماع او تواتر څخه اخيستل کېږي. په قرآن کي چي د هغو کوم احکام ذکر شوي تفصيلات به يې د همدې اجماع او تواتر پر بنسټ د را منځ ته شوې طريقې په وسيله تاکل کېږي. له قرآن کريم څخه به يې نېغ په نېغه د داسي اخيستلو هڅه نه کېږي لکه په خپل ګومان چي د نن ځينو مفکرينو له قرآن څخه د هغو د اخيستلو هڅه کړې او د قرآن مدعا يې بالکل سرچپه اړولې ده.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درپيم دا چي د اسماني کتابونو د خاصو اسلوبو، د يهودو او نصاراوو د تاريخ، د بني اسرائيلو د انبياوو د ژوند ليک او دا ډول نورو موضوعاتو په اړه د قرآن په اسلوبو او اشاراتو د پوهېدو او د دې اجمال د تفصيل لپاره به لرغونې صحيفې اصل ماخذ وي. د بحث او تنقيد ټول بنسټ به پر همدې ولاړ وي، په دې باب کي چي د تفسير کتابونو کوم روايتونه نقل کړي او ډېرې پر اوربدل شويو خبرو ولاړ دي هغه به هيڅکله د توجو وړ نه ګڼل کېږي. پر دې موضوعاتو چي له مخکينيو صحيفو کومه رڼا تر لاسه کېږي او د قرآن الفاظ په څه ډول د هغو تفصيلات مني او يا په هغو کي د بيان شوي يو شي په اړه اصل حقايق توضيح کوي هيڅکله يې هغه روايتونه ځای ناستي نه شي کېدای چي نه د قرآن کريم د يوه زده کوونکي په زړه کي اطمنان پيدا کوي او نه پر اهل کتابو له هيڅ اړخه حجت کېدای شي.

د نبوي وېرونې داستان

اووم شی دادی چي قرآن د خپل مضمون له مخې د يوه رسول د وېرونې داستان دی، هغه له پيله تر پايه ولولئ همدا حقيقت به يې پر هره پاڼه په نظر درشي، علت يې دادی چي الله هغه يوازي د قانون او حکمت مجموعه نه بلکي د خپل رسول لپاره د خپل قوم د وېرونکې وسېلې په توګه نازل کړی دی، لکه چي ويلي يې دي:

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ (الأنعام ۶: ۱۹) "او ما ته دا قرآن د دې لپاره وحي شوی چي زه تاسو او هغه څوک ووېروم چي ور ورسېږي."

د رسول الله ﷺ په اړه څرګنده ده چي پر نبوت سربېره يې د رسالت دنده هم درلوده، الله چي کوم کسان د خلګو د هدايت لپاره را لېږي او له خپله لوري يې د وحې او الهام په وسېله لارښوونه کوي هغوئ ته نبي ويل کېږي مګر اړينه نه ده چي هر نبي دي رسول هم وي. رسالت يو ځانګړی منصب دی چي په نبيانو کي ځينو يې تر لاسه کړی دی، د قرآن له تفصيلاتو سره سم رسول د خپلو مخاطبينو لپاره د الله د عدالت په توګه راځي او د هغوی د پرېکړې په کولو له دنيا رخصتېږي. قرآن وايي چي د رسولانو په دعوت کي دا پرېکړه د انذار، عامه وېرونې، دليل پوره کولو، هجرت او برأت له مراحلو په تېرېدو صادرېږي او په داسي توګه راځي چي د اسمان عدالت پر ځمکه ترسره کېږي. د الله دينونت څرګندېږي او د رسولانو د مخاطبينو په مخ کي يو وړوکی قيامت را منځ ته کېږي، قرآن چي د دې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دعوت کوم تاریخ بیان کړی له هغه بنکاري چي په دې وخت کي په عمومي ډول دوه صورته وي: یو دا چي هم د رسول د ملګرو شمېر کم وي او هم د هجرت ځای نه لري، دویم دا چي د خپلو ملګرو له یو لوی شمېره سره وزي او تروتو وړاندي الله د ځمکې په یوه برخه کي د هغوی لپاره د ازادي او په اقتدار سره د اوسېدو وسایل برابروي. په دې دواړو صورتونو کي د رسولانو په اړه د الله هغه سنت حتما ترسره کېږي چي قرآن داسي بیان کړي دي:

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ * كَتَبَ اللَّهُ لأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ*(المجادلة ۵۸: ۲۰، ۲۱)

" بې شکه هغه کسان چي د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي هماغوئ به خوارېږي، الله لیکلي چي زه او زما رسولان به بریالي کېږو، بې شکه الله قوي ډېر پیاوړی دی."

په لومړي صورت کي د رسول له خوا د قوم تر پرېښودو وروسته دا ذلت داسي پرې راځي چي اسماني پوځونه نازلېږي، د ډېرو او هواوو توپان را پورته کېږي او د وربځي و باد لښکر پر هغه قوم داسي برید کوي چي د رسول په مخالفینو کي هیڅ یو یې هم پر ځمکه نه پاتېږي. له قرآنه بنکاري چي د نوح، لوط، صالح، شعیب او همدارنګه له ځینو نورو قومونو سره دا ډول چلند وشو، له دې څخه یوازي بني اسرائیل مستثنا دي چي په اصل کي له توحید سره د ټرا و له کبله د عیسی علیه السلام له خوا د دوی تر پرېښودو وروسته د هغوی د هلاکت پر ځای د تل لپاره د مغلوبیت عذاب وربانديي مسلط کړای شو.

په دویم صورت کي د عذاب دا پرېکړه د رسول او د هغه د ملګرو له خوا د تورو په وسله پرې نافذېږي، په دې صورت کي قوم ته یو څه نور وخت ورکول کېږي په دې موده کي رسول د دار الهجرت پر اوسېدونکو دلیل او حجت پوره کوي، پرده د ایمان راوړونکو تر روزنې، تزکینې او پاکونې وروسته یې د حق او باطل د جګړې لپاره منظموي او د هجرت په سیمه کي خپل واک هم دومره پیاوړی کوي چي په مرسته یې د منکرینو ببخ وباسي او د حقپالو د بریا دا جګړه ترسره کړای شي.

د رسول الله ﷺ په اړه دا دویم صورت را منځ ته شو، د ده له خوا د وېرونې، عامه انذار، دلیل پوره کولو، هجرت، برأت او د خپلو مخالفینو او ملاتړو لپاره د جزا و سزا همدا داستان د قرآن موضوع ده. د هغه هر صورت په همدې شالید کي نازل شوی او ټول بابونه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې له همدې مخې ترتيب شوي دي، د قرآن په شرح او تفسير کې چې بايد هر زده کوونکی دې ته په پام کومو شيانو ته توجو هغه دادي:

اول: د هغه په هر سورت کې دي غور وکړي، دنبوي دعوت همدې مراحلو ته په پام دي د هغه د نزول زمانه په داسي ډول څرګنده کړي چې په اړه يې له پوره اطمنان سره وويلای شي چې د ببلګې په توګه هغه د انذار په زمانه کې نازل شوی، که د هجرت، برأت او جزا و سزا په زمانه کې او د هرايت مطلب يې بايد په همدې شالید کې وفهمول شي.

دويم: د هر سورت په اړه يې بايد دا پربکړه وشي چې مخاطبين يې په حقيقت کې د نبوي زمانې مشرکين دي، که اهل کتاب يا منافقين؟ رسول الله ﷺ او د هغه مومن ملګري او يا د دې مخاطبينو ځانګړې ډله. تعين يې بايد په دې ډول وي چې ضمنا د چا پر لوري او په کوم ځای کې التفات شوی. د هر ضمير مرجع، د هر تعريفي لام معلوم لوری او د هر تعبير مصداق بايد په همدې رڼا کې څرګند شي.

دريم: په دې کې د حق د غلبې، په ځمکه کې د واکمنۍ يا استخلاف او د جهاد و قتال د اياتونو په اړه بايد په ځانګړي ډول له پوره تحقيق سره دا څرګنده شي چې په دې شيانو کې کوم يو يې د الله حکم او ابدي پربکړه ده او کوم يو يې د رسالت د انذار له مخاطبينو سره تړلی ځانګړی قانون دی چې نور د خلګو لپاره دوام نه لري.

د کلام نظم

اتم شی دادی چې د قرآن هر سورت د کلام يو معلوم نظم لري، هغه د الله له خوا جلا - جلا او تيت پرک هدايات مجموعه نه ده بلکې يوه موضوع لري او ټول اياتونه يې په ډېر حکيمانه ترتيب او مناسبت سره په هغه موضوع پوري تړلي وي، د سورت دې موضوع ته په پام چې کله د هغه مطالعه ترسره کېږي او د موضوع په رعايت کې نظام په بشپړ ډول څرګندېږي نو موږ وينو چې يو ښکلی وحدت تر يې جوړېږي. دا نظم څه ارزښت او اهميت لري؟ استاذ امين احسن اصلاحي ليکي:

" د نظم په اړه دا خيال بالکل ناسم دی چې دا د علمي باريکيو په څېر يو شی دی چې د قرآن د اصل هدف د دريځ له مخې ځانګړی اهميت او ارزښت نه لري، زموږ په اند خو يې اصل ارزښت او قيمت دادی چې که د قرآن علومو او د هغه حکمت ته رسېدنه امکان لري نو د همدې په وسيله ترسره کېدای شي. څوک چې د نظم له لارښونې پرته قرآن لولي هغه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي بالاخره څه تر لاسه کوي نو دا به تيت -پرک احکام او يو څو شيندلي هدايات وي. که څه هم د يوه لوړ کتاب شيندلي احکام او د هغه تيت -پرک هدايات هم ارزښت او قيمت لري مګر د دې دوو خبرو ترمنځ د ځمکې او اسمان توپير دی چې له يوې خوا تاسو د طب له يوه کتاب المفردات څخه د څو ريښو او بوټو ځيني اثرات او خواص پپژنئ او له بلې خوا يو ماهر ډاکټر له همدې شيانو يوه کيميايي نسخه جوړوي، د تاج محل په جوړښت کې چې کوم مواد کارول شوي هغه به په جلا -جلا ډول د نړۍ په ډېرو ودانيو کې کارول شوي وي مګر بيا هم تاج محل په نړۍ کې يو دی. زه له تشبيه پرته دا خبره کوم چې قرآن کريم له کومو الفاظو او جملو ترکيب شوی هغه په هر حالت کې له عربي ژبې او عربي کلام سره تړاو لري، مګر د قرآن وړاندې شوي ترتيب هغه جمال او کمال ور بخښلی چې پر دې ځمکه يې هيڅ شی مقابله نه شي کولای.

لکه څرنګه چې کورنۍ شجرې لري همدارنګه نېکۍ او بدۍ هم شجرې لري، ځينې وختونه موږ يوه نېکي ډېره عادي ګڼو مګر دا نېکي د نېکيو له هغې کورنۍ سره تړلې وي چې تر د ټولو لويو نېکيو ځانګې را ټوکېږي، همدارنګه ډېر وختونه موږ يوه بدي عادي بولو خو دا د بدۍ له هغې کورنۍ سره تړاو لري چې د ټولو وژونکو ناروغيو زېږوونکې کورنۍ وي. څوک چې غواړي د دين په حکمت وپوهېږي، د هغه لپاره ضروري ده چې د خير او شر په دې ټولو مراحلو او مرتبو خبر شي، که نه وېره ده چې دی به د ټې بې د ناروغۍ ښودونکی مرض د نزلې مقدمه وګڼي او د نزلې راتګ به د ټې بې د راتلو وسېله وبولي. د قرآن دا حکمت د کلام دا اجزاوو په وسېله نه بلکې تر ډېره د کلام د نظم په وسېله واضح کېږي. که يو سړی د سورت په ېلا ېلو ايا تونو پوهېږي خو په سورت کې د نن ه د ايا تونو په خپل منځي حکيمانه نظم خبر نه وي نو هيڅکله له دې حکمت سره اشنا کېدای نه شي.

همدارنګه قرآن په مختلفو سورتونو کې د ېلا ېلو اصولي شيانو په اړه افاقي، نفسي او تاريخي دلايل بيان کړي دي چې په خورا حکيمانه ترتيب سره يې وړاندي کړي دي. چا ته چې دا ترتيب معلوم وي نو کله چې هغه سورت په تدبر سره تلاوت کوي دی احساسوي چې پر اړونده موضوع يې ډېره جامعه، پر دليل برابره او ذهن پرانيستونکې خطبه ويلې ده. د دې بر خلاف چې څوک په دې ترتيب خبر نه وي هغه که څه هم له اجزاوو سره بلد تيا ولري خو له هغه حکمته به بالکل بې برخې پاتې شي چې په دې سورت کې بيان شوی دی." (تدبر قرآن ۱/ ۲۰، ۲۱)

تر دې وروسته يې له سياسي او اجتماعي پلوه د نظم اهميت داسي تشريح کړی دی:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" هر سړی پوهېږي چې د مسلمان ملت اتحاد د قرآن کریم په الهي پیاوړې رسۍ را منځ ته شوی او ټولو مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې ټول په ګډه دا رسۍ ونیسي او سره ونه وېشل شي، د دې هدایت طبعي غوښتنه داده چې که زموږ په منځ کې هر څومره اختلافات وي موږ به یې د پرېکړې لپاره قرآن ته رجوع کوو، مګر دا مو لویه بد مرغي ده چې په خپله د قران په اړه مو نظرونه یو نه دي. معلومه نه ده چې د هرایت په اړه څومره ویناوې شوې او ډېری یې په خپل منځ کې ټکر هم دي، مګر زموږ په منځ کې داسي هیڅ شی نه شته چې پرېکړه وکړای شي چې په دغو کې یې کوم قول پر حق دی؟. که د کوم کلام په تاویل کې اختلاف وي نو د له منځه وړلو لپاره یې تر ټولو اطمنان بخښونکی شی د هغه سیاق و سباق او نظم کېدای شي، مګر د قرآن په اړه مصیبت دادی چې خلګ پکې د نظم منونکي نه دي، نتیجه یې دا شوه چې په موږ کې هر اختلاف پیدا شوی ځان ته یې یو بل علم زېږولی دی. زموږ ډېری فقهي اختلافات یوازې د خبرې سیاق او نظم ته د نه کتلو له امله را پیدا شوي دي. که سیاق او نظم ته پاملرنه وشي نو ډېری ځایونه داسي دي چې هلته له یوه قول پرته د بل هیڅ قول د موجودیت امکان نه شته.

تر فقهي اختلافاتو ډېره خطرناکه خبره د بې لارو ډلو دګمراهیو ده، په موږ کې چې څومره ډلې پیدا شوې دي په هغو کې ډېریو یې پر قرآني ایاتونو تکیه کړې، یو ایت یې له خپل سیاق او سباق څخه را ښل کړی او بیا چې یې څه په زړه کې ور ګرزېدلي هغه معنا یې ور اغوستې ده. څرګنده ده چې که یو کلام له خپل نظم او سیاق و سباق څخه ښل شي او تاسو وغواړئ چې یوه معنا ورته وټاکئ نو ډېرې معناوې ورته ټاکلای شئ ان ځینې به یې داسي هم وي چې د هغه قول ویونکي به یې تصور هم نه شوای کولای. که د کلام اوږدېدو وېره نه وای نو دلته مې د ډېرو داسي ایاتونو حواله ورکولای شوای چې په لیکنو او ویناوو کې په ډېرو ناسمو بلکې ګمراه کوونکو معناوو استعمالېږي مګر هیڅوک دا توان نه لري چې د لږ تکلیف په کولو وګوري چې د ایت کوم مقام او محل دی او سیاق و سباق یې څه دي؟. لکه ما چې وویل د دوی په نزد د قرآن په اړه له سره د نظم، موکې او محل سوال نه پیدا کېږي." (تدبر قرآن ۱/ ۲۱، ۲۲)

له دې څخه په ډاګه شوه چې کوم شی له قرآن څخه پرېکنده دلیل جوړوي، د تاویل ټول اختلافات له منځه وړي او د امام فراهي په وینا د القرآن لا یحتمل الا تأویلا واحدا[۳۵] حقیقت ثابتوي، هغه یوازې نظم دی. استاذ امام په خپل تفسیر تدبر قران کې په دې اړه لیکي:

[۳۵] رسائل الامام الفراهي ۲۳۰. (په قرآن کې تر یوه د زیات تاویل اجازه نه شته.)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"څرنګه چې ما په دې تفسير کې د کلام نظم ته ډېر ارزښت ورکړی له همدې کبله مې هر ځای یو قول غوره کړی دی، بلکې که زه دا حقیقت په سمو الفاظو بیان کړم نو باید ووایم چې زه د دیوه قول غوره کولو ته مجبور شوی یم ځکه د نظم تر رعایت وروسته په بېلابېلو دښتو کې د لالهانده ګرزېدو هیڅ امکان نه پاتېږي. سیې خبره په پوره ډول وضاحت سره داسې څرګندېږي چې که انسان بشپړ وند او ګونګ متعصب نه وي نو خپل ځان قربانولای شي مګر له هغه څخه انحراف نه شي زغملای." (تدبر قرآن ۱ / ۲۲)

د قرآن د همدې نظم پر بنسټ چې هغه کله له خپلو مخاطبینو د خپل ځان په څېر د کلام راوړلو غوښتنه وکړه نو د مختلفو ایاتونو نه بلکې د یوه یا تر یوه د زیاتو سورتو د وړاندې کولو غوښتنه یې وکړه.

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّنْ دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (البقرة ۲: ۲۳)

"او کوم څه چې موږ پر خپل بنده نازل کړي که یې تاسو په اړه شکمن یاست نو (ولاړ شئ او) د هغه په څېر یو سورت راوړئ او (د دې لپاره) له الله پرته خپل ټول ملاتړي هم را وبولئ که تاسو (په خپل ګومان کې) رښتني یاست."

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُواْ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُواْ مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (هود ۱۱: ۱۳)

"ایا دوی وایي چې ده له ځانه جوړ کړی؟، ورته ووایه نو بیا تاسو هم داسې جوړ شوي لس سورتونه راوړئ او له الله پرته چې څوک را بللای شئ هغوئ هم را وبولئ که رښتني یاست."

د فراهي مکتب امامانو چې په خپلو تفسیرونو کې دا نظم څومره په دلیل سره ثابت کړی تر دې وروسته یې د وجود او نه وجود په اړه هیڅ بحث ته اړتیا نه شته، مګر د دې ډول څه دی؟ موږ یې دلته د څو ټکو په بڼه بیانوو.

۱) هر سورت یوه موضوع لري چې په هغه کې د مضمون جوړوونکو ټولو اجزاوو لپاره د ترونکې کړی په شان وي او موږ یې د روح په څېر د سورت په ټول وجود کې غزونې وینو.

۲) په سورت کې له اصل مضمون سره په عمومي ډول یوه سریزه او یوه خاتمه هم وي، د سورت مضمون په ځینو سورتونو کې پر فصلونو او پرګرافونو او په ځینو کې یوازې پر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پرګرافونو ویشلای شو. پرګرافونه د مضمون وقفې او فصلونه یې تغیرات څرګندوي. د سریزې او خاتمې ایاتونه هم د خپل مضمون له مخې په ځینو ځایونو کې پر پرګرافونو وېشل کېږي.

۳) دا پرګرافونه او فصلونه د ایاتونو د ربط په طریقه نه بلکې د تمثیل، تعلیل، تأصیل، تکمیل، سوال، ځواب، تفریع، نتیجې، اعتراض، تنبیه، تقابل، تشابه، عود علی البدأ، استدراک او همدارنګه په ځینو نورو اړخونو له یوه بل سره تړلي وي او له سورې یو مربوط کلام جوړوي.

۴) د سورت مضمون په همدې پرګرافونو او فصلونو کې په تدریجي ارتقا سره خپل اتمام ته رسېږي چې په نتیجه کې یې هغه یو بېل او تاکلی شکل خپلوي او په خپل وجود کې یو داسې وحدت ترې جوړېږي چې له هره پلوه مستقل بالذات او کامل وي.

سبع مثاني

نهم شی دا دی چې په قرآن کې سورتونه هسې پر اتکل نه دي سره یو ځای شوي لکه په عمومي ډول چې فکر کېږي، بلکې یو ځانګړی نظام دی چې له مخې یې الله قران ترتیب کړی او په سورتونو کې د نظم کلام په څېر دا ترتیب هم د موضوع د رعایت له مخې ډېر مناسب او له حکمته ډک دی. نوعیت او ډول یې په اجمالي ډول دا دی چې د قرآن ټول سورتونه په خپل منځ کې د تړاو په درلودلو د اوو بابونو په بڼه ترتیب شوي دي یعني هر سورت د مضمون له مخې خپله یوه جوړه او مثنی لري او د دواړو تر منځ هماغه ډول مناسبت دی لکه د دوو جوړو تر منځ چې وي. له دې څخه یوازې څو سورتونه مستثنا دي چې په هغو کې فاتحه د ټول قرآن لپاره د سریزې او پاتې د تتمې، تکملې یا باب د خاتمې په ډول راغلي دي. ورپسې دا سورتونه په قرآن کې دا وو مجموعو په بڼه چې موږ ترې په ابوابو تعبیر کوو ترتیب شوي. د قرآن په اړه دا حقیقت په سورت الحجر کې داسې بیان شوی دی:

وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ (الحجر ۱۵: ۸۷)

"(اې رسوله!) موږ تا ته اووه مثاني[۳۶] یعني دا ستر قرآن درکړی دی."[۳۷]

[۳۶] مثاني د مثنی جمع ده او معنا یې ده هغه شی چې دوه - دوه وي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن کريم په دې اوو بابونو کې هر باب له يوه يا تر يوه له زياتو مکي سورتونو پيلېږي او تر يوه يا له يوه تر زياتو پرمدني سورتونو ختمېږي.

لومړی باب له فاتحې پيل او پر مايده ختمېږي، په دې کې فاتحه مکي او پاتې څلور يې مدني دي.

دويم باب له الأنعام او أعراف دوو مکي سورتونو پيلېږي او پر دوو مدني سورتونو أنفال او توبه ختمېږي.

په درېيم باب کې له يونس څخه تر مومنون پورې لومړی څورلس سورتونه مکي او په اخير کې يې يو سورت نور مدني دی.

څلورم باب له فرقان څخه پيلېږي پر احزاب ختمېږي، په دې کې لومړني اته سورتونه مکي او په اخير کې يو احزاب يې مدني دی.

پنځم باب له سبا څخه پيلېږي پر حجرات ختمېږي، په دې کې ديارلس سورتونه مکي او په پای کې درې يې مدني دي.

شپږم باب له ق څخه پيلېږي پر تحريم ختمېږي، په دې کې اووه مکي او تر هغو وروسته لس يې مدني دي.

اووم باب له ملک څخه شروع کېږي او پر الناس ختمېږي، په دې کې وروسته دوه معوذتين مدني او پاتې ټول مکي دي.

په دې کې هر باب يوه موضوع لري او سورتونه يې د همدې موضوع له رعايت سره ترتيب شوي دي، د لومړي باب موضوع پر يهود او نصارا وو د دليل پوره کول، ددوی پر ځای په بني اسماعيل کې د يوه نوي امت جوړول، د هغوی تزکيه او پاکونه او له هغوی سره د الله وروستی ژمنه او وعده ده.

په دويم باب کې د عربو پر مشرکينو د دليل پوره کول، د مسلمانانو تزکيه او پاکونه او د الله د وروستی پرېکړې بيان دی.

د درېيم، څلورم، پنځم او شپږم باب موضوع يوه ده چې انذار، بشارت او تزکيه و تطهير دي.

---

[۳۷] پر دې ايت د تفصيلي بحث لپاره د امين احسن اصلاحي تدبر قرآن ۴ / ۳۷۷، ۳۷۸ وګورئ!

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اووم او اخيري باب موضوع له قيامت څخه د قريشو د مشرانو وېرونه، پر دوی د دليل پوره کول، په نتيجه کې يې هغوی ته د عذاب ګواښنه او رسول الله ﷺ ته په عربي خاوره کې د حق د بريا زېری دی او موږ يې په لنډ ډول صرف په انذار او بشارت سره هم تعبيرولای شو.

په دې کې که لومړی باب ترې بېل کړئ نو په قرآن کې يې ترتيب له خاتمې د ابتدا پر لور دی، ځکه اووم باب په انذار او بشارت پوره کېږي، تر دې وروسته په شپږم، پنځم، څلورم او درېيم باب کې له انذار او بشارت سره د تزکيې او پاکونې مضمون هم شامل شوی دی. بيا دويم او د دې لړی وروستی باب دی چې پکې د رسول انذار خپل پای ته رسېږي. له همدې کبله د حجت له پوره کولو، تزکيې او پاکونې سره پکې د مخاطبينو لپاره د اسمان د عدالت هغه پرېکړه هم بيانېږي چې موږ يې تر قيامت وړاندې د الله په وروستۍ پرېکړه تعبيروو.

لومړی باب له دې امله ېخې جلا دی چې د مشرکينو پر ځای يهود او نصارا وو ته ځانګړی شوی دی، مګر که د قرآن پيل وګورئ نو دا هم د حجت تر پوره کولو او تزکيې و پاکونې وروسته د توبې په سورت کې د فيصلې له مضمون سره بالکل هماغه ډول مربوط دی لکه پورتني بابونه. که له خاتمې د ابتدا پرلور راشئ نو ترتيب په صعودي ډول تړل کېږي ځکه نو دويم باب ګواکې د اوښ کومی دی چې هلته يو مضمون په دې توپير سره چې مخاطبين يې بدل شوي د خپل کمال نقطې ته رسېدلی او ختمېږي.

له دې څخه معلومېږي چې تر دويم باب وړاندې د نزولي ترتيب طريقه د لومړي باب لپاره د ربط د همدې ضرورت له مخې غوره شوې ده. په دې ترتيب کې لومړی باب له دې امله را مخ ته شوی چې نور يې لومړني مخاطبين د قرآن پيروان دي.

د انذار، بشارت او حجت پوره کولو مضمون له لومړي باب پرته عموما په مکي سورتونو او د تطهير و تزکيې مضمون په مدني سورتونو کې بيانېږي. مګر دا دواړه هم په هر باب کې داسې سره تړلي او هماهنګ دي لکه له ريښو څخه چې تنه او له تنې څخه ځانګې را ټوکېږي.

همدا د قران ترتيب دی، که په تدبر سره وکتل شي نو زده کوونکو ته چې د سورتونو په شاليد، د نزول د زمانې په درک او د قرآن د مخاطبينو بلکې په مجموعي ډول چې د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سورتونو د موضوع او مدعا په تعين کي هره لارښوونه تر لاسه کوي هغه له قرآنه دباندي هيڅکله په بله وسيله نه شي تر لاسه کېداى.

تاريخي شاليد

لسم شى دادى چي قران يو تاريخ لري او هغه له مخې په اوومه عيسوي پېړۍ کي پر محمد رسول الله نازل شو، دا چي د ځمکې په کومه برخه کي نازل شوى موږ يې د عربي ټاپو وزمې په نوم پېژنو. د هغه تاريخ ښيي چي رسول الله ﷺ يې د اړتيا له مخې خلګو ته مطالب واضح کړي دي، د صحابه وو پوهانو او تر دوى وروسته په هر دور کي د امت علماوو او محققينو هم په هغه د پوهېدو او نورو ته يې د ورپوهولو خدمت ترسره کړى، د قرآن دا تاريخ بالکل منل شوى او له زده کوونکو د څو شيانو غوښتنه لري.

لومړى دا چي دا کتاب په کومه زمانه او کومه ځمکه کي نازل شوى بايد انسان يې په تاريخ خبر وي، د قرآن هر زده کوونکى پوهېږي چي په دې کي د عربو د مخکينيو قومونو مثلا عاديانو، ثموديانو او د مدين د اوسېدونکو تباهي يادە شوې ده. د هغوى پر عقايدو بحث شوى، د هغوى د نبيانو دعوت او د دې دعوت په وړاندي د هغوى غبرګون ياد شوى دى، عربو ته د ابراهيم عليه السلام راتګ، قرباني ته د خپل زوى اسماعيل د وړاندي کولو او د بيت الله د ودانۍ داستان دى. دوى چي د عربو پر مدني، اخلاقي، ټولنيزو او او مالي حالاتو کوم اغېزو کړې هغه لور ته اشارې شوې، وروسته چې قريشو د دوى په دين کي کوم تحريفات وکړل تر دوى وروسته يې څرنګه د توحيد مرکز بيت الحرام په يوه بتخانه واړاوه او په نتيجه کي يې کوم بدعتونه او دودونه را منځ ته شول د هغو يادونه ده. همدارنګه د نزول په زمانه کي پر موجودو پېښو، سياسي تمايلاتو، مذهبي عقايدو او تصوراتو بحث شوى، په دې ټولو خبرو د پوهېدو لپاره اړينه ده چي د قرآني الفاظو او خپل نظم په ساتلو د هغه دور له تر لاسه کېدونکي تاريخ څخه په بشپړ ډول ګټه واخيستل شي، ځکه حقيقت دادى چي په دې سره د قرآن په ځينو اشاراتو د پوهېدو او ځينو سختو مشکلاتو په سپړلو کي ډېره مرسته تر لاسه کېږي.

دويم دا چي رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته په کتابونو کي منسوب کوم اثار او احاديث نقل شوي هغو ته پوره اهميت ورکړل شي، په دې کي شک نه شته چي وچ او لانده هر ډول شيان ورګډ شوي او بالمعنى روايت هم د مفهوم په تحريف کي رول لري مګر د نظر خاوندان پوهېږي چي په کوم ځاى کي ماتې ټوټې وي هلته د ملغلرو کمى هم نه شته.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې اړه باید سمه تګلاره ځه وي، استاذ امام یې د خپل تفسیر په مقدمه کې داسې بیانوي:

" د تفسیر په ظني ماخذونو کې تر ټولو غوره او تر ټولو پاک شی د احادیثو او اثارو ذخیره ده، که یې د صحت په اړه پوره اطمنان موجود وای نو په تفسیر کې به یې هماغه اهمیت درلودای چې متواتر سنت یې لري، مګر څرنګه چې یې پر صحت دومره اطمنان نه شي کېدای له همدې وجې باید په هغه کچه تر ټټه واخیستل شي چې تر کومه بریده له هغو قطعي اصولو سره برابروي چې پورته بیان شول. کوم کسان چې احادیثو او اثارو ته ډېر ارزښت ورکوي او پر قرآن یې هم حاکم ګرزوي هغوی نه د قرآن درجه پېژني او نه د احادیثو، د دې برخلاف چې کوم کسان احادیث او اثار له سره حجت نه ګڼي دوی خپل ځانونه له هغې رښا بې برخې کوي چې له قرآن وروسته تر ټولو ارزښتمنه ده. زه ټول احادیث له قرآنه اخیستل شوي او مستنبط ګڼم، له همدې وجې مي له احادیثو استفاده یوازې تر هغو محدوده نه ده ګڼلې چې د قرآن د یوه ایت په اړه له صراحت سره نقل شوي وي، بلکې د احادیثو له ټولې ذخیرې مي د خپل توان تر کچې ټټه اخیستې ده. په ځانګړې ډول د قرآني حکمت په مسایلو کې چې له ما سره احادیثو کومه مرسته کړې بل شي نه ده را سره کړې، که له یو داسې حدیث سره مخ شوی یم چې له قرآن سره ټکر ښکاري نو تر یوې مودې مي توقف کړی او په هغه صورت کې مي پرېښنی چې ښه پوه شوی یم د دې حدیث په منلو د قرآن مخالفت را منځ ته کېږي او یا د دین اصولو ته زیان رسوي. تر کومه ځایه چې په صحیحو احادیثو پوري اړه لري نو ډېر لږ داسې پېښېږي چې له قرآن سره یې تطبیق را منځ ته نه شي. خو که په کوم ځای کې دا ډول حالت پېښ شوی نو ما په هر صورت قرآن ته ترجیح ورکړې او د خپلې ترجیح وجوهات مي په تفصیل سره بیان کړي دي."

(تدبر قرآن ۱/ ۳۰)

درېیم دا چې علماوو او محققینو د قرآن د شرحې او تفسیر په اړه څه ویلي او لیکلي هغو ته باید تل پام وکړو، علم او فن د مخکینیو له تحقیقاتو، فکر او نظر څخه په استفادې پرمختګ کوي، هغو ته له پاملرنې پرته هیڅکله د پرمختګ پراوونه نه شي وهل کېدای. غوره علم په سرکښي او بغاوت نه بلکې د تواضع او حق په رښتني محبت سره تر لاسه کېږي، د قرآن زده کوونکو ته هم په کار ده چې د قرآن پوهونې او ورپوهونې او د یو ایت په اړه د یوه نظر خپلولو پر مهال لږ تر لږه د تفسیر مشهور کتابونه مطالعه کړي، د فراهي مکتب د تفسیر امامانو چې دا مهال پر قرآن کوم کار کړی تر هغه وړاندې درو تفسیرونو دا حیثیت درلود. د ابن جریر و رازي تفسیر او د زمخشري الکشاف. د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سلفو ټول اقوال په ابن جرير کي را غونډ دي، د علم کلام قيل و قال د رازي په تفسير کبير کي موندل کېږي او د نحوي و اعراب مسايل په الکشاف کي موندل کېدای شي. همدا تفسيرونه دي چې د دې فن امهات يا مشهور کتابونه بلل کېدای شي، د قرآن زده کوونکي بايد هماغه خبره ومني چې د هغه الفاظ او نظم پې قبلوي خو د خپلو مشرانو له دې کار څخه بايد په هيڅ حال کي مخ وانه ړوي.

پر سنت د غور کولو اساسات

سنن څه شی دي؟ موږ د دې مضمون په سريزه کي په بشپړه معلومه طريقه وړاندي کړي دي، دا تعين چې په کوم ډول شوی څو لارښوونکي اصول لري چې دلته يې په فصيل سره بيانوو.

لومړی اصل

لومړی اصل دا دی چې کوم شی د خپل نوعيت له مخې دين وي يوازي هغه سنت کېدلای شي. قرآن په دې معامله کي بالکل واضح دی چې د الله نبي د هغه د دين پېژندنې لپاره را لېږل شوی وو، همدا يې د علم او عمل ساحه وه. له دې پرته يې اصلا له بل شي سره هيڅ مينه نه وه، په دې کي شک نه شته چې له خپل نبوي حيثيت سره ابراهيم بن ازر هم وو، موسی بن عمران، عيسی بن مريم او محمد بن عبدالله هم. مګر د خپل دې حيثيت په توګه يې هيڅکله له خلګو کومه غوښتنه نه ده کړې، د هغه ټولې غوښتنې يوازي په دې حيثيت وې چې دی د الله نبي دی او د نبي په حيث چې ده ته کوم شيان ورکول شوي هغه دين دی او تر خلګو پورې د ده د رسولو اصلي مسئوليت هم دغه دين وو.

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ

(الشوری ۴۲: ۱۳)

"ده ستاسو لپاره هماغه دين ټاکلی چې نوح ته يې امر وکړ او (اې رسوله) اوس موتا ته وحي کړی او د هغه هدايت مو ابراهيم، موسی او عيسی ته وکړ، له دې ټينګار سره چې (په خپل ژوند کي) دا دين قايم کړي او تفرقه پکي مه کوئ."

څرګنده ده چې رسول الله ﷺ په جګړه کي غشی، توره او دا ډول نورو سايل کارولي دي، پر اوښانو يې سفر کړی، مسجدونه يې جوړ کړي چې بام يې د خورما وو په څانګو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پوښلی وو، د خپل تمدن له مخې يې ځينې شيان خوړلي او په هغو کې يې ځينې خوښ کړي او ځينې يې نه دي خوښ کړي. د هغه ځانګړي شکل جامې يې اغوستې دي چې هغه وخت په عربو کې اغوستل کېدې او په انتخاب کې يې د ده شخصي ذوق هم دخل درلود خو په دې کې هيڅ شی سنت نه دی او نه يې کوم عالم سنت منلو ته چمتو کېدای شي. په خپله رسول الله ﷺ د دې خبرې وضاحت داسې کړی دی:

انما انا بشر اذا امرتكم بشيء من دينكم فخذوا به و اذا امرتكم بشيء من رأى فانما انا بشر ... فاني انما انا ظننت ظنا فلا تؤاخذوني بالظن و لكن اذا حدثتكم من الله شيئا فخذوا به فاني لن اكذب على الله ... انتم أعلم بامر دنياكم.

(مسلم، شمېره: ۶۱۲۶ - ۶۱۲۸)

"زه يو انسان يم کله چې د دين په اړه د يو شي امر درته وکړم وايې خلئ او که مو له خپلې رايې په يوه شي امر وکړم نو زه يو بشر يم... ما د اندازې له مخې يوه خبره کړې وه[۳۸] په هغو خبرو کې مې نه نيسئ چې د ګومان او رايې پر بنسټ مې کړې وي، هو! که د الله له خوا څه درته وايم نو ويې منئ ځکه زه هيڅکله پر الله دروغ نه ترم... تاسو په خپلو دنيوي معاملاتو ښه پوهيږئ."

دويم اصل

دويم اصل دادی چې سنت په بشپړ ډول له عمل سره تړاو لري يعنې هغه شيان چې د کولو دي، علم، عقيده، تاريخ، شان نزول او دا ډول نور شيان له سنت سره هيڅ تړاو نه لري.

په عربي لغت کې سنت لارې ته وايي، الله چې له قومونو سره په دنيا کې د سزا او جزا کومه معامله کړې په قرآن کې په سنت الله ترې تعبير شوی، د سنت لفظ دا نه مني چې د ايمانياتو په څېر شيانو يې اطلاق وشي، ځکه نو د علمي نوعيت هيڅ شی هم سنت نه دی. ساحه يې يوازې د ترسره کېدونکو کارونه ده، له دې ساحې دباندې شيان په هيڅ ډول پکې شامليدای نه شي.

[۳۸] هغې خبرې ته اشاره ده چې د خورماوو پيوندولو په اړه يې خپل نظر ورکړی وو او د مدينې اوسېدونکي يې د خورماوو له پيوندولو منعه کړي ول.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېيم اصل

درېيم اصل دادی چې د عملي نوعيت هغه شيان هم سنت نه شي کېدای چې پيل يې د رسول پر ځای له قرآن څخه وي، د رسول الله ﷺ په اړه ثابته ده چې د غلهلاسونه يې غوڅ کړي، زانيان يې په درو وهلي، اوباشان يې سنګسار کړي او د حق د منکرينو پر خلاف يې توره پورته کړې خو دا هيڅ شی هم سنت نه شي بلل کېدای. دا د قرآن احکام دي چې اول ځل هلته راغلل او رسول الله ﷺ عملي کړل، د لمانځه، روژې، حج، زکات او قربانۍ احکام که څه هم ځای پر ځای په قرآن کي راغلي او په ځينو کي يې اصلاحات هم کړي مګر دا خبره په خپله له قرآنه په ډاګه کېږي چې ابتدا يې د رسول الله ﷺ له لوري د ابراهيمي دين تر تجديد وروسته د هغه په تائيد سره شوې ده. له همدې کبله دا حتما سنن دي چې قرآن يې تائيد کړی. د يو شی حکم که اصلا پر قرآن بنا وي او رسول يې وضاحت کړی وي او يا يې له هغه سره سم عمل کړی وي نو د رسول دا قول او فعل موږ په سنتو نه بلکي د قرآن په پوهونه، بيان او اسوه حسنه تعبيروو.

سنت به يوازي هغو شيانو ته ويل کېږي چې په حقيقت کي د رسول پر قول، فعل او تائيد بنا وي او د قرآن د کوم حکم عمل، يا د هغه پوهونه او بيان نه شي بلل کېدای.

څلورم اصل

څلورم اصل دادی چې د تطوع په توګه پر سنتو عمل له هغه نوی سنت نه جوړوي، موږ پوهېږو چې رسول الله ﷺ د الله د دې فرمان له مخې چې وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ[۳۹] د شپې او ورځې له پنځو فرضي لمنځونو سره يې نفلي لمنځونه هم کړي، د رمضان پر روژو سربېره يې نفلي روژې هم نيولې دي او نفلي قربانۍ يې هم کړې دي، مګر په دغو کي هيڅ شی هم د خپل دې حيثيت له مخې سنت نه دی، رسول الله ﷺ چې په کومه طريقه دې نوافلو ته پاملرنه کړې موږ يې په عباداتو کي د ده اسوه حسنه بللای شو مګر په خپل لومړني حيثيت يې يو ځل تر سنت بللو وروسته يې -يې د سننو په فهرست کي نه شو شاملولای.

[۳۹] ژباړه: او که چا په خپل شوق د نېکۍ کوم کار وکړ الله يې قبلوونکی دی. البقرة ۲ : ۱۵۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا حالت په کامل ډول د يوه کار د ترسره کولو هم دی، د رسول الله ﷺ او دس او غسل يې غوره مثالونه دي، ده چې دا دواړه کارونه په کومه طريقه ترسره کړي په هغو کي يو هم تر اصل زايد نه دی چې ببل سنت وګڼل شي بلکي په هر لحاظ د اصل پوره کوونکی عمل دی چې نمونه يې ده په خپل اوداسه او غسل کي وړاندي کړې ده. له همدې کبله به دا ټول شيان د اسوه حسنه په ضمن کي ايښودل کېږي سنت نه شي بلل کېدای.

پنځم اصل

پنځم اصل دادی چې کوم شيان صرف د طبعي بيان په توګه راغلي هغه هم سنت نه دي، مګر دا چې انبياوو له هغو څخه يو شی د دين لازمي جز ګرزولی دی، د ځيرونکو ځناورو، منګولو درلودونکو مرغانو او کورني خره له غوښې د منعې په اړه د رسول الله ﷺ لارښوونې هم له دې ډلې دي.[40] تر دې وړاندي پر قرآن د غور کولو د اساساتو په بيانولو مو د ميزان او فرقان تر عنوان لاندي د قرآن او حديث د خپل منځي تړاو په بحث کي په دلايلو څرګنده کړه چې په قرآن کي د لا اجد فيما اوحی الی[41] او انما حرم عليكم[42] تر تحديد وروسته دا د هغه فطرت بيان دی چې له مخې يې انسان تل پوهېږي چې نه زمری، ګيدړ او فيل د خوراک شيان دي او نه اس او خر د دسترخوان د ښکلا لپاره پيدا شوي دي. همدا رنګه په روایاتو کي ځيني نور شيان هم بيان شوي دي په کار ده هغه هم په دې ضمن کي وشمېرل شي او بايد له سنتو جلا په همدې حيثيت انساني فطرت کي شامل شي.

شپږم اصل

شپږم اصل دادی چې رسول الله ﷺ خلګو ته د لارښوونې په توګه کوم شيان ور ښودلي هغه هم سنت نه شي کېدای، مګر دا چې د لارښوونې نوعيت يې په يقيني ډول واضحه کړي چې د سنتو په توګه پلي کول د رسول الله ﷺ هدف وو. يو مثال يې د لمانځه په ناسته کي اذکار دي، له روایاتو ښکاري چې رسول الله ﷺ خلګو ته تشهد او درود هم ور ښودلي او پر دې مهال کېدونکې دعاوې يې هم ورزده کړې دي، مګر همدا روایات څرګندوي چې په دې کي هيڅ شی يې هم نه په خپله د دې ځای لپاره تاکلی او نه يې تر ور ښودلو

---

[40] بخاري، شمېره: ۴۲۱۶، مسلم شمېره: ۱۳۴۳۳ او ۴۹۹۴

[41] الأنعام ۶ : ۱۴۵

[42] البقرة ۲ : ۱۷۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وروسته پر خلګو د هغو ويل لازمي کړي دي. دا د ده خوښ اذکار دي او تر دې د بل غوره شي تصور نه شي کېدای. په دې معامله کي د ده تګلاره په ښکاره وايي چي ده نه غوښتل خلګ په يوه شي مکلف کړي بلکي غوښتل يې هغوی ته اختيار ورکړي چي ورښودل شوې دعاوې هم کولای شي او پرځای يې د دعاوو مناجات لپاره بله طريقه هم خپلولای شي، له همدې کبله سنت يوازي داده چي د هر لمانځه په دويم او اخيري رکعت کي لمونځ کوونکی د ناستې لپاره پر دوو ځنګنو کښېني، له دې پرته پر دې مهال هيڅ شی هم د سنت په توګه نه دی تاکل شوی.

اووم اصل

اووم اصل دادی چي د قرآن کريم په څېر سنت هم په خبر واحد سره نه ثابتېږي، سنت په دين کي مستقل حيثيت لري رسول الله يې په پوره پاملرنه، پوره ساتنه او بشپړ قاطعيت سره خلګو ته په رسولو مکلف وو. د احادو خبرونو په څېر يې هغه د خلګو خوښې ته نه پرېښودل چي که وغواړي نورو ته دي ورسوي او که نه غواړي خوشي دي کړي. له همدې کبله د قرآن په څېر د سنت ماخذ هم د امت اجماع ده. لکه څرنګه چي قرآن د صحابه وو په اجماع او قولي تواتر امت ته رسول شوی همدارنګه سنت هم د دوی په اجماع او عملي تواتر ور رسول شوی دی، له دې په کمه وسېله د رسول الله ﷺ اسوه حسنه او د پوهوني و بيان روايت له شک پرته منل کېدای شي، مګر قرآن او سنت په هيڅ ډول نه شي ثابتولای.

دا د سنتو د تعين اووه لارښوونکي اصول دي، همدې ته په پام که د دين پر هغه طريقه تدبر وشي چي له رسول الله ﷺ څخه پر قرآن سربېره دې امت ته نقل شوې نو سنت هم د قرآن په څېر په بشپړ قطعيت سره معين ګرزي.

پر احاديثو د غور کولو اساسات

د رسول الله ﷺ د قول، فعل او تقرير يا تائيد روايتونه چي تر ډېره د احادو خبرونو په طريقه نقل شوي او په اصطلاح کي حديث بلل کېږي د هغو په اړه خو بالکل واضحه ده چي په دې سره په دين کي کومه عقيده او عمل نه شي زياتېدای، موږ د دې مضمون په سريزه کي په پوره صراحت سره بيان کړی چي احاديث په دين کي د نوي حکم ماخذ نه شي کېدای، مګر له دې سره دا هم حقيقت دی چي د رسول الله ﷺ د سېرت، سوانحو، د هغه د اسوه حسنه او د دين په اړه د ده د پوهونې او بيان پېژندنې تر ټولو لويه او مهمه وسېله احاديث

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دي. له همدې کبله يې دا اهميت داسي منل شوی چي د دين هيڅ زده کوونکی له هغو په هيڅ ډول بې پروا کېدای نه شي. د احاديثو همدا اهميت دی چي هغه ته په پام تر قرآن و سنت وروسته پر هغو دغور اصول هم اړين دي چي دلته بيان شي.

لومړی هغو اصولو ته پام وکړئ چي بايد د احاديثو په رد او قبول کي ورته توجو وشي.

د حديث سند

رسول الله ﷺ ته منسوب کوم شی چي د څه شي په وسيله د حديث درجې ته رسېږي هغه سند دی، د راويانو عدالت، د هغوی ضبط او د روايت د سلسلې اتصال همدا درې شيان دي چي بايد د رجال پوهنې د امامانو د هغو موادو په رڼا کي چي دوی په دې باب کي په پوره خواری را ټول کړي د سند علتونو ته له پوره پاملرنې سره په دقيق نظر وکتل شي.[۴۳] د سند د تحقيق لپاره دا معيار محدثينو را منځ ته کړی او داسي يقيني دی چي هيڅ کمبوت او زيادت پکي نه شي کېدای.

ځرنګه چي رسول الله ﷺ ته د يوې شکمنې خبرې نسبت په دنيا او اخرت دواړو کي د ډېرو خطرناکو نتيجو سبب کېدای شي له همدې امله ضروري ده چي دا معيار د ده په اړه پر هر روايت له څه رعايت پرته او په ډېره بې پرې طريقه عملي شي. صرف هغه روايات د پاملرنې وړ وبلل شي چي له دې مخې په تول پوره خېژي، له دې پرته هيڅ شي ته که څه هم د احاديثو په مرکزي کتابونو بخاري، مسلم او موطا کي راغلی وي رسول الله ﷺ ته په منسوبېدو هيڅ اهميت ورنه کړل شي.

د حديث متن

د سند تر تحقيق وروسته دويم شی د حديث متن دی، د راويانو د ژوند ليک، کردار او د هغوی د سوانحو و حالاتو په اړه د معلوماتو تر لاسه کولو لپاره لويو حديث پوهانو که څه هم هيڅ ډول سستي نه ده کړې او خپل عمرونه يې په دې کار کي لګولي مګر د هر

---

[۴۳] مګر د صحابه کرامو عدالت له دې مستثنا دی ځکه چي د هغوی شاهد الله په خپل کتاب کي ورکړې ده. وګورئ! آل عمران ۳: ۱۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

انساني کار په څېر چې په احاديثو کې هم له دې سره - سره کوم فطري خلا پاتې شوې[۴۴] نو دې ته په پام يې بايد په متن کې هم دې دوو شيانو ته حتما پاملرنه وشي.

اول دا چې د قرآن او سنت هيڅ مخالف شی پکې نه وي.

دويم دا چې د علم او عقل د مسلماتو خلاف نه وي.

تر دې وړاندې مو د قرآن په اړه څرګنده کړه چې په دين کې د ميزان او فرقان حيثيت لري، هغه پر هر څه څارونکی دی او د حق و باطل تر منځ د امتياز لپاره د فيصلې کوونکي په توګه نازل شوی دی. له همدې وجې دا خبره د نور استدلال غوښتنه نه کوي چې که کوم شی د قرآن خلاف وي هغه بايد حتما رد شي.

همدا معامله د سنتو ده، په دې وسيله چې د دين هر هدايت نقل شوی د هغه په اړه له وړاندې دا خبره په پوره قطعيت سره توضيح شوې چې رسول الله ﷺ د قرآن په څېر له پوره پاملرنې سره پلی کړی دی. د ثبوت له مخې د هغه او قرآن تر منځ هيڅ توپير نه شته، لکه څرنګه چې قرآن د امت په اجماع ثابت دی سنت هم د غه ډول د امت له اجماع څخه اخيستل کېږي. څرنګه چې د سنتو په اړه دا حقايق بېخي يقيني دي، له همدې امله که خبر واحد د سنت خلاف وي او د دواړو تر منځ هيڅ تطبيق نه شي کېدای نو حتما به رد ېږي.

د علم او عقل مسلمات هم په دې باب کې د غسي حيثيت لري، په دې هکله قرآن بالکل څرګند دی چې د هغه دعوت ټول پر همدې مسلماتو بنا دی، د توحيد او اخرت په څېر بنسټيزو بحثونو کې يې هم استدلال اصلا پر دې شيانو بنا دی او د هغو غوښتنې و اهداف په خپلو لاربنوونو د خلګو په وړاندې بيانوي. د قرآن هر زده کوونکی په دې خبر دی چې هغه يې د خپل دعوت لپاره د فيصلې کوونکي په توګه وړاندې کوي، د مشرکينو مخ ته يې هم د فيصلې کوونکي په توګه وړاندې کړی او د يهودو و نصارا وو مخ ته هم. د هغو مخالفين يې د نفسي خواهشاتو پيروان بللي، وجداني حقايق، د تاريخ صداقتونه او د تجربې و مشاهدې نتايج ټول په قرآن کې د همدې حيثيت له مخې تر بحث لاندې راغلي. له همدې کبله هغه شيان چې په خپله قرآن د حق او باطل تر منځ د امتياز معيار ټاکلي نو د هغو پر خلاف څرنګه يو خبر واحد د منلو وړ کېدای شي؟. ښکاره ده چې موږ به يې په هر

---

[۴۴] د دې موضوع د تفصيل لپاره وګورئ د استاذ امام امين احسن اصلاحي ليکنه: مبادی تدبر حديث

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حال کي ردوو، په دې اړه د لويو حديث پوهانو نظر هم همدا دی. الكفاية في علم الرواية د دې فن مرکزي کتاب دی، د دې ليکوال خطيب بغدادي ليکي:

و لا يقبل خبر الواحد في منافات حكم العقل و حكم القرآن الثابت المحكم و السنة المعلومة و الفعل الجاری مجری السنة و كل دليل مقطوع به. (مخ: ۴۳۲)

"خبر واحد په هغه صورت کي نه منل کېږي چې عقل يې پر خلاف پرېکړه کړې وي، د قرآن د ثابت او محکم حکم خلاف وي، د معلوم سنت او يا داسي يوه عمل خلاف وي چې د سنت په خبر پرې عمل کېږي او يا له يوه قطعي دليل سره ټکار ولري."

تر دې وروسته اوس د حديث پوهنې اساساتو ته پام وکړئ.

د عربيت ذوق

لومړی شی دا دی چې د قرآن په خبر د احاديثو ژبه هم کره عربي ده، په دې کي شک نه شته چې احاديث تر ډېره په معنا روايت شوي مګر له دې سره -سره پکي د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ ژبه تر دې حده خوندي شوې چې يو د ذوق خاوند يې تر ډېره له نورو شيانو جلا پېژندلای شي.

د قرآن په خبر دا ژبه هم خپل خاص معيارلري چې تر ځان د تېټې درجې د يو شي پيوند نه شي زغملای، له همدې کبله اړينه ده چې د احاديثو زده کوونکي په بيا -بيا مطالعه په ځان کي د دې ژبې داسي مهارت پيدا کړي چې صرف د ژبې پر بنسټ نه د الشيخ و الشيخة [۴۵] په خبر شيانو په رد کي شکمن وي او نه د البکر بالبکر [۴۶] په خبر د مشکلو اسلوبو په درک کي مشکل احساس کړي. د لغوي او نحوي ستونزو د حل لپاره هم دا مهارت اړين دی. د دې فنونو ماهرينو چې په دې اړه څه ليکلي انسان بايد پرې عالمانه نظر ولري. د ژبې په نزاکتونو او د عربيت په اسلوبو له خبرتيا پرته هيڅوک هم د احاديثو مشکلات نه شي حل کولای.

---

[۴۵] الموطا، شمېره: ۲۵۶۸، ابن ماجه، شمېره: ۲۵۵۳

[۴۶] مسلم، شمېره: ۴۴۱۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن رښا

دويم شی دا دی چې احاديث دي د قرآن په رښا کې درک شي، په دين کې چې قرآن کوم مقام لري وړاندي مو بيان کړ. رسول الله ﷺ چې د خپل نبوت او رسالت په توګه څه کړي، د هغو د تاريخ حتمي او باوري ماخذ هم صرف قرآن دی. له همدې کبله د احاديثو ډېری مضامين ورسره هغه تړاو لري چې د يو شي فرع يې له خپل اصل او شرح يې له متن سره لري. د اصل او متن له کتلو پرته د شرحې او فرعې درک څرګنده ده چې ممکنه نه ده، تر اوسه چې د احاديثو په فهم کې کومې تېروتنې شوې دي که په دقيق نظر مطالعه شي نو دا حقيقت په بشپړ ډول څرګندېږي. د رسول الله ﷺ په وخت کې د رجم پېښې، د کعب بن اشرف وژنه، د عذاب قبر او شفاعت روايات، امرت ان اقاتل الناس[47] او د من بدل دينه فاقتلوه[48] په څېر احکام ځکه د ستونزو سبب شوي چې په قرآن کې يې له اصل سره يو ځای د فهم کوشش نه دی شوی، که د احاديثو په فهم کې دې اصولو ته پام وشي نو ډېری ستونزې به يې له منځه ولاړې شي.

موکه او محل

درېيم شی دا دی چې په احاديثو کې کوم مضمون بيان شوی د موکې او محل په درک کې يې مطلب معلوم شي، خبره څه وخت شوې؟ په کوم لړ کې وشوه او چا ته وشوه؟. که دې ټولو شيانو ته پام ونه شي نو ډېری وخت يوه بالکل واضحه خبره هم نه حلېدونکې معما ګرزي. د حديثو په فهم کې د دې اصل اهميت ډېر مهم دی. الائمة من القريش[49] مشهور روايت دی، د دې روايت له ظاهري الفاظو زمورږ علماء په دې غلط فهمي اخته شوي چې د مسلمانانو مشران به صرف قريش وي، په داسي حال کې که دا خبره ومنل شي نو د اسلام او برهمنيت تر منځ لږ تر لږه د سياسي نظام په کچه هيڅ فرق نه پاتي کېږي. د دې تېروتنې وجه صرف دا وه چې کومه خبره د رسول الله ﷺ تر مړينې وروسته د سمدستي سياسي حالت له مخې شوې وه هغه د دين مستقل حکم وګڼل شو، د احاديثو په ذخيره کې

---

[47] ژباړه: ما ته امر شوی چې له خلګو سره جګړه وکړم. بخاري، شمېره: ۲۵، مسلم شمېره: ۱۲۹

[48] ژباړه: که چا خپل دين بدل کړ نو ويې وژنئ. بخاري، شمېره: ۳۰۱۷

[49] امامان به له قريشو وي. احمد، شمېره: ۱۱۸۹۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا ډول ګڼ روايات شته او موضوعات يې هم ډېر مهم دي خو په مطلب يې د پوهېدو لپاره د دې اصل رعايت ډېر اړين دی.

د باب احاديثو ته کتنه

څلورم شی دا دی چې د يو حديث د مطلب معلومولو پر مهال بايد د هغه باب ټولو روايتو ته پام وشي، ډېر ځله داسي شوي دي چې انسان د حديث يو مفهوم درک کوي خو که د هغه باب ټول روايات مطالعه شي نو هغه مفهوم بېخي په جلا ډول څرګندېږي. يو مثال يې د تصويرو يا انځور په اړه روايات دي، که په هغو کې ځينو ته وګورئ نو ظاهرا ترې ښکاري چې هر ډول عکسونه ممنوع بلل شوي خو که ټول روايات را غونډ کړئ نو دا خبره بېخي واضحه کېږي چې د منعې حکم يوازي د هغو عکسونو يا انځورونو په اړه دی چې د لمانځنې لپاره جوړ شوي وي. د احاديثو په ذخيره کې دا ډول په لسګونو مثالونه وړاندې کېدای شي، له همدې امله ضروري ده چې که د يوه حديث په مفهوم کې شک وي نو د باب د احاديثو له را غونډولو پرته دې هيڅ حتمي پرېکړه نه کېږي.

عقل او نقل

پنځم شی دا دی چې د احاديثو په درک کې بايد دې خبرې ته پام وشي چې د عقل او نقل تر منځ هيڅکله اختلاف نه شي را منځ ته کېدای، پورته مو دا احاديثو د رد او قبول د اصولو په بيانولو څرګنده کړه چې د دين بنسټ د علم او عقل پر مسلماتو يا منل شويو اصولو بنا دی. له همدې کبله که کوم شی د دې مسلماتو خلاف وليدل شي نو بايد بيا - بيا پرې غور وشي. دا هيڅ علمي طريقه نه ده چې په داسي فرضونو کې انسان سمدستي د حديث په ردولو ځان خلاص کړي، يا له علم او عقل څخه سترګې پټې کړې کومه ناسمه او مرجوحه معنا يې ومني. تجربه ښيي چې کله روايت له سمه اړخه مطالعه شوی نو ډېر ځله هيڅ اختلاف نه دی پاتې شوی او خبره له هره پلوه توضيح شوې ده. څرګنده ده دا شی هغه وخت تر لاسه کېږي چې په پوره يقين سره ومنل شي، د عقل او نقل تر منځ هيڅ اختلاف نه شي راتلای. په مخکينيو او وروستنيو کې چې کومو محققينو دې ته پام کړی د هغوی په څېړنو کې يې نتايج ځای پر ځای ليدلای شئ. د احاديثو په فهم کې دا شی هيڅکله هم بايد له پامه ونه غورزول شي.

اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه – و ارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مقدمه
۲

حق دین

که د دین حقیقت په یوه لفظ کې بیان شي نو د قرآن په اصطلاح د الله عبادت دی، د نړۍ رب چې اصلا په دې دنیا کې له خپلو بندګانو څه غواړي هغه همدا شی دی. الهي وینا ده:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ (الذاریات ۵۱: ۵۶) "او ما پېریانان و انسانان یوازې د دې لپاره پیدا کړي چې زما عبادت وکړي."

په قرآن کې ځای پر ځای له پوره وضاحت سره ویل شوي چې د کایناتو رب انسان ته خپل رسولان د همدې خبرو رکولو لپاره را لېږلي ول.

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ (النحل ۱۶: ۳۶) "او موږ هر امت ته یو رسول له دې دعوت سره ور لېږلی وو چې د الله عبادت وکړئ او له طاغوته ځان وساتئ."

د دې عبادت معنا څه ده؟، که غور وکړئ نو د سورت النحل له همدې ایت څخه معلومېږي، دلته د الله د عبادت په مقابل کې له طاغوته د ځان ساتنې لارښوونه شوې ده. په قرآن کې الطاغوت او الشیطان بالکل په یوه معنا استعمال شوي دي، یعني څوک چې د الله په وړاندې سرکښي، بغاوت او لویي غوره کړي ښکاره ده چې ضد یې عاجزي او خاکساري ده. د لغت امامان یې په عمومي ډول معنا داسي بیانوي: اصل العبودیة الخضوع

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

و التذلل. عبادت په اصل کې عاجزي او خاکساري ده، که دا شی د الله د رحمت، قدرت، ربوبیت او حکمت له سم شعور سره پیدا شي نو له ډېري مینې او بې کچې وېري سره د هغه په وړاندې تر وروستي حده د سرتېټولو بڼه غوره کوي. خشوع، خضوع، اخبات، انابت، خشیت، تضرع، قنوت او نور دا ټول الفاظ په قرآن کې له همدې حقیقته د تعبیر لپاره استعمال شوي دي. دا په اصل کې یو داخلي کیفیت دی چې په انسان کې دننه پیدا کېږي او د ده وجود احاطه کوي. ذکر، شکر، تقوا، اخلاص، توکل، تفویض، تسلیم او رضا دا ټول د عبد او معبود تر منځ د همدې تعلق باطني نښې دي. د دې معنا داده چې بنده په دې تعلق کې د خپل رب په یاد ډاډ تر لاسه کوي، د هغه د پېرزوینې له وجې په ځان کې د شکر د احساساتو یو بې پناه توپان پر خوټېدو وینې، د هغه له خپګانه وېرېږي، په هر څه کې د ده وي، پر ده په باور ژوند کوي، خپله هره چاره ور سپاري، ټول ځان یې ده ته سپارلی وي او د ده په هره پرېکړه راضي وي. د انسان په ظاهري وجود کې چې دا تعلق په کومو بڼو ظاهرېږي په اړه یې قرآن ویلي:

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ * تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ*

(السجدة ۳۲: ۱۵، ۱۶)

"بې شکه زمونږ پر ایاتونو هماغه ایمان راوړي چې کله یې په وسیله دوی ته یادونه کېږي نو پر سجده پرېږي، د خپل رب له حمد سره د هغه تسبیحات وایي او تکبر نه کوي. د دوی اړخونه له بسترو بېلېږي، خپل رب له وېري او تمې سره را بولي او څه چې مو دوی ته ورکړي له هغو (د ده په لار کې) لګښت کوي."

همدا رکوع، سجده، تسبیح، حمد، دعا او مناجات او د الهي رضا تر لاسه کولو لپاره د ځان او مال قرباني اصل عبادت دی، مګر څرنګه چې انسان په دې دنیا کې خپل عملي وجود هم لري له همدې کبله له خپل دې ظهور څخه په وړاندې تلو دا عبادات د انسان له هغه عملي وجود سره تړاو پیدا کوي او په دې توګه له لمانځنې سره اطاعت هم یو ځای کېږي. په دې وخت کې له انسانه غواړي چې د ده باطن د کوم ذات په وړاندې تسلیم شوی ظاهر یې هم د هغه په وړاندې سر تېټ کړي، ده چې په باطني ډول ځان چا ته سپارلی د ده

[1] لسان العرب ۹/ ۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په خارج کي هم د هغه امر جاري وي، ان تر دې چې د ده د ژوند هیڅ اړخ ترې مستثنا پاتې نه شي. په نورو ټکو داسې وویاست چې له هره پلوه د خپل رب بنده شي، الله ویلي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (الحج ۲۲: ۷۷)

"اې مومنانو! رکوع او سجده کوئ او د خپل رب بندګان شئ او د خیر کارونه کوئ، څو نجات ومومئ."

د الله او بنده تر منځ د عبد او معبود د دې تړاو لپاره چې کله عبادت ما بعد الطبعیاتي او اخلاقي اساسات ټاکي، مراسم معلوموي او په دنیا کي د دې تړاو د غوښتنو پوره کولو لپاره حدود او قیود را منځ ته کوي نو د قرآن په ژبه ور څخه په دین تعبیر کېږي. الله چې د خپلو رسولانو په وسیله انسانانو ته د دې کومه بڼه تشریح کړې قرآن یې دین الحق بولي او په اړه یې هغوی ته لارښوونه کوي چې په بالکل سم شکل او خپل ټول ژوند کي یې پر ځای وساتي او هیڅ تفرقې پکې پیدا نه کړي. په سورة الشوری کي دي:

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ (الشوری ۴۲: ۱۳)

"ده ستاسو لپاره هماغه دین ټاکلی چې د هغه حکم یې نوح ته کړی وو او اوس موږ یې تا ته وحي کړې او موږ یې ابراهیم، موسی او عیسی ته هدایت کړی وو، له دې ټینګار سره چې (په خپل ژوند کي) دا دین قایم کړئ[۲] او تفرقه پکي مه پیدا کوئ."

د همدې عبادت لپاره چې د الله په دې دین کي کوم ما بعد الطبعیاتي او اخلاقي اساسات بیان شوي له هغو څخه قرآن په الحکمت او له مراسمو، حدودو او قیودو څخه یې په الکتاب تعبیر کوي.

وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا (النساء ۴: ۱۱۳)

"او الله پر تا الکتاب او الحکمت نازل کړل او په دې ډول یې تا ته هغه شیان درو ښودل چې ته پرې خبر نه وې او پر تا د الله لوی فضل دی."

---

[۲] یعني په هر حال کي پرې ټینګ پاتې شئ، همدا د دین د اقامت صحیح مفهوم دی. د تفصیل لپاره زموږ د کتاب برهان «تاویل کی غلطی» مضمون وګورئ!

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَاذْكُرُواْ نِعْمَتَ اللّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (البقرة ۲: ۲۳۱)

"پر تاسو د الله مهرباني دريادہ کړئ او هغه کتاب او حکمت دريادکړئ چې پر تاسو يې نازل کړی، د هغه نصيحت درته کوي او له الله ووپرېږئ او پوه شئ چې الله په هر شي پوهېدونکی دی."

دې الکتاب ته شريعت هم وايي:

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِّنَ الأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ (الجاثية ۴۵: ۱۸)

"بيا مو ته د دين په معامله کې پرېږو واضح شريعت قايم کړی يې ځکه يې نو ته پيروي وکړه او د هغو په خواهشاتو مه پسې کېږه چې علم نه لري."

الحکمت تل يو پاتي شوی دی، مګر شريعت د انساني تمدن د ارتقا او بدلون له کبله ډېر ځله بدل شوی را بدل شوی، الهي وينا ده:

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاء اللّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً (المائدة ۵: ۴۸)

"په تاسو کې مو د هر يوه لپاره يو شريعت او منهاج ټاکلی او که الله غوښتلای نو ټول به يې يو امت کړزولي وای."

د اسماني کتابونو له مطالعې ښکاري چې په تورات کې تر ډېره شريعت او انجيل کې حکمت بيان شوی دی، زبور د همدې حکمت په سريزه کې د کاينات د الله د لويوالي نغمې دي او قرآن د دې دواړو لپاره د يوې هراړخيزې ادبي ټوټې او انذار و بشارت د صحيفې په توګه نازل شوی دی. پورته چې د بقرې او نساء کوم ايات ونه نقل شوي دي په هغو کې د قرآن په اړه دا حقيقت په ډېرو ښکاره ټکو بيان شوی دی. د تورات او انجيل په اړه الله له عيسی عليه السلام سره په قيامت کې د خپلې يوې مکالمې په نقلولو ويلي دي:

وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ (المائدة ۵: ۱۱۰)

"او کله چې مي تا ته د شريعت او حکمت يعني تورات او انجيل تعليم درکړ."

د الحکمت تعبير چې د کومو بحثونو لپاره غوره شوی هغه په بنسټيز ډول دوه دي:

- ايمانيات

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

- اخلاقیات

تر الکتاب لاندي چي کوم بحثونه راغلي هغه دادي:

۱) د عباداتو قانون. ۲) ټولنیز قانون. ۳) سیاسي قانون. ۴) مالي قانون. ۵) د دعوت قانون. ۶) د جهاد قانون. ۷) حدود او تعزیرات. ۸) خوراک او څښاک. ۹) دودونه او اداب. ۱۰) قسم او د هغه کفاره.

همدا پوره دین دی، د الله کوم استازی چي له دې دین سره راشي هغه ته نبي ویل کېږي، له قرآنه ښکاري چي په دوی کي ځینو یې له نبوت سره د رسالت درلودونکي هم ول.

نبوت دادی چي په انسانانو کي یو څوک له اسمانه د وحې په تر لاسه کولو خلګو ته حق بیان کړي، منونکو ته یې په اخرت کي د ښه برخلیک خبر ورکړي او نه منونکي یې په بد انجام وپوهوي. قرآن له دې څخه په انذار او بشارت تعبیر کوي:

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ (البقرة۲: ۲۱۳)

"خلک یو امت ول (دوی اختلاف وکړ) نو الله د بشارت او انذار لپاره نبیان ور ولېږل."

رسالت دادی چي د نبوت درلودونکی یو شخص د خپل قوم لپاره د یو داسي الهي عدالت په توګه راشي چي که یې د هغه قوم دروغجن وګڼي نو په اړه به یې الهي پرېکړه په همدې دنیا کي پرې نافذ ېږي او عملا به د حق غلبه را منځ ته کوي:

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (یونس ۱۰: ۴۷)

"او د هر قوم لپاره یو رسول شته نو کله چي یې رسول راشي د دوی تر منځ به په حساب سره پرېکړه کېږي او پر دوی به هیڅ ظلم ونه شي."

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ * كَتَبَ اللَّهُ لأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ* (المجادلة ۵۸: ۲۰، ۲۱)

"بې شکه کوم کسان چي له الله او د هغه له رسول سره مخالفت کوي هغوئ به خوار شي، الله لیکلي چي زه او زما رسولان به غالب ېږي، بې شکه الله قوي او پر پیاوړی دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رسالت همدا قانون دی چې له مخې یې قرآن په ځانګړې ډول د رسول الله ﷺ په اړه ویلي:

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (الصف ۶۱: ۹)

"دی هغه دی چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره را لېږلی چې دی یې (د عربو د ټولې ځمکې) پر تمامو دینونو غالب کړي، که څه هم دا خبره (د عربو) پر دې مشرکینو سخته وي."

د دې شکل داسې وي چې الله دا رسولان د خپلې فیصلې د ظهور لپاره غوره کوي او بیا تر قیامت وړاندې د دوی په وسیله په همدې دنیا کې یو کوچنی قیامت راولي، دوی ته ویل کېږي چې که له الله سره پر خپله وعده ټینګ پاتې شي نو جزا به یې ورکړي او که سرغړونه وکړي په همدې دنیا کې به یې سزا وویني. د دې نتیجه دا وي چې د دوی وجود د خلکو لپاره یوه الهي نښه ګرزي او ګواکې الله له دوی سره پر ځمکه تګ-راتګ کوي او د عدالت په کولو ټار کوي. له دې سره هغوی ته حکم کېږي چې دوی په خپلو سترګو د حق کومې نښې لیدلې د هغو پر بنسټ تبلیغ وکړي او د الله هدایت له زیاتونې او کمونې پرته په پوره باور خلکو ته ورسوي. د قرآن له تعبیر سره سم دا شهادت دی، دا چې کله پوره شي نو په دنیا او اخرت دواړو کې د الهي پرېکړې بنسټ جوړوي، له همدې وجې الله دې رسولانو ته غلبه ورکوي او د هغوئ د دعوت پر منکرینو خپل عذاب نازلوي، رسول الله ﷺ په قرآن کې له همدې وجې شاهد او شهید بلل شوی دی. الهي وینا ده:

إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولاً شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً (مزمل ۷۳: ۱۵)

"(اې د مکې قریشو) تاسو ته مو همدا سې یو رسول در لېږلی چې پر تاسو شاهد دی لکه فرعون ته چې مو یو رسول ور لېږلی وو."

د شهادت دا دنده پر رسولانو سربېره د ابراهیم علیه السلام اولاد ې ته هم ورکړل شوه، قرآن له همدې کبله هغوئ د الله د رسول او د هغه د بندګانو تر منځ یوه منځنۍ (امت وسط)[۳] ډله ګرزولې او ویلي یې دي چې د دې دنده لپاره هغوی داسې غوره شوي لکه له انسانانو څخه چې الله ځینې لوړ شخصیتونه د نبوت او رسالت لپاره غوره کوي، الهي وینا ده:

[۳] البقرة ۲: ۱۴۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ (الحج ۲۲: ۷۸)

"او د الله په لار کې داسې جهاد وکړئ لکه څرنګه چې يې حق دی، هغه تاسو (د دې مسئولیت لپاره) غوره کړي یاست او په دین کې يې پر تاسو هیڅ تنګي نه ده راوستې، ستاسو د پلار ابراهیم طریقه يې درته خوښه کړې، ده پر تاسو د مسلمان نوم اینبی وو تر دې وړاندې هم (او د دې اخیري بعثت په دور) کې هم، د دې لپاره يې (غوره کړي یاست) چې رسول پر تاسو شاهدي ورکړي او د نړۍ پر پاتې خلګو تاسو (د دې دین) شاهدان شئ."

الله په عمومي ډول پر انبیاوو او رسولانو خپل کتابونه هم نازل کړي، قرآن يې د نزول مقصد دا بیان کړی چې د حق او باطل لپاره میزان شي او په وسیله يې خلګ د خپلو اختلافاتو پربکړه وکړای شي. د حق په معامله کې انصاف را منځ ته کړي. الهي وینا ده:

وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ (البقرة ۲: ۲۱۳)

"او له دوی (نبیانو) سره يې خپل کتاب نازل کړ، څو د خلګو تر منځ په هغو شیانو کې فیصله وکړي چې دوی پکې اختلاف کړی."

وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ (الحدید ۵۷: ۲۵)

"او له دې (رسولانو) سره مو خپل کتاب یعني (د حق او باطل لپاره) میزان نازل کړ څو يې (په وسیله) خلګ (د حق په معامله کې) پر انصاف ودرېږي."

د نبوت او رسالت دا لړۍ له آدم علیه السلام څخه پیل او پر محمد رسول الله ﷺ پای ته ورسېده، له دنیا څخه د هغه تر تلو وروسته د وحي او الهام دروازه د تل لپاره تړل شوې او نبوت ختم شوی دی.[۴] له همدې امله پر دین د خلګو د پاتېدو لپاره به نور د انذار مسئولیت تر قیامته د دې امت علماء ترسره کوي، د علماوو دا مسئولیت په سورت التوبة کې داسې بیان شوی دی:

[۴] الأحزاب ۳۳: ۴۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ (التوبة ۹: ۱۲۲)

"او د ټولو مومنانو لپاره خو ممکنه نه وه (د دې کار لپاره) وتلي وای، مګر ولي داسي ونه شول چې له هرې ډلې یو څه کسان وتلي وای څو یې په دین کې پوهه ترلاسه کړې وای او د خپل قوم خلګ یې وپرولي وای کله چې (د علم ترزده کړې وروسته) هغوی ته ورتلای، څو یې ځان ساتلی وای."

د دې انذار لپاره د الله هدایت دادی چې د قرآن په وسیله ترسره شي: د فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ[۵] او وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا[۶] په الفاظو قرآن د همدې امر کړی، رسول الله ﷺ پر همدې بنسټ د ټولې دنیا لپاره نذیر دی او علماء په حقیقت کې خلګو ته د ده انذار رسوي. تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا[۷] همدا رنګه یې ویلي:

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ (الأنعام ۶: ۱۹)

"او ما ته دا قرآن وحي شوی چې په وسیله یې تاسي ووپروم او هغه هم چې ور ورسیږي."

د دې دین نوم اسلام دی او په اړه یې الله په خپل کتاب کې ویلي چې له انسان څخه به له دې دین پرته هیڅکله بل دین ونه مني.

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللّهِ الإِسْلاَمُ ... وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ (آل عمران ۳: ۱۹، ۸۵)

"د الله په نزد دین صرف اسلام دی ... او چا چې له اسلام پرته بل دین وغوښت نو هیڅکله به ترې ونه منل شي او په اخرت کې به له تاوانیانو وي."

د اسلام لفظ لکه څرنګه چې د ټول دین لپاره استعمالیږي همدا رنګه ځینې وختونه د دین له ظاهره هم په دې لفظ تعبیر کیږي. د خپل ظاهر له مخې له دې پرته څیانو څخه

---

[۵] د دې قرآن په وسیله هغه کسان ووپروه چې زما له وعیده وپرېږي. (ق ۵۰: ۴۵)

[۶] د دې په وسیله ورسره په پوره زور جهاد وکړه. (الفرقان ۲۵: ۵۲)

[۷] هغه ذات ډېر برکتمن دی چې پر خپل بنده یې دا فرقان نازل کړ چې د ټولې نړۍ لپاره نذیر شي. (الفرقان ۲۵: ۱)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عبارت دی:

۱) د دې خبرې شاهدي چې له الله پرته هیڅ معبود نه شته او محمد ﷺ د الله رسول دی.

۲) د لمانځه کول.

۳) د زکات ورکول.

۴) د رمضان روژه نیول.

۵) د بیت الله حج کول.

قرآن کریم ځای پر ځای پر دې شیانو ټینګار کړی، د رسول الله ﷺ په یو حدیث کې یو ځای داسې ویل شوي:

الاسلام ان تشهد ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول الله و تقیم الصلاة و تؤتی الزکـاة و تصوم رمضان و تحج البیت.

(مسلم، شمېره: ۹۳)

"اسلام دادی چې شاهدي ورکړې له الله پرته بل معبود نه شته او محمد ﷺ د هغه رسول دی، لمونځ وکړې، زکات ورکړې، د رمضان روژې ونیسې او د بیت الله حج وکړې."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

د دین باطن ایمان دی، په قرآن کې چې یې کوم تفصیل بیان شوی د هغه له مخې دا هم له پنځو شیانو جوړ دی:

۱) پر الله ایمان

۲) پر ملایکو ایمان

۳) پر نبیانو ایمان

۴) پر کتابونو ایمان

۵) د جزا پر ورځ ایمان

په سورت البقرة کې دي:

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ

"رسول پر هغه څه ایمان راوړی چې د ده د رب له لورې پر ده نازل شوی او د ده منونکو هم،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (البقرة ۲: ۲۸۵)

دوی ټولو پر الله، د هغه پر ملایکو، د ده پر کتابونو او د ده پر رسولانو ایمان راوړی، دوی اقرار کوي چې موږ د دې رسولانو تر منځ هیڅ توپیر نه کوو، موږ واورېده او ومو منله، اې ربه! موږ ستا بخښنه غواړو او (پر دې ایمان لرو چې په قیامت کې به موږ ټول) تا ته در ګرزو."

رسول الله ﷺ پر الله د ایمان یوه فرع، د خیر او شر تقدیر پکې شامل کړی او داسې یې ویلي دي:

الایمان ان تؤمن بالله و ملائکته و کتبه و رسله و الیوم الاخر و تؤمن بالقدر خیره و شره.

(مسلم، شمېره: ۹۳)

"ایمان دادی چې ته الله ومنې، د هغه ملایکې، د هغه کتابونه او د هغه رسولان ومنې، د اخرت ورځ ومنې او د خپل رب له لوري د خیر او شر پر تقدیر باور وکړې."

دا ایمان چې کله د خپل حقیقت له مخې زړه ته کښته شي او له هغه خپل تصدیق تر لاسه کړي نو له خپله وجوده دوه شیان غواړي:

یو نېک عمل، دویم تواصي بالحق او تواصي بالصبر. الله ویلي:

وَالْعَصْرِ * إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ* (العصر ۱۰۳)

"زمانه شاهدي ورکوي چې انسان به تاوانې شي، هو! مګر هغه نه چې ایمان یې راوړ، نېک عمل یې وکړ، یو بل ته یې د حق او پر هغه د ټینګېدو نصیحت وکړ."

له نېک عمل څخه مراد هر هغه عمل دی چې د اخلاقو د تزکیې په نتیجه کې پیدا کېږي. د دې ټول اساسات په عقل او فطرت کې ثابت دي او الهي شریعت د همدې عمل پر لورد انساني لارښوونې لپاره نازل شوی دی.

د تواصي بالحق او تواصي بالصبر معنا په خپل چاپېریال کې یوه بل ته د حق او پر حق د ټینګېدو نصیحت دی، همدا د حق بدیهي غوښتنه ده چې قرآن په امر بالمعروف او نهی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عن المنکر هم ور څخه تعبیر کړی دی یعنې هغه څه چې د عقل او فطرت له مخې غوره دي په خپل نژدې چاپیریال کې یې خلکو ته توصیه وشي او څه چې بد دي خلک تر ې را وګرزول شي.

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ (التوبة ۹: ۷۱)

" او مومنان نارینه او مومنې ښځې دیو بل ملګري دي، د نېکیو سپارښتنه کوي او له بدیو منعه."

د ایمان دا تقاضا باید هر مسلمان د نصیحت او خواخوږۍ له مخې پوره کړي، د دین له صحیح روح سره دا مسئولیت له دې احساس پرته په هیڅ حال کې پوره کېدای نه شي. نبوي وینا ده:

الدین النصیحة لله و لکتابه و لرسوله و لائمة المسلمین و عامتهم. (مسلم، شمېره: ۱۹۶)

" دین د الله، د هغه د کتاب، د ده د رسول، مسلمانانو د مشرانو او عامو مسلمانانو لپاره خیر غوښتنه ده. "

په عامو حالاتو کې همدا د ایمان تقاضا ده، مګر انسان چې د هغه د خارج پر بنسټ په دې دنیا کې له کومو حالتونو سره مخ کېدای شي هغو ته په پام پر دې سربېره دې نوري غوښتنې هم ور څخه پیدا کېږي:

- هجرت
- نصرت
- قیام بالقسط

د یو مومن بنده لپاره که په کومه سیمه کې د خپل رب عبادت وبال وګرزي، د دین لپاره وځوروي شي ان تر دې چې د اسلام څرګندول هم ممکن نه وي نو د ده ایمان ور څخه غوښتنه کوي چې د هغه ځای په خوشي کولو یو داسي ځای ته ولاړ شي چې هلته په ښکاره په خپل دین عمل کولای شي. همدې ته قرآن هجرت وایي. د رسالت په زمانه کې چې کله د الله او د هغه د رسول له خوا په مستقیم ډول دې ته بلنه وشوه، نو له هغه سرغړونکو ته یې د جهنم سزا او وروله، په سورة النساء کې دي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَـئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا (النساء ۴: ۹۷)

"د کومو کسانو روحونه به چې ملایکې په داسې حال کې باسي چې پر خپلو ځانو یې ظلم کړی وو له دوی به پوښتنه وشي دا تاسو په څه حال کې یاست؟، دوی به ځواب ورکړي: مونږ په ډېر سیمه کې مجبور او بې وسه وو؟. فرشتې به ورته ووایي: ایا د الله ځمکه پراخه نه وه چې تاسو پکې هجرت کړی وای، د همدې خلکو ځای جهنم دی او هغه ډېر بد ځای دی."

همدارنګه که د دین د پرمختګ او یا ساتنې لپاره کوم ګام اخیستلو ته اړتیا پیښه شي نو د ایمان تقاضا داده چې ځاني او مالي مرسته یې وشي، د قران له تعبیر سره سم دا د کایناتو له رب سره نصرت دی. رسول الله ﷺ چې کله په مدینه کې د واک تر لاسه کولو وروسته دې ته اړتیا پیدا کړه او له خلکو څخه د جهاد و قتال غوښتنه وشوه نو قرآن یو ځای خلکو ته داسې دعوت ورکړ:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ * تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ * يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ (الصف ۶۱: ۱۰-۱۴)

"اې مومنانو! ایا زه تاسو ته هغه سودا در وښیم چې تاسو به له یوه دردناک عذابه وژغوري، تاسو به پر الله او رسول یې ایمان راوړئ او په خپل ځان و مال به د الله په لار کې جهاد کوئ، همدا درته غوره ده که پوهېږئ. (د دې په بدل کې به) الله ستاسو ګناهونه وبخښي او هغو باغونو ته به مو داخل کړي چې ترې لاندې به ویالې بهېږي او غوره کور به درکړي چې په تلپاتو بڼونو کې به وي، همدا لویه بریا ده او (واورئ) هغه څه هم چې تاسو یې هیله لرئ یعنې د الله مرسته او هغه فتح چې ژر به څرګنده شي (اې رسوله) مومنانو ته د دې زېری ورکړه، اې مومنانو! تاسو د الله داسې مرستندویان شئ لکه عیسی بن مریم چې خپلو حواریونو ته وویل: څوک به د الله په لار کې له ما سره مرسته وکړي؟. حواریونو وویل: مونږ د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله مرستندويان يو."

په مخکينيو او وروستنيو کي چي د دين د ساتنې، بقا، تجديد او ژوندي کولو لپاره هر څومره کار هم شوی د ايمان د همدې تقاضا پوره کولو لپاره شوی، د امت په تاريخ کي د ژبې و قلم، تېغ و توري او درهم و دينار په وسيله د دين لپاره د هرې ترسره شوې هڅې ماخذ همدا نصرت دی. د قرآن غوښتنه داده چي که د ايمان دا تقاضا هر وخت پيدا شي نو بايد د مومن بنده لپاره د دې دنيا هيڅ شی تر هغه غوره نه وي، کله چي د رسول الله ﷺ په دعوت کي دا مرحله راغله نو قرآن وويل:

قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (التوبة ۹: ۲۴)

"(اې رسوله) دوی ته ووايه! که ستاسو پلرونه، ستاسي زامن، ستاسي وروڼه، ستاسو مېرمنې، ستاسو کورنۍ، ستاسو هغه مال چي ګټلی مو دی، ستاسو هغه تجارت چي له سړېدو يې وېرېږئ او ستاسو د خوښې کورونه تر الله د هغه تر رسول او د ده په لار کي تر جهاد درباندي ګران وي نو تر هغو انتظار وکړئ چي الله خپله پرېکړه وکړي او (پوه شئ چي) دا ډول بد عهدو ته الله لار نه ښيي."

که د دين او دنيا په يوه معامله کي د انسان احساسات، تعصب، ګټې او غوښتنې د انصاف له لارې د هغه اړول وغواړي نو د همدې ايمان غوښتنه داده چي مومن به نه يوازي پر حق او انصاف درېږي، بلکي که د شاهدي غوښتنه ترې وشي نو د ځان په سرښندنه دي پوره کړي، حق دي ووايي او د حق په وړاندي دي سر ټيټ کړي، انصاف دي وکړي د انصاف شاهدي دي ورکړي او په خپله عقيده و عمل کي دي له حق او انصاف پرته هيڅکله بل شی نه غوره کوي. همدا قيام بالقسط دی او په قرآن کي يې حکم داسي بيان شوی دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاء لِلّهِ وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَاللّهُ أَوْلَى

"اې مومنانو! پر انصاف ټينګ شئ، د الله لپاره د هغه په شاهدي ورکولو که څه هم دا شاهدي ستاسو د ځان، مور و پلار او ستاسو د قريبانو پر خلاف وي، شتمن وي او که غريب

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بِهِمَا فَلاَ تَتَّبِعُواْ الْهَوَى أَن تَعْدِلُواْ وَإِن تَلْوُواْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ اللّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا (النساء ۴: ۱۳۵)

الله د دواړو لپاره ډېر حقدار دی، له همدې وجې (د الهي هدایت په پرېښودو) د خواهشاتو پیروي مه کوئ چې په نتیجه کې به یې له حقه واوړئ او (یاد لرئ چې) که (د حق او انصاف د) خرابولو یا (له هغه) د ځان ګوښه کولو هڅه وکړئ نو تاسو چې څه کوئ الله ښه پرې خبر دی."

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (المائدة ۵: ۸)

"اې مومنانو! پر انصاف ټینګ شئ، د الله لپاره د هغه په شاهدي ورکولو او د یو قوم دښمني دي تاسو دې ته ونه هڅوي چې انصاف ونه کړئ، انصاف کوئ دا تقوا ته ډېر نژدې دی او له الله وېرېږئ بې شکه الله ستاسو په هر عمل خبر دی."

په قرآن کې چې د دې دین کوم هدف بیان شوی هغه د قرآن په اصطلاح تزکیه ده، معنا یې داده چې د انسان انفرادي او اجتماعي ژوند له ناولتیاوو پاک او د ده فکر و عمل پر سم لوري تربیه شي. په قرآن کې ځای پر ځای دا خبره شوې چې د انسان هدف لوړ جنتونه او د راضیة مرضیة پاچاهي ده. د بریا او کامیابۍ تر دې مقامه د رسېدو ضمانت د هغو کسانو لپاره دی چې په دې دنیا کې خپل ځان تزکیه کړي.

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى * بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا * وَالآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى * (الأعلى ۸۷: ۱۴-۱۷)

"هغه څوک بریالی شو چې د خپل ځان تزکیه یې وکړه او د خپل رب نوم یې یاد کړ، بیا یې لمونځ وکړ (نه!) بلکې تاسو د دنیا ژوند ته ترجیح ورکوئ، په داسې حال کې چې (د هغه په مقابل کې) اخرت هم غوره دی او هم دایمي."

له همدې کبله تزکیه په دین کې د هدف او مقصد مقام لري، د الله انبیاء د همدې لپاره راغلل او ټول دین د دې لپاره راغلی چې انسان ته د دې هدف او مقصد تر لاسه کول وروښیي. الهي وینا ده:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ (الجمعة ۶۲: ۲)

"دی هغه ذات دی چې په امیانو کې یې له دوی څخه یو رسول ور ولېږه چې دوی ته د هغه ایاتونه تلاوتوي او د دوی تزکیه کوي او (د دې لپاره) دوی ته د قانون او حکمت تعلیم ورکوي."

په دې دین د عمل لپاره چې باید د هغه منونکي کوم چلند غوره کړي هغه احسان دی، د احسان معنا ده یو کار په ښه طریقه ترسره کول. په دین کې چې کله یو عمل په داسې طریقه ترسره شي چې روح او شکل دواړو ته یې په پوره توازن سره پاملرنه وشي، د پوره والي او کمال د هرې جذبې رعایت یې وشي او په دې وخت کې انسان خپل ځان د الله په حضور کې وګڼي نو همدې ته احسان وایي. الله ویلي:

وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لله وَهُوَ مُحْسِنٌ واتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا (النساء ۴: ۱۲۵)

"او تر هغه چا غوره دین د چا کېدای شي چې خپل ځان یې الله ته وسپاری داسې چې احسان غوره کړي او د ابراهیمي ملت پیروي وکړي چې بېخي ګوښه وو."

رسول الله ﷺ یې په خپلو بلیغو اسلوبو داسې وضاحت کړی دی:

الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک. (مسلم، شمېره: ۹۳)

"احسان دادی چې ته د الله عبادت داسې وکړې لکه هغه چې وینې ځکه که یې ته نه وینې نو هغه دې وینې."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لومړی برخه

الحکمة

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱

ایمانیات (باورونه)

ایمان یوه لرغونې (قدیمه) دیني اصطلاح ده، د «اَمن» ماده په عبراني ژبه کې هم شته او د صدق و اعتماد په معنا استعمالېږي، له همدې څخه د اَمین کلمه جوړه شوې چې په دې سره موږ د یوې خبرې تصدیق کوو. په قرآن کې دا تعبیر د همدې مفهوم لپاره راغلی دی، کله چې یو شی د زړه له پوره باور سره ومنل شي نو هغه ته ایمان ویل کېږي. اصل یې پر الله ایمان دی، که انسان خپل رب په دا سې ډول ومني چې د تسلیم او رضا په ښې اخیري درجه کې خپل زړه او دماغ هغه ته وسپاري نو هغه د قرآن په اصطلاح مومن دی. امام حمید الدین فراهي په خپل تفسیر کې لیکلي دي:

"... نو هغه یقین چې د وېرې، توکل او باور له ټولو لوازمو او شرایطو سره پیدا شي ایمان دی او څوک چې پر الله، د هغه پر ایاتونو او د هغه پر احکامو ایمان راوړي، خپل هر څه ده ته وسپاري او د ده په پرېکړو راضي شي هغه مومن دی."

(مجموعه تفاسیر فراهي ۳۴۷)

د ایمان همدا حقیقت دی چې پر بنسټ یې قرآن غواړي د زړه له تصدیق سره باید د انسان قول او عمل هم پر هغه شاهد وي، ځکه نو هره نېکي د ایمان خاصه او د مومنانو لازمي صفت ګڼي. په کومو روایاتو کې چې دا ډول شیان راغلي او ویلي یې دي: مسلمان هغه دی چې له ژبې او لاسه یې نور مسلمانان خوندي وي[۱] یا د ایمان تر اویا پورته څانګې دي چې یوه پکې شرم او حیا هم ده.[۲] او یا څوک چې پر الله او قیامت ایمان لري هغه ته په کار ده چې له ګاونډي سره ښه چلند وکړي، د مېلمه درناوی وکړي یا د نېکۍ خبره وکړي

[۱] بخاري، شمېره: ۱۰، مسلم شمېره: ۱۶۲

[۲] بخاري، شمېره: ۹، مسلم شمېره: ۱۵۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او یا خاموش شي.[3] هغه همدې حقیقت ته اشاره کوي. په دې سره څرګنده شوه چې په قرآن کریم کې تر ایمان وروسته د نېک عمل ذکر دیو ډول وضاحت لپاره راځي او نوعیت یې بالکل هغه ډول دی لکه پر عام چې خاص عطف کېږي. امام فراهي لیکي:

"د ایمان ځای زړه او عقل دی، د عقل او زړه په چارو کې انسان نه یوازې نور تېر ایستلای شي بلکې ډېر وختونه په خپله هم تېر وزي. دی فکر کوي چې مومن دی مګر مومن نه وي، له همدې املـه د ایمان درې شاهدان وتاکل شول یو قول او بل عمل. خو څرنګه چې قول هم دروغ کېدای شي له همدې وجې یوازې په خوله اقرار کوونکی مومن ونه بلل شو بلکې اړینه ده چې د انسان عمل د هغه د ایمان تصدیق وکړي."

(مجموعه تفاسیر فراهي ۳۴۹)

الهي وینا ده:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّـهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ * الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ * أُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ* (الأنفال ۸: ۲- ۴)

"مومنان خو هغه دي چې کله الله یاد شي نو زړه یې ولرزېږي او کله چې د ده ایاتونه ورته تلاوت شي ایمان یې زیادت وکړي او پر خپل رب توکل کوي، هغه چې لمونځ قایموي او څه چې موږ ورکړي له هغو څخه (زموږ په لار کې) لګښت کوي، همدوی رښتني مومنان دي، د دوی لپاره یې له رب سره درجې، مغفرت او د لوی عزت روزي ده."

همدارنګه یې ویلي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَـٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ (الحجرات ۴۹: ۱۵)

"مومنان خو هغه دي چې الله او د هغه رسول یې ومنل، بیا په هیڅ شک او ګومان اخته نه شول او په خپل ځان و مال یې د الله په لار کې جهاد وکړ، همدوی (په خپل ایمان کې) رښتني دي."

[3] بخاري، شمېره: ۶۰۱۹، مسلم، شمېره: ۱۷۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې کې شک نه شته چې د قانون له مخې هر هغه څوک مومن دی چې پر ژبه د اسلام اقرار کوي، د هغه دا ایمان لږ او ډېر هم نه شي بلل کېدای مګر تر کومه ځایه چې په حقیقي ایمان پورې تړلې ده هغه هیڅکله یو جامد شی نه دی. پورته چې مو د أنفال کوم ایاتونه نقل کړل له هغو په ډاګه کېږي چې د الله په ذکر، د هغه د ایاتونو په تلاوت او په انفس و افاق کې د هغه په ظهور زیاتېږي. قرآن کریم له یوې داسې ونې سره تشبیه کړی چې ریښې یې د ځمکې په ژورو کې کښته تللې وي او څانګې یې د اسمان په ګوښو کې خپرې وي:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ * تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ* (ابراهیم ۱۴: ۲۴، ۲۵)

"ایا تا غور نه دی کړي چې الله د پاکې کلمې مثال څرنګه بیان کړی، د هغې مثال داسې دی لکه یوه غوره ونه چې ریښې یې په ځمکه کې کښته تللې او څانګې یې په اسمان کې خپرې وي، په هر موسم کې د خپل رب په امر خپله مېوه ورکوي (دا یې یو تمثیل دی) او الله دا تمثیلونه د خلګو لپاره بیانوي څو پند واخلي."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

استاذ امام امین احسن اصلاحي دا الهي وینا داسې تشریح کړې:

"ښکاره ده چې په ایت کې له پاکې کلمې څخه مراد ایمان دی، نو الله یې تمثیل په یوه داسې مېوه لرونکې ونه ورکړی چې ریښې د ځمکې ژورو ته کښته شوې وي او څانګې یې په فضا کې ښه خپرې وي، په هر موسم کې د خپل رب په فضل مېوه ورکوي، په ځمکه کې د ریښو له کښته کېدو څخه مراد په انساني فطرت کې د هغه رسوخ او ټینګښت دی چې هغه د ځمکې پر سر د را شنه شوي بوټي په څېر بې ریښو نه وي چې د حوادثو یوه عادي څپه یې له بېخه وباسي، لکه د کفري کلمې په اړه چې یې ویلي: اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ [۴] (هغه چې د ځمکې پر سر راشنه وي هیڅ ټینګښت هم نه لري) بلکې د یوې څانګورې ونې په څېر دومره دایمي او ژورې ریښې لري چې که توپان هم پرې راشي نو هیڅ ذره نه اغېزمنه کېږي. بیا یې د هغې ګټې او میوې ته اشاره کړې چې د غوڅې شوې تنې په څېر بې سیوري او بې مېوې نه وي، بلکې په فضا کې یې تر خورو - ورو څانګو لاندې کاروانونه دمه کوي او په هر موسم کې یې له مېوو خوراک او سوکالي ترلاسه کوي. ښکاره ده چې په دې سره د هغو برکتونو او فیوضاتو لور ته اشاره ده چې د

[۴] ابراهیم ۱۴: ۲۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یو مومن له ایمانه په خپله د ده پر ژوند او په وسله یې د هغو خلکو پر ژوندونو مرتبې چې ده ته په یو ډول د نژدې کت ویاړ تر لاسه کوي. دا برکتونه او فیوضات حتما په علمي او عملي دواړو میدانونو کې داسې وي چې د ده د ایمان شاهدي ورکوي او په دې سره ده ته د الله له خوا لوړتیا او سرلوړي حاصلیږي." (تزکیه نفس: ۳۲۵)

همدا معامله په ایمان کې د کمښت ده، انسان که د ګټور علم او نیک عمل په وسله پر له پسې د خپل ایمان زیاتولو پر ځای د هغه د تقاضاوو پر خلاف عمل شروع کړي نو کمیږي هم، بلکې په ځینو حالاتو کې بې ځي له منځه ځي. د هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلإِيمَانِ[۵] (دوی په دې ورځ تر ایمان کفر تهډېر نژدې ول) او دا ډول نور ایاتونه همدا حقیقت څرګندوي. قرآن په صراحت سره وایي: کوم کسان چې له ګناه بسترا او بېړستن جوړ کړي د دوی پر ژوند را چاپېر شي او یا دومره بغاوت وکړي چې الهي حدود په شعوري ډول تر پښو لاندې کوي او یا یو مسلمان په قصد ووژني د هغوی ایمان به اعتبار ونه لري او د تل لپاره به دوزخ ته واچول شي.[۶] مګر دا چې الله له خپل حکمت سره سم یو چا ته د عفو او بخښنې پرېکړه وکړي.[۷] له همدې کبله یې یو ځای ویلي:

د رسول له اطاعت څخه تر سرغړونې وروسته د ایمان هیڅ دعوه هم د الله په نزد د منلو وړ نه ده.

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا (النساء ۴: ۶۵)

"مګر نه (اې رسوله) ستا په رب قسم! دوی تر هغه وخته مومنان نه شي کېدای څو چې تا په خپلو اختلافاتو کې پرېکړه کوونکی ونه منې، بیا چې ته کومه پرېکړه وکړې پر هغې په خپلو زړونو کې د تنګۍ له احساسولو پرته یې په وړاندې سر ټیټ نه کړي."

د رسول الله ﷺ ځینې لاښوونې هم دا حقیقت تشرح کوي، ده ویلي:

زانې چې کله زنا کوي نو هغه وخت مومن نه وي، غل چې کله غلا کوي نو هغه وخت

---

[۵] آل عمران ۳: ۱۶۷

[۶] البقرة ۲: ۸۱، النساء ۴: ۱۴، ۹۳

[۷] النساء ۴: ۴۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مومن نه وي او شرابي چي کله شراب څښي نو هغه وخت مومن نه وي.[8]

په تاسو کي هيڅوک تر هغو مومن نه شي کېدای چي زه تر اولاد ونو، پلار او نورو ټولو خلګو ورته ګران شوی نه يم.[9]

په هغه ذات قسم چي زما ځان يې په ولکه کي دی يو بنده تر هغو مومن نه شي کېدای څو د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چي د ځان لپاره يې خوښوي.[10]

انسان (چي کله د خپل واک په دايره کي) بدي وويني نو په لاس دي له منځه يوسي، که د دې جرأت نه لري نو په ژبه دي يې د مخنيوي کوشش وکړي، که دا هم نه شي کولای نو په زړه کي دي يې بده وګڼي مګر تر دې وروسته د ايمان هيڅ درجه نه شته.[11]

له دې معلومېږي چي ايمان او عمل سره لازم او ملزوم دي، له همدې وجې لکه څرنګه چي له ايمان سره عمل ضروري دی همدارنګه له عمل سره ايمان هم ضروري دی. قرآن د خلاصون لپاره هر ځای لومړی شرط بللی، وجه يې داده چي که انسان په قصدي ډول له خپل رب او د هغه د ايا تونو له منلو انکار وکړي، پر هغه دروغ وتړي او يا يو څوک ورسره شريک کړي نو دا استکبار دی او د استکبار په اړه قرآن په ښکاره ويلي چي اوښ د ستنې په سپم ننوتلای شي خو هيڅ متکبر جنت ته نه شي داخلېدای.

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُواْ عَنْهَا لاَ تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاء وَلاَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ * لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ* (الأعراف ۷: ۴۰، ۴۱)

"بې شکه کومو کسانو چي زمونږ ايا تونه دروغ وبلل او په تکبر يې مخ ترې واړاوه هغوی ته به نه د اسمان دروازې خلاصې شي او نه به جنت ته داخل شي، مګر په هغه صورت کي چي اوښ د ستنې تر سپم ووزي (دا د دوی سزا ده) او مونږ مجرمينو ته همدا سي سزا ورکوو، د دوی لپاره به د دوزخ نالي او بړستن وي، مونږ ظالمانو ته همدا سي سزا ورکوو."

[8] بخاري، شمېره: ۵۵۷۸، مسلم: شمېره ۲۰۲
[9] بخاري شمېره: ۱۵، مسلم شمېره: ۱۶۸، ۱۶۹
[10] بخاري، شمېره: ۱۳، مسلم، شمېره: ۱۷۰
[11] مسلم، شمېره: ۱۷۷، ۱۷۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او ویلي یې دي: له ایمان څخه تر محرومیت وروسته هر عمل بې بنسټه دی، مثال یې د هغو ایرو په څېر دی چې په یوه توپاني ورځ یې سېلۍ په مخه کړي، د قیامت په ورځ به له دوی سره یوه ذره هم د دې وړ نه وي چې د الله حضور ته یې وړاندي کړای شي، د دوی ټوله ګټه به هلته خاوري شي، یوازي عذاب به ورپاتي وي.

مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمْ أَعْمَـالُهُمْ كَرَمَـادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ لاَّ يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَى شَيْءٍ ذَلِكَ هُوَ الضَّلاَلُ الْبَعِيدُ (ابراهیم ۱۴: ۱۸)

"کومو کسانو چې په خپل رب کفر کړی، د دوی د اعمالو مثال داسي دی لکه پر ایرو چې د سېلۍ په ورځ تېز توپان راشي، د دوی د کسب هیڅ شی به یې په لاس کي نه وي همدا لرې ګمراهي ده."

په سورت نور کي له ایمانه د محرومو خلکو اعمال د یوې وچې دښتې له سراب سره تشبیه شوي چې حقیقت یې د دید له تېروتنې پرته بل څه نه وي، یو تېږی د اوبو په ګومان هغه لور ته ورځي خو کله چې ور نژدې شي نو وپوهېږي چې کوم شی یې په ځلېدو دریاب ګڼلی وو هغه په حقیقت کي ځلېدونکی ریګ وو.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاء حَتَّى إِذَا جَاءهُ لَمْ يَجِـدْهُ شَـيْئًا وَوَجَدَ اللَّهَ عِندَهُ فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ وَاللَّهُ سَـرِيعُ الْحِسَابِ (النور ۲۴: ۳۹)

"او کوم کسان چې منکرین دي د دوی د اعمالو مثال داسي دی لکه په بې اوبو دښته کي سراب چې تېږی یې اوبه ګڼي (او د هغو لور ته په منډه شي) کله چې ور ورسېږي نو هیڅ ونه مومي او هلته الله موجود ومومي نو ده د هغه پوره حساب ورکړ او الله ډېر چټک حساب کوونکی دی."

همدا ایمان دی چې قرآن یې له خپلو منونکو غوښتنه کوي او له دې پنځو شیانو جوړ دی:

- پر الله ایمان
- پر ملایکو ایمان
- پر نبیانو ایمان
- پر کتابونو ایمان

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

- د جزا پرورځ ایمان

الهي وينا ده:

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (البقرة ۲: ۲۸۵)

" زموږ رسول هغه شی ومانه چې د ده د رب له لوري پرې نازل شوی او د ده منونکو هم، دوی ټولو پر الله، د ده پر ملایکو، د ده پر کتابونو او د ده پر رسولانو ایمان راوړی دی (د دوی اقرار دی چې) موږ د الله په رسولانو کې دهیڅ یوه تر منځ توپیر نه کوو او دوی ویلي: موږ واورېده او اطاعت مو وکړ، اې ربه! موږ ستا بخښنه غواړو او (پوهېږو چې) ستا لورته مو ستنېدل دي."

پر الله ایمان

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ * هُوَ اللَّهُ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلاَمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ * هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ* (الحشر ۵۹: ۲۲ - ۲۴)

" دی هغه الله دی چې له ده پرته هیڅ معبود نه شته، په غایب او حاضر خبر او سراسر رحمت دی، شفقت یې ابدي دی، هغه الله چې له ده پرته هیڅ معبود نه شته. پاچا، پاکه هستي، سراسر سلامتیا، امن ورکوونکی، ساتونکی، غالب، ډېر پیاوړی، د لویي څښتن، الله له هغه څه پاک دی چې دوی یې ورسره شریکوي، همدا الله نقشه جوړوونکی، وجود ورکوونکی، صورت ورکوونکی دی، ټول ښایسته نومونه د ده دي، په اسمانو او ځمکه کې هر څه د ده تسبیح وایي او دی غالب د ستر حکمت څښتن دی."

الله د هغه ذات نوم دی چې د ځمکې او اسمان او ټولو مخلوقاتو خالق دی، په دې کې الف لام د تعریف لپاره دی او دا نوم له پیله د کاینناتو د رب لپاره تخصیص شوی. تر رسول

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله ﷻ وړاندي په عربي جاهليت کي هم په همدې مفهوم کارېده، د ابراهيمي دين کوم پاتي شوني چي عربو ته په ميراث ورپاتي ول دا لفظ هم له هغو څخه دی. لکه چي ويلي يې دي:

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ * اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ * وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ مِن بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ*

(العنکبوت ۲۹: ۶۱-۶۳)

"او که ته له دوی وپوښتې چي اسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي او سپوږمی و لمر چا تابع کړي نو دوی به ضرور ووايي چي الله، نو بيا دوی چيري اړول کيږي؟ الله چي په خپلو بندګانو کي د چا روزي وغواړي پراخوي يې او چي چا ته وغواړي تنګوي يې، بې شکه الله په هر څه خبر دی او که ته له دوی وپوښتې چي له اسمانه اوبه چا را کښته کړې او بيا يې د هغو په وسيله ځمکه تر مړه کيدو وروسته ژوندی کړه نو دوی به ضرور ووايي الله (دوی ته) ووايه الله لره شکر دی، مګر په دوی کي ډېری له عقله کار نه اخلي."

قرآن وايي چي د الله د ربوبيت اقرار يو داسي شی دی چي له ازله د انسان په فطرت کي ايښودل شوی دی، د قرآن وينا ده چي دا معامله د يوې ژمنې او وعدې په بڼه ترسره شوې. دا وعده قران د يوې ترسره شوې پېښې په توګه کوي، انسان دلته د ازموينې لپاره را لېږل شوی له همدې کبله يې دا پېښه له حافظې ختمه شوې مګر حقيقت يې د هغه پر زړه نقش او د ده په دماغ کي موجود دی چي هيڅ شی يې له منځه نه شي وړلای. که په چاپېريال کي کوم مانع موجود نه وي او انسان ته ورياده کړل شي نو د هغې لور ته به داسي په منډه شي لکه ماشوم چي د مور لور ته منډې وهي، په داسي حال کي چي هيڅکله يې ځان د مور له نسه پر راوتلو نه وو ليدلی او په دومره باور ورځي لکه وړاندي چي پرې خبر وو. دی احساسوي چي د الله اعتراف د هغې فطري اړتيا د غوښتنې ځواب وو چي د ده په باطن کي موجوده وه او ده تر لاسه کړې ده چي د ده د نفسياتو ټولو غوښتنو هم له هغه سره خپل ځای موندلی دی، د قرآن وينا ده چي د انسان د باطن دا شهادت دومره قطعي دی چي تر کومه ځايه د الله له ربوبيت سره تړاو لري هر سړی به د همدې شهادت پر بنا د الله په حضور کي ځواب ورکوي. ده ويلي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى شَهِدْنَا أَن تَقُولُواْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ * أَوْ تَقُولُواْ إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّن بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ * وَكَذَلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ* (الأعراف ۷: ۱۷۲-۱۷۴)

" او هغه وخت دریاد کړه چې کله ستا رب د انسانانو له پوشتونو د هغوی اولادونه را وایستل او دوی یې پر خپل ځان شاهدان کړل، ترې ویې پوښتل: ایا زه ستاسو رب نه یم؟ دوی ځواب ورکړ چې ضرور ته زمونږ رب یې، مونږ د دې شاهدي ورکوو. دا مو د دې لپاره وکړل چې هسې نه د قیامت په ورځ ووایاست چې مونږ خو په دې خبر نه وو او یا خپل عذر وړاندي کړئ چې شرک خو زمونږ پلرونو او نیکونو له وړاندي پیل کړی وو او مونږ یې تر دوی وروسته اولادونه وو، نو ایا د دوی د غلطو کارونو د سزا په ځواب کې به مونږ هلاکوې؟، مونږ همداسي خپل ایاتونه بیانوو (د دې لپاره چې خلګو ته دلیل واضح شي) او د دې لپاره چې دوی رجوع وکړي."

انسان ته د باطن له دې لارښوونې سره دا وړتیا هم ورکړل شوې چې دی په خپلو ظاهري حواسو څه ویني، اوري او یا یې احساسوي له هغو ځینې داسي حقایق استنباط کړي چې تر حواسو پورته دي. د دې یو ساده مثال د جاذبې قانون (Law of gravitation) دی، منه (سیب) چې کله له ونې را وشکېږي نو پر ځمکه لوېږي، که له ځمکې ډېرې پورته کوو نو زور ته اړتیا لري، له زینو د را کښته کېدو په پرتله پورته کېدل همېشه سخت دي، سپوږمۍ او ستوري په اسمان کې حرکت کوي. انسان دا هر څه له پېړیو -پېړیو لیدل، تر دې چې نیوټن یوه ورځ دا کشف کړه چې دا هر څه د جاذبې د قانون کارنامه ده. دا قانون په خپله د لیدلو وړ نه دی، مګر دا مهال یې ټوله نړۍ د یوه ساینسي حقیقت په توګه مني. علت یې دا دی چې دا نظریه له ټولو معلومو حقایقو سره همغږې ده، په دې سره د ټولو مشاهداتو توجیه کېږي او بله داسي نظریه لا هم نه ده وړاندي شوې چې له واقعاتو سره په دې درجه موافقت ولري.

څرګنده ده چې دا له محسوس څخه د غیر محسوس استنباط دی، انسان چې کله د خپلې دې وړتیا په کارولو ځان او پر خپل شاوخوا خواره -واره کاینات مطالعه کوي نو د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه دا مطالعه هم د ده په باطن کي د پټ همدې حقیقت شاهدي ورکوي.

دی ویني چې په دې دنیا کي هر شی د غوره پنځونې یا تخلیق معجزانه اظهار دی، په هر څه کي بې کچې معنویت شته، بې ساري پاملرنه ده، حکمت، تدبیر، ګټور توب او حیرانوونکی نظم و ترتیب دی، بې جوړې اقلیدس او ریاضي ده چې له دې پرته یې بله هیڅ توجیه نه شي کېدای چې دا یو خالق لري او هغه کوم ړوند او ګونګ ذات نه بلکي یو لامحدود ذهن دی، ځکه که د طاقت ظهور د کوم عالم او حاکم ذات له لوري نه وي نو باید مطلق جبروي، خو د حقیقت له مخې داسي نه ده بلکي بې کچې موزونیت لري، بې اندازې توافق پکښې دی، له دې څخه بې ساري ګټې او هېښوونکي تغیرات پیدا کېږي چې یو ړوند او ګونګ طاقت یې هیڅکله نه شي پیدا کولای.

دا یو نه ردېدونکی حقیقت دی چې له منلو پرته یې د انسان عقل په هیڅ ډول مطمئن کېدای نه شي، ځکه یې ویلي: پر الله ایمان د ځمکې او اسمان رڼا ده، د انسان سینه په همدې سره د رڼاګانو ځای ګرزي. که دا نه وي نو نړۍ د تیارو عالم او د تورو شپو کلی دی.

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونِةٍ لاَّ شَرْقِيَّةٍ وَلاَ غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُّورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاء وَيَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ* (النور ۲۴: ۳۵)

"الله د ځمکې او اسمانو نور دی (د انسان په زړه کي) یې د نور مثال داسي دی لکه په یوه تاخچه کي چې ډېوه اینسودل شوې وي او ډېوه په فانوس کي وي، فانوس داسي وي لکه ځلېدونکی ستوری او هغه ډېوه د داسي سمسوري ونې په تېلو بله شوې وي چې نه شرقي وي نه غربي، تېل یې د اور له ورنژدې کېدو پرته بلېږي، پرڼا رڼا، الله چې چا ته وغواړي د خپل نور لور ته یې هدایت کوي (دا یو تمثیل دی) او الله دا مثالونه د خلګو (د لارښوونې لپاره) بیانوي (دی له هر یوه سره هغه معامله کوي چې هغه یې لایق وي) او الله په هر څه خبر دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که څه هم دا شواهد کافي ول خو الله د حجت یا دلیل پوره کولو لپاره یو بل کار دا وکړ چې انسانیت یې له یوه داسي انسان څخه را پیل کړ چې د الله خبرې یې اوریدلې وې، د هغه فرشتې یې ولیدې او په دې توګه د مستقیمې شاهدي په ورکولو له دنیا رخصت شو څو یې دا علم نسل پر نسل اولادې ته نقل شي او د الله تصور د انساني ژوند د هیڅ عصر، د ځمکې د هیڅ برخې، هیڅ کلي، هیڅ نژاد او هیڅ نسل لپاره هیڅکله پردی نه شي. د قرآن وینا ده چې د آدم او حوا تر پیدایښت وروسته تر دوی پورته ځینو مخلوقاتو ته امر وشو چې د دوی په وړاندي پر سجده شي، په دې سره هدف دا وو چې حقیقي سرلوړی له نوریا اور څخه په پیدا کیدو کې نه بلکې د الله په اطاعت او امر منلو کې ده. قرآن وویل چې د دې امر په تعمیل کې هغه ټول مخلوقات پر سجده شول مګر ابلیس ونه منله او د سجدې له کولو یې انکار وکړ. تر دې وروسته آدم او حوا دواړو ته په یوه داسي باغ کې د اوسیدو لارښوونه وشوه چې پکې د ژوند ټولې اړتیاوې چمتو وې خو د یوې ونې د میوې له خوراک څخه منعه شول، دا هماغه د تناسل ونه وه چې مېوه یې په نړۍ کې زموږ د بقا ذریعه ده. الله هغوی له دې منعه کړل او خبر یې ورکړ چې شیطان ستاسو ښکاره دښمن دی او حتما به مو نافرمانۍ ته د چمتو کولو هڅې وکړي چې همداسي وشول او ابلیس د یوه خواخوږي او همدرد ناصح په توګه دوی ته وویل چې د تلپاتي ژوند او ابدي پاچاهۍ راز د هماغې ونې په مېوه کې دی چې تاسو تر بې برخې شوي یاست. د ابلیس په دې هڅونه او تشویق دوی چمتو شول او د دې میوې د خواهش له کبله چې پر انسان بې اختیاره کوم احساس رائي له هغه څخه په مغلوبیدو یې وخوړه، له دې څخه دا حقیقت څرګند شو چې په ژوند کې به پر دوی کومه لویه ازموینه راځي هغه به د ځان غوښتنې او جنسي غریزې له لارې وي، له همدې امله ورته امر وشو چې له دې باغ څخه په وتلو ځمکې ته ولاړ شي په دې سره آدم پښیمانه شو او خپل رب ته یې رجوع وکړه، د هغه د دې رجوع په لیدو الله د توبې توفیق ورکړ. د دې لپاره یې ډېر موزون الفاظ په خپله ورته القاء کړل او د هغه توبه یې ومنله. ده ویلي:

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَـافِرِينَ * وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَداً حَيْثُ شِئْتُمَا وَلاَ تَقْرَبَـا هَـذِهِ

"او دوی ته هغه پېښه هم واوروه چې کله موږ ملایکو ته وویل: ادم ته سجده وکړئ نو هغوی پر سجده شول خو ابلیس ونه منله، انکار یې وکړ، غټه یې وویله او په دې ډول په منکرینو کې شامل شو او موږ ادم ته وویل: ته او مېرمن

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ * فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلْنَا اهْبِطُواْ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ * فَتَلَقَّى آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (البقرة ۲: ۳۴ - ۳۷)

دي دواړه په دې باغ کې اوسئ او د هغه له کومه ځایه چې غواړئ په پراخي سره خوراک کوئ، مګر دې ونې ته مه ور نژدې کېږئ که نه ظالمان به شئ نو شیطان له هغه ځایه وښویول او دوی چې په کوم حالت کې ول له هغه یې را وایستل او موږ وویل: (له دې ځایه) کښته شئ، نور به تاسو د یوه بل دښمنان یاست، تر یوه خاص وخت پورې به په ځمکه کې اوسئ او هلته به وخت تېروئ، بیا ادم له خپل رب څخه (د توبې) ځینې الفاظ زده کړل (او د هغو په وسیله یې توبه وایسته له) نو د ده توبه یې ومنله بې شکه دی ډېر بخښونکی دی شفقت یې ابدي دی."

صرف همدومره کیسه نه وه، دنیا ته د ادم او حوا له لېږلو وروسته هم تر یوه وخته دې چارې دوام درلود چې که انسان غوښتي وای په دې دنیا کې د خپل عمل په منلو کښدو او نه منلو کښدو وپوهېږي نو پوهېدای شوای، ګواکې دا په هغه زمانه کې د تجربې او مشاهدې کچې ته د هر سړي رسول وو څو له خپل مورو پلار سره دی هم په دې شاهدي کې شامل شي، شکل یې داسي وو چې خلګو به الهي حضور ته قرباني وړاندي کوله بیا به له اسمانه یو اور نازلېده او د منلو د علامې په توګه به یې هغه له منځه وړ. د آل عمران په (۱۸۳) کې د همداسي قربانۍ یادونه ده. د ادم علیه السلام د زوی هابیل قتل د همداسي یوې پېښې په نتیجه کې وو، د بایبل وینا ده چې هابیل د پسونو شپنې کوله او قابل بزګر وو، یوه ورځ قابل د خپل کښت د مېوې ډالۍ الهي حضور ته وړاندي کړه او هابل د خپلو پسونو، وریو او د هغو د وازګو هدیه راوړه، کله چې وړاندي شوې نو هابیل او هدیه یې ومنل شول مګر قابل او هدیه یې قبول نه شول، په دې سره قابل ډېر غوسه شو او خپل وروریې قتل کړ. په قرآن کې دا پېښه داسي بیان شوې:

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِن أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الآخَرِ قَالَ لأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ * لَئِن

" او د ادم د دوو زامنو خبر هم په سم ډول ورته واوروه، کله چې هغوی دوو قرباني وړاندي کړه نو په دوی کې د یوه قرباني ومنل شوه او د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ * إِنِّي أُرِيدُ أَن تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذَلِكَ جَزَاء الظَّالِمِينَ * فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ* (المائدة ۵: ۲۷ - ۳۰)

بل هغه ونه منل شوه. ده وويل: زه به تا ووژنم، ده ځواب ورکړ: الله يوازي د نېکو بندګانو قرباني قبلوي، که ته زما د وژلو لپاره لاس را اوږد کړې نو زه ستا د وژلو لپاره لاس اوږد وونکی نه يم، زه له رب العالمين څخه وېرېږم، زه غواړم ته زما او د خپل ځان ګناه در غونډه کړې او دوزخي شې، همدا د ظالمانو سزا ده. بالاخره يې نفس د ورور وژلو ته چمتو کړ او دی (د هغه په وژلو) له تاوانيانو څخه شو."

له دې څخه معلومېږي چې د الله وجود يو بديهي حقيقت دی چې انسان يې تصور له خپلو پلرونو ترلاسه کړی او نفس و ماده دواړه يې د وجود شاهدي ورکوي خو د الله ذات څه شی دی؟، صفات يې څه دي او هغه سنن څه دي چې ده د خپل ذات لپاره تاکلي دي؟. که انسان د خپل رب پېژندنه غواړي نو حتما يې په ذهن کي دا پوښتنې پيدا کېږي او د ايمان لپاره ضروري هم دي. قرآن چې کله پر الله د ايمان غوښتنه کړې نو د دې پوښتنو ځواب يې هم ورکړی، دا ځواب څنګه دی؟ موږ يې دلته وضاحت کوو.

ذات

الله په قرآن کي د خپل ذات په اړه په پوره وضاحت سره واضحه کړې چې په هيڅ توګه د انساني ادراک په احاطه کي نه شي راتلای، ځکه د ادراک وسايل چې کوم ذات پيدا کړي هغه يقينا دا موندلای او احاطه هم پرې کولای شي، مګر دا وسايل په هيڅ ډول د هغه چا احاطه نه شي کولای چې په خپله يې دوی احاطه کړي دي. پر دې سربېره بايد دا خبره هم واضحه شي چې زموږ درک يوازي انفعالي دی، الله چې انسان ته کوم حواس ورکړي په ټولو کي مهم يې ديد دی چې د دې لپاره يې ستر ګي ورکړې، مګر د هغو حالت هم دادی چې که له يوه شي څخه د رڼا انعکاس نه وي نو د ليدو توان يې نه لري لکه چې وايي:

لاَّ تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ (الأنعام ۶: ۱۰۳)

"دی ستر ګي نه شي درک کولای او دی ستر ګي درک کوي، دی ډېر باريک بين او پوره خبردار دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د موسی علیه السلام له لوري د الله د لیدنې کیسه قرآن د همدې لپاره بیان کړې چې انسان باید په خپلو حدودو خبر وي او تل په یاد ولري چې الله کوم رسول ته د خبرو ویاړ ور بخښلی نو چې د هغه لپاره ممکنه نه شوه نو نور بیا څوک دي؟. الله ویلي:

وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي وَلَـٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ (الأعراف ۷: ۱۴۳)

" او کله چې موسی پر ټاکلي وخت زموږ لیدنې ته حاضر شو او رب یې ورسره خبرې وکړې (نو له دې څخه د جرأت په کولو یې) عرض وکړ: اې ربه! ماته را وښیه چې زه تا ووینم، هغه وویل: ته به ما هیڅکله ونه شې لیدای، هو! لږ دې مخامخ غره ته وګوره که هغه پر خپل ځای پاتې شو نو ته به مې ولیدلای شې، کله چې د هغه رب پر غره تجلي وکړه نو هغه ټوټه -ټوټه او موسی بې سده شو، کله چې پر سد راغی نو ویې ویل: ستا ذات پاک دی، زه تا ته درګرزم او زه لومړنی ایمان راوړونکی یم."

استاذ امین احسن اصلاحي یې په تفسیر کي لیکي:

"... دامشاهده د موسی علیه السلام د اطمنان لپاره را منځ ته شوه چې د الهي ذات د تجلی تاب غرونه هم نه شي راوړلای چې د ټینګوالي او سختۍ له مخې تر ټولو لوړ دي، ته ناتوانه به یې څرنګه راوړې؟. د انسان د برداشت قوت محدود دی، د هغه سترګې رڼا ویني مګر که رڼا تر یوه ځانګړي حد واوړي نو سترګې یې کار نه کوي بلکي ځیني وختونه یې دید له منځه وړي، د ده غوږ اواز اوري مګر د اورېدو توان یې هم تر ټاکلي حده دی، که د برېښنا پرکا یو څه تر حد واوړي نو د غوږونو پردې به یې له کار ولوېږي، لمر د ده د ژوند سخته اړتیا ده، مګر د هغه رڼا او تودوخه تر هغه مهاله د ده لپاره ژوند بخښونکې ده څو چې له ډېرې لرې فاصلې په تېرېدو ده ته خپله رڼا او حرارت ورسوي، څرګنده نه ده تر منځ به یې د څومره فضایي پردو خنډونه او څومره پوښونه وي. که کومه ورځ د ځمکې کرې ته لږ را لنډ او پر هغه خپلې وړانګې واچوي نو ټول ژوندي شیان به په سوځېدو خاورې او ایرې شي، نو چې د دې کایناتو د مخلوق په وړاندې د انسان د برداشت ځواک دومره کمزوری دی نو د الله د مطلق ذات طاقت څرنګه درلودای شي چې مطلق نور او له هر ډول کمیت و کیفیت څخه پورته او لوړ دی." (تدبر قرآن ۳/ ۳۶۰)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې کې شک نه شته چې د قیامت په ورځ به مومنان خپل رب وویني، د قران له دې ایت كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ[12] څخه همدا خبره معلومېږي، مګر د لیدلو بېلابېلې درجې دي، له همدې کبله به دا لیدنه په ستر ګو د الله ادراک نه وي، غالبا شکل به یې داسې وي چې حجابات به له منځه ولاړ شي او خلک به خپل رب داسې وویني لکه لمر، سپوږمۍ، ستوري او سیارې چې وینې او د دې حقیقت صرف دومره دی چې هغوی له فلکي اجرامو څخه انعکاس کوونکي یوه رښا وینې. رسول الله ﷺ د خلکو په پوښتنه د هغوی پوهولو لپاره همدا مثال ورکړی[13] اوویلي یې دي تاسو به خپل رب داسې وینئ چې د لوېي له څادر پرته به یې بل هیڅ شی ترمنځ حایل نه وي.[14]

تر دې وروسته یوازې د تشبیه او تمثیل طریقه پاتېږي، قرآن د جنت او دوزخ په بیان کې همدا طریقه غوره کړې، د خوب او ویښې پر مهال د روانې مشاهداتو لپاره هم انساني نفس دا لار غوره کوي خو د الله په اړه د دې هم هیڅ امکان نه شته، ځکه انسان په دې طریقه یوازې د هغو شیانو تصور ترلاسه کولای شي چې هغه ته ورته یو شی په یوه نه یوه درجه له ده دباندې موجود وي. د الهي ذات په اړه له انسان سره داسې هیڅ شی هم نه شته ځکه یې نو دروازه د تل لپاره ترلې ده. الله ویلي:

فَلاَ تَضْرِبُواْ لِلّهِ الأَمْثَالَ إِنَّ اللّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ (النحل ۱۶: ۷۴)

"نو د الله لپاره مثالونه مه بیانوئ ځکه چې (په خپل ځان) الله ښه پوهېږي تاسو نه پوهېږئ."

صفات

انسان د الله تعالی صفات په یوه نه یو ډول درک کوي، ځکه د صفاتو په اړه ځینې شیان که څه هم ډېر وړوکي وي له انسان سره هم شته. الله چې د خپل علم، خبرتیا، قدرت، ربوبیت، رحمت او حکمت کومه برخه موږ ته هم راکړې پر هغو په قیاس کولو د الله د دې

[12] هیڅکله نه په دې ورځ به دوی له خپل رب څخه را وګرزول شي. دا خبره قرآن د منکرینو په اړه کړې، له دې ښکاري چې مومنان به ترې محروم نه وي، د هغوی لپاره به هلته ټولې پردې او حجابونه له منځه ولاړ شي.

[13] بخاري، شمېره: ۴۵۸۱، مسلم، شمېره: ۴۵۱

[14] بخاري، شمېره: ۴۴۸۷، مسلم، شمېره: ۴۴۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

صفاتو یو تصور تر لاسه کولای شو. دا خبره داسي هم بیانېدای شي چي د انسان وجود صرف انفعال دی، هغه چي د کوم فعل اثر دی هغه ته اراده، قول، مشیت، کلمه او امر ویل کېږي چي له حقیقي فاعل څخه صدور کوي.[15] د شي حقیقت همدا اراده ده، شي له همدې نوم تر لاسه کړی، په هغه کي چي کوم صفات ظاهر ېږي هغه په حقیقت کي د همدې کلمې صفات دي. د انساني وجود حقیقت هم همدا دی، هغه د خپل وجود شعور لري، له همدې وجې تر یوه بریده د خپل فاعل صفات درک کوي، خو د دې لپاره ضروري ده چي انسان خپل عقل وپښ وساتي او د الهي وحې په لارښوونه په نفسونو او افاقو کي د الله پر ایاتونو غور وکړي. قرآن کریم خپل مخاطبین پر همدې بنا بیا -بیا تعقل، تفکر او تذکر ته دعوت کړي دي. استاذ امام امین احسن اصلاحي دا تعبیرات واضح کړي، دی لیکي:

" د تعقل هدف دا وي چي انسان د ژوند په معاملاتو کي صرف احساسات، شهوت او خواهشات خپل لارښود ونه ګرزوي او د خپل واک واګې وهمونو او خیالاتو ته ونه سپاري، بلکي ده ته چي الله کوم عقل ورکړی هغه لارښود وټاکي او پر لارښوونه یې اعتماد وکړي.

د تفکر مطلب دادی چي د نړۍ پر قوانینو و احکامو او د انساني فطرت پر غوښتنو و تقاضاوو په حکیمانه ډول غور وشي او له دې څخه چي د ژوند لپاره کوم اصول تر لاسه کېږي هغه په پوره صداقت او ایمانداري ومنل شي. د تذکر هدف دادی چي انسان پر کومو بدیهیاتو باور لري هغه بدیهیات د احساساتو او شهوتونو په توپان کي دننه هم یاد وساتي او له دې څخه چي په لازمي ډول کوم نتایج تر لاسه کېږي هغه هم له څه شرم پرته ومني." (تزکیه نفس: ۹۲)

که په دې طریقه غور وشي نو د نفسونو او افاقو هر شی شاهدي ورکوي چي الله صرف علت العلل او واجب الوجود نه دی چي د علت او معلول لړۍ تر پیل شوه، په هر حالت کي وو، دی اووي به، بلکي د ارادې او ادراک درلودونکی یو داسي ذات دی چي د ټولو لوړو صفاتو خاوند دی.

موږ به یې دلته وضاحت وکړو:

---

[15] د سورت یس (۳۶) دا ایت همدا حقیقت بیانوي: إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ د هغه معامله بس همدومره ده چي کله د یوه شي اراده وکړي نو وایي: شه، نو هغه کېږي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) ماده له ارادې خالي ده، علم او عقل هم نه لري. د نفس علم، اراده او نور قوتونه يې هم د ضعف، هېرې او کمزورې ارادې له املې ذاتي نه شي کېدای، مګر له دواړو ډېر حیرانوونکي قواعد او عجیب و غریب تغیرات پیدا کېږي چې هیڅ ړوند او ګونګ طاقت يې نه شي پیدا کولای. له همدې کبله دواړه مخلوق دي او هر مخلوق د خپل ځان لپاره د يو خالق غوښتنه کوي.

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ * أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ بَل لاَّ يُوقِنُونَ*
(الطور ۵۲: ۳۵، ۳۶)

"ایا دوی له خالق پرته پیدا شوي او که د خپل ځان پیدا کوونکي دي؟، ایا اسمانونه او ځمکه دوی پیدا کړي؟ (نه!) بلکي (حقیقت دادی چې) دوی باور نه لري."

ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ (غافر ۴۰: ۶۲)

"هماغه الله ستاسو رب دی، د هر څه خالق، له ده پرته هیڅ معبود نه شته نو تاسو چیرې کړېږئ؟."

۲) د ځمکې او اسمان دا خالق هیڅ شي ته محتاج نه شي کېدای، ځکه د پیدایښت يو علت دی او هغه د ده اراده و رحمت دي، ده چې کله وغواړي پېرزوینه وکړي نو دنیا يې را منځ ته کړه او په دې کې يې خپل مخلوق ته هغه نعمتونه ورکړل چې شمېرل کېدای نه شي. لکه څرنګه چې يې نوم الله دی، همدارنګه رحمان هم دی.

الرَّحْمَنُ * عَلَّمَ الْقُرْآنَ * خَلَقَ الإِنسَانَ* عَلَّمَهُ الْبَيَانَ * الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ* وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ * وَالسَّمَاء رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ * أَلاَّ تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ * وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ * وَالأَرْضَ وَضَعَهَا لِلأَنَامِ * فِيهَا فَاكِهَةٌ وَالنَّخْلُ ذَاتُ الأَكْمَامِ * وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ * فَبِأَيِّ آلاَءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ*
(الرحمن ۵۵: ۱-۱۳)

"رحمان د قرآن تعلیم ورکړ (د دې لپاره چې) انسان يې پیدا کړ، ده د خبرو و بیان وړتیا ورکړه (تاسو لږ سترګې پورته کړئ وګورئ) دا لمر او سپوږمۍ له یوه حساب سره په حرکت کې دي او ستوري و ونې ټول پر سجده دي، ده اسمان لوړ کړ او په هغه کې يې یو میزان را منځ ته کړ چې تاسو هم په تول کې کمی ونه کړئ، له انصاف سره سم سیده تول وکړئ او په وزن کې کمبوت مه کوئ او د خپل خلقت لپاره يې دا ځمکه جوړه کړې ده، په دې کې میوې او د خورما وو ونې دي چې میوې يې په پوښونو کې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نغښتل شوې او ډول -ډول غلې دي چې پرې د پروړې خولونه او خوشبویه ګلونه دي نو اې پېریانو او انسانانو! تاسو به د خپل رب کوم - کوم نعمتونه دروغ وبولئ؟."

۳) علم یوازې د قوت (انرژي) پوهه ده، له همدې کبله هر علم د انرژي شاهدي ورکوي. انرژي که د ارادې او ادراک درلودونکي ذات له لوري نه وي نو باید صرف جبر وي، مګر د نړۍ نظم و ترتیب او بې کچې معنویت یې ردوي. په هغې کې هیڅ شی هم د علم او عقل له تصرف پرته نه شي ترسره کېدای، له همدې وجې خالق صرف قادر نه بلکې علیم او حکیم هم دی.

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ذَلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ * وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاء لِّلسَّائِلِينَ * ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاء وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ * فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَى فِي كُلِّ سَمَاء أَمْرَهَا وَزَيَّنَّا السَّمَاء الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَحِفْظًا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ* (حم السجدة ۴۱: ۹-۱۲)

" له دوی وپوښته ایا تاسو له هغه ذات څخه انکار کوئ او شریک ورسره نیسئ چې ځمکه یې په دوو ورځو کې پیدا کړه؟، هغه خو د نړۍ رب دی او (د ځمکې تر موجودیت وروسته) یې پر هغې برسېره غرونه ټینګ کړل، په هغې کې یې برکتونه کښېښودل او د ټولو اړتیا درلودونکو لپاره یې د هغوی له ضرورت سره سم په تاکلې اندازه په هغې کې د خوراک ذخیرې ځای پر ځای کړې، ټول په څلورو ورځو کې، بیا اسمان ته متوجې شو او دی هغه مهال د دود په شکل وو، بیا یې هغه او ځمکې ته وویل: دواړه حکم عملي کړئ، غواړئ او که نه غواړئ. دواړو وویل: موږ په خوښۍ حاضر یو نو یې په دوو ورځو کې اووه اسمانونه جوړ کړل، هر اسمان ته یې د هغه قانون وحې کړ، کښتنی اسمان یې په څراغونو ښایسته او په پوره ډول خوندي کړ. دا ټول د عزیز او علیم الله پلان دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴) د نفسونو او افاقو دوام او نظم یو حقیقت دی چې هیڅکله د یوه ژوندي او دایمي ذات له شتون پرته یې تصور نه شي کېدای، له همدې کبله خالق ژوندی او اداره کوونکی بلکي د ټولو شیانو مدیریت کوونکی هم دی:

اللّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُـذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَـا فِـي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِـهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِـعَ كُرْسِـيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ (البقرة ۲: ۲۵۵)

"الله له ده پرته هیڅ معبود نه شته، ژوندی او د ټولو اداره کوونکی، نه خوب پرې راځي او نه پرکالی، په ځمکه او اسمان کي هر څه د ده دي، څوک دی چې د ده له اجازې پرته د ده په حضور کي د یو چا سپارښتنه وکړي؟، د خلګو مخ او شا ته په هر څه خبر دی او د ده له خوښې پرته د ده د علم پر هیڅ شي هم احاطه نه شي کولای. د ده پاچاهي پر ځمکه او اسمان غوړېدلې او د هغو ساتنه پر ده هیڅ سخته نه ده او دی لوړ دی، د ستر عظمت درلود ونکی."

۵) زمانه څه ده؟ دا د همدغه حي او قیوم خالق د بقا له صفته یو اخیستل شوی تصور دی، له همدې کبله دی اول دی، تر ده وړاندې هیڅ موجود نه وو او اخیر دی، تر ده وروسته هم هیڅ موجود نه شته، دی ظاهر دی تر ده پورته هیڅ نه شته، دی باطن دی تر ده کښته هم هیڅ نه شته، دی په زمان او مکان محدود پدای نه شي البته د ده علم پر زمان او مکان دواړو احاطه کړې ده.

هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (الحدید ۵۷: ۳)

"دی هم اول دی او هم اخیر، هم ظاهر دی او هم باطن او پر هر څه علم درلود ونکی دی."

۶) له صفاتو پرته د ذات تصور هسې خیال دی، په دې اړه چې عموما کومې شخړې را منځ ته شوې ټولې لفظي دي، له همدې امله ټول ښکلي صفتونه لکه پیدایښت، عدالت، رحمت، مهرباني، علم او حکمت د الله د اضافي ښکټو په توګه ده ته ثابت او پر خپلو اثارو وړاندي دي ځکه د یو شي علت تل تر هغه وړاندي وي. له همدې وجې یې ویلي دي چې د دې دنیا تر له منځه تلو وروسته به هم د الله جلال او اکرام په بشپړ ډول پاتي وي:

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ * وَيَبْقَى وَجْـهُ رَبِّـكَ ذُو

"پر ځمکه چې هر څه دي ټول فاني کېدونکي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ* (الرحمن ۵۵: ۲۶، ۲۷)

دي او يوازي ستا د رب جليل او کريم ذات پاتېدونکی دی."

۷) د الهي صفاتو په فهم کي بايد د هغوی د ښکلا او ښېګڼې اړخ ته پام وشي ځکه چې قدرت هغه وخت د ستاينې وړ دی چې له رحمت، کرم او عدالت سره يو ځای وي. د انتقام، قهر او غضب ظهور که هم د ظلم او تېري پر خلاف وي نو د ستاينې وړ دی، رحمت، مغفرت، سخا او کرم هم په خپل ځای کي د ستاينې مستحق دي، په قرآن کي له غني سره د حميد، له عليم سره د حکيم او له عزيز سره د غفور صفات د حسن همدې اړخ ته د لارښوونې لپاره راغلي دي:

وَلِلّهِ الأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُواْ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَآئِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ (الأعراف ۷: ۱۸۰)

"او د الله لپاره صرف ښکلي نومونه دي، دی په هماغو در بولئ او هغه خلک پرېږدئ چې د ده په صفاتو کي کږوالی کوي، دوی چې څه کوي ژر به يې بدله ومومي."

۸) د الله په اړه چې هر تصور خپلېږي له جلال، جمال او کمال څخه خالي نه شي کېدای مثلا الواحد، الاحد او الصمد د کمال صفتونه دي، القدوس، السلام او المؤمن د جمال صفتونه دي او الملک، العزيز او الجبار د جلال صفتونه دي. د جلال صفتونه د انسان په زړه کي د وېرې، تعظيم او ستاينې احساسات پيدا کوي، د جمال صفتونه يې د حمد، هيلې او مينې احساسات پيدا کوي، د جلال صفتونه حواسو ته ډېر ژرګند وي او د جمال صفتونه عقل و زړه ته ډېر نژدې وي. که رب مخ ته کېښود لشي نو د جمالي صفتونو غلبه احساسېږي او که انساني نفس ته پاملرنه وشي نو د جلال اړخ غالب ښکاري، انسان پر همدې بنسټ له الله څخه په وېره د هغه پر لور منډه وهي او د هغه د جمالي صفاتو په لمن کي د پناه اخيستلو هڅه کوي. د رسول الله ﷺ په دعاوو کي د اللهم اعوذ بک منک[۱۶] الفاظ همدا حقيقت بيانوي، دا د هغه بنده دعا ده چې د خپل رب په مينه خمار دی او د ده له استغنا او لويي پرې لړزه راغلې، له ده سره د ليدلو تلوسه لري او د ده د فيصلو په وړاندې يې په پوره ادب سره سر تيټ کړی دی. کله چې قرآن کريم وايي: تول ښکلي نومونه د ده دي، نو د هغه په نزد يې معنا داده چې که هر نوم د الله جلال، جمال او د هغه

[۱۶] اې الله! زه له تا ستا پناه غواړم. مسلم، شمېره: ۱۰۹۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کمال بیانوي هغه ښه دی او الله پرې را بلل کېدای شي:

قُلِ ادْعُواْ اللّهَ أَوِ ادْعُواْ الرَّحْمَـنَ أَيًّـا مَّـا تَدْعُواْ فَلَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى (بني اسرائيل ۱۷: ۱۱۰) "ووایه الله درو بولئ یا رحمان په هر نوم چې یې درو بولئ ټول ښکلي نومونه د ده دي."

امام حمید الدین فراهي د دې بحثونو تر تفصیل وروسته په خپل کتاب القائد الی عیون العقائد کي لیکي:

"... ستاسو په زړه کي باید د رب تصور د یوه داسي ذات تصور وي چې کریم دی، رحیم دی، عفوه کوونکی، تېرېدونکی دی، بخښنه کوي، له بشپړې ښکلا او نرمۍ سره خاندي، موسکا کوي، نرمي کوونکی دی، تر ټولو مهربانو ډېر کریم دی، تر ټولو رحم کوونکو ډېر رحم کوونکی دی، له تا سره مرسته کوي او ستا له دښمنانو انتقام اخلي. دا د دې لپاره چې له هغه ډاډ تر لاسه کړي، د هغه د نژدېکت په لټه شي او د ده له لیدنې سره تلوسه ولري، ته په دې هم پوهېږې چې دی قدوس هم دی او سر تر پایه حق هم، له همدې کبله عقلا ناشونې ده چې هغه د ښه او بد توپیر ونه کړي او یو ناولی، سخت زړی، ظالم، سرکښ، د نېکیو مخ نیوونکی، له حدود و تېرېدونکی، په شک اخته او د حق و خیر پر مخالفت ټینګار کوونکی دي د ده نژدېکت تر لاسه کړي. هو! دی پر خپل هغه بنده رحم کوي او توبه یې منې چې ده ته رجوع کوي او د بدیو په پرېښود و د نېکۍ چلند غوره کوي. وروسته د هغه کامل عظمت او لویي تل یاده ساتي چې د هغه ادب ته پام وشي، د هغه په حضور کي سر ټیټې وي او په دې پوه شي چې هغه نړۍ ته ضرورت نه لري، دی په مخلوقاتو کي هیڅ شي ته اړ نه دی او د چارو په تدبیر کي یې مرتبه ډېره لوړه ده، له دې سره - سره چې د هغه هره پرېکړه سر تر پایه حق او ټوله رحمت ده، د ده مخلوقات دومره پرې پوهېږي څومره چې د هغو لپاره مناسبه وي نو اړینه ده چې د پرېکړو په وړاندې یې سر ټیټ شي او بندګان یې په هر امر او نهې راضي وي." (۴۳)

۹) د الله عظمت د هغه له کاملو صفاتو ښکاري، انسان چې کله د هغه سم تصور تر لاسه کوي نو په نتیجه کي یې پر یوه داسي الله ایمان راوړي چې یو، واحد او بې مثله دی، د ټولو لپاره د پناه مورچل دی، د ځمکې او اسمان او د هغو تر منځ د هر څه یوازینی مالک دی، په پاچاهي کي یې هیڅوک شرکت نه لري، د قدرت په کارخانه کي یې بل هیڅ سیال نه شته، د نړۍ هیڅ شی یې له سترګو پټ نه دی، د دنیا هیڅ معامله یې له حکمه دباندې نه ده او هر څه ده ته محتاج دي خو دی هیڅا ته اړتیا نه لري. جمادات، نباتات او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حیوانات ټول د ده په حضور کې سر پر سجده دي او د ده په تسبیح و تهلیل بوخت دي. د هغه قدرت بې انتها، وسعت یې لا محدود او د ده اراده د کایناتو په ذره -ذره کې پلې ده، دی چې کله او څه شی وغواړي فنا کوي یې او چې کله وغواړي بیا یې پیدا کوي. عزت او ذلت ټول د ده په لاس کې دي، هر څه له منځه ځي، صرف دی باقي دی، دی تر پردو ها خوا دی خو د غاړې تر رګ نژدې دی، د ده علم او قدرت پر هر څه احاطه کړې، ان د زړونو په رازونو پوهیږي، د ده اراده پر هره اراده نافذه ده، حکم یې تر ټولو حکمونو لوړ دی، له هره عیبه پاک، له هرې بدۍ منزه او له هر ډول تور څخه بري دی:

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ * لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ * هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ * هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ * لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الأُمُورُ * يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ * (الحدید ۵۷: ۱ - ۶)

"د ځمکې او اسمان هر شي د الله تسبیحات ویلي او دی پیاوړی د پوره حکمت څښتن دی، د ځمکې او اسمان پاچاهي ده لره ده، دی ژوند او مرګ کوي او پر هر څه قادر دی، دی اول هم دی او اخیر هم، دی ظاهر هم دی او باطن هم او دی په هر څه خبر دی، دی هغه دی چې ځمکه او اسمانونه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا پر عرش مستوي شو، دی په هر هغه څه پوهیږي چې ځمکې ته ځي او ترې راوزي او هغه څه چې له اسمانه کښته کیږي او هغه ته پورته کیږي، تاسو چې هر ځای یاست، دی درسره وي او تاسو چې څه کوئ الله یې وینې، د ځمکې او اسمانونو پاچاهي ده لره ده او ټولې چارې ده ته ور ګرزي، دی شپه په ورځ او ورځ په شپه ننباسي او دی د زړونو په رازونو پوهیږي."

۱۰) د کمال په دې صفاتو کې مهم یې د الله توحید دی، قرآن کریم تر هر څه په ټینګار او وضاحت سره بیان کړی، ان د دې اسماني صحیفې و روستی باب چې د خپل مضمون له مخې پر کوم سورت پای ته رسېدلی په هغه کې هم الله خپل رسول ته لارښوونه کړې چې د خلکو په مخ کې دي ښکاره همدا اعلان وکړي:

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ "(اې رسوله!) اعلان وکړه چې هغه الله یو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّـهُ كُفُـوًا أَحَـدٌ* (سورة الاخلاص) دی، الله د ټولو تکیه ده، دی نه پلار دی نه زوی او نه یې کوم سیال شته."

د انبیاء کرامو د ټولو هڅو هدف د همدې توحید قیام دی، الله چې په قرآن کې د هغوی کوم تاریخ بیان کړی، د هغه هر لفظ د همدې حقیقت شاهدي ورکوي، استاذ امام لیکي:

"... هغوی د دې لپاره دنیا ته راځي چې د الله بندګان د نورو له بندګۍ وژغوري یوازې د الله بندګان ترې جوړ کړي، دوی هماغه خالق وبولي، هغه ته پاچا ووایي، د هغه بندګي وکړي، د هغه تابع شي او پر هغه اعتماد وتوکل وکړي، له ده څخه مرسته وغواړي، د نعمت په ترلاسه کولو یې شکر ادا کړي او که غم پرې راشي نو ده ته فریاد وکړي، هیله وي که وپره، امید وي او که ډار، په هر حال کې یې نظر د هغه پر خوا وي او خپل ځان یې په بشپړ ډول ور سپارلی وي. د دوی مینه د هغه د مینې تابع او خوښه یې د هغه تر خوښې لاندې وي، په ذات، صفاتو او حقوقو کې یې یووالی ومني او له هیڅ لوري په دې شیانو کې یو شی ورسره شریک نه کړي، نه کومه ملایکه، نه کوم نبي، نه کوم پیرۍ، نه کوم ولي، نه بل او نه خپل ذات." (حقیقت شرک و توحید: ۳۱۰)

د توحید همدا اهمیت دی چې له مخې یې قرآن په صراحت ویلي چې له دې پرته د انسان هیڅ عمل د منلو نه دی او له دې سره د هرې غلطۍ د بخښنې هیله شته، لکه چې ویلي یې دي:

إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَـا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا (النساء ۴: ۴۸)

"الله به دا شی ونه بخښي چې (په شعوري ډول) له هغه سره شریک ونیول شي البته تر دې کښته چې کوم څه دي نو د چا لپاره چې وغواړي (له خپل قانون سره سم) به یې وبخښي او (حقیقت دا دی چې) څوک له الله سره شرک وکړي هغه دیوې لویې ګناه افترا کړې ده."

وجه یې داده چې پر توحید له ایمان سره بنده نه پر ګناه زړور کېدای شي او نه یې تر کولو وروسته د توبې او استغفار له توفیق څخه بې برخې کېدای شي، هغه حتما رب ته متوجې کېږي او په دې توګه د قیامت تر ورځې راندې کېدو مخته د خپل ځان لپاره د عفوې او بخښنې استحقاق پیدا کوي. رسول الله ﷺ له همدې کبله ویلي چې د توحید اقرار د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جنت ضمانت دی، الله به خپل هیڅ بنده له دې سره په دوزخ کې وانه چوي.[۱۷]

پر دې د استدلال لپاره همدومره بس ده چې د الله په الوهیت کې د شریک نیولو لپاره هیڅوک دلیل نه لري، قرآن تریوه په ډېرو ځایونو کې له خپلو مخاطبینو غوښتنه کړې چې که یې د عقل او نقل له مخې کوم دلیل وړاندې کولای شئ نو حتما یې وړاندې کړئ، الله شریک لري او که نه؟ د دې لپاره اصلي شاهدي په خپله د هغه کېدای شي او د الله په شاهدي د پوهېدو یوازینی ذریعه د هغه نازل کتابونه او هغه روایات و اثار دي چې د هغه له انبیاوو او رسولانو نسل پر نسل انسانیت ته نقل شوي دي. په هغو کې د شرک د تائید لپاره هیڅ ځای کومه شاهدي موجوده نه ده:

قُلْ أَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ ائْتُونِي بِكِتَابٍ مِّن قَبْلِ هَذَا أَوْ أَثَارَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (الأحقاف ۴۶: ۴)

"له دوی وپوښته ایا تاسو کله پر هغو شیانو غور هم کړی چې تاسو یې له الله پرته لمانځئ؟ ما ته راوښیاست چې هغوی په ځمکه کې څه پیدا کړي او که یې په اسمانونو کې شراکت دی؟ تر دې وړاندې کوم کتاب یا داسي یو اثر راته وړاندې کړئ چې بنسټ یې علم وي که تاسو رښتني یاست."

پر دې سربېره چې په قرآن کریم کې د توحید کوم دلایل راغلي هغه هم ډېر په زړه پورې او د علم و عقل پر منلو شویو معیارونو بنا دي. استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په خپل تفسیر تدبر قرآن کې ځای پر ځای وضاحت کړی دی، موږ به یې د مثال په ډول دلته څو ایاتونه وړاندې کړو. په بقره کې دي:

وَإِلَـهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ * إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاء مِن مَّاء فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا

"ستاسو معبود یو معبود دی، له هغه پرته هیڅ معبود نه شته، دی سراسر رحمت دی، شفقت یې ابدي دی، په دې کې شک نه شته چې د ځمکې او اسمان په جوړښت، د شپې او ورځې په بدلېدو یې په راتګ او د خلګو لپاره په سمندر کې له ګټورو شیانو سره په تګ کوونکو کښتیو او هغو اوبو کې چې الله له

[۱۷] بخاري، شمېره ۵۹۶۷، مسلم، شمېره: ۱۳۶، ۱۳۸، ۱۳۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْـرِيفِ الرِّيَـاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَـيْنَ السَّـمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (البقرة ۲: ۱۶۳، ۱۶۴)

اسمانه را کښته کړي بيا يې پرې مړه ځمکه ژوندۍ کړي او په هغې کې يې هر ډول حيوانات خپاره کړي، د بادونو په حرکت او د اسمان و ځمکې تر منځ د حکم په تابع وربځو کې (په دې حقيقت د پوهېدو لپاره) ډېرې نښې دي، د هغو کسانو لپاره چې له خپله عقله کار اخلي."

" که پر دې ايت له تدبر سره غور وکړو نو دا حقيقت به څرګند شي چې له پيله تر پايه پکې د کايناتو د متقابلو بلکي متضادو اجزاوو او عناصرو حواله ورکول شوي او ورسره هغه حيرانوونکي اتحاد، توافق او د دوی هغې بې جوړې همږغۍ او مناسبت ته اشاره شوې چې په دوی کې د کايناتو د دې مجموعې خدمت لپاره موندل کېږي. که له اسمان سره د ځمکې، له شپې سره د ورځې او له کښتۍ سره د سيند ظاهري مناسبت ته وګورو نو تر منځ يې له يوه بل سره د ضدينو نسبت دی، خو که په لږ ژور نظر وګورو نو معلومه به شي چې که له يوې خوا د ضدينو نسبت لري نو له بلې خوا د دې کايناتو د کورنۍ دريځ له مخې يې تر منځ د جوړې غوندي ربط او تړاو هم لري، که اسمان او د هغه ځلېدونکی لمر او ستوري نه وي نو زمور د ځمکې ټولې رڼاګانې او سپرلي به له منځه ولاړ شي بلکي موجوديت به يې ختم شي. همدارنګه که ځمکه نه وي نو څوک ويلای شي چې د دې فضا له لا متناهي او بې شمېره ستورو او سيارو به يې کوم پاتي شي؟. همدا سي نور، زمور او همدارنګه د دې نړۍ د نورو حيواناتو ژوند چې څرنګه د ورځې تودوخې، رڼا او ځلېدو ته اړتيا لري همدارنګه د شپې سړوالي، نرمي، سکون بخښلو او خوب ته هم احتياج لري. دې دواړو په ګډه دا کور اباد کړی، همدارنګه سمندر ته وګورئ، پراختيا يې څومره حيرانوونکې او بې ساحله ده، څپې يې څومره وېروونکې او ډاروونکې دي، مګر پام وکړئ چې له دې سرکښي او بغاوت سره - سره يې څه ډول پر خپله سينه زمور د کښتيو او بېړيو لپاره بېخي هوار او پاک سړکونه ايستلي چې زمور بېړۍ پرې شپه او ورځ منډې وهي او د سوداګري، اقتصاد، تمدن، ټولنې او علومو و فنونو په هر څه کې د ختيځ او لوېديځ ماڼوګان سره اړيکې لري.

ورپسې له اسمانه د باران او د دې باران په وسيله له سره د ځمکې د بيا سمسورېدو او ابادېدو يادونه ده. غور وکړئ ځمکه چيرې ده او اسمان چيرې دی؟ مګر له دې لرېوالي سره - سره د دواړو تر منځ ژور ربط او اتصال دی، ځمکې په ځان کې د شنه کېدو او ژوند خزانې غلې کړې خو دا ټولې خزانې تر هغه وخته نښې وي څو چې له اسمانه د باران په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نازلېدو هغه را ونه سپړل شي، همدا ترڅو د ورېځو او بادونو تر منځ دی، ورېځو د خپلو کښتيو بادبانونه پرانيستي دي، خو له خپلې ځايه تر هغو يو انچ حرکت هم نه شي کولای چې بادونه يې په ټېل وهلو له خپلې ځايه ونه ښوروي او ټاکلو لورو ته يې پر مخ بونه زي. همدا بادونه دي چې په ختيځ، لوېديځ او شمال و جنوب کې يې پر حرکت راولي او چې کله وغواړي له منځه يې وړي او چې کله وغواړي پرافق يې را څرګندوي.

اوس پوښتنه داده چې د غور او تدبر نظر دې نړۍ پېښو ته پرېکړه کوي؟ ايا د اضدادو او متناقضاتو يوه پټه نړۍ ده چې پکې د مختلفو ارادو او قوتونو شخړې روانې دي؟ او که د يوه حکيم او مدبر اراده پر دې ټولو حاکمه او مسلطه ده چې دا ټول مختلف عناصر د خپل حکمت له مخې د يوه ځانګړي نظام او مجموعي هدف لپاره کاروي؟. څرګنده ده چې د کاينناتو له مشاهدې دويم نظر ثابتېږي، که نور غور وکړئ نو له دې ځايه يوه بله خبره هم راوزي، هغه دا چې نه دنيا په خپله را منځ ته شوې او نه پکې موجوده ارتقا له ځانه پيدا شوې، که داسي وای نو د هغې په مختلفو عناصرو کې د يوه لوړ هدف لپاره هغه توافق چيرې پيدا کېدی چې د دې کاينناتو په هره ګوښه کې موجود دی؟."

(تدبر قرآن ۱/ ۴۰۱)

په بني اسرائيل کې دي:

قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لاَّبْتَغَوْاْ إِلَى ذِي الْعَرْشِ سَبِيلاً

(بني اسرائيل ۱۷: ۴۲)

"(دوی ته) ووايه چې که له ده سره نور معبودان هم وای لکه دا خلګ چې وايي نو د عرش پر څښتن به يې ضرور لار موندلې وه."

"د عربو مشرکينو د دنيا پرپاچاهانو او واکمنيو د قياس په کولو الله د تخت او تاج يعني يو لوی معبود باله او ترده لاندې يې نور معبودان او خدايان هم منل، د هغو په اړه يې ګومان دا وو چې په خدايي کې شريک دي او د خپلو لمانځونکو لپاره د عرش خاوند ته د نژدېکت وسيله هم ګرزي. د هغوی غوښتنې او اړتياوې هم ورڅخه پوره کوي، دا د هغوی د همدې وهم رد دی، ده ويلي: کله الله سره د ده ځينې شريکان او ونډه درلودونکي وای لکه تاسو چې يې ګومان کړی نو هغوی به يوه ورځ نه يوه ورځ ضرور د عرش له څښتن سره د شخړې او دښمنۍ لار پيدا کوله او د ځمکې و اسمان دا ټول نظام به درېږ - وړې کېده. مطلب دا چې تاسو د ځمکې پر کومو پاچاهانو او واکمنيو په قياس دا فکر خپل کړی دی او په هغه کې وينئ چې هره ورځ د حکومتونو نقشې بدلېږي، که له الله

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره هم داسي شريکان، ونډه درلودونکي او حريفان واى نو اخير هغوى ولي چوپ کښېنستل؟، ولي يې د عرش له خاوند سره سيالي نه کوله؟، مګر تاسو دلته وينئ چې نه يوه ورځ لمر له خپله محوره کوږ شو او نه ځمکه له خپله مداره ووتله، همدا حقيقت يې په يوه بل ځاى کي داسي واضح کړى دى: لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللَّهُ لَفَسَدَتَا [18] (که په اسمان او ځمکه کي له الله پرته نور معبودان هم واى نو هغه به فاسد شوي واى.)"

(تدبر قرآن ۴/ ۵۰۸)

په حج کي دي:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ وَمَن يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاء

(الحج ۲۲: ۱۸)

"ايا تا نه دي ليدلي چې په ځمکه او اسمان کي هر څه دي ټول د الله په وړاندي پر سجده دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، ونې، څاروي او ډېر خلک هم او ډېر يې هغه دي چې عذاب پرې لازم شوى او څوک چې الله خوار کړي هغه ته بيا عزت ورکوونکى نه شته ځکه چې الله (له خپل قانون سره سم) څه غواړي کوي يې."

" دا د توحيد هغه دلايل دي چې د کاينناتو هر شى يې په خپل وجود سره شاهدي ورکوي، موږ ... دې حقيقت ته اشاره کړې چې د دې کاينناتو هر شى د خپل تکويني حيثيت له مخې ابراهيمي مزاج لري. لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه او څاروي ټول د الله د امر او حکم له مخې تابع دي، په دوى کي هيڅ شى هم د يوه ويښته په اندازه د الله له تاکلو قوانينو سرغړونه نه کوي، لمر چې ناپوهانو ترې معبود جوړ کړى او تر هرڅه يې ډېر لمانځلى په خپل وجود د دې شاهدي ورکوي چې شپه او ورځ د خپل رب په وړاندي پر قيام، رکوع او سجده دي، د راختلو پر مهال له سجدې سر پورته کوي، تر غرمې د قيام په حالت کي وي، تر زوال وروسته پر رکوع تيتېږي او د غروب پر مهال پر سجده پرېوزي. ټوله شپه د همدې سجدې په حالت کي وي، همدا حقيقت سپوږمۍ د خپل عروج و محاق او ستوري په خپلو ختلو او را لوېدل څرګندوي، د غرونو، ونو او حيواناتو هم دا حالت دى، په هغو کي د هر شي سيورى تل د قيام، رکوع او سجدې په حالت کي وي او که غور

[18] الأنبياء ۲۱: ۲۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وکړئ نو دا حقیقت به هم ولیدل شي چې د سیوري فطرت دا سي ابراهیمي دی چې تل د لمر په مخالف لوري کي وي. که لمر دختیځ لور ته وي نو سیوری د مغرب لور ته غوړېږي او که لمر د لوېدیځ لور ته وي نو د هر شي سیوری به د ختیځ لور ته خپرېږي، ګواکي د هر شي سیوری مور ته په خپل وجود دا خبره را ښیي چې د سجدې اصل لایق لمر نه بلکي د لمر خالق دی.

د توحید دا دلایل د اشارو له ډلې دي، له همدې کبله یې منطق نه شي احاطه کولای، مګر د کایناتو په نظام کي د غور کوونکو په اند دا اشارې ډېر لوړ ارزښت او قدر لري."

آن کس است اهل بشارت که اشارت داند

(تدبر قرآن ۵ / ۲۲۹)

سنن (تګلاره)

الله چې له خپلو بندګانو سره کومه معامله کړې او په څه ډول یې کوي له هغو څخه په قرآن کي په الهي سنت تعبیر شوی، د الله وینا داده چې دا سنن د تغیر وړ نه دي او هیڅکله پکي کوم بدلون نه راځي نو ځرنګه چې د الله د پېژندنې لپاره د هغه د صفاتو علم اړین دی، همدارنګه د الهي سنتو علم هم ضروري دی. مور به یې دلته تفصیل بیان کړو، مګر تر دې وړاندې مناسبه ده چې څو مقدمې د سریزې په توګه توضیح شي. استاذ امام لیکي:

"۱) د فطرت له پیله الله تعالی هر انسان له غوره فطرت سره پیدا کړی دی، هغه ته یې د نېکي او بدي توپیر کولو وړتیا ورکړې او په هغو کي چې هره لار غوره کوي د انتخاب ازادي یې ورکړې، تر دې وروسته د هغه ښه یا بد کېدل د ده په خپل چلند او الهي توفیق پورې اړه لري، که دی د نېکي لارې د غوره کولو هڅه کوي نو الله د نېکو توفیق ورکوي او که پر بده لار تلل غواړي نو که د الله خوښه شي پر بده لار تلو ته یې هم پرېږدي.

۲) الله چې انسان پر کومو شیانو نیسي یا اجر ورکوي د هغو لپاره یې انسان ته د اختیار او ارادې ازادي هم ورکړې ده، کوم کسان چې دا اختیار او اراده نه لري الله له سزا هم خلاص کړي دي، دا اختیار او اراده د انسان شخصي نه ده بلکي الله ورکړې او انسان یې استعمال هم د الله تر ارادې لاندې کوي، الله چې د خپلې ارادې او حکمت له مخې د کومې انساني ارادې پوره کول نه غواړي کولای یې شي، البته که د خپل حکمت له مخې د هغه خپله نېکه اراده پوره نه کړي نو د دې نېکۍ له اجر څخه یې نه بې برخې کوي. همدارنګه که د هغه د بدۍ کومه نقشه د بشپړېدو پړاو ته نه پرېږدي نو معنا یې دا نه ده چې دی یې له اخروي سزا هم حتما سپین کړ.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳) په قرآن کریم کې چې چیرې د الله مطلق اراده بیان شوې د دې معنا یوازې داده چې د هغه اراده له ده پرته بل څوک بندولای او بدلولای نه شي، دا مطلب یې نه دی چې د ده اراده له سره د هیڅ عدالت او حکمت تابع نه ده، الله عادل او حکیم دی، د هغه هیڅ کار هم له عدل او حکمت څخه خالي نه وي، له همدې امله چې یې هر ځای خپله اراده بیان کړې هلته باید د عدل او حکمت د هغه قانون له مخې درک کړای شي چې د هغه له مخې یې د دې دنیا د نظم چلول را منځ ته کړي. دا فکر په هیڅ ډول سم نه دی چې ده په خپله کوم سنت را منځ ته کړی او د عدالت کوم قانون یې خوښ کړی د خپلې ارادې په زور به یې په خپله ماتوي، مثلا د الله دا وینا چې دی چا ته وغواړي هدایتوي یې او چې چا ته وغواړي ګمراه کوي یې د هغې معنا دا نه ده چې د دې هدایت او ضلالت لپاره یې له سره د عدل او حکمت هیڅ قانون نه دی ټاکلی، بلکې معنا یې داده چې دا هدایت او ضلالت له هغه سنت سره سم واقع کېږي چې ده د هدایت او ضلالت لپاره ټاکلی دی او بل هیڅوک د دې سنت د ماتولو او یا بدلولو توان نه لري.

۴) په قرآن کریم کې الله ځینې کارونه ځان ته منسوب کړي مګر لکه څرنګه چې موږ پورته اشاره وکړه هدف یې د هغو کارونو نسبت نه بلکې د هغو اصولو او قوانینو نسبت دی چې له مخې یې دا کارونه را منځ ته کېږي. څرنګه چې هغه اصول او قواعد الله ټاکلي له همدې وجې ځای -ځای الله د هغو له مخې ترسره کېدونکي کارونه هم ځان ته منسوب کړي، مثلا ویلي یې دي: فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ[۱۹] (کله چې دوی کاږه شول نو الله یې زړونه کاږه کړل) او همدارنګه یې ویلي: وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ[۲۰] او موږ د دوی زړونه او سترګې اړوو. په داسي ځایونو کې عموما قرآن کریم هغه اصول هم بیانوي چې له مخې یې دا کار را منځ ته کېږي، مثلا داسي یوه خبره کوي چې الله نه ګمراهان کوي مګر فاسقان، د دې اشاراتو مطلب دا وي چې لوستونکی اصل حقیقت ته متوجې کړي او په ظاهري الفاظو تېر نه وزي.

۵) د الله ازلي، ابدي او پر هر څه محیط علم د هغه له ټاکل شویو سننو څخه د هیڅ سنت نفي نه کوي، په دې کې شک نه شته چې هغه د هر سړي په اړه له ازله په دې پوهېږي چې دی به د هدایت لار غوره کوي او که د ضلالت؟ مګر له دې سره -سره په دې هم پوهېږي چې هدایت او ضلالت به د الله له هغه سنت سره موافق غوره کوي چې ده د هدایت او ضلالت لپاره ټاکلی دی." (تدبر قرآن ۱/ ۱۱۴)

---

[۱۹] الصف ۶۱: ۵

[۲۰] الأنعام ۶: ۱۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له دې سره باید دا دوې خبرې نورې هم واضحې شي:

اول دا چې د الله لورته د ځینو شیانو نسبت له دې وجې هم وي چې هغه علت العلل دی او هیڅ شی د ده له ارادې او اجازې پرته را منځ ته کېدای نه شي او زمونږ لورته په دې وجه منسوبېږي چې مونږ ځینې وختونه په هغو کې د یوه شي وړتیا پیدا کوو لکه چې ویلي یې دي:

وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَـذِهِ مِنْ عِندِكَ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللّهِ فَمَـا لِهَـؤُلاء الْقَـوْمِ لاَ يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا * مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّهِ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولاً وَكَفَى بِاللّهِ شَهِيدًا*

(النساء ۴: ۷۸، ۷۹)

"او که هغوی کومه بریا ترلاسه کوي نو وایي: دا د الله له خوا ده او که کوم زیان ور رسېږي نو وایي: دا ستا له وجې ده، ووایه هر څه د الله له خوا دي (ځکه چې کوم څه کېږي د ده په اجازه کېږي) اخیر په دې خلګو څه شوي دي چې په کومه خبره پوهېدو ته نه تیارېږي؟ دا حقیقت دی چې تا ته هره ښېګڼه رسېږي د الله په فضل درر رسېږي او چې کوم غم رائي هغه ستا د خپل نفس له خوا دی (د هغوی اصلي ناروغي داده چې ستا د رسالت په اړه شکمن دي د هغوی پروا مه کوه) مونږ ته خلګو ته د رسول په توګه ور لېږلی یې او (د دې لپاره) د الله شاهدي کافي ده."

استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په تفسیر کي لیکلي:

"... لومړی یې هغه کسان چې بریا وي یې الله او ناکامي یې رسول الله ﷺ ته منسوبولې مخاطب ګرزولي ویلي یې دي چې اصل حقیقت همدا دی چې د خیر او شر او هر څه ظهور د الله په اراده کېږي، د هغه له حکم او اجازې پرته هیڅ شی هم څرګند بدلای نه شي، مګر د خیر او شر توپیر دا دی چې خیر د الله د رحمت په غوښتنه را منځ ته کېږي او شر د انسان د خپلو کړنو نتیجه وي. له همدې اړخه شر د انسان له خپل نفس سره تړاو لري.

دلته باید دې حقیقت ته پام وشي چې الله مطلق خیر دی، دا دنیا یې د خپل رحمت لپاره جوړه کړې، له همدې وجې د هغه لورته د هر شر نسبت د ده له پاکو صفتونو سره منافي دی. هر څومره شر چې را منځ ته کېږي هغه صرف د انسان له خوا د خپل واک ناسمې کارونې له املې را منځ ته کېږي، الله انسان ته په یوه ځانګړې دایره کي دننه ازادي ورکړې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې دا د الله یو لوی نعمت دی، د انسان ټول شرافت له همدې سره تړلی او له همدې وجې به انسان په اخرت کې د جزا او سزا مستحق بلل کېږي. که انسان دا ازادي نه درلودای نو د حیوان او انسان تر منځ به هیڅ توپي نه وو. مګر د دې ازادۍ په اړه باید دا خبره یاده وساتل شي چې هغه لا محدوده او بې قیده نه ده بلکې لکه څرنګه چې مو اشاره وکړه په یوه خاصه دایره کې محدوده ده او په دې دایره کې هم د الله د ارادې او حکمت تابع ده. د الله له اجازې او ارادې پرته انسان خپله هیڅ اراده پوره کولای نه شي، نېکي ارادې هم د ده په توفیق ورکولو پوره کېږي او بدې ارادې هم د ده له خوا د وخت په ورکولو ترسره کېږي. که الله د چا بده اراده نافذ ولو ته پرېږدي نو له دې وجې الله ته منسوبېږي چې نافذ بدل یې د الله په اجازه او اراده ترسره شوي دي، مګر له بله اړخه د انسان فعل دی ځکه انسان یې په خپله اراده وکړه.

او دا هم یو حقیقت دی چې کله الله د یوه فرد یا ډلې کوم شرته د سر پورته کولو وخت ورکوي نو هغه د دې لپاره وي چې په هغه کې په مجموعي ډول د ده د مخلوق لپاره یو حکمت او مصلحت په پام کې نیول شوی وي، ځینې وختونه دا مهلت د حقپالو لپاره ازموینه وي چې د دوی کمزورۍ له منځه ولاړې شي او ښېګڼې یې ووده وکړي، ځینې وختونه یې هدف د باطل پرپلویانو د حجت پوره کول او د هغوی د پیمانو ډکول وي، ځینې وختونه فطرت په خپله داسي حالات را پیدا کوي چې هدف یې په طبیعت کې د پټو استعدادونو را پورته کول وي، په دې سره نېکۍ هم را پورته کېږي او په چا کې چې پټې بدۍ وي د هغو بدۍ هم." (تدبر قرآن ۳/ ۳۴۴)

دویم دا چې د خیر او شر، ښه او بد حکم د الله له صفاتو سره په توافق او مخالفت پورې تړاو لري. موږ عدل ښه بولو ځکه د الله له صفاتو څخه دی او ښه والي یې پر همدې بنا زموږ په فطرت کې ځای پر ځای شوی دی، په دې کې شک نه شته چې له دې پلوه یې دا حکم زاید دی، مګر له دې سره -سره د تل لپاره دی ځکه چې د الله صفات ابدي دي، په دې صفاتو کې کوم تکر هم نه شته چې یو ځل یو داسي شی وغواړي چې له ده او د ده له صفاتو سره موافق وي او بل ځل د هغه د متناقض شي اراده وکړي هغه په هر حالت کې پر عدالت ولاړ دی:

شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيـزُ الْحَكِيمُ (الأنعام ۳: ۱۸)

"الله، د هغه ملایکو او (په دې دنیا کې) د حقیقي علم ټولو درلودونکو شاهدي ورکړې چې له ده پرته بل معبود نه شته، دی پر انصاف ولاړ دی، له ده پرته هیڅ معبود نه شته، غالب،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ستر حکمت څښتن دی."

استاذ امام لیکي:

" ... الله چې د قایم بالقسط کوم صفت لري دا د ایمان له ډېرو مهمو اجزاوو څخه دی او د اسلام په حقیقت کي تر دې اندازې دخل لري چې ګواکي اسلام له همدې څخه عبارت دی، د هغه همدا اهمیت تقاضا کوي چې په اړه یې د استاذ امام حمید الدین فراهي څو نکتې دلته راوړل شي، د دې لپاره چې کوم کسان د دین په حکمت غور کول غواړي هغوی ترې فایده واخیستلای شي. د مولانا په نزد دا صفت په دې وجوهاتو اهمیت لري:

(یو دا چې) ایمان له امن څخه دی، د دې معنا داده چې اعتماد او اعتقاد یې په فطرت کي داخل دی، له دې څخه دا خبره لازمېږي چې د ایمان لپاره اړینه ده انسان د الله پر وجود کلک باور ولري، مګر دا شی تر هغه وخته حاصلېدای نه شي چې څو دا اعتماد را منځ ته نه شي چې عقل په حقیقت کي د لارښوونې لپاره را منځ ته شوی نه د ګمراه کېدو لپاره یعني دا ومنل شي چې عقل د خپل فطرت له مخې په انسان کي د عدالت یو ترازو دی، بیا دا شی یوه بله نتیجه پیدا کوي چې فطرت د هغه پیدا کوونکي د حق او عدالت پر اصولو را منځ ته کړی ځکه الله په ټولو وجوهاتو، د عدل و قسط خوښوونکی او پر هغه درېدونکی دی. دا ټولي نتیجې عقلا لازمې بلکي له بدیهیاتو څخه دي، له دې معلومېږي چې د یوه شي د حقانیت ثبوت تر هغه وخته ممکن نه دی څو چې د فطرت پیدا کوونکی حق او عدل ونه منل شي. په دې سره به د هغه د ټولو افعالو حقانیت او صداقت هم ثابت شي، لکه څرنګه چې دا شی عقلا لازم دی همدارنګه یې له اخلاقي مسلماتو څخه هم ثبوت چمتو کېدای شي. د دې اجمال تفصیل دادی چې نېکي الله په فطرت کي داخله کړې او په زړونو کي یې د هغې د قبول او د عزت مینه ځای پر ځای کړې، په داسي حالت کي زمونږ لپاره دا څرنګه ممکنه ده چې مونږ په خپله نېکي خوښه کړو او الله د نېکي خوښوونکی ونه ګڼو. مونږ څرنګه د خپلې دې خبر خوښونې پر صحت او حقانیت اطمنان درلودای شو خو د پیدا کوونکي پر خیر خوښونې مو زړه مطمین نه وي؟. مونږ د دې نېکي په کولو له دې وجې خوښي غواړو چې مونږ اطمنان لرو هغه نېکي خوښوي، په ښو صفاتو د هغه متصف کېدل هم پر دې بنسټ دي چې د دې صفاتو د خوښولو په معامله کي مونږ د خپل فطرت پر صحت پوره اعتماد لرو.

دویم دا چې د ایمان اساس د الله مینه ده، مونږ پر یوه داسي معبود ایمان لرو چې له هغه سره مینه کوو، له ده هیله لرو او رضا یې غواړو. دا شی تر هغه وخته ممکن نه دی څو باور ونه کړو چې هغه د ظلم او بې عدالتۍ له هر ډول شائبې څخه پاک دی. دی به خپله

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پېرزوینه پر هغه چا کوي چې د ده اطاعت وکړي او سزا به هغه چا ته ورکوي چې مستحق يې وي، له يوه ظالم او بې انصافه بادار سره مينه ببخي د انساني فطرت خلاف ده.

درېيم دا چې د الله پر نعمتونو او احساناتو د غور په کولو چې په فطرت کې پر الله د ايمان کومه تقاضا را پيدا کېږي د هغې بنياد شکر دی او دا شکر په هغه صورت کې لازمېږي چې کله موږ ومنو دا د نعمت کوونکي حق او د هغه د نعمت کولو تقاضا ده، همدا رازدی چې په قرآن کې شرک، ظلم او ايمان شکر بلل شوی، پر همدې اصولو د ټولو حقوقو د لياقت بنياد د عدل پر وجود ايښودل شوی. دا د شريعت او قانون يو بديهي حقيقت دی، له همدې وجې د هر شريعت اساس او بنياد عدالت دی.

څلورم دا چې د ايمان نتيجه الهي اطاعت دی او د اطاعت نتيجه د الله رضا، الله په هره ګوښه کې په افعالو او د هغو په نتايجو کې په خپل پيدا ايښت، تدبير او خپل امر و حکم دا ټړاو ساتلی او په مختلفو طريقو يې موږ دې حقيقت ته رهبري کړي يو او څرنګه چې موږ د اعمالو پر دې نتيجو پوره باور لرو له همدې املـه د ده پر وعده د باور په کولو د هغه اطاعت کوو، که موږ پر دې ايمان ونه لرو چې الله د خپلې وعدې مخالفت نه شي کولای نو د اعمالو ټول بنياد به له منځه ولاړ شي او بيا به ټول اعتماد په دوو شيانو کې پريوه شي پاتې شي.

يا د نصارا وو په څېر پر دروغجن شفاعت چې د دوی ټول اعتماد پر عيسی عليه السلام دی، له هغه يې د معبود په جوړولو عبادت کوي او تر الله يې ورسره زياته ده او يا به د يهودو په څېر پر بشپړ بغاوت او نتايجو ته پر پام نه کولو. هغوی ځپله ببړی د هوا لوري ته خوشي کړې، د خپل تکبر او حسد له مخې د الله په پرېکړو راضي نه شول، ګواکې د دوی په اند په الهي دربار کې د نېکو او بدو د امتياز لپاره هيڅ قانون نه شته. له دې بې لارۍ د ژغورل کېدو لپاره اړينه ده چې موږ پوره باور ولرو الله پر عدالت ولاړ دی، د هغه هر حکم عدل او هره وعده يې رښتنې ده، لکه چې ده ويلي: وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا[21] "

(تدبر قرآن ۲ / ۵۵)

په همدې رڼا کې نو اوس دا لاندې الهي سنن مطالعه کړئ:

---

[21] ستاسو د رب خبره (د دې خلګو په حق کې) له رښتنولۍ او انصاف سره پوره شوې ده.
(الأنعام ۶: ۱۱۵)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) ابتلاء(ازموینه)

الله دا دنیا د امتحان لپاره پیدا کړې ده، د نړۍ وال الهي قانون له مخې دې امتحان د بشریت پر ټوله نړۍ احاطه کړې، د انسان په طبیعت کې چې څه شی ځای پر ځای شوي هغه په همدې امتحان سره څرګندیږي، د نفس رازونه پرې خلاصیږي او د علم و عمل درجې ورباندې ټاکل کیږي. د قرآن وینا ده چې د مرګ او ژوند دا کارخانه د دې لپاره را منځ ته شوې چې د هغه رب وګوري څوک سرکښي او څوک د ده له خوښې سره سم ژوند تیروي؟. په دې کې شک نه شته چې الله د هر څه علم لري مګر هغه دا سنت ټاکلی چې له خلګو سره به د جزا او سزا معامله صرف د خپل علم پر بنسټ نه کوي، بلکې د خلګو د عمل پر بنسټ به وي. دا امتحان د همدې هدف لپاره را منځ ته شوی:

الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ

"دی هغه دی چې مرګ او ژوند یې پیدا کړل، څو وازمویي چې په تاسو کې څوک ښه عمل کوي او دی پیاوړی هم دی او بخښونکی هم."

(الملک ۶۷: ۲)

په دې دنیا کې چې انسان د تکلیف و راحت غربت و امارت، غم او خوښي له کومو حالتونو سره مخ کیږي هغه د همدې قانون له مخې دي. د دې په وسیله انسان خپل بندګان ازموییي او د دوی کوتاه و کره سره بیلوي. دی ځینې د مال و دولت او عزت و مرتبې په نعمت نازوي نو د هغه د شکر امتحان اخلي؟ او ځینې په فقر او مسکنت اخته کوي نو د هغوی صبر ازموییي.

وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ

"او موږ تاسو په خیر و شر ازمویو د ارزونې لپاره او تاسو به زموږ لورته را ګرزئ."

(الأنبیاء ۲۱: ۳۵)

استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل تفسیر کې یو ځای لیکلي:

"... دی چې چا ته مال او رتبه ورکوي نو د دې لپاره چې وګوري دی د الله د ورکړل شویو نعمتونو په ترلاسه کولو د هغه شکر ایستونکی، خاکسار او امر منونکی بنده ګرزي او که مغرور، متکبر، فخر کوونکی، لویي کوونکی، د غریبانو شړونکی او د الهي نعمتونو اجاره دار، همدارنګه چې پر چا غربت راولي نو د دې لپاره چې ایا هغه پر خپل غربت صبر کوي، پر موجود نعمتونو او اوربشینه ډوډۍ قانع دی؟، پر خپل تقدیر راضي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او خپل فقر خوښ دی که ناهیلی، زړه بدی، بې همته، بې حوصلې، له تقدیره ګیله من، له الله خپله او خوارو ذلیل پاتېږي." (تدبر قرآن ۳ / ۶۰)

د ځمکې دا وسایل هم چې انسان ورباندې عاشق دی د همدې امتحان لپاره چمتو شوي، دا د سوکالۍ وسایل نه بلکې د امتحان وسایل دي چې د انسان مخ ته په اینبودلو یې الله ګوري، د دې په وسیله انسان د خپل رب معرفت تر لاسه کوي او په دې توګه د اخرت بریا و فلاح ته رسېږي او که یې په خوښیو کې په ورکېدو خپله لار غلطوي:

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً (الکهف ۱۸: ۷)

"په ځمکه کې چې څه دي موږ ځمکه پرې ښکلې کړې څو دوی وازمویو چې کوم یو یې ښه عمل کوي؟."

استاذ امام لیکي:

"... دا نړۍ د امتحان ځای دی، په دې کې موږ ګورو چې څوک له خپل عقل او هوښیارتیا څخه په کار اخیستلو د اخرت په لټه دی او څوک د خپلو خواهشاتو په پیروي د دې دنیا لمانځونکی؟. د دې امتحان د تقاضا له مخې موږ دې دنیا پر څېره د حسن او ښکلا یوه تېر ایستونکې پرده غوړولې، د هغې په مال او اولاد، کښتونو او ګلبڼونو، بڼونو او چمنونو، موټرو او مانیو، محلونو او سرایونو، واکمنیو او وزارتونو کې ډېر کشش او جلب دی، خوندونه یې نغدوالی او دستي دي خو تریخوالی یې د پردې شا ته دی. د دې په مقابل کې د اخرت ټولي بریاوې په پور دي او د هغو غوښتونکي باید د دې په خاطر په همدې دنیا کې بې شمېره روح ځپونکي نغد مصیبتونه وزغمي، دا یوه سخته ازمویښته ده او پوره کول یې د هر هوس پالونکي کار نه دی. په دې کې به هغه څوک بریالي کېږي چې بصیرت یې ډېر ژور وي او که دا دنیا د هغه په مخ کې هر څومره وځلېږي مګر دی د زړو مېرونو دا بوډۍ په خپل هر شکل کې یې پېژني او هیڅکله یې د عشق په دام کې په ښکېلېدو د اخرت ابدي نعمتونه نه ورباندې قربانوي" (تدبر قرآن ۴ / ۵۵۸)

همدا د ازمویښې عام قانون دی، په قرآن کې یې یو ځانګړی اړخ دا بیان شوی چې د رسولانو د را لېږلو په پایله کې چې د الله له خوا کومه پربکړه ترسره کېږي په دې کې د ایمان او اسلام دعوه کوونکي له ځینو داسي ازمویښو سره مخ کېږي چې عام خلک په عمومي ډول نه وي ورسره مخ لکه چې ویلي یې دي:

أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ "ایا خلګو ګومان کړی چې یوازې پر دې وینا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لاَ يُفْتَنُونَ * وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ*

(العنکبوت ۲۹: ۲، ۳)

به پرېښودل شي چې موږ (پر رسول) ایمان راوړی او وبه نه ازمویل شي په داسي حال کي چې کوم کسان تر دوی مخته تېر شوي موږ هغوی هم (دغه ډول) ازمویلي، نو الله به هغه کسان بېل کړي چې رښتني دي او دروغجن به هم بېل کړي."

د الله د رسولانو له لوري د حجت تر پوره کولو وروسته دا ازموينې تر عذاب وړاندې د فرق کولو لپاره راځي، په دې اياتونو کي همدا حقيقت د فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ په الفاظو بيان شوی، مطلب دادی چې تر وروستۍ پرېکړې وړاندې له هره پلوه دا خبره واضحه شي چې څوک پر کوم ځای ولاړ دی؟. د قرآن په ځينو نورو ځايونو کي هم دا الهي سنت په همدې ترتيب سره بيان شوی دی، يو ځای يې ويلي دي:

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ*(البقرة ۲: ۱۵۵، ۱۵۶)

"موږ به تاسو حتما په يو څه وپره، يو څه لوږه، يو څه د ځان او مال او يو څه د مېوو په زيان وازمويو او (په دې کي) چې کوم خلک ټينګ شي (اې رسوله) هغوی ته (په دنيا او اخرت دواړو کي د بريا) زېری ورکړه (هغه چې) کوم مصيبت ور ورسېږي نو وايي چې بې شکه موږ د الله يو او موږ به (يوه ورځ) د هغه لورته ور ګرزو."

۲) هدايت او ضلالت

په دې ابتلاء کي له انسانه غوښتنه شوې چې له ګمراهۍ ځان وساتي او ځان ته د هدايت لار غوره کړي، قرآن ويلي: دا هدايت د ده په فطرت کي ځای پر ځای شوی دی او شعوري عمر ته تر رسېدو وروسته يې د ځمکې او اسمان نښې همدې لورته متوجې کوي. که انسان د دې هدايت قدر وکړي له هغه ګټه واخلي او د دې الهي نعمت شکر وباسي نو د الله سنت دادی چې د ده لپاره يې رښا زياتوي، په ده کي د لا هدايت طلب پيدا کوي او په نتيجه کي يې د انبياء عليهم السلام له راوړي هدايت څخه ډکې اخيستلو توان ورکوي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نُورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاء وَيَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (النور ۲۴: ۳۵)

"پر رڼا رڼا، الله چې چا ته وغواړي خپلې رڼا ته يې رهبري کوي (دا يو تمثيل دی) او الله د خلګو د (لارښوونې) لپاره دا تمثيلونه بيانوي، الله په هر څه خبر دی."

وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ (محمد ۴۷: ۱۷)

"او چا چې هدايت مونډلی الله نور هدايت ورکړ او د دوی د تقوا برخه يې هم ورکړې ده."

دا د هدايت پوره کول دي او قرآن په پوره صراحت سره واضحه کړې چې د الله له ارادې پرته يې د يو چا په زړه کې طلب هم نه شي پيدا کېدای، دا اراده له همدې قانون سره تړلې، الله عليم او حکيم دی او دی دا نعمت هغه چا ته ورکوي چې په خپل فطرت کې ځای پر ځای شوی دا هدايت قبلوي.

نَحْنُ خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَا أَمْثَالَهُمْ تَبْدِيلاً * إِنَّ هَذِهِ تَذْكِرَةٌ فَمَن شَاء اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلاً * وَمَا تَشَاؤُونَ إِلاَّ أَن يَشَاء اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا * يُدْخِلُ مَن يَشَاء فِي رَحْمَتِهِ وَالظَّالِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا (الدهر ۷۶: ۲۹-۳۱)

"دا (قرآن) خو يوه يادونه ده، له همدې وجې چې د چا زړه غواړي د خپل رب لارې اختيار کړي او تاسو نه شئ غوښتلای مګر دا چې الله وغواړي، بې شکه الله عليم او حکيم دی او دی چې چا ته وغواړي (د همدې علم او حکمت پر بنسټ يې) خپل رحمت ته داخلوي او د دې ظالمانو لپاره يې يو لوی دردناک عذاب تيار کړی دی."

که انسان له دې فطري هدايته د مخ اړولو پربکړه وکړي، له خپله عقله کار وانه خلي او قصدا له حقه انحراف وکړي نو دا د قرآن په اصطلاح ظلم او فسق دی چې الله هيڅ ظالم او فاسق ته هيڅکله هدايت نه کوي، بلکې د ګمراهۍ په تيارو کې يې لالهانده پرېږدي:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لاَ يَعْقِلُونَ (يونس ۱۰: ۱۰۰)

"او د هيچا لپاره ممکنه نه ده چې د الله له اجازې پرته (پر رسول) ايمان راوړي (دا اجازه هغو ته ورکول کېږي چې له خپله عقله کار واخلي) او څوک چې له عقله کار نه اخلي دی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر هغوی (د ګمراهۍ) مرداري ور اچوي."

د دې نتیجه دا راوزي چې په دې ډول د مجرمینو ضد، ځان غوښتنه او تعصب نور ډېرېږي او په سمه طریقه د فکر کولو له وړتیا محرومېږي، ان د دې جرم په سزا کې یې بالاخره الله پر زړونو ټاپه لګوي:

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ * خَتَمَ اللّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَعَلَى سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عظِيمٌ (البقرة ۲: ۶، ۷)

"کومو کسانو چې (د دې کتاب) نه منلو پرېکړه کړې هغوی ته برابره ده که یې ته خبر کړې او که نه دوی به یې ونه مني، نور الله د دوی پر زړونو (له خپل قانون سره سم) ټاپه لګولې او د دوی پر سترګو پرده ده او (د قیامت په ورځ) د دوی لپاره یو لوی عذاب منتظر دی."

یو بل ځای یې ویلي:

وَأَقْسَمُواْ بِاللّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ إِنَّمَا الآيَاتُ عِندَ اللّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءتْ لاَ يُؤْمِنُونَ* وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُواْ بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ* (الأنعام ۶: ۱۰۹، ۱۱۰)

"او دوی په الله پاخه قسمونه کوي وایي چې که کومه نښه راغله نو دوی به ضرور پرې ایمان راوړي، ورته ووایه نښې خو له الله سره دي او ته څرنګه پوهېږې چې که نښې هم دا اوس راشي نو دوی به ایمان را نه وړي؟ او (د دوی د دې جرم په سزا کې) به یې مو ږ زړونه او نظرونه چپه واړوو لکه څرنګه چې یې اول ځل ایمان را نه ووړ او مو ږ به یې په خپله سرکښي کې لالهانده پرېږدو."

استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په تفسیر کې لیکي:

"... داد هغه الهي سنت بیان دی چې له مخې یې ځینې ایمان راوړي او ځینې تر بې برخې کېږي، په دې کایناتو کې هم او د انسان په خپل وجود کې دننه هم چې د کایناتو خالق کومې ګڼې نښې خپرې کړې، کوم کسان چې پر هغو غور کوي او د دې غور و فکر په نتیجه کې چې کوم بدیهي نتایج ورته څرګندېږي هغه خپلوي نو دوی د ایمان دولت تر لاسه کوي. د دې بر خلاف چې کوم کسان د دې ټولو نښو له لیدلو سره - سره ړانده او کانه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شي او پر خپله ځان خو ښونه تینګ وي، د قرآن او رسول تر بیا -بیا یادونې وروسته هم خپلې سترګې نه پرانیزي نو الله د دوی زړونه او سترګې سرچپه اړوي چې په نتیجه کې یې د سم فکر او نظر له وړتیا بې برخې کېږي او بیا پرې تر ټولو لویه نښه او معجزه هم اثر نه کوي. د الله قانون دادی چې کوم کسان د سیده کتلو پر ځای چپ ګوري او د سیده لارې پر ځای پر چپه لار ځي د هغوی زړونه او فکر هم کږوي، نو بیا د چپ سترګي په څېر هر څه ته له خپلې مخصوصې زاویې ګوري، الله همدې سنت ته په (فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ)[۲۲] کې اشاره کړې ده، دلته یې د همدې معروف الهي سنت په یادولو ویلي: څرنګه باورې کوې چې که دوی ته له خپلې غوښتنې سره سمه معجزه ور ښکاره شي نو ایمان به راوړي؟ بالاخره هغه ټولي نښې چې په افاقو او انفسو کې موجودې دي قرآن ورته په ګوته -ګوته اشاره کړې او د هغو رازونه او دلایل یې واضح کړي دي، نو چې په هغو کې هیڅ شی هم د دوی د زړونو او نظرونو د زاویې په سمولو کې کار نه شي کولای نو اخیر به یوه نوې نښه څرنګه د دوی ماهیت سم کړي؟. نن چې کومې پردې شته سبا به څرنګه لرې شي؟، کوم رونده والی چې نن د لیدلو مانع دی هغه به د نښې څرګندېدو پر مهال چیرته ولاړ شي؟، څرنګه چې تر ننه ټولي نښې دروغ ګڼي همدارنګه به هغه نښې هم دروغ وبولي چې د دوی د زړونو او سترګو کوم بدل ماهیت چې نن وینې همدا بدل ماهیت به هغه وخت هم خپل کار وکړي." (تدبر قرآن ۳ / ۱۴۰)

۳) د وس په اندازه مکلفیت

د انبیاء علیهم السلام په وسیله چې انسانانو ته کوم شریعت ورکړل شوی په هغه کې الله هیڅکله له خپلې خوا داسي حکم نه ورکوي چې د انسان تروس پورته وي، د هغه په ټولو اعمالو کې تل دا معیار موجود دی چې پر خلګو به د هغوی تروس پورته بوج وانه چول شي او هر حکم چې ورکول کېږي، د انسان د فطرت او د هغه د وړتیاوو په تللو به ورکول کېږي ځکه نو په دې شریعت کې پر هېره، تېروتنه، غلط فهمي او بې ارادې خطا هیڅ سزا نه شته او له خلګو څخه یې غوښتنه صرف داده چې په ظاهر او باطن کې له پوره صداقت او ایمانداری سره د هغه احکامو عملي کړي. (لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا)[۲۳] الله پر هیچا د هغه تروس زیات بوج نه اچوي او د دې مضمون نور ایاتونه همدا سنت بیانوي، مګر د دې معنا دا نه ده چې که بنده سرکښي غوره کړي نو هغه وخت به هم هیڅ داسي تکلیف نه ورکوي. له قرآنه

---

[۲۲] الصف ۶۱: ۵

[۲۳] البقرة ۲: ۲۸۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ښکاري چې د تادیب او روزنې[۲۴]، د تعذیب[۲۵] او خلګو ته د هغوی د بدو اعمالو د نتیجو ور ښکارولو[۲۶] یا د الله په وړاندې دوی ته د خپل عجز د ښودلو[۲۷] لپاره یقینا داسې تکلیف ورکول کېږي.

۴) عزل او نصب (ګوښه کول او ګومارل)

تر دې وړاندې چې د ابتلاء کوم قانون بیان شوی څرنګه چې د هغه له مخې الله وګړي د صبر یا شکر د ازموینې لپاره غوره کوي همدا ډول قومونه هم غوره کوي، د دې انتخاب په نتیجه کې چې کله کوم قوم یو ځل سرلوړي تر لاسه کوي نو له هغوی سره د الله معامله تر هغه وخته نه بدلېږي څو چې د علم او اخلاقو له مخې خپل ځان د ذلت کندې ته ونه غورځوي. دا د الله نه بدلېدونکی سنت دی او د خپل دې سنت له مخې چې کله د یو قوم په اړه تر بیا - بیا تنبیهاتو وروسته د هغوی د ذلت او عذاب پرېکړه کوي نو دا پرېکړه یې هیڅ شی نه شي ځنډولای او د دنیا هیڅ طاقت هم د الله په وړاندې له هغه قوم سره مرسته نه شي کولای. ګرد انساني تاریخ د قومونو په عزل او نصب کې د همدې سنت د ظهور شاهدي ورکوي:

إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلاَ مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ (الرعد ۱۳: ۱۱)

" الله له یو قوم سره خپله معامله تر هغه وخته نه بدلوي څو دوی په خپلو اوصافو کې بدلون را نه ولي او کله چې الله د یو قوم د عذاب فیصله وکړي نو د هیڅا ځنډول یې نه شي ځنډولای او د الله په مقابل کې به د دې خلګو هیڅ مرستندوی هم نه وي."

الله ویلي چې دا معامله به د دنیا د هر قوم له خلګو سره وي او په نتیجه کې به یې ځینې قومونه هلاکېږي او ځینې به له سخت عذاب سره مخ کېږي، تاریخ ښیي چې لومړی د دې

---

[۲۴] د بقرې کوم ایت ته چې پورته حواله ورکړل شوې وړاندې پکې دا الفاظ هم راغلي چې اې ربه! پر موږ داسې بوج مه اچوه چې له موږ پر مخکینیو دي اچولی وو.

[۲۵] دا د قرآن عام مضمون دی او ځای پر ځای یې لیدلای شئ.

[۲۶] القلم ۶۸: ۴۲، النساء ۴: ۱۰۰

[۲۷] البقرة ۲: ۲۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کار لپاره د حام او سام اولادونه غوره شول او له تېرو پنځو سوو کلونو څخه او س د دې لپاره د یافث اولادونه غوره شوي دي. دا وروستي قومونه دي چې تاریخ پرې ختمېږي. قرآن وایي چې تر دې وروسته به قیامت راشي:

وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلاَّ نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا كَانَ ذَلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا (بني اسرائيل ۱۷: ۵۸)

"او هیڅ قوم داسې نه دی چې موږ یې تر قیامت وړاندې هلاک نه کړو او یا عذاب ورنه کړو، دا په الهي کتاب کې لیکلي دي."

۵) الهي نصرت

کله چې الله خپل کوم رسالت یوه فرد او یا یوې ډلې ته سپاري او هغوی ته یې د پوره کولو امر کوي نو مرسته یې هم کوي، دا رسالت دعوت هم کېدای شي او جهاد و قتال هم. وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ[۲۸] د مومنانو مرسته پر موږ لازمه وه او د دې مضمون په نورو ایاتونو کې هم دا خبره څو ځایه بیان شوې چې د دا ډول رسالت په پوره کولو کې د مومنانو مرسته الله پر خپل ځان لازمه کړې ده:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ (محمد ۴۷: ۷)

"اې مومنانو! که تاسو د الله مرسته وکړئ نو دی به له تاسو سره مرسته وکړي او پښې به مو ټینګې کړي."

دا مرسته هسې پر اټکل نه وي، دا یو قانون لري او له هغه سره سمه راځي، تفصیلات به یې وروسته موږ د دې کتاب د جهاد قانون تر عنوان لاندې بیان کړو. البته دلته باید دومره خبره واضحه وي چې د دې لپاره تر ټولو اړین شی صبر او تقوا ده. د قرآن وینا ده چې کله د احد په غزوه کې رسول الله ﷺ د مسلمانانو د حوصلې پرځای کولو لپاره هغوی ته امید ورکړ چې الله به د درو زرو فرشتو مرسته درسره وکړي نو الله یې تائید وکړ او په خپله مهرباني یې دوه زره نوري هم ورا ضافه کړې خو له دې سره یې دا صراحت هم وکړ چې د دې وعدې شرط دادی چې مسلمانان به مقاومت کوي او د الله و رسول له نافرمانۍ به ځان ساتي:

[۲۸] الروم ۳۰: ۴۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بَلَى إِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَـذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلافٍ مِّنَ الْمَلآئِكَةِ مُسَوِّمِينَ (آل عمران ۳: ۱۲۵)

"هو! ولي نه كه تاسو صبرو كړئ او له الله وويرېږئ ستاسو دښمن هماغه وخت درباندي راشي نو ستاسو رب به مو په پنځو زرو ملايكو مرسته وكړي چې ځانګړې نښان به پرې لګېدلى وي."

۶) توبه او استغفار

كه انسان كومه ګناه وكړي نو د هغه لپاره د توبې او استغفار فرصفت شته، الهي وينا ده چې ستاسو رب پر خپل ځان رحمت لازم كړى ځكه نو ترګناه وروسته توبه ايستونكو او اصلاح كوونكو ته هيڅكله سزا نه وركوي.[۲۹] په دې معامله كي قاعده داده چې كه هغه تر ګناه وروسته سمدستي توبه وباسي نو الله يې حتما معافوي، خو د هغو خلګو توبه هيڅكله نه قبلوي چې ټول ژوند په ګناهونو كې ډوب وي او چې كله پوه شي مرګ يې پر سر ولاړ دى نو د توبې وظيفه پيلوي. همدارنګه په قصدي ډول له حقه د انكار كوونكو توبه هم نه قبلېږي، كه د مرګ تر مهاله پر همدې انكار پاتي وي. د توبې او استغفار په اړه دا الهي سنت په قرآن كي داسي بيان شوى:

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوَءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُوْلَـئِكَ يَتُوبُ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللّهُ عَلِيماً حَكِيماً * وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّى إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الآنَ وَلاَ الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ أُوْلَـئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا* (النساء ۴: ۱۷، ۱۸)

"پر الله د توبې قبلولو مسئوليت خو د هغو خلګو لپاره دى چې له احساساتو په مغلوبېدو ګناه وكړي، بيا ژر توبه وباسي، همدوى دى چې الله يې توبه قبلوي او الله عليم او حكيم دى. البته د هغو خلګو لپاره هيڅ توبه نه شته چې ګناهونه كوي، ان كله چې په دوى كي پر يوه د مرګ وخت راشي هغه وخت وايي: اوس مي توبه ده، همدارنګه د هغو لپاره هم توبه نه شته چې د مرګ تر شېبې منكر وي، د همدوى لپاره مو دردناكه سزا چمتو كړې ده."

[۲۹] الأنعام ۶: ۵۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۷) جزا او سزا

تر مرګ وروسته جزا او سزا خو یو نه ماتېدونکی حقیقت دی، مګر له قرآنه ښکاري چې ځینې وختونه په دې دنیا کې هم ورکول کېږي. د قیامت په ورځ چې د الله عدالت په انتهایي کامل شکل راتلونکی دی دا د هماغه سریزه ده، د دې لپاره چې الله په بشپړه معلومه طریقه کوم صورتونه بیان کړي هغه دادي:

اول: کوم کسان چې دنیا غواړي، مرګ او ژوند یې د همدې لپاره وي او له اخرته غافل ژوند تېروي، د هغوی حساب چې الله څومره وغواړي په همدې دنیا کې یې ور خلاصوي او د خپلو ټولو اعمالو نتیجه یې همدلته ورکول کېږي.

مَن كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لاَ يُبْخَسُونَ (هود ۱۱: ۱۵)

" څوک چې د دنیا ژوند او د هغې وسایل غواړي موږ یې د اعمالو بدله همدلته ورکوو او په دې کې ورسره هیڅ کمي نه کېږي."

دویم: د رسولانو په وسیله د حجت تر پوره کولو وروسته د هغوی پر منکرینو په همدې دنیا کې عذاب راځي او د منونکو لپاره یې د ځمکې او اسمان د برکتونو دروازې پرانیستل کېږي.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (یونس ۱۰: ۴۷)

" د هر قوم لپاره یو رسول دی، نو کله چې کوم قوم ته د هغوی رسول راځي نو فیصله یې په پوره انصاف سره کېږي او د هغوی پر وګړو هیڅ ظلم نه کېږي."

دا د الله نه بدلېدونکی سنت دی، د نوح، لوط او شعیب علیهم السلام د قومونو، عادیانو، ثمودیانو او دارنګه نورو ملتونو کومې پېښې چې په قرآن کې بیان شوې هغه د همدې پرېکړې داستان دی، په انساني تاریخ کې دا فیصله په وروستي ځل د محمد رسول الله پر قوم راغله او تر دې وروسته د تل لپاره ختمه شوه.

وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّبِيٍّ إِلاَّ أَخَذْنَا أَهْلَهَا

" او موږ چې هر کلي ته کوم نبي د رسول په توګه ور لېږلی د هغه ځای اوسېدونکي مو د ځان او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بِالْبَأْسَاء وَالضَّرَّاء لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ * ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتَّى عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدْ مَسَّ آبَاءنَا الضَّرَّاء وَالسَّرَّاء فَأَخَذْنَاهُم بَغْتَةً وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ * وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ وَلَـكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ* (الأعراف ۷: ۹۴ - ۹۶)

مال په مصیبتونو حتما ازمویلي څو هغوی عاجزي وکړي، بیا مو تکلیف په راحت بدل کړ تردې چې هغوی ښه خوشاله شول او ویې ویل: زمونږ پر پلرونو او نیکونو ښې او بدې ورځې تلې - راتلې چې بالاخره مونا څاپه ونیول او خبر هم نه ول او که د دې کلیو اوسېدونکو ایمان راوړی او تقوا یې اختیار کړې وای نو مونږ به د ځمکې او اسمان د برکتونو دروازې ورته خلاصې کړې وې خو هغوی تکذیب وکړ نو د دوی د کړنو په سزا کې مو ونیول."

درېیم: د ابراهیم علیه السلام له اولادې سره د الله وعده ده چې که دوی پر حق ودرېږي نو د قومونو امامت به ورو سپارل شي او که له دې انحراف وکړي نو له دې مسئولیت څخه په ګوښه کولو به د ذلت او محکومیت په عذاب اخته شي. وَأَوْفُواْ بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ[۳۰] (تاسو زما وعده پوره کړئ زه به له تاسو سره زما وعده پوره کړم) په دې الفاظو چې قرآن له بني اسرائیلو سره د کوم عهد یادونه کړې هغه همدغه ده، د سورت بني اسرائیل په وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا[۳۱] (که تاسو هماغه وکړئ نو مونږ به یې هم وکړو) په تهدید کې همدې لورته اشاره ده. د بایبل پاڼې تر دې بره همدا تفصیلات بیانوي، په سورت البقرة کې یې ویلي:

وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ (البقرة ۲: ۱۲۴)

" او هغه وخت در یاد کړه چې کله ابراهیم د هغه د رب له خوا په څو خبرو وازمویل شو نو ده پوره کړې، ویې ویل: ما پرېکړه کړې چې تا به د خلکو امام ټاکم. ده وویل: او زما له اولادونو څخه؟، هغه ورته وویل: زما دا وعده په دوی کې ظالمانو ته نه رسېږي."

د الله تعالی همدا وعده ده چې پر بنا یې خاص د بني اسرائیلو لپاره ویل شوي:

---

[۳۰] البقرة ۲: ۴۰

[۳۱] بني اسرائیل ۱۷: ۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُواْ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ وَمَا أُنـــزِلَ إِلَيهِم مِّن رَّبِّهِمْ لأَكَلُواْ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَاء مَا يَعْمَلُونَ (المائدة ۵: ۶۶)

"او که دوی تورات او انجیل او هغه څه پلي کړي وای چې د دوی د پروردګار له لوري پرې نازل شوي نو له خپله پورته او خپلو قدمو لاندې به يې رزق تر لاسه کولای (په دې کې شک نه شته چې) په دوی کې يوه ډله هم وه مګر ډېری يې داسې دي چې عمل يې ډېر بد دی."

په استثنا کې دي:

"او که ته ښاغلی د خپل خدای خبره په سر ښندنه ومنې او د ده په ټولو هغو حکمونو چې نن ورځ يې تاسو ته درکوم په احتياط عمل وکړې نو ستا خدای به دې د نړۍ تر ټولو قومونو سرلوړی کړي او که ته ښاغلی د خپل خدای خبره واورې نو پرته به دا ټول برکتونه نازل او در به يې کړي، په ښار کې به هم ته مبارک يې او په کښت کې هم. که ستا د ښمنان پرتا برید وکړي نو الله به يې ستا په مخ کې مات کړي، هغوی به ستا مقابلې ته له يوې لارې راشي، بيا به دې له مخې پرا وو لارو وتښتي او د دنيا ټول قومونه به دا وويني چې ته د ښاغلي په نوم يادېرې له تا به وېرېږي، خدای به تا وروسته نه بلکې سرته ورسوي او ته به ذليل نه بلکې سرلوړی يې، خو که ته داسې ونه کړې چې د خپل خدای د خبرې په اورېدو نن هغه ټول احکام او قوانين چې تا ته يې درکوم په احتياط عمل کړې نو دا ټول لعنتونه به درباندې نازل او تا ته ورسېږي، په ښار کې به هم لعنتي يې او په کښت کې هم. الله به دې د ښمنانو په مخ کې مات کړي، ته به د هغوی مقابلې ته پر يوه لار ورشې او د هغوی له مخې به پرا وو لارو راوتښتې او د دنيا په ټولو سيمو کې به سرګردانه ګرزې."

(۲۸: ۱-۲۵)

پر ملایکو ایمان

الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلآئِكَةِ رُسُلاً أُولِي أَجْنِحَـــةٍ مَّثْنَـــى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاء إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (فاطر ۳۵: ۱)

"خاص الله لره حمد دی، د اسمانو او ځمکې پيدا کوونکی، د هغو فرشتو استازي لېږونکی چې دوه-دوه، درې-درې او څلور-څلور وزرونه لري، دی چې په تخليق کې څه وغواړي زياتوي يې، يقينا الله پر هر څه قدرت لري."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله چې د کومو هستیو په وسیله پر مخلوق خپل احکام نازلوي هغو ته فرشتې ویل کېږي، د دوی لپاره په قرآن کې د الملایکه لفظ راغلی دی، دا د ملک جمع ده او اصل یې ملأک دی چې د پیغام رسوونکي په معنا دی، د عنوان لپاره د سورت فاطر په راوړل شوي ایت کې قرآن په خپله اشاره کړې چې پر هغوی د ملایکو نوم د همدې مفهوم له مخې ایښودل شوی دی. په خپله له قرآنه معلومېږي چې له لاهوتي نړۍ سره د ناسوتي نړۍ رابطه د همدوی په وسیله را منځ ته کېږي او الله د دې نړۍ تهول کاروبار د همدوی په وسیله چلوي، داسې چې دوی ته د الله له لوري کوم حکم رسېږي دوی یې د مطلق محکوم په ټهر د هغه په مخلوقاتو کې پلی کوي. په دې کې د هغوی هیڅ ذاتي اختیار او شخصي اراده نه وي، دوی سر تر پایه امر منونکي دي، تل د خپل رب په حمد او ثنا بوختې وي او د هغه له حکمه د وېښته په اندازه سرغړونه نه کوي:

وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ * يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ* (النحل ۱۶: ۴۹، ۵۰)

"دوی هیڅکله سرکښي نه کوي، له خپل پورته رب څخه وېرېږي او هغه څه کوي چې دوی ته یې امر کېږي."

پر فرشتو چې د کومو وجوهاتو له وجې د ایمان غوښتنه شوې استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل تفسیر کې داسې بیان کړې دي:

"... پر کتاب او رسولانو د ایمان یو نه بېلېدونکی جز پر ملایکو ایمان دی، د ملایکو له منلو پرته د الله او د هغه د نبیانو تر منځ واسطه ناڅرګنده او نا معلومه پاتېږي او په ناڅرګند پاتېدو یې نه یوازې د علم او هدایت د لړۍ یوه ډېره مهمه کړۍ ورکېږي بلکې د اسماني هدایاتو په اړه انساني عقل ته د بې لاریو ډېرې لارې هم پیدا کېږي، دا خبره خو نړۍ همېشه منلې چې الله شته او دا خبره یې هم تل احساس کړې چې کله هغه زموږ مخته له حجاب پرته او مخامخ نه راځي نو پوښتنه پیدا کېږي چې بالاخره هغه ذریعه او واسطه څه ده چې په هغې سره دی خلګ په خپلو احکامو او هدایاتو خبروي، که یې د دې مقصد لپاره خپل ځانګړي بندګان انتخاب کړي وي چې انبیاء او رسولان بلل کېږي نو عیني همدا پوښتنه د دوی په اړه هم پیدا کېږي چې په خپل علم او هدایت د دې نبیانو او رسولانو د خبرولو لپاره کومه وسیله غوره کوي؟ ایا له هغوی سره مخامخ خبرې کوي او که کومه بله وسیله غوره کوي؟. د دې پوښتنې ځواب همدا دی چې د الله او انبیاوو تر منځ د علم واسطه وحې ده چې دی یې د خپلو فرشتو په ځانګړې ډول د خپلې نژدې ملایکې جبریل په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وسپله ور لېږي. فرشتې د الله تر ټولو سپېڅلي او لوړ مخلوقات دي، په دوی کې دا وړتیا شته چې له الله څخه په مستقیم ډول وحې تر لاسه کولای شي، له وحې او رسالت سره د ملایکو د دې ژور تعلق له کبله پر نبیانو او کتابونو د ایمان راوړلو لپاره پر دوی هم ایمان راوړل ضروري دي. هغوی د الله د انبیاوو او رسولانو تر منځ د رسالت دنده تر سره کوي او له دې مخې اړینه ده چې دوی باید یو داسې مخلوق وي چې له لاهوتي او ناسوتي نړۍ دواړو سره یو ډول رابطه درلود ای شي. دوی د خپل نورانیت له امله د الهي انوارو او تجلیاتو وړتیا هم لري او د خپل مخلوقیت له مخې له انسانانو سره هم اړیکه پیدا کولای شي. له دوی پرته بل هیڅ مخلوق تر الله د رسېدو لپاره دا درجه او مقام نه لري، له همدې کبله اړینه ده چې پر انبیاوو او رسولانو له ایمان راوړلو سره -سره پر هغو استازو هم ایمان راوړل شي چې د الله او د هغه د رسولانو تر منځ د رسالت وسپله دي."

(تدبر قرآن ۱ / ۴۲۳)

په قرآن کې چې د دوی کومې دندې او مسئولیتونه یاد شوي هغه دادي:

۱) هغوی د الله په مخلوق کې د ده احکام جاري کوي:

تَنَزَّلُ الْمَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ (القدر ۹۷: ۴)

"په دې (شپه) فرشتې او روح الامین د خپل رب په اجازه له هر حکم سره را کښته کېږي."

۲) لکه څرنګه چې هغوی د احکامو لپاره را کښته کېږي همدارنګه الهي دربار ته د وړاندې کېدو لپاره هم ورپورته کېږي.

تَعْرُجُ الْمَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ (المعارج ۷۰: ۴)

"ملایکې او روح الامین (ستاسو په حساب) پنځوس زره کاله سره برابر یوه ورځ کې د هغه حضور ته رسېږي."

۳) هغوی پر انبیاوو وحې نازلوي:

يُنَزِّلُ الْمَلآئِكَةَ بِالْرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنذِرُواْ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ أَنَاْ فَاتَّقُونِ (النحل ۱۶: ۲)

"په خپلو بندګانو کې چې پر چا وغواړي د خپلې وحې له حکم سره وربانديي فرشتې نازلوي چې خلګو ته خبر ورکړي له ما پرته هیڅ معبود نه شته، له همدې وجې له ما وویرېږئ."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له قرآن څخه ښکاري چې دا وحي په عمومي ډول جبریل امین راوړي، دی په فرشتو کې تر ټولو لوړ رتبه او مقرب دی، الهي دربار ته مستقیم لاس رسی لري، د ده او عرش د څښتن تر منځ بل هیڅ شی حایل نه شي کېدای. په قرآن کې د ځواک څښتن، فرمانبردار او امین هم بلل شوی دی. د دې معنا داده چې ده ته کوم مسئولیت سپارل شوی د هغه لپاره دی ټول ځواکونه او پوره صلاحیتونه لري، له همدې املـه د دې خبرې هیڅ امکان نه شته چې یو بل ځواک یا خبیث روحونه دي هغه په یو ډول تر اغېز لاندې راولي، ودي وېروي، خیانت ته دي چمتو کړي او یا دي په خپله له ده څخه په دې وحي کې ګډ -وډې او نیمګړتیا را منځ ته شي. الله له دا ډول ټولو کمزوریو څخه ساتلی دی، ده ویلي:

عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى * ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَى * وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَى * ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى * فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى * فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى * (النجم ۵۳: ۵-۱۰)

" ده ته د پیاوړي ځواک خاوند او له هره پلوه غښتلي ور ښودلی، هغه مخامخ ودرېد، کله چې په لوړ افق کې وو، بیا را نژدې او راکښته شو تر دې چې د دوو کمانونو برابر یا تر دې هم کمه فاصله پاتې شوه، بیا الله خپل بنده ته هغه وحي وکړه چې د څه شي وحي یې کوله."

۴) هغوی د انسانانو علم او عمل څاري او د عمل په کتاب کې یې خوندي کوي.

وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ * كِرَامًا كَاتِبِينَ * يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ* (الانفطار ۸۲: ۱۰-۱۲)

"په داسې حال کې چې پر تاسو څارونکي ټاکل شوي، ډېر عزتمن لیکونکي، تاسو چې څه کوئ دوی پرې پوهېږي."

۵) هغوی د خلکو لپاره زېرې راوړي او له عذاب سره نازلېږي.

وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُواْ سَلاَمًا قَالَ سَلاَمٌ فَمَا لَبِثَ أَن جَاء بِعِجْلٍ حَنِيذٍ * فَلَمَّا رَأَى أَيْدِيَهُمْ لاَ تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُواْ لاَ تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمِ لُوطٍ* (هود ۱۱: ۶۹، ۷۰)

"او ابراهیم ته زموږ فرشتې له زېرې سره ورغلې ویې ویل: پر تاسو دي سلامتي وي، ابراهیم ځواب ورکړ چې پر تاسو دي هم سلامتي وي، ځنډ نه وو شوی چې ابراهیم (د دوی د مېلمستیا لپاره) کباب شوی سخوندرکی راوړ، نو کله چې یې ولیدل د دوی لاس هغه لور ته نه ور اوږدېږي اجنبیت یې احساس کړ او له هغوی څخه ووېرېد. دوی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وویل: وپرپږه مه! موږ د لوط قوم ته (پر هغوی د عذاب نازلولو لپاره) ورلېږل شوي یو."

د هود سورت له دې ایت څخه ضمنا بنکاري چې فرشتې د انسانانو بڼه خپلوي او له دې سره - سره د دوی په څېر له خوراک و څښاک او نورو اړتیاوو بیا هم پاکې وي.

۶) دوی د الله په تسبیح او تهلیل بوختې وي او د ده په حضور کې د ځمکې د اوسېدونکو لپاره د مغفرت دعا کوي.

وَالْمَلاَئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِي الأَرْضِ أَلاَ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (الشوری ۴۲: ۵)

"او فرشتې د خپل رب له حمد سره د هغه تسبیحات وایي او د ځمکې د اوسېدونکو لپاره (له هغه) مغفرت غواړي، واورئ! بخښونکی او (پر خلکو) همېشه رحم کوونکی خو الله دی."

۷) دوی د خلکو روحونه اخلي.

قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ (السجدة ۳۲: ۱۱)

"ورته ووایه ستاسو روح به د مرګ هغه فرشته واخلي چې درباندې تاکل شوې، بیا به د خپل رب لورته ورستانه شئ."

۸) دوی په دنیا او اخرت دواړو کې د مومنانو ملګرې دي او د مرګ پر مهال هغوی ته د جنت زېری ورکوي.

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلاَئِكَةُ أَلاَّ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ * نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ* (حم السجدة ۴۱: ۳۰، ۳۱)

"کومو کسانو چې وویل: زموږ رب الله دی، بیا پر دې ټینګ شول پر هغوی به (له دې زېرې سره) فرشتې نازلېږي چې مه وپرېږئ، مه غم کوئ او د هغه جنت زېری قبول کړئ چې له تاسو سره یې وعده کېده، موږ د دنیا په ژوند کې هم ستاسو ملګرې وو او د اخرت په دې ژوند کې هم ستاسو ملګرې یو، په دې کې به تاسو ته هر هغه څه درکول شي چې تاسو یې غواړئ او هر هغه څه به درکړل شي چې غوښتنه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې کوو."

۹) په قیامت کې به د الهي دربار پیره کوونکي او د الهي تخت پورته کوونکي وي.

وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ (الزمر ۳۹: ۷۵)

"او ته به فرشتې وویني چې د عرش پر شاوخوا به یې کړي، جوړه کړي او د خپل رب له حمد سره به د هغه تسبیح وایي."

وَالْمَلَكُ عَلَى أَرْجَائِهَا وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ (الحاقة ۶۹: ۱۷)

"او فرشتې به یې پر څنډو (را غونډې) وي او (له هغوی څخه) اتو به ستا د رب عرش پورته کړی وي."

۱۰) د دوزخ نظم او اداره به هم دوی ته سپارل شوې وي.

عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (التحريم ۶۶: ۶)

"پر هغه به توند خویه او سخت دریځي فرشتې تاکلي وي، الله چې ورته کوم امر کوي په عملي کولو کې به یې د ده نافرماني نه کوي او هغه څه به کوي چې دوی ته یې امر وشي."

د قرآن له اشاراتو معلومېږي چې په جنت کې به هم داسې حالت وي.

له دې دندو او مسئولیتونو سره -سره قرآن ځای پر ځای هغه غلط افکار هم رد کړي چې خلګو د فرشتو په اړه درلودل، ویلي یې دي: هغوی هیڅکله د الله لوڼې نه دي لکه دا ناپوهان چې فکر کوي بلکې د ده نژدې بندګان دي، هغوی دا نژدېکت د دې لپاره نه دی تر لاسه کړی چې په زور او اثر یا ناز او عاجزي په الله خپله خبره منلای شي، بلکې د الهي بندګۍ او وفادارۍ په هر معیار د پوره کېدو له وجې یې تر لاسه کړی دی. په دې طریقه د کومې خبرې منل خو یوې خوا ته پرېږدئ، هغوی د الله په مخ کې خبرې هم نه پیلوي او هغه وخت ژبه پرانیزي چې اجازه یې ورکړل شي. بیا چې ترې څه پوښتنه وشي تل یې ځواب د ادب په حدود کې دننه ورکوي او د حق خلاف هیڅ نه وایي، هغوی نه د چا سپارښتنه کولای شي او نه په خپل سر کوم ګام اخیستلای شي بلکې تل حکم ته منتظر او د الله له وېرې په لړزه و ډار کې وي:

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ "دوی وایي: د رحمان اولاد شته (هیڅکله نه)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مُكْرَمُونَ * لاَ يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ * يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يَشْفَعُونَ إِلاَّ لِمَنِ ارْتَضَى وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ * وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِّن دُونِهِ فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ*

(الأنبياء ۲۱: ۲۶ - ۲۹)

هغه پاک دی، بلکي (دا فرشتې خو د ده) مقرب بندګان دي، هیڅکله د ده په حضور کي لومړی خبره نه کوي او په هر حال د ده حکم عملي کوي، دی د هغوی ترشا او مخ په هر څه خبر دی او دوی د هیچا سپارښتنه نه کوي، پرته له هغو چې د هغوی په حق کي د الله خوښه وي او دوی د ده له وېري لرزېږي او په دوی کي چې څوک ووایي: له الله پرته زه هم معبود یم نو موږ به د دوزخ سزا ورکړو، موږ ظالمانو ته همداسي سزا ورکوو."

استاذ امام لیکي:

" ... انساني عقل تل له لاهوتي نړۍ سره د تړاو درلودونکو اړواحو په تجسس بوخت پاتي شوی او دا اړتیا یې په دومره سختي احساس کړې چې که یې په دې پلټنه کي کوم کره شی نه دی ترلاسه کړی نو هر ډول ناسم شی چې په لاس ورغلی د هغه لمن یې نیولې ده. د عربو کاهنانو او ساحرانو پېریانان، شیطانان او غیبي اوازله لاهوتي عالم سره د تعلق ذریعه ګڼله، د هندوستان جوګیانو او منجمینو د ستورو په حرکت کي غیبي اسرار لټول، د چین د مندرونو لمانځونکو د خپلو پلرونو او نیکونو د روحونو په وسیله له غیبي نړۍ سره د تړاو اسباب بلل، قرآن دا ټول وسایل او ذرایع له منځه یو وړل او په دې وسیله ترلاسه شوی علم یې د وچو او لندو مجموعه وبلله او ورسره یې دا حقیقت هم واضح کړ چې د الهي علم د باور وړ ذریعه یوازي ملایکې دي چې انبیاوو ته راځي او الله چې کوم څه ورکړي وي هغه له څه زیادت او نقصان پرته ور رسوي." (تدبر قرآن ۱/ ۴۲۴)

پر انبیاوو ایمان

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ وَالأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا * وَرُسُلاً قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلاً لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا * رُّسُلاً مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الرُّسُلِ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيزًا حَكِيمًا* (النساء ۴: ۱۶۳-۱۶۵)

" (اې رسوله!) موږ پر تا هم هماغسې وحې کړې لکه پر نوح او تر هغه وروسته رسولانو چې مو کړې وه، موږ ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب، د يعقوب اولادې، عيسى، ايوب، يونس، هارون او سليمان ته وحې وکړه او داود ته مو زبور ورکړی وو، هغو رسولانو ته مو هم وحې کړې وه چې وړاندې مو يې درته يادونه کړې او هغو رسولانو ته هم چې تا ته مو يادونه نه ده کړې او له موسى سره خو الله هغسې خبرې وکړې چې څرنګه خبرې کېږي. دا رسول زېرى ورکوونکى او خبروونکى را لېږل شوى، څو تر دې رسولانو وروسته د خلګو لپاره د الله په وړاندې د عذر وړاندې کول پاتې نه شي او الله پياوړى د پوره حکمت څښتن دى."

الله چې د کومو اشخاصو په وسيله انسانانو ته د هدايت رسولو بندوبست کړى هماغوى ته نبي ويل کېږي، هغه هم انسان وو مګر الله د خپل علم او حکمت له مخې دوى دې دندې ته غوره کړل. دا بايد يوه الهي ډالۍ وګڼل شي چې له بشوونې، روزنې، زده کړې او کسب سره هيڅ تعلق نه لري.[۳۲] موسى عليه السلام ته د نبوت ورکولو پېښه په قرآن کې بيان شوې ده، دى له مدين څخه په را ستنېدو د خپلې مېرمنې او ماشومانو په ملتيا د سينا وادي ته ورسېد نو د شپې وخت وو، د لارې هم څه درک نه مالومېده او سړکي هم وه. داسې ښکاري چې ډېر تکليف وو، په همدې وخت کې يوه لورې ته يوه لمبه وليدل شوه، ممکن له موسى عليه السلام پرته چا ليدلې هم نه وي. ده خپلې کورنۍ ته وويل چې تاسو دلته تم شئ ما يوه لمبه غوندې شى ليدلى، زه هلته ورځم يا به د تودبدو لپاره اور راوړم او يا به د هغه ځاى له خلګو د لارې درک مالوم کړم. له همدې وينا سره هغه ځاى ته روان شو نو اواز راغى چې موسى! زه ستا رب يم ځکه نوپايزار وباسه، ته دا مهال د طوى په سپېڅلې ناوه کې يې، ته مې د نبوت او رسالت د دندې لپاره غوره کړى يې ځکه نو چې کومه وحې درته کېږي په پوره توجو يې واوره. قرآن ويلي: تر دې وروسته هغه څه ورو بشودل شول چې ټولو نبيانو ته ورښودل شوي دي.

إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ

" زه الله يم، له ما پرته هيڅ معبود نه شته ځکه نو زما عبادت کوه او د ياد لپاره مې لمونځ

[۳۲] الأنعام ۶: ۱۲۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الصَّلاَةَ لِذِكْرِي * إِنَّ السَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَى * فَلاَ يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لاَ يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَتَرْدَى *

(طه ۲۰: ۱۴ - ۱۶)

قایموه، بې شکه قیامت ضرور راتلونکی دی، زه به یې پټ وساتم. د دې لپاره (راتلونکی دی) چې هر نفس له خپلې هڅې سره سمه بدله ومومي نو داسې څوک چې پر ده ایمان نه لري او په خپلو خواهشاتو پسې وي دي تا له لمانځه بې پروا نه کړي چې هلاک شې."

دا د موسی علیه السلام یو ویاړ دی چې الله ورسره مستقیمې خبرې وکړې، رسول الله ﷺ ته د لومړۍ وحي کیسه د قرآن کریم په نجم سورت کې بیان شوې ده. له دې معلومېږي چې ده ته دا مسئولیت د الله د مقربې فرشتې جبریل امین په واسطه ورکړل شو، د قرآن وینا ده چې پر دې مهال هغه په خپل اصلي شکل افق اعلی کې څرګند شو او رسول الله ﷺ په پرانیستو سترګو ولید. بیا هغه ته د زده کړې ورکولو لپاره ورنژدې شو او لکه څرنګه چې یو شفیق او مهربان استاذ پر خپل ګران او محبوب شاګرد د ډېرې مینې له کبله غوږېږي دی هم هغه ډول پرې وغوږېد او دومره ورنژدې شو چې د دوو لیندیو په اندازه او یا تر دې هم کمه فاصله پاتې شوه او تر دې وروسته یې رسول الله ﷺ ته هغه څه وحي کړل چې ده ته یې لارښوونه شوې وه:

عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى * ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَى * وَهُوَ بِالأُفُقِ الأَعْلَى * ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى * فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى * فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى *

(النجم ۵۳: ۵ - ۱۰)

"ده ته د پیاوړې قوتونو خاوند او د علم و عقل ځواک درلود ونکي ورښودلی، هغه مخامخ ودرېد او هغه مهال پر افق اعلی وو. بیا ور نژدې او ورکښته شو، تر دې چې د دوو لیندیو برابر یا تر دې هم کمه فاصله پاتې شوه. بیا الله خپل بنده ته هغه څه وحي کړل چې وحي کول یې."

هر قوم ته نبیان ورلېږل شوي، الله له ادم علیه السلام سره وعده کړې وه چې د ده د اولاد د لارښوونې لپاره به له خپله لوري هدایت ورلېږي چې انسانانو ته د همدې نبیانو په وسیله ورکړل شو. دوی له اسمانه د وحي په تر لاسه کولو خلګو ته حق بیانا وه، منونکو ته یې د ښه برخلیک زېرى ورکاوه او نه منونکي یې له ناوړه برخلیک څخه وېرول. قرآن یو ځای رسول الله ﷺ ته په خطاب کې ویلي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلاَّ خلاَ فِيهَا نَذِيرٌ(فاطر ۳۵: ۲۴)

" موږ ته له حق سره لېږلی یې، زېرى ورکوونکی او خبروونکی او هیڅ داسې قوم نه شته چې کوم خبروونکی نه وي ورغلی."

د دې انبیاوو په اړه چې په قرآن کې کوم حقایق بیان شوي او پر دوی د ایمان لپاره باید هر سړی ورته پام وکړي، دلته یې له یوه ترتیب سره بیانوو.

د نبوت حقیقت

نبوت څه شی دی؟، دا د الهي خبرو لپاره د یوه شخص انتخاب دی، د دې معنا داده چې الله تعالی کله د دې مسئولیت لپاره له خپلو بندګانو یو څوک غوره کوي نو له هغه سره خبرې کوي، قرآن ویلي چې انسانانو ته تل دا ویاړ په دوو طریقو ورکول شوی دی:

یو د عامو خبرو په وسیله چې د پردې له شا وي په دې کي بنده اواز اوري خو خبرې کوونکی نه وینې، له موسی علیه السلام سره همداسې وشول. د طور په لمن کي ناڅاپه له یوې ونې د یوه اواز را تګ پیل شو خو خبرې کوونکی یې نه لیدی.[۳۳]

دویم د وحي په ذریعه د یو چا په زړه کي الفاظ وراچول دي. دا هم دوه صورته لري اول دا چې الله مستقیما د نبي په زړه کي خپله خبره واچوي، دویم دا چې ملایکه ورولېږي او د هغې له خوا د نبي زړه ته خبره ورسوي. دا معامله په خوب او بیداري دواړو کي را منځ ته کېدلای شي، هغه ته چې په دې وحې کي کوم څه ویل کېږي ځینې وختونه یې په خوب کي تمثیل هم وشي، پر رسول الله ﷺ چې د دې نزول کوم حالات په روایاتو کي بیان شوي له هغو ښکاري چې د وحې په سخت شکل کي به لومړی د ګېنټې په څېر اواز پیدا کېده، ان د سختې یخنۍ په موسم کي به هم خولې وربانديې را ماتې شوې.[۳۴] خو تر دې وړاندې یې حقیقت څه دی؟ د قرآن وینا ده چې په دې پوهېدل د انسان له علمي حدودو وتلې خبره ده، لکه چې وایي:

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّن الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً

" او دوی له تا د روح (وحي) په اړه پوښتي، ورته ووایه! روح زما د رب له امره دی او تاسو

---

[۳۳] القصص ۲۸: ۲۹، ۳۰

[۳۴] بخاري، شمېره: ۲ ، مسلم شمېره: ۶۰۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(بني اسرائیل ۱۷: ۸۵) ته د علم ډېره وړه برخه درکول شوې."

څرنګه چې پر انبیاوو دا وحې د هغوی له غوښتنې او هیلې پرته د الله له خوا راځي ځکه یې نو د صحت په اړه هیڅ شک نه درلود، مګر د هغوی د زړه ډاډمنولو لپاره الله وخت پر وخت ځینې غیر عادي مشاهدې هم ورباندې کولې. له بیت الحرام څخه تر مسجد اقصی د سفر د کوم خوب یادونه چې په قرآن کې شوې هغه د همدې یو مثال دی.[۳۵] دا ډول لیدنې په وېښه هم ترسره کېږي، دې ته ورته یوه لیدنه په قرآن کې داسې بیان شوې:

وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى * عِندَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى * عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَى * إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى * مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى * لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى* (النجم ۵۳: ۱۳-۱۸)

"او ده یو ځل بیا هغه له سدرة المنتهی سره پر نازلېدو ولید چې په خوا کې یې جنت المأوی دی، هغه مهال پر سدره هغه څه غوړېدلي ول چې پرې غوړېدلي ول، سترګې نه تېروتې او نه تر حد تېرې شوې (په دې توګه) ده د خپل رب لویې -لویې نښې ولیدې."

له انبیاء کرامو سره د الهي خبرو دا طریقه قرآن په یوځای کې بیان کړې ویلې یې دي:

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلاَّ وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاء إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ (الشوری ۴۲: ۵۱)

"او د هیڅ بشر دا مقام نه شته چې الله ورسره خبرې وکړي، مګر د وحې په وسیله یا د پردې شا ته، یا کومه ملایکه ورولېږي او د الله په اجازه چې هغه څه غواړي ورته وحې یې کړي، دی ډېر لوړ او د ستر حکمت څښتن دی."

د ایت له الفاظو ښکاري چې د نبي زړه ته د دې خبرو رسول صرف د فکر او خیال په بڼه نه وي بلکې د کلام په شکل وي چې دی یې اوري، پرې پوهېږي او خوندي کوي یې هم. البته الفاظ او اسلوب یې په عمومي ډول هغسې غوره کېږي چې د رسول په علمي خزانه کې له ورځې موجود وي څو د ده لپاره د نه فهم وړ او نا اشنا و نه ګرزي. د همدې نتیجه ده چې د انبیاء علیهم السلام د حالاتو، پېښو او د دوی د استعداد و صلاحیت له مخې یې په

[۳۵] بني اسرائیل ۱۷: ۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وحې کي هم د لفظ او معنا دواړو له پلوه بې ساری توپیر واقع کېږي.

د نبي اړتیا

لکه څرنګه چې انسان ته دا وړتیا ورکول شوې چې د تمثیل او استقراء په وسیله استنباط کوي، له جزیاتو کلیات جوړوي، بیا له هغو پر جزیاتو حکم کوي، له بدیهیاتو نظریاتو ته رسېږي او نامحسوس پر محسوس قیاسوي، همدارنګه دا صلاحیت هم ورکول شوی چې د خیر او شر ترمنځ توپیر کوي او نېکي و بدي سره بېلوي، بلکي تر دې ور هاخوا د خپل رب د پېژندنې او د هغه د عدالت له شعوره هم خالي نه دی. د انسان په اړه دا حقایق مو وړاندي بیان کړي، له همدې کبله د نبي اړتیا د دې لپاره نه ده چې انسان په دې شیانو خبر کړي. دا ټول شیان د ده د تخلیق برخه او د پیدایښت له لومړنۍ ورځې یې په فطرت کي ځای پر ځای شوي دي. د قرآن کوم ایت چې مو په عنوان کي راوړی له هغه څخه ښکاري چې دا اړتیا په دې شیانو د خبرولو لپاره نه بلکي له دوو وجوه ده. لومړی د هدایت پوره کولو لپاره یعني د انسان په فطرت کي چې په اجمالي ډول څه شی ځای پر ځای شوي او په څه شي تل پوهېږي هغه وریاد شي او له اړینو تفصیلاتو سره ورته په بشپړ ډول څرګند کړای شي:

وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ (سورة الأنبياء ٢١: ٧٣)

"او دا (نبیان) مو امامان کړل چې زمونږ له هدایت سره سم یې خلک رهبري کول او د وحې په وسیله مو ورته د نېکو کارونو، لمانځه د اقامې او زکات ادا کولو لارښوونه وکړه او دوی خاص زمونږ عبادت کوونکي ول."

دویم د حجت پوره کولو لپاره، یعني انسان له غفلته را بیدار شي او د علم و عقل تر شاهدي وروسته د دې نبیانو په وسیله دویمه شاهدي هم ورته وړاندي شي چې حق پوره واضح شي او دوی هیڅ عذر ونه لري.

يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَـٰذَا قَالُواْ شَهِدْنَا عَلَى أَنفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ

"اې د پېریانو او انسانانو ډلې! ایا تاسو ته له تاسو هغه رسولان نه وو راغلي چې تاسو ته یې زما ایاتونه اورول او د دې ورځې له لیدنې یې خبرولئ، دوئ به ووایي: هو! مونږ د ځان پر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُواْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُواْ كَافِرِينَ * ذَلِكَ أَن لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَى بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا غَافِلُونَ* (الأنعام ۶: ۱۳۰، ۱۳۱)

خلاف په خپله شاهدي ورکوو او دوی د دنیا ژوند تېر ایستل او د خپل ځان پر خلاف یې شاهدي ورکړه چې بې شکه دوی په کفر اخته دي، دا د دې لپاره چې ستا رب کلي د هغوی د ظلم په ځواب کې تر هغو نه هلاکوي چې اوسېدونکي یې له حقیقت څخه ناخبره وي."

د نبي پېژندنه

د نبي شخصیت د انسانیت کامل ظهور او دعوت یې د انسان پر فطرت بنا وي، د ټولو ښېګڼو سرچینه دوه شیان دي یو د الله یاد او دویم له بې وزلو سره خواخوږي. نبي په خپله هم دې شیانو ته پام کاوه او نورې هم ورته را بلل، دوی چې خلګو ته څه وایي د عقل او بصیرت له اخیري معیار سره سم وي او د هغو شیانو په اړه ورته ږغېږي چې یا انسان تر غافل وي او یا یې هېروي. د دوی د نبوت تر شا د زده کړې او فکر هیڅ شالید هم نه وي، له همدې امله یې په پېژندنه کې د سالم فطرت خاوند هیڅ مشکل نه لري. که د انسان زړه او دماغ بیدار وي نو روی و او از پیامبر معجزه است:

قُل لَّوْ شَاء اللّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلاَ أَدْرَاكُم بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ (یونس ۱۰: ۱۶)

" ووایه! که الله غوښتلای ما به نه دا قرآن درته اوراوه او نه به مې پرې خبرولئ (دا د هغه پرېکړه ده) ځکه ما خو تر دې وړاندې په تاسو کې ډېر عمر تېر کړی ایا تاسو له عقله کار نه اخلئ؟."

مګر له دې سره -سره الله هغوی ته داسي بینات هم ورکوي چې که څه هم متعصبین یې په ژبه نه منې، خو د دوی لپاره د هغوی پر صداقت له باور پرته بله لار هم نه پاتېږي. د رسول الله ﷺ په زمانه کې د موجود و اهل کتابو په اړه قرآن پر همدې بنسټ یو ځای ویلي چې په دوی کې به هر یو تر مرګ وړاندې ومنې چې د رسول خبره حق وه.[۳۶] له قرآنه ښکاري چې دا بینات یا ښکاره دلایل هر نبي ته د هغه له زمانې او حالاتو سره سم ورکول کېږي، ځینې به یې دلته یاد کړو.

[۳۶] النساء ۴: ۱۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) نبي عموما ترځان د وړاندينې نبي له وړاندوينې سره سم او د هغې د مصداق په توګه رائي، له همدې وجې څه نا اشنا شخصيت نه وي، خلګ يې هم پېژني او هم ورته منتظر وي. د عيسى عليه السلام په اړه صراحت شته چې يحى عليه السلام د هغه تر بعثت وړاندې په يروشلم يا بيت المقدس کې د ده اعلان کړی وو.[۳۷] د رسول الله ﷺ زېرى خو په تورات او انجيل دواړو کې بيان شوى دى.[۳۸] بلکې د عيسى عليه السلام د نبوت له اهدافو يو لوى هدف دا بيان شوى چې د امي نبي د زېرې لپاره راغلى وو.[۳۹] قرآن دا د خپلې رښتونلۍ لپاره د يوه قاطع دليل په توګه وړاندې کړى چې د بني اسرائيلو علماء دى هغسې پېژني لکه يو پلار چې خپل مسافر زوى پېژني.[۴۰] د دې معنا داوه چې دوى رسول الله هم ښه پېژندى.

وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ * نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ * عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ * بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ * وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ * أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ*

(الشعراء ۲۶: ۱۹۲-۱۹۷)

"او دا له ډېرې پاملرنې سره د نړۍ والو د رب له لورې نازل شوى دى، روح الامين راوړى ستا پر زړه يې نازل کړى څو ته د خلګو وېرووونکى شې، په ښکاره عربي ژبه او د دې يادونه د مخکينيو په صحيفو کې هم شته، ايا د دوى لپاره دا نښه کافي نه ده چې د بني اسرائيلو علماء يې پېژني؟."

۲) نبي چې د الله له لورې او د الهي کلام په توګه څه وړاندې کوي په هغه کې هيڅ تضاد او مخالفت نه وي، د نړۍ د وروستۍ درجې هر ستر عالم دا نو که سقراط وي او که اپلاتون، کانټ وي او که آين سټاين، غالب وي او که اقبال، رازي وي او که زمخشري، د خپلو تخليقاتو يا پنځونو په اړه داسې دعوه نه شي کولای مګر قرآن د خپل ځان په اړه همداسې ويلي او په پوره زور سره يې اعلان کړى چې په دې کې د فکر او خيال ادنى تناقض هم پيدا کېدای نه شي. ايا په نړۍ کې يو داسې انسان هم موجود ښای شي چې تر کلونو -کلونو په مختلفو حالاتو او بېلابېلو فرصتونو کې پر دا ډول رنګارنګ موضوعاتو ويناوې وکړي او له پيله تر پايه چې کله د هغه دا ټولې ويناوې را غونډې شي

[۳۷] آل عمران ۳: ۳۹
[۳۸] الأعراف ۷: ۱۵۷
[۳۹] الصف ۶۱: ۶
[۴۰] الأنعام ۶: ۲۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نو د یوه داسي همږغي او موافق کلام د مجموعې بڼه خپله کړي چې نه پکې د خیالاتو کوم ټکر وي، نه پکې د خبرې کوونکي د زړه او دماغ د پیدا کېدونکو حالاتو کوم څرک ولیدل شي او نه یې د رایې و نظر د بدلون کوم اثار ولیدل شي؟. دا یوازې د قرآن ځانګړتیا ده:

أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيرًا (النساء ۴: ۸۲)

"او ایا دا خلک پر قرآن غور نه کوي؟ که له الله پرته د بل چا له لوري وای نو ډېر تضادات به پکې موندل کېدل."

استاذ امام لیکي:

"... د قرآن هره خبره په خپلو اصولو او فروعو کې د ومره پیاوړې او له یوه بل سره پیوند ده چې د ریاضي او اقلیدوس فارمولې هم د ومره پیاوړې او پیوندې نه شي کېدای. د هغه ښودل شوي عقاید له یوه-بل سره د ومره ټرلي دي چې که یو هم ترې لرې کړئ نو ټوله لړۍ یې ټوټه-ټوټه کېږي، هغه چې د کومو عباداتو او اطاعاتو امر کوي له عقاید و داسي راپیدا کېږي لکه له تنې چې څانګې را ټوکېږي، هغه چې د کومو اعمالو او اخلاقو سپارښتنه کوي، نو له خپلو اصولو داسي څرګندېږي لکه له یوه شي څخه چې د هغه طبعي او فطري لوازم را پیدا کېږي او د هغه له مجموعي لارښوونو څخه د ژوند جوړېدونکی نظام د یوه بنیان مرصوص په بڼه څرګندېږي او هره خښته یې له بلې خښتې سره داسي مښتې وي چې له یوې-بلې څخه بېلول یې په ټوله ودانۍ کې د خلا یا تشې له پیدا کېدو پرته امکان نه لري." (تدبر قرآن ۲ / ۳۴۷)

۳) نبي ته الله معجزې او خوارق ورکوي، موسی او عیسی علیهما السلام ته چې کومې بېړۍ سارې معجزې ورکول شوې د هغو په اړه په خپله قرآن صراحت کړی چې هغه پر کوم شي د دلالت لپاره ورکول شوې وې یو له هغو څخه د دې نبیانو رسالت هم وو. د موسی علیه السلام د لکړې او ځلېدونکي لاس تر یادولو وروسته یې ویلي:

فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ (القصص ۲۸: ۳۲)

"نو دا فرعون او د هغه مشرانو ته د ورتلو لپاره دوې څرګندې نښې دي، په دې کې شک نه شته چې هغوی نافرمانه خلک دي."

دا معجزې یو څوک د سحر او ساحري او یا علم و فن په کمال بللو نه شي ردولای، ځکه د دا ډول علومو او فنونو په حقیقت د هغو تر ماهرینو بل څوک بښه نه شي پوهېدلای

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خو هغوی یې هم په وړاندې د بې وسۍ اعتراف ته مجبورېږي. پورته چې د موسی علیه السلام کومې دوې معجزې یادې شوې د هغو د اثر ختمولو لپاره فرعون همدا ازموینه وکړه، د قرآن وینا ده چې ده د هیواد ټولو برخو ته خپل مامورین ولېږل، جادوګریې را وبلل او د مېلې په ورځ یې مقابلې ته وړاندې کړل. ده دا هر څه د فتحې په هیله وکړل، مګر پېښه داسې شوه چې کله جادوګرو د موسی علیه السلام لکړه د خپل طلسم پر خوړلو ولیده نو بې واکه پر سجده پرېوتل او اعلان یې وکړ چې د موسی او هارون پر رب یې ایمان راوړی دی، څرنګه چې دا ایمان د سر په سترګو د حقیقت له لیدو را پیدا شوی وو له همدې کبله دومره پیاوړی وو چې کله فرعون هغوی ته په بې ترتیبه ډول د هغوی د پښو او لاسونو غوڅولو ګواښنه وکړه او ورته ویې ویل چې په عام محضر کې به یې د خورما پر تنو وځړوي نو هغو ساحرانو چې څو شېبې وړاندې یې په ډېرو زاریو ورځخه د ډالیو غوښتنې کولې[41] وویل چې د سپوږمۍ او جهاني لمر د رڼا تر پردې توپیر لیدلو وروسته موږ د هیڅ شي پروا نه لرو.

قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا * إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى*(طه ۲۰: ۷۲، ۷۳)

"دوی ځواب ورکړ: موږ به تر هغو څرګند و ننبسو چې راته راغلې او تر هغه ذات چې موږ یې پیدا کړي یو تا ته ترجیح درنه کړو، ته چې څه غواړې وییې کړه، ته صرف د دې دنیا د ژوند فیصله کولای شې، موږ خو پر خپل رب ایمان راوړی څو مو خطاوې را وبخښي او له هغې جادوګرۍ څخه را تېر شي چې تا ورته مجبور کړي وو. صرف الله غوره او پاتېدونکی دی."

رسول الله ﷺ ته چې په دې توګه کومه معجزه ورکول شوې هغه قرآن دی، د عربي ژبې د بلاغت له اسلوبو او علم و ادب له دود سره اشنا د ادبي ذوق درلودونکي چې یې کله لولي نو په ښکاره ډول احساسوي چې دا هیڅکله د یوه انسان کلام نه شي کېدای ځکه یې نو په ګنو ځایونو کې خپل مخاطبین ننګولي چې که دوی په خپل دې ګومان کې رښتني وي چې دا د الله کلام نه دی بلکې محمد له ځانه جوړ کړی نو د دې کلام په څېر یو سورت دي وړاندې کړي، که د دوی له وینا سره سم یې د قوم یو فرد له څه علمي او ادبي شالید پرته

[41] الأعراف ۷: ۱۱۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا کار کولای شي نو هغه هم باید په دې کي څه ځنډ ونه کړي.

د قرآن دا دعوه ډېره حیرانوونکې وه، د دې معنا دا وه چې قرآن یو داسي کلام دی چې د هغه په څېر د یوه کلام تخلیق د انساني ذهن لپاره ممکن نه دی، دا د فصاحت او بلاغت او غوره بیان له مخې د قرآن د بې سارې ځانګړتیا دعوه وه. دا د دې خبرې اعلان وو چې دوی دي هغه ډول یو کلام وړاندي کړي چې پکي د قرآن په څېر الله پر خبرو کولو ولیدل شي. هغه حقایق واضح کړي چې وضاحت یې د انسان سخته اړتیا ده او هیڅ انساني کلام هیڅکله واضح کړي نه دي، په هغو معاملاتو کي لارښوونه وکړي چې د لارښوونې لپاره یې بله ذریعه موجوده نه وي، یو داسي کلام چې د حقانیت په اړه یې وجدان شاهدي ورکړي د علم او عقل منل شوي معیار ونه یې تصدیق وکړي، ویجاړ شوي زړونه داسي خړوب کړي لکه مړه ځمکه چې په باران خړوبېږي او هغه اغېز او تاثیر ولري چې که د قرآن لوستونکی یې په ژبه خبر وي نو د هغه په هر لفظ کي یې احساس کړي.

تاریخ وایي چې د قرآن په مخاطبینو کي هیڅا هم له دې ننګونې سره د ډغرې وهلو جرأت ونه کړای شو، الهي وینا ده:

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنتُمْ صَادِقِينَ * فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ* (البقرة ۲: ۲۳، ۲۴)

"او موږ چې پر خپل بنده څه نازل کړي که یې تاسو په اړه شک لرئ نو (ورشئ او) د هغه په څېر یو سورت راوړی او (د دې لپاره) له الله پرته خپل مرستندویان هم را وبولئ، که تاسو (په خپل دې ګومان کي) رښتني یاست، که مو ونه کړای شول او هیڅکله به یې ونه کړئ نو له هغه اوره ووېرېږئ چې سون تو کي به یې دا (نه منونکي) خلګ هم وي او د دوی هغه ډبرې هم (چې دوی یې عبادت کوي) او د همدې منکرینو لپاره تیار شوی دی."

د الله دا کتاب له موږ سره اوس هم موجود دی، پر دې زیات و کم څورلس پېړۍ تېري شوې دي او په دې موده کي نړۍ له کومه ځایه کوم ځای ته رسېدلې؟ انسانانو د فکر او خیال څومره بټان وتراشل او بیا یې په خپله مات کړل؟، د انفسو او افاقو په اړه د انسان په نظریاتو کي څومره بدلونونه راغلل او د منلو و پرېښوولو څومره پراوونه یې ووهل، پر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کومو لارو تېر شو او بالاخره ترکومه ورسېد؟ مګر دا کتاب چې پکې هغه څه هم بیان شوي چې په دې تېرو دوو پېړیو کې د علم او ټېکنالوژۍ موضوعات دي، د نړۍ په ټولو اثارو کې یوازینی کتاب دی چې دا مهال هم هغه ډول پیاوړی او محکم دی لکه له نن څخه څو رلس پېړۍ وړاندې چې وو. لکه څرنګه چې یې علم او عقل هغه مهال په وړاندې د بې وسۍ اعتراف ته مجبور وو هماغسې نن هم دي، د ده هر بیان نن هم په پوره لوړتیا سره پر خپل ځای ټینګ دی، نړۍ له خپلو حیرانوونکو علمي موندنو سره -سره په هغه کې د هیڅ ترمیم او بدلون لپاره امکان نه شي پیدا کولای:

وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا (بني اسرائيل ۱۷: ۱۰۵)

"او موږ دا له حق سره نازل کړی او په حق سره نازل شوی او (اې رسوله!) موږ ته صرف د دې لپاره ور لېږلی یې (چې منونکو ته) زېری ورکړې او (څوک چې انکار وکړي) هغوی خبر کړې."

۴) الله نبي په ځینو داسي غیبي شیانو خبروي چې پرې پوهېدل انسان ته ممکن نه وي یو مثال یې د الهي وحې هغه وړاندوینې دي چې په حیرانوونکي ډول رښتیا شوې، د هغو ځینې یې په قرآن او ځینې یې په روایاتو کې دي. په عربي خاوره کې د رسول الله ﷺ بریا، د مکې فتح او د الله دین ته د ډلو -ډلو خلکو راتګ په وړاندوینه د قرآن هرزده کوونکی خبر دی. له ایرانیانو ترماتې وروسته د رومیانو د بیا بریا وړاندوینه هم بې ساري وه چې په قرآن کې داسي بیان شوې:

غُلِبَتِ الرُّومُ * فِي أَدْنَى الأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ * فِي بِضْعِ سِنِينَ لِلَّهِ الأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاء وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ * وَعْدَ اللَّهِ لاَ يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ* (الروم ۳۰: ۲-۶)

"رومیان په نژدې سیمه کې مغلوب شول او تر خپل دې مغلوبیت وروسته به په څو کاله کې غالب شي، خاص د الله په امر شوي هغه چې وړاندې ول او هغه چې وروسته به ترسره شي، هم به د الله په امر کېږي او هغه ورځ به مسلمانان د الله په امر خوشاله وي، دی چې چا ته وغواړي ورسره مرسته کوي او دی پیاوړی دی، د ده شفقت ابدي دی، دا د الله وعده ده او الله هیڅکله د خپلې وعدې مخالفت نه کوي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مګر ډېرې خلګ نه پوهېږي."

دا وړاندوينه چې کله وشوه نو د زوال روما د ليکوال ايډورډ ګبن په تکيو هيڅ وړاندوينه هم له حقيقته دومره لرې نه شواى کېداى، ځکه هرقل دوولس کاله وړاندې د رومي سلطنت پاى اعلان کړى وو.[۴۲] خو دا عيني پر خپل وخت پوره شوه او د (۶۲۸) په مارچ کې د روم واکمن له هغې دبدبې سره قسطنطنيې ته را ستون شو چې ګاډى يې څلورو فيلانو کشاوه او بې شمېره کسان ترپلازمينې دباندې له څراغونو او د زيتونو له څانګو سره د خپل اتل هرکلي ته ولاړ ول.

۵) په نبيانو کې چې کوم يو يې د رسالت دنده ترلاسه کوي هغه د الله له عدالت سره راځي او د خپل قوم د پرېکړې په کولو له دنيا رخصتېږي. صورت يې داسې وي چې که د الله هغه رسول د خپل رب پر وعده ټينګ ودرېږي نو جزا يې او که ترې واوړي نو سزا يې په همدې دنيا کې ورکول کېږي. نتيجه يې دا وي چې د هغه وجود د خلګو لپاره يوه الهي نښه ګرزي او ګواکي الله له هغه سره پر ځمکه ګرزي -را ګرزي او د عدالت په کولو څار کوي. دا هغه څه دي چې د دوى د قوم نو لپاره په دنيا او اخرت دواړو کې د الهي پرېکړې بنسټ جوړوي، له همدې امله الله دې رسولانو ته بريا ورکوي او د دوى د دعوت پر منکرينو خپل عذاب نازلوي:

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (يونس ۱۰: ۴۷)

"او د هر قوم لپاره يو رسول شته، نو کله چې يې رسول راشي د دوى تر منځ په انصاف سره پرېکړه کېږي او پر دوى هيڅ ظلم نه کېږي."

د نبي بشريت

نبي انسان وي، له همدې وجې عيني په هغه ډول خوراک او څښاک کوي، ګرزي -را ګرزي، ويدېږي او پورته کېږي، نکاح او واده کوي، زېږي او د مرګ د خوند په څکلو له دنيا رخصتېږي لکه نور انسانان. په دوى کې هيڅوک هم نه د الله انساني شکل، نه ديوتا او نه فرشته وو. قرآن ځاى پر ځاى صراحت کړى چې د پيدايښت له مخې د دوى او عامو انسانانو تر منځ هيڅ توپير نه شته، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مخاطبينو دا

[۴۲] زوال روما د ايډورډ ګبن ۲ / ۷۸۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

غوښتنه په قران کي نقل شوې چي که ته د الله له رسول يې نو زمونږ لپاره د سرو زرو کورونه جوړ کړه، ويالې او چينې وبهوه، زمونږ په دښتو کي د سپرلي کاروانونه راوله، د انګورو او خورماوو باغونه شنه کړه، پر مونږ له اسمانه ټوټه را وغورځوه، الله او فرشتې مخامخ راوله او اسمان ته ولاړ شه له هغه ځايه زمونږ په مخ کي نوشته شوی کتاب ځمکې ته را کښته کړه. په دې کي هيڅ شی هم ناشونی نه وو، که الله غوښتلي وای رسول به دا هر څه ور ښودلي وای خو ده ته لار ښوونه شوې وه چي دوی ته ښکاره ووايه چي زه انسان يم، تر بشريت پورته موجود نه يم چي را څخه دا ډول غوښتنې وشي:

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلاَّ بَشَرًا رَّسُولاً * وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَن يُؤْمِنُواْ إِذْ جَاءهُمُ الْهُدَى إِلاَّ أَن قَالُواْ أَبَعَثَ اللّهُ بَشَرًا رَّسُولاً * قُل لَّوْ كَانَ فِي الأَرْضِ مَلآئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاء مَلَكًا رَّسُولاً*
(بني اسرائيل ۱۷: ۹۳- ۹۵)

"ووايه زما پالونکی پاک دی، ايا زه له پيغام اوروونکي انسان پرته بل څه هم يم؟ د خلکو مخ ته چي کله هدايت راغی نو له ايمان راوړلو هيڅ شي را ونه کړزول مګر د هغوی دې خبرې چي ايا الله يو بشر د رسول په توګه را لېږلی دی؟. ووايه که فرشتو پر ځمکه ډاډه تګ کولای نو مونږ به له اسمانه يوه فرشته د رسول په توګه ورته را لېږلی وای."

مګر د دې معنا دا نه ده چي د خپل علم و عمل، زهد و دماغ او اخلاقو و روحانيت له مخې هم د عامو انسانانو په څېر دي. هيڅکله نه!، د هغوی د حالاتو مطالعه ښيي چي په دې اوصافو او ځانګړتياوو کي دوی د انساني نوعې غوره ګلان، د فطري خورما ښکلې مېوه او د انسانيت کامل اظهار وي، قرآن وايي: که د دوی رب وغواړي نو دوی په خپل ځانګړي علم او حکمت سره هم نازوي. يحی عليه السلام ته ويل شوي:

يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا* وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيًّا * وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا* (مريم ۱۹: ۱۲ - ۱۴)

"اې يحی! الهي کتاب ټينګ ونيسه او مونږ ده ته په ماشومتوب کي د پرېکړې وړتيا ورکړه، له خپلې خوا مو زړه سوی او پاکې ورکړه، دی ډېر پرهېزګار او د مور و پلار حق پېژندونکی وو، سرکښ او نافرمانه نه وو."

د موسی عليه السلام په اړه يې ويلي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَى آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (القصص ۲۸: ۱۴)

"او کله چې دی ځوانۍ ته ورسېد او وده یې پوره شوه نو موږ حکمت او علم ورکړ (دا یې د ښېګڼو بدله وه) او موږ نېکي کوونکو ته همدا سې بدله ورکوو."

صرف دومره هم نه ده بلکې الله چې د انسان په فطرت کې کوم پوهه او بصیرت ځای پر ځای کړې په دوی کې هغه هم په کامله درجه موجوده وي، دا یې فکر تېزوي او په انساني لفظ کې له را پورته کېدونکي هر توپان څخه یې ساتي، د وحې له نعمته تر برخمنېدو وړاندې یې زړه او دماغ دومره پاک او د حق لپاره تر ډېره بریده چمتو وي. په قرآن کې له همدې څخه په بېنه تعبیر شوی دی. د انبیاء علیهم السلام له واقعاتو ښکاري چې دوی الهي وحې د خپل باطن د دې رڼا او بصیرت لپاره د شاهد په توګه وړاندې کوي، دنوح علیه السلام په اړه ویل شوي:

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ (هود ۱۱: ۲۸)

"ده وویل: اې زما قومه! (ما ته وویاست چې) که زه د خپل رب له لوري پر څرګند شهادت یم او بیا یې په خپل ځانګړي رحمت هم نازولی یم او تاسو یې نه وینئ نو ایا موږ یې په زور درباندې ومنلوو سره له دې چې تاسو ترې بې زاره هم یاست."

د صالح علیه السلام په اړه ویل شوي:

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُ (هود ۱۱: ۶۳)

"ده وویل: اې زما قومه! تاسو پر دې غور کړی چې که زه د خپل رب له لوري پر واضح دلیل وم او په خپل رحمت یې هم نازولی وم نو تر دې وروسته به مې د الله له نیولو څوک وساتي؟ که مې د ده نافرماني وکړه."

د شعیب علیه السلام په یاد کې دي:

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي

"ده وویل: اې زما قومه (ما ته وویاست چې) که زه د خپل رب له لوري پر یوه واضح دلیل وم

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ(هود ۱۱: ۸۸)

او بیا یې د وحې غوره رزق هم راکړی وي (نو له دې پرته زه تاسو ته د څه شي دعوت درکړم) او ما نه غواړم چې ستاسو د مخالفت په کولو هغه څه وکړم چې تاسو ترې راګرزوم."

د نبي فطرت

د نبي فطرت د یوه کامل انسان فطرت وي، په اسماني کتابونو کې د انبیاء علیهم السلام د سپرت او سوانحو په اړه له اشاراتو په ښکاره معلومیږي چې په دوی کې رحمت هم وي او غضب هم، دوی غم و تکلیف، خپګان او اندېښنه هم احساسوي او ارمان و افسوس هم. هغه زړه تنګی کېږي هم او که کومه تېروتنه ترې وشي نو پر دې پښېماني هم احساسوي، د الله د عاجزو بندګانو په ځېر د هغه په حضور کې توبه او استغفار هم کوي او د مجادلې و ټینګار طریقه هم خپلوي، دا د دې لپاره چې د ده او هغو مخاطبینو ترمنځ چې دی پرې د حجت پوره کولو لپاره ورلېږل شوی مناسبت وي او دی له هغوی څخه اثر قبول کړي. که دی د فرشتو په ځېر له دا ډول احساساتو خالي وي نو خبره به یې پر هیڅا اغېزه نه کړي.

صرف همدومره نه ده، بلکې د انسانیت له څرګندې نمونې سره -سره د خپل قوم کامل فرد هم وي، د هغه د حالاتو له مطالعه کولو ښکاري چې هر نبي د خپل قوم خوشبو او خلاصه، د هغوی د تهذیبي کولتور امین او د دوی د ښېګڼو و اخلاقو جامع وي.

په دې کې شک نه شته چې دی د هغوی له ټولو بدیو پاک وي خو په عاداتو او اخلاقو کې دومره هغوی ته ورته وي چې دی او قوم یې د دوو هیندارو په ځېر ښکاري چې په هغو کې یو بل لیدل کېدای شي. قرآن له همدې وجې ویلي دي چې که الله فرشتې د رسول په توګه ورلېږلای نو د بشریت په جامه به یې ورلېږلې ځکه له دې پرته د هغوی او مخاطبینو ترمنځ یې د رسونې لپاره بل مهم تړاو نه شوای پیدا کېدای.

وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنَاهُ رَجُلاً وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم مَّا يَلْبِسُونَ (الأنعام ۶: ۹)

"او که موږ فرشته رسول کولای نو هم به مو د انسان په بڼه بدلوله او په دې توګه به دوی په هغه شک اخته کېدل چې اوس پرې اخته دي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

البته د هغو نبیانو حالت یو څه بېل دی چې صرف د حجت یا دلیل پوره کولو لپاره راغلي چې یو مثال یې یحی او عیسی علیهما السلام دي، هغوی د خپل فطرت له مخې فرشتو ته ډېر نژدې ښکاري، له همدې کبله خلکو تر پې ګټه هم لږ پورته کړې ده.

د نبي عصمت

هغه خلک د نبي په توګه غوره کېږي چې د نفس او شیطان له ترغیباتو ځان ساتي، له ګناه خوندي وي او له هره پلوه د خپل قوم نېکان او ښه افراد وي. په سورة الأنعام کې د ډېرو رسولانو تر نوم وروسته ویل شوي: كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ [43] (دوی ټول نېکان ول) یو بل ځای ویل شوي:

وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ أُوْلِي الأَيْدِي وَالأَبْصَارِ * إِنَّا أَخْلَصْنَاهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ * وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الأَخْيَارِ * وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ وَكُلٌّ مِّنَ الأَخْيَارِ (ص ۳۸: ۴۵-۴۸)

"او زمونږ بندګان ابراهیم، اسحاق او یعقوب دریاد کړه چې د ډېر قوت او بصیرت درلودونکي ول، مونږ دوی پریو خاص ماموریت (د اخرت پریاد) ګومارلي ول او زمونږ په نزد له غوره او ښو انسانانو شمېرل کېدل او اسماعیل، یسع او ذو الکفل دریاد کړه (مونږ دوی غوره کړل) او دا ټول غوره انسانان ول."

د همدې تقوا او احتیاط په بدل کې یې الله ساتنه هم کوي، د مصر د عزیز له مېرمنې سره چې د یوسف علیه السلام کومه پېښه را منځ ته شوه له هغې په څرګنده ښکاري چې که تر نبوت وړاندې هم داسې حالت پیدا شي چې هغه ته خپل ځان ساتل اسانه نه وي نو الله یې په ځانګړي دلیل سره لارښوونه کوي. دا دلیل همامغه الهي نور وي چې الله هر چا ته ورکړي، مګر الهي سنت دادی چې کوم کسان یې قدر کوي او د ژوند په لوړو -ژورو کې یې لارښوونه قبلوي نو په هغوی کې دومره قوي کېږي چې په داسې حساسو فرصتونو کې یې باطل د لمر و سپوږمۍ په څېر ځلېږي او د تیارو ټولي پردې یې له مخې پورته شي او د هدایت پرلاریې برابروي.

[43] الأنعام ۶: ۸۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا لَوْلا أَن رَّأَى بُرْهَانَ رَبِّهِ كَذَلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاء إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ (یوسف ۱۲: ۲۴)

" او هغه ښځه د ده پر لور ور وړاندې شوه، یوسف به هم ور وړاندې شوی وای که یې د خپل رب برهان نه وای لیدلی. موږ همدا سې وکړل چې له ده بدي او بې حیایي لرې کړو، بې شکه دی زموږ له غوره بندګانو څخه وو."

په قرآن کې چې د ادم علیه السلام د کومې تېروتنې یادونه شوې په دې اړه باید څوک په غلط فهمي اخته نه شي، په دې کې شک نه شته چې قرآن د دې لپاره د عصیان لفظ کارولی مګر په خپله په قرآن کې الله صراحت کړی چې د دې سبب د هغه هېره وه. له دې ښکاري چې دا نافرماني هغه نه د نفس په اشاره کړې او نه په خپله اراده، له قرآنه معلومېږي چې شیطان کله د بیا -بیا قسم په کولو هغه ته باور ورکړ چې دی یې خیر غوښتونکی دی او په دې یې باوري کړ چې د ابدي پاچاهي د همغې ونې د مېوې په خوړلو ترلاسه کېږي چې دی تر ې منعه شوی دی نو په دې وغولېده او له احساساتو په مغلوبېدو یې د خپل رب نافرماني وکړه چې پر خپله دې تېروتنه ټینګ شوی هم نه دی بلکې سخت پښېمانه شو، توبه یې وایستله او الله یې په پوره پېرزوینه توبه ومنله، د نبوت مسئولیت یې ورکړ:

وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَى آدَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا * وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلاَّ إِبْلِيسَ أَبَى * فَقُلْنَا يَا آدَمُ إِنَّ هَذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلاَ يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى * إِنَّ لَكَ أَلاَّ تَجُوعَ فِيهَا وَلاَ تَعْرَى * وَأَنَّكَ لاَ تَظْمَأُ فِيهَا وَلاَ تَضْحَى * فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لاَّ يَبْلَى * فَأَكَلاَ مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى * ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَى* (طه ۲۰: ۱۱۵ - ۱۲۲)

" او موږ تر دې وړاندې ادم د خپل امر پابند کړی وو، خو ده هېره وکړه او موږ پکې عزم ونه موند او دریاد کړه چې کله مو خپلو فرشتو ته وویل چې ادم ته سجده وکړئ نو هغوی سجده وکړه مګر یو ابلیس وو چې ویې نه منله، په دې سره مو ادم ته وویل: دا ستا او ستا د مېرمنې دښمن دی هسې نه چې له دې باغه مو وباسي او له محرومیت سره مخ شئ. دلته تاسو ته دا اساني ده چې نه به وږې کېږئ، نه به لوڅېږئ، نه به مو تنده زوروي او نه به ګرمي دربانديږئ، خو شیطان هغوی وغولول ویې ویل: ادمه! ایا تا ته د ابدي ژوند ونه او یوه نه زایلېدونکي سلطنت پته درنه کړم؟، بالاخره دوی دواړو د هغې ونې مېوه وخوړه نو فرج یې لوڅ شول او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خپل ځانونه يې د هغه باغ په پاڼو پټول (چې دوی پکې اوسېدل) او ادم د خپل رب په نافرماني کولو بې لارې شو، بيا د هغه رب غوره کړ، د ده توبه يې ومنله او ده ته يې هدايت وکړ."

د موسی علیه السلام کیسه هم له دې جلا نه ده، ده په قصد څوک نه دی وژلی، دا هسې يو تصادف وو چې د يوه مظلوم د مرستې په نتيجه کې ظالم قبطي د خپلې سرکښۍ له املـه ورسره بنکېل شو، ده په څپيړه وواهه له بده مرغـــه داسې ور باندې ولګېده چې همالته له منځه ولاړ.

وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَى حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلاَنِ هَذَا مِن شِيعَتِهِ وَهَذَا مِـنْ عَدُوِّهِ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِن شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ فَوَكَزَهُ مُوسَى فَقَضَى عَلَيْهِ قَالَ هَذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ * قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ إِنَّهُ هُـوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ* (القصص ۲۸: ۱۵، ۱۶)

" او (يوه ورځ) د خلکو د بې خبرۍ په وخت کې ښار ته ور ننووت نو ويې ليدل چې دوه کسان په جګړه دي، يو يې له خپله قومه او دويم يې د دښمن له قومه وو. د ده د قوم سړي د هغه بل پر خلاف چې د ده له دښمنانو سره يې تړاو درلود د مرستې غوښتنه وکړه نو موسی يو سوک وواهه او د هغه کار يې خلاص کړ (د دې په لیدو) يې وويل: دا د شيطان کار دی، بې شکه هغه يو څرګند ګمراه کوونکی دښمن دی، نو ويې ويل: اې ربه! ما پر خپل ځان ظلم کړی، ته مې وبخښه، الله ورته بخښنه وکړه بې شکه دی ډېر بخښونکی دی شفقت يې ابدي دی."

استاذ امام ليکي:

" ... موسی علیه السلام نه د قبطي د وژلو اراده درلوده او نه يې له داسې حالت سره د مخ کېدو ګومان کړی وو، بلکې کله چې بې اختياره دا پېښه را منځ ته شوه نو سمدستي يې پر خپله غلطي پښېماني څرګنده کړه او له خپله ربه يې معافي وغوښته چې اې ربه! ما پر خپل ځان سخت ظلم وکړ، ته مې وبخښه. څرنګه چې له هغه څخه دا تېروتنه بالکل بې اراده شوې وه او بيا يې له څه ځنډ پرته بخښنه هم وغوښتله له همدې امله الله سمدستي ورته بخښنه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وکړه او په غیبي ډول د دې بخښنې زېرى هم ورکړل شو چې الله غفور او رحیم دى."

(تدبر قرآن ۵ / ۶۶۳)

دا دواړې پېښې تر نبوت وړاندې دي، د قرآن وینا ده چې تر نبوت وروسته انبیاء علیهم السلام تل د فرشتو تر څارلاندې وي، د هغوى شا او مخ ته الله ساتونکي ټاکلي، د هغوى هر څه شمېرل کېږي او ګورې چې د هغه پیغامونه یې له څه کمبوت او زیادت پرته رسولي کله نه؟. تر دې وروسته څرګنده ده چې پروړه تېروتنه یې هم د پاتېدو امکان نه شته:

إِلاَّ مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا * لِيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسَالاَتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا* (الجن ۷۲: ۲۷، ۲۸)

"پاتي شول هغه چې دى یې د رسول په توګه غوره کوي (نو هغوى له خپله لوري هیڅ نه شي ویلاى) ځکه چې د هغوى شا او مخ ته پیره ټاکي څو معلومه کړي چې دوى د خپل رب پیغام رسولى او هغوى د دوى چاپېریال احاطه کړې او د دوى هر څه شمېري."

د نبي ریاضت

نبي چې د کوم مسئولیت د پوره کولو لپاره را لېږل کېږي له همدې پلوه په عبادت او ریاضت کې ځینې وختونه ور څخه د زیاتې هڅې غوښتنه کېږي. له دې څخه هدف د زړه ډاډ هم وي او له الله سره د خاص تړاو په وسیله د زړه و نظر پاکوالى او په علم و عمل کې استقامت هم وي. د موسى علیه السلام په اړه قرآن ویلي چې کله هغه ته د تورات د الواحو ورکولو پرېکړه وشوه نو د دې درانه بار تر اوچتولو وړاندې د هغه د ذهني او قلبي تیارو په غرض څلوېښت ورځې د طور په غره کې معتکف پاتې شو.[۴۴] یحیى او عیسى علیهما السلام د رهبانیت تر کچې زهد او ګوښه توب غوره کړى وو، ځکه د ژوند هره شېبه یې پر هغه قوم د حجت پوره کولو په هڅو کې تېرېده چې پرېکړه یې کېدونکې وه. رسول الله ﷺ د همدې هدف لپاره هر کال اعتکاف کاوه او وخت پر وخت یې روژې نیولې، ده ته د عام انذار امر وشو نو پرپنځو لمنځو سربېره یو زاید لمونځ ورباندې فرض شو، د دې لپاره یې د تهجد وخت وټاکه او ده ته هدایت وشو چې تر نیمې شپې یو څه کم او یا زیات وخت دي

[۴۴] الأعراف ۷: ۱۴۲ - ۱۴۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پکي قرآن تلاوت کړي، د بني اسرائیل په سورت کي دا حکم د ده لپاره د وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ[45] (او په شپه کي تهجد کوه دا ستا لپاره زیادت دی) په الفاظو بیان شوی، همدارنګه په مزمل کي دي:

يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ * قُمِ اللَّيْلَ إِلاَّ قَلِيلاً * نِصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلاً * أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً * إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً * إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْءًا وَأَقْوَمُ قِيلاً * إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلاً * وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلاً* (المزمل ۷۳: ۱-۸)

"اې په جامو کي نغښتې! د شپې ودریږه مګر یو څه برخه یې د ویدېدو لپاره پریږده، نیمه شپه یا تر دې یو څه کم او زیات کړه او (په خپل دې لمانځه کي) قرآن ورو - ورو لوله، ځکه په نژدې وخت کي به مو ډیر دربانديد درنې وینا بوج واچوو، په دې کي شک نه شته چې د شپې دا پورته کېدل د زړه د اطمنان او د خبرې د سموالي لپاره ډېر برابر دي، ځکه په ورځ کي به ته (د دې کار له وجې) ډېر مصروف یې (له همدې وجې یې دا وخت لوله) او د خپل رب نوم یاد کړه (او د شپې په دې تنهایي کي) له ټولو په ګوښه کېدو ده ته ورګوښې شه."

د نبي فضیلت

نبي پر ټولو انسانانو عمومي فضیلت لري، د انبیاوو علیهم السلام تر یادولو وروسته یې یو ځای ویلي: وَكُلاًّ فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ[46] (او دې هر یوه ته مو پرنړۍ والو فضیلت ورکړی وو) مګر د قرآن وینا ده چې له دې سره - سره رسولان په ځانګړي ډول له یوه نه یوه اړخه پر یوه بل خاص فضیلت هم لري او له همدې وجې هغه تر نورو ممتاز دي، الهي وینا ده:

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا

"دا چې کوم رسولان دي مو ډېر په دوی کي یوه ته پر بل فضیلت ورکړی دا سي چې د دوی له ځینو سره الله خبرې کړې او د ځینو درجې یې (له

[45] بني اسرائیل ۱۷: ۷۹
[46] الأنعام ۶: ۸۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ (البقرة ۲: ۲۵۳)

ځینو اړخونو) لوړې کړې او (په اخیر کې) مو د مریمې زوی عیسی ته څرګندې نښانې ورکړې او په روح القدس مو یې تائید وکړ."

څرګنده ده چې له موسی علیه السلام سره الله تعالی خبرې وکړې او همدا یې د فضیلت خاص اړخ دی، عیسی علیه السلام ته یې ښکاره معجزې ورکړې او په روح القدس یې د هغه تائید وکړ، دا د هغوی ځانګړتیاوې دي او د نورو پیغمبرانو درجې و مراتب هم پرې قیاسېدای شي. رسول الله ﷺ د خپل ځان په اړه ویلي:

فضلت علی الانبیاء بست اوتیت جوامع الکلم و نصرت بالرعب و احلت لی المغانم و جعلت لی الارض طهورا و مسجدا و ارسلت الی الخلق کافة و ختم بی النبیون. (مسلم، شمېره: ۱۱۶۷)

"ما ته په شپږو شیانو پر انبیاوو فضیلت راکړل شوی د هر اړخیزو اولنډو خبرو وړتیا راکړل شوې، له ما سره د رعب په وسیله مرسته شوې، ما ته د غنیمتو مال حلال شوی، زما لپاره ځمکه مسجد او د پاکۍ وسیله ګرزول شوې،[۴۷] زه د ټولې نړۍ لپاره را لېږل شوی یم او نبوت را باندې پای ته رسېدلی دی."

د انبیاؤ او رسولانو فضلت ته باید په همدې سترګه وګورو، رسول الله ﷺ په ځینو ځایونو کې خلګ د دې معاملې په اړه پوهولي هم دي. یو ځل یوه صحابي رسول الله ﷺ د یا خیر البریة یعني اې د ټولو خلګو غوره په خطاب یاد کړ، ده وویل: هغه خو ابراهیم علیه السلام وو.[۴۸] یو ځل ترې پوښتنه وشوه چې په خلګو کې تر ټولو عزتمن څوک دی؟، ده وویل: یوسف، د رسول زوی، د رسول لمسی، د رسول کړوسی او د ابراهیم خلیل الله کوسی.[۴۹] یو ځل داسې پېښه وشوه چې یوه مسلمان په خپل قسم کې پر ټولو نړۍ والو د رسول الله ﷺ د فضیلت یادونه وکړه نو یوه یهودي یې په ځواب کې وویل: په هغه ذات قسم! چې موسی ته یې پر نړۍ والو فضیلت ورکړی. د دې په اوریدو مسلمان غوسه شو او یهودي

---

[۴۷] مطلب دا چې زما په شریعت کې لمونځ په خاصو عبادت ځایونو کې نه بلکې د ځمکې پر هر ځای ادا کېدای شي او که اوبه نه وي نو د تیمم په وهلو د اوداسه او غسل دواړو اړتیا هم پوره کېدای شي.

[۴۸] مسلم، شمېره ۶۱۳۸

[۴۹] بخاري، شمېره ۳۳۵۳، مسلم شمېره: ۶۱۶۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې په څېړه وواهه، هغه رسول الله ﷺ ته ورغی ګيله يې وکړه نو ده وويل: ما پر موسی غوره مه ګڼئ، د قيامت په ورځ چې به زه کله پرسد شم نو ده به د عرش يو کونج نيولی وي ممکن بې هوښه شوی نه وي او يا به ترما وړاندې را پرسد شي.[50] دا لارښوونې ښې څرګندې دي مګر د انبياء عليهم السلام امتيانو په عمومي ډول ونه منلې بلکې د دې پر ځای يې يو ښې ناسم چلند غوره کړ چې له کبله يې د دوی تر منځ د تعصبونو د پوالونه ودرېدل او له يوه بل سره د دښمنيو په کولو په خپل منځي جګړه اخته شول. استاذ امام ليکي:

" ... د دې انبياوو امتونو چې کوم چلند غوره کړی هغه دادی چې په دوی کې چا کوم نبي او رسول منلی د ټولو فضايلو او ځانګړتياوو جامع يې هغه بللی او د بل هر نبي و رسول لپاره د فضيلت منل د دوی په نزد له ايمان سره منافي بلل شوي. د دې تعصب او تنګ نظر تنبيجه دا شوه چې په مخکينيو امتونو کې هر امت تر خپلې ساحې محدود شوی او د نورو انبياوو و رسولانو له برکتونو د ګټې اخيستلو لار پرې بنده شوې ده، که دوی سم چلند غوره کړی وای نو هر رسول د دوی رسول او هر هدايت به د دوی هدايت وای او له هغو لارښوونو به يې هم برخه ترلاسه کړې وای چې اوس د قرآن په ښه د وروستي هدايت په حيث د دنيا په وړاندې څرګند شوی. دې حقيقت ته د بني اسرائيل په سورت کې هم اشاره شوې ده. وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا [51] (او موږ په انبياوو کې ځينو ته پر ځينو فضيلت ورکړی او داود ته مو زبور ورکړ." (تدبر قرآن ۱/ ۵۸۷)

د نبي اطاعت

د نبي د منلو لازمي نتيجه داده چې د الله په امر يې اطاعت وشي، الله دا خبره په خپل کتاب کې په خپله څرګنده کړې چې نبي يوازې د عقيدې مرکز نه بلکې د اطاعت مرکز هم وي، هغه د دې لپاره نه رائي چې خلک يې نبي او رسول وبولي او خلاص شي. د هغه حيثيت يوازې د واعظ او ناصح نه دی بلکې هغه واجب الاطاعت لارښود وي، د هغه د را لېږلو هدف دا وي چې د ژوند په ټولو معاملاتو کې کومه لارښوونه وکړي هغه له څه ويلو پرته عملي شي، الهي وينا ده:

---

[50] بخاري، شمېره: ۲۴۱۲

[51] بني اسرائيل ۱۷: ۵۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ (النساء ۴: ۶۴) "او موږ چې هر رسول را لېږلی د دې لپاره مو را لېږلی چې د الله په امر يې اطاعت وشي."

وجه يې داده چې الله له خپلو بندګانو سره مستقيمه معامله نه کوي، هغه خپل هدايت د نبيانو او رسولانو په وسيله ور لېږي. په دې کې شک نه شته چې اصل هدف خو الهي اطاعت دی، مګر طريقه يې داده چې د ده د نبيانو اطاعت وشي. مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ [۵۲] (څوک چې د رسول اطاعت وکړي په حقيقت کې يې د الله اطاعت وکړ) او د دې مضمون په نورو ايا تونو کې الله همدا حقيقت بيان کړی دی. بيا يې دا اخيري حد هم ښودلی چې تر خپل منځي شخړو پوري له څه ويلو پرته او د زړه په پوره اطمنان سره د نبي د پرېکړو منل ضروري دي. ده ويلي:

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا (النساء ۴: ۶۵) "ستا په رب قسم! دا خلګ تر هغو مومنان نه شي کېدای څو تا په خپلو اختلافاتو کې هم منځګړی ونه مني او ته چې څه پرېکړه وکړې په خپلو زړونو کې يې له تنګي احساسولو پرته يې په ورانديز سر تېټ کړې."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

استاذ امام ليکي:

"... الله په خپل ذات قسم کړی ويلي يې دي چې دوی تر هغه وخته مومنان نه شي کېدای تر څو چې په خپل منځي پيدا کېدونکو ټولو شخړو کې تا منځګړی ونه بولي او ورسره پکې دا ذهني بدلون را نه شي چې ستا پرېکړې له څه ويلو پرته د زړه په پوره اطمنان سره ومني او خپل ځان له څه استثنا او تردد پرته وسپاري. د رسول اطاعت په خپله د الهي اطاعت په معنا دی، له همدې وجې د هغه حق يوازې په ظاهري اطاعت نه ادا کېږي بلکې د دې لپاره د زړه اطاعت هم شرط دی." (تدبر قرآن ۳/ ۳۲۹)

له همدې کبله دا اطاعت کوم رسمی شی نه دی، د قرآن غوښتنه داده چې بايد د اتباع په احساس، پوره اخلاص، بشپړه مينه، انتهايي عقيدې او بشپړ احترام سره وي. انسان الهي مينه په همدې اطاعت او دې اتباع سره تر لاسه کوي:

[۵۲] النساء ۴: ۸۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (آل عمران ۳: ۳۱)

"دوی ته ووایه که تاسو له الله سره مینه لرئ نو زما پیروي وکړئ، الله به درسره مینه وکړي ستاسو ګناهونه به وبخښي (او په دې خو پوهیږئ چې) الله خو بخښونکی او شفقت یې دایمی دی."

رسول الله ﷺ په خپله هم دا حقیقت په بیلابیلو طریقو واضح کړی، په یوه روایت کې د ده دا وینا نقل شول چې د یوه شخص ایمان تر هغه وخته پوره کېدای نه شي چې زه تر خپل پلار، اولادونو او ټولو خلکو ورته ګران نه شم.[۵۳]

د حجرات په سورت کې د مدینې له شاوخوا د راتلونکو د ځارایي قبایلو خلکو ته چې له رسول الله ﷺ سره د خبرو کوم اداب ښوول شوي هغه د نبي دا مرتبه له هره اړخه روښانه کوي، ویل شوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللّهَ إِنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلاَ تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنتُمْ لاَ تَشْعُرُونَ * إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللّهِ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ* (الحجرات ۴۹: ۱-۳)

"اې مومنانو! د الله او د هغه د رسول په مخ کې خپل نظر مه مخته کوئ او له الله وپرېږئ بې شکه الله سمیع او علیم دی، اې مومنانو! مه خپل اواز د نبي تر اواز لوړوئ او مه نبي په داسي لوړ اواز د ربولئ لکه تاسو چې یو بل درغواړئ، هسي نه چې اعمال مو ضایع شي او تاسو خبر هم نه یاست (یاد ولرئ چې) کوم کسان د نبي په مخ کې خپل اوازونه ټیټ ساتي د هغا غوی زړونه الله د تقوا د زیادت لپاره غوره کړي، د دوی لپاره مغفرت هم دی او ستر اجر هم."

استاذ امام لیکي:

"دا د هغه صحیح ادب ښوونه ده چې د رسول الله ﷺ په معامله کې یې پر هر مومن غوره کول لازمي دي، ویلي یې دي: کوم کسان چې د رسول الله ﷺ په مخ کې خپل اوازونه

[۵۳] بخاري، شمېره: ۱۵، مسلم شمېره: ۱۶۸، ۱۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټیټوي په حقیقت کي همدا خلګ دي چي د دوی زړونه الله د تقوا د زیاتېدو لپاره غوره کړي دي. دلته د (امتحن) لفظ د (اصطفی) او یا د همدې په معنا یوه لفظ ته متضمن دی او دا خبره ترې استنباط کېږي چي د الله په نزد هر زړه د تقوا د تخم اچونې او د هغې د زیادت لپاره موزون نه وي بلکي د دې هدف لپاره الله د امتحان په کولو زړونه غوره کوي او په دې انتخاب کي چي کوم شی ترجیح جوړوونکی ګرزي هغه دادی چي په انسان کي الله او رسول ته د غاړې ایښودلو و اطاعت رښتنې جذبه او د هغو په وړاندې د خاکساری شعور شته او که نه؟. په یو چا کي چي دا شی څومره زیات وي همدومره د ډېرې تقوا نعمت ورکول کېږي او کوم کسان چي په کومه درجه دا شعور ونه لري همدومره له تقوا لرې کېږي. لکه څرنګه چي موږ ورته اشاره وکړه د اوازلوړولو یادونه د انسان د یوه باطني مخبر په حیثیت شوې، څوک چي د یو چا تر اواز د خپل اواز د لوړولو هڅه کوي د هغه دا عمل ښیي چي ځان تر هغه لوړ ګڼي او دا د برکت تر لاسه کولو لار په یو مخیز ډول ټرې. که د استاذ په مخ کي د یو شاګرد عمل دا ډول وي نو د هغه له فیض څخه بې برخې کېږي، همدارنګه که څوک د الله د رسول په وړاندې همدا چلند غوره کړي نو هغه به نه یوازې د رسول له فیضه بلکي د الله له توفیقه هم بې برخې شي ځکه چي رسول د الله نماینده وي."

د نبي شفاعت

د نبي اصلي دنده انذار او بشارت دی مګر له دې سره د الله په حضور کي د بندګانو شفاعت هم کوي. شفاعت څه شی دی؟ کله چي یو بنده مغفرت غواړي نو له هغه سره په ملتیا د الهي مغفرت غوښتنه ده. همدا د شفاعت اصل مفهوم دی، ځکه نو د بنده له خوا بې توبې و استغفاره یې هیڅ تصور نه شته، شفاعت کوونکی په استغفار کي دویم فرد او د مغفرت غوښتونکي ژبه وي. په دعا و مناجات او خشوع و خاکساري کي د هغه وسیله ګرزي، الله ویلي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّـهِ لَوَّوْا رُؤُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ (المنافقون ۶۳: ۵)

" او کله چي دوی ته ویل کېږي: راشئ! د الله رسول به مو د مغفرت لپاره دعا وکړي نو دوی سر ټیټوي او ته وینې چي دوی له ډېر غرور سره اعراض کوي."

د دې اوله موکه هغه وخت وي چي بنده ایمان راوړي او نبي ورته مغفرت غواړي، دویمه موکه یې هغه وخت وي چي دی ګناه وکړي او د توبې په ایستلو له الله مغفرت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

غواړي. د رسول الله ﷺ د وخت منافقینو ته الله یو ځای نصیحت کړی چې که دوی د خپلو ګناهونو معافي غواړي په خپله دي هم د مغفرت دعا وکړي او له پیغمبر څخه دي هم غوښتنه وکړي. د هغوئ دا رجوع به د دوی پر لور د الهي رحمت د متوجې کېدو سبب شي. ویلي یې دي:

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا (النساء ۴: ۶۴)

"او که دوی دا طریقه غوره کړې وای چې کله یې پر خپلو ځانونو ظلم وکړ نو ستا حضور ته راغلي وای، له الله یې معافي غوښتې وای او رسول هم ورته د معافي غوښتنه کړې وای نو یقینا به یې الله توبه قبلوونکی او مهربان موندلی وای."

الله په قرآن کې ځای پر ځای بندګانو ته د توبې او استغفار دعوت ورکړی او ویلي یې دي: اې زما بندګانو! که تاسو پر ځانونو ظلم کړی وي نو زما له رحمت څخه مه ناهیلي کېږئ، ستاسو رب غفور او رحیم دی، که ده ته رجوع وکړئ نو ستاسو ټول ګناهونه به در وبخښي، په یاد ولرئ چې مومنان هیڅکله د ده له رحمت څخه نه ناهیلي کېږي.[۵۴] بیا یې د توبې او استغفار لپاره خپل دا سنت هم واضح کړی چې تر ګناه وروسته چې څومره ژر ممکنه وي باید توبه وایستل شي ځکه پر الله د هغو کسانو د توبې قبلولو حق شته چې له احساساتو څخه په مغلوبېدو کومه ګناه وکړي او بیا سمدستي توبه وباسي، د هغو خلګو توبه د الله په نزد نه قبلېږي چې ټول ژوند په ګناهونو کې ډوب وي او چې کله وینې مرګ یې پر سر ولاړ دی نو د توبې وظیفه پیلوي.[۵۵]

که پر دې غور وکړئ نو الله د هغو خلګو پر حالت خاموشي غوره کړې چې د ګناه تر کولو وروسته سمدستي د توبې ایستلو نېکمرغي نه شي ترلاسه کولای مګر دومره ځنډ هم نه کوي چې مرګ یې پر سر ودرېږي، همدا هغه خلګ دي چې په اړه یې د شفاعت هیله کېدای شي. قرآن همدا ثابته کړې لیکن له دې سره یې هغه غلط افکار هم په پوره صراحت رد کړي چې خلګو د شفاعت په اړه را منځ ته کړي او په وسیله یې د الله عدالت او د جزا و سزا وجوب نفي کېږي.

---

[۵۴] الزمر ۳۹: ۵۳، یوسف ۱۲: ۸۷

[۵۵] النساء ۴: ۱۷، ۱۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لومړی خبره داده چې د شفاعت اختیار صرف له الله سره دی، د هغه له اجازې پرته هیڅوک شفاعت نه شي کولای ان مقربې فرشتې هم پر خپل سر کومه خبره نه شي کولای. له همدې کبله لومړی د الله راضي کول اړین دي چې د شفاعت اجازه ورکړي او قبول هم شي.

أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ شُفَعَاء قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا لاَ يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَلاَ يَعْقِلُونَ * قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ* (الزمر ۳۹: ۴۲، ۴۳)

"ایا دوی له الله پرته نور سپارښت کوونکي نیولي؟، دوی ته ووایه ایا هغوی به شفاعت وکړي، که څه هم نه واک لري او نه په څه پوهیږي؟، ورته ووایه چې شفاعت ټول د الله په اختیار کې دی، د ځمکې او اسمان پاچاهي د ده ده، بیا به تاسو ده ته ور ستنیږئ."

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ*لاَ يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ (الأنبياء ۲۱: ۲۶، ۲۷)

"او دوی وایي چې رحمان اولاد لري، سبحان الله! هغوی خو (د ده) نږدې بندګان دي او هیڅکله د ده په حضور کې لومړی خبرې نه کوي او صرف د ده حکم عملي کوي."

دویمه خبره یې دا کړې چې تر الهي اجازې وروسته به هم د هغو په اړه د ژبې خلاصولو اجازه وي چې الله به یې خوښوي، هیڅوک به په خپله خوښه د هیچا په اړه خبره ونه کړای شي.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يَشْفَعُونَ إِلاَّ لِمَنِ ارْتَضَى وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ (الأنبياء ۲۱: ۲۸)

"هغوی د دوی په مخ کې او شا ته هر څه خبر دي او دوی به د هیچا شفاعت ونه کړي پرته له هغو چې په اړه یې الله راضي وي او هغوی د ده له وېرې ډارېږي."

يَوْمَئِذٍ لاَّ تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلاَّ مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلاً * يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا*

(طه ۲۰: ۱۰۹، ۱۱۰)

"په دې ورځ به شفاعت ګټه ونه کړي مګر دا چې رحمان یې اجازه ورکړي او د یو چا لپاره د خبرې اورېدل خوښ کړي، دی د هغوی په مخ کې او شا ته هر څه خبر دی او دوی د هغه پر علم احاطه نه شي کولای."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درپیمه خبره یې دا کړې چې د چا لپاره یې خوښ کړي په اړه به یې صرف هغه څه وایي چې له هره پلوه صحیح وي.

لاَّ يَتَكَلَّمُونَ إِلاَّ مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَقَالَ صَوَابًا (النبأ ۷۸: ۳۸)

"(په دې ورځ به) هماغه څوک خبرې وکړي چې الله یې اجازه ورکړې او هغوی حقه خبره وکړي."

همدا د شفاعت په اړه د قران نظر دی، د دې لړۍ روایتونه باید په همدې رڼا کې وکتل شي او که کوم شی ورسره برابر نه وي نو د راویانو د تصرف په ګڼلو دي له پامه وغورځول شي.

ختم نبوت

هر قوم ته له پېړیو -پېړیو نبیان راتلل، د هغوی د راتګ هدف د دلیل پوره کول ول، کله چې دا هدف په نړۍ واله کچه د الهي پریکړې په را څرګندېدو پوره شو نو دا لړۍ د تل لپاره پای ته ورسېده. پیل یې له ادم علیه السلام څخه شوی وو ان تر دې چې د ابراهیم علیه السلام د اولادې په یوه څانګه بنو اسماعیل کې محمد رسول الله مبعوث شو او قرآن اعلان وکړ چې دی وروستی نبي دی. تر ده وروسته به هیڅ نبي او رسول نه راځي.

که څه هم دا خبره د انبیاء علیهم السلام د وړاندوینو له مخې هم واضحه وه مګر په قرآن کې یې د یادونې موکه هغه وخت پیدا شوه چې الله رسول الله ﷺ ته د زید رضی الله عنه له طلاقي شوې ښځې سره د نکاح امر وکړ. دا امر په خوله د بلل شویو زامنو په معامله کې د جاهلي دود د اصلاح لپاره شوی وو. ویې ویل: څرنګه چې ته وروستی رسول یې له همدې وجې اړینه وه چې ستا په وسیله دا بد دود اصلاح شي، که ترتا وروسته بل نبي را تلونکی وای نو کېدای شوای چې الله دا معامله راتلونکو ته خوشي کړې وای، مګر نور بل هیڅ نبي نه راځي ځکه به نو دا مسئولیت ته پوره کوې:

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا (الأحزاب ۳۳: ۴۰)

"محمد ستاسو په نارینه وو کې د هیچا پلار نه دی، بلکې هغه د الله رسول او خاتم النبیین دی او الله د هر څه علم لري."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې ایت کې د خاتم النبیین لفظ استعمال شوی دی، دا د تا په زړ خاتم نه بلکې د تا په زور خاتم دی چې په عربي ژبه کې مهر یا ټاپې ته ویل کېږي. په دې ایت کې رسول الله ﷺ خاتم النبیین یعني د نبیانو مهر بلل شوی دی، دا لفظ چې کله په دې ډول راځي نو تل د یوه شي د بندولو په معنا وي. دلته هم همدا شکل دی او د ایت مطلب دادی چې د ده په وسیله د نبوت لړۍ ټاپه شوې، نور د هیڅ نبي او رسول د راتلو امکان نه شته. دا هماغه مفهوم دی چې موږ یې د انګرېزي ژبې په دې الفاظو (Seal of the prophets) ادا کوو.

په دې کې شک نه شته چې ټاپه د یوه شي د تصدیق لپاره هم وي، په دې ایت کې د عربیت له مخې په هیڅ ډول دا معنا مراد بدای نه شي مګر که یو سړی ټینګار کوي او موږ یې د تنزل په توګه ومنو نو بیا به یې هم نتیجه هغه وي، په دې صورت کې د ایت معنا داسې کېږي چې ستا له تصدیق پرته د هیچا نبوت منل کېدای نه شي. په دې کې شک نه شته چې تر ده مخکینې نبیان موږ د ده په تصدیق منو خو له دې سره دا هم حقیقت دی چې تر ده وروسته د هیڅ راتلونکي نبي یې نه وړاندوینه کړې او نه یې تصدیق کړی، بلکې په ډېرو ښکاره او غوڅو الفاظو یې بیا -بیا اعلان کړی چې دی وروستی نبي دی، تر ده وروسته هیڅ نبي نه راځي یوازې دومره نه بلکې تر دې وړاندې یې دا خبره هم څرګنده کړې چې صرف نبوت نه دی ختم شوی بلکې حقیقت یې هم ختم شوی دی. له همدې وجې نور د هیچا لپاره نه د وحې او الهام امکان شته نه د خبرو او مکاشفې، د نبوت تر ختمېدو وروسته دا ډول ټول شیان د تل لپاره ختم شوي دي، د ده ځینې ویناوې دادي.

۱) کانت بنو اسرائیل تسوسهم الانبیاء، کلما هلک نبي خلفه نبی، و انه لا نبی بعدی و سیکون خلفاء. (بخاري، شمېره: ۳۴۵۵)

"د بني اسرائیلو مشري د دوی انبیاوو کوله، که به یو نبي له دنیا ولاړ دویم به یې ځای ناستی شو مګر تر ما وروسته به هیڅ نبي نه بلکې خلفاء وي."

۲) ان مثلی و مثل الانبیاء من قبلی کمثل رجل بنی بیتا فاحسنه و اجمله الا موضع لبنة من زاویة، فجعل الناس یطوفون به و یعجبون له ویقولون: هلا و ضعت هذه اللبنة؟ قال:

"زما او د مخکینیو تېرو شویو نبیانو مثال داسې دی لکه یو چا چې ډېره ښکلې او ښایسته ودانۍ جوړه کړې وي خو په یوه کونج کې د یوې خښتې ځای پاتې وو، خلک یې پر شاوخوا راتاوېدل او ښکلا ته یې حیرانېدل مګر ویل یې: دا خښته ولې نه ده ایښودل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فانا اللبنة و انا خاتم النبيين.
(بخاري، شمېره: ۳۵۳۵)

شوې؟. ده وويل: زه هغه خښته او خاتم النبيين يم."

۳) لم يبق من النبوة الا المبشرات. قالوا: و ما المبشرات؟ قال: الرؤيا الصالحة.
(بخاري، شمېره: ۶۹۹۰)

"له نبوت څخه نور هيڅ نه دي پاتي يوازي زېرې ورکوونکې خبرې پاتي دي. پوښتنه وشوه: زېرې ورکوونکې خبرې څه دي؟. ده وويل: ښه خوبونه."

پر کتابونو ایمان

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ آمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِيَ أَنزَلَ مِن قَبْلُ وَمَن يَكْفُرْ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيدًا (النساء ۴: ۱۳۶)

"اې مومنانو! پر الله او رسول يې ايمان راوړئ او پر هغه کتاب ايمان راوړئ چې ده پر خپل رسول نازل کړی او پر هغه کتاب هم چې تر دې وړاندې يې نازل کړی او (يادلرئ چې) څوک له الله، د هغه له فرشتو، کتابونو، رسولانو او د قيامت له ورځې منکر شي هغه په ډېره لرې ګمراهي کې ولوېد."

لکه څرنګه چې د انسان د هدايت لپاره انبياء را لېږل شوي همدارنګه الله له هغوی سره خپل کتابونه هم نازل کړي دي، دا کتابونه يې د دې لپاره هم نازل کړي چې د الله هدايت په ليکلي ډول او په خپله د ده په الفاظو له خلګو سره موجود وي څو د حق او باطل لپاره يو ميزان شي. خلګ يې په وسله د خپلو اختلافاتو پرېکړه وکړای شي او په دې توګه د دين په معامله کې پر حقيقي انصاف ودرېږي. ويل شوي:

وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ (البقرة ۲: ۲۱۳)

"او له (دې نبيانو) سره يې د پرېکړه کوونکي په توګه خپل کتاب نازل کړ څو د خلګو ترمنځ د هغوی د اختلافاتو په اړه پرېکړه وکړي."

وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ

"او له دې (رسولانو) سره مو خپل کتاب (د حق و باطل لپاره) ميزان نازل کړ څو (يې په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بِالْقِسْطِ (الحدید ۵۷: ۲۵)

وسیله) خلک (د دین په معامله کي) پر حقیقي انصاف قایم شي."

دا مهال چي د بایبل د صحیفو په نوم کومه مجموعه موجوده ده له هغو په ظاهره همدا معلومیږي چي دا کتابونه په یوه نه یوه شکل ټولو پیغمبرانو ته ورکول شوي، لکه څرنګه چي قرآن د تورات او انجیل یادونه کوي همدارنګه د ابراهیم صحیفې هم یادوي.[۵۶] د دې تائید د بقرې او حدید له هغو ایاتونو هم کیږي چي پورته نقل شوي، دا ټول الهي کتابونه دي له همدې وجې قرآن بې له تفریقه پر هغو د اجمالي ایمان غوښتنه کوي، البته په دوی کي څلور کتابونه د بې ساري اهمیت وړ دي. تورات، انجیل، زبور او قرآن. پېژندنه یې داده:

تورات

دا پر موسی علیه السلام نازل شوی او په عمومي ډول پر هغو پنځو صحیفو مشتمل بلل کیږي چي د بایبل په پیل کي راغلې دي او خمسه موسوي (Pentateuch) یې بولي، یعني پیدایښت، خروج، احبار، شمېرنه او تثنیه. که دا صحیفې په تدبر سره مطالعه شي نو په ښکاره ترې معلومیږي چي په لومړنیو څلورو صحیفو کي له تاریخي بیانونو سره په خپل ترتیب نقل شوې او په تثنیه کي بالکل د داسي یوه کتاب په شکل ترتیب شوې لکه قرآن چي ترتیب شوی. غالبا په خپل اوسني شکل تر میلاد پنځه پېړۍ وړاندې یو وخت مرتبې شوې، مګر موسی علیه السلام چې یې څرنګه یادونه کړې پر هماغه بنا ویل کېدای شي چي تر یوه حده د ده تائید هم ورسره دی، د هغو عبراني متن چي دا مهال د لاسي لیکنو او چاپ په شکل موجود دی ماسوري متن (Massoretic Text) بلل کیږي، دا خبره په عمومي ډول منل شوې چي په لرغوني دوره کي پر دې متن سربېره نور روایتونه هم ول او په ځینو ځایونو کي یې ګڼ مخالفتونه درلودل. په سامري تورات او په ځانګړي ډول یوناني سبعین (Septuagint) کي چي تر ټولو لرغوني روایت دی د دې اختلافاتو ثبوت موندل کیږي.

د انبیاء علیهم السلام په وسیله چي انسان ته د الله کوم هدایت ورکول شوی د هغه دوې برخې دي یو قانون او بل حکمت. په تورات کي تر ډېره قانون بیان شوی ځکه یې دا

[۵۶] سورة الأعلی ۸۷: ۱۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نوم ورکړی دی، قرآن یې هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ [۵۷] (د بني اسرائیلو لپاره هدایت) او تَفْصِيلاً لِّكُلِّ شَيْءٍ [۵۸] (د هر څه تفصیل) بولي. هغه وایي چې په دې کې د الله حکم دی. [۵۹] هدایت او رڼا ده [۶۰] او د خلکو لپاره رحمت دی [۶۱] په دې کې شک نه شته چې په هغه کې د یهودو د لاس وهنو یادونه کوي. [۶۲] مګر له دې سره دا هم حقیقت دی چې د هغه کوم روایت (Version) د رسول الله ﷺ پر مهال له یهودو او نصاراوو سره وو، قرآن یې په مجموع کې تصدیق کوي.

زبور

دا د هغه کتاب نوم دی چې پر داود علیه السلام نازل شو، د خپل مضمون له مخې د الهي نغمو مجموعه ده چې مزامیر بلل کېږي. د بایبل د صحایفو په مجموعه کې چې دا مهال د زبور په نوم کوم کتاب شامل دی په هغه کې پنځه دیوانونه او (۱۵۰) مزامیر دي، که څه هم د نورو خلکو مزامیر هم ورسره ګډ وډ شوي مګر کوم مزامیر چې په صراحت سره د داود علیه السلام بلل شوي په هغو کې هر د ذوق خاوند د الهي کلام خوند احساسولای شي. د انجیل په څېر دا هم یوه د حکمت صحیفه ده او قرآن یې د الله د یوه نازل کړي کتاب په توګه تصدیق کوي.

انجیل

دا پر عیسی علیه السلام نازل شو، د هغه د رسالت په اهدافو کې یو لوی هدف د وروستي نبوت بشارت یا زېرى وو، د انجیل معنا ده بشارت او له همدې وجې دا نوم پرې ایښود شوی دی. د اسماني کتابونو له عامې طریقې سره سم دا هم د دعوت او انذار د اړتیاوو له مخې وخت پر وخت نازلېده، وړاندې تر دې چې د یوه کتاب په شکل مرتب او محفوظ شي عیسی علیه السلام د خپل قوم د سرکښۍ له امله له دنیا پورته کړای شو. له همدې وجې دا کوم مرتب کتاب نه بلکي تیت - پرک خطبې وې چې د ژبنیو روایتونو او لیکل شویو

---

[۵۷] بني اسرائیل ۱۷: ۲
[۵۸] الأنعام ۶: ۱۵۴
[۵۹] المایدة ۵: ۴۳
[۶۰] المایدة ۵: ۴۴
[۶۱] الأعراف ۷: ۱۵۴
[۶۲] المایدة ۵: ۱۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یادښتونو په وسیله خلکو ته ورسېدې. څه موده وروسته د عیسی علیه السلام پر سپرت ځینو کسانو د رسالو په لیکلو پیل وکړچې دا خطبې پکې له مناسب ځای سره سم درس شوې، همدا رسالې نن انجیل بلل کېږي. د عیسویت په ابتدایي زمانه کې ګڼ انجیلونه موجود ول، په (۳۸۲م) کې د پاپ دیماسس (Damasus) تر مشرۍ لاندې د کلیسا مذهبي مخکښانو له هغو څخه څلور غوره کړل، پاتې یې پرېښوول او غیر موثق (Apocryphal) وبلل شول. د بایبل په مجموعي صحیفو کې د متی، مرقس، لوقا او یوحنا د انجیلونو په نوم شامل دي. له پیله په یوناني ژبه لیکل شوي ول سره له دې چې د عیسی علیه السلام ژبه ارامک (Aramaic) وه او ده خپلې موعظې په دې ژبه وړاندې کړې وې. د هغو لیکونکي هم تر عیسی علیه السلام وروسته د هغه په مذهب کې شامل شول له همدې کبله هیڅ انجیل تر اویا مېلادي وړاندې نه دی لیکل شوی او یوحنا انجیل خو غالبا تر عیسی علیه السلام یوه پېړۍ وروسته د کوچنۍ اسیا په افسس ښار کې یو وخت لیکل شوی. له دې سره - سره چې په هغو کې د عیسی علیه السلام کومې ویناوې، لارښوونې او تمثیلونه راغلي الهامي شکل یې داسې څرګند دی چې د اسماني کتابونو په اسلوب خبر هیڅوک ترې انکار نه شي کولای ځکه نو ویل کېدای شي چې قرآن پر کوم انجیل د ایمان راوړلو غوښتنه کوي د هغه یوه لویه برخه د سپرت په دې کتابونو کې خوندي ده.

قرآن

دا د الله پر وروستي رسول محمد ﷺ نازل شوی دی، الهي وینا ده چې دا میزان او فرقان دی.[۶۳] او د مخکینیو کتابونو لپاره د یو مهیمن حیثیت لري. دا له (هیمن فلان علی کذا) څخه جوړ شوی اسم صفت دی چې د ساتونکي او څارونکي په معنا کارېږي، مطلب دادی چې د الهي کتاب باوري او د اعتماد وړ نسخه قرآن دی له همدې کبله باید د دین په هره معامله کې د رد او قبول پرېکړه نورد هماغه په رڼا کې وشي، ویلي یې دي:

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ عَمَّا جَاءكَ مِنَ الْحَقِّ (المایدة ۵: ۴۸)

"او (اې رسوله) موږ دا کتاب په حقه درته نازل کړی، د هغه کتاب په تصدیق کې چې ترده وړاندې موجود دی او د هغه کتاب لپاره د مهیمن په توګه ځکه نو د دوی ترمنځ له هغه هدایت سره سمه پرېکړه وکړه چې الله نازل کړی

[۶۳] الشوری ۴۲: ۱۷، الفرقان ۲۵: ۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او د هغه حق په پرېښودو چې تاته راغلی د
دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه."

قرآن (۱۱۴) سورتونه لري چې ډېری یې د خپل مضمون له مخې غبرګولي دي، د رسول الله ﷺ د دعوتي مراحلو په ترتیب پر اوو بابونو مرتب شوی، ژبه یې عربي ده او د الله په امر جبریل علیه السلام د رسول الله ﷺ پر زړه نازل کړی دی، ده خپل قوم ته وړاندي کړ او وروسته د مسلمانانو په اجماع او قولي و تحریري تواتر نقل شوی دی. د نړۍ په اسماني کتابونو کې اوس یوازې همدا کتاب دی چې په اړه یې له بشپړ یقین سره ویل کېدای شي چې دا په څه ډول نازل شوی؟ له څه ادنی تغیر پرته په هماغه ډول، هماغه ژبه او هماغه ترتیب سره دا مهال له موږ سره موجود دی. د هغه دا تواتر په خپله یوه معجزه ده، ځکه دا د نړۍ یوازینی کتاب دی چې دا مهال یې هم په لکونو مسلمانان له الحمد څخه تر والناس پورې صرف د حافظې په مرسته زباني ویلای شي. تاریخ وایي چې په تېرو څورلس سوه کلونو کې یې دا تسلسل یوه ورځ هم غوڅ نه شو، له دې په واضح ډول معلومېږي چې د هغه د ساتنې دا انتظام په خپله د نړۍ والو د رب له لوري ترسره شوی دی. لکه چې ویلي یې دي:

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ(الحجر: ۹) — "دا یادونه موږ نازله کړې او موږ یې ساتونکي یو."

همدا حقیقت په یوه بل ځای کې داسې بیان شوی دی:

وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ * لاَ يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَ مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ* (حم السجدة ۴۱: ۴۰، ۴۱) — "او په دې کې شک نه شته چې دا یو د لوړې مرتبې کتاب دی، باطل یې نه مخته راتلای شي او نه له شا، دا د یو حکمت د خاوند او ستایل شوي ذات له خوا په ډېره پاملرنه نازل شوی."

په دې ایت کې چې د قرآني ایاتونو د ساتنې کومو اړخونو ته اشاره شوې هغه د استاذ امین احسن اصلاحي په الفاظو دادي:

"یو دا چې د قرآن د نزول په زمانه کې الله دې چارې ته ځانګړې پاملرنه وکړه چې د قرآن په وحي کې شیطانان هیڅ مداخله ونه کړای شي، هسې خو د کایناتو په نظام کې یو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مستقل سیستم دی چې شیطانان د ملأ اعلی خبرې نه شي اوربدلای مګر د قرآن کریم د نزول پر مهال ځانګړی نظم را منځ ته شوی وو چې شیاطین په الهي وحې کي مداخله ونه کړي څو دوی د قرآن په مخ کي (من بین یدیه) د یو څه داخلولو فرصت ترلاسه نه کړای شي.

دویم دا چې د دې کار لپاره الله کومه فرشته غوره کړه په قرآن کي یې صفت ذي قوة، مطاع، قوي، امین، عند ذي العرش مکین راغلی یعني هغه فرشته دومره زورور ده چې خبیث ارواح یې مغلوبولای نه شي، د ټولو فرشتو مشره ده او هیڅ شی ترې هېرېدلای نه شي. د الله له لوري چې کوم امانت ور سپارل کېږي هغه یې په عیني هغه ډول ادا کوي، امکان نه لري چې د زېر او زور فرق دي هم پکي را منځ ته شي، هغه الله ته ډېره نژدې ده او دا خبره د دې دلیل دی چې د خپلو ورټیاوو له مخې پر ټول مخلوق لوړه ده. څرګنده ده دا انتظام هم د دې لپاره را منځ ته شوی چې په قرآن کي د هغه د منبع له خوا د هیڅ باطل د داخلېدو امکان پاتي نه شي.

درېیم دا چې الله د دې امانت د بارولو لپاره کوم بنده غوره کړلو مړی خو هغه له هره پلوه خیر الخلایق وو، دویم دا چې الله یې د یاد، حفاظت او ترتیب مسئولیت یوازي د ده پر اوږو وانه چاوه بلکي دا مسئولیت یې په خپله واخیست. په سورة القیامة کي یې ویلي: لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ * إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ * ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ* [٦٤] (او ته د دې قرآن ترلاسه کولو لپاره خپله ژبه تېزه مه خوځوه، د هغه جمع کول او اورول زمونږ مسئولیت دی، کله چې یې مونږ واوروو نو د اورولو پیروي یې وکړه بیا یې وضاحت پر مونږ دی.) په روایاتو ثابته ده چې څومره قرآن نازلېده رسول الله ﷺ او د ده نژدې ملګرو به یاداوه هم او په هره روژه کي به رسول الله ﷺ له جبریل سره د هغه مذاکره هم کوله، څو د هیڅ ډول وېرې او خطا اندېښنه پاتي نه شي او دا مذاکره به له هغه ترتیب سره سمه وه چې په کوم ترتیب الله د قرآن تدوین غوښت. له روایاتو دا هم معلومېږي چې رسول الله ﷺ د خپل ژوند په وروستۍ روژه کي دوه ځله دا مذاکره ترسره کړه، بیا له هماغه ترتیب او هماغه قرأت سره سم ټول قرآن ولیکل شو او وروسته خلفاء راشدینو نوري نسخې د اسلامي خاورې ټولو ښارونو ته ولېږلې، په مخکینیو صحیفو کي هیڅ یو یې هم دا ډول انتظام ترلاسه نه کړای شو ان د تورات په اړه خو چا ته دا هم معلومه نه ده چې د هغه ببلابیلي صحیفې په کومه زمانه کي او د کومو خلګو په لاسونو ترتیب شوې؟.

[٦٤] القیامة ٧٥: ١٦-١٩

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څلورم دا چې قرآن د خپلو الفاظو د فصاحت او معنا د بلاغت له مخې معجزه ده چې له امله یې د بل چا کلام ورسره پیوند پدلای نه شي، ان د رسول الله ﷺ خپل کلام هم له دې سره –سره چې دی د قرآن راوړونکی او افصح العرب و العجم دی د هغه مقابله نه شي کولای. له همدې کبله د دې خبرې هیڅ امکان نه شته چې د بل چا کلام ورسره یو ځای کړل شي، کومو دعوه کوونکو چې د قرآن د ځواب جرأت وکړ د هغوی د مزخرفاتو نمونې د ادب او تاریخ په کتابونو کې موجودې دي. تاسو یې له قرآن سره پرتله کړئ، د دواړو ترمنځ به ژور توپیر په نظر درشي. په دې توګه ګواکې د شا له خوا هم (ومن خلفه) په قرآن کې د نورو د مداخلې لار وتړل شوه.

پنځم دا چې الله تعالی د قرآن له ساتنې سره تر قیامته د هغه د ژبې د ساتنې وعده هم کړې، نورو اسماني صحیفو ته خو د هغوی د اصلي ژبو د له منځه تلو له وجې د ترجمو له لارې بې شمېره تحریفونو لار ومونده چې نن یې پته لګول ناممکن دي مګر د قرآن اصلي ژبه خوندي ده او تر قیامته به خوندي وي. له همدې وجې هغه ته د ترجمو او تفسیرو له لارې د هیڅ ډول باطل د ننوتلو امکان نه شته، که یو څوک هغه ته د باطل داخلولو هڅه وکړي نو پوهان یې د چاڼ په کولو تړې بېلولای شي." (تدبر قرآن ۷ / ۱۱۲)

د جزا پر ورځ ایمان

إِذَا زُلْزِلَتِ الأَرْضُ زِلْزَالَهَا * وَأَخْرَجَتِ الأَرْضُ أَثْقَالَهَا * وَقَالَ الإِنسَانُ مَا لَهَا * يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا * بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا * يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ * فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ * وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ* (الزلزال ۹۹: ۱ – ۸)

" (هغه ورځ در یاده کړئ) چې کله ځمکه هغه ډول وښوري چې دې ته یې ښوربدل وي او ځمکه خپل ټول بوج را وباسي دباندې به یې وغورځوي او انسان به ووایي: په دې څه شوي؟ په دې ورځ به ستا د رب په اشاره هغه ټوله کیسه واوروي، په دې ورځ به خلک جلا – جلا راووزي د دې لپاره چې د دوی اعمال وروښودل شي نو چا چې د ذرې په اندازه نېکي کړې وي هم به یې وویني او چا چې د ذرې په اندازه بدي کړې وي هم به یې وویني."

دین چې د کومو حقایو د منلو غوښتنه کوي په هغو کې د جزا ورځ بې ساری ارزښت لري. د انبیاء علیهم السلام په دعوت کې یې بنیادي حیثیت درلودلی، د ټول شریعت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نېکۍ او خیر اساس همدا عقیده ده، د نبوت او رسالت بنسټ پر همدې دی، نبي د دې لپاره نبي دی چې دا لوی خبر بیانوي، رسول له دې وجې رسول دی چې د دې له پیغام سره راځي، یوحنا او مسیح او ابراهیم و موسی ټولو یې اعلان کړی، په تورات کې یې اشاره دي، په زبور کې یې تسبیحات راغلي، په انجیل کې عیسی علیه السلام خبر ورکړی چې په دې ورځ به هغه خلک د الله پاچاهي ته ننوزي چې زما د اسماني پلار له خوښې سره سم چلېږي. قرآن د همدې جزا دورځې لپاره د وېرونې او زېري یوه صحیفه ده، هغه وایي لکه څرنګه چې تاسو له خوبه پورته کېږئ،[65] په څه ډول پر مړه ځمکه اوبه اوري او هغه په کتو -کتو ژوندۍ کېږي،[66] په څه ډول چې تاسو هیڅ نه واست خو له یوه څاڅکي اوبو په ژوندي انسان بدلېږئ،[67] همدارنګه به یوه ورځ له قبر څخه په را پورته کېدو ژوندي شئ، په دې کې به ستاسو رب له یوې ذرې مشکل سره مخ نه شي خو د هغه مخاطبین یې لرې ګڼي او وایي چې دا خاوري شوي او ایرې شوي هډوکي به څوک را ژوندي کوي؟ نو دی ځواب ورکوي هماغه چې لومړی ځل یې جوړ کړي ول.[68] د یوه لفظ ویل چې څومره اسانه دي د ده لپاره همدا کار همدومره اسانه دی.

فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ (الذاریات ۵۱: ۲۳)

"نو د ځمکې او اسمان په رب قسم! دا به واقع شي، بالکل هماغه ډول لکه څرنګه چې تاسو خبرې کوئ."

هغه وایي: دا ستاسو د فطرت غوښتنه ده، په تاسو کې د خیر و شر د شعور تقاضا ده او د انصاف لپاره ستاسو د طلب غوښتنه ده، تاسو چې خدای منئ د هغه د عدالت تقاضا ده، د هغه د ربوبیت غوښتنه ده، د ده د رحمت، قدرت او حکمت غوښتنه ده، د ده د قوانینو او سنو غوښتنه ده، پر هغې له ایمان پرته دین د نفس له غوښتنو پرته بل شی نه دی، د نېکۍ، تقوا، عدل او انصاف او جزا و سزا ټول تصورات بېخي بې معنا دي، که دا ورځ نه وي نو کاینات به د لوبغاړي لوبه، د رام داستان او د خدای نندارتون وګرزي.

---

[65] الزمر ۳۹: ۴۲

[66] الأعراف ۷: ۵۷، فاطر ۳۷: ۹

[67] القیامة ۷۵: ۳۶ - ۴۰

[68] یس ۳۶: ۷۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې ورځې شواهد، نښې، حالات او پېښې چې قرآن او حدیث دواړو کې یاد شوي دي، موږ به یې دلته بیان کړو.

شواهد

لومړی شی په انسان کې دننه د خیر او شر شعور دی، دا د همدې شعور نتیجه ده چې د ده په ضمیر کې یو څارونکی هر وخت ده ته د بدیو خبر ورکوي، دا د ده په باطن کې یوه وړه محکمه ده او پر هره موکه خپلې بې پرې پرېکړه اوروي، انسان یې منې او که نه خو د فکر او خیال او علم و عمل تر هرې تېروتنې وروسته یې ضرور اوري. مګر دا چې د هغه د نفس خباثت دومره ډېر شي چې د اعمالو د تورو الې له کبله یې پر زړه احاطه وکړي او بېخي یې ړوند و کوڼ کړي، دا پر انسان په خپله د هغه د باطن شاهدي ده او په نفس لوامه ترې تعبیر شوی دی، قرآن هماغه وړاندې کوي او انسان ته وایي چې ته یو بې مهاره اوښ نه یې چې څه وغواړې ویې کړې او هیڅ پوښتنه در څخه ونه شي. تا ته باید معلومه وي لکه څرنګه چې په تا کې دننه دا وړو کې قیامت شته همداسي به د ټولو کایناتو لپاره حتما یو قیامت راځي چې په هغه کې به ته د خپل رب په حضور کې ځواب ورکوې او څه چې دي کړي د هغو له مخې به ستا د جزا او سزا پرېکړه وشي. که یې ته نه منې نو خپل ځان دروغجنوې او د خپل ضمیر په مخ کې بغاوت کوې:

لاَ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ * وَلاَ أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ * أَيَحْسَبُ الإِنسَانُ أَلَّن نَجْمَعَ عِظَامَهُ * بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ * بَلْ يُرِيدُ الإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ * يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ* فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ * وَخَسَفَ الْقَمَرُ * وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ * يَقُولُ الإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ * كَلاَّ لاَ وَزَرَ * إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ * يُنَبَّأُ الإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ * بَلِ الإِنسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ * وَلَوْ أَلْقَى مَعَاذِيرَهُ* (القيامة ۷۵: ۱-۱۵)

"نه! زه د قیامت ورځ په شاهدي کې وړاندې کوم او نه زه (ستاسو) هغه لوامه نفس په شاهدي کې وړاندې کوم، ایا انسان فکر کوي چې موږ به یې هډوکي را غونډ نه کړای شو؟، ولي نه موږ یې په بشپړ ډول برابرولای شو (نه خبره دا نه ده) بلکې (حقیقت دادی چې) انسان د خپل ضمیر په مخ کې بغاوت غواړي، پوښتي قیامت به کله راځي؟ مګر کله چې سترګې وځلېږي، سپوږمۍ توره شي او لمر و سپوږمۍ (دواړه) یو ځای شي، نو په دې ورځ به انسان ووایي: چیرې وتښتم؟، هیڅکله نه! اوس هیڅ ځای پناه نه شته، په دې ورځ به ستا د رب مخ ته درېدل وي، په دې ورځ به انسان ته وویل شي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې څه يې مخ ته لېږلي او څه يې ترشا پرېښي؟ (نه دی هغه دروغ نه شي بللای) بلکې (حقیقت دا دی چې) انسان په خپله پر ځان شاهد دی، که څه هم ډېرې پلمې جوړې کړي."

استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل تفسیر کې د قرآن دا استدلال واضح کړی، دی لیکي:

"اوس پوښتنه داده چې کله انسان په خپل ضمیر کې دننه یو څارونکی لري او له ده څخه پر صادر بدونکو بدیو نیوکه کوي نو څرنګه د هغه لپاره دا تصور معقول بلل کېدای شي چې دی یو بې مهاره اوښ دی، څه ډول ژوند چې غواړي ودي کړي او چې څومره غواړي د دې څارونکي مخالفت دې وکړي خو هیڅوک ترې د پوښتنې حق نه لري. که انسان بې مهاره اوښ وي نو په ده کې دا ملامتوونکی نفس له کومه شو؟، که د ده خالق د خلګو له نېکۍ او بدي دواړو سره ترڅو نه لري نو هغه د نېکۍ د ستاینې او پر بدی د ملامتۍ لپاره د انسان په باطن کې دا اندېښنه ولې او له کومه ځایه واچوله؟. بیا له همدې ځایه دا پوښتنه هم را زېږي چې کله هغه په هر انسان کې دننه داوړوکي محکمه قایمه کړې نو د دې ټولې نړۍ لپاره به ولي داسي لویه محکمه نه جوړوي چې د ټولې دنیا د اعمالو خیر او شر محاسبه کړي او هر چا ته د هغه له اعمالو سره سمه جزا یا سزا ورکړي؟. څوک چې پر دې پوښتنو له خواهشاتو په ازاد بدو غور وکړي هغه به همدا ځواب ورکوي چې بې شکه د انسان خپل وجود ګواه دی چې دی د خیر او شر له شعور سره پیدا شوی دی او بې مهاره اوښ نه دی بلکې د ده لپاره حتما د پوښتنې یوه ورځ راځي او په هغې کې به ده ته د بدیو سزا ورکړي، که یې بدې کړنې کړې وې او د نېکیو بدله به ترلاسه کړي، که یې نېکۍ ترسره کړې وې. د همدې ورځې د یادونې لپاره یې خالق په خپله د انسان په نفس کې دننه یوه وړه نمونه را منځ ته کړې څو انسان ترې غافل نه شي او که کله غفلت وکړي نو د خپل نفس باطن ته په کتلو یې تصویر وویني. همدا حقیقت حکماوو او عارفانو داسي بیان کړی چې انسان یوه وړوکې نړۍ ده، په ده کې د یوې لویې نړۍ بشپړ تصویر موجود دی. که انسان خپل ځان په سم ډول وپېژني نو هغه الله او اخرت ټول پېژني."

(تدبر قرآن ۹/ ۸۰)

دویم شی د انسان دا فطرت دی چې دی عدل غواړي او له ظلمه کرکه کوي، په دې کې شک نه شته چې له دې سره- سره هم ظلم کوي خو وجه یې دا نه ده چې انسان د ظلم او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عدالت تر منځ د توپیر وس نه لري یا له ظلم سره مینه کوي بلکي وجه یې داده چې له جذباتو او خواهشاتو په مغلوبېدو د خپل نفس توازن له لاسه ورکوي، په موږ کي هر څوک پوهېږي چې انسان د نورو کورونه سوري کوي خو هیڅکله نه غواړي چې بل څوک دي د ده کور سوری کړي، بل وژني خو هیڅکله نه خوښوي چې بل څوک دي د ده قرېبان او خپلوان ووژني، نورو ته شی کم ورتلي مګر په خپله په کمو تللو هیڅکله راضي نه دی، که له همدې غلو، قاتلانو او بدماشانو وپوښتئ نو اعتراف به وکړي چې دا هر شی یو جرم دی او باید له منځه ولاړ شي. له همدې کبله هیڅ انسان له سد درلودلو او حواسو سره په دې نه شي راضي کېدای چې نېک او بد یو ډول وبلل شي او له دواړو سره یو ډول معامله وشي. قرآن همدا حقایق مخ ته ږدي او د قیامت له منکرینو پوښتي:

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ * مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ* (القلم ۶۸: ۳۵، ۳۶)

"نو ایا موږ به فرمان منونکي له مجرمینو سره برابر کړو؟ په تاسو څه شوي څرنګه فیصله کوئ؟."

درېیم شی د انسان او کایناتو دواړو نیمګړتیا ده، هغوئ چې له کومه اړخه مطالعه شي نو ښکاره لیدل کېږي چې یوه لورته یې د هغو له هره جزه د دوی د جوړوونکي ستر قدرت او لوی حکمت څرګند دی، په هر څه کي بې کچې معنویت، بې ساری نظم و ترتیب، بې جوړې ریاضي و اقلیدس، غیر عادي انتظام او بې پناه تخلیقي ښکلا، علم او عقل حیرانوي، له بلې خوا که په مجموعي ډول د دې دواړو د درک هڅه وکړئ نو تر وروستي بریده ناهیلي کوونکې نیمګړتیا او بې مقصدیت لیدل کېږي.

ځکه انسان ویني چې هر شی په خپل وجود سره وایي: هغه د انسان لپاره پیدا شوی مګر دی د څه لپاره پیدا دی؟، د نړۍ هیڅ شی یې ځواب نه وایي.

پر دې سربېره هیڅ داسي انتظام هم نه لیدل کېږي چې وجاجوي که د دوی د تخلیق کومه هدف شته نو په بشري نوع کي چا پوره کړی او کوم یوه بې پروایي کړې؟.

له هر نعمت سره د مسئولیت شعور د انسان په فطرت کي ځای پر ځای شوی، خو هغه د یوه بې مهاره اوښ په څېر خوشي شوی، الله چې کوم نعمتونه ورکړي د هغو له حساب ورکولو پرته په ډېر اطمنان له دې نړۍ رخصتېږي او هیڅوک یې نه پوښتي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر حق او صداقت د خلګو ساتل د انسانیت اړتیا ده، مګر په شاوخوا نړۍ او ده کې دننه یې کوم حقیقي محرک نه لیدل کېږي، له دې سره چې د ده ضمیر څه غواړي د دنیا واقعي حالات یې خلاف دي، د ده فطري احساس دادی چې د ظلم او انصاف، د خیر او شر ترمنځ دي توپیر وشي مګر دا د همده دنیا ده چې دا حساس ترټولو ډېر پکې ځپل کېږي. له دې نړۍ ډېری انسانان داسې تللي چې د دوی د نېکیو بدله نه ده ورکول شوې او ډېر بد کاره او سرکښ کسان له دې نړۍ رخصت شوي خو د خپلې بدۍ او سرکښۍ هیڅ سزا یې نه ده موندلې.

د نورو ټولو مخلوقاتو بر خلاف انسان د راتلونکي تصور لري، په نباتاتو، جماداتو او حیواناتو کې هیڅوک هم له ځان سره دا تصور نه لري، خو همدا راتلونکی تل ورځخه لرې وي.

د ده په وجود کې ژوړې غوښتنې پټې دي خو ډېري کمې یې پوره کېږي او د ده ډېر کم ارمانونه ترسره کېږي ان تر دې چې د الله په منلو په خپلو سترګو د ده د الوهیت لیدو کوم شدید خواهش د انسان په زړه کې پیدا کېږي هغه هم په دې دنیا کې نه پوره کېږي.

د ده وجود چې تر هر ځایه هم ورسېږي د هغه د خیال تر رسېدو ډېر شاته پاتې وي، دی د اسمان فضاوو، د ځمکې ګوښو او په خپله د خپل وجود باطن ته کښته کېدل غواړي، د خپل همدې خواهش د پوره کولو لپاره د لمر غېږې ته د ورتلو او د ذرو د زړه ځیرلو هڅه کوي خو په همدې هڅو کې دا حقیقت ورته څرګندېږي چې د ده د خیالي پراختیا او وجودي وړتیا تر منځ هیڅ نسبت را منځ ته کېدای نه شي.

دی تل د یوې داسې نړۍ په لټه دی چې هلته د دې نړۍ له ستونزو، غمونو او محدودیتونو په ازادېدو د سوکالۍ او فراغت یو زړه وړونکی ژوند تر لاسه کړای شي، دا یې له لرغونې زمانې یوه باطني غوښتنه ده خو خپل دا ارمان په دنیا کې نه شي موندلای بلکې په زړه کې له خپلو دې ښکلو ارمانونو سره د مرګ غېږ ته ورځي.

د هغه له ژبې وتلی هر لفظ او د ده له اندامونو او جوارحو صادرېدونکي ټول اعمال د کاینات پر پرده داسې نقش کېږي چې هر وخت ورته له پوره صحت سره تکرارېدای شي، دی چې څه فکر کوي او په زړه کې یې کوم بد افکار ورګرزي، د ده د وجود پر صفحه داسې ثبتېږي چې بیا هیڅکله له منځه نه ځي. د وخت حرکت او د حالاتو بدلون هیڅ شی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هم پرې اثر نه کوي، مګر د دې انتظام هدف څه دی؟. د نړۍ هیڅ شي یې نه وضاحت نه کوي.

د انسان شخصیت د هغه له بدنه بېل یو خپلواک وجود لري، د ده بدن چې له کومو ګڼو حجراتو جوړشوی هغه پر له پسې له منځه ځي او تر بیا -بیا زېږدو وروسته نوي کېږي، خو اصل شخصیت یې تل پاتي وي. د ده علم، حافظه، ارمانونه او عادات و خیالات ټول هماغه وي هیڅ بدلون پکې نه راځي نو دا شخصیت له کومه راځي او چیرې ځي؟ د دې پوښتنې هیڅ ځواب نه مونډل کېږي.

دی چې پر کومه ځمکه او سېږي تر هغې په لکونو لوېي ځمکې په اسمان کې حرکت کوي خو په هغو کې د ژوند هیڅ نښې نه شته نو بیا د څه لپاره پیدا شوې؟ په دې نه پوهېږي.

دا د نه ردېدو وړ حقایق دي له همدې وجې دوه حالته کېدای شي یو دا چې د موجوداتو د دې کارخانې په عبث بللو پرېکړه وشي چې دا هسې د لوبغاړو لوبه، د رام کیسه او د قدرت تماشه ده. له دې پرته بل هیڅ حیثیت نه لري، دویم دا چې د جزا له ورځې او د الله له هغې پاچاهي سره یو ځای درک شي چې انبیاء علیهم السلام یې اعلانوونکي دي، د علم او عقل فیصله څه ده؟ هر څوک پوهېدای شي.

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لاَ تُرْجَعُونَ * فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ*

(المؤمنون ۲۳: ۱۱۵، ۱۱۶)

"نو ایا تاسو ګومان کوئ چې موږ بې مقصده پیدا کړي یاست او زموږ لورته به نه را ستنېږئ، نو ډېر لوړ ذات دی الله، حقیقي پاچا. له ده پرته هیڅ معبود نه شته، دی د کریم عرش څښتن دی."

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاء وَالأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لاَعِبِينَ * لَوْ أَرَدْنَا أَن نَّتَّخِذَ لَهْوًا لاَّتَّخَذْنَاهُ مِن لَّدُنَّا إِن كُنَّا فَاعِلِينَ* (الأنبياء ۲۱: ۱۶، ۱۷)

"او ځمکه او اسمان او څه چې د دوی تر منځ موږ د لوبې او تماشې په ډول نه دي جوړ کړي، که مو د کومې لوبې جوړول غوښتلای نو له ځان سره به مو جوړه کړې وای که مو د دې اراده کولای."

استاذ امام لیکي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" ... دا د دې (خبرې) دلیل بیان شوی چې که د دې دنیا ترشا د جزا او سزا کومه ورځ نه وي او همداسي روانه ده او روانه به وي، که څوک نېکي وکړي که بدي، ظلم وکړي او که انصاف، د هغه خالق له خیر او شر سره هیڅ کار نه لري نو معنا یې دا شوه چې دا هر څه یې د خپل ځان د خوشالولو لپاره یوه لوبه او ننداره جوړه کړې، تر څو چې غواړي ځان به پرې خوشالوي او چې کله ستړی شي کمبله به یې را ټوله کړي او د خپلې تلوسې و وخت تېرولو لپاره به نوې لوبه پیدا کړي. ده ویلي: موږ ځمکه او اسمان او د هغو تر منځ شیان د دا ډول کومې لوبې په توګه نه دي پیدا کړي، د کایناتو جوړښت په خپل وجود سره شاهدي ورکوي چې دا د یوه عادل، حکیم، رحمان او رحیم ذات جوړه شوې کارخانه ده، نه د کوم لوبغاړي لوبه ده، نه د دیوتاګانو د جګړې ډګر او نه د کوم بګوان لیلا ده، بلکې له حکمته د دې ډکې کارخانې هر شی شاهدي ورکوي چې خالق یې د یوه ستر هدف او مقصد لپاره پیدا کړې او د هغه د عدل و حکمت بدیهي تقاضا داده چې د دې هدف د ظهور یوه ورځ باید راشي." (تدبر قرآن ۵/ ۱۳۲)

د علم او عقل پربکړه همدا ده، له همدې کبله چې کله څرګندېږي له دنیا سره یو اخرت هم شته نو معلومېږي چې ټولې خلاوې ډکې شوې او د هرې پوښتنې ځواب موندل شوی دی، د ټولو معلومو شواهدو توجیه شوې او هر شی پر خپل مناسب ځای ایښودل شوی دی، د اخرت د نه منلو په صورت کې چې کومه دنیا نیمګړې معلومېده هغه بشپړه ښکاي. د کایناتو اصلي حسن او جمال بې نقابه شوی او انسان نور له دې یقین سره په دنیا کې او سېدای شي چې د غوښتنې کوم شی یې تر مرګ وړاندې ونه شو موندلای تر مرګ وروسته به یې حتما وموميږي، څرنګه چې په پاتي کایناتو کې هرې خوا ته ډاډ او باور دی، دی به یې هم وموميږي، په ده کې چې کومې بې پایه غوښتنې او ارمانونه دي د هغو د پوره کولو لپاره به یوه لا محدوده نړۍ په همېشنۍ توګه وروسپارل شي چې هلته به یوې خوا ته د خوند، سپېڅلتیا او معنویت ابدي جنت وي او بلې خوا ته به هغه دوزخ هم وي چې ظالمان به پکې د خپلو ګناهونو سزا ترلاسه کوي.

په دې سره د دنیا او اخرت تر منځ هماغه تړاو را منځ ته کېږي چې د هرې جوړې فرد یې له یوه بل سره لري، ځکه نو دا حقیقت څرګندېږي چې که علتونه له خپلو معلولاتو، قواوې له وسایلو، طبیعتونه له ارادو او ارواح له اجسامو سره جوړه شوي او په همدې نتیجه کې خپل معنویت څرګندوي نو اخرت هم د دنیا لپاره د جوړې په څېر دی او د هغه په پیوندېدو یې معنویت ترلاسه کړی:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (الذاريات ۵۱: ۴۹)

" او موږ هر څه جوړه پیدا کړي څو تاسو پند تر لاسه کړئ."

تر دې وروسته د هر حساس انسان زړه د جزا او سزا له تصوره رپږدي او ګواکي قیامت په خپل مخ کي راتلونکی ویني، دی احساسوي چې پر ځمکه او اسمان داسي درنښږي لکه د حاملې حمل چې په اړه یې ویل کېدای نه شي کله به څرګند شي؟:

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي لاَ يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلاَّ هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لاَ تَأْتِيكُمْ إِلاَّ بَغْتَةً (الأعراف ۷: ۱۸۷)

" هغوی له تا د قیامت په اړه پوښتي چې کله به راځي؟، ورته ووایه د هغه علم خو زما له رب سره دی، د وخت په راتلو به یې څرګند کړي، ځمکه او اسمان تري درنښږي، پر تاسو به ناڅاپه راشي."

هغه اواز کوي چې اې ربه! د نړۍ دا کارخانه دي عبث نه ده پیدا کړې، ستا له شان، علم او حکمت سره منافي ده چې کوم بې ګټې کار وکړي، زه پوهېږم چې د دې جهان د رنګ او بوی خاتمه به د جزا پر یوه ورځ وي، په دې کي به هغه کسان له عذاب او رسوایي سره مخ شي چې ستا دا دنیا یې د لوبغاړي لوبه بللې وه او همداسي یې ژوند کاوه. زه د هغوی له انجامه ستا پناه غواړم:

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُوْلِي الأَلْبَابِ * الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ* (آل عمران ۳: ۱۹۰، ۱۹۱)

" د ځمکې او اسمان په پیدایښت او د شپې و ورځې په بیا - بیا راتګ کي د عاقلانو لپاره ډېري نښې دي، د هغو لپاره چې په ولاړه، ناسته او اړخونو هر حالت کي الله یاد وي او د ځمکې و اسمان پر تخلیق غور کوي (د دوی دعا دا وي چې) اې ربه! تا دا هر څه بې مقصده نه دي پیدا کړي، ته له دې پاک یې چې عبث کار وکړې نو موږ د دوزخ له عذابه وساته."

څلورم شی الهي صفات دي چې اثار یې د دې کایناتو په ذره - ذره کي ښکاره دي، په هغو کي د ربوبیت او رحمت صفات د ځانګړې توجو وړ دي، دنړۍ د رب له لوري چې د انسان د پالنې کوم بې ساری انتظام را منځ ته شوی د هغه تر لیدو وروسته کوم عاقل په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څه ډول دا باور کولای شي چې د دې خالق به يې بې مسئوليته پرېږدي او له رحمان و رحيم الله څخه څرنګه دا هيله کېدای شي چې کومو کسانو نړۍ د ظلم او تېري کور ګرزولې هغوی ته به هيڅ سزا ورنه کړل شي؟. قرآن پر همدې بنا ځای پر ځای دې ته توجو اړولې چې قيامت د الله د رحمت، ربوبيت، قدرت او حکمت تقاضا ده، د الله تر منلو وروسته هيڅوک ترې انکار نه شي کولای.

په الأنعام کې ويل شوي:

كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لاَ رَيْبَ فِيهِ (الأنعام ۶: ۱۲)

"ده پر خپل ځان رحمت نازل کړی، دی به تاسو حتما د قيامت ورځې ته ور غونډ کړي چې په راتلو کې يې هيڅ شک نه شته."

په سورة نبأ کې دي:

أَلَمْ نَجْعَلِ الأَرْضَ مِهَادًا * وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا * وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا * وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا * وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا * وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا * وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا * وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا * وَأَنزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاء ثَجَّاجًا * لِنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا * وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا * إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا* (النبأ ۷۸: ۶-۱۷)

"ايا موږ ځمکه ځانګو او غرونه (د هغې) مېخونه نه دي ګرزولي او تاسو مو د جوړو په شکل نه کړ است پيدا؟ او (ستاسو لپاره) مو خوب راحت ونه ګرزاوه، شپه مو لباس او ورځ مو د ژوند کولو وخت ونه ګرزوله؟ پر تاسو سربېره مو اووه محکم (اسمانونه) نه کړل جوړ او (په دوی کې) مو يو ځلېدونکی څراغ (دا لمر) پيدا نه کړ؟. له ننبتېځل کېدونکو مو پرله پسې باران نه کړ نازل چې په دې سره غلې، سبزي او ګڼ باغونه شنه کړو؟ (دا هر څه اعلانوي چې) بې شکه د فيصلې ورځ ټاکلې ده."

همدارنګه په ق کې ويل شوي:

أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاء فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ * وَالأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ

"نو ايا دوی پر ځان سربېره اسمان ته نه دي کتلي څرنګه مو جوړ کړی او ښکلی کړی؟ او (نه يې دي کتلي چې) په هغه کې هيڅ ځای

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بَهِيجٍ * تَبْصِرَةً وَذِكْرَى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ * وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُّبَارَكًا فَأَنبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ * وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ * رِزْقًا لِّلْعِبَادِ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذَلِكَ الْخُرُوجُ* (ق ۵۰: ۶-۱۱)

سوري نه شته او ځمکه مو وغوړوله، غرونه مو پکي ولګول او په هغه کي دننه مو هر ډول ښکلي وابنه شنه کړل، د هر هغه بنده د بصيرت او پند لپاره چې رجوع کوونکی وي. له اسمانه مو برکتمنې اوبه نازلې کړې دي، په دې سره مو باغونه را شنه کړل، د فصلونو غلې او د خورما وو لوړې او دنګې ونې هم چې پکي پوړ پر پوړ وړي لګېدلي، د بندګانو د روزي لپاره او په دې مو مړه ځمکه ژوندۍ کړه (له ځمکې ستاسو) راوتل به هم داسي وي."

استاذ امام ليکي:

"په دې سره الله د قيامت دروغ ګڼونکي د خپل قدرت، ربوبيت او حکمت هغو څرګندو ننښو ته متوجې کړي چې پورته او کښته هر ځای تر سترګو کېږي او په هر هغه چا کي د بصيرت او پند پيدا کولو لپاره کافي دي چې په سينه کي يې اغېز منونکی او توجو کوونکی زړه وي.

تر ټولو لومړی يې خپل ستر قدرت او حکمت ته توجو اړولې چې ايا دوی يو وخت تر ځان پورته اسمان ته نه دي کتلي چې وګوري څرنګه مو لوړ کړی؟، په ستورو مو ښکلی کړی؟ او زمونږ د قدرت و حکمت اعجاز دی چې په داسي بې ځنډ و چت کي هيڅ ځای يو سوری نه شي په ګوته کېدای، مطلب دا چې په څه ډول دوی په قدرت او حکمت دا کارنامه پر خپلو سرونو برسېره ويني ايا د هغه لپاره به د دوی تر مرګ وروسته د دوی دويم ځل را پورته کول ګران وي؟.

تر دې وروسته يې له قدرت او حکمت سره د خپل ربوبيت او پالنې انتظام ته هم توجو اړولې، ويلي يې دی چې تر ځان لاندي وګورئ څرنګه مو ځمکه د دوی تر پښو لاندي غوړولې او د هغې د توازن ساتلو لپاره مو پکي دننه د غرونو ميخونه ټک وهلي او ډول - ډول شيان مو را ټوکولي چې د دوی لپاره د خوراک کار ورکړي او په ښکلو منظرو يې سترګې هم خوږې شي. مطلب دا چې دوی د کوم رب د قدرت او حکمت او کوم رب د ربوبيت دا حالات وينې ايا د هغه لپاره ګرانه ده چې دوی تر مرګ وروسته دويم ځل را پورته کړي؟ ايا کوم رب چې د دوی د پالنې دا انتظام را منځ ته کړی ايا هغه به دوی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همداسي خوشي کړي چي خوراک وکړی؟، وځښي، خوندونه واخلي او له دوی څخه په دې اړه هیڅ پوښتنه ونه شي؟." (تدبر قرآن ۷ / ۵۳۸)

پنځم شی په دنیا کي د الله د فیصلې ظهور دی، دا د هغو اشخاصو په وسیله څرګنده شوې چې په نبیانو کي یې د رسالت دنده درلوده. الله هغوی ته بې ساري معجزې ورکړې، په روح القدس یې تائید وکړ او بیا د هغوی په وسیله په دې دنیا کي یو وړوکی قیامت را منځ ته شو، له دې څخه هدف دغه وو چې د اخرت تصور هم په هغه معیار ثابت شي په کوم معیار چې د ساینس د معملو (laboratory) حقایقو تجربې ثابتیږي. تر دې وروسته څرګنده ده چې له هیڅا سره د الله په حضور کي عذر نه شوای پاتېدای.

د دې طریقه داسي غوره شوه چې رسولانو د حق دعوت وړاندي کړ او بیا یې اعلان وکړ چې دوی د خپل قوم لپاره د الله له محکمې سره راغلي، د ایمان او عمل پر بنسټ چې د جزا او سزا د کومې معاملې خبر ورکړل شوی د دوی له قوم سره په دې دنیا کي کېدونکې ده، لکه څرنګه چې طبعي قوانین پیاوړي دي او په هر حال کي نتیجه ورکوي د الله اخلاقي قانون به هم ده له لوري د حجت تر پوره کېدو وروسته هماغه ډول نتیجه ورکوي، له همدې کبله چې د دوی په قوم کي کوم کسان د هغوی دعوت ومني دوی به په دنیا او اخرت دواړو کي نجات تر لاسه کړي او پر مخالفینو به بریالي شي او څوک چې یې ونه مني هغوی به رسوا او له الهي عذاب سره مخ شي.

دا وړاندوینه چې هر وخت او له هر قوم سره ترسره شوې نو تر دې ناشونی او د نه باور وړ بل شی نه وو مګر د تاریخ حیرانوونکی حقیقت دا وو چې هر ځل پوره شوې او دا ډول پوره شوې چې خلګو د الله محکمه لیدلې او ځمکه و اسمان یې په جلال اباد شوي. په لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ[۶۹] کي قرآن همدا حقیقت بیان کړی، بیا یې د یوې عمومي قاعدې په ډول ویلي:

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (یونس ۱۰: ۴۷)

"د هر قوم لپاره یو رسول دی نو کله چې یې هغه رسول راشي د دوی تر منځ په انصاف پرېکړه کېږي او پر دوی به هیڅ ظلم ونه شي."

---

[۶۹] څو تر رسولانو وروسته د خلګو لپاره د الله په حضور کي د کوم عذر وړاندي کول پاتي نه شي. (النساء ۴: ۱۶۵)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له قرآن څخه ښکاري چې په لومړي ځل دا معامله د نوح له قوم سره وشوه، نوح علیه السلام خپل قوم ته خبر ورکړ چې که له شرک څخه په توبه ایستلو د خالص الله بندګي ونه کړي نو ژر به له داسي عذاب سره مخ شي چې دوی به له منځه یوسي، د قوم مشرانو وویل: ستا همدا خبرې دي چې له کبله یې موږ تا په څرګنده ګمراهي کې وینو. تا زموږ د پلرونو اونیکونو سپکاوی کړی او اوس موږ ته د الهي عذاب راتلو ګواښنه هم اوروې، ستا پیروان زموږ د ټیټې طبقې خلک دي چې له سوچ او فکر پرته در پسې دي. نوح علیه السلام ځواب ورکړ: دا ستاسو بد مرغي ده چې تاسو ما بې لارې انسان ګڼئ، زه تاسو ته د الله د رسول په توګه راغلی یم او څه چې درته وایم له کمبوت او زیادت پرته د الله له طرفه یې وایم، دا د الله پیغام هم دی او زما له خوا ستاسو په اړه انتهایي خواخوږي هم. ستاسو له ضد، تعصب، بې عزتي، زړه ازارونې او دښمنۍ و بې زارۍ سره -سره زه درته دا پیغام او روم نو سبب یې له دې پرته بل څه نه دی چې له ما سره وپره ده او دا غم راسره دی چې هسې نه الله مي ونیسي.

د قرآن وینا ده چې دی (۹۵۰) کاله په خپل قوم کې پاتې شو او په همدومره خواخوږي سره یې هغوی خبرول، مګر تر دومره اوږدو هڅو وروسته چې کله هم قوم د هغه تکذیب وکړ او د خپل چلند اصلاح ته چمتو نه شول نو الله ورته د کښتۍ جوړولو امر وکړ. دا ګواکې د قوم لپاره یو ضرب الاجل وو چې د کښتۍ له بشپړېدو سره به د دوی عمر هم پای ته رسېږي، کله چې کښتۍ جوړه شوه او د هغه منونکي پکې سپاره شول نو یو ستر توپان راغی ګواکې ځمکې ته امر وشو چې خپلې ټولې اوبه را وخوټوه او اسمان ته یې حکم وکړ چې خپلې ټولې اوبه را واوروه. بیا چې کومه نښه ټاکل شوې وه اوبه هغې ته په رسېدو ودرېدې او ټول قوم پکې غرق شو، ان د نوح علیه السلام زوی کنعان هم د خپل ضد له املە له منځه ولاړ. دا یوه له عبرته ډکه نداره وه، توپاني بادونه چلېدل او پر له پسې باران دوام درلود، د غرونو په څېر څپې پورته کېدې، د نوح کښتۍ یې له څپو سره په جګړه وه چې په همدې کې یې پلار ولیدل مخ ته یې زوی حیران او حواس بایللی ولاړ دی. د هغه په لیدو یې پلرنۍ مینه پر جوش راغله ناڅاپه یې کړه چې زویه لا هم فرصت شته، د دې منکرینو په خوشي کولو کښتۍ ته پورته شه مګر د دې وپروونکي حالت په لیدو هم د ده په ضد کې هیڅ کمی رانغی ویې ویل: زه به کوم غره ته پناه یوسم. نوح علیه السلام وویل: دا اوبه نه الهي قهر دی، نن له الله پرته بل څوک ژغورونکی نه شي کېدای. همدا خبرې روانې وې چې ناڅاپه څپه راغله او زوی یې له ځان سره یووړ. د نوح علیه السلام د قوم ټول منکرین همدې انجام

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ته ورسېدل، دا د الهي عدالت بې پرې پرېکړه وه او له دې یوازي هغه څوک خوندي شول چې منونکي ول.[۷۰]

دا لومړنی قیامت وو چې د اتمام حجت تر درجې یې د اخرت د تصور منطقي کولو لپاره را منځ ته شو، تر دې وروسته د دنیا له هر قوم سره همدا معامله وشوه. د عادیانو، ثمودیانو، لوط، شعیب، یونس او دا ډول نورو قومونو کومې پېښې چې په قرآن کې بیان شوې دي هغه د همدې بېلګې دي. الهي وینا ده:

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ لاَ يَعْلَمُهُمْ إِلاَّ اللّهُ جَاءتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّواْ أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُواْ إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ * قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى قَالُواْ إِنْ أَنتُمْ إِلاَّ بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ * قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلاَّ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَـكِنَّ اللّهَ يَمُنُّ عَلَى مَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ وَمَا كَانَ لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ * وَمَا لَنَا أَلاَّ نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّهِ وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَى مَا آذَيْتُمُونَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكِّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ * وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ

"ایا تاسو ته د هغو خلکو حالات نه دي رسېدلي چې تر تاسو وړاندي تېر شوي؟ د نوح د قوم، عادیانو، ثمودیانو او تر هغوی د وروستنیو حالات؟ چې له الله پرته هیڅوک پرې نه پوهېږي، رسولان یې له څرګندو نښو سره ورته راغلل، نو دوی خپل لاسونه د هغوی پرخولو کښېښودل او ویې ویل: تاسو چې له کوم پیغام سره راغلي یاست موږ یې نه منو او تاسو چې څه ته بلنه کوئ د هغو په اړه موږ په داسي شبهو اخته یو چې په سختو شکونو کې اچوونکي دي. رسولانو یې ورته وویل: ایا تاسو د هغه الله په اړه شک لرئ چې د ځمکې او اسمان خالق دی، هغه مو را بولي چې ګناهونه مو وبخښي او تر یوه ټاکلي وخته مهلت درکړي؟، دوی وویل: ته زموږ په څېر انسان یې ته غواړې د هغو اشخاصو له عبادت څخه مو را وګرزوې چې زموږ پلرونو او نیکونو لمانځل نو موږ ته یوه څرګنده معجزه راوړه، رسولانو یې ځواب ورکړ چې موږ ستاسو په څېر انسانان یو مګر الله چې په خپلو بندګانو کې وغواړي پر هغه خپله پېرزوینه کوي او دا

[۷۰] الأعراف ۷: ۵۹ - ۶۴، یونس ۱۰: ۷۱ - ۷۳، هود ۱۱: ۲۵ - ۴۹، المومنون ۲۳: ۳۱، الشعراء ۲۶: ۱۰۵ - ۱۲۲، العنکبوت ۲۹: ۱۴، ۱۵، الصافات ۳۷: ۷۵ - ۸۲، القمر ۵۴: ۹ - ۱۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا فَأَوْحَى إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ * وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الأَرْضَ مِن بَعْدِهِمْ ذَلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ*

(ابراهيم ۱۴: ۹ - ۱۴)

زمونږ په واک کي نه ده چي تاسو ته يوه معجزه راوړو، دا ډول يوه معجزه خو د الله په اراده راتلای شئ، بالاخره دې منکرينو خپلو رسولانو ته وويل: مونږ به تاسو له خپلې ځمکې وشړو، يا به زمونږ ملت ته راګرزئ، نو د دوی رب ورته وحي وکړه چي مونږ به دا ظالمان هلاک کړو او تر دې وروسته به پر دې ځمکه تاسي اباد شئ. دا د هغو لپاره (زېرى دى) چي زما حضور ته له وړاندي کېدو وېرېږي او زما له وعيده ډار لري."

د موسی علیه السلام کیسه هم د دې پرېکړې داستان دی، کله چې ده فرعون او د هغه چارواکو او مشرانو ته خپل دعوت وړاندي کړ او هغوی يې منلو ته چمتو نه شول نو له دوی يې وغوښتل چي دی له خپل قوم سره له دې ځمکې هجرت کوي، دوی اجازه ورنه کړه او لکه څرنګه چي فرعون دهغه دعوت ونه مانه همدارنګه يې د ده د دې غوښتنې له منلو هم انکار وکړ. په دې سره الله پرې پر له پسې تنبيهات نازل کړل چي په نتيجه کي يې هغه په ډېره سخته چمتو شو د څو ورځو لپاره د تګ اجازه ورکړي خو کله چي موسی علیه السلام له خپل قوم سره وخوځېد نو د ده نيت بدل شو او له خپل قوم سره ورپسې ووت، ده فکر کړی وو چي هغوی به را ستنېدو ته مجبور کړي خو نور د فيصلې وخت را رسېدلی وو، له همدې کبله پرېکړه صادره شوه او په داسي حالت کي راغلل چي ګواکي بني اسرائيل الله په خپله غيږ کي تر سيند پوري ايستل او د خپل وخت دا ظالم پاچا يې په هماغه درياب کي له خپلو پوځونو سره يو ځای غرق کړ.[۷۱] د قدرت په دې لويه نښه کي يوه ستره نښه دا هم څرګنده شوه چي د ده مړی سمندر ونه مانه او د عبرت د يوې نښې جوړولو لپاره يې دباندي را وغورځاوه څو د حال په ژبه دهر دور فرعونيان خبر کړي:

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ

"او بني اسرائيل مو تر سمندر واړول نو فرعون او پوځونه يې له سرکښي او تېري سره ورپسې شول ان تر دې چي کله فرعون پر

[۷۱] د دې د تفصيل لپاره وګورئ الأعراف ۷: ۱۰۳ - ۱۳۶، يونس ۱۰: ۷۵ - ۸۹، بني اسرائيل ۱۷: ۱۰۱ - ۱۰۳، طه ۲۰: ۴۰ - ۷۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لا إِلـٰـهَ إِلاَّ الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَاْ مِنَ الْمُسْـلِمِينَ * آلآنَ وَقَـدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ * فَـالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَـةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ*

(یونس ۱۰: ۹۰ - ۹۲)

ډوبېدو شو نو ویې ویل: ما ومنله له هغه ذات پرته هیڅ معبود نه شته چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی او زه یې هم له منونکو یم. اوس دي ومنله؟ حال دا چې تر دې وړاندې دي نافرماني کوله او له فساد کوونکو وې؟، دا وخت به ستا مړی وژغورو څو ترتا د وروسته راتلونکو لپاره د عبرت نښه شي او دا حقیقت دی چې ډېر خلک زموږ له نښو غافل وي."

د ابراهیم علیه السلام تر رسالت وروسته یوه معامله دا وشوه چې د ابراهیم علیه السلام اولاد به هم الله تر قیامته د همدې پرېکړې نمونه ګرزوي، ځکه نو اعلان وشو چې که پر حق و د رښتیا او له څه زیادت و کمبوت پرته یې په پوره قطعیت سره یې د نړۍ ټولو قومونو ته ورسوئ نو د هغوی د نه منلو په صورت کې به الله دوی ته بریا ورکړي او که له دې سرغړونه وکړي نو په وسله به یې د ذلت او محکومیت په عذاب اخته کړي. تین و زیتون، طور سنین او د امن مکه د همدې پرېکړې د ظهور ځایونه دي. د عیسی علیه السلام تر پورته کېدو وروسته چې د هغه پر منکرینو د عذاب پرېکړه پر کوم غره وارول شوه هغه زیتون دی، الله ویلي: نور به پر بني اسرائیلو د تل لپاره د مسیح د منونکو غلبه وي.[۷۲] او وخت پر وخت به داسي کسان ورباندې مسلط کېږي چې دوی ته به ډېر بد عذاب ورکوي.[۷۳] تین د همدې زیتون پر غره واقع یو کلی دی، په لوحا کې دي چې عیسی علیه السلام کله یروشلم یا بیت المقدس ته راغی نو ښار ته تر ننوتلو وړاندې په همدې ځای کې تم شو.[۷۴] د طور غره په اړه خو څرګنده ده چې بني اسرائیلو د امت په توګه خپل ژوند له همدې غره پیل کړ، له ام القری مکې څخه د ابراهیم علیه السلام د اولاد بلې څانګې بنو اسماعیل له همدې ځایه خپل ملي ژوند پیل کړ او د الله پر ځمکه د هغه د عبادت د لومړني مرکز بیت الحرام سرپرستي دوی ته ورکړل شوه. قرآن په شاهدي کې د هغو په وړاندې کولو ویلي چې په دې ځایونو کې د ابراهیم علیه السلام د اولادونو له جزا او سزا لیدو وروسته هغه څه شی دی چې په قیامت کې د الله جزا او سزا دروغ بللای شي؟. الهي وینا ده:

---

[۷۲] آل عمران ۳: ۵۵

[۷۳] الأعراف ۷: ۱۶۷

[۷۴] ۱۹: ۲۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ * وَطُورِ سِينِينَ * وَهَذَا الْبَلَدِ الأَمِينِ * لَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ * ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ * إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ * فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ * أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ* (التين ۹۵: ۱– ۸)

"تين او زيتون شاهدي ورکوي او طور سنين او (ستاسو) دا امن ښار هم چې موږ انسان (پر دې ځايونو) پيدا کړ نو هغه وخت په غوره جوړښت کي وو، بيا مو هغوی ذلت ته ورسول په دې ډول چې په خپله ذلت ته لوېدونکی وو، پاتي شول هغه چې پر ايمان تينګ دي او نېک عمل يې کړی نو د هغوی لپاره داسي اجر دی چې هيڅکله به نه ختمېږي (اې رسوله!) تر دې وروسته څه شی دی چې د جزا د ورځې په اړه تا دروغجن ګڼي (له دوی وپوښته) ايا الله ترټولو فيصله کوونکو ښه فيصله کوونکی نه دی؟."

دا پربکړه په وروستي ځل په اوومه عيسوي پېړۍ کي ترسره شوه، د انساني تاريخ دا حيرانوونکي پېښه له دې پلوه د بې ساري اهميت وړ ده چې د تاريخ په رڼا کي را منځ ته شوې ان ټول جزيات يې خوندي دي او ګواکي ګرد مراحل يې د سترګو مخ ته پراته دي چې هر سړی کله وغواړي د تاريخ د پاڼو په اړولو يې ليدلای شي.

د دې لپاره چې کوم رسول غوره شو د هغه نوم محمد ﷺ دی، دی په سېرت او کردار کي تر ټول انسانيت لوړ، د انساني نسل غوره فرد او په اخيري درجه يو معياري انسان وو. ده ته په څلوېښت کلنۍ کي نبوت ورکړل شو او تر دې وړاندې يې ټول ژوند له اخلاقي پلوه دومره ممتاز وو چې خپل قوم د صادق او امين په نوم مونو ياداوه، د هغوی هر فرد د دې شاهدۍ لپاره تيار و و چې د ده امانت او ديانت تر هر ډول شک لوړ دی او دی هيڅکله دروغ نه شي ويلای. تر نبوت وروسته يې هم د قوم وګړو هر ځای د ده په اړه دا شاهدي ورکړه، په داسي حال کي چې هغه مهال د ده د سر دښمنان ول.

په لومړي ځل چې د وحې له تجربې سره مخ شو او خپلې مېرمنې ته يې اند ښبنه څرګنده کړه نو هغې د ډاډ په ورکولو وويل: قسم په الله! تا به رب هيڅکله رسوا نه کړي ځکه ته خپلوي پالې، تل رښتيا وايې، د خلګو بوج پورته کوې، له بې وزلو سره مرسته کوې، مېلمه پال يې او له غم ځپلو سره کومک کوې.[۷۵]

[۷۵] بخاري، شمېره: ۵۹۵۳، مسلم شمېره: ۴۰۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ده هیڅکله له چا خپل شخصي انتقام وانه خیست ان پر خپلو سخت دریځو دښمنانو د وروستۍ فتحې تر موندلو وروسته یې وویل: ورځئ ازاد یاست، زه به ستاسو پر خلاف هیڅ اقدام ونه کړم.[۷۶]

د ده ژوند له هر ډول غرضه د پاکوالي بې جوړې نمونه وه، قریشو ورته د مال و دولت، مشرۍ، پاچاهي او هر څه وړاندیز وکړ مګر ده د هغو پر لور د سترګو وروپورته کول هم خوښ نه کړل بلکي ویې ویل: که خلګ زما په یوه لاس کي لمر او په بل کي سپوږمۍ راکړي نو هم به له خپله دریځه شا ته کېدو ته چمتو نه شم.[۷۷]

کله چې یې په مدینه کي حکومت را منځ ته کړ نو ساده ژوند یې درلود، د ده په حالاتو کي له دومره بې ساري بدلون سره -سره یې د اوسېدو او ژوند په طرز کي ادنی بدلون هم رانغی.

لنډه دا چې د خپل ژوند په هر دور او هره معامله کي یو بې ساری انسان وو، په ټول معلوم تاریخ کي د داسي چا نوم هم نه شي اخیستل کېدای چې د اخلاقو کوم ډول یې بیان کړی وي، خلګو د ده په ژوند کي په همدومره کامل او بشپړ ډول څرګند لیدلی وي. د اوسني دور د یوه عالم اولیکوال وینا ده: د ده انسانیت دومره لوړ وو چې که پیدا شوی نه وای نو تاریخ به لیکل چې دا ډول انسان نه پیدا شوی او نه پیدا کېدای شي.[۷۸]

له همدې شخصیت او سېرت سره ده خپل دعوت وړاندي کړ خو قومیې له منلو انکار وکړ، ده هغوی ته خبر ورکړ چې دی له نبوت سره د رسالت دنده هم لري او د الهي عدالت په توګه راغلی دی، له همدې کبله چې د نوح، لوط، شعیب او عاد و ثمود پر قومونو کوم وړوکی قیامت راغلی وو، هغه به د ده له لوري د دلیل تر پوره کولو وروسته پر دې قوم هم رائي.

دا یو بې ساری اعلان وو، معنا یې دا وه چې د ده پر منکرینو به الهي عذاب راشي او منونکي به یې حتما په دې سیمه کي بریالي شي، کوم مهال چې دا اعلان وشو نو له څو نژدې کسانو پرته یې هیڅ ملاتړی هم نه درلود، تر دې وروسته هم د ده په هڅو کي ډېر

---

[۷۶] السیرت النبویة د ابن هشام ۴ / ۴۳

[۷۷] السیرت النبویة، د ابن اسحاق ص: ۱۱۷، السیرة النبویه د ابن کثیر ۱ / ۱۷۴

[۷۸] مذهب اور جدید چیلنج د مولانا وحید الدین خان ص: ۱۴۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نازک پړاوونه راغلل، د مخالفینو له زورونو څخه د ځان ساتنې لپاره یې ملګري د حبشې هجرت ته مجبور شول، له مکې د تل لپاره وایستل شول، هغه ورځ هم ولیدل شوه چې مدینې ته تر رسېدو وروسته ټول عرب د ده او دعوت په له منځه وړلو یې پسې شول. ځواک، سرمایه، تبلیغات او پټې دسیسې هر څه وکارول شول، هره شېبه داسې احساسېده چې څلورو لورو ته غوړېدلی دښمن به یې اختطاف کړي، په دې حالاتو کې دا هیڅ د منلو وړ نه وه چې دی پر دې خلګو بریالی کېدای شي مګر قرآن پر هره موکه له پوره اعتماد او قاطعیت سره وویل چې ته د الله رسول یې، د دې مخالفتونو بر خلاف به الله تا بریالی کړي.[۷۹]

يُرِيدُونَ لِيُطْفِؤُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ * هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ* (الصف ۶۱: ۸، ۹)

" دوی غواړي چې د الله دا نور د خپلو خولو په پوکلو مړ کړي او الله پرېکړه کړې چې خپل نور به پوره کوي که څه هم پر دې منکرینو هر څومره بد لګېږي، دی هغه دی چې خپل رسول یې له هدایت یعني حق دین سره لېږلی چې هغه (د عربي خاورې) پر ټولو دینونو غالب کړي، که څه هم دا مشرکین یې هر څومره بد ګڼي."

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ * كَتَبَ اللَّهُ لأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ* (المجادلة ۵۸: ۲۰، ۲۱)

" دا خلګ چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، هغوی به ذلیل شي، الله لیکلي چې زه به غالب یېږم او زما رسولان هم ځکه چې الله قوي ډېر پیاوړی دی."

دی چې په کومو خلګو کې پیغمبر شو بیت الله د هغوی د مشرۍ ننبه وه او دوی یې متصرفین ول، په ام القرى مکه او د هغې په شاوخوا کې چې یې کوم نفوذ او اغېز درلود د هغو له مخې هیڅوا هم دا تصور نه شوای کولای چې دی به یوه ورځ هغوی له دې

---

[۷۹] الأنعام ۶ : ۴، ۵ ، ۶۶ – ۶۷ او ۱۵۸، یونس ۱۰ : ۱۳، ۱۰۲، ۱۰۳، هود ۱۱ : ۸، الرعد ۱۳ : ۴۰ ، ۴۱ بني اسرائیل ۱۷ : ۷۷، الکهف ۱۸ : ۵۷، ۵۸، النمل ۲۷ : ۷۱، ۷۲، الصافات ۳۷ : ۱۷۱ – ۱۷۳، المومن ۴۰ : ۵۱، ۷۷ – ۷۸، الزخرف ۴۳ : ۴۱، ۴۲، الاحقاف ۴۶ : ۳۵،الفتح ۴۸ : ۲۲ – ۲۵او ۲۸ ، القمر ۵۴ : ۴۳ – ۴۵ ، اللیل ۹۲ : ۲۹ ، الضحی ۹۳ : ۵ ، الم نشرح ۹۵ : ۵، ۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سرپرستی ګوښه کړي او د قریشو ټول مشرتوب به له منځه ولاړ شي، مګر عیني پر هغه وخت چې دوی له مکې د ده په شړلو پسې ول قرآن اعلان وکړ:

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ* (الکوثر ۱۰۸: ۱-۳)

"(اې رسوله!) موږ تا ته دا ډېر خیر (خپل دا کور) درکړی، د دې لپاره ته (اوس پکې) د خپل رب لمونځ کوه او د هغه لپاره قرباني کوه، په دې کې شک نه شته چې ستا د دښمن ریښې غوڅې شوې او د هغوی هیڅ نوم اخیستونکی به پاتې نه شي."

ورپسې قرآن دا اجمال تشریح کړ او د ده د دعوت تر ټولو د لوی دښمن ابو لهب نوم یې واخیست ویې ویل:

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ * مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ * سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ * وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ * فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ*

(اللهب ۱۱۱: ۱-۵)

"د ابو لهب مټ غوڅ شو او په خپله هم هلاک شو، نه یې مال په کار ورغی او نه هغه (خیر) چې ده ګټلی وو، نور به ډېرې ورځې تېرې نه شي چې دا (شعله مخی به) په لمبه وهونکي اور کې ولوېږي او (له ده سره به یې) مېرمن هم، په دې ډول چې (دوزخ کې) به هغه (د ځان لپاره) سون توکي ټولوي (د مینځو په څېر) به یې په غاړه کې اوبدلې رسۍ وي."

تر دې وروسته څه کېدونکي دي؟ قرآن یې هر پړاو په دې صراحت سره بیان کړی چې د الله مرسته به راشي، مکه به فتح شي او ته به په خپلو سترګو وویني چې ستا د قوم وګړي به ډلې ډلې د الله په دین کې داخلېږي.

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ * وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا * فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا*

(النصر ۱۱۰: ۱-۳)

"(اې رسوله) کله چې د الله مرسته او هغه نصرت راشي (چې موږ یې له تا سره وعده کړې) او ته وویني خلک ډلې ډلې د الله په دین کې داخلېږي، نو له حمد سره د خپل رب تسبیحات وایه او له هماغه معافي وغواړه (ځکه چې) هغه ډېر بخښونکی دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیا یې یو ځای تر دې هم له زیات وضاحت سره ویلي:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (النور ۲۴: ۵۵)

"په تاسو کې چې کومو کسانو ایمان راوړلو او نېک اعمال یې وکړل له هغوی سره د الله وعده ده چې دوی ته به حتما په دې سیمه کې واک ورکوي، لکه څرنګه چې ده هغو خلګو ته واک ورکړ چې تر دوی وړاندې تېر شوي او د دوی هغه دین به (دلته) ټینګ کړي چې د دوی لپاره یې خوښ کړی او دا وخت چې دوی د کومې وېرې په حالت کې دي هغه به بدل کړي، دوی به زما عبادت کوي، هیڅ شی به را سره نه شریکوي او څوک چې تر دې وروسته هم منکر وي هماغه دي چې نافرمان به وبلل شي."

دا د کوم انسان الفاظ نه وو چې له ابدي ارمانونو سره په فضا کې تحلیل شوي وای، دا د الله الفاظ وو چې د ده د رسول پر ژبه بیان شول، له همدې امله په لنډو ورځو کې تاریخ را منځ ته شو یو داسې تاریخ چې نړۍ یې هیڅ مثال وړاندې کولای نه شي، نو الهي مرسته راغله په مدینه کې د رسول الله ﷺ حکومت جوړ شو. د بدر جګړه تر سره شوه او د قریشو په مشرۍ د ده د دعوت ټول معاندین پکې له منځه ولاړل.[۸۰] ابو لهب له دې عذابه د ځان ژغورنې هڅه وکړه او په جګړه کې یې برخه وانه خیسته، مګر د بدر تر ماتې یوازې اووه ورځې وروسته د قرآن وړاندوینه رښتیا شوه او د بنو هاشمو دا سردار د یوې ناروغۍ له وجې داسې ختم شو چې له مرګ وروسته تر درو ورځو څوک د هغه خوا ته ورنغی، ان مړی یې خراب شو او بد بویي یې خپره شوه، بالاخره یې له دېوال سره کښنود او د ده مړی یې په ډبرو پټ کړ.[۸۱] مکه فتحه شوه، د بیت الله سرپرستي مسلمانانو تر لاسه کړه، د الله دا کور له بتانو پاک شو، لمونځ او قرباني دواړه الله ته ځانګړي شول، ټولو عربو اسلام ومانه او هر سړي په خپلو سترګو ولیدل چې د قرآن له تعبیر سره سم خلګ ډلې ډلې د الله دین ته راتلل، نو دین پیاوړی شو، د الله شریعت نفاذ وموند او په عربي خاوره

[۸۰] السیرة النبویة د ابن هشام ۲ / ۱۹۷

[۸۱] السیرة النبویة د ابن کثیر ۲ / ۴۷۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي د بل دین اقتدار پاتي نه شو. تر دې وروسته چې هم کوم کسان پر انکار تینګ ول د هغوی په اړه په نهم هجري کي د حج اکبر پر مهال اعلان وشو چې د حرامو میاشتو تر تېرېدو وروسته به هغوی له عذاب سره مخ کېږي او مسلمانان چې دا مشرکین هر ځای وموميي وژني به يې او له اهل کتابو څخه د محکومیت جزیه اخیستل کېږي.[۸۲] ان تر دې چې له دنیا څخه د رسول الله ﷺ تر تلو وروسته يې ځای ناستو په څو کلونو کي هغه ټولې امپراتورۍ را نسکورې کړې چې واکمنو ته يې رسول الله ﷺ تر خپل وفات وړاندې د لیک په وسیله د اسلام دعوت ورکړ او په ښکاره يې ورته ویلي ول چې که سلامتي غواړئ نو د ده دعوت ومنئ ځکه د الله د رسول له لوري د حجت تر پوره کېدو وروسته به هغوی حتما مغلوبېږي، نور يې واک دوام نه شوای کولای، په دې کي د روم او ایران هغه ستر ې امپراتورۍ هم وې چې د خپل منځي شخړو پر مهال يې یو وخت قرآن دا وړاندوینه کړې وه چې څه هم دا مهال رومیان مغلوب شوي خو ژر به پر ایرانیانو برلاسي شي او د قرآن دا حیرانوونکې وړاندوینه هم د هغه د نورو وړاندوینو په څېر تکي په تکي پوره شوه.[۸۳]

نبۍ (علامې)

دا ورځ به کله راځي؟ قرآن په ډاګه کړې چې له الله پرته هیڅوک پرې نه پوهېږي، وخت يې د ده په علم کي دی او خپل هیڅ نبي او فرشته هم پرې نه خبروي.[۸۴] البته په قرآن، احادیثو او لرغونو صحیفو کي يې نښې او اثار بیان شوي، په هغو کي ځینې يې عمومي غوندي دي او د ځینو ډول د معلومو پېښو او حادثو په شان دی، په لومړۍ ډول نښو کي هیڅ یوه يې په قرآن کي نه ده بیان شوې. په روایاتو کي يې یادونه شوې. په دویم ډول علامو کي هم یو شی په قرآن کي یاد شوی او هغه د یاجوج او ماجوج راوتل دي. له همدې وجې یقیني علامه همدغه ده، له دې پرته چې په عمومي ډول کومې نښې بیانېږي په هغو کي ځینې يې د هغو روایاتو په وسیله بیان شوې چې د محدثینو په اصطلاح د صحت معیار پوره کوي، په هغو کي ځینې يې پوره شوې او د نورو په نسبت کي که رسول الله ﷺ ته غلطي نه وه شوې نو حتما به پوره شي.

---

[۸۲] التوبة ۹: ۵

[۸۳] الروم ۳۰: ۱ – ۶

[۸۴] الأعرا ۷: ۱۸۷، طه ۲۰: ۱۵، حم السجدة ۴۱: ۴۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لومړی ډول نبني د هغه اخلاقي انحطاط یادونه ده چې تر قیامت وړاندې به په ټوله نړۍ کې پیدا شي مثلا ویل شوي چې علم به له منځه ولاړ شي، جهالت به ډېر شي، زنا، د شرابو څښاک او د قتل و لوټمار بازار به تود شي، ان خلک به له څه جرم پرته وژل کېږي، د نارینه وو په پرتله به د مېرمنو شمېر دومره ډېر شي چې د پنځوسو ښځو چارې به د یوه نارینه په لاس کې وي، په نړۍ کې به یوازي شریر خلک پاتي شي او د الله د نوم له اخیستونکو به نړۍ خالي شي.[85]

په دویم ډول نبنو کې مهمه یې د یاجوجو او ماجوجو راوتل دي، الهي وینا ده:

حَتَّى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ * وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَذَا بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ*

(الأنبياء ۲۱: ۹۶، ۹۷)

" تر دې چې کله د یاجوجو او ماجوجو د را خلاصېدو وخت راشي او هغوی به له هرې لورې را کښته کېږي او د قیامت شوې وعده نژدې را ورسېږي نو ناڅاپه به د دې منکرینو سترګې حیراني پاتي شي، هغه وخت به ووایي: موږ له دې څخه غافل وو بلکي موږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی وو."

دا دواړه د نوح عليه السلام د زوی یافث له اولاد څخه دي چې د اسیا په شمالي برخه کې مېشت شول، ورپسې د هغوی ځینې قبایل اروپا ته ورسېدل او تر دې وروسته یې امریکا او استرالیا اباد کړل. د حزقي ایل په صحیفه کې د روس، ماسکو او توبالسک د واکمنو په توګه معرفي شوي دي. حزقي ایل وایي:

" او پر ما د الله کلام نازل شو چې اې د ادم زویه! د جوج لور ته چې د ماجوج ځمکه ده او د روش، مسک او توبل واکمن دي پام واړوه او پر خلاف یې نبوت وکړه."

(حزقي ایل ۳۸: ۱، ۲)

" نو اې د ادم زویه! د جوج پر خلاف نبوت وکړه او ووایه الله وایي چې اې د جوج، روش، مسک او توبل واکمنو وګورئ زه ستاسو مخالف یم، زه به تاسو وګرزوم، له تاسو سره به وګرزم او د شمال له لرې افاقو به را وخېژم." (حزقي ایل ۳۸: ۱، ۲)

[85] بخاري، شمېره: ۸۰، ۸۱، مسلم شمېره: ۳۷۵، ۴۷۸۵، ۷۳۰۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د یوحنا عارف له مکاشفې ښکاري چې د هغوی د راوتو پیل به د رسول الله ﷺ تر رسالت زر کاله وروسته په یوه زمانه کې وي، په دې وخت کې به یې ځمکه څلورو خواوو ته را ګیر کړې وي کله چې به یې فساد انتها ته ورسېږي نو هغه وخت به او ر له اسمانه راشي او د قیامت زلزله به را پیدا شي.

"او کله چې زر کاله پوره شي نو شیطان به له قیده ازاد شي نو هغه قومونه چې د ځمکې څلورو خواوو ته به وي یعني جوج او ماجوج به په ګمراه کېدو د جګړې لپاره غونډه وي ته را ووزي، د دوی شمېر به د سمندر د ریګونو په څېر وي او پر ټوله ځمکه به وغوړېږي، له مقدسو ځایونو به لښکر ځایونه جوړ کړي او ګران ښار[۸۶] به له څلورو لورو محاصره کړي، او له اسمانه به پرې اور نازل شي او هغوی به وخوري."

(مکاشفه ۲۰: ۷-۹)

همدا زمانه د قیامت د نژدې کېدو هم معلومېږي چې رسول الله ﷺ د جبریل امین د یوې پوښتنې په ځواب کې بیان کړې، کله چې هغه د خلکو د تعلیم لپاره په انساني بڼه ده ته راغی نو ده ورته وویل:

ان تلد الامة ربتها و ان ترى الحفاة العراة العالة رعاء الشاء يتفاولون في البنيان.

(مسلم، شمېره: ۹۳)

"یوه نښه داده چې مینځه به خپله مالکه وزېږوي او دویمه داده چې تاسو به د (عربو) دا لوڅې پښې، لوڅ بدن ګرزېدونکي او وږي شپونکي به د لویو -لویو ودانیو جوړوونکي به له یوه بل سره پرسیالۍ ووینئ."

په دغو کې دویمه نښه بېخي څرګنده ده، له تېرې پېړۍ څخه یې هر سړی د عربو په ځمکه کې ظهور په خپله سترګو لیدای شي. د لومړۍ نښې د مصداق په معلومولو کې خلګ له مشکل سره مخ شوي زمونږ په نزد یې مفهوم واضح دی. له دې څخه مراد د یوې اداري په توګه د مرېیتوب خاتمه ده، دا دواړې پېښې په یوه زمانه کې شوې دي له همدې وجې دا وړاندوینه د قیامت د نژدې کېدو زمانه بېخي معلوموي. تر دې وروسته چې به کومې علامې څرګندېږي رسول الله ﷺ د یاجوجو او ماجوجو د راوتلو په شمول یو ځای

[۸۶] د مقدسو له لښکر ځای څخه مراد مدینه او له عزیز ښار څخه مراد د امن ښار مکه ده، دا تعبیرات دومره واضح دي چې د الهامي صحیفو له اسلوبو او د دې ښارونو له تاریخ سره خبر هر سړی یې په فهم کې هیڅ ستونزه نه لري.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیان کړي دي، ده ویلي:

ان الساعة لا تكون حتى تكون عشر آيات: خسف بالمشرق، و خسف بالمغرب، و خسف في جزيرة العرب، والدخان، والدجال، ودابة الارض، و ياجوج وماجوج، و طلوع الشمس من مغربها، و نار تخرج من قعر عدن ترحل الناس، ور يح تلقى الناس فى البحر.

(مسلم، شمېره: ۶/ ۷۲۸)

مطلب دادی چې د قیامت لس نښې دي څو چې هغه نه وي څرګندې شوې قیامت به را نه شي:

۱) په ختیځ کې د ځمکې ننوتل.

۲) په لوېدیځ کې د ځمکې ننوتل.

۳) په عربي ټاپو وزمه کې د ځمکې ننوتل.

۴) دود، له دې څخه مراد یوه لویه اټومي چاودنه هم کېدای شي.

۵) دجال، دا د ډېر تېر ایستونکي، فراډي او مکار په معنا اسم صفت دی. د المسیح الدجال په نوم هم یاد شوی، د دې معنا داده چې تر قیامت وړاندې به یو څوک د مسیحیت دروغجنه دعوه وکړي او په مسلمانانو، یهودو او عیسایانو کې به د عیسی علیه السلام د راتلو له تصور څخه په ګټه اخیستلو په ځینو کمالاتو خلګ تېر باسي. په ځینو روایاتو کې دي چې په یوه سترګه به ړوند وي او مومنانو ته به یې غولونه دومره څرګنده وي چې ګواکې پر تندي یې کفر لیکلی ښکاري.[۸۷]

۶) ځمکنی حیوان چې غالبا به د ځمکې له تله مستقیما دا سي را پیدا شي لکه ټول مخلوقات چې په پیل کې پیدا شوي ول.

۷) د یاجوجو او ماجوجو را وتل. دا پیل شوی او اوس ورو -ورو د خپل عروج پر لور روان دی.

۸) له لوېدیځه د لمر را ختل.

۹) او چې د عدن له کوهي به راووزي او خلګ به شړي.

---

[۸۷] بخاري، شمېره: ۱۸۸۲، ۳۴۳۹، ۷۱۳۱، مسلم، شمېره: ۴۲۵، ۷۳۶۳، ۷۳۷۵، ۷۳۷۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱۰) باد چې هغه به پورته کړي او سمندر ته به یې وغورځوي.

پر دې سربېره د مهدي ظهور او له اسمان څخه د عیسی علیه السلام را کښته کېدل هم د قیامت په علامو کې شمېرل کېږي خو موږ یې یادونه ونه کړه ځکه د مهدي د ظهور روایتونه د حدیثي تنقید په معیار پوره نه خېژي په هغو کې ځینې یې ضعیف او ځینې یې موضوعي دي او په دې کې شک نه شته چې د سند له مخې په ځینو باوري روایتونو کې د یوه سخي خلیفه د راتګ خبر ورکول شوی دی.[۸۸] خو که په دقیق نظر وکتل شي نو په ښکاره معلومېږي چې مصداق یې عمر بن عبد العزیز وو چې د خیر القرون وروستی خلیفه تېر شوی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وړاندوینه د هغه په اړه ټکي په ټکي رښتیا شوې، د دې لپاره کوم موعود مهدي ته د انتظار اړتیا نه شته، د عیسی علیه السلام د نزول روایات که څه هم په عمومي ډول محدثینو منلي خو که د قرآن په رڼا کې وکتل شي نو هغه هم د شک وړ دي.

اول: - له دې امله چې د عیسی علیه السلام پر شخصیت په قرآن کریم کې له څو اړخونو بحث شوی دی، قرآن د هغه پر دعوت او شخصیت ځای پر ځای تبصره کړې، د قیامت هنګامه هم د قرآن ځانګړې موضوع ده، له اسمان څخه د یوه جلیل القدر رسول را کښته کېدل کومه عادي پېښه نه ده مګر په دې اړه بیان ته له اړتیا سره - سره دې پېښي ته د دوو پوښتیو تر منځ په موجود قرآن کې هیڅ ځای اشاره هم نه ده شوې. ایا علم او عقل پر دې خاموشي مطمئن کېدای شي؟، پر دې باور کول اسان نه دي.

دویم: - له دې امله چې په سورت المایدة کې قرآن له عیسی علیه السلام سره د الله یوه مکالمه نقل کړې چې د قیامت په ورځ به ترسره کېږي، په دې کې به الله له هغه څخه د نصارا وو د اصلي ګمراهۍ په اړه پوښتنه وکړي چې ایا تا دوی ته دا تعلیم ورکړی وو چې ما او زما مور له الله پرته معبود وګرزوئ؟. په ځواب کې به یې دی له نورو خبرو سره دا هم ووایي چې ما دوی ته هماغه خبره وکړه چې تا یې راته امر کړی وو او څو چې زه په دوی کې وم، تر هغه وخته مې لیدل چې دوی څه کوي خو کله چې دې را پورته کړم نو نه پوهېږم چې دوی څه جوړ کړي او څه یې خراب کړي؟. تر دې وروسته یې ته څارونکی وې، وګورئ! که عیسی علیه السلام یو ځل بیا دنیا ته راغلی وای نو دا وروستۍ جمله یې په هیڅ ډول مناسبه نه ده تر دې وروسته یې باید ویلي وای چې زه د دوی په ګمراهۍ نه خبریم او همدا څه موده وړاندې مې دوی خبردار هم کړل. الهي وینا ده:

---

[۸۸] مسلم، شمېره: ۷۳۱۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلاَّ مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُواْ اللّـهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْـتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ (المایدة ۵: ۱۱۷)

"ما خو دوی ته هماغه خبره وکړه چې تا یې راته امر کړی وو چې د الله بندګي وکړئ، هغه زما هم رب دی او ستاسو هم، څو چې زه په دوی کې وم پرې شاهد وم بیا چې دي کله را پورته کړم نو ته پرې څارونکی وې او ته پر هر شي شاهد یې."

درېیم: - له دې وجې چې د سورت آل عمران په یوه ایت کې قرآن د عیسی علیه السلام په اړه تر قیامته د عمل لایحه بیان کړې. همدا موکه وه چې الله تر قیامته د الفاظو په صراحت هغه شیان بیانول چې له ده او پیروانو سره کېدونکي دي نو دا به یې هم بیانول چې تر قیامت وړاندې دي یو ځل دنیا ته را لېږم، خو الله داسي ونه کړل. که عیسی علیه السلام راځي نو دا چوپتیا د څه لپاره؟، د دې هیڅ سبب د درک وړ نه دی. ایت دادی:

إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَـوْقَ الَّـذِينَ كَفَرُواْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ (آل عمران ۳: ۵۵)

"ما پرېکړه کړې چې تا به وفات کړم، خپل لوري ته به دي را پورته کړم (او ستا) له دې منکرینو به دي پاک کړم او ستا پیروان به د قیامت تر ورځې پر دې منکرینو غالب کړم، بیا به تاسو ټول ما ته راځئ، هغه وخت به زه ستاسو ترمنځ د هغه څه پرېکړه وکړم چې تاسو پکې اختلاف کاوه."

حالات

قیامت به څرنګه را منځ ته کېږي؟ د دې تفصیلات په قرآن کې څو ځایه بیان شوي دي، پر ځمکه او اسمان به څه تېرېږي؟، له میاشتې، لمر، ستورو او کواکبو سره به څه کېږي؟، پر ځمکه او سېدونکی مخلوقات به له څه حالت سره مخ کېږي؟، خلک به په څه ډول له قبرو په راوتلو د خپل رب حضور ته ورغونده کېږي؟. په قران کې یې ځای پر ځای تصویرونه دي. د جاهلي ادب له مطالعې ښکاري چې عربو تر تشبیه له تصویر سره ډېره مینه درلوده، قرآن همدې ته پاملرنه کړې او د قیامت د انذار لپاره یې د هغه د هنګامې داسي تصویر کښلی چې ګواکي لوستونکي یې خپلې مخ ته په سترګو وینې. د دې پېښو کوم ترتیب چې تر سترګو کېږي، هغه دادی:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) خلګ به په بشپړ اطمنان په خپل کار وبار اخته وي، ځینې به یې په لار، ځینې په بازارونو، ځینې په مجلس او ځینې په خپل کور کې وي. د دوی په خیال کې به هم نه ور تېرېږي چې د نړۍ نظم ټوټه ټوټه کېدونکی دی، ناڅاپه به صور ووهل شي او د قیامت زلزله به را منځ ته شي.

وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَن شَاء اللَّهُ (النمل ۲۷: ۸۷)

" او هغه ورځ دریاده کړه چې کله به صور پوشي او د اسمانو و ځمکې ټول اوسېدونکي به ووېرېږي پرته له هغو چې الله یې وغواړي."

دا صور څه شی دی؟ زمونږ په ژبه یې ښکر او یا بوق بولي، په اصل حقیقت یې پوهېدل ځکه ممکن نه دي چې له متشابهاتو سره تړاو لري، مګر د دې لپاره چې کوم لفظ غوره شوی په دې دنیا کې یې یو تصور خپلېدای شي. الله د خپلو کایناتو په نظم د پوهېدو لپاره هماغه الفاظ او اصطلاحات کارولي چې په خپله د انسانانو په نزد همدې ته ورته نظم لپاره استعمالېږي. مقصد یې اصل شي ته زمونږ د تصور نژدې کول وي، نه دا چې هغه شی بعینه هغه ډول وګڼو لکه په دنیا کې چې موندل کېږي. په لرغوني تاریخ کې به د شاهي غونډو جګړې د اعلان او نورو پر مهال شپېلۍ وهل کېده. له قرآنه ښکاري چې همداسې یوشی به د قیامت د راتلو لپاره هم ووهل شي او نوعیت به یې زمونږ د ښکر په ټېر وي، په دې سره به پر ټولو مخلوقاتو د ژوړې وېرې او ډار حالت وغوړېږي، خلګ به په خپلو ډېرو ګرانو شیانو هم خبر نه وي، د ځنګلونو ځناور به د حواسو په بایللو را غونډ شي.[۸۹] ان تر دې چې په دې ډاروونکي اواز به ټول مخلوقات بې سده شي:

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَن شَاء اللَّهُ (الزمر ۳۹: ۶۸)

" او صور به پو کړای شي نو په ځمکه او اسمان کې چې هر څه دي، ټول به بې سده شي پرته له هغو چې الله یې وغواړي."

د دې په نتیجه کې چې به د ځمکې پر ابادۍ څه تېرېږي نقشه یې د قرآن کریم په بېلابېلو ځایونو کې ایستل شوې، له دې ښکاري چې کله تر یوې وروسته د زلزلې دویم ټکان راشي او د ځمکې حالت د هغې کښتۍ په څېر شي چې د څاپو په خوړلو ځنګېږي نو

[۸۹] التکویر ۸۱: ۴، ۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زړونه به پر ریږد راشي، سترګې به ووېرېږي، خلګ به داسي بې هوښه او بې سده شي لکه د الهي عذاب وېري چې ټول لېونیان کړي وي. الهي وینا ده:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ * يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُم بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ* (الحج ۲۲: ۱، ۲)

"اې خلګو! له خپله ربه ووېرېږئ، حقیقت دا دی چې د قیامت زلزله ډېره وېروونکی شی دی، په کومه ورځ چې به یې تاسو وویني نو په دې ورځ به هره شیدې ورکوونکې خپل د تي بچی له یاده وباسي، هره حامله به خپل حمل وغورځوي او خلګ به بې هوښه په نظر درځي په داسي حال کي چې بې هوښه به نه وي بلکي د الله عذاب به همداسي سخت وي."

۲) دا هماغه وخت دی چې له دې سره به د نړۍ د نظم دړې - وړې کېدل پیل شي، په ټولو کایناتو کي به داسي یوه لویه زلزله را منځ ته شي چې غرونه به ټوټه - ټوټه کړي، سمندرونه به را وخوتېږي، ټول کهکشانونه او فلکي اجرام به خپل ځایونه پرېږدي، بل ځای ته به ولاړ شي، هرې خوا ته به داسي ګډ - وډي وي چې فکر یې له تصوره او الفاظ به یې له بیان څخه عاجز وي. دا لړۍ به تر یوې مودې چې الله ته معلومه ده دوام ولري:

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ * وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ * وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ * وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ * وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ * وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ* ... عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ* (التکویر ۸۱: ۱ - ۶، ۱۴)

"هغه وخت چې لمر به را ټول شي، ستوري به بې نوره شي او هغه وخت چې غرونه به روان شي او هغه وخت چې لس میاشتنۍ حاملې اوښې به معطلې شي او کله چې وحشي ځناور (د خپلو ټولو د ښمنیو په هېرولو) یو ځای را غونډ شي او کله چې سمندرونه وخوتېږي ... (اې خلګو!) په دې وخت کي (به له تاسو هر یو) وپوهېږي چې دی له څه شي سره راغلی دی؟."

إِذَا السَّمَاء انشَقَّتْ * وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ * وَإِذَا الأَرْضُ مُدَّتْ * وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ * وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ*

"هغه ورځ چې کله به اسمان وچوي او د خپل رب حکم به تعمیل کړي چې ده ته همدا ښایي او هغه ورځ چې کله ځمکه کش شي او څه چې په هغې کي دننه دي دباندې په را غورځولو به

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(الانشقاق ۸۴: ۱-۵) تړې خالي شي او د خپل رب حکم به عملي کړي چې همدا ورته ښایي (او همدا به ستاسو له رب سره د لیدنې ورځ وي.)"

۳) تر دې وروسته به هغه مرحله پیل شي چې په قرآن کې په اعاده خلق تعبیر شوې، له همدې کلمې -وډې څخه به ورو -ورو د طبیعت یو نوی نظام را پیدا شي.

يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ (الأنبیاء ۲۱: ۱۰۴)

"پر هغه ورځ فکر وکړئ چې کله به موږ اسمان را تهول کړو، لکه د خطونو پاڼې چې را غونډ ېږي، لکه څرنګه چې مو د تخلیق ابتدا کړې وه همداسي به یې را وګرزوو، دا زموږ پر ذمه یوه وعده ده او موږ به یې ترسره کړو."

د دې شکل به څه وي؟، الله ویلي چې تهول فلکي اجرام، ځمکه، لمر، سپوږمۍ، ستوري او له میلیاردونو ستورو او سیارو څخه جوړ شوي کهکشانونه به له نویو قوانینو او اصولو سره په یوه نوې ځمکه او یوه نوي اسمان بدل شي. يَوْمَ تُبَدَّلُ الأَرْضُ غَيْرَ الأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ [۹۰] (هغه ورځ دریاده کړئ چې کله به ځمکه په بله ځمکه بدله شي او اسمان هم) د قرآن وینا ده: په دې وخت کې به یو ځل بیا په صور کې پوه کړل شي چې په دې سره به تهول خلک ژوندي شي او له خپل قبر څخه په را وتلو به د نړۍ د رب محکمې ته د وړاندې کېدو لپاره حاضر شي.

ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ (الزمر ۳۹: ۶۸)

"بیا به دویم صور پوه شي او ناڅاپه به تهول را پورته شي ګوري به."

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ الأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ (یس ۳۶: ۵۱)

"او صور به پوکړل شي نو ناڅاپه به هغوی له خپلو قبرونو په را وتلو د خپل رب لور ته روان شي."

[۹۰] ابراهیم ۱۴: ۴۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پړاوونه (مراحل)

انسان چې د دې ورځې د حاضري لپاره تر کومو پړاوونو تېرېږي او بیا به په کومو ځایونو کې تمېږي د دې تفصیلات هم په قرآن کې بیان شوي دي. دی ورو - ورو پر همدې لور روان دی، د دې سفر لومړنۍ مرحله مرګ دی، د دنیا تر څو ورځني ژوند وروسته دا مرحله پر هر انسان حتما راځي، له دې څخه هیڅ خلاصون نه شته. الله ویلي: كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ [۹۱] (هر نفس د مرګ خوند څکونکی دی) دا سهار هم راتلای شي او مانښام هم، انسان تر خپل زېږون وړاندې او په زوکړه ورسره غاړه - غړۍ کېدای شي، په ماشومتوب، ځواني او بوډاتوب کې چې کله وغواړي راځي او هر سړی به مجبورا د هغه په وړاندې سر ټیټوي، قرآن یې حقیقت داسې بیان کړی چې له حیواني ژوند څخه د قرآن په تعبیر د هغه جلا شخصیت نفس د ده له بدنه بېلېږي. الله ویلي چې انسان ته لومړی ځل هم دا شخصیت د ارتقا له بېلابېلو پړاوونو د هغه د حیواني وجود په تېرېدو د تکمیل پړاو ته له رسېدو وروسته ورکول شوی وو او اوس هم د حمل له استقرار څخه کم و زیات (۱۲۰) ورځې وروسته هماغه وخت ورکول کېږي. [۹۲] مرګ له همدې شخصیت څخه د جسم د بېلېدو نوم دی، د دې لپاره یوه ځانګړې فرشته تاکل شوې چې تر مشرۍ لاندې یې د ملایکو یوه پوره ډله کار کوي. [۹۳] هغه یې په خپل رسمي راتګ عیني هماغه ډول تر لاسه کوي لکه یو سرکاري مامور چې کوم شی په خپله ولکه کې اخلي:

قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ (السجدة ۳۲: ۱۱)

"دوی ته ووایه تاسو د مرګ هغه فرشته مړه کوي چې پر تاسو تاکل شوې بیا به د خپل رب لور ته ور ستنېږئ."

په دې وخت کې چې له انسان سره کوم څه کېږي په قرآن کې د هغو یادونه هم شته، د انبیاء علیهم السلام له لوري د حجت تر پوره کولو وروسته فرشتې د هغوی د منکرینو روحونه په وهلو ترې اخلي او د مرګ پر مهال ورته وایي چې اوس د خپلو کړنو له کبله ورته د ذلت عذاب دی.

---

[۹۱] ال عمران ۳: ۱۸۵

[۹۲] السجدة ۳۲: ۶ - ۹، المؤمنون ۲۳: ۱۲ - ۱۴، بخاري شمېره: ۷۴۵۴، مسلم، شمېره: ۶۷۲۳

[۹۳] النساء ۴: ۹۷، الأنعام ۶: ۹۳، النحل ۱۶: ۲۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَلَوْ تَرَى إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُواْ الْمَلآئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُواْ عَذَابَ الْحَرِيقِ *ذَلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ اللّهَ لَيْسَ بِظَلاَّمٍ لِّلْعَبِيدِ* (الأنفال ۸ : ۵۰، ۵۱)

"او که تا لیدی چې کله فرشتې دا منکرین پر مخونو او شاوو وهي، مړه کوي يې او (وايي چې) اوس د عذاب خوند وڅکئ دا ستاسو د خپلو لاسونو د کړنو سزا ده او (پوه شئ چې) الله پر خپلو بندګانو يوه ذره ظلم کوونکی هم نه دی."

بل لور ته چې کومو کسانو پر رسولانو ایمان راوړی او د کفر، شرک او ظلم و تېرې له هر ډول ناولتیاوو بالکل پاک وي، فرشتې هغوی ته سلام کوي او د جنت زېرى ورکوي.

الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلاَمٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُواْ الْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (النحل ۱۶: ۳۲)

"فرشتې چې د کومو خلکو روحونه د پاکې په حالت کې اخلي هغوی ته وايي: پر تاسو دي سلامتي وي د خپلو اعمالو په بدل کې جنت ته ولاړ شئ."

تر دې وروسته هغه پراوونه دي چې په برزخ، محشر، دوزخ او جنت تعبیر ېږي. په قرآن کې چې د هغو کوم حالات یاد شوي مور به يې دلته په ترتیب سره بیان کړو.

برزخ

دا له فارسي د پردې د لفظ معرب دی او د هغه ېبلوونکي حد لپاره کارول شوی چې هلته به مړي تر قیامته پاتې وي، دا ګواکي یو خنډ دی چې ېیرته ستنېدو ته يې نه پرېږدي. وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ[۹۴] د دوی مخ ته به تر هغې ورځې پورې یوه پرده وي چې کله را پاڅېږي) د عالم برزخ اصطلاح له همدې څخه را منځ ته شوې، په روایاتو کې د قبر لفظ مجازا د همدې نړۍ لپاره کارول شوی. په دې کې به انسان ژوندی وي خو دا ژوند به له بدن پرته وي او د روح شعور، احساس، لیدنې او د تجربو کیفیت به په دې ژوند کې کم و زیات دا ډول وي لکه د خوب په حالت کې، له همدې وجې يې ویلي دي چې د قیامت په صور سره به دا خوب له منځه ولاړ شي او مجرمین به ناڅاپه خپل ځانونه د محشر په میدان

[۹۴] المؤمنون ۲۳: ۱۰۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي له جسم او روح سره ژوندي وموميِ، وبه وايي: يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا [۹۵] (هاى زمونږ بد بختىِ! مونږ له خپلو خوب ځايونو چا را پورته کړو؟) له قرآنه ښکاري چي د کومو خلګو معامله بالکل ښکاره وي نو رنو که په کامله درجه او وفاداري د حق ادا کوونکي وي او که په سرکښي و تکبر دروغ بلونکي او څرګند نافرمان، د هغوى لپاره له همدې نړۍ څخه يو ډول عذاب او ثواب پيلږي، ځکه له هغوى څخه د حساب پوښتلو او د دوى په اړه د خير او شر د پرېکړي اړتيا به نه وي. د لومړي صورت مثال هغه صحابه کرام دي چي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا يې جګړې وکړې او د شهادت په خپلو سپېڅلو وينو يې د حق کښت خړوب کړ، د قرآن وينا ده چي هغوى ژوندي دي او د خپل رب له پېرزوينو برخمن کېږي.

وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ * يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ*

(آل عمران ۳: ۱۶۹ - ۱۷۱)

"(په دې جنګ کي) چي کوم کسان د الله په لار کي وژل شوي پر هغوى هيڅکله د مړو خيال مه کوئ (هغوى مړه نه دي) بلکي د خپل رب په حضور کي ژوندي دي رزق ورکول کېږي، الله چي له خپله فضله څه ورکړي پرې خوشاله او خوښ دي، له دوى څخه په تر شا پاتي کېدونکو کي چي کوم کسان ورسره نه دي يو ځاى شوي د هغوى په اړه زېرى تر لاسه کوي چي (د الله په دې ابدي پاچاهي کي) د دوى لپاره نه کومه وېره شته او نه به هيڅکله غمجن شي، د الله له نعمتونو او د هغه له فضل او دې خبرې څخه په خوشالىِ چي الله به هيڅکله د مومنانو اجر ضايع نه کړي."

د دويم صورت مثال فرعون او د هغه پيروان دي چي د موسى عليه السلام له لوري د دليل تر پوره کېدلو وروسته يې هم منلو ته چمتو نه شول، ځکه نو د دې جرم په سزا کي له دنيوي عذاب سره هم مخ شول او په عالم برزخ کي هم سهار او مابنام پرې دوزخ ليدل کېږي:

وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ * النَّارُ "او د فرعون پر ملګرو سخت عذاب را چاپېر

[۹۵] يس ۳۶: ۵۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ* (المؤمن ۴۰: ۴۵، ۴۶)

شو، د دوزخ اور دی چې سهار او ماښام ورته وړاندې کېږي او په کومه ورځ چې به قیامت وي امر به وشي چې آل فرعون سخت عذاب ته داخل کړئ."

په روایاتو کې چې د قبر کوم عذاب او ثواب یاد شوی همدغه دی.[۹۶] رسول الله ﷺ زیاته کړې چې دی کومو کسانو ته را لېږل شوی له هغوی څخه به لومړی پوښتنه دا کېږي چې د ده په اړه څه وایي؟.[۹۷] د دې وجه بېخي ښکاره ده، تر خپل رسالت وروسته رسول د هغه د قوم لپاره د حق و باطل په امتیاز کې یوازینی وسیله وي، له همدې کبله پر هغه تر ایمان وروسته نور د بل څه پوښتلو ته اړتیا نه وي.

محشر

تر دې وروسته بل مقام یا پړاو محشر دی، د قرآن وینا ده چې د صور تر دویم ځل پوکلو وروسته به هغه ټول انسانان چې د آدم له پیدایښته تر قیامته پیدا شوي ول بیا ژوندي شي. دهمدې نوم د قرآن په ژبه حشر دی، مور ویلي چې د قیامت تر زلزلې وروسته به یوه نوې ځمکه را منځ ته شي او پر همدې به قیامت راځي، دلته چې کوم څه پېښېږي تفصیلات یې دادي.

۱) ټول انسانان به په ژوندي کېدو له قبرونو را پورته شي او دا ژوند به له روح او بدن سره یو ځای وي، له همدې څخه قرآن په دویم ځل ژوند تعبیر کړی دی.[۹۸] په دې کې به د انسان دنیوي جسم په یوه داسې بدن بدل شي چې د الله په ابدي پاچاهي کې به په هر حال د نعمت او عذاب پاتېدو جوګه وي، مګر عیني له هغه شخصیت سره چې دی ورسره نن ژوندی دی.

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ الأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ (یس ۳۶: ۵۱)

"او صور به پوشي نو دوی به ناڅاپه له قبرو په وتلو د خپل رب لور ته ورپه منډه شي."

---

[۹۶] بخاري شمېره: ۱۳۷۹، مسلم، شمېره: ۷۲۱۱

[۹۷] بخاري، شمېره: ۱۳۷۴، مسلم، شمېره: ۷۲۱۶

[۹۸] المؤمن ۴۰: ۱۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَقَالُواْ أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا * قُلْ كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا * أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُؤُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيبًا*(بني اسرائيل ۱۷: ۴۹ - ۵۱)

" او دوی وایي چي ایا کله موږ هډوکي او ټوټه - ټوټه شو نو له سره به بیا را پورته کېږو؟ ورته ووایه چي که تاسو ډبره، یا اوسپینه او یا بل هغه شی شئ چي ستاسو په خیال تر دې هم سخت وي (بیا به هم را پاڅېږئ) بیا وایي: څوک به مو را پاڅوي؟، ورته ووایه هغه ذات چي اول ځل یې پیدا کړ است. په دې سره به ستا په مخ کي سر وښوروي او پوښتنه به وکړي چي دا به کله وي؟، ووایه لرې نه ده چي وخت به یې را نژدې شوی وي."

۲) په دې بیا پیدایښت کي به د انسان ورتیاوې او صلاحیتونه ډېر بې ساري وي، ان پر خپل ځای په ناسته به هغه څوک ویني چي دی یې غواړي که څه هم هر څومره ترې لرې وي او له هغه سره به خبرې هم کوي. له همدې وجې ویل شوي چي کله جنتي ته په دنیا کي خپل یو ملګری وریاد شي نو همالته په ناسته به یې د جهنم په ژورو کي لیدل ورته ستونزمن نه وي.

قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ * فَاطَّلَعَ فَرَآهُ فِي سَوَاء الْجَحِيمِ * قَالَ تَاللَّهِ إِنْ كِدتَّ لَتُرْدِينِ * وَلَوْلاَ نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ*

(الصافات ۳۷: ۵۴ - ۵۷)

" دی به ووایي: لږ خو د سر په پورته کولو وګورئ، له همدې وینا سره به سر ور پورته کړي نو د جهنم په منځ کي به یې ووینې، بیا به ووایي: قسم په الله! تا خو زه تباه کولم، که پر ما د خپل رب مهرباني نه وای نو ننبه زه هم له هغو خلګو سره وم چي نیول شوي دي."

۳) دا به یوه نوې نړۍ وي چي ځمکه به یې د رب په نور روښانه وي، د هغه جلال به مخامخ راشي او فرشتو به یې پر عرش حلقه جوړه کړې وي، هر څه به د الله حمد وایي ان مجرمین به یې هم له حمد و ثنا سره حضور ته ور ورسېږي.

ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ * وَأَشْرَقَتِ الأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا

(الزمر ۳۹: ۶۸، ۶۹)

" بیا به دویم ځل صور پو شي نو دوی به ناڅاپه را پاڅي ګوري به او په دې ورځ به ځمکه د خپل رب په نور روښانه شي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلاَّ قَلِيلاً (الاسراء ۱۷: ۵۲)

"دی به تاسو را وبولي نو د هغه له حمد و ثنا سره به يې حکم عملي کړئ او ګومان به مو دا وي چې لږ وخت مو تېر کړی."

وَتَرَى الْمَلاَئِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (الزمر ۳۹: ۷۵)

"او ته به وويني چې فرشتو به د الهي عرش پر شاوخوا حلقه جوړه کړې وي، د خپل رب تسبيح و حمد به وايي، د خلګو ترمنځ به په انصاف سره فيصله وشي او وبه ويل شي چې د نړۍ والو رب الله د شکر وړ دی."

۴) په دې ورځ به ځمکه او اسمان د الله په موټ کې وي، په دنيا کې چې کوم کسان له قيامته منکر دي دا ورځ به پر هغوی دومره سخته وي چې د تکليف له وجې به يې ماشومان سپين ږيري شي.

وَالأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ (الزمر ۳۹: ۶۷)

"د قيامت په ورځ به ټوله ځمکه د ده په قبضه کې وي او اسمان به يې هم په لاس کې را نغښتی وي، دی له هغه څه پاک او لوړ دی چې دوی يې ورسره شريکوي."

فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا * السَّمَاء مُنفَطِرٌ بِهِ كَانَ وَعْدُهُ مَفْعُولاً* (المزمل ۷۳: ۱۷، ۱۸)

"له همدې وجې که يې تاسو نه منئ نو د هغې ورځې له عذابه به څرنګه خوندي شئ چې ماشومان به سپين ږيري کړي، اسمان يې له بوجه چوي (په دې کې شک نه شته چې) د الله وعده ترسره شوې."

د خلګو اعمال به د هغوی له ځيرو څرګند وي، له هر چا سره به د خپل ځان اند ښنه وي، نه به ورورد ورور فرياد اوري، نه به زوی د مور و پلار او از ته غوږ نيسي او نه به د مېرمنو و ماشومانو کوم پوښتونکی وي:

فَإِذَا جَاءتِ الصَّاخَّةُ * يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ* وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ * وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ * لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ * وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ

"له همدې وجې چې کله هغه د غوږونو کنډونکې راشي (نو له دوی وپوښته چې بيا به چيرې ځي؟) په دې ورځ به انسان له خپله وروره، خپلې مور، پلار، مېرمنې او اولاد و تښتي، په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مُّسْفِرَةٌ * ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ * وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ *تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ * أُوْلَئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ* (عبس ۸۰: ۳۳-۴۲)

دې ورځ به هر سړی په خپل ځان اخته وي، په دې ورځ به څومره مخونه روښانه، موسکي او تازه وي او له څومره څېرو به خاوري بادېږي تیا ره به پرغوړېدلي وي؟، همدا کافران، همدا بد کاره به وي."

په دې ورځ به مجرمین د حاضري لپاره د مخې تر وېښتانو نیول کېږي او کشوي به یې، په دنیا کي چې دوی د کومو رهبرانو پیروي کوله هماغوی به یې مشران وي، دوی به پر څېرو وېږندل شي، له قبرونو څخه په را پورته کېدو به داسي را روان کړل شي چې یوه فرشته به یې له شا را شړي او یوه به د شاهدي لپاره ورسره وي، د هغوی د شرمولو لپاره به د سجدې ورته وویل شي خو کولای به یې نه شي:

يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالأَقْدَامِ * فَبِأَيِّ آلاَءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ* (الرحمن ۵۵: ۴۱، ۴۲)

"مجرمین به په خپلو نښو وېږندل شي، بیا به د مخې تر وېښتانو او پښو ونیول شي (او دوزخ ته به واچول شي) دا وخت به تاسو د خپل رب کوم-کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟."

فَاتَّبَعُواْ أَمْرَ فِرْعَوْنَ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ * يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ* (هود ۱۱: ۹۷، ۹۸)

"خو دوی د فرعون خبره ومنله په داسي حال کي چې د فرعون خبره سمه نه وه، د قیامت په ورځ به تر خپل قوم ورانديوي او په خپل مشرتوب به هغوی د جهنم پر لور بوزي، دوی چې به کوم ځای ته ورځي څومره بد ځای دی."

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ذَلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ * وَجَاءتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ* (ق ۵۰: ۲۰، ۲۱)

"او صور به پوشي هغه به زمونږ د وعید څرګندېدو ورځ وي او هر سړی به داسي حاضر شي چې ورسره به یو شړونکی او یو شاهد وي."

يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلاَ يَسْتَطِيعُونَ * خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ* (القلم ۶۸: ۴۲، ۴۳)

"هغه ورځ دریاده کړئ چې کله به ډېر شور جوړ شي او دوی به د سجدې لپاره را وبلل شي نو سجده به ونه کړای شي، سترګې به یې تیټې وي او ذلت به پرې غوړېدلی وي، (دا ظالمان چې ملا یې وچه شوې) هغه وخت هم سجدې ته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

را بلل کېدل چې جوړ -روغ وو."

۵) په دې ورځ به ټول انسانان پر درو ډلو ووېشل شي، یوه حق ته ور وړاندې کېدونکې، دویمه د عامو صالحینو چې عمل نامې به په راسته لاس ورکړل شي او درېیمه ډله هغه مجرمین چې لاسونه به یې ترلي وي او عمل نامه به یې د شا له خوا په چپه لاس ورکړل شي:

وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً * فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ * وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ * وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ * أُوْلَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ* (الواقعة ۵۶: ۷-۱۱)

"او تاسو به هغه وخت پر درو ډلو تقسیم شئ، نبي اړخي نو د نبي اړخو د (نېکمرغۍ) به څه وایو؟، چپ اړخي نو د چپ اړخو (د بد مرغۍ) به څنګه تم ځای وي؟ او مخ ته کېدونکي خو مخته کېدونکي دي، همدوی مقربین دي."

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ * فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا * وَيَصْلَى سَعِيرًا* (الانشقاق ۸۴: ۱۰-۱۲)

"او چا ته چې د هغوی عمل نامه د شا له لوري (د دوی په ترلې شویو لاسونو کې) ورکړل شي هغه به د مرګ فریاد ونه کوي او دوزخ ته به ننویستل شي."

۶) د خلکو د اختلافاتو حقیقت به ښکاره شي او حساب ته په وړاندې کېدو به هر شی له بشپړ انصاف او توازن سره سم څرګند شي، هغه وخت به هیڅ ډول سودا نه وي، نه به د چا دوستي ګټه لري، نه به معاوضه قبلېږي، د هیچا سپارښتنه به ګټه نه لري، له هیچا سره به هیڅ ظلم نه کېږي او هر څه به بالکل په اخیري درجه څرګند وي:

إِلَى اللهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ* (المایدة ۵: ۴۸)

"د الله لور ته ستاسو ستنېدل دي، نو په هغه څه به مو خبر کړي چې تاسو پکې اختلاف کوئ."

وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلاَ تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ* (الأنبیاء ۲۱: ۴۷)

"او د قیامت په ورځ به موږ د عدل ترازو کښېږدو نو پر هیچا به هم ذره ظلم ونه شي او که چا د شارشم د دانې په اندازه عمل هم کړی وي نو موږ به یې راوړو او موږ د حساب لپاره کافي یو."

وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً وَلاَ

"او له هغې ورځې ووېرېږئ چې یو څوک به بل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ* (البقرة ۲: ۴۸)

ته هیڅ ګټه نه شي رسولای، نه به یې سپارښتنه قبلېږي، نه به معاوضه ترې اخیستل کېږي او نه به له خلګو سره مرسته کېږي."

۷) د دلیل پوره کولو لپاره به شاهدان راوستل شي چې انبیاء علیهم السلام به هم پکې وي، د خلګو ژبې، لاسونه، پښې، غوږونه، سترګې او ان د بدن وپښتان به شاهدي ورکړي او تر دې وروسته به پرېکړه واورول شي:

وَأَشْرَقَتِ الأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاء وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (الزمر ۳۹: ۶۹)

"او ځمکه به د خپل رب په نور روښانه شي، د عمل کتاب به کېښودل شي، ټول پیغمبران به راوبلل شي او هغه کسان هم چې د شاهدۍ منصب ته رسېدلي وي او د خلګو تر منځ به په بشپړ انصاف سره پرېکړه وشي، داسي چې پر دوی به هیڅ ظلم نه کېږي."

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ* (النور ۲۴: ۲۴)

"په دې ورځ چې کله د دوی ژبې او د دوی لاسونه او پښې د دوی د اعمالو شاهدي ورکړي."

حَتَّى إِذَا مَا جَاؤُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ * وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ*(حم السجدة ۴۱: ۲۰، ۲۱)

"ان کله چې ورته راشي نو د دوی غوږونه سترګې او پوست به یې شاهدي ورکړي چې دوی په دنیا کي څه کول؟ او دوی به د خپل بدن پوستونو ته ووایي: تاسو ولي زمونږ پر خلاف شاهدي ورکړه؟. هغه به ځواب ورکړي چې موږ هغه الله وږغولو چې هر څه یې ږغولي، ده تاسي اول ځل پیدا کړاست او اوس د هغه لور ته ستنېږئ."

۸) په همدې وخت کي به د مشرکینو معبودان هغوی دروغجن وګڼي، رهبران به له خپلو پیروانو سره د اړیکو ختمول څرګند کړي او د انسان ازلي دښمن شیطان به په ده پسي تلونکي تورن کړي او له هغوی به خپله بې زاري وښیي:

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُواْ شُرَكَاءهُمْ قَالُواْ رَبَّنَا "او کله چې (په دنیا کي) شرک کوونکي خپل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هَـــؤُلاء شُرَكَآؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوْ مِن دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ

(النحل ۱۶: ۸۶)

شریکان وویني نو وبه وایي: اې ربه! همدغه زمونږ هغه شریکان دي چې مونږ له تا پرته را بلل، په دې سره به یې هغوی خبره ورد کړي چې تاسو دروغجن یاست."

إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُـــواْ وَرَأَوُاْ الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ

(البقرة ۲: ۱۶۶)

"کله چې رهبران له خپلو پیروانو سره د اړیکو ختمول وښیي او له عذاب سره یې مخ شي او د دوی تعلقات په بشپړ ډول ختم شي."

وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الأَمْرُ إِنَّ اللّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلاَّ أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي فَلاَ تَلُومُونِي وَلُومُواْ أَنفُسَـــكُم مَّـــا أَنَـــاْ بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُمْ بِمُصْرِخِيَّ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَـــذَابٌ أَلِيمٌ (ابراهيم ۱۴: ۲۲)

"او کله چې به فیصله وشي نو شیطان به ووایي: حقیقت دادی چې الله درسره رښتنې وعده کړې وه او ما چې کومې وعدې کړې وې په هغو کې مې یوه هم پوره نه کړه او ما پر تاسو هیڅ زور نه درلود، ما همدا وکړل چې تاسو ته مې دعوت درکړ او تاسو دا دعوت ومانه، اوس ما مه ملامتوئ خپل ځان ملامت کړئ، دلته نه زه ستاسو فریاد اورېدای شم نه تاسو زما فریاد اورېدلای شئ، تاسو چې له ما شریک جوړ کړی وو زه وړاندې لا ځني منکر شوی یم، په دې کې شک نه شته چې د همداسې ظالمانو لپاره دردناک عذاب دی."

دوزخ

دا د مجرمینو لپاره د سزا او تزکیې وپاکولو ځای دی، په قرآن کې یې ګڼ نومونه راغلي دي. یو ځای جهنم بلل شوی، بل ځای تر پې په السعیر، النار او النار الکبری په الفاظو تعبیر شوی دی. دا د مېشتېدو ډېر بد ځای دی.[۹۹] الله ویلي: هغه به اووه دروازې لري او د هرې دروازې لپاره به یې د مجرمینو یوه برخه تاکلې وي.[۱۰۰] قرآن چې کوم شیان اصل هلاکوونکي بللي، که هغه وشمېرل شي نو تر اوو عنوانونو لاندې راځي.[۱۰۱] شیطان

[۹۹] البقرة ۲: ۱۲۶، ۲۰۶، آل عمران ۳: ۱۵۱، ابراهیم ۱۴: ۲۹

[۱۰۰] الحجر ۱۵: ۴۴

[۱۰۱] بني اسرائیل ۱۷: ۲۲ – ۳۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خلک په هغو کې په یوه او یا ټولو اخته کوي او د دوزخ پرلاریې برابروي، دا درجه بندي به غالبا د همدې مهلکاتو پر بنسټ وي، په دې سره د جهنم د پراختیا اندازه هم ښیي چې هغه به دومره لوی او پراخ وي چې اووه دروازې به لري او له هغو به د جهنمیانو ډلې د دوی د جرایمو له مخې جلا - جلا ور داخلېږي؟. همدارنګه یې ویلي چې پر ځارنه به یې نولس ملایکې مقررې وي:

وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ * لاَ تُبْقِي وَلاَ تَذَرُ * لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ * عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ*
(المدثر ۷۴: ۲۷ - ۳۰)

"او ته څه فکر کوې دوزخ څه شی دی؟ هغه به نه رحم وکړي او نه به یې پرېږدي، د پوست سوځوونکی چې نولس پرې ټاکل شوي."

په قرآن مجید کې ځای پر ځای دا خبره شوې چې قصدا د کفر او شرک کوونکو لپاره دایمي عذاب دی، همدارنګه که کوم مسلمان په قصد بل مسلمان ووژني د هغه لپاره هم دا سزا بیان شوې ده. د میراث د قانون مخالفت کوونکو ته یې همدا وعید بیان کړی، د ځینو نورو لویو ګناه کوونکو معامله هم داسي ده، په دې کې شک نه شته چې په دوزخ کې به هغه کسان هم وي چې د خپلو ګناهونو د سزا تر څکلو وروسته به تر وایستل شي. مګر د قرآن له تشریحاتو ظاهرا داسي ښکاري چې د دا ډول مجرمینو د تعذیب لپاره به دوزخ همېشه پاتې وي. له دې سره- سره دا هیله کېدای شي چې یوه ورځ به یې تغر ټول کړي، علت یې دادی چې عذاب یوه وعده نه بلکې وعید دی او د نړۍ رب یقینا دا حق لري چې د خپل رحمت له مخې د دې مجرمینو سزا سپکه کړي او یا یې په خاورو و ایرو واړوي د تل لپاره یې د دوزخ په خاورو کې ښخ کړي.

فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُواْ فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ * خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ إِلاَّ مَا شَاء رَبُّكَ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ* (هود ۱۱: ۱۰۶، ۱۰۷)

"نو چې څوک بد بختان وي هغوی به دوزخ ته ولوېږي، په هغه کې به دوی د خرو په څېر چیغې او بغارې وهي او په همدې کې به تر هغو پراته وي څو چې (د هغې نړۍ) ځمکه او اسمان موجود وي مګر څه چې ستا رب وغواړي، بې شکه ستا رب چې څه وغواړي کوونکی یې دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې کې چې به مجرمینو ته کومې روحاني او فزیکي سزاوې ورکول کېږي هغه هم په قرآن کې بیان شوې، ویلې یې دي چې هلته به د اور عذاب وي.[۱۰۲] دا اور به مخونه سوځوي،[۱۰۳] صورتونه به خرابوي،[۱۰۴] پوست به سوځي،[۱۰۵] تر زړونو به رسېږي،[۱۰۶] لمبې به یې د ماڼیو په څېر جګې وي،[۱۰۷] په هغه کې به نه مرګ وي او نه ارام،[۱۰۸] د څښلو لپاره به داسې ګرمې اوبه ورکړل شي چې کولمې به ټوټې ټوټې کړي،[۱۰۹] همدا اوبه به یې پر سرونو واچول شي،[۱۱۰] پردوی به د زخمونو نوونه او زیړې اوبه وڅښل شي،[۱۱۱] د خوراک لپاره به ازغي درلودونکي بوټي او د زقوم ونه وي چې په نس کې به د ویلو شویو تېلو په څېر داسې را ابشي لکه ګرمې اوبه،[۱۱۲] په دې سره به نه طاقت تر لاسه کوي او نه به یې لوړه ختمېږي،[۱۱۳] جامې به یې د اور وي،[۱۱۴] په غاړه کې به یې طوق او په پښو کې به یې ځنځیرونه وي،[۱۱۵] هر څه به په افسوس بدل شي،[۱۱۶] تر ټولو زورونکې دا چې په هغه کې به مجرم د الله له جلوې او توجو څخه بې برخې شي،[۱۱۷] او په دوی کې به ځینو مجرمینو ته کتل هم نه خوښوي.[۱۱۸]

---

[۱۰۲] الحج ۲۲: ۹
[۱۰۳] المدثر ۷۴: ۲۹
[۱۰۴] المومنون ۲۳: ۱۰۴
[۱۰۵] سورة المعارج ۷۰: ۱۶
[۱۰۶] الهمزة ۱۰۴: ۶، ۷
[۱۰۷] المرسلات ۷۷: ۳۲
[۱۰۸] فاطر ۳۵: ۳۶، الأعلی ۸۷: ۱۲، ۱۳
[۱۰۹] محمد ۴۷: ۱۵
[۱۱۰] الحج ۲۲: ۱۹
[۱۱۱] الحاقة ۶۹: ۳۶، ۳۷، النبأ ۷۸: ۲۴، ۲۵
[۱۱۲] الغاشیة ۸۸: ۶، الدخان ۴۴: ۴۳ – ۴۶
[۱۱۳] الغاشیة ۸۸: ۷
[۱۱۴] الحج ۲۲: ۱۹
[۱۱۵] المومن ۴۰: ۷۱، الدهر ۷۶: ۴
[۱۱۶] مریم ۱۹: ۳۹
[۱۱۷] المطففین ۸۳: ۱۵
[۱۱۸] آل عمران ۳: ۷۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا * لِلْطَّاغِينَ مَآبًا * لَابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا * لاَّ يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلاَ شَرَابًا * إِلاَّ حَمِيمًا وَغَسَّاقًا * جَزَاء وِفَاقًا * إِنَّهُمْ كَانُوا لاَ يَرْجُونَ حِسَابًا * وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا *وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا * فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلاَّ عَذَابًا* (النبأ ۷۸: ۲۱-۳۰)

"بې شکه جهنم په کمین کې دی، د سرکښانو مېشت ځای په دې کې به تر ډېرې مودې پراته وي نه به د سړۍ څکې خوند وڅکي او نه به له کرمو اوبو و بهېدونکو نوونو پرته د څښلو لپاره بل شی ورکړل شي، د دوی له عمل سره سمه يې سزا ده، دوی د هيڅ حساب امید نه درلود او بې دريغه يې زمونږ ایاتونه دروغ بلل، دلته مو د دوی هر څه شمېرلي ول له همدې وجې (د هغو) عذاب وڅکئ، نور به مو مونږ عذاب در زیاتوو."

جنت

دا د نېکانو مېشت ځای دی، عیسی علیه السلام تر پې د اسمان په پاچاهي تعبیر کړی دی.[۱۱۹] په قرآن کې د هغه لپاره د روضې (چمن)، فردوس (باغ)، جنت النعیم (د نعمتونو باغ)، جنت الخلد (د دوام باغ)، جنات عدن (د همېشه اوسېدو باغ) او دا ډول نور نومونه هم راغلي دي. پراختیا يې د ټولو کایناتو پراختیا ده.[۱۲۰] د سوکالۍ او دوام ځای دی، د دې دنیوي ژوند بر خلاف په هغه کې له ژوند سره د مرګ، له خوند سره د درد، له خوښۍ سره د غم، اطمنان سره د ناکرارۍ، راحت سره د تکلیف او له نعمت سره د عذاب هیڅ تصور نه شته. د هغه ارام دایمی دی، خوند يې پای نه لري، شپه او ورځ يې دوامي دي، سلامتیا يې ابدي ده، خوښۍ يې فاني کېدونکې نه دي، جمال يې بې زواله او کمال يې بې اندازې دی.

وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ إِلاَّ مَا شَاء رَبُّكَ عَطَاء غَيْرَ مَجْذُوذٍ (هود ۱۱: ۱۰۸)

"او پاتې شول نېکبخته نو هغوی به تل په جنتونو کې وي تر څو چې (د هغې نړۍ) ځمکه او اسمان پاتې وي مګر څه چې ستا رب وغواړي، د یوې داسې ورکړې په ډول چې لړۍ به يې هیڅکله نه شلېږي."

---

[۱۱۹] متی ۵: ۱۹، ۲۰، ۷: ۲۱

[۱۲۰] ال عمران ۳: ۱۳۳، الحدید ۵۷: ۲۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مومنان به په داسي ډول ور وستل شي چې شا او مخ او راسته و چپه طرف هرې خوا ته به يې د الله فرشتې وي، دوی به يې په خپله ملتيا جنت ته ورسوي او هلته به يې پيره داران له سلام او تحيې سره هرکلی وکړي.

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاؤُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ*
(الزمر ۳۹: ۷۳)

"او کوم کسان چې له خپله ربه وېرېږي، ډلې - ډلې به جنت ته بوتلل شي تر دې چې کله هلته ورسېږي، دروازې ورته خلاصې شي نو ساتونکي به يې ورته ووايي: پر تاسو دي سلامتي وي، خوشاله اوسئ او د تل لپاره ور ننوزئ."

په دې موخه چې انسان په دې فاني نړۍ کې هم تر يوه حده د هغو نعمتونو تصور وکړای شي قرآن د دې لپاره د پاچاهي اسباب او لوازم کارولي، د شنو باغونو، روانو اوبو، ښکلو او سمسورو چمنونو، لوړو ماڼيو، د زرو او جواهرو د لوښو، ښکلو غلامانو، د سرو زرو د تختونو، د اطلس او وريښم د جامو، ځلېدونکو پيالو، د خوشالۍ و خوښۍ د مجلسونو او د سپوږمۍ په څېر ځلېدونکو پېغلو يادونه د همدې لپاره شوې ده.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا * حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا * وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا * وَكَأْسًا دِهَاقًا * لاَّ يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلاَ كِذَّابًا * جَزَاء مِّن رَّبِّكَ عَطَاء حِسَابًا*
(النبأ ۷۸: ۳۱- ۳۶)

"البته په دې ورځ د متقيانو لپاره لويه کاميابي ده (د اوسېدو لپاره) باغونه او (په هغو کې د خوراک لپاره) انګور او (د زړه خوشالولو لپاره) همزولې پېغلې او (د هغوی په ملګرتيا د څښاک لپاره) ډک جامونه وي، هلته به هيڅ عبث خبره او کوم بهتان وانه وري، دا به ستا د رب له لوري، د دوی له عمل سره سمه بدله وي."

فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا * وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا * مُّتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الأَرَائِكِ لاَ يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلاَ زَمْهَرِيرًا * وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلاَلُهَا وَذُلِّلَتْ

"نو الله دوی د دې ورځې له شره وساتل، له تازګي او خوشالۍ سره يې مخ کړل او دوی چې (په دې دنيا کې) کوم صبر کړی وو د هغه په بدل کې يې ورته (د اوسېدو لپاره) جنت او (د اغوستلو لپاره) وريښمينې جامې ورکړې، په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قُطُوفُهَا تَذْلِيلاً * وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا * قَوَارِيرَ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا * وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلاً * عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلاً * وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا * وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا * عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا * إِنَّ هَذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاء وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا*

(الانسان ۷۶: ۱۱-۲۲)

هغه کي به پر کټونو تکيه کوونکي ناست وي، نه به د ګرمۍ تېزي وويني، نه د سړۍ ګڼي سختي. د ونو سيوري به يې پرې را ټيټ وي او خوشالي به يې بالکل په لاس کي وي او د دوی مخته به د سپينو زرو لوښي (د هغوی د خوراک لپاره) او د ښيښې پيالې (د دوی د څښاک لپاره) ګرزي -را ګرزي (خو) ښيښې هم د سپينو زرو چې د دوی خادمانو (د هر خدمت لپاره) په ډېر ښکلي انداز سره برابر کړي وي (پر دې سربېره به) هلته هغه شراب پرې وڅښل شي چې د زنجبيل اوبه به ورسره ګډې شوې وي، دا هم په هغه کي يوه چينه ده چې سلسبيل بلل کېږي او د دوی په خدمت کي به هغه هلکان چې تل به هلکان وي منډې وهي چې ته يې وويني نو فکر به وکړې چې شيندل شوې ملغلرې دي او چې کله وګورې نو هلته به لوی نعمتونه او ستره پاچاهي وويني، داسي چې د دوی (جنتيانو) لباسونه به د شنو ورېښمو او نرمو ورېښمو او اطلسو وي، دوی ته به د سپينو زرو بنګړي ورپه لاس شي او (هغه ځای ته به ورسېږي چې) د دوی رب د پاکۍ شراب ورڅښلي، بې شکه دا ستاسو د عمل بدله ده او (ستاسو دي مبارک وي چې) کوشش مو ومنل شو."

همدارنګه يې ويلي چې جنتيان څه وغواړي ترلاسه به يې کړي او چې څه اراده وکړي وبه يې مومي،[۱۲۱] د دوی سينې به له حسد، بغض او کينې څخه پاکې شي او د وروڼو په څېر به پر کټونو ويوه بل ته مخامخ ناست وي.[۱۲۲] نه به ترې ايستل کېږي، نه به په ستړي

[۱۲۱] حم السجدة ۴۱: ۳۱، الزخرف ۴۳: ۷۱، ق ۵۰: ۳۵

[۱۲۲] الأعراف ۷: ۴۳، الحجر ۱۵: ۴۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېدو وتل غواړي اونه په کوم تکلیف اخته شي،[۱۲۳] نعمتونه به یې هر ځل له نوې ښکلا، نوي خوند او نوې ذایقې سره راوړل کېږي. کله چې یوه مېوه د بیا -بیا خوراک لپاره ورکړل شي نو هر ځل به د خوند، ښکلا او ذایقې یوه نوې نړۍ له ځان سره راوړي،[۱۲۴] هرې خوا ته به پاکي او هر لور ته به سپېڅلتیا وي،[۱۲۵] نه به د تېر وخت کوم افسوس وي او نه د راتلونکي اندېښنه،[۱۲۶] تر دې ټولو لوړ د الله رضا او په ځواب کي د ده د بندګانو له لوري د حمد و ثنا زمزمې او د تسبیح و تهلیل دایمي سرود دی چې د جنت فضا به شپه او ورځ پرې سمسوره وي.[۱۲۷]

رسول الله ﷺ یې نور وضاحت هم کړی چې په جنت کي به جنتیان خوراک او څښاک کوي مګر نه به توکي، نه به د بولو او فضله موادو اړتیا وي، نه به یې له پزې رطوبت را وزي، نه به بلغم او داسي نور شیان وي، د هغه ځای له خولو به خوشبویي راځي، دوی به په داسي نعمتونو کي وي چې نه به هیڅکله تکلیف وویني، نه به یې جامې زړېږي او نه به یې ځواني ختمېږي، هلته به یو اعلان کوونکی اعلان وکړي: دلته هغه صحت دی چې ناروغي ورسره نه شته، هغه ژوند دی چې مرګ ورسره نه شته او هغه ځواني ده چې بوډاتوب ورسره نه شته او د خلګو مخونه به په یوه کي د سپوږمۍ په څېر ځلېږي.[۱۲۸]

دا تصویر ټول زموږ د فهم له مخې دی، که نه حقیقت څه شی دی د دې غوره تعبیر هماغه دی چې رسول الله ﷺ کړی، ده ویلي: هلته الله د خپلو بندګانو لپاره داسي څه چمتو کړي چې نه سترګو لیدلي، نه غوږو اورېدلي او نه یې د انسان په زړه کي هیڅکله خیال ور تېر شوی دی.[۱۲۹] همدا اسلوب د قرآن هم دي:

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ "نو هیڅوک نه پوهېږي چې د دوی د اعمالو په بدل کي د سترګو سړېدو کوم وسایل ورته پټ

---

[۱۲۳] الحجر ۱۵: ۴۸، الکهف ۱۸: ۱۰۸، فاطر ۳۵: ۳۴، ۳۵

[۱۲۴] البقرة ۲: ۲۵

[۱۲۵] الواقعة ۵۶: ۲۵

[۱۲۶] البقرة ۲: ۶۲، ۱۱۲، ۲۶۲، ۲۷۴، ۲۷۷

[۱۲۷] التوبة ۹: ۷۲، یونس ۱۰: ۱۰، مریم ۱۹: ۶۲، الحج ۲۲: ۲۴، الزمر ۳۹: ۷۳

[۱۲۸] بخاري، شمېره ۳۳۲۷، مسلم، شمېره: ۷۱۴۹، ۷۱۵۶، ۷۱۵۷

[۱۲۹] بخاري، شمېره: ۳۲۴۴، ۴۷۷۹، مسلم، شمېره: ۷۱۳۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جَزَاء بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ* (السجدة ۳۲: ۱۷) شوي دي؟."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲

اخلاقيات

تر ايمان وروسته د دين مهمه غوښتنه د اخلاقو تزکيه ده، معنا دا چې انسان د خلګو او خالق دواړو په اړه خپل عمل پاک کړي. له همدې ځخه په نېک عمل تعبير کېږي، ټول شريعت د همدې فرع ده. يقينا د تمدن له بدلون سره شريعت هم بدل شوی خو ايمان او نېک عمل اصلي دين دی، له همدې وجې يکي هيڅکله ترميم او تغير نه دی شوی. په دې اړه قرآن ډېځي ځرګند دی چې ځوک له دې دواړو سره د الله حضور ته ورشي د هغه لپاره به ابدي جنت وي، الهي وينا ده:

وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُوْلَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَى * جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ جَزَاء مَن تَزَكَّى*

(طه ۲۰: ۷۴، ۷۵)

"او ځوک چې د ده حضور ته راشي په دې ډول چې نېک عمل يې کړی وي د هماغه به لوړې درجې وي، تلپاتي باغونه چې ترې لاندې به ويالې بهېږي او تل به پکې وي. دا د هغه چا بدله ده چې پاکي اختيار کړي."

همدا نېک عمل دی چې په غوره اخلاقو او په مقابل کې يې بد عمل دی چې په رذايلو ترې تعبير کېږي. نبوي وينا ده: انما بعثت لاتمم صالح الاخلاق

زه د لوړو اخلاقو د بشپړولو لپاره را لېږل شوی يم. همدا رنګه يې ويلي: په تاسو کې هغه ځوک غوره دی چې اخلاق يې تر نورو ښه وي.[۲] همدا خلګ پر ما تر ټولو ګران هم دي.[۳] د

---

[۱] احمد، شمېره: ۸۷۲۹

[۲] بخاري، شمېره: ۳۵۵۹، مسلم، شمېره: ۶۰۳۳

[۳] بخاري، شمېره: ۳۷۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قيامت په ورځ به د انسان په ترازو کي د هغه تر ټولو درونده شی د ده ښه اخلاق وي.[4] او مومن بنده په غوره اخلاقو هغه درجه تر لاسه کوي چې يو بل يې د شپې او ورځې په لمنځو تر لاسه کوي.[5]

بنستيز بحثونه

وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا * فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا * قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا * وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا* (الشمس ۹۱: ۷-۱۰)

" نفس شاهدي ورکوي او هغه چې دی يې برابر کړ، بيا يې نېکي او بدي ور وښودل او هغه څوک بريالی شو چې دی يې پاک کړ او هغه څوک ناکام شو چې دی يې ککړ کړ."

د انسان لپاره په خير او شر د پوهېدو وسېله څه ده؟ دا د اخلاقي فلسفې تر ټولو بنستيزه پوښتنه ده، قرآن په دې اياتونو کي څرګنده کړې چې که الله له يوې خوا انسان ته د ليدو لپاره ستر ګې او د اورېدو لپاره غوږونه ورکړي له بلې خوا يې عيني همدغه ډول د بدي او نېکي د جلا -جلا پېژندنې لپاره يو اخلاقي حس هم ورکړی دی. دی يوازي حيواني او عقلي وجود نه دی، پر دې سربېره يو اخلاقي وجود هم دی. د دې معنا داده چې د خير او شر د امتياز او د خير و شر د ښه والي و بدوالي احساس د انسان له تخليق سره د هغه زړه او دماغ ته الهام شوی. په ځينو نورو ځايونو کي يې همدا حقيقت د إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ[6] (موږ هغه ته د خير او شر لار ور وښوده) او وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ[7] (ايا موږ ده ته دوه ړې لارې ور ونه ښودې؟) په الفاظو تشريح کړی دی. دا امتياز او احساس يو نړی وال حقيقت دی، له همدې کبله چې کله تر ټولو بد انسان هم کومه ګناه کوي نو په لومړی مرحله کي يې د پټېدو په هڅه کي وي. د ادم عليه السلام زوی قابل د خپل ورور هابل تر وژلو وروسته د هغه د مړي پټولو هڅه کړې وه. ښکاره ده چې دا کار يې د ګناه د احساس له مخې کړی وو. د نېکي معامله هم داسي ده، انسان له هغې سره مينه کوي، په ځان کي د

---

[4] ابوداود، شمېره: ۴۷۹۹، ترمذي، شمېره: ۲۰۰۲

[5] ابوداود، شمېره: ۴۷۹۸، ترمذي، شمېره: ۲۰۰۳

[6] الانسان ۷۶: ۳

[7] البلد ۹۰: ۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عزت او احترام احساسات مومي او هروخت چې د ځان لپاره کومه ټولنه را منځ ته کړي نو حتما پکې د حق او انصاف په موخه يو نظام جوړوي. همدا د خير او شر تر منځ د فطري توپير څرګند ثبوت دی. په دې کې شک نه شته چې ځيني وختونه انسان د بدۍ په اړه هم ځيني بانې جوړوي مګر کوم وخت چې يې په جوړولو بوخت وي هماغه وخت پوهېږي چې د خپل فطرت پر خلاف پلمې کوي، ځکه کوم بل څوک له ده سره هماغه بدي وکړي نو له څه شک پرته يې بدي ګڼي او په وړاندي يې سر تر پايه احتجاج خپلوي. رسول الله ﷺ ويلي: غوره اخلاق نېکي ده او ګناه داده چې ستا په زړه کې شک پيدا کړي او ته دا نه خوښوې چې نور خلک پرې پوه شي.[8] د انساني نفس همدا اړخ قرآن په نفس لوامه تعبير کړی[9] او بيا يې په پوره صراحت ويلي:

بَلِ الإِنسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ * وَلَوْ أَلْقَى مَعَاذِيرَهُ* (القيامة ۷۵: ۱۴، ۱۵)

"بلکې (حقيقت دادی چې) انسان پر خپل ځان شاهد دی، که څه هم ډېرې بانې جوړې کړي."

البته د دې الهام په تعبير کې د اشخاصو، وختونو او حالاتو له مخې ډېر اختلافات پيدا کېدای شوای. الهي پېرزوينه ده چې د دې امکان يې پرې نه ښود او په کوم ځای کې چې د لوی اختلاف اند ښکاره وي هلته يې د خپلو رسولانو په وسيله شر او خير بالکل واضح کړي. د دې رسولانو لارښوونې له ننه تر قيامته په قرآن کريم کې خوندي دي، انسان چې په ځان کې د ننه څه مومي دا هدايت يې تصديق کوي. د انسان وجداني پوهه بلکې تجرباتي علم، د ژوند له قوانينو او حالاتو څخه استنباط شوې پوهه او عقلي خبرتيا ټولي شاهدي ورکوي او په نتيجه کې يې اخلاقي ښېګڼې او بد ګڼې په پوره يقين سره ټاکل کېږي.

په روايا تو کې همدا خبره د تمثيل په وسيله داسې بيان شوې چې تاسو کوم هدف ته رسېدل غواړئ پر لوريې ستاسو مخ ته نېغه لار غزېدلې ده چې دواړو لورو ته يې د ښوالونه ايستل شوي او دروازې پکې پرانيستې دي، پردې وربانديې ځړېږي، د لارې په سر کې يو اواز کوونکی نارې وهي چې د ننه راشئ او نېغ ځئ. له دې سره -سره که څوک د راسته او چپه اړخ له دروازو د پردو پورته کول غواړي نو له پورته يو اواز کوونکی يې ور بولي چې

[8] مسلم، شمېره: ۶۵۱۶

[9] القيامة ۷۵: ۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبردار! پرده مه پورته کوئ، که مو پورته کړه دننه به ولاړ شئ. ويل شوي چي دا لاره اسلام ده، دې والونه د الله حدود دي، دروازې يې تاکلي محرمات دي، له پاسه اواز کوونکی الهي واعظ دی چي د هر مومن په زړه کي ځای لري او د لاړې پر سر اواز کوونکی قرآن دی.[10]

إِنَّ هَـٰذَا الْقُرْآنَ يِهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا* (بني اسرائيل ۱۷: ۹)

"بې شکه دا قرآن هغې لارې ته لارښوونه کوي چي ډېخي سيده ده او خپلو نېک عمله منونکو ته د دې خبرې زېری ورکوي چي د هغوی لپاره لوی اجر دی."

دويمه پوښتنه داده چي اخلاقي تزکيې ته د انسان چمتو کوونکی اصلي محرک څه دی؟ قرآن همدا پوښتنه په دې ايا تونو کي ځواب کړې چي د دې محرک د خير او شر د همدې الهام پر بنسټ د انسان هغه احساس دی چي د دې دواړو نتايج د ده لپاره يو ډول نه شي کېدای. دی احساسوي چي د خير دښه والي او شر د بدوالي شعور د خپل وجود له مخې تقاضا کوي چي د دواړو نتيجه هم په هماغه ډول موجوده شي. په دې سره هغه ته دا حقيقت څرګند ېږي چي دی يو خپلسری اوښ نه دی او بايد حتما د خپلو اعمالو په بدله کي له جزا او سزا سره مخ شي. له همدې څخه قرآن مراد ته په رسېدو او نامراده کېدو تعبير کړی دی، څرګنده ده چي له همدې املې په انسان کي د وېرې او هيلې يو احساس پيدا کېږي او د دې محرک ګرزي چي د خپل طبعي ميلان بر خلاف دی خپل اخلاق پاک کړي او کله چي ايمان راوړي نو همدا احساس يې له الله سره ترل کېږي، په همدې وخت کي قرآن ترې غواړي چي نور نو بايد د نښو اخلاقو کولو او له بدو اخلاقو د ځان ساتنې اصل محرک د هغه الله مينه، د رضا غوښتنه او د ناراضي کېدو ويره وي چي په غيبو خبر دی، په رازونو پوهېږي او د وجود هر حرکت او د زړه و نظر هر خوځښت په بشپړ ډول ورته معلوم دی. په قرآن کي همدا خبره څو ځايه بيان شوې ده، يو ځای يې د حقوقو پر ادا کولو ترتينګار وروسته ويلي:

فَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ وَأُولَـٰئِكَ

"نو قريب ته د هغه حق ورکړئ او مسکين و مسافر ته هم، دا د هغو لپاره غوره ده چي د الله

[10] ترمذي، شمېره: ۲۸۵۹، احمد، شمېره: ۱۷۱۸۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هُمُ الْمُفْلِحُونَ (الروم ۳۰: ۳۸)

رضا غواړي او همدوی نجات مومندونکي دي."

د دې غوره بېلګې انبياء کرام دي، د رسول الله ﷺ په اړه قرآن ويلي:

الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى * وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَى * إِلاَّ ابْتِغَاء وَجْهِ رَبِّهِ الأَعْلَى *
(الليل ۹۲: ۱۸، ۲۰)

"هغه چې خپل مال د تزکيې لپاره ورکوي او پر چا له دې وجې هم پېرزوينه نه کوي چې بدله يې ورکړي، بلکې يوازې د خپل لوړ رب د رضا لپاره."

دا خبره په عمومي ډول منل کېږي چې د غوره عمل بنسټ غوره اراده ده، رسول الله ﷺ هم د انما الأعمال بالنيات (د انسان اعمال يې په نيت پورې تړلي دي.) په بليغو الفاظو همدا خبره کړې. همدا محرک د انسان نيت تر وروستۍ درجې پاکوي ځکه نو تر دې وروسته د هغه هيڅ عمل د ځان ښودنې، ريا او ځان خوښونې لپاره نه وي، که وي نو ژر يا وروسته يې له دې ناولتيا وو څخه د پاکولو هڅه کوي.

د قرآن د دې تعليم تر ټولو اغېزناک بيان هغه دی چې ابو هريره ﷺ نقل کړی، دی وايي: رسول الله ﷺ وويل چې د قيامت په ورځ به تر ټولو لومړی د هغو خلکو پرېکړه وشي چې د قرآن عالمان ول، يا په جهاد کي وژل شوي ول او يا الله شتمني ورکړې وه. دوی به راوستل شي، الله به خپل نعمتونه وريادکړي او دوی به يې ومني. بيا به الله تر پوښتنه وکړي: تاسو په هغو څه کول؟ عالم به ووايي: ما علم زده کړ، نورو ته مي ور وښود او ستا لورته مي د خلکو را بللو لپاره قرآن ورته اوراوه. مجاهد به ووايي: ما ستا په لار کي جګړه وکړه او ووژل شوم او شتمن به ووايي: ما په هر هغه ځای کي لګښت وکړ چې ستا خوښ وو. الله به ووايي: تاسو ټول دروغجن ياست، دا هر څه مو د دې لپاره کول چې خلک مو په عالم، زړور او سخي ياد کړي، نو په دنيا کي دا نوم درکړل شو، له همدې وجې به امر وکړي چې پر مخ په کشولو دي جهنم ته واچول شي.[۱۲]

د اخلاقي فلسفې درېيمه مهمه پوښتنه داده چې د دې هڅو مقصد او هدف څه دی؟، خلکو يې بېلابېل ځوابونه ورکړي دي. د يوې ډلې په اند خوشالي ده، د بلې په اند کمال،

[۱۱] بخاري، شمېره: ۱، مسلم شمېره: ۴۹۲۷
[۱۲] مسلم، شمېره: ۴۹۲۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د درييمې په اند د فرضو لپاره فرض. د سورت الشمس له دې ايا تونو دا خبره هم په ډاګه کېږي چې د قرآن په نزد يې هدف تزکيه ده او په نتيجه کې به يې انسان ابدي پاچاهي تر لاسه کړي. که پر دې فکر وکړئ نو د اخلاق پوهانو ځوابونه هم پکې شاملېږي ځکه د علم او عمل سپېڅلتيا هغه شی دی چې په دې سره انسان خپل کمال ته رسېږي، حقيقي خوشالي تر لاسه کوي او که کله د فرضو ادا کولو عمل تر دې کچې بې غرضه وي چې د فرضو لپاره د فرضو ادا کول وبلل شي نو په همدې سره تر لاسه کېږي. انسان ته يې بدله هغه وخت ورکول کېږي چې دی خپل لور ته ورګرزي او د راضيه مرضية زېرې ورکول کېږي:

يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ * ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً * فَادْخُلِي فِي عِبَادِي * وَادْخُلِي جَنَّتِي* (الفجر ۸۹: ۲۷ - ۳۰)

"اې هغه څوکه چې زړه يې (په بنه او بد هر حالت کې په خپل رب) ډاډمن وو، د خپل رب لور ته ورګرزه داسې چې ته له ده راضي يې او دی له تا (ستون شه) زما له بندګانو سره يو ځای شه او زما جنت ته ورننوزه."

استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کې ليکي:

"دا د الله له لوري د ستاينې او شاباسې الفاظ دي، دې خلګو ته په خطاب کولو به وويل شي چې شاباس! ستاسو رب چې کوم ډګر ته د ازموينې لپاره لېږلي واست په هغه کې مو لوبه ډېره بريالی وه، اوس د خپل رب پر لور له دې خوشالۍ سره ورګرزئ چې ثابته مو کړه په هر ډول سختو او نازکو حالاتو کې مو پر خپل رب اطمنان درلود او ورسره مو دا سرلوړي هم وموندە چې د خپل رب تر نظر هم بنه ورغلاست. لکه څرنګه چې تاسو په هيڅ مرحله کې له خپل رب څخه ګيله ونه کړه همدارنګه ستاسو رب په هيڅ مرحله کې تر خپل معيار تيټ نه کړاست. تاسې له هغه راضي ياست او دی له تاسو."

(تدبر قرآن ۹ / ۳۶۲)

د اصولو اصل

إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (النحل ۱۶: ۹۰)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"الله تاسو ته د عدل، احسان او قريبانو ته د ورکړې امر کوي، له بې حيايي، بدې او سرکښي مو را ګرزوي او د دې لپاره درته نصيحت کوي چې پند واخلئ."

دا په دې باب کې د قرآني هدايا تو بنسټيز اصل دی، د انسان فطرت چې د کومو اخلاقي بښکنو موندلو او له کومو بديو د ځان ساتنې غوښتنه کوي په همدې کې يې بنسټونه تشريح شوي دي. د خير او شر دا اصول بېخي فطري دي، له همدې کبله د الله په دين کې تل يو ډول پاتي شوي، د قرآن لس احکام هم پر دې ولاړ دي او قرآن هم په خپلو ټولو اخلاقي لارښوونو کې د هغه تفصيلات بيان کړي.

موږ به يې دلته وضاحت وکړو:

په ايت کې چې د کوم لومړي شي امر شوی دی هغه عدالت دی، معنا يې داده چې د يو چا پر بل لازمي حق وي، له څه کمبوت او زيادت پرته دي په بې پرې طريقه ورکړل شي، د حق څښتن کمزوری وي او که زورور، زمور خوښ وي او که نه؟. الهي وينا ده:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاء لِلّهِ وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَاللّهُ أَوْلَى بِهِمَا فَلاَ تَتَّبِعُواْ الْهَوَى أَن تَعْدِلُواْ وَإِن تَلْوُواْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ اللّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا

(النساء ۴: ۱۳۵)

"اې مومنانو! پر انصاف ټينګ شئ، د الله لپاره د هغه د شاهدۍ په ورکولو، که څه هم دا شاهدي ستاسو د ځان، مور و پلار او قريبانو پر خلاف وي، شتمن وي او که بې وزلی، الله د دواړو لپاره ډېر حقدار دی. له همدې کبله (د الهي هدايت په خوشي کولو) د خواهشاتو پيروي مه کوئ چې په نتيجه کې يې له حقه واوړئ او (يا د لرئ چې) که (د حق و انصاف) د خرابولو يا (له هغه څخه) د ځان پېچلو هڅه وکړئ نو تاسو چې څه کوئ الله پرې ښه خبر دی."

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (المايدة ۵: ۸)

"اې مومنانو! پر انصاف ټينګ شئ، د الله لپاره د ده په شاهدي ورکولو او د يو قوم دښمني دي تاسو دې ته ونه هڅوي چې انصاف ونه کړئ، انصاف کوئ دا تقوا ته ډېر نژدې دی او له الله وېرېږئ بې شکه الله مو په هر عمل خبر دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دویم شی احسان دی، دا تر عدل یو زیات شی او د ټولو اخلاقیاتو ښکلا او کمال دی. له دې څخه مراد یوازې د حق ادا کول نه بلکې پر هغه دا زیاتونه هم ده چې مور له نورو سره د خپل منځي مراعت او سخاوت چلند خپل کړو، د دوی تر حق زیات شی ورکړو او د خپل کم حق په اخیستلو راضي شو. په همدې سره په ټولنه کې مینه او محبت، اخلاص، شکر، حوصله او خیر غوښتنه وده کوي او په ژوند کې مهرباني و کړوالی پیدا کېږي.

درېیم شی د قریبانو لپاره انفاق دی، دا د احسان یوه ډېره مهمه فرع او د هغه یو ځانګړی شکل ټاکي. مطلب یې دا دی چې خپلوان یوازې د عدل او انصاف د چلند حقدار نه دي بلکې دا حق هم لري چې خلک په خپل مال کې د هغوی حق ومني، په هیڅ حال کې یې لوڅ او وږي پرې نه ږدي او له خپلو ماشومانو واولادونو سره د امکان تر کچې په پوره سخاوت د دوی د اړتیاوو پوره کولو هڅه هم وکړي.

د دې په مقابل کې درې شیان هم شته چې ایت ترې منعه کړې ده.

لومړی شی فحشا ده چې مراد یې زنا، لواطت او د هغو مربوطات دي.

دویم شی منکر دی، منکر یا د معروف ضد دی یعنې هغه بدی چې انسان یې په عمومي ډول بدې ګڼي، تل یې بدې بللې او ناولتیا یې داسې څرګنده ده چې استدلال ته اړتیا نه لري، د دین و ملت او تهذیب و تمدن په هر غوره کولتور کې بد بلل کېږي. قرآن په یو بل ځای کې د دې پر ځای د اثم د لفظ په کارولو څرګنده کړې چې له دې څخه دلته مراد د نورو حق ته زیان رسوونکي کارونه دي.

درېیم شی بغي ده چې د بغاوت او تېري په معنا ده یعنې انسان له خپل ځواک، طاقت، زور او اغېز څخه ناروا ګټه واخلي، تر حدود و تجاوز وکړي او د خالق یا مخلوق حقوقو ته د لاس غزولو په هڅه کې شي. الهي وینا ده:

قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ

(الأعراف ۷: ۳۳)

"دوی ته ووایه چې زما رب خو ښکاره او پټه بې حیایي، د حق تر پښو لاندې کول او ناحقه تېری منعه کړې دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فضايل او رذايل

لاَّ تَجْعَل مَعَ اللّهِ إِلَـهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولاً * وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُـدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا * وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِـنَ الرَّحْمَـةِ وَقُـل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا * رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ إِن تَكُونُواْ صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلأَوَّابِينَ غَفُورًا * وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْـذِيرًا * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا * وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاء رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلاً مَّيْسُورًا * وَلاَ تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلاَ تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا * إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاء وَيَقْدِرُ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا * وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلاَدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاَقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّـاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْءًا كَبِيرًا * وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً * وَلاَ تَقْتُلُـواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلاَ يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا * وَلاَ تَقْرَبُواْ مَالَ الْيَتِيمِ إِلاَّ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُـدَّهُ وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً * وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذا كِلْتُمْ وَزِنُـواْ بِالقِسْـطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً * وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولـئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً * وَلاَ تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولاً * كُلُّ ذَلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا * ذَلِكَ مِمَّـا أَوْحَى إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ وَلاَ تَجْعَلْ مَعَ اللّهِ إِلَهًا آخَرَ فَتُلْقَى فِي جَهَـنَّمَ مَلُومًـا مَّدْحُورًا* (بني اسرائيل ۱۷: ۲۲- ۳۹)

"له الله سره بل معبود مه شريكوئ چي (د قيامت په ورځ) ملامت او خوار شوي پاته شئ او (يا د لرئ چي) ستا رب پريكړه كړې چي له ده پرته د بل چا عبادت مه كوئ او له مورو پلار سره ډېر ښه چلند كوئ، كه ستاسو په مخ كي له هغوی څخه يو يا دواړه بوډاګان شي نو مه اف ورته وايا ست او مه يې ترتيئ بلكي په ادب خبرې ورسره كوئ، د هغوی لپاره په مينه او محبت د عجز بازو وغوړوئ او دعا كوئ چي اې ربه! پر دوی رحم وكړه لكه زه چي يې په ما شومتوب كي پاللی وم، ستاسو رب په هغه څه ښه پوهېږي چي په زړونو كي مو دي، كه تاسو نېک بخته پاتي شوئ نو (پوه شئ چي) د رجوع كوونكو لپاره دی ډېر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بخښونکی دی. قریبانو ته خپل حق ورکړئ او بې وزلو و مسافرو ته هم، مال بې ځایه مه مصرفوئ ځکه دا ډول مصرف کوونکي د شیطان وروڼه دي او شیطان د خپل رب ډېر ناشکره دی او که له دې (بې وزلو) په دې وجه مخ واړوئ چې لا هم د الله د رحمت په لټه یاست چې تاسو یې هیله لرئ نو له دوی سره نرمې خبرې وکړئ، مه خپل لاس له غاړې سره تړئ او مه یې بالکل خلاص پرېږدئ (چې په نتیجه کې یې) ملامت او افسوس کوونکي پاتې شئ. په دې کې شک نه شته چې ستا رب چا ته وغواړي روزي یې پراخوي او چې چا ته وغواړي رزق یې تنګوي، دی په خپلو بندګانو خبر دی او وینې یې. خپل اولاد ونه د غربت له ویري مه وژنئ، موږ دوی ته هم رزق ورکوو او تاسو ته هم ځکه چې وژل یې ډېر لوی جرم دی. زنا ته مه ور نژدې کېږئ ځکه چې دا ځرګنده بې شرمي او ډېره بده لاره ده، الله چې د کوم نفس حرمت ټاکلی په ناحقه یې مه وژنئ او (په یاد لرئ چې) څوک په ظلم ووژل شي موږ یې ولي ته اختیار ورکړی، بیا هغه ته هم په کار ده چې په قتل کې له حدود و تېری ونه کړي ځکه چې له ده سره مرسته شوې او د یتیم مال ته مه ور نژدې کېږئ مګر په ښه طریقه تر دې چې دی د خپل قوت عمر ته ورسېږي او په وعده وفا کوئ ځکه د وعدې په اړه به پوښتنه وشي. پوره پیمانه ورکوئ او سم تول کوئ، دا ښه کار دی او د برخلیک له مخې هم ښه طریقه ده او په هغه څه مه پسې کېږئ چې نه پرې پوهېږئ ځکه ستر ګې، غوږونه او زړه هریو پوښتل کېږي او په ځمکه کې په تکبر مه ځئ ځکه نه ځمکه څیرلای شئ او نه د غره لوړتیا ته رسېدای شئ. په دې کې د هرشي بدي ستا د رب په نزد ډېره ناخوښه ده، دا هغه حکمت دی چې ستا رب یې درته وحي کړې (ټینګ یې ونیسئ) او (په پای کې یو ځل بیا واورئ چې) له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ چې (په نتیجه کې یې) شړل شوي او په ګرمېدو دوزخ ته داخل شئ. "

تر دې وړاندې چې کوم بنسټیز اصول بیان شوي ول، دا د هماغه اجمال تفصیل دی او د اخلاقو فضایل او رذایل یې په ډېرې معلومه طریقه بیان کړي دي. که غور پرې وکړئ نو د بیان لړۍ هم د شرک په منعه پیل شوې او په پای کې هم پرې تاکید شوی دی، په قرآن کې دا اسلوب دیوه شي د ارزښت ښودو لپاره غوره کېږي. هدف یې دا دی چې په منځ کې کوم شیان بیان شوي ګواکي د هغو لپاره دا عقیده د فصیل حیثیت لري چې په وسیله یې ښار دوام کوي او که کومه سوړه پکې پیدا شي نو ټول ښار ته خطره متوجې کېږي. په دې کې شک نه شته چې په دې ایاتونو کې کوم الهي حکمت بیان شوی د هغو لپاره توحید همداسي حیثیت لري، دا د هغه عدالت تر ټولو لویه او بنسټیزه غوښتنه ده چې قرآن یې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

امر کړی دی، له همدې کبله شرک لوی ظلم بلل شوی دی[۱۳] او قرآن يې نتيجه هم په پوره صراحت سره تشريح کړې چې دا د الله په نزد نه بخښل کېدونکی جرم دی او په بدل کې به يې خلک ترټلي او ملامت شوي جهنم ته واچول شي. الهي وينا ده:

إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا (النساء ۴: ۴۸)

"الله دا شی نه بخښي چې (په شعوري ډول) له هغه سره شريک ونيول شي، البته تر دې کم چې کوم څه دي که د چا لپاره وغواړي (له خپل قانون سره سم) به يې وبخښي او (حقيقت دادی چې) څوک له الله سره شريک نيسي هغه د ډيو پ لويي ګناه افترا کړې ده."

شرک څه شی دی؟. که له الله سره بل معبود ونيول شي نو قرآن په خپله اصطلاح ترې په شرک تعبير کوي، معنا يې داده چې يو څوک د الله له ذاته يا الله د هغه له ذاته وبلل شي. يا د پيدايښت او مخلوقاتو د چارو په اداره کې چا ته برخه ورکړل شي او په دې توګه په يوه نه يوه درجه د الله سيال وبلل شي.

د لومړي صورت مثال د عيسی عليه السلام، مريم رضي الله عنها او فرشتو په اړه د عيسايانو او عربو د مشرکينو عقايد دي. د صوفيانه مذاهبو د وحدت الوجود عقيده هم له دې ډلې ده.

د دويم صورت مثال په هندوانو کې د برهما، وشنو، شيو او په مسلمانانو کې د غوث، قطب، ابدال، داتا او غريب نواز په څېر عقايد دي. د خبيثو روحونو، ستورو او شيطانانو پر تصرفاتو باور هم بايد په دې ډله کې وګڼل شي.

الهي وينا ده:

قُلْ هُوَ اللّهُ أَحَدٌ * اللّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ* (سورة الاخلاص)

"(اې رسوله!) اعلان وکړه چې هغه الله يو دی، الله د ټولو لپاره پناه ځای دی، نه پلار دی نه زوی او نه کوم سيال لري."

إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ

"ستاسو رب هغه الله دی چې په شپږو ورځو کې يې ځمکه او اسمان پيدا کړل، بيا يې پر عرش

[۱۳] لقمان ۳۱: ۱۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (الأعراف ۷: ۵۴)

استوا وکړه. دی شپه پر ورځ خپروي چې د هغې شا ته په منډه راځي، ده لمر، سپوږمۍ او ستوري پیدا کړل چې د ده په امر په کار لګیا دي، واورئ! تخلیق هم د ده دی او د چارو اداره هم، د جهانونو رب الله ډېر برکتمن دی."

د دې عقاید و منونکي عموما له دې سره دا هم مني چې الله دې هستیو ته دا حیثیت هم ورکړی چې کله وغواړي په یو غیب خبر بدای شي او په دنیا و اخرت کې د خپلې سپارښتنې په وسیله الهي پرېکړي بدلولای شي. قرآن دا دواړې خبرې رد کړې دي، د لومړۍ هغې په اړه یې ویلي:

قُل لاَّ يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ الْغَيْبَ إِلاَّ اللّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (النمل ۲۷: ۶۵)

"ووایه په ځمکه او اسمان کې هیڅوک هم له الله پرته په غیو خبر نه دی او (چا ته چې دا حیثیت ورکول کېږي) هغوی هم په دې نه دي خبر چې کله به را پاڅېږي؟."

د دویمې په اړه یې ویلي:

قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (الزمر ۳۹: ۴۴)

"ووایه چې ټول شفاعت د الله په اختیار کې دی، د ځمکې او اسمان پاچاهي د ده ده، بیا به تاسو ده ته ور ګرزئ."

خلګ خپل دا خرافات تصویرونو او مجسمو ته هم غزوي، قرآن دا بتان او اصنام نجاست بللي او له هغو څخه یې د ځان ساتنې امر کړی دی. فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ [۱۴] (د دې بتانو له ناولتیا ځان وساتئ او د هغو په اړه چې پر الله کوم دروغ ترئ ډډه ترې وکړئ.) رسول الله ﷺ له همدې کبله ویلي چې د قیامت په ورځ به د دې بتانو جوړوونکي په سخت عذاب اخته وي او له دوی به غوښتنه وشي چې له خپل ګومان سره سم چې مو د کومو ژوندیو ګټورو او زیان رسوونکو هستیو انځورونه جوړول اوس روح پکې پو کړئ. ده ویلي:

[۱۴] الحج ۲۲: ۳۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ان الذين يصنعون هذه الصور يعذبون يوم القيامة يقال لهم احيوا ما خلقتم.

(بخاري، شمېره: ۵۹۵۱)

"کوم کسان چې دا ډول عکسونه يا انځورونه جوړوي هغوی ته به د قيامت په ورځ عذاب ورکړل شي او ورته وبه وايي چې څه مو جوړ کړي اوس يې ژوندي کړئ."[۱۵]

له دې هستيو څخه د مرستې غوښتل کېدو پر بنسټ کښل کېدونکي تعويذونه هم د غه ډول منحوس دي، رسول الله ﷺ ويلي: دا ډول دم، چوف، تارونه او د مېړه و ماينې تر منځ بېلتون راوستونکي تعويذونه ټول شرک دي.[۱۶] له الله پرته د بل چا په نوم قسم يې هم تر دې لاندې کړی ځکه چې په دې کې هم انسان هغه کس په حقيقت کې پر پېښه شاهد ګرزوي او ګواکې د الله په څېر يې عالم الغيب ګڼي. ده ويلي:

من حلف بالله فقد اشرک.

(ابوداود، شمېره: ۳۲۵۱)

"چا چې له الله پرته په بل څه قسم وخوړ شرک يې وکړ."

په دې ضمن کې ځينې مشرکانه رويې هم د پام وړ دي:

الله د يو داسې چا تمثيل بيان کړی چې د خپلې شتمنۍ، ډلې، قوم او نوکرانو د فعاليتونو له امله په غرور اخته شو او داسې فکر يې وکړ چې دی څه لري، دا د هغه د وړتيا کارنامه او د ده د علم و تکبر نتيجه ده او تل به ورسره وي، قيامت خو اول راځي نه او که را هم شي نو هلته به هم دا هر څه بلکې تر ډېر زيات شيان ولري. قرآن ويلي: کله چې يوه ورځ سمسور باغ تباه شو نو د دې بتانو حقيقت يې وليد او ويې ويل چې هاى زما بد مرغۍ! ماولي دا شيان له خپل رب سره شريک ګڼلي وو؟.

وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَى مَا أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا (الكهف ۱۸: ۴۲)

"او پېښه داسې وشوه چې خپله ټوله مېوه يې هلاک شوې او خپل باغ يې پر چتونو را لوېدلی وليد، پر خپل لګولي مال لاس مو ښونکی پاتې شو او ويې ويل: اې کاش! ما هيڅوک له خپل رب سره نه شريکولای."

---

[۱۵] رسول الله ﷺ همدا انځورنه ممنوع کړي دي، دا منع له عامو انځورونو سره هيڅ تړاو نه لري.

[۱۶] ابوداود، شمېره: ۳۸۸۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ریا هم داسي ده هغه کار چې باید یوازي د الله لپاره وشي که د نورو لپاره ترسره کېږي نو معنا یې داده چې هغو نورو د الله ځای نیولی. رسول الله ﷺ ویلي چې الله وایي: زه په ټولو شریکانو کې له شراکته ډېر بې نیازه یم، له همدې کبله که چا په خپل کار کې بل څوک راسره شریک کړ زه تر ډېل یم او دی د هغه چا دی چې له ما سره یې شریک ګرزولی.[17]

د انساني توهماتو حقیقت هم دادی ځکه نو رسول الله ﷺ خلګ پرې خبر کړي او همدا رنګه یې د سد ذریعې د اصولو له مخې ځینې هغه شیان هم منعه کړي چې که څه هم شرک نه دي مګر هغه ته د رسېدو سبب کېدای شي. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې یوه شپه یو ستوری ولوېد نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې تاسو د جاهلیت پر مهال د دې په اړه څه ویل؟. خلګو ځواب ورکړ: موږ فکر کاوه چې کله یو لوی شخص مړي او یا پیدا کېږي نو ستوری لوېږي. ده وویل: نه! ستوری د چا په مرګ یا زېږون نه لوېږي.[18]

د زید بن خالد وینا ده چې د حدیبیې پر مهال د تصادف له مخې د شپې باران وشو، د سهار تر لمانځه وروسته رسول الله ﷺ خلګو ته وینا وکړه او ویې ویل: پوهېږئ ستاسو رب څه ویلي؟. خلګو وویل: الله او د هغه رسول یې ښه پوهېږي. ده وویل: الله ویلي چې ننۍ سهار زما په بندګانو کې ځینې مومنان را پورته شول او ځینې کافران، کومو کسانو چې وویل: باران د الله په فضل او رحمت شوی هغه زما منونکي او له ستورو منکرین دي او چا چې ویلي: پر موږ فلاني ستوري باران کړی هغه له ما منکر او د ستورو منونکي دي.[19]

ابن عمر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وویل: لمر او سپوږمۍ د چا د مرګ یا زېږون له وجې تندر نه نیسي، دا دوې الهي نښې دي نو کله چې یې وینئ لمونځ وکړئ.[20]

د رسول الله ﷺ دیوې مېرمنې وینا ده چې رسول الله ﷺ وویل: که څوک د خپل شي د درک مالومولو لپاره کوم عراف[21] ته ورشي او هغه ربنتنی وګڼي نو د څلوېښتو ورځو لمونځ به یې قبول نه شي.[22]

---

[17] مسلم، شمېره: ۷۴۷۵

[18] مسلم، شمېره: ۵۸۱۹

[19] بخاري، شمېره: ۸۴۶، مسلم، شمېره: ۲۳۱

[20] بخاري، شمېره: ۱۰۴۲، مسلم، شمېره: ۲۱۲۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له عائشې ﵂ څخه روايت دی چې خلګو د کاهنانو په اړه پوښتنه وکړه نو ده وويل: دا هيڅ نه دي. هغوی وويل: اې د الله رسوله! ځينې خبرې يې رښتيا کېږي هم. ده وويل: شيطان يوه نيمه خبره اوري او د چرګ په څېر د کړوک - کړوک په کولو يې د خپلو دوستانو غوږونو ته رسوي او هغوی يې بيا د سلو دروغو په يو ځای کولو بيانوي.[۲۳]

ابو هريره ﵁ وايي چې رسول الله ﷺ وويل: نه د ناولي انسان سيوری شته، نه بد فالي، نه په نس کي د لوږې مار او نه د مړي له کوپړۍ مرغه را وزي.[۲۴]

د جابر ﵁ وينا ده چې رسول الله ﷺ دا هم وويل: بيابانې ميرګيازمی هيڅ شی نه دی.[۲۵]

له عمر ﵁ څخه روايت دی چې له رسول الله ﷺ مې واورېدل، ويې ويل: زما په اړه داسې مبالغه مه کوئ لکه نصارا وو چې د عيسی ﵇ په اړه کړې، زه صرف د الله بنده يم له همدې کبله مې د الله بنده او د هغه رسول بولئ.[۲۶]

له ابن عباس ﵁ څخه روايت دی چې يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی، د خبرو په لړکي يې وويل: څه چې الله او ته وغواړې. ده سمدستي منعه کړ او ويې ويل: تا زه له الله سره برابر کړم؟، نه! بلکې داسې ووايه چې څه يوازې الله غواړي.[۲۷]

پر دې سربېره چې په هغو اياتونو کې کوم احکام بيان شوي تفصيلات يې دادي.

د الله عبادت

لومړی حکم دادی چې کله له الله پرته بل معبود نه شته نو عبادت هم بايد د ده وشي، د عبادت په اړه مو تر دې وړاندي په همدې کتاب کې د دين حق تر عنوان لاندې بيان وکړ چې د هغه حقيقت تواضع او خاکساري ده چې لومړی ظهور يې د لمانځنې په بڼه وي، ور

---

[۲۱] دا هغه کسان وو چې د غلا شويو شيانو د معلومولو دعوه يې درلوده.

[۲۲] مسلم، شمېره: ۵۸۶۱، احمد، شمېره: ۱۶۲۰۲

[۲۳] بخاري، شمېره: ۷۵۶۱، مسلم، شمېره: ۵۸۱۷

[۲۴] بخاري، شمېره: ۵۷۵۷، مسلم، شمېره: ۵۷۸۸، دا د جاهلي دور خرافات وو چې د هغې زمانې خلګ پرې اخته ول.

[۲۵] مسلم، شمېره: ۵۷۹۵

[۲۶] بخاري، شمېره: ۳۴۴۵

[۲۷] احمد، شمېره: ۱۹۶۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پسې د انسان د عملي وجود له کبله همدا لمانځنه په اطاعت کې شاملېږي. د لومړي صورت اثار تسبیح او حمد، دعا او مناجات، رکوع او سجده، نذر او نیاز او قرباني و اعتکاف دي. په دویم صورت کې انسان د یو چا لپاره الهي اختیارات مني او د خپلواک، شارع او حاکم په توګه یې هر حکم ته د تسلیمۍ سر ټیټوي. د نړۍ والو د رب الله پرېکړه ده چې په دې کې هیڅ شی له ده پرته د بل چا لپاره نه شي کېدای، د قضی ربک ان لا تعبدوا الا یاه په الفاظو الله همدا پرېکړه بیان کړې ده. له همدې کبله که یو څوک د یو چا تسبیح او تحمید وایي: له هغه دعا او مناجات غواړي، هغه ته رکوع او سجده کوي، حضور ته یې نذر، نیاز یا قرباني وړاندي کوي، د ده لپاره اعتکاف کوي او یا یې د خدایي اختیارات و په منلو اطاعت کوي نو معنا یې داده چې هغه د الله د دې پرېکړې له منلو انکار کړی دی. د قرآن په مخاطبینو کې چې کوم کسان په دې جرم اخته ول، د هغوی غلطي یې په صراحت سره بیان کړه.

د لمر او سپوږمۍ سجده کوونکو ته یې ویلي دي:

لاَ تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلاَ لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ

(حم السجدة ۴۱: ۳۷)

"مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته بلکي هغه الله ته سجده وکړئ چې دوی یې پیدا کړي، که تاسو د هغه عبادت کوئ."

له بزرګانو څخه د دعا او مناجات غوښتونکي یې داسي پوهولي:

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ لاَ يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ * أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاء وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ* (النحل ۱۶: ۲۰، ۲۱)

"او دوی چې له الله پرته کوم څوک را بولي هغوی په خپله مخلوق دي، هیڅ نه شي پیدا کولای، مړه دي نه ژوندي او په دې هم نه دي خبر چې کله به را پاڅېږي؟."

د مذهبي مخکښانو لپاره د خدایي اختیارات و په منلو له هغوی څخه مرسته غوښتونکي او د دوی امر منونکي یې داسي متوجې کړي دي:

اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُواْ إِلاَّ لِيَعْبُدُواْ

"دوی خپل علماء او بزرګان له الله پرته خپل ارباب نیولي او مسیح بن مریم هم، په داسي حال کي چې هغوی ته د یوه معبود د عبادت امر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

إِلَـهًا وَاحِدًا لاَّ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّـا يُشْرِكُونَ (التوبة ۹: ۳۱)

شوی وو، له ده پرته هیڅ معبود نه شته او دی له هغـه څـه پـاک دی چـي دوی يـې ورسـره شریکوي."

د همدې هستیو حضور ته د الله د پیدا کړو کښتونو او څارویو د نذر او قربانۍ لپاره ځانګړي کوونکو ته يې خبر ورکړی:

وَجَعَلُواْ لِلّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَـرْثِ وَالأَنْعَـامِ نَصِيبًا فَقَالُواْ هَـذَا لِلّهِ بِـزَعْمِهِمْ وَهَـذَا لِشُرَكَآئِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلاَ يَصِلُ إِلَـى اللّهِ وَمَا كَانَ لِلّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَآئِهِمْ سَاء مَا يَحْكُمُونَ (الأنعام ۶: ۱۳۶)

"الله چي کوم کښتونه او څاروي پیدا کړي دوی په هغو کي يوه برخه د الله ټاکلې، بیا وايي: دا د الله برخه ده، د دوی له ګومان سره سم او دا د هغو ده چي موږ يې له الله سره شریکوو. پر دې سربېره چي د دوی د شریکانو کومه برخه ده هغه الله ته نه رسېږي او کومه چي د الله ده شریکانو ته رسېدای شي.[۲۸]

قرآن دا ډول علت او حرمت باطل بللی او عربو چي د بحیرې، سایبې، وصیلې او حام په نوم ځینې حیوانات ممنوع ګرزولي وو د هغو په اړه يې په ښکاره وویل چي هیڅ ارزښت نه لري.

بحیره هغه اوښه وه چي کله به يې پنځه بچیان پیدا شول او ورو ستی به يې نر وو نو هغه اوښه به يې د غوږونو په څیرلو ازاده خوشي کوله.

سایبه يې هغې اوښې ته ویل چي د کوم نذر ترپوره کېدو وروسته به يې ازاده پرېښوده.

وصیله دا وه چي ځینو خلګو به نذر کښود او وبه يې ویل: که دا پسه نر و زېږوي نو بتانو ته به يې وړاندي کوي او که ښځینه وزېږوي نو له ځان سره به يې ساتي، نو که به يې دواړه يو ځای وزېږول هغه يې وصیله بلله او داسي نر به يې بتانو ته نه نذر کاوه.

حام هغه مینده وو چي له شا به يې څو نسله پیدا شول، دا به يې هم ازاد پرېښود.

---

[۲۸] دا پر يوه حماقت سربېره د بل حماقت یادونه ده چي که د بتانو په نوم ټاکل شوی پسه ومري نو حتما به يې د الله له برخې پوره کوي، مګر که د الله په نوم پر ټاکلې برخه دا ډول افت راشي نو د بتانو له حصې به يې نه پوره کوي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الهي وينا ده:

مَا جَعَلَ اللّهُ مِن بَحِيرَةٍ وَلاَ سَآئِبَةٍ وَلاَ وَصِيلَةٍ وَلاَ حَامٍ وَلَـكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ يَفْتَرُونَ عَلَى اللّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ (المايدة ۵: ۱۰۳)

"الله هيڅ بحيره، صايبه، وصيله او حام نه دي ټاكلي مګر دا منكرين پر الله دروغ تړي او په دوی كي ډېری يې له عقله خلاص دي."

د الله د عبادت په اړه د (ان لا تعبدوا الا اياه) همدا امر دی چې پر بنسټ يې رسول الله ﷺ هم له قبرونو د سجدې ځای جوړول منعه ګرزولي او ويلي يې دي چې الله دي پر يهود و او نصارا وو لعنت وكړي، دوی د خپلو رسولانو له قبرونو مسجدونه جوړ كړل.[۲۹]

دا تر وفات وړاندې د رسول الله ﷺ وروستی نصيحت وو چې له دې څخه يې اهميت معلوميدای شي.

له مور و پلار سره ښه چلند

دويم حكم دادی چې له مور و پلار سره ښه چلند وشي، د دې ښوونه په ټولو اسماني صحيفو كي شته قران كريم دلته او پر دې سربېره د عنكبوت (۲۹) په اتم، لقمان (۳۱) په څورلسم او پنځلسم او د احقاف (۴۶) په پنځلسمو ايا تونو كي د هغه سپارښتنه كړې ده. په دې كي شک نه شته چې تر ټولو انسانانو د مور و پلار حق لومړی دی ځكه نو د الله تر عبادت وروسته تر هر څه اول د هغه د ادا كولو امر شوی دی. علت يې دادی چې د انسان مور و پلار د ده د را منځ ته كولو او پالنې و وروزنې وسيله دي. په لقمان او احقاف كي چې دا امر په څه ډول وركول شوی له هغه معلوميږي چې په دوی كي هم د مور حق ډېر دی:

وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ (لقمان ۳۱: ۱۴)

"او موږ انسان ته د هغه د مور و پلار په اړه وصيت كړی، مور يې پر ضعف له ضعف سره په نس كي وساته او له شيدو پرې كول يې په دوه كاله كي وو (موږ ده ته نصيحت كړی دی) چې زما شكر و باسي او د خپل مور و پلار شكر پر ځای كړي، بالاخره موږ ما پر لور را ګرزېدل دي."

[۲۹] بخاري، شمېره: ۴۳۶، مسلم، شمېره: ۱۱۸۴ او ۲۲۸۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اولادونو په روزنه کي د مورو پلار شفقت هم کم نه وي مګر د حمل، زېږون او شيدو ورکولو په بېلابېلو پړاوونو کي چې مور کوم تکليف تېروي يقينا يې په دې کي هيڅ شريک او برخوال نه شته. رسول الله ﷺ هم له دې کبله د پلار په پرتله د مور حق درې درجې زيات ګڼلی دی.[۳۰] خو له دې توپير پرته د دواړو په اړه د الله نصيحت دا دی چې انسان بايد تر خپل رب وروسته تر بل هر چا د دوی ډېر شاکر وي، دا شکر صرف په ژبه نه ادا کېږي، د دې څو لازمي غوښتنې دي چې الله د سورة بني اسرائيل په دې اياتونو کي بيان کړې دي.

لومړی خبره داده چې انسان بايد له خپل مورو پلار سره داسي واوسي چې په ظاهر او باطن کي د هغوی عزت وکړي، په زړه کي د دوی پر خلاف هيڅ کرکه پيدا نه کړي، د هغوی په مخ کي د بې ادبۍ هيڅ کلمه تر خوله ونه باسي بلکي د نرمۍ، مينې، شرافت او سعادت اسلوب خپل کړي، د هغوی خبره ومني او د بوډاتوب په کمزورۍ کي د هغوی زړه تر لاسه کړي او تسلي ورکړي.

بوډاتوب چې د کوم ځانګړي هدف له مخې ياد شوی استاذ امام امين احسن اصلاحي يې داسي وضاحت کړی دی:

"په دې زمانه کي هغو کسانو ته مورو پلار يو بوج ښکاري چې د دوی لپاره يې په ماشومتوب کي ورکړې قربانۍ او سرښندنې هيروي. نېکمرغه اولاد دا خبره ياد ساتي چې په څه ډول زه د ديوې ګولې غوښې په شکل د مورو پلار غېږې ته اچول شوی وم، همدا رنګه اوس زما مورو پلار د هډوکو د يو غالب په بڼه ما ته سپارل شوي او زما مسئوليت دادی چې زه يې د احسان بدله په احسان ورکړم خو دا خبره د هر چا نه وي په ياد. دلته يې همدا حقيقت ورياد کړی که نه اصلي واقعيت دادی چې مورو پلار په هروخت کي دمينې، درناوي او احسان حقدار دي." (تدبر قرآن ۴ / ۴۹۶)

دويمه خبره يې دا کړې چې د مورو پلار په مخ کي دي هر وخت د امر منلو او اطاعت سرټيټ کړي او هر ډول اطاعت و امر منل بايد د مينې، محبت او رحمت و شفقت له مخې وي. د دې لپاره يې د (واخفض لهما جناح الذل من الرحمة) تعبير غوره کړی دی. په دې کي يې اشاره کړې چې مورو پلار اولادونه د مرغانو په څېر په خپلو بازوګانو کي خوندي کوي، اولادونه هم بايد د بوډاتوب پر مهال هغوی همدغسي دمينې او اطاعت په

---

[۳۰] بخاري، شمېره: ۵۹۷۱، مسلم، شمېره: ۶۵۰۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بازوګانو پټ کړي ځکه د مور و پلار د شفقت حق که په څه اندازه ادا کېدای شي نو په همدې جذبه سره ادا کېدای شي، له دې پرته هیڅوک دا حق نه شي ادا کولای.

درېیمه خبره یې دا کړې چې له دې سره دي تل هغوی ته دعا کوي او وایي دي چې لکه څرنګه دوی زه په ماشومتوب کې په مینه او محبت پاللی یم همدغه ډول اوس په بوډاتوب کې پرې رحمت وکړه، دا دعا د مور و پلار حق ده او هغه حق هم وریادوي چې د مور و پلار په اړه اولاد ته راجع کېږي. پر دې سربېره د محبت د هغې جذبې محرک هم ده چې الله یې له مور و پلار سره د ښه چلند په معامله کې غوښتنه کړې. په سورت لقمان کې له دې پرته د هغه غوره چلند حدود هم بیان شوي دي مګر څرنګه چې دا د شریعت موضوع ده له همدې وجې به یې وروسته د ټولنیز قانون تر عنوان لاندې بیان کړو.

په دې اړه د رسول الله ﷺ لارښوونې دادي:

له ابن مسعود ؓ څخه روایت دی چې له رسول الله ﷺ مې وپوښتل: د الله تر ټولو کوم عمل ډېر خوښ دی؟. ده وویل: پر وخت لمونځ کول. ما وویل: تر دې وروسته. ده وویل: له مور و پلار سره ښه چلند.[۳۱]

ابو هریره ؓ وایي چې رسول الله ﷺ وویل: د دې سړي لپاره ذلت دی، د دې سړي لپاره ذلت دی، د دې سړي لپاره ذلت دی. خلګو وپوښتل: د چا لپاره اې د الله رسوله؟. ده وویل: د هغه چا لپاره چې مور و پلار او یا یو یې بوډاتوب ته ورسېږي او دی بیا هم جنت ته داخل نه شو.[۳۲]

له عبدالله بن عمرو څخه روایت دی چې یو چا له رسول الله ﷺ څخه د جهاد اجازه وغوښته، ده ترې وپوښتل: مور و پلار دي ژوندي دي؟. هغه وویل: هو!. ده ورته وویل: نو بیا د هغوی خدمت کوه، همدا جهاد دی.[۳۳]

ابو سعید خدري ؓ وایي: د یمن یو اوسېدونکی د جهاد په نیت رسول الله ﷺ ته راغی، ده ترې وپوښتل: په یمن کې قریبان لرې؟. ده وویل: مور و پلار لرم. ورته ویې

---

[۳۱] بخاري، شمېره: ۵۲۷، مسلم، شمېره: ۲۵۲

[۳۲] مسلم، شمېره: ۶۵۱۰

[۳۳] بخاري، شمېره: ۳۰۰۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ويل: هغوی اجازه درکړې؟. ده وويل: نه. رسول الله ﷺ ورته وويل: ورشه له هغوی اجازه واخله، که يې اجازه درکړه جهاد وکړه او که يې درنه کړه نو خدمت يې کوه.[۳۴]

معاويه له خپل پلار يا عمه څخه روايت کوي چې دی رسول الله ﷺ ته ورغی او ويې ويل: اې د الله رسوله! جهاد ته ځم او له تا سره مشورې ته راغلی يم. ده ترې وپوښتل: مور دې ژوندی ده؟. هغه وويل: هو!. ده ورته وويل: د هغې خدمت کوه ځکه چې جنت يې تر پښو لاندې دی.[۳۵]

له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: د الله خوښه د پلار په خوښه اما نا خوښي يې د پلار په ناخوښي کې ده.[۳۶]

ابو درداء ﷺ وايي چې له رسول الله ﷺ مې واورېدل، ويې ويل: د جنت غوره دروازه پلار ده له همدې کبله که مو خوښه وي ضايع يې کړئ او که مو خوښه وي ويې ساتئ.[۳۷]

عمرو بن شعيب له خپلې مور او هغې دده له نيکه څخه روايت کړی چې يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: زه يو څه مال او اولاد لرم خو مور و پلار مې ورته اړتيا لري. ده وويل: ته او ستا مال دواړه د خپل پلار ياست.[۳۸]

پر مور و پلار سربېره چې په دې دنيا کې کومې اړيکې پيدا کېږي هلته هم بايد درجه پر درجه د انسان چلند همداسې وي. قرآن يو بل ځای دا خبره په پوره صراحت سره کړې او ويلې يې دي:

وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ

" د الله عبادت وکړئ او هيڅ شی مه ورسره شريکوئ، له مور و پلار سره ښه چلند کوئ او له خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو، قريبو ګاونډيانو، پرديو ګاونډيانو، د څنګ له ملګري، مسافر او خپلو مرپيانو سره هم، ځکه

[۳۴] ابوداود، شمېره: ۲۵۳۰
[۳۵] نسايي، شمېره: ۳۱۰۶
[۳۶] ترمذي، شمېره: ۱۸۹۹
[۳۷] ترمذي، شمېره: ۱۹۰۰
[۳۸] ابوداود، شمېره: ۳۵۳۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اللّهَ لاَ يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالاً فَخُورًا (النساء ۴: ۳۶)

چې الله فخر کوونکی او لويي کوونکی نه خوښوي."

قريبان او خپلوان

له ايت څخه معلومېږي چې په دې اړيکو کې تر مور و پلار وروسته لومړی حق د خپلوانو او قريبانو دی، له همدوی سره ښه چلند صله رحمي بلل شوې. د انسانانو تر منځ اړيکې يو عمر، يو ځای درس، ګاونډيتوب، ناسته-پاسته، يو ډول طبيعت، يو کسب او يو وطن هم کېدای شي خو تر دې ټولو اړيکو مهمې يې هغه دي چې د مور په رحم کې د اشتراک له وجې پيدا کېږي. دا د فطرت د خالق ټړل شوې غوښه ده چې شلول يې انسان ته په هيڅ ډول ښه نه دي، له همدې کبله د هغوی د حقوقو ساتنه هم تر ټولو لومړی ده.

وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا (النساء ۴: ۱)

"او له هغه الله وويرېږئ چې تاسو يې يو بل ته واسطه کوئ او د خپلويو په اړه هم خبر اوسئ بې شکه الله مو څارونکی دی."

همدا ارزښت يې د رسول الله ﷺ له لارښوونو هم په ډاګه کېږي.

له ابو هريره ﷺ روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: رحم له رحمان څخه جوړ شوی دی له همدې امله الله هغه ته په خطاب کې ويلي: چا چې ته وصل کړې زه به يې له ځان سره يو ځای کړم او چا چې ته غوڅ کړې ما هم ېبل کړ.[۳۹]

د دې وينا ده چې يو بل ځای رسول الله ﷺ د ښه تعبير تر دې هم نازکه طريقه غوره کړه او ويې ويل: الله چې کله مخلوقات پيدا کړل نو رحم په الهي دربار کې ودرېد او ويې ويل: دا هغه ځای دی چې د خپلوی له غوڅولو ستا پناه غواړي. الله وويل: بې شکه، ايا ته په دې خوشاله نه يې چې څوک تا وپالي زه يې له ځان سره وصل کړم او چې څوک تا غوڅ کړي زه يې هم ېبل کړم؟.[۴۰]

---

[۳۹] بخاري، شمېره: ۵۹۸۸

[۴۰] بخاري، شمېره: ۵۹۸۷، مسلم، شمېره: ۶۵۱۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ابو ايوب انصاري ﷺ وايي چي يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله! ما ته يوه داسي خبره را وښيه چي جنت ته مي بوزي. ده وويل: د الله عبادت کوه، هيڅوک ورسره مه شريکوه، لمانځه ته پام کوه، زکات ورکوه او د قريبانو حق ادا کوه.[41]

د جبير بن مطعم وينا ده چي رسول الله ﷺ وويل: د خپلوی قطع کوونکی هيڅوک به جنت ته داخل نه شي.[42]

له انس ﷺ څخه روايت دی چي له رسول الله ﷺ مي واورېدل ويې ويل: که څوک غواړي روزي يې پراخه او په عمر کي يې برکت پيدا شي نو خپلوي دي پالي.[43]

رسول الله ﷺ يې کمال دا ښودلی چي له خپلوي غوڅوونکو سره دي هم خپلوي پالنې ته پام وشي.[44]

يتيمان او مسکينان

تر خپلوانو او قريبانو وروسته يتيمان او مسکينان په دې حکم کي شامل شوي دي، له دې څخه دا اشاره معلومېږي چي که څه هم دوی د خپلوانو په ډله کي داخل دي. له همدې کبله بايد هر مسلمان په دې سترګه ورته وګوري او د همدې احساس له مخې يې خدمت او پالنه وکړي. په دې دنيا کي چي انسان ته د خير او نېکي کوم هدف ورکړل شوی قرآن يو ځای ويلي: تر هغه د رسېدو لپاره لومړی ګام دادی چي مړيان ازاد او د يتيمانو و مسکينانو ارتياوې پوره شي. ويلي يې دي:

فَلاَ اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ * فَكُّ رَقَبَةٍ * أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ * يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ * أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ*

(البلد ۹۰: ۱۱– ۱۶)

" نو هغه پر لوړه پورته نه شو او ته څه شي پوه کړې چي لوړه څه ده؟ (دا چي) غاړه ازاده شي او د لوږې په ورځ خپل خپلوان يتيم او يا په خاورو لړلي يتيم ته خوراک ورکړای شي."

---

[41] بخاري، شمېره: ۵۹۸۳ ، مسلم، شمېره: ۱۰۴

[42] بخاري، شمېره: ۵۹۸۴، مسلم، شمېره: ۶۵۲۰، ۶۵۲۱

[43] بخاري، شمېره: ۵۹۸۶، مسلم، شمېره: ۶۵۲۳

[44] بخاري، شمېره: ۵۹۹۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په سورت الفجر کي چې د دې لپاره کوم اسلوب غوره شوي له هغو ښکاري چې يوازي له مسکينانو او يتيمانو سره مرسته هدف نه ده بلکي اصل هدف په ټولنه کي هغوی ته د درومند مقام ورکول دي.

كَلاَّ بَل لاَّ تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ * وَلاَ تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ* (الفجر ۸۹: ۱۷، ۱۸)

"هيڅکله نه، بلکي تاسي د يتيم درناوی نه کوئ او يو بل د مسکينانو خوراک ته نه هڅوئ."

رسول الله ﷺ يې بدله دا بيان کړې چې زه او د يتيمانو پالونکی به په جنت کي يوه بل ته داسي نژدې يو لکه دوې ګوتې چې يو بل ته نژدې دي.[۴۵]

ګاونډی، مسافر او مرپيی

تر دې وروسته د ګاونډي، مسافر او مرپيي يادونه ده او له دوی سره هم د ښه چلند امر شوی دی، د تمدن له بدلون سره – سره مسافرنن هم په يو نه يو ډول اړ کېږي، مګر دا مهال غلامي ختمه شوې او اسلام چې يې د له منځه وړلو لپاره کوم ګامونه اخيستي موږ يې تفصيلات د دې کتاب د ټولنيز قانون تر عنوان لاندې بيان کړي. البته د ګاونډي په اړه د قرآن فکر د مذهب او اخلاقو په تاريخ کي يو ښې بېل فکر دی، خلګ په عمومي ډول همدا فکر کوي چې که د چا کور ستا له کور سره مښتی يا نژدې وي هغه ګاونډی دی، مګر قرآن ويلي چې ګاونډی پر درې ډوله دی:

يو هغه چې هم ګاونډی وي او هم قريب، له هغه څخه يې په الجار ذی القربی تعبير کړی دی او تر ټولو اول يې يادکړی دی. معنا يې داده چې د نورو ګاونډيانو په پرتله دی د ډېر ښه چلند حقدار دی.

دويم هغه چې قريب نه وي مګر ګاوندی وي، د دې لپاره يې الجار الجنب يعني د پردي ګاونډي الفاظ ويلي: پردی والی د خپلوي او قرابت له مخې هم کېدای شي او په دين و مذهب کي د اختلاف له مخې هم. تر قريب ګاونډي وروسته د هغه درجه ده.

درېيم هغه چې په کور يا سفر کي د سړي ملګری يا ځنګ ناستی شي، قرآن له هغه څخه په صاحب الجنب تعبير کړی دی او د هغه په اړه يې هم د داسي غوره چلند لارښوونه کړې

---

[۴۵] بخاري، شمېره: ۶۰۰۵، مسلم، شمېره: ۷۴۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لکه له نورو ګاونډيانو سره.

په دې اړه د رسول الله ﷺ لارښوونې دادي:

د ابو شريح روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: قسم په الله! هغه به مومن نه وي، قسم په الله! هغه به مومن نه وي. خلګو پوښتنه وکړه: څوک اې د الله رسوله!؟. ده وويل: هغه چې ګاونډی يې له شرارتونو خوندي نه وي.[۴۶]

له همده څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: که څوک پر الله او اخرت ايمان لري هغه ته په کار ده چې د خپل ګاونډي درناوی وکړي.[۴۷]

له عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: جبريل ما ته د ګاونډي دحقوقو په اړه دومره تاکيد وکړ چې ما ته خيال پيدا شو هغه به په وراثت کې حق پيدا کړي.[۴۸]

د ابو ذر غفاري ﷺ وينا ده چې رسول الله ﷺ ده ته نصيحت وکړ ويې ويل: ابو ذره! ته شوروا پخوې نو اوبه يې ورډېرې کړه او د خپلو ګاونډيانو خبر اخله.[۴۹]

ابو هريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ دا لارښوونه ښځو ته هم وکړه او ويې ويل: اې مسلمانو مېرمنو! تاسي خپلې ګاونډۍ ته د هيڅ ډول ډالۍ ورکړه سپکه مه بولئ که څه هم د پسه يو ښنګری وي.[۵۰]

د الله تعالی په لار کې نفقه

درېيم حکم دادی چې د الله په لار کې دي نفقه وشي، مطلب يې دادی چې الله انسان ته کوم نعمتونه ورکړي نو لکه څرنګه چې يې دی پر ځان لګوي همدا ډول دي د خپلو شخصي او کاروباري اړتياوو ترپوره کولو وروسته پر نورو انسانانو هم ولګوي. له قرآنه ښکاري چې په دې دنيا کې د الهي بنده په توګه د اوسېدو لپاره دوه شيان اړين دي، يو دا

---

[۴۶] بخاري، شمېره: ۶۰۱۶

[۴۷] بخاري، شمېره: ۶۰۱۹

[۴۸] بخاري، شمېره: ۶۰۱۴، مسلم، شمېره: ۶۶۸۵

[۴۹] مسلم، شمېره: ۶۶۸۸

[۵۰] بخاري، شمېره: ۶۰۱۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې له خالق سره د انسان اړيکې سمې وي. دويم دا چې له مخلوق سره ښه تعلقات ولري. لومړی شی په لمانځه تر لاسه کېږي چې له الله سره د مينې لومړی څرګندوی دی او دويم په انفاق سره چې له مخلوق سره د مينې لومړی څرګندوی دی او بدله يې هم د الله مينه ده، ځکه انسان چې هر څه لګوي د حقيقت له مخې يې په اسمان کې غونډوي او د عيسی عليه السلام په وينا: په نتيجه کې يې د ده زړه هم همالته منښتی وي.[51] قرآن ځای پر ځای په خورا اغيزناکو اسلوبو د هغه ترغيب بيان کړی يو ځای يې ويلي:

وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلاَ أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ (المافقون ۶۳: ۱۰)

"او مورې چې تاسو ته کومه روزي درکړې لګوئ يې، وړاندې تر دې چې په تاسو کې د يو چا د مرګ وخت راشي او هغه وخت ووايي اې ربه! تا ما ته ولې يو څه وخت را نه کړ چې خيرات مې کړی وای (په نتيجه کې يې) ستا په نېکو بندګانو کې شامل شوی وای."

انفاق د خپلوانو، قريبانو، يتيمانو او مسکينانو حق دی چې ورکړه يې ضروري ده. د قرآن په دې اياتونو کې يې په اړه همدا تعبير غوره شوی دی. له دې څخه دا حقيقت په ډاګه کېږي چې نه ترسره کوونکی يې د الله په نزد د حقوقو غصبونکی مجرم کېدای شي. قرآن دا خبره يو بل ځای په واضح ډول کړې چې که څوک دې حقوقو ته له پام پرته مال او دولت را غونډوي نو دا د مال کنز دی او سزا يې د جهنم هغه اور دی چې هر مومن بنده بايد تر يې د خپل رب پناه وغواړي.

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ * يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَـذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ* (التوبة ۹: ۳۴، ۳۵)

"او کوم کسان چې سره او سپين زر را غونډوي او د الله په لار کې يې نه لګوي هغوی ته د دردوونکي عذاب زېری ورکړه، په هغه ورځ چې کله د دوی پر دې سرو او سپينو د جهنم اور بل شي، بيا د دوی تندي، اړخونه او ملاګانې پرې داغول کېږي. دا هغه څه چې تاسو د ځان لپاره ذخيره کړي وو نو اوس د هغه څه خوند وڅکئ چې غونډول مو."

[51] متی ۶: ۱۹ - ۲۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې حکم همدې نوعيت ته په پام ويل شوي چې که چا ته داحق متوجې وي او يو وخت يې حالت داسي وي چې د مجبوريت له مخې له حقدار مخ واړوي او په راتلونکي کې د حالاتو بڼه کېدو هيله لري نو د هغه زړه دې خپل کړي او په راتلونکي کې دې له بڼې وعدې سره رخصت کړای شي. وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاء رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلاً مَّيْسُورًا

دا انفاق که په بڼکاره وي او که په پټه بايد وشي، الهي وينا ده چې دې يې په هره دانه خبر دی. مطلب دا چې دې به يې له خپلې وعدې سره سم حتما بدله هم ورکوي.

وَمَا أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللّهَ يَعْلَمُهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ * إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ*

(البقرة ۲: ۲۷۰، ۲۷۱)

" او تاسو چې هر څه ولګوئ يا کوم نذر کښېږدئ (حتما به يې بدله وموندئ) ځکه الله پرې پوهېږي او (د الله له دې هدايت څخه په سرغړونه) پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي به (د الله په نزد) هيڅ مرستندوی ونه لري، که تاسو خپل خيرات په بڼکاره وکړئ نو دا څومره بڼه خبره ده او که يې پټ کړئ، غريبانو ته يې ورکړئ نو دا ستاسو په حق کې ډېره غوره ده (په دې سره) به الله ستاسو ګناهونه له منځه يوسي او (په دې کې خو هيڅ شک نه شته چې) تاسو څه کوئ الله بڼه پرې خبر دی."

الله ويلي چې دی چې هغه انفاق ته برکت ورکوي او په خپل فضل وکرم يې له دانې څخه غر جوړوي.

مَّثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّئَةُ حَبَّةٍ وَاللّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاء وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (البقرة ۲: ۲۶۱)

" د الله په لار کې د خرچ کوونکو د دې کار مثال د هغې دانې په څېر دی چې اووه وړې راوباسي، داسي چې په هر وړې کې يې سل دانې وي، الله يې (له خپل حکمت سره سم همداسي) د هغه چا لپاره ډېروي چې خو بڼه يې وي او (حقيقت دادی چې) الله د ډېرې پراختيا خاوند په هر څه خبر دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استاذ امام ليکي:

"دا د الله په لار کي د لګول شوي مال د اجر او ثواب زياتېدو د وديې مثال دی، ده ويلي: لکه څرنګه چې يوه دانه اووه وړي را وباسي او په هر وړي کي سل دانې وي همدارنګه به بنده ته د يوې نېکۍ بدله تر اوو سوو پوري ورکړل شي. د دې مضمون وضاحت په احاديثو کي هم شوی دی. رسول الله ﷺ ويلي: د نېکيو بدله به له لسو تر اوو سوو چندو وي. څرګنده داتوپير به د عمل د نوعيت، وخت او عمل کوونکي د ظاهري او باطني حالاتو پر بنسټ وي. که يوه نېکي په سختو حالاتو او تنګو وسايلو سره ترسره شوه نو اجر به يې زيات وي او که په اسانه حالاتو او پراخو وسايلو سره ترسره شوه نو اجر به يې لږ وي. دنېکي کوونکي احساسات هم اغېزلري، مثلا يوه نېکي په اخلاص او پوره ولوله سره ترسره شوې او بله په مات زړه او نيمه اراده سره. څرګنده ده چې د دواړو په اجر او ثواب کي به توپير وي. په ايت کي هغه اجر تشريح شوی چې تر ټولو لوړ دی او ويلي يې دي چې که الله د چا لپاره وغواړي زياتوي يې، دا هماغه قانون ته اشاره ده چې موږ بيان کړه، د الله هيڅ غوښتنه هم د عدل او حکمت خلاف نه وي، ځکه نو دا وده د هغه چا لپاره غواړي چې له دې ټاکلې قاعدې سره سم يې وړ وي." (تدبر قرآن ۱/ ۶۱۳)

د دې لا وضاحت يې په داسي ډول کړی چې که نفقه د الهي رضا د غوښتنې او خپل نفس د روزنې لپاره ترسره شي نو مثال يې د هغه چا په څېر دی چې پر هواره ځمکه د باغ ايښودلو پر ځای يې پر داسي لوړه، هواره او د ښې هوا او اوبو درلودونکې ځمکه وکړي چې که باران وي نو دوه چنده مېوه ورکوي او که نه وي نو د ځمکې او آب وهوا د ښه والي له کبله لږ شبنم هم ورته کافي وي:

وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاء مَرْضَاتِ اللّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (البقرة ۲: ۲۶۵)

"او د الله د رضا او (پر حق) د خپل ځان تېنګولو په غرض د مال لګوونکي مثال د هغه باغ په څېر دی چې پر لوړه او هواره ځمکه پروت وي، زورور باران پرې وشي، دوه چنده مېوه وکړي او که زورور باران نه وي نو شبنم هم کفايت کوي (دې مثال ته پام وکړئ) او (مطمئن اوسئ چې) تاسو څه کوئ الله يې وينې."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مګر دا بدله د هغې نفقې ده چې انسان يې له خپل غوره او پاک مال څخه وکړي، احسان اچوونکی او زړه زوروونکی هيڅ ډول چلند ورسره نه وي. انسان چې د خپل ځان لپاره څه شی نه شي خوښولای د الله لپاره يې وړاندې کول ډېره د ټيټ سويه توبه خبره ده. زمونږ هر څه الله راکړي، د هغه په لار کې په لګولو که د ټيټې سويې چلند غوره کړو نو په دې سره به د الله کومه رضا او د نفس روزنه ترلاسه شي؟. د استاذ امام په ټکو سرچپه اندښنه ده چې لرې والی او شړنه به نوره ډېره شي.

همدارنګه که څوک چا ته په ورکړه پر هغه احسان اچوي او زړه يې زوروي نو معنا يې داده چې ده ته خو الله مال ورکړی مګر په هغه اندازه حوصله يې نه ده ورکړې، له همدې کبله د نېکۍ او خير د توفيق ترموندلو وروسته دا ډول چلند ډېر سپک او بې ظرفه خلګ غوره کولای شي. دوی غالبا فکر کوي چې که يې پر چا لګښت کړی نو بايد ټول ژوند د هغه تر احسان لاندې وي، کله چې يې دا غوښتنه پوره نه شي نو په ملامتيا يې هر ځای د سپکولو هڅه کوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَلاَ تَيَمَّمُواْ الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلاَّ أَن تُغْمِضُواْ فِيهِ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ

(البقرة ۲: ۲۶۷)

"اې مومنانو! له خپله پاکه ماله لګښت وکړئ او له هغو هم چې مونږ ستاسو لپاره له ځمکې را ايستلي او (د الله په لار کې) د يو ناوړه شي د لګولو فکر هم مه کوئ، تاسو دا ډول شيان لګوئ خو په خپله که سترګې پټې نه کړئ نو اخيستلو ته به يې نه تيار ېږئ او پوه شئ چې (ستاسو له دې خيراته) الله بې پروا، ستايلی دی."

همدارنګه يې ويلي:

الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ ثُمَّ لاَ يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُواْ مَنًّا وَلاَ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ * قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى وَاللّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ

"کوم کسان چې د الله په لار کې لګښت کوي، بيا په کړي لګښت نه احسان پسې کوي نه د زړه ازارول، د دوی لپاره يې د رب په نزد اجر دی او دوی به (هلته) نه څه اندېښنه ولري او نه به غمجن وي. يوه ښه خبره او (که د ناچاری موکه وي) معذرت غوښتل تر هغه خيرات غوره ده

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تُبْطِلُواْ صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالأذَى كَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاء النَّاسِ وَلاَ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لاَّ يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُواْ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ* ... أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ لَهُ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاء فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمُ الآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ*

(البقرة ۲: ۲۶۲ - ۲۶۴، ۲۶۶)

چې زورونه ورسره وي (او تاسو ته بايد معلومه وي چې) الله (دا ډول خيرات ته) اړتيا نه لري. دی ډېر زغم درلود ونکی دی. اې مومنانو! د احسان په بارولو او (د نورو) د زړونو په ازارولو خپل خيرات د هغو خلکو په څېر مه ضايع کوئ چې خپل مال نورو ته د ور ښودو لپاره لګوي او نه پر الله ايمان لري او نه د قيامت ورځ مني، نو د دوی مثال د يوه کمره په څېر دی چې يو څه خاوره پرې باندې وي، وروسته زورور باران پرې وشي او بيخي خالي يې پرېږدي (د قيامت په ورځ) به د خپل کسب هيڅ تر لاسه نه کړي او (حقيقت دا دی چې) الله دا ډول ناشکرو ته لار نه ورښيي، ايا په تاسو کې به يو څوک دا خوښ کړي چې د خورما وو او انګورو يو باغ ولري، لاندې ترې ويالې بهېږي، هر ډول ميوې پکښې وي دی بوډا شي، اولادونه يې لا هم بې وسه وي او پر باغ سوځونکی توپان راشي او په سوځېدو يې ايرې کړي، الله همداسې تاسو ته خپل اياتونه بيانوي چې غور وکړئ."

استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کي ليکي:

"دا د هغه کس تمثيل دی چې د انګورو او خورما وو باغ يې کښود او تر باغ لاندې د سمسورتيا ساتلو لپاره يې ويالې بهېده، په باغ کي ډول-ډول مېوې او بېلابېل اجناس وو، خاوند يې بوډا توب ته ورسېد او ماشومان يې ټول واړه وو. په همدې وخت کي يوه ورځ يې پر باغ سوځونکی باد راغی او ټول باغ يې له منځه يووړ. الله ويلي: همدا به په اخرت کي د هغو خلکو حالت وي چې خپله نفقه له بربادونکو افتونو نه ساتي، د دوی د دردمند لپاره سوځونکې برېښنا يې په لستوڼو کي پټه وي او عيني پر هغه وخت به څرګنده شي چې د دوی لپاره به يې د بيا موندنې هيڅ امکان نه وي پاتي."

(تدبر قرآن ۱/ ۶۱۹)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د سورت بني اسرائيل په تر بحث لاندې ايا تونو کې قرآن له دې سره يو بل شی هم تشريح کړی چې د دې نفقې توفيق هغو کسانو ته ورکول کېږي چې په خپلو مصارفو کې اعتدال ته پام کوي او الله چې کومه روزي ورکوي هغه خپل تدبير او حکمت نه بلکې الهي لورينه ګڼي، ځکه يې نو دا دوې خبرې هم پرې زياتې کړې دي. يوه دا چې د مال بې ځايه لګښت جايز نه دی هغه د الله لورينه ده او په اړه يې سم چلند دادی چې انسان يې له اعتدال او سپما سره پر خپلو اړتياوو ولګوي او څه چې پاتې شي د حقدارانو امانت يې وبولي او په ډېر احتياط سره يې ادا کړي، ځکه کوم څوک چې د خپلو اړتياوو په چارو کې د اعتدال او توازن رويه نه خپلوي هغه له خپلو شوقونو په خلاصېدو د دې فرصت نه شي پيدا کولای چې د نورو حقوق ادا کړي. ده ويلي: څوک چې خپل مال دا ډول مصرفوي هغه د شيطان وروردی او شيطان د خپل رب شکر نه کاږي، په غولونه هغه د ځان ملګری کوي او مال يې پر هغو چارو مصرفوي چې د الهي رضا تر لاسه کولو پر ځای د هغه خپګان تر لاسه کوي. په دې چاره کې يې د منځني دريځ وضاحت داسي کړی چې انسان دي نه خپل لاس ببخي بندوي او نه دي داسي پرانيستی پرېږدي چې د اړتيا پر مهال عاجزه او ملامت پاتې شي، بلکې په اعتدال سره دي ولګوي او تل دي يو څه سپما کوي چې د ځان او نورو حقوق پر وخت ادا کړای شي.

دويمه دا چې د رزق پراختيا او تنګي د الهي حکمت او مشيت تابع ده، د انسان مسئوليت يوازي دادی چې په خپل ټول زيار وسايل پيدا کړي، څوک چې په دې حقيقت نه پوهېږي، هغوی پر نورو لګښت څه چې ډېر ځله يې زړه دومره سخت شي چې د تنګلاسی له وېرې ان خپل اولاد وژني. په دې کې په ځانګړي ډول د عربي جاهليت پر مهال د ژوندو نجونو ښخولو هغه ډېرزړې دود ته اشاره ده چې د دوی په اند يې لويه وجه په اقتصادي چارو کې د ښځې مثبت رول نه درلودل وو. له همدې وجې يې ولي بايد د پالنې بوج پورته کړای شي؟. الله ويلي چې هغوی مه وژنئ، موږ هغوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم، بې غمه اوسئ الله په هر حالت کې خپل بندګان ځاري او د هغوی ساتونکی دی. له دوی څخه غافل نه دی.

همدا حقيقت يو بل ځای داسي بيان شوی دی:

الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاء وَاللّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلاً وَاللّهُ وَاسِعٌ

"شيطان مو له تنګلاسی وېرويا او (د لګښت لپاره) د بدی لارې درته ښايسته کوي او الله له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَلِيمٌ * يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاء وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ*

(البقرة ۲: ۲۶۸، ۲۶۹)

خپله لوري د مغفرت او پرزويني وعده درکوي، الله د ډېري پراختيا او لوی علم خاوند دی. دی (له خپل قانون سره سم) هغه چا ته (د دې وعدې) پوهه ورکوي چې خوښه يې شي او چا ته چې دا پوهه ورکول شوه، هغه ته په حقيقت کې د لوی خير خزانه ورکړل شوه، مګر (له دا ډول خبرو څخه) يوازې د عقل خاوندان پند اخلي."

عفت او عصمت

څلورم حکم دادی چې هيڅوک دې زنا ته نه نژدې کېږي، وجه يې دا بيان کړې چې دا څرګنده بې شرمي او ډېره بده طريقه ده. مطلب دا چې بدي او بې حيايي يې هيڅ دليل ته اړتيا نه لري، د انسان فطرت يې تل يوه لويه ګناه او درونده جرم ګڼي او څوک چې مسخ شوی نه وي همداسي به يې بد بولي. د انسان په اړه دا حقيقت بالکل درد ورنه دی چې کورنۍ اداره د ده لپاره د هوا او اوبو په څېر يو سخت ضرورت دی، دا اداره به له سمو فطري احساساتو سره هغه وخت موجوده وي او پاتېدای شي چې د مېړه او مايندې تر منځ خپل منځي اړيکې د ابدي ملګرتيا وي. که دا شی له منځه ولاړ نو په دې سره له فطري او روحاني احساساتو د بې برخې حيواناتو يوه رمه را منځ ته کېدای شي خو هيڅ ډول نېکه ټولنه او سپېڅلی تمدن نه شي را منځ ته کېدای. د تفهيم القرآن ليکوال سيد ابو الاعلی مودودي ليکي:

"له اخلاقي پلوه د دې کار بد والی مذهبي ګناه، له ټولنيزه پلوه يې ناولتيا او بدګڼل يو داسي شی دی چې له لرغونې زمانې تر ننه ټولې انساني ټولنې پرې يوه خوله دي او په دې کې له هغو څو تيت -پرک کسانو پرته چې خپل عقل يې د نفس پالنې تابع ګرزولی او يا يې د لېونتوب مکر فلسفه ګڼلې تر ننه هيڅا اختلاف نه دی کړی، د نړۍ وال نظر د دې اتفاق وجه داده چې انساني فطرت په خپله د زنا د حرمت غوښتونکی دی. د بشري نوعې بقا او انساني تمدن دوام دواړه په دې پورې تړلي چې ښځه او نارينه صرف د خوند او مزو لپاره د يو ځای کېدو او بيا بېلېدو ازادي ونه لري، بلکې د هرې جوړې خپل منځي تعلق پر داسي دايمي او همېشني ټرون ولاړ وي چې په ټولنه کې هم معلوم وي او هم ټولنيز ضمانت ولري. له دې پرته انساني نسل د يوې ورځې لپاره هم دوام نه شي کولای ځکه د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

انسان اولاد د خپل ژوند او خپلې بشري ودې لپاره څو کاله د خواخوږۍ، ساتنې او روزنې ته اړتيا لري او يوازې ښځه تر هغو د دې بار او چتولو لپاره چمتو کېدای نه شي چې د معجوم په را منځ ته کولو کې سبب جوړېدونکی نارينه يې ملګرتيا ونه کړي. همدارنګه له دې ټرون پرته انساني تمدن پر ځای نه شي پاتېدای، ځکه تمدن د يوې ښځې او نارينه د يو ځايي اوسېدو، د يوه کور او کورنۍ له را منځ ته کولو او بيا د کورنيو تر منځ د اړيکو او روابطو له را منځ ته کېدو پيدا شوی. که نارينه او ښځه د کورنۍ او کور له جوړولو پرته صرف د خوند او مزو لپاره په ازاده توګه سره يو ځای شي نو ټول انسانان به تيت - پرک پاتې شي د اجتماعي ژوند جرړې به غوڅې شي او هغه بنياد به پاتې نه شي چې د تهذيب او تمدن دا ودانۍ پرې ودانه ده. د همدې عواملو له امله د نارينه او ښځې داسې ازاد روابط چې پر معلوم، منل شوي او مشهور ټرون بنا نه وي د انساني فطرت خلاف دي. له همدې وجې انسانانو په هره زمانه کې يو لوی عيب، لويه بد اخلاقي او په ديني اصطلاح يوه شديده ګناه ګڼلې ده." (تفهيم القرآن ۳ / ۳۱۹)

د دې کار همدا ناولتيا ده چې پر بنسټ يې الله يوازې د زنا د منعې نه دي ويلي بلکې زياته کړې يې ده چې زنا ته ورنژدې کېږئ هم مه، مطلب يې دادی چې د زنا له ټولو محرکاتو، هڅوونکو چارو او ورنژدې کوونکو کارونو لرې شئ، په سورت النور کې چې د نارينه او ښځې د يو ځای کېدو کوم اداب بيان شوي له همدا ډول شيانو څخه د انسان د ساتنې په موخه را منځ ته شوي. لنډيز يې دادی چې نارينه او ښځه دواړه دي د خپلو فزيکي او رواني غوښتنو له مخې تر اخيري اندازې خپل نظرونه وساتي او په خپل بدن کې دي د اندښنې ځايونه تر ډېره پټ کړي. داسې څه دي نه وايي چې د يوه بل صنفي احساسات پاروي، ځکه شيطان چې په کومه ټولنه کې د زنا عمومیت غواړي نو بالعموم خپل برید له همدې ځايه پيلوي. له قرآنه معلومېږي چې پر ادم او حوا يې هم له دې لارې برید کړی وو، ويلي يې دي:

يَا بَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَاتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لاَ تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاء لِلَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ (الأعراف ۷: ۲۷)

" د ادم زامنو! هسې نه چې بيا مو شيطان په هغه ډول فتنه اخته کړي لکه ستاسو د مور و پلار لباس چې يې ترې وايست د هغوی فرجونه يې د دوی په مخ کې خلاص کړل، له هغه باغه يې وايستل (چې دوی پکې اوسېدل) او د دوی ملګري مو له هغه ځايه وينې له کومه ځايه چې يې تاسو نه شئ ليدای، داسې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شيطانان مو د هغو خلګو ملګري کړي چې ايمان نه راوړي."

داسي څرنګه کېږي؟ استاذ امام ليکي:

" ... هغه لومړی د خپلو وسوسو په وسيله له خلګو د تقوا او وېرې هغه لباس اخلي چې د انسانانو لپاره د ظاهري لباس تر څنګ د باطني شرافت په توګه نازل شوی، کله چې هغه باطني لباس ختم شي نو هغه حيا له منځه ځي چې د ظاهري لباس اصلي عامل ده. بيا نو ظاهري جامه يو ډول بوج ښکاري او په صنفي اعضاوو کې بې حيايي چې پټول يې د فطرت تقاضا ده د لوڅېدو لپاره ناکراري پيدا کوي. د دې لپاره پر فېشن تکيه کېږي او د جامو په غوڅولو کې په نويو اختراعاتو داسي ډولونه پيدا کوي چې د ادم اولادونه او د حوا لونې د جامو له اغوستلو سره هم ګواکي د لباس د بنيادي هدف يعني ستر پټولو له مخې لوڅ دي. په لباس کې يوازي د ښکلا او سينګار اړخ پاتېږي او په دې کې هم اصل مطلب دا وي چې بې شرمي په لاړه ورونکي انداز څرګنده شي، وروسته عقل ورو -ورو داسي ورسره اشنا کېږي چې عرياني د تهذيب نوم خپلوي او ستر پټوونکی لباس د وحشت او زوړ پالنې نوم وي. په همدې سره په ليک -لوست پوه شيطانان را پورته کېږي او د تاريخ په رڼا کې دا فلسفه را منځ ته کوي چې د انسان اصل فطرت عرياني ده، جامه خو يې د دودونو او رواج د محدوديتونو له مخې خپله کړې، دا هماغه مرحله ده چې د سترګو اوبه وچېږي او ټول تمدن د شهوانيت په زهرو لړل کېږي."

(تدبر قرآن ۳ / ۲۴۶)

الله د زنا مشهورووونکي او د هغو لپاره د ترغيباتو د پيدا کولو هڅه کوونکي پر همدې بنا مجرم ګڼلي دي، د قرآن وينا ده چې کله په مدينه کې منافقينو او شريرو کسانو دا ډول هڅې پيل کړې نو وويل شول:

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ (النور ۲۴: ۱۹)

" بې شکه کوم کسان چې غواړي په مسلمانانو کې بد کاري خپره کړي د هغوی لپاره په دنيا او اخرت دواړو کې دردوونکی عذاب دی (دوی د همدې وړ دي) او الله يې پېژني مګر تاسو پرې نه پوهېږئ."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ د همدې لپاره د وتلو پر مهال ښځې د تېزو عطرو له لګولو، له نارینه سره له یوازې کښېنستلو او یوازې سفر کولو منعه کړې دي.[۵۲] کله چې خلګو د لېږد په اړه تر پوښتنه وکړه نو ویې ویل: له هغه سره یوازې ناسته مرګ ته دعوت ورکول دي.[۵۳] په اوږده سفر کې د نژدې خپلوانو د ملګرتیا هدایت هم له دغې وجې شوی دی.[۵۴] تر لومړي وروسته سمدستي د نظر بدلولو د لارښوونې هدف همدغه دی.[۵۵] د سازاو موسیقۍ د ځینو صورتونو په اړه ځکه خبرداری ورکړل شوی چې د دې شیانو سبب کېدای شي.[۵۶]

رسول الله ﷺ ویلي: انسانان د زنا یوه نه یوه برخه حتما ترلاسه کوي، دیدن د سترګو زنا ده، د شهوت خبرې د ژبې زنا ده، له دا ډول خبرو خوند اخیستل د غوږو زنا ده، لاس ورورل او د دې کار لپاره تګ دلاسو او پښو زنا ده، زړه او دماغ یې غوښتنه کوي او فرج یې کله تصدیق کوي او کله تکذیب.[۵۷]

دا د اسبابو د مخنیوي لارښوونې دي او د دې لپاره شوې چې له کومه ځایه د زنا سفر پیلېږي همالته یې مخه ونیول شي.

د انساني نفس درناوی

پنځم حکم دادی چې هیڅوک دي بل نه وژني، د دین او اخلاقو له مخې چې انساني نفس تل کوم درناوی درلودلی دا د هماغه بیان دی. قرآن ویلي: په دې اړه همدا تاکید وړاندې بني اسرائیلو ته شوی وو او الله دا خبره پرې لیکلې وه چې د یوه انسان وژنه په حقیقت کې د ټول انسانیت وژنه ده. په تلمود کې دا امر په لږ څه زیادت و کمبوت په همدې الفاظو نن هم موجود دی[۵۸]. قرآن په مایده سوره کې همدې ته حواله ورکړې:

مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَن "له همدې کبله مو پر بني اسرائیلو دا لیکلې وه

---

[۵۲] بخاري، شمېره: ۱۰۸۸، ۳۰۰۶، مسلم، شمېره: ۹۹۷، ۳۲۷۲، ابوداود، شمېره: ۴۱۷۳

[۵۳] بخاري، شمېره: ۵۲۳۲، مسلم، شمېره: ۵۶۷۴

[۵۴] بخاري، شمېره: ۱۰۸۶، مسلم، شمېره: ۳۲۷۰

[۵۵] مسلم، شمېره: ۵۶۴۴، ابوداود، شمېره: ۲۱۴۹

[۵۶] بخاري، شمېره: ۵۵۹۰

[۵۷] بخاري، شمېره: ۶۲۴۳، مسلم، شمېره: ۶۷۵۴

[۵۸] شرح تلمود بابلي ۲۳/ ۱۸۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا (المائدة ۵: ۳۲)

چې که چا د انساني وينې په بدل او يا ځمکه کې له فساد خپرولو پرته په بله وجه قتل وکړ نو ګواکي ټول انسانان يې ووژل او چا چې يو انسان وژغوره ګواکي ټول انسانان يې وژغورل."

له دې حکم څخه ښکاري چې انسان په دوو صورتونو کې وژل کېدای شي: يو دا چې بل يې وژلی وي او دويم دا چې له ټولنيز نظم څخه په بغاوت کولو د نورو ځان، مال او عزت ته ګواښ وي. دلته په ځمکه کې فساد خپرول له همدې مفهوم څخه د تعبير لپاره غوره شوی، له دې پرته هره وژنه ناروا وژنه ده چې د قرآن له مخې يې سزا ابدي جهنم دی.[۵۹] په مسلمانانو کې چې کوم کسان د خپلو وروڼو پر خلاف دا ډول جرم کوي قرآن داسې خبرداری ورکړی دی:

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (النساء ۴: ۹۳)

"او څوک چې يو مسلمان په قصد ووژني سزا يې جهنم ده تل به پکښې وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او د ده لپاره يې سخت عذاب تيار کړی دی."

قرآن دا خبره هم څرګنده کړې چې د دې جرم د کوونکو معامله صرف له الله سره نه بلکې د وژل شوي له خپلوانو سره هم ده او الله هغوی ته پوره اختيار ورکړی دی. له همدې کبله د نړۍ هيڅ محکمه د دوی له خوښې پرته وژونکي ته هيڅ رعايت نه شي ورکولای، د هغوی مسئوليت دادی چې که يې خپلوان پر قصاص ټينګار کوي نو هغوی دي ورسره مرسته وکړي او هغوی چې څه غواړي په پوره طاقت سره دي په سم ډول نافذ کړي.

مګر د دې معنا دا نه ده چې که په کوم ځای کې د مسلمانانو رسمي حکومت نه وي او د قصاص معامله د وژل شوي له خپلوانو سره تړاو لري نو له خپله حده پښه واړوي او د انتقام په جذبه کې دي له وژونکي پرته د نورو د وژلو هڅه هم وکړي، يا د خپل شرافت، لوړ مقام او مرتبې په ګومان د خپل مړيې په بدل کې ازاد سړی او د ښځې په بدل کې د نارينه د وژلو غوښتنه وکړي، يا مجرم تر عذاب وروسته ووژني، تر وژلو وروسته يې په

[۵۹] الفرقان ۲۵: ۶۸، ۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مړي غوسه سړه کړي او يا د قتل داسي لارې خپلې کړي چې الله ترې منعه کړې. د (فلا يسرف فی القتل) الفاظ د همدې لپاره راغلي.

له دې څخه معلومېږي چې وژل شوی به هم د قيامت په ورځ دا اختيار ولري او د هغه له خوښې پرته به هلته هيڅ رعايت ورنه کړای شي.

د يتيم په مال کې خيانت

شپږم حکم دادی چې د يتيم په مال کې دې هيڅ ناروا لاس وهنه نه کېږي، د دې حکم الفاظ هماغه دي چې پورته د زنا د منعې په اړه راغلي يعني د يتيم د خير او خواخوږۍ له ارادې پرته يې مال ته ورنژدې کېږئ هم مه، مطلب يې دادی چې د يتيم په مال کې يوازې هغه تصرف روا دی چې د هغه د ساتنې او ودې په نيت وي، تر هغه وخته دې پکې تصرف وشي چې يتيم د رشد عمر ته په رسېدو د خپل مال د سمبالولو وړتيا نه وي موندلې. الله په سورت النساء کې د دې لپاره ځينې مشخصې لارښوونې کړې دي مګر څرنګه چې د شريعت له بحثونو سره تړاو لري له همدې کبله به يې موږ د همدې کتاب د ټولنيز قانون تر عنوان لاندې بيان کړو، البته دلته دي دومره څرګنده وي چې په تر بحث لاندې ايت کې له کوم څه څخه منعه شوې هغه د قرآن له مخې يو درونډ جرم دی، بايد يوه عادي خبره ونه ګڼل شي لکه چې ويل شوي:

إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا (النساء ۴: ۱۰)

"په دې کې شک نه شته چې کوم کسان په ناحقه د يتيمانو مالونه خوري، خپل نس له اوره ډکوي او ژر به د دوزخ لمبه وهونکي اور ته داخل شي."

په وعده وفا

اووم حکم دادی چې هره شوې وعده بايد پوره شي، ويل شوي چې په دې اړه پوښتنه کېږي. په سورت البقرة کې همدا خبره په پوره اهميت او د اختصاص، تاکيد او خبرداري په اسلوب داسي بيان شوې: وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُواْ [۶۰] (او کله چې وعده وکړي نو

[۶۰] البقرة ۲ : ۱۷۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پوره کوونکي يې وي) څرګنده ده چې په دې وعده کې هر ډول ژمنه شامله ده. استاذ امام ليکي:

" ... د وعدې په پوره کولو کې د ټولو لويو - وړو حقوقو ترسره کول راځي، له مخلوق سره تړاو ولري او که له خالق سره، له ليکل شوې معاهدې را منځ ته کېږي او که د يوه نسبت، تړاو، خپلوي او قرابت له وجې، اعلان او اظهار يې کېږي او که په يوه غوره ټولنه کې له وينا پرته منل شوي وي، له الله، رسول، مور و پلار، ښځې و اولادونو، خپلوانو او قريبانو، کور او قوم، ګاونډي و سيمه والو، استاذ و شاګرد، نوکر او باداراو هيواد و ملت هر يوه سره مور په يوه نه يوه ډول ښکاره يا پټه معاهده لرو او دا د نېکي او تقوا لازمي غوښتنه ده چې د دې ټولو معاهدو حقوق ادا کړو. ګواکي د وعدې پوره کولو اصل روح د حقوقو ورکړه ده او د حقوقو ورکړه د انسان ټولو لويو او وړو مسئوليتونو ته غزېږي." (تدبر قرآن ۱/ ۴۲۹)

د قرآن په ځينو نورو ځايونو کې هم دا حکم په همدې ډول تاکيد سره راغلی دی،[۶۱] د جهاد او قتال پر مهال چې تر ټولو کوم مهم حکم بيان شوی هغه په وعده وفا ده، سورت التوبه د حق پر منکرينو د عذاب سورت دی او په دې کې رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو ته د عربو له ټولو مشرکينو سره د معاهدو په ختمولو د روستي اقدام امر شوی، مګر دومره خبره يې په هغه کې هم څرګنده کړې چې که د وخت په محدوديت سره کومه معاهده شوې وي نو بايد حتما پوره شي.[۶۲] همدا رنګه په انفال کې په ښکاره ويل شوي چې که يو معاهد قوم پر مسلمانانو ظلم هم کوي نو د ترون په ماتولو له هغوی سره مرسته نه شي کېدای، ويلي يې دي:

وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلاَيَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُواْ وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلاَّ عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

(الأنفال ۸ : ۷۲)

" پاتي شول هغه خلک چې ايمان يې راوړی خو هجرت يې نه دی کړی نو له دوی سره تر هغو ستاسو د دوستۍ هيڅ اړيکه نه شته چې د هجرت په کولو راغلي نه وي او که د دين په معامله کې له تاسو مرسته وغواړي نو د هغوی مرسته پر تاسو لازمي ده مګر د داسي قوم پر خلاف نه چې تاسو ورسره ترون ولرئ او

[۶۱] المعارج ۷۰: ۳۲، المومنون ۲۳: ۸

[۶۲] التوبة ۹: ۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(حقيقت دادی چي) تاسو څه کوئ الله يې وينې."

په ناپ او تول کي ديانت

اتم حکم دادی چي په ناپ او تول کي دي کمبوت او زيادت نه کړي، الله ويلي: ځمکه او اسمان يې د يو ميزان تابع کړي دي، له همدې کبله ضروري ده چي انسان هم د خپل اختيار په دايره کي پر عدالت ودرېږي، تل په سمه پيمانه ناپ وکړي او په سم ترازو يې وتلي. په سورت الرحمان کي دي:

وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ * أَلاَّ تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ * وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ* (الرحمن ۵۵: ۷-۹)

"او ده اسمان لوړ کړ، په هغه کي يې يو ميزان را منځ ته کړ چي تاسو هم (د خپل واک په دايره کي همداسي) ميزان ګډ -وډ نه کړئ او په انصاف سره سم تول وکړئ او په وزن کي کمي مه کوئ."

له دې معلومېږي چي دا يو لوی امر دی او د خپل حقيقت له مخې د انصاف د هغه ترازو فرع ده چي دا دنيا پرې ولاړه ده، له همدې کبله که څوک کله سرغړونه کوي نو معنا يې داده چي د عدل او انصاف په تصور کي ګډ -وډ ي راغلې او پر عدالت د الله د ټينګېدو عقيده نه ده پاتي. څرګنده ده چي تر دې وروسته د اقتصاد او ټولنې ټول نظم ګډ -وډ ېږي او د تمدن هيڅ خښته پر خپل ځای دوام نه کوي. د شعيب عليه السلام قوم په همدې ناروغۍ اخته وو، په قرآن کي څو ځايه د هغه نصيحت نقل شوی دی، په سورت الشعراء کي دي:

أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلاَ تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ * وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ * وَلاَ تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْا فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ* (الشعراء ۲۶: ۱۸۱- ۱۸۳)

"پوره ناپ کوئ د چا شی مه کموئ او په سم ترازو تول کوئ د خلګو شيان کم مه ورکوئ او په ځمکه کي فساد مه خپروئ."

د ښو او کمزورو شيانو د ګډ -وډ ولو معامله هم داسي ده، که څوک شيدو ته او به ور اچوي، په بوره شکې ګډوي او په غنمو اوربشې وروسته يې پلوري نو په همدې جرم اخته دی ځکه چي د سم تول په کولو هم را نيوونکي ته پوره شی نه ورکوي، دا په حقيقت کي د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بل حق خوړل دي چې په دنيا او اخرت دواړو کې به يې نتيجه ډېره بده وي ځکه نو ويل شوي چې که يې په پېمانه ورکوئ نو پوره يې ډکوئ او که يې تلئ نو سم تول ورکوئ ځکه دا ښه کار دی او انجام يې هم غوره دی.

د خرافاتو پيروي

نهم حکم دادی چې که د څه په اړه معلومات موجود نه وي نو هيڅ سړی دي نه ورپسې کېږي، قرآن خبرداری ورکړی چې دا بايد عادي خبره ونه ګڼل شي ځکه د انسان غوږونه، سترګې، زړه او دماغ او هر څه به يوه ورځ د الله په حضور کې ځواب ورکوي. د دې معنا داده چې مسلمان ته نه بد ګومانې روا ده، نه پريو چا تور لګول او نه دا چې له تحقيق پرته د چا پر خلاف ګام واخلي يا صرف د شک پر بنسټ او ازې خپرې کړي او يا د خپل رب د ذات وصفاتو، احکامو او هداياتو په اړه د شکونو او خرافاتو او بې ګټې اټکلونو يا قياسونو پر بنسټ کوم دريځ خپل کړي. په سورت الحجرات کې همدا ډول ځينې شيان په صراحت سره بيان شوي، ويلي يې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (الحجرات ۴۹: ۶)

"اې مومنانو! که کوم فاسق درته خبر راوړي نو تحقيق يې وکړئ هسې نه په ناپوهي پر خپل قوم ورشئ او بيا پر خپلو کړنو پښېمانه شئ."

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلاَ تَجَسَّسُوا

(الحجرات ۴۹: ۱۲)

"اې مومنانو! له ډېرو ګومانونو ځان وساتئ ځکه ځينې ګومانونه ځرګنده ګناه وي او د چا جاسوسي مه کوئ."

له تحقيق پرته اقدام

په دې ايا تونو کې لومړی خبره دا شوې چې که يو فاسق د کومې مهمې خبرې اطلاع درکړي نو د اصلي پېښې له پلټنې پرته دي هيڅ ګام نه اخيستل کېږي، هسې نه چې د احساساتو په جوش کې کوم ګام واخيستل شي او وروسته پښېمانه شئ. له دې معلومېږي چې که خبرور کوونکی يو مجهول شخص وي، نه يې فسق معلوم وي او نه کره توب نو هم يې بايد پلټنه وشي. زمونږ محدثينو د همدې اصولو له مخې د رسول الله ﷺ د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

علم او عمل نقلوونکو د حالت په اړه پلټنه کړې او که يې د کوم راوي په تحقيق کي بريا نه ده موندلې نو هغه يې مجهول بللی او روايت يې رد کړی دی.

له ډېرو ګومانونو ځان ساتنه

دويمه خبره يې دا کړې چې ډېر ګومانونه مه کوئ، ځکه ځيني ګومانونه ځرګنده ګناه وي. استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کي ليکلي:

" ... انسان چې په ژوند کي له کومو کسانو سره مخ کېږي د هغوی په اړه د ښه او يا بد ګومان پيدا کېدل يوه فطري چاره ده، همدا ګومان انسان له بل سره منښلوي او يا يې تر يې بېلوي. په ټولنه کي د وصل او فصل بنسټ همدا دی، د همدې ارزښت له کبله يې بايد انسان د رد او قبول په معامله کي بې پروا او لټ نه وي بلکي له هوښيارتيا او پوهي کار واخلي. اسلام په دې اړه مسلمانانو ته لارښوونه کړې چې يو مسلمان دي تل د بل مسلمان په اړه نېک ګومان وساتي مګر که دا ثابته شي چې هغه يې د دې نېک ګومان وړ نه دی. دا نېک ګومانې د هغې ايماني وروروليې لازمي غوښتنه ده چې اسلام پرې د ټولنې بنسټ اينبی او پورته يې وضاحت کړی دی. که يو څوک د دې برعکس داسي اصول را منځ ته کړي چې په زړه کي يې کوم ښه او بد ګومان پيدا کېږي هغه ټول ومني نو د ګومانونو د دا ډول شوقي مثال د هغه ښکاري په څېر دی چې د ماهيانو نيولو په مينه کي داسي ړوند شي چې د ماهيانو په نيولو -نيولو ماران هم ونيسي. څرګنده ده که څوک د ماهيانو په نيولو کي دا ډول ړوند شي وېره شته چې په دې شوق کي به يوه ورځ خپل ژوند له لاسه ورکړي. قرآن دلته مسلمانان له همداسي خطرې را ګرزولي چې په ګومانو پسې ډېر مه ځئ ځکه ځيني ګومانونه ښکاره ګناه وي او انسان د هلاکت کندې ته غورزوي. له دې څخه معلومه شوه چې يو مومن بايد د بد ګومانيو ناروغنه وي بلکي پر خپلو نورو وروڼو نېک ګومان ولري. که څوک داسي خبره وکړي چې بد ګومانې پيدا کوي نو د امکان تر حده يې سمه توجيه وکړي او د ناسم اړخ خپلول يې هغه وخت روا دي چې ښه توجيه يې نه شي کېدای. که انسان د بد ګومانۍ لايق سړي په اړه ښه ګومان ولري نو دا د هغې خبرې په مقابل کي ډېره اسانه ده چې د ښه ګومان حق درلودونکي په اړه بد ګومانې وکړي."

(تدبر قرآن ۷ / ۵۰۹)

جاسوسي کول

درېيمه خبره يې دا کړې چې خلګ دي د يوه بل جاسوسي نه کوي، استاذ امام ليکي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" ... دلته هغه جاسوسي منعه شوې چې د کوم بد هدف لپاره وي يعني د دې خبرې په لټه وي چې د بل له شخصي ژوند سره تړلې کومه خبره تر لاسه کړي، د هغه په خامیو خبر شي او کورنیو رازونو ته يې لاسرسی پیدا کړي. دا شیان ځیني وختونه د حسد له مخې را پیدا کېږي، غواړي د خپل سیال د ژوند داسي اړخ را وپلټي چې ینه يې پرې سړه شي. ځیني وختونه د دښمنۍ او عناد شدت د دې سبب کېږي چې یوه داسي خبره تر لاسه کړي چې څو يې د اړتیا پر مهال خپره کړي او خپل مخالف پرې رسوا کړای شي. دا مهال يې د یوه کسب بڼه خپله کړې چې نوې اخبار لیکنې ډېره وده ورکړې، ځیني ورځپاڼه لیکونکي شپه او ورځ د یوه نه یوه عیب په پلټنه بوخت وي او په دوی کي هغه ورځپاڼه لیکونکی ډېر چالاک ګڼل کېږي چې د یوه مشهور کس له شخصي ژوند سره تړلي داسي عیب پر موندنه بریالی شي چې په وسیله يې هغه ورځپاڼه یا مقاله ډېر اخیستونکي پیدا کړي. څرګنده ده چې دا ډول جاسوسي له هغې ورورولۍ او خواخوږۍ سره منافي ده چې د اسلامي ټولنې اساس دی ځکه نو مسلمانان تړې منعه شوي دي. پاتې شوه هغه جاسوسي چې یو مسلمان يې په دې هدف د بل مسلمان ورور د حالاتو په اړه کوي چې د هغه په ستونزو او اړتیاوو کي ورسره کومک وکړي او یا يې اسلامي حکومت د دې لپاره کوي چې د ولس په حالاتو پوره خبرتیا ولري نو پر دا ډول جاسوسي نه دلته بحث روان دی او نه منعه شوې بلکي دا د هر نېک ګاونډي لپاره یو غوره کار دی چې د خپلو ګاونډیانو په حالاتو او ستونزو خبر شي څو يې په ستونزو کي ورسره کومک وکړای شي او د حکومت لپاره دا کار صرف نېکي نه بلکي مسئولیت دی چې د ولس په ښو او بدو ټولو حالاتو پوره خبر وي، څو خپل مسئولیتونه په ښه ډول ترسره کړای شي." (تدبر قرآن ۷ / ۵۱۰)

غرور او تکبر

لسم حکم دادی چې هیڅوک دې د الله پر ځمکه په غرور سره نه ځي ځکه دا د سرکښو او متکبرینو کار دی، له همدې وجې يې ویلي چې که تاسو هر څومره ځمکه په لغتو ووهئ خو ځیرلای يې نه شئ او که څومره لوړ او هسک سر روان شئ مګر د غرونو لوړتیا ته نه شئ رسېدای. استاذ امام لیکي:

"... مطلب دا چې د کوم الله دا ستره کارنامه وینئ چې ستاسو تر پښو لاندې يې پراخه او پلنه ځمکه غوړولې پر هغې سربېره تاسو د یوه غوماشي او مېږي حیثیت هم نه لرئ، ستاسو په وړاندې يې دا اسمان څک غرونه درولي چې تاسو يې په مخ کي د کربو ړي ارزښت نه لرئ نو پر دې ځمکه له غرور او تکبره ډک تګ څه مانا؟. خپل مقام وپېژنئ، د الهي عظمت او جلال په وړاندې تل سرټیټي اوسئ." (تدبر قرآن ۴ / ۵۰۲)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څرګنده ده چې دا ډول حرکت د انسان د باطن څرګندوی دی، شتمني، ځواک، ښکلا، علم، طاقت او دا ډول نور څومره شیان چې په انسان کې غرور پیدا کوي په هغو کې د هر یوه غرور د ده د ځانګړي حرکت په بڼه څرګندیږي او د دې دلیل ګرزي چې زړه یې د بندګۍ له شعوره خالي دی او د الله د عظمت هیڅ تصور ورسره نه شته. په کوم زړه کې چې د بندګۍ احساس او د الهي عظمت تصور وي نو دا د هغو کسانو په سینه کې پیدا کیږي چې پرې د تواضع او خاکساری حالت غوړېدلی وي، هغوی د غرور او تکبر پر ځای سر ټیټي روان وي له همدې کبله دا یو ناولی عادت دی او سزا یې هم ډېره سخته ده. رسول الله ﷺ ویلي: د چا په زړه کې چې د شا ړشم د دانې په اندازه غرور هم وي هغه جنت ته نه شي داخلېدای.[٦٣]

دارنګه یې ویلي: عزت د رب لنګ او لویي یې ځادر دی، څوک چې په دې کې ورسره مقابله وکړي عذاب به یې ورکړل شي.[٦٤]

دلته باید دا خبره هم څرګنده شي چې د انسان غرور او تکبر صرف د هغه په حرکاتو کې نه څرګندیږي، د هغه په خبرو، ډول، جامو، ناسته او ولاړه او هر څه کې څرګندیږي لکه چې ویلي یې دي:

وَلاَ تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلاَ تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ * وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ إِنَّ أَنكَرَ الأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ*

(لقمان ٣١: ١٨، ١٩)

"او خلګو ته بې توجهي مه کوه، په ځمکه کې په غرور مه ځه ځکه الله تکبر کوونکي او غرور کوونکي نه خوښوي، په خپل تګ کې اعتدال غوره کړه او اواز ټیټ وساته بې شکه تر ټولو بد اواز د خره دی."

رسول الله ﷺ پر همدې بنسټ د داسې ټولو شیانو استعمال منعه کړی چې امیرتوب ترې ښکاري، لویي څرګندوي، غرور ښیي، پر نورو د ځان لوړ ګڼل وي، پر هغوی عیب لګوي او یا د بد معاشانو له ډول او طریقې سره تړاو لري. ده له همدې کبله د وریښمو کارونه د ګران بیه پوستونو له پوښ جوړولو او د سرو و سپینو زرو په لوښو کې له خوراک

[٦٣] مسلم، شمېره: ٢٦٥، ٢٦٦

[٦٤] بخاري، شمېره: ٦٦٨٠

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او څښاک څخه منعه کړې ده.[٦٥] ان د وړې ږيرې او لويو -لويو بريتونو درلودونکو ته يې هم د دې مغرورانه طرز پرېښود و نصيحت کړی او ويلي يې دي چې ږيرې لويي کړئ خو بريتونه په هر حال کي کوچني وساتئ.[٦٦] رسول الله ﷺ ويلي: چا چې د خپلې لويي څرګندولو لپاره جامه واغوسته الله به د قيامت په ورځ د ذلت جامه ور واغوندي او بيا به او ر پرې بل کړي.[٦٧] همدارنګه يې ويلي: الله به د قيامت په ورځ هغه چا ته کتل هم خوښ نه کړي چې له تکبره خپل لنګ ورسره څکېږي.[٦٨]

صرف همدومره نه ده بلکي د انسان دا رواني کيفيت د ځينو لويو ګناهونو سبب هم ګرزي، دا يو حقيقت دی چې په حق له پوهېدو سره هغه دروغ بلل، د رنګ، نسل او نسب له مخې خپل ځان لوړ بلل، نورو ته د سپک کتو له وجې په هغوی ملنډې وهل، بد يې ويل، بد القاب ورکول او له شا ورپسې د عيب لګولو په څېر ګناهونو سبب همدا ځان غوښتنه او غرور و تکبر وي. الله له دې ټولو شيانو هم په سختي منعه کړې ده.

حق نه منل

له حق څخه اعراض او په مقابل کي يې تکبر کوونکو ته خبرداری ورکړی چې خپل دا جرم دي معمولي نه ګڼي، د دوی سزا داده چې د الهي جنت دروازې يې پر مخ تړلې، جهنم به کښته او پورته د دوی نالي او بړستن وي چې د تل لپاره به پکې اوسي:

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُواْ عَنْهَا لاَ تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاء وَلاَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ * لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ*

"دا حقيقت دی چې کومو کسانو زمونږ ايات ونه دروغ بللي او په تکبر يې تر مخ اړولی هغوی ته به نه د اسمان دروازې خلاصې شي او نه به دوزخ ته داخل شي، مګر په هغه صورت کي چې اوښ د ستنې په سپم ننوزي (دا د هغوی سزا ده) او مونږ مجرمينو ته همداسي سزا

---

[٦٥] بخاري، شمېره: ٥٦٣٣، ٥٦٣٥، ٥٨٣٧، مسلم، شمېره: ٥٣٨٧، ٥٣٨٨

[٦٦] بخاري، شمېره: ٥٨٩٢، مسلم، شمېره: ٦١٣، د دې نصيحت صحيح ځای همدا وو خو خلګو د ږيرې لويولو امر وګانه او په دې توګه يې دين ته يو داسي شی ور داخل کړ چې په هيڅ ډول ورسره تړاو نه لري.

[٦٧] ابن ماجه، شمېره ٣٦٠٧

[٦٨] بخاري، شمېره: ٥٧٨٣، مسلم، شمېره: ٥٤٥٥

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(الأعراف ۷: ۴۰، ۴۱)

ورکوو. د دوی لپاره به د دوزخ نالي او بړستن وي او موږ ظالمانو ته همدا سي سزا ورکوو."

په خپل نسل او نسب فخر

په خپل نسل او نسب فخر کوونکي يې متوجې کړي چې ټول انسانان د ادم او حوا اولاده ده، هيڅ سور پر تور او هيڅ تور پر سره، هيڅ عجم پر عرب او هيڅ عجم پر عرب فضيلت نه لري، د الله په نزد د عزت او شرافت بنسټ کومه کورنۍ، قبيله او يا رنګ و نسل نه دی بلکي تقوا ده، د ده په نزد به هغه څوک عزتمن وي چې تر ټولو ډېرو ېرېدونکی او د ده د حدودو تابع وي، که څه هم له ډېرې بې ارزښته او نومورکې کورنۍ سره تړاو ولري، خو که څوک بغاوت او تکبر وکړي حتما به خوارېږي که څه هم يو لوی قريشي يا هاشمي وي. د کورنيو وېش يوازي د پېژندنې او شناخت لپاره دی، لکه څرنګه چې الله د خلګو په څېرو، رنګونو او قد و قامت کې امتياز را منځ ته کړی دی څو يو بل وپېژندلای شي همدا رنګه د کورنيو د وېش هدف هم دغه دی. له دې پرته هيڅ ارزښت نه لري:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ

(الحجرات ۴۹: ۱۳)

"اې خلګو! تاسو مو له يوه نارينه او ښځې پيدا کړي ياست، بيا مو پر قبيلو او قومونو تقسيم کړي ياست څو يو بل وپېژنئ د الله په نزد په تاسو کې تر ټولو عزتمن هغه دی چې په تاسو کې ډېر متقي وي، بې شکه الله عليم او خبير دی."

ملنډې وهل

په نورو ملنډ وهونکو ته يې ويلي چې د الله په نزد د يو چا د ذلالت او شرافت مدار د هغه پر ايمان او عمل دی او کره وزن به يې د الله ميزان وښيي. معلومه نه ده چې کوم کسان خپل ځانونه لوړ ګڼي هغوئ به د قيامت په ورځ د سپکاوي پر کوم ځای وي او کوم کسان چې دلته ذليل ګڼل کېږي هغه به د الله په پاچاهي کې د لوړتيا کومې درجې تر لاسه کړي؟. له همدې کبله بايد مومنان وپوهېږي چې د ايمان له نعمت څخه تر برخمن کېدو وروسته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له خپلو مسلمانانو وروڼو سره د «انما المؤمنون اخوة»[۶۹] په پيوند ټرلی دی. د ده لپاره په هيڅ ډول مناسبه نه ده چې هغوی سپک وګڼي، ملنډې پرې ووهي او د پسخندونو و خندا هدف يې وګرزوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلاَ نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ

(الحجرات ۴۹: ۱۱)

"اې مومنانو! نه دي نارينه په نورو ملنډې وهي کېدای شي هغه تر دوی غوره وي او نه دي مېرمنې په نورو ملنډې وهي کېدای شي هغه تر دوی غوره وي."

سپکې - سپوري

خپلو وروڼو ته د سپکو - سپورو او بد - رد ويونکي يې خبر کړي چې له دې کاره دي ځان وساتي، د دې لپاره په سورت الحجرات کې د (لاتلمزوا انفسکم) تعبير غوره شوی دی چې ترې ښکاري که يو مسلمان پر بل مسلمان بد وايي ګواکي خپل ځان ته بد وايي. بيا يې د (لمز) لفظ کارولی چې په دې کې ځينې نور مفاهيم لکه عيب پلټنه، طنز کول، تور لګول، په ښکاره يا کنايه اشارو سره نيوکه کول هم شامل دي. څرګنده ده په دې ټولو شيانو کې د ځان د لويي او نورو د سپکاوي احساسات وي. همدا ډول يو جرم يو بل په بدو القابو يادول دي، د عربي جاهليت په دوره کې دا يو عام ذوق وو او د کمال هنر ګڼل کېده. د يوې قبيلې تر ټولو ستر شاعر او ويناوال هغه وو چې د نورو په مقابل کې به يې د خپلې قبيلې ويا ړونه بيانول او د سيالانو غندنه او تحقير به يې کاوه. له دې څخه منعه شوې او ويلي يې دي چې ملنډې وهل، بد - رد او ناوړه القاب ټول بد کارونه دي او تر ايمان وروسته د بد کاری نوم هم بد دی. له همدې کبله د يو مسلمان لپاره روا نه ده چې په دې شيانو کې يو کار وکړي.

لاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلاَ تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (الحجرات ۴۹: ۱۱)

"مه پر ځانونو بد وايا ست او مه يو بل په بدو القابو يادوئ، تر ايمان وروسته د فسق نوم هم بد دی (له دې توبه وباسئ) او (ياد ولرئ چې) که څوک له دې توبه ونه باسي هماغوی

[۶۹] الحجرات ۴۹: ۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ظالمان دي."

غيبت

غيبت کوونکي يې پوهولي چې دا يو ډېر کرکجن عمل دی، داسې مثال لري لکه يو څوک چې د خپل مړه ورور غوښې خوري. د مړي غوښې خوړل پر خپل ځای د کرکې کار دی او بيا چې د خپل ورور وي نو څرنګه به يې يو څوک خوړلو ته زړه ښه کړای شي؟. که غور پرې وکړئ نو په دې کې د خپل ځان د نه دفاع بې وسي هم انځور شوې ده، قرآن د دې تشبيه په وړاندي کولو پوښتنه کړې چې که تاسو يې زغملو ته چمتو نه ياست نو د دا ډول يو ډېر ناولي او کرکجن شي غيبت کولو ته څرنګه چمتو کېږئ؟.

غيبت څه شی دی؟، استاذ امام ليکي:

"... غيبت د هغه په غياب کې د بدې بيانولو په معنا دی، د غياب په مفهوم کې دا شی داخل دی چې غيبت کوونکی غواړي د ده په دې کار هغه څوک خبر نه شي چې دی يې غيبت کوي. د همدې غوښتنې پر بنسټ دا کار د هغه په نه شتون کې يوازې د هغو خلګو مخ ته کوي چې د ده همرازه، همفکره او په هدف شريک وي او يا لږ تر لږه تر دې دا وېره نه لري چې دی به له هغه کس سره خواخوږي ولري او دا راز به ور ورسوي."

(تدبر قرآن ۷ / ۵۱۰)

که دا فعل را وشنئ نو هم به يې ترشا هغه تکبر پټ وويني چې انسان د نورو سپکاوی او ذلت ته چمتو کوي ځکه نو الله ممنوع کړی او ويلي يې دي چې په دې اړه بايد هر سړی له خپل رب څخه ووېرېږي.

وَلاَ يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ* (الحجرات ۴۹: ۱۲)

"او په تاسو کې دي هيڅوک د بل غيبت نه کوي ايا له تاسو څوک داسې دی چې د خپل مړه ورور د غوښو خوړل يې خوښ وي؟ نو تاسو يې بد ګڼئ (له دې توبه وباسئ) او له الله ووېرېږئ په دې کې شک نه شته چې الله ښه توبه قبلوونکی شفقت يې ابدي دی."

د تورات د احکامو په څېر دا د قرآن لس احکام دي، ټول اخلاقيات د دې لسو احکامو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فروعات دي، الله چې له کومو ګناهونو په کبار الاثم و الفواحش[۷۰] يعني لويو -لويو ګناهونو او بې حيا کارونو تعبير کړی هغه د همدې احکامو له سرغړونې پيدا کېږي. قرآن په دې اړه ښې واضح دی چې خلګ يې د سرغړونې سزا په قيامت کې تر لاسه کولای شي ځکه نو اړينه ده چې هر مسلمان يې په هکله خبرتيا ولري او په دې اړه بايد دې درو خبرو ته پام وکړي.

يوه داچې که له هغو څخه په غير شعوري ډول د کوم حکم سرغړونه و شي نو الله يې نه نيسي، د هغه قانون دادی چې که له ارادې پرته دا سې کار وشي چې ظاهرا ممنوع وي مګر دی په حقيقت کې د هغه ممنوع کار نېت ونه لري نو په دې سره به يې ونه نيسي. د متبنی يا خولې د زامنو په اړه يې د يوه حکم بيانولو په ترڅ کې ويلي:

وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا*
(الأحزاب ۳۳: ۵)

"په دې معامله کې چې له تاسو کومه تېروتنه شوې پر هغه څه سزا نه شته، مګر ستاسو زړونه چې د کوم څه اراده کوي پر هغه حتما سزا شته، الله بخښونکی دی شفقت يې ابدي دی."

دويمه داچې که کوم څوک د دې احکامو له سرغړونې ځان ساتي نو بدله يې داده چې الله به يې له خپل بې پايانه رحمت له مخې واړه ګناهونه ورو بخښي، که نه لوی او واړه ټول ګناهونه به يې په عمل نامه کې وليکل شي او حساب به يې ورکړي. ويلي يې دي:

إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلاً كَرِيمًا
(النساء ۴: ۳۱)

"تاسو چې له کوم څه منعه کېږئ که يې له غټو ګناهونو ځان وساتئ نو ستاسې وړې بدی به مو له حسابه وباسو او تاسو به د عزت ځای ته داخل کړو."

درېيمه دا چې که څوک له احساساتو په مغلوبېدو په هغو کې له يوه حکمه سرغړونه وکړي نو بايد د توبې په ايستلو خپل چلند اصلاح کړي. د دې لپاره اړينه ده چې څومره ژر شونې وي توبه وباسي، الله په قرآن کې څرګنده کړې چې پر ده يوازې د هغو خلګو د توبې منلو حق شته چې له احساساتو په مغلوبېدو کومه ګناه وکړي او بيا سمدستي توبه وباسي. د الله په نزد د هغو خلګو توبه هيڅ معنا نه لري چې ټول ژوند په ګناوو کې ډوب

[۷۰] الشوری ۴۲: ۳۷، النجم ۵۳: ۳۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وي او چي کله پوه شي مرګ يې پر سر ولاړ دی نو د توبې ورد پيل کړي. همدا رنګه په شعوري ډول له حقه د انکار کوونکو توبه هم نه شته که تر مرګه پر خپل انکار ټينګ وي. الله ويلي:

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُوْلَـئِكَ يَتُوبُ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللّهُ عَلِيماً حَكِيماً * وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّى إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الآنَ وَلاَ الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ أُوْلَـئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا* (النساء ۴: ۱۷، ۱۸)

"پر الله د هغو خلګو د توبې قبلولو مسئوليت دی چې له احساساتو په غالبېدو ګناه وکړي، بيا سمدستي توبه وباسي، الله د همدوی توبه قبلوي او الله عليم او حکيم دی. البته د هغو خلګو هيڅ توبه نه شته چې ګناه کوي، تر دې چې کله په دوی کې د يوه د مرګ وخت راشي هغه مهال وايي چې زما توبه ده، همدا رنګه د هغو خلګو لپاره هم توبه نه شته چې د مرګ تر وخته منکر وي، د همدوی لپاره مو دردناک عذاب تيار کړی دی."

د توبې منلو او نه منلو دا دوه شکله قرآن مشخص کړي دي، تر دې وروسته صرف يو صورت پاتې ږي چې يو څوک تر ګناه وروسته سمدستي د توبې ايستلو نېکمرغي تر لاسه نه کړای شي مګر دومره ځنډ يې هم نه وي کړی چې د مرګ وخت پرې راشي. د دې صورت په اړه قرآن خاموش دی او د استاذ امام په وينا: لکه څرنګه چې دا خاموشي هيله پيدا کوي همدا رنګه وېره هم پيدا کوي او د قرآن هدف همدا ښکاري چې معامله د وېرې او هيلې تر منځ پاتې شي. دی وايي: له دې سره - سره کله - کله ذهن دې ته تګ کوي چې هيله ده د دې امت دا ډول خلګ به د رسول الله ﷺ په شفاعت نجات وموميٰ، ځکه د هغوی په اړه د شفاعت منعه کېدو هيڅ وجه نه شته.

جمال او کمال

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَ الْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا* (الأحزاب ۳۳: ۳۵)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"د هغو نارینه وو او ښځو لپاره چې اسلام یې راوړی، مومنان دي، بندګي کوي، رښتني دي، صبر کوي، د الله په وړاندې تیټ دي، خیرات کوي، روژه نیسي، خپل فروج ساتي او الله ډېر یادوي، الله ورته مغفرت او لوی اجر تیار کړی دی."

د انسان د اخلاقي وجود ښکلا چې کله د مخلوق او خالق دواړو په معامله کې د کمال درجې ته رسېږي نو له دې څخه چې کومې ځانګړتیاوې را زېږي یا د قرآن له مخې باید پیدا شي هغه همدا دي. له همدې وجې یې ویلي: دا ډول سپېڅلو نفسونو ته د الله مغفرت په انتظار دی او د دوی لپاره یې ستر اجر چمتو کړی دی، په دې کې شک نه شته چې په صوفیانه مذاهبو کې د انسان د ټولو هڅو وروستی نقطه دا وي چې د الهي صفاتو د څرګندېدو هڅه وکړي. الله علیم او خبیر دی نو دوی هم په پټو او ښکاره وو خبر شي، الله د تجرد په حالت کې دی دوی هم په ځان کې دا حالت پیدا کړي، الله بې نیازه دی دوی هم له بشري غوښتنو او انساني اړتیاوو بې پروا شي، الله په نفسونو او فضا کې تصرف کوي نو دوی هم پرې اوبو ولاړ شي، له اور سره لوبې وکړي، نارو غانو ته د لاس په ور وړلو شفا ورکړي، مړي وسوځوي او په زړونو و روحونو کې چې کوم تصرف وغواړي ویې کړي خو د قرآن د ریځ دا نه دی، هغه چې د کمال تر ټولو لوړه درجه بیان کړې هغه د الهي صفاتو له غوښتنو سره سم ځان برابرول او په تښجه کې یې د هغو اوصافو په ترلاسه کولو ژوند کول دي چې قرآن همدلته په دې ایت کې را یو ځای کړي دي. دا لس شیان دي او په ټول قران کې الله پرې هیڅ زیاتونه نه ده کړې، همدا د قرآن په نزد د دین جمال او کمال دی. دی خپل منونکي تر همدې رسوي او د موندلو دعوت یې ورکوي، تر دې وړاندې که بله کومه درجه شته نو هغه د نبوت درجه ده او د هغې په اړه معلومه ده چې په زده کړه او کسب نه تر لاسه کېږي بلکې الله چې چا ته غوښتي دا مرتبه یې ورکړې ده.

دلته به د همدې اوصافو وضاحت وکړو:

اسلام

لومړی شی اسلام دی، دا چې په کومه طریقه له ایمان سره یو ځای کېږي لکه دلته چې راغلی نو مراد یې د دین ظاهروي یعني الله ته د ځان سپارلو هغه کیفیت چې د انسان له وینا، عمل او اعضاوو څرګندېږي نو که د انسان ژبه د الله او رسول په حکم د خلاصېدو او بندېدو لپاره چمتو وي، سترګې یې د هغوی په اشاره کتلو او تېټېدلو ته تیارې وي، غوږونه یې د هغوی په لارښوونه اوربدو او نه اوربدو ته چمتو وي، لاس یې د دوی په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حکم پورته کېدو او تېتېدلو ته منتظر وي او پښې يې د هغوی په امر له تلو او منعه کېدو تېښته نه کوي نو همدا اسلام دی. د انبياء کرامو عليهم السلام پر ژبه د اسلمت وجهی لله[۷۱] او د اسلمت لرب العالمين[۷۲] الفاظ د همدې حقيقت د بيانولو لپاره راغلي دي.

له قرآنه ښکاري چې د دې غوره نمونه هم انبياء کرام دي، له همدې کبله لارښوونه شوې چې د رضا او تسليم تر دې مرتبې د رسېدو لپاره دي خلک د هغو اشخاصو پيروي وکړي چې الله د رسولانو په توګه را لېږلي دي، الهي وينا ده:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

(آل عمران ۳: ۳۱)

"دوی ته ووايه که تاسو له الله سره مينه لرئ نو زما پيروي وکړئ الله به درسره مينه وکړي او ستاسو ګناهونه به وبخښي او (په دې خو پوهېږئ چې) الله بخښونکی دی، شفقت يې ابدي دی."

دا اتباع چې بايد د کوم شعور او احساس له مخې وي استاذ امام امين احسن اصلاحي يې داسي وضاحت کړی دی:

"... رسول د الهي معرفت کامل څرګندوی وي او هره ادا يې د الهي معرفت نښه، له همدې کبله چې څوک له الله سره مينه لري هغه د رسول له هر کار سره مينه کوي، دی په رسول کې هغه پوهه وينې چې د الله له معرفت څخه را ټوکېږي، هغه عمل وينې چې د الله له معرفت څخه پيدا کېږي، هغه عادات وينې چې د الله خوښ دي، هغه صفات وينې چې پر الله ګران دي او هغه جمال په ستر ګو ورځي چې د الهي جمال انعکاس وي ځکه نو د رسول د هر ګام په پلټنه ور پسې کېږي او څرنګه چې دا هر څه د الله په مينه کوي له همدې کبله د الله له لوري دا بدله مومي چې پر الله ګرانېږي." (تزکيه نفس: ۱۱۷)

ايمان

دويم شی ايمان دی او دا د دين باطن دی، دلته تر مراد هغه باور دی چې د الله او د هغه د وعدو په اړه د ده له حقيقي پېژندنې سره موندل کېږي. له همدې کبله که څوک الله داسي ومني چې د تسليم او رضا په وروستۍ درجه خپل زړه او دماغ هغه ته وسپاري نو

---

[۷۱] آل عمران ۳: ۲۰ (ما ځان الله ته سپارلی)

[۷۲] البقرة ۲: ۱۳۱ (ما خپل ځان د نړۍ والو رب ته سپارلی)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی د قرآن په اصطلاح مومن دی. د زړه سپېځلتیا د عقل نور او د ارادو صفایي له همدې څخه ترلاسه کېږي. همدا ایمان دی چې علم او عمل دواړه یو ځای اغېزمنوي او د انسان پر ټول وجود غوړېږي. بیا د الله په ذکر، د هغه د ایاتونو په تلاوت او په انفوسو و افاقو کې د ده د ننبو په څرګندېدو زیادت مومي، الله ویلي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (الأنفال ٨: ٢)

"مومنان خو هغه دي چې کله الله یاد شي نو زړونه یې ولړزېږي او چې کله د هغه ایاتونه ور ته تلاوت شي نو ایمان یې زیات شي او پر خپل رب توکل وکړي."

رسول الله ﷺ په دې اړه ویلي: هغه چا د ایمان خوند وموند چې د الله په ربوبیت، د اسلام په دین او محمد ﷺ په رسالت راضي شو.[٧٣] قرآن له یوې داسي ونې سره پرتله کړی چې ریښې یې په ځمکه کې غزېدلې او څانګې یې په پراخه فضا کې غوړېدلې دي.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ * تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ*

(ابراهيم ١٤: ٢٤، ٢٥)

"ایا تا غور نه دی کړی چې الله څرنګه د پاکې کلمې مثال بیان کړی دی؟ د هغې مثال داسي دی لکه یوه پاکه ونه چې ریښې یې په ځمکه کې ننوتلې وي او څانګې یې په اسمان کې غوړېدلې وي، په هر موسم کې د خپل رب په امر مېوه ورکوي (دا یې مثال دی) او الله دا مثالونه د دې لپاره خلګو ته بیانوي چې عبرت واخلي."

استاذ امام امین احسن اصلاحي دا الهي هدایت داسي تشریح کړی دی:

"څرګنده ده چې په دې ایاتونو کې له پاکې کلمې څخه مراد د ایمان کلمه ده، الله یې مثال په داسي مېوه ورکوونکې ونه بیان کړی چې جړې یې د ځمکې ژورو ته ننوتې او څانګې یې په فضا کې غوړېدلې وي او په هر موسم کې د خپل رب په فضل میوه کوي. په ځمکه کې د ریښو له ژور تلو څخه مراد په انساني فطرت کې د هغې رسوخ او پیاوړتیا ده چې هغه د ځمکې پر سر بوټي په ځپر بې ریښو نه وي، څو یې د حوادثو معمولي څپې له

[٧٣] مسلم، شمېره: ١٥١

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ريښو وباسي لکه د کفري کلمې په اړه چې يې ويلي: اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ[۷۴] (د ځمکې پر سر راشنه شي هيڅ ټينګښت ونه لري) بلکي د يوې تنه درلودونکې ونې په څېر دومره ټينګې او ژورې ريښې لري چې که هر ډول توپان پرې راشي نو هيڅ اغېز وربانديې نه کوي. بيا يې د هغې د برکت او ميوې پر لور اشاره کړې چې د شنډې ونې په څېر بې سيوري او بې مېوې نه وي، بلکي په فضا کې تر غوړېدلو و سيورو درلودونکو څانګو لاندې يې کاروانونه دمه اخلي او په هر موسم کې يې له مېوو خوراک او راحت تر لاسه کوي.

څرګنده ده دا د هغو فيوضاتو او برکاتو لور ته اشاره ده چې د يو مومن پر خپل ژوند او د ده په وسيله په يو ډول له ده سره د نژدېکت ويارِ درلودونکو کسانو پر ژوند مرتب کېږي، دا فيوضات او برکات حتما علمي او عملي دواړه ډولونه لري چې د ده د ايمان شاهدي ورکوي او په دې سره د الله له خوا لوړتيا او پرمختګ تر لاسه کوي." (تزکيه نفس: ۳۲۵)

د همدې ايمان يوه تقاضا په قران کې دا بيان شوې چې پر درلودونکو يې تر الله او رسول هيڅ شی هم ګران نه دي، ويلي يې دي:

قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (التوبة ۹: ۲۴)

"دوی ته ووايه چې که مو پلار، زامن، وروڼه، مېرمنې، کورنۍ، ستاسو ګټلی مال او هغه تجارت چې تاسو يې له سړېدو وېرېږئ او دربانديې ګران کور تر الله، د هغه تر رسول او د هغه په لارکې تر جهاد دربانديې ګران وي نو تر هغو انتظار شئ چې الله خپله پرېکړه وکړي او (پوه شئ چې) دا ډول بد عهدو ته الله لارښوونه نه کوي."

رسول الله ﷺ هم دا حقيقت په بېلابېلو طريقو بيان کړی دی، د ده وينا ده چې هيڅوک تر هغه وخته حقيقي مومن نه شي کېدای چې زه تر خپلو اولادونو، مورو پلار او خپلوانو ډېر پرې ګران نه شم.[۷۵]

---

[۷۴] ابراهيم ۱۴: ۲۶

[۷۵] بخاري، شمېره: ۱۵، مسلم، شمېره: ۱۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو بل ځای يې ويلي: له الله او رسول سره همدا محبت دی چې تر هغه وروسته يو شخص د ايمان له اصلي خوند سره اشنا کېدای شي.[۷۶]

مګر دا څه ډول مينه ده؟، څرنګه چې په دې اړه خلګ په ناسم پوهاوي او افراط و تفريط اخته دي بايد درک کړای شي، استاذ امام ليکي:

" ... له دې څخه مراد يوازې هغه احساساتي مينه نه ده چې انسان يې په فطري توګه له خپلې مېرمنې، اولادونو او نورو قريبانو سره لري بلکي له دې څخه هدف هغه عقلي او اصولي مينه هم ده چې يو څوک يې له ځينو اصولو او مسلک سره کوي او پر بنسټ يې په خپل ژوند کې هر ځای همدې اصولو او مسلک ته ترجيح ورکوي. له همدې اصولو او مسلک پرته هر څه، هر ډول اصول، هره غوښتنه او حکم قربانوي خو په خپله هغه د نړۍ پر هيڅ شي نه ورکوي. د دې اصولو او مسلک د لوړتيا لپاره هر څه تيټوي خو د هغو تيټتيا په هيڅ حالت کې نه شي زغملای، که د دې مسلک په مخالفت کې يې نفس هم مزاحمت وکړي نو دی ورسره جنګېږي او که نور ورسره مقابل شي نو هم ورسره مقابله کوي، ان که يې د ميرمنې، اولادونو، خپلوانو او دوستانو غوښتنې هم د دې مسلک له تقاضاوو سره په يوه مرحله کې ټکر شي نو د دې اصولو او مسلک ملګرتيا کوي او له څه زحمت پرته د خپلې مېرمنې او اولادونو غوښتنې او د کورنۍ و قوم تقاضاوې ردوي."

(تزکيه نفس: ۱۱۹)

د ايمان او اسلام همدا حقيقت دی چې د رسول پر برکتمنه ژبه د دې دعا په بڼه تمثيل شوی:

اللهم، اسلمت وجهی الیک و فوضت امری الیک و الجأت ظهری الیک، رغبة و رهبة الیک، لا ملجأ و لا منجأ منک الا الیک. اللهم، امنت بکتابک الذی انزلت، و بنبیک الذی ارسلت. (بخاري، شمېره: ۲۴۷)

" اې الله! ما خپل ځان تا ته سپارلی، خپلې چارې مې تا ته حواله کړې، شا مې تا ته لګولې، ستا له عظمته په لړزه يم او ستا په مينه وړاندې درځم، له تا څخه په تېښته هيڅ ځای پناه او ارام نه شته او که وو نو له تا سره دي، اې ربه! ما ستا پر نازل کړي کتاب ايمان راوړی او ستا را لېږلی رسول مې منلی دی."

[۷۶] بخاري، شمېره: ۱۶، ۲۱، مسلم، شمېره: ۱۶۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قنوت

درېيم شی قنوت دی، دا يو باطني کيفيت دی چې انسان په پوره اخلاص او بشپړ ګوښه توب سره د خپل رب پر اطاعت ټينګ ساتي. د مومن بنده په وجود کې د عبد او معبود د تړاو تر ټولو څرګند ظهور همدا دی، قانتين هغه کسان دي چې تل په بندګۍ کې پاتې وي، په غم، خوشالۍ، احساساتو، خوند او درد هيڅ حالت کې هم له خپله خالقه بغاوت نه کوي، د شهوت زور، د احساساتو يرغل او د خواهشاتو هجوم يې هم د الله په وړاندې بې ادبي ته نه پرېږدي. د ده زړه الهي عرش وي او شريعت يې د حاضرۍ هغه حکم ګڼي چې له هغه څخه د سرغړونې تصور هم په دربار کې ولاړ کس نه شي کولای. که غور وکړئ دا هماغه کيفيت دی چې ټوله نړۍ او د هغې ټول مخلوقات يې هره شېبه د حال په ژبه څرګندوي:

أَوَ لَمْ يَرَوْا إِلَى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ * وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَالْمَلآئِكَةُ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ * يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ*

(النحل ۱۶: ۴۸-۵۰)

"ايا دوی نه دي کتلي چې الله هر څه پيدا کړي، سيوري يې راسته او چپه اړخ ته الله ته پر سجده وي او عاجزي کوي، په ځمکه او اسمان کې چې څومره حيوانات دي هغوی ټول الله ته پر سجده پراته دي او د ده فرشتې هم، هغوی هيڅکله سرکښي نه کوي، دوی تر ځان له خپل پورته رب څخه ويرېږي او هغه څه کوي چې دوی ته يې حکم کېږي."

صدق

څلورم شی صدق دی، دا د قول، فعل او ارادې درو سره د مطابقت او سمون د تعبير لپاره رائي. که د انسان له خولې څخه د صداقت خلاف هيڅ حرف ونه وزي، په وينا او عمل کې يې تضاد نه وي او خپله هره خبره پوره کړي نو دا د ژبې او عمل صداقت دی خو له دې سره بايد د نيت او ارادې صداقت هم يو ځای وي. قرآن د دې ضد کردار په نفاق او هغه يې په اخلاص تعبير کړی دی، بيا يې ځای پر ځای وضاحت کړی چې د الله په نزد د عمل اصلي شکل هغه دی چې د زړه په تل کې چمتو شي. له همدې کبله د صدق کامله درجه د قول، فعل او ارادې له همدې توافق څخه تر لاسه کېږي. په قرآن کريم کې صَدَقُوا مَا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ[۷۷] (دوی چې له الله سره کومې وعدې کړې هغه يې پوره کړې) الفاظ همدا حقيقت بيانوي، يعني د ژبې هره وينا، د زړه هره اراده او د عمل هر خوځښت د حق او صداقت څرګندوی وګرزي. الهي وينا ده:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ (الحجرات ۴۹: ۱۵)

"مومنان خو هغه دي چې پر الله او رسول يې ايمان راوړی، بيا په هيڅ شک کې نه دي لوېدلي او په خپل ځان و مال د الله په لار کې جهاد کوي او همدوی صادقان دي."

صبر

پنځم شی صبر دی، دا له اضطراب او نا ارامۍ څخه د ځان ساتنې لپاره راځي، د سورت الحجرات په دې ايت وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ[۷۸] (او که يې ستا تر راوتلو له صبره کار اخيستی وای) په خپل همدې ابتدايي مفهوم استعمال شوی دی، ورپسې د ستونزو او موانعو پر خلاف په مېړانه، استقلال او ثابت قدمي سره پر خپل دريځ د ټينګېدو معنا پکې پيدا شوې. په پورتني ايت کې چې د کوم صبر يادونه شوې هغه د عجز او ذلت په څېر کوم شی نه دی چې د بې وسۍ او ناتوانۍ په حالت کې د مجبوريت له مخې غوره کېږي، بلکې د عزم او همت سرچينه او د ټول سپرت وکردار جمال و کمال دی. په دې سره انسان د دې حوصله پيدا کوي چې د ژوند له سختو تجربو د ګيلې او فرياد پر ځای هغه په خوښه ومني او د الله له لوري په ګټلو يې هرکلی وکړي. د دې مفهوم له مخې صابر کس هغه څوک دی چې د هرې وېرې او تمې په مقابل کې پر خپل دريځ ټينګ شي او د خپل رب په پرېکړو راضي او مطمين وي.

په قرآن کې يې دريځ ځايونه بيان شوي بې وزلي، ناروغي او جنګ. که غور وکړئ نو د ټولو سختيو سرچينه همدا دريځ شيان دي، الله ويلي:

وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ (البقرة ۲: ۱۷۷)

"او څوک چې د تنګۍ، ناروغۍ او جګړې پر

---

[۷۷] الأحزاب ۳۳: ۲۳

[۷۸] الحجرات ۴۹: ۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مهال ټینګ شي."

په دې ایت کې یې د (نصب علی المدح) په توګه څرګند کړی او ویلې یې دي چې د سپرت او کردار په معامله کې یې اهمیت دومره ډېر دی. تر دې لا وضاحت یې په قرآن کې د مواقعو په استعمال سره څرګندېږي، کله چې رسول اللهﷺ د حق دعوت لپاره را ولاړ شو نو ده ته لارښوونه وشوه چې د خلګو د ښمنې او عداوت ته له پام پرته په پوره فعالیت خپل کار ته تر هغو دوام ورکړه چې الهي پرېکړه څرګندېږي، ته به په هر حالت کې دې پرېکړې ته په انتظار یې، تر دې وړاندې هیڅ ګام نه شې اخیستلای. په قرآن کې دا مفهوم د صبر په همدې لفظ سره ادا شوی دی.

وَاتَّبِعْ مَا يُوحَى إِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتَّىَ يَحْكُمَ اللّهُ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ (یونس ۱۰: ۱۰۹)

"او د هغې وحې پیروي وکړه چې درته کېږي او په صبر سره تر هغو انتظار وکړه چې الله پرېکړه کوي او دی ښه پرېکړه کوونکی دی."

کله چې پر ایوب علیه السلام د ستونزو غرونه راغلل نو هغه د تسلیم او رضا لمن پرې نه ښوده، الله یې ستاینه کړې او د دې لپاره یې هم هغه تعبیر غوره کړی دی.

إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ (ص ۳۸: ۴۴)

"موږ هغه ډېر صابر وموند، غوره بنده او د خپل رب لور ته ډېر رجوع کوونکی وو."

قرآن د لقمان علیه السلام نصیحت نقل کړی، د حق په لار کې په مېړانه د ستونزو د مقابلې لپاره یې خپل زوی ته داسې لارښوونه کړې:

وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُورِ (لقمان ۳۱: ۱۷)

"د نېکۍ امر کوه، له بدۍ څخه منعه او هر تکلیف چې درته ورسېږي صبر وکړه او په دې کې شک نه شته چې دا د ډېرې لوړې حوصلې کار دی."

د دعوت لپاره د هڅه کوونکو په اړه چې قرآن کومه مهمه لارښوونه کړې هغه داده چې که یې مخاطبین په ظلم، تېري او زورونه لاس پورې کړي نو غوره داده چې د هغوی کړنو ته له پام پرته د دوی د بد عمل ځواب په نېکي سره ورکړل شي. څرګنده ده چې دا یو عادي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کار نه دی، د دې لپاره چې د زغم، صبر، عفو پې او بخښنې کوم صفت په انسان کې پیدا کېږي قرآن ورته د صبر لفظ کارولی دی:

ادْعُ إِلى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ * وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ* (النحل ۱۶: ۱۲۵، ۱۲۶)

"د خپل رب لور ته په حکمت او ښه نصیحت بلنه وکړه او له دوی سره په غوره طریقه بحث وکړه، بې شکه ستا رب د ده له لارې او ښتې هم ښه پېژني او هغه هم چې هدایت یې موندلی او که بدله اخلئ نو دومره چې تاسو ته کوم تکلیف رسېدلی او که صبر وکړئ نو دا د صبر کوونکو لپاره ډېر غوره دی."

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ * وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ * وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ* (حم السجدة ۳۱: ۳۳ - ۳۵)

"او تر هغه به د چا خبره ډېره غوره وي چې الله ته بلنه وکړي، نېک عمل وکړي او ووایي چې زه مسلمان یم او (دا حقیقت دی چې) بدي او نېکي یو ډول نه دي، تاسو بدي په هغه خیر سره منعه کړئ چې غوره وي نو وبه وینئ چې له چا سره چې تاسو دښمني درلوده نو ګواکي هغه مو یو فعال دوست دی او (په یاد ولرئ چې) دا پوهه هغو ته ورکول کېږي چې صبر یې کړی او هغو ته ورکول کېږي چې د لویې برخې خاوندان دي."

د جګړې په ډګر کې چې کله مرګ مخامخ ولاړ وي، ینه خولې ته را رسېدلې وي او سترګې له وېرې راوتې وي نو کوم کسان چې په میړانه او پیاوړتیا د دښمن مقابله وکړي او د ثبات پښې یې ونه لړزېږي نو د هغوی لپاره هم دا لفظ راغلی دی.

فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُواْ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ (الأنفال ۸: ۶۶)

"له همدې وجې چې که په تاسو کې سل صبر کوونکي وي نو پر دوو سوو به بریالي شي او که دا ډول زر وي نو د الله په حکم به پر دوو زرو غالب شي او (حقیقت دا دی چې) الله له همدې صبر کوونکو سره دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله چې انسان ته کوم مسئوليتونه او دندې سپارلې دي که هغه ټول عمر په مېړانه او پياوړتيا سره ترسره کړي او د استاذ امام په الفاظو لکه څرنګه چې بزګر په خپله ځمکه کې يوې کوي، تخم پکې شيندي، اوبه ورکوي او پرله پسې يې څاري همدارنګه که مومن په خپل برکتمن کښت کې پوره خواري وکاږي او بشپړه ساتنه يې وکړي نو د دې لپاره هم دا تعبير راغلی دی.

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ (مريم ۱۹: ۶۵)

" د ځمکې او اسمان او هغو ترمنځ هر څه رب دی دی، نو د ده عبادت وکړئ او په صبر سره يې پر بندګي ټينګ شئ."

د انسان په ژوند کې چې د غم او خوشالۍ، درد او راحت کوم موارد راځي نو که دی د نفس له پياوړتيا کار واخلي، په خوښي او خوشالي مغرور نه شي او د غم و تکليف پر مهال زړه بايللی او ناهيلی نه شي نو د دې چلند لپاره هم په قرآن کې دا لفظ غوره شوی دی.

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ * وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاء بَعْدَ ضَرَّاء مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ * إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أُوْلَئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ* (هود ۱۱: ۹-۱۱)

" او که موږ انسان په خپل رحمت نازوو بيا يې ترې بې برخې کړو نو دی ناهيلی کېږي او ناشکري کوي او که ترهغه مصيبت وروسته چې پرې راغلی وو، دی په خپلو نعمتونو نازو نو وايي: زما غمونه ولاړل، نو دی خوشالي او غرور کوي. له دې يوازې هغه خلګ مستثنا دي چې صبر کوونکي او نېکان دي، د همدوی لپاره مغفرت هم دی او لوی اجر هم."

له دې څخه په ډاګه شوه چې صبر د مجبوريت بخښنه او د ناتوانې خاموشۍ نوم نه دی، بلکې د هغه څه نوم دی چې مومن بنده په هر حالت کې د خپل رب په پرېکړو راضي وي، د عمل د نتيجې په ځنډېدو خپه نه شي، له نا ارامۍ او ناکرارۍ ځان وساتي، له بدي کوونکو سره هم په زړه کې د انتقام جذبه ونه ساتي، د حق د دفاع پر مهال مخامخ د مرګ په ليدو ټينګ ودرېږي، د غم او راحت په هر حالت کې د نفس له پياوړتيا کار واخلي او څه چې فرض و واجب ګڼي ټول عمر پرې ټينګ شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د انساني سبرت همدا ارخ دی چې په وسله يې د الله او بنده تر منځ هغه تعلق پيدا کېږي چې په توکل ترې تعبير شوی يعني په هر حالت کې پر الله باور کول، د (انا لله و انا اليه راجعون) کلمه همدا سپارنه او تفويض دی. د قرآن وينا ده چې کوم کسان پر دې کلمه ټينګ وي د هغوی لپاره ځانګړې الهي لورينې دي او په همدې سره به له دنيا رخصتېږي. الهي وينا ده:

وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ * أُولَـئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَـئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ* (البقرة ۲: ۱۵۵-۱۵۷)

"او (په دوی کې چې) کوم ثابت قدم وي هغوی ته (د بريا) زېری ورکړه (هغه چې) کوم مصيبت ور ورسېږي نو وايي چې بې شکه موږ د الله يو او (يوه ورځ) به د ده لور ته ور ګرزو، پر همدوئ به د خپل رب پېرزوينې او رحمت وي او همدوی دي چې (د ده له هدايت څخه) برخه ترلاسه کوونکي دي."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

خشوع

شپږم شی خشوع ده، د الله له هيبت او د عظمت و جلال له سم تصور څخه چې په انسان کې کومه تواضع، عجز او خاکساري پيدا کېږي قرآن ور څخه په خشوع تعبير کوي. دا يو باطني کيفيت دی چې دی د الله په وړاندې هم ټيټوي او د نورو انسانانو لپاره يې هم په زړه کې د مينې او مهربانۍ احساسات پيدا کوي.

د لومړي شکل غوره اظهار يې لمونځ، په ځانګړې ډول د شپې تهجد وي، هغه مهال چې مومن بنده د نړۍ له ټولو شيانو په ګوښه کېدو يوازې له خپل رب سره راز و نياز کوي او خپل يوازيتوب د ده په شکر او ذکر ابادوي د قرآن په ځينو نورو ځايونو کې د المستغفرين بالاسحار[۷۹] (د شپې په وروستۍ برخه کې د خپلو ګناهونو مغفرت غوښتونکي) او وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا[۸۰] (چې شپې د خپل رب په وړاندې پر سجده او قيام تېروي) په ځير اسلوب يې همدا بيان کړی. دلته يې له صدقې او روژې سره متصل لومړی د هغه په يو ځای کولو د بيان په ترتيب سره همدې لورته اشاره کړې او لمونځ يې ګواکې د هغه له

[۷۹] ال عمران ۳: ۱۷
[۸۰] الفرقان ۲۵: ۶۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حقیقت څخه تعبیر دی. لکه څرنګه چې مو وویل د تهجد په لمانځه کې دا حقیقت تر ټولو ښه څرګندیږي. د قرآن او رسول الله ﷺ له ویناوو ښکاري چې دا د حاضري وخت دی او له الله سره مینه درلودونکو ته تل محبوب پاتې شوی دی. استاذ امام لیکي:

" ... د ارامتیا او ډاډ بخښنې له مخې د شپې او ورځې په څلورویشتو ساعتونو کې هیڅ وخت هم له دې سره مقابله نه شي کولای، له ځمکې څخه نیولې تر اسمانه صرف او صرف ډاډ وي، دا مهال هر څوک خوبونه کوي ممکن شیطان هم ویده وي. یوازې هغه غفار او کریم رب ویښ وي چې هیڅکله نه ویدیږي او یا هغه څوک بیدارپږي چې بخت یې ویښ وي. پورته شئ او د ستورو په سیوري کې ودریږئ، نو په حقیقت کې به احساس کړئ چې د اسمان دریڅې پرانیستې او له اسمان څخه تر ټولې پورې د توبې او رحمت اعلانونه کیږي. د دې وخت حالات داسې څرګند دي چې دنیادار او دیندار، شرابي او زاهد ټول پرې پوهیږي، خوب کوونکي یې د ویدېدو ښه وخت ګڼي او ویښېدونکي یې د ویښتیا لپاره غوره مهال بولي او په حقیقت کې د دواړو فکر سم دی. کوم وخت چې د ویدېدو لپاره تر ټولو غوره او محبوب وي هغه به د ویښتیا لپاره هم تر ټولو ګران او عزتمن وي، قرباني خو د محبوب او عزیز شي منل کیږي، له همدې وجې الله دا وخت د نژدې کسانو د لمانځه لپاره هم ځانګړی کړی، د چا ارخ چې پر دې مهال د بسترې خوند پریږدي د هغوی د زاریوا و دعا اوربدو لپاره الله د ټولې اسمان ته را کوزیږي او وایي چې کوم توبه کوونکی شته چې توبه یې ومنم، ایا زما د رحمت کوم غوښتونکی شته چې زه یې د خپل رحمت په لمن کې واخلم؟." (تزکیه نفس: ۲۴۳)

په دویم صورت کې دا حالت د مومن بنده پر ټول شخصیت اغیز کوي او د خپلې کورنۍ لپاره سر تر پایه شفقت، د دوستانو، ګاونډیانو او له ده سره مخامخ کېدونکو لپاره سر تر پایه رحمت او د خپلې ټولنې لپاره د هدایت یوه سرچینه ګرزي. همدا سي نرم او مهربان انسانان هغه تمدن را منځ ته کوي چې پر ځمکه د الله جنت او د هر سالم الفطرت انسان د توجو وړ او د ارمانونو مرکز وي. په قرآن کې همدا سپېڅلي نفسونه داسي یاد شوي:

وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلاَمًا * وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا * وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ

" د رحمان بندګان هغه دي چې پر ځمکه په تواضع ځي او که جاهلان ورسره ونښلي نو په سلام تر تېرېږي، خپلې شپې د خپل رب په حضور کې په سجدو او قیام تېروي او دعا وې کوي چې اې زموږ ربه! د دوزخ له عذابه مو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا * إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا * ... مَرُّوا كِرَامًا* (الفرقان ۲۵: ۶۳ - ۷۲)

وژغوره، د هغه عذاب خو بېخي مونبل کېدونکی شی دی، ډېر بد ځای دی او بد مقام او که پر کوم بې ګټې څه تېرېږي نو په ډېر وقار سره تېرېږي."

صدقه

اووم شی صدقه ده، د الله په لار کې د لګښت یوه درجه داده چې انسان له خپله ماله فرض زکات ورکړي او دویمه درجه یې داده چې تر خپلو شخصي او کاروباري اړتیاوو یې څه زیات وي هغه د ټولنې حق وبولي او چې کله کومه اړتیا پېښه شي نو په پراخ زړه یې پوره کړي. درېیمه درجه یې داده چې پر خپلو غوښتنو د پشار په را وستلو او په خپلو اړتیاوو کې د قربانۍ په ورکولو هم د نورو احتیاجات پوره کړي. همدا هغه شی دی چې قرآن د وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ[۸۱] (او دوی له خپلې اړتیا سره - سره هغو ته پر ځان ترجیح ورکوي) په الفاظو بیان کړی. د صدقه ورکوونکو تعبیر دې ټولو صورتونو ته شامل دای شي مګر د اوصافو د بیان پر مهال چې کله یو څوک متصدق بلل کېږي نو په دې سره به یې اصلا د کمال درجې ته اشاره وي یعني هغه چې سخي او فیاض وي او د الله په لار کې د لګښت هیڅ فرصت له لاسه نه ورکوي. دا د بندګانو په تړاو د هماغې خشوع څرګندونه ده چې وړاندې یې یادونه وشوه، له همدې کبله په قرآن کې لمونځ او نفقه دواړه یو ځای ذکر کېږي.

روژه

اتم شی روژه ده دا د ځان کنټرولولو او صبر د روزنې ځانګړی عبادت دی، په قران کې یې هدف دا بیان شوی چې په وسیله یې تقوا حاصلېږي. له صائمینو څخه مراد هغه کسان دي چې د تقوا حریصان وي او د دې لپاره ډېرې روژې نیسي. له دې څخه دا خبره په خپله څرګنده شوه چې له ناوړه کارونو ځان ساتي، بې حیاچارې نه ترسره کوي او په خپل ژوند کې د ټولو غوره اخلاقو بهترینه نمونه وي.

[۸۱] الحشر ۵۹: ۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د فرجو ساتنه

نهم شی د فرجو ساتنه ده، دا هم د ځان کنټرولولو او تقوا ثمره ده. له عرياني، لوڅوالي او فواحشو څخه د ځان ساتونکو لپاره دا تعبير د قرآن په ځينو نورو ځايونو کي هم راغلی دی. مطلب دا چي دوی تر اخيري کچې د خپل ابرو او عزت ساتونکي وي. الله چي په کوم ځای کي اجازه ورکړې له هغه پرته په يوازيتوب او ګډ ژوند کي نه خپل ستر خلاصوي او نه داسي جامې اغوندي چي د دوی اعضا څرګندوي او يا په يو ډول جنسي کشش لري. له فواحشو د ځان ساتنې همدا درجه ده چي حيادار تهذيب را منځ ته کوي او نارينه و ښځې د خپل بدن د لا زياتوالي پر ځای تر ممکنې کچې د هغه پټولو ته نا ارام وي.

ډېر ذکر

درېيم شی ډېر ذکر دی يعني زيات الهي ياد، کله چي د مومن بنده په زړه کي د خپل رب فکر ځای پر ځای شي نو يوازي په تاکلو وختونو کي يې عبادت کافي نه ګڼي بلکي تل يې ژبه د خپل رب په ذکر لنده وي. که کومه الهي نښه وينې نو سبحان الله وايي، که کار پيلوي بسم الله وايي، که نعمت تر لاسه کړي د الحمدلله په ويلو الهي شکر پر ځای کوي او د ان شاء الله و ماشاء الله له ويلو پرته خپله هيڅ اراده او عزم نه څرګندوي. په خپلو ټولو چارو کي له الله مرسته غواړي او د هر افت په راتلو د ده د رحمت غوښتونکی وي، په هره ستونزه کي ده ته رجوع کېږي، د ده په ياد ويدېږي او د ده له ياد سره را پاڅېږي. لنډه دا چي په هر وخت او هر ځای کي يې د الله ذکر په خوله وي، يوازي دومره خبره نه وي بلکي د الله د ياد لپاره لمونځ کوي، روژې نيسي، تلاوت کوي، نفقه ورکوي، له بدې ځان ساتي، د ګناه کولو پر مهال الله وريادوي او فورا هغه ته په توجو کولو نا ارامه کېږي.

د ذکر يو شکل فکر هم دی، د الله د نړۍ ته وګورئ په زرګونو مخلوقات پکښې دي، د هغوی تنوع او رنګارنګي ده، انساني عقل او د هغه کارنامې دي، د سمندرونو څپې دي، د سيندونو حرکت دی، سمسور کښتونه او له اسمانه اوربدونکې اوبه دي، د شپې او ورځې حرکت او د هوا او وربڅو تغيرات دي، د ځمکې او اسمان پيدايښت او د هغو حيرانوونکی جوړښت دی، د هغوی ګټې او برکات دي، د دوی هدف او حکمت دی او په نفسونو و افاقو کي هغه الهي نښې دي چي هره شېبه په نوې بڼه څرګندېږي. کله چي مومن بنده پر دې الهي نښو غور کوي نو زړه او دماغ يې د الله له ياده ډکېږي، نو او از

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوي چي اې ربه! دا کارخانه دي عبث نه ده پيدا کړې، دا ستا د علم او حکمت خلاف ده چي بې ګټې کار وکړې، زه پوهېږم چي د دې نړۍ رنګ او بوی به د جزا پر يوه داسي ورځ پای ته رسېږي چي هلته به هغه کسان له عذاب او رسوايي سره مخامخ کېږي چي ستا دا نړۍ د لوبغاړو لوبه بولي او ژوند کوي. زه د هغوی له برخليک څخه ستا پناه غواړم:

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُوْلِي الأَلْبَابِ * الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ*

(آل عمران ۳: ۱۹۰، ۱۹۱)

"د ځمکې او اسمان په پيدا ايښت او پر نوبت د شپې او ورځې په راتګ کي د عاقلانو لپاره ډېري نښې دي، هغه چي په ولاړه، ناسته او اړخونو پرپوتو هر حالت کي الله يادوي او د ځمکې او اسمان پر پيدا ايښت فکر کوي (د هغوی دعا دا وي چي) اې ربه! تا دا هر څه بې هدفه نه دي پيدا کړي، ته د عبث کار له کولو پاک يې نو موږ د دوزخ له عذابه وژغوره."

همدارنګه له رسول الله ﷺ څخه ډېري دعاوې او اذکار نقل شوي دي، تر لمانځه وروسته د الله د ياد غوره صورت همدغه دی. داد مسلمانانو نېکمرغي ده چي د رسول الله ﷺ دعاوې او اذکار نژدې په هماغو الفاظو ورسره دي، د هغو ښکلا، نرمي او معنويت د ژبې او بيان معجزه ده. الهي دربار ته د وړاندي کولو لپاره تر هغو ښه شی نه شي موندل کېدای. که څوک د ذکر او فکر ذوق لري نو د ځان ورد دي وټاکي، له هغو څخه ځيني غوره شوې دعاوې او اذکار دادي.

۱) سُبْحانَ اللهِ، وَالحَمْدُ للهِ، وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ.[۸۲]

"الله پاک دی، الله لره شکر دی، له الله پرته هيڅ معبود نه شته، الله تر ټولو لوی دی."

رسول الله ﷺ ويلي: دا ذکر تر هغو ټولو شيانو را باندي ګران دی چي لمر پرې را خېژي.

۲) سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ.[۸۳]

"الله پاک او د ښو صفاتو څښتن هم دی."

---

[۸۲] مسلم، شمېره: ۶۸۴۷

[۸۳] بخاري، شمېره: ۶۴۰۵، مسلم، شمېره: ۶۸۴۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ ويلي: څوک چې دا ذکر په ورځ کې سل ځله ووايي ګناه يې بخښل کېږي که څه هم د درياب د ځګ په څېر وي.[۸۴]

۳) سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ. [۸۵]

"الله پاک او صفات يې هم غوره دي، الله پاک د عظمت څښتن دی."

ده ويلي: دا دوې کلمې پر ژبه سپکې، په تله کې درنې او د الله خوښې دي.

۴) لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ. [۸۶]

"له الله پرته هيڅ معبود نه شته، دی يوازي دی هيڅ شريک نه لري پاچاهي او حمد ده لره دي، دی پر هر څه قدرت لري."

رسول الله ﷺ ويلي: څوک چې په ورځ کې سل ځله دا ذکر وکړي د هغه لپاره د لسو غلامانو ازادولو په اندازه اجر دی، پر همدې سربېره يې په عمل نامه کې سل نېکۍ ليکل کېږي او سل ګناوې يې معافېږي[۸۷] او تر مابنامه به له شيطانه په امان وي.

۵) لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ. [۸۸]

"همت او قدرت ټول د الله په فضل دي."

رسول الله ﷺ ويلي: دا کلمه د جنت له خزانو يوه خزانه ده.

۶) اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّيْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِيْ وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوْءُ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلاَّ أَنْتَ. [۸۹]

---

[۸۴] يعني هغه ګناهونه چې د بندګانو له حقوقو سره تړاو ونه لري او يا هغه چې توبې، جبران او کفاري ته اړتيا نه لري.

[۸۵] بخاري، شمېره: ۶۶۸۲، مسلم، شمېره: ۶۸۴۲

[۸۶] بخاري، شمېره: ۳۲۹۲، مسلم، شمېره: ۶۸۴۲

[۸۷] دلته هم هغه ګناهونه مراد دي چې وړاندې يې يادونه وشوه.

[۸۸] بخاري، شمېره: ۴۲۰۲، مسلم، شمېره: ۶۸۶۲

[۸۹] بخاري، شمېره: ۶۳۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې الله! ته زما رب يې له تا پرته هيڅ معبود نه شته، زه دې پيدا کړی يم، ستا بنده يم او له خپل وس سره به سم ستا پر وعده او ژمنه ټينګ يم، زه له خپلو بدو کړنو ستا پناه غواړم، پر ما دي کړي نعمتونه منم او د خپلو ګناهونو اقرار کوم، ما وبخښه ځکه چې له تا پرته هيڅ د ګناهونو بخښونکی نه شته."

رسول الله ﷺ ويلي: که څوک په يقين سره د ورځې دا دعا وکړي او تر ماښام ومړاندي له دنيا رخصت شي نو د هغه لپاره جنت دی او که يې د شپې وکړي تر سهار ومړاندي رخصت شي نو د هغه لپاره هم جنت دی.

٧)الْحَمْدُ لله الَّذِي أَحْيَانا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وإِلَيْهِ النُّشُورُ. [٩٠]

"هغه الله لره شکر چې موږ ته يې تر مرګ وروسته ژوند راکړ او يوه ورځ د هغه لورته ستنېدل هم دي."

٨)أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللهُمَّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ اللَّيْلَةِ، وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ، اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ. [٩١]

"پر موږ ماښام شو او د الله پاچاهي هم ماښام ته ننوته، الله لره شکر او له الله پرته هيڅ معبود نه شته، دی تنها دی، هيڅ شريک نه لري، پاچاهي د ده ده، ستاينه هم ده لره ده او دی پر هر څه قدرت لري، اې الله! زه د دې شپې ښېګڼه غواړم او د هغه څه هم چې پکښې دي، د شپې له بدی ستا پناه غواړم او د هغه څه هم چې پکښې دي، اې الله! زه له سستي، د بوډاتوب له بدی، د دنيا له ازموينې او د قبر له عذابه ستا پناه غواړم."

همدا دعا رسول الله ﷺ د الفاظو له مناسب بدلون سره سهار مهال هم کوله.

٩) اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِيْ إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِيْ إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِيْ إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِيْ إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِيْ أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِيْ أَرْسَلْتَ. [٩٢]

---

[٩٠] بخاري، شمېره: ٦٣١٢، مسلم، شمېره: ٦٨٨٧

[٩١] مسلم، شمېره: ٦٩٠٩

[٩٢] بخاري، شمېره: ٢٤٧، مسلم، شمېره: ٦٨٨٢

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" اې الله! ما خپل ځان تا ته سپارلی او خپله هره معامله مې تا ته حواله کړې، شا مې پر تا لګولې، ستا له عظمت څخه په لړزه یم او ستا په مینه در وړاندې شوی یم. له تا څخه په تېښته هیڅ ځای پناه او تم ځای نه شته او که وې نو له تا سره دی، اې ربه! ما ستا پر نازل شوي کتاب ایمان راوړی او ستا را لېږلی رسول مې منلی دی."

د رسول الله ﷺ وینا ده: څوک چې د ویدېدو پر مهال دا دعا ووایي او هماغه شېبه له نړۍ ولاړ شي نو پر اسلام به ومري.

١٠) اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ، وَرَبَّ الْأَرْضِ، وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، مُنَزِّلَ التَّوْرَاةِ، وَالْإِنْجِيلِ، وَالْقُرْآنِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِي شَرٍّ، أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ، وَأَغْنِنِي مِنَ الْفَقْرِ. [٩٣]

" اې الله! د ځمکې او اسمان او هر څه ربه! د دانې او زنې چاودونکې، د تورات، انجیل او قرآن نازلوونکې، زه د هغو ټولو شیانو له شره ستا پناه غواړم چې تندی یې ستا په لاس کي دی، ته لومړی یې، ترتا لومړی هیڅ نه شته او ته اخیر یې، ترتا وروسته هیڅ نه شته، ته ظاهر یې ترتا پورته هیڅ نه شته او ته باطن یې ترتا کښته هیڅ نه شته، ته زما پور را وبخښه او د احتیاج په لرې کولو مې غني کړه."

١١) سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا، وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ، وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ، اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ، وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ. [٩٤]

" هغه ذات پاک دی چې دا سپرلی یې موږ ته تابع کړې که نه موږ پرې برلاسي کېدای نه شوای او حقیقت دادی چې موږ به د خپل رب پر لور ور ګرزو، اې الله! موږ په خپل دې سفر کي له تا د نېکي او تقوا توفیق غواړو او د داسي عمل توان غواړو چې ته پرې راضي کېږې، اې الله! زموږ دا سفر را ته اسانه کړه او اوږدوالی یې را لنډ کړه. اې الله! ته مو د سفر ملګری او په شاته پاتې کورنۍ کي مو محافظ یې، اې الله! زه د دې سفر له سختۍ ستا پناه غواړم او له دې هم چې بده پېښه وویني او له دې هم چې کله خپلې کورنۍ او مالونو ته را ستون شم نو کومه بدي وویني."

---

[٩٣] ابوداود، شمېره: ٥٠٥١

[٩٤] مسلم، شمېره: ٣٢٧٥

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ به عموما خپل سفر په همدې دعا پيلاوه.

۱۲) اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. [۹۵]

"اې الله! زه ستا رحمت ته هيله من يم، نو د يوې شېبې لپاره مې هم خپل نفس ته مه سپارە او زما ټولې چارې سمې کړه. له تا پرته هيڅ معبود نه شته."

۱۳) اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ. [۹۶]

"اې الله! زه له اندېښنې، غم، ناتوانۍ، سستۍ، بې زړه توب، بخل، د قرض له بوج او د خلکو له غلبې ستا پناه غواړم."

۱۴) اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الكَسَلِ وَالهَرَمِ، وَالمَأْثَمِ وَالمَغْرَمِ، وَمِنْ فِتْنَةِ القَبْرِ، وَعَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الغِنَى، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ عَنِّي خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالبَرَدِ، وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ المَشْرِقِ وَالمَغْرِبِ. [۹۷]

"اې الله! زه له لټې، بوډاتوب، تاوان او ګناه ستا پناه غواړم، اې الله! زه د اور له عذاب څخه پناه غواړم، د اور له ازموينې، د قبر له امتحانه، د هغه له عذابه، د ازموينې له شره، د فقر د ازموينې له شره او مسيح دجال د ازموينې له شره، اې الله! ته زما ګناهونه د واورې او ږلې په اوبو ومينځه او زړه مې له ګناهونو داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو پاکېږي او زما و ګناهونو تر منځ داسې لرېوالی را منځ ته کړه لکه تا چې د مشرق او مغرب تر منځ پيدا کړی دی."

۱۵) اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا. [۹۸]

---

[۹۵] ابوداود، شمېره: ۵۰۹۰
[۹۶] بخاري، شمېره: ۶۳۶۹
[۹۷] بخاري، شمېره: ۶۳۷۵
[۹۸] مسلم، شمېره: ۶۹۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې الله! زه له بې ګټې علمه، بې تواضع زړه، نه مړېدونکي نفسه او نه منل کېدونکي دعا ستا پناه غواړم."

۱۶) اللهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي، وَخَطَئِي وَعَمْدِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.[۹۹]

"اې الله! ته زما تېروتنه، ناپوهي او په چارو کې تېری را وبخښه او هغه څه هم چې ته تر ما پرې ښه پوهېږې، اې الله! ما چې په قصد څه کړي، یا مې په ټوکو کړي، یا مې له پوهي سره کړي او څه چې مې په ناپوهي کړي ټول را وبخښه، دا هر څه زما له خوا دي. اې الله! مخ ته لېږلي هم را وبخښه او شا ته پاتې شوي هم، څه چې مې په پټه کړي او څه په ښکاره او هغه هم چې ته تر ما پرې ښه پوهېږې، ته مخته کوونکی او وروسته کوونکی يې او ته پر هر څه قدرت لرې."

۱۷) اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى، وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى.[۱۰۰]

"اې الله! زه له تا د هدایت، تقوا، پاک نفس او استغنا سوال کوم."

۱۸) اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَعَافِنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي.[۱۰۱]

"اې الله! ما وبخښه، پر ما رحم وکړه، ما ته لار وښيه، سلامتي او رزق راکړه."

۱۹) اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.[۱۰۲]

"اې الله! موږ ته په دنیا کې هم خیر راکړه او په اخرت کې هم او د اور له عذابه مو وساته."

۲۰) اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي، اللَّهُمَّ وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى، وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا يَنْفَدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَاءَ بَعْدَ الْقَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ

---

[۹۹] مسلم، شمېره: ۶۹۰۱

[۱۰۰] مسلم، شمېره: ۶۹۰۴

[۱۰۱] مسلم، شمېره: ۶۸۵۰

[۱۰۲] بخاري، شمېره: ۴۵۲۲، مسلم، شمېره: ۶۸۴۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الْإِيمَانِ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ.[۱۰۳]

" اې الله! ته ما د خپل غيبي علم او پر خپل مخلوق د قدرت په وسيله تر هغو ژوندی وساته چې ته ژوند را ته غوره بولې او هغه وخت مي له دنيا واخله چې اخيستل مي غوره بولې، اې الله! زه په پټه او ښکاره له تا وېره غواړم، په خوښي او غم کي د رښتيا خبرې توفيق غواړم، په بې وزلي و شتمني کي د منځني چلند غوښتونکی يم، داسي نعمت غواړم چې پای نه لري او د سترګو داسي سړوالی غواړم چې هيڅکله نه ختمېږي، ستا په پرېکړو د راضي کېدو حوصله غواړم او تر مرګ وروسته د ژوند راحت غواړم، له تا سره د ليدنې او ستا د ديدار خوند و لذت غواړم، داسي چې نه په تکليف ورکوونکې سختي کي پاتې شم او نه په بې لارې کوونکو فتنو کي. اې الله! ته موږ ته د ايمان ښکلا را کړه او داسي مو وګرزوه چې په خپله هم پر هدايت شو او نور هم پر هدايت کړو."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

[۱۰۳] نسايي، شمېره: ۱۳۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دویمه برخه

الکتاب

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱

د عباداتو قانون

د دین هدف تزکیه ده، کاملې درجې ته د رسېدو وسیله یې د الله او بنده تر منځ په سمه طریقه د عبد او معبود د اړیکې را منځ ته کول دي. دا اړیکه چې څومره قوي وي انسان په هماغه اندازه د خپل علم او عمل په سپېڅلتیا کې پرمختګ کوي. مینه، وېره، اخلاص، وفا، د الله د بې شمېره نعمتونو او بې پایه پېرزوینو د احساس او اعتراف جذبات د همدې اړیکې باطني نښې دي. د انسان په شپه او ورځ کې عموما په درو شکلونو څرګندېږي: لمانځنه، اطاعت او ملاتړ.

د انبیاء علیهم السلام په دین کې عبادات د همدې تړاو د یادونې لپاره تاکل شوي دي، لمونځ او زکات لمانځنه ده، قرباني او عمره هم دا حقیقت لري، روژه او اعتکاف اطاعت او حج د الهي حمایت او ملاتړ څرګندول دي.

موږ به دلته له همدې عباداتو سره د شریعت تړلي احکام بیان کړو.

لمونځ

إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا (النساء: ۱۰۳)

"بې شکه لمونځ پر مسلمانانو د وخت له پابندي سره فرض شوی دی."

د اسلام په عباداتو کې لمونځ یې ډېر مهم دی، که د دین پر حقیقت غور وکړئ نو د معبود پېژندنه او د هغه په وړاندې د وېرې او محبت له احساساتو سره تواضع او خاکساري ده چې د دې حقیقت تر ټولو څرګنده نښه عبادت دی. تسبیح او تحمید، دعاء او مناجات او رکوع و سجده یې عملي شکلونه دي. همدا لمونځ دی او دا هر څه یې په ډېر ښه ډول را غونډ کړي دي، دا عبادت په دین کې بې ساری ارزښت لري او په دې د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پوهېدو لپاره باید څو شیانو ته پام وشي.

لومړی دا چې په ایمانیاتو کې توحید کوم حیثیت لري هغه په اعمالو کې د لمانځه دی، له قرآن څخه معلومېږي چې د الهي نښو له پند څخه د الله کوم معرفت را منځ ته کېږي او په دې سره په انسان کې له هغه سره د مینې او شکر کښلو کوم احساسات پیدا کېږي او یا باید پیدا شي نو لومړی نتیجه یې لمونځ دی. الله ویلي:

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ * تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ* (السجدة ۳۲: ۱۵، ۱۶)

"زمونږ پر ایاتونو خو یوازې هماغه ایمان راوړي چې کله د هغو په وسپله ورته یادونه وشي نو پر سجده پرېوزي، د خپل رب له حمد سره د هغه تسبیحات وایي او دا د سرکښۍ چلند نه غوره کوي، د دوی اړخونه له بسترو بېلېږي، خپل رب له وېرې او هیلې سره را بولي او دوی ته چې مو څه ورکړي له هغو څخه (د الله په لار کې) لګښت کوي."

همدا خبره د سورت الروم له دې ایاتونو هم معلومېږي:

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ * مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَلاَ تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ* (الروم ۳۰: ۳۰، ۳۱)

"نو له هر لوري څخه په ګوښه کېدو خپل مخ د دې دین لور ته کړه (او په دې ډول) د الله د هغه جوړ شوي فطرت پیروي وکړه چې انسانان یې ورباندې پیدا کړي، د هغه په دې فطرت کې هېڅ بدلون جایز نه دی، همدا سیده دین دی خو ډېر خلک نه پوهېږي (پر همدې ټینګ شه) د الله لور ته پوره توجو وکړئ، له هغه ووېرېږئ، لمونځ کوئ او له مشرکینو مه کېږئ."

په قرآن کې چې چیرې د اجمال اسلوب ته پام شوی هلته خو له شک پرته تر ایمان وروسته د (عملوا الصالحات) الفاظ راغلي، مګر په کوم ځای کې چې تفصیل دئ هلته تر ټولو لومړی د لمانځه یادونه شوې ده.

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ

"هغه چې پر غیبو ایمان راوړي او لمانځه ته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(البقرة ۲ : ۳) پام کوي."

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ (البقرة ۲: ۲۷۷)

"بې شکه کومو خلکو چې ایمان راوړ، نېک اعمال یې وکړل او لمانځه ته یې پاملرنه وکړه."

تزکیه چې په قرآن کې د دین هدف بلل شوې هغې ته د رسېدو لپاره هم لومړی د دې یادونه شوې ده.

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى* (الأعلى ۸۷: ۱۴، ۱۵)

"هغه څوک بریالی شو چې د ځان تزکیه یې وکړه او (د دې لپاره یې) د خپل رب نوم یاد کړ او لمونځ یې وکړ."

همدارنګه چې په قرآن کې د قیامت پر مهال د بریا اعمال ذکر شوي هلته یې هم پیل په لمانځه کړی دی، په سورت المؤمنون کې دي:

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاَتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * ... وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ (المؤمنون ۲۳: ۱-۹)

"هغه مومنان بریالي شول چې په خپلو لمنځو کې تواضع کوي، له پالتو چارو لرې اوسي، زکات ادا کوي او خپل فرجونه ساتي ... او هغه چې (د مخلوق او خالق دواړو په معامله کې) د خپلو امانتونو او وعدو ساتونکي دي او خپل لمنځونه خوندي کوي."

په سورت المعارج کې دي:

إِنَّ الإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا * إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا * وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا * إِلاَّ الْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ دَائِمُونَ * وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ * لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ * وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ *

"حقیقت دادی چې انسان ډېر بې صبره پیدا شوی دی، که مصیبت پر راشي نو فریاد ونه کوي او کله چې راحت تر لاسه کړي نو بخیل کېږي، مګر نه هغه چې تل لمونځ کوي، په مالونو کې یې د سائل او محروم لپاره ټاکلې برخه ده، د جزا ورځ منې، د خپل رب له عذاب څخه وېرېږي، په دې کې شک نه شته چې د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَالَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ * إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * ... وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُم بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُوْلَئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُّكْرَمُونَ*

(المعارج ۷۰: ۲۹ - ۳۵)

دوی د پروردګار عذاب د جرأت شی نه دی او خپل فرجونه ساتي ... او هغه چې (د مخلوق او خالق دواړو په معامله کې) د خپلو امانتونو او وعدو خیال ساتي، پر شاهدي ټینګ وي او د خپلو لمنځونو حفاظت کوي، همدوی به د جنت په باغونو کې له ډېر عزت سره اوسېږي."

له ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې له رسول الله ﷺ مې وپوښتل: په ښو اعمالو کې د الله څه شی ډېر خوښ دی؟. ده وویل: د وخت له پابندی سره د لمانځه کول.[1]

عمر ﷺ خپلو چارواکو ته په یوه لیک کې ولیکل: زما په اند ستاسو په دیني چارو کې تر ټولو مهم یې لمونځ دی، که یې څوک ساتنه وکړي نو ټول دین به وساتي او که یې څوک ضایع کړي نو پاتي دین به ټول ضایع کړي.[2]

پر دې سربېره لمونځ د مسلمان ګڼلو له شرایطو څخه دی، قرآن دا خبره په پوره صراحت سره بیان کړې چې په اسلامي دولت کې به یوازې هغه خلک د مسلمان په توګه د حقوقو غوښتنه کولای شي چې لمونځ کوي او زکات ورکوي. په سورت التوبه کې یې د عربي مشرکینو پر خلاف د ګام اخیستلو پر مهال اعلان کړی:

فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ (التوبة ۹: ۱۱)

"نو که هغوی توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو په دین کې ستاسو وروڼه دي."

له دې څخه معلومېږي چې په قیامت کې هم باید له خلکو سره دا معامله وشي، قرآن په القیامه سورت کې دا خبره په ډېرو بلیغو الفاظو بیان کړې ده:

فَلاَ صَدَّقَ وَلاَ صَلَّى * وَلَكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّى * "خو (هغه انسان ته وګورئ) چې نه یې (د

[1] بخاري، شمېره: ۵۲۷
[2] الموطا، شمېره: ۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ثُمَّ ذَهَبَ إِلَى أَهْلِهِ يَتَمَطَّى * أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى * ثُمَّ أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى* (القيامة ۷۵: ۳۱- ۳۵)

قیامت غوره انجام) رښتیا وبالـه او نـه یـې لمونځ وکړ، بلکي دروغ یـې وبالـه او مـخ یـې واړاوه، بیـا پـه تکبر خپلـې کـورنۍ تـه ولاړ، افسوس دی، پر تـا افسوس دی، بیـا افسوس دی، بیا افسوس دی."

دلته د (صلی) په مقابل کي د (تولی) او (ثم ذهب الی اهله یتمطی) لـه الفاظو ضمنا دا خبره هم معلومه شوه چي لمانځه ته دا حیثیت له دې امله ورکړل شوی چي د الله په نزد لمونځ نه کول په حقیقت کي د الله په وړاندي د بنده تکبر دی او قرآن بل ځای ویلي چي اوښ د ستنې تر سپم وتلای شي خو متکبرین جنت ته نه شي داخلیدای.[۳]

رسول الله ﷺ ویلي:

بین الرجل و بین الشرک و الکفـر تـرک الصلاة.(مسلم، شمېره: ۳۴۷)

"د انسان د کفر و شرک او ایمان تر مـنځ ښلوونکې کرښه د لمانځه پرېښودل دي."

همدارنګه یې ویلي:

خمس صلواة افترضهن الله تعالی عز وجل من احسن وضوئهن و صـلاهن لوقتـهن و اتم رکوعهن و خشوعهن کان له علی الله عهـد ان یغفر له و من لم یفعل فلیس له علـی الله عهد ان شاء غفر له و ان شاء عذبه.

(ابوداود، شمېره: ۴۲۵)

"دا پنځه لمنځونه الله پر خلکو فرض کړي دي، چا چي د هغو لپاره ښه اودس وکړ، پر وخت یې ادا کړل، د ظاهر او باطن له مخې د خپل رب په وړاندي ټیټ شو نو له ده سره د الله وعده ده چي هغه به بخښي او چا چي دا ونه کړل له هغه سره د الله هیڅ وعده نه شته، که یې خوښه وه وبه یې بخښي او که یې خوښه وه عذاب به ورکړي."

درېیم دا چي لمونځ پر دین د ټینګېدو وسیله ده، قرآن وایي: کوم کسان چي د الله له یاد څخه غافلېږي او مـخ تـرې اړوي پـر هغـوی یـو شـیطان مسلطېږي چي شپه او ورځ یـې

[۳] الأعراف ۷: ۴۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ملګرتیا کوي وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ [۴] لمونځ انسان له همدې غفلت او اعراض څخه ساتي او له شیطان څخه یې ژغوري. د سورت المؤمنون او سورت المعارج کوم ایاتونه چې پوته نقل شول هغو ته وګورئ، کوم شیان چې له لمانځه را پیل شوي پر لمانځه پای ته رسېدلي دي. له دې څخه په ښکاره دا اشاره معلومېږي چې په حقیقت کې د لمنځونو ساتنه پر دین د انسان د ټینګښت ضمانت دی. په دې کې شک نه شته چې تر دې وروسته بیا هم د شیطان بریدونه دوام لري خو پر لمانځه د همېشه توب له کبله په خپلواکه توګه د انسان په زړه کې ځای نه شي جوړولای. لمونځ یې پر له پسې شړي او د یوه حصار په توګه دهغه له بریدونو څخه د انسان زړه او دماغ ساتي، همدا وجه ده چې د سخت خطر په حالت کې هم ټینکار شوی چې پلی یا پر سپرلۍ څه ډول امکان ولري حتما لمونځ ادا کړئ، په سورت البقرة کې د قانون او شریعت د فصل په ختمېدو دا حقیقت داسې بیان شوی:

حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ * فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالاً أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُواْ اللّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ* (البقرة ۲: ۲۳۸، ۲۳۹)

"لمنځونه ساتئ په ځانګړې ډول هغه لمونځ چې (د ورځې او د شپې د لمنځونو) تر منځ راځي (هغه مهال چې تاسو ته له خپلو مصروفیتونو راوتل اسانه وي) او (د هر څه په خوشي کولو) د الله په حضور کې له ډېر ادب سره ودرېږئ، که وېره وي نو پلي یا سپاره څه ډول چې ممکنه وي ویې کړئ خو کله چې ارامي شي نو الله په هغه طریقه یاد کړه چې تاسو ته یې در ښودلې، تاسو نه پرې پوهېدلاست."

قرآن له همدې کبله په سورت مریم کې د شهوتونو پیروي په داسې ډول یاده کړې چې ګواکې د لمانځه د ضایع کولو لازمي نتیجه ده. فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلاَةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ [۵] (بیا یې تر هغوی وروسته پر ځای داسې نااهله راغلل چې لمنځونه یې ضایع کړل او په خواهشاتو پسې شول) په سورت العنکبوت کې یې تر دې په ښکاره الفاظو ویلي دي:

---

[۴] الزخرف ۴۳: ۳۶

[۵] مریم ۱۹: ۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ (العنبکوت ۲۹: ۴۵)

"او لمونځ کوئ ځکه چې لمونځ د بې حیایي او بدو خبرو مخه نیسي."

یعني لمونځ د یوه واعظ په څېر انسان ته خبرورکوي چې د جذباتو د غلبې، شهوتونو د یرغل او خواهشاتو په هجوم کې باید دا حقیقت له یاد څخه ونه باسي چې یوه ورځ به الله ته ورځي او د هغه مخ ته په درېدو به د خپلو اعمالو ځواب ورکوي. استاد امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کې لیکلي دي:

"... څوک چې لمونځ له خپلو ادابو او شرایطو سره ادا کوي یوازې وي او که له نورو سره، نو لمونځ یې د خپل ظاهر او باطن دواړو له مخې هغه حقایق وریادوي چې یادونه یې د ژوند پر سمه لاره د ټینګېدو لپاره اړینه ده. په ځانګړې ډول د یوازیتوب لمنځونه د انسان پر ژوند تر ټولو ډېر اغېز کوي، که کوم څوک لمونځ نه کوي نو مثال یې د هغه موټر چلوونکي په څېر دی چې د خپل ژوند موټر ګرندی چلوي خو د هغه د لارښوونې لپاره چې راسته او چپه اړخ ته کومې نښې او له خطرونو څخه د خبرتیا په توګه کومې علامې لګېدلې دی تر پې بالکل بې پروا او ناخبره وي. د داسې موټر چلوونکي په اړه هیڅ نه شي ویل کېدای چې خپل موټر به په کومه کنده کې وغورځوي؟." (تدبر قرآن ۶ / ۵۳)

څلورم دا چې لمونځ ګناهونه له منځه وړي، کله چې بنده له سم شعور سره پر لمانځه درېږي نو له الله سره خپله وعده نوې کوي چې دی به یې له سرغړونې ځان ساتي. په نتیجه کې یې حتما له یوه لمانځه تر بل لمانځه پر تېروتنو پښېماني احساسوي او له هغو څخه د ځان ساتنې لپاره له یوه نوي هوډ او ارادې سره د ژوند د بوختیاوو پر لور راګرزي. که غور وکړئ نو همدا د توبې حقیقت دی او د توبې په اړه څرګنده ده چې بنده له ګناهونو پاکوي، لکه چې ویلي یې دي:

وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ (هود ۱۱: ۱۱۴)

"او لمونځ کوئ د ورځې په دواړو اړخونو او د شپې په یوه برخه کې، په دې کې شک نه شته چې نېکۍ بدۍ له منځه وړي، دا د هغو لپاره یوه یادونه ده چې عبرت اخلي."

له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: ووایاست که ستاسو د یوه د کور مخته ویاله وي او دی پکې هره ورځ پنځه ځله لمبېږي نو ایا پر بدن به یې کومه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خیره پاتي شي؟، نو خلګو وویل: یقینا به په دې صورت کي هیڅ خیری پاتي نه شي. ده وویل: همدا د پنځو لمنځونو مثال دی، الله یې په وسیله ګناهونه همداسي ختموي.[6]

پنځم دا چي لمونځ په ستونزو کي مرستندوی دی، کله چي یهود و ته قرآن له الله سره بیا د نوې معاهدې ترسره کولو دعوت ورکړ نو د مسئولیتونو د بارولو لپاره یې د لمانځه په وسیله د مرستې غوښتنې لارښوونه وکړه.[7]

بعینه همدا معامله د بنو اسماعیل له مومنانو سره ترسره شوه، لکه چي ویلي یې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (البقرة ۲ : ۱۵۳)

"اې مومنانو! په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ بې شکه الله له صبر کوونکو سره دی."

رسول الله ﷺ ته هم د دښمنانو او اشرارو د ځورونو او شرارتونو په مقابل کي د صبر او استقامت لپاره د همدې سپارښتنه شوې ده.

فَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ *وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ* (ق ۵۰ : ۳۹، ۴۰)

"نو دوی چي څه وایي پر هغه صبر وکړه، د خپل رب له حمد سره د هغه تسبیحات وایه، د لمر راختلو او د هغه تر لوېدو وړاندي او په شپه کي هم د ده تسبیحات وایه او د لمر تر سجده کولو وروسته هم."

د دې معنا داده چي لمونځ پر خپل لور د الله د رحمت متوجې کولو تر ټولو لویه وسیله ده، د رسول الله ﷺ د سپرت له مطالعې معلومېږي چي کله به رسول الله ﷺ له یوې سختې معاملې سره مخ شو نو پر لمانځه به ودرید.[8]

خلګو د باران لپاره د دعا غوښتنه وکړه نو دی پر لمانځه ودرید او دعا ته یې لاس اوچت کړ، د لمر او سپوږمۍ د تندر پر مهال چي یې د الهي عذاب وېره احساس کړه نو

---

[6] بخاري، شمېره: ۵۲۸ یعني هغه ګناهونه چي له حقوق العباد سره تړاو نه لري او یا یې د جبران لپاره توبې، جبیرې او کفارې ورکولو ته اړتیا نه وي.

[7] البقرة ۲ : ۴۵

[8] تفسیر القرآن العظیم د ابن کثیر ۱ / ۸۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لمونځ يې وکړ، د بدر او احزاب په جګړو کې مسلمانانو د خپلو دښمنانو په وړاندې ولاړ وو نو ده پر لمانځه تکیه کړې وه او د هغه په وسیله یې له خپل رب څخه مرسته غوښته.

شپږم دا چې لمونځ د حق دعوت پېژندنه ده، قرآن ویلي: د ده په نزد اصلاح کوونکي هغه دي چې الهي کتاب د الله د ژمنې او حق و باطل د میزان په توګه ټینګ نیسي او لمونځ کوي، ویلي یې دي:

وَالَّذِينَ يُمَسَّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ إِنَّا لاَ نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ (الأعراف ۷: ۱۷۰)

"او هغه چې د الله کتاب یې ټینګ نیولی او لمونځ یې کړی (همدوی اصلاح کوونکي دي او) موږ به هیڅکله د اصلاح کوونکو اجر ضایع نه کړو."

استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کي لیکي:

"د قرآن کریم دا بیان د دین د تجدید او ملي سمون د ټولو غورځنګونو او دعوتونو د ارزونې لپاره یو معیار را ښیي، له دې ښکاري چې صرف هغه دعوت یا اصلاحي غورځنګ د ملي سمون دعوت یا غورځنګ دی چې په پیل و پای، ابتدا و انتها، عقیده و عمل، موخه او پروګرام دواړو کې یې لمونځ او د لمانځه اقامت هغه لومړیتوب او ارزښت ولري چې د الله د عهد او د هغه د پوره کولو په هڅه کې یې واقعا د قرآن له مخې لري. په کوم دعوت یا غورځنګ کې چې لمونځ دا ډول لومړیتوب او ارزښت ونه لري نو هغه د دین د تجدید او ملت د اصلاح له نظره یو بې برکته بلکي بې ګټې کار دی ځکه دا د ملا له هغه هډوکي هم بې برخې دی چې د دین د تجدید لپاره د دعوت قالب پرې دربږي او هغه روح هم پکې نه شته چې دا قالب ورڅخه ژوند تر لاسه کوي." (تدبر قرآن ۱/ ۲۰۳)

اووم دا چې لمونځ د حق په لار کې د استقامت وسیله ده، د دې لارې لارویان پوهږي چې دلته استقامت د الله په ملتیا موندل کږي او لمونځ الله ته دومره نژدې دی چې ګواکي په دنیا کې زموږ لپاره د الله ځای ناستی دی. د سورت علق په دې ایت: واسجُدْ واقترِبْ [۹] (سجده وکړه او په دې توګه ما ته نژدې شه) کې همدا حقیقت بیان شوی دی، له همدې کبله که د الله په لار کې د هڅو لپاره د هغه ملتیا تر لاسه کېدای شي نو د هغه د کتاب او د ده په حضور کې په لمانځه تر لاسه کېدای شي. د همدې هدف لپاره تر ټولو مهم یې قیام

[۹] العلق ۹۶: ۱۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الليل يعني د تهجد لمونځ دی، له همدې کبله چې کله رسول الله ﷺ ته د عام انذار امر وشو نو الله وويل: د دې درنې وينا د تحمل او له دې مسئوليتونو څخه د خلاصېدو لپاره دشپې په لمانځه کې د قرآن تلاوت کوه. علت يې دا بيان کړ چې دا وخت د زړه و دماغ د فراغت او قرآني فهم لپاره تر ټولو موزون دی. د استاذ امام په وينا: څرنګه چې دا د دماغ د سکون او زړه د وېښتيا ځانګړی وخت دی له همدې کبله چې تر خوله کوم څه وزي نو د تېر به هدف او ازدل خيزد بردل ريزد مصداق وي. انسان يې په خپله هم د زړه د ګواهي په توګه مني او د نورو پر زړونو هم ډېر اغېز کوي.[10]

الله ويلي:

يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ * قُمِ اللَّيْلَ إِلاَّ قَلِيلاً * نِصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلاً * أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً * إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً * إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْءًا وَأَقْوَمُ قِيلاً * إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلاً * وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلاً* (المزمل ۷۳: ۱- ۸)

" اې په جامه کې نغښتې! د شپې ودرېږه مګر (د ويدېدو لپاره) يو څه پرېږده نيمه شپه يا تر دې کم يا زيات او (په خپل دې لمانځه کې) قرآن ورو -ورو وايه ځکه ژر به د يو لوی وينا بوج درباندي واچوو، په دې کې شک نه شته چې د شپې پاڅېدل د زړه د راټولولو او خبرې د پياوړتيا لپاره ډېر موزون دی، (ځکه چې) ته به په ورځ کې د دې کار له املهٔ ډېر مصروف يې (له همدې کبله يې دا وخت وايه) او د خپل رب نوم يادوه او (د شپې په دې يوازيتوب کې) ټول د همده لور ته متوجې شه."

په ځينو روايتو کې دي چې دې دنيا ته د الله د ځانګړې توجو وخت همدا دی، له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: الله هره شپه زمونږ نژدې اسمان ته راځي کله چې د شپې يو ثلث پاتې شي نو وايي: څوک دعا غواړي چې زه يې قبوله کړم؟، څوک درخواست کوي چې زه يې ورکړم؟ او څوک مغفرت غواړي چې زه يې وبخښم؟.[11]

[10] تدبر قرآن ۹/ ۲۵

[11] بخاري، شمېره: ۱۱۴۵، مسلم، شمېره: ۱۱۷۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اتم دا چې لمونځ د کاینناتو فطرت دی، کـه انسان د لیدو سترګې ولري نو هغه به د دې حقیقت په پوهېدو کې هیڅ تردد ونه کړي چې د دې نړۍ هره ذره په حقیقت کې د خپل رب حمد او ثنا وایي او د هغه په وړاندې پر سجده دي، که څه هم په حمد او ثنا یې نه پوهېږي مګر لیدلای شي چې د نړۍ هر شی ظاهرا هره شېبه د الله په وړاندې سر ټیټې دي او د ده حکم عملي کوي، نو باطن یې هم ترې بېلېدای نه شي. پر ځمکه خوځېدونکي څاروي، په باغونو کې شنې ونې، په فضا کې الوتونکي مرغان، په سمندرونو کې لامبوزن ماهیان، د اسمان ځلانده ستوري، لمر او سپوږمۍ ټول په خپل وجود د همدې خبرې شاهدي ورکوي.

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَـن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَـكِن لاَّ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ (الاسراء ۱۷: ۴۴)

"اووه اسمانونه، ځمکه او هغه ټول شیان چې په اسمان او ځمکه کې دي د ده تسبیحات وایي او هیڅ داسې شی نه شته چې له حمد سره د ده تسبیحات نه وایي مګر تاسو یې په تسبیحاتو نه پوهېږئ."

دا ټول په خپل لمانځه او تسبیح ښه خبر دي او یوه شېبه هم غفلت نه کوي، کـه انسان وګوري نو لیدلای شي چې کله مرغان په هوا کې وزر وغوړوي او الوت کوي نو ګواکې د الله په وړاندې پوره عجز ښیي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَن فِي السَّـمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلاَتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ (النور ۲۴: ۴۱)

"ایا نه ګورئ چې هغه ټول شیان د الله تسبیح وایي چې په اسمانو او ځمکه کې دي؟ او (په فضا کې) وزر غوړوونکي مرغان هم، هر یو په خپل لمانځه او تسبیحاتو پوهېږي او دوی چې څه کوي الله ښه پرې خبر دی."

استاذ امام لیکي:

"د دې کاینناتو هر شی د خپل تکویني حیثیت له مخې ابراهیمي ذهنیت لري، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه او حیوانات ټول د الله د امر او حکم تابع دي او په دوی کې یو شی هم د یوه وېښته په اندازه د الله د ټاکلو قوانینو مخالفت نه کوي. لمر چې احمقانو یې تر ټولو ډېر عبادت کړی په خپل وجود سره دا شاهدي ورکوي چې د شپې او ورځې د خپل رب په وړاندې د قیام، رکوع او سجدې په حالت کې دی. د راختلو پر مهال له سجدې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سررا پورته کوي، تر غرمې پر قیام وي، ترزوال وروسته رکوع ته ځي او د لوېدو پر مهال پر سجده پرېوزي چې ټوله شپه په همدې حالت کي وي. همدا حالت سپوږمۍ په خپلو را ختلو او لوېدو او ستوري په خپلو را ختلو او لوېدو څرګندوي، د غرونو، ونو او حیواناتو همدا حال دی، په دوی کي د هر شي سیوری تل د قیام، رکوع او سجدې په حالت کي وي او که غور وکړئ نو دا حقیقت به هم په نظر درشي چې د سیوري فطرت داسي ابراهیمي دی چې د لمر په مخالف اړخ کي وي، که لمر د ختیځ لورته وي نو سیوری د لوېدیځ لورته خپرېږي او که لمر د ختیځ لورته وي نو د هر شي سیوری د لوېدیځ لورته خپرېږي، ګواکي د هر شي سیوری په خپل وجود مورېږ ته دا را زده کوي چې د سجدې اصل لایق لمر نه بلکي د لمر خالق دی. (تدبر قرآن ۵ / ۲۲۹)

الله ویلي:

أَوَ لَمْ يَرَوْاْ إِلَى مَا خَلَقَ اللّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلاَلُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالْشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِلّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ * وَلِلّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَالْمَلآئِكَةُ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ* (النحل ۱۶: ۴۸، ۴۹)

"ایا دوی لیدلي نه دي چې الله کوم شیان پیدا کړي سیوري یې راسته او چپ طرف ته الله ته په سجده کولو خپرېږي او په تواضع کي وي، په ځمکه او اسمان کي چې څومره ژوندي مخلوقات دي ټول الله ته پر سجده دي او د ده فرشتې هم، هغوی هیڅکله سرکښي نه کوي."

کله چې انسان پر لمانځه درېږي نو ګواکي د ټولي دنیا له لورې د تسبیح، تحمید او رکوع و سجدې دې دعوت ته هرکلی وایي. د خپل فطرت جوړښت له هماغه جوړښت سره همغږی کوي او په خپل دې عمل اعلانوي چې دی به تر هیچا شا ته نه شي او یوازي په خپل جسم به نه بلکي روح سره به هم د هغه رب په حضور کي سرټیټی و درېږي چې دی یې پیدا کړی دی. له ټولو کایناتو څخه په بېلېدو به داسي لار را ونه باسي چې په هغه کي د ده د لارې ملګری نه وي او که وي هم نو هغه به وي چې د الله عذاب ورباندې لازم شوی:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ (الحج ۲۲: ۱۸)

"ایا نه وینې چې د اسمانو او ځمکې هر څه الله ته پر سجده دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، ونې، حیوانات او ډېر انسانان هم او ډېر یې هغه دي چې عذاب ورباندې لازم شوی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نهم دا چې لمونځ حقیقي ژوند دی، انبیاء علیهم السلام چې کوم دعوت راوړی له هغه څخه په قرآن کې په ژوند تعبیر شوی دی يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ[12] (اې مومنانو! د الله او د هغه د رسول دعوت ته لبیک ووایاست، کله چې مو رسول هغه څه ته وربولي چې ستاسو ژوند پکښې دی) وجه یې داده چې ژوند خو ټول کوي مګر هغه حقیقي ژوند چې د نور، سکینې او ایمان په الفاظو بیان شوی یوازې د الله په یاد سره تر لاسه کېږي، انبیاء علیهم السلام د همدې دعوت کوي او په دې کې یې تر ټولو اول لمانځه ته را بولي. لمونځ څه شی دی؟، د الله معرفت، د هغه ذکر و فکر او د ده د نژدېکت احساس چې کله خپلې کاملې درجې ته رسېږي نو په لمانځه بدلېږي، د نړۍ د ټولو عارفانو پرېکړه ده چې اصل ژوند دزړه ژوند دی او د زړه ژوند همدا معرفت، ذکر و فکر او الهي قربت دی. انسان دا ژوند یوازې په لمانځه تر لاسه کوي او په همدې وسیله باقي پاتېږي، قرآن یو ځای د لمانځه په مقابل کې د ژوند او قرباني په مقابل کې د مرګ په راوړلو همدا حقیقت تشریح کړی دی. لکه چې ویلي یې دي:

قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (الأنعام ۶: ۱۶۲) "ووایه زما لمونځ، قرباني، ژوند او مرګ ټول د الله رب العالمین لپاره دي."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

که انسان دا حقیقت ومومي نو شپه او ورځ به لمانځه ته داسي په انتظار وي لکه د سهار او مابنام خوراک ته او داسي به ناکرار وي لکه تږی چې اوبو او وږی چې ډوډۍ ته ناکرار وي، د ده لپاره لمونځ د الله رزق وي، په همدې استراحت مومي او قوت تر لاسه کوي. عیسی علیه السلام ویلي: انسان یوازې په ډوډۍ نه وي ژوندی، بلکي په هره هغه خبره ژوندی وي چې د الله له خولې را وزي.[13]

لکه څرنګه چې خلګ د بېلابېلو او ډول -ډول خوراکونو په وسیله د خولې د خوند وسایل برابروي دوی همدغه ډول د قرآن د بېلابېلو ځایونو، رنګارنګ تسبیحاتو او دعاوو په وسیله د خپل روحاني خوند سامان چمتو کوي. د کړاوونو په زندان کې یې لمونځ روح خوشالوونکې وړمې، د ګناهونو په چټلتیا کې خوشبویه پلوشې، د ناهیلیو په توپان کې د پسرلي زېرى او د مخالفتونو په هجوم کې د پناه ځای وي. دا یوه شاعري مه

[12] الأنفال ۸ : ۲۴
[13] متی ۴ : ۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ګڼئ، د لمانځه په اړه دا د هغه مقام حالات دي چې رسول الله ﷺ د قم یا بلال فارحنا بالصلاة[14] (اې بلاله! پورته شه او په لمانځه مو ارام کړه) او د جعلت قرة عين في الصلاة[15] يعني زما د سترګو سړوالی په لمانځه کې ایښودل شوی، په الفاظو بیان شوي دي.

د لمانځه تاریخ

د لمانځه تاریخ همدومره لرغونی دی لکه په خپله د دین، د لمانځه تصور په ټولو دینونو کې موجود وو او مراسم و اوقات یې په څه زیادت او نقصان سره مشخص پاتې شوي دي. د هندوانو بهجن، د فارسیانو زمزمې، د عیسایانو دعاوې او د یهودو مزامیر ټول د همدې یادونه ده، قرآن ویلي: ټولو رسولانو یې تعلیم ورکړی، رسول الله ﷺ چې د کوم ابراهیمي دین د تجدید لپاره را لېږل شوی په هغه کې یې هم مقام تر ټولو څرګند دی. ابراهیم علیه السلام چې کله خپل زوی اسماعیل علیه السلام د ام القری په بې کنبته بېدیا کې مېشت کړ نو مقصد یې دا وښود چې ربنا ليقيم الصلاة[16] یعنې اې ربه! د دې لپاره چې دی لمونځ وکړي، په همدې وخت کې یې داسې دعا وکړه: رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي[17] (اې ربه! ما او زما اولاد د لمانځه ادا کوونکي کړه) قرآن د اسماعیل علیه السلام په اړه ویلي چې کان يأمر اهلَه بالصلوة[18] (د خپلې کورنۍ غړي یې په لمانځه امر کول)، د شعیب علیه السلام قوم هغه ته پېغور ورکړ چې اصلوتک تأمرُک ان نترُک ما يعبد ابائنا[19] (ایا ستا لمونځ درته امر کوي چې موږ د خپل پلار نیکه معبودان خوشي کړو؟) د اسحاق او یعقوب علیهما السلام په نسل کې د رسولانو په اړه قرآن ویلي: وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ[20] (موږ هغوی ته د نېکو کارونو او لمانځه د ادا کولو وحي وکړه)، عیسی علیه السلام ته چې کله نبوت

---

[14] ابوداود، شمېره: ۴۹۸۶
[15] نسایي شمېره: ۳۳۹۲
[16] ابراهیم ۱۴: ۳۷
[17] ابراهیم ۱۴: ۴۰
[18] مریم ۱۹: ۵۵
[19] هود ۱۱: ۸۷
[20] الأنبیاء ۲۱: ۷۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورکړل شو نو امر يې ورته وکړ: اقم الصلوة لـذکری[۲۱] (زما د یاد لپاره لمونځ کوه) د زکریا علیه السلام په اړه ویل شوي: وهُوَ قائمٌ يُصَلِّی فی المحـراب[۲۲] او دی په محراب کي ولاړ وو لمونځ يې کاوه، عیسی علیه السلام د خپل ځان په اړه ویلي: وَاَوْصَانی بِالصَّـلوة[۲۳] او الله ما ته د لمانځه امر کړی دی. لقمان د عربو یو حکیم وو، قرآن وایي چې هغه خپل زوی ته په نصیحت کي وویل: يَا بُنَیَّ اَقِمِ الصَّلوة[۲۴] (اې زویه لمونځ کوه) له بني اسرائیلو سره د الله وعده وه چې انّی مَعَکم لَاِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلوة ... لَاُکَفِّرَنَّ عنکم سَیِّئَاتِکُم[۲۵] (زه به له تاسو سره یم که مو لمونځ کاوه ... نو زه به ستاسو بدی در څخه لرې کړم). قرآن شاهد دی چې د رسالت په زمانه کي د یهودو او نصاراوو نېکانو لمونځ کاوه:

مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللّهِ آنَاء اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ (آل عمران ۳: ۱۱۳)

"د دې اهل کتابو یوه ډله له الله سره پر ژمنه ولاړه ده، د شپې الهي ایاتونه تلاوت کوي او خپل رب ته پر سجده وي."

همدا خبره د هغې زمانې د مشرکینو په اړه شوې ده:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَـن صَـلاَتِهِمْ سَاهُونَ* (الماعون ۱۰۷: ۴، ۵)

"له همدې کبله د هغو لمونځ کوونکو لپاره تباهي ده چې د خپلو لمنځونو (له حقیقت څخه) غافل دي."

د جاهلیت شاعر جران العود وایي:

وادرکن اعجازا من اللیل بعد ما اقام الصلاة العابد المتحنف

ژباړه: او دا سپاره د شپې په وروستۍ برخه کي تر هغه وروسته ور ورسېدل چې عبادت کوونکي حنفي له لمانځه څخه فارغ شوی وو.

---

[۲۱] طه ۲۰: ۱۴
[۲۲] آل عمران ۳: ۳۹
[۲۳] مریم ۱۹: ۳۱
[۲۴] لقمان ۳۱: ۱۷
[۲۵] المایده ۵: ۱۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اعشاء وايل شعر دی:

و سبح علی حین العشیات و الضحی و لا تعبد الشیطان، واللہ فاعبدا

ژباړه: سهار او مابنام تسبیح وایه[۲۶] او د شیطان عبادت مه کوه بلکي د الله عبادت وکړه.

په روایاتو کي هم د یهودو او نصاراوو او د ابراهیمي دین د پیروانو لمونځ ذکر شوی دی، له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي عمر او یا غالبا رسول الله ﷺ وویل: که په تاسو کي څوک دوې جامې لري نو په دواړو کي دي لمونځ وکړي او که یوه وي نو لنګ دي ووهي او د یهودو په څېر دي په لمانځه کي پر ځان څادر نه تاووي.[۲۷]

له ابو ذر غفاري ﷺ څخه روایت دی چي ما له رسول الله ﷺ سره تر لیدو دریې کاله وړاندي لمونځ کاوه، له ده پوښتنه وشوه چي د چا لپاره؟. ده وویل: د الله لپاره.[۲۸]

د یهودو او نصاراوو لمونځ په بایبل کي هم ځای پر ځای یاد شوی دی او لکه څرنګه چي قرآن په ځینو ځایونو کي له لمانځه څخه د الله د نوم په اخیستلو، قرآن ویلو، دعاء کولو، تسبیحاتو، رکوع او سجدې تعبیر کړی دی همدا ډول په بایبل کي هم له لمانځه څخه په دې ارکانو تعبیر شوی دی.

په پیدایښت کي دي:

" او له هغه ځای څخه په کوچ کولو (ابراهیم) د هغه غره لور ته ولاړ چي د بیت المقدس په ختیځ کي دی او داسي یې واړول چي بیت المقدس یې لوړیځ او رعاء یې ختیځ ته وه، هماغته یې د الله لپاره د قربانۍ یو ځای ودان کړ او د الله نوم یې واخیست." (۱۲: ۸)

" نو بیا ابراهیم پر سجده شو او الله ورسره خبرې وکړې." (۱۷: ۳)

" نو هغه سړی له هغه ځایه را وګرزېد او سبون ته ولاړ، بیا ابراهیم د الله په حضور کي ودرېد." (۱۸: ۲۲)

---

[۲۶] قرینه دلیل ده چي دلته د تسبیح لفظ د لمانځه لپاره استعمال شوی دی او په قرآن کي هم څو ځایه په دې معنا کارول شوی دی.

[۲۷] ابوداود، شمېره: ۶۳۵

[۲۸] مسلم، شمېره: ۶۳۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" نو ابراهيم خپلو ځوانانو ته وويل چې تاسو همدلته له خرو سره تم شئ، زه او دا هلک لږ تر هغه ځايه ورځو او د سجدې په کولو به بيرته تاسو ته را وګرزو." (۲۲: ۵)

" او (اسحاق) همالته د قربانۍ ځای جوړ کړ او د الله نوم يې واخيست." (۲۶: ۲۵)

په خروج کې دي:

" نو خلګو پرې باور وکړ او د دې په اورېدو يې چې الله د بني اسرائيلو خبر واخيست او د دوی تکليفونو ته يې وکتل، خپل سر يې ټيټ کړ او سجده يې وکړه." (۴: ۳۱)

په زبور کې دي:

" اې خدايه! ته به سهار زما اواز واوري، زه به سهار وختي ستا حضور ته د لمانځه تر کولو وروسته په انتظار يم." (۵: ۳)

" مګر زه به ستا د ډېر شفقت له کبله ستا کور ته راشم او ستا د رعب په منلو به ستا د مقدس هيکل لور ته په مخ کولو سجده وکړم." (۵: ۷)

" بيا به زه الله را وبولم او الله به مې وژغوري، سهار، مابنام او غرمه به فرياد وکړم، وبه ژاړم او زما اواز به واوري." (۵۵: ۱۶، ۱۷)

" سمندر د هغه دی، ده جوړ کړی او د ده لاسونو وچه هم را منځ ته کړې ده، راځئ رکوع او سجده وکړو او د خپل خالق په حضور کې پرګونده شو، ځکه هغه زمونږ رب دی."

(۹۵: ۵، ۶)

" زه به ستا د مقدس هيکل لور ته په مخ کولو سجده وکړم او ستا د شفقت و رښتنولۍ په خاطر به ستا د نوم شکر و باسم، ځکه تا خپل کلام ته په خپل هر نوم عظمت ورکړی دی."

(۱۳۸: ۲)

په سلاطين اول کې دي:

" کله چې ستا قوم اسرائيلو ستا د ګناه له وجې له خپلو دښمنانو ماتي وخوړله، بيا تا ته راجع شول، ستا د نامه اقرار يې وکړ او ستا د دې کور لور ته په مخ کولو يې لمونځ وکړ او له تاشخه يې مناجات وغوښت، نو ته په اسمان کې په اورېدو د خپل قوم بني اسرائيلو ګناه وبخښه او هغه هيواد ته يې راوله چې تا د دوی پلار او نيکه ته ورکړی وو."

(۸: ۳۳، ۳۴)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په یرمیاه کي دي:

"نو د الله د کور پر دروازه ودریږئ او هلته د هغه کلام اعلان وکړئ چې اې ټولو هغو یهودو چې د الله په حضور کي د سجدې لپاره پر دې دروازو را ننوزئ د الله کلام واورئ."

(۲:۷)

په دانیال کي دي:

"کله چې دانیال پوه شو پر لیکنه لاسلیک شوی نو خپل کور ته راغی د خپلې کوټې دروازه یې چې د بیت المقدس پر لور وه پرانیستله او په ورځ کي درې ځله د خپل رب په حضور کي پر ګونډو کېدو یې داسي لمونځ کاوه، تسبیحات او حمد یې ویل لکه پخوا او ما د الله لور ته مخ کړ، د لمنځو او دعاوو په وسیله، د روژې په نیولو، ټاټ په اغوستو او پر ایرو په ناسته د هغه غوښتونکی شوم." (۹: ۳)

په متی کي دي:

"(عیسی) د خلګو په رخصتولو یوازي د لمانځه کولو لپاره غره ته وخوت او کله چې ماښام شو نو هلته یوازي وو." (۱۴: ۲۳)

"دا مهال عیسی له هغوی سره د ګتسمني په نوم یوه ځای ته راغی او خپلو شاګردانو ته یې وویل: همدلته تر هغو کښینئ چې زه هلته په تلو لمونځ وکړم."

(۲۶: ۳۶)

"بیا لږ وړاندې ولاړ سجده یې وکړه او د لمانځه په کولو یې دا دعا وغوښته چې اې زما پلاره! که کېدای شي نو دا کاسه دې له ما لرې شي." (۲۶: ۳۹)

په مرقس کي دي:

"او هغه سهار وختي پاڅېد او ووت یوه ویجاړ ځای ته ورغی او هملته یې لمونځ کاوه." (۱: ۳۵)

په لوقا کي دي:

"او هغوی ته یې وویل: تاسو ولي ویده یاست پاڅئ لمونځ وکړئ چې په امتحان اخته نه شئ." (۲۲: ۴۶)

په اعمال کي دي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" پطرس او یوحنا د لمانځه پر مهال یعني د ورځې په نهم ساعت کې[۲۹] هیکل ته روان وو." (۳: ۱)

" دویمه ورځ چې کله هغه په لارکې وو او بنار ته نژدې ورسېد نو پطرس اووم ساعت ته نژدې[۳۰] کوټې ته د لمانځه کولو لپاره پورته کېده." (۱۰: ۹)

" او پر دې په غور کولو د هغه یوحنا د مور مریم کور ته راغی چې مرقس بلل کېږي او هلتهډېرو کسانو یو ځای لمونځ کاوه." (۱۲: ۱۲)

" او د هفتې په ورځ موږ د بنار له دروازې دباندې د مانده غاړې ته ولاړو چې هلته لمونځ کېده او په ناسته مو له هغو بنځو سره خبرې وکړې چې را غونډې شوې وې."

(۱۶: ۱۳)

" او نیمې شپې ته نژدې پولس او سیلاس لمونځ کاوه، د الله تسبیحات یې ویل او زندانیانو یې (دا تسبیحات او مناجات) اورېدل." (۱۶: ۲۵)

" هغه له دې ویلو سره پر ګونډو شو او له دوی ټولو سره یې لمونځ وکړ." [۳۱] (۲۰: ۳۶)

دلته باید دا خبره هم څرګنده شي چې لمونځ همېشه پنځه وخته کېده، د ابوداود په یوه حدیث کې ویل شوي چې دا خبره په خپله جبریل یو وخت رسول الله ﷺ ته وکړه.[۳۲] په دې کې شک نه شته چې اوس مهال یهود درې لمنځونه کوي او په پورتنیو اقتباساتو کې هم یو ځای د درو لمنځونو یادونه ده، مګر «لویي ګنزبرګ» د بیت المقدس پر تلمود په خپلو څېړنو کې څرګنده کړې چې په یهودو کې هم دا رواج بالکل هغه ډول را منځ ته شو لکه څرنګه چې زموږ اهل تشیع د جمع بین الصلاتین پر طریقه ماپښین و مازیګر او ماښام و ماخوستن یو ځای کړي او پنځه لمنځونه یې عملا په درو لمنځونو بدل کړي دي. ده ویلي چې د تلمود په زمانه کې یهود د ورځې پنځه ځله د لمانځه لپاره را ټولېدل، درې ځله د هغو لمنځو لپاره چې دا وخت هم کېږي او دوه ځله د شیما د تلاوت لپاره مګر وروسته د

---

[۲۹] له دې څخه یې مراد د مازیګر وخت دی.

[۳۰] له دې څخه یې مراد د ماپښین وخت دی.

[۳۱] د بایبل دا ټول اقتباسات له هغې عربي ترجمې سره سم دي چې مستقیما له یوناني ژبې څخه ژباړل شوې ده.

[۳۲] ابوداود، شمېره: ۳۹۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځينو عملي سختيو له امله د سهار او مانښام دوه لمنځونه سره يو ځای او هغه صورت را منځ ته شو چې نن رواج دی.[۱۰۳۳]

د قرآن تر نزول وروسته سورت الفاتحه د لمانځه دعا ده، له بايبل څخه معلومېږي چې د لمانځه لپاره دا ډول دعا په ټولو اسماني کتابونو کې نازله شوې ده، د تورات دعا داده:

"الله، الله رحيم او مهربان خدای، په غوسه کې نرم او په شفقت او وفا کې غني، پر زرګونو فضل کوونکی، د ګناه تېروتنې او خطا بخښونکی، مګر مجرم به هيڅکله ونه بخښي بلکې د پلار او نيکه د ګناه سزا د هغوی زامنو او لمسيانو ته تر درېيم او څلورم نسل پورې ورکوي."[۳۴] (خروج ۳۴: ۶، ۷)

د زبور دعا داده:

"اې الله! خپل غوږ څک کړه او ما ته ځواب راکړه ځکه زه مسکين او محتاج يم، ما وساته ځکه زه دينداريم، اې زما ربه! خپل هغه بنده چې پر تا يې توکل کړی وژغوره، اې ربه! پر ما رحم وکړه ځکه زه شپه او ورځ تا ته زاری کوم، اې ربه! خپل بنده خوشاله کړه ځکه زه خپل ځان ستا لور ته درپورته کوم، اې ربه! ته نېک او بخښنې ته تيارې او پر خپلو ټولو دعا غوښتونکو په شفقت کې غني يې.

اې ربه! زما دعا واوره او زما د زاريو اواز ته توجو وکړه، زه د خپل مصيبت په ورځ تا ته دعا کوم ځکه ته به ځواب راکوې، اې ربه! په معبودانو کې دي هيڅ سيال نه شته او ستا صنايع بې جوړې دي، اې ربه! ټول قومونه چې تا جوړ کړي هغوی به راځي ستا حضور ته به سجده کوي، ستا د نوم لويي به بيانوي ځکه ته ستر يې او عجيب و غريب کارونه کوې، همدا ته واحد الله يې.

اې ربه! ما ته خپله لار را وښيه، زه به ستا پر لار ځم، زما زړه ته ګوښه توب ور وبخښه چې ستا د نوم وپره ومنم، اې زما خدايه! زه به د زړه له تله ستا ستاينه وکړم، تر ابده به دي د نوم لويي بيانوم ځکه تا پر ما ډېره مهرباني کړې او تا زما نفس د ځمکې له تله را ايستلی دی.

---

[۳۳] ابراهام کيټش: Judaism in Islam ۱۰

[۳۴] داد ابراهيم ﷺ د اولاد په اړه د هغه ځانګړي الهي قانون يادونه ده چې له مخې يې په ملي توګه د هغوی د جرايمو سزا په همدې دنيا کې ورکول کېږي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اې الله! مغرور زما پر خلاف را پورته شوي او سخت دريځې ډله را پسې ده، هغوی ته هېر کړی يې، مګر اې ربه! ته رحيم او کريم خدای يې، په غوسه کې نرم او په شفقت و راستي کې غني يې، ما ته پام وکړه او پر ما ورحمېږه، خپل بنده ته طاقت ورکړه او د خپلې مينځې زوی وژغوره، ما ته د نېکۍ يوه نښه را وښيه چې زما دښمنان يې په ليدو وشرمېږي ځکه اې خدايه! تا له ما سره مرسته کړې او ما ته دې تسلي راکړې ده."

(۸۶: ۱-۱۷)

د انجيل دعا داده:

"اې په اسمانو کې زمونږ ربه! ستا نوم دې پاک وبلل شي، ستا پاچاهي دې راشي، لکه څرنګه چې ستا رضا په اسمان کې پوره کېږي پر ځمکه دې هم پوره شي، زمونږ د ورځې ډوډۍ نن راکړه او لکه څرنګه چې مونږ خپل پوره وړي بخښلي ته هم زمونږ قرض را وبخښه، مونږ مه ازمويه بلکې له بدۍ مو وساته، ځکه پاچاهي، قدرت او جلال تل ستا دی." آمين (متی ۶: ۹-۱۳)

همدا د لمانځه تاريخ دی، له دې څخه معلومه شوه چې کله قرآن خلګو ته د هغه امر وکړ نو د دوی لپاره کوم نا اشنا شی نه وو، هغوی يې په ادابو، شرايطو، اعمالو او اذکارو پوره خبر وو، ځکه يې نو تفصيلاتو ته هيڅ اړتيا نه وه. د ابراهيمي دين د يو دود په توګه چې څرنګه ادا کېده رسول الله ﷺ د قرآن په امر له ځينو سمونو سره د خپلو منونکو لپاره بيان کړ او دوی نسل په نسل همغه ډول ادا کاوه ځکه يې نو اوس ماخذ يا سرچينه د مسلمانانو اجماع او د هغوی عملي تواتر دی، مونږ به يې تفصيلات له همدې څخه واخلو او په راتلونکو بحثونو کې به يې بيان کړو.

د لمانځه هدف

الله مونږ ته د دايمي ذکر يعنې تل د خپل ياد امر کړی دی يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا * وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً* [۳۵] (اې مومنانو! الله ډېر يادوئ او سهار و مابنام يې تسبيحات وايئ) د دې غوره شکل لمونځ دی، ځکه بنده په ټول وجود سره خپل رب يادوي بلکې د هغه د ياد عملي انځور ګرزي. له همدې امله په شپه او ورځ کې پنځه ځله د

[۳۵] الأحزاب ۳۳: ۴۱، ۴۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې یادونې لپاره لازم شوی دی. په قرآن کې دي چې کله موسی علیه السلام ته نبوت ورکړل شو نو الله وویل:

إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى * وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَى * إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِي*(طه ۲۰: ۱۱ - ۱۴)

"زه ستا رب یم نو پایزار دې وباسه ځکه ته د طوی په سیمځلي ناوه کې یې (او پوه شه) چې ته مې د نبوت لپاره غوره کړی یې، له همدې کبله چې څه درته وحې کېږي وایې وره، په دې کې شک نه شته چې زه الله یم، له ما پرته هیڅ معبود نه شته نو زما عبادت کوه او د یاد لپاره مې لمونځ کوه."

د لمانځه شرایط

د لمانځه ضروري شرایط دادي:

لمونځ کوونکی به نشه نه وي.

که ښځه وي د حیض او نفاس په حالت کې به نه وي.

او دس به لري او تر حیض و نفاس یا جنابت وروسته به یې غسل کړی وي.[۳۶]

که د سفر، ناروغۍ او یا اوبو د نه شتون له امله دا دواړه کارونه سخت وي نو تیمم دې ووهي.

د لمانځه کولو پر مهال دې قبلې ته مخ کړي.

په لمانځه کې دا شیان همېشه ضروري دي، مګر څرنګه چې عرب تر اسماعیل علیه السلام وروسته پېړۍ -پېړۍ د انبیاء علیهم السلام له هدایت څخه د بې برخیتوب په وجه په دا ډول ځینو معاملاتو کې پوهونې ته اړوو ځکه نو قرآن د هغو د یادولو لپاره ډېرې شیان په پوره وضاحت سره په خپله بیان کړي دي. د لومړنیو درو شیانو په اړه یې ویلي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنتُمْ سُكَارَى حَتَّىَ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلاَ جُنُبًا إِلاَّ

"اې مومنانو! د نشې په حالت کې تر هغو لمانځه ته مه نژدې کېږئ چې کوم څه وایاست

[۳۶] یعنې هغه حالت چې د جنسي اړیکو تر نیولو او انزال وروسته وي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُواْ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاء أَحَدٌ مِّنكُم مِّن الْغَآئِطِ أَوْ لاَمَسْتُمُ النِّسَاء فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ إِنَّ اللّـهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا (النساء ۴ : ۴۳)

پرې پوه شئ او د جنابت په حالت کې هم مګر دا چې هدف مو تېرېدل وي څو چې مو غسل نه وي کړی او که کله داسې وشي چې تاسو ناروغان یا په سفر کې یاست، یا په تاسو کې څوک څارا ګښت ته تېر شي او یا یې له مېرمنې سره جنسي اړیکې نیولې وي، بیا اوبه ونه مومئ نو پاکې خاورې ته اراده وکړئ او خپل مخونه او لاسونه پرې مسح کړئ، بې شکه الله عفوه کوونکی او بخښونکی دی."

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاَةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُواْ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاء أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لاَمَسْتُمُ النِّسَاء فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللّـهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَـكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (المائدة ۵ : ۶)

"اې مومنانو! کله چې لمانځه ته ولاړ شئ نو خپل مخ او لاسونه تر څنګلو ومینځئ او خپل سرونه مسح کړئ، خپلې پښې تر بجلکو ومینځئ او که د جنابت په حالت کې یاست نو ولمبېږئ او که کله داسې وي چې ناروغ یا په سفر کې یاست، یا په تاسو کې یو څارا ګښت ته تېر شوی وي، یا مو له ښځو سره جنسي اړیکې نیولې وي بیا اوبه ونه مومئ نو پاکې خاورې ته قصد وکړئ او خپل مخ او سر پرې مسح کړئ، الله پر تاسو د ژوند تنګي نه غواړي بلکې غواړي چې تاسو پاک کړي او خپل نعمت دربانديې پوره کړي، څو یې شکر وباسئ."

همدارنګه یې د قبلې په اړه ویلي:

قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ (البقرة ۲ : ۱۴۴)

"مونږ ییا -ییا اسمان ته ستا د نظر پورته کېدل وینو (اې رسوله!) نو مونږ پرېکړه کړې چې ته د هغې قبلې لور ته واوړه چې ستا خوښه ده، ځکه نو اوس خپل مخ د مسجد حرام لور ته واړوئ او هر ځای چې یاست (په لمانځه کې) خپل مخ د هغه لور ته کړئ."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې اياتونو کې نشه او جنابت په یوه ډول د لمانځه فاسدوونکي بلل شوي دي، الله ویلي: له دې سره لمانځه او د لمانځه ځای ته مه ورځئ، له دې څخه ښکاري چې دا دواړه د مرداری حالتونه دي، یوازې دومره توپیر دی چې نشه د عقل او جنابت د بدن مرداري ده. هر سړی پوهیږي لکه څرنګه چې شراب عقل کمزوری کوي همدارنګه د جنابت انقباض هم د زړه هغه حضور او انشراح ختموي چې د لمانځه لپاره په کار دی. البته الله دومره اجازه ورکړې چې که څوک د ضرورت له امله په دې حالت کې صرف له مسجده تېرېږي نو تېرېدای شي. ویلي یې دي: د جنابت تر دې حالت وروسته غسل ضروري دی، له دې پرته لمونځ نه شي کېدای. د غسل لپاره په دې اياتونو کې د (تغتسلوا) او (فاطهروا) الفاظ راغلي دي، د دې تقاضا داده چې په پوره توجو سره ترسره شي. په دې اړه چې په روایاتو کې د رسول الله ﷺ کومه تګلاره نقل شوې ده تفصیل یې دادی:

لومړی دي لاس ومینځل شي، بیا دي فرج په چپ لاس ومینځي او بنه دي صفا کړي او بشپړ اودس دي وکړي، مګر پښې دي په پای کې ومینځي، ورپسې دي د سر په وېښتانو کې ګوتې واچوي، اوبه دي پرې توی کړي چې بیخونه یې ورسېږي، بیا دي پر ټول بدن اوبه وبهوي او په اخیر کې دي پښې ومینځي.

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله د جنابت غسل کاوه نو لومړی به یې دواړه لاسونه ومینځل، بیا به یې په راسته لاس پر چپه لاس اوبه واچولې، خپل فرج به یې پاک کړل، بیا به یې د لمانځه په څېر اودس وکړ، وروسته به یې اوبه ورواخیستلې او خپلې ګوتې به یې دوېښتانو په بیخو کې واچولې، کله چې به په وه شو اوبه یې پوستې ته رسېدلې دي نو پر خپل سر به یې درې لپې اوبه واچولې، بیا به یې پر ټول بدن اوبه وبهولې او بیا به یې دواړې پښې ومینځلې.[۳۷]

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې زما خاله میمونې رضي الله عنها وویل: ما رسول الله ﷺ ته له جنابت څخه د غسل اوبه وروړې نو ده لومړی دواړه لاسونه دوه یا درې ځله ومینځل، بیا یې په خپل لوښي کې اوبه واچولې، خپل فرج یې په چپ لاس ومینځل، بیا یې هغه لاس پر ځمکه ښه ومښی، بیا یې د لمانځه په څېر اودس وکړ، ورپسې یې درې ځله په لپه پر سر اوبه واچولې، بیا یې ټول بدن ومینځه، وروسته له هغه ځایه لرې شو او دواړې پښې یې

[۳۷] مسلم، شمېره: ۷۱۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ومينځلي.[۳۸]

په دې اياتونو کې د اوداسه طريقه دا بيان شوې چې لومړی دې مخ ومينځي، بيا دې تر څنګلو لاس ومينځي، بيا دې د تول سر مسح وکړي او بيا دې پښې ومينځي. د تول سر مسح ځکه ضروري ده چې د دې لپاره په ايت کې د وامسحوا برؤسکم الفاظ راغلي دي او له عربيت سره لږ اشنا په دې پوهېږي چې په داسي ځايونو کې با د شمولیت لپاره وي. همدارنګه د پښو حکم که څه هم ظاهرا تر وامســـحوالاندي معلومېږي مګر ارجلکم منصوب دی او وروسته يې د الی الکعبين الفاظ دي چې په پوره باور سره پرېکړه کوي چې دا پر ايديکم عطف دي، ځکه که پر برؤسکم عطف وای نو د الی الکعبين قيد ته اړتيا نه وه، تيمم ته پام وکړئ په کوم ځای کې چې د مسحې امر راغلی دی هلته د الی المرافــق قيد پر همدې بنسټ نه دی ياد شوی ځکه نو بايد پښې حتما ومينځل شي. په ايت کې يې يادونه صرف له دې امله وروسته شوې چې خلګو ته په اوداسه کې د اندامونو ترتيب بيان شي.

رسول الله ﷺ په عمومي ډول څرنګه اودس کاوه؟ په دې اړه د تولو رواياتو له راټولو ځای کولو کوم شکل تر لاسه کېږي هغه دادی چې ده غاښونه پاکول، بيا يې په راسته لاس اودس پيلاوه، اول يې دواړه لاسونه مينځل، بيا يې دې ځله په خوله او به رغړولې، دې ځله يې پزه پاکوله، دې ځله يې مخ مينځه، ږيره يې خلالوله، بيا يې تر څنګلو لاسونه مينځل، په ښلو اوبو يې د سر مسح کوله، له دې سره يې دباندې او بهر غوږونه صفا کول، د سر مسح يې په داسي توګه کوله چې له تندي څخه يې دواړه لاسونه د سر د شا پر لور وړل او بيرته يې راوړل، تر دې وروسته يې لومړی چپه او بيا راسته پښه مينځله.[۳۹]

رسول الله ﷺ ځينې وختونه د اوداسه اندامونه يو ځل او ځينې وختونه دوه ځله هم مينځلي دي.[۴۰]

له رواياتو څخه دا هم معلومېږي چې رسول الله ﷺ تر اوداسه وروسته د اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له و اشهد ان محمدا عبــده ورســوله[۴۱] ويلو او دوه رکعته لمانځه فضيلت بيان کړی دی.[۴۲]

---

[۳۸] مسلم، شمېره: ۷۲۲

[۳۹] بخاري، شمېره: ۱۵۹، ۱۸۵، مسلم، شمېره: ۵۳۸، ۵۵۵

[۴۰] بخاري، شمېره: ۱۵۷، ۱۵۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا راز ویل شوي چي رسول الله ﷺ تر ویدېدو وړاندي د اوداسه[43] په ځانګړي ډول د جنابت په حالت کي تر ویدېدو، خوراک، څښاک او بیا جماع وړاندي د اوداسه ترغیب بیان کړی او هغه یې خوښ کړی دی.[1144]

د اوداسه د فضیلت په اړه چي د رسول الله ﷺ کومې ویناوې نقل شوې دي ځینې یې دادي:

له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل: کله چي مومن بنده اودس کوي او په خوله اوبه رغړوي نو د خولې ګناه یې له منځه ځي، کله چي په پزه اوبه رغړوي د پزې ګناه یې ختمېږي، کله چي مخ مینځي د مخ ګناه یې ختمېږي ان تر باڼو ګانو لاندي هم وزي، کله چي دواړه لاسونه مینځي نو د لاسونو ګناه یې ختمېږي ان تر نوکانو لاندي هم وزي، کله چي د سر مسح کوي نو د سر ګناه یې ختمېږي، ان له غوږونو څخه یې هم وزي او کله چي پښې مینځي نو د پښو ګناه یې ختمېږي، ان تر نوکانو لاندي یې هم وزي. ده وویل: مسجد ته تګ او لمونځ کول یې پر دې زیادت دی.[45]

له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل: د قیامت په ورځ به زما د امت کسان را وبلل شي نو د اوداسه له کبله به یې تندي او لاس و پښې ځلېږي، نو د چا چي زړه غواړي خپله رڼا دي ډېره کړي.[46]

کله چي یو ځل اودس وشي نو تر هغه وخته پاتي وي چي منافي حالت یې نه وي راغلی، د اوداسه دا لاربښوونه د هغه حالت لپاره ده چي اودس ونه لري مګر که څوک د خپل زړه د تازه کولو لپاره بیا اودس کوي، په دې صورت کې دا د شریعت غوښتنه نه

---

[41] زه شاهدي ورکوم چي له الله پرته هیڅ معبود نه شته، دی یو دی هیڅ شریک نه لري او شاهدي ورکوم چي محمد د ده بنده او رسول دی.

[42] مسلم، شمېره: ۵۵۳، ۵۵۴

[43] بخاري، شمېره: ۲۴۷، مسلم، شمېره: ۶۸۸۲

[44] بخاري، شمېره: ۲۸۸، مسلم، شمېره: ۶۹۹، ۷۰۰، ۷۰۷

[45] الموطا، شمېره: ۶۷ ښکاره ده چي مراد یې له حقوق العباد سره تړلي ګناهونه یا هغه معصیتونه نه دي چي توبې، جبیرې او یا کفارې ته اړتیا لري.

[46] بخاري، شمېره: ۱۳۶، مسلم، شمېره: ۵۷۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بلکي يو فضيلت دی.

د اوداسه ماتوونکي دادي:

۱) بولې کول.

۲) لويي بولې کول.

۳) د باد وتل، په لوړ اوازوي او که په ټيټ.

۴) د مذي او يا ودي وتل.

دا شيان که د ناروغۍ له املې نه وي نو اودس ماتوي، خوب او بې هوښي پر خپل ځای اودس ماتوونکي نه دي مګر څرنګه چې انسان په خپل اودس نه وي خبر ځکه نو د احتياط تقاضا داده چې تر دې وروسته دي هم حتما اودس وشي. د سفر، ناروغۍ او اوبو د نه شتون په صورت کي که اودس او غسل دواړه مشکل شي نو پورته چې د نساء او مائدې کوم ایاتونه نقل شول په هغو کي الله اجازه ورکړې چې انسان تيمم وهلای شي. په همدې ایاتونو کي يې طريقه دا بيان شوې چې د کوم پاک ځای په ليدو دي خپل مخ او لاسونه مسح کړي، له رسول الله ﷺ څخه په دې اړه روايت شوی چې د دې لپاره يې دواړه لاسونه پر خاوره ووهل، بيا يې پو کړل، په چپه لاس يې راسته لاس او په راسته لاس يې چپه لاس مسح کړ او بيا يې دواړه لاسونه پر مخ تېر کړل.[۴۷] قرآن تصريح کړې چې تيمم د هر ډول نجاست لپاره کفايت کوي، د اوداسه په ماتوونکو کي چې کوم شی پېښ شي نو تر هغه وروسته هم کېدای شي او د جنسي اړيکو تر نيولو وروسته د جنابت د غسل پر ځای هم کېدای شي. همدارنګه يې په ډاګه کړې چې که د ناروغۍ او سفر په حالت کي او به موجود وي نو انسان تيمم وهلای شي.

استاذ امام ليکي:

"... که په ناروغۍ کي اودس يا غسل تاوان ولري نو له همدې کبله ورسره رعايت شوی، همدارنګه په سفر کي داسي بېلابېل حالات راتلای شي چې انسان تيمم ته مجبور پرې مثلا اوبه نېستي نه وي خو کمې وي او دا وپره وي چې که اوبه د غسل او نورو لپاره وکارول شي نو د څښاک اوبه به کافي وي او يا دا وپره وي چې که غسل کوم نو له

[۴۷] بخاري، شمېره: ۳۳۸، ۳۴۷، ابوداود، شمېره: ۳۲۱، ۳۲۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کاروان څخه پاتې‌ږم، یا د اور ګاډي او الوتکې داسي سفر وي چې غسل کول ډېر تکلیف غواړي." (تدبر قرآن ۳ / ۳۰۳)

د رسول الله ﷺ د تیمم پر همدې حکم په قیاس کولو پر موزو او لنګوټه مسح کړې ده [۴۸] او خلګو ته یې اجازه ورکړې چې که یې د اوداسه په حالت کې موزې په پښو کړې وي نو مقیم یوه شپه او یوه ورځ او مسافر درې شپې او ورځې د پښو مینځلو پر ځای پر موزو مسح کولای شي. [۴۹]

همدارنګه یې د غسل په اړه اجازه ورکړې چې که د ښځو وېښتان اوبدل شوي وي نو له پرانیستلو پرته دي برسېره اوبه ورباندې واچوي [۵۰] او په کومو شیانو چې غسل واجبېږي که هغه د ناروغۍ شکل خپل کړي نو تر یو ځل غسل وروسته پاتې لمنځونه له هغه پرته هم کېدای شي. [۵۱]

تیمم خو ظاهرا کومه پاکي نه را منځ ته کوي، مګر که غور وکړو نو په ذهن کې د پاکۍ د اصلي طریقې د ساتنې له امله ډېر ارزښت لري. په شریعت کې دې شي ته په عمومي ډول ډېر پام شوی چې کله یو حکم په اصلي شکل نه شي عملي کېدای یا ډېر سخت وي نو د شبیه په بڼه یې یادګار باقي پاتې کېږي، ګټه یې دا وي چې کله حالات عادي شي نو ذهن د اصلي شکل پر لور ګرزېدو ته چمتو وي.

د لمانځه لپاره د قبلې تعین هم اړین دی، ښکاره ده چې له دې پرته د جماعت د لمانځه هیڅ نظم نه شي را منځ ته کېدای، له همدې کبله تل په الهي شریعتونو کې د دې حکم ورکړل شوی دی، په سورت یونس کې دي چې کله موسی علیه السلام په مصر کې د بني اسرائیلو دیني تنظیم پیل کړ نو الله ورته امر وکړ چې د مصر په بېلابېلو برخو کې دي د لمانځه لپاره ځینې ځایونه ځانګړي شي او دوی چې د لمانځه لپاره کوم کور وټاکي نو هغه دي قبله وبولي او د جماعت لمونځ دي ادا کړي. [۵۲] وروسته د بیت المقدس تر ودانولو په دوی کې هغه تابوت همدا حیثیت درلود چې د بقرې په سورت کې یې یادونه شوې ده، کله چې رسول الله ﷺ مبعوث شو نو

---

[۴۸] بخاري، شمېره: ۱۸۲، ۲۰۳، ۲۰۵، مسلم، شمېره: ۶۲۲، ۶۳۳

[۴۹] مسلم، شمېره: ۶۳۹

[۵۰] مسلم، شمېره: ۷۴۴

[۵۱] بخاري، شمېره: ۲۲۸، ۳۰۶، مسلم، شمېره: ۳۵۷

[۵۲] یونس ۱۰ : ۸۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يهودو د بيت المقدس لور ته په مخ کولو لمنځونه کول. رسول الله ﷺ ته هم دا امر وشو او حکمت يې دا ښودل شوی چې په دې سره هدف د بني اسماعيلو ازموينه ده، يعني ايا هغوی د رسول پيروي کوي او که د خپلو تعصبونو پر بنسټ ترې د مخ اړونې رويه خپلوي؟.[۵۳] کله چې دا هدف پوره شو نو د قبلې د بدلون امر راغی او د مسلمانانو لپاره بيت الحرام همېشنۍ قبله وټاکل شوه.

پورته چې د سورت البقرې کوم ايت نقل شو په هغه کې همدا حکم بيان شوی دی، په دې ايت کې له مسجد حرام څخه مراد هغه عبادت ځای دی چې په منځ کې يې بيت الله پرته ده، هغه لور ته د مخ کولو لپاره د (فول وجهک شطر المسجد الحـــرام) الفاظ راغلي دي، ښکاره ده چې هدف د بيت الله لور ته مخ کول دي. بالکل د پزې پر برابر بيت الله ته د مخ کولو غوښتنه نه ده شوې خو په ايت کې په پوره تاکيد سره ويل شوي چې مسلمانان که په مسجد حرام کې دننه او يا دباندې هر ځای وي نو بايد په لمانځه کې د همدې مسجد لور ته مخ کړي، دې تاکيد ته ځکه اړتيا وه چې يهودو او نصارا وو په بيت المقدس کې دننه هغه قبله ګڼله، خو له هغه څخه دباندې يې لوبديځ او يا ختيځ قبله ګرزولې وه ځکه نو مسلمانانو ته لارښوونه وشوه چې دوی دې په اقامت و سفر او بيت الحرام کې دننه و دباندې هر ځای د همدې مسجد لور ته په مخ کولو لمونځ وکړي.

څرګنده ده له دې څخه هغه حالات استثنا دي چې د قبلې معلوم ول سخت وي او يا په غير عادي حالاتو کې يو څوک په تلو او يا پر سپرلۍ لمانځه کولو ته مجبور شي. د رسول الله ﷺ په اړه ويل شوي چې ده خپل نفلي لمنځونه له دې املې پر سپرلۍ برسېره او قبلې ته له مخ کولو پرته کول چې د هغه لپاره تم کېدل به د کاروان د زحمت سبب شي.[۵۴]

د لمانځه اعمال

په شريعت کې چې د لمانځه لپاره کوم اعمال ټاکل شوي هغه دادي:

لمونځ دې په رفع اليدين يعني د دواړو لاسونو په پورته کولو شروع شي،

قيام دې وکړي،

---

[۵۳] البقرة ۲ : ۱۴۳

[۵۴] بخاري، شمېره: ۱۰۰۰ او ۱۰۹۸، ۱۰۹۹، مسلم، شمېره: ۱۶۱۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بيا دي رکوع ته ولاړ شي،

بيرته دي را پورته شي

او بيا دي يو په بل پسي دوې سجدې وکړي

او لمونځ کوونکی دي د هر لمانځه په دويم او اخيري رکعت کي پر دواړو ځنګنونو کښېنې.

که لمونځ ختموي نو د ناستې په حالت کي د مخ په ګرزولو لمونځ ختم کړي.

د لمانځه دا اعمال په اجماع او عملي تواتر ثابت دي. رسول الله ﷺ وويل: صلوا کما رأيتموني اصلي.[۱۲۵۵] (هغه ډول لمونځ کوئ لکه څرنګه چې ما وينئ لمونځ کوم) نو رسول الله ﷺ چې دا اعمال په څومره پاملرنه او کومه طريقه ترسره کول موږ ېې په همدې هدف دلته تفصيلات بيانوو.

رفع اليدين

رسول الله ﷺ به کله له تکبير سره، کله تر تکبير وړاندې او کله تر تکبير وروسته رفع اليدين کول.[۵۶] لاسونه به يې خلاص وو او ګوتې به يې نه بېخي مښتې وې او نه يو مخ جلا - جلا.[۵۷] لاس به يې داسي پورته کول چې کله به تر اوږو او کله به د غوږونو پورتنۍ برخې ته رسېدل.[۵۸]

له روايتونو ښکاري چې رسول الله ﷺ ځينې وختونه تر رکوع وړاندې او وروسته هم رفع اليدين کول.[۵۹] همدارنګه يې ځينې وختونه درېيم رکعت ته د ولاړېدو پر مهال هم

---

[۵۵] بخاري، شمېره: ۶۳۱

[۵۶] بخاري، شمېره: ۷۳۵، ۷۳۷، مسلم، شمېره: ۸۶۲، ۸۶۴، ۸۶۵

[۵۷] ابوداود، شمېره: ۷۵۳، ابن خزيمه، شمېره: ۴۵۹، السنن الکبری للبيهقي، شمېره: ۲۳۱۷، نسايي، شمېره: ۸۸۴

[۵۸] بخاري، شمېره: ۷۳۶، ۷۳۸، مسلم، شمېره: ۸۶۵، ابوداود شمېره: ۷۲۶، نسايي شمېره: ۸۸۱

[۵۹] بخاري، شمېره: ۷۳۷، مسلم، شمېره: ۸۶۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کول.[۶۰] ځینې وختونه به یې سجدې ته د تلو او له هغې څخه د را پورته کېدو پر مهال هم کول.[۶۱]

قیام

په قیام کې به رسول الله ﷺ نبغ[۶۲] او لاس ټرلی درېده،[۶۳] لاسونه به یې داسې ټرل چې د راسته لاس یو څه برخه به یې د چپ لاس پر شا، یو څه برخه پر مړوند او یو څه برخه پر لېچ وه.[۶۴] رسول الله ﷺ خلک په قیام کې پر راسته لاس د چپه لاس له اېښودو منعه کړي دي.[۶۵]

رکوع

رسول الله ﷺ به په رکوع کې لاسونه پر ګونډو داسې اېښودل چې داسې به ښکارېدل لکه ټینګ چې یې نیولي وي.[۶۶] ګوتې به یې تر ګونډو کښته او پرانیستې وې،[۶۷] او څنګلې به یې له ارخونو لرې ساتلې،[۶۸] دواړه لاسونه به یې د لیندې د دوو غاښو په څېر نیولي وو،[۶۹] سر به یې نه لوړ وو او نه ټیټ بلکې له شا سره به یې برابر اوه.[۷۰]

او ویل به یې: اې خلګو! په رکوع او سجده کې چې د چا ملا برابره نه وي لمونځ یې نه شته.[۷۱]

---

[۶۰] بخاري، شمېره: ۷۳۹
[۶۱] نسایي، شمېره: ۱۰۸۶
[۶۲] ابوداود، شمېره: ۷۳۰، ابن ماجه، شمېره: ۸۶۲
[۶۳] مسلم، شمېره: ۸۹۶، ابوداود، شمېره: ۷۵۹
[۶۴] مسلم، شمېره: ۸۹۶، نسایي، شمېره: ۸۹۰
[۶۵] مسلم، شمېره: ۸۹۶
[۶۶] بخاري، شمېره: ۸۲۸، ابوداود، شمېره: ۷۳۴
[۶۷] احمد، شمېره: ۱۰۴۲۰
[۶۸] ابوداود، شمېره: ۷۳۴
[۶۹] ابوداود، شمېره: ۷۳۴
[۷۰] مسلم، شمېره: ۱۱۱۰، ابوداود، شمېره: ۷۳۰
[۷۱] ابوداود، شمېره: ۸۵۵، نسایي، شمېره: ۱۰۲۸، ابن ماجه، شمېره: ۸۷۰، ۸۷۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قومه

کله چې به له رکوع قومې ته پورته شو نو بالکل سیده به ودریږ او د ملا هر هډوکی به یې خپل ځای ته ولاړ.[۷۲] په عمومي ډول به یې دا ولاړه له رکوع سره برابره وه خو کله - کله به دومره ډېر ودریږ چې خلګو به ګومان وکړ غالبا سهوه شوی دی.[۷۳] ده به ویل: د هغه چا لمونځ د خدای له توجو محروم دی چې له رکوع په پورته کېدو خپله ملا نه سموي او سجدې ته ځي.[۷۴]

سجده

کله چې به سجدې ته ولاړ نو د لاسونو ګوتې به یې سره مښتې وې او ورغوي به یې غوړول.[۷۵] د ګوتو مخ به یې قبلې ته وو[۷۶] لاسونه به یې ځینې وختونه له اوږو سره برابر او ځینې وختونه له غوږو سره برابر وو،[۷۷] او دومره به پرانیستي وو چې کوچنی وری تر پې وتلای شوای،[۷۸] لاسونه به یې له ارخونو دومره لرې وو چې شاته ناستو کسانو به یې د بغلونو سور رنګ لیده،[۷۹] پښې به یې جګې درولې،[۸۰] د پښو ګوتې به یې د قبلې پر لور وې،[۸۱] په یو ځای کې یې د لینګو د پیوستون یادونه هم شوې ده.[۸۲] ده به ویل: ما ته پر تندي، پزه، دوو لاسونو، دوو ګونډو او د دوو پښو پر ګوتو د سجدې کولو امر شوی دی.[۸۳]

---

[۷۲] بخاري، شمېره: ۸۲۸

[۷۳] بخاري، شمېره: ۸۰۰، مسلم، شمېره: ۱۰۶۰

[۷۴] احمد، شمېره: ۱۴۲۰

[۷۵] ابن ابی شیبه، شمېره: ۲۷۱۶

[۷۶] ابن ابی شیبه، شمېره: ۲۷۱۲، ۲۷۱۶

[۷۷] ابوداود، شمېره: ۷۳۴، نسایي، شمېره: ۸۹۰

[۷۸] مسلم، شمېره: ۱۱۰۷

[۷۹] بخاري، شمېره: ۸۰۷، مسلم، شمېره: ۱۱۰۶، ۱۱۰۸

[۸۰] مسلم، شمېره: ۱۰۹۰

[۸۱] بخاري، شمېره: ۸۲۸

[۸۲] ابن خزیمه، شمېره: ۶۵۴، ابن حبان، شمېره: ۱۹۳۳

[۸۳] بخاري، شمېره: ۸۱۲، مسلم، شمېره: ۱۰۹۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دوو سجدو تر منځ ناسته

رسول الله ﷺ به د دوو سجدو تر منځ د چپې پښې په غوړولو په پوره اطمنان سره ور باندې کښېناست.[۸۴] په ناسته، سجده او ولاړه کې يې وخت لږ او ډېر سره يو وو.[۸۵] مګر د قومې په څېر به په دې ناسته کې هم کله - کله دومره وځنډېد چې خلګو به فکر وکړ غالبا تېروتلی دی.[۸۶] داسې نقل هم شوی دی چې ځينې وختونه به تر دويمې سجدې وروسته د سيده ولاړېدو پر ځای کښېناست او بيا به دويم رکعت ته پورته کېده.[۸۷]

اخيري ناسته

په اخيري ناسته کې به عيني هماغه ډول کښېناست لکه د دوو سجدو په منځ کې چې به يې چپه پښه غوړوله او ورباندې کښېناست به،[۸۸] راسته پښه به يې درولې،[۸۹] راسته لاس به يې وغوړاوه، پر راسته ګونډه به يې کښود او چپه لاس به يې وغوړاوه پر چپه ګونډه به يې کښود او له بټې ګوتې سره په متصله ګوته به يې اشاره کوله.[۹۰] شکل يې داسې وو چې تر ناستې وروسته به يې پاتې ګوتې راټولې کړې، بټه ګوته به يې له منځنۍ سره وصل کړه او کله - کله به يې له دواړو حلقه جوړوله.[۹۱]

د لمانځه په وروستي رکعت کې به ځينې وختونه داسې کښېناست چې چپ کونډۍ به يې پر ځمکه وو او چپه پښه به يې د راسته پښې پر لور ايستله.[۹۲]

د لمانځه ختمولو لپاره به يې عموما راسته او چپه دواړو لورو ته مخ ګرزاوو.[۹۳]

---

[۸۴] ابوداود، شمېره: ۷۳۰، ۷۳۴

[۸۵] بخاري، شمېره: ۷۹۲، مسلم، شمېره: ۱۰۵۷

[۸۶] بخاري، شمېره: ۸۲۱، مسلم، شمېره: ۱۰۶۰

[۸۷] بخاري، شمېره: ۸۲۳، ابوداود، شمېره: ۷۳۰

[۸۸] بخاري، شمېره: ۸۲۸، ابوداود، شمېره: ۷۳۱، ۷۳۴

[۸۹] بخاري، شمېره: ۸۲۸، ابوداود، شمېره: ۷۳۰، ۷۳۴

[۹۰] مسلم، شمېره: ۱۳۰۷، ابوداود، شمېره: ۷۳۴

[۹۱] مسلم، شمېره: ۱۳۰۹، ۱۳۱۰، ۱۳۱۱دا اشاره د څه لپاره وه؟ څرنګه چې يې رسول الله ﷺ کوم وضاحت نه دی کړی له همدې کبله منطقي داده چې دا د ده يو ځانګړی عمل وو او د سنت په توګه يې د عملي کولو اراده نه درلوده.

[۹۲] بخاري، شمېره: ۸۲۸، ابوداود، شمېره: ۷۳۰، ۷۳۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ به د لمانځه دا ټول اعمال په ډېره معتدله طريقه او اطمنان سره ترسره کول او خلګو ته يې هم سپارښتنه کوله.[۹۴]

د لمانځه اذکار

د لمانځه اذکار دادي:

د لمانځه په پيل کي دي الله اکبر وويل شي،

په ولاړه دي سورت الفاتحه تلاوت شي او بيا دي له خپل توان سره سم د پاتي قرآن يوه برخه ووايي،

رکوع ته د تلو پر مهال دي الله اکبر ووايي،

له رکوع څخه د را پورته کېدو پر مهال دي سمع الله لمن حمده وويل شي،

سجدې ته د تلو او له هغو څخه د را پورته کېدو پر وخت دي الله اکبر وويل شي،

له ناستې څخه د ولاړېدو پر مهال دي هم الله اکبر وويل شي

او د لمانځه ختمولو لپاره دي السلام عليکم و رحمة الله وويل شي.

امام دي تل الله اکبر (الله تر ټولو لوی دی)، سمع الله لمن حمده (الله د هغه چا خبره واورېده چې د ده حمد يې ووايه) او السلام عليکم و رحمة الله (پر تاسو دي سلامتي او د الله رحمت وي) په لوړ اواز ووايي، د مانبام او ماخوستن په دوو لومړنيو رکعتونو او د سهار، جمعې و اخترانو په لمنځونو کي هم قرأت په لوړ اواز ويل کېږي. د مانبام په درېيم او د ماخوستن په درېيم و څلورم کي تل پټ وي. د ماپښين او مازيګر د لمنځونو طريقه هم داده او په څلورو سرو رکعتونو کي به يې قرأت خفيه ويل کېږي.

د لمانځه لپاره شريعت همدا اذکار ټاکلي دي، ژبه يې عربي ده او د لمانځه د اعمالو په څېر دا هم په اجماع او عملي تواتر ثابت دي. له دې پرته چې لمونځ کوونکی په کومه ژبه وغواړي د تسبيح، حمد، دعا او مناجات په څېر ذکر په خپل لمانځه کي کولای شي.

---

[۹۳] مسلم، شمېره: ۱۳۱۵

[۹۴] بخاري، شمېره: ۷۹۳، ۶۶۶۷، مسلم، شمېره: ۱۱۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ چې په دې اړه څه ویلي او د ده کوم خوښ اذکار په روایاتو کې نقل شوي دلته یې له یوه مناسب ترتیب سره نقلوو.

په قیام کې

۱) رسول الله ﷺ د لمانځه په لومړي رکعت کې تر تکبیر وروسته او تر قرأت وړاندې ځینې وختونه دعا کوله او ځینې وختونه به یې د الله حمد او ثنا بیانوله.

له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به تر تکبیر تحریمه وروسته او تر قرأت وړاندې یو څه شېبه خاموش ولاړ وو. ما وویل: اې د الله رسوله! زما مور او پلار دې تر تا قربان شي، کله چې ته د تکبیر او قرأت تر منځ خاموش یې نو څه وایې؟. ده وویل: دا دعا وایم:

اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِيْ مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِيْ مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ.

"ژباړه: اې الله! ته ما له خپلو ګناهونو داسې لرې کړه لکه څرنګه چې دې ختیځ او لوېدیځ له یوه بل څخه لرې کړې دي، اې الله! له ګناهونو څخه مې داسې پاک کړه لکه سپینه جامه چې له خیرو پاکېږي، اې الله! زما ګناهونه په اوبو، واوره او ږلی ومینځه."

له علي ﷺ څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ لمونځ پیل کړ نو تر تکبیر وروسته به یې داسې ویل:

وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيْفاً وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ، إِنَّ صَلاَتِيْ، وَنُسُكِيْ، وَمَحْيَايَ، وَمَمَاتِيْ، لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ. اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّيْ وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِيْ وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ جَمِيْعاً إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلاَّ أَنْتَ. وَاهْدِنِيْ لأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِيْ لأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّيْ سَيِّئَهَا، لاَ يَصْرِفُ عَنِّيْ سَيِّئَهَا إِلاَّ

[۹۵] بخاري، شمېره: ۷۴۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ كُلُّهُ بِيَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.[۹۶]

" ما په ګوښه کېدو خپل مخ د هغه ذات لور ته کړی چې ځمکه او اسمان يې پيدا کړي او زه هيڅکله له مشرکانو څخه نه يم، زما لمونځ، قرباني، ژوند او مرګ ټول د الله رب العالمين لپاره دي، هيڅ شريک نه لري، ما ته د همدې امر شوی دی او زه له مسلمانانو څخه يم، اې الله! ته پاچا يې، له تا پرته هيڅ معبود نه شته، ته مي رب او زه دې بنده يم، ما پر خپل ځان ظلم کړی او اوس خپل ګناهونه منم، نو ته مي ټولي ګناوې وبخښه او په دې کې شک نه شته چې ګناهونه صرف ته بخښې، ما ته د ښو اخلاقو هدايت وکړه او هدايت کوونکی يې هم ته يې، له بدو اخلاقو مي لرې کړه او لرې کوونکی يې هم ته يې، زه حاضر يم، اې ربه! او په بشپړ ډول ستا د حکم پر ځای کولو ته تيار يم، ټولي ښېګڼې ستا په لاس کې دي او بدي ستا لور ته منسوبه نه ده، زه ستا په قوت قايم يم او ستا لور ته به درګرزم، ته برکتمن او لوړ يې، زه له تا بخښنه غواړم او ستا لور ته رجوع کوم."

له عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ لمونځ په دې کلمو پيلاوه:

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ.[۹۷]

" اې الله! ته پاک يې او د ښو صفتونو څښتن يې، ستا نوم ډېر برکتمن دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته هيڅ معبود نه شته."

له ام المؤمنين عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د شپې لمونځ په دې دعا پيلاوه:

اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيْلَ، وَمِيْكَائِيْلَ، وَإِسْرَافِيْلَ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادَكَ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ، اهْدِنِيْ لِمَا اخْتُلِفَ فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ، إِنَّكَ تَهْدِيْ مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيْمٍ.[۹۸]

" اې الله! د جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل ربه! د ځمکې او اسمان پيدا کوونکې!، په پټو او ښکاره پوهيدونکې! ته به د خپلو بندګانو تر منځ د هغه څه پرېکړه کوې چې دوی

---

[۹۶] مسلم، شمېره: ۱۸۱۲
[۹۷] ابوداود، شمېره: ۷۷۶
[۹۸] مسلم، شمېره: ۱۸۱۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پکي اختلاف کاوه، د حق په اړه چې څومره اختلافات دي ته مې په خپل توان لار ښوونه وکړه، په دې کې شک نه شته چې ته چا ته وغواړې (له خپل قانون سره سم يې) سمې لارې ته هدايت کوې."

له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ پر تهجد ودريد نو دا دعا به يې کوله:

اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، [وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ] [وَلَكَ الْحَمْدُ لَكَ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ] [وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ مُلِكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ] [وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ، وَقَوْلُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ الْحَقُّ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّوْنَ حَقٌّ، وَمحمّد حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ] [اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَبِكَ آمَنْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِيْ مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ] [أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ] ولا حول ولا قوة الا بالله. [99]

" اې الله! تا لره حمد دی، ته د ځمکې، اسمان او د هغو ترمنځ د هر شي اداره کوونکی يې، حمد تا لره دی، د ځمکې، اسمان او د هغو ترمنځ د هر شي پاچاهي ستا ده، تا لره دي حمد وي، ته د ځمکې او اسمان رڼا يې او هغو هم چې په ځمکه او اسمان کې دي، تا لره دي حمد وي، ته حق يې، وعده دي حقه ده، ستا ليدنه حق ده، کلام دي حق دی، جنت حق دی، دوزخ حق دی، ټول انبياء حق دي، محمد ﷺ حق دی، قيامت حق دی، اې الله! ما تا ته د اطاعت سر ټيټ کړی، پر تا مې ايمان راوړی، پر تا مې توکل کړی، تا ته مې رجوع کړې، ستا لپاره له دښمنانو سره وجنګېدم، خپل فرياد مې تا ته راوړی، ما چې څه مخته کړي او وروسته مې پرېښي هغه را وبخښه او څه چې مې په پټه او ښکاره کړي، ته مخته کوونکی او وروسته کوونکی يې، له تا پرته هيڅ معبود نه شته، همت او قدرت ټول د الله په فضل دي."

له دې پرته هم د شروع ځيني دعاوې او اذکار په روايا تو کې نقل شوي او دا خبره هم نقل شوې چې د لمانځه په پيل کې دې ته ورته ځيني کلمې د ځينو خلګو له خولې وتلې نو ده يې ستاينه کړې او ويلي يې دي چې د هغو لپاره د اسمان دروازې خلاصې شوې او

[99] بخاري، شمېره: ۱۲۰، ۶۳۱۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوولس ملایکې مي ولیدلې چې هرې یوې د ورا خیستلو لپاره تر بلې د وړاندیتوب هڅه کوله.[۱۰۰]

۲) تر دې وروسته یې د سورت الفاتحې تلاوت له الحمدلله رب العالمین څخه پیلاوه.[۱۰۱]

رسول الله ﷺ ویلي:

چا چې فاتحه ونه ویله ګواکې لمونځ یې ونه کړ.[۱۰۲]

له فاتحې پرته لمونځ نیمګړی دی، نیمګړی دی، نه پوره کېږي.[۱۰۳]

الله وایي: ما لمونځ د ځان او بنده تر منځ نیم په نیمه وېشلی او په دې کې چې بنده څه غواړي تر لاسه کوي یې، کله چې الحمدلله رب العالمین ووایي نو الله وایي: زما بنده زما حمد ووایه، کله چې الرحمن الرحیم ووایي نو الله وایي: زما بنده زما ثنا وویله، کله چې مالک یوم الدین ووایي نو الله وایي: زما بنده مي لویه بیان کړه، کله چې ایاک نعبد و ایاک نستعین ووایي نو الله وایي: دا زما او بنده تر منځ ده، دی چې څه وغواړي وبه یې مومي، بیا چې کله اهدنا الصراط المستقیم، صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم و لا الضالین ووایي نو الله وایي چې دا زما د بنده لپاره ده او ده چې څه غوښتې ده ته مي ورکړل.[۱۰۴]

۳) تر فاتحې وروسته چې به یې د قرآن کومه برخه ویله او ږده به هم وه او د حالاتو د غوښتنې له کبله به ډېره لنډه هم وه.[۱۰۵] ده به ویل: زه د اوږده لمانځه اراده وکړم، وروسته د کوم ماشوم اواز اورم نو د هغه د مور د خپګان له کبله یې را لنډوم.[۱۰۶]

قرأت یې په ترتیل سره وایه داسي چې هر حرف به یې ښکاره وو.[۱۰۷] خلګو ته به یې لارښوونه کوله چې تلاوت باید په ښکلي اواز او غنا سره وي.[۱۰۸] له روایاتو ښکاري چې

---

[۱۰۰] مسلم، شمېره: ۱۳۵۷

[۱۰۱] مسلم، شمېره: ۱۱۱۰

[۱۰۲] بخاري، شمېره: ۷۵۶

[۱۰۳] مسلم، شمېره: ۸۷۸

[۱۰۴] مسلم، شمېره: ۸۷۸

[۱۰۵] احمد، شمېره: ۱۳۲۸۹

[۱۰۶] بخاري، شمېره: ۷۱۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرأت پر مهال به يې د قرآن ځواب هم ورکاوه، د تسبيحاتو پر وخت به يې تسبيحات ويل.[۱۰۹] د سجدې پر ايياتونو به يې سجده کوله.[۱۱۰] د رحمت پر ايياتونو يې د رحمت او د عذاب پر ايياتونو يې د الله له عذاب څخه د پناه غوښتنه کوله او د دعا پر مضمون يې آمين وايه.[۱۱۱]

ده ويلي: کله چې امام غير المغضوب عليهم و لا الضالين ووايي نو آمين وايا ست ځکه د چا امين چې د فرشتو له امين سره برابر شي نو مخکيني ګناهونه يې بخښل کېږي.[۱۱۲] د تهجد د لمانځه په وروستي رکعت کي تر قرأت وروسته هم رسول الله ﷺ په عمومي ډول دعاوې کولې.[۱۱۳] همدې ته د قنوت دعاوې ويل کېږي، حسن ﷺ ته يې د همدې مقصد لپاره يوه دعا په دې الفاظو ورښودلې وه:

اللَّهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِيْ فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِيْ فِيْمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِيْ شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِيْ وَلاَ يُقْضَى عَلَيْكَ، إِنَّهُ لاَ يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ [وَلاَ يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ]، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ.[۱۱۴]

" اې الله! ما په هغو خلګو کي شامل کړه او هدايت راته وکړه چې تا ورته هدايت کړی، د هغو خلګو په عافيت کي مي شامل کړه چې تا عافيت ورکړی، د هغو خلګو په دوستي کي مي شامل کړه چې تا دوستان ګرزولي، څه چې دې راکړي په هغو کي برکت واچوه او د هغو شيانو له شره مي وساته چې تا يې زما لپاره پربکړه کړې، په دې کي شک نه شته چې ته حکم کوې او پر تا څوک حکم نه شي کولای او په دې کي شک نه شته چې تا څوک دوست کړ هيڅکله نه خوارېږي، ستا ذات ډېر لوی او برکتمن دی اې زمونږ ربه!. "

---

[۱۰۷] احمد، شمېره: ۲۵۹۳۱

[۱۰۸] بخاري، شمېره: ۷۷۲۷، نسايي، شمېره: ۱۰۱۷

[۱۰۹] مسلم، شمېره: ۱۸۱۴

[۱۱۰] بخاري، شمېره: ۱۰۶۷، ۱۰۷۴

[۱۱۱] مسلم، شمېره: ۱۸۱۴، ابوداود، شمېره: ۸۷۱، ۹۳۶

[۱۱۲] بخاري، شمېره: ۷۸۲، مسلم، شمېره: ۹۱۵ يعني هغه ګناهونه چې د بندګانو له حقوقو سره تړاو نه لري يا توبې، جبيرې او د کفارې ورکړې ته محتاج نه وي.

[۱۱۳] ابوداود، شمېره: ۱۴۲۷

[۱۱۴] ابوداود، شمېره: ۱۴۲۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په رکوع کې

رسول الله ﷺ د رکوع په حالت کې د قرآن له تلاوت څخه منعه کړې ده[۱۱۵] او خلګو ته يې امر کړی چې د دې پر ځای د خپل رب لويي بيان کړي.[۱۱۶] ځکه نو ده ځيني وختونه سبحان ربی العظيم (زما رب پاک دی، د ډېر عظمت څښتن) تکرار وله[۱۱۷] او کله به يې لاندينې اذکار ويل:

سُبُّوحٌ، قُدُّوْسٌ، رَبُّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوْحِ.[۱۱۸]

"له هره عيبه او بدی پاک، د روح الامين او فرشتو رب."

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِيْ.[۱۱۹]

"اې الله!، اې زمونږ ربه! ته پاک او د غوره صفاتو څښتن يې، اې الله! ما وبخښه."

اَللّٰهُمَّ لَکَ رَکَعْتُ وَ بِکَ آمَنْتُ وَ لَکَ اَسْلَمْتُ وَ عَلَيکَ تَوَکَّلْتُ اَنتَ رَبِّی خَشَعَ سَمْعِی وَ بَصَری وَدَمِی وَلَحْمِی وَ عَزَمِی وَعَصَبِی لِلّٰه رَبِّ العالمِينَ.[۱۲۰]

"اې الله! ما تا ته رکوع وکړه، پر تا مي ايمان راوړ، ځان مي تا ته وسپاره او پر تا مي توکل وکړ، ته مي رب يې، زما غوږونه، سترګې، وينه، غوښې، هډوکي او زما پلې ټول د الله رب العالمين په وړاندې عاجز دي."

دشپې د لمانځه په رکوع کې يې دا الفاظ هم ويلي دي:

سُبْحَانَ ذِيْ الْجَبَرُوْتِ، وَالْمَلَكُوْتِ، وَالْكِبْرِيَاءِ، وَالْعَظَمَةِ.[۱۲۱]

"هغه ذات پاک دی چې د قهر، تصرف، لويي او عظمت څښتن دی."

---

[۱۱۵] مسلم، شمېره: ۱۰۷۶
[۱۱۶] مسلم، شمېره: ۱۰۷۴
[۱۱۷] مسلم، شمېره: ۱۸۱۴
[۱۱۸] مسلم، شمېره: ۱۰۹۱
[۱۱۹] بخاري، شمېره: ۷۹۴
[۱۲۰] نسايي، شمېره: ۱۰۵۲
[۱۲۱] ابوداود، شمېره: ۸۷۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په قومه کي

تر رکوع وروسته چې به کله رسول الله ﷺ ودرېد نو تر سمع الله لمن حمده وروسته به يې کله ربنا لک الحمد (اې ربه! تا لره حمد دی)، کله ربنا و لک الحمد (ربه! او تا لره حمد دی) ويل او کله به يې په شروع کي د اللهم (اې الله!) الفاظ ور زياتول.[۱۲۲] تر ربنا ولک الحمد وروسته په ځينو روايتو کي د لاندينيو الفاظو زياتونه هم نقل شوي:

... مِلْءَ السَّمَوَاتِ، وَمِلْءَ الأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. [۱۲۳]

"دومره چې ځمکه او اسمان ډک کړي او تر دې وروسته چې ستا خوښه وي هغه هم ډک کړي (اې ربه!) تا لره ستاينه او لويي ده، د بندګانو د دې خبرو لپاره ته ډېر حق يې او موږ دي ټول بندګان يو، اې الله! ته چې څه ورکړې بندوونکی يې نه شته او ته چې څه بند کړې، هيڅ ورکوونکی يې نه شته او ستا له نيونې څخه د ځان ساتنې لپاره د هيڅا لويي او بزرګي هيڅ ګټه نه کوي."

دا زياتونه تر دې په کمو او زياتو الفاظو هم نقل شوي دي.[۱۲۴]

همدارنګه دا خبره هم نقل شوې چې د لمانځه د وروستي رکعت په قومه کي رسول الله ﷺ يو وخت د ځينو خلګو لپاره تر يوه مياشت زيات وکمه موده د هغوی د نوم په يادولو ځينو ته دعا او ځينو ته بېرا هم کړې ده. شکل يې داسي بيان شوی چې رسول الله ﷺ به د لاس په پورته کولو په لوړ اواز دعا کوله او ترشا به يې خلګو امين وايه.[۱۲۵]

رسول الله ﷺ ويلي: کله چې امام سمع الله لمن حمده ووايي نو په ځواب کي يې اللهم ربنا و لک الحمد ووايا ست ځکه د چا دا وينا چې د فرشتو له وينا سره برابره شي نو مخکيني

---

[۱۲۲] بخاري، شمېره: ۷۸۹، ۷۹۵، ۷۹۶

[۱۲۳] مسلم، شمېره: ۱۰۷۱

[۱۲۴] ابوداود، شمېره: ۷۶۰

[۱۲۵] بخاري، شمېره: ۱۰۲، ۴۰۸۸، ابوداود، شمېره: ۱۴۴۳، احمد، شمېره: ۱۱۹۹۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ګناهونه يې بخښل کېږي.[۱۲۶]

په صحابه کرامو کې يو چا تر دې وروسته د حمدا کثيرا طيبا مبارکا فيه (ډېر زيات سپېڅلی او ډېر برکتمن حمد) الفاظ ادا کړل نو ده وويل: ما تر دې پرشو زياتې فرشتې وليدلې چې د دې الفاظو په ليکنه کې يې تر يو بلې د وړاندې کېدو هڅه کوله.[۱۲۷]

په سجده کې

رسول الله ﷺ د رکوع په څېر په سجده کې هم د قرآن له تلاوت څخه منعه کړې ده.[۱۲۸] همدارنګه يې ويلي چې بنده د سجدې په حالت کې خپل رب ته ډېر نژدې وي ځکه نو په دې کې ډېرې دعاوې کوئ.[۱۲۹] له ده څخه د سجدې په حالت کې د سبحان ربی الأعلی (زما رب پاک دی، تر ټولو لوړ) ويل هم نقل شوي دي.[۱۳۰] او د دې پر ځای د نورو اذکارو او دعاوو يادونه هم شوې ده، په دې کې چې روایاتو کومې دعاوې او اذکار نقل کړي دادي:

سُبُّوحٌ، قُدُّوْسٌ، رَبُّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوْحِ.[۱۳۱]

"له هره عيبه او بدۍ پاک، د روح الامين او فرشتو رب."

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِيْ.[۱۳۲]

"اې الله!، اې زمونږ ربه! ته پاک او د غوره صفاتو څښتن يې، اې الله! ما وبخښه."

اللَّهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذَنْبِيْ كُلَّهُ، دِقَّهُ وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلاَنِيَتَهُ وَسِرَّهُ.[۱۳۳]

---

[۱۲۶] بخاري، شمېره: ۷۹۶ يعني هغه ګناهونه چې د بندګانو له حقوقو سره نه وي تړلی او توبې، جبيرې يا کفارې ته اړتيا ونه لري.

[۱۲۷] بخاري، شمېره: ۷۹۹

[۱۲۸] مسلم، شمېره: ۱۰۷۶

[۱۲۹] مسلم، شمېره: ۱۰۸۳

[۱۳۰] مسلم، شمېره: ۱۸۱۴، ابوداود، شمېره: ۸۷۱

[۱۳۱] مسلم، شمېره: ۱۰۹۱

[۱۳۲] بخاري، شمېره: ۷۹۴

[۱۳۳] مسلم، شمېره: ۱۰۸۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې الله! زما ټول ګناهونه وبخښه، هم واړه او هم لوی، هم مخکيني او هم وروستني، هم ښکاره او هم پټ."

اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِيْ لِلَّذِيْ خَلَقَهُ، وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، تَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ. [١٣٤]

"اې الله! ما ستا لپاره سجده وکړه، پر تا مي ايمان راوړ او خپل ځان مي تا ته وسپاره، زما مخ هغه چا ته پر سجده دی چې دا يې جوړ کړی او صورت يې ورکړی، بيا يې پکې غوږونه او سترګې جوړ کړي، ډير لوی، برکتمن الله تر ټولو غوره خالق دی."

له دې څخه د شپې په لمنځونو کې دا دعا هم نقل شوې ده:

سُبْحَانَكَ وَ بِحَمْدِكَ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اَنْتَ. [١٣٥]

"ته پاک او د غوره صفاتو څښتن يې، له تا پرته هيڅ معبود نه شته."

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي مَا اَسْرَرْتُ و مَا اَعْلَنْتُ. [١٣٦]

"اې الله! زما پټ او ښکاره ټول ګناهونه وبخښه."

اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَ أَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ، لاَ أُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ. [١٣٧]

"اې الله! زه ستا په رضا ستا له خپګانه او ستا په عفوه ستا له عذاب څخه پناه غواړم او (اې ربه!) زه له تا ستا پناه غواړم، زه نه شم کولای چې ستا د ثنا حق ادا کړای شم، ته هماغسي يې لکه څرنګه چې دي د خپل ځان ستاينه کړې ده."

اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْراً وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْراً، وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْراً، وَعَنْ يَمِيْنِيْ نُوْراً وَعَنْ شِمَالِيْ نُوْراً، وَ أَمَامِيْ نُوْراً، وَخَلْفِيْ نُوْراً، وَ فوقي نُوْراً، وَ تحتی نُوْراً، وَاجْعَلْنِيْ نُوْراً. [١٣٨]

---

[١٣٤] مسلم، شمېره: ١٨١٢

[١٣٥] مسلم، شمېره: ١٠٨٩

[١٣٦] نسايي، شمېره: ١١٢٥

[١٣٧] مسلم، شمېره: ١٠٩٠

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې الله! زما په زړه، غوږونو او سترګو کې نور پیدا کړه، زما راسته اړخ، چپه اړخ، تر ما لاندې، شا ته، پورته او کښته نور پیدا کړه او ما نور وګرزوه."

په جلسه کې

رسول الله ﷺ په جلسه کې هم دعا وې کړې دي، له ده څخه نقل شوی چې په دې وخت کې یې رب اغفرلي (اې ربه! ما وبخښه) دعا ویله.[۱۳۹]

په قعده کې

د لمانځه ناسته دعا وو ته ځانګړې ده او لمونځ کوونکی چې کومه دعا وغواړي کولای یې شي، د رسول الله ﷺ له علم او عمل څخه چې په دې اړه کومې لارښوونې تر لاسه کړې تفصیل یې دادی:

۱) له عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې کله به مو پر له رسول الله ﷺ سره په لمانځه کې وو نو داسې به مو ویل: د الله د بندګانو له لوري دي پر الله سلامتي وي، پر فلاني او فلاني دي سلامتي وي، دا وینا رسول الله ﷺ واورېده نو ویې ویل چې داسې مه وایاست پر الله دي سلامتي وي ځکه الله په خپله سلام دی، د دې پر ځای باید داسې ووایاست: التَّحِيَّاتُ لله، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ.[۱۴۰] - کله چې تاسو داسې ووایاست نو دا دعا به مو هر هغه بنده ته ورسېږي چې په اسمان، ځمکه او یا د هغو تر منځ وي. (بیا یې وویل:) أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ محمّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ. تر دې وروسته چې بنده د ځان لپاره کومه دعا غواړي کولای یې شي.[۱۴۲]

---

[۱۳۸] مسلم، شمېره: ۱۷۹۴

[۱۳۹] ابن ماجه، شمېره: ۷۹۸

[۱۴۰] ټول نذرونه، دعاوې او پاک اعمال الله لره دي، اې نبي! پر تا دي سلامتي، د الله رحمت او د هغه برکتونه وي، پر موږ دي هم سلامتي وي او د الله پر ټولو نېکو بندګانو هم.

[۱۴۱] زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل هیڅ معبود نه شته او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی.

[۱۴۲] بخاري، شمېره: ۸۳۵، مسلم، شمېره: ۸۹۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د الفاظو له معمولي اختلاف سره همدا دعا له عمر، عائشې، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عباس او ابو موسی اشعري ﷺ څخه هم نقل شوې.[۱۴۳]

له روایتونو څخه ښکاري چې رسول الله ﷺ تر دې وروسته هغه په ډېره توجو صحابه کرامو ته ورزده کولې.[۱۴۴]

۲) له ابو مسعود انصاري ﷺ څخه روایت دی چې ویې ویل: موږ له سعد بن عباده سره ناست وو، رسول الله ﷺ راغی نو بشیر بن سعد ترې وپوښتل: اې د الله رسوله! الله موږ ته پرتا د درود ویلو امر کړی دی، ته وایه چې درود څرنګه درباندې ووایو؟. رسول الله ﷺ تر هغو خاموش شو چې موږ فکر وکړ کاش! د دې خبرې پوښتنه یې نه وای کړې، بیا یې وویل: تاسو باید داسې ووایاست: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى محمّد وَعَلَى آلِ محمّـد، كَمَـا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيْمَ،و بَارِكْ عَلَى محمّد وَعَلَى آلِ محمّد، كَمَا بَارَكْتَ عَلَـى إِبْـرَاهِيْمَ في العالمين إِنَّـكَ حَمِيْـدٌ مَجِيْـدٌ. بیا یې وویل: د سلام ویلو په طریقه خو تاسو پوهېږئ؟.[۱۴۶]

د دې دعا په ځینو الفاظو کې هم اختلاف دی، خو همدا مضمون دی چې په بېلابېلو طریقو نقل شوی دی، د دې خبرې نقل هم شوی چې رسول الله ﷺ یې په اړه وویل: که څوک پر ما یو ځل درود ووایي، الله به پرې لس ځله درود ووایي.[۱۴۷]

په روایت کې چې د الله کوم حکم ته حواله ورکړل شوې هغه په سورت الاحزاب کې داسې راغلی:

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَـا "الله او د هغه فرشتې پر نبي درود وایي، اې

---

[۱۴۳] الموطأ، شمېره: ۲۴۶ -۲۴۹، بخاري، شمېره: ۸۳۱، مسلم، شمېره: ۸۹۷، ۹۰۲، ۹۰۴، ابوداود، شمېره: ۹۷۱، ابن ابی شیبه، شمېره: ۲۹۸۲، ۲۹۹۷

[۱۴۴] مسلم، شمېره: ۹۰۳

[۱۴۵] اې الله! ته پر محمد او کورنۍ یې داسې رحمت وکړه لکه د ابراهیم پر کورنۍ چې دې کړی وو، پر محمد او کورنۍ یې داسې برکت نازل کړه لکه د ابراهیم= =پر کورنۍ چې دې په ټوله نړۍ کې خپل برکت نازل کړی وو. په دې کې شک نه شته چې ته لوړ او د غوره صفاتو څښتن یې.

[۱۴۶] مسلم، شمېره: ۹۰۷

[۱۴۷] نسایي، شمېره: ۱۲۹۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا (الأحزاب ٣٣: ٥٦)

مومنانو! تاسو هم پر ده درود او ډېر سلام واياست."

٣) پر دې سربېره چې رسول الله ﷺ په ناسته کې کومې دعاوې کړې او يا يې سپارښتنه کړې، هغه دادي:

اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ. [١٤٨]

"اې الله! زه د دوزخ له عذاب، د قبر له عذاب، د مرګ او ژوند له ازموينې او مسيح الدجال د ازموينې له شره ستا پناه غواړم."

اللَّهُمَّ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْماً كَثِيْراً، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِيْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِيْ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ. [١٤٩]

"اې الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی او (پوهېږم چې) زما ګناهونه له تا پرته بل څوک نه شي بخښلای، له همدې کبله ته خاص زما ګناهونه وبخښه او پر ما رحم وکړه، په دې کې شک نه شته چې ته بخښونکی يې، شفقت دې ابدي دی."

اللهُمَّ انّی اَعُوْذُبِکَ مِنْ شَرِّ مَا عملتُ وَ مِنْ شَرِّ مَا لم اَعْمَلْ. [١٥٠]

"اې الله! ما چې څه کړي او څه مې نه دي کړي د هغو له شره ستا پناه غواړم."

اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ أَحْيِنِيْ مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْراً لِيْ، وَتَوَفَّنِيْ إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْراً لِيْ، اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِيْ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيْماً لاَ يَنْفَدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لاَ تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ الْقَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ فِيْ غَيْرِ ضَرَّاءَ مَضِرَّةٍ وَلاَ فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَا بِزِيْنَةِ الإِيْمَانِ وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِيْنَ. [١٥١]

---

[١٤٨] بخاري، شمېره: ١٣٧٧

[١٤٩] بخاري، شمېره: ٨٣٤، مسلم، شمېره: ٦٨٦٩

[١٥٠] مسلم، شمېره: ٦٨٩٥

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې الله! ته د خپل غيبي علم او پر مخلوق د قدرت په وسيله ما تر هغه وخته ژوندی کړه چې ژوند راته غوره بولې او هغه وخت مې له دنيا واخله چې تګ را ته غوره بولې، اې الله! زه په پټه او ښکاره ستا وېره غواړم، په خوښي او ناخوښي کې د صداقت توفيق غواړم، په فقر و غنا کې د اعتدال خواست کوم، داسې نعمتونه غواړم چې پای ونه لري او د سترګو داسې سړوالی چې هيڅکله ختم نه شي، ستا پر پرېکړو د راضي کېدو حوصله غواړم، تر مرګ وروسته ارام ژوند غواړم، له تا سره د ليدو شوق او ستا د ديدار خوند غواړم، داسې چې نه په تکليفجنې سختۍ کې يم او نه په بې لارې کوونکو فتنو کې، اې الله! موږ ته د ايمان زينت راکړه او داسې مو وګرزوه چې په خپله هم پر هدايت يو او نورو ته هم هدايت وکړو."

اللهُمَّ اِنّی اَسْئَلُکَ منَ الخَيْرِ کُلِّهِ، عَاجِلِهِ و آجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ و مَا لَم اَعْلَمُ. وَ اعوذُبکَ مِنَ الشَّرِّ کُلِّهِ، عَاجِله و آجِلِهِ، ما عَلِمْتُ مِنْهُ و مَا لَمْ اَعْلَمُ. وَ اَسْئَلُکَ الجَنَّةَ وَ مَا قَرَّبَ اِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ اَوْ عَمَلٍ، وَ اعوذبکَ مِنَ النَّارِ وَ ما قَرَّبَ اليْهَا مِنْ قَوْلٍ او عَمَلٍ و اَسْئَلُکَ مِنَ الخير مَا سَئَلکَ عَبْدُکَ و رَسُولُکَ مُحَمَّدٌ ﷺ وَ اَسْتَعِيْذُکَ مِمَّا اسْتَعَاذَکَ مِنْهُ عَبْدُکَ و رَسُوْلُکَ مُحَمَّدٌ ﷺ و اسئلُکَ ما قَضَيْتَ لِی مِنْ اَمْرٍ ان تجعل عاقبته رَشَداً.[۱۵۲]

"اې الله! زه له تا هر ډول خير غواړم، سملاسي هم او وروسته هم، هغه هم چې زه پرې خبر يم او هغه هم چې زه پرې نه پوهېږم، له هر ډول شر څخه ستا پناه غواړم، له سمدستي څخه هم او له هغه هم چې تا ورته وخت ټاکلی، له هغه هم چې زه پرې خبر يم او له هغه هم چې زه نه پرې پوهېږم، له تا څخه د جنت او داسې قول و عمل توفيق غواړم چې هغه ته د نژدې کېدو سبب وي. له تا څخه د دوزخ او داسې قول و عمل پناه غواړم چې هغه ته د نژدې کېدو سبب وي (اې ربه!) زه له تا هغه خير غواړم چې ستا بنده او رسول محمد ﷺ در څخه غوښت او له هغو شيانو پناه غواړم چې ستا بنده او رسول محمد ﷺ ترې پناه غوښتې او تا چې زما لپاره هر ډول پرېکړه کړې زه يې د ښه انجام غوښتونکی يم."

له علي ﷺ څخه روايت دی چې په ناسته کې به د رسول الله ﷺ وروستۍ دعا عموما دا وه:

---

[۱۵۱] نسايي، شمېره: ۱۳۰۶

[۱۵۲] احمد، شمېره: ۲۴۶۱۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِيْ مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّيْ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ.[۱۵۳]

"اې الله! زما مخکيني او وروستني او پټ و ښکاره ګناهونه وبخښه، ما چې کوم تېری کړی هغه معاف کړه او هغه هر څه هم را وبخښه چې ته تر ما ښه پرې خبر يې، ته مخته کوونکی او وروسته کوونکی يې له تا پرته هيڅ معبود نه شته."

له وايل ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به راسته لور ته د سلام ګرزولو پر وخت کله له السلام عليكم و رحمة الله سره و برکاته هم زياتاوه.[۱۵۴]

تر لمانځه وروسته

له لمانځه څخه تر فراغت وروسته به هم رسول الله ﷺ عموما په ذکر او دعا بوخت وو.[۱۵۵]

له عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چې ما به له لمانځه څخه د رسول الله ﷺ فراغت په الله اکبر ويلو سره معلوماوه.[۱۵۶]

له عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به تر سلام وروسته د دې دعا په اندازه کښېناست:

اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ.[۱۵۷]

"اې الله! ته سلام يې او سلامتي ستا له خوا ده، اې د عزت او جلال خاونده ستا ذات ډېر برکتمن دی."

له ثوبان ﷺ څخه روايت دی چې تر دې وړاندې به يې درې ځله استغفار هم وايه.[۱۵۸]

---

[۱۵۳] مسلم، شمېره: ۱۸۱۲

[۱۵۴] ابوداود، شمېره: ۹۹۷، ابو يعلى، شمېرهک ۵۷۵۶، المعجم الاوسط للطبرانی، شمېره: ۷۵۶۸

[۱۵۵] له دې څخه مراد په انفرادي ډول ذکر او دعا ده، نه د امام په توګه چې په ځواب کې يې مقتدي آمين وايي.

[۱۵۶] بخاري، شمېره: ۸۴۲، مسلم، شمېره: ۱۳۱۶

[۱۵۷] مسلم، شمېره: ۱۳۳۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له مغيره بن شعبه څخه روايت دی چې ترلمانځه وروسته به يې دا دعا ويله:

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. [۱۵۹]

"له الله پرته هيڅ معبود نه شته، دی يو دی هيڅ شريک نه لري، پاچاهي او حمد ده لره دی، همدی پر هر څه قادر دی، اې الله! تا چې څه ورکړي بندوونکی يې نه شته او تا چې څه بند کړي ورکوونکی يې نه شته او د هيڅ مرتبې څښتن ته به ستا د نيونې په مقابل کې د هغه مرتبه ګټه ونه کړي."

له عبدالله بن زبير ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د سلام ترګرزولو وروسته دا ذکر کاوه:

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَلاَ نَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ. [۱۶۰]

"له الله پرته هيڅ معبود نه شته، دی يو دی هيڅ شريک نه لري، پاچاهي او حمد د ده دي او دی پر هر څه قدرت لري، توان او طاقت ټول د الله په فضل دي له الله پرته هيڅ معبود نه شته او موږ د ده عبادت کوو، نعمت او ښه زوينه ټول د ده دي او غوره ثنا همده لره ده، له الله پرته هيڅ معبود نه شته او موږ د منکرينو بر خلاف اطاعت ده ته ځانګړی کوو."

د سعد ﷺ په اړه ويل کېږي چې ده به خپلو ماشومانو ته دا کلمې ور ښودې او ويل به يې چې رسول الله ﷺ يې په وسيله ترهر لمانځه وروسته د الله پناه غوښته:

اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ. [۱۶۱]

"اې الله! زه له بخل، بې زړه توب، رذيل عمر ته له ورګرزېدو، د دنيا له ازموينې او د قبر له عذاب څخه ستا پناه غواړم."

---

[۱۵۸] مسلم، شمېره: ۱۳۳۴، ترمذي، شمېره: ۳۰۰

[۱۵۹] بخاري، شمېره: ۶۳۳۰

[۱۶۰] مسلم، شمېره: ۱۳۴۳، نسايي، شمېره: ۱۳۳۹

[۱۶۱] بخاري، شمېره: ۲۸۲۲، ۶۳۹۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ بې وزلو مهاجرو ته دا تعليم ورکړ چې تر هر لمانځه وروسته دې دري دېرش ځله سبحان الله، دري دېرش ځله الحمد لله او دري دېرش ځله الله اکبر وايي.[۱۶۲]

د ابو هريره وينا ده چې د (۹۹) شمېره دي په لاندينيو کلمو سل کړي، په دې سره د انسان ګناهونه معافېږي که څه هم د سمندر د ځګ په څېر وي:

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.[۱۶۳]

"له الله پرته هيڅ معبود نه شته، دی يو دی، هيڅ شريک نه لري، حمد او ثنا د ده دي او دی پر هر څه قدرت لري."

د ابن عجره په يوه روايت کې د دري دېرش ځله سبحان الله، دري دېرش ځله الحمد لله او څلور دېرش ځله د الله اکبر ويلو يادونه هم شوې ده.[۱۶۴]

د زيد بن ثابت په روايت کې دي چې د رسول الله ﷺ په مخ کې يوه انصاري وويل: ده ته يو چا د خوب پر مهال د دري دېرش ځله پر ځای پنځه ويشت ځله د سبحان الله، پنځه ويشت ځله د الحمد لله، پنځه ويشت ځله د الله اکبر او له دې سره پنځه ويشت ځله د لا اله الا الله سپارښتنه کړې. نو رسول الله ﷺ وويل: همدا سي کوه.[۱۶۵]

د لمانځه وختونه

پر مسلمانانو په شپه او ورځ کې لمونځ په دې پنځو وختونو کې فرض دی:

سهار، ماپښين، مازيګر، مانښام او ماخوستن.

کله چې د سپيدو سپينه ليکه له تورې بېله شي نو دا سهار دی.

له نيمې ورځې څخه د لمر زايلېدو وخت ماپښين دی.

---

[۱۶۲] بخاري، شمېره: ۸۴۳، مسلم، شمېره: ۱۳۴۷

[۱۶۳] مسلم، شمېره: ۱۳۵۲

[۱۶۴] مسلم، شمېره: ۱۳۴۹

[۱۶۵] احمد، شمېره: ۲۱۰۹۰، ۲۱۱۵۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کله چې د لمر تېکۍ را تېته شي نو دا مازیګر دی.

د لمر په لوېدو د مانښام وخت دی.

او کله چې د شفق سرخي ختمه شي نو ماخوستن دی.

د سهار وخت تر لمر ختلو، د ماپښین وخت تر مازیګره، مازیګر تر مانښامه، مانښام تر ماخوستنه او ماخوستن تر نیمې شپې پورې دی. څرنګه چې د لمر ختو او لوېدو پر مهال د هغه عبادت کېده ځکه نو په دې دواړو وختونو کې لمونځ ممنوع شوی دی، د لمانځه وختونه هم په اجماع او عملي تواتر ثابت دي. پورته مو وویل چې د انبیاء علیهم السلام په دین کې تل همدا د لمانځه وختونه پاتي شوي دي، قران کریم په بېلابېلو ځایونو کې دې ته په اشاره کولو ویلي:

وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ (هود ۱۱: ۱۱۴)

"او د ورځې په دواړو برخو او د شپې په یوه حصه کې لمونځ کوه ځکه چې نېکۍ بدۍ ختموي، دا د هغو خلګو لپاره نصیحت دی چې پند اخلي."

أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا * وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا*

(بني اسرائیل ۱۷: ۷۸، ۷۹)

"د لمر له زوالې د شپې تر تیارې لمونځ کوه، په تېره بیا د سهار قرأت ځکه د سهار قرأت مخامخ وي او د شپې په یوه برخه کې هم دا ډول پورته کېږه (او لمونځ کوه) دا ستا لپاره پر هغو زیادت دی، هیله ده ستا رب به دي (د قیامت په ورځ) داسي را پورته کړي چې د خلګو ستایلی به یې."

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا وَمِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ (طه ۲۰: ۱۳۰)

"د خپل رب له حمد سره د لمر تر راختو او لوېدو وړاندې د هغه تسبیحات وایه او د شپې په وختونو کې هم تسبیحات وایه او د ورځې په څنډو کې هم، څو خوشاله شې."

فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ * وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا

"کله چې پر تا سو مانښام او سهار راځي د الله تسبیحات وایاست او (پوه شئ چې) په ځمکه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَحِينَ تُظْهِرُونَ* (الروم ۳۰: ۱۷، ۱۸)

او اسمان کي د ده حمد بيانېږي، د ماخوستن پر وخت هم او هغه مهال هم چې کله ماپښين کېږي."

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ * وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ* (ق ۵۰: ۳۹، ۴۰)

" د خپل رب له حمد سره د هغه تسبيحات وايا ست، د لمر تر راختلو او لوېدلو وړاندي، د شپې په يوه برخه کي هم تسبيحات وايا ست او د لمر تر سجده کولو وروسته هم."

د رسول الله ﷺ له علم او عمل څخه چې په دې اړه کومې لارښوونې تر لاسه کېږي تفصيلات يې دادي:

۱) ده په عمومي ډول د سهار لمونځ په تياره کي کاوه، په روايا تو کي ويل شوي چې کله به ښځې تر لمانځه وروسته په پرونيو کي وپېچل شوې نو نه پېژندل کېدې.[۱۶۶]

۲) عيني د ورځې پر نيمايي يې د ماپښين د لمانځه له کولو منعه کړې ده او ويلي يې دي چې دا د جهنم د خوټېدو وخت دی.[۱۶۷]

د دې لمانځه په اړه يې عمومي طريقه دا وه چې د ګرميو پر مهال به يې په سړۍګي کي د هغه دا ادا کولو سپارښتنه کوله.[۱۶۸]

۳) د مازيګر لمونځ به يې هغه وخت کاوه چې لمر به ډېر لوړ او پوره روښانه وو.[۱۶۹]

۴) د ماښام لمونځ يې ژر کاوه او د ماخوستن په لمانځه کي يې ځنډ خوښ وو. ويل شوي چې د ماخوستن تر لمانځه وړاندي يې خوب او تر هغه وروسته يې مجلس نه وو خوښ.[۱۷۰]

۵) د لمانځه د وخت تر ختمېدو وړاندي چې يو رکعت وشي نو ده ويلي چې هغه پوره

---

[۱۶۶] بخاري، شمېره: ۵۷۸، مسلم، شمېره: ۱۴۵۸

[۱۶۷] مسلم، شمېره: ۱۹۳۰

[۱۶۸] بخاري، شمېره: ۵۳۳، مسلم، شمېره: ۱۳۹۷

[۱۶۹] بخاري، شمېره: ۵۵۰، مسلم، شمېره: ۱۴۰۸

[۱۷۰] ابوداود، شمېره: ۴۱۶، ۴۱۷، ۴۱۸، ۴۲۲، ترمذي، شمېره: ۱۶۷، بخاري، شمېره: ۷۷۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړئ لمونځ کېږي، د رسول الله ﷺ وینا ده: چا چې د لمر تر را ختلو وړاندې د سهار یو رکعت او تر لوېدو وړاندې د مازیګر یو رکعت وکړ نو باید مطمین وي چې هغه لمونځ یې کړی دی.[۱۷۱]

همدارنګه یې ویلي چې ویدېدل ملامتي نه ده خو که څوک په ویښه لمونځ پرېږدي نو حتما ګرم دی، که په تاسو کې د چا لمونځ هېر شي او یا د لمانځه پر مهال ویده وي نو له وریادېدو سره سم دي وکړي.[۱۷۲]

۶) د لمانځه په ممنوع وختونو کې یې د ډېر احتیاط سپارښتنه کړې، ده ویلي: د سهار تر لمانځه وروسته دي د لمر تر راختلو وړاندې او د مازیګر تر لمانځه وروسته دي تر لمر لوېدو هیڅ لمونځ نه کېږي.[۱۷۳]

۷) که د مسلمانانو واکمن لمونځ وځنډوي نو رسول الله ﷺ لارښوونه کړې چې خلګ دي خپل لمونځ وکړي او وروسته دي په جماعت کې ورسره شریک شي.[۱۷۴]

که غور وکړو د لمانځه دا وختونه د استاذ امام په الفاظو د عبادت لپاره ډېر موزون، د دعا قبلېدو لپاره برابر، د مومن بنده د ذهن لپاره ډاډ بخښونکي، د کاینناتي عناصرو د تسبیح و تهلیل له وختونو سره موافق او د لمر و سپوږمۍ، ونو او ډېرو د رکوع او سجدې له وختونو سره همغږي دي. دی لیکي:

" د سهار مهال د ارام او زړه د سکون ځانګړی وخت دی، کله چې انسان په شپه کې تر ارام وروسته پورته کېږي نو زړه یې پوره ډاډه وي، د عبادت لپاره یو نوی خوځښت پیلېږي، ژوند یوه نوي عزم ته اړوي او دا نوی عزم د الله له لوري تازه توفیق او تازه هدایت غواړي.

د ماپښین وخت یو بل حقیقت اعلانوي، که انسان لیدونکې سترګې ولري نو په دې وخت کې یو بل حقیقت وینې او هغه یې هم رکوع او سجدې ته ور بولي، هغه دا چې کومو احمقانو دا مهال لمر ته د معبود درجه ورکړې وه هغه په خپله د خالق په وړاندې خپل سر ټیټوي او په خپل عمل سره اعلانوي چې دی خالق نه بلکې مخلوق دی او معبود نه

---

[۱۷۱] بخاري، شمېره: ۵۷۹، مسلم، شمېره: ۱۴۷۴

[۱۷۲] بخاري، شمېره: ۵۹۷، مسلم، شمېره: ۱۵۶۲، ۱۵۶۶، نسایي، شمېره: ۶۱۶

[۱۷۳] بخاري، شمېره: ۵۸۶، مسلم، شمېره: ۱۹۲۱

[۱۷۴] مسلم، شمېره: ۱۴۶۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بلکي عابد دی.

د مازیګر مهال یو نوی حقیقت اعلانوي، هغه دا چي د هر عروج لپاره زوال، د هرې ځوانۍ لپاره بوډاتوب او د هر مد لپاره جزر تاکلی دی. د کایناتو هیڅ شی هم له دې قانون څخه مستثنا نه دی، صرف یو ذات دی چې تل پاتېږي او له ده پرته د هیڅا لپاره بقا نه شته، لکه څرنګه چې ورځ روښانه شوه، غرمه یې راغله او اوس د لوېدو پر څنډه ولاړه ده همدارنګه دا دنیا پیدا شوه، ځوانۍ ته ورسېده او یوه ورځ به ختمېدو ته نژدې شي. د مازیګر پر مهال دا خاموش نصیحت بنده دې خبرې ته چمتو کوي چې اخرت وریاد کړي او د توبې و استغفار لپاره خپل رب ته پر سجده شي.

د ماښام پر مهال ژوند یوه نوي انګړ ته داخلېږي، دا انګړ تر ژوند وروسته د مرګ او تر ژوند وروسته د برزخ دروازې ته ورته دی، بوخت کاینات د ورځې تر نښې وروسته د شپې نښه او د لمر تر ځلېدو وروسته د سپوږمۍ رڼا ویني، د ورځې خوځښتونه سړېږي او د ستورو مجلسونه ګرمېږي، تودوخه، حرارت او د ورځې د شور وځوږ تریخوالی کمېږي او د ټولې ورځې ستړی انسان د شپې په سړۍګي کي یو نوی کیفیت احساسوي، ممکن بې حسه او ناپوه کسان د کایناتو دومره اوښتون احساس نه کړي، خو په چا کي چې حس موجود وي نو هغه څرنګه ناخبره پرې تېرېدای شي؟. دا څرنګه شونې ده چې انسان دومره ستر قدرت او حکمت وویني او کوم قادر و حکیم ذات چې دا قدرت او حکمت ښودلی له هغه څخه بې پروا او بې نیازه پاتي شي؟. که د هغه په زړه کي د ژوند کوم احساس وي نو هغه به حتما په دې وپوهېږي او د خپل هغه خالق او مالک په وړاندې به د نیاز سر تیټ کړي چې قدرت یې په یوه شېبه کي پر ټولې نړۍ د تیارې څادر وغوړاوه.

ماخوستن د احتساب وخت دی، د شپې ډېره تیاره د خوځښت او عمل وروستۍ نښې هم له منځه وړي، انسان له هر څه څخه په ګوښه کېدو د سکون او ارام په لټه وي، څو د راتلونکي پرا و سفر ته بیا تازه شي، دا وخت د دې لپاره ډېر مناسب دی چې انسان بستر ته تر تلو وړاندې د خپل رب حضور ته حاضري ورکړي، ممکن دا وروستی فرصت وي او د نن تر ویدېدو وروسته یې بیداري په نصیب نه شي." (تزکیه نفس: ۲۴۲)

د لمانځه رکعتونه

شریعت د لمانځه لپاره دا رکعتونه تاکلي دي:

سهار: دوه رکعته

ماپښین: څلور رکعته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مازیګر: څلور رکعته

مابنام: درې رکعته

ماخوستن: څلور رکعته

همدا د لمانځه فرض رکعتونه دي چې پرېښودل به يې په قيامت کي سزا ولري، له هغو صورتونو پرته چې پکې د کسر اجازه ورکړل شوې کول يې لازمي دي، له دې پرته نور ټول لمنځونه نوافل دي او کول يې ثواب لري خو په پرېښودو يې د الله له خوا د هيڅ سزا اند پښنه نه شته.

په لمانځه کي رعايت

د لمانځه پر وخت که د خطرې کوم حالت پېښ شي نو الله اجازه ورکړې چې پياده، پر سپرلۍ او څه ډول چې ممکنه وي لمونځ دي وکړي، ښکاره ده چې په دې حالت کي نه جماعت کېداى شي او نه قبلې ته د مخ کولو پابندي پاتېږي، ځيني وختونه يې بعضي اعمال په ټاکلې طريقه هم نه شي ادا کېداى. الله ويلي:

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالاً أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُواْ اللّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ (البقرة ۲: ۲۳۹)

"نو که د خطرې موکه وي پياده يا سپاره چې څرنګه غواړئ ويې کړئ خو کله چې امن شي نو الله په هغه طريقه درياد کړئ چې تاسو ته يې درښودلې ده او تاسو پرې نه پوهېدا ست."

که په سفر کي دا ډول حالت پېښ شي نو قرآن دا هم ويلي چې خلګ لمونځ کمولاى شي، له دې څخه په اصطلاح کي په قصر تعبير کېږي، د رسول الله ﷺ سنت دادى چې يوازې څلور رکعتيز لمنځونه به دوه رکعته کېږي، دوه او درې رکعتيز لمنځونه نه کمېږي ځکه نو بايد د سهار او مابنام لمنځونه هم په داسي صورتونو کي پوره وشي، علت يې دادى چې سهار له پيله دوه رکعته دى او مابنام د وړځې وتر دي او دا مقام يې نه شي بدلېداى.

دا حکم الله په سورت النساء کي په دې الفاظو بيان کړى دى:

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ الصَّلاَةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ

"او کله چې تاسو سفر ته ووزئ نو په دې کي هيڅ ګناه نه شته چې لمونځ قصر کړئ، که وېره

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الَّذِينَ كَفَرُواْ إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُواْ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا (النساء ۴: ۱۰۱)

وه چې منکرين به مو په تکليف اخته کړي ځکه چې دا منکرين ستا سو ښکاره دښمنان دي."

په لمانځه کې کمی او يا په پياده و سپاره حالت کې د کولو رخصتي دلته د (ان خفتم) له شرط سره بيان شوې، له رواياتو معلومېږي چې رسول الله ﷺ د خپل وخت د عامو سفرونو پرېشاني، تکليف او ستونزې هم پر دې قياس کړې دي او په عمومي ډول يې قصر لمونځ کړی دی. همدا رازيې د تم کېدو له زحمت څخه د کاروانونو د ژغورنې لپاره نفل لمنځونه پر سپرلۍ په ناسته هم کړي دي.[۱۷۵] د عمر ﷺ وينا ده چې زه له ويرې پرته د لمانځه قصر ته حيران شوم نو مې پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ وويل: دا پر تا سو د الله پېرزوينه ده نو ويې منئ.[۱۷۶]

په لمانځه کې د تخفيف له دې اجازې څخه رسول الله ﷺ د هغو په وختونو کې د ترتيب اجتهاد هم کړی دی او په دا ډول سفرونو کې يې د ماپښين و مازيګر او ماښام و ماخوستن لمنځونه يو ځای کړي دي. د معاذ بن جبل ﷺ په روايت کې دي چې د تبوک په غزا کې د رسول الله ﷺ عملي طريقه دا وه چې که به ترکوچ وړاندي لمر زوال وکړ نو ماپښين او مازيګر يې يو ځای کول او که به يې د لمر تر زوال وړاندي کوچ وکړ نو ماپښين به يې د مازيګر تر وخته ور وروسته کړ. د ماښام او ماخوستن په لمنځو کې يې هم دا طريقه وه. که به لمر ترکوچ وړاندي ولوېد نو ماښام او ماخوستن يې سره يو ځای کول او که به يې د لمر تر لوېدو وړاندي کوچ وکړ نو د ماښام لمونځ به يې تر ماخوستنه ځنډاوه او بيا به يې دواړه يو ځای کول.[۱۷۷]

همدا معامله په حج کې هم ده، څرنګه چې په هغه کې د شيطان پر خلاف جګړه د نښو په ژبه تمثيلېږي له همدې کبله يې د تمثيل غوښتنې له مخې دا سنت را منځ ته کړی چې خلګ مقيم وي او که مسافر دوی به په منی کې قصر او په مزدلفه و عرفات کې جمع او قصر دواړه کوي.

---

[۱۷۵] بخاري، شمېره: ۱۱۰۴، مسلم، شمېره: ۱۶۱۹

[۱۷۶] مسلم، شمېره: ۱۵۷۳، ۱۵۷۴ له دې ځواب څخه په دا ګه شوه چې د رسول الله ﷺ دا اجتهاد د الله له خوا تائيد شوی هم وو.

[۱۷۷] مسلم، شمېره: ۱۶۳۱، ابوداود، شمېره: ۱۲۲۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې اجتهاد اشاره په خپله په قرآن کې شته، په سورت النساء کې چې دا حکم پر کوم ایت ختم شوی په هغه کې د اِنَّ الصَّلاةَ كانَتْ عَلَى المؤْمِنِيْنَ كِتَاباً مَّوقُوْتــاً الفاظ د عربیت له مخې تقاضا کوي چې تر دې وړاندې د وخت پابندي کوئ یا دا ډول کومه بله جمله مقدره وبلل شي له دې څخه دا خبره په خپله په ډاګه کېږي چې د قصر تر اجازې وروسته دا هم ممکنه ده چې خلګ د لمانځه له رکعتونو سره د هغو وختونه هم را کم کړي، ځکه نو لاربنوونه وشوه چې کله مطمئن شئ نو پوره لمونځ کوئ او د ټاکلي وخت تابع شئ ځکه چې لمونځ پر مسلمانانو له ټاکلي وخت سره فرض دی.

د رسول الله ﷺ په ژوند کې یوه ستونزه دا هم وه چې کله د جګړې په ډګر کې جماعت ودرېږي او دې یې امامت کوي نو هیڅ مسلمان په هغه جماعت کې له شرکت څخه بې برخې کېدو ته چمتو نه وو، د هر سپاهي ارزو دا وه چې د ده په اقتدا کې لمونځ وکړي او دا یوه فطري هیله وه مګر له دې سره دفاع ته پاملرنه هم اړینه وه. د دې ستونزې یو حل دا وو چې رسول الله ﷺ په خپله څلور رکعته کړي وای او نور کسان پر دوو ډلو وېشل شوي وای د دوو رکعتونو په کولو یې له ده سره برخه اخیستې وای. ځینې ځایونه دا طریقه غوره شوې هم ده.[178] مګر په دې کې چې د رسول الله ﷺ لپاره کوم تکلیف وو هغه ته په پام قرآن دا تدبیر وروښود چې امام او مقتدي دواړه دې قصر لمونځ وکړي او د لښکر دواړې برخې دې یو په بل پسې له تا سره په نیم لمانځه کې شامل شي او نیم دې په خپله وکړي. یوه برخه دې د لومړي رکعت تر سجدې وروسته په ستنېدو د ساتنې او ځارنې چاره سمبال کړي او دویمه برخه چې لمونځ یې نه دی کړی د رسول الله ﷺ شا ته په راتلو په دویم رکعت کې شامله شي، الله ویلي:

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَى لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ

"او (اې رسوله!) کله چې ته د دوی په منځ کې یې او (د جګړې په ډګر کې) هغوی ته لمونځ ورکوې نو باید د دوی یوه ډله له تا سره ودرېږي او خپله وسله وساتي، کله چې سجده وکړي نو له تا شا ته شي او هغه دویمه ډله دې راشي چې لمونځ یې نه دی کړی، له تا سره دې لمونځ وکړي، دوی دې هم د خپلې ساتنې وسله

[178] مسلم، شمېره: ۱۹۵۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَى أَن تَضَعُواْ أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْ إِنَّ اللّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا * فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلاَةَ فَاذْكُرُواْ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِكُمْ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا* (النساء ۴: ۱۰۲، ۱۰۳)

له ځان سره وساتي، دا منکرين خو غواړي چې تاسو له خپلو وسلو او وسايلو لږ غافل شئ نو دربانديږ وکړي، البته دا څه پروا نه لري چې که د باران تکليف او يا ناروغي وي نو خپله وسله کښېږدئ خو دا اړينه ده چې د ځان ساتنې وسايل وساتئ او باور وکړئ چې الله د دې منکرينو لپاره د ډېرې رسوايۍ سزا تياره کړې ده. په دې طريقه چې کله له لمانځه خلاص شئ نو په ولاړه، ناسته او پروتې الله يادوئ، کله چې مطمئن شئ نو پوره لمونځ کوئ (او تاکلي وخت ته يې پام کوئ) ځکه چې لمونځ پر مسلمانانو د وخت له پابندۍ سره فرض شوی دی."

له روايتونو ښکاري چې د دې حکم له مخې پوځ په خپله کوم رکعت کاوه د هغه لپاره د حالاتو له مخې بېلابېلې طريقې غوره شوې دي، داسې هم شوي چې رسول الله ﷺ توقف کړی او خلکو لمونځ پوره کړی شاته شوي دي[۱۷۹] او داسې هم شوي دي چې هغوی وروسته لمونځ پوره کړی دی.[۱۸۰]

اوس د دې د تفصيلاتو بيانولو ته اړتيا نه شته ځکه چې دا تدبير لکه څرنګه چې د (اذا کنت فيهم) له الفاظو ښکاري د رسول الله ﷺ له شتون سره خاص دی، تر ده وروسته نه د هيڅ امام د اقتدا غوښتنه دومره ډېر ښای شي اونه دومره اهميت لري. که د جماعت درولو فرصت وي نو خلک د بېلابېلو امامانو په اقتدا کې په پوره اسانۍ سره لمونځ کولای شي.

د لمانځه جماعت

سره له دې چې لمونځ يوازي هم کېدای شي خو د انبياء عليهم السلام په دين کې تل دا سنت پاتي شوی چې د اجتماعي تزکيې په موخه په جماعت او که ممکنه وي نو په عبادت

[۱۷۹] بخاري، شمېره: ۴۱۲۹، مسلم، شمېره: ۱۹۴۷

[۱۸۰] بخاري، شمېره: ۹۴۲، مسلم، شمېره: ۱۹۴۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځای کي ادا کړي. رسول الله ﷺ د همدې لپاره يې ترب ته په رسېدو تر ټولو لومړی مسجد جوړ کړ او په همدې سره د مسلمانانو په هر کلي او هره سيمه کي د مسجد ودانولو دود را منځ ته شو چې اوس يې د نړۍ په هر ځای کي ليدلای شئ. د دې تعمير لپاره په دين کي ځانګړی شکل نه دی ټاکل شوی خو مسلمانانو له لږ اختلاف سره ورته تر ډېره يو شکل ټاکلی دی، د رسول الله ﷺ په ژوند کي چې به کله د ده په امامت د لمانځه اذان وشو نو مسجد ته د هغو ټولو خلګو راتګ ضروري وو چې د اذان اواز ور رسېده، بيا چې کله الله د اتمام حجت له قانون سره سم د مسلمانانو د پاکولو پر وخت له هغوی څخه د منافقينو د بېلولو لپاره بېلابېل اقدامات وکړل نو داسي هم وشول چې يوه پاڼه مسجد ته د نه راتلو رخصت وغوښت نو رسول الله ﷺ رخصت ورکړ بيا يې وپوښتل چې اذان اورې؟. هغه مثبت ځواب ورکړ نو ويې ويل چې رائې به.[181] رسول الله ﷺ په همدې وخت کي ګوابنس کړی وو چې کوم کسان لمانځه ته نه رائي غواړم کورونه يې وسوځوم.[182] د ابن مسعود ﷺ وينا ده چې هغه مهال به ناروغ هم د دوو کسانو په تکيه جماعت ته حاضرېده.[183] څرګنده ده چې تر رسول الله ﷺ وروسته د حکم هغه صورت پاتي نه دی، خو مسجد ته ورتګ او د جماعت لمونځ اوس هم لوی فضيلت لري له همدې وجې بايد مسلمان له عذر پرته تر بې برخې نه شي.

په دې اړه د رسول الله ﷺ لارښوونې دادي:

" د جماعت لمونځ تر يوازي لمانځه اووه ويشت درجې غوره دی." [184]

" که خلګ وپوهېږي چې د اذان پر وخت ورتګ او په لومړي صف کي درېدل څومره اجر لري او د دې لپاره د نوم له اچولو پرته بله لار نه وي نو همداسي به وکړي او که وپوهېږي چې د ماپښين د لمانځه لپاره اول ورتګ څومره اجر لري نو له يوه بل سره به سيالي وکړي او که پوه شي چې د سهار او ماخوستن لپاره حاضري څومره ثواب لري نو په څښدو به هم ځان ور ورسوي." [185]

---

[181] مسلم، شمېره: ۱۴۸۶

[182] بخاري، شمېره: ۶۴۴، مسلم، شمېره: ۱۴۸۱

[183] مسلم، شمېره: ۱۴۸۸

[184] بخاري، شمېره: ۶۴۵، مسلم، شمېره: ۱۴۷۷

[185] بخاري، شمېره: ۶۵۳، ۶۵۴، مسلم، شمېره: ۹۸۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" چا چې د ماخوستن لمونځ په جماعت وکړ نو ګواکې ترنیمې شپې ودرېد او چا چې د سهار لمونځ په جماعت وکړ نو ګواکې ټوله شپه یې په قیام تېره کړه." [۱۸۶]

البته ښځې له دې حکم څخه مستثنا دي، د هغوی په اړه سنت دادی چې د لمانځه لپاره مسجد ته راتلای شي خو که نه راځي نو هم پروا نه لري، رسول الله ﷺ ویلي: خپلې ښځې مسجد ته له راتلو مه منع کوئ خو دوی ته باید څرګنده وي چې د دې هدف لپاره یې کور ډېر مناسب دی. [۱۸۷]

د جماعت د کولو لپاره د شریعت ټاکلې طریقه داده:

۱) ترلمانځه وړاندې به اذان کېږي څو یې خلک په اوربد و جماعت ته راشي. رسول الله ﷺ چې د دې لپاره کوم الفاظ ټاکلي هغه دادي:

الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان محمدا رسول الله حی علی الصلاة حی علی الفلاح الله اکبر لا اله الا الله.

الله تر ټولو لوی دی، زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته هیڅ معبود نه شته، شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، لمانځه ته راشئ، بریا ته راشئ، الله تر ټولو لوی دی، له الله پرته هیڅ معبود نه شته.

۲) که یو مقتدي وي نو د امام راسته اړخ ته دي له هغه سره ودرېږي او که ډېر وي نو امام به یې په منځ کې او هغوی به یې شا ته په صف کې درېږي.

۳) د لمانځه درولو لپاره به اقامت ویل کېږي او د اذان الفاظ به تکرار وي خو په دومره توپیر چې تر حی علی الفلاح وروسته به اقامت کوونکی قد قامت الصلاة (لمونځ ودرېد) هم وایي.

۴) د اذان کلمې دي د خپل هدف لپاره تر یوه واري ډېر تکرار وي.

۵) که اړتیا وه نو د اقامت کلمې هم تکرارولای شي.

د جماعت کولو دا طریقه په اجماع او عملي تواتر ثابته ده، په روایاتو کې یې چې کوم تفصیلات نقل شوي له یوه ترتیب سره یې دلته بیا نوو.

---

[۱۸۶] مسلم، شمېره: ۱۴۹۱

[۱۸۷] بخاري، شمېره: ۸۶۵، ۸۷۳، مسلم، شمېره: ۹۹۹، ابن خزیمه، شمېره: ۱۶۸۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اذان

د اذان د پیل په اړه چې په روایاتو کې د صحابه وو کوم خوب نقل شوی دی او له هغه سره سم رسول الله ﷺ خلکو ته د اذان او اقامت امر کړی دی په هغه کې د اذان کلمې داسې تکرار شوې دي: الله اکبر الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول ا لله، حی عل الصلاة، حی علی الصلاة ، حی علی الفلاح، حی علی ا لفلاح، الله اکبر، ا لله اکبر، لا اله الا الله.

ویل شوي چې د رسول الله ﷺ په وخت کې د اذان کلمې عموما دوه -دوه ځله ویل کېدې.[۱۸۹]

ابو محذوره وایي چې رسول الله ﷺ ده ته اذان ور وښود نو ویې ویل: ته به داسې وایې:

الله اکبر، الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله، اشهد ان محمدا رسول الله، بیا دا تکرار کړه: اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله، اشهد ان محمدا رسول الله، وروسته به دا ووایې: حی علی الصلوة، حی علی الصلوة، حی علی الفلاح، حی علی الفلاح، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله. [۱۹۰]

د ده وینا ده چې ده ما ته د اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله دوه ځله په ټیټ اواز او تر دې وروسته دوه ځله په لوړ اواز د ویلو لارښوونه وکړه، همدا رازیې وویل: کله چې د سهار لمونځ وي نو په هغه کې به تر حی علی الفلاح وروسته الصلاة خیر من النوم، الصلاة خیر من النوم (لمونځ تر خوب غوره دی) هم وایې.[۱۹۱]

په روایاتو کې دي چې کله به باران اوربده یا به ډېر یخ وو نو رسول الله ﷺ به د شپې د

---

[۱۸۸] بخاري، شمېره: ۸۶۵، ۸۷۳، مسلم، شمېره: ۹۹۰، ابن خزیمه، شمېره: ۱۶۸۳

[۱۸۹] بخاري، شمېره: ۶۰۵، مسلم، شمېره: ۸۳۸

[۱۹۰] ابوداود، شمېره: ۵۰۳

[۱۹۱] ابوداود، شمېره: ۵۰۰، ابن ماجه، شمېره: ۷۱۶، نسایي، شمېره: ۶۳۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لمانځه لپاره په خپل موذن دا اعلان کاوه چې الا صلوا فی الرحال[۱۹۲] (اې خلګو! په خپلو کورونو کې لمونځ وکړئ.)

او دا نقل هم شوی چې د اوازلوړولو او هر طرف ته يې د رسولو لپاره بلال ﷺ د اذان کولو پر مهال ګوتې په غوږونو کې نیولې او مخ يې راسته او چپه لور ته اړاوه.[۱۹۳]

عثمان بن ابی العاص ﷺ وايي چې ما له رسول الله ﷺ څخه د امامت اجازه وغوښته نو ده وويل: داسې څوک موذن کړه چې د اذان مزدوري نه غواړي.[۱۹۴]

رسول الله ﷺ د اذان په ځواب کې د موذن د کلماتو تکرارولو او پرده د درود ويلو سپارښتنه کړې، ويلي يې دي: تر دې وروسته زما لپاره د نژدې مقام دعا وکړئ ځکه دا په جنت کې يوه درجه ده چې د الله په بندګانو کې يوه بنده ته ځانګړې شوې او زه هيله لرم چې زما به وي، نو چا چې دا دعا وکړه هغه به زما د شفاعت مستحق وي.[۱۹۵]

د عمر ﷺ په روايت کې دا وضاحت هم دی چې رسول الله ﷺ د حی علی الصلوة او حی علی الفلاح په ځواب کې د لا حول و لا قوة الا بالله (توان او طاقت يوازې د الله له خوا دي) ويلو هدايت وکړاو ويې ويل: چا چې د زړه له اخلاصه د اذان ځواب ورکړ د هغه لپاره د جنت زېری دی.[۱۹۶]

تر اذان وروسته چې له رسول الله ﷺ څخه کومې دعاوې نقل شوې دي، هغه دادي:

۱) اللَّهُمَّ رَبَّ هذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ، آتِ محمّداً الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَحْمُوْداً الَّذِيْ وَعَدْتَهُ.[۱۹۷]

"اې الله! د دې کامل دعوت او په تتبجه کې يې د درېدونکي لمانځه ربه ته محمد ﷺ ته فضيلت او د نژدېکت مقام ورکړه او د قيامت په ورځ يې هغه ډول د خلګو ستايلـــی را

---

[۱۹۲] بخاري، شمېره: ۶۳۲، مسلم، شمېره: ۱۶۰۰

[۱۹۳] بخاري، شمېره: ۶۳۴، ترمذي، شمېره: ۱۹۷

[۱۹۴] ابوداود، شمېره: ۵۳۱

[۱۹۵] مسلم، شمېره: ۸۴۹

[۱۹۶] مسلم، شمېره: ۸۵۰

[۱۹۷] بخاري، شمره: ۶۱۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وپاڅوه لکه تا چې ورسره وعده کړې."

۲) أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ، وَأَنَّ محمّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، رَضِـيْتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِمحمّد رَسُوْلاً، وَبِالإِسْلاَمِ دِيْناً. [۱۹۸]

"زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته هيڅ معبود نه شته، دی يو دی او هيڅ شريک نه لري او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د ده بنده او رسول دی، زه راضي او مطمين يم چې الله مي رب، محمد مي رسول او اسلام مي دين دی."

د لومړی دعا په اړه رسول الله ﷺ ويلي چې چا وويله زما د شفاعت حقدار شـو. [۱۹۹] او د دويمې دعـا په اړه يې ويلـي چـې ګناهونه به يې وبخښل شي. [۲۰۰]

اقامت

اقامت عموما يو -يو وار ويل کېده [۲۰۱] پورته چې د صحابه وو کوم خوب ذکر شوی په هغه کې د اقامت کلمې داسي روايت شوې دي:

الله اکبر، الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمد ا رسول الله، حی علی الصلاة، حی علی الفلاح، قد قامت الصلاة، قد قامت الصلاة، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله. [۲۰۲]

ابو محذوره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ ده ته د اقامت دا اوولس کلمې ورښودلې وې:

الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله، اشهد ان محمدا ر سول الله، حی علی الصلاة ، حی علی الصلاة، حی علی الفلاح، حی علی الفلاح، قد قامت الصلاة، قد قامت الصلاة، الله اکبر، الله اکبر، لااله الا

---

[۱۹۸] مسلم، شمېره: ۸۵۱

[۱۹۹] بخاري، شمېره: ۶۱۴

[۲۰۰] مسلم، شمېره: ۸۵۱ يعني هغه ګناهونه چې له حقوق العباد سره تړاو نه لري او توبې، جبيرې او کفارې ورکولو يې ضرورت نه وي.

[۲۰۱] بخاري، شمېره: ۶۰۵، مسلم، شمېره: ۸۳۸

[۲۰۲] ابوداود، شمېره: ۴۹۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله. ۲۰۳

امام

لمونځ د هر نېک او بد مسلمان تر شا کېږي خو که د کوم چا انتخاب ته ارتیا وي نو رسول الله ﷺ لارښوونه کړې چې دا مسئولیت دي هغه چا ته وسپارل شي چې د قرآن ښه قاري وي، که په دین کې سره برابر وي نو په سنتو ډېر خبر ته دي وسپارل شي، که د سنتو په علم کې سره برابر وي نو چا چې اول هجرت کړی وي او که په دې کې هم برابر وي نو څوک چې مشر وي. همدا رازیې ویلي: یو څوک دي د بل د واک په دایره کې امامت نه کوي بلکې چا ته چې ورشي د هغه په امامت کې دي لمونځ وکړي.[۲۰۴]

رسول الله ﷺ ویلي: امام باید لنډ لمونځ وکړي ځکه د هغه شا ته ناروغ، کمزوری او بوډا وي.[۲۰۵] له انس ﷺ څخه روایت دی چې ما تر رسول الله ﷺ ډېر کامل خو لنډ لمونځ کوونکی بل نه دی لیدلی، ده چې به کله د ماشوم ژړا واورېده نو د مور اندیښنې له کبله به یې لمونځ نور هم را لنډاوه.[۲۰۶]

امام باید د لمانځه صفونه په ډېره توجو برابر کړي، د نعمان بن بشیر روایت دی چې رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه داسې برابرول لکه په غشي چې یې برابروي.[۲۰۷]

مقتدي

د امام شاته چې کوم کسان د لمانځه لپاره درېږي رسول الله ﷺ پرې ټینګار کړی چې تر خپل امام دي د مخته کېدلو هڅه نه کوي، بلکې د هغه تر تکبیر وروسته دي تکبیر وایي، د هغه تر سمع الله لمن حمده وروسته دي ربنا و لک الحمد وایي او د لمانځه په اعمالو کې دي هر ځای د هغه پیروي کوي.[۲۰۸] د انس ﷺ وینا ده چې یوه ورځ رسول الله ﷺ تر

---

[۲۰۳] ابوداود، شمېره: ۵۰۲

[۲۰۴] مسلم، شمېره: ۱۵۳۲

[۲۰۵] بخاري، شمېره: ۷۰۳، مسلم، شمېره: ۱۰۴۶

[۲۰۶] بخاري، شمېره: ۷۰۹، مسلم، شمېره: ۱۰۵۶

[۲۰۷] مسلم، شمېره: ۹۷۹

[۲۰۸] بخاري، شمېره: ۷۳۳، مسلم، شمېره: ۹۲۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لمانځه وروسته موږ ته مخ را واړاوه او ويې ويل: اې خلګو! زه ستاسي امام يم، له ما څخه مه په رکوع، مه په سجده، مه په قيام او مه د لمانځه په ختمولو کي مخته کېږئ.[۲۰۹]

همدارنګه يې ټينګار کړی چې د لمانځه صفونه دي برابر کړای شي،[۲۱۰] او وې ويل چې دي له يوه بل سره سمپ وي، په منځ کي دي چولې نه وي او خلګ دي له يوه بل سره نژدې ودرېږي.[۲۱۱] عاقلان او بالغان دي اول، بيا دي ترهغوی کوچنيان او بيا دي ترهغوی کوچنيان ودرېږي.[۲۱۲] لومړی دي اول صف پوره شي، بيا دويم او بيا درېيم.[۲۱۳] د صفونو برابرول يې د لمانځه د اقامت تقاضا بللې ده.[۲۱۴] او ويلي يې دي چې اې خلګو! له خپلو وروڼو سره نرمي کوئ او په صفونو کي شيطان ته ځای مه پرېږدئ، په ياد لرئ چا چې صف پيوست کړ، الله به يې پيوست کړي او چا چې صف مات کړ نو الله به يې له خلګو سره اړيکه غوڅه کړي.[۲۱۵] همدارنګه يې ويلي: تاسو هم د فرشتو په څېر صفونه برابروئ، هغوی تل د خپل رب په حضور کي له يو بل سره پيوست ولاړ وي او مخکيني صفونه اول برابروي.[۲۱۶]

د لمانځه لپاره بايد اول صف ته د رسېدو هڅه وشي، په روايا تو کي يې فضيلت بيان شوی.[۲۱۷] خو که کوم وخت ځنډ وشي نو انسان ته په کار ده چې له اطمنان او وقار سره راشي، څومره لمونځ چې وموميي هغه وکړي او پاتي دي خپله پوره کړي.[۲۱۸]

صفونه بايد د امام د راتلو پر مهال برابر شي.[۲۱۹] که د ښځو په صف کي صرف يوه ښځه

---

[۲۰۹] مسلم، شمېره: ۹۶۱
[۲۱۰] بخاري، شمېره: ۷۱۷، مسلم، شمېره: ۹۷۸
[۲۱۱] ابوداود، شمېره: ۶۶۶
[۲۱۲] مسلم، شمېره: ۹۷۲
[۲۱۳] احمد، شمېره: ۱۳۲۷
[۲۱۴] بخاري، شمېره: ۷۲۳، مسلم، شمېره: ۹۷۵
[۲۱۵] ابوداود، شمېره: ۶۶۶
[۲۱۶] مسلم، شمېره: ۹۶۸
[۲۱۷] بخاري، شمېره: ۶۱۵، مسلم، شمېره: ۹۸۱
[۲۱۸] بخاري، شمېره: ۶۳۶، مسلم، شمېره: ۱۳۵۹
[۲۱۹] بخاري، شمېره: ۶۳۷، مسلم، شمېره: ۱۳۶۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وي نو يوازي هم درپدای شي. له انس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو وخت لمونځ ورکاوه نو دوه نارينه مخته او ام سليم شا ته په صف کې يوازي ولاړه وه.[۲۲۰]

مسجدونه

د نړۍ په مسجدونو کې لرغونی مسجد بيت الحرام دی چې ابراهيم ﷺ ودان کړ، د بيت المقدس د مسجد بنسټګر داود ﷺ دی[۲۲۱] او د يثرب مسجد د الله وروستي رسول محمد رسول الله ودان کړی دی. دا درې مسجدونه د ځانګړې مرتبې درلودونکي دي، رسول الله ﷺ ويلي: خلګ د همدې درو مسجدونو د زيارت او په هغو کې د لمانځه لپاره سفر کولای شي.[۲۲۲] په هغو کې لمونځ ډېر فضيلت لري، له دې څخه د بيت الحرام په اړه په روايتونو کې دا وينا نقل شوې چې د هغه يو لمونځ تر يو لک لمنځونو غوره دی. د خپل مسجد په اړه يې ويلي چې د هغه لمونځ له بيت الحرام پرته په نورو مسجدونو کې تر زرو لمنځونو غوره دی.[۲۲۳] له دې پرته چې په نړۍ کې څومره مسجدونه ودان شوي او يا به په اينده کې ودانېږي د هغو درجه بالکل يو ډول ده چې د خرڅولو، رانيولو، مبلو او تفريحاتو لپاره نه بلکې د الله د عبادت لپاره جوړېږي. پر ځمکه د الله تر ټولو خوښې ودانۍ همدا دي.[۲۲۴] په هغو کې په ناسته د لمانځه انتظار هم لمونځ دی.[۲۲۵] خلګ چې له څومره لرې په هغو کې د عبادت کولو لپاره راځي همدومره به يې اجر زياتېږي.[۲۲۶] د راتلو اداب يې دا بيان شوي چې که تر راتګ وروسته کوم عذر نه وي نو بايد انسان د دوو رکعتو لمانځه په کولو په مسجد کې کښېني او په روايتو کې پر دې خبره ډېر ټينګار شوی دی.[۲۲۷] او دا خبره هم نقل شوې چې رسول الله ﷺ به مسجد ته د ننوتلو پر وخت له الله پناه غوښته چې الفاظ يې دادي:

---

[۲۲۰] بخاري، شمېره: ۳۸۰، مسلم، شمېره: ۱۴۹۹

[۲۲۱] کار يې سليمان ﷺ پوره کړ، له همدې کبله هيکل سليماني هم بلل کېږي.

[۲۲۲] بخاري، شمېره: ۱۱۹۷، مسلم، شمېره: ۳۳۸۴

[۲۲۳] بخاري، شمېره: ۱۱۹۰، مسلم، شمېره: ۳۳۷۴، ابن ماجه، شمېره: ۱۴۰۶

[۲۲۴] مسلم، شمېره: ۱۵۲۸

[۲۲۵] بخاري، شمېره: ۶۴۷

[۲۲۶] بخاري، شمېره: ۶۵۱، مسلم، شمېره: ۱۵۱۳، ۱۵۱۸، ۱۵۱۹

[۲۲۷] بخاري، شمېره: ۴۴۴، مسلم، شمېره: ۱۶۵۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ، وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ.[۲۲۸]

"زه له مردود شیطان څخه د لوی الله، د هغه د کریم ذات او لرغوني سلطنت په وسیله پناه غواړم."

دا نقل هم شوی چې رسول الله ﷺ وویل: که په تاسو کې څوک مسجد ته ننوزي نو باید اللهُمَّ افْتَح لِي اَبْوابَ رحمَتِک (اې الله! ما ته د خپل رحمت دروازې خلاصې کړه) ووایي او د وتلو پر وخت باید اللهُمَّ اِنّـی اَسْـئلُک مِـنْ فضَـلکَ (اې الله! زه ستا فضل غواړم) ووایي.[۲۲۹]

په لمانځه کې تېروتنې

په شریعت کې چې د لمانځه لپاره کوم اعمال او اذکار ټاکل شوي که په هغو کې تېروتنه وشي او یا شک وي چې دلته تېروتنه شوې نو دا سنت را منځ ته شوی چې که د تېروتنې جبران ممکن وي نو تر جبران وروسته دي او که ممکن نه وي نو له جبران پرته دي یې د لمانځه په اخیر کې دوې زیاتې سجدې وکړي.

د رسول الله ﷺ په ژوند کې چې دا ډول کومې پېښې شوې دي او ده په څه ډول د سهوې سجده کړې تفصیلات یې دادي:

ابن بجینه وایي چې موږ ته رسول الله ﷺ د ماپښین لمونځ راکړ خو تر دوو رکعتونو وروسته یې ناسته ونه کړه او له هغې پرته درېیم رکعت ته ولاړ شو، خلګ هم ودرېدل. کله چې لمونځ پر پوره کېدو وو او خلګو د سلام انتظار کاوه، ده تکبیر ووایه تر سلام وړاندې یې دوې سجدې وکړې بیا یې سلام وګرزاوه.[۲۳۰]

له ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یوه ورځ د ماپښین لمونځ پنځه رکعته وکړ، ده ته وویل شول چې ایا لمونځ اضافه شوی؟. ده وویل: ولې څه وشول؟. خلګو وویل: تا پنځه رکعتونه وکړل. په دې سره رسول الله ﷺ هماله ته په ناسته پښې ور وګرزولې، د قبلې لور ته یې مخ کړ او د دوو سجدو په کولو یې سلام وګرزاوه. وروسته

---

[۲۲۸] ابوداود، شمېره: ۴۶۰

[۲۲۹] مسلم، شمېره: ۱۶۵۲

[۲۳۰] بخاري، شمېره: ۱۲۲۴، ۱۲۲۵، ۱۲۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې خلګو ته مخ را واړاوه او ويې ويل: که د لمانځه په اړه کوم نوی حکم وای نو ما درته بيانا وه، زه هم ستاسو په څېر انسان يم لکه څرنګه چې تاسو هېره کوئ زه هم هېره کوم، که مي هېره وکړه نو را يادوئ يې او په ياد ولرئ که په تاسو کې څوک پر لمانځه شکمن وي نو هغه يقيني دي يې ونيسي او له همدې مخې دي لمونځ پوره کړي، بيا دي سلام وګرزوي او وروسته دي دوې سجدې وکړي.[۲۳۱]

له ابو هريره ﷺ څخه رويت دی چې رسول الله ﷺ د ماپښين يا مازيګر لمونځ دوه رکعته وکړ او سلام يې وګرزاوه. د مسجد په مخکينۍ برخه کې يو لرګی پروت وو، دی ولاړ او د غوسې په حالت کې يې پرې تکيه وکړه. په خلګو کې ابوبکر او عمر هم وو ل خو هيڅا ورسره خبرې نه شوای کولای، په همدې کې ځينې تلواريان له مسجده ووتل او دا وينا يې شروع کړه چې لمونځ کم شوی دی. په دې سره يو ښاغلی چې ذوالیدين بلل کېده ودرېد او د جرأت په کولو يې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: تا هېره وکړه او که لمونځ کم شوی دی؟. ده وويل: نه مي هېره کړې او نه لمونځ کم شوی دی. هغه وويل: يو څه خو شوي دي اې د الله رسوله!. ده يې له خلګو تصديق وغوښت، هغوی هم دا خبره وکړه نو ده دوه رکعتونه نور وکړل بيا يې سلام وګرزاوه، تکبير يې ووايه او له خپل عادت سره سم يا تر هغه اوږده سجده يې وکړه، بيا يې سر را پورته کړ، تکبير يې ووايه، بيا يې بل تکبير ووايه له خپل عادت سره سم يا تر هغه اوږده سجده يې وکړه، بيا يې سر را پورته کړ او تکبير يې ووايه.[۲۳۲]

عمران بن حصين ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د مازيګر لمونځ وکړ او تر درو رکعتو وروسته يې سلام وګرزاوه او بيا خپلې حجرې ته ولاړ. يو سړی چې خرباق نومېده او لاسونه يې اوږده وو ده ته ووېل، ده په غوسه خپل ځادر راکش کړ، دباندې راووت او له خلګو يې وپوښتل: ايا دا رښتيا وايي؟. هغوی يې تصديق وکړ نوده يو بل رکعت وکړ بيا يې سلام وګرزاوه، وروسته يې دوې سجدې وکړې او بيا يې دويم ځل سلام وګرزاوه.[۲۳۳]

رسول الله ﷺ ويلي:

" که په تاسو کې څوک پر لمانځه شکمن شي چې درې رکعته يې کړي دي او که څلور؟ نو په يقين دي عمل وکړي او په څه کې چې يې شک وي هغه دي پرېږدي، بيا دي تر سلام

---

[۲۳۱] بخاري، شمېره: ۴۰۱، ۴۰۴، مسلم، شمېره: ۱۲۷۴، ۱۲۸۱

[۲۳۲] بخاري، شمېره: ۱۲۲۹، مسلم، شمېره: ۱۲۸۸

[۲۳۳] مسلم، شمېره: ۱۲۹۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وړاندي دوې سجدې وکړي. که يې پنځه رکعته وکړي وو نو دا سجده به يې جفت کړي او که يې څلور رکعته پوره کړل نو دا به د شيطان لپاره د ذلالت سبب شي." [۲۳۴]

که امام خطا شي او پرې ونه پوهېږي نو مقتدي يې پوهولای شي، سنت داده چې سبحان الله ووايي او که ښځې د خپل اوازلوړول نه غواړي نو رسول الله ﷺ ويلي چې لاسونه دي وټکوي.[۲۳۵] همدارنګه يې ويلي چې که امام په قرأت کې تېر وزي نو اوږدونکي دي يې وريادکړي.[۲۳۶]

د لمانځه اداب

لمونځ د الله لمانځنه او د هغه په حضور کې دعا او مناجات دی، له همدې امله چې قرآن په کوم ځای کې د هغه د ساتنې امر کړی دی هلته يې دا هم ويلي چې وقُومُوا لله قَانِتِينَ[۲۳۷] (او د الله حضور ته په ډېر ادب ودرېږئ) د دې حکم په وضاحت کې چې د رسول الله ﷺ کوم هدايات نقل شوي دي، هغه دادي:

۱) په لمانځه کې دي له چا سره خبرې نه کېږي، ده ويلي: لمونځ صرف تسبيحات، تکبير او د قرآن تلاوت دی. په دې کې د خلګو د خبرو په څېر هيڅ شی روا نه دي.[۲۳۸] زيد بن ارقم ﷺ وايي چې موږ به اول په لمانځه کې له خپل ملګري سره خبرې کولې خو کله چې د وقوموا لله قانتين حکم نازل شو نو موږ پې له دې کار څخه منع کړو او په خاموشي سره د لمانځه کولو لارښوونه را ته وشوه.[۲۳۹] له ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې موږ به رسول الله ﷺ ته په لمانځه کې سلام وايه نو ده به ځواب راکاوه، خو له نجاشي څخه تر را ستنېدو وروسته مو ورته سلام وکړ نو ده يې ځواب را نه کړ. موږ وپوښتل چې اې د الله رسوله! تا د سلام ځواب راکاوه. ده وويل: په لمانځه کې صرف يو مصروفيت وي.[۲۴۰]

---

[۲۳۴] مسلم، شمېره: ۱۲۷۲

[۲۳۵] بخاري، شمېره: ۶۸۴، ۱۲۰۴، مسلم، شمېره: ۹۴۹، ۹۵۴

[۲۳۶] ابوداود، شمېره: ۹۰۷

[۲۳۷] البقرة ۲ : ۲۳۸

[۲۳۸] مسلم، شمېره: ۱۱۹۹

[۲۳۹] بخاري، شمېره: ۱۲۰۰، مسلم، شمېره: ۱۲۰۳، ۱۲۰۴

[۲۴۰] بخاري، شمېره: ۳۸۷۵، مسلم، شمېره: ۱۲۰۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) په لمانځه کې دي هلته -دوري نه ګوري، له عائشې ﵂ څخه روایت دی چې ما په دې اړه له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل نو ده وویل: دا د بنده په لمانځه کې د شیطان تښتونه ده.[۲۴۱] همدارنګه د اسمان لور ته پر کتلو هم رسول الله ﷺ خبرداری ورکړی دی او ویلي یې دي چې خلګو ته څه ور پېښه ده چې په لمانځه کې یې سترګې اسمان ته نیولې وي، هغوی دي له دې کاره لاس واخلي که نه وبره ده چې نظرونه به یې وتښتول شي.[۲۴۲]

۳) لمونځ دي په پوره ډاډ سره وکړي، رسول الله ﷺ ویلي: څه خبره ده چې تاسو داسي د لاسونو پر پورته کولو وینم لکه شریر اسونه چې لکۍ پورته کوي؟، په لمانځه کې ارام اوسئ.[۲۴۳]

۴) د لمانځه پر مهال دي وېښتان او جامې نه راټولوي، رسول الله ﷺ ویلي چې ما ته امر شوی چې پر اوو اندامونو سجده وکړم او د لمانځه پر مهال خپل وېښتان او جامې را ټولي نه کړم.[۲۴۴]

۵) د لمونځ کوونکي مخته باید داسي شی نه وي چې په توجو کې یې فرق راشي. له انس ﵁ څخه روایت دی چې د ام المؤمنین عائشې ﵂ په کور کې یوه پرده ځړېده. رسول الله ﷺ چې ولیده ویې ویل: دا لرې کړه ځکه چې په لمانځه کې یې تصویرونه زما مخ ته راځي.[۲۴۵]

۶) که خوراک حاضر وي نو له هغه څخه په خلاصېدو دي لمونځ په اطمنان سره وکړي چې په لمانځه کې د خوراک اندېښنه ورسره نه وي، بلکې د خوراک پر مهال له انسان سره د لمانځه فکر وي. دا لارښوونه په هغه صورت کې هم شوې چې بولو یا لویي مرداري ته اړتیا وي. ده ویلي: که خوراک حاضر وي او یا بولو یا لویي مرداری ته اړتیا وي نو باید لمونځ ونه شي.[۲۴۶]

---

[۲۴۱] بخاري، شمېره: ۷۵۱

[۲۴۲] بخاري، شمېره: ۷۵۰، مسلم، شمېره: ۹۶۷

[۲۴۳] مسلم، شمېره: ۹۶۸

[۲۴۴] بخاري، شمېره: ۸۱۲، مسلم، شمېره: ۱۰۹۶

[۲۴۵] بخاري، شمېره: ۳۷۴

[۲۴۶] مسلم، شمېره: ۱۲۴۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۷) که د لمانځه پر مهال د بل کار کولو ته اړتیا شي نو افراط دي نه کوي، ویل شوي چې ده د سجدې پر ځای د شګو برابروونکي کس په اړه وویل: که یې کوې نو یو ځل یې وکړه.[۲۴۷]

۸) د قیام په حالت کې دي نه څوک پر ډډه لاس ږدي او نه دي په ناسته کې له اړتیا پرته پر لاسونو تکیه کوي، رسول الله ﷺ له دې څخه منعه کړې ده.[۲۴۸]

۹) په لمانځه کې دي ارمېږی نه کاږي، ده ویلي: که په لمانځه کې ارمېږی درته راشي نو ترکومه چې ممکنه وي د بندېدو هڅه یې وکړئ که نه پر خوله لاس کښېږدئ.[۲۴۹]

۱۰) ښکلې او مناسبې جامې دي واغوندي، رسول الله ﷺ ویلي: که یوه جامه وي نو داسي یې مه په تن کوئ چې هیڅ برخه یې پر اوږو نه وي.[۲۵۰] همدا راز یې ویلي: که بالغه مېرمن له پرونې پرته لمونځ وکړي نو الله یې نه قبلوي.[۲۵۱]

دا د لمانځه ظاهر دی، د الله د دې حکم وقوموا لله قانتین له مخې لمونځ ځینې باطني اداب هم لري چې باید هر مسلمان په خپلو لمنځونو کې هغو ته پام وکړي. هغه اداب دادي:

۱) په لمانځه کې باید لټې او سستي نه وي، دا یوه عامه ناروغي ده او که څوک په اخته شي نو هغه نه وخت ته پام کوي، نه جماعت ته او نه انسان د زړه له حضور سره د خپل رب په وړاندې درېږي، ظاهري سبب یې خوب هم کېدای شي، مصروفیت هم او د دنیا له چارو سره تړاو هم، خو که باطن ته په کښته کېدو وګورو نو په ښکاره معلومېږي چې اصل سبب یې په زړه کې دننه دی او باید هر مسلمان یې د لرې کولو هڅه وکړي. د دې لپاره چې کوم تدابیر غوره کېدای شي د استاذ امام په الفاظو کې دادي:

"لومړی شی دادی چې لمونځ په دین کې کوم ارزښت لري انسان یې په خپل زړه کې په ښه ډول ځای پر ځای کړي، لمونځ د ایمان لومړی څرګندوی دی. په ایمان سره چې اول

---

[۲۴۷] بخاري، شمېره: ۱۲۰۷، مسلم، شمېره: ۱۲۱۹

[۲۴۸] بخاري، شمېره: ۱۲۱۹، مسلم، شمېره: ۱۲۱۸، ابوداود، شمېرهک ۹۴۷، ۹۹۲

[۲۴۹] مسلم، شمېره: ۷۴۹۱، ۷۴۹۳

[۲۵۰] بخاري، شمېره: ۳۵۹، مسلم، شمېره: ۱۱۵۱

[۲۵۱] ابوداود، شمېره: ۶۴۱، ابن حبان، شمېره: ۱۷۱۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوم شی پیدا کېږي هغه لمونځ دی او بیا له لمانځه څخه ټول دین را پیدا کېږي. دین چې پر کومه ستنو ولاړ دی په هغو کې تر ایمان وروسته تر ټولو لومړنۍ ستن همدا ده. له همدې کبله که څوک دا ستن ونړوي نو په حقیقت کې یې ټول دین ړنګ کړ. صحابه کرام ﷺ لمونځ د کفر او ایمان تر منځ ببلوونکې کرښه بلله، عمر ﷺ خپلو والیانو او چارواکو ته لارښوونه کړې وه چې ستاسو تر ټولو لویه دنده د لمانځه کول او هغه ته پاملرنه ده. که څوک لمونځ ضایع کړي نو پاتې دین به حتما ضایع کوي، څرنګه چې لمونځ د دین منبع او سرچینه ده ځکه نو د هغه په ساتنه کې ډېره وندې لري. دې شي ته په پام انسان خپل ټول دین ساتي، که په دې کې لټې وکړي او یا یې ضایع کړي نو بیا د دین ټول حدود ماتوي او خپلې واګې د شهوتو لاس ته سپاري، د اهل کتابو په اړه قرآن ویلي چې هغوی لمونځ ضایع کړ او په شهوتونو اخته شول.

په همدې ترڅ کې دا خبره هم د یادولو وړ ده چې په دین کې هر شی یو مقام لري او دا مقام په خپله الله ټاکلی دی، کوم شی چې د دین د ستنې حیثیت لري هغه په هر حال د دین ستن ده، څو چې ترسره نه شي دین نه شي راتلای. که څوک لمونځ نه کوي او په خپل ګومان شپه او ورځ د اسلام په خدمت اخته وي نو د دین د اقامت له لید لوري به یې ټولې هڅې بې نتیجې وي ځکه هغه له بنسټ پرته یوه ودانۍ جوړوي، لکه څرنګه چې په یوه ودانۍ کې بل شی د بنسټ بدیل نه شي کېدای همدارنګه په دین کې بل هیڅ شی د لمانځه بدیل نه شي کېدای. همدا حقیقت په حدیث کې داسې بیان شوی چې الله تر هغو د یو چا نوافل نه مني چې فرایض ادا نه کړي. د دې لټې او سستۍ ماتولو لپاره دویم اړین شی دادی چې انسان خپل ځان د الهي ذکر پر لور له ورتګ سره عادي کړي، د الهي ذکر لور ته د ورتلو مطلب دادی چې انسان اذان الهي اعلان وګڼي او کله چې یې غوږ ورته اذان ورسېږي نو کار پرېږدي لمانځه او مسجد ته د تلو تیاری پیل کړي چې دا تیاری او چمتووالی باید په سستي سره نه وي بلکې دیوه چمتو او تکړه و بیدار انسان په څېر وي، لکه څرنګه چې یو امر منونکی مرېیی د خپل بادار حکم ته غوږ وي او د هغه د اوازې په اورېدو نور ټول مصروفیتونه پرېږدي او د حکم عملي کولو ته یې حاضرېږي همدارنګه انسان ته په کار ده چې د اذان په اورېدو لمانځه ته ولاړ شي. باید دا خبره یې ښه په یاد وي چې د لمانځه پر مهال تر ټولو ضروري او تر ټولو مهم فرض د الله په نزد لمونځ دی، د مجبوریت او اړتیا له حالاتو پرته بل کار که څه هم دیني وي پر هغه مخته کېدای نه شي. که یو انسان یو څه موده د اذان په اورېدو نوري دندې پرېږدي او لمانځه ته له ولاړېدو سره عادي شي نو لرې نه ده چې الله به یې دا کار یو محبوب عادت وګرزوي او د لمانځه په چاره کې به یې د لټې ناروغي ختمه شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خوب چي کومه سستي پيدا کوي رسول الله ﷺ يې غوره علاج بيان کړی دی ... يقينا خوب تر هغه وخته له شک پرته دروند وي چي انسان پر بستره پروت وي خو که يو ځل د جرأت په کولو بستر پربږدي، الله ياد کړي، اودس وکړي او لمونځ ادا کړي نو درجه پر درجه به د سستي، له بد زړه او بد حالت څخه په وتلو د خوښۍ او خوشالۍ هغه مقام ته ورسېږي چي هلته به پر خوب افسوس ونه کړي بلکي پر دې به افسوس کوي چي ولي يې د بيداری دا خوند او راحت تر دې وړاندی حاصل نه کړای شو؟. بايد دا ښه په ذهن کي ولرو چي انسان به د لمانځه لپاره د خپل خوب په قربانولو هيڅکله پښېمان نه شي، تر لږ مودې تمرين وروسته به يې له بيدارېدو بعد د هغه خوند ياد پر طبيعت داسي غالب شي چي انسان له هر ډول ژور خوب څخه را پاڅوي." (تزکيه نفس: ۲۵۰)

۲) لمونځ بايد د وسوسو له هجوم څخه وژغورل شي، هر سړی پوهېږي چي له دې څخه خوندیتوب يې اسانه نه دی ځکه لمونځ چي د الله څومره خوښ دی د شيطان ورسره هغومره دښمني ده. له همدې کبله د لمانځه په پيلولو په پوره زور او ځواک سره پر زړه او دماغ بريد کوي. استاذ امام امين احسن اصلاحي د شيطان له دې بريد ونو څخه د خوندیتوب تدابير داسي بيان کړي دي:

"يوه عامه خبره خو داده چي انسان کله دا حالت احساس کړی نو له شيطان څخه دي د الله پناه وغواړي او د هغه سړي په څېر دي د خپل لمانځه د ساتنې او بشپړولو لپاره چمتو شي چي د دښمن د بريد خبر ورته رسېدلی وي او دا اراده يې کړې وي چي د دښمن بر خلاف به خپل لمونځ پوره کوي او دې وسوسې اچونې ته به هيڅ پام نه کوي. د انسان دا چمتووالی ډېر وختونه د شيطان ټول طلسم له منځه وړي.

دويمه خبره داده چي د لمانځه کلمات دي يوازي له ځان سره نه وايي بلکي داسي دي وايي چي په خپله يې واوري او معنا ته دي يې متوجې شي خو احتياط دي کوي چي په خواکي يې د نورو لمونځ کوونکو لمانځه ته تاوان ونه رسوي. دا شی د وسوسو په لرې کولو کي ډېره مرسته کوي، کله چي د انسان ذهن په معنا پسې کېږي نو تر ډېره بريده د وسوسو په شپلو کي له بې لاريتوب څخه خوندي کېږي.

درېيم شی چي تر ټولو ډېر ګټور او اغېزناک دی دادی چي انسان په خپل عام ژوند کي د خپلو افکارو د پاکولو او لورلو هڅه وکړي، تل پر داسي شي فکر وکړي چي هم د ده لپاره په دين او دنيا کي ګټور وي او هم د نورو لپاره مفيد او ترقي بخښونکي وي. بايد په ياد ولرو چي د انسان د ذهن ژرنده تل حرکت کوي، که انسان پاکه غله ور واچوي نو پاکه غله به اوړه کوي او ډېر غوره وړه به ور څخه تر لاسه کړي. د دې بر خلاف د شيطان

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وسوسې دي، هغه د فرصت په موندلو له شګو څخه موټ ډکوي او ور غورځوي يې او دا پل يې په وړولو شروع کوي چې د ژرندې نظام ببخي درې - وړې کوي، که دا پښنه بيا - بيا را منځ ته شي نو ژرنده داسي خرابېږي چې پکې د غوره وړو چمتو کولو وړتيا نه پاتېږي او که هر ډول غوره غنم ور واچول شي نو وړه به يې بې کاره وي.

کوم انسان چې په خپل ذهن کې د ښو افکارو له پاللو سره عادت کېږي نو په لمانځه کې يې وسوسې کمې وي، ځکه دی چې له کوم ډول خيالاتو سره عادت وي نو په لمانځه کې هم دا ډول روحاني غذا ترلاسه کوي او که کوم افکار ورسره پيدا کېږي نو هغه داسي ناولي نه وي چې د لمانځه له نور هدف سره مناسبت ونه لري. د عمر ﷺ په څېر د حضور او شهود د څښتن په لمانځه کې به هم کله - کله دا ډول خارجي خيالاتو ګډ - وډي را منځ ته کوله. کله - کله به يې عيني د لمانځه پر مهال ذهن په ايران او شام کې د جنګېدونکو پوځونو په ترتيب بوخت وو، يو سړی ويلای شي چې دا هم يو ډول ورکېدل دي. په دې کې شک نه شته چې دا يو ډول ورکېدنه ده خو د هغې ورکېدنې تر منځ ډېر توپير دی چې د بل په کوڅو کې وي او هغه ورکېدنه چې د کوم چا په لټه را وتلی د هغه په کوڅه کې ورک شي." (تزکيه نفس ۲۵۳)

۳) په لمانځه کې چې څه ويل کېږي بايد په پوره توجو او فهم سره ولوستل شي، موږ چې پورته د لمانځه کوم اذکار بيان کړي دي نو په هغو کې د الله حمد و ثنا، د هغه تکبير او له هر عيب څخه د پاکوالي اقرار او اظهار دی. له هغه سره دعا و مناجات دی، پر دې سربېره د سورت الفاتحې او وروسته د قرآن د يوې برخې تلاوت دی. د دې دواړو تر منځ د دعا او ځواب تعلق دی او په کوم ترتيب سره چې ويل کېږي هدف يې د دې حقيقت يادونه ده چې په دې دنيا کې تر ټولو لومړنی غوښتل کېدونکی شی د الله هدايت دی او که تر لاسه کېدای شي نو نور تر قيامته له قرآن څخه تر لاسه کېدای شي.

استاذ امام ليکي:

"... دا (سورت الفاتحه) هغه دعا ده چې تر اسمان لاندې له هغې څخه بله لويه دعا نه شته، دا دعا په خپله د الله له لوري ښودل شوې. په دې کې چې بنده په کومه طريقه له خپل رب څخه غوښتنه کوي تر هغې د غوره طريقې تصور هم نه شي کېدای او کوم څه چې غواړي تر هغه بل غوره شی غوښتل کېدای نه شي، الله په خپله ويلي چې له ده څخه د غوښتنې طريقه څه ده او دا يې هم ويلي چې د غوښتنې اصل شی څه دی؟. کله چې د غوښتنې مقدمه هم برابره وي او څه چې غوښتل کېږي نو د غوښتل کېدو وړتيا هم ولري

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او يوازې له هغه چا د غوښتنې وي چې غوښتنه ورڅخه کېږي او ورکوونکی يې تر ټولو مهربانو مهربان وي نو په منل کېدو کې يې څه شک کېدای شي؟." (تزکيه نفس: ۲۴۶)

تر دې وروسته يې د قرآن د تلاوت په اړه ليکلي:

" د قرآن هره برخه چې ولوستل شي همدا د دې کتاب اعجاز دی چې په هره برخه کې يې هغه اصل شی موجود وي چې د ښوونې او دعوت لپاره يې قرآن نازل شوی دی. د الله سمه ستاينه، د ژوند کولو سمه طريقه، د اخرت بيان او جزا و سزا ذکر به يې په هره برخه کې وموميء. اسلوب او د بيان طرز به بدل وي، يو ځای به يوه خبره د قانون په شکل، بل ځای د نصيحت په بڼه، بل ځای د کيسې په شکل او بل ځای د تمثيل په ډول، يو ځای به د ګوابن انداز وي او بل ځای د مينې او محبت خو دا شوني نه ده چې د درو ايا تونو په اندازه د قرآن يوه برخه دي واوربدل شي او د انسان په مخ کې دي په ډېر موثر او زړه وړونکي ډول هغه حقيقت ياد نه کړي چې د ده د ژوند د لوري سمولو لپاره ضروري دی."

(تزکيه نفس: ۲۴۸)

له دې څخه په ډاګه شوه چې له فهم او تو جو سره د لمانځه کول څومره ضروري دي؟، رسول الله ﷺ ويلي: لمونځ کوونکی له خپل رب سره پټې خبرې کوي، له همدې امله بايد وپوهېږو چې د څه شي په وسيله ورسره خبرې کوي؟.[۲۵۲] استاذ امام ليکي:

" دا فکر بايد ونه شي چې کله په هر ډول لمانځه کې يو ډول دعا وې او سورتونه ويل کېږي نو بيا پر هغو هره ورځ غور ته څه اړتيا ده؟ چې يو ځل درک شي نو کفايت کوي، کوم کسان چې دا خبره کوي هغوی د لمانځه او دعا وو په حقيقت يې نا خبره دي. لمونځ د معلوماتو د زيادت لپاره نه کېږي بلکې له الله سره د خپلې وعدې د تجديد، له هغه څخه د لارښوونې او مرستې د غوښتلو او توبې و استغفار لپاره کېږي، نو دا مقصد څرنګه د بې فهمه او بې درکه الفاظو په تکرارولو تر لاسه کېدای شي. په داسې حال کې چې د انسان دماغ او ذهن حاضر نه وي؟." (تزکيه نفس: ۲۵۶)

۴) لمونځ بايد له ريا څخه وساتل شي، حقيقت دادی چې د لمانځه تر ټولو عام او خطرناک افت همدا دی، د استاذ امام په الفاظو عام له دې امله دی چې دا دومره پټ ډولونه لري چې تر ټولو محتاط انسان يې هم د ځينو ډولونو له بريده خپل لمونځ نه شي خوندي کولای او خطرناک له دې وجې دی چې د لمانځه لپاره اخلاص شرط دی او ريا د

[۲۵۲] احمد، شمېره: ۴۹۰۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اخلاص ضد ده. د ده په نزد د درملنې لپاره يې دوه شيان ضروري دي. هغه ليکي:

" اول دا چې انسان بايد د ريا په ښېلابېلو شکلونو خبر وي، د امام غزالي احياء العلوم او د دا ډول نورو کتابونو مطالعه د ريا په اقسامو د پوهې ترلاسه کولو لپاره ډېره ګټوره ده. په يو شي تر ټولو ډول خبرېدو وروسته دا هيله کېدای شي چې انسان هغه وپېژني او که وغواړي نو اصلاح يې کړي. دا پوهه چې څومره د عامو خلکو لپاره اړينه ده تر هغوی ورته د دين علماء او متقيان ډېر اړ دي ځکه ريا د دنيا په جامه کې کمه څرګنديږي، د ديندارۍ په جامه کې ډېره راځي او داسې غولوونکي شکلونه خپلوي چې لوی - لوی ديني پوهان او ستر مشايخ تېر باسي او تر شا يې ډېر وختونه د خپل زهد او رياضت د ټول ژوند سرمايه له لاسه ورکوي.

د دې لپاره دويم ګټور شی د تهجد لمونځ دی چې د شپې په يوازيتوب کې کېږي او پر نفس ډېر سخت دی، د هغه پر پټولو هم ټينګار شوی دی. له همدې کبله چې کوم کسان يوازې د ريا لپاره لمونځ کوي د دې وس نه لري، يوازې هغه څوک يې کولای شي چې يا بې ريا وي او يا د ريا په فتنو پوهېږي او له هغې څخه د ځان ساتنې لپاره د تهجد په ګوښه کې پټ وي. دا لمونځ د ريا تر ټولو ګټور علاج دی، په دې شرط چې انسان يې راز وساتلای شي، ځيني کسان په دې لړ کې هم په ريا اخته وي، هغوی يا په ښېلابېلو پردو کې په خپله د شپې را پورته کېدل او تهجد کول مشهوروي او يا يې شاګردان و مريدان دا دنده ترسره کوي. په دې صورت کې دا لمونځ د دې هدف لپاره نه يوازې دا چې ګټور نه دی بلکې ريا نوره هم زياتوي." (تزکيه نفس: ۲۵۸)

له دې ادابو سره کېدونکی لمونځ چې کوم لمونځ را منځ ته کوي د استاذ امام په الفاظو داسې وي:

" ... کله چې يو بنده لمانځه ته ولاړېږي نو د عجز او تواضع د انځور په توګه درېږي، لاس يې ترلي، نظر يې ټيټ، غاړه يې ټيټه، پښې يې برابرې، له راسته او چپه اړخ او شا و مخ څخه بېخي بې تعلقه، د سنجېدګۍ او خاموشۍ انځور، د ادب او وقار مجسمه وي. کله د خپل مالک او خالق په وړاندې سر ټيټوي، کله خپله پزه او تندی پر ځمکه ږدي او کله د لاس په غوړولو له هغه دعا او درخواست کوي. لنډه دا چې بنده د عجز او تواضع څومره شکلونه غوره کولای شي په ادب او وقار سره هغه ټول شکلونه غوره کوي، په دې ډول چې د يوه لمونځ کوونکي کوم انځور را مخ ته کېږي هغه په ښکاره شاهدي ورکوي چې بنده خپل مالک او مولا وينې او که يې دی نه وينې نو پر دې خو حتما باور لري چې د ده مالک او مولا يې وينې. همدې ته د احسان لمونځ ويل کېږي او دا لمونځ له فقهي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لمانځه څخه جلا روح لري، د نفس پاکونې له نظره همدا لمونځ معتبر دی، دا لمونځ د لمونځ کوونکي د باطن عکس وي، په دې لمانځه کې د هغه باطني خشوع او تواضع څرګندېږي، په دې کې د الله په وړاندې یوازې د بنده ملا نه وي تیټه بلکې زړه یې هم تیټېږي، یوازې تندی یې په خاورو نه وي لړلی بلکې روح یې هم پر سجده وي."

(تزکیه نفس: ۲۴۴)

د جمعې لمونځ

د جمعې په ورځ پر مسلمانانو لازمه شوې چې د ماپښین د لمانځه پر ځای به د همدې ورځې لپاره یو ځانګړی اجتماعي لمونځ کوي، شریعت چې د دې لمانځه لپاره کومه طریقه ټاکلې هغه داده:

دا لمونځ دوه رکعته دی،

د ماپښین د لمانځه برخلاف یې په دواړو رکعتونو کې قرأت په لوړ اواز ویل کېږي.

د لمانځه تکبیر به وایي،

تر لمانځه وړاندې به امام د موجودو خلکو د پند او نصیحت لپاره په ولاړه دوې خطبې ورکوي، تر لومړۍ خطبې وروسته او دویمې وړاندې به امام د څو شېبو لپاره کښېني،

د لمانځه اذان به هغه مهال کېږي چې کله امام د خطبې ځای ته راشي،

د اذان په کولو پر ټولو نارینه مسلمانانو واجبه ده چې که عذر ونه لري نو د خپلو بوختیاوو په پرېښودو لمانځه ته حاضر شي،

د لمانځه وینا او امامت به د هغوی چارواکي کوي او یوازې په هغو ځایونو کې به ادا کېږي چې د دوی له لوري د دې لمانځه د جماعت لپاره ټاکل شوي وي او هلته دوی په خپله یا د دوی نماینده د امامت لپاره موجود وي.

په قرآن کې دا لمونځ داسې یاد شوی دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ

"اې مومنانو! د جمعې په ورځ چې کله اذان وشي نو د الله د ذکر لور ته په منډه شئ او خرید

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ * فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ* (الجمعة ۶۲: ۹، ۱۰)

و فروخت پرېږدئ، همدا ستاسو لپاره غوره ده که پوهېږئ. کله چې لمونځ پوره شي نو په ځمکه کې خپاره شئ او د الله فضل ولټوئ، د الله یاد ډېر کوئ چې بری مو په برخه شي."

د دې لمانځه امامانو ته رسول الله ﷺ لارښوونه کړې چې لمونځ دې یې اوږد او خطبه دې یې لنډه وي. ده ویلي: دا د انسان د پوهې نښه ده.[۲۵۳]

له روایتونو ښکاري چې د خلګو د وعظ او نصیحت او اجتماعي عبادت لپاره د انبیاء علیهم السلام په دین کې اصلا همدا ورځ تاکلې وه.[۲۵۴] مورخین وایي چې د رسول الله ﷺ تر بعثت وړاندې به کعب بن لؤی یا قصی بن کلاب په همدې ورځ قریش را غونډول.[۲۵۵] رسول الله ﷺ د دې ورځې د انتخاب وجه دا بیان کړې چې ادم په همدې ورځ پیدا شو، په همدې ورځ باغ ته ولاړ، په همدې ورځ ترې وشړل شو او قیامت به هم په همدې ورځ وي.[۲۵۶] رسول الله ﷺ ویلي: په دې کې یوه داسې شېبه هم رائي چې که مومن بنده له خپل رب څخه د خیر غوښتنه وکړي نو ورکوي یې.[۲۵۷] له همدې کبله یې خلګو ته خبرداری ورکړی چې که جمعې ته رانه شي نو پر زړونو به یې ټاپه ولګېږي او په غفلت به اخته شي.[۲۵۸] د دې برخلاف چې کوم کسان غسل او صفایي وکړي او له پوره سینګار سره لمانځه ته راشي نو د دوو کسانو تر منځ په ننوتلو د ناستې هڅه ونه کړي الله چې څومره وس ورکړی وي هغومره لمونځ وکړي او په چوپتیا سره د امام خطبه واوري نو هغه ته یې زېری ورکړی چې له یوې جمعې تر بلې جمعې یې څومره ګناهونه کړي الله به یې ور وبښي.[۲۵۹] همدا رازیې ویلي: د جمعې په ورځ فرشتې د مسجد پر دروازه درېږي او

---

[۲۵۳] مسلم، شمېره: ۲۰۰۹

[۲۵۴] بخاري، شمېره: ۸۷۶، مسلم، شمېره: ۱۹۸۰

[۲۵۵] لسان العرب ۲ / ۳۵۹

[۲۵۶] مسلم، شمېره: ۱۹۷۷

[۲۵۷] بخاري، شمېره: ۹۳۵، مسلم، شمېره: ۱۹۶۹، ۱۹۷۰، ۱۹۷۵

[۲۵۸] مسلم، شمېره: ۲۰۰۲

[۲۵۹] بخاري، شمېره: ۸۸۳ یعني هغه ګناهونه چې له حقوق العباد سره تړاو ونه لري او توبې، جبیرې او کفارې ته ضرورت نه وي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خلګ چې په کوم ترتیب راځي له هماغه ترتیب سره یې نوم لیکي، د ډېر وختي راتلونکي مثال داسي دی لکه څوک چې اوښ قرباني کوي، بیا غویی، بیا پسه، بیا چرګ او بیا هګۍ. تر دې وروسته چې کله امام خطبــه پیلوي نو دوی خپل کتاب ټولوي او نصیحت اوري.[۲۶۰]

د اختر لمونځ

د کوچني او لوی اختر په ورځ هم پر مسلمانانو لازمه ده چې د لمر تر راختلو وروسته او له زوال وړاندې د جمعې په څېر یو اجتماعي لمونځ وکړي چې طریقه یې داده:

دا لمونځ دوه رکعته دی،

په دواړو رکعتونو کې به یې قرأت په لوړ او زویل کېږي،

د قیام په حالت کې به لمونځ کوونکي څو زاید تکبیرونه وایي،

د دې لمانځه لپاره نه اذان شته او نه اقامت،

تر لمانځه وروسته به امام د موجود و کسانو د وعظ او نصیحت لپاره په ولاړه دوې خطبې وایي، تر لومړۍ خطبې وروسته او دویمې تر پیلولو وړاندې به د څو شېبو لپاره کښېني.

د دې لمانځه وینا او امامت به هم د جمعې د لمانځه په څېر د مسلمانانو چارواکي کوي او په هغو ځایونو کې به ادا کېږي چې د دوی له لوري د همدې لمانځه لپاره تاکل شوی وي او هلته دوی په خپله یا یې کوم استازی د امامت لپاره موجود وي.

همدا د دې لمانځه سنت طریقه ده.

البته د تکبیرونو په اړه یې باید وویل شي چې شمېر یې نه دی تاکلی، مسلمانان چې له خپل وس سره سم تر قرأت وړاندې یا وروسته څومره تکبیرونه وغواړي ویلای یې شي او له دې سره لاسونه هم پورته کولای شي، له روایاتو ښکاري چې رسول الله ﷺ په ځینو ځایونو کې د اول رکعت پر مهال اووه او دویم رکعت پر مهال پنځه تکبیرونه ویلي دي.[۲۶۱]

---

[۲۶۰] بخاري، شمېره: ۸۸۱، مسلم، شمېره: ۱۹۶۴

[۲۶۱] ابوداود، شمېره: ۱۱۴۹، ۱۱۵۱، ۱۱۵۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او دا خبره هم باید څرګنده شي چې ښځې به هم د اختر لمانځه ته د نارینه وو په څېر له پوره پاملرنې سره راځي، له ام عطیې څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د حایضې ښځې په اړه وویل: هغوی دي لمونځ نه کوي مګر د مسلمانانو په جماعت او دعاوو کې دي حتما شریکې شي.[۲۶۲]

د جنازې لمونځ

د انبیاء علیهم السلام په دین کې پر مړي د جنازې لمونځ هم ضروري بلل شوی دی.[۲۶۳]

د مړي تر غسل او کفن وروسته چې دا لمونځ په کومه طریقه ادا کېږي هغه داده:

مړی دي د ځان او قبلې تر منځ کښېږدي مقتدي دي تر امام شا ته صفونه جوړ کړي،

له رفع الیدین سره دي د الله اکبر په ویلو لمونځ شروع کړي،

د اخترانو په څېر په دې لمانځه کې هم څو زاید تکبیرونه ویل کېږي.[۲۶۴]

د قیام په حالت کې دي تر تکبیرونو او دعاوو وروسته لمونځ د سلام په ګرزولو ختم کړي.

د جنازې د لمانځه دا طریقه د مسلمانانو په اجماع او عملي تواتر ثابته ده. د جنازې د لمانځه په اړه چې د رسول الله ﷺ د علم او عمل کوم روایات نقل شوي دلته یې له یوه مناسب ترتیب سره بیانوو.

له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: څوک چې د ایمان او ثواب له نیت سره د مسلمان په جنازه پسې ځي، بیا د جنازې تر لمانځه او ښخولو پورې ورسره وي هغه له دوه قراطه ثواب سره را ګرزي او هر قراط یې د احد د غره په څېر دی، څوک چې د

---

[۲۶۲] بخاري، شمېره: ۳۵۱، مسلم، شمېره: ۲۰۵۶

[۲۶۳] دا د عامو حالاتو قانون دی، که په ځینو بېړنیو حالاتو کې د جنازې لمونځ د تکلیف سبب وي نو مړی له دې پرته هم ښخېدلای شي. له روایاتو ښکاري چې رسول الله ﷺ د احد شهیدان له همدې کبله د غسل او جنازې له لمانځه پرته ښخ کړل او بیا څو کاله وروسته د هغوی قبرونو ته ورغی او د جنازې لمونځ یې ورکړ. (بخاري، شمېره: ۱۳۴۳، ۱۳۴۴)

[۲۶۴] د دې تکبیرونو حکم هم هغه دی چې پورته د اخترانو په اړه بیان شو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جنازې لمونځ وکړي او تر ښخېدو وړاندې راشي نو هغه له يوه قراط سره را ستنېږي.[۲۶۵]

له همدې څخه روايت دی چې په کومه ورځ نجاشي مړ شو رسول الله ﷺ په هماغه ورځ اعلان وکړ، له خلګو سره د لمانځه ځای ته ورسېد، صفونه يې وتړل او په لمانځه کې يې څلور تکبيرونه ووېل.[۲۶۶]

ابن ابی ليلی روايت کوي چې زيد بن ارقم ﷺ زموږ پر جنازو څلور تکبيرونه ويل او پر يوه جنازه يې پنځه تکبيرونه ووېل، موږ پوښتنه وکړه نو ويې ويل: رسول الله ﷺ هم ځينې وختونه همدا سې کول.[۲۶۷]

له طلحه بن عبدالله څخه روايت دی چې ما د ابن عباس ﷺ شا ته لمونځ وکړ نو الحمدلله يې هم تلاوت کړه او ويې ويل: دا مې ځکه په تاسو واوروله چې پوه شئ همدا د رسول الله ﷺ طريقه ده.[۲۶۸]

له عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: مړو ته بد مه وايا ست ځکه هغوی چې له خپلو اعمالو سره کوم ځای ته رسېدل، رسېدلي دي.[۲۶۹]

له رسول الله څخه د دې لمانځه نقل شوې دعاوې دادي:

۱) اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، وَعَافِهِ، وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دَاراً خَيْراً مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلاً خَيْراً مِنْ أَهْلِهِ، وَزَوْجاً خَيْراً مِنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْهُ الجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ [وَعَذَابِ النَّارِ]. [۲۷۰]

"اې الله! دی وبخښه، رحم پرې وکړه، معاف يې کړه، سلامتي ورکړه، ښه مېلمستيا ورکړه، قبر يې پراخ کړه، په اوبو، واوره او ږلې يې ومينځه، له ګناهونو يې داسې پاک

---

[۲۶۵] بخاري، شمېره: ۴۷، مسلم، شمېره: ۲۱۸۹، ۲۱۹۶

[۲۶۶] بخاري، شمېره: ۱۲۴۵، مسلم، شمېره: ۲۲۰۴

[۲۶۷] مسلم، شمېره: ۲۲۱۶

[۲۶۸] بخاري، شمېره: ۱۳۳۵

[۲۶۹] بخاري، شمېره: ۱۳۹۳

[۲۷۰] مسلم، شمېره: ۲۲۳۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړه لکه سپینې جامې چې له خیرو پاکېږي، تر دې ځای ښه کور او کورنۍ ورکړه، مېرمن یې په ښه مېرمن بدله کړه او د قبر له ازموینې، او له عذابه یې وژغوره."

۲) اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا، وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا. اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ، اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ. [۲۷۱]

" اې الله! ته زموږ ژوندي، مړي، حاضر، غایب، کشران، لویان، نارینه او ښځې ټول وبخښه، اې الله! څوک چې دي ژوندي ساتلي پر اسلام ژوند ورکړه او څوک چې دي وفات کړي پر ایمان یې وفات کړه، اې الله! موږ د ده له اجره مه بې برخې کوه او مه مو تر ده وروسته بې لارې کوه."

۳) اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِيْ ذِمَّتِكَ، وَحَبْلِ جِوَارِكَ، فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ، فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ. [۲۷۲]

" اې الله! د فلاني زوی فلانی نور ستا په امان او ستا په پناه کې دی، له همدې کبله یې د قبر له ازموینې او د اور له عذاب څخه وساته، ته د حق لایق یې او د دې هم چې وعده دې پوره شي ځکه نو اې الله! ته دی وبخښه او رحم پرې وکړه، بې شکه ته ډېر بخښونکی یې شفقت دې ابدي دی."

نفل لمنځونه

د لمانځه په ښه لږ تر لږه عبادت همدا دی چې مسلمانان ورباندې مکلف شوي خو بیا هم قرآني وینا ده: وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ [۲۷۳] (او څوک چې په خپل شوق کوم نېک کار وکړي نو یقینا الله یې قبلوونکی او پوره پرې خبر دی) همدا رازیې ویلي چې د تکلیف په ځایونو کې په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ: اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَ الصَّلوةِ. [۲۷۴] همدې لارښوونو ته په پام مسلمانان عموما پر لازمي لمانځه سربېره نوافل هم کوي، همدا راز چې رسول الله ﷺ کوم نوافل کړي یا یې خلک د هغو کولو ته هڅولي تفصیلات

---

[۲۷۱] ابن ماجه، شمېره: ۱۴۹۸

[۲۷۲] ابوداود، شمېره: ۳۲۰۲

[۲۷۳] البقرة ۲: ۱۵۸

[۲۷۴] البقرة ۲: ۴۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې دادي:

تر لمانځه وړاندي

رسول الله ﷺ عموما سهار دوه لنډ رکعتونه کول او لمانځه ته تلی.[۲۷۵] د حفصې ﷺ وينا ده چې دا رکعتونه يې د سهار د وخت په داخلېدو سمدستي کول.[۲۷۶] عائشه ﷺ وايي چې ما تر دې پر بل هيڅ شي ډېر دوام کوونکی نه دی ليدلی.[۲۷۷] له همدې څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: د سهار دا دوه رکعتونه تر دنيا او هر څه يې غوره دي.[۲۷۸] تر ماپښين وړاندي يې کله دوه او کله څلور رکعتونه کول.[۲۷۹] تر ماښام وړاندي يې غالبا لمونځ نه کاوه مګر خلګ يې هڅولي چې که الله توفيق ورکړي نو په دې وخت کې دي هم دوه رکعتونه لمونځ وکړي.[۲۸۰] په روايا تو کې ويل شوي چې د رسول الله ﷺ په وخت کې صحابه کرامو عموما دا لمونځ کاوه.[۲۸۱]

تر لمانځه وروسته

تر ماپښين، ماښام او ماخوستن وروسته د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې له لمانځه څخه په فارغېدو کور ته راتلی او دوه رکعتونه يې کول.[۲۸۲] د جمعې تر لمانځه وروسته يې هم عامه طريقه همدا وه.[۲۸۳] له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې د جمعې تر لمانځه وروسته يې خلګو ته د څلورو رکعتونو هم ويلي دي.[۲۸۴] همدا راز په روايا تو کې تر ماپښين وروسته د څلورو رکعتونو فضيلت هم بيان شوی دی.[۲۸۵]

---

[۲۷۵] بخاري، شمېره: ۶۱۸، ۶۱۹، مسلم، شمېره: ۱۶۷۶

[۲۷۶] مسلم، شمېره: ۱۶۸۰

[۲۷۷] بخاري، شمېره: ۱۱۶۳، مسلم، شمېره: ۱۶۸۶

[۲۷۸] مسلم، شمېره: ۱۶۸۸

[۲۷۹] بخاري، شمېره: ۱۱۸۰، ۱۱۸۲، مسلم، شمېره: ۱۶۹۸، ۱۶۹۹

[۲۸۰] بخاري، شمېره: ۱۱۸۳، ابوداود، شمېره: ۱۱۸۱

[۲۸۱] بخاري، شمېره: ۱۱۸۴، مسلم، شمېره: ۱۹۳۸، ۱۹۳۹

[۲۸۲] بخاري، شمېره: ۱۱۸۰، مسلم، شمېره: ۱۶۹۹

[۲۸۳] بخاري، شمېره: ۹۳۷، ۱۱۶۹، مسلم، شمېره: ۲۰۳۹

[۲۸۴] مسلم، شمېره: ۲۰۳۶

[۲۸۵] ابن ماجه، شمېره: ۱۱۶۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر لمانځه وړاندي او وروسته په همدې رکعتونو کې د سهار د دوو، ماپښين د شپږو او تر مابنام و ماخوستن وروسته د دوو رکعتونو په اړه نبوي وينا ده چې که څوک دا دوولس رکعتونه وکړي الله به ورته په جنت کې کور جوړ کړي.[۲۸۶]

د څابښت پر مهال

رسول الله ﷺ د څابښت پر مهال هم خلګ دوه رکعته لمانځه ته هڅولي دي،[۲۸۷] نبوي وينا ده:

د سهار په راتلو ستاسو پر هر بند صدقه لازمېږي، نو که يې انسان ورکوي هره تسبيح يې صدقه ده، هر تکبير صدقه ده، د نېکۍ ښوونه صدقه ده، له بدۍ منعه صدقه ده او که د څابښت پر مهال دوه رکعتونه وشي نو د دې ټولو شيانو کفايت کوي.[۲۸۸]

مګر دا چې رسول الله ﷺ په خپله دا لمونځ کړی دی او که نه؟ په دې اړه روايتونه له يوه بل سره ټکر دي نو ځکه يې پر بنسټ کومه حتمي پرېکړه نه شي کېدای.

د تندر پر مهال

د رسول الله ﷺ په ژوند کې لمر تندر ونيو نو ده په همدې وخت کې خلګو ته دوه رکعته لمونځ ورکړ، په روايا تو کې دي چې د دې لمانځه پر مهال يې قرآن په لوړ اواز تلاوت کړ، اوږده رکوع او سجده يې وکړل، په قيام کې يې هم تر ډېره وخته حمد و ثنا، تسبيح و تهليل او دعا و مناجات ويل بلکې د تندر ختمېدو په انتظار يې په دواړو رکعتونو کې تر يوې ډېرې رکوعګانې او ولاړې وکړې، کله چې له لمانځه فارغ شو نو ويې ويل: لمر او سپوږمۍ د الله دوې ننبې دي، د چا د مرګ او ژوند له کبله يې تندر نه نيسي بلکې الله په دا ډول شيانو خپل بندګان پوهوي له همدې کبله چې يې کله وويني له الله دعا غواړئ، د هغه لويي بيان کړئ، لمونځ وکړئ او د ده په لار کې صدقه وکړئ.[۲۸۹]

---

[۲۸۶] مسلم، شمېره: ۱۶۹۴، ۱۶۹۵

[۲۸۷] بخاري، شمېره: ۱۱۷۸، مسلم، شمېره: ۱۶۷۲

[۲۸۸] مسلم، شمېره: ۱۶۷۱

[۲۸۹] بخاري، شمېره: ۱۰۴۴، مسلم، شمېره: ۲۰۹۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د باران دعا

د باران لپاره له رسول الله ﷺ څخه په روایاتو کې دوه رکعته لمونځ هم نقل شوی دی چې د استسقا لمونځ یې بولي، په روایاتو کې دي چې په دې لمانځه کې هم قرأت په لوړ اواز وویل شو او تر لمانځه وړاندې یې د قبلې لور ته په مخ کولو او لاس پورته کولو تر ډېره ځنډه دعا کوله.[۲۹۰] پر دې مهال چې رسول الله ﷺ کومې دعاوې کړې دي یوه یې داده:

اللَّهُمَّ أَسْقِنَا غَيْثاً مُغِيْثاً مَرِيْئاً مَرِيْعاً، نَافِعاً غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ.[۲۹۱]

ژباړه: اې الله! موږ په داسې باران اوبه کړه چې فریاد مو واورېدل شي، انجام یې ښه وي، ارزاني راولي، ګټه را ورسوي نه تاوان او ژړوشي نه وروسته.

دشپې په تنهایي کې

پر رسول الله ﷺ د شپې او ورځې له پنځو لمنځو پرته په شپه کې یو بل لمونځ هم لازم وو چې په عمومي ډول صلوة اللیل یا تهجد بلل کېږي. الله په سورت بني اسرائیل کې د نافلة لک[۱۳] (دا ستا لپاره تر هغو زاید دی) په الفاظو د هغه تصریح کړې ده. په سورت المزمل کې یې نور وضاحت کړی دی چې کله الله ده ته د دعا مه وېرونې امر وکړ نو ده ته یې په ځانګړي ډول د دې لمانځه لارښوونه وکړه، قرآني وینا ده:

يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ * قُمِ اللَّيْلَ إِلاَّ قَلِيلاً * نِصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلاً * أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً * إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً * إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْءًا وَأَقْوَمُ قِيلاً * إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلاً * وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلاً* (المزمل ۷۳: ۱- ۸)

"اې په جامه کې نغښتې! د شپې ودرېږه مګر (د ویدېدو لپاره) لږ پرېږده، نیمه شپه یا تر دې څه کمه او زیاته کړه او (په خپل دې لمانځه کې) قرآن ورو -ورو وایه ځکه چې نژدې به پر تا د درنې وینا بوج واچوو، په دې کې شک نه شته چې د شپې پاڅېدل د زړه د ارامتیا او خبرې د پیاوړتیا لپاره ډېر برابر دی ځکه چې په ورځ

---

[۲۹۰] بخاري، شمېره: ۱۰۲۳، ۱۰۲۵، مسلم، شمېره: ۲۰۷۳ پر دې مهال په روایاتو کې د څادر اړولو یادونه هم شوې او عموما خلکو د عبادت برخه بللې، خو زما په اند یې دا حیثیت شکمن دی ځکه چې دا ډول یو شي ته د رسول الله ﷺ له صراحت پرته د عبودیت حیثیت نه شي ورکول کېدای.

[۲۹۱] ابو داود، شمېره: ۱۱۶۹

[۱۳] بني اسرائیل ۱۷: ۷۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي به ته (د دې کار له کبله) ډېر مصروف يې (ځکه يې نو دا وخت کوه) او د خپل رب نوم ياد کړه او (د شپې په دې تنهايي کي) ټول د هغه لور ته متوجې شه."

دا لمونځ د عامو مسلمانانو لپاره يو نفلي لمونځ دی او که چا ته الله وس ورکړي د هغه لپاره هم د ډېرې نېکمرغۍ خبره ده چې د رسول الله ﷺ په پيروي يې ادا کړي. ويل شوي چې رسول الله ﷺ د دې لمانځه اخيري درجه يوولس رکعتونه کول چې رکوع، سجده او قيام به يې ډېر اوږده وو. په دې کي شک نه شته چې ځينو روايا تو د دوولسو رکعتونو يادونه هم کړې ده، مګر په دې اړه سمه خبره داده چې دا لمونځ پر رسول الله ﷺ فرض وو ځکه يې نو کله - کله تر هغه وړاندې يا وروسته هماغه ډول دوه رکعتونه نفل کول لکه موږ چې يې تر سهار وړاندې او يا ماښام وروسته کوو، مګر ځينو خلګو په تېروتنه له اصل لمانځه سره يو ځای بللي دي.[۲۹۳] په دې اړه بنسټيز روايت دادی:

عن ابی سلمة بن عبد الرحمن انه اخبره انه سأل عائشة رضی الله عنها کيف کانت صلوة رسول الله ﷺ في رمضان؟ فقالت ما کان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان و لا في غيره علی احدی عشر رکعة. (بخاري، شمېره: ۱۱۴۷)

"د عبدالرحمن زوی ابو سلمه ويلي: ده له عائشې څخه پوښتنه وکړه چې په روژه کي د رسول الله ﷺ لمونځ څرنګه وو؟. دې ځواب ورکړ: رسول الله ﷺ نه هيڅکله په روژه کي تر يوولس رکعته زيات کول او نه له روژې پرته."

رسول الله ﷺ چې په عمومي ډول دا لمونځ په کومه طريقه کړی، يا يې د کولو لارښوونه کړې ده، هغه داده:

۱) د دوو رکعتونو په کولو دي سلام وګرزول شي او بيا دي په يوه رکعت سره دا لمونځ وتر شي.[۲۹۴]

[۲۹۳] بخاري، شمېره: ۱۱۳۸، ۱۱۳۹، ۱۱۴۰، مسلم، شمېره: ۱۷۸۸

[۲۹۴] بخاري، شمېره: ۹۹۲، ۱۱۳۷، مسلم، شمېره: ۱۷۱۷، ۱۷۴۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) د دوو رکعتونو په کولو دي سلام وګرزوي او بيا دي پنځه رکعتونه داسي وکړي چې صرف پر اخيري رکعت يې کښېنې.[۲۹۵]

۳) له عمومي طريقې سره سم دي د څلورو -څلورو رکعتونو په کولو سلام وګرزوي، بيا دي له ناستې پرته پر له پسې درې رکعته وکړي پر اخيري رکعت دي کښېنې او وروسته دي سلام وګرزوي.[۲۹۶]

۴) دوه يا څلور، يا شپږ او يا اته رکعتونه دي له ناستې پرته پر له پسې وکړي او پر اخيري رکعت دي کښېنې، بيا دي له سلام ګرزولو پرته ولاړ شي يو رکعت دي وکړي او تر ناستې وروسته دي سلام وګرزوي.[۲۹۷]

له رواياتو ښکاري چې په دې لمانځه کې اول په لوړ او ټيټ اواز دواړو طريقو قرآن ويل کېده، وروسته الله امر وکړ چې د دې منځنۍ لهجه دي غوره شي. الهي وينا ده:

وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلاً (بني اسرائيل ۱۷: ۱۱۰)

"او د شپې په خپل دې لمانځه کې يې مه په ډېر لوړ اواز وايه او مه په ډېر ټيټ بلکې د دواړو تر منځ منځنۍ لهجه غوره کړه."

نو تر همدې وروسته رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ته هم د دې لارښوونه وکړه، د ابو قتاده روايت دی چې رسول الله ﷺ ابو بکر صديق ﷺ ته وويل: زه د شپې پر تا راغلم نو قرآن دي په ډېر ټيټ اواز وايه. ده ځواب ورکړ: په هغه چا يې اوروم چې زما پټې خبرې اوري. ده ورته وويل: لږ يې په لوړ اواز وايه. بيا يې عمر فاروق ﷺ ته وويل: زه پر تا درغلم نو قرآن دي په ډېر لوړ اواز وايه. ده وويل: زه ويده را ويښوم او شيطان په منډه کوم. ده وويل: تر دې يې لږ په ټيټ اواز وايه.[۲۹۸]

د دې لمانځه اصل وخت د قرآن کريم د بني اسرائيل يا مزمل سورتونو له وضاحت سره سم ترويد بدو وروسته دی او له همدې وجې يې د تهجد لمونځ بولي. دا قرآن د حاضري وخت بللی او رسول الله ﷺ ويلي چې الله هره شپه زموږ دې دنيا ته متوجې کېږي. کله چې

---

[۲۹۵] مسلم، شمېره: ۱۷۲۰، ابوداود، شمېره: ۱۳۳۸، ۱۳۵۸، ۱۳۵۹

[۲۹۶] بخاري، شمېره: ۱۱۴۷، مسلم، شمېره: ۱۷۲۳

[۲۹۷] مسلم، شمېره: ۱۷۳۹

[۲۹۸] ابوداود، شمېره: ۱۳۲۹، ترمذي، شمېره: ۴۴۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دشپې یوه درېیمه برخه پاتې شي نو وایي: دا مهال څوک شته چې ما ورو بولي زه یې ځواب ورکړم؟، له ما غوښتنه وکړي زه یې غوښتنه پوره کړم او څوک شته چې له ما بخښنه وغواړي زه یې وبخښم؟.[۲۹۹]

خو که څوک له یوې وجې دا نېکمرغي نه شي ترلاسه کولای نو ترویدېدو وړاندې یې هم کولای شي، په سورت المزمل کې د دې لمانځه په اړه د تخفیف له ایت څخه دا خبره هم استنباط کېږي، الله ویلي دي:

إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَى مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّـهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَؤُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَى وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّـهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَاقْرَؤُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ

(المزمل ۷۳: ۲۰)

" (اې رسوله! موږ تا ته امر کړی وو چې په شپه کې قیام کوه) یقینا ستا رب په دې خبر دی چې ته کله د شپې دوه ثلثه، کله د شپې نیمایي او کله د شپې یو ثلث د هغه حضور ته درېږې او ستا ځینې ملګري هم او الله (د خلکو د اړتیا له مخې) د شپې او ورځې اندازه ټاکي، دی پوه شو چې تاسو به یې پوره نه کړای شئ نو پر تاسو یې فضل وکړ نو اوس چې څومره قرآن ممکن وي (په دې لمانځه کې یې) وایاست، دی خبر دی چې په تاسو کې به ناروغان هم وي او داسې کسان هم چې د الله د فضل په لټه به سفرونه کوي او هغه هم چې د الله په لار کې به جهاد ته ځي، ځکه نو چې څومره ممکن وي هغه وایاست."

رسول الله ﷺ پر همدې بنسټ ویلي:

ایکم خاف ان لا یقوم من اخر اللیل فلیؤتر ثم لیرقد، و من وثق بقیام من اللیل فلیؤتر من اخره، فان قراءة اخر اللیل محضورة، و ذلک افضل.(مسلم، شمېره: ۱۷۶۷)

" که په تاسو کې څوک وېرېږي چې د شپې په وروستۍ برخه کې به را پورته نه شي نو باید ترویدېدو وړاندې وتر وکړي، که څوک فکر کوي چې حتما به را پورته کېږي نو دا لمونځ دې د شپې په وروستۍ برخه کې وکړي ځکه د

[۲۹۹] بني اسرائیل ۱۷ : ۷۹، بخاري، شمېره: ۱۱۴۵، مسلم، شمېره: ۱۷۷۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اخيري شپې قرأت مخامخ وي او غوره دی."

رسول الله ﷺ تل دا لمونځ يوازي کاوه، مګر په يوه روژه کي چي کله د تهجد لمانځه ته را پاڅېد او په مسجد کي يې د بوريۍ کومه حجره جوړه کړې وه له هغې څخه دباندي را ووت، په مسجد کي يې لمونځ وکړ نو د ده د اقتدا په مينه عام مسلمانان پرې را ټول شول. کله چي رسول الله ﷺ دا حالت وليد نو څو ورځې وروسته يې دا لړۍ له دې وېرې غوڅه کړه چي هسي نه د ده په څېر پر عامو مسلمانانو هم فرض شي. د عروه بن زبير په روايت کي دي:

ان عائشة رضى الله عنها اخبرته ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج ليلة من جوف الليل فصلى فى المسجد و صلى رجال بصلوته، فاصبح الناس فتحدثوا فاجتمع اكثر منهم فصلوا معه، فاصبح الناس فتحدثوا فكثر اهل المسجد من الليلة الثالثة، فخرج رسول الله فصلى فصلوا بصلوته. فلما كانت الليلة الرابعة عجز المسجد عن اهله حتى خرج لصلوة الصبح، فلما قضى الفجر اقبل على الناس فتشهد ثم قال: اما بعد فانه لم يخف على مكانكم، و لكنى خشيت ان تفرض عليكم فعجزوا عنها. (بخاري، شمېره: ۲۰۱۲)

"عائشې ﷺ وويل چي رسول الله ﷺ نيمه شپه را ووت او په مسجد کي يې لمونځ وکړ چي ځيني خلګ ورسره شريکان شول، سهار يې يادونه وکړه نو دويمه ورځ خلګ لا ډېر شول، په دې شپه يې هم په مسجد کي لمونځ وکړ او خلګو په ده پسي اقتدا وکړه. کله چي يې سهار يادونه وشوه نو درېيمه شپه ګڼ شمېر کسان مسجد ته راغلل، دی په دې شپه هم راووت او خلګو يې په اقتدا لمونځ وکړ، کله چي څلورمه شپه راغله نو مسجد له خلګو دومره ډک شو چي هيڅ ځای پکي نه وو خو په دې شپه تر سهار وړاندي را ونه ووت بلکي وروسته را ووت، تر لمانځه وروسته يې خلګو ته مخ واړاوه په وينا کي يې د الله توحيد بيان کړ، ويې ويل: زه ستاسو په راتګ ناخبر نه وم، مګر دا وېره را سره وه چي هسي نه درباندي فرض کړای شي بيا به يې ادا کولای نه شئ."

د عمر ﷺ د خلافت تر زمانې خلګو عموما د روژې د مياشتې پر مهال هم په کورونو او مسجدونو کي ځان ته کاوه تر دې چي کله يوه ورځ مسجد ته راغی نو ويې ليدل چي خلګ په جلا - جلا ډول داسي لمونځ کوي چي ځيني تنها قرآن وايي او ځيني يې د يوه امام په اقتدا، ځرنګه چي په دې لمانځه کي تلاوت په يو څه لوړ اواز وي ځکه نو په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسجد کي د عجيبې بې نظمۍ کيفيت وو او عمر ﷺ ته يې د قرآن کريم د ادا بو له کبله خوند ورنه کړ او ابی بن کعب يې د هغوی لپاره د دې لمانځه امام کړ. تر دې وروسته يوه بله شپه بيا راغی، خلګ يې پر لمانځه وليدل ويې ويل: دا څه ښه نوی شی دی؟ خو چا چې پرېښی او ويده دي هغه تر دې غوره دي.[۳۰۰]

له روايت څخه ښکاري چې عمر ﷺ نه يوازي له خلګو سره په دې لمانځه کي شامل شوی نه دی بلکي د شپې په وروستۍ برخه کي يې په پاڅېدو يوازي د دې لمانځه کول غوره بللي دي. لکه څرنګه چې پورته وويل شول رسول الله ﷺ هيڅکله دا لمونځ تر يوولسو رکعتونو زيات نه دی کړی، مګر څرنګه چې د دې لپاره د رکعتونو ټاکلی شمېر نه شته له همدې وجې کله چې امام وټاکل شو نو خلګو په روژه کي د تراويحو په نوم د دې لمانځه درويشت بلکي تر دې زيات رکعتونه هم کړي دي او ترننه د عامو مسلمانانو طريقه همدا ده او په دوی کي ډېری اوس په دې خبر هم نه دي چې دا په حقيقت کي د تهجد هغه لمونځ دی چې دوی يې د ماخوستن له لمانځه سره يو ځای کوي.

پر دې نوافلو برسېره تراوداسه وروسته لمانځه فضيلت هم له رسول الله ﷺ څخه نقل شوی دی.[۳۰۱] په روايا تو کي له سفر څخه تر را ستنېدو وروسته هم د رسول الله ﷺ دوه رکعتيز لمانځه يادونه شوې ده.[۳۰۲] له ګناهونو څخه د توبې او استغفار په نيت هم رسول الله ﷺ د دوو رکعتونو د لمانځه او دعا لارښوونه کړې ده.[۳۰۳] د استخارې دعا داده:

اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوْبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ ــ وَيُسَمِّيْ حَاجَتَهُ ــ خَيْرٌ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ ــ أَوْ قَالَ: عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ ــ فَاقْدِرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ ــ أَوْ قَالَ: عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ ــ فَاصْرِفْهُ

[۳۰۰] بخاري، شمېره: ۲۰۱۰

[۳۰۱] بخاري، شمېره: ۱۱۴۹، مسلم، شمېره: ۶۳۲۴

[۳۰۲] بخاري، شمېره: ۳۰۸۷، ۳۰۸۸، مسلم، شمېره: ۱۶۵۹

[۳۰۳] ابوداود، شمېره: ۱۵۲۱، بخاري، شمېره: ۱۱۶۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِيْ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِيْ. [۳۰۴]

"اې الله! زه ستا د علم په وسيله له تا خير غواړم، ستا د قدرت په وسيله له تا قدرت غواړم او له تا څخه ستا د لوی فضل غوښتنه کوم ځکه ته قدرت لرې او زه يې نه لرم، ته پوهيږې او زه نه پوهيږم او ته په غيبو خبر يې. اې الله! که ستا په علم کې دا کار زما د دين، ژوند او برخليک له مخې غوره وي نو را ته مقدر او اسان يې کړه، بيا پکې برکت واچوه او که ستا په علم کې دا کار زما د دين، ژوند او انجام له مخې بد وي نو ما له ده او دی له ما لرې کړه (اې ربه!) زما لپاره خير وټاکه، هر ځای چې وي او بيا مې پرې راضي کړه."

زکات

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا (المزمل ۷۳: ۲۰)

"او (په خپله شپه او ورځ کې) لمونځ کوئ او زکات ورکوئ او (د دين و ملت د اړتيا لپاره) الله ته ښه قرض ورکړئ او (يادولرئ چې) تاسو هره نېکي مخته ولېږئ د الله په نزد به تر هغه غوره او په ثواب کې لوړه وموئ."

په دې او له دې پرته د قرآن په ګڼو ځايونو کې مسلمانانو ته امر شوی چې د خپلو مالونو زکات ورکړي، دا تر لمانځه وروسته ډېر مهم عبادت دی. انسانانو چې د خپلو معبودانو د لمانځنې لپاره عموما کوم اداب را منځ ته کړي په هغو کې يو يې دا هم دی چې د خپلو شتمنيو، څارويو او حاصلاتو يوه برخه د هغوی حضور ته د نذر په ډول وړاندې شي چې له دې څخه په صدقه، نياز، نذرانه او منت تعبير کېږي. د انبياء عليهم السلام په دين کې زکات اصلا همدا حيثيت لري او له همدې کبله عبادت بلل کېږي، قرآن څو ځله ورته د صدقې لفظ استعمال کړی او ښودلې يې ده چې د زړه له تواضع او خاکساری سره دي ادا شي. الله ويلي:

الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ (المائدة ۵: ۵۵)

"هغه چې لمونځ کوي او په داسې ډول زکات ورکوي چې (باطن يې) عاجز وي."

[۳۰۴] بخاري، شمېره: ۱۱۶۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ (المؤمنون ۲۳: ۶۰)

"او هغه کسان چې کله یو شی ورکوي داسې یې ورکوي چې زړه یې له دې فکر څخه په رېږد کي وي چې د خپل رب لور ته به ورځي."

همدا د مال حق دی چې الله ته ځانګړی شوی دی، په قرآن کې د (وَاٰتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ)[۳۰۵] حکم همدا حقیقت بیانوي، په دې اړه عمومي روایت دا پیدا شوی چې د نذر ترګرزولو وروسته یې له معبد څخه پورته کاوه او د هغه خادمانو ته یې ورکاوه چې په دې سره عبادت ته د راتلونکو کسانو خدمت وکړي، زمور په شریعت کې دا طریقه پاتې نه شوه د دې پر ځای یې راته لارښوونه کړې چې دا مال دي د ټولنیزو اړتیاوو لپاره چارواکو ته وسپارل شي خو په دې سره یې حقیقت په هیڅ ډول نه دی بدل شوی. دا د الله لپاره ځانګړی دی او کله چې یې د ده بندګان ادا کوي نو د قبلېدو فیصله یې هم د ده په دربار کې کېږي. الله ویلي:

أَلَمْ يَعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ (التوبة ۹: ۱۰۴)

"ایا دوی نه پوهېدل چې الله د خپلو بندګانو توبه قبلوي او د دوی صدقات مني."

په دین کې د دې عبادت ارزښت دادی چې الله د لمانځه په شان هغه هم د انسان د مسلمان ګڼلو په شرایطو کې شمېرلی دی او ویلي یې دي: فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ[۳۰۶] (نو که هغوی توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي ستاسو دیني وروڼه دي) له قرآن څخه ښکاري چې تر لمانځه وروسته د ایمان دویمه مېوه همدا ده. تر دې وړاندې چې مو د لمانځه د ارزښت بیانولو په اړه د سورت المؤمنون او سورت المعارج کوم ایاتونه نقل کړل له هغو څخه دا خبره په بشپړ ډول واضحه شوه چې د نېکو اعمالو په فهرست کې تر لمانځه وروسته د زکات درجه ده. په قرآن کې په همدې حیثیت ذکر شوی او الله یو ځای د مشرکینو په یادولو ویلي دي چې دوی زکات نه ورکاوه. په قیامت کې د ځواب ورکولو اصل منکرین همدوی دي:

وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ * الَّذِينَ لاَ يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ "د هغو مشرکانو لپاره هلاکت دی چې زکات

---

[۳۰۵] الأنعام ۶: ۱۴۱ ژباړه: او د فصل ریبلو په ورځ یې حق ورکړئ.

[۳۰۶] التوبة ۹: ۱۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَهُم بِالآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ* (حم السجدة ۴۱ : ۶، ۷) نه ورکوي او همدوی له اخرت څخه منکرین دي."

رسول الله ﷺ يې هم دا ارزښت په خپلو ويناوو کي بيان کړی دی.

ابو هريره ﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وويل: چا ته چې الله مال ورکړ او ده يې زکات ونه ايست، دا مال به يې د ده لپاره پک مار شي چې پر سترګو به يې دوه توره ټکي وي او د قيامت په ورځ به د ده په غاړه کي واچول شي، بيا به د ده ژامې ونيسي او وبه وايي چې زه ستا مال او ستا خزانه يم.[۳۰۷]

له ابو ذر غفاري ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: څوک چې اوښان، غوايي او پسونه ولري د هغو حق نه ورکوي، د قيامت په ورځ به په داسي توګه د هغه مخ ته راوړل شي چې ډېر لوی او چاغ به وي، دی به تر خپلو پښو لاندي وګڼي او په ښکرانو به يې ووهي چې اول تېر شي نو پر ځای به يې دويم راشي، د خلګو تر منځ د پرېکړو کېدو تر وخته به له ده سره همداسي کېږي.[۳۰۸]

په قرآن کي ويل شوي چې همدا معامله له زکات پرته د هغو ټولو حقوقو، غوښتنو او خيريه کارونو د مصرف ده چې الله پرې د لګښت کولو امر کړی دی.

قرآن ويلي دي:

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ * يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَـذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ* (التوبة ۹ : ۳۴، ۳۵)

" او کوم کسان چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کي يې نه لګوي نو هغوی ته د يوه دردوونکي عذاب زېری ورکړه، هغه ورځ چې په دوزخ کي به او پرې بلېږي بيا به يې په دې سره تندي، مخونه او شاوې داغل کېږي، دا هغه څه دي چې د ځان لپاره مو را غونډ کړي وو نو اوس د هغه څه خوند وڅکئ چې غونډول مو."

---

[۳۰۷] بخاري، شمېره: ۱۴۰۳

[۳۰۸] بخاري، شمېره: ۱۴۶۰، مسلم، شمېره: ۲۳۰۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د زکات تاریخ

د زکات تاریخ هماغه د لمانځه تاریخ دی، له قرآنه ښکاري چې د انبیاء علیهم السلام په شریعت کې د لمانځه په څېر د زکات حکم هم تل موجود پاتې شوی دی، کله چې الله مسلمانانو ته د هغه د ورکړې لارښوونه وکړه نو د دوی لپاره کوم نا اشنا شی نه وو. د ابراهیمي دین ټول پیروان یې په احکامو ښه خبر وو، له همدې کبله قرآن ورځخه په حَقٌّ مَّعْلُومٌ[۳۰۹] (یو معلوم حق) تعبیر کړی دی، ځکه نو دا له پیله یو موجود سنت وو چې رسول الله ﷺ د الله په امر او ترضروري اصلاحاتو وروسته د مسلمانانو تر منځ دود کړ. قرآن ویلي: لکه څرنګه چې اسماعیل علیه السلام د خپلو کورنۍ غړو ته پر لمانځه ټینګار کاوه همدارنګه یې زکات ته هم هڅول: وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا [۳۱۰] (هغه خپل اهل ته د لمانځه او زکات امر کاوه او دی د خپل رب په نزد یو خوښ انسان وو.) د بني اسرائیلو په اړه ویل شوي چې الله د لمانځه او زکات دواړو د کولو وعده ترې اخیستې وه[۳۱۱] او ژمنه یې کړې وه چې لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ ... لَأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ [۳۱۲] (زه له تاسو سره یم که مو لمونځ کاوه او زکات مو ورکاوه ... نو زه به ستاسو بدۍ در څخه لرې کړم) د دوی د جلیل القدرو پلرونو په اړه یې ویلي: وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ [۳۱۳] (او موږ دوی ته د نېکو چارو لمانځه د کولو او زکات ورکولو وحي وکړه) عیسی علیه السلام د خپل ځان په اړه ویلي: وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا [۳۱۴] (او الله ما ته ټول ژوند د لمانځه او زکات امر کړی دی) په قرآن کې الله ویلي:

وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلاَّ مِن بَعْدِ مَا جَاءتْهُمُ الْبَيِّنَةُ * وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ

"او (په دوی کې هغه خلک) چې (وړاندې) کتاب ورکړل شو هغوی ته د واضحو نښو تر

---

[۳۰۹] المعارج ۷۰: ۲۴
[۳۱۰] مریم ۱۹: ۵۵
[۳۱۱] البقرة ۲: ۸۳
[۳۱۲] المایده ۵: ۱۲
[۳۱۳] الأنبیاء ۲۱: ۷۳
[۳۱۴] مریم ۱۹: ۳۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ* (البينة ۹۸: ۴، ۵)

ورتلو وروسته يې اختلاف وکړ او (په هغه کې هم) دوی ته دا هدايت شوی وو چې د الله عبادت دي کوي، د هغه لپاره د اطاعت په ځانګړي کولو له پوره ګوښه توب سره، لمونځ دي کوي، زکات دي ورکوي او (حقيقت دادی چې) د سيده ملت دين همدا دی."

په بايبل کې هم د زکات يادونه په داسي ډول شوې ده.

په احبار کې دي:

"او د ځمکې د حاصلاتو ټوله لسمه غله وي او که د ونو مېوه د الله ده او د الله لپاره پاکه شوې او که څوک له خپله عشره بېلوي نو د هغه نوره پنځمه برخه دي ورسره يو ځای او بېله کړي او غوايي، پسونه يا وزې او نور حيوانات چې د شپون تر لکړه وزي د هغو عشر يعني تر لسو وروسته يو حيوان دي د الله لپاره پاک شي." (۲۷: ۳۰، ۳۱)

په حساب کې دي:

"او الله موسی ته وويل: ته لاويانو ته دومره ووايه چې کله تاسو له بني اسرائيلو څخه هغه عشر واخلئ چې ما د هغوی له خوا ستاسو موروثي حصه بللې نو د هغه عشر لسمه د الله حضور ته د قربانۍ لپاره ورکړئ." (۱۸: ۲۵، ۲۶)

په استثنا کې دي:

"ته د خپلې هغې غلې چې کال پر کال ستا په کښتونو کې پيدا کېږي لسمه ورکړه."

(۱۴: ۲۲)

"درې -درې کاله وروسته ته د درېيم کال ټول عشر وباسه او په خپلو دروازو کې دننه يې را غونډ کړه، بيا دي لاوي چې له تا سره هيڅ برخه يا ميراث نه لري او مسافر، يتيمان او کونډې ښځې چې ستاسو په دروازه کې دننه دي راشي او تر مړتيا دي خوراک وکړي، څو الله ستا ټول کارونه چې لاس ور وړې برکتمن کړي." (۱۴: ۲۸، ۲۹)

"او کله چې ته د عشر په درېيم کال د خپل ټول مال عشر وباسې نو لاوي، مسافر، يتيم او کونډې ته يې ورکړه چې ستا په کلي کې په مړه خټه خوراک وکړي." (۲۶: ۱۲)

عيسی علیه السلام د همدې په يادولو ويلي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې ریاکارو فقهاوو او مذهبیانو! پر تاسو افسوس چې د پودینې (یو ډول خوشبویه ووښ دی)، خوږو ولنو او زیرې عشر ورکوئ خو د شریعت اصلي خبرې یعني انصاف، رحم او ایمان مو خوشې کړې دي، لازمه دا وه چې دا او هغه دواړه مو کولای، اې د ړندو لارو ښوونکو! چې غوماشی ورکوئ او اوښ تېروئ." (متی ۲۳: ۲۳، ۲۴)

د زکات هدف

د زکات هدف یې له نوم څخه ښکاري، د دې لفظ اصل وده او پاکي ده ځکه نو هغه مال ترې مراد دی چې د پاکۍ او صفایي لپاره ورکول شي. له دې څرګنده شوه چې د زکات هدف هماغه دی چې د ټول دین دی، په دې سره نفس له هغو ناولتیاوو پاکېږي چې د مال په مینه وربانديږاځي، شتمني برکت پیدا کوي او د انساني نفس لپاره د هغه د پاکېدو ډېرولو سبب ګرزي. څرنګه چې دا د الله په لارکي تر ټولو کمه غوښتنه ده او مسلمان به یې په هر حالت کي پوره کوي له همدې وجې په دې سره هغه ټول څه نه تر لاسه کېږي چې تر دې ور هاخوا د انفاق په عامو غوښتنو تر لاسه کېږي او موږ تر دې وړاندې د اخلاقیاتو تر عنوان لاندې د انفاق في سبیل الله په بحث کي بیان کړي دي. خو په دې سره هم د انسان زړه له الله سره پیوستېږي او هغه غفلت تر ډېره له منځه وړي چې د دنیا او دنیوي اسبابو سره د تړاو له کبله پرې راځي، د عیسی علیه السلام وینا ده: د انسان زړه هلته وي چې په کوم ځای کي یې مال وي.[۳۱۵] دا خبره استدلال ته اړتیا نه لري، انسان چې کله وغواړي د الله په لارکي د خپل مال په ورکولو یې تجربه کولای شي.

قرآن کریم په خپله هم د زکات هدف په ډېر ښه ډول تشریح کړی دی. الهي وینا ده:

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا (التوبة ۹ : ۱۰۳)

"د دوی له مالونو صدقه واخله په دې سره به هغوی پاک کړې او تزکیه به یې وکړې."

وَمَا آتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلاَ يَرْبُو عِندَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُم مِّن زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ* (روم ۳۰ : ۳۹)

"او تاسو چې د الله د رضا تر لاسه کولو لپاره کوم زکات ورکوئ نو هغه یې ورکوونکي دي چې د الله په نزد خپل مال ډېروي."

[۳۱۵] متی ۶ : ۲۱، لوقا ۱۲ : ۳۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د زکات قانون

د زکات قانون تر موږ پورې د مسلمانانو په اجماع او عملي تواتر را رسېدلی دی، د هغه په درک کې د فقهاوو اختلافاتو ته له پامه پرته که په شریعت کې د خپل اصل له مخې وکتل شي نو موږ یې داسې بیانولای شو:

۱) د حاصلاتو، سوداګرۍ او کاروبار د وسایلو، شخصي استعمال د شیانو او د نصاب له کمې سرمایې پرته هیڅ شی له زکات څخه مستثنا نه دی. دا به له هر ډول مال، څارویو او هر قسم حاصلاتو څخه ورکول کېږي او هر کال به یې د هیواد هر مسلمان وګړی حتما ورکوي.

۲) تفصیل یې دادی:

په شتمني کې هر کال ۲۱/۲ فیصده.

که په حاصلاتو کې هغه اصلا د محنت یا اصلا د سرمایې له وجې را پیدا شي نو د هر وار حاصلاتو پر مهال لس فیصدي ده او که د خواړو او سرمایې دواړو له تعامل څخه را پیدا شي نو پنځه فیصده ده او که له دواړو پرته صرف د الهي ورکړې په توګه پیدا شي نو شل فیصده ده.

په څارویو کې:

۱) اوښان:

له پنځو څخه تر څلورویشتو پر هرو پنځو اوښو یو پسه.

له پنځه ویشتو څخه تر پنځه دېرش پورې یوه یو کلنه اوښه او که موجوده نه وي نو دوه کلن اوښ.

له شپږ دېرشو څخه تر پنځه څلوېښتو پورې یوه دوه کلنه اوښه.

له شپږ څلوېښت څخه تر شپېتو پورې یوه درې کلنه اوښه.

له یو شپېتو څخه تر پنځه اویا یوه څلور کلنه اوښه.

له شپږ اویا څخه تر نوي پورې دوې دوې کلنې اوښې.

له یو نوي څخه تر یو سل او شلو دوې درې کلنې اوښې.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له يو سل او شل څخه پر هرو څلوېښتو زياتو يو دوه کلنه او پر هرو پنځوسو يوه دري کلنه اوښه ده.

۲) غوايي:

پر هرو دېرشو يو يو کلن او پر هرو څلوېښتو يو دوه کلن سخوندر.

۳) اوزې:

له څلوېښت څخه تر يو سل او شلو يوه اوزه.

له يو سل او يو ويشت څخه تر دوه سوه دوې اوزې.

له (۲۰۱ - ۳۰۰) دري اوزې.

له (۳۰۰) په زايدو کې پر هرو سلو يوه اوزه.

۳) د زکات د لګښت ځايونو په اړه هيڅ ابهام نه وو، تل پر فقيرانو، مسکينانو او ټولنيزو ارتياوو لګېده، خو د رسول الله ﷺ په زمانه کې چې کله منافقينو نيوکې وکړې نو قرآن په خپله له پوره وضاحت سره بيان کړ. الله ويلي:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّـهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (التوبة ۹ : ۶۰)

"دا صدقات خو بس د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي او هغو لپاره چې پرې تاکل شوي او هغو لپاره چې د زړه تر لاسه کول يې هدف وي او د دې لپاره چې د غاړو په خلاصولو د تاوان ځپلي په مرسته، د الله په لار او مسافرو پر ښېګڼه ولګول شي، دا د الله فريضه ده او الله عليم او حکيم دی."

په دې ايت کې چې کوم لګښت ځايونه په ګوته شوي دي تفصيل يې دا دی:

د فقيرانو او مسکينانو لپاره.

العاملين عليها يعني د ټولو دولتي مامورينو د خدمتونو معاش.[۳۱۶]

[۳۱۶] ځکه چې د دولت ټول مامورين په حقيقت کې العاملين على اخذ الضرائب و ردها الى المصارف دي، ځکه نو دا ډېر بليغ تعبير دی چې قرآن د دې مدعا د ادا کولو لپاره غوره کړی دی. په دې کې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المؤلفة قلوبهم يعني د اسلام او مسلمانانو په ګټه د ټولو سياسي لګښتونو لپاره.

في الرقاب يعني له هر ډول مرپيتوب څخه د خلاصون لپاره.

الغارمين يعني د زيان، تاوان او قرض تر بوج لاندي د ځپل شويو خلګو د مرستې لپاره.

في سبيل الله يعني د ديني خدمت او خلګو د ښېګڼې و خدمت لپاره.

ابن السبيل يعني له مسافرو سره د مرستې او د هغوی لپاره د لارو، پلونو، لارو او نورو د رغونې لپاره.

۴) د زکات يو ډول صدقة الفطر يا سرسايه هم ده، دا د يوه فرد د سهار او مانښام خوراک دی چې پر هر لوی او واړه يې ورکول لازم دي او د روژې په پای کې د اختر تر لمانځه وړاندي ورکول کېږي. له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې دا صدقه رسول الله ﷺ د لغوه او پالتو خبرو له اغېز څخه د روژې د پاکولو او غريبانو سره د اختر په خوراک کې د مرستې په غرض را منځ ته کړې ده.[۳۱۷] د رسول الله ﷺ په زمانه کې عموما د غلې په ښه ورکول کېده او ده يې مقدار يوه کاسه يعني زيات و کم دوه نيم کيلو ګرامه تاکلی وو.

فرض رسول الله ﷺ زكاة الفطر صاعا من تمر او صاعا من شعير على العبد و الحر و الذكر و الانثى و الصغير و الكبير من المسلمين و امر بها ان تؤدى قبل خروج الناس الى الصلوة. (بخاري، شمېره: ۱۵۰۳)

"رسول الله ﷺ پر هر مسلمان مرپيي، ازاد، نارينه، ښځه، لوی او کوچني يوه کاسه خورما، يا يوه کاسه د اوربشو سرسايه لازمه کړې ده، ده امر کړی چې لمانځه ته دي د خلګو تر تلو وړاندي ورکړای شي."

کله چې زکات دولت اخلي نو ورکوونکي به هم لري او اخيستونکي هم، رسول الله ﷺ دواړو ته لارښوونه کړې چې ورکوونکي دي پر ځان له زور -زياتي سره -سره د هغو خلګو د راضي کولو هڅه وکړي چې دوی ته د زکات اخيستلو لپاره رائي[۳۱۸] او

شک نه شته چې خلګ يې عموما په فهم کې تېروتلي دي، مګر موږ چې يې کوم ترتيب بيان کړی نو که د هغه پر بنسټ وګورئ مفهوم يې په ډېر لږ فکر سره واضح کېږي.

[۳۱۷] ابوداود، شمېره: ۱۶۰۹، ابن ماجه، شمېره: ۱۸۲۷

[۳۱۸] مسلم، شمېره: ۲۲۹۸، ابوداود، شمېره: ۱۵۸۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اخیستونکي دي خیانت نه کوي،[۳۱۹] په زکات کي دي د هغوی د غوره مال په اخیستلو نه پسې کېږي او د مظلوم له ښېرا دي ځان وساتي ځکه د ده او الله تر منځ هیڅ حجاب نه وي.[۳۲۰]

همدا د زکات قانون دی خو په دې چاره کي د عامه غلط فهمیو د لرې کولو لپاره باید څو نورې خبرې هم تشریح شي. یوه دا چې د زکات پر لګښتونو چې فقهاوو د شخصي ملکیت کوم شرط ضروري کړی د هغه لپاره په قرآن او سنت کي هیڅ ماخذ نه شته، ځکه نو لکه څرنګه چې زکات فرد ته ورکول کېدای شي همدا شان پر خیریه چارو هم لګول کېدای شي.[۳۲۱]

دویمه دا چې کله رسول الله ﷺ د ځان او خپلې کورنۍ د کسانو لپاره د زکات له مال څخه د یو څه اخیستلو منعه وکړه نو زما په اند یې علت دا وو چې د فی له مالونو څخه یوه برخه د ده او د ده د خپلوانو و قریبانو دا رتیاوو لپاره تاکل شوې وه.[۳۲۲] دا برخه وروسته هم تر یوې مودې پاتې وه، څرګنده ده چې د تل لپاره دا ډول یو سیستم نه دوام کولای شي او نه یې اړتیا شته ځکه نو اوس د بنو هاشمو فقیرانو او مسکینانو اړتیاوې د زکات په مالونو له څه تردد پرته پوره کېدای شي.

درېیمه دا چې که دولت وغواړي نو حالاتو ته په پام ځیني شیان له زکات څخه مستثنا کولای او د کومو شیانو زکات چې اخلي نو د هغو لپاره د عمومي دود له مخې نصاب هم تاکلای شي، رسول الله ﷺ د همدې هدف لپاره د مالونو، څارویو او زراعتي حاصلاتو لاندې نصاب تاکلی دی:

په شتمني کي ۱۵ اوقیې / ۶۴۲ ګرامه سپین زر

په حاصلاتو کي ۵ وسق / ۶۵۳ کیلو ګرامه خورما

په حیواناتو کي ۵ اوښان، ۳۰ غوایي او ۴۰ پسونه

---

[۳۱۹] مسلم، شمېره: ۴۷۴۳

[۳۲۰] بخاري، شمېره: ۱۴۹۶، مسلم، شمېره: ۱۲۱

[۳۲۱] پر دې موضوع د تفصیلي بحث لپاره د استاذ امام امین احسن اصلاحي په کتاب توضیحات کي د هغه مضمون مسئله تملیک وګورئ

[۳۲۲] بخاري، شمېره: ۱۴۸۵، مسلم، شمېره: ۲۴۷۳، ۲۴۸۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نبوي وينا ده:

ليس فيما دون خمسة اوسق من التمر صدقة و ليس فيما دون خمس اواقي من الورق صدقة و ليس فيما دون خمس ذود من الابل صدقة.

(الموطا، شمېره: ۶۸۳)

" تر پنځه وسق په کمو خورما وو کي زکات نه شته، تر پنځو اوقيو په کمو سپينو زرو کي زکات نه شته او تر پنځو په کمو اوښانو کي زکات نه شته."

څلورمه دا چي زمونږ په زمانه کي کوم صنعتونه را منځ ته کېږي او ماهرين يې د خپل مهارت په وسيله را منځ ته کوي او د خدماتو په بڼه کومې کرايې، پيسونه او معاوضې اخيستل کېږي هغه هم د حکم علت ته په پام حاصلات دي. له همدې کبله بايد د سود اګريزو مالونو پر ځای له زراعت سره پيوست وبلل شي او په دې معامله کي هماغه قانون پلي شي چي شريعت د ځمکنيو حاصلاتو لپاره تاکلی دی.

پنځمه دا چي له دې اصولو سره سم که د کرايې کورونه، جايدادونه او نور شيان په کرايه ورکړای شوي وي نو د زراعت زکات تر پې اخيستل کېږي او که نه وي ورکړل شوي نو بايد د مال زکات تر پې واخيستل شي.

روژه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ * أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ * شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُواْ الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ اللّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ * (البقرة ۲: ۱۸۳-۱۸۵)

" اې مومنانو! پر تاسو روژه فرض شوې لکه څرنګه چي تر تاسو پر مخکينيو فرض شوې وه څو له الله ووپرېږئ، دا څو شميرلې ورځې دي پر هغو هم چي په تاسو کي ناروغ يا په سفر کي وي نو دوی دي دا شمېر په نورو ورځو کي پوره کړي او که څوک د دې وس لري

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(چې یو مسکین ته خوراک ورکړي) نو پر هغه د روژې بدله د یوه مسکین خوراک دی، بیا که څوک په شوق یوه نېکي وکړي نو د هغه لپاره غوره ده او که روژه ونیسئ نو دا ستاسو لپاره نوره هم ښه ده که تاسو پوهېږئ. روژه هغه میاشت ده چې قرآن پکې نازل شو، د خلګو لپاره د هدایت په توګه او له ډېرو واضحو دلیلونو سره چې د خپل نوعیت له مخې سراسر هدایت هم دی او د حق و باطل پرېکړه هم، نو که له تاسو څوک په دې میاشت کې موجود وي هغه ته په کار ده چې روژه ییې ونیسي او څوک چې ناروغ یا په سفر کې وي نو هغه دی دا شمېر په نورو ورځو کې پوره کړي (دا رخصت د دې لپاره درکړل شوی چې) الله له تاسو سره اساني غواړي او له تاسو سره د سختۍ اراده نه لري (او د فدیې اجازه د دې لپاره ختمه شوه چې) تاسو د روژو شمېر پوره کړئ (او په دې کې چې کوم خیر و برکت پټ دی له هغه بې برخې نه شئ) او (د دې هدف لپاره د روژې میاشت ځکه ځانګړې شوې چې) الله تاسو ته (د قرآن په ښه) کوم هدایت درکړی په دې سره د هغه لویې بیان کړئ او د ده شکر وباسئ."

تر لمانځه او زکات وروسته درېیم مهم عبادت روژه ده، د دې لپاره په عربي ژبه کې د صوم لفظ استعمالېږي چې له یو شي څخه د منعې او هغه د پرېښودو په معنا دی. کله چې به اسان د روزنې لپاره وېږي او تېږي ساتل کېدل نو عربو به ور څخه په صوم تعبیر کاوه، د شریعت په اصطلاح کې دا لفظ له خاصو قیودو او حدودو سره د خوراک، څښاک او جنسي اړیکو د مخنیوي لپاره استعمالېږي چې په پښتو کې ورته روژه وایي. څرنګه چې انسان په دې دنیا کې خپل یو عملي وجود هم لري له همدې کبله چې کله د الله لپاره د ده د عبادت احساس د ده له عملي وجود سره تړل کېږي نو له لمانځنې سره اطاعت هم یو ځای کېږي. روژه د همدې اطاعت څرګندوونکی سمبول دی، په دې کې بنده د خپل رب په حکم او د هغه د رضا و خوشالۍ په لټه پر ځان د ځینو روا شیانو په حرامولو د اطاعت تصویر ګرزي او په دې توګه ګواکې د حال په ژبه اعلانوي چې تر الله او حکم ییې هیڅ لوړ شی نه شته. هغه که د فطرت د قانون له مخې د ده لپاره یو روا شی ممنوع ګرزوي نو د بندګۍ له مخې مناسبه ده چې له څه ویلو پرته د ده د حکم په وړاندې سر تیټ کړي.

د الله د عظمت و جلال او د هغه د لویې و بزرګۍ د احساس او اعتراف پر دې حالت که غوروشي نو د مننې حقیقي اظهار هم دی. له همدې کبله قرآن روژه د الله لویې او شکر ایستنه بللې او ویلي ییې دي چې د دې هدف لپاره د روژې میاشت ځکه ځانګړې شوې چې الله تاسو ته د قرآن په ښه په دې میاشت کې کوم هدایت درکړی او په هغه کې د عقلي لارښوونې او حق و باطل تر منځ د توپیر او امتیاز لپاره کوم واضح او یقیني دلایل دي پر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدې د الله لويي بيان کړئ او د هغه شکر ايستونکي شئ: وَلِتُكَبِّرُواْ اللّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ. د روژې همدې حقيقت ته په پام ويل شوي چې روژه د الله لپاره ده او د ې به يې اجر ورکوي، يعني بنده چې کله له څه سبب پرته صرف د الهي حکم عملي کولو لپاره ځيني روا شيان هم پر خپل ځان حرام بللي نو تر دې وروسته به هغه په ناپ و تول او کوم حساب سره نه بلکي په خپل خاص کرم او فضل سره اجر ورکوي او دومره بې حسابه به يې ورکړي چې دی راضي شي. د ابو هريره ﷺ روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: که انسان هره نېکي کوي نو بدله يې له لسو څخه تر اووه سوه چنده ورکول کېږي مګر روژه ترې مستثنا ده، الله ويلي: فانه لی و انا اجزی به. يعني دا زما لپاره ده او زه به يې جزا ورکوم ځکه په دې کې بنده خپل خوراک، څښاک او جنسي اړيکې صرف زما لپاره پرېږدي.[۳۲۳] رسول الله ﷺ ويلي: د روژتي لپاره د خوښۍ وختونه دوه دي يو هغه چې کله روژه ماتوې او بل هغه چې کله به له خپل رب سره وويني.[۳۲۴] له دې څخه اټکل کېدای شي چې د الله په نزد د دې عبادت اهميت څومره بې ساری دی، نبوي وينا ده:

لخلوف فم الصائم اطيب من عندالله من ريح المسک. (بخاري، شمېره: ۱۸۹۴)

" د الله په نزد د روژتي د خولې بوی تر مشکو ډېرښه دی."

همدا رازيې ويلي:

ان فی الجنة بابا يقال له الريان يدخل منه الصائمون يوم القيامة لا يدخل منه احد غيرهم يقال اين الصائمون؟ فيقومون لا يدخل منه احد غيرهم فاذا دخلوا اغلق فلم يدخل منه احد. (بخاري، شمېره: ۱۸۹۶)

" په جنت کې يوه دروازه ده چې ريان بلل کېږي، روژتيان به د قيامت په ورځ له همدې څخه جنت ته داخلېږي له دوی څخه به بل څوک ور داخلېدای نه شي. پوښتنه به وشي چې روژتيان چېرې دي؟، په دې سره به هغوی ولاړ شي بل څوک به ورسره داخل نه شي، کله چې هغوی ننوزي نو وبه يې ترې تر دې وروسته به هيڅوک پر دې دروازه داخل نه شي."

[۳۲۳] بخاري، شمېره: ۱۸۹۴، مسلم، شمېره: ۲۷۰۷

[۳۲۴] بخاري، شمېره: ۱۹۰۴، مسلم، شمېره: ۲۷۰۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په شریعت کي د دې عبادت اخیري کمال دا ښودل شوی چې انسان د روژې په حالت کي پر خپل ځان د ځینو زاید و بندیزونو په لګولو او له نورو څخه په بېلېدو د څو ورځو لپاره په مسجد کي کښېنې او د الله ﷻ پر عبادت وکړي، همدې ته په اصطلاح کي اعتکاف وایي.[۳۲۵] دا کله څه هم د روژې په څېر لازم شوی نه دی خو د نفس پاکولو له مخې ډېر ارزښت لري. د روژې، لمانځه او تلاوت له یو ځای کېدو څخه چې کوم ځانګړی کیفیت را منځ ته کېږي او پر نفس چې د ګوښه توب پرېکړون او الله ﷻ ته د توجو کوم حالت راځي په دې سره د روژې اصل هدف په کامله توګه تر لاسه کېږي، د روژې په اخیري لسو ورځو کي رسول الله ﷺ پر همدې بنسټ هر کال په خپل مسجد کي اعتکاف کاوه[۳۲۶] او خپله شپه او ورځ به یې دعا او مناجات، رکوع او سجدې او د قرآن تلاوت ته وقفول. د عائشې ﷺ وینا ده:

كان النبي ﷺ اذا دخل العشر شد مئـــزره و احيا ليله و ايقظ اهله.

(بخاري، شمېره: ۲۰۲۴)

"کله چې به د روژې ورځې لسیزه راغله نو رسول الله ﷺ به خپله ملا د عبادت لپاره وتړله، په خپله به یې هم شپه ویښوله او خپل کورنیان به یې هم را ویښول."

د روژې په نوم دا عبادت پر مسلمانانو د روژې په میاشت کي لازم شوی دی، په دې کي شک نه شته چې د نفس میلان هیڅکله نه ختمېږي او د دې دنیا ترغیبات به هم تل پاتي وي، مګر رسول الله ﷺ ویلي چې الله په دې میاشت کي خپله ځانګړې پېرزوینه دا کوي چې د شیطانانو لپاره د خلګو د تېر ایستنې ټولي لارې تړي، ده ویلي: کله چې روژه راځي نو د اسمان دروازې خلاصېږي، د جهنم دروازې بندېږي او شیطانان تړل کېږي.[۳۲۷] په دې میاشت کي هر سړی د دې فرصت لري که وغواړي نو له بهرني خنډ پرته د ځان د خیر و بریا تر لاسه کولو لپاره هڅه کولای شي. په روایاتو کي یې بدله دا بیان شوې چې د انسان ګناهونه بخښل کېږي، د توبې او اصلاح په اړه همدا د قرآن عام قانون دی خو بیا هم رسول الله ﷺ په خاص ډول د روژې په اړه خلګو ته په دې ډول زېرې ورکړې دی:

من صام رمضان ايمانا و احتسابا غفر له مـــا

"چا چې د ایمان او ثواب له نیت سره د رمضان روژه ونیوله د هغه مخکیني ګناهونه بخښل

---

[۳۲۵] دا هم یو لرغونی عبادت دی او د انبیاء علیهم السلام په دین کي تل موجود پاتي شوی.

[۳۲۶] بخاري، شمېره: ۲۰۲۵، ۲۰۲۶، مسلم، شمېره: ۲۷۸۷

[۳۲۷] بخاري، شمېره: ۱۸۹۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تقدم من ذنبه. (بخاري، شمېره: ۲۰۰۹) کېږي."

من قام رمضان ايمان و احتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه. (بخاري، شمېره: ۳۷) "چا چې له ايمان او د ثواب له نيت سره د رمضان په شپو کې قيام وکړ د هغه مخکيني ګناهونه بخښل کېږي."

همدا خبره په ليلة القدر کې د قيام په اړه هم شوې ده[۳۲۸] دا د قرآن د نزول شپه ده او الله ويلي چې په دې کې فرشتې او روح الامين د هرې معاملې د اجازې له اخيستلو سره را کښته کېږي. له همدې کبله د مهمو چارو له پلي کېدو سره د خصوصيت په وجه چې دا شپه کوم برکتونه، رحمتونه او د الهي قربت فرصتونه لري هغه په زړګونو شپو کې هم نه شي موندل کېدای، ځکه نو ويل شوي چې لَيْلَة القَدرِ خَيرٌ مِّنْ اَلفِ شَهْرٍ[۳۲۹] (د تقدير د پرېکړو دا شپه تر زرو مياشتو غوره ده) رسول الله ﷺ ويلي چې دا شپه بايد د روژې په وروستۍ لسيزه په تېره بيا طاقو شپو کې ولټول شي.[۳۳۰]

د عباداتو لپاره د ورځو او وختونو دا تاکنه څه ارزښت لري؟، استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په خپل تفسير تدبر القرآن کې داسې وضاحت کړی دی:

"... لکه څرنګه چې په دې مادي دنيا کې فصلونه، موسمونه او وختونه اعتبار لري همدا ډول په روحاني نړۍ کې هم معتبر دي، لکه څرنګه چې د ځانګړو شيانو د کښت لپاره خاص موسمونه او مياشتې شته چې په هغو کې يې تاسو کرئ نو وده کوي او مېوه ورکوي، که هغه موسمونه او مياشتې له پامه وغورځوو نو د نورو مياشتو اوږده موده يې هم بديل نه شي کېدای. همدا ډول په روحاني نړۍ کې د ځانګړو چارو لپاره خاص موسمونه او خاص وختونه او ورځې تاکل شوې دي. که دا چارې په همدې ورځو او وختونو کې ترسره شي نو اړونده نتيجه ورکوي او که هغه ورځې و وختونه له پامه وغورزول شي نو د نورو ورځو او وختونو زيات مقداريې هم په سمه توګه پر ځای نه شي درېدلای. د بېلګې په توګه د جمعې لپاره يوه ورځ تاکلې، د روژو لپاره ځانګړې مياشت ده، حج خاصه مياشت لري، خاصې ورځې يې دي او د عرفات ورځ معلومه ده، په دې ټولو

---

[۳۲۸] بخاري، شمېره: ۱۹۰۱، مسلم، شمېره: ۱۷۸۱

[۳۲۹] القدر ۹۷: ۱-۵

[۳۳۰] بخاري، شمېره: ۲۰۱۶، ۲۰۱۷، ۲۰۲۰، مسلم، شمېره: ۲۷۶۳، ۲۷۶۴، ۲۷۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورځو او وختونو کې الله لوی- لوی عبادتونه معلوم کړي چې د اجر او ثواب یې هیڅ حد او پای نه شته، مګر د هغو ټول برکتونه پر خپل اصلي شکل هغه وخت څرګندیږي چې عیني د همدې ورځو او وختونو له اتباع سره عملي شي. که داسي نه وي نو په هغوی کې پټ برکت له منځه ځي." (۴۶۸/۹)

د روژې تاریخ

د لمانځه په څېر د روژې تاریخ هم ډېر لرغونی دی، پورته چې د بقرې کوم ایاتونه نقل شول په هغه کې قرآن ویلي چې روژه پر مسلمانانو د مخکینیو قومونو په څېر فرض شوې ده. دا یو حقیقت دی چې د نفسي روزنې دیو مهم عبادت په توګه یې تصور په ټولو مذاهبو کې موجود پاتې شوی.

د نینوا او بابل تهذیب ډېر لرغونی دی، یو وخت دلته اشوري قوم میشت وو او یونس علیه السلام همدوی ته ور لېږل شوی وو. هغوی لومړی دروغجن وبالـه خو وروسته یې ایمان راوړ، پر دې مهال د هغوی د توبې او رجوع یادونه د بایبل په یونس صحیفه کې داسي راغلې:

"نو د نینوا اوسېدونکو پر الله ایمان راوړ، د روژې اعلان یې وکړ او ادنی و اعلی ټولو ټاټ واغوست. دا خبره دنینوا پاچا ته ورسېده، هغه له خپل تخت څخه را پاڅېد د پاچاهۍ جامې یې لرې کړې، ټاټ یې واغوست او پر خاورو کښېناست. پاچا او د هغه د دولت چارواکو په نینوا کې همدا اعلان وکړ او داخبر یې خپور کړ چې هیڅ انسان، حیوان او ګله و رمه دي نه څه څښي او نه دي خوري مګر انسانان او حیوانات دي ټاټ واغوندي او د الله په حضور کې دي ژړا و زاري وکړي، بلکې هر سړی دي خپل بد چلند پرېږدي او له ظلم څخه دي لاس واخلي." (۳: ۵-۸)

د جاهلیت په عربو کې هم روژه کوم نا اشنا شی نه وو، د دوی په ژبه کې د صوم لفظ پر خپل ځای د دې خبرې د ثبوت لپاره کافي دی چې هغوی له دې عبادت سره بشپړ اشنا وو، په المفصل تاریخ العرب قبل الاسلام کې جواد علي لیکي:

"په روایاتو کې شته چې قریشو د عاشورا د ورځې روژه نیوله، په دې ورځ به دوی را ټولېدل اختر یې لمانځه او بیت الله ته یې پوښ ورکاوه. مورخین یې توجیه دا بیانوي چې قریشو په جاهلیت کې یوه داسي ګناه کړې وه چې دوی یې بوج په ډېره سختي احساس کړ، نو غوښتل یې کفاره یې ورکړي له همدې وجې یې د ځان لپاره د عاشورا روژه وټاکله.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغوی په دې ورځ دا روژه د الله د شکر لپاره نیوه چې د هغې ګناه له بدو نتایجو یې خوندي کړي. په روایاتو کې دي چې رسول الله ﷺ هم تر نبوت وړاندې دا روژه نیوله ... د دې روژې بله توجیه دا بیان شوې چې یو وخت پر قریشو وچکالي راغله او بیا الله تر وژغورل نو پر همدې یې د الله د شکر ادا کولو لپاره د دې روژې په نیولو شروع وکړه."

(۳۴۰،۳۳۹/۶)

د یهودو او نصارا وو په شریعت کې هم روژه یو عام عبادت دی، په بایبل کې یې ځای پر ځای یادونه شوې او د دې لپاره پر دې خاص لفظ سربېره په ځینو ځایونو کې ځان ته د تکلیف ورکولو او نفس وژلو تعبیرات هم غوره شوي. په خروج کې دي:

"او الله موسی ته وویل: ته دا خبرې ولیکه ځکه زه د دې خبرو له مفهوم سره سم له تا او اسرائیلو وعده اخلم، نو څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې پاتې شو، نه یې ډوډۍ وخوړله، نه یې اوبه وڅښلې او ده د دې وعدې لس احکام پر لوحو ولیکل."

(۳۴ : ۲۷، ۲۸)

په احبار کې دي:

"او دا ستاسو لپاره یو دایمي قانون دی چې د اوومې میاشتې پر لسم تاریخ به خپل ځان ته تکلیف ورکوئ او په دې ورځ به مسافر وي او که مقیم چې ستاسو په منځ کې اوسي هیڅ کار به نه کوي، ځکه په دې ورځ به ستاسو د پاکولو لپاره کفاره ورکول کېږي نو خپل ټول ګناهونه به د الله په حضور کې پاک کړئ، دا به ستاسو لپاره د خاص ارام سبت وي، تاسو په دې ورځ خپلو ځانونو ته تکلیف ورکړئ." (۱۶: ۲۹ – ۳۱)

په قضات کې دي:

"نو بنې اسرائیل او ټول خلګ را ټول شول، بیت ایل ته راغلل او هلته یې د الله په حضور کې ژړل، په دې ورځ یې تر مابنامه روژه ونیوله او الله ته یې د سوځونې او سلامتۍ قربانۍ وړاندې کړې." (۲۰ : ۲۶)

په دویم سموئیل کې دي:

"او ده د سائول د هغه د زوی یونتن د الهي خلګو او اسرائیل د کورنۍ لپاره فریاد کاوه او ژړل یې او تر مابنامه یې روژه ونیوله ځکه هغوی په توره وژل شوي وو."

(۱ : ۱۲)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" ځکه نو داود د هغه هلک په خاطر الله ته نذر ومانه، روژه يې ونيوله او دننه په تلو ټوله شپه پر ځمکه پروت وو." (۱۲ : ۱۶)

په نحمياه کې دي:

" بيا د همدې مياشتې په څلورويشتم تاريخ بني اسرائيلو روژه ونيوله، ټاټ يې واغوست او پر خپل سر د خاورو په اچولو را غونډ شول. د اسرائيلو د نسل خلګ له ټولو مسافرو را بېل شول او ودرېدل د خپلو ګناهونو او پلرونو د نيکونو د خطاوو اقرار يې وکړ." (۹ : ۱، ۲)

په زبور کې دي:

مګر ما د هغوی په ناروغي کې چې کله ناروغ وو ټاټ واغوست، روژه مې ونيوله، ځان مې په تکليف کړ او دعا مې بيرته سينې ته را ستنه شوه. (۳۵ : ۱۳)

په يرمياه کې دي:

" نو ته ورشه او د الله هغه کلام چې تا زما له خولې څخه په دې کاغذ کې ليکلی د الله په کور کې يې د روژې په ورځ خلګو ته واوروه." (۳۶ : ۶)

په يوئيل کې دي:

" د الله ورځ ډېره وېروونکې ده، څوک يې زغملای شي؟ مګر الله وايي چې همدا اوس د زړه له تله د روژې په نيولو او ژړا و ماتم په کولو زما لور ته رجوع وکړئ او د خپلو جامو په څيرلو نه بلکې د زړونو په څيرلو رب خپل ځان ته متوجې کړئ ځکه هغه رحيم او مهربان دی، په غوسه کې نرم او شفقت کې غني دی، د عذاب له نازلولو منعه کوي."

(۲ : ۱۱ - ۱۳)

په زکريا کې دي:

" بيا پر ما د رب الافواج کلام نازل شو چې رب الافواج وايي: د څلورمې، پنځمې، اوومې او لسمې مياشتې روژه به د بني يهودا لپاره د خوښۍ او خوشالي ورځ او خوښيو اختر وي." (۸ : ۱۸، ۱۹)

په متی کې دي:

" او کله چې تاسو روژه نيسئ نو د ريا کارو په څېر پر خپل شکل ناهيلي مه څرګندوئ، ځکه هغوی خپل مخ خرابوي چې خلګ يې روژه دار وبولي، زه تاسو ته رښتيا وايم چې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغوی خپل اجر تر لاسه کړ بلکي کله چې روژه نیسئ نو سر غوړوئ او مخ مینځئ څو مو انسانان نه بلکي ستا پلار چې غیب دئ تا روژتي وګڼي، په دې صورت کي به ستا پلار چې غیب وینې تا ته بدله درکړي." (۶: ۱۶-۱۸)

په اعمال کي دي:

" کله چې هغه د الله عبادت کاوه او روژه یې نیوله نو روح القدس وویل: زما لپاره برنباس او ساول هماغه کار ته ځانګړي کړه چې د هغه لپاره دي را غوښتي دي، نو هغوی روژه ونیوله، دعا یې وکړه او پر هغوی یې لاس کښنود رخصت یې کړل." (۱۳: ۲، ۳)

همدا د روژې تاریخ دی، له دې ښکاري چې د لمانځه او زکات په څېر روژه هم د قرآن د مخاطبینو لپاره نا اشنا شی نه وه، دوی یې په دیني حیثیت او حقوقو و شرایعو پوره خبر وو، له همدې کبله چې کله قرآن د هغې امر وکړ نو په دې حدودو او شرایطو کي یې هیڅ شی بیان نه کړل، بلکي ویې ویل: د الله د یو لرغوني حکم او انبیاء علیهم السلام د یو پخواني سنت په ډول چې دوی څرنګه پوهیږي هماغسي دي د یو لازمي عبادت په توګه ترسره کړي. رسول الله ﷺ او صحابه کرامو له همدې سره سمه روژه ونیوله او مسلمانان اوس نسل پر نسل د هماغې طریقې پیروي کوي. پر همدې بنسټ د روژې اصل ماخذ هم د مسلمانانو اجماع او د هغوی عملي تواتر دی. قرآن تر دې زیات بل څه نه دي کړي چې فرض یې وبلله، د ناروغانو او مسافرو لپاره یې د رخصت قانون بیان کړ او کله چې وروسته په دې اړه پوښتنې پیدا شوې د هغو ځوابونه یې واضح کړل.

د روژې هدف

قرآن د روژې هدف د سورت البقرې په همدې ایاتونو کي دا بیان کړی چې خلګ له الله څخه ووېرېږي، د دې لپاره په اصل کي د (لعلکم تتقــون) الفاظ راغلي دي یعني چې په تاسو کي تقوا پیدا شي. د قرآن په اصطلاح د تقوا معنا داده چې انسان خپله شپه او ورځ د الله په تاکلو حدودو کي دننه ترسره کړي او د خپل زړه په ژورو کي له دې ووېرېږي چې که یې کله دا حدود مات کړل نو له سزا څخه یې له الله پرته بل څوک نه شي ژغورلای.

روژه څرنګه دا تقوا پیدا کوي؟ په دې د پوهېدو لپاره باید درو خبرو ته پام وشي:

اول دا چې روژه د انسان په ذهن کي په پوره طاقت دا احساس را ویښوي چې دی د الله بنده دی، د نفس پر ځینو بنیادي غوښتنو د حرمت د قلف په لګولو د بندګۍ د دې احساس

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پیدا کېدل پیلېږي او بیا ورو ورو وده کوي، ان د روژې ماتولو پر مهال یې دې احساس پر ټول وجود احاطه کړې وي، له سهاره تر مانښامه د روژتي ستوني ته یوه ګوله او یو څاڅکی اوبه هم نه وي تللې او دی د دې شیانو لپاره د نفس هره غوښتنه صرف د خپل رب په حکم د عمل کولو په وجه نه پوره کوي. کله چې دا عمل بیا بیا تکرارېږي نو دا حقیقت د روژتي په وجود کي ځای پر ځای کېږي بلکي د هغه له فطرت سره پیوستېږي چې دی د یوه رب بنده دی او ده ته مناسبه داده چې د ژوند په نورو معاملاتو کي هم له اقرار او اعتراف سره د خپل رب د امر په وړاندې ډال وغورزوي او په فکر و عمل دواړو کي له خپلې ازادۍ او سرکښۍ څخه لاس واخلي. ښکاره ده چې په دې سره پر الله د انسان ایمان له هره پلوه ژوندی کېږي او تر دې وروسته دی صرف یو الله نه بلکي داسي سمیع او بصیر، علیم او حکیم او قایم بالقسط ذات مني چې د ده په ټولو پټو او ښکاره وو خبر دی او د هغه له اطاعت څخه په هیڅ حال کي انحراف نه شي کولای. د تقوا د پیدا کېدو لپاره تر ټولو اول شی همدغه دی.

دویمه دا چې روژه د زړه تل او د روح ژوروته دا احساس هم کښته کوي چې انسان به یوه ورځ د ځواب لپاره د خپل رب حضور ته ورځي، په منلو خو دا خبره هر مسلمان مني مګر په روژه کي چې یې تنده تنګوي، لوږه یې زوروي او جنسي احساسات په پوره زور د خپل تسکین غوښتنه کوي نو هر سړی پوهېږي چې یوازې هغه احساس ځواب ورکوي چې انسان د نس او فرجو د دې غوښتنې له پوره کولو را ګرزوي. د روژې په ټوله میاشت کي هره روژه په ساعتونو د نفس پر دې بنیادي غوښتنو صرف د دې لپاره بندیز لګوي چې یوه ورځ به له خپل مالک سره مخ کېږي. ان د سختې ګرمۍ په حالت کي یې ستونی له تندې وچ وي، سړې اوبه یې مخ ته پرتې وي که دی وغواړي په اسانۍ یې څښلای شي خو نه یې څښي، له سختې لوږې کړېږي او خوراک موجود وي خو نه یې خوري، مېړه او مایندوا ړه ځوانان وي او یوازې اوسېږي که وغواړي خپل خواهش پوره کولای شي مګر نه یې پوره کوي. دا ریاضت کوم عادي ریاضت نه دی، په دې سره د هغه په زړه و دماغ کي د الله په وړاندې د ځواب احساس په پوره ډول پیاوړی کېږي، که غور وکړو نو د تقوا پیدا کولو لپاره دویم اغېزناک شی همدا دی.

درېیمه دا چې د تقوا لپاره صبر ضروري دی او روژه انسان ته د صبر روزنه ورکوي بلکي د صبر د روزنې لپاره ممکن تر دې غوره او ډېره اغېزناکه طریقه بله نه وي. موږ چې په دنیا کي له کوم امتحان سره مخ یو د هغه حقیقت له دې پرته بل څه دی چې یوې خوا ته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زمونږ د حیواني وجود سختې غوښتنې دي او بلې خوا ته د الله دا مطالبه چې د هغه په حدودو کې په پاتې دو ژوند وکړو. همدا شی ګام پر ګام د صبر تقاضا کوي، که د ربښتنولۍ، دیانت، زغم، تحمل، وعدې پوره کولو، عدل و انصاف، عفوې و بخښنې، له منکراتو د ځان ساتنې، فواحشو څخه د ډډې کولو او پر حق د استقامت اوصاف نه وي نو تقوا هیڅ معنا نه لري او بنکاره ده چې دا اوصاف په انسان کې له صبر پرته په هیڅ ډول نه شي پیدا کېدای.

د روژې هدف همدا تقوا ده او د دې لپاره الله د رمضان میاشت ټاکلې ده، پورته مو وویل چې الله یې علت دا ښودلی چې په دې میاشت کې د قرآن نزول پیل شوی دی، دا چې د روژې له هدف سره څه تړاو لري استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کې لیکي:

" غور کوونکي د دې حقیقت په درک کې له هیڅ ستونزې سره نه شي مخ کېدای چې د الله په نعمتونو کې تر ټولو لوی نعمت عقل دی او تر عقل هم لوی نعمت قرآن دی ځکه عقل هم حقیقي لارښوونه له قرآن څخه تر لاسه کوي، که دا نه وي نو عقل به د ټولو دوربینونو او خوردبینونو له لګولو سره هم په تیارو کې ورک وي، له همدې کبله چې په کومه میاشت کې نړۍ ته دا نعمت ورکول شوی هغه د دې وړ وه چې د الله د لوبیي او شکر ایستنې ځانګړې میاشت وټاکل شي، څو تل د دې ستر نعمت د قدر او عظمت اعتراف موجود وي. الله د دې شکر او تدبیر لپاره د روژو عبادت ټاکلی چې د هغې تقوا د روزنې ځانګړې میاشت ده چې د ټول دین او شریعت دوام او بقاء ورپوري تړلې او د درلودونکو لپاره یې په حقیقت کې قرآن د هدایت په توګه نازل شوی ... ګواکې د دې قرآني حکمت ترتیب دادی چې د قرآن کریم حقیقي برکت یوازې تر هغو خلګو ځانګړی دی چې په دوی کې د تقوا روح وي او د دې تقوا د روزنې خاصه وسیله د روژې عبادت دی ځکه نو الله هغه میاشت د روژو لپاره ځانګړې کړه چې قرآن پکې نازل شوی وو، دا خبره په نورو الفاظو داسې هم کېدای شي چې قرآن د دې دنیا لپاره پسرلی دی او د روژې میاشت د پسرلی موسم او د پسرلي دا موسم چې کوم فصل ته وده ورکوي هغه تقوا ده."

(تدبر قرآن ۱/ ۴۵۱)

په روژه سره دا مقصد حتما تر لاسه کېږي خو د دې لپاره اړینه ده چې روژتیان له هغو فسادونو ځان وساتي چې که پکې پیدا شي نو ټول برکتونه یې ختمېږي، که څه هم دا فسادونه ډېر دي مګر ځینې یې داسې دي چې باید هر روژتي یې په اړه هوښیار وي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په هغو کې یو فساد دادی چې خلګ روژه د خوندونو او لذتونو میاشت ګڼي، دوی فکر کوي چې که په دې میاشت کې هر ډول مصرف وشي الله به یې هیڅ حساب ونه کړي. له همدې کبله که کوم کسان څه خوراک او څښاک کوي نو د دوی لپاره دا میاشت د مزو او چړچو میاشت ده، دوی یې د نفس د روزنې پر ځای د هغه د پالنې میاشت ګرزوي او هره ورځ سهار و مابنام د روژه ماتي په چمتو کولو بوخت وي. د وی چې څومره وخت روژه وي همدا فکر کوي چې د ټولي ورځې لوږې او تندې د دوی په نس کې کومه تشه پیدا کړې هغه به اوس په کومو -کومو نعمتونو ډکوي؟. د دې نتیجه دا وي چې اول خو له روژې څخه څه نه ترلاسه کوي او که څه ترلاسه کوي نو هم الته یې بایلي.

له دې خرابۍ څخه د ځان ساتنې طریقه داده چې انسان دې په خپل ځان کې د کار د ځواک ساتلو لپاره حتما خوراک او څښاک وکړي خو دا دي د ژوند هدف نه ګرزوي، هر څه چې له تکلیف پرته په لاس ورځي هغه دي د الله له شکر سره وخوري، کورنۍ چې یې څه پر دسترخوان ورته کښېږدي که یې زړه نه غواړي نو خپه کېږي دي نه، که الله مال او دولت ورکړی وي نو د خپل نفس د پالنې پر ځای دي له غریبانو او فقیرانو سره پر مرسته او د دوی پر خوراک او څښاک ولګوي. دا شیان به یې حتما د روژې برکات ډېر کړي، د انفاق په معامله کې د رسول الله ﷺ طریقه همدغه وه. له عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په عامو حالاتو کې تر هر چا ډېر سخي وو خو د روژې په میاشت کې به یې تر بل هر وخت ډېر سخاوت کاوه.[۳۳۱]

دویم فساد دادی چې د انسان په طبیعت کې د لوږې او تندې له وجې یو څه تندي پیدا کېږي، له همدې کبله یې ځینې کسان د هغې د اصلاح پر ځای د کارولو بانه ګرزوي. دوی خپلو ماشومانو، میرمنې او تر لاس لاندې کار کوونکو ته پر هره وړه خبره غوسه کېږي، څه چې پر خوله ورځي وایي یې بلکې که خبره تاو بالا شي نو ښکنځل کوي او ځینې وختونه تر خپل لاس لاندې کسانو له وهلو هم ډډه نه کوي. تر دې وروسته خپل ځان په دې ډاډمنوي چې په روژه کې خو نو داسې کېږي.

رسول الله ﷺ یې علاج دا ښودلی چې په داسې ځایونو کې دي انسان روژه د پاربدو د بانې پر ځای د هغې په مقابل کې د ډال په توګه وکاروي او که په کوم ځای کې خبره خواشینۍ ته ورسېږي نو سمدستي دي وریاده کړي چې زما روژه ده. ده ویلي: روژه ډال

---

[۳۳۱] بخاري، شمېره: ۶، مسلم، شمېره: ۶۰۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی، نو په تاسي کي که د چا روژه وي نه دي د بې شرمۍ خبرې کوي او نه دي جهالت ښيي، که څوک ورته ښکنځل وکړي او يا له ده سره جګړه غواړي نو ورته ودي وايي چې اې زما وروره! زه په روژه کي يم.[۳۳۲] حقيقت دادی چې که روژتي د غوسې او خوشکې په هر ځای کي د يادونې دا طريقه غوره کړي نو ورو ورو وروبه ووينې چې د خپل نفس شيطان يې دومره ولکه کړی چې د ده په را لاندې کولو کې ډېر کم بريالی کېږي. د شيطان په مقابل کي د فتحې دا احساس به يې په زړه کي د اطمنان او لوړتيا احساس پيدا کړي او د روژې همدا يادونه به يې د اصلاح وسيله شي. بيا به همالته غوسه کوي چې ځای يې وي او بې وخته پاروبه يې د هيڅا لپاره ممکن نه وي.

درېيم فساد دادی چې ډېر کسان کله په روژه کي خوراک، څښاک او دا ډول نور زړه وړونکي فعاليتونه پرېږدي نو د خپل دې محرومیت علاج په هغو فعاليتونو کي لټوي چې په هغو سره د دوی په خيال روژه هيڅ نه وي بلکي هېرېږي، دوی له روژې سره ورڅې کوي، ناولونه او افسانې به وايي، سندرې او غزلې به اوري، فلمونه به ګوري، د دوستانو په مجلس کي به ګپ و شپ کوي او که دا هر څه نه وي نو د نورو په غيبت او بد ويلو به اخته وي. د روژې په خالي نس کي انسان د خپل ورور د غوښو په خوړلو کي ډېر خوند ترلاسه کوي او نتيجه يې دا وي چې ځينې وختونه له سهاره په دې کار اخته وي او د موذن په اذان سره ترې لاس اخلي.

د دې فساد يو علاج خو دادی چې انسان چوپتيا د روژې هدف وبولي او هڅه وکړي چې کمې خبرې وکړي او د دروغو و رښتيا په معامله کي يې پرځبه قلف پروت وي. رسول الله ﷺ ويلي چې څوک دروغ او پر هغو عمل پرې نه ږدي نو الله دې ته هيڅ ضرورت نه لري چې خپل خوراک او څښاک خوشي کړي.[۳۳۳]

دويم علاج يې دادی چې له ضروري کارونو کوم وخت زيات شي په هغه کي قرآن او حديث مطالعه کړي او په دين پوه شي، د روژې دا فرضيت غنيمت وبولي او پکي د قرآن و رسول الله ﷺ د بيان شوو دعاوو يوه برخه يا ده کړي. په دې توګه به له پورتنيو بوختياوو خوندي شي او وروسته به يې همدا ذخيره په زړه کي د الله د ياد پاتېدو لپاره په کار ورشي.

---

[۳۳۲] بخاري، شمېره: ۱۸۹۴، مسلم، شمېره: ۲۷۰۳

[۳۳۳] بخاري، شمېره: ۱۹۰۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څلورم فساد دادی چې انسان ځینې وختونه روژه د الله لپاره نه بلکې د خپلې کورنۍ او له ده سره د لیدونکو له ملامتۍ څخه د ځان ساتنې لپاره نیسي او ځینې وختونه د خپلې دینداری د نوم ایستلو لپاره دا تکلیف زغمي. دا شی هم د روژې حقیقت له منځه وړي.

علاج یې دادی چې انسان تل د روژې اهمیت د خپل نفس په وړاندې واضح کړي او هغه ته سپارښتنه وکړي چې کله خوراک او څښاک او نور خوندونه پرېږدي نو ولې یې د الله لپاره نه پرېږدي؟ پر دې سربېره دې ځینې وختونه له رمضان پرته نفلي روژې هم نیسي او ډېره هڅه دې یې دا وي چې پټه یې کړي. په دې سره امید شته چې یو وخت به یې دا فرض روژې هم د الله لپاره ځانګړې شي.

رسول الله ﷺ چې کومې نفلي روژې نیولې او یا یې په همدې موخه خلګ ورته هڅولي هغه دادي.

د عاشورا روژه

په روایاتو کې یې فضیلت بیان شوی[۳۳۴] رسول الله ﷺ په عمومي ډول نیوله[۳۳۵] بلکې د رمضان تر روژې وړاندې یې دا روژه حتما نیوله او خلګو ته یې هم د نیولو امر کړی وو، هغوی یې ورته هڅول او په دې معامله کې یې ځارونکی وو.[۳۳۶]

د دې وجه دا بیان شوې چې دا روژه قریشو نیوله[۳۳۷] او بله وجه یې دا بیان شوې چې په دې ورځ یهودو روژه نیوله، رسول الله ﷺ چې کله ترې پوښتنه وکړه نو دوی وویل: دا ورځ د دوی لپاره ډېر ارزښت لري، الله په دې ورځ موسی او د هغه قوم وژغوره او فرعون او د هغه قوم یې په سیند کې غرق کړل، نو موسی علیه السلام په دې ورځ د شکر روژه ونیوله. رسول الله ﷺ وویل: له موسی علیه السلام سره تر تاسو زمونږ تړاو زیات دی نو ده هم روژه ونیوله او خلګو ته یې د روژې نیولو لارښوونه وکړه.[۳۳۸]

---

[۳۳۴] بخاري، شمېره: ۲۰۰۴، مسلم، شمېره: ۲۷۴۶

[۳۳۵] بخاري، شمېره: ۲۰۰۶، مسلم، شمېره: ۲۶۳۷

[۳۳۶] بخاري، شمېره: ۲۰۰۲، ۴۶۸۰، مسلم، شمېره: ۲۶۵۲

[۳۳۷] بخاري، شمېره: ۲۰۰۲، مسلم، شمېره: ۲۶۳۷، ۲۶۴۲

[۳۳۸] بخاري، شمېره: ۲۰۰۴، مسلم شمېره: ۲۶۵۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د عرفات روژه

د دې ورځې فضیلت هر مسلمان ته معلوم دی، رسول الله ﷺ ویلي: که په دې ورځ روژه ونیول شي نو په بدل کې به یې الله د یوه کال مخکینۍ او یوه کال وروستنۍ ګناهونه ور وبخښي.[۳۳۹] خو رسول الله ﷺ د حج پر مهال دا روژه نه ده نیولې.[۳۴۰]

غالبا به یې علت دا وي چې رسول الله ﷺ نه غوښتل د حج له سختیو سره یې یو ځای کړي.

د شوال روژې

په روایاتو کې د دې روژو فضیلت هم بیان شوی دی، رسول الله ﷺ ویلي: که څوک د رمضان روژې ونیسي، ور پسې په دې پسې پیسو ته د شوال شپږ روژې ونیسي نو ګواکې تول عمر یې روژه ده.[۳۴۱]

په هره میاشت کې درې روژې

رسول الله ﷺ خلک ورته هڅولي او په دې اړه یې هماغه څه ویلي چې پورته د شوال د روژو په اړه بیان شول.[۳۴۲] له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په خپله هم دا روژې نیولې، مګر د دې لپاره یې کومه ورځ نه وه تاکلې، ده چې به کله وغوښتل په توله میاشت کې به یې یو وخت دا روژې نیولې.[۳۴۳] البته ځینو صحابه کرامو ته یې لارښوونه کړې چې دا روژې دې د میاشتې پر دیارلسم، څورلسم او پنځلسم تاریخ ونیسي.[۳۴۴]

---

[۳۳۹] مسلم، شمېره: ۲۷۴۶ یعني هغه ګناهونه چې له حقوق العباد سره تړاو ونه لري، یا یې توبې، جبیرې او د کفارې ورکړې ته ضرورت نه وي.

[۳۴۰] بخاري، شمېره: ۱۶۵۸، ۱۹۸۸، مسلم، شمېره: ۲۶۳۲

[۳۴۱] مسلم، شمېره: ۲۷۵۸، ابوداود، شمېره: ۲۴۳۳

[۳۴۲] بخاري، شمېره: ۱۹۷۶، ۱۹۷۹، مسلم، شمېره: ۲۷۴۶

[۳۴۳] مسلم، شمېره: ۲۷۴۴

[۳۴۴] نسایي، شمېره: ۲۴۲۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دوشنبې او پنج شنبې روژه

رسول الله ﷺ دا روژې هم نیولې دي، کله چې یې خلکو وجه تر پوښتله نو ویې ویل: د دوشنبې او پنج شنبې په ورځو کې د خلکو اعمال وړاندې کېږي.[۳۴۵] همدا رنګه یې ویلي: دوشنبه زما د زوکړې ورځ ده او قرآن هم په دې ورځ را باندې نازل شوی وو.[۳۴۶]

د شعبان روژې

له رمضان پرته همدا میاشت ده چې رسول الله ﷺ به پکې ډېرې روژې نیولې، عائشې ﷺ ویلي: له شعبان پرته مې په هیڅ میاشت کې د دومره ډېرو روژو پر نیولو نه دی لیدلی.[۳۴۷]

پر دې سربېره چې خلک هر وخت وغواړي نفلي روژې نیولای شي، ډېرو روژو نیوونکو ته یې لارښوونه کړې چې په دې معامله کې دي د داود علیه السلام پیروي وکړي چې یوه ورځ به یې نیوله او بله ورځ به یې خوړله.[۳۴۸] البته رسول الله ﷺ د روژې لپاره صرف د جمعې ورځ ځانګړې کول،[۳۴۹] ټول کال روژه نیول[۳۵۰] او د اختر د ورځو[۳۵۱] روژه نښه نه ده بللې.[۳۵۲]

د روژې قانون

د انبیاء علیهم السلام په دین کې چې د روژو کوم قانون را پاتې شوی دی، الله مسلمانانو ته له هغه سره سم د روژې نیولو هدایت کړی دی. قرآن ویلي: روژه پر مسلمانانو هغه ډول فرض شوې لکه تر دوی پر مخکینیو چې فرض وه، ویلي یې دي: دا

---

[۳۴۵] نسایي، شمېره: ۲۳۶۰، احمد، شمېره: ۲۱۲۴۶

[۳۴۶] مسلم، شمېره: ۲۷۴۷

[۳۴۷] بخاري، شمېره: ۱۹۶۹، ۱۹۷۰، مسلم، شمېره: ۲۷۲۱، ۲۷۲۲

[۳۴۸] بخاري، شمېره: ۱۹۷۹، مسلم، شمېره: ۲۷۲۹

[۳۴۹] بخاري، شمېره: ۱۹۸۴، ۱۹۸۵، مسلم، شمېره: ۲۶۸۱، ۲۶۸۳، ۲۷۸۴

[۳۵۰] بخاري، شمېره: ۱۹۷۶، مسلم، شمېره: ۲۷۴۷

[۳۵۱] بخاري، شمېره: ۱۹۹۰، ۱۹۹۱، مسلم، شمېره: ۲۶۷۱، ۲۶۷۲

[۳۵۲] وجه یې داده چې اول شی لږ موده وروسته په بدعت بدلېده، دویم د ژوند نظام خرابا وه او درېیم ښځې بې معنا وو چې د هغه لپاره په دې دین کې هیڅکله امکان نه وو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څو شمېر ورځې دي چې د دې عبادت لپاره ځانګړې شوې. څرګنده ده دا خبره يې د هغوی د زړه خوشالولو په توګه کړې ده، ګواکي مدعا داده چې که د روژو برکت ته پام وکړو نو په دوولسو مياشتو کې دېرش يا نهه ويشت ورځې ډېره لويه موده نه ده بلکې يو شمېر ورځې دي نو ځکه بايد انسان د وېرې او يا زړه بايللو پر ځای له هغو پوره ګټه واخلي.

تر دې مقدمې وروسته د رخصت حکم بيان شوی دی. ويلي يې دي: کوم کسان چې د ناروغۍ يا سفر له کبله د رمضان روژې نه شي پوره کولای هغوی دی په نورو ورځو کې يا روژې ونيسي دا شمېر دي پوره کړي، يا دي د روژو پر ځای يوه مسکين ته د خوراک په ورکولو پاتې شوې روژې جبران کړي. دا حکم په دې الفاظو پای ته رسېدلی دی: فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (نو که څوک په شوق کومه نېکي وکړي دا د ده لپاره غوره ده او که روژه ونيسي نو دا نوره هم درته ښه ده که پوهېږئ.) مطلب دا چې د روژې دا فديه هغه ادنی غوښتنه ده چې طاقت درلود ونکي به يې په هر حالت کې پوره کوي، مګر که څوک تر يوه زياتو مسکينانو ته خوراک ورکړي، يا له دې سره بله نېکي وکړي نو د ده لپاره لا غوره ده او د الله په نزد تر دې هم ښه داده چې سړی د فديې پر ځای په نورو ورځو کې روژې پوره کړي.

خو تر دې وروسته چې کوم ايت د شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِی أُنزِلَ فِيْهُ القرآنُ په الفاظو پيلېږي په هغه کې د فديې اجازه ختمه شوې ده، د حکم په هماغه تکرار سره يې له وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونهُ څخه تر وَ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ الفاظ ختم کړي دي. څرنګه چې تر روژې وروسته په عامو ورځو کې روژه نيول سخت وي له همدې کبله چې تر څو پورې ذهنيت نه وو ورته چمتو شوی الله لازمې و نه ګڼلې ځکه يې نو ويلي چې د فديې اجازه د دې لپاره ختمه شوه چې تاسو د روژو تعداد پوره کړئ او په دې کې چې کوم خير او برکت نغښتی له هغه بې برخې نه شئ.

همدا په حقيقت کې د روژې حکم دی، تر دې وروسته معلومېږي چې د خلګو په ذهنونو کې ځينې پوښتنې پيدا شوې په هغو کې يوه مهمه پوښتنه دا وه چې د رمضان په شپو کې له مېرمنو سره جنسي اړيکې روا دي او که نه؟. د دې وجه غالبا دا وه چې په يهودو کې روژه تر ماتېدو وروسته سمدستي بيا پيلېده او د روژې په شپه خوراک او څښاک او له مېرمنو سره جنسي اړيکې ناروا بلل کېدې، مسلمانانو دا فکر کاوه چې د دوی لپاره به هم دا قانون وي، ځينو خلګو له ځان سره په زړونو کې همدا فکر درلود خو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مخالفت يې کاوه او دا ښه خبره نه وه ځکه انسان چې د خپل اجتهاد يا ګومان له مخې يو شی د دين او شريعت تقاضا ګڼي نو له دې قطع نظر چې په حقيقت کې د شريعت حکم دی او که نه؟ د دې لپاره يې مخالفت جايز نه دی، ځکه نو قرآن له همدې څخه د زړه په خيانت تعبير کړی او ويلي يې دي:

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَآئِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُواْ مَا كَتَبَ اللّهُ لَكُمْ وَكُلُواْ وَاشْرَبُواْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّواْ الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ وَلاَ تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَقْرَبُوهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (البقرة ۲ : ۱۸۷)

" د روژې په شپه درته خپلو مېرمنو ته ورتګ حلال شوی، هغوی ستاسو لباس دي او تاسو د هغوی لباس ياست، الله پوه شو چې تاسو له خپلو ځانونو سره خيانت کوئ نو پر تاسو يې مهرباني وکړه او درتېر شو نو اوس (له څه شک پرته) خپلو مېرمنو ته ورځئ او الله چې څه درته ليکلي ويې غواړئ، تر هغه وخته خوراک او څښاک کوئ چې د شپې توره ليکه د سهار له سپينې ليکې بالکل جلا شي، بيا تر شپې خپلې روژې پوره کړئ او کله په مسجدونو کې معتکف ياست نو (بيا په شپه کې هم) مه ور نژدې کېږئ، دا د الله ټاکلي حدود دي نو نژدې مه ورځئ په دې توګه الله خپل ايات ونه خلګو ته بيانوي چې دوی تقوا غوره کړي."

د قرآن تر دې وضاحت وروسته چې د روژې او اعتکاف کوم قانون ټاکل شوی هغه دادی:

د روژې په نيت او صرف د الله د رضا لپاره له خوراک، څښاک او مېرمنو ته له ورتګ څخه ډډه کول په اصطلاح کې روژه ده.

دا بنديز له سهار څخه د شپې تر پيلېدو پورې دی، ځکه نو د روژې په شپو کې خوراک او څښاک او له مېرمنو سره جنسي اړيکې بالکل روا دي.

د روژو لپاره د رمضان مياشت ځانګړې شوې ده نو که څوک په دې مياشت کې موجود وي پر هغه فرض ده چې د ټولې مياشتې روژې ونيسي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که انسان د ناروغۍ، سفر او یا بل مجبوریت له امله د رمضان روژې پوره نه کړای شي نو لازمي ده چې په نورو ورځو کې په نیولو یې جبران او هغه شمېر پوره کړي.

د حیض و نفاس په حالت کې د روژې نیول ممنوع دي خو پاتې شوې روژې به وروسته حتما را ګرزوي.

د روژې لوړ کمال اعتکاف دی، که چا ته الله د دې کار توفیق ورکړ نو په کار ده چې د روژې په میاشت کې ځومره ورځې ممکنه وي له دنیا څخه په بیلبد و د الله د عبادت لپاره په مسجد کې کښېني او له سخت انساني ضرورت پرته مسجد خوشي نه کړي.

که انسان پر اعتکاف ناست وي نو د روژې په شپو کې پر خوراک او څښاک هیڅ بندیز نه شته خو له مېرمنې سره جنسي اړیکې یې روا نه دي. د اعتکاف په حالت کې الله له دې څخه منعه کړې ده.

د روژې دا قانون د مسلمانانو په اجماع او عملي تواتر ثابت دی، قرآن یې هم تر ډېره تفصیل بیان کړی دی. د رسول الله ﷺ علم او عمل چې یې کوم وضاحت کړی لاندې یې له یوه مناسب ترتیب سره بیانوو.

۱) روژه باید د میاشتې په لیدلو پیل شي، رسول الله ﷺ ویلي: میاشت نهه ویشت ورځې هم کېدای شي، له همدې کبله چې کله میاشت ووینئ روژه ونیسئ چې کله یې ووینئ ماته یې کړئ او که اسمان صاف نه وي نو د شعبان دېرش ورځې پوره کړئ.[۳۵۳]

۲) د رمضان تر پیل وړاندې باید یوه یا دوې ورځې روژه ونه نیول شي، رسول الله ﷺ دا کار نه دی خوښ کړی او ویلي یې دي چې هغه څوک ترې مستثنا دی چې په دې ورځ روژه نیسي.[۳۵۴]

باید پېشلمی وشي، رسول الله ﷺ ویلي: پېشلمی کوئ ځکه د پېشلمي په خوراک کې برکت دی.[۳۵۵]

---

[۳۵۳] مسلم، شمېره: ۲۵۰۳، ۲۵۱۴

[۳۵۴] بخاري، شمېره: ۱۹۱۴، مسلم، شمېره: ۲۵۱۸

[۳۵۵] بخاري، شمېره: ۱۹۲۳، مسلم، شمېره: ۲۵۴۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴) په روژه کې له مېرمنې سره بې جنسي اړیکو د هر ډول محبت څرګندونه کېدای شي، له عائشې ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د روژې په حالت کې مچه اخیستله او زه یې په غېږ کې ټینګوله.[۳۵۶]

۵) د جنابت په حالت کې روژه نیول کېدای شي، د عائشې ﷺ روایت دی چې ځینې وختونه به د رسول الله ﷺ روژه وه او ترسهار وروسته به یې د جنابت غسل وکړ.[۳۵۷]

۶) که انسان په هېره یو څه وخوري نو روژه یې نه ماتېږي، رسول الله ﷺ ویلي: دا خوراک او څښاک الله ورکړی دی.[۳۵۸]

۷) که د روژې په دویمه یا درېیمه لسیزه او یا پوره لس ورځې اعتکاف وشي نښه کار دی مګر دا چې میاشت نهه ویشت ورځې وي. له روایتونو ښکاري چې عموماً د رسول الله ﷺ طریقه همدا وه.[۳۵۹]

۸) په قصد د روژې خوړل لویه ګناه ده، که انسان دا ډول کار وکړي نو غوره ده چې کفاره یې ورکړي. رسول الله ﷺ یو چا ته د دې هماغه کفاره وروښوده چې قرآن د ظهار لپاره بیان کړې ده خو له روایت څخه ښکاري چې کله هغه عذر وښود نو رسول الله ﷺ ټینګار ونه کړ.[۳۶۰]

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

حج او عمره

وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ * لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ * ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ* (الحج ۲۲: ۲۷-۲۹)

---

[۳۵۶] بخاري، شمېره: ۱۹۲۷، مسلم، شمېره: ۲۵۷۶

[۳۵۷] بخاري، شمېره: ۱۹۳۱، مسلم، شمېره: ۲۵۸۹

[۳۵۸] بخاري، شمېره: ۱۹۳۳، مسلم، شمېره: ۲۷۱۶

[۳۵۹] بخاري، شمېره: ۲۰۲۵، ۲۰۲۶، ۲۰۲۷، مسلم، شمېره: ۲۷۷۲، ۲۷۸۰

[۳۶۰] بخاري، شمېره: ۱۹۳۶، مسلم، شمېره: ۲۵۹۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" او په خلګو کي د حج اعلان وکړه هغوی به تاسو ته پیاده هم راشي او پر هغو اوښو سپاره هم چې د سفر له کبله به ډنګرې شوې وي، دوی به له لرو غرنیو لارو را ورسېږي، د دې لپاره چې د ځان د ګټې ځایونو ته ولاړ شي او په څو ټاکلو ورځو کي پر خپلو هغو حیواناتو د الله نوم واخلي چې دوی ته یې ورکړي دي (تاسو هغه حلال کړئ) په خپله یې هم وخورئ او بې وسه فقیرانو ته یې هم ورکړئ، ورپسې په کار ده چې دوی خپل خیري لرې کړي، خپل نذرونه پوره کړي او پر دې لرغوني کور طواف وکړي."

دا هغه اوازدی چې پېړۍ وړاندې پورته شو او موږ یې په ځواب کي د لبیک لبیک په ویلو په ام القرى مکه کي د ابراهیم علیه السلام رغول شوي هغه مسجد لپاره د سفر نیت کوو چې بیت الحرام بلل کېږي، دا هماغه بیت عتیق دی چې د امام فراهي په ټکو د بطحا په دې وادي کي د الله لومړنی کور وو او په اړه یې له ازل څخه پرېکړه شوې وه چې له توحید څخه انحراف کوونکي به لرې غورځوي. کله چې یې او سېدونکو بت پالنه پیل کړه او د دې په شاوخوا کي تیت پرک شول نو د لمانځنې په نیت یې د دې معبد ډبرې هم له ځان سره یو وړې. ابراهیم علیه السلام له بابل څخه تر هجرت وروسته د هغې په لټه دلته راغی نو د زړې ودانۍ صرف یوه ځلېدونکې ډبره یې پاتې وه. د اسماعیل علیه السلام تر قرباني وروسته الله ورته امر وکړ چې دا عبادت ځای دویم ځل ودان کړه. زوی او پلار په ګډه تر دې یادګاري ډبرې لاندې د ځمکې په کیندلو پیل وکړ، تر یو څه خواري وروسته زاړه بنسټونه څرګند شول نو دوی لوړ کړل او هغه ډبره یې د ودانۍ په یوه ګوټ کې ځای پر ځای کړه. اسماعیل علیه السلام د همدې کور نذر شو، ده یې خدمت کاوه او د الله په امر دا اوازلوړ شو چې نور به خلګ د الله د نذر لپاره رائي او دلته په راتلو چې یې د ایمان کومه ژمنه کړې ده هغه به تازه کوي، د همدې عمل نوم په اصطلاح کي حج او عمره دی. همدا دواړه عبادات په ابراهیمي دین کي د عبادت کمال دی، دا د خپل معبود لپاره د لمانځنې د احساس وروستۍ درجه ده چې د هغه په لټه بنده خپل ځان، مال او ټول د ده حضور ته د نذر ورکولو لپاره چمتو شي، حج او عمره د همدې نذر تمثیل دی او دواړه یو حقیقت انځوروي. تو پیر صرف دومره دی چې عمره اجمال دی او حج یې له دې پلوه تفصیل دی چې په دې کي هغه هدف بېخي په ډاګه کېږي چې په وجه یې د ځان او مال د نذر کولو غوښتنه شوې.

الله ویلي: د ادم په پیدایښت چې په دې دنیا کي کوم پلان جوړ شو ابلیس له هماغې لومړۍ ورځې د ده پر خلاف د جنګ اعلان وکړ: قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ * ثُمَّ لآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ وَلاَ تَجِدُ

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ* [۳۶۱] (ويې ويل: ښه نو لکه څرنګه چې دي زه په ګمراهي اخته کړم له همدې وجې به زه هم ستا په سيده لار کې دوی ته کښېنم، بيا به د مخ، شا، راسته او چپه اړخ له لوري پرې برید کوم او ته به په دوی کې ډېری خپل شکر ايستونکي پيدا نه کړې.) د قرآن وينا ده چې د ابليس دا ګواښنه منل شوې او د الله بندګان نور تر قيامته له خپل دې ازلي دښمن او اولادې سره يې په جنګ دي.[۳۶۲] همدا د دې دنيا ازموينه ده چې په بريا او ناکامۍ پسې يې زمونږ راتلونکی ترلی دی، مونږ خپل ځان او مال د همدې جګړې لپاره الله ته نذر کوو. انبياء عليهم السلام د يَا أَيُّهَا الَّذِينَ امنوا كُونُوا اَنصَارَ اللهِ [۳۶۳] او از په تاريخ کې بيا -بيا د همدې هدف لپاره لوړ کړی. د ابليس پر خلاف دا جنګ په حج کې داسې تمثيل شوی دی:

د الله بندګان د خپل رب په اعلان د دنيا له مال، وسايلو، خوندونو او بوختياوو لاس اخلي.

د لبيک لبيک په ويلو د جګړې ډګر ته ورځي او عيني د مجاهدينو په توګه په يوه ناوه کې پراو اچوي.

راتلونکي ورځ په يوه پراخ ميدان کې د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي، په دې جنګ کې د بريا لپاره دعا او زاری کوي او د خپل امام خطبه اوري.

د تمثيل د غوښتنو له مخې لمونځ ځنډوي، يو ځای کوي او په لار کې د لنډ پراو په کولو دويم ځل خپلو هستوګنځايونو ته رسېږي.

بيا پر شيطان ډبرې اوروي، د خپلو قربانيو په وړاندې کولو يې الله ته نذر کوي، سرونه خرڅيي او د نذر د ګردشونو لپاره اصل عبادت ځای او قربانۍ ته حاضرېږي.

بيا له هغه ځايه را ګرزي او راتلونکي دوې يا درې ورځې هماغسې پر شيطان ډبرې اوروي.

کـه وګورئ نو په حج او عمره کې احرام د دې خبرې ښېنه ده چې مومن بنده له خوښيو،

---

[۳۶۱] الأعراف ۷ : ۱۶، ۱۷

[۳۶۲] الأعراف ۷ : ۱۳، ۱۴

[۳۶۳] الصف ۶۱ : ۱۴ (اې مومنانو! د الله مرستندويان شئ)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بوختیاوو او خوندونو لاس اخیستی او خپل بدن یې په دوو نا ګنډل شویو څادرونو پټ کړی دی، لوڅ سر او تریو څه بریده لوڅې پښې بالکل د راهبانو په شکل د خپل رب حضور ته له کور څخه راوتلی دی.

تلبیه د هغه اواز ځواب دی چې ابراهیم علیه السلام د بیت الحرام د نوې ودانۍ تر جوړولو وروسته د الله په امر پریوه تېږه په درېدو پورته کړی وو.[۲۶۴] اوس دا اواز د نړۍ ګوټ - ګوټ ته رسېدلی دی او د الله بندګان د هغه د نعمتونو په اقرار او توحید په منلو د دې اواز په ځواب کې د لبیک اللهم لبیک زړه خوشالوونکې ترانه وایي.

طواف د نذر حرکات دي، په ابراهیمي دین کې دا یو لرغونی دود دی چې څوک قرباني شي او یا یې د عبادت ځای خدمت ته نذر کړي نو هغه د معبد یا قربانۍ د ځای مخ ته را تاووي. د تورات ژباړونکو له همدې خبرې څخه ځای پر ځای د ښورېدلو په قربانۍ او الله په وړاندې په تېرېدو تعبیر کړی دی، د مثال په ډول په حساب کې دي:

" او ته د لاویانو د خدای مخ ته راشه او بني اسرائیل دي خپل لاس لوړ کړي او هارون دي د لاویانو د بني اسرائیلو له خوا د ښورېدلو د قربانۍ په توګه د الله مخ ته تېر شي، نو به د الله د خدمت لپاره ځانګړی شي. بیا دي لاوي خپل دواړه لاسونه پر سر کښېږدي نو به له هغوی څخه یو د خطا د قربانۍ لپاره او بل د الله د سوځونې د قربانۍ لپاره د لاویانو کفاره شي او ته لاویان د هارون او د هغه د زامنو مخ ته ودروه او د الله د ښورولو د قربانۍ په توګه یې تېر کړه، ځکه هغوی د بني اسرائیلو له منځ څخه ما ته نذر شوي دي. زه چې د بني اسرائیلو د ټولو بدو کړنو په بدل کې پرې کوم رحم کوم نو هغوی مې ځان ته اخیستي دي." (۸: ۱۰-۱۶)

د بایبل په عربي ترجمه کې د دې لپاره (ترددهم للرب یا امام الرب) تعبیر غوره شوی دی چې دا مفهوم تر پېښې څرګند دی.

حجر اسود ته لاس ورولو د وعدې نوي کولو نښه ده، په دې کې بنده د تمثیل له مخې ډېره د خپل رب لاس ګڼي، د هغه په لاس کې لاس ورکوي او د ژمنې و وعدې له لرغوني دود سره سم د هغه په ښکلولو خپله هغه ژمنه نوې کوي چې د اسلام په قبلولو د جنت په بدله کې یې خپل ځان او مال ټول الله ته سپارلي دي.

---

[۲۶۴] تفسیر القرآن العظیم د ابن کثیر ۳ / ۲۱۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سعيې د اسماعيل ﷺ د قربانځای طواف دی، ابراهيم ﷺ د صفا پر غره په درېدو د قربانۍ هغه ځای ولید او بیا د دې حکم د تعمیل لپاره لږ په ګړندي تګ د مروا پر لور ولاړ. په بایبل کي دا پېښه داسي بیان شوې ده:

" ابراهيم ﷺ درېیمه ورځ وکتل او د قربانۍ هغه ځای يې له لرې ولید، نو ابراهيم ﷺ خپلو ځوانانو ته وویل: تاسو همدلته له خرو سره تم شئ زه او دا هلک به دواړه لږ هغه ځای ته ورشو او د سجدې په کولو به بیرته ستاسو پر لور را وګرزو."

(پیدایشت ۲۲ : ۴، ۵)

د صفا او مروا طواف هم د نذر حرکات دي چې اول د معبد په مخ کي او وروسته د قربانۍ پر ځای ترسره کېږي، له تورات څخه معلومېږي چې دا که له یوې خوا تر قربانۍ وړاندي ادا کېده همدارنګه تر قربانۍ وروسته په لاس کي د هغې د یوې برخې په اخیستو هم ادا کېده. په خروج کي دي:

" او ته د هارون د خاص پسه د سینې په اخیستلو هغه د رب په مخ کي و ښوروه چې دا د ښورولو هدیه شي او دا به ستا برخه وي." (۲۹ : ۲۶)

عرفات د عبادتځای قایم مقام دی چې هلته د شیطان پر خلاف د دې جګړې مجاهدین را ټولېږي، د خپلو ګناهونو عفوه غواړي او په دې جګړه کي د بریا لپاره دعا وې او زاری کوي.

مزدلفه د لارې پر اوږدی چې هلته شپه تېروي او سهار په پاڅېدو میدان ته تر کښته کېدو وړاندي اول یو ځل بیا دعا وې او زاری غواړي.

رمي پر ابلیس لعنت او د هغه پر خلاف د جنګ نښه ده او دا عمل له دې ارادې سره ترسره کېږي چې مومن بنده د شیطان له شاتګ پرته په هیڅ نه راضي کېږي. څرګنده ده چې د انسان دا ازلي دښمن کله وسوسې اچوي نو بیا خاموش نه کښېني بلکي دې لړۍ ته دوام ورکوي خو که يې په وړاندي مقاومت وشي نو برید يې ورو -ورو کمزوری کېږي، د درو ورځو په رمي او د دې لپاره اول د لوی او تر دې وروسته د کوچنیو شیطانانو په ویشتلو همدا حقیقت بیان شوی دی.

قرباني د ځان فدیه ده او د سر وېښتان خرڅېل د دې خبرې نښه ده چې نذر وړاندي شوی او نور بنده د خپل رب د اطاعت او دایمي غلامۍ له دې نښې سره خپل لور ته ستنېدای

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شي. همدا د ابراهيمي دين يو لرغونی روايت دی، په تورات کي دا قانون بيان شوی چي کوم څوک الله ته نذر ومني نو دی تر هغه وخته خپل سر نه خرڅيي چي د نذر ورځ يې پوره نه شي. په حساب کي دي:

"او د هغه د نذر په ورځو کي د هغه پر سر تر هغه وخته چاړه مه تېروه څو هغه موده پوره شوې نه وي چي دی د الله نذير تاکل شوی، څو چي پوره نه وي دی مقدس دی او د خپل سر کوڅی دي غټې کړي." (۶: ۵)

"او د نذير لپاره شريعت دا دی چي کله يې د نذر ورځې پوره شي نو د را غونډېدو د خېمې دروازې ته دي راوستل شي ... بيا دي هغه نذير د را غونډېدو د خېمې پر دروازه د خپل نذر وېښتان وخرڅيي." (۶: ۱۳، ۱۸)

له دې څخه اټکل کېدای شي چي دا څومره يو بې ساری عبادت دی چي پر هر وس درلودونکي مسلمان په ژوند کي لږ تر لږه يو ځل فرض شوی دی. رسول الله ﷺ يو ځای تر ايمان او جهاد وروسته د همدې حج فضيلت بيان کړی دی.[۳۶۵] همدارنګه يې ويلي چي که څوک حج وکړي په هغه کي د شهوت او نافرمانۍ خبرې ونه کړي نو له حج څخه داسي را ګرزي لکه نن چي له خپلې مورې زېږېدلی وي.[۳۶۶] همدارنګه رسول الله ﷺ ويلي: تر عمرې وروسته عمره د هغې تر منځ د کېدونکو ګناهونو کفاره ده او د ربنتني حج بدله خو صرف جنت دی.[۳۶۷] يعني هغه ګناهونه چي له حقوق العباد سره نه وي تړلي او توبې، جبيرې او کفارې ته اړتيا ونه لري.

د حج او عمرې تاريخ

د حج او عمرې تاريخ د ابراهيم عليه السلام له هغه اعلانه پيلېږي چي پورته مو يې ځای پر ځای يادونه کړې ده او تر دې وروسته دا لړۍ هيڅکله غوڅه شوې نه ده، د رسول الله ﷺ تر راتګ وړاندې هم د عربو وګړي له هر ځای څخه ډلې ډلې حج او عمرې ته را تلل او د ده تر رسالت وروسته هم دې لړۍ همداسي دوام وموند. قرآن يو ځای همدې حقيقت ته په اشاره کولو ويلي:

---

[۳۶۵] بخاري، شمېره: ۲۶، مسلم، شمېره: ۲۴۸

[۳۶۶] بخاري، شمېره: ۱۸۱۹، مسلم، شمېره: ۳۲۹۱

[۳۶۷] بخاري، شمېره: ۱۷۷۳، مسلم، شمېره: ۳۲۸۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً (آل عمران ۳: ۹۷)

"او څوک چې تر هغه ځايه د تلو وس لري پر هغو د الله د کور حج د تل لپاره فرض شوی دی."

په دې کې شک نه شته چې هغوی په دې مناسکو، مراسمو او ادابو کې ځينې بدعتونه داخل کړي وو خو له رواياتو دا هم ښکاري چې ځينې کسان په دې بدعتونو پوره خبر وو او خپل حج يې له ابراهيمي طريقې سره سم کاوه، د رسول الله ﷺ په اړه نقل شوی چې تر رسالت وړاندې جبير بن مطعم هغه په عرفات کې وليد نو په دې حيران شو چې قريشيان خو تر مزدلفې دباندې نه ځي او د بني هاشمو دا سړی خو پر عرفات د درېدو لپاره هلته ورغلی دی. د ده وينا ده:

اضللت بعيرا لی فذهبت اطلبه يوم عرفة فرأيت النبی واقفا بعرفة فقلت هذا والله من الحمس فما شئنه ههنا.

(بخاري، شمېره: ۱۶۶۴)

"زما اوښ ورک شو، د عرفات په ورځ يې په لټه ووتم نو رسول الله ﷺ مې وليد چې د عرفات په ميدان کې ولاړ دی.[۳۶۸] ما وويل: قسم په الله! دا سړی خو قريشي دی نو دلته څه کوي؟."

له دې څخه معلومه شوه چې قرآن کله د حج امر وکړ نو د هغه مخاطبينو ته کومه نا اشنا خبره نه وه، دوی يې په دين کې له ارزښت او مراسمو و ادابو خبر وو، هر کال په ډېره پاملرنه ورتلل او دا مراسم يې ترسره کول ځکه نو قرآن له دې پرته بل څه نه دي ويلي چې د دې بدعتونو او لاس وهنو په له منځه وړلو دي حج او عمره دواړه له اصلي ابراهيمي طريقې سره سم ادا شي. دا د همدې عبادت د تاريخ وروستی فصل دی چې د رسول الله ﷺ په وسيله وليکل شو، تر دې وروسته يې ټول مناسک د مسلمانانو په اجماع او عملي تواتر نسل پر نسل نقلېږي. په دې کې هيڅ ډول لاس وهنه، تغير او زياتونه نه ده شوې، البته قرآن چې هغه مهال پکې کوم اصلاحات راوستي او نن د قرآن په اياتونو کې د تل لپاره خوندي دي موږ يې دلته بيانوو.

[۳۶۸] دا تر رسالت وړاندې پېښه ده، خو څرنګه چې جبير بن مطعم ﷺ دا پېښه تر مسلمانېدو وروسته بيان کړې ځکه يې نو رسول الله ﷺ په دې طريقه ياد کړی دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) پر بیت الحرام د تصرف له کبله قریشو دا خپل حق ګڼه چې دوی څوک وغواړي د حج او عمرې لپاره یې حرم ته را پریږدي او که چا ته وغواړي مخه یې ونیسي. قرآن یې له منلو انکار وکړو او څرګنده یې کړه چې دا د هیڅ کورنۍ اجاره نه ده، هر سړی چې د الله په عبادت او حج و عمرې لپاره د دې کور اراده وکړي قریشي وي که غیر قریشي، عجمي وي که عربي، شرقي وي او که غربي، پر هغه هیڅوک د هیڅ بندیز حق نه لري. په دې کې د ځایي اوسېدونکو او بهرنیانو ټولو حقوق یو ډول دي، قریش په دې کې د واکمنو او اجاره درلودونکو حیثیت نه لري بلکې د خادمانو او چوپړ کوونکو دی، د دوی مسئولیت دادی چې د اسماعیل علیه السلام په څېر یې د ټولې نړۍ لپاره د عبادت مرکز وګرزوي او ټولو انسانانو ته دعوت ورکړي چې له برکتونو څخه یې د برخمن کېدو لپاره دې الهي دربار ته راشي:

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ لِلنَّاسِ سَوَاءً الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (الحج ۲۲ : ۲۵)

"(د دې بر خلاف) چې کومو کسانو انکار وکړو او اوس د الله د لارې او دې مسجد حرام مخه نیسي چې موږ د هغه ځای د ښارياني او بهرنیو راتلونکو لپاره یو ډول ګرزولی (هغوی یقینا لوی ظلم کوي) او (د دې مسجد معامله خو داده چې) څوک پکې د بې دینۍ او کوم شرک د کولو اراده وکړي موږ به د دردوونکي عذاب خوند ورو څکو."

۲) د شرک ناولتیا د توحید دې ستر او لرغوني مرکز ته هم داخله شوې وه، قرآن خبرداری ورکړ چې کله ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام ته د دې کور چارې وسپارل شوې او دلته د مېشتېدو ورته وویل شول نو الله لومړۍ ښوونه ورته دا وکړه چې دا کور دي له دا ډول ناولتیاوو څخه په بشپړ ډول پاک شي. په دې کې دا اشاره وه چې باید قریش همداسي وکړي، که نه دا ستر امانت به له دوی څخه واخیستل شي او خپلو اصلي حقدارانو ته به وسپارل شي:

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ

"او دریاد کړه چې کله مو د ابراهیم لپاره د دې کور ځای ټیکانه وګرزوله (له دې هدایت سره) چې له ما سره هیڅوک مه شریکوئ او زما دا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ (الحج ۲۲ : ۲۶)

کورد طواف کوونکو، قیام کوونکو او رکوع و سجده کوونکو لپاره پاک کړئ."

۳)د رجب میاشت د عمرې او ذو القعدې، ذو الحجې او محرم میاشتې تل د حج لپاره حرامې وې، د عربو مشرکینو چې به کله د جګړې، لوټمارۍ او وینې د انتقام په موخه وغوښتل په هغو کې به یې یوه حلاله او بله حرامه ګڼله، په دې توګه به یې له شمسي کال سره د قمري کال د برابرولو لپاره د کدیسه یوه میاشت زیاتوله څو حج تل په یوه موسم کې وي. دې ته په اصطلاح کې نسیه ویل کېږي، قرآن دا په کفر کې یوه بله زیاتونه ګڼلې او اعلان یې کړی چې دا طریقه بالکل باطله ده نوره باید ختمه شي.

إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلِّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِّيُوَاطِؤُواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ اللّهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (التوبة ۹ : ۳۷)

" دا نسیه خو صرف په کفر کې یوه زیاتونه ده چې د دې منکرینو د بې لارۍ وسیله ګرزېدلې، دوی یو کال یوه میاشت حلاله ګڼي او بل کال حرامه، څو یې شمېر له هغه سره برابر کړي چې الله حرام کړي دي، د دوی لپاره یې ناوړه اعمال ښکلي شوي (دا منکرین دي) او الله هیڅکله دا ډول منکرینو ته هدایت نه کوي."

۴)قریشو د خپلو بتانو په ټرۍ او ځینې حیوانات حرام کړي وو[۳۶۹] او د هغو قرباني یې هم نه کوله، په دې توګه یې د دې کورپه ټرۍ او د ابراهیم علیه السلام مقدس مراسم هم د خپلو دنیوي ګټو په خاطر تر ډېره بریده بدل کړي وو. الله خبرداری ورکړ چې یوازې هغه حیوانات حرام دي چې په قرآن کې یې وضاحت شوی دی، ځکه نو پر الله له دروغو ځان وساتئ او د را منځ ته کړو ټولو الهي حرمتونو درناوی وکړئ همدا درته غوره ده.

ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الأَنْعَامُ إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ * حُنَفَاء لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ وَمَن

" د دې شیانو خیال ساتئ او (په یاد ولرئ چې) څوک د الله د را منځ ته کړیو حرمتونو درناوی وکړي نو د ده د رب په نزد ورته غوره ده او ستاسو لپاره ټول څاروي حلال دي پرته له هغو چې درته واورول شي، نو د بتانو له ناولتیا او

[۳۶۹] الأنعام ۶ : ۱۳۸ - ۱۵۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ * ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ* (الحج ۲۲ : ۳۰ - ۳۲)

هغو دروغو ځان وساتئ (چې تاسو يې پر الله ترڅ) د يوه الله لور ته په ګومبنه کېدو نه له هغه سره په شرک کولو او (په يادولرئ چې) که څوک له الله سره يو شی شريک کړي نو ګواکي له اسمان څخه را ولوېد چې بيا به يې يا مرغان وتښتوي او يا يې باد لرې ځای وغورځوي، د دې شيانو خيال ساتئ او (په يادلرئ چې) څوک د الله د ټاکلو شعايرو درناوی وکړي نو (هغه ته بايد معلومه وي چې) دا د زړونو تقوا ده."

۵) د قربانۍ له حيواناتو څخه ګټه اخيستل عموما ناروا ګڼل کېده، د دې هدف لپاره تر خاصولو وروسته يې خلګو نه شيدې کارولې او نه يې وربانديې بارونه وړل.[۳۷۰] قرآن څرګنده کړه چې د دې شعايرو د تعظيم لپاره دا شی لازم نه دی، د قربانۍ د وخت تر را رسېدو له دې حيواناتو څخه هر ډول ګټه اخيستل بالکل روا دي.

لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ (الحج ۲۲ : ۳۳)

"(د قربانۍ) له دې (حيواناتو) تر ټاکلې مودې ګټه اخيستلای شئ، بيا يې تر دې لرغوني کوره رسول دي."

۶) په عربو کې يهود هم وو او د يوه کمزوري روايت پر بنسټ يې اوښ حرام باله،[۳۷۱] الله ويلي چې دا صرف يو وهم دی ځکه نو بايد اوښ هم له څه شک پرته قرباني شي بلکې څرنګه چې دا اوښ پر عربو ډېر ګران دی نو که يې دوی د خپل رب د رضا لپاره قرباني کړي نو دا به د دوی لپاره د الهي نژدېکت لويه وسيله وي.

وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا

"او موږ د قربانۍ اوښان هم ستاسو لپاره د الله شعايرو ګرزولي دي، په دې کې ستاسو لپاره نېکي ده نو پر کتارونو يې د الله نوم واخلئ، کله

[۳۷۰] بخاري، شمېره: ۱۶۸۹، مسلم، شمېره: ۳۲۰۸، جامع البيان د طبري ۱۷ / ۱۸۵، تفسير القرآن العظيم د ابن کثير ۳ / ۲۲۰

[۳۷۱] اشتنا ۱۴ : ۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (الحج ۲۲ : ۳۶)

چې هغوی پر خپلو اړخونو ولوېږي په خپله يې هم وخوړئ او په هغو يې هم وخوړئ چې قناعت يې کړی او په هغو هم چې غوښتنې ته يې راځي. په دې ډول مو دا (حيوانات) ستاسو په خدمت کې ګرزولي چې شکر وباسئ."

۷) د قربانۍ په اړه فکر کېده چې الله ته يې وينې او غوښه رسېږي، قران خبر ورکړ چې دا صرف حماقت دی، الله ته دا شيان نه بلکې هغه تقوا رسېږي چې د دې قربانيو له امله يې د وړاندې کوونکو په زړه کې پيدا کېږي.

لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلاَ دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنكُمْ كَذَلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ (الحج ۲۲ : ۳۷)

"الله ته نه (ستاسو) د دې (قربانيو) غوښه رسېږي نه وينه بلکې يوازې ستاسو تقوا ور رسېږي په دې ډول يې هغوی ستاسو پر خدمت ګومارلي چې الله تاسو ته کوم هدايت کړی پر هغه يې لويي بيان کړئ (همدا د هغو طريقه ده چې نېکي غوره کوي) او (اې رسوله!) دې نېکي کوونکو ته زېری ورکړه."

۸) مروا د اسماعيل عليه السلام د قربانۍ ځای دی، څرنګه چې يهود د دې خبرې منلو ته چمتو نه وو له همدې کبله يې د صفا او مروا د طواف په اړه هم بېلابېل شکونه پيدا کول. قرآن د حق پر دې پټونه خبر ورکړ او څرګنده يې کړه چې دا دواړه غرونه د الله له شعايرو څخه دي او پر دوی طواف يو نېک کار دی، هيڅ مسلمان بايد په دې معامله کې شکمن نه وي.

إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ * إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَـئِكَ يَلعَنُهُمُ اللّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ*

"يقينا صفا او مروا د الله له شعايرو څخه دي نو چا چې د دې کور حج يا عمره کړې وي پر هغوی هيڅ ګناه نه شته چې پر هغو طواف هم وکړي (بلکې دا يو نېک کار دی) او چا چې په خپل شوق د نېکۍ کوم کار وکړ الله يې قبلوونکی دی او ښه پرې خبر دی (په دې معامله کې چې) موږ کوم حقايق نازل کړي او کوم هدايت مو را

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(البقرة ۲ : ۱۵۸، ۱۵۹) لږلی وونو څوک چې يې له دې سره - سره پټوي چې مور د دوی لپاره په خپل کتاب کې په تفصيل بيان کړي وو نو يقينا دوی هماغه دي چې الله پرې لعنت وايي او لعنت کوونکي هم پرې لعنت کوي."

۹) د حج په لړ کې يو بدعت دا هم ايجاد شوی وو چې خلک له حج څخه په را ستنېدو د احرام په حالت کې کور ته د دروازو له خوا نه بلکې له شا څخه ورتلل.[۳۷۲] د دې حيرانوونکي او نادر حرکت سبب غالبا دا وهم وو چې پر کومو دروازو د ګناه له بوج سره وتلي وي تر پاکي وروسته کورو ته پر هماغو دروازو ورتګ د تقوا خلاف دی، قرآن دا احمقانه حرکت منعه کړ او ويې ويل چې دا هيڅ نېک کار نه دی ځکه نو بايد تکرار نه شي.

وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوْاْ الْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَـكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى وَأْتُواْ الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (البقرة ۲ : ۱۸۹)

" دا هيڅکله تقوا نه ده چې (د احرام په حالت کې او له حج څخه په را ستنېدو) کورونو ته د شا له خوا ور داخل شئ، بلکې نېکي په حقيقت کې د هغه چا ده چې تقوا وکړي، کور ته له خپلو دروازو ورځئ او له الله وويرېږئ چې کامياب شئ."

۱۰) د جاهليت په زمانه کې حج تر ډېره د عبادت پر ځای د يو مذهبي مېلې بڼه غوره کړې وه ځکه يې نو خلکو هر ډول خيال ساته مګر دې خبرې ته يې ډېر ارزښت نه ورکاوه چې په دې سفر کې اصلي توښه تقوا ده او چې د حج لپاره وتلي نو بايد د شهوت، نافرمانۍ او جګړو خبرې ونه کړي ځکه دا د دې ستر عبادت له روح سره منافي دي، الله يې پام را اوړاوه او ورته ويې ويل چې انسان بايد د دې سفر لپاره تر بل هر څه د تقوا همدې توښې ته ډېر خيال وکړي.

الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا

" حج معلومې مياشتې دي نو په دې کې چې هر څوک (د احرام په ترلو) د حج اراده وکړي نو د

[۳۷۲] المفصل فی تاريخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۶ / ۳۷۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّهُ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُوْلِي الأَلْبَابِ (البقرة ۲ : ۱۹۷)

حج په دې زمانه کې دي نه د شهوت خبرې کوي، نه د الهي سرغړونې او نه يې بايد له خولې څخه د شخړې کومه خبره ووزي او (په ياد لرئ چې) تاسو کومه نېکي وکړئ الله پرې خبر دی (او د حج په دې سفر کې د تقوا) له توښې سره ووزئ ځکه د لارې غوره توښه همدا د تقوا توښه ده او اې د عقل خاوندانو! له ما ووپرېږئ."

۱۱) د حج په اړه د همدې غفلت نتيجه وه چې کله به خلک مزدلفې ته ورسېدل نو هلته به يې د تسبيحاتو، تهليل او ذکر و عبادت پر ځای د خرڅولو او را نيولو، سوداګرۍ او دا ډول نورو چارو ته پاملرنه کوله. قرآن وويل: په دې دنيا کې څه بدي نه شته چې انسان له حج سره د خرڅولو او را نيولو کار وکړي مګر د حج ځايونه د دې شيانو نه دي، د علم او معرفت د ځلېدو دا ځای بايد يوازې د الهي ياد لپاره ځانګړی وي.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُواْ فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُواْ اللّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّآلِّينَ (البقرة ۲ : ۱۹۸)

"په دې کې هيڅ بدي نه شته چې (د حج په دې سفر کې) تاسو د خپل رب فضل طلب کړئ مګر (په ياد لرئ چې مزدلفه د لوبو او نندارې او سوداګرۍ ځای نه دی ځکه نو) کله چې له عرفات څخه را کښته شئ نو له مشعر الحرام سره الله هغسې يادوئ لکه څرنګه چې يې درته هدايت کړی او يقينا تاسو تر دې وړاندې بې لارې واست."

۱۲) قريشو د خپل ځان لپاره دا امتياز ټاکلی وو چې تر مزدلفې وړاندې نه تلل دوی ويل: هغوی د بيت الله خادمان او مجاورين دي ځکه يې نو د حرم له حدود و څخه دباندې تګ مناسب نه دی.[۲۷۳] الله يې همدا توجيه ونه منله او امر يې وکړ چې دوی هم بايد د نورو خلکو په څېر عرفات ته حاضر شي.

[۲۷۳] المفصل في تاريخ العرب قبل السلام د جواد علي ۶ / ۳۸۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (البقرة ۲ : ۱۹۹)

" بيا (دا هم ضروري ده چې) نور خلګ له کومه ځايه را کښته کېږي (اې قريشو!) تاسو هم له هغه ځايه را کښته شئ او له الله مغفرت وغواړئ يقينا الله بخښونکی دی شفقت يې ابدي دی."

۱۳) د منی ورځې هم تر ډېره د قصيدو په ويلو، داستانونو په بيانولو او د ويار په مجلسونو کي تېرېدلې.[۲۷۴] يوازي دا نه بلکي خلګو د حج په څېر ستر عبادت ته هم د دنيوي ګټو له پلوه کتل او که به يې پر دې موکه له الله څه غوښتل نو همدا دنيا يې غوښته، قرآن وپوهول او ويې ويل چې دا ډول کسان به په اخرت کي هيڅ برخه ونه لري.

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُواْ اللّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ * وِمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ * أُولَئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُواْ وَاللّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ* (البقرة ۲ : ۲۰۰ - ۲۰۲)

" ترڅو چې وروسته چې کله د حج مناسک پوره کړئ نو لکه څرنګه چې مو وړاندي خپل پلرونه او نيکونه يادول هماغه ډول اوس الله يادوئ بلکي تر هغه هم زيات (دا له الله څخه د غوښتنې ځای دی) مګر په خلګو کي داسي کسان هم شته چې وايي: اې ربه! موږ ته يې په دنيا کي راکړه او (د دې نتيجه دا را وزي چې بيا) په اخرت کي هيڅ برخه نه لري او داسي کسان هم شته چې دعا يې دا وي: اې زموږ ربه! موږ ته په دنيا کي هم خير راکړه او په اخرت کي هم او د اور له عذاب څخه مو وساته، همدوی به د خپل کسب برخه وموميي او الله د حساب په کولو کي چټک دی."

۱۴) په دې لړک ترڅولو ناوړه شی لوڅ طواف وو، په همدې خاطر په بيت الله کي يو لرګی ايښودل شوی وو چې خلګو به په پرې خپلې جامې ځوړندولې او بيا به يوازي د قريشو سخي د هغوی بدن پټاوه، د دوی نارينه وو به له نارينه وو او ښځو به يې له ښځو په خواست جامې غوښتې، خو کوم کسان چې به محروم پاتي شول هغوی به لوڅ طواف کاوه

[۲۷۴] المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۶ / ۳۹۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او دا يې نېکي ګڼله.[۳۷۵] قرآن دا کار منعه کړ او ويې ويل چې انسان بايد د عبادت په هر ځای کې ستر پټ کړي او پوره جامه واغوندي.

يَا بَنِي آدَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ (الأعراف : ۳۱)

"اې د ادم زامنو! هر مسجد ته د حاضرۍ پر وخت خپل د ښکلا لباس واخلئ."

د حج او عمرې هدف

د حج او عمرې هدف هماغه دی چې د دوی حقيقت دی يعني د الهي نعمتونو اقرار، د هغه د توحيد اعتراف او د دې خبرې يادونه چې د اسلام په منلو مو ځانونه خپل رب ته نذر کړي دي. همدا هغه شيان دي چې قرآن د حج په مقاماتو کې له هغو څخه په معرفت او په زړه و دماغ کې يې له رسوخ څخه د هغه په ګټو تعبير کړی دی. په پيل کې چې د سورت الحج کوم ايت نقل شوی هلته يې د حج مناسکو ته د اشارې په کولو ويلي دي: لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ يعني څو د خپلو ګټو ځايونو ته حاضر شي. دا هدف د ذکر په هغو الفاظو سره ډېر ښه څرګندېږي چې د دې عبادت لپاره تاکل شوي، ښکاره معلومېږي چې دا د همدې مقصد په څرګندولو او په ذهن کې يې د لا ټينګولو لپاره غوره شوي دي. د احرام تر ټرلو وروسته دا الفاظ د هر سړي پر ژبه پر له پسې جاري وي:

لبيک اللهم لبيک لا شريک لک لبيک ان الحمد والنعمة لک و الملک لا شريک لک.

"زه حاضر يم اې الله! حاضر يم، ستا هيڅ شريک نه شته، زه حاضر يم، حمد تا لره دی، ټول نعمتونه او پاچاهي هم ستا ده، ستا هيڅ شريک نه شته."

د حج او عمرې ورځې

عمره تاکلی وخت نه لري په ټول کال کې چې هر وخت وغواړې ترسره کېدای شي، البته د حج لپاره د ذو الحجې له اتمې څخه تر ديارلسمې ورځې تاکلې او په همدې ورځو کې کېدای شي. څرنګه چې خلګ د دې عبادت لپاره د نړۍ له ګوټ - ګوټ څخه د عربو ښار مکې ته راځي ځکه نو الله د دې سفر د خوندیتوب لپاره په څلورو مياشتو کې جنګ -

[۳۷۵] المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۶ / ۳۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جګړې او شخړې نا روا بللې دي چې د رجب، ذو القعدې، ذو الحجې او محرم مياشتې دي. په دې کې د رجب مياشت د عمرې لپاره او پاتې درې مياشتې د حج لپاره ځانګړې دي، د دې مياشتو حرمت تل را پاتې شوی او په دې هکله هيڅکله هم اختلاف نه دی پاتې شوی. الله ويلي:

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلاَ تَظْلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ (التوبه ۹ : ۳۶)

" د الله په نزد د مياشتو شمېر په الهي ليکنه کې له هغې ورځې دوولس دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړل، په هغو کې څلور مياشتې حرامې دي همدا سيده دين دی ځکه نو په دې کې پر خپلو ځانونو ظلم مه کوئ."

د حج او عمرې ځايونه

الله د حج او عمرې ځايونه خپل شعائر بللي دي، الهي وينا ده: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ (بې شکه صفا او مروا د الله له شعايرو څخه دي) دا د شعيرة جمع ده چې معنا يې ده نښه، په اصطلاح کې يې مراد هغه نښې دي چې په ذهن کې د يوه حقيقت د ساتلو لپاره د الله او رسول له خوا د يوې نښې په توګه تاکل شوي وي. الله ويلي: که د هغو تعظيم وشي نو دا د زړونو تقوا ده.[۳۷۶]

د هغو پېژندنه داده:

مواقيت

د حج او عمرې په نيت د راتلونکو لپاره د حرم له حدودو څخه پرېو څه فاصله ځينې ځايونه معلوم شوي چې وړاندې له احرام پرته نه شي تلای. پر هغوی دې ځايونو يا د هغو برابری ته په رسېدو اړينه ده چې احرام وتړي، همدې ته په اصطلاح کې ميقات ويل کېږي او دا ځايونه پنځه دي. له مدينې څخه د راتلونکو لپاره ذو الحليفه، له يمن څخه د راتلونکو لپاره يلملم، له مصر او شام څخه د راتلونکو لپاره جحفه، له نجد څخه د راتلونکو لپاره قرن او له ختيځ څخه د راتلونکو لپاره ذات عرق دی.

[۳۷۶] الحج ۲۲ : ۳۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بيت الحرام

دا هماغه عبادت ځای دی چې په قرآن کې د البيت، البيت العتيق او المسجد الحرام په نومونو یاد شوی دی.[۳۷۷] څرنګه چې یې ودانۍ په مکعب ډول جوړه شوې ځکه یې نو خانه کعبه هم بولي چې د عربو د خاورې په مکه ښار کې پرته ده. په قرآن کې د دې ښار لپاره د بکه نوم هم راغلی دی[۳۷۸] چې معنا یې ده اباد ځای. د سمندر له سطحې څخه یې لوړوالی نژدې (۲۷۷) میټره دی او له څلورو طرفونو غرونه پرې چاپېر دي. د ابراهيم علیه السلام تر راتلو وړاندې په مکه کې ابادي نه وه البته د لرغونو عربو یوې قبيلې جرهم پر دې سيمه واکمني درلوده او د مکې په شاوخوا کې اوسېده، د اسماعيل علیه السلام واده د همدې قبيلې له یوې مېرمنې سيده بنت مضاض سره وشو.[۳۷۹] د هغه د زوی نابت تر مېرنې وروسته د دې ښار واک د همدې قبيلې لاس ته ولوېد او تر څو سوو کلونو یې پرې واکمني کوله، وروسته بنو خزاعه او بنو بکر پر دې ښار ولکه وکړه. د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر رسالت لږ و زیات یوه پېړۍ وړاندې د خزاعه د مشر حليل بن حبشيه په مرينه قصي بن کلاب دويم ځل واک ومونده او د بنو اسماعيل حکومت یو ځل بیا پر دې ښار قایم شو.[۳۸۰]

نژدې څلور زره کاله وړاندې چې کله ابراهيم علیه السلام د الله په امر دلته راغی نو د وخت د تېرېدو او سېلابونو له امله بيت الحرام ویجاړ وو او هیڅ نښه یې نه وه پاتې، د الهي الهام په موندلو یې د هغه زاړه بنسټونه وموندل او د خپل زوی اسماعيل په مرسته یې یوه بې چته ودانۍ ورغوله.[۳۸۱] د هغوی په سپېڅلو لاسونو رغول شوې دا ودانۍ هم د وخت له څپو خوندي نه شوه او بالاخره ونړېده، تر دې وروسته لومړی عمالقه وو او بیا جرهم قبيلې ودانه کړه.[۳۸۲] د ځینو پېښنو له امله د جرهم رغېدلې ودانۍ هم ونړېده، نو قريشو یې د بیا جوړولو تابیا وکړه خو د پوره سرمایې نه درلودلو له امله یې ودانۍ پر اصلي ابراهيمي بنسټونو ودانه نه کړای شوه. دا پېښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر رسالت پنځه کاله

---

[۳۷۷] الحج ۲۲ : ۲۵ - ۲۹

[۳۷۸] آل عمران ۳ : ۹۶

[۳۷۹] الروض الأنف د سهيلي ۱ / ۴۷

[۳۸۰] السيرة النبوية د ابن هشام ۱ / ۹۳ - ۱۰۴

[۳۸۱] اخبار مکه د ازرقي ۱ / ۵۸ - ۶۶

[۳۸۲] شرح المواهب اللدنية د زرقاني ۱ / ۲۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وړاندي را منځ ته شوه او ده هم د رغونې په دې کار کې ونډه درلوده. د مورخينو وينا ده چې د حجر اسود د بيا ځای پر ځای کولو ستونزه د ده په غوره تدبير حل شوه.[۳۸۳]

په روايا تو کې دي چې رسول الله ﷺ يو ځل د عائشې رضي الله عنها په مخ کې خپله دا هيله څرګنده کړه چې که د قريشو د زړه تر لاسه کولو موضوع نه وای نو د هغې کومه برخه چې له ودانۍ دباندې پاتې شوې او حطيم بلل کېږي نو ده به په اصلي ودانۍ کې شامله کړې او بيت الله به يې پر اصلي ابراهيمي بنسټونو ودانه کړې وه.[۳۸۴] عبدالله بن زبير رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د همدې هيلې پر بنسټ د قريشو زړه ودانۍ ونړوله او د خپل خلافت پر مهال يې له سره جوړه کړه خو حجاج بن يوسف چې کله د هغه پر خلاف په جګړه کې ټېرې وورولې نو دا ودانۍ هم ونړېده او د هغه تر شهادت وروسته يې د عبد الملک بن مروان په امر ونړوله او يو ځل يې بيا د قريشو پر جوړو شويو بنسټونو ودانه کړه.[۳۸۵]

تر دې وروسته هماغسې پاتې ده، حجر اسود د دې ودانۍ په يوه کونج کې نصب ده. تر دې ور مخکې شمالي کونج رکن عراقي، لوېديځ کونج رکن شامي او جنوبي کونج رکن يماني بلل کېږي. د بيت الحرام دروازه له ځمکې دوه ميټره لوړه ده، د دې او حجر اسود تر منځ يو دېوال ملتزم بلل کېږي. دا ګواکې د الهي دربار دهليز دی چې له هغه سره په پيوستېدو خلګ دعاوې کوي، پر ودانۍ د تور ټوکرۍ پوښ غوړېدلی وي چې هر کال بدلېږي. د ودانۍ په منځ کې د سپين رنګ يوه ډبره ايښودل شوې ده. ويل کېږي چې ابراهيم عليه السلام پر همدې په درېدو د هغې دېوالونه پورته کړي وو.[۳۸۶] له دې ډبرې څخه پر يو څه فاصله يوه طبعي چينه ده چې زمزم بلل کېږي او د بيت الحرام زيارت ته راتلونکي پرې خپله تنده خړوبوي، د هغه حدود څلورو لورو ته تر څو کيلو ميټرو پراخ او تل معلوم و مشخص دي دا ټوله سيمه حرم بلل کېږي چې په هغې کې انسان، حيوان او ان په خپله را شنو شويو وبنو ته زيان رسول هم ممنوع دی. قرآن د حَرَماً آمِناً[۳۸۷]، مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْناً[۳۸۸] په الفاظو د هغه همدا حيثيت بيان کړی دی. رسول الله ﷺ ويلي:

---

[۳۸۳] السيرة النبوية د ابن هشام ۱/ ۱۶۰

[۳۸۴] بخاري، شمېره: ۱۵۸۳، ۱۵۸۴، مسلم، شمېره: ۳۲۴۰، ۳۲۴۹

[۳۸۵] مسلم، شمېره: ۳۲۴۵

[۳۸۶] اخبار مکه د ازرقي ۱/ ۵۹

[۳۸۷] القصص ۲۸ : ۵۷، العنکبوت ۲۹ : ۶۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ان هذا بلد حرم الله يوم خلق السماوات و الارض و هو حرام بحرمة الله الى يوم القيامة و انه لم يحل القتال فيه لاحد قبلى و لم يحل لى الا ساعة من نهار فهو حرام بحرمة الله الى يوم القيامة لا يعضد شوكه و لا ينفر صيده و لا يلتقط لقطته الا من عرفها و لا يختلاه خلاها. (بخاري، شمېره: ۱۸۳۴)

"دا هغه ښار دی چې الله په هغه ورځ حرام ګرزولی چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړل د الله د همدې حرمت له وجې تر قیامته حرامه ده، تر ما وړاندې پکې هیڅوا ته جګړه نه ده روا شوې زما لپاره هم د ورځې په یوه شیبه کې روا شوه نو د الله د همدې حرمت له وجې به تر قیامته حرامه وي، نه به یې د اغزو ونه غوڅېږي، نه به یې ښکار تښتول کېږي او نه به یې لوبدلی شی اخیستل کېږي مګر دا چې مالک ته یې د رسولو لپاره واخیستل شي او نه به یې وابنه غوڅېږي."

صفا او مروا

دا بیت الله ته ښې نژدې پراته دوه غرونه دي، د اسماعیل علیه السلام د قربانۍ پېښه په همدوی کې پریوه غره مروا را منځ ته شوې وه. امام حمید الدین فراهي په خپل کتاب (الرأی الصحیح فیمن هو الذبیح) کې په دې اړه پوره دلایل وړاندې کړي دي. همدا د قربانۍ اصل ځای دی چې د خلکو د اسانتیا لپاره تر منی پراخ شوی دی، د قربانۍ د طواف حرکتونه له صفا څخه تر مروا او له مروا څخه تر صفا وي چې په دې ته په اصطلاح کې سعیې ویل کېږي.

منی

دا د دوو غرونو تر منځ یو پراخ میدان دی چې له مکې څخه نژدې پنځه کیلو میټره واټن لري، د ذوالحجې په اتمه له مکې څخه تر راتلو وروسته او د ذوالحجې په لسمه له عرفات څخه په را ستنېدو حاجیان دلته اړوي او د حج پاتي مناسک پوره کوي.

عرفات

دا هم له منی څخه نژدې د لس کیلو میټره پر واټن یو پراخ میدان دی چې هلته د ذوالحجې پر نهمه د مسلمانانو امام وینا کوي او تر دې وروسته حاجیان د لمر تر لوبدو پاتي کېږي.

---

[۳۸۸] البقرة ۲ : ۱۲۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مزدلفه

دا د منی په لار کي يو بل دويم ميدان دی چي له عرفات څخه تر را ستنېدو وروسته هلته حاجيان شپه تېروي، دا نژدې د منی او عرفات تر منځ پروت دی. د حرم حدود له همدې ځايه پيلېږي ځکه نو ورته المشعر الحرام هم وايي او په قرآن کي يې همدا نوم راغلی دی.[۳۸۹]

جمرات

دا د منی په ميدان کي درې څلي دي چي د شيطان نښې بلل شوې، په هغو کي يو څلی يې تر ټولو لوی دی چي جمره عقبه يا جمرة الاخری بلل کېږي. دويم څلی د جمرة الاولی او جمرة الوسطی په نوم نومول شوي دي، حاجيان له عرفات څخه په را ستنېدو همدا څلي په ډبرو ولي.

د حج او عمرې طريقه

په شريعت کي چي د حج او عمرې لپاره کومه طريقه ټاکل شوې هغه داده.

عمره

د دې عبادت په نيت دي احرام وتړي.

له بهر څخه راتلونکي دي له خپل ميقات څخه احرام وتړي. مقيم مکي وي او که په عارضي ډول په مکه کي مېشت وي هغه دي د حرم له حدودو دباندي يو ځای څخه احرام وتړي خو څوک چي له دې حدودو دباندي مګر په ميقات کي دننه او سېږي نو هماغه ځای يې ميقات دی چي دوی پکي مېشت دي، دوی دي له هماغه ځايه احرام وتړي او د تلبيې وينا دي پيل کړي.

بيت الله ته تر رسېدو دي د تلبيې وينا جاري وساتل شي.

هلته په رسېدو دي پر بيت الله طواف وکړي.

بيا دي د صفا او مروا سعيې وکړي.

---

[۳۸۹] البقرة ۲ : ۱۹۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که د قربانۍ حیوان ورسره وي هغه دي قرباني کړي.

تر قربانۍ وروسته دي نارینه سر کم او یا وخړپیي او ښځې دي د خپلو کوڅیو له اخیر څخه لږ وښتان غوڅ کړي او احرام دي پرانیزي.

احرام یوه اصطلاح ده، معنا یې داده چې دی به نور د شهوت هیڅ خبره نه کوي، د ښکلا او ښایست هیڅ شی لکه خوشبویي او نور به نه کاروي، نوکان به نه غوڅوي، د بدن د کومې برخې وښتان به نه اخلي او د بدن خیري به نه پاکوي ان د خپل بدن سپړې به نه وژني، ښکار به نه کوي، ګنډل شوې جامې به نه اغوندي، خپل سر، مخ او د پښو پورتنۍ برخه به لوڅه ساتي، یو څادر به لنګ کوي او بل به اغوندي.

البته ښځې به ګنډلې جامې اغوندي او سر و پښې هم پټولای شي، دوی ته یوازې د مخ او لاس لوڅ ساتل ضروري دي.

له تلبیې څخه مراد د لبیک اللهم لبیک لبیک لا شریک لک لبیک ان الحمد و النعمة لک و الملک لا شریک لک ویل دي چې د احرام په ترلو پیلېږي او بیت الله ته تر رسېدو دوام کوي. الله د حج او عمرې لپاره صرف همدا ذکر ټاکلی دی.

طواف هغو اوو ګردشونو ته ویل کېږي چې له هر ډول نجاست څخه په پاکېدو پر بیت الله په را تاوېدو ترسره کېږي، په دې کې هر ګردش له حجر اسود څخه پیل او پر هغه ختمېږي او د هر ګردش په پیل کې د حجر اسود استلام کېږي، دا د حجر اسود د مچولو او یا په لاس و روړلو د خپل لاس مچولو لپاره یوه اصطلاح ده. د ګڼې - ګوڼې په وخت کې په لاس یا د لاس په نیزه او همدارنګه د بل شي ا شاره کول هم کافي ګڼل کېږي.

له سعیې څخه مراد د صفا او مروا طواف دی، دا هم اووه حرکات دي چې له صفا څخه پیلېږي. له صفا څخه تر مروا یو حرکت او له مروا څخه تر صفا دویم حرکت بلل کېږي چې وروستی یې پر مروا ختمېږي.

د قربانۍ په توګه د صفا او مروا سعیې هم د تطوع په ډول ترسره کېږي. دا د عمرې لازمي برخه نه ده او عمره له دې پرته هم پوره کېږي. الله ویلي:

إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ

"یقینا صفا او مروا د الله له شعایرو څخه دي، نو څوک چې د دې کور د حج یا عمرې لپاره

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ (البقرة ۲ : ۱۵۸)

راغلي پر هغوی هیڅ ګناه نه شته چې پر دوی دوو طواف هم وکړي (بلکې دا یو نېک کار دی) او څوک چې په خپله خوښه نېک کار وکړي الله یې قبلوونکی دی، په پوره ډول پرې خبر دی."

د هدیې لفظ د هغو حیواناتو لپاره کارېږي چې په حرم کې د قربانۍ لپاره ځانګړي شوي وي، له نورو حیواناتو څخه د ښلولو لپاره یې پر بدن نښې لګول کېدې او په غاړه کې یې پټۍ اچول کېدې. قرآن د هغو لپاره د القَلَائِد[۳۹۰] تعبیر پر همدې بنسټ غوره کړی دی.

حج

د عمرې په څېر د حج لپاره هم لومړی کار دادی چې په همدې نیت احرام وتړل شي، له بهر څخه راتلونکي به یې له خپل میقات څخه تېرې او مقیم به یې مکي وي او که په عارضي توګه په مکه کې ښېشت وي او یا د حرم له حدودو دباندې مګر په میقات کې دننه اوسېږي د دوی میقات هماغه ځای دی چې هماغته اوسېږي، له هماغه ځایه دي احرام وتړي او د تلبیې وینا دي پیل کړي.

د ذو الحجې پر اتمه دي منی ته روان شي او هماغته دي واړوي.

د ذو الحجې د نهمې په سهار دي عرفات ته روان شي.

هغه ځای ته په رسېدو امام د ماپښین تر لمانځه وړاندې د حج خطبه وایي، بیا دي د ماپښین او مازیګر لمانځونه یو ځای او قصر وشي.

له لمانځه څخه په خلاصېدو چې څومره ممکنه وي د الله په حضور کې دي تسبیح، حمد، تکبیر، تهلیل او دعا و مناجات وشي.

د لمر تر لوېدو وروسته دي مزدلفې ته روان شي.

هلته په رسېدو دي د ماښام و ماخوستن لمونځ یو ځای او قصر وکړي.

[۳۹۰] المایده ۵ : ۲، ۹۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شپه دي په همدې میدان کي تېره کړي.

د سهار تر لمانځه وروسته دي دلته هم د لنډ وخت لپاره د عرفات په څېر تسبیح، حمد، تکبیر، تهلیل او دعا ومناجات وکړي.

بیا دي منی ته روان شي او هلته دي جمره عقبه ته په رسېدو د تلبیې ویل ودروي او همدا جمره دي په اوو شګو وولي.

که د قربانۍ حیوان ورسره وي یا د نذر او کفارې کومه قرباني ورباندي واجب وي نو قرباني دي وکړي.

بیا دي نارینه سر کم او یا وخرپیي او ښځې دي د خپلو کوڅیو له اخیر څخه یو څه وېښتان غوڅ او د احرام جامې دي وباسي.

بیا دي بیت الله ته په رسېدو پر هغې طواف وکړي.

په دې سره به د احرام ټول بندیزونه ختم شي، که یې تر دې وروسته غوښتل نو د نفل په توګه دي د صفا او مروا سعیې هم وکړي.

بیا دي منی ته په را ستنېدو دوې یا درې ورځې پاتې شي او هره ورځ دي اول جمرة الاولی، بیا جمرة الوسطی او تر دې وروسته جمرة الاخری اووه -اووه ډبرې وولي.

د ابراهیم علیه السلام له زمانې څخه همدا د حج او عمرې مناسک دي، قرآن پکې هیڅ بدلون نه دی راوستی صرف دومره یې کړي چې په دې اړه یې ځینې فقهي مسایل تشریح کړي دي.

هغه احکام دادي:

لومړی حکم دادی چې الله د حج او عمرې په اړه کوم حرمتونه را منځ ته کړي د هغو درناوی د ایمان تقاضا ده، باید په هر حالت کي وساتل شي خو که یې بل څوک له ساتنې انکار کوي نو په بدل کي یې مسلمانان هم حق لري چې مساوي ګام واخلي ځکه دا ډول حرمتونه په دوه اړخیزه توګه ساتل کېدای شي او هیڅ ډله یې په یوه اړخیزه توګه نه شي ساتلای:

الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ "د حرامې میاشتې بدله حرامه میاشت ده او (همدا راز) د نورو حرمتونو بدله ده، ځکه نو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ (البقرة ۲ : ۱۹۴)

که څوک پر تاسو تېری وکړي نو د هماغه تېري په اندازه ځواب ورکړئ، له الله وويرېږئ او پوه شئ چې الله له هغو سره دی چې د ده د حدودو تابعداري کوي."

استاذ امام امین احسن اصلاحي د دې حکم په وضاحت کې لیکي:

" ... مطلب دا چې په حرامو میاشتو او د حرم په حدودو کې جنګ - جګړه لویه ګناه ده مګر کله چې کفار ستاسو په مقابل کې دې حرمت ته پام نه کوي نو تاسو هم حق لرئ چې د قصاص په توګه دوی هم له دې حرمت څخه بې برخې کړئ. په شریعت کې د هر چا ژوند محترم دی، مګر کله چې یو څوک د بل چا د نفس احترام نه کوي او وژنې یې نو په قصاص کې یې هغه هم د نفس د حرمت له حق څخه په محرومېدو وژل کېږي. همدا راز د حرامو میاشتو او حرم د حدودو احترام هم منل شوی دی، په دې شرط چې کفار یې هم احترام ته پام وکړي او نور د ظلم و تېري هدف ونه ګرزوي، خو کله چې د دوی تورې پر دې میاشتو او د امن په دې ښار کې له تېکي راوزي نو هغوی د دې حقدار دي چې په قصاص کې یې د امن او احترام له حقوقو بې برخې شي، بلکه خبره یې دا کړې چې د حرامو میاشتو د قصاص په څېر د نورو حرمتونو قصاص هم ضروري دی یعنې د کوم محترم شي له حرمت څخه چې هغوی تاسو بې برخې کړي نو تاسو یې هم په قصاص کې هغوی د حرمت له حق څخه د بې برخې کولو حق لرئ." (تدبر قرآن ۱/ ۴۷۹)

دویم حکم دا دی چې له دې اجازې سره - سره مسلمانان اول ګام نه شي اخیستلای، دا د الله حرمتونه دي او په ماتولو کې یې پیل یو بدترین جرم دی چې باید په هیڅ حالت کې ترسره نه شي، پر بیت الحرام برید د الله پر کور برید دی. د کومو حیواناتو په غاړه کې چې الله ته د ځانګړتیا پټې وي او د الله کوم بنده چې د هغه د فضل او خوښۍ په لټه سفر کوي هغه ته د زیان رسولو اراده کول، په خپله د نړۍ پر رب الله د تعارض کولو معنا لري ځکه نو باید د هیڅ قوم دښمني هم مسلمانان دې ته چمتو نه کړي چې په دې معامله کې له حدودو تېر شي. دوی ته باید واضحه وي چې کوم رب د خپلې ژمنې او وعدې له مخې پر قومونو پېرزوینه کوي او سرلوړي ور بخښي د هغه په نزد د دې ژمنې او وعدې ماتولو سزا هم ډېره سخته ده:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُحِلُّواْ شَعَآئِرَ اللّهِ وَلاَ الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلاَ الْهَدْيَ وَلاَ الْقَلآئِدَ وَلا

"اې مومنانو! د الله د شعایرو، حرامو میاشتو، د قربانۍ د حیواناتو او مه (په هغو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُواْ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَن تَعْتَدُواْ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (المايدة ۵ : ۲)

کي په ځانګړي ډول) د هغو حيواناتو سپکاوی کوئ چې په غاړه کي يې د نذر پټې دي، مه بيت الحرام ته د تلونکو چې د خپل رب د فضل او رضا په لټه وزي او کومو کسانو چې تاسو ته د بيت الحرام لاره ترلې وه نو له هغوی سره دي پر همدې بنسټ ستاسو د بغض دا سي ونه پاروي چې له حدود و تېری وکړئ (بلکي تاسو د الهي حدودو تابع شئ) او د نېکي و تقوا په کارونو کي مرسته کوئ، په ګناه او تېري کي مرسته مه کوئ، له الله په وېره کي اوسئ ځکه الله سخت عذاب ورکوونکی دی."

جَعَلَ اللّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلاَئِدَ ذَلِكَ لِتَعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَأَنَّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ * اعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ وَأَنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ*

(المايده ۵ : ۹۷، ۹۸)

"الله بيت الحرام کعبه د خلکو لپاره حرم ګرزولې او د حرمت مياشت يې، د قربانۍ حيوانات او (په ځانګړې توګه هغه) حيوانات (يې شعيره ګرزولي دي) چې په غاړو کي يې د نذر پټې وي، دا د دې لپاره چې درته معلومه شي چې الله په هغه څه پوهېږي چې په اسمانو او ځمکه کي دي او الله په هر څه خبر دی، پوه شه چې الله سخت سزا ورکوونکی هم دی او بخښونکی و مهربان هم."

درېيم حکم دا دی چې د احرام په حالت کي د ښکار منعه يوازې د وچې د حيوانانو په اړه ده، د سمندري حيواناتو ښکار او د نورو کړی ښکار دواړه روا دي. دا رخصت د دې لپاره ورکول شوی چې که د وچې په سفر کي د لارې تو ښه تمامه شي نو په يوه نه يوه ډول ترلاسه کېدای شي مګر په سمندري سفر کي پر دا سي مهال له ښکار پرته بله لار نه وي، مګر د دې معنا دا نه ده چې خلک له دې رخصت څخه د وړاندې تلو هڅه وکړي. د وچې ښکار په هر حالت کي ممنوع دی نو که څوک قصدا دا ګناه وکړي نو بايد کفاره يې ورکړي.

د دې دري صورتونه دي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څه ډول حیوان چې ښکار شوی هماغه ډول کورنی حیوان دي د قربانۍ لپاره بیت الله ته ولېږي، که دا نه شي کېدای نو د هغه حیوان د قیمت په اندازه دي مسکینانو ته خوراک ورکړي.

او که دا هم نه شي کېدای نو دومره روژې دي ونیسي څومره مسکینانو ته چې یې خوراک ورکاوه.

پاتي شوه دا خبره چې د حیواناتو بدله څه ده؟ او که د حیوان قرباني سخته وي نو قیمت به یې څومره وي؟ په بدل کي به یې څومره مسکینانو ته خوراک ورکول کېږي او یا به څومره روژې نیسي؟ نو د دې پرېکړه دي په مسلمانانو کي دوه داسي اعتباري کسان وکړي چې د جرم کوونکي لپاره د خپل نفس د پلوۍ هیڅ امکان پاتي نه شي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّهُ مَن يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْتُلُواْ الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاء مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَو عَدْلُ ذَلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ عَفَا اللّهُ عَمَّا سَلَف وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ اللّهُ مِنْهُ وَاللّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ * أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِيَ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ* (المایدة ۵ : ۹۴ - ۹۶)

"اې مومنانو! الله به تاسي حتما د ښکار په وسیله وازمویي چې ستاسو د لاسونو او نېزو په حد کي به وي، د دې لپاره چې په تاسو کي څوک له الله په غیبو وېرېږي؟ نو که څوک تر دې خبرداري وروسته هم له حدود و تېری وکړي د هغه لپاره دردوونکی عذاب دی. اې مومنانو! د احرام په حالت کي ښکار مه کوئ او که څوک قصدا داسي وکړي نو بدله یې هماغسي حیوان دی چې ده وژلی، د دې پرېکړه به ستاسو دوه عادل کسان کوي او دا نذرانه به کعبې ته رسېږي. که دا نه وي نو د دې ګناه په کفاره کي به مسکینانو ته خوراک ورکوي یا به په دې اندازه روژې نیسي، څو د خپلو کړو سزا وڅکي. وړاندي چې څه شوي الله بخښلي دي مګر که یې څوک بیا تکرار کړي، الله به تر یې انتقام واخلي (دا د الله پرېکړه ده) او الله پیاوړی او انتقام اخیستونکی دی. تاسو ته د سمندر ښکار او خوراک حلال شوی، ستاسو او ستاسو د قافلو د توښې لپاره او د وچې ښکار بیا هم تر هغو حرام دی چې د احرام په حالت کي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یاست (د دې پابندي کوئ) او له هغه الله څخه وېرېږئ چې حضور ته به يې ټول ورځئ."

څلورم حکم دادی چې که د حج او عمرې لپاره سفر کوونکي يو ځای بند شي او وړاندې نه شي تلای نو کوم اوښ، غويی او پسه چې ورته اسانه وي د قربانۍ لپاره دي ولېږي او که لېږل ممکن نه وي هماغلته دي حلال کړي او د سر په خرېلو دي احرام خلاص کړي. همدا يې حج او عمره ده، رسول الله ﷺ د حديبيې د سولې پر مهال همدا سي کړي وو.[۳۹۱] البته په دې اړه بايد دا خبره څرګنده شي چې قرباني دي په دا ډول ځای يا مکه او منی کې وشي، تر دې وړاندې سر خرېل روا نه دي مګر که څوک ناروغ وي يا يې سر تکليف ولري او تر قربانۍ وړاندې د سر خرېلو ته مجبور شي. قرآن اجازه ورکړې چې که څوک له دا ډول مجبورۍ سره مخ شي نو سر خرېلای شي مګر د روژې، صدقې او قربانۍ په بڼه دي فديه ورکړي او شمېر و مقدار دي يې له خپل فکر سره سم وټاکي. په روايا تو کې دي چې په دې اړه له رسول الله ﷺ پوښتنه وشوه، نو ده وويل: يا دي د رې ورځې روژې ونيسي، يا دي شپږو مسکينانو ته خوراک ورکړي او يا دي يو پسه حلال کړي نو کافي دی.[۳۹۲]

وَأَتِمُّواْ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلاَ تَحْلِقُواْ رُؤُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضاً أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ (البقرة ۲ : ۱۹۶)

"او (که تاسو ته) د حج او عمرې (لار پرانيستې وي نو له ټولو مناسکو سره يې) د الله لپاره پوره کړئ خو که په لار کې بند شئ نو د هدېې کومه قرباني چې اسانه وي وړاندې يې کړئ او خپل سر تر هغو مه خرېئ چې دا قرباني خپل ځای ته نه وي رسېدلې، که څوک ناروغ وي، يا يې سر تکليف ولري نو بايد د روژې، صدقې او قربانۍ په شکل يې فديه ورکړي."

پنځم حکم دادی چې که له بهر څخه راتلونکي په يوه سفر کې حج او عمره دواړه کوي نو طريقه يې داده چې اول د عمرې په کولو احرام خلاص کړي، بيا د ذي الحجې پر اتمه دويم ځل له مکې څخه د حج احرام وتړي او دا صرف يو رخصت دی چې الله له بهر څخه د

[۳۹۱] بخاري، شمېره: ۱۸۱۱، ۱۸۱۲

[۳۹۲] بخاري، شمېره: ۱۸۱۴، مسلم، شمېره: ۲۸۷۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حج راتلونکو ته له دوه ځله زحمت څخه د خلاصون لپاره ورکړی دی ځکه به یې نو فدیه ورکوي او د دې فدیې دوه شکلونه دي:

د اوښ، غوایې او پسه کومه قرباني چې اسانه وي هغه دي وکړي.

او که دا ممکنه نه وي نو لس روژې دي ونیسي، درې د حج په ورځو کې او اووه له حج څخه ترستنېدو وروسته.

له دې څخه معلومېږي چې د الله په نزد غوره داده چې د حج لپاره ببل او د عمرې لپاره ببل سفر وشي، قرآن په دا ډاګه کړې چې دا سفر د هغو خلګو لپاره نه دی چې کورونه یې له مسجد حرام سره وي.

فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (البقرة ۲ : ۱۹۶)

"بیا چې کله په امن شئ نو څوک چې له حج سره د عمرې ګټه اخلي نو هغه به ده ته اسانه قرباني کوي او که قرباني نه وي نو روژې به نیسي، درې د حج په زمانه کې او اووه (له حج څخه) تر ستنېدو وروسته، دا پوره لس ورځې شوې (په دې طریقه سره په یوه سفر کې له حج سره یو ځای د عمرې) دا (رعایت) صرف د هغو خلګو لپاره دی چې کورونه یې له مسجد حرام سره نه وي (د دې پیروي کوئ) او له الله وپرېږئ، ښه پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکوونکی دی."

د دې حکم په اړه باید دا خبره هم څرګنده شي چې کوم کسان له دې رعایت څخه ګټه اخلي د هغوی لپاره دا اساني هم ده چې د قربانۍ حیوان دي له ځان سره نه راولي بلکې د قربانۍ په ورځ دي هماله ته واخلي، ځکه حیوانات د یوم النحر په ورځ قرباني کېږي او لکه پورته چې وویل شول دوی تر قربانۍ وړاندې سر نه شي خرپیلای او د لازمي نتیجې په توګه احرام هم نه شي خلاصولای. په حجة الوداع کې رسول الله ﷺ له همدې حالت سره مخ شوی وو، ځکه یې نو وویل:

لو استقبلت من امری ما استدبرت ما اهتديت و لو لا ان معی الهدی لاحللت.

"که زه په هغه څه له وړاندې خبر وای چې اوس را ته معلوم شول نو د قربانۍ حیوان به مې له ځان سره نه راووست او احرام به مې خلاص

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(بخاري، شمېره: ۱۶۵۱) کړی وای."

شپږم حکم دادی چې له منی څخه د ذو الحجې په دوولسمه هم را ستنېدلای شي او که وغواړي نو تر دیارلسمې تمېدای هم شي. الله ویلي: په دواړو صورتونو کې هیڅ ګناه نه شته ځکه اصل ارزښت د دې نه دی چې خلګ څومره ورځې پاتېږي بلکې د دې دی چې څومره ورځې پاتې شوي د الله په یاد کې یې تېري کړي او له هغه ووېرېږي:

وَاذْكُرُواْ اللّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَى وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ (البقرة ۲ : ۲۰۳)

"او (د منی) په څو معلومو ورځو کې الله یادوئ، بیا چې چا تلوار وکړه او په دویمه ورځ ولاړ پر هغه هم ګناه نه شته او څوک چې وروسته ولاړ پر هغه هم ګناه نه شته (مګر) د هغه چا لپاره چې له الله ووېرېږي او تاسو هم له الله ووېرېږئ ښه پوه شئ چې هغه تـه بـه ور ګرزئ."

همدا د حج او عمرې احکام دي، په دې اړه چې د رسول الله ﷺ له علم او عمل څخه کومه لارښوونه تر لاسه کېږي تفصیل یې دادی.

احرام

رسول الله ﷺ د احرام پر مهال خوشبویي وهله، له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې ما تر احرام وړاندې هم رسول الله ﷺ ته خوشبویي ورلګولې او د نحر په ورځ د جامو تر بدلولو وروسته هغه مهال هم چې دی مکې ته د طواف لپاره روان شو. دا وایي: ګواکې د دې خوشبو په ځلا کې د ده د وېښتانو لیکه ننه هم وینم.[۳۹۳]

رسول الله ﷺ د احرام په حالت کې ښکر لګولی، پر وېښتانو یې کنډ اینبي او سر یې هم مینځلی دی.[۳۹۴] همدارنګه یې خلګو ته اجازه ورکړې چې که چوتې ونه لري نو د مجبوریت له وجې دي موزې تر بجلکو کښته غوڅې کړي ودي کاروي او که د لنګ په توګه نا ګنډل شوې جامې نه لري نو پرتوګ هم اغوستلای شي.[۳۹۵]

---

[۳۹۳] بخاري، شمېره: ۱۵۳۸، ۱۵۳۹، مسلم، شمېره: ۲۸۳۲، ۲۸۴۱

[۳۹۴] بخاري، شمېره: ۱۸۳۵، ۱۵۴۰، ۱۸۴۰، مسلم، شمېره: ۲۸۸۵، ۲۸۸۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

البته د احرام په حالت ک يې د نکاح کول يا د نکاح خبرې نه دي خوښې کړې.[۳۹۶]

که څوک په همدې حالت کي مړ شي نو رسول الله ﷺ ويلي چې په احرام کي يې خاورو ته وسپارئ او د کفن په حالت کي دي يې نه خوشبويي ورلګوي او نه دي يې سر ومخ پټوي. ده ويلي: الله به يې د قيامت په ورځ د تلبيې په ويلو را پورته کړي.[۳۹۷]

همدا رنګه يې وضاحت کړی چې بې شکه د احرام په حالت کي ښکار ممنوع دی خو که چا له احرام پرته ښکار وکړ نو محرم يې خوړلای شي، خو په دې شرط چې د هغه اشاره او کوم عمل پکي دخل ونه لري.[۳۹۸] همدا راز يې ويلي چې د ښکار منعه له ضرري خزندو سره هيڅ تړاو نه لري او دا ډول حيوانات د احرام په حالت کي هم له څه شک پرته وژل کېدای شي.[۳۹۹]

تلبيه

رسول الله ﷺ د تلبيې په اړه ويلي چې کله مسلمان لبيک لبيک وايي نو د ده راسته او چپه اړخ ته ونې او ډبرې هم د ځمکې تر پايه همدا اواز کوي.[۴۰۰] همدا راز يې ويلي: جبريل ما ته لارښوونه کړې چې هغه دي په لوړ اواز وويل شي.[۴۰۱]

له ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ حج يا عمرې ته وتی نو ذو الحليفې ته په رسېدو به يې دوه رکعته لمونځ وکړ، بيا به له مسجد سره پر اوښه سپور شو او د هغې په ولاړېدو به يې تلبيه پيلوله.[۴۰۲]

---

[۳۹۵] بخاري، شمېره: ۱۸۴۱، ۱۸۴۲، مسلم، شمېره: ۲۷۹۱، ۲۷۹۴

[۳۹۶] مسلم، شمېره: ۳۴۴۶

[۳۹۷] بخاري، شمېره: ۱۲۶۷، مسلم، شمېره: ۲۸۹۱

[۳۹۸] بخاري، شمېره ۱۸۲۴، مسلم، شمېره: ۲۸۵۵

[۳۹۹] بخاري، شمېره: ۱۸۲۸، ۱۸۲۹، مسلم، شمېره: ۲۸۶۸

[۴۰۰] ابن ماجه، شمېرهک ۲۹۲۱، ترمذي، شمېره: ۸۲۸

[۴۰۱] ابوداود، شمېره: ۱۸۱۴

[۴۰۲] مسلم، شمېره: ۱۱۸۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

طواف

د حج طواف یو دی چې په اصطلاح کې طواف افاضه بلل کېږي، مګر له حج او عمرې څخه په فارغېدو خپل کور ته تلونکو ته رسول الله ﷺ لارښوونه کړې چې د ستنېدو پر مهال دې د بیت الله طواف وکړي. د ابن عباس ﷺ په روایت کې دي چې رسول الله ﷺ وویل: تر رخصت وړاندې باید ستاسو د هریوه وروستی کار همدا وي.[۴۰۳] البته حایضه ښځو ته یې د هغوی د مجبوریت له کبله دا خبره نه ده کړې بلکې ورته ویلي یې دي چې له دې پرته له مکې ستنې شي.[۴۰۴]

تر طواف وړاندې رسول الله ﷺ اودس کړی دی.[۴۰۵]

له عائشې ﷺ څخه روایت دی چې زه په حیض کې وم نو رسول الله ﷺ وویل: ته په همدې حال کې د حج ټول مناسک ادا کولای شې، البته طواف نه شې کولای.[۴۰۶]

ام سلمه ﷺ وایي چې زه ناروغه وم رسول الله ﷺ ته یې یادونه وشوه نو ما ته یې پر سپرلۍ د طواف کولو هدایت وکړ.[۴۰۷]

له جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چې مکې ته په رسېدو رسول الله ﷺ طواف وکړ، په درو ګردشونو کې یې اوږې ښورولې او څلور یې په عادي حالت کې ترسره کړل.[۴۰۸] بیا د مقام ابراهیم پر لور ولاړ او هلته یې دوه رکعته لمونځ وکړ، تر دې وروسته حجر اسود ته راغی، هغه یې لمس کړه او له دروازې څخه د صفا پر لور ووت.[۴۰۹]

---

[۴۰۳] بخاري، شمېره: ۱۷۵۵، مسلم، شمېره: ۳۲۱۹

[۴۰۴] بخاري، شمېره: ۱۷۶۲، مسلم، شمېره: ۲۹۱۸

[۴۰۵] بخاري، شمېره: ۱۶۴۱، مسلم، شمېره: ۳۰۰۱

[۴۰۶] بخاري، شمېره: ۱۶۵۰، مسلم، شمېره: ۲۹۱۸

[۴۰۷] بخاري، شمېره: ۱۶۲۶، مسلم، شمېره: ۳۰۷۸

[۴۰۸] ابن عباس ﷺ یې د مسلم له (۳۰۵۹) شمېرې روایت سره توجیه دا بیان کړې چې مدینې ته په تلو د مشرکینو له خوا مسلمانانو ته د کمزورې کېدو پېغور ورکړل شوی وو، رسول الله ﷺ یې په ځواب کې خلکو ته لارښوونه وکړه چې په دا ډول منډه طواف وکړي او په خپله یې هم داسې وکړل.

[۴۰۹] مسلم، شمېره: ۲۹۵۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ابن عباس ﷺ وینا ده چې په دې طواف کې د رسول الله ﷺ راسته اوږه لوڅه وه او خپل څادر یې له راسته بغل څخه په را ایستلو پر چپه اوږه اچولی وو.[۴۱۰]

په ځینو روایاتو کې د طواف پر مهال د رکن یماني د استلام یادونه هم شته.[۴۱۱]

همدا راز د طواف دا فضیلت هم نقل شوی چې که څوک طواف او ورسره دوه رکعته لمونځ وکړي نو ګواکې د الله په لارکې یې یو مړپیی ازاد کړ.[۴۱۲]

سعیې

سعې رسول الله ﷺ داسې کړې چې له طواف څخه په خلاصېدو د صفا پر لور ولاړ، د هغې سر ته وخوت، مخ یې قبلې ته کړ، د الله توحید او لویي یې بیان کړه ویې ویل:

لا اله الا الله وحده لا شریک له، له الملک و له الحمد وهو علی کل شیء قدیر، لا اله الا الله وحده انجز وعده، و نصر عبده، و هزم الاحزاب وحده.[۴۱۳]

"له الله پرته هیڅ معبود نه شته، دی یو دی، هیڅ شریک نه لري، پاچاهي او حمد د ده دي، دی پر هر شي قدرت لري. له الله پرته هیڅ معبود نه شته، دی یو دی، ده خپله وعده پوره کړه، له خپل بنده سره یې مرسته وکړه او د منکرینو ټولو لښکرو ته یې یوازي ماته ورکړه."

همدا کلمې یې درې ځله تکرار کړې او د هغو تر منځ یې دعا هم وکړه، تر دې وروسته مروا ته ولاړ. کله چې ټیټې برخې ته ورسېد نو په منډه شو، کله چې پر پورته کېدو شو نو عادي تګ یې پیل کړ. مروا ته په رسېدو یې هم هغه څه وکړل چې پر صفا یې کړي وو او خپل اووه حرکتونه یې همداسې پوره کړل.[۴۱۴]

---

[۴۱۰] ابوداود، شمېره: ۱۸۸۴

[۴۱۱] بخاري، شمېره: ۱۶۰۶، ۱۶۰۹، مسلم، شمېره: ۳۰۶۲، ۳۰۶۳

[۴۱۲] ابن ماجه، شمېره: ۲۹۵۶

[۴۱۳] مسلم، شمېره: ۲۹۵۰

[۴۱۴] مسلم، شمېره: ۲۹۵۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر عرفات درېدل

رسول الله ﷺ د ذو الحجې د نهمې په سهار د لمر تر راختلو وروسته له منا څخه عرفات ته روان شو، د ده خېمه هلته په نمره وادي کې وهل شوې وه. د لمر تر زوال هماغلته وو، بیا د ناوې ټیټې برخې ته راغی او خلګو ته یې وینا وکړه. تر دې وروسته یې د ماپښین او مازیګر لمونځ په یوه اذان او دوو اقامتونو وکړ، تر هغو وړاندې او وروسته یې هیڅ نفل ونه کړل، بیا له جبل رحمت سره قبلې ته په مخ کولو د لمر تر لوېدو ولاړوو په دعا او مناجات بوخت وو.[۴۱۵] د انس ﷺ وینا ده چې په دې ورځ خلګو تلبیه هم ویله او تکبیرونه یې هم ویل خو پر هیڅا نیو کې ونه شوه.[۴۱۶]

له عائشې ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: د عرفات په ورځ الله خپلو بندګانو ته نژدې کېږي، د فرشتو په مخ کې په دوی ویاړي او له دې ورځې پرته په هیڅ ورځ خپل دومره بندګان له اوره نه ازادوي.[۴۱۷]

د مزدلفې پراو

رسول الله ﷺ د عرفات په څېر په مزدلفه کې هم د ماښام او ماخوستن لمنځونه په یوه اذان او دوو اقامتونو وکړل، بیا یې تر سهاره استراحت وکړ او په دې وخت کې یې نفل او نور څه نه دي کړي مګر د سهار لمونځ یې لږ وختي وکړ. تر دې وروسته د رڼا تر ښه غوړېدو پورې د مشعر الحرام په خواکې ولاړ او په دعا و مناجات بوخت وو، د لمر تر راختلو یو څه وړاندې روان شو او د محسر له وادي څخه په ګړندي تېرېدو منی ته ورسېد.[۴۱۸]

رمی

رسول الله ﷺ د قربانۍ په ورځ د څابښت پر مهال او په وروسته ورځو کې د لمر تر زوال وروسته رمی کړې.[۴۱۹] د دې لپاره جمرې ته مخامخ ودرېد، بیت الحرام یې راسته لور ته او

---

[۴۱۵] مسلم، شمېره: ۲۹۵۰

[۴۱۶] بخاري، شمېره: ۱۶۵۹، مسلم، شمېره: ۳۰۹۷

[۴۱۷] مسلم، شمېره: ۳۲۸۸

[۴۱۸] مسلم، شمېره: ۲۹۵۰

[۴۱۹] مسلم، شمېره: ۳۱۴۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

منی یې چپه لور ته وه. بیا یې اووه شګې وویشتلې او د ویشتلو پر مهال یې له هرې شګې سره تکبیر وایه. له لومړنیو دوو شیطانانو سره ودریږد او تر رمی وروسته یې قبلې ته په مخ کولو تر ډېره تسبیح او تحمید، تکبیر و تهلیل او دعا ومناجات ویل، مګر له جمره عقبه سره هیڅ تم نه شو.[۴۲۰] په همدې وخت او تر دې وړاندې چې کله د ذو الحجې پر اتمه له مکې څخه منی ته راغی نو څومره ورځې چې هلته وو په دې موده کې یې ټول لمنځونه قصر کول.[۴۲۱] د سیمې ځینو شپنو په منی کې د شپې تېرولو پر ځای خپلو رمو ته د ستنېدو اجازه وغوښته نو رسول الله ﷺ اجازه ورکړه او ویې ویل: د قربانۍ په ورځ د ډبرو تر ویشتلو وروسته د پاتې دوو ورځو ډبرې په یوه ورځ وولئ.[۴۲۲]

قرباني

قرباني په عامه طریقه ترسره شوه، مګر په دې اړه یوه مهمه پوښتنه دا را پیدا شوه چې که د قربانۍ حیوان په لار کې مرګ ته نژدې شو نو څه به کېږي؟. ابن عباس ﷺ وایي: له رسول الله ﷺ څخه یوه سړي چې ده د قربانۍ له اوښ سره را لېږلی وو پوښتنه وکړه نو ده وویل: په حلالولو یې خپړې په وینو کې ډوبې کړئ او کومې ته یې نژدې کښېږدئ.[۴۲۳] خو غوښه یې مه ته خوره او نه دې ستا ملګري.[۴۲۴]

حلق (سر خرپیل)

د حجة الوداع پر مهال رسول الله ﷺ په خپله هم سر وخرپیه او ځینو صحابه وو هم دې ته ترجیح ورکړه.[۴۲۵] له ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ سر خرپیونکو ته دریې ځله او د وښتانو لنډوونکو ته یو ځل دعا وکړه.[۴۲۶]

---

[۴۲۰] بخاري، شمېره: ۱۷۵۱، ۱۷۵۲، ۱۷۵۳، مسلم، شمېره: ۲۹۵۰، ۳۱۳۲

[۴۲۱] بخاري، شمېره: ۱۶۵۵، ۱۶۵۶

[۴۲۲] ابوداود، شمېره: ۱۹۷۵، ۱۹۷۶

[۴۲۳] دا یې د دې لپاره وویل چې وروسته راتلونکو ته معلومه شي چې دا مردار شوی نه دی بلکې د قربانۍ د حیوان غوښه ده.

[۴۲۴] مسلم، شمېره: ۳۲۱۶، له دې څخه هدف دا وو چې هغه قرباني ونه ګڼل شي بلکې د دا ډول حیواناتو ټوله غوښه خیرات شي.

[۴۲۵] بخاري، شمېره: ۱۷۲۹، مسلم، شمېره: ۳۱۴۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا دې ته اشاره وه چې د قصر په پرتله حلق غوره دی.

په روایاتو کې د حج او عمرې په اړه له دې پرته نور شیان هم نقل شوي دي.

یو دا چې یوې ښځې خپل ماشوم د رسول الله ﷺ لور ته ور لوړ کړ او ویې پوښتل: ایا دا هم حج کولای شي؟. ده وویل: هو! مګر د هغه اجر ستا دی.[۴۲۷]

دویم دا چې د خثعم قبیلې یوې ښځې وپوښتل: ای د الله رسوله! زما پر پلار حج فرض دی مګر هغه دومره بوډا شوی چې پر سپرلۍ نه شي تکیه کېدای ایا زه د هغه له لورې حج کولای شم؟. ده وویل: کولای یې شې.[۴۲۸]

درېیم دا چې د جهینه یوې ښځې له رسول الله ﷺ وپوښتل: زما مور د حج نذر ایښی وو، اوس مړه ده ایا زه د هغې له لورې حج کولای شم؟. ده وویل: حتما یې وکړه، ایا که پر هغې قرض پاتې وای تا ادا کاوه؟ دا د الله قرض دی، هغه هم پوره کړه ځکه الله د دې ډېر حقدار دی چې قرض یې ادا شي.[۴۲۹]

څلورم دا چې یوه سړي د رسول الله ﷺ په مخ کې لبیک عن شبرمه وویل، ده پوښتنه وکړه چې دا شبرمه څوک دی؟. هغه وویل: زما ورور دی. ده ترې وپوښتل: ایا خپل حج دې کړی دی؟. ده وویل: نه! رسول الله ﷺ ورته وویل چې لومړی خپل حج وکړه بیا یې د شبرمه پر ځای کوه.[۴۳۰]

پنځم دا چې رسول الله ﷺ د حجة الوداع پر مهال په منی کې د خلګو د پوښتنو او ځوابونو لپاره ودرېد نو یو چا پوښتنه وکړه چې ما ته معلومه نه وه تر قربانۍ وړاندې مې سر وخرېیه. رسول الله ﷺ وویل: قرباني وکړه هیڅ پروا نه لري. یو چا پوښتنه وکړه چې زه خبر نه وم تر رمی وړاندې مې قرباني وکړه؟. ده وویل: اوس رمی وکړه هیڅ پروا نه لري.

---

[۴۲۶] بخاري، شمېره: ۱۷۲۸، مسلم، شمېره: ۳۱۴۸

[۴۲۷] مسلم، شمېره: ۳۲۵۳، د نورو له لورې باید دا نېکي د کومو اصولو پر بنسټ ترسره شي؟ په دې د پوهېدو لپاره وګورئ زمونږ په کتاب (مقامات) کې د ایصال ثواب مضمون.

[۴۲۸] بخاري، شمېره: ۱۸۵۵، مسلم، شمېره: ۳۲۵۱

[۴۲۹] بخاري، شمېره: ۱۸۵۲

[۴۳۰] ابوداود، شمېره: ۱۸۱۱، المعجم الصغیر د طبراني، شمېره: ۶۳۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لنډه دا چې د هر شي د مختې والي او وروسته والي په اړه تري پوښتنه وشوه نو ده همدا ویل چې اوس یې وکړه هیڅ پروا نه لري.[۴۳۱]

شپږم دا چې رسول الله ﷺ د مدینې د حرم په اړه خلګو ته وویل: لکه څرنګه چې ابراهیم علیه السلام مکه حرم ګرزولې ده، ما مدینه همداسي حرم ټاکلې ځکه دي نو د هغې د دوو څنډو تر منځ هیڅوک نه د چا وینه بهوي، نه دي ښکار کوي، نه دي د جګړې لپاره وسله پورته کوي او نه دي د ونې پاڼې غوڅوي مګر دا چې حیواناتو ته خوراک ورکوي.[۴۳۲]

همدا راز یې ویلي: که چا په مدینه کې نوی شی پیدا کړو یا یې پیدا کوونکي ته ځای ورکړ پر هغه د الله، د ده د فرشتو او ټولو انسانانو لعنت دی.[۴۳۳]

اووم دا چې د خپل کور او منبر ترمنځ د ځای په اړه یې وویل: دا د جنت له باغونو څخه یو باغ دی او زما منبر عیني پر هغه ځای دی چې هلته به د قیامت په ورځ زما حوض وي.[۴۳۴]

قرباني

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ فَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ (الحج ۲۲ : ۳۴)

" او د هر امت لپاره مو د قربانۍ عبادت ټاکلی وو چې د ده پر ورکړو حیواناتو د الله نوم واخلي، ځکه نو ستاسو معبود یو دی، تاسو خپل ځانونه هغه ته وسپارئ (مګر دا به هغه څوک کوي چې زړونه یې د الله په وړاندې تسلیم وي) او (اې رسوله!) د په تسلیمبدونکو ته (د خپل رب له لوري) زېرى ورکړه."

د نړۍ په ټولو دینونو کې قرباني د الهي نژدېکت یوه لویه وسیله پاتې شوې، د دې حقیقت هماغه د زکات حقیقت دی مګر دا اصلا د مال نه بلکې د ځان نذر دی چې د هغه حیوان په مقابل کې خلاصېږي چې موږ یې د نفس پر ځای قرباني کوو. دا ظاهرا خپل ځان

---

[۴۳۱] بخاري، شمېره: ۱۷۳۶، ۱۷۳۷، مسلم، شمېره: ۳۱۵۷

[۴۳۲] بخاري، شمېره: ۱۸۶۷، مسلم، شمېره: ۳۳۱۷، ۳۳۳۶

[۴۳۳] بخاري، شمېره: ۱۸۷۰، مسلم، شمېره: ۳۳۲۷

[۴۳۴] بخاري، شمېره: ۱۱۹۶، مسلم، شمېره: ۳۳۷۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مرګ ته وړاندې کول دي، مګر که غوروشي نو همدا مرګ د حقیقي ژوند دروازه ده. الله ویلي: وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ[۴۳۵] (او کوم کسان چې د الله په لار کې ووژل شي مړه يې مه بولئ، هغوی مړه نه بلکې ژوندي دي مګر تاسو يې د ژوند په حقیقت نه پوهېږئ.) قرآن يو ځای د لمانځه په مقابل کې د ژوند او قربانۍ په مقابل کې د مرګ په راوړلو همدا حقیقت تشریح کړی چې لکه څرنګه چې لمونځ له الله سره زموږ ژوند دی همدارنګه قرباني د ده په لار کې زموږ مرګ دی.

قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (الأنعام ۶ : ۱۶۲)

"ووایه چې زما لمونځ او زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ د الله رب العالمین لپاره دي."

کله چې ابراهیم علیه السلام ته لار ښوونه وشوه چې د خپل زوی پر ځای حیوان قرباني کړي او په راتلونکو نسلونو کې د تل لپاره یوه لویه قرباني د هغه یادګار شوه نو الله وویل: وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ[۴۳۶] (او موږ اسماعیل د یوې لویې قربانۍ په عوض کې خلاص کړ) د دې معنا دا وه چې د ابراهیم علیه السلام نذر منل شوی دی او نور به خلګ نسل پر نسل د خپلو قربانیو په وسیله د دې پېښې یاد ساتي.

که له همدې پلوه وګورو نو قرباني د لمانځنې اخیري درجه ده، موږ قبلې ته د ځان او حیوان په مخ کولو د بسم الله او الله اکبر په ویلو[۴۳۷] خپل حیوانات د قیام یا سجدې په حالت کې[۴۳۸] له دې احساس سره خپل رب ته نذر وړاندې کوو چې چې موږ په حقیقت کې خپل ځان ده ته نذر کوو.

همدا نذر د اسلام حقیقت دی ځکه چې د اسلام معنا د اطاعت سر تیټول دي او بل دا چې انسان خپل تر ټولو ګران وسایل ان ځان هم الله ته وسپاري. که غوروشي نو قرباني د همدې حقیقت انځور دی، کله چې ابراهیم علیه السلام او د هغه جلیل القدر زوی د دې لپاره خپل

---

[۴۳۵] البقرة ۲ : ۱۵۴

[۴۳۶] الصافات ۳۷ : ۱۰۷

[۴۳۷] بخاري، شمېره: ۵۵۶۵، مسلم، شمېره: ۵۰۹۰

[۴۳۸] یعني د نحر لپاره د قربانۍ په درولو او ذبحې په صورت کې قبلې ته په مخامخ پرې ایستلو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځان وړاندي کړ نو قرآن ور څخه په اسلام تعبیر کړی دی: فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ[۴۳۹] (بیا چې کله دوی دواړو خپل ځانونه وسپارل او پلار زوی پر تندي پرې ایست) پورته چې د سورت الحج کوم ایت نقل شو په هغه کې هم وګورئ چې قرآن د فَلَهُ اَسْلَمُوا وَ بَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ په الفاظو په خورا ښه ډول دې حقیقت ته اشاره کړې ده یعني که ستاسو زړه د خپل معبود په وړاندي تسلیم وي نو ځان هغه ته وسپارئ ځکه ستاسو معبود صرف یو دی، همدا د قربانۍ روح دی او الله دا عبادت خاص د خپلې شکر ایستنې لپاره مشروع کړی ځکه نو باید بل هیڅوک پکې شریک نه شي.

د قربانۍ تاریخ

د قربانۍ تاریخ له ادم علیه السلام څخه پیلېږي، په قرآن کې بیان شوی چې د ده دوو زامنو (قابل او هابل) خپل نذرونه د الله حضور ته وړاندي کړل نو د یوه نذر ومنل شو او د بل ونه منل شو إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِن أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الآخَرِ[۴۴۰] په بایبل کې صراحت دی چې هابل په دې وخت کې د خپلو پسونو د ځینو تازه بچیانو قرباني وړاندي کړې وه، په پیدایښت کې دي:

"او ادم خپلې مېرمنې حوا ته ورغی هغه امیدواره شوه او قاین تري پیدا شو، نو ویې ویل: ما ته له خپل خاوند څخه یو نارینه راکړل شو، بیا د قاین ورور هابل پیدا شو، هابل د پسونو شپون او قاین بزګر وو. څو ورځې وروسته قاین د الهي ډالۍ لپاره د خپل کښت مېوه راوړه او هابل هم د خپلو پسونو د تازه بچیانو او یو څه د غوړو هدیه راوړه، الله هابل او د هغه هدیه ومنله او قاین او د هغه هدیه یې ونه منله." (۴ : ۱-۵)

څرګنده ده چې دا طریقه به وروسته هم پاتې وه ځکه یې نو موږ په ټولو لرغونو دینونو کې اثار مومو، مګر د ابراهیم علیه السلام تر قربانۍ وروسته چې دې عبادت کوم ارزښت، عظمت، پراختیا او نړۍ والتوب وموند یقینا یې تر دې وړاندي نه درلود. تفصیل یې دادی چې ابراهیم علیه السلام کله د خپل قوم له ایمان څخه په ناهیلي هجرت وکړ نو ورسره یې دا دعا وکړه چې اې ربه! ما ته نېک اولاد راکړه، دا دعا یې ومنل شوه او الله د یوه زوی د زېږېدو زېرۍ ورکړ او دا اسماعیل وو. د قرآن وینا ده چې کله له پلار سره د منډو -را

[۴۳۹] الصافات ۳۷ : ۱۰۳

[۴۴۰] المایده ۵ : ۲۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

منډو عمر ته ورسېد نو ابراهيم عليه السلام خوب وليد چې د الله له لوري ورته هدايت کېږي چې زوی دي د خپل رب په خاطر قربان کړه. که څه هم دا لاربښوونه په خوب کې وه او خوب تاويل و تعبير ته اړتيا لري، نو د هغه خوب تعبير همدا وو چې زوی د عبادتځای د خدمت لپاره الله ته نذر کړي، هيڅکله يې دا هدف نه وو چې واقعا يې حلال کړي. مګر د الله دې رښتني بنده د بل تعبير کولو پرځای يې عيني په هماغه ډول د عملي کولو پرېکړه وکړه او په دې لار کې يې لومړی ګام دا واخيست چې د زوی د فيصلې معلومولو لپاره يې لومړی هغه ته خوب بيان کړ. اسماعيل عليه السلام د هغه خوب د الله حکم وباله او سمدستي يې ځواب ورکړ چې پلار جانه! حتما يې عملي کړه ان شاء الله ما به پوره ثابت قدم وممي. د زوی له ځواب څخه په ډاډمنېدو ابراهيم هغه د مروا غره ته بوت او د قربانۍ لپاره يې پرتندي پرې ايست، نژدې وه چې چاړه چلېدلې وای خو د الله له لوري اواز راغی چې ابراهيمه! تا خپل خوب رښتيا کړ، دا يوه لويه ازموينه وه ته پکې بريالی شوې ځکه نو نور زيات څه کولو ته اړتيا نه شته، الله د ابراهيم عليه السلام دا جليل القدر زوی د حيواناتو د قربانۍ په بدل کې خلاص کړ او د دې پېښې د يادګار په ډول هر کال پر همدې تاريخ د قربانۍ يو ستر دود د تل لپاره را منځ ته شو. همدا قرباني ده چې موږ يې د حج او عمرې پر مهال او د لوی اختر په ورځ د يوه نفلي عبادت په توګه ترسره کوو. الله ويلي:

قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ * فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ * وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي سَيَهْدِينِ * رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ * فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ * فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ * فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ * وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ * قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ * إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ * وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ*

"دوی وويل: هغه ته يوه ودانۍ جوړه کړئ او اور ته يې ور وغورځوئ، په دې ډول هغوی د ده پر خلاف يو چل جوړاوه، نو موږ دوی کښته کړل او (ابراهيم د دې په ليدو) وويل: زه خپل رب ته ورځم هغه به مې لاربښوونه وکړي، اې ربه! ما ته نېک اولاد راکړه. (ده دا دعا وکړه) نو موږ د يوه حوصله ناک زوی زېرې ورکړ، کله چې له ده سره د تلو –راتلو عمر ته ورسېد نو (يوه ورځ) يې وويل: زويه! ما خوب ليد چې تا حلالوم، اوس ووايه نظر دي څه دی؟. هغه ځواب ورکړ چې پلار جانه! تا ته چې کوم امر کېږي عملي يې کړه، ما به ان شاء الله له صبر کوونکو وممي، کله چې دواړو ځانونه حواله کړل او پلار زوی پرتندي پرې ايست او موږ اواز وکړ چې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(الصافات ۳۷ : ۹۷ - ۱۰۷) اې ابراهيمه! تا خپل خوب رښتنی کړ، بې شکه موږ نېکي کوونکو ته همداسي جزا ورکوو، يقينا دا يوه ښکاره ازموينه وه (ابراهيم پکي بريالی شو) او (په نتيجه کي) مو اسماعيل د يوې لويي قربانۍ په بدل کي خلاص کړ."

د قربانۍ هدف

د قربانۍ هدف د الهي شکر ادا کول دي، موږ د قربانۍ حيوانات د خپل ځان د نذرانې د نښې په توګه وړاندي کوو، ګواکي د اسلام او تسليمۍ پر هغه هدايت د الله شکر باسو چې ابراهيم عليه السلام د خپل يوه زوی په قرباني کولو څرګند کړی وو. په همدې وخت کي د تکبير او تهليل الفاظ د همدې هدف لپاره ادا کېږي او دا هدف قرآن داسي بيان کړی دی:

لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلاَ دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنكُمْ كَذَلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ

(الحج ۲۲ : ۳۷)

"الله ته نه (ستاسو) د دې (قربانيو) غوښه رسېږي نه وينه بلکي ستاسو تقوا ور رسېږي، ده همداسي ستاسو لپاره تابع کړې چې الله درته کوم هدايت کړی په دې سره يې لويي بيان کړئ (دا د همغو طريقه ده چې د نېکۍ چلند خپلوي) او (اې رسوله!) دې نېکانو ته زېری ورکړه."

د قربانۍ قانون

ترموږ پورې چې د مسلمانانو په اجماع او عملي تواتر د قربانۍ کوم قانون را رسېدلی دی هغه دادي:

په قربانۍ کي د څاروبو په څېر ټول حيوانات حلال نه دی شي.

د قربانۍ حيوان بايد بې عيبه او د ښه عمر وي.

د قربانۍ وخت د ذو الحجې په لسمه د لوی اختر له لمانځه څخه تر خلاصېدو وروسته پيلېږي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له قرآنه ښکاري چې د دې ورځې هماغه دي چې له مزدلفې څخه تر را ستنېدو وروسته په منى کې د قیام لپاره تاکل شوې دي. د سورت الحج له ایام معلومات څخه همدا مراد دي.[۴۴۱] همدې ته په اصطلاح کې د تشریق ورځې ویل کېږي، په دې ورځو کې له قربانۍ پرته دا سنت هم را منځ ته شوى چې د هر لمانځه تر جماعت وروسته تکبیر وویل شي او د دې تکبیر حکم مطلق دى په شریعت کې ورته کوم الفاظ نه دي تاکل شوي.

د قربانۍ غوښه خلګ په خپله هم خوړلای شي او نورو ته یې هم ورکولای شي. قرآن د فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ[۴۴۲] په الفاظو د همدې صراحت کړى دى.

همدا د قربانۍ قانون دى البته رسول الله ﷺ په دې اړه څو خبرې روښانه کړې دي:

اوله دا چې د قربانۍ په مياشت کې دي قرباني کوونکى د نذر له لرغوني دود سره سم تر قربانۍ وړاندې نه خپل نوکان غوڅوي او نه وېښتان.[۴۴۳]

دویمه دا چې قرباني بايد په هر حال کې د اختر تر لمانځه وروسته وي، که وړاندې وشوه نو صرف ذبیحه ده د لوى اختر قرباني نه شي بلل کېداى.[۴۴۴]

درېیم دا چې د قربانۍ لپاره ښه عمر دادى چې د اوزې بچى لږ تر لږه د یوه کال، د غوايي هغه دوه کاله او د اوښ یا اوښې هغه بايد پنځه کاله وي، که دا نه وي نو پسه دي حلال کړي او که د شپږو مياشتو هم وي نو کفايت کوي.[۴۴۵]

څلورم دا چې د غوايي، اوښ او اوښې په قربانۍ کې تر یوه ډېر کسان شریکېداى شي او که اووه هم وي نو پروا نه لري.[۴۴۶] بلکې په روایاتو کې دي چې یو ځل د رسول الله ﷺ په شتون کې د اوښ شریکان لس کسان وو نو ده منعه ونه کړه.[۴۴۷]

---

[۴۴۱] الحج ۲۲ : ۲۸ (او په څو معلومو ورځو کې پر هغو حیواناتو د الله نوم یاد وئ چې ده درکړي دي.)

[۴۴۲] الحج ۲۲ : ۳۶ (نو له هغو په خپله هم خوراک وکړئ او په هغو یې هم وخورئ چې په صبر ناست دي او په هغو هم چې د سوال لپاره راشي.

[۴۴۳] مسلم، شمېره: ۵۱۲۱

[۴۴۴] بخاري، شمېره: ۵۵۶۰، ۵۵۶۱، ۵۵۶۲، مسلم، شمېره: ۵۰۶۴، ۵۰۶۹، ۵۰۷۹

[۴۴۵] مسلم، شمېره: ۵۰۸۲، ابوداود، شمېره: ۲۷۹۹، نسايي، شمېره: ۴۳۸۳

[۴۴۶] مسلم، شمېره: ۳۱۸۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پنځم دا چې د قربانۍ نفلي عبادت له لوی اختر پرته هم کېدای شي، د ماشومانو د زېږون پر مهال رسول الله ﷺ په خپله هم قرباني کړې او نورې هم ورته هڅولي دي.[۴۴۸]

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

[۴۴۷] ترمذي، شمېره: ۱۵۰۱، نسايي، شمېره: ۴۳۹۷، ۴۳۹۸

[۴۴۸] بخاري، شمېره: ۵۴۷۲، ابوداود، شمېره: ۲۸۴۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲

مدني قانون

د انسان خالق هغه ته د مدنیت خوښوونکي حیوان فطرت ورکړی دی، ځکه انسان داسي نه پیدا کېږي چې د ده خالق یې په اسمان کي جوړ او عیني په ځواني کي یې مستقیما پر ځمکه نازل کړي او بیا د بوډاتوب و ځوانۍ د مراحلو له تېرولو پرته یې هماغسي ځوان واخلي. د دې برخلاف د هغه معامله داده چې دی پورپر پورې تاریکیو کي د یوه بې وسه ماشوم په توګه لیدل کېږي. د مور په غېږ کي ستر ګي پرانیزي، لاس او پښې وهي، لوبي کوي، د بل په لاس خوراک - څښاک او خپلې اړتیاوې پوره کوي. لومړی پر ځمکه څخېږي او بیا په ډېر تکلیف پر خپلو پښو درېدو وړتیا پیدا کوي. تر دې وروسته هم ګام پر ګام د بل تکیې ته اړوي، ان د ماشومتوب او کوچني والي د څو پراوونو له وهلو وروسته د پنځلسو او شپاړسو کلونو عمر ته په رسېدو ځوانېږي. د ځوانۍ دا دوره یې هم تر شل دېرش کاله اوږده نه وي، له دې وروسته ویني چې د بوډاتوب اثار څرګندېږي او ډېر ځله د علم او معرفت وروستیو پوړیو ته تر لاس ورورلو وروسته یو ځل بیا د بې وسه ماشومانو په څېر د نورو تر رحم او کرم لاندې د ژوند د ورځو پوره کولو ته اړوزي.

د انسان همدا حالت حتمي غوښتنه کوي چې د یوه مدیني موجود په توګه ژوند وکړي، د نارینه او ښځې په توګه دا تمدن د پیدا ایښت له پیله په بشپړ ډول په ده کي پټ وي. د لټون لپاره یې تر خپل وجود بهر کوم ځای ته د تلو اړتیا نه شته، دی چې دې دنیا ته راځي نو د خپلو وسایلو، خپمې او هستوګنځای سره راځي او په درو و غرونو، دښته او بیابان هر ځای کي خپل مجلس ګرموي.

د انسان تاریخ ښیي چې د هغه په تخلیق کي پټې دې نقشې ته په پام چې کله ادم علیه السلام د لومړي انسان په توګه دې نړۍ ته راغی نو یوازي را ونه لېږل شو بلکي الله یې له هماغه جنس څخه د ده جوړه پیدا کړه او بیا یې په دې نړۍ کي د دوی په وسیله ګڼ نارینه او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ښځينه خپاره کړل، ان تر دې چې کورنۍ، قبيله او بالاخره د دولت په کچه ټولنيز نظم را منځ ته شو او په دې کې هغه ټولې اساتنياوې ورکړل شوې چې د ده د پټو وړتياوو را سپړلو لپاره اړينې وې. قرآن دا حقيقت په خپلو ځانګړو اسلوبو داسې بيان کړی دی:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا

(النساء ۴ : ۱)

"اې خلګو! له خپله هغه ربه ووېرېږئ چې تاسو يې له يوه نفسه پيدا کړاست او له هماغه جنسه يې د ده جوړه پيدا کړه او (په دې دنيا) کې يې د دوی په وسيله ډېر نارينه او ښځې خپاره کړل او له هغه الله ووېرېږئ چې په واسطه کولو يې تاسو له يوه بل څخه مرسته غواړئ او د خپلوی پېرا ړه هم خبر اوسئ، بې شکه الله ستاسو څارونکی دی."

که په دې ايت کې غور وشي نو هغه ټول اصول پکې په ډېر ښه ډول بيان شوي چې د دې کايناتو خالق د انساني ټولنې بنسټ پرې اېښی دی. د استاذ امام امين احسن اصلاحي په الفاظو هغه اصول دا دي:

"يو دا چې دنيا کومه بې شپونه رمه نه ده بلکې هغه الله پيدا کړې چې د ټولو رب دی، له همدې کبله هيڅا ته روا نه ده چې دلته درغلي وکړي او د ځان ښوونې لار خپله کړي، بلکې ټول بايد له هغه ربه ووېرېږي چې د دوی خالق او مالک دی.

دويم دا چې الله ټول له يوه نفس ادم څخه پيدا کړي، ځکه نو د نسب له مخې ټول د يوه پلار اولادونه دي هيڅوک پر بل فضيلت نه لري، عرب او عجم، تور او سور ټول يو شان دي. که په دوی کې څوک ترجيح لري نو د کسبي صفت پر بنسټ به وي، له دې پرته د شرافت نور معيارونه ټول باطل دي.

درېيم دا چې لکه څرنګه چې ټول انسانان د يوه پلار اولادونه دي هماغسې يې مور حوا ﷺ هم يوه ده، له دې ارخه هم څوک پر بل ترجيح او لوړتيا نه لري، دا کورنۍ د يوه پلار او مور په وسيله را منځ ته شوې دي. له ايت څخه معلومېږي چې حوا د ادم له جنس څخه ده، د دې معنا دا شوه چې ښځه د نارينه په پرتله کوم سپک او تيټ مخلوق نه دی بلکې دا هم په هغه شراکت کې پوره ونډه لري چې انسان يې د انسان په توګه درلودونکی دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څلورم دا چې په انساني ټولنه کې د مرستې او کومک بنسټ د معبود و ادم یووالی او د رحم د اشتراک عقیده او جذبه ده، پر هر چا لازمه ده چې د دې اشتراک حق وپېژني، ادا یې کړي او دې ته هم پام وکړي چې پر خلګو داسې یو شعار غلبې ته پرې نه وړي چې د دې فطري اشتراک له منځه وړونکی او پر ځای یې د جاهلي جذباتو پاروونکی وي. که دا ډول کوم شی را پیدا شي نو د ګردې ټولنې لپاره د سختې خطرې خبرداری دی او د ټولنې د هر درد من فریضه داده چې په مخنیوي کې یې خپل رول ادا کړي. د دې ایت په اخیر کې وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ (او له هغه الله وویرېږئ چې په وسیله یې تاسې له یوه بله مرسته غواړئ او د خپلوی له پرېکونې هم) الفاظو همدا خطر بیان کړی دی، ځکه چې اسلام په حقیقت کې پر همدې بنسټ د کورنۍ، ټولنې او دولت ودانۍ رغولې ده، څو چې دا بنسټ موجود وي ودانۍ به ولاړه وي، کله چې کمزورې شي ودانۍ په خطر کې لوېږي او کله چې ونړېږي نو ودانۍ به هم پر ځمکه را پرېوزي." (تزکیه نفس: ۴۲۸)

دا هغه اساسات دي چې پر هغو د ټولنې د بنسټ درولو لپاره د انبیاء علیهم السلام په دین کې د مېرمنې او مېړه د دایمي ملګرتیا طریقه غوره شوې ده، الله ویلي چې د دې هدف لپاره له ازل څخه په دوی دواړو کې ټولې غوښتنې ځای پر ځای شوې وې، څو دا دواړه شخصیتونه په یو کېدو د دې ملګرتیا حق ادا کړای شي. الله ویلي:

وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (الروم ۳۰: ۲۱)

"او د ده له نښو دا هم ده چې ستاسو له جنس څخه یې درته جوړې پیدا کړې چې له هغو سره سکون تر لاسه کړئ او (د دې هدف لپاره) یې په تاسو کې مینه او خواخوږي پیدا کړه، بې شکه په دې کې د هغو لپاره نښې دي چې غور کوي."

که ټول انسان له ماشومتوب څخه تر بوډاتوب پورې مخته کېښود لشي نو په ښکاره معلومېږي چې د هغه د ژوند روح او تمدني اړتیاوو ته په پام همدا طریقه له عقل او فطرت سره برابره ده، په دې سره چې کومه ټولنه را منځ ته کېږي د هغو په ځینو مهمو چارو کې الله د انساني عقل د لارښوونې لپاره د انبیاء علیهم السلام په وسیله بني ادم ته یو مفصل قانون ورکړی دی. لاندې به یې مورد هغو نصوصو وضاحت وکړو چې دا مهال په قرآن او سنت کې د الله د ابدي شریعت په توګه بیان شوي دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نکاح

وَأَنكِحُوا الأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ * وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لاَ يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ (النور ۲۴ : ۳۲، ۳۳)

" او په تاسو کي چې څوک بې واده وي او ستاسو کومې مينځې او مړپيان وړتيا ولري نکاح يې وکړئ، که غريبان وي الله به يې په خپل فضل غني کړي، الله د ډېرې پراختيا څښتن او ډېر پوه دی او څوک چې د نکاح فرصت ونه مومي هغوی ته په کار ده چې پاک لمني خپله کړي تر هغو چې الله يې په خپل فضل غني کوي."

په دې ايياتونو کي دا خبره په غوڅ ډول څرګنده شوې چې د الله په نزد له ښځو څخه د جنسي سکون تر لاسه کولو يوه طريقه نکاح روا ده. که د دې قدرت نه وي نو دا شی د بد کاری د جواز لپاره عذر نه شي کېدای، خلګو ته لار ښوونه شوې چې په دوی کي څوک بې واده وي نکاح دي يې وکړي، دا له ښکاره ايجاب او قبول سره د نارينه او ښځې تر منځ د دايمي ملګرتيا تړون دی چې د خلګو په مخ کي د يوه مسئول شخص له خوا پر دې مهال له وعظ او نصيحت وروسته له پوره پاملرنې او غور سره را منځ ته کېږي. له اسماني صحيفو ښکاري چې په انسانانو کي دا طريقه د هغوی د پيدايښت په لومړی ورځ را منځ ته شوې وه، کله چې قرآن نازل شو نو د دې لپاره د نوي حکم ورکړې ته اړتيا نه وه، رسول الله ﷺ د يوه لرغوني سنت په توګه په خپل امت کي همداسي پرې ايښې ده، دلته د هغه له ترغيب سره خلګو ته يو بل زبری دا ورکړل شوی چې که هغوی غريبان هم وي نو له اخلاقي فساد څخه د ځان ژغورنې لپاره دي نکاح وکړي، که د الله خوښه وه همدا شی به د دوی لپاره په رزق او برکت کي د زيادت سبب شي. استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کي ليکلي دي:

" ... تر څو چې انسان له ښځې بې برخې وي نو کوچې غوندي وي، ډېرې وړتيا وې يې غلې او ځپل شوې وي همدارنګه چې مېرمن تر څو بې مېړه وي نو حيثيت يې د هغې غوا په څېر وي چې د تکيې نه درلود لو له املله د دې او غوړېدو څخه بې برخې وي، مګر کله چې ښځه مېړه پيدا کوي او نارينه د ښځې ملګرتيا تر لاسه کوي نو د دواړو وړتياوې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

غوړېږي او کله چې دواړه د ژوند په ډګر کې هڅې کوي نو الله يې په هڅو کې برکت اچوي او حالات يې ښې بدلېږي." (تدبر قرآن ۵ / ۴۰۰)

محرمات

وَلاَ تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاء سَبِيلاً * حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالاَتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلاَئِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلاَبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا * وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ كِتَابَ اللّهِ عَلَيْكُمْ (النساء ۴ : ۲۲ - ۲۴)

" او له هغو ښځو سره نکاح مه کوئ چې ستاسو پلرونو ورسره نکاح کړې وي مګر څه چې شوي شوي دي، بې شکه دا څرګنده بې شرمي، کرکجن کار او ډېره بده طريقه ده ، پر تاسو مندې، لونې، خوندې، عمه ګانې، خاله ګانې، وريږې او خورځې حرامې شوې دي او ستاسو هغه مندې هم چې تاسو ته يې تی درکړی او د رضاعت په دې تړاو ستاسو خوندې هم (همدا راز) ستاسو د مېرمنو مندې، د دوی هغه لونې چې ستاسو په غېږ کې پالل شوې او د هغو مېرمنو لونې چې تاسو ورسره خلوت کړی وي او که مو خلوت نه وي کړی نو ګناه نه شته، ستاسو د صلبي زامنو مېرمنې او دا چې په نکاح کې دوې خوندې سره يو ځای کړئ مګر څه چې وشول شوي دي، يقينا الله بخښونکی او شفقت يې ابدي دی، هغه ښځې هم دربانديې حرامې دي چې د يو چا په نکاح کې وي مګر دا چې ستاسو ولکې ته ولوېږي، دا پر تاسو د الله ليکلې فريضه ده."

دا د هغو ښځو فهرست دی چې نکاح ورسره حرامه بلل شوې، پيل يې له ناسکه مور سره د نکاح په حرمت شوی او له هغو ښځو سره په نکاح پای ته رسېدلی چې د بل په تړون کې وي. په دې پيل او پای کې چې کوم حرمتونه بيان شوي هغه د خپلوی پر درو اصولو نسب، رضاعت او مصاهرت بنا دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د جاهلي عربو په ځينو ټولنو کي دا رواج وو چي د پلار مېرمني زامنو ته په ميراث پاتېدې او هغوی يې په نکاح کولو کي هيڅ بدي نه احساسوله، قرآن وويل چي دا څرګنده بې شرمي، ډېر کرکجن کار او بېخي ناولې طريقه ده ځکه نو له دې وروسته ممنوع اعلانېږي. تر دې وړاندي چي څه شوي خو شوي دي، مګر په راتلونکي کي بايد هيڅ مسلمان دا ناوړه کار ونه کړي.

همدا معامله د هغې ښځې ده چي د يو چا په نکاح کي وي، له خپل مېړه څخه له رسمي بېلتون پرته ورسره بل څوک د نکاح حق نه لري ځکه د نکاح طريقه چي د کورنۍ د کومې اداري را منځ ته کولو لپاره غوره شوې هغه هيڅکله په دې نتيجه کي نه شي را منځ ته کېدای له همدې وجې الله ممنوع ګرزولې، البته هغه ښځې ترې مستثنا دي چي په جګړه کي نيول کېدې، د هغوی لپاره قانون دا وو چي که څوک ورسره نکاح وغواړي نو له واده درلودلو سره -سره يې نکاح صحيح وه ځکه د هغې زماني له رواج سره سم د يو چا لاس ته لوېدل د مخکينۍ نکاح ختمېدل وو، د (الا ما ملكت ايمانكم) له استثنا څخه ښکاري چي قرآن هم هغه طريقه پرځای پرې ايښې د دې لپاره چي که دا ډول مېرمني وغواړي نو له څه خنډ پرته د مسلمانې ټولنې برخه وګرزي. تر دې وروسته نورو حرمتونو ته پام وکړئ.

نسب

لومړی نسبي حرمتونه بيان شوي، مور، لور، خور، ترور (عمه)، تورۍ (خاله)، ورېره او خورځه، دا هغه اووه قرابتونه دي چي خپلوي يې په ځان کي دننه واقعا داسي سپېڅلتيا لري چي که پکي د جنسي مينې بوی هم وي نو صالح فطرت يې نه شي زغملای. په دې کي شک نه شته چي همدا سپېڅلتيا په حقيقت کي د تمدن بنسټ، د تهذيب روح او د کورنۍ د جوړېدو لپاره د خواخوږۍ او رحمت د بې پرې احساساتو سرچينه ده. الله غواړي چي مور ته د زوی، لور ته د پلار، خور ته د ورور، ترور ته د وراره، تورۍ ته د خورېيي، خورځې ته د ماما او وريرې ته د اکا نظر د جنس او شهوت له هر ډول ناولتيا وو پاک وي او عقل شاهدي ورکوي چي په دې خپلوۍ کي دا ډول هر ترې او د انساني شرافت له منځه وړونکی او د شرم و حيا له هغه سپېڅلي احساس سره بېخي ټکر دی چي د انسانانو او ټارويو تر منځ د توپير علت دی.

دلته چي يې کوم حکم بيان شوی له هره پلوه مشخص دی، مګر په دې اړه بايد دا درې خبرې څرګندې وي. اوله دا چي په دې حکم کي د عربي ژبې کوم الفاظ کارول شوي په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغو کي د سکه او ناسکه ترمنځ د توپير لپاره هيڅ امکان نه شته، د سکه او ناسکه مور، سکه و مورنۍ او پلرنۍ خوندې ټولې به په دې حکم کې يو ډول وي. همدا رنګه د مور او پلار خور سکه وي او که ناسکه او يا مورنۍ د هغوی حکم هم دادی، دا حالت دورور او خور د زامنو هم دی. هغوی سکه وي او که ناسکه يا مورني لونې به يې تر همدې حکم لاندې بلل کېږي.

دويمه دا چې د مور لفظ د پلار مور او د مور مور ته تر پايه شامل دی او د لور لفظ هم لمسۍ او کړوسۍ ته همدا سي تر پايه شاملېږي، په هغوی کې د حکم له مخې هيڅ فرق نه شته.

درېيمه دا چې د مور له خوا د نېکه خور او د پلار له خوا د نيکه خور هم په ترتيب سره ترور او تورۍ دي، ځکه به نو په دې حکم کې شاملې بلل کېږي.

رضاعت

همدا تقدس په رضاعي قرابت کې هم دی، استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کې ليکلي:

" زمونږ خلګ د رضاعت تړاو په هغه ژوره معنا نه اخلي چې عربو اخيست، د دې سبب صرف د رواج توپير دی که نه حقيقت همدا دی چې د مور له خپلوۍ سره ژور مناسبت لري، کوم ماشوم چې د مور په غېږ کې د هغې د غولانځو په شيدو پالل کېږي که يې پوره مور نه وي نو نيمه مور خو يې حتما ګرزي. بيا دا څه ډول ممکنه ده چې د چا شيدې يې په رګونو کې روانې دي له هغې څخه يې جذبات او احساسات اغېزمن نه شي؟ که اغېزمن نه وي دا د فطرت جوړښت نه بلکې فساد دی او د اسلام په فطري دين کې اړينه وه چې دا فساد سم کړي." (تدبر قرآن ۲ / ۲۷۵)

دا تړاو د شيدو په ورکولو څرنګه رامنځ ته کېږي؟ استاذ امام ليکي:

دا به په تصادفي توګه نه بلکې له پوره پاملرنې سره د يو هدف له مخې را منځ ته شوی وي نو اعتبار لري، اول يې ويلي: ستاسو هغه مندې چې شيدې يې درکړې وي، بيا يې د دې لپاره د رضاعت لفظ کارولی (واخواتکم من الرضاعة) په عربي ژبه پوهېدونکی پوهېږي چې ارضاع د افعال باب دی چې پکې د مبالغې مفهوم موندل کېږي، همدا راز د رضاعت لفظ دا نه مني چې که کومه ښځه د ژړا کوونکي ماشوم ارامولو لپاره خپل تی په خوله کي ورکړي نو هغه دي رضاعت وبلل شي." (تدبر قرآن ۲ / ۲۷۵)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن همدا هدف رسول الله ﷺ په بېلابېلو ځايونو کې تشريح کړی دی، له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: که په تصاد في توګه دوه -درې غوړېه ورکړل شي نو په دې سره حرمت نه را منځ ته کېږي.[1] له دې څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ما ته راغی نو يو سړی را سره ناست وو، ده ته يې خوند ورنه کړ او ما وليدل چې په څېره کې يې د غوسې اثار څرګند شول، ما وويل: اې د الله رسوله! دا مي رضاعي وروردی. ده وويل: خپلو دې وروڼو ته پام کوئ ځکه د رضاعت تړاو يوازې په هغو شيدو را منځ ته کېږي چې ماشوم ته د شيدو د اړتيا په زمانه کې ورکړل شي.[2]

دلته بايد د ابو حذيفه رضي الله عنه متبنی زوی سالم ته په لوی عمر کې د تي ورکوله امله غلط فکر را پيدا نه شي، له دې پېښې چې کوم څه ښکاري هغه دادي چې د متبنی زامنو په اړه چې د قرآني حکم تر راتلو وروسته يوه کورنۍ له کوم حالت سره مخ شوې وه له هغه څخه د وتلو لپاره رسول الله ﷺ يوه طريقه همدا وربنودلې، دا د کوم دايمي حکم بنسټ نه شي بلل کېدای. پېښه داده:

فجاءت سهلة بنت سهيل بنت عمرو القرشي ثم العامري ـــ وهي امرأة ابـــي حذيفـــه ـــ فقالت يا رسول الله انا كنا نرى سالما ولدا و كان يأوى معي و مع ابى حذيفـــة في بيـــت واحد و يرانى فضلا و قد انزل الله عز وجل فيهم ما قد علمت فكيف ترى فيه؟ فقال لها النبيﷺ ارضعيه. (ابوداود، شمېره: ۲۰۶۱)

"د ابـو حذيفـه مېـرمن او د سـهيل بـن عمـرو قرشي عامري لور سهله رسول الله ﷺ ته راغله، ويې ويل: اې د الله رسوله! موږ سالم خپل زوی ګانه ډی له ما او ابو حذيفه سره په يوه کور کې مېشت وو او زه يې د کور په جامو کې ليدم، الله چې د دې زامنو په اړه کوم حکم نازل کړی دی، ته پرې خبرې اوس ووايه په دې اړه ستا لارښوونه څه ده؟. رسول الله ﷺ وويل: خپلې شيدې ورکړه."

ځکه نو دا ښکاره قطعي ده چې د رضاعت لپاره د شيدو عمر او د شيدو ورکولو پوره اراده دواړه ضروري دي او په دې سره هغه ټول قرابتونه حرامېږي چې نسبي تعلق يې حراموي. د قرآن مدعا همدا ده مګر د دې لپاره چې د عربيت کوم اسلوب غوره شوی هغه دادي چې د الفاظو او قراينو دلالت او د حکم عقلي تقاضا کوم مفهوم په خپله څرګندوي

[1] مسلم، شمېره: ۳۵۹۰

[2] بخاري، شمېره: ۵۱۰۲، مسلم، شمېره: ۳۶۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په الفاظو نه شي بيانېدای. [۳] الله ویلي: وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ (او ستاسو هغه مندې هم حرامې دي چې تاسو ته يې شيدې درکړې او د رضاعت په دې تړاو ستاسو خوندې هم) وګورئ دلته يې له رضاعي مور سره رضاعي خور هم حرامه بللې، که خبره يوازې پر مور ختمېدای نو بې شکه پکې د نورې زياتونې امکان نه وو، مګر که د رضاعت تړاو ورسره تی رودونکې نجلۍ خور ګرزوي نو عقل تقاضا کوي چې د رضاعي مور نور تړاوونه هم باید حتما دا حرمت ولري. که د شیدو رودلو په شراکت يوه ښځه خور کېدای شي نو د رضاعي مور خور ولي خاله، مېړه يې پلار، د مېړه خور ترور، د هغه د لور او زوی لونې ولي خورځې او وريرې نه شي ګرزولای؟ ځکه نو دا ټول تړاوونه هم يقينا حرام دي، د قرآن حکم دی او د (اخواتکم من الرضاعة) الفاظ پرې داسي دلالت کوي چې پر قرآن له غور کوونکي هيڅ عالم څخه يې دا حکم پټ نه شي پاتي کېدای. رسول الله ﷺ له همدې امله ویلي:

يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولاده. "هر هغه قرابت چې په ولادت حرامېږي رضاعت يې هم حراموي."
(الموطا، شمېره: ۱۸۸۷)

مصاهرت (خسرګنې)

تر نسب او رضاعت وروسته هغه حرمتونه بيان شوي چې د خسرګنۍ پر بنسټ وي، دا تړاو چې کومه خپلوي پيدا کوي د هغو سپېڅلتيا هم انساني فطرت ته داسي څرګنده ده چې هيڅ استدلال ته اړتيا نه لري. پر پلار نېږو او پر مېړه د مېرمن مور، لور، خور، تورې، ترور، ورېره او خورځه ټول حرام دي مګر څرنګه چې دا تړاو د ميرمنې او مېړه په وسيله را منځ ته شوی او يو ډول کمزوري پکې موندل کېږي ځکه نو قرآن ورته د رې شرايط ټاکلي دي.

اول دا چې يوازې د هغې مېرمنې لور حرامه ده چې ورسره خلوت شوی وي.

دويم دا چې د نېږو د حرمت لپاره د زوی صلبيتوب ضروري دی.

[۳] په دې اسلوب د پوهېدو لپاره وګورئ په همدې کتاب کې اصول او مبادي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېيم دا چې د مېرمنې د خور ترور، خاله، وريرې او خورځې حرمت تر هغه حالت پورې خاص دی چې د خاوند او مېرمنې ترمنځ د نکاح تړون موجود وي.

لومړی خبره په قرآن کې داسې بيان شوې: وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ (او ستاسو د مېرمنو لونې چې ستاسو په غېږ کې پالل شوې وي، د هغو مېرمنو لونې چې تاسو ورسره خلوت کړی وي او که خلوت نه وي نو هيڅ ګناه نه ده) په دې کې د خلوت له شرط سره د لونو يو صفت دا بيان شوی چې په غېږ کې پالل شوې وي مګر څرګنده ده چې د حرمت په شرط کې دخل نه لري.

استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کې ليکي:

" ... په عربي ژبه کې هر صفت لازما د قيد او شرط حيثيت نه لري چې که هغه نه وي نو حکم له منځه ځي بلکې دا له قرينې سره تړاو لري، قرينه ښيي چې کوم صفت د قيد او شرط درجه لري او کوم صفت صرف د حالت ا ئخورولو لپاره دی؟. دلته يوازې قرينه نه بلکې تصريح ده چې که تاسو د رېيبې پر مور دخول نه وي کړی نو له رېيبې سره نکاح هيڅ بدي نه لري. له دې څخه په ډاګه شوه چې د هغې په حرمت کې اصل شی له مور سره جنسي اړيکې دي، که دا شی وجود ولري نو له هغې سره نکاح ناروا ده پرته له دې چې په غېږ کې پالل شوې ده او که نه؟. دا خبره د يادونې وړ ده چې په اصلي عربي په تېره بيا په قرآن کې تر اثبات وروسته د نفې اسلوب او تر نفې وروسته د اثبات په اسلوبو چې کوم څه بيانېږي، هغه يوازې د خبرو غزول نه وي بلکې د ځانګړي هدف لپاره وي چې ډېر وخت يې موخه د ابهام له منځه وړل وي ځکه نو د هغو کسانو فکر د قرآن خلاف دی چې له رېيبې سره نکاح يوازې په هغه صورت کې حرامه ګڼي چې د نکاح کوونکو په غېږ کې پالل شوې وي او له دې پرته ورسره په بل صورت کې نکاح روا ګڼي." (تدبر قرآن ۲/ ۲۷۶)

د دويمې خبرې لپاره قرآني الفاظ دادي: وَحَلاَئِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلاَبِكُمْ (او ستاسو د صلبي زامنو مېرمنې هم) په دې کې د صلبيت شرط په ځانګړي ډول د دې لپاره ايښودل شوی چې د هغه وخت په عربو کې خلګو د خپلې خولې د زامنو له مېرمنو سره نکاح ناروا بلله، قرآن په دې شرط سره وښوده چې يو څوک په خوله زوی بلل نه هغه زوی ګرزوي او نه په دې سره کوم حرمت را منځ ته کېږي. قرآن دا حقيقت په سورت الاحزاب کې داسې تشريح کړی دی:

وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللاَّئِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ "او نه ده ستاسو په خوله ياد شوي زامن

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أُمَّهَاتِكُمْ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءكُمْ أَبْنَاءكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ * ادْعُوهُمْ لآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوا آبَاءهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ (الأحزاب ۳۳: ۴، ۵)

ستاسو اولادونه ګرزولي، دا ټولي موږ خولې خبرې دي، الله حق وايي او سمې لارې ته موږ هدايت کوي، هغوی خپلو پلرونو ته منسوب کړئ همدا د الله په نزد انصاف ته نژدې ده نو که د هغوی پلرونه نه وي در معلوم، ستاسو ديني وروڼه او ملګري دي."

درېيمه خبره د وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ (او دا چې دوې خوندې په نکاح کې يو ځای کړئ) په الفاظو بيان شوې، که پردې هم غور وکړئ نو د ژبې اسلوب يې هماغه دي چې په رضاعت کې پرې بحث وشو، قرآن بين الاختين ويلي مګر ښکاره ده چې د ښځې او ميرمنې په تعلق کې د خور يو ځای کول له هغه فحش جوړوي نو له ترور سره د وريرې او له تورې سره د خورځې يو ځای کول هم ګواکې له مور سره د لور يو ځای کول دي ځکه نو له شک پرته د قرآن مدعا داده چې ان تجمعوا بين الاختين و بين المرأة و عمتها و بين المرأة و خالتها هغه همدا ويل غواړي مګر تر بين الاختين وروسته يې دا الفاظ د دې لپاره حذف کړل چې د ذکر شويو الفاظو دلالت د خپلې عقلي تقاضا له مخې پر محذوف داسې څرګند دی چې د قرآن په اسلوبو خبر هر زده کوونکی يې په فهم کې تېروتنه نه شي کولای. رسول الله ﷺ له همدې امله ويلي دي:

لا يجمع بين المرأة وعمتها و لا بين المرأة و خالتها. (الموطا، شمېره: ۱۶۰۰)

"نه يوه ښځه او د هغې ترور په نکاح کې يو ځای کېدای شي، نه يوه ښځه او تورې يې."

حدود او شرايط

وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاء ذَلِكُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَالِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا (النساء ۴: ۲۴)

"اوله دې پرته مېرمنې درته حلالې شوې چې د خپل مال په وسيله يې طلب کړئ، په دې شرط چې پاک لمنې واوسئ نه بد کاري کوونکي (نو که موتر دې وړاندې ولور نه وي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورکړی) نو کومه ګټه چې مو ترې اخیستې په بدل کې یې د یو فرض په توګه ولور ورکړئ، د دې فرض تر تاکلو وروسته چې په خپل منځي خوښه کوم څه وتاکئ نو په دې کې هیڅ بدي نه شته بې شکه الله علیم او حکیم دی."

په دې ایت کې چې د نکاح لپاره کوم حدود او شرایط بیان شوي دي، تفصیل یې دادی: لومړی خبره دا بیان شوې چې نکاح باید په مال یعني ولور سره وي، قرآن ویلي: د الله د تاکلې فریضې په توګه دا د نکاح لازمي شرط دی ځکه یې نو ویلي چې که تر دې وړاندې د کومې میرمنې ولور نه وي ورکړل شوی نو سمدستي دي ورکړل شي، د مهر تر تاکلو وروسته چې یې پر ځان فرض او د میرمنې حق وګڼي او په خپله خوښه مخته والی او وروسته والی یا کمی و زیادت وکړي نو اجازه ده، مګر دا خبره باید هر چا ته معلومه وي چې کوم ذات دا قانون بیان کړی هغه علیم او حکیم دی، د ده هره خبره پر نه تېروتونکي علم او ژور حکمت بنا ده، ځکه نو نه هیڅا ته د ده د قانون مخالفت جایز دی او نه باید څوک پکې د بدلون او ترمیم جرأت وکړي.

ولور څه شی دی؟ نارینه او میرمن چې د نکاح په وسیله د دایمي اوسېدو کوم تړون کوي په هغه کې د ډوډۍ او نفقې مسئولیتونه تل نارینه باروي او دا یې ننبه (Token) ده، په قرآن کې د دې لپاره د صدقې او اجر الفاظ کارول شوي یعني هغه قیمت چې ښځې ته د ملګرتیا په بدل کې د دې د اړتیا لپاره ورکړل شي. د نکاح او خطبې په څېر دا هم یو لرغونی دود دی چې د رسول الله ﷺ تر رسالت وړاندې په عربو کې دود وو او په بایبل کې یې هم دا حیثیت یاد شوی دی.[۴]

دا ولي ارزښت لري؟، استاذ امام امین احسن اصلاحي لیکلي:

"... له کومې معاملې سره چې د مال ورکولو شرط وي او د هغه مال ورکول صرف ځواني او احسان نه وي بلکې یوه فریضه وي ان که یاد هم نه شي نو بیا هم لازم ګڼل کېږي او د ښځې د رواجي حیثیت له مخې یې ورکول واجب وبلل شي نو هغه شرعا او عرفا یوه مهمه او سنجیده معامله ګرزي. هیڅ هوښیار انسان به په داسي معامله کي تر هغو د یوه اړخ کېدو جرأت ونه کړي چې تر سل ځله فکر وروسته پکې د شرکت مسئولیتونو د ادا کولو لپاره چمتو نه شي، د همدې مصلحتونو له کبله د ولور شرط لازمي شوی. د کومو کسانو نظر چې دې لوري ته نه دی اوښتی هغوی فکر کوي چې دې شرط ښځه د خرید و

[۴] پیدایښت ۳۴ : ۱۲، خروج ۲۲ : ۱۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فروخت درجې ته رسولې، دا فکر د نه درک نتيجه ده، دا شرط يو خبرداری دی چې که څوک د ښځې په حرم کې ګام ږدي نو په ښه غور سره دي کښېږدي، د نکاح او طلاق په معامله کې ټوکو ته ځای نه شته، دلته ټوکي هم د حقيقت حيثيت لري.

هشدار که ره بردم تيغ است قدم را "

(تدبر قرآن ۲ / ۲۷۸)

د ولور مقدا نه دی ټاکل شوی، د ټولنې دود او د خلګو پرېکړې ته يې خوشي کړی دی، د ښځې ټولنيز مقام او نارينه اقتصادي حالت ته په پام چې څومره وغواړي ټاکل کېدای شي.

په دې ايت کې دويمه خبره دا بيان شوې چې د نکاح لپاره پاک لمنې اړينه ده، هيڅ زاني دا حق نه لري چې له پاک لمنې ښځې سره نکاح وکړي او نه کومه زانيه مېرمن دا حق لري چې له پاک لمنې نارينه سره نکاح وکړي، مګر دا چې معامله محکمې ته نه وي رسېدلې او هغوی د توبې و استغفار په وسيله ځان له دې ګناه پاک کړي. دلته د مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسْفِحِيْنَ الفاظ د همدې شرط لپاره راغلي دي. دا خبره قرآن يو بل ځای داسې تشريح کړې:

الزَّانِي لاَ يَنكِحُ إِلاَّ زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لاَ يَنكِحُهَا إِلاَّ زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (النور ۲۴ : ۳)

" دا زاني دي نکاح نه کوي مګر له زانيې او مشرکې سره او له دې زانيې سره دي نکاح نه کوي مګر زاني او مشرک، دا پر مومنانو په هر حالت کې حرام دي. [۵]

په دې ايت کې هم څرګنده اشاره ده او له نورو اسماني صحيفو هم دا خبره معلومېږي چې زنا او شرک بېخي سره ورته دي، لکه څرنګه چې دا خبره د زغم نه ده چې په نارينه او ښځه کې يو يې له پردي سره پر بستر پرېږوزي، همدارنګه دا خبره هم د يوه مسلمان لپاره د زغم وړ نه شي کېدای چې د ده په کور کې له الله سره د يو بل عبادت وشي، بلکې دا د هغه په نزد له بل سره پر بستر تر پرېږوتلو ډېر د کرکې وړ شی دی. د زنا او شرک دا ورته والی

[۵] دا خبره په ځينو روايا تو کې هم په صراحت بيان شوې، وګورئ ابوداود، شمېره: ۲۰۵۱، ۲۰۵۲ د نور وضاحت لپاره وګورئ د همدې کتاب د حدود او تعزيراتو بحث.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فهمبداى شواى خو قرآن يو بل ځاى په صراحت سره بيان کړى دى:

وَلاَ تَنكِحُواْ الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُــؤْمِنَّ وَلأَمَــةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَــتْكُمْ وَلاَ تُنكِحُواْ الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ وَلَعَبْدٌ مُّــؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ (البقرة ٢ : ٢٢١)

"او له مشرکو ښځو سره تر هغو نکاح مه کوئ چې ايمان رانه وړي او (په ياد ولرئ چې) يوه مسلمانه مينځه تر مشرکې ازادې ښځې غوره ده که څه هم تاسو ته خوند درکوي او خپلې ښځې مشرکينو ته تر هغو په نکاح مه ورکوئ چې ايمان رانه وړي او (په ياد ولرئ چې) يو مسلمان مرپيى تر مشرک غوره دى که څه هم ستاسو خوښ وي."[٦]

يهود او نصارا هم د علم او عمل دواړو له مخې د شرک په ناولتيا لړلي وو مګر څرنګه چې له دې سره -سره د توحيد منونکي وو ځکه نو الله ورسره دومره رعايت وکړ چې د دوى له پاک لمنو مېرمنو سره مسلمانانو ته د نکاح اجازه ده، الله ويلي:

وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَــابَ مِــن قَبْلِكُمْ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْــرَ مُسَافِحِينَ وَلاَ مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ (المايده ٥ : ٥)

"او تر تاسو د وړاندينيو اهل کتابو پاک لمنې مېرمنې هم (حلالې دي) کله چې يې تاسو ولور ورکړئ، په دې شرط چې تاسو هم پاک لمنې غواړئ، نه بدکاري کوئ او نه پټه اشنايي."

د دې ايت له سياق څخه ښکاري چې دا اجازه هغه وخت ورکړل شوه چې د توحيد په معامله کې هيڅ ابهام پاتې نه شو او له هره پلوه يې پر شرکي تهذيب غلبه ومونده له، د دې لپاره بايد د ايت په شروع کې د اليوم لفظ ته پام وشي. له دې څخه ښکاري چې په دې اجازه کې يقينا د وخت حالاتو هم دخل درلود، ځکه نو د دې خبرې پوره هيله وه چې که مسلمانان له دې ښځو سره نکاح وکړي نو هغوى به تر اغېزمنې شې او په دې سره به د شرک او توحيد تر منځ نه يوازې تکر پيدا نه شي بلکې کېداى شي چې هغوى هم په ايمان

[٦] د سورت الممتحنه (٦٠) په لسم نمبر ايت کې چې له کومو کافرانو سره نکاح منعه بلل شوې هم يې علت د هغوى شرک وو، له ايت څخه ښکاري چې په دې کې له کافرانو څخه مراد د عربو مشرکين دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او اسلام مشرفې شي.

نو له دې اجازې څخه د ګټې اخیستلو پر مهال په دې زمانه کې هم باید دې شي ته پاملرنه وشي.

همدا راز باید داخبره هم روښانه شي چې نکاح د کومې کورنۍ اداري د را منځ ته کولو لپاره کېږي د هغې د حرمت تقاضا داده چې د مورو پلار او سرپرستانو په موجودیت او د هغوی په خوښه وشي. په دې کې شک نه شته چې د نکاح پربکړه اصلا نارینه او ښځه کوي او د دوی د ښکاره ایجاب و قبول له وجې را منځ ته کېږي، مګر که د ولیانو اجازه ورسره یو ځای نه وي نو باید معقول علت یې څرګند شي. که دا نه وي نو د ټولنې اجتماعي نظم دا حق لري چې دا ډول نکاح ونه منې.[7] د لا نکاح الا بولی[8] یعنې د ولي له اجازې پرته هیڅ نکاح نه شته او په دا ډول نورو روایاتو کې همدا خبره بیان شوې ده، څرنګه چې په دې معامله کې د میرمنې بغاوت د کورنۍ لپاره د ډېر سارې ګڼې -وډې سبب ګرزي ځکه نو رسول الله ﷺ په خپل قول او عمل سرپرستانو ته څرګنده کړې چې په دې اړه دې د هغوی له اجازې پرته کومه پربکړه نه کوي او که وشي نو ښځه یې ردولای شي.

د ابو هریره ﷺ روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: د کونډې نکاح دې د هغې له مشورې پرته نه کېږي او د پېغلې اجازه ضروري ده، خلګو وپوښتل چې د هغې اجازه څه ډول وي؟. ده وویل: که چوپه پاتې شي نو همدا یې اجازه ده.[9]

ابن عباس ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وویل: کونډه خپله پربکړه په خپله کولای شي او له پېغلې باید اجازه واخیستل شي.[10]

د بنت خزام په اړه روایت دی چې دا کونډه شوه نو پلار یې نکاح وکړه، د دې خوښه نه شوه رسول الله ﷺ ته راغله نو هغه یې د نکاح ختمولو اجازه ورکړه.[11]

---

[7] مګر بیا هم د دې معنا دا نه ده چې که نکاح شوې وي نو هغه دې باطله وګڼي او په نتیجه کې چې یې څه شوي هغه ناروا وبلل شي.

[8] ابوداود، شمېره: ۲۰۸۵

[9] بخاري، شمېره: ۶۹۶۸

[10] مسلم، شمېره: ۳۴۷۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دندې او حقوق

(۱)

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّهُ وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُواْ عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا (النساء ۴ : ۳۴)

" نارينه پر ښځو قوام دي ځکه چې الله يو پر بل فضيلت ورکړی او له دې وجې چې نارينه خپل مال لګوي، نو نېکې ښځې امر منونکې وي او رازونه ساتي ځکه الله هم د رازونو ساتونکی دی او له کومو څخه چې تاسو د بغاوت وېره لرئ هغوی ته نصيحت وکړئ، په بستر و کې يې يوازي پرېږدئ او (که يې بياهم ونه مني) نو سزا ورکړئ، که يې اطاعت وکړ نو پرې د ملامتيا لار مه لټوئ بې شکه الله ډېر لوړ او لوی دی."

د دې ايت په پورتني پرګراف کې الله دا حقيقت څرګند کړی چې د انسان لپاره د هڅو او سيالۍ اصلي ډګر د هغه طبعي ځانګړتياوې نه دي ځکه د طبعي ځانګړتياوو له مخې واقعا ځينې پر ځينو ترجيح لري، الله ځينې له ذهني، ځينې له جسماني، ځينې له اقتصادي او ځينې له ټولنيزو لوړتياوو سره پيدا کړي او نوريې د هغوی په پرتله ټيټ کړي دي. د ښځې او نارينه معامله هم همداسي ده، د دوی د ملګرتيا په تړاو کې يې يو فاعل او بل منفعل ګرزولی دی. هر سړی پوهېږي چې که فعليت په څه ډول غلبې، سختي د حکم کولو تقاضا کوي انفعاليت په هماغه ډول نرمي، نزاکت او اثر قبلول غواړي. که له دې پلوه وګورو نو هر يو يې پر بل ترجيح لري، دا د دوی طبعي صفات دي. که په دې کې د سيالۍ او تريوه بل د وړاندې کېدو چلند خپل شي نو دا د فطرت پر خلاف جګړه ده او نتيجه به يې له دې پرته بل څه نه وي چې بالاخره به دواړه پر خپل هلاکت ويرکوي.

الله ويلي چې د دې پر ځای يو بل ميدان هم شته او هغه د تر لاسه کېدونکو صفاتو ډګر دی، دا د نېکۍ، تقوا، عبادت، رياضت، علم او اخلاقو ميدان دی. د دې لپاره قرآن ځای پر ځای د ايمان او نېک عمل هر اړخيز تعبير غوره کړی دی، په حقيقت کې د سيالۍ او تر

---

[۱۱] بخاري، شمېره: ۵۱۳۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو بل د مخته کېدو ډګر همدا دی، په دې کې پر هیچا د وړاندې تګ بندیز نه شته بلکې په دې میدان کې سیالي دومره غوره ده لکه د طبعي صفاتو په میدان کې چې ناولې ده. که نارینه وړاندې شونو هم به د خپلو هڅو مېوه ترلاسه کړي او که ښځه وړاندې شوه نو هم به د خپلو منډو -ترړو ثمره ومومي. د ازادې، مینځې، ازاد سړي، مړیې، شریف، تیټ، ښکلي، بد شکله، لیدونکي او نایینا ټولو لپاره دا ډګر په یوه ډول پرانیستی دی، که پر نورو د فضیلت غوښتنه موجوده وي نو انسان باید په دې ډګر کې د الهي فضل په لټون پسې ووزي. په ناسم ډګر کې د خپلو خواږیو په بربادولو به له بې ځایه ټکر او بې ګټو شخړو پرته بل هیڅ ترلاسه نه کړي، همدا د حوصلې ازمویلو او ارمان کښلو مناسب میدان دی، که څوک ورځې نو همدې ته دې ورکښته شي، الله ویلي:

وَلاَ تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ اللّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُواْ اللّهَ مِن فَضْلِهِ إِنَّ اللّـهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا (النساء ۴ : ۳۲)

" او الله چې پرې یوه بل ته کوم فضیلت ورکړی د هغه غوښتنه مه کوئ، نارینه وو چې څه کړي دوی ته به یې هم برخه ورکړل شي او ښځو چې څه کړي دوی به هم خپله حصه ترلاسه کړي، هو! له الله د هغه فضل وغواړئ یقینا الله په هر څه پوهېږي."

دې لاربښوونو ته د اصولي حیثیت په ورکولو الله په یادایت کې د کورنۍ د تنظیم په اړه خپل قانون بیان کړی دی، که غور وشي نو د کورنۍ اداره هم یو وړوکی غوندې دولت دی. لکه څرنګه چې هر دولت د خپل دوام او بقا لپاره یو مشر غواړي همدا راز دا دولت هم یو مشر غواړي، په دې دولت کې د مشرتوب مقام نارینه ته هم ورکول کېدای شي او ښځې ته هم. قرآن ویلي چې دا مرتبه نارینه ته ورکړل شوې، د دې لپاره په ایت کې د قَوَّامُوْنَ عَلَى النِّسَاءِ تعبیر غوره شوی دی، په عربي ژبه کې چې تر قَامَ وروسته علی راشي نو پکې د ساتنې، ځارنې، سرپرستۍ او کفالت مفهوم پیدا کېږي. همدا د مشرتوب حقیقت دی او دا هر څه ورسره لازم او ملزوم دي.

قرآن د خپلې دې پریکړې په اړه دوه دلایل وړاندې کړي دي، استاذ امام یې په وضاحت کې لیکي:

" یو دا چې الله نارینه ته پر ښځې فضیلت ورکړی، نارینه په ځینو صفاتو کې پر ښځه څرګنده لوړتیا لري او پر بنسټ یې د دې لایق دی چې د مدیریت دنده ده ته وسپارل شي،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مثلا په ده کي چې د ساتنې او دفاع کومه وړتیا او د کسب ولاس و پنسو وهلو کوم استعداد و همت دی په ښځه کي نه شته. باید په یاد ولرو چې دلته بحث پر عام فضیلت نه دی بلکي پر هغه فضیلت دی چې د نارینه د مدیریت وړتیا ثابتوي. ښځه هم له ځینو اړخونو فضیلت لري خو هغه له مدیریت سره نه دي تړلي، مثلا مېرمن چې د کور د سمبالولو او ماشومانو د روزنې و ځارنې کومه وړتیا لري نارینه یې نه لري. له همدې کبله قرآن دلته دا خبره د ابهام په ډول کړې چې ور څخه د نارینه او ښځې د یوه نه یوه اړخ فضیلت معلومېږي.[۱۲] مګر د مدیریت له پلوه د نارینه د فضیلت اړخ راجح دی.

دویم دا چې نارینه پر ښځه خپل مال لګولی یعني د ښځې او ماشومانو د اقتصاد او کفالت ټول مسئولیت یې پر خپل سر اخیستی، څرګنده ده چې نارینه دا مسئولیت د تصادف او تبرع له مخې نه دی پورته کړی، بلکي له دې وجې یې منلی چې همدا یې مسئولیت دی، دی یې وړتیا لري او تر عهده یې وتلای شي." (تدبر قرآن ۲ / ۲۹۱)

د مېړه او مېرمنې په اړیکو کي چې د مېړه تر قوام بللو وروسته د کورنۍ نظم د اصلاح او فلاح د ساتنې لپاره له ښځو د څه شي غوښتنه شوې هغه دادي:

۱) هغوی باید له خپل مېړه سره د توافق او امر منلو چلند غوره کړي.

۲) باید د مېړه رازونه او عزت و ناموس وساتي.

لومړی خبره خو وضاحت ته اړتیا نه لري، ځکه دولتي نظم وي او که د یوې اداري، نو له اطاعت او توافق پرته د یوې ورځې لپاره هم دوام نه شي کولای. همدا د نظم فطرت دی، که ونه منل شي نو نظم نه بلکي ګډ وډي او انتشار به وي چې په دې سره هیڅ اداره هم نه شي را منځ ته کېدای.

پاتي شوه دویمه خبره نو د دې لپاره قرآن د حافظات للغیب تعبیر غوره کړی، په عمومي ډول یې معنا په غیب کي په ساتنه شوې مورد راز ساتنې په معنا اخیستې او زما په اند یې همدا صحیح مفهوم دی. استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کي لیکلي:

"... د دې معنا د کولو یوه وجه خو داده چې د غیب لفظ د راز په مفهوم مشهور دی، دویمه وجه یې داده چې دلته د کلام ترکیب داسي دی چې د نه موجودیت د معنا اخیستلو

---

[۱۲] ځکه نو د اولاد او مور و پلار په تړاو کي پر همدې بنسټ مورته پر پلار فضیلت ورکړل شوی دی. په دې اړه به د قرآن نظر وړاندې په خپل ځای کي له تفصیل سره بیان کړو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ګنجایش نه شته، درپیم دا چې د نارینه او ښځې تر منځ د رازونو د ساتنې مسئله تر ټولو مهمه ده، دوی دواړه د یوه بل طبعي امانت ساتونکي دي، په ځانګړې ډول د ښځې مرتبه داده چې د نارینه د بد ګمو او ښېګڼو، د هغه د کورنۍ، شتمنیو، جایدادونو او عزت وناموس هر څه یوه داسې راز داره وي چې که یې د رازونو پرده وشلوي نو نارینه ببخې بربنډ پاتېږي، ځکه نو قرآن په خاصه توګه دا صفت ذکر کړی دی. له دې سره چې د حَفِظَ اللّٰهُ کومه زیاتونه ده له دې څخه یې هدف د هغه صفت د لوړ مقام ښودل دي چې د هغې له دې صفت سره د الهي صفت یوه رڼا ده، ځکه الله هم د خپلو بندګانو رازونه ساتلي دي. که یې د خلګو پرده څیرلې وای نو چا به د مخ څرګندولو وړتیا درلوده؟."(تدبر قرآن ۲/ ۲۹۲)

قرآن ویلي چې د نېکو مېرمنو رویه تل همدا وي، له دې څخه دا خبره په خپله څرګنده شوه چې کومې مېرمنې د بغاوت او سرکښۍ لاره نیسي او یا د کور رازونه افشا کوي هغوی هیڅکله د الله په نزد نېکانې نه دي، مګر که یوه ښځه دا ډول بغاوت وکړي نو ایا نارینه تادیب ورکولای شي؟. قرآن یې په اثبات ځواب ورکړی دی، د دې لپاره په ایت کي د نشوز لفظ راغلی دی چې د سرپورته کولو په معنا دی، مګر تر ډېره د هغې سرکښۍ او بغاوت لپاره کارېږي چې یوه ښځه یې د خپل مېړه په مقابل کي څرګندوي. دا لفظ د ښځې د هرې تېروتنې، غفلت، بې پروایي یا خپل ذوق، رایې او شخصیت څرګندولو د فطري غوښتنې لپاره نه کارېږي بلکي د هغه دریځ لپاره کارېږي چې د نارینه مدیریت وننګوي او د کور د نظام دړې -وړې کولو ته چمتو شي. الله ویلي: که خبره تر دې ځایه ورسېږي نو نارینه د خپل کور د ساتلو لپاره دړې لارې غوره کولای شي:

لومړی دا چې ښځې ته دي نصیحت وکړي، د دې لپاره په ایت کي د وعظ لفظ راغلی دی چې تر یوه بریده د ترټنې او زجر معنا هم درلودلای شي.

دویمه دا چې له هغې سره دي د بې تکلفه ناستې -پاستې تګلاره پرېږدي څو هغه وپوهېږي چې که خپل چلند بدل نه کړي نو بد نتایج درلودای شي.

درېیمه دا چې ښځې ته بدني سزا ورکړي، څرګنده ده چې دا سزا دومره کېدای شي لکه یو استاذ چې یې خپلو شاګردانو او یا یې پلار خپلو اولادونو ته ورکوي. رسول الله ﷺ یې حد د غیر مبرح[۱۳] په الفاظو سره تاکلی دی، معنا داسې سزا دي نه ورکوي چې تلپاتی اثر پرېږدي. د ایت د بیان له ډول څخه ښکاري چې په دې درو سرو کي باید ترکیب او

[۱۳] مسلم، شمېره: ۲۹۵۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تدریج ته پام وشي یعني تر لومړي وروسته دویم او تر دویم وروسته درېیم صورت باید هغه وخت غوره شي چې سړی ډاډه شي خبره نه سمبړي او د راتلونکي ګام له اخیستلو پرته چاره نه شته. همدا د نارینه د تادیبي اختیار اتو وروستی حد دی، قرآن ویلي چې که په دې سره اصلاح شي نو باید د ښځې پر خلاف د انتقام لار ونه لټول شي، الله د (ان الله کان علیا کبیرا) په الفاظو خبرداری ورکړی چې تر تولو لوړ او ستر الله دی، هغه چې د اسمانو او ځمکې له ملکیت سره -سره د بندګانو تر سرکښي او بغاوت تېرېږي او تر توبې و اصلاح وروسته یې نافرماني بخښي نو د ده بندګان هم باید پر نورو د اختیار په موندو تر خپلو حدودو تجاوز ونه کړي.

(۲)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ النِّسَاء كَرْهًا وَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلاَّ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا (النساء ۴ : ۱۹)

"اې مومنانو! تاسو ته روا نه ده چې په زور د ښځو وارثان شئ او نه دا روا ده چې څه مو ورکړي د یوې برخې د ببرته اخیستلو لپاره یې په تکلیف کړئ مګر په هغه صورت کې چې ښکاره بد کاري وکړي او له دوی سره ښه چلند کوئ، ځکه که ستاسو خوښې نه وي نو کېدای شي چې تاسو کوم څه نه خوښوئ او الله په هغه کې ستاسو لپاره ډېر خیر پیدا کړي."

د ښځو د حقوقو او له دوی سره د ښه چلند بیان دی.

لومړی خبره یې دا کړې چې ښځې شتمني او حیوانات نه دي چې چا ته ور پاتې شي هغه یې واخلي، دوی خپلواک شخصیت لري، د خپلې ارادې درلودونکې دي او په الهي حدودو کې دننه د خپلې پرېکړې لپاره په بشپړ ډول ازادې دي. دې هدایت ته ځکه اړتیا پېښه شوه چې د عربي جاهلیت په ځینو قومونو کې دا رواج وو چې د مړه شوي د جایداد او مال و ثاروپو په څېړیې مېرمنې هم وارثانو ته پاتېدې او که به یې زامن درلودل نو له څه تردد پرته به یې ورسره د مېرمنې او مېړه اړیکې ساتلې. قرآن دا ناوړه دود له منځه یووړ او څرګنده یې کړه چې ښځې خپلې پرېکړې ته پوره ازادې دي، د دوی له خوښې پرته پرې هیڅ شی مسلط کېدای نه شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويمه خبره يې دا وکړه چې که يوه ښځه د چا خوښه هم نه وي نو دخپل ورکړي مهر د بيرته اخيستلو لپاره يې هيڅ مومن ته تنګول او زورول روا نه دي، دا ډول چلند صرف په هغه صورت کې ترسره کېداى شي چې ښکاره بد کاري وکړي. که يې دا ډول کوم کار نه وي کړى، خپله وفاداري يې ساتلې وي او د عفت ژوند کوي نو صرف له دې امله يې زورول چې مېرمن يې خوښه نه ده د عدل او انصاف او مېرانې و شرافت بېخي ضد چلند دى. بې شکه اخلاقي فساد دنفرت وړ شى دى، خو صرف د شکل نه خوښولو يا کوم ذوق د نه موافقت له کبله له غوره ټولنيزو حقوقو څخه بې برخې کېداى نه شي.

درېيمه خبره يې دا کړې چې له ناخوښۍ سره - سره ورسره داسي چلند وکړئ چې د شرافت وړ وي، له عقل و فطرت سره سم پر رحم او کرم بنا وي او په هغه کې د عدل وانصاف غوښتنو ته پام شوى وي. د دې لپاره په ايت کې د وعاشروهن بالمعروف الفاظ راغلي، په قرآن کې د معروف لفظ د خير ښېګڼې د چلند او شرافت د دود لپاره استعمالېږي، دلته يې هم همدا معنا ده. مطلب دادى چې ښځه مو خوښه وي او که نه له مومن بنده څخه د هغه د رب غوښتنه داده چې په هر حال کې د نېکۍ او خير چلند وکړي او په انساني ټولنو کې چې تل د شرافت او درناوي کوم انساني چلند موجود دى له هغه يو وېښته کوږ نه شي. الله ويلي: که نارينه له ناخوښۍ سره - سره ورسره ښه چلند کوي نو کېداى شي چې په دې وسيله ورته د دنيا او اخرت د ډېرو برکتونو دروازې خلاصې کړي.

د وروستۍ خبرې لپاره چې په ايت کې کوم الفاظ راغلي استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کې ليکلي دي:

" دلته که څه هم د عسى لفظ استعمال شوى چې په عربي کې يوازې د اميد او هيلې څرګندولو لپاره راځي مګر له عربيت سره لږ اشنا کس پوهېږي چې په داسي ځايونو کې د الله له خوا يو ډول وعده نغښتې وي، د دې اشارې ترشا چې کوم حقيقت پټ دى هغه دادى چې کوم کسان د ظاهري شکل او صورت په پرتله د غوره اخلاقو او انساني ارزښتونو د اهميت په خاطر خپل احساسات قربان کړي له هغوى سره د الله له خوا د ډېر خير وعده ده. کومو کسانو چې د دې وعدې لپاره لوبي کړې دي هغوى شاهدي ورکوي چې دا خبره سل په سلو کې حق ده او تر الله د چا خبره ډېره رښتنې کېداى شي؟."

(تدبر قرآن ۲ / ۲۷۰)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له دې څخه معلومه شوه چې کله له ناخوښتیا سره - سره د الله غوښتنه داده نو په عامو حالاتو کې به له مېرمنې سره ناوړه چلند څومره د الهي ناراضۍ سبب وي؟.

رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې ویلي:

ان لكم من نسائكم حقا و لنساءكم عليكم حقا فاما حقكم على نسائكم فلا يطئن فرشكم من تكرهون و لا يأذن في بيوتكم لمن تكرهون، الا و حقهن عليكم ان تحسنوا اليهن في كسوتهن و طعامهن.

(ابن ماجه، شمېره: ۱۸۸۱)

" ښځې پر تاسو حق لري او تاسو پر دوی حق لرئ، ستاسو حق خو دادی چې ستاسو ناخوښه شخصیت ته مو پر بستره نه د پښې ایښودلو اجازه ورکړي او نه یې ستاسو کور ته را پرېږدي، خبردار! د هغوی حق دادی چې (له خپل وس سره سم) دوی ته ښه خوراک او ښه پوښاک ورکړئ."

د مېرمنو شمېر

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ * وَآتُواْ النِّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا*

(النساء ۴: ۳، ۴)

" او که اندېښنه وي چې د یتیمانو په اړه به انصاف ونه کړای شئ نو (د هغوی) کومې (مندې) چې تاسو ته روا وي له هغو دوې - دوې، درې - درې او څلور - څلور مېرمنې په نکاح کړئ، نو که وېره وي چې (د دوی تر منځ به) انصاف ونه کړئ نو یوه وکړئ، یا هغه مینځې چې ستاسو په ولکه کې دي، په دې سره ډېره نژدې ده چې له بې انصافۍ وساتل شئ او دې مېرمنو ته یې د مهر په طریقه خپل ولور ورکړئ او که دوی په خوښي یو څه در پرېږدي نو په مزه یې خوړلای شئ."

د دې ایت مخاطبین د یتیمانو سرپرستان دي، هغوی ته لارښوونه شوې چې که وېره لري د یتیمانو د مالونو، جایدادونو او حقوقو واقعي ساتنه اسانکارنه دی او په یوازي سر یې ښه نه شي ترسره کولای نو په کار ده چې د دوی کومې مندې ورته روا وي نو له هغو سره دي نکاح وکړي، که دوی په دې مسئولیت کې ورسره ونه وای خلي نو په ښه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

طريقه به يې پوره کړای شي، ځکه له يتيمانو سره چې د هغوی مندې د زړه کوم تعلق درلودای شي او په څه ډول يې حقوق ساتلای شي کوم بل څوک يې نه شي ترسره کولای.

له دې څخه معلومه شوه چې دا ايت اصلا د څو مېرمنو په اړه د کوم حکم بيانولو لپاره نه دی نازل شوی بلکې د يتيمانو مصلحت ته په پام د ګڼو مېرمنو له هغه رواج څخه د ګټې اخيستلو د هڅونې لپاره نازل شوی چې په عربو کې له وړاندې موجود وو. قرآن په نورو ځايونو کې په څرګنده دا اشاره کړې چې انسان له کوم فطرت سره پيدا شوی د هغه له مخې د کورنۍ اداره له خپلو اصلي ښېګڼو سره د يوه نارينه او ښځې د نکاح په وسيله را منځ ته کېدای شي ځکه نو ځای پر ځای دا بيان دی چې د انسانيت پيل له ادم عليه السلام څخه شوی او الله د ده لپاره يوه مېرمن پيدا کړې وه. دا د تمدن ارتياوې او د انسان رواني، سياسي او ټولنيز مصلحتونه دي چې پر بنسټ يې د ګڼو مېرمنو رواج لرې يا ډېر په هره ټولنه کې موجود پاتې شوی او د همدې رعايت له مخې الله په هيڅ شريعت کې ممنوع نه دی بللی، دلته هم په دا ډول يوه مصلحت کې له هغه څخه د ګټې اخيستنې لورته لارښوونه شوې، مګر الله ورسره دوه شرطونه يادې کړي:

يو دا چې د يتيمانو د حقوقو د ساتنې په څېر يو مصلحت لپاره هم بايد د يو چا په نکاح کې د مېرمنو شمېر تر څلورو زيات نه وي.

دويم دا چې د مېرمنو تر منځ د انصاف شرط يو داسې محکم شرط دی چې که يې انسان پوره کولای نه شي نو د دا ډول مهم ديني مصلحت پر بنسټ هم ورته تر يوې ډېرې نکاحوې نه دي روا.

د دې انصاف حدود څه دي؟، که له دې څخه مراد د زړه ميلان او په ظاهري چلند کې پوره مساوات وي نو دا د هيڅا لپاره ممکن نه دی، که څوک د خپلې خوښې يوه مېرمن لري او له بلې ښځې سره صرف په دې وجه نکاح کوي چې د هغې د يتيمو ماشومانو حقوق په سم ډول ادا شي نو ناممکنه ده چې دی دي له دواړو مېرمنو سره يو ډول مينه او يو ډول چلند وکړای شي. دا پوښتنه د قرآن د نزول په زمانه کې پيدا شوې وه او هغه وړاندې د همدې سورت په (۱۲۷ - ۱۳۰) ايا تونو کې ځواب ورکړی دی.

لومړی وضاحت يې دا کړی چې که نکاح د يتيمانو د حقوقو د خوندیتوب لپاره شوې وي او که د بل هدف لپاره ولور او عدل د ښځې حق دی او لکه څرنګه چې په درېيم نمبر ايت کې ويل شوي بايد په ډېره خوښي سره ادا شي، بيا يې ښځې ته نصيحت کړی چې که

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه وړه لري د ښځو تر منځ د برابرو حقوقو د ټینګار په نتیجه کي به نارینه ورسره د بې پروایي چلند وکړي، یا به تر ې د ځان خلاصولو هڅه وکړي نو دا هیڅ پروا نه لري چي دواړه په ګډه یوه توافق ته ورسېږي. الله ویلي:

وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلاَ جُنَاْحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ وَأُحْضِرَتِ الأَنفُسُ الشُّحَّ وَإِن تُحْسِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ اللّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا

(النساء ۴ : ۱۲۸)

"او که یوه مېرمن له خپل مېړه څخه د تېري یا توجو نه کولو وېره ولري نو په دې کي هیڅ بدي نه شته چي دواړه خپل منځي روغه وکړي (په دې معامله کي) روغه غوره ده (حقیقت دادی چي) حرص د خلګو خاصیت دی، هو! که تاسو ښه چلند غوره کړئ او له الله وویرېږئ نو (مطمئن اوسئ چي) تاسو څه کوئ الله په بشپړه ډول پرې خبر دی."

استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کي لیکي:

"... یعني ښځه د خپل ولور، عدل او نفقې په معامله کي مېړه ته داسي امتیازات ورکړي چي د اړیکو غوڅولو اندېښنه له منځه ولاړه شي. الله ویلي: سوله او جوړجاړی غوره دی، ځکه د مېړه او مېرمني تر منځ یو ځل د اړیکو تر را منځ ته کېدو وروسته د دواړو بریا په همدې کي ده چي دوام وکړي، که څه هم قربانۍ ته اړتیا ولري. ویلي یې دي چي حرص د انساني طبیعت عامه ناروغي ده چي پر خپل منځي اړیکو اغېز کوي او علاج یې همدا دی چي یا دواړه غاړې قربانۍ ته چمتو شي او که د یوې خوا ناروغي نا علاجه وي نو دویم لوری قرباني ورکړي. لنډه دا چي که د نکاح د اړیکو ساتنې لپاره ښځه قرباني ورکولو ته هم اړه شي نو په دوام کي یې خیر دی. تر دې وروسته یې د (وان تحسنوا و تتقوا) په الفاظو نارینه تشویق کړی چي د سر ښندنې، قربانۍ او احسان و تقوا ډګر اصلا له همده سره مناسب دی. دی دي خپله مېړانه او سخاوت وښیي، له ښځې څخه د اخیستلو پر ځای دي هغې ته ورکړي، الله د هر یوه په عمل خبر دی او د هرې نېکۍ به پوره بدله ورکړي." (تدبر قرآن ۲ / ۳۹۹)

تر دې وروسته یې د عدل حدود داسي تشریح کړي دي:

وَلَن تَسْتَطِيعُواْ أَن تَعْدِلُواْ بَيْنَ النِّسَاء وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلاَ تَمِيلُواْ كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا

"او که تاسو وغواړئ نو هم د ښځو تر منځ پوره عدالت نه شئ کولای ځکه نو همدا بس ده چي یوه لور ته بېخي کاږه نه شئ چي هغه بله ځوړنده

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِن تُصْلِحُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ اللّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا * وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّهُ كُلاًّ مِّن سَعَتِهِ وَكَانَ اللّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا* (سورة النساء ۴ : ۱۲۹، ۱۳۰)

پاتي شي، هو! كه اصلاح وكړئ او له الله ووپرېږئ نو الله بخښونكى، شفقت يې ابدي دى او كه (مېرمن و مېړه) دواړه (بالاخره) سره بېل شي نو الله به هر يو په خپله پراختيا بې نيازه كړي، الله د ډېري پراختيا څښتن او د ستر حكمت خاوند دى."

له دې څخه معلومه شوه چې قرآن د مېرمنو تر منځ د كوم عدالت غوښتنه كړې د هغه معنا دا نه ده چې په ظاهري چلند او د زړه په مينه كې د هيڅ ارخ توپير پاتي نه شي، دا ډول عدالت د هيڅا په وس پوره نه دى او كه يې څوك وغواړي هم يې نه شي كولاى. انسان د زړه پر ميلان كنټرول نه لري ځكه نو د قران غوښتنه صرف داده چې مېړه دي د يوې مېرمنې لور ته داسي نه كږېږي چې هغه بالكل داسي ځورنده پاتي شي لكه مېړه چې نه لري له همدې وجې يې ويلي چې په چلند او حقوقو كې له خپله لوري د توازن ساتلو هڅه وكړي، كه كوم حق تر پښو لاندې شي او يا كوتاهي وشي نو سمدستي يې په جبيره كولو خپله رويه اصلاح كړي او له الله ووپرېږي. كه ستاسو له دې هڅې سره -سره كومه تېروتنه كېږي نو الله بخښونكى دى او رحمت يې پر هر څه احاطه كړې ده.

په پاى كې يې دا خبره هم څرګنده كړې چې د كور ژغورلو هڅې ضروري دي، د الله غوښتنه همدا ده خو كه مو حالات مجبور كړي او بېلتون را منځ ته شي نو بايد له الله ښه هيله ولرئ، دى رزق وركوونكى دى او په ستونزو و تكليفونو كې د خپل بنده لاس هم نيسي. دى به مېړه او مېرمن دواړه په خپل فضل مستغني كړي، استاذ امام ليكي:

"... مطلب دا چې د دې اړيكې د ساتلو لپاره له مېرمنې او مېړه دواړو څخه د قربانۍ او هڅو غوښتنه شوې، مګر دا بايد د غيرت او شخصيت له ساتنې سره ترسره شي، لكه څرنګه چې په خاوند او مېرمن دواړو كې هر يوه ته تكبر ناروا دى همدا راز تر ځانګړې حد زيات پشار هم ناروا دى. كه څه هم الفاظ عام دي مګر د كلام سياق پر دې دليل دى چې په دې كې يې ښځې هڅولې څو تر وسه د زغم هڅه وكړي او د مصلحت لپاره قرباني هم وركړي. خو دا زړورتيا دي ولري چې كه له هڅو سره -سره د توافق صورت نه را منځ ته كېږي نو الله رازق دى او هغه به يې د خپل سخاوت له خزانې څخه مستغني كړي."

(تدبر قرآن ۲ / ۴۰۰)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دلته بايد دا خبره څرګنده شي چې رسول الله ﷺ د وروستي رسول په توګه د خپلو مسئوليتونو له ځينو تقاضاوو څخه د راوتلو لپاره د ګڼو مېرمنو له دې دوو شرايطو مستثنا وو. کله چې يې په ټولنه کې د مرېيانو د رتبې لوړولو لپاره د خپلې تر ورد لور نکاح له خپل ازاد کړي مرېيي او متبنى زيد سره وکړه او دواړه سره توافق ته ونه رسېدل نو د هغې د زړه تر لاسه کولو او د متبنى له مېرمنې سره د نکاح د حرمت په اړه د جاهلي تصور بېخي ختمولو لپاره ورته الله امر وکړ چې له هغې سره په خپله نکاح وکړي. حال دا چې تر دې وړاندې يې څلور مېرمنې په نکاح کړې وې، د هغې او مېړه تر منځ چې کوم حالت را پيدا شوی وو ده په خپله احساسوله چې بالاخره به همدا سي کېږي مګر په څرګنده يې نه ويل. الله دا خبره بيان کړه او دې يې متوجې کړ چې د الله رسول د خپلو دندو په معامله کې د خلګو د غبرګون پروا نه ساتي، ځکه نو له هغې سره د نکاح اعلان په خپله د الله له خوا په قرآن کې وشو. په سورت الاحزاب کې دي:

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لاَ يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولاً (الأحزاب ٣٣ : ٣٧)

" او (اې رسوله!) دريادکړه چې تا هغه سړي ته ويلا - ويا ويل چې تا هم پرې نعمت کړی او الله هم چې خپله مېرمن مه پرېږده له الله وويرېږه او په خپل زړه کې دي هغه خبره پټه کړې وه چې الله يې څرګنده وونکی وو، له خلګو وېرېدې په داسي حال کې چې الله د وېرېدو حقدار دی. کله چې زيد له هغې سره خپل تړاو ختم کړ نو موږ تا ته په نکاح درکړه، څو مسلمانان د متبنى زامنو د مېرمنو په معامله کې له تنګي سره مخ نه شي، هغه وخت چې تعلق يې ورسره غوڅ کړی وي او د الله دا امر عملي کېدونکی وو."

کله چې دا اعلان وشو نو الله د رسول الله ﷺ لپاره په همدې سورت کې د نکاح او طلاق يو تفصيلي قانون هم بيان کړ چې پکې د ګڼو مېرمنو پورتنۍ شرايط تر پورته شول، مګر ځينې داسي بنديزونه يې ورباندې ولګول چې د عامو مسلمانانو لپاره نه شته. الله ويلي:

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللاَّتِي " موږ درته ستا هغه مېرمنې حلالې کړې، اې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالاَتِكَ اللاَّتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلاَ يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا * تُرْجِي مَن تَشَاء مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَن تَشَاء وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكَ ذَلِكَ أَدْنَى أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلاَ يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا * لاَ يَحِلُّ لَكَ النِّسَاء مِن بَعْدُ وَلاَ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلاَّ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيبًا* (سورة الأحزاب ٣٣ : ٥٠ - ٥٢)

رسوله! چې تا يې مهر ورکړی او (همدارنګه) هغه (کورنۍ) مېرمنې چې (ستا د کوم جنګي اقدام په نتيجه کې) الله په ولکه کې درکړې وي او ستا د اکا و ترور لونې، د ماما او خاله هغه لونې چې له تا سره يې هجرت کړی او هغه مسلمانې مېرمنې چې خپل ځان نبي ته هبه کوي، خو نبي ورسره نکاح وغواړي. دا حکم له نورو مسلمانانو جلا ستا لپاره خاص دی، موږ ته هغه څه معلوم دي چې پر دوی مو د مېرمنو او مينځو په اړه فرض کړي دي (ځکه نو دا يوه ځانګړتيا ده) چې (د خپلو مسئوليتونو په ترسره کولو کې) پر تا هيڅ تنګي پاتې نه شي او (که کومه کوتاهي وي نو) الله بخښونکی دی شفقت يې ابدي دی، تا ته اختيار دی چې په هغو کې کومه وغواړې ببله يې کړې او چې کومه وغواړې ويې ساتې او که وغواړې تر ببلتون وروسته يې بيرته خپله کړې، په دې کې پر تا هيڅ سختي نه شته، دا (وضاحت) دې ته ډېر نژدې دی چې د هغوی سترګې سړې شي او خپه نه شي او ته چې دوی ته هر څه ورکوې پرې راضي شي، الله په هغه څه پوهېږي چې ستاسو په زړونو کې دي او الله عليم او حکيم دی. له دې پرته نه درته هيڅ مېرمن روا ده او نه دا چې پر ځای يې نوري بدلې راولې، که څه هم ستا ډېري خوښې وي البته مينځې (ترڅو دې وروسته هم) روا دي او (دا حقيقت دی چې) الله د هر څه څارونکی دی."

دا قانون چې کومې مادې لري هغه دادي: اول د زينب ﷺ تر نکاح وروسته چې دی وغواړي نود لاندينيو درو اهدافو لپاره نوري نکاحوې هم کولای شي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) د هغو لویو کورنیو د عزت پر ځای کولو لپاره چې د ده د یوه جګړییز ګام په نتیجه کې بندي شي.

۲) د هغو مېرمنو د زړه ساتلو لپاره چې یوازې له ده سره د تړاو پیدا کولو لپاره د ده د نکاح غوښتنه لري او خپل ځان ورته هبه کوي.

۳) د خپلو اکاګانو، ماماګانو، عمه ګانو او خاله ګانو د لوڼو د زړه ترلاسه کولو لپاره چې له ده سره یې هجرت کړی او په دې توګه یې د کورونو او قریبانو په پرېښودو له ده سره ملګرتیا کړې ده.

دویم: څرنګه چې دا نکاح د یوه دیني مسئولیت د پوره کولو لپاره ترسره کېږي ځکه نو له هغو مېرمنو سره د یو ډول اړیکو ساتلو مسئولیت ورته متوجې نه دی.

درېیم: له دې مېرمنو پرته نورې ټولې مېرمنې پرې حرامې دي[۱۴] او له هغو سره تر یو ځل نکاح کولو وروسته یې په بېلولو پر ځای بله مېرمن هم نه شي راوستلای که څه هم د ده ډېره خوښه وي.

رسول الله ﷺ له جویریې او صفیې سره د لومړي هدف لپاره نکاح وکړه، له میمونې سره یې د دویم هدف لپاره او ام حبیبې سره د درېیم هدف لپاره. پر دې سربېره په دې صورت کې دا خبره هم بیان شوې چې د رسول الله ﷺ مېرمنې د مسلمانانو مندې دي ځکه نو له هغوی سره نکاح د تل لپاره ممنوع ده. یو مسلمان باید دا خیال په زړه کې هم ونه لري.

النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ (الأحزاب ۳۳ : ۶)

نبي د مسلمانانو لپاره په خپله د دوی تر ذات هم وړاندې دی او د هغه مېرمنې یې مندې دي.

وَلاَ أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا (الأحزاب ۶ : ۳۳)

او نه دا روا ده چې د هغه له مېرمنو سره هیڅکله نکاح وکړئ، دا د الله په نزد ډېره درنه خبره ده.

---

[۱۴] د همدې بندیز پر بنسټ یې له ماریې ﷺ سره نکاح ونه کړای شوه او د ده په کور کې د مینځې په توګه او سېدله.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له دې څخه معلومه شوه چې دا صرف يو ديني مسئوليت وو چې دنبوت او رسالت د غوښتنې له امله رسول الله ﷺ ته وسپارل شو او ده پوره کړ. له بشري غوښتنو سره يې هيڅ تړاو نه درلود ځکه نو اړينه وه چې له عام قانون څخه مستثنا شي.

د جنسي اړيکو حدود

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىَ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ* نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّكُم مُّلاَقُوهُ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ* (البقرة ٢ : ٢٢٢، ٢٢٣)

"او له تا څخه د حيض په اړه پوښتي، ووايه چې دا مرداري ده. د حيض په حالت کې له مېرمنو بېل شئ او څو چې له وينو پاکې نه شي مه ورنژدې کېږئ، کله چې په لمبيدو پاکې شي نو له هغه ځايه ورشئ چې الله يې درته امر کړی، بې شکه الله توبه ايستونکي او پاکي کوونکي خوښوي، دا ښځې مو کښتونه دي نو خپل کښت ته چې څه ډول ورځئ ورشئ او (په وسيله يې په دنيا او اخرت دواړو کې) د ځان لپاره مخ ته لېږل وکړئ[١٥] له الله وېره کوئ او ښه پوه شئ چې تاسو به (يوه ورځ) حتما له هغه سره يو ځای کېږئ او (اې رسوله! د دې لېدنې پر مهال) مومنانو ته (د بريا او نېکمرغۍ) زېری ورکړه."

د نارينه او ښځې جنسي اړيکې انساني فطرت دی او په دې اړه هيڅ لاربښوونې ته اړتيا نه شته، مګر پر ښځه چې د حيض او نفاس کومې ورځې راځي ايا په هغو کې هم بايد دا اړيکې وساتل شي؟ څرګنده ده چې د کوم دين هدف تزکيه ده هغه يې نه شي زغملای، ځکه نو ټولو اسماني دينونو د نفې ځواب ورکړی او په دې ورځو کې يې جنسي اړيکې ممنوع بللې دي. د ابراهيمي دين د اغېز له کبله د جاهليت عربو هم ناروا بللې او د دوی په شاعرۍ کې يې ځينې اړخونه يادوي دي، په دې اړه هيڅ اختلاف نه وو مګر کله چې ښځه تر دې ورځو تېرېږي نو له هغې څخه د ځان ساتنې حدود څه دي؟. په دې اړه ډېر افراط او تفريط موجود وو ځکه نو خلګو پوښتنه وکړه او قرآن په دې اړه د شريعت حکم د

[١٥] يعني داسي اولاد پيدا کړئ چې ستاسو لپاره په دنيا او اخرت دواړو کې سرمايه شي. دې هدايت ته له دې امله اړتيا پېښه شوه چې خلګ د ماشومانو د پيدايښت په معامله کې د خپل اقدام په مسئوليت وپوهېږي او څه چې کوي په پوره غور او فکر سره يې وکړي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سورت البقرې په دې ایاتونو کې له وضاحت سره بیان کړ. استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په تفسیر کې لیکي:

"په دې زمانه کې چې له ښځې د بېلتون کوم امر شوی سم حد یې وروسته د وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ (او تاسو دوی ته تر هغو مه ورنژدې کېږئ چې پاکېږي، کله چې پاکې شي نو له هغه ځایه ورشئ چې الله یې درته امر کړی دی.) په الفاظو څرګنده ډول چې دا بېلتون یوازې د مېرمنې او مېړه د ځانګړو اړیکو تر بریده دی. دا مطلب یې نه دی چې ښځه بېخي ناولې وګڼل شي لکه په نورو دینونو کې. د دې وضاحت احادیثو او د رسول الله ﷺ عمل هم کړی دی." (تدبر قرآن ۱/ ۵۲۶)

په دې اړه روایات دادي:

له عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په مسجد کې معتکف وو او دې به د حیض په حالت کې د هغه سر ږمونځاوه.[۱۶]

د عائشې رضی اللہ عنہا وینا ده چې د دې د حیض پر مهال به یې رسول الله ﷺ په غېږ کې قرآن تلاوت کاوه.[۱۷]

له همدې څخه روایت دی چې په موږ کې به ځینې په حیض کې وې او رسول الله ﷺ به ورنژدې کېده نو هغو ته به یې لارښوونه کوله چې د حیض پر ځای لنګ وتړي او وروسته به ورنژدې شو.[۱۸]

دا وایي: د حیض په حالت کې به یې اوبه وڅښلې، بیا به یې هماغه اوبه رسول الله ﷺ ته ورکړې او ده به په هغه ځای د خولې په ایښودلو څښلې چې ما به ایښې وه. همدارنګه به یې هډوکی شکاوه بیا به یې ده ته ورکړ او ده به په هغه ځای خوله ایښوده چې دې به ایښې وه.[۱۹]

استاذ امام لیکي:

---

[۱۶] بخاري، شمېره: ۲۹۶

[۱۷] بخاري، شمېره: ۲۹۷، مسلم، شمېره: ۶۹۳

[۱۸] بخاري، شمېره: ۳۰۲

[۱۹] مسلم، شمېره: ۶۹۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"په دې ایت کې د طهر او تطهر دوه الفاظ استعمال شوي دي، د طهر معنا خو داده چې د ښځې ناپاکي ختمه او د وینو راتګ یې بند شي. د تطهر معنا داده چې ښځه د غسل په کولو پاکه شي، په ایت کې ښځو ته د ورنژدې کېدو لپاره طهر شرط بلل شوی او ورسره یې ویلي دي چې کله پاکې شي نو ورشئ، له دې څخه معلومېږي چې د نژدېکت د منعې اصل علت وینه ده ځکه نو د هغو تر ختمېدو وروسته دا بندیز له منځه ځي، مګر سمه طریقه داده چې کله ښځه د غسل په کولو پاکه شي نو ورسره یو ځای شئ."

(تدبر قران ۱/ ۵۲۶)

له دې سره قرآن په دې ایاتونو کې دا خبره هم تشریح کړې چې د غسل په کولو تر پاکي وروسته هم باید له ښځې سره اړیکې له هغې لارې وي چې الله تعالی ده، ده ویلي: فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ (نو دوی ته له هغه ځایه ورشئ چې الله یې درته امر کړی دی) دا شی د فطرت له بدیهیاتو دی ځکه نو له شک پرته الهي حکم دی، که یې څوک مخالفت کوي نو په حقیقت کې د الله واضح بلکي ډېر څرګند حکم ماتوي او یقینا به د الله په نزد د سزا وړ وي.

قرآن همدا خبره تر دې وروسته د کښت په استعاره توضیح کړې ده، استاذ امام لیکي:

"د ښځو لپاره د کښت په استعاره کې خو یو ساده اړخ دادی لکه څرنګه چې د کښت لپاره طبعي قانون شته باید تخم یې په مناسب موسم او وخت کې وشیندل شي، همدارنګه باید تخم د کښت په سیمه کې دننه واچول شي نه دباندې او هیڅ کروندګر د دې قانون مخالفت نه کوي. همدارنګه د ښځې په اړه د فطرت قانون دادی چې د حیض په ورځو او یا بل محل کې دي ورسره جنسي اړیکې نه نیول کېږي ځکه د حیض زمانه د ښځو د تکلیف او نه چمتو والي زمانه ده او په بل محل کې جماع د تکلیف او ضیاع سبب ده ځکه یې نو هیڅ د سالم فطرت انسان ته ترسره کول روا نه دي."

(تدبر قرآن ۱/ ۵۲۷)

تر دې وروسته یې د فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ (نو خپل دې کښت ته چې څرنګه وغواړئ ورشئ) په وضاحت کې لیکلي:

"... (په دې) کې پریږده مهال دوو خبرو ته اشاره ده، یو د هغې ازادي، نه تکلف او خپلواکي لورته چې د یو باغ یا کښت مالک یې د خپل باغ او کښت په اړه لري او دویم هغه بندیز، مسولیت او احتیاط ته چې یو باغوان او کروندګر ورته د خپل باغ او کښت په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اړه پام کوي. دې دويم شي ته يې د حرث په لفظ اشاره کړې او لومړي ته يې د انی شئتم په الفاظو، دا ازادي او بنديز دواړه په ګډه هغه تګلاره په ګوته کوي چې بايد يو مېړه يې د خپلې مېرمنې په اړه غوره کړي.

هر سړی پوهېږي چې د ازدواجي ژوند ټول سکون او خوشالي د دواړو لورو په دې اطمنان کې د ده چې د دوی د يوازيتوب پر ازادیو د فطرت له څو لويو قيدونو پرته هيڅ قيد، بنديز او څارنه نه شته. د ازادۍ په دې احساس کې ډېر خوند او کيف دی، کله چې انسان د خپلو مزو او خوندونو دې باغ ته داخلېږي نو فطرت غواړي چې هغه په خپله دې نشه کې خمار وي، مګر له دې سره يې د هغه مخته دا حقيقت هم اېښی چې دا کوم ځنګل نه دی بلکې د ده خپل باغ دی او دا کومه صحرا نه بلکې د ده خپله کرونده ده ځکه نو بايد په راتلو سل ځله راشي او په څه ډول، کومه شېبه، کوم لوري او اړخ څخه چې غواړي راتلای شي مګر د دې باغ او کروند په حيثيت ته دې پام کوي او د هيڅ راتګ پر مهال دې له دې حقيقت څخه بې پروا کېږي نه." (تدبر قرآن ۱ / ۵۲۷)

دا لار ښوونې څومره ارزښت لري؟، قرآن په همدې ايا تونو کې د إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ (بې شکه الله توبه ايستونکي او پاکي کوونکي خوښوي) په الفاظو بيان کړی دی، د ايت د دې برخې وضاحت استاذ امين احسن اصلاحي داسي کړی دی:

"... که د توبې او تطهر پر حقيقت غور وشي نو معلومېږي چې توبه له ګناهونو څخه د خپل باطن د پاکولو نوم دی او تطهر له مردارو او چټليو څخه د خپل ظاهر پاکول دي، له دې پلوه د دواړو حقيقت يو شو او د مومن همدا دواړه خاصيتونه د الله ډېر خوښ دي. د دې بر خلاف چې کوم کسان ترې بې برخې وي هغوی د الله په نزد کرکجن دي، دلته چې دا خبره په کوم سياق کې شوې له هغه څخه دا تعليم تر لاسه کېږي چې کوم کسان د ښځې د ناپاکۍ پر مهال له جنسي اړيکو ځان نه ساتي، يا د قضاء شهوت په معامله کې د فطرت تر حدودو تېرېږي هغوی د الله په نزد ډېر کرکجن دي." (تدبر قرآن ۱ / ۵۲۶)

ايلاء

لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآؤُوا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ* وَإِنْ عَزَمُواْ الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ* (البقرة ۲ : ۲۲۶، ۲۲۷)

"د هغو خلګو لپاره څلور مياشتې مهلت دی چې له خپلو مېرمنو سره د نه يو ځای کېدو قسم وکړي، که بيا راجع شول نو الله بخښونکی شفقت يې ابدي دی او کـــه د طلاق

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پربکړه وکړي نو (دوی باید پوه شي چې) یقینا الله سمیع او علیم دی."

د سورت البقرې په دې ایت کې له ښځو سره د ایلاء حکم بیان شوی دی، دا د عربي جاهلیت یوه اصطلاح ده چې له میرمنې سره د جنسي اړیکو نه ساتلو په معنا ده، که څوک دا ډول قسم وکړي نو څرنګه چې په دې سره یې میرمن ځوړنده پاتېږي او دا شی د عدل، انصاف، نېکۍ او تقوا خلاف دی ځکه نو الله د هغه لپاره څلور میاشتې موده ټاکلې، میړه مکلف دی چې په دې موده کې دننه یا له هغې سره جنسي اړیکې وساتي او که یې د طلاق پربکړه کړې وي، نو خوشي یې کړي.

د لومړني صورت په اړه الله ویلي چې دی غفور او رحیم دی، یعني که څه هم دا قسم د حق ضایع کېدو لپاره شوی وو او دا ډول قسم د هیڅا لپاره روا نه دی خو که اصلاح شي نو الله به یې وبخښي. څرګنده ده چې په دې کې به میړه د قسم ماتولو کفاره ورکوي.

د دویم صورت په اړه الله ویلي چې دی سمیع او علیم دی. یعني که د طلاق پربکړه شوې وي نو باید په هر حالت کې د الهي قانون حدودو او قیودو ته پام وشي، الله هر څه اوري او پرې خبر دی، که له چا سره ظلم کېږي نو له ده به هیڅکله پټ پاتې نه شي.

له دې څخه معلومه شوه چې بې منطقي عذره له ښځو سره ازادواجي اړیکې ختمول د هیڅا لپاره روا نه دي ان که یې د دې لپاره قسم هم کړی وي نو ماتول یې اړین دي، دا د ښځې حق دی او په نه ورکولو یې میړه په دنیا او اخرت دواړو کې مجرم بلل کېدای شي.

همدا معامله به د ښځې هم وي، څرګنده ده چې هغه له څه معقول عذر پرته له خپل میړه سره د اړیکو له نیونې انکار نه شي کولای رسول الله ﷺ ویلي:

اذا دعى الرجل امرأته الى فراشه فابت فبات غضبان عليها لعنتها الملائكة حتى تصبح. (بخاري، شمېره: ۳۲۳۷)

"کله چې میړه ښځه جنسي اړیکو ته وربولي او هغه انکار وکړي، میړه یې شپه په غوسه تېره کړي نو فرشتې تر سهاره پرې لعنت وایي."

ظهار

الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلاَّ اللاَّئِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ * وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ * فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ* (المجادلة ۵۸ : ۲ - ۴)

"په تاسو کي چې څوک له خپلو مېرمنو سره ظهار وکړي نو هغه يې مندې نه دي، د دوی مندې خو هغه دي چې زېږولي يې دي، البته دا ډول خلګ يوه ډېره چټې او دروغ خبره کوي او حقيقت دادی چې الله ډېر معافي کوونکی او بخښونکی دی او (په دې معامله کي حکم دادی چې) کوم کسان له خپلو ښځو سره ظهار وکړي او بيا هغه څه ته ور وګرزي چې ويلي يې وو نو يوه بل ته تر لاس ور ورلو وړاندې دي لومړی يو مرېيی ازاد کړي، تاسو ته د همدې نصيحت کېږي او څه چې کوئ الله ښه پرې خبر دی. که څوک مرېيی ونه لري هغه دي پر له پسې دوې مياشتې روژه ونيسي، وړاندې تر دې چې يوه بل ته لاس ور وړي او که څوک دا هم نه شي کولای نو شپيتو مسکينانو ته دي خوراک ورکړي، دا د دې لپاره چې تاسو الله او رسول يې واقعا ومنئ، دا د الله حدود دي (چې له هغوی منکرين يې ماتوي) او د دا ډول منکرينو لپاره سخت دردوونکی عذاب دی."

دا د ظهار حکم دی، د ايلاء په څېر ظهار هم د عربي جاهليت اصطلاح ده. د دې معنا دا وه چې مېړه به ښځې ته د انتِ عليَّ کَظَهْرِ اُمِّی (که مي تا ته لاس درووړ نو ګواکي د خپلې مور شا ته مي لاس ورووړ) الفاظ وايي، په جاهليت کي ښځې ته په دې ډول وينا داسي طلاق ورکول کېده چې تر دې وروسته به مېړه څخه بېلېده. عربو فکر کاوه چې د دا ډول الفاظو په ويلو مېړه نه يوازې له خپلې مېرمنې سره اړيکه غوڅوي بلکي د مور په څېر يې پر ځان حراموي، ځکه نو د دوی په نزد تر طلاق وروسته د رجوع امکان وو خو تر ظهار وروسته يې هيڅ امکان نه پاتېده.[۲۰]

قرآن يې دلته حکم بيان کړی دی.

لومړی خبره يې دا څرګنده کړې چې که څوک خپله مېرمن په خوله له مور يا د هغې د بدن له يوه غړي سره تشبيه کړي نو په دې سره مېرمن نه مور ګرزي او نه هغه حرمت پيدا کولای شي چې مور يې لري. د مور مورواليو حقيقت دی ځکه چې هغه يې زېږولی دی، هغه چې کوم حرمت لري د همدې زېږون د تعلق له وجې يې تر لاسه کوي. دا يو ابدي او

[۲۰] المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۵ / ۵۵۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

طبعي حرمت دی چې صرف يوې ښځې ته په خپله د مور په ويلو نه شي تر لاسه کېدای ځکه نو دا ډول تشبيه نه د چا نکاح ختموي او نه پرې مېرمن د مور په څېر حرامېږي. همدا خبره په سورت الاحزاب کې داسې بيان شوې ده:

وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللاَّئِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ (الأحزاب ٣٣ : ٤)

"او تاسو چې له خپلو کومو مېرمنو سره ظهار کوئ الله ستاسو مندې نه دي ګرزولې."

دويمه خبره يې دا بيان کړې چې که د چا له خولې دا ډول خبره وتلې وي نو هغه بايد پوه شي چې دا ډېره چټې او دروغ خبره ده، يو شريف انسان يې بايد تصور هم ونه کړي، په ټېره بيا داچې له خولې يې ووزي. د دې سخته محاسبې امکان وو، مګر الله ډېر بخښونکی او مهربان دی، له همدې کبله که څوک د غوسې پر مهال دا ډول د حقيقت خلاف خبره وکړي او خپله غلطي احساس کړي نو الله به ترې ور تېر شي.

دريمه خبره يې دا روښانه کړې چې د دې معنا هيڅکله دا نه ده چې دی له څه تنبيه پرته پرېښودل شي، دا ډول خبرې د انسان پر ټولنيز ژوند بې کچې اغېز کوي له همدې کبله اړينه ده چې ده ته تاديب ورکړل شي، څو په راتلونکي کې دی هم محتاط شي او نور هم ترې عبرت واخلي ځکه نو الله پرېکړه کړې چې مېرمنې ته تر لاس ورورلو وړاندې بايد د دې ګناه کفاره ورکړي.

کفاره يې داده:

يوه مينځه يا مرېيی دي ازاد شي[٢١].

که هغه نه وي نو پر له پسې[٢٢] دوې مياشتې روژه دي ونيسي.

---

[٢١] په اصل کې د رقبه لفظ استعمال شوی چې معنا يې ده غاړه، له دې څخه معلومېږي چې د مينځې او مرېيې تخصيص نه شته هر يو چې وي په کفاره کې دي ازاد شي. اسلام چې د مرېيانو د ازادولو لپاره کوم ګامونه اخيستي دا له هغو څخه يو دی. وګورئ تر وروستنيو دواړو صورتونو يې مخته کړی دی، د مرېيتوب تر ختمېدو وروسته څرګنده ده چې نور همدا دوه صورتونه پاتې دي.

[٢٢] په اصل کې د متتابعين لفظ راغلی، له دې څخه دا هم معلومېږي چې که څوک د دوو مياشتو تر روژو پوره کولو وړاندې له خپلې ښځې سره يو ځای شي نو له سره به نوې روژې نيسي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که دا هم نه شي کولای نو شپېتو مسکینانو ته دي خوراک ورکړل شي.

الله ویلي: که دا حکم د هغه له صحیح روح سره عملي کړئ نو په دې سره به مو پر الله او رسول ایمان پیاوړی شي، ځکه کله چې انسان د خپلې تېروتنې په جبران کې دا ډول زحمت کوي نو په دې سره یې غلطي هم جبیره کېږي او خپل ایمان و عقیده یې هم تینګېږي.

طلاق

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لاَ تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ وَلاَ يَخْرُجْنَ إِلاَّ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ لاَ تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَلِكَ أَمْرًا * فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ذَلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا * وَاللاَّئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلاَثَةُ أَشْهُرٍ وَاللاَّئِي لَمْ يَحِضْنَ وَأُوْلاَتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا * ذَلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنزَلَهُ إِلَيْكُمْ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا * أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلاَ تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِن كُنَّ أُولاَتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَى * لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لاَ يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلاَّ مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا* (الطلاق ۶۵ : ۱-۷)

"اې نبي! که تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکوئ نو د عدې له حساب سره طلاق ورکړئ او د عدې زمانه یې سمه وشمېرئ او له خپل رب الله څخه وېرېږئ (د عدې په موده کې) یې مه تاسو له کورونو شړئ او نه دي په خپله وزي، مګر دا چې ښکاره بې شرمي وکړي. دا د الله تاکلي حدود دي او څوک چې د الله تر حدودو تېر شي نو (پوه شئ چې) هغوی پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی، تاسو نه پوهېږئ ممکن الله تر دې وروسته کوم بل صورت پیدا کړي (همدا ډول طلاق ورکړئ) کله چې هغوی د خپلې عدې پای ته ورسېږي نو یا یې په ښه طریقه په نکاح کې وساتئ او یا یې په ښه طریقه بېلي کړئ او (د ساتلو اراده مو یې وي او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که د بېلتون) په دواړو صورتونو کې خپل دوه باوري کسان شاهدان کړئ او (شاهدانو!) تاسو د الله لپاره دا شاهدي ورکړئ. په دې خبره هغو خلکو ته نصیحت کېږي چې پر الله او د قیامت پر ورځ ایمان نه لري او کوم کسان چې له الله وېرېږي (بیا له یوه مشکل سره مخ شي) نو الله به (له هغه څخه د وتلو) لار ورته پیدا کړي او له هغه ځایه به رزق ورکړي چې د دوی ګومان به هم نه وي او څوک چې پر الله توکل وکړي نو دی یې (د لاسنیوي) لپاره کافي دی، الله خپله اراده پوره کوي او د هر شي لپاره یې یو تقدیر ټاکلی، ستاسو کومې مېرمنې چې له حیض څخه ناهیلې وي او هغه هم چې (د حیض عمر ته له رسېدو سره – سره) حیض نه ورځي نو که د دوی په اړه شک وي عده یې درې میاشتې ده او د امیدوارو مېرمنو عده داده چې له حمل څخه خلاصې شي او (په تاسو کې چې) څوک له الله وویرېږي د هغه لپاره به یې الله په معامله کې اسانې پیدا کړي، دا د الله حکم دی چې تاسو ته یې نازل کړی او څوک چې له الله ووېرېږي د هغه ګناه به ترې لرې کړي او لوی اجر به ورکړي (د عدې په موده کې) دا ښځې له خپل وس سره سم هلته مېشتې کړئ چې تاسو اوسېږئ او پر دوی د تنګۍ لپاره یې زوروئ مه، که حمل ولري نو تر هغو پرې لګښت کوئ چې له حمل څخه نه وي فارغې شوې، که بیا ستاسو بچیانو ته شیدې ورکوي نو بدله یې ورکړئ او دا معامله له قانون سره سمه په خپل منځي مشوره فیصله کړئ او که تاسو زحمت احساسوئ نو د مېړه لپاره دي ماشومانو ته کومه بله ښځه شیدې ورکړي، په کار ده چې پراخي درلودونکی له خپل وس سره سم لګښت وکړي او د چا چې روزي تنګه وي نو له هغه څه دي لګښت وکړي چې الله ورکړي دي، الله چې چا ته څومره ورکړي تر هغه زیات بوج پرې نه اچوي (تاسو ډاډه اوسئ) الله به ژر تر ژره تنګي وروسته اساني راولي."

که مېرمن او مېړه سره چلبلدای نه شي نو د انبیاء علیهم السلام په دین کې تل د بېلتون ګنجایش موجود دی، همدې ته په اصطلاح کې طلاق ویل کېږي. د ابراهیمي دین له دود سره سم د عربو جاهلان هم بنسټ پرې خبر وو، یقینا ځینو بدعتونو او لاس وهنو ورته لار موندلې وه مګر د دوی د تاریخ له مطالعې څرګنده ږي چې په دوی کې هم زیات و کم د طلاق هماغه قانون وو چې اوس په اسلام کې دی.[۲۳]

د سورت الطلاق په دې ایاتونو کې الله له څو سمونو او زیاتونو سره هماغه قانون نوی کړی دی چې ځینې تفصیلات یې په بقره او احزاب کې هم بیان شوي دي، خو که غور وشي نو په ډاګه کېږي چې په دې کې اصلي ارزښت د سورت الطلاق همدا ایاتونه لري، موږ به دلته د همدې قانون وضاحت وکړو.

---

[۲۳] المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۵ / ۵۴۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر طلاق وړاندي

د طلاق دا حکم چې له کوم حالت سره تړاو لري هغه ته تر نوبت رسېدلو وړاندي بايد د هر سړي غوښتنه دا وي چې کومه اړيکه يو ځل را منځ ته شوې تر ممکنه حده يې له ماتولو ډډه وشي. الله په سورت النساء کې پر همدې بنسټ مېړه ته اجازه ورکړې چې د مېرمنې پر نشوز هغې ته تاديب ورکولای شي، خو که د اصلاح تر ټولو ممکنه تدابيرو غوره کولو وروسته بيا هم حالت سم نه شي او ښکاره معلومېږي چې نوره دا اړيکه نه شي ټينګېدای نو الله د وروستي تدبير په توګه تر طلاق وړاندي د مېړه او ماينې قوم، قبيلې، د هغوی خپلوانو او خواخوږو ته په همدې صورت کې لارښوونه کړې چې دوی دي ور وړاندي شي او له خپل اغېز او نفوذ څخه په کار اخيستو دي د حالاتو د سمون هڅه وکړي. قرآن يې شکل دا ښودلی چې يو منځګړی دي د مېړه او يو دي د ماينې له کورنۍ څخه غوره شي او دواړه دي په ګډه د دوی تر منځ روغه - جوړه وکړي. هيله ده چې دواړه لوري د کومې شخړې په ختمېدو کې بريالي نه شول هغه به د کورنۍ د مشرانو، خواخوږو او اصلاح غوښتونکو په مداخله له منځه ولاړه شي. الله ويلي:

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا

(النساء ۴ : ۳۵)

"او که تاسو د مېړه و ماينې تر منځ د بېلتون وېره لرئ نو يو منځګړی د نارينه له کورنۍ او يو د ښځې له کورنۍ وټاکئ، که (مېړه او ماينه) دواړه اصلاح وغواړي نو الله به يې تر منځ توافق پيدا کړي، بې شکه الله عليم او خبير دی."

که پر دې ايت غور وکړو نو په ډېرو بليغو اسلوبو يې مېړه او ماينه هڅولي چې بايد له دې فرصت څخه ګټه واخلي، که د بېلتون پر ځای توافق وغواړي نو د دوی رب ډېر کريم دی، د ده توفيق به ورسره ملګری شي.

د طلاق حق

سورت د (اذا طلقتم النساء) په الفاظو پيل شوی دی، تر دې وروسته چې هم دلته او هم د قرآن په نورو ځايونو کې چيرې د طلاق احکام بيان شوي د دې فعل نسبت يې نارينه ته کړی دی، بيا يې د بقرې په (۲۲۹) ايت کې مېړه ته د خپل مال په ورسپارلو د طلاق

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اخیستلو لپاره د (ما افتدت به) یعني کومې مېرمنې چې فدیه ورکړي الفاظ کارولي. دا ښکاره دلیل دی چې شریعت د طلاق اختیار مېړه ته ورکړی دی او علت یې هم بیخي څرګند دی ځکه د مېرمنې د ساتنې او کفالت مسئولیت تل پر نارینه دی او فطرت دا وړتیا همده ته ورکړې ده. قرآن پر همدې بنسټ قوام بللی او د بقرې په (۲۲۸) ایت کې یې په صراحت ویلي چې (للرجال علیهن درجة) یعني مېړونه پر دوی یوه درجه فضیلت لري، ځکه نو د مسئولیت ډول او د مراتبو ساتنه دواړه تقاضا کوي چې د طلاق اختیار هم مېړه ته ورکړل شي. پورته مو وویل چې د کورنۍ اداره د انسان یوه سخته اړتیا ده، د مسئولیتونو له توپیر او پرېکړو ورد له یو ډول اختیاراتو سره چې څرنګه په دنیا کې هیڅ اداره نه شي را منځ ته کېدای، همدا ډول د کورنۍ اداره هم دوام نه شي کولای له همدې وجې که ښځې د ځان او خپلو اولادونو د ساتنې او کفالت په بدل کې کوم نارینه ته د خپل ځان د سپارنې ترون کړی وي نو د دې معاملې د ختمېدو اختیار هم له هغه سره د معاملې له کولو پرته ښځې ته نه شي ورکول کېدای. همدا انصاف دی کله دې پرته بله لار غوره شي نو دا به بې انصافي وي او حتمي نتیجه به یې همدا وي چې د کورنۍ اداره به بالاخره له منځه ولاړه شي.

د دې څرګند مطلب دادی چې که ښځه بېلتون غواړي نو طلاق نه شي ورکولای بلکې له مېړه څخه به د طلاق غوښتنه کوي. په عامو حالاتو کې هیله همدا ده چې که هر شریف انسان د توافق کوم صورت ونه مومي نو دا غوښتنه به مني خو که داسې نه وي نو ښځه محکمې ته رجوع کولای شي، که خبره تر دې ځایه ورسېږي نو د محکمو لپاره په دې اړه د رسول الله ﷺ طریقه داده چې که ثابته شي ښځه له خپل مېړه څخه بې زاره ده او له هغه سره یو ځای اوسېدل نه غواړي نو مېړه ته دي امر وکړي چې که یې له ولور پرته مېرمنې ته کوم مال او یا جایداد ورکړی وي او بیرته اخیستل یې غواړي نو د هغه په اخیستلو دي طلاق ورکړي. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې د ثابت بن قیس مېرمن رسول الله ﷺ ته راغله او ویې ویل: ای د الله رسوله! زه د هغه پر دین او اخلاقو بد نه وایم، مګر زه په اسلام کې له کفره وېرېږم.[۲۴] رسول الله ﷺ چې دا شکایت واورېد نو ویې ویل: د هغه باغ بیرته

[۲۴] له نورو روایاتو څخه د دې جملې معنا دا معلومېږي چې د هغه شکل یې خوښ نه وو او احساسوله یې چې که له دې سره بیاهم ورسره پاتې شي نو وېره ده هغه احکام به پلي نه کړای شي چې له مېړه سره د وفا او عفت و عصمت د ساتنې لپاره الله پر مسلمانو ښځو لازم کړي دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورکوي؟. دې ومنله، نو ثابت ته يې امر وکړ چې باغ واخله او هغه دې يوه طلاق په ورکولو جلا کړه.[۲۵]

د طلاق طريقه

مېړه په خپله طلاق ورکوي او که يې د مېرمنې په غوښتنه د جلا کولو پرېکړه کوي، په دواړو حالاتو کې چې په دې اياتونو کې کومه طريقه بيان شوې هغه داده:

اول: طلاق به د عدې له مخې ورکول کېږي، معنا يې داده چې سمدستي د مېرمنې ښلولو لپاره طلاق ورکول روا نه دي. کله چې ورکړل شي نو د مشخصې مودې پرپوره کېدو به د ښلولو په اراده ورکول کېږي، د عدې لفظ په اصطلاح کې د هغې مودې لپاره استعمالېږي چې پکې مېرمن د مېړه له لورې تر طلاق يا وفات وروسته له بل چا سره نکاح نه شي کولای. ځرنګه چې دا موده په حقيقت کې د همدې لپاره ټاکل شوې چې د ښځې دنس حالت په پوره ډول ځرګند شي ځکه نو اړينه ده چې ښځې ته تر حيض وروسته او د جنسي اړيکو له نيولو پرته طلاق ورکړل شي. هر مسلمان بايد په دې معامله کې له هغې غوسې سره -سره چې په داسي وختونو کې د ښځې پر خلاف پيدا کېږي له خپل رب الله ځخه ووېرېږي، کله چې رسول الله ﷺ ته د عمر فاروق ﷺ د زوی عبدالله په اړه وويل شول چې ده خپلې مېرمنې ته د حيض په ورځو کې طلاق ورکړی نو دی سخت خپه شو او ويې ويل:

مره فليراجعها ثم ليمسكها حتى تطهر ثم تحيض ثم تطهر ثم ان شاء امسک بعد و ان شاء طلق قبل ان يمس فتلک العدة التى امر الله ان تطلق لها النساء. (بخاري، شمېره: ۵۲۵۱)

" هغه ته امر وکړه چې بيرته رجوع وکړي، هغه تر هغو خپله مېرمن کړي چې پاکه شي، بيا حيض ور شي او بيا پاکه شي[۲۶] تر دې وروسته که غواړي نو ودي ساتي او که غواړي تر ور نژدې کېدو وړاندې دي طلاق ورکړي ځکه دا د هماغې عدې پيل دی چې له مخې يې الله ښځو ته د طلاق ورکولو لارښوونه کړې."

---

[۲۵] بخاري، شمېره: ۵۲۷۳، ۵۲۷۷

[۲۶] دويم ځل له حيض ځخه تر پاکېدو د طلاق نه ورکولو حکم له دې امله ورکړل شوی چې تر کومه حده ممکنه وي د حمل په اړه پوره ډاډ پيدا شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د الله حکم دی چې عده په پوره احتیاط وشمېرئ، څرنګه چې طلاق ډېره نازکه معامله ده په دې سره د ښځې او نارینه، د هغوی د اولاد او کورنۍ لپاره ډېري قانوني ستونزې پیدا کېږي ځکه نو ضروري ده چې کله طلاق ورکړل شي نو وخت او تاریخ یې په یاد وساتل شي او دا دي هم یاد لري چې د طلاق پر مهال د ښځې حالت څه وو، عده یې څه وخت پیل شوې، تر څه وخته به دوام کوي او کله به ختمېږي؟. معامله په کور کې وي او که الله مه کړه د یوې دعوې په بڼه محکمې ته رسېدلې وي، په دواړو صورتونو کې دي څرګنده شي چې د مېړه د رجوع حق تر کومه وخته دی، ښځه به تر کومه وخته په کور کې ساتل کېږي؟، تر کومه وخته به نفقه ورکوي؟، د میراث پرېکړه به د کوم وخت له مخې کېږي؟، ښځه به څه وخت تر پې جلا کېږي او کله به د بلې نکاح حق تر لاسه کوي؟.

دویم: د عدې تر پوره کېدو مېړه د رجوع حق لري، قرآن د فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ (بیا چې کله هغوی د خپلې عدې پای ته ورسېږي نو یا یې په ښه ډول په نکاح کې وساتئ یا یې په ښه ډول بېلې کړئ) په الفاظو په دې ایاتونو کې همدا خبره تشریح کړې ده. په سورت البقره کې یې نور وضاحت دا کړی چې د طلاق په څېر مېړه ته د رجوع حق له دې امله ورکول شوی چې د کورنۍ د نظم په ساتلو کې الله هغه ته د ښځې په پرتله یوه درجه فضیلت ورکړی دی، مګر د دې معنا دا نه ده چې حقوق یوازې مېړونه لري او د ښځو هیڅ حق نه شته. خلک باید وپوهېږي چې د نارینه وو په څېر ښځې هم حقوق لري او دا د هیڅ انسان لپاره نا اشنا نه دي او تل پرې خبر دی، ځکه نو د مېړونو دنده داده چې د خپلو حقوقو له غوښتنې سره د مېړمنو قانوني حقوقو ته هم پام وکړي:

وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

(البقرة ۲ : ۲۲۸)

"او که یې مېړه د معاملاتو اصلاح وغواړي نو د دې عدې په موده کې هغوی د رجوع ډېر حقدار دي او پر ښځو چې له قانون سره څه ډول حقوق دي هماغه ډول پر دوی هم شته البته (د مېړه په توګه) نارینه وو ته پر دوی یوه درجه فضیلت دی (دا د الله حکم دی) او الله عزیز و حکیم دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څرنګه چې دا ډول معاملات د احساساتي ګامونو او افراط و تفریط د چلند سبب کېدای شوای او خلګ پکې ډېرې تېروتنې کولای شي ځکه نو الله دا ایت په اخیر کې خپل دوه صفات عزیز او حکیم یاد کړي دي. استاذ امام امین احسن اصلاحي يې په وضاحت کې لیکي:

" ... الله عزیز دی ځکه نو حق لري چې امر وکړي او حکیم دی له همدې امله چې يې کوم امر کړی هغه له حکمته ډک دی، د بندګانو کار دادی چې احکام يې له څه ویلو پرته ومني، که د ده د احکامو مخالفت وکړي نو د ده غیرت او عزت ننګوي او د ده عذاب را بولي، که تر الله د ډېر حکیم او مصلحت پېژندونکي په لېوتنوب اخته وي نو په خپلو لاسونو به خپل قانون او نظام ټول درپې -وړې کړي." (تدبر قرآن ۱/ ۵۳۳)

درېیم: که مېړه رجوع ونه کړي نو د عدې په پوره کېدو به د مېړه او مایني اړیکه ختمه شي، ځکه يې نو ویلي چې کله عده ختمېږي نو مېړه دي پرېکړه وکړي چې ساتي يې او که يې ښلوي؟ په دواړو صورتونو کې د الله امر دادی چې په ښه طریقه وي. ده ویلي: څوک چې له الهي وېرې سره دا پرېکړه وکړي نو باید ډاډه وي چې که کومه ستونزه پېښه شوه نو الله به له هغې څخه د وتلو لار ورته پیدا کړي.

په سورت البقره کې يې وضاحت کړی چې که يې را ګرزول غواړئ نو باید هیڅکله د زور -زیاتي لپاره نه وي، د دې سورت په ایت کې چې د اِنْ اَرَادُوْا اِصلاحاً کوم الفاظ نقل شوي نو د دې لپاره يې شرط لګولی چې رجوع باید د مېړمنې د زورونې لپاره نه وي، بلکې په مینه او خوشالي سره د ګډ ژوند تېرولو لپاره وي. که نه دا به صرف ظلم وي چې په قیامت کې به د الله د سخت خپګان سبب شي. الله ویلي:

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلاَ تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُواْ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ وَلاَ تَتَّخِذُوَاْ آيَاتِ اللّهِ هُزُوًا وَاذْكُرُواْ نِعْمَتَ اللّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (البقرة ۲:

" کله چې خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ او هغوی د عدې پای ته ورسېږي نو یا يې په ښه طریقه را وګرزوئ، یا يې په ښه طریقه رخصت کړئ او د زیان رسولو په نیت يې مه را ګرزوئ چې ظلم پرې وکړئ او (پوه شئ چې) که څوک داسې وکړي هغه به په حقیقت کې پر خپل ځان ظلم وکړي، د الله په ایاتونو ملنډې مه وهئ، پر ځان د الله پېرزوینه دریاده کړئ او هغه قانون و حکمت یاد ساتئ چې ده نازل کړی او تاسو ته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۲۳۱) يې نصيحت کېږي. له الله وويرېږئ او ښه پوه شئ چې الله پر هر څه قادر دی."

استاذ امام يې په تفسير کې ليکي:

"... پورته له مثبت اړخه د خبرې تر کولو وروسته يې منفي اړخ هم د دې لپاره تشريح کړی چې ظالمانو طلاق او تر هغه وروسته د رجوع حق د همدې ظلم لپاره استعمالولای شوای، حال دا چې دا د الله تر حدودو تجاوز او د هغه په شريعت ملنډې وهل دي. الله ويلي: که څوک داسي جرأت کوي نو ظاهرا خو يوه ښځه د ظلم نښه ګرزوي، مګر په حقيقت کې پر ځان ډېر ظلم کوي ځکه د الهي حدودو د ماتولو او په شريعت کې د ملنډو وهلو سزا ډېره سخته ده. په پای کې يې ويلي چې د الله هغه احسان دريادکړئ چې د يوه غوره امت منصب يې درکړ، ستاسو د لارښوونې لپاره يې له تاسو نبي در ولېږه، په خير او شر، نېک و بد د خبرولو لپاره يې پر تاسو خپل کتاب نازل کړ چې د قانون او حکمت دواړو مجموعه ده. د الله د دې سترو لورينو تر موندلو وروسته که تاسو د هغو د احق ادا کړ چې الهي حدود مو مات کړل او په شريعت مو ملنډې ووهلې نو فکر وکړئ چې د داسي خلګو انجام څه کېدای شي؟، بيا يې وويل چې له الله وويرېږئ او ښه پوه شئ چې دی ستاسو په هره خبره خبر دی، يعني خلګو ته ښه بدو کړنو سره - سره وخت ورکوي خو کله چې يې ونيسي نو هيڅوک ترې خلاصېدای نه شي." (تدبر قرآن ۱ / ۵۳۹)

همدا رنګه که يې د بېلتون فيصله وي نو د تسريح باحسان امر يې کړی دی: فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ[۲۷] (يعني مېرمن دي په ښه ډول رخصت کړي) په دې اړه چې قرآن کومې لارښوونې کړې دي هغه دادي:

اول دا چې مېرمنې ته د تحفې په ډول څومره مال، جايداد، ګڼې، جامې او هر څه ورکړل شوي وي ترې بيرته اخيستل يې ناروا دي. نفقه او ولور خو د ښځې حق دي د هغو د سپمولو او يا اخيستلو پورې نه تړلې، پر دې سربېره چې څه ورکړل شوي د هغو په اړه هم د قرآن امر دادی چې هيڅکله ترې نه شي اخيستل کېدای. البته له دې څخه دوه صورتونه مستثنا دي، يو دا چې مېړه او ماينه له الهي حدودو سره سم ژوند نه شي کولای او د ټولنې د حل و عقد څښتنان يې هم احساس کړي، مګر مېړه يوازې له دې امله طلاق ته تيار نه وي چې د ده ورکړي مالونه به هم له ځان سره يوسي، نو مېرمن د هغو مالونو يا

[۲۷] البقرة ۲ : ۲۲۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يوې برخې په ورکولو يې له مېړه څخه طلاق اخيستلای شي. که کوم وخت دا ډول حالت را منځ ته شي نو مېړه ته يې اخيستل ممنوع نه دي.

دويم دا چې مېرمن څرګنده بدکاري وکړي، څرنګه چې په دې سره د مېړه او مېرمنې د اړيکو بنسټ له منځه ځي له همدې کبله مېړه ته روا ده چې په دې صورت کې خپل ورکړی مال ترې بيرته واخلي. الله ويلي:

وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلاَّ أَن يَخَافَا أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَعْتَدُوهَا وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللّهِ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ

(البقرة ۲ : ۲۲۹)

"او تاسو ته روا نه ده چې دې ښځو ته مو څه ورکړي (پر دې مهال) يې بيرته ترې واخلئ البته دا صورت مستثنا دی چې دواړه پر الهي حدود و نه شي درېدای او تاسو هم وپرېږئ چې دوی به الهي حدود پوره نه کړای شي، نو (د مېړه د ورکړيو) هغو شيانو په معامله کې پر دواړو هيڅ ګناه نه شته چې ښځه د فديې په ورکړه طلاق ترلاسه کړي، دا د الله تعالى کلي حدود دي نو تر هغو تېرى مه کوئ او (پوه شئ چې) څوک د الله تر حدود و تېرېږي هماغوی ظالمان دي."

وَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلاَّ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ... وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلاَ تَأْخُذُواْ مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَاناً وَإِثْماً مُّبِيناً * وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَى بَعْضُكُمْ إِلَى بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا*

(النساء ۴ : ۱۹-۲۱)

"او نه دا روا ده چې دوی څه ورکړي د يو څه برخې ترلاسه کولو لپاره هغوی تنګې کړئ مګر په هغه صورت کې چې څرګنده فحشا وکړي ... او که تاسو د يوې مېرمنې پر ځای بله مېرمن راولئ نو که مو خزانې ورکړې وي هم يې مه ترې اخلئ، ايا تاسو يې د بهتان په لګولو او صريح حق په خوړلو بيرته اخلئ؟، اخير څرنګه به يې اخلئ په داسې حال کې چې يوه بل ته بې پردې شوي ياست او (د نکاح پر مهال) هغوی له تاسو پخه وعده اخيستې وه."

د دويم صورت په اړه يې خبر ورکړی چې يو څوک دي پر مېرمن د بهتان په لګولو د ورکړي مال د بيرته اخيستلو لپاره د جواز پيدا کولو جرأت نه کوي، استاذ امام ليکي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" ... دا د نارینه د مېړانې ښکې خلاف ده چې له کومې مېرمنې سره یې د ټول ژوند د وفا ژمنه وکړه او د یوه پیاوړي ترون له مخې د هغه لاس ته ورغله خپل ظاهر او باطن ټول یې هغه ته بې پردې کړل او تر یوې مودې یې د یوه روح او دوو قالبونو په توګه ژوند وکړ، کله چې له هغې څخه د ښځتون وخت را ورسېد نو هڅه وشي چې ورکړی خوراک او لباس ترې واخلي، ان د دې ذلیل غرض لپاره یې د بهتانونو او تورونو نښه وګرزوي." (تدبر قرآن ۲ / ۲۷۱)

۲) که ښځه تر لمس او ولور تاکلو وړاندې طلاقه شي نو مېړه د مهر په معامله کې هیڅ مسئولیت نه لري، خو که ولور تاکل شوی وي او تر لمس وړاندې طلاق ورکړي نو نیم ولور به ورکوي مګر دا چې ښځه له خپلې خوښې سره سم ټول ورپرېږدي او یا نارینه پوره ورکړي. الله ویلي:

لاَّ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاء مَا لَمْ تَمَسُّوهُنُّ أَوْ تَفْرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةً ... وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلاَّ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَن تَعْفُواْ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلاَ تَنسَوُاْ الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ*

(البقرة ۲ : ۲۳۶، ۲۳۷)

" او که تاسو ښځو ته د لاس تر ورورلو او مهر تاکلو وړاندې طلاق ورکړئ نو پر تاسو د مهر په معامله کې (هیڅ ګناه نه شته) ... او که مو طلاق تر لاس و ر ورلو وړاندې ورکړ مګر ولور مو تاکلی وو نو نیم ولور به ورکوئ، مګر دا چې هغه خپل حق پرېږدي او یا یې هغه څوک خوښ کړي چې په لاس کې یې د نکاح غوټه ده او که تاسو نارینه خپل حق پرېږدئ دا تقوا ته ډېره نژدې ده، تر خپل منځ فضیلت مه هېروئ بې شکه الله هغه څه وینې چې تاسو یې کوئ."

استاد امام امین احسن اصلاحي د دې ایتونو په تفسیر کې لیکلي دي:

"... سره له دې چې د ښځې لپاره هم د ولور پرېښود ویو محرک موجود دی چې مېړه تر لیدنې وړاندې طلاق ورکړی مګر قرآن نارینه هڅولی چې د ده د مېړانې، لوړې حوصلې او اوچتې درجې تقاضا داده چې له ښځې څخه د خپل حق د پرېښود و په تمه نه شي بلکې د قربانۍ په دې میدان کې خپله ور وړاندې شي. قرآن د دې سرښندنې لپاره نارینه له درو اړخونو هڅولی دی یو دا چې نارینه ته الله دا فضیلت ورکړی دی چې دی د نکاح د غوټې تړلو په څېر د هغې د سپړلو مالک هم دی، دویم دا چې سرښندنه او قرباني د تقوا لوړ صفتونه دي او دا د ضعیف په پرتله له قوي جنس سره ښایي، درېیم دا چې الله نارینه ته د خپلو وړتیاوو له مخې پر ښځه یوه درجه فضیلت ورکړی او پر همدې بنسټ یې د ښځې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قوام او سرپرست ګرزولی دی. دا یوه لویه پېرزوینه ده چې نارینه یې باید له ښځې سره په هیڅ معامله کې له یاده ونه باسي. د دې فضیلت فطري غوښتنه داده چې نارینه له ښځې څخه اخیستونکی نه بلکې ورکوونکی شي." (تدبر قرآن ۱/ ۵۴۸)

۳) ښځه دي د ژوند له یو څه سامان سره رخصت شي، دا قرآن له الله څخه پر وېرېدونکو او د احسان د درېځ پر خپلوونکو یو حق بللی دی، که ښځې ته تر لاس ورو ورلو وړاندې طلاق ورکړل شي نو هم الهي وینا داده چې باید دا حق ورکړي.

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ (البقرة ۲ : ۲۴۱)

"او طلاقې شوې ښځې دي هم له قانون سره سمې د ژوند له یو څه وسایلو سره رخصت شي، دا له الله پر وېرېدونکو حق دی."

د سورت الاحزاب په (۴۹) ایت کې همدا خبره د فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً (مګر هغوی ته یو څه سامان ورکړئ او په ښه طریقه یې رخصت کړئ) په الفاظو بیان شوې، په بقره کې د هغو ښځو په اړه هم دا امر شوی چې یا ورسره خلوت نه وي شوی او یا د ولور له ټاکلو پرته طلاقې شي. قرآن لا رښوونه کړې چې د دې اندازه دي یو سړی د ټولنې له رواج او خپل اقتصادي وس سره سم وټاکي.

وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدْرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ (البقرة ۲ : ۲۳۶)

"او هغوی له رواج سره سمې د یو څه سامان په ورکولو رخصت کړئ، د ښه حالت څښتن دي له خپل وس سره سم او غریب دي له خپل وس سره سم، دا پر هغو حق دی چې نېکي کوونکي وي."

له دې معلومه شوه چې دا یو واجب حق دی، که یې څوک نه ورکوي نو د تقوا او احسان پر صفاتو د بنا له کبله که قانون وغواړي سزا نه شي ورکولای، مګر د الله په نزد حتما د سزا وړ دی او په اخرت کې به یې د ایمان او احسان وزن له همدې مخې ټاکل کېږي.

۴) که مېړه د عدې په موده کې رجوع وکړي نو ښځه یې قانوني مېرمن ده مګر ایا د دې معنا داده چې که مېړه هم دا ډول وغواړي د بیا -بیا طلاق په ورکولو په عده کې رجوع کولای شي؟ قرآن د دې پوښتنې ځواب دا ورکړی چې هر چا ته د طلاق او تر طلاق

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وروسته د رجوع دا حق د نکاح په اړیکه کې دوه ځله دی الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ [۲۸] (د دې طلاق حق دوه ځله دی، بیا یې یا په ښه طریقه ساتل او یا په ښه طریقه رخصتول دي) یعني یو سړی چې تر طلاق وروسته رجوع وکړي نو له ښځې سره د هغه په ټول ګډ ژوند کې هغه ته یو ځل بیا همدغه ډول د طلاق په ورکولو د عدې پر مهال د رجوع حق شته، خو تر دې وروسته یې دا حق نه پاتېږي. د نکاح په یوه اړیکه کې تر دوه ځله رجوع وروسته که بیا درېیم ځل د جلا کېدو وار راغی او مېړه طلاق ورکړ نو په نتیجه کې به یې ښځه تل له هغه څخه جلا وي مګر دا چې له بل چا سره نکاح وکړي او هغه یې بیرته طلاقه کړي:

فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يَتَرَاجَعَا إِن ظَنَّا أَن يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ

(البقرة ۲: ۲۳۰)

"نو که یې بیا (درېیم ځل) طلاق ورکړ له دې وروسته هغه مېرمن تر هغو ورته روا نه ده چې له ده پرته له بل مېړه سره نکاح ونه کړي، که هغه هم طلاق ورکړ نو د دواړو لپاره یوه بل ته رجوع کول پروا نه لري، که یې امید دا وي چې اوس به الهي حدود پوره کړای شي او دا د الله تعالی حدود دي. د هغو خلکو لپاره یې بیانوي چې پوهېږي."

له لومړني مېړه سره د بیا نکاح لپاره یې په دې ایت کې درې شرطونه بیان کړي دي:

یو دا چې ښځه له بل سره نکاح وکړي.

دویم دا چې له هغه سره توافق ونه کړای شي او طلاق ورکړي.

درېیم دا چې دواړه پوه شي تر دویمې نکاح وروسته به الهي حدود وساتلای شي.

په لومړي او دویم شرط کې له نکاح څخه مراد د نکاح ټرون او له طلاق څخه مراد هماغه طلاق دی چې یو سړی یې د نه توافق په صورت کې د بېلتون د پرېکړي تر کولو وروسته خپلې مېرمنې ته ورکوي.

استاذ امام لیکي:

[۲۸] البقرة ۲ : ۲۲۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" اصل دا دی چې په اسلامي شریعت کې د نکاح لفظ یوه پېژندل شوې اصطلاح ده او د نارینه و مېرمنې د ګډ ژوند پر هغه تړون یې اطلاق کېږي چې د ټول ژوند د کولو په اراده دمېړه او مایني د ژوند کولو لپاره کېږي. که په کومه نکاح کې دا اراده نه وي نو هغه په حقیقت کې نکاح نه ده بلکې یوه دسیسه ده چې مېړه او مایني په ګډه جوړه کړي، شریعت چې له نکاح سره د طلاق کوم امکان ته جواز ورکړی نو دا د اصلي نقشې برخه نه ده بلکې د ناڅاپي افت د راتلو پر مهال د مجبوریت علاج دی، ځکه نو د نکاح اصل فطرت دا دی چې د ټول ژوند کولو په اراده وشي، که کومه نکاح په ښکاره ډول صرف تر ټاکلې او مخصوصې مودې پورې وي نو دې ته متعه ویل کېږي چې په اسلام کې قطعي حرامه ده، همدارنګه که څوک له یوې ښځې سره په دې نیت نکاح وکړي چې وروسته به طلاق ورکوي او لومړني مېړه ته به یې د بیرته جواز حیله برابره کړي نو داد شریعت په اصطلاح کې حلاله ده او دا هم د متعې په څېر حرامه ده. څوک چې د یو چا د هدف پوره کولو لپاره دا سپک کار کوي نو په حقیقت کې د دووس او یا د حدیث په الفاظو د اجرتي مینده رول ترسره کوي، پر داسي کوونکي او ترسره کوونکي د الله لعنت دی."[۲۸]

(تدبر قرآن ۱/ ۵۳۷)

درېیم شرط یې د دې لپاره ایښی چې خلګ نکاح او طلاق د ماشومانو لوبې ونه ګڼي او په دې وپوهېږي چې که ښځې ته طلاق ورکوي نو له الله ووېرېږي او هغه وخت یې ورکړي چې د جوړ -جاړي هیڅ صورت نه وي او که ورسره نکاح کوي نو حتما دي د زړه له رښتنې ارادې او د یو ځایي ژوند له مخلصانه غوښتنې سره وکړي، له دې پرته د مومن بنده لپاره په دې معامله کې د بیلې لارې خپلول روا نه دي.

زمونږ فقهاوو پر دې شرایطو دا زیاتونه کړې چې له دویم مېړه څخه طلاق باید حتما تر جنسي اړیکو وروسته وي، له دې پرته هغه ښځه لومړني مېړه ته روا نه بلل کېږي په دې اړه چې د دوی له لوري کوم دلایل وړاندې کېږي مهم یې دا درې دي:

اول دا چې په ایت کې د (تنکح) فعل کارول شوی، په دې کې د نکاح نسبت ښځې ته شوی مګر څرنګه چې نکاح ښځه نه بلکې نارینه کوي له همدې کبله دلته حتما (تنکح) د جنسي اړیکو په معنا دی.

---

[۲۹] ابن ماجه، شمېره: ۱۹۳۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم دا چي تر تنکح وروسته د (زوجا غيره) الفاظ راغلي دي، د زوجا الفاظ په خپله وايي چي نکاح خو شوې له همدې کبله بايد (تنکح) د جنسي اړيکو په معنا واخيستل شي.

درېيم دا چي د رسول الله ﷺ په اړه ويل شوي ده يوه ښځه لومړني مېړه ته په دې وينا له رجوع څخه را وګرزوله چي له دويم مېړه سره بې جنسي اړيکو هغه ته روا کېدای نه شي.

د لومړني او دويم دليل ښکاره ځواب په خپله قرآن ورکړی دی. تر ياد ايت صرف يو ايت وروسته الله ويلي:

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ (البقرة ۲ : ۲۳۲)

"او کله چي تاسي خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ او دوی عدې ته ورسېږي نو بيا يې مخه مه نيسئ چي له خپلو مېړونو سره نکاح وکړي."

وګورئ دلته هم د نکاح نسبت ښځو ته شوی او تر دې وروسته د (ازواجهن) الفاظ عيني د (زوجا غيره) پر طريقه راغلي، مګر څرګنده ده چي دلته د (ينکحن) معنا د نکاح ترون دی او په هيڅ ډول د جنسي اړيکو په معنا نه شي اخيستل کېدای او دا هم ډېره حيرانوونکې خبره ده چي ښځو ته د نکاح نسبت نه شي کېدای.

دلته بايد پوښتنه وشي چي که هغوی ته د نکاح نسبت نه شي کېدای نو ايا د جنسي اړيکو فعل ورته منسوب کېدای شي؟. که له همدې طريقې وګورو نو دا هم ښځه نه بلکي نارينه کوي.

پاتي شو درېيم دليل نو هغه په حقيقت کي د يوه روايت په مدعا د نه پوهېدو له املا را پيدا شوی، امام بخاري چي په کومه طريقه نقل کړی تر مطالعې وروسته يې دا خبره بېخي په ډاګه کېږي چي مېرمنې نکاح د همدې هدف لپاره کړې وه چي لومړني مېړه ته حلاله شي، کله چي يې د طلاق اخيستلو لپاره د ناسم بيان په ورکولو دويم مېړه د جنسي اړيکو په نيولو کي نيمګړی وبالله نو رسول الله ﷺ د سزا لپاره په دې وينا اول مېړه ته له ورتلو منعه کړه چي له دويم مېړه څخه تر خوند اخيستلو وروسته اول ته ورتلای شي. دا بيان شرط نه بلکي د تعليق بالمحال اسلوب دي، له همدې کبله که دا روايت کوم شی ثابتوي نو د حلالې د ممانعت ثبوت دی، په دې کي د فقهاوو د دريځ په اړه هيڅ

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دليل نه شته.

روايت دادی:

عن عكرمة ان رفاعة طلق امرأته فتزوجها عبد الرحمن بن الزبير القرظي، قالت عائشة وعليها خمار اخضر فشكت اليها وارتها خضرة بجلدها، فلما جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم، و النساء ينصر بعضهن بعضا، قالت عائشة: ما رأيت مثل ما يلقى المؤمنات، لجلدها اشد خضرة من ثوبها. قال: و سمع انها قد اتت رسول الله ﷺ، فجاء ومعه ابنان له من غيرها. قالت: والله ما لی اليه من ذنب الا ان ما معه ليس باغنى عنى من هذه، و اخذت هدبة من ثوبها، فقال: كذبت والله، يا رسول الله، انى لانفضها نفض الاديم و لكنها ناشز تريد رفاعة. فقال رسول الله ﷺ : فان كان ذلک لم تحلی له او لم تصلحی له حتى يذوق من عسيلتک. قال: وابصر معه ابنين له، فقال: بنوک هولاء؟ قال: نعم. قال: هذا الذى تزعمين ما تزعمين. فوالله، لهم اشبه به من الغراب بالغراب. (بخاري، شمېره: ۵۸۲۵)

"له عكرمه څخه روايت دی چې رفاعه خپله مېرمن طلاقه کړه نو عبد الرحمن بن زبير قرظي ورسره نکاح وکړه. عائشه وايي چې د هغې شين پرونی پر سر وو دې ته راغله له خپل مېړه څخه يې شکايت وکړ او د خپل بدن شينوالی يې ور وښود. ښځې د يو بل مرسته کوي، کله چې رسول الله ﷺ راغی نو عائشې وويل: ما چې له مسلمانو مېرمنو سره څه ليدلي تر دې وړاندې مي نه وو ليدلي، د دې پوستکی يې تر پرونې هم شين وو. عکرمه وايي: کله چې يې مېړه خبر شو دا رسول الله ﷺ ته د ګيلې لپاره تللې نو دی هم د بلې مېرمنې له دوو زامنو سره راغی، د مېړه په ليدو يې د خپل پرونې سر په لاس کې ونيو ويل: زما له ده څخه شکايت دادی چې له ده سره کوم څه دي زما لپاره تر دې زيات نه دي. په دې سره عبد الرحمن وويل: قسم په الله! اې رسوله زه له دې سره هغه څه کوم چې پخوونکی يې له پوست سره کوي، رښتنې خبره داده چې دې بغاوت کړی او بيرته رفاعه ته ستنېدل غواړي. رسول الله ﷺ چې دا خبره واوربده نو ويې ويل: همدا خبره ده نو رفاعه ته هيڅکله تر هغو حلاله نه يې چې له عبد الرحمن څخه خوند وانخلې. بيا يې د عبد الرحمن زامنو ته وکتل ويې پوښتل: دادي زامن دي؟. هغه مثبت ځواب ورکړ، نو (يې ښځې ته) وويل: ته دروغ وايې، قسم په الله! دا خو عبد الرحمن ته تر دې هم ډېر ورته دي لکه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو کارغه چې بل ته شوی وي."

۵) که مېړه طلاق ورکړي او يا رجوع وکړي په دواړو صورتونو کې يې ويلي چې پر خپله دې پرېکړه دي دوه باوري مسلمانان شاهدان کړي او شاهدانو ته يې لارښوونه کړې چې دوی دي د الله لپاره پر خپله شاهدي ودرېږي، له دې څخه يې هدف دادی چې په دواړو کې يو يې وروسته له کومې خبرې منکر نه شي او که شخړه پيدا شي نو پرېکړه يې په اساني ترسره شي. پر دې سربېره په دې معامله کې شکونه او شبهات پيدا نه شي او خلګو ته هر څه ښکاره او څرګند وي.

همدا د طلاق سمه طريقه ده، که څوک له دې سره سم خپله مېرمن بېلوي او يا تر بېلتون وروسته هغې ته رجوع کوي نو دا پرېکړه يې شرعا نافذېږي، مګر که يې له يوه اړخ څخه په مخالفت کولو طلاق ورکړي نو دا يوه دعوه ده چې محکمه به يې پرېکړه کوي. رسول الله ﷺ ته چې دا ډول کومې دعوې وړاندې شوې دي په هغو کې دوې يې ډېرې مهمې دي.

لومړی، دعوه د عبدالله بن عمر ده، ده خپلې مېرمنې ته د حيض په وړځو کې طلاق ورکړ نو عمر ﷺ يې معامله رسول الله ﷺ ته وړاندې کړه، هغه يې په اوږدو سخت خپه شو او ويې ويل: هغه ته امر وکړه چې بيرته رجوع وکړي، خپله مېرمن وساتي، کله چې پاکه او بيا حيض پرې راشي، بيا پاکه شي نو وروسته که وغواړي ودې ساتي او که غواړي نو تر يو ځای کېدو وړاندې دي طلاق ورکړي، ځکه دا د هغې عدې ابتدا ده چې الله ښځو ته د طلاق په ورکولو کې بيان کړې ده.[۳۰]

دويمه دعوه د رکانه عبد يزيد ده، د روایاتو له يو ځای کولو څخه چې يې کوم شکل تر لاسه کېږي هغه دادی چې ده خپلې مېرمنې ته يو ځای درې طلاقونه ورکړل، وروسته پښېمانه شو او خپله مسئله يې رسول الله ﷺ ته وړاندې کړه. ده وپوښتل: طلاق دي څرنګه ورکړ؟. هغه وويل: مېرمنې ته مې پرېوه وخت درې طلاقونه ورکړي دي. رسول الله ﷺ وويل: اراده دي وه؟. ده وويل: اراده خو مې دېوه طلاق وه. رسول الله ﷺ د قسم په ورکولو ترې وپوښتل او ده قسم وخوړ، نو ويې ويل چې همداسې ده نو رجوع ورته وکړه دا يو طلاق شو. هغه وويل: اې د الله رسوله! ما خو درې طلاقونه يادکړي وو. ده وويل: زه پوهېږم، ته رجوع وکړه دا د طلاق ورکولو سمه طريقه نه ده، الله ويلي چې کله ښځو ته

---

[۳۰] بخاري، شمېره: ۵۲۵۱، مسلم، شمېره: ۳۶۵۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

طلاق ورکوئ نو د عدې له مخې يې ورکړئ.[۳۱]

په دې دوو قضيو کې چې د رسول الله ﷺ پرېکړه پر کومو اساساتو ولاړه ده هغه دادي:

کـه د قانون مخالفت وشي او جبـران يې ممکن وي نو د قانـون د درنـاوي غوښتنه داده چې مخالفت کوونکي ته يې د جبران امر وشي.

خبرې کوونکی د خپل هدف د وضاحت حق لري، که هغه ووايي چې فلانی خبره مې بې ارادې او يا په يوه وجه د ارادې او اختيار د ختمېدو له مخې کړې نو دا وضاحت يې منل کېدای شي.

د درو طلاقونو الفاظ د عدد د بيان لپاره هم ويل کېدای شي او د سختې پرېکړې، پوره والي او قطعيت څرګندولو لپاره هم، څرنګه چې دا دواړه احتمالات د ژبې او بيان له مخې بېخي سره ورته دي له همدې امله بايد په دې اړه د ويونکي وضاحت هم ومنل شي.

مګر د دې معنا دا نه ده چې کـه يې شواهد خلاف وي نو هم يې د وضاحت منل ضروري دي، محکمه يقينا دا حق لري چې که ډاډه نه شي نو له منلو يې انکار وکړي. د عمر ﷺ په اړه ويل شوي چې کله يې وليدل خلک د پخوا په پرتله محتاط نه دي نو اعلان يې وکړ چې نور به په دې اړه د هيڅا بيان ونه منل شي او دې طلاقونه به نافذ شي.[۳۲]

د طلاق عده

د سورت الطلاق په دې اياتونو کې چې د کومې عدې له مخې د طلاق ورکولو امر شوی دی قرآن بل ځای بيان کړی دی چې هغه درې حيضونه دي.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوَءٍ (البقرة ۲ : ۲۲۸)

"او کومو ښځو ته چې طلاق ورکول شوی دوی دي درې حيضه انتظار وکړي."

پـــه دې ايت کـــې قروء د قرء جمـع ده، دا لفظ د حيض په ځـــــــر د طهر لپاره هم

---

[۳۱] ابوداود، شمېره: ۲۱۹۶، ۲۲۰۶، ابن ماجه، شمېره: ۲۰۵۱، ترمذي، شمېره: ۱۱۷۷، احمد، شمېره: ۲۳۸۳ دا روايتونه د سند له مخې ضعيف دي خو چې سره يو ځای شي نو ضعف يې ختمېږي.

[۳۲] مسلم، شمېره: ۳۶۷۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استعمالېږي. استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په خپل تفسير تدبر قرآن کې داسې تحقيق کړی دی:

" ... د دې پر اصل ماده او مشتقاتو چې يې موږ څومره فکر کړی دی نو ميلان مو دې لور ته دی چې حيض يې اصلي معنا ده، مګر څرنګه چې له حيض سره طهر هم لازم وي ځکه نو په عامو خبرو - اترو کې ور څخه په طهر هم تعبير کېږي. لکه له شپې سره چې ورځ لازمه ده يا له ورځ سره شپه پيوسته ده، د دا ډول استعمال بېلګې په هره ژبه کې تر لاسه کېدای شي." (۱/ ۵۳۲)

موږ يې معنا په حيض کړې ده، وجه يې داده چې دلته اصلي مسئله دا معلومول دي چې ښځه حامله ده او که نه؟ او دا پرېکړه د حيض په وسيله کېږي نه د طهر، د دې لپاره يې د ځنډ کولو موده ټاکلې او دا هم په حيض سره معلومېږي، ځکه هيڅا ته يې د پيل په اړه شک نه وي.

په عامو حالاتو کې همدا عده ده، مګر که ښځه له حيض څخه ناهيلي وي او يا د حيض عمر ته له رسېدو سره - سره پرې حيض نه راځي[۳۳]، د سورت الطلاق په دې ايا تونو کې قرآن ويلي چې بيا يې عده درې مياشتې ده. همدارنګه يې دا هم ويلي چې د اميدوارې عده زېږون دی، له حيض څخه د ناهيلو ښځو په اړه په ايا تونو کې د (ان ارتبتم) شرط هم لګول شوی دی، استاذ امام يې په وضاحت کې ليکي:

" ... زما د ذهن ميلان پر دې لور دی چې دلته د (ان ارتبتم) شرط د مدخولې آئسې او غير مدخولې آئسې د توپير لپاره راغلی دی، يعني که له حيض څخه له ناهيلې ښځې سره جنسي اړيکې نيول شوې وي نو له ناهيلې سره - سره د دې امکان شته چې ممکن دا حالت يې عارضي وي، وروسته د اميد شکل پيدا شوی او په رحم کې يې يو شي ځای نيولی وي. دا صورت د هغې په اړه هم پيدا کېدای شي چې لا هم حيض نه وي ورغلی خو جنسي اړيکې ورسره نيول شوې وي ... ممکن د چا په ذهن کې دا پوښتنه پيدا شي چې که يې همدا ويلای نو ولي يې په ښکاره ټکو داسې نه ويل چې که له ناهيلې ښځې سره

---

[۳۳] په اصل کې د (وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ) الفاظ راغلي او لم په عربي ژبه کې د نفې جحد لپاره استعمالېږي ځکه نو له دې څخه هغه نجونې نه شي مرادېدای چې لا يې هم حيض نه وي پيل شوی، بلکې هغه ښځې ترې مراد دي چې د حيض عمر ته له رسېدو سره - سره يې حيض نه وي راغلی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اړيکې نيول شوې وي نو عده يې درې مياشتې ده؟. ځواب يې دادی چې که خبره همداسې شوې وای نو په دې سره د عدې اصل علت نه روښانه کېده حال دا چې وضاحت يې اړين وو. د دې اصل علت له منځې سره جنسي اړيکې نه بلکې دا شک دی چې ممکن په رحم کې يې يو څه وي." (تدبر قرآن ۸ / ۴۴۲)

له دې ايت څخه دا هم په ډاګه شوه چې که له منځې سره جنسي اړيکې نه وي نيول شوې نو څرنګه چې يې په اړه د حمل سوال نه پيدا کېږي نو بايد هيڅ عده هم ونه لري. په سورت الاحزاب کې يې الله وضاحت کړی دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا (الأحزاب ۳۳ : ۴۹)

"اې مومنانو! کله چې له مسلمانو منځو سره نکاح وکړئ او ترلاس ورورلو وړاندې طلاق ورکړئ نو تاسو پر هغوی هيڅ عده نه لرئ چې د پوره کېدو غوښتنه يې وکړئ."

د عدې پر مهال چې په سورت الطلاق کې کوم احکام بيان شوي هغه دادي:

اول: لارښوونه شوې چې په دې موده کې بايد نه منځه خپل کور پرېږدي او نه مېړه حق لري چې له کور څخه يې وشړي، د داسې يو ځای اوسېدو په نتيجه کې هيله شته چې زړونه به يې بدل شي، دواړه به پر خپل دريځ غور وکړي او ويجار کور به يې يو ځل بيا اباد شي. د لَعَلَّ اللهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَالِكَ اَمْراً يعني ممکن الله ترې وروسته کوم بل صورت پيدا کړي په الفاظو همدې ته اشاره ده. له دې سره يې خبر ورکړی چې دا د الله را منځ ته کړي حدود دي، که څوک ترې د تېرېدو هڅه وکړي الله ته به هيڅ زيان ونه رسوي بلکې خپلې ګټې به له منځه يوسي.

الله دا حدود د خپل ځان لپاره نه دي را منځ ته کړي بلکې د بندګانو د ګټې لپاره دي، له همدې کبله که يې څوک ماتوي نو پر خپل ځان ظلم کوي.

له دې څخه يوازې هغه صورت مستثنا دی چې نارينه منځې ته د څرګندې بې حيايي له کبله طلاق ورکړی وي، په عربي کې دا تعبير د زنا او د هغې د لوازمو و مقدماتو لپاره مشهور دی. په دې صورت کې څرګنده ده چې نه له مېړه څخه دا غوښتنه روا ده چې دا ډول منځه په کور کې پرېږدي او نه هغه ګټه ترې ترلاسه کېدای شي چې په اړه يې دا لارښوونه شوې ده.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم: ويلي يې دي چې د عدې پر مهال دي ښځې ته له خپل توان سره سم د اوسېدو ځای او ډوډۍ و نفقه برابر کړي، تر طلاق و روسته نارینه په دې اړه ډېر کمزوری چلند خپلولای شي ځکه نو ټینګار شوی چې له ځان سره د ښځې ساتلو طریقه باید داسي نه وي چې د هغې شخصیت زیانمن شي بلکي ټولي معاملې دي د مېړه د عوایدو له مخې او ژوند د معیار له تلې سره برابر وي. ورپسې یې زیاته کړې چې په دې موده کې دي له هیڅ پلوه د هغې د زورولو تدابیر نه خپلېږي چې د څو ورځو په خپګان د مېړه د کور خوشي کولو ته مجبوره شي.

څرګنده ده چې تر درېیم طلاق و روسته هم مېړه دا مسئولیت لري، ځکه ښځه د عدې پابندي د حمل د تشخیص او ساتنې لپاره قبلوي، موږ چې پورته د سورت الاحزاب (۳۳) کوم ایت نقل کړی په هغه کې د فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ الفاظ ښيي څرګند دي چې که د حمل امکان وي نو د مېړه له خوا پر مېرمن عده یو واجب حق دی. په دې کې شک نه شته چې تر درېیم طلاق و روسته مېړه د رجوع حق نه لري خو په دې نتیجه کې چې کوم شی ختمېدای شي هغه د یو ځای اوسېدلو پابندي ده، د ښځې د اوسېدو د ځای او ډوډۍ و نفقې برابرولو مسئولیت په هیڅ حال کې هم ختمېدای نه شي ځکه نو دا ښيي ثابته ده چې که عده دري حیضه وي، یا دري میاشتې او یا د زېږون تر زمانې و غزېږي نو مېړه په هر حال کې د دې شیانو مسئول دی.

ممکن ځینې کسان زموږ پر خلاف د فاطمې بنت قیس روایت وړاندي کړي، د هغې کیسه داسي بیانېږي چې مېړه یې ابو عمرو لومړی دوه طلاقونه ورکړي وو، بیا چې کله له علي ﷺ سره یمن ته ولېږل شو نو درېیم طلاق یې هم ورته را ولېږه. هغې د عدې پر مهال د نفقې او هستوګنځای غوښتنه وکړه نو د مېړه قریبانو یې د دې حق له منلو انکار وکړ، هغې دا دعوه رسول الله ﷺ ته وړاندي کړه نو هغه پرېکړه وکړه چې ستا لپاره نه نفقه شته او نه هستوګنځای.[۳۴]

دا روایت د احادیثو په ځینو کتابونو کې نقل شوی مګر له روایاتو ښکاري چې کله عمر ﷺ ته وړاندي شو نو په دې وینا یې د هغه له منلو ډډه وکړه چې موږ د یوې مېرمنې په وینا د خپل رب کتاب او د هغه د رسول سنت نه شو پرېښودای.[۳۵] کله چې د مروان د

---

[۳۴] مسلم، شمېره: ۳۶۹۷، ۳۶۹۸، ابوداود، شمېره: ۲۲۹۰

[۳۵] مسلم، شمېره: ۳۷۱۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

واکمنۍ پر مهال یو ځل بیا پر دې مسئله بحثونه پیل شول نو عائشې ﷺ پر دې روایت کلکې نیوکې وکړې. قاسم بن محمد وایي چې ما له دې څخه وپوښتل: ایا تا ته د فاطمې کیسه معلومه ده؟. دې ځواب ورکړ: که د فاطمې حدیث ذکر نه کړې نو ښه به وي.[۳۶] په یوه بل روایت کې د دې الفاظ دادي: په فاطمې څه شوي ایا له الله نه وېرېږي؟.[۳۷] درېیم روایت له عروه بن زبیر څخه دی، دی وایي چې عائشې ﷺ وویل: د فاطمې لپاره د دې حدیث په بیانولو کې هیڅ خیر نه شته.[۳۸] په یوه بل روایت کې د همدې عروه وینا ده چې ام المؤمنین پر فاطمې سخته غوسه شوه او ویې ویل: دا اصلا په یوه خالي کور کې وه چې هلته ورسره هیڅوک نه وو ځکه نو رسول الله ﷺ د هغې د ساتنې په خاطر د کور بدلولو لارښوونه وکړه.[۳۹]

دا د همدې روایت حقیقت دی ځکه یې نو باید نور څوک د اعتبار وړ ونه بولي، پر دې لارښوونو سربېره الله په سورت البقره کې یوه بله لارښوونه دا کړې چې ښځې دي د عدې پر مهال د خپل حمل پټولو هڅه نه کوي. پورته مو ځای پر ځای وویل چې د عدې حکم د همدې لپاره ورکړل شوی چې د ښځې د حمل او نه حمل پربکړه وشي ځکه نو همدا د دې حکم لازمي تقاضا ده او الله پرې له ډېرې سختۍ سره ټینګار کړی دی.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ وَلاَ يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ (البقرة ۲ : ۲۲۸)

"او طلاقې شوې ښځې دي درې حیضه انتظار وکړي او که دوی پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لري نو دا ورته روا نه ده چې الله یې په نس کې څه پیدا کړي هغه پټ کړي."

تر طلاق وروسته

کله چې طلاق اغېز وکړي نو تر دې وروسته چې کوم څه د شخړې سبب کېدای شي یو یې ماشومانو ته تی ورکول دي، د سورت الطلاق په یادو ایاتونو کې الله ویلي چې که یې

[۳۶] بخاري، شمېره: ۵۳۲۱، ۵۳۲۲
[۳۷] بخاري، شمېره: ۵۳۲۳، ۵۳۲۴، مسلم، شمېره: ۳۷۱۹
[۳۸] بخاري، شمېره: ۵۳۲۵، ۵۳۲۶
[۳۹] بخاري، شمېره: ۵۳۲۵، ۵۳۲۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مور د تي ورکولو ته چمتو وي نو نارينه دي يې د خدمت بدله ورکړي او دا بدله دي په خپل منځي مشوره او ښه طريقه وټاکي. که د ماشومانو د مورو پلار تر منځ دا ډول کوم قرارداد ونه شي نو د قرآن وينا داده چې بيا دي کومه بله ښځه شيدې ورکړي، له دې سره يې د لګښت معيار هم بيان کړی دی چې وس درلودونکی دي له خپل حالت سره سم لګښت وکړي او تنګلاسی دي له خپل وس سره سم، نه وس درلودونکي ته روا ده چې خپل معيار تر نورو ټيټ کړي او نه بايد پر غريب تر خپل وس زيات بوج واچول شي. الله هر سړی له خپل وس سره سم په خپلو احکامو مکلف کوي.

په سورت البقره کي يې د همدې حکم په تفصيل سره ويلي:

وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلاَدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لاَ تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلاَّ وُسْعَهَا لاَ تُضَآرَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلاَ مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالاً عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُواْ أَوْلاَدَكُمْ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّآ آتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

(البقرة ۲ : ۲۳۳)

"او هغه مندې دي چې د شيدو د مودې پوره کول غواړي خپلو ماشومانو ته پوره دوه کاله شيدې ورکړي او د ماشومانو پلار به (په دې صورت کي) له قانون سره سم د هغوی خوراک او لباس ورکوي، پر هيڅا دي تر وس زيات بوج نه اچول کېږي، نه دي کومه مور د ماشومانو په وجه تاوانې کېږي او نه دي کوم پلار د ماشومانو په سبب او دا ډول مسئوليت (د هغوی) پر وارثانو هم دی، نو که دواړه په خپل منځي خوښه او مشوره د شيدو ختمول وغواړي نو پر دوی هيڅ ګناه نه شته او که خپلو ماشومانو ته په بل چا شيدې ورکوئ نو هم پروا نه لري. په دې شرط (چې د ماشوم له مور سره) مو کومه فيصله کړې هغه له قانون سره سم ورکړئ، له الله وويرېږئ او پوه شئ چې تاسو څه کوئ الله يې وينې."

د دې احکامو لنډيز د استاذ امام امين احسن اصلاحي په الفاظو دادی:

"۱) طلاقه شوې ښځه پوره دوه کاله ماشومانو ته د تي ورکولو مسئوليت لري، که طلاق ورکوونکی مېړه وغواړي چې د رضاعت دا موده پوره شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) په دې موده کې به د ماشومانو پلار د خوراک او جامو مسئول وي او په دې معامله کې به قانون ته ګوري يعني د مېړه حيثيت، د ښځو اړتياوو او مقام حالاتو ته په پام دي دواړه لوري پرېکړه وکړي چې ښځې ته د هډوډۍ او نفقې په توګه يو شی ورکړي.

۳) په دواړو کې به پر هيڅا تر وس زيات بوج نه اچول کېږي، نه به د ماشومانو په بانه مور ته د زيان رسولو هڅه کېږي او نه به د هغو په پلمه پر پلار ناروا پشار را وړل کېږي.

۴) که د ماشومانو پلار وفات شوی وي نو عيني همدا مسئوليت له يادونو او حقوقو سره د هغه وارثانو ته را جع دی.

۵) که نارينه او ښځه په خپل منځي خوښه او مشوره په دوه کاله کې له تي څخه د ماشوم پرې کولو فيصله وکړي نو کولای يې شي.

۶) که پلار يا د ماشومانو وارثان د مور پر ځای د بلې ښځې تی ورکوي نو د دې کولو اجازه لري په دې شرط چې د ماشومانو له مور سره د ورکړې کوم قرارداد شوی هغه پوره ورکړل شي." (تدبر قرآن ۱/ ۵۴۵)

دويم چې کوم شی د شخړې سبب کېدای شي هغه د ښځې په نکاح کې د خنډونو پيدا کولو هڅه ده، دا نو که د ښکاره منعې په شکل وي او يا د دسيسو او خنډونو پيدا کولو په بڼه. په سورت البقره کې الله له دې څخه په سختي منعه کړې ده او خلګ يې پوهولي دي چې کله يوې ښځې ته طلاق ورکړل شي نو بيا لومړی مېړه د هغې په پرېکړه کې د خنډ پيدا کولو هيڅ حق نه لري، هغه چې کله او چيرې وغواړي نکاح کولای شي. که دا پرېکړه له قانون سره سمه وي نو هيڅوک پرې د اعتراض حق نه شي درلودای، د دې لپاره په اصل کې د بالمعروف الفاظ راغلي دي. مطلب يې دادی چې ښځه او نارينه دواړه د خپلو چارو په ترسره کولو کې پوره ازاد دي، خو دومره خبره په هر حال اړينه ده چې په دې کې بايد هيڅ شی د شرافت د دودونو خلاف نه وي او په دې سره لومړني يا کېدونکي مېړه او يا په خپله د ښځې د کورنۍ عزت او شهرت ته د زيان رسولو اندېښنه نه وي. الله ويلي:

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْاْ بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ ذَلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكُمْ أَزْكَى لَكُمْ وَأَطْهَرُ

"او کله چې تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ او د دوی عده پوره شي نو د دې مانع مه ګرزئ چې له خپلو کېدونکو مېړونو سره نکاح وکړي، هغه وخت چې له قانون سره سمه معامله وکړي. په تاسو کې دا نصيحت هغو کسانو ته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ (البقرة ۲ : ۲۳۲) کښې چې پر الله او د قیامت په ورځ ایمان لري، همدا ستاسو لپاره ډېره مناسبه او سپېڅلې طریقه ده او (حقیقت دادی چې) الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ."

د دې ایت د وروستۍ برخې په وضاحت کې استاذ امام لیکلي:

"ده ویلي چې دا نصیحت هغو کسانو ته کېږي چې پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لري یعني په چا کې چې د الله او د اخرت د ورځې ایمان موجود وي د هغوی د ایمان لازمي غوښتنه داده چې په دې نصیحتونو عمل وکړي، بیا یې ویلي چې دا ستاسو لپاره ډېره سپېڅلې او صفا طریقه ده یعني که د ښځې د خوښې په نکاح کې خنډونه پیدا شي نو په دې سره کورنۍ او ټولنې ته د ډېرو بدیو پیدا کېدو وېره ده. په دې سره د پټو اړیکو، زنا، تښتونې او فرار ډېرې دروازې پرانیستل کېږي او یوه ورځ به د هغو ټولو پزه پرې شي چې د خپلې پزې د لوړولو په ګومان یې د فطري غوښتنو په وړاندې د بې ځایه دودونو د خنډونو درولو هڅه کوله، په پای کې یې ویلي چې الله پوهېږي تاسو نه پوهېږئ یعني ستاسو پوهه او نظر ډېر محدود دی، ستاسو لپاره د ژوند په ټولو لوړو او ژورو پوهېدل سخت دي له همدې کبله چې د الله له خوا کوم امر درته کېږي عمل پرې وکړئ."

(تدبر قرآن ۱/ ۵۴۴)

پر دې دوو شیانو سربېره دمېرمنې او مېړه تر منځ د ماشومانو د پالنې پر سر هم شخړه پیدا کېدای شي، مګر څرنګه چې دا پرېکړه د ماشومانو د مصلحت او مورو پلار حالاتو ته په پام کېدای شي او بېلابېل صورتونه لري ځکه نو شریعت په دې اړه کوم معلوم قانون نه دی ټاکلی البته د دا ډول مسایلو په اړه چې رسول الله ﷺ کومې پرېکړې کړې دي په هغو کې چارواکي د لارښوونې ډېر څه موندلای شي. د دوو را پورې دلته را اخلو.

د عبدالله بن عمر ؓ روایت دی چې رسول الله ﷺ ته یوه ښځه راغله او ویې ویل: اې د الله رسوله! زما د دې زوی لپاره ګواکې زما نس لوښی وو، تیان مي ژی او زما غېږ یې کوروو اوس یې پلار ما ته طلاق راکړ او غواړي را څخه وایې خلی. رسول الله ﷺ وویل: ته یې تر هغو د را ګرزولو ډېره حقداره یې چې نکاح دي نه وي کړې.[۴۰]

[۴۰] ابوداود، شمېره: ۲۲۷۶، حاکم، شمېره: ۲۸۳۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ابو هريره ﷺ وينا ده چې زه له رسول الله ﷺ سره موجود وم يوه ښځه راغله ما واوربدل ويې ويل: اې د الله رسوله! مېړه مي غواړې چې دا ماشوم راڅخه واخلي، په داسي حال کې چې هغه ما ته د ابو عنبه له څاه څخه اوبه راوړي او ډېره ګټه يې را رسولې ده. رسول الله ﷺ وويل:

تاسو دواړه پرې نوم اچونه کولای شئ، د دې په اوربدو يې مېړه وويل: زما د ماشوم په اړه به څوک را سره جګړه کوي؟. رسول الله ﷺ وويل: زويه! دا ستا پلار او دا دي مور ده، ته چې په دوی کې د چا لاسنيوی غواړې ويې نيسه. ماشوم د مور لاس ونيو او له هغې سره روان شو.[41]

د مېړه مړينه

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ * وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاء أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ عَلِمَ اللّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَـكِن لاَّ تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلاَّ أَن تَقُولُواْ قَوْلاً مَّعْرُوفًا وَلاَ تَعْزِمُواْ عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىَ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ* (البقرة ٢ : ٢٣٤، ٢٣٥)

" او په تاسو کې چې کوم کسان مړه شي او مېرمنې پرېږدي نو هغوی دي څلور مياشتې او لس ورځې انتظار وکړي، کله چې يې عده پوره شي نو د ځان په اړه دي له قانون سره سم عمل وکړي. پر تاسو يې هيڅ ګناه نه شته او تاسو چې څه کوئ الله ښه پرې خبر دی او دا هم ګناه نه ده چې په اشاره او کنايه دې ښځو ته د نکاح پيغام ورکړې يا يې په زړه کې پټ وساتئ، الله ته معلومه ده چې تاسو به ژر ورته دا خبره وکړئ (نو ويې کړئ) مګر (په دې کې) پټه وعده ورسره مه کوئ البته له قانون سره سمه يوه خبره کولای شئ او د نکاح د ترون پرېکړه تر هغه وخته مه کوئ څو چې قانون خپله موده پوره نه کړي او پوه شئ چې الله په هغه څه پوهېږي چې ستاسو په زړونو کې دي ځکه نو له ده ووېرېږئ او پوه شئ چې الله بخښونکی دی ډېر د زغم خاوند دی."

[41] ابوداود، شمېره: ٢٢٧٧

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د سورت البقرې په دې ایاتونو کې د کونډو د عدې حکم بیان شوی دی، لومړی خبره داده چې د کونډې عده څلور میاشتې او لس ورځې ده[۴۲]، د عامې طلاقې شوې په پرتله یې دا زیاتونه د دې لپاره وکړه چې هغې ته خو په داسې طهر کې د طلاق ورکولو لارښوونه شوې چې مېړه ورسره یو ځای شوی نه وي مګر څرنګه چې د کونډې لپاره د دا ډول کوم قانون را منځ ته کول ممکن نه دي ځکه نو د احتیاط تقاضا دا وه چې ورځې یې ډېرې شي. قرآن همداسې کړي او د طلاقې شوې په پرتله یې د هغې عده یوه میاشت او لس ورځې زیاته ټاکلې ده.

دویمه خبره یې دا کړې چې کله عده تېره شي نو تر دې وروسته ازاده ده او د خپلې معاملې په اړه چې کوم ګام مناسب وګڼي پورته کولای یې شي، البته د مدني قوانینو پیروي به کوي یعني داسې کوم ګام باید وانه خلي چې له کبله یې د کورنۍ عزت، شهرت، مقام او سمو دودونو ته د زیان رسېدو وېره وي. کله دې ته پام وشي نو پرې دې او سرپرستانو یې هیڅ بندیز نه شته، استاذ امام لیکي:

"مطلب دادی چې د شریعت خلاف دودونو ته دې د شرعي درجې په ورکولو حتما یو بل د تورونو او سپکو -سپورو هدف نه ګرزي، نه دې د مېړه وارثانو او د ښځې سرپرستانو ته دا پېغور ورکول کېږي چې ښځې د خپل مېړه پوره ویر هم ونه لمانځه او ترې تنګ شول او نه باید ښځې ته دا پېغور ورکړل شي چې لا یې هم د مېړه کفن وچ شوی نه وو چې د واده نغاړې یې پیل کړې، الله چې کوم حدود ټاکلي یو ازي د هغو اتباع په کار ده او باید دا خبره په یاد وساتل شي چې الله د بندګانو په هر عمل خبر دی."

(تدبر قرآن ۱/ ۵۴۶)

درېیمه خبره یې دا کړې چې که یو څوک له کونډې سره نکاح غواړي نو د عدې په موده کې دومره کولای شي چې په خپل زړه کې اراده وکړي یا په اشاره او کنایه یو څه ووایي

---

[۴۲] څرنګه چې د طلاقې شوې او کونډې لپاره د عدې حکم دیوه هدف لپاره ورکړل شوی له همدې کبله چې پورته د طلاق په بحث کې کوم استثنائات بیان شوي د کونډې په عده کې به ورته هم پاملرنه کېږي، ځکه نو هغه کونډه هیڅ عده نه لري چې جنسي اړیکې ورسره نه وي نیول شوې او د حاملې عده تر زېږون وروسته ختمېږي. د بخاري او مسلم دواړو روایت دی (شمېره: ۵۳۱۸، ۳۷۲۳) چې کله یوې حاملې مېرمنې سبیعې خپله معامله رسول الله ﷺ ته وړاندې کړه نو ده همداسې پرېکړه وکړه.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مګر دا هیڅکله ورته روا نه ده چې د یوې غمګیلې کورنۍ احساساتو ته له پامه پرته ښځې ته د نکاح پیغام ورولېږي یا پټه ژمنه او وعده وکړي، په داسي حالت کې چې هره خبره کېږي نو باید د تسلیت او خواخوږۍ تر څرګندولو محدوده وي ځکه یې نو خبرو کړې چې الله ښه پوهېږي چې تاسو به خپله اراده څرګنده کړئ، مګر داسي نه چې د نکاح تاروته وغزوئ، قول او وعده وکړئ او یا په پټه کوم ټرون وکړئ، د دې طریقه باید داسي وي چې په دا ډول حالاتو کې مناسب او له قانون سره موافق ګڼل کېږي. کله چې عده تېره شي نو له دې ښځو سره د نکاح پرېکړه کولای شئ، تر دې وروسته پر تاسو هیڅ ملامتي نه شته.

له دې څخه معلومه شوه چې د عدې په موده کې باید د ښځې چلند هم داسي وي، له همدې کبله رسول الله ﷺ ښځو ته لارښوونه کړې چې که دوی د خپل مړه شوي مېړه په کور کې عده تېروي نو د ویر په حالت کې دي تېره کړي او د ښکلا و سینګار هیڅ شی دي نه کاروي. نبوي وینا ده:

المتوفى عنها زوجها لا تلبس معصفر من الثياب و لا الممشقة و لاالحلي و لاتختضب و لاتكتحل. (ابوداود، شمېره: ۲۳۰۴) "کونډې ښځې به نه رنګینې جامې اغوندي، نه ژړې او نه د سره رنګ، نه به زیورات کاروي او نه به سرمه لګوي."

خو په دې موده کې به د ښځې لګښت او هستوګنځای څه ډول وي قرآن په همدې سورت کې وړاندې ویلي چې مېړونو ته الله امر کړی چې هغوی دې د خپلو کونډو لپاره د یوه کال د لګښت او خپلو کورونو کې د اوسېدو وصیت وکړي، مګر که هغوی په خپله خوښه د مېړه کور پرېږدي او یا داسي بل ګام واخلي.[۴۳]

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ "او په تاسو کې چې کوم کسان ومري او ترشا مېرمنې پرېږدي نو د خپلو کونډو لپاره دي د ټول کال د لګښتونو وصیت وکړي او داهم چې

[۴۳] خلګ په عمومي ډول دا حکم په سورت النساء کې د میراث د وېش په ایاتونو منسوخ ګڼي مګر څرګنده ده چې مېړه په خپل ژوند کې د ښځې د لګښتونو او هستوګنځای برابرولو کوم مسئولیت لري دا د هماغه پراخول دي. هغوی د..... عدې پابندي د مېړه لپاره قبلوي او د خپل راتلونکي په اړه باید حتما یو څه مهلت هم ولري، دا حکم د همدې مصلحتونو پر بنسټ ورکول شوی، د میراث له وېشلو سره هیڅ تعلق نه لري.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خَرَجْنَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (البقرة ٢ : ٢٤٠)

له کوره دي نه شرل کېږي، که هغوی په خپله کور خوشي کړي نو د ځان په اړه چې له قانون سره سم څه کوي پر تاسو يې ګناه نه شته او الله عزيز او حکيم دی."

د نارينه او ښځې اختلاط

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ * فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلاَ تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ * لَّيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ * قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ* (النور ٢٤: ٢٧ - ٣١)

"اې مومنانو! له خپلو کورونو پرته د نورو کورونو ته تر هغو مه ورځئ چې پېژندګلوي پيدا نه کړئ او کورنيانو ته يې سلام ونه کړئ دا ستاسو لپاره غوره طريقه ده چې عبرت واخلئ او که هلته څوک ونه مومئ نو تر هغو مه ور ننوزئ چې اجازه يې نه وي درکړې او که درته وويل شي چې بيرته وګرزئ نو ستانه شئ، همدا طريقه ستاسو لپاره ډېره سپېڅلې ده او تاسو چې څه کوئ الله ښه پرې پوهېږي. البته دا هيڅ پروا نه لري چې په کومو کورونو کې څوک نه اوسي تاسو ور ننوزئ او ستاسو لپاره پکې کومه ګټه وي، الله په هغه څه خبر دی چې تاسو يې ښکاروئ او يا يې پټوئ (اې رسوله! که په دې کورونو کې ښځې وي نو) مومنو نارينه وو ته ووايه چې دوی دي خپل نظرونه تيټ ساتي او فرج دي خوندي کوي، همدا د دوی لپاره ډېره پاکه طريقه ده. په دې کې شک نه شته چې دوی څه کوي الله ښه پرې خبر دی او مومنو ښځو ته ووايه چې دوی دي هم خپل نظر تيټ ساتي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

و خپل فرج دي خوندي کوي، د خپل ښکلا شيان دي نه څرګندوي پرته له هغو چې ښکاره دي او د خپلو پرونيو پلوونه دي پر سينو وغوړوي او د ښکلا شيان دي نه څرګندوي مګر د خپل مېرۀ، پلار، خسر، زامنو، بنځيانو، ورونو، ورېرونو، خوريانو، د خپلې ناستې پاستې د مېرمنو، مرېيانو او يا تر لاس لاندي هغو نارينه وو په مخ کي چې د ښځو اشتها نه لري او يا د هغو ماشومانو په مخ کي چې د ښځو د پردو په شيانو لا هم خبر نه وي او پر ځمکه دي د خپلو پښو په وهلو نه ځي چې (خلګو ته يې) پټ زينت څرګند شي او اې مومنانو! ټول الله ته رجوع وکړئ چې بريا ومومئ."

دا له اخلاقي ناولتيا وو څخه د ټولنې د خوندیتوب او په خپل منځي اړيکو کي د زړونو د پاک ساتلو لپاره د نارينه او ښځې د ګډ اوسېدو اداب دي چې الله په خپل کتاب کي بيان کړي دي. د سورت النور په دې ايا تونو کي يې له دې خبرداري سره بيان شوی چې د نورو کورنو ته د ورتګ او ليدنې - کتنې همدا طريقه د خلګو لپاره غوره او ډېره سپېڅلې ده. که دوی ورته پام وکړي نو د دوی لپاره به د خير او برکت سبب وي، مګر په دې کي يو ضروري شرط دادی چې دوی الله عليم او خبير وګڼي، دا طريقه پلې کړي او تل په دې خبر وي چې د دوی رب يې په عمل نه بلکې په نيت او ارادو هم ښه خبر دی.

هغه اداب دادي:

۱) که د يوه بل کور ته د ورتلو اړتيا پېښه شي نو پر خپل سر او بې پوښتنې ورتلل روا نه دي، په داسي وخت کي اړينه ده چې انسان لومړی د کور څښتنانو ته خپل ځان ور وپېژني، د دې مناسبه او متمدنه طريقه داده چې له دروازې سره په درېدو سلام وشي. په دې سره به د کور څښتنانو ته څرګنده شي چې راغلی څوک دی؟، څه غواړي؟ او کور ته يې راتګ مناسب دی او که نه؟. که ترې دې وروسته د سلام ځواب او اجازه ورکړي نو کور ته دي ننوزي، که د اجازې لپاره په کور کي څوک نه وي او يا وي خو د هغه له خوا وويل شي چې اوس ليدنه شونې نه ده نو په زړه کي دي د تنګۍ له احساس پرته بيرته ستون شي.

رسول الله ﷺ د دې حکم په وضاحت کي ويلي چې د اجازې لپاره درې ناري وکړئ، که درېيم ځل ځواب درنه کړل شي نو بيرته ستانه شئ.[۴۴]

همدارنګه يې ويلي چې دروازې ته په مخامخ درېدو او په دننه ورکتلو بايد اجازه ونه غوښتل شي ځکه چې د اجازې غوښتلو امر د همدې لپاره ورکړل شوی چې پر کورنيانو

---

[۴۴] بخاري، شمېره: ۶۲۴۵، مسلم، شمېره: ۵۶۳۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې سترګې ونه لګېږي.[۴۵]

۲) البته په هغو ځايونو کې دا پابندي اړينه نه ده چې هلته د خلګو ښځې او ماشومان نه اوسي، د دې لپاره قرآن د بُيُوتاً غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ الفاظ استعمال کړي دي، يعني هوټلونه، سرايونه، مېلمستونونه، دوکانونه، دفترونه، د نارينه وو د ناستې ځايونه او نور. که هلته د کومې ګټې او ضرورت غوښتنه وي نو انسان له اجازې پرته هم ورتلای شي، پورته چې د اجازې کوم شرط لګول شوی دی هغه له دې ځايونو سره تړاو نه لري.

۳) که په دواړه ډوله ځايونو کې ښځې موجودې وي نو د الله امر دادی چې نارينه دي هم خپلې سترګې ټيټې ساتي او ښځې هم، د دې لپاره په حقيقت کې د يَغُضُّوا مِنْ اَبْصَارِهِمْ الفاظ راغلي. که په سترګو کې حيا وي او ښځه و نارينه د يوه بل په ښکلا و ښايست، د سترګو له خوږولو، خط و خال له ليدو او يوه بل ته له غلي ديدار څخه ډډه وکړي نو يقينا د دې حکم هدف پوره کېږي ځکه د دې حکم مقصد نه کتل او هر وخت سترګې ټيټول نه دي بلکې په ړډو سترګو او پرله پسې نه کتل دي. که پر سترګو دا ډول بنديز ونه لګول شي نو د رسول الله ﷺ په الفاظو دا د سترګو زنا ده، له همدې څخه پيل کېږي چې فرج يې يا پوره کوي او يا نيمګړې پاتېږي.[۴۶] د همدې نظر په اړه رسول الله ﷺ خلګو ته نصيحت کړی چې بايد سمدستي واړول شي.

جرير بن عبدالله ﷺ وايي چې ما له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل: که ناڅاپه دا ډول نظر وشي نو بايد څه وکړم؟. ده وويل: سمدستي يې واړوه يا يې کښته کړه.[۴۷]

د حجة الوداع کيسه ده چې د خثعم قبيلې يوې ښځې رسول الله ﷺ په لار کې ودراوه او د يوې مسئلې پوښتنه يې ترې کوله، نو فضل بن عباس ستـــرګې پرې ښخې کړې. ده چې کله وليد د هغه مخ يې ونيو بلې خوا ته يې واړاوه.[۴۸]

۴) په داسې ځايونو کې دي د فرجو ساتنه وشي، مدعا داده چې نه دي په هغوی کې دننه د نورو لپاره ميلان وي او نه دي د هغوی مخ ته پرانيزي بلکې که نارينه او ښځې يو

---

[۴۵] بخاري، شمېره: ۶۲۴۱، مسلم، شمېره: ۵۶۳۸

[۴۶] بخاري، شمېره: ۶۲۴۳، مسلم، شمېره: ۶۷۵۴

[۴۷] مسلم، شمېره: ۵۶۴۴

[۴۸] بخاري، شمېره: ۱۸۵۵، مسلم، شمېره: ۳۲۵۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځای وي نو د پټېدو ځایونه دي نور هم پټ کړي. څرګنده ده چې په دې کې لویه وندې جامې لري، ښځې او نارینه دواړه دي داسې جامې واغوندي چې له ښکلا سره صنفي غړي نور هم په ښه ډول پټ کړي. د لیدو پر مهال دي دې ته ډېر پام کوي چې په ناسته او ولاړه کې څوک لوڅ نه شي، دلته د فرجو له ساتنې څخه د قرآن هدف همدا دی. هغه غواړي چې د مسلمانانو په ټولنه کې د ستر ګو له ټیټولو سره دې شي ته هم پوره پام وشي.

۵) ښځو ته په ځانګړي ډول ضروري ده چې له خپلو قریبانو او خپلوانو پرته د ښکلا او ښایست هیڅ شی د بل چا په وړاندې څرګند نه کړي، البته له دې څخه د ښکلا هغه شیان مستثنا دي چې عادتا لوڅ وي یعني د لاس، پښو او مخ سینګار، ګینې او نور. د دې لپاره چې د اِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا کوم الفاظ راغلي د عربیت له مخې یې صحیح مفهوم هماغه دی چې زمخشري الا ماجر العادت و الجبلة علی ظهوره و الاصل فیه الظهور[۴۹] په الفاظو بیان کړی، یعني هغه غړي چې انسان یې د عادت او فطرت له مخې نه پټوي او اصلا لوڅ وي ځکه نو باید ښځې له دې غړو پرته د هر ځای د ښایست پټولو هڅه وکړي او د نارینه وو په شتون کې دي پر ځمکه د پښو په وهلو تک هم نه کوي چې پټ زینت یې څرګند نه شي. رسول الله ﷺ له همدې کبله بهر ته د تلو پر مهال د ښځو تېز عطر وهل سخت غندلي دي.[۵۰]

د کومو عزیزانو او خپلوانو په وړاندې چې د دې ښکلا پر څرګندولو بندیز نه شته هغه دادي:

۱) مېړه

۲) پلار

۳) خسر

د ځان او مېړه د پلار لپاره په اصل کې د اباء لفظ استعمال شوی دی، د دې په مفهوم کې یوازې پلار نه بلکې نیکونه او اکاګان ټول شامل دي، ځکه نو یوه ښځه د خپلو نیکه ګانو او اکاګانو او مېړه د نیکه ګانو او اکاګانو د دې ټولو مشرانو په مخ کې د ښکلا

---

[۴۹] الکشاف ۳/ ۲۳۶

[۵۰] ابوداود، شمېره: ۴۱۷۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شيان داسي څرګندولای شي لکه د خپل پلار او خسر په مخ کي چې يې څرګندولای شي.

۴) زامن

۵) د مېړه زامن

۶) وروڼه

۷) د وروڼو اولادونه

۸) د خوندو اولادونه

په زامنو کي لمسی، کړوسی، کوسی او نور ټول شامل دي او په دې معامله کي سکه او ناسکه هم توپير نه لري، همدا حکم د وروڼو او خوندو د اولادو هم دی. په دې کي هم سکه، ناسکه او رضاعي دري سره ډوله وروڼه او خوندې داخل دي.

۹) د خپلې ناستې -پاستې او خدمت ښځې لـه دې څخـه پـه ډاګه شوه چې پـر دی ښځې هم بايد د نارينه وو په څېر وبلل شي او مسلماني ښځې دي د هغوی په مخ کي د خپـل پټ زينـت څرګنـدولو پـه اړه احتيـاط کـوي، ځکـه ځينـي وختونـه د ښـځو صـنفي احساسات هم له مېرمنو سره تړل کېږي او دا هم ممکنـه ده چې د هغوی لـه ښـکټو څخـه پـه اغېزمنېـدو د دوی لـور تـه د نارينـه وو د را مـاتولو او نارينـه وو تـه د دوی د ور مـايلولو وسيله وګرزي.

۱۰) مرپيان

دا هغه مهال موجود وو د دې لپاره چې د (ما ملکت ايمانهن) کوم الفاظ راغلي نو ځينو فقهاوو تر دې صرف مينځې اخيستې دي، مګر په دې الفاظو کي يې هيڅ قرينه نه شته. استاذ امام ليکي:

" که يوازي مينځې مراد وای نو ښکاره او سم تعبير يې (او امائهن) وو، د دې لپاره به يې مينځو او مرپيانو ته شامل عام لفظ نه کاراوه او پر دې سربېره تر دې وړاندي چې د نسائهن کوم لفظ راغلی نو ښکاره ده چې ټولو هغو مېرمنو ته شاملېږي چې د ناستې - پاستې او خدمت اړيکې ولري، تر دې وروسته د مينځو بېل ذکر ته اړتيا نه وه."

(تدبر قرآن ۵ / ۳۹۸)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱۱) هغه خلګ چې د کور د غړیو تر سرپرستۍ لاندې ژوند کوي، د هغوی د امیریت یا بلې وجې له امله ښځو ته میلان نه شي درلودای.

۱۲) هغه ماشومان چې لا هم د بلوغ په غوښتنو نه وي خبر.

٦) څرنګه چې د ښځې سینه هم د ستر برخه ده او په غاړه کې ګیڼې هم وي ځکه یې نو لار ښوونه کړې چې په داسې ځایونو کې یې باید په پرونې پټ کړي، څرګنده ده چې په دې سره تر یو څه حده ګړبوان هم پټېږي، که دا مقصد له پرونې پرته په بله طریقه تر سره شي نو هم پروا نه لري. هدف دادی چې د نارینه وو په وړاندې باید ښځې خپله سینه او ګړبوان څرګند نه کړي، بلکې باید داسې یې پټ وساتي چې نه ښکاره وي او نه یې په یو ډول سینګار ولیدل شي.

په دې صورت کې د همدغو ادابو په اړه څو نور توضیحات هم بیان شوي دي:

اول: ویلي یې دي چې کورونو ته د تګ - راتګ کوونکو مرېیانو نا بالغو ماشومانو لپاره هر وخت د اجازې اخیستلو اړتیا نه شته، دوی باید په درو وختونو کې د اجازې په اخیستلو داخل شي، د سهار تر لمانځه وړاندې چې خلګ لا هم په خپلو بسترونو کې وي، د ماپښین پر مهال چې خلګ د غرمې خوب لپاره جامې باسي او تر ماخوستن وروسته چې کله هغوی د خوب لپاره بسترو ته ځي. دا درې وختونه د پردې دي، که دا مهال څوک ناڅاپه راشي نو ممکنه ده چې د کورنۍ غړي په داسې حال کې وویني چې لیدل یې ښه نه دي، نابالغ ماشومان او د کور مرېیان له دې پرته په نورو وختونو کې د ښځو او نارینه وو د خلوت ځایونو او خونو ته له اجازې پرته ورتلای شي. په دې کې هیڅ بندیز نه شته، مګر د هغو درو وختونو پر مهال اړینه ده چې کله د خلوت ځایونو ته ورځي نو لومړی دي اجازه واخلي، البته د نابالغو ماشومانو لپاره تر بلوغ وروسته دا اجازه نه شته. د دې دلیل له امله چې د ماشومتوب پر مهال کورته تلل - راتلل د تل لپاره مستثنا نه ګڼل کېږي، بلوغ ته تر رسېدو وروسته اړینه ده چې دوی هم له عام قانون سره د اجازې په اخیستو کورونو ته ننوزي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ

"اې مومنانو! ستاسو مرېیان، مینځې او هغه ماشومان دي چې لا هم د عقل درجې ته نه دي رسېدلي په درو وختونو کې ستاسو په اجازه درشي، د سهار تر لمانځه وړاندې، غرمه چې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلاَةِ الْعِشَاء ثَلاَثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلاَ عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ * وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ*

(النور ۲۴ : ۵۸، ۵۹)

تاسو کله جامې باسئ او د ماخوستن تر لمانځه وروسته، دا درې ستاسو د پردې وختونه دي تر دې وروسته نه پر تاسو ګناه شته او نه پر دوی (ځکه چې) تاسو بیا -بیا یوه بل ته ځئ راځئ، الله همداسي د خپلو ایاتونو وضاحت کوي او الله علیم او حکیم دی او کله چې ستاسو ماشومان د عقل حد ته ورسېږي نو باید دوی هم هغه ډول اجازه واخلي لکه لویان چې اجازه اخلي، په دې توګه الله تاسو ته د خپلو ایاتونو وضاحت کوي او الله علیم او حکیم دی."

دویم: ویل شوي چې په پرونې د سینې او ګربوان پټولو حکم د هغو بوډیو لپاره نه دی چې د نکاح هیله نه لري، په دې شرط چې زینت څرګند وونکې نه وي. په کوم عمر کې چې د ښځو خواهشات له منځه ځي او په لیدو یې د نارینه وو جنسي احساسات ونه پارېږي نو د هغوی لپاره پر سینه او ګربوان د پرونې اچول ضروري نه دي. له همدې کبله بوډۍ ښځې د نارینه وو په مخ کې خپلې دا جامې لرې کولای شي او هیڅ پروا نه لري، مګر د دوی لپاره هم ښه داده چې احتیاط وکړي او د نارینه وو په شتون کې یې ونه غورزوي، همدا ورته غوره ده:

وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاء اللاَّتِي لاَ يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (النور ۲۴ : ۶۰)

"او بوډۍ ښځې چې نور د نکاح هیله نه لري که هغوی خپل پرونې لرې کړي نو ګناهګاري نه دي په دې شرط چې زینت څرګند وونکې نه وي او که احتیاط وکړي نو ورته غوره ده، الله اورېدونکی په هر څه خبر دی."

درېیم: بل وضاحت یې دا کړی چې که خلک په خپله یا د هغوی مجبور او معذور هغه عزیزان او دوستان چې د دوی په کورونو کې ژوند کوي نو د یوه بل کورونو ته تګ -راتګ یې پروا نه لري. یو ځای کښېنستلای شي او ښځې و نارینه جلا -جلا او یا په ګډه یو ځای خوراک او څښاک کولای شي، نه د دوی په خپلو کورونو کې پروا لري، نه د پلار او نیکه په کورونو کې، نه د مندو، نه د وروڼو او خوندو، نه د اکاګانو، عمه ګانو، ماماګانو او خالاګانو په کورونو کې، نه د ترلاس لاندې کسانو په کورونو کې او نه د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوستانو البته کله چې کورونو ته ورځئ نو خپلو خلکو ته سلام کوئ، دا ډېره برکتمنه او سپېڅلې دعا ده چې په دې سره خپل منځي اړیکې غوره کېږي. د لیدو -کتلو او یو ځای کېدو کوم اداب چې بیان شوي هدف یې له اړیکو څخه د خلکو محرومول یا پرتې لنیزو ازادیو بندیز لګول نه دي، که هغوی له فکر څخه کار واخلي نو د دې ادابو په رعایت دا تولې اړیکې ساتل کېدای شي، که یې له دې پرته بل فکر اخیستی وي نو غلط پوه شوي دي. په دې کې د هیڅ شي حرام بللو هدف نه شته:

لَيْسَ عَلَى الأَعْمَى حَرَجٌ وَلاَ عَلَى الأَعْـرَجِ حَرَجٌ وَلاَ عَلَى الْمَـرِيضِ حَـرَجٌ وَلاَ عَلَـى أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا مِن بُيُـوتِكُمْ أَوْ بُيُـوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُـوتِ أَعْمَـامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُـوتِ خَالاَتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَـهُ أَوْ صَـدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْـتَاتًا فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُـمُ الآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُون (النور ۲۴ : ۶۱)

"نه پرېږنده کوم بندیز شته، نه پرکوه، نه پر ناروغ او نه پر تاسو چې په خپلو یا د پلارو نیکه، مندو، وروڼو، خوندو، اکاګانو، عمه ګانو، ماماګانو، خاله ګانو، ترلاس لاندې کسانو او خپلو دوستانو په کورونو کې خوراک او څښاک وکړئ هیڅ ګناهګار نه یاست، نارینه او ښځې یو ځای خوراک کوي او که جلا -جلا (البته دومره خبره ضروري ده چې) کله کورونو ته ننوزئ نو خپلو خلکو ته سلام کوئ، د الله له خوا تاکل شوې یوه برکتمنه او پاکه دعا، په دې ډول الله تاسو ته خپل ایاتونه بیانوي چې له عقله کار واخلئ."

په عامو حالاتو کې همدا اداب دي خو کله چې د مدینې اشرارو پر مسلمانو ښځو تورونه پورې کړل او هغوی یې تنګولې نو په سورت الاحزاب کې الله د رسول الله ﷺ مېرمنو، د هغه لونې او عامو مسلمانو ښځو ته دا لارښوونه هم وکړه چې د وېرې ځایونو ته د تلو پر مهال دي پر ځان څادر را تاو کړي چې له نورو وپېژندل شي او د هغوی په بانه پرې د تور لګولو داسي موکه پیدا نه شي چې وزور ېږي. له روایاتو ښکاري چې کله به مسلماني مېرمنې په تیاره کې یا سهار وختي د څاراګښت لپاره تلې نو دا اشرار به ور پسې وو او که به ونیول شول نو سمدستي به یې ویل چې موږ خو د فلاني او فلاني مینځې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بللې وې او د فلانۍ خبرې معلومات مو ترې اخيستل.[۵۱] الله ويلي:

وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا * يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا * لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا * مَّلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا* (الأحزاب ۳۳: ۵۸-۶۱)

"او څوک چې مسلمانې ښځې او نارينه په هغه څه کې زورورې چې دوی نه دي کړې (هغوی بايد پوه شي چې) دوی پر خپل سر يو لوی بهتان او ښکاره ګناه اخيستې، اې رسوله! (په دې حالت کې) خپلو ښځو، لونو او د مسلمانانو ښځو ته ووايه چې (کله دباندې وزي) نو پر ځان دې خپل څادرونه غوړوي، په دې سره به ممکنه شي چې دوی (له نورو ښځو بېلې) وبلل شي او زورې به نه، الله بخښونکی دی شفقت يې ابدي دی. که دامنافقين (تر دې وروسته هم) له خپلو حرکتونو لاس وانه خلي او هغه هم چې په زړونو کې يې ناروغي ده او هغه هم چې په مدينه کې دروغ خپروي نو موږ به يې پر خلاف تا راپورته کړو، بيا به په مشکله له تا سره ژوند وکړای شي، دوی به هر ځای ترټل کېږي، نيول کېږي او په عبرتناک ډول به وژل کېږي."

په دې اياتونو کې د اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ الفاظ او د هغو سياق او سباق ښيي چې دا د پردې حکم نه وو بلکې د مسلمانو مېرمنو لپاره د بېل هويت را منځ ته کولو لنډ مهالی تدبير وو چې د لوچګانو او تور تړونکو له شر څخه د مسلمانو ښځو د خوندیتوب لپاره غوره شو. رسول الله ﷺ د همدې ډول ځينو مصلحتونو له کبله ښځې يوازې د اوږده سفر له کولو او په لاره کې د نارينه وو د ګڼې -ګونې په منځ کې له تلو منعه کړې وې.[۵۲] له همدې کبله که مسلمانې مېرمنې اوس هم له دا ډول حالت سره مخ شي نو بايد له نورو مېرمنو څخه د ځان د بېلولو او ساتنې لپاره دا ډول يو تدبير غوره کړي. د رسول الله ﷺ منصب ته په پام او په ځانګړې ډول د ده د مېرمنو لپاره هم په دې اړه په سورت الاحزاب کې ځينې

---

[۵۱] تفسير القرآن العظيم د ابن کثير ۳ / ۵۱۸، الکشاف د زمخشري ۳ / ۵۶۹

[۵۲] بخاري، شمېره: ۱۰۸۶، مسلم، شمېره: ۳۲۶۰، ابوداود، شمېره: ۵۲۷۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لارښوونې شوې دي. څرنګه چې دا لارښوونې له عامو مسلمانانو او ښځو سره تړاو نه لري خو له دې امله چې يې ځينې پوهان عاموي نو اړينه ده چې دلته يې سم اړخ روښانه شي.

پر سورت له غور کولو څخه ښکاري چې د مدينې پورته يادشوي اشرار او منافقين شپه او ورځ په دې هڅه کې وو چې د رسول الله ﷺ د مېرمنو په اړه يوه رسوايي پيدا کړي چې عام مسلمانان هم پرې بد ګومانه شي او د اسلام و مسلمانانو اخلاقي بنسټ هم ويجاړ شي، نو الله د دې فتنې مخه داسي ونيوله چې اول يې نبوي مېرمنو ته دا واک ورکړ چې که وغواړي د دنيا د مزو او ښکلا په لټه دي له رسول الله ﷺ ببلي شي او که يې خوښه وي د الله، رسول او اخرت د بريا په لټه دي له پوره شعور سره يو ځل بيا پربکړه وکړي چې نور به تل له رسول الله ﷺ سره يو ځای اوسي. وروسته يې وويل چې که دوی له رسول الله ﷺ سره د اوسېدو پربکړه کوي نو بايد په دې ښه وپوهېږي چې دوی د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کومه درجه تر لاسه کړې د هغې له کبله يې مسئوليت هم ډېر لوی دی، دوې کومې عامې مېرمنې نه دي بلکي د مسلمانانو د مندو حيثيت لري. له همدې کبله که په ربښتني زړه د الله و رسول فرمان ومني او نېک عمل وکړي نو لکه څرنګه چې يې جزا ډبله ده همداسي که کوم جرم وکړي نو د نورو په پرتله به يې سزا هم دوه چنده وي، د دوی د باطن په سپېځلتيا کې شک نه شته، مګر الله يې د خلکو په نظرونو کې هم له هر ډول اخلاقي نجاست څخه پاکې ليدل غواړي، دا د دوی د مقام او مرتبې تقاضا ده او د دې لپاره به په خپله شپه او ورځ کې حتما دې څو خبرو ته پام کوي.

اول دا چې که دوی له الله وېرېدونکې وي نو له هر راتلونکي کس سره دي په خبرو کې د نرمي او تواضع طريقه نه غوره کوي، په عامو حالاتو کې خو د خبرو -اترو غوره طريقه داده چې انسان تواضع وکړي مګر دوی چې له کومو حالاتو سره مخ دي په دې کې منافقين او شر خوښي د شرافت او انسانيت په لهجه زړور کېږي او غلطه ګټه ترې اخلي. دوی دا توقع پيدا کوي چې د هغوی په زړونو کې د کومې وسوسې اچونې هڅه کوي په دې کې به بريالي شي له همدې کبله که له دا ډول کسانو سره د خبرو نوبت راشي نو ښځې په ښکاره او ساده انداز دي دا ډول خبرې وکړي چې دوی د خپل زړه له کومې بدې ارادې سره راغلي دي نو په دې ښه وپوهېږي چې دلته د دوی لپاره د بريا هيڅ امکان نه شته:

يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ "اې د نبي مېرمنو! تاسو د عامو ښځو په څېر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اتَّقَيْتُنَّ فَلاَ تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا (الأحزاب ٣٣ : ٣٢)

نه یاست (له همدې کبله که) تاسو له الله وېرېږئ نو نرمه لهجه مه غوره کوئ چې د چا په زړه کې مرض وي هغه په تمه اخته شي او (له دا ډول خلګو سره) څرګنده خبرې وکړئ."

دویم دا چې د خپلې رتبې او درجې د ساتنې لپاره دي په کور کې پاتې شي، الله چې دوی ته کوم مسئولیت سپارلی دی باید د دوی ټولو طریقه او چلند هم ورسره برابر وي، له همدې کبله که د کوم ضرورت پر بنسټ وتلو ته اړتیا وي نو د جاهلیت په زمانه کې د وتونکو مېرمنو په څېر دي خپل سینګار او ښایست نه ښکاره کوي، د دوی د مقام او مسئولیت دواړو تقاضا داده چې په خپلو کورونو کې په پاتې دو شپه او ورځ لمانځه او زکات ته پام وکړي او په هره معامله کې له پوره وفا سره د الله او رسول په اطاعت بوخته شي، خو که د کوم مجبوریت له امله بهر وزي نو د اسلامي تهذیب د غوره سمبول په توګه دي ووزي او کوم منافقانه دي د ګوتنیونې موکه په لاس نه ورکوي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (الأحزاب ٣٣ : ٣٣)

"او په خپلو کورونو کې پاتې شئ د پخوانې جاهلیت په څېر ځانونه مه ښکاروئ، لمونځ کوئ، زکات ورکوئ او د الله او رسول اطاعت کوئ، الله خو همدا غواړي چې اې د دې کور مېرمنو! له تاسو (هغه) ناولتوب لرې کړي (چې دا منافقین یې دربانديتپي) او تاسو په ښه ډول پاکې کړي."

درېیم دا چې دوی ته په کورونو کې د الهي ایاتونو ایمان او اخلاقو کوم تعلیم ورکول کېږي له خپلو لیدونکو سره دي د نورو خبرو پر ځای هغه بیان کړي، الله چې دوی د کوم هدف لپاره غوره کړې هغه همدا دی، نور باید د دوی د ژوند هدف د دنیوي ژوند خوندونه نه بلکې د همدې علم او حکمت غوړول وي:

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا (الأحزاب ٣٣ : ٣٤)

"او ستاسو په کورونو کې چې د الهي ایاتونو او د هغه د (نازل شوي) حکمت کوم تدریس کېږي (خپلو ملګرو ته) هغه بیان کړه، بې شکه الله ډېر نکته پېژندونکی او په هر څه خبر دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر دې وروسته هم ښکاري چې شر خو ښو له خپل شرارت څخه لاس نه دی اخیستی ځکه نو الله وړاندې په همدې سورت کې په پوره سختي سره په دې اړه ځینې نورې لارښوونې هم بیان کړې دي.

ویلې یې دي چې نور مسلمانان له ور غوښتل کېدو پرته د رسول الله ﷺ کور ته نه شي ورتلای، که خلګ مېلمستیا ته هم ور وبلل شي نو پر وخت دي راشي او د خوراک تر خوړلو وروسته دي سمدستي ولاړ شي، هلته دي مجلسونه نه کوي.

د رسول الله ﷺ مېرمنې به له خلګو پرده کوي، له نژدې خپلوانو او ناستې -پاستې له ښځو پرته به نور څوک ورسره نه ویني او که کوم څوک یو شی ترې غواړي نو د پردې له شا به یې ترې اخلي. د رسول مېرمنې د مسلمانانو مندې دي، کوم منافقین چې په زړونو کې له دوی سره د نکاح ارمان لري هغوی ته دي څرګنده وي چې تر رسول الله ﷺ وروسته هم له نبوي مېرمنو سره د چا نکاح نه شي کېدای، د هغوی دا حرمت دایمي دی باید د هر مسلمان په زړه کې ورته د احترام او درناوي هغه جذبه وي چې د خپلې مور لپاره یې ساتي. د رسول الله ﷺ لپاره د خلګو دا خبرې د زړونې سبب ګرزي، هغوی دي خبر وي چې د رسول الله ﷺ زړونه د ماشومانو لوبه نه ده، دا یو ډېر درونده کار دی، ممکن دلته ځینې کسان د خپل هر ډول ناوړه حرکت لپاره بانه جوړه کړي مګر د هغه رب په حضور کې چې د زړونو په راز پوهېږي دا خبرې هیڅ ګټه نه لري:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلاَّ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلاَ مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ وَاللَّهُ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاء حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلاَ أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا * إِن تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ

"اې مومنانو! د نبي کورونو ته مه ورځئ مګر دا چې کوم وخت د ډوډۍ لپاره اجازه درکړل شي، په دې صورت کې یې هم پخبر و ته په انتظار مه کښېنئ کله چې دعوت درکړل شي نو ورشئ، د خوراک په کولو تیت -پرک شئ او مجلسونو ته مه کښېنئ، دا د نبي لپاره تکلیف وو خو هغه ستاسو خیال ساتي او الله د حق په بیان کې د هیڅا پلوي نه کوي، که د نبي له مېرمنو کوم څه غواړئ نو د پردې تر شا یې وغواړئ، دا طریقه ستاسو د زړونو لپاره هم ډېره پاکوونکې ده او د دوی د زړونو لپاره هم، تاسو ته روا نه ده چې د الله رسول ته تکلیف

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا * لاَّ جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلاَ أَبْنَائِهِنَّ وَلاَ إِخْوَانِهِنَّ وَلاَ أَبْنَاء إِخْوَانِهِنَّ وَلاَ أَبْنَاء أَخَوَاتِهِنَّ وَلاَ نِسَائِهِنَّ وَلاَ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا*

(الأحزاب ٣٣ : ٥٣ - ٥٥)

ورکړئ او نه دا روا ده چې ترده وروسته يې له مېرمنو سره نکاح وکړئ، دا د الله په نزد ډېره درنه خبره ده، تاسو يوه خبره ښکاروئ او که يې پټوئ، الله په هر څه خبر دی، البته پر دې (مېرمنو) په دې کې څه ګناه نه شته چې خپلو پلرونو، زامنو، وروڼو، ورېرونو، خورپيانو، د خپلې ناستې -پاستې ښځو او مرپيانو مخ ته ورشي، اې مېرمنو! له الله وويرېږئ بې شکه الله پر هر څه ګواه دی."

مور و پلار

وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ * وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ* (لقمان ٣١: ١٤، ١٥)

"او مورِ انسان ته د ده د مور و پلار په اړه وصيت کړی دی، موريې له څو کمزوريو سره دی په نس کې وساته او په دوو کلونو کې له تې پرې شو (مورِ ده ته نصيحت کړی) چې زما او د مور و پلار شکر ادا کړئ، بالاخره به زما لور ته راځئ مګر که هغوی درباندې پشار راوړي چې له ما سره شريک ونيسه او ته يې علم نه لرې نو د دوی خبره مه منه او په دنيا کې ورسره ښه چلند کوه، د هغو خلګو پلوي وکړه چې زما لور ته متوجې دي، بيا د ټولو ستنېدل زما پر لور دي او زه به هغه وخت تاسو ته هغه څه درو ښيم چې کول مو."

له مور و پلار سره د ښه چلند لارښوونه په ټولو اسماني صحيفو کې شوې ده، قرآن هم ځای پر ځای د دې سپارښتنه کړې. د بني اسرائيل (١٧) په (٢٣ او ٢٤)، د عنکبوت (٢) په (١٨) او د احقاف (٤٦) په (١٥) ايا تونو کې لږ و زيات دا مضمون په همدې الفاظو بيان شوی دی. البته الله د سورت لقمان په دې ايا تونو کې له مور و پلار سره د ښه چلند حدود هم ټاکلي دي، له دې څخه چې کوم څه تر لاسه کېږي هغه دا دي:

١) د انسان مور و پلار د هغه د پيدا ينښت او پالنې وسيله ګرزي، په دې کې شک نه شته چې د پلار شفقت هم لږ نه دی، مګر د حمل، زېږون او تې ورکولو په ېلابېلو پړاوونو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي چي د ماشومانو مور کوم تکليف زغمي د هغه حق هيڅوک په هيڅ ډول نه شي ادا کولای. رسول الله ﷺ له همدې کبله د پلار په پرتله د مور حق درې درجې زيات بللی دی،[۵۲] ځکه نو د الله نصيحت دی چي تر خپل رب وروسته بايد انسان تر بل هر چا د خپل مور و پلار ډېر منندوی وي. دا مننه صرف په ژبه نه ادا کېږي، د هغې لازمي غوښتنه داده چي انسان ورسره ډېر د احترام چلند وکړي، په زړه کي يې د دوی پر خلاف هيڅ بې زاري پيدا نه شي، د دوی په مخ کي د بې ادبۍ هيڅ خبره ونه کړي بلکي د نرمي، مينې، شرافت او نېکمرغۍ طريقه غوره کړي، د دوی خبره ومنـي او د بوډاتوب پـه بې وسي کي يې زړه وساتي او تسلـي ورکړي. په سورت بني اسرائيل کي يې ويلي دي:

وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِـدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَـرَ أَحَـدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُـل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا * وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَـانِي صَغِيرًا * رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِـي نُفُوسِـكُمْ إِن تَكُونُواْ صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلأَوَّابِينَ غَفُورًا*

(بني اسرائيل ۱۷ : ۲۳ - ۲۵)

"او ستا د رب پرېکړه داده چي له ده پرته د هيڅا عبادت مه کوئ او له مور و پلار سره ډېر ښه چلند کوئ، که ستاسو په مخ کي له دوی څخه يو يا دواړه بوډاتوب ته ورسېږي نو هغوی ته مـه اوف وايا ست، مـه د ترټنې ځواب ورکوئ بلکي د ادب خبرې کوئ او د دوی په مخ کي په مينه و محبت د تواضع وزر وغوړوئ او دعا کوئ چي اې ربه! پر دوی داسي رحم وکړه لکه زه چي يې په ماشومتوب کي پاللی وم، ستاسو پـه زړونـو کـي چـي څـه دي رب مـو ښـه پـرې پـوهېږي. کـه تاسـو نېـک پـاتي شـئ نـو دی د رجوع کوونکو لپاره ډېر بخښونکی دی."

۲) د مور و پلار له دې مرتبې سره -سره هغوی دا حق نه لري چي له دليل پرته له الله سره د يو چا په شريکولو پر اولاد پشار راوړي، نبوي وينا ده چي تر شرک وروسته د مور و پلار نافرماني تر ټولو لويه ګناه ده.[۵۳] مګر الله دلته امر کړی چي په دې چاره کي بايد اولاد د دوی د اطاعت له منلو ښکاره ډډه وکړي او په هر حال کي بايد د هغو خلګو د طريقې پيروي وشي چي الله ته راجع دي، که مور و پلار له الله څخه د انحراف دعوت

[۵۲] بخاري، شمېره: ۵۹۷۱، مسلم، شمېره: ۶۵۰۰
[۵۳] بخاري، شمېره: ۵۹۷۶، مسلم، شمېره: ۲۵۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درکړي نو هم نه شي منل کېداى: لا طاعة في المعصية انما الطاعة في المعروف [٥٤] (د الله په نافرماني کي د هيچا اطاعت نه شته، اطاعت صرف په ښو چارو کي دى) رسول الله ﷺ دا خبره پر همدې بنسټ کړې ده، ځکه نو بايد د الله نور احکام او هدايات هم د دې تابع وبلل شي او هيڅ ته د مور و پلار په وينا سره هم د ده مخالفت روا نه دى.

٣) د شرک په څېر پر ګناه له تېښګار سره -سره بايد د دنيا په چارو کي له مور و پلار سره د ښه چلند دا طريقه له قانون سره سمه و پالل شي، تر وسه دي د هغوى د ارتياوو پوره کولو هڅه وشي او د دوى لپاره دي پر له پسې د هدايت دعا کوي، دا هر څه د صاحبهما في الدنيا معروفا غوښتنه ده، د دين او شريعت معامله جلا ده مګر په داسي شيانو کي بايد اولاد هيڅ ونه سپموي.

په پاى کي الله اولادونه او مور و پلار دواړه دې ته متوجې کړي چې د اعمالو د ځواب لپاره به يوه ورځ زما لور ته راځئ: ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ. استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په وضاحت کي ليکي:

" دا خطاب مور و پلار او اولادونو ته په يوه ډول متوجې دى، په دې کي هم خبرداري دى او هم ډاډ، مطلب دا چې يوه ورځ به ټول زما لور ته راځئ، هر چا چې هر څه کړي وي په دې ورځ به ورته وړاندي شي، که کوم مور و پلار زما له ورکړي حق څخه په ناسمه ګټه اخيستلو د اولاد بې لارې کولو هڅه کړې وه نو سزا به يې وڅکي او که اولاد د مور و پلار له حق سره زما حقوق هم سم و پالل او پر حق يې استقامت وښود نو د خپل دې عزيمت پوره بدله به ترلاسه کړي." (تدبر قرآن ٦/ ١٣٠)

يتيمان

وَآتُواْ الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ وَلاَ تَتَبَدَّلُواْ الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا * وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ * وَآتُواْ النِّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا * وَلاَ تُؤْتُواْ السُّفَهَاء أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللّهُ لَكُمْ قِيَاماً وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا

[٥٤] بخاري، شمېره: ٧١٤٥، مسلم، شمېره: ٤٧٦٦

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَاكْسُوهُمْ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلاً مَّعْرُوفًا * وَابْتَلُواْ الْيَتَامَى حَتَّىَ إِذَا بَلَغُواْ النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُواْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَلاَ تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُواْ وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُواْ عَلَيْهِمْ وَكَفَى بِاللّهِ حَسِيبًا * لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا * وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُوْلُواْ الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلاً مَّعْرُوفًا * وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُواْ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُواْ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللّهَ وَلْيَقُولُواْ قَوْلاً سَدِيدًا * إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا (سورة النساء ۴ : ۲ - ۱۰)

" او د یتیمانو مالونه دوی ته وسپارئ، مه خپل بد مال د دوی په ښه مال بدلوئ او مه د دوی مال له خپل مال سره یو ځای خورئ، په دې کې شک نه شته چې دا ډېره لویه ګناه ده او که تاسو اندېښنه لرئ چې د یتیمانو په معامله کې به انصاف ونه کړای شئ نو (د دوی) کومې (مندې) چې تاسو ته روا وي له هغو څخه دوې - دوې، درې - درې او څلور - څلور ښځې په نکاح کړئ، که له دې وېرہ لرئ چې (د دوی ترمنځ) به انصاف ونه کړای شئ نو بیا یوه یا هغه چې د ملک یمین پر بنسټ مو په لاس کې وي. دا ډېره نژدې ده چې تاسو به له بې عدالتۍ وساتل شئ او دې ښځو ته هم هغه ډول د دوی مهر ورکړئ لکه څرنګه چې ورکول کېږي. که دوی څه در پرېږدي نو په شوق یې وخورئ او (که یتیمان لاهم نابالغ او ناپوه وي نو) خپل هغه مال چې الله ستاسو لپاره د قیام وبقا وسیله ګرزولې دې ناپوهانو ته مه سپارئ، هو! په دوی یې وخورئ، پوښاک ورکړئ او له دوی سره پرې خبرې کوئ، دا یتیمان تر هغو ازمویئ چې د نکاح عمر ته ورسېږي. که مو پکې اهلیت وموند نو مال یې ور وسپارئ او له دې وېرې چې هغوی به لوی شي د دوی مال په بیړه مه خورئ او (د یتیم) کوم (سرپرست) چې غني وي هغه ته په کار ده چې له ماله یې ډډه وکړي او کوم څوک چې محتاج وي هغه دي له قانون سره سم تر پې خوراک وکړي. کله چې یې مال ور سپارئ نو شاهدان راولئ او د حساب لپاره خو الله کافي دی، مور و پلار او خپلوان چې څه پرېږدي په دې کې د نارینه وو هم برخه شته او مور و پلار و قریبان چې څه پرېږدي ښځې پکې هم برخه لري، لږ وي او که ډېر د یوې ټاکلې حصې په ډول مګر د وېش پر مهال چې کله هلته خپلوان او عزیزان یتیمان او مسکینان راشي نو دوی ته هم یو څه ورکړئ او ښې خبرې ورسره وکړئ، دوی باید ووېرېږي چې که تر شا بې وسه اولاد ونه پرېږدي نو په اړه به یې اندېښنه درلوده ای ځکه نو په کار ده چې له الله ووېرېږئ او محکمه خبره وکړئ، په دې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي شک نه شته چي څوک په ناحقه د يتيمانو مال خوري هغوی خپل نس له اوره ډکوي او ژر به د دوزخ بلو لمبو ته واچول شي."

د يتيمانو د ښېګڼې او له هغوی سره د ښه چلند په اړه قرآن په ځينو نورو ځايونو کي هم لارښوونې کړې، د سورت النساء په دې اياتونو کي د دوی په اړه ځيني مشخص احکام ورکول شوي دي چي لنډيز يې دا دی:

۱) د يتيمانو سرپرست دي د هغوی مال وروسپاري په خپله دي د خوړلو هڅه نه کوي، دوی بايد وپوهېږي چي په ظلم او ناروا سره د يتيم مال خوړل ګواکي نس له اور ځخه ډکول دي. له دې اور سره د دوزخ له اور ځخه ځان ساتل امکان نه لري نو هيڅوک دي نه خپل بې کيفيته مال د دوی په ښه مال بدلوي او نه دي د سمبالولو په ښودنه خپل مال د هغوی له مال سره يو ځای خوري. که کوم وخت دا ډول اختلاط را منځ ته شي نو هغه بايد د خوړلو لپاره نه بلکي د دوی د ښېګڼې او معاملاتو د اصلاح لپاره وي.

۲) د يتيمانو د مال ساتنه او حقوقو خوندي توب يو لوی مسئوليت دی، که خلګ دا مسئوليت يوازي نه شي ترسره کولای او فکر کوي چي د يتيمانو د مور په شمول د ځان لپاره اساني پيدا کولای شي نو په کار ده چي د دوی کومې مندې ورته روا دي له هغوی ځخه دوې -دوې، درې او څلور -څلور په نکاح کړي. مګر دا اجازه صرف په هغه صورت کي ده چي د ښځو تر منځ د عدالت ساتل ممکن وي، مګر که وېره وي چي دا مقصد به پوره نه کړای شي نو بيا بايد د يتيمانو د ښېګڼې په ځېر د نېک هدف لپاره هم تر يوې زياتې نکاوې ونه کړي. د عدالت کولو لپاره همدا غوره طريقه ده، له دې سره دا هم اړينه ده چي ښځې ته په هغه طريقه ولور ورکړای شي لکه عامو ښځو ته چي ورکول کېږي.[۵۶] دا عذر بايد پيدا نه شي چي نکاح د دوی د اولاد د مصلحت لپاره شوې ځکه نو نور هيڅ مسئوليت نه شته. هو! که هغوی په خپله خوښي تر کومې حصې تېري شي، يا بل رعايت وکړي نو پروا نه لري، که خلګ وغواړي نو ګټه تر اخيستلای شي.

۳) مال د خلګو لپاره د دوام او بقا وسيله ده هغه بايد ضايع نه شي، يتيمانو ته چي د مال سپارلو کومه لارښوونه شوې په دې دي هغه وخت عمل وشي چي دوی يې د سمبالولو عمر ته ورسېږي. تر دې وړاندي اړينه ده چي د سرپرستانو په ساتنه او ځارنه

---

[۵۶] د دې شرايطو په اړه چي کومې پوښتنې پيدا کېږي قرآن يې د نساء په (۱۲۷ - ۱۳۰) اياتونو کي ځوابونه ورکړي او موږ يې تر دې وړاندي د مېرمنو د شمېر په سرليک کي وضاحت بيان کړ.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي وي، هغوی دي يتيمان ازمويي چي په دوی کي د معاملاتو د ترسره کولو او خپلو مسئوليتونو د پورته کولو وړتيا پيدا کېږي او که نه؟. مګر په دې موده کي دي د هغوی اړتياوې په سم ډول پوره شي، له دې وېرې دي په ببړه د هغوی د مال لګولو هڅه نه کوي چي دوی به را لوی شي او په خبرو -اترو کي دي د هغوی د زړه خيال ساتي.

۴) که يې سرپرست شتمن وي نو د خپل خدمت بدل بايد وانه خلي مګر که غريب وي نو د يتيم له مال څخه د خپل خدمت په بدل کي له قانون سره سم يو څه اخيستلای شي، استاذ امام يې په وضاحت کي ليکي:

"... له قانون سره د سمو اخيستلو هدف دادی چي د مسئوليتونو ډول، د جايداد حيثيت، ځايي حالاتو او د سرپرست د ژوند د معيار له مخې دي هغه کچه واخلي چي په معقولو حدودو کي دننه وي. داسي دي نه وي چي هر معقول انسان تر دې اثر لاندي راشي چي د يتيم د را لويدو له وېرې په بيړه او اسراف سره د هغه د مال خوړلو هڅه شوې ده."

(تدبر قرآن ۲ / ۲۵۵)

۵) کله چي مال ور سپاري نو بايد ځيني باوي او معتبر کسان پرې شاهدان کړي چي د بد ګومانۍ او شخړو و جنجال امکان پاتي نه شي. بايد په ياد ولري چي يوه ورځ به همدا حساب الله ته ورکوي، هغه سميع او عليم دی هيڅ شی تر پټ نه شي پاتېدلای.

۶) که څه هم د مړي په ميراث کي د وارثانو برخې معلومې دي مګر که د ميراث وېشلو پر مهال نژدې خپلوان، عزيزان، يتيمان او مسکينان را شي نو دې ته له پام پرته دي چي دوی کوم حق لري او که نه؟ هغوی ته يو څه ورکړي او بايد له ښې خبرې سره رخصت شي. په داسي وخت کي بايد هر سړی دا خبره ياد ولري چي د ده ماشومان هم يتيمان کېدای شي او همداسي يې د بل نظر ته په محتاج پرېښود و له دې دنيا رخصتېدای شي.

مرېيتوب

وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ (النور ۲۴ : ۳۳)

"او ستاسو په مرېيانو کي چي څوک مکاتبه غواړي ورسره ويې کړئ، که خير پکي ووينئ او (د دې لپاره) دوی ته د الله هغه مال ورکړئ چي تاسو ته يې درکړی دی."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د سورت النور په دې ایت کې له مړیانو سره د مکاتبې حکم بیان شوی دی، د قرآن د نزول پر مهال مړییتوب د اقتصاد او ټولنې لپاره داسې اړین ګڼل کېده لکه اوس چې سود بلل کېږي. په بازارونو کې هر ځای د مینځو او مړیانو پیر و پلور جاري وو او د خوراک و څښاک په کورونو کې د هر عمر مینځې او مړیان موجود وو. که په دې حالاتو کې دا حکم ورکړل شوی وای چې ټول مړیان او مینځې ازاد دي نو د هغوی د ګټو کسانو لپاره د ژوند کولو بله هیڅ طریقه نه وه چې نارینه سوال وکړي او ښځې د بدن پلورنې په وسیله د ځان خوراک برابر کړي. د همدې مصلحت له وجې قرآن د تدریج طریقه غوره کړه او په دې لړ کې تر څو ګامونو وروسته یې بالاخره دا قانون نازل کړ. په دې کې چې د مکاتبت کوم لفظ کارول شوی دا یوه اصطلاح ده او مفهوم یې دا دی چې که یو مړیی له کوم مالک سره دا ټرون وکړي چې زه به تر فلانۍ مودې دومره روپۍ درکړم، یا به کوم مشخص خدمت ترسره کړم او تر دې وروسته به ازاد یم. د سورت النور په دې ایت کې الله امر کړی دی چې که هغوی دا معاهده غواړي او له نېکي و خیر سره پر خپلو پښو د درېدو وړتیا لري نو د دوی غوښتنه دي حتما ومنل شي. له دې سره یې مسلمانانو ته لارښوونه کړې چې کوم بیت المال دلته د الله مال بلل شوی د هغه په وسیله دي له دا ډول مړیانو سره مرسته وکړي، د ایت له الفاظو معلومېږي چې د مړیانو په څېر د مکاتبت دا حق مینځو ته هم ورکړل شوی دی او دا د دې خبرې اعلان وو چې نور برخلیک د مړیانو په خپل لاس کې دی او چې دوی کله وغواړي د خپلې ازادۍ لیکنه کولای شي.

همدا د مړییتوب په اړه وروستی حکم دی، تر دې وړاندې چې وخت پر وخت کوم هدایات ورکول شوي او هدف یې ورو -ورو له اسلامي ټولنې څخه د دې دود ختمولو امکان وو هغه دادي:

۱) قرآن د خپل دعوت په پیل کې د مړیې ازادولو یوه ډېره لویه نېکي وبلله او خلګ یې په ډېرو اغېزناکو الفاظو دې ته وهڅول. د دې لپاره یې د فک رقبة یعني غاړو خلاصولو تعبیر غوره کړ چې د ذوق هر خاوند یې تاثیر اندازه کولای شي. د قرآن په کوم ځای کې چې دا الفاظ راغلي هلته له سیاق څخه ښکاري چې الله دا د نېکمرغۍ تر لاسه کولو په لار کې تر ټولو ستر او لومړنی ګام بللی دی.[۵۷]

---

[۵۷] البلد ۹۰: ۱۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ هم په دې طريقه ورته خلګ هڅولي او ويلي يې دي: که څوک يو مسلمان مړيی ازاد کړي الله به د هغه مړيي د هر غړي په بدل کي د ده هر غړی له دوزخ څخه وژغوري.[۵۸]

۲) خلګو ته يې لارښوونه کړې چې تر کومه يې هغوی نه وي ازاد کړي له دوی سره دي ښه چلند کوي، د جاهليت په زمانه کي چې يې مالکان په څه ډول خپل سري او خپلواک وو هغه يې ختم کړل او ورته ويې ويل چې مړيان هم انسانان دي او د هغوی د انساني حقوقو پر خلاف هيڅ ډول چلند هيڅا ته روا نه دی. له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: خوراک او جامه د مړيي حق ده او د داسي کار دي نه ورته ويل کېږي چې په وس يې پوره نه وي.[۵۹]

له ابو ذر غفاري ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: دا ستاسو وروڼه دي الله ترتاسو لاندي کړي نو تاسو چې څه خورئ وريې کړئ، څه چې اغوندئ ورويې غوندئ او د داسي کار د کولو ورته مه وايئ چې له وسه يې وتلی وي او که ورته ووايئ نو مرسته ورسره وکړئ.[۶۰]

له ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې له رسول الله ﷺ مي واورېدل ويې ويل: چا چې خپل مړيی په څپيړه ووا هه يا يې وډباوه نو د دې ګناه کفاره داده چې ازاد يې کړي.[۶۱]

له ابو مسعود انصاري ﷺ څخه روايت دی چې خپل مړيی مي وا هه له شا مي د يو چا دا وينا واورېده: ابو مسعوده! خبردار الله پر تا تر دې ډېر قدرت لري. ما مخ را واړاوه نو ومي ليدل چې رسول الله ﷺ وو، سمدستي مي ووېل چې اې د الله رسوله! دی د الله لپاره ازاد دی. هغه ووېل: که دي داسي نه وای کړي نو د اور سزا درکول کېده.[۶۲]

---

[۵۸] بخاري، شمېره: ۲۵۱۷، مسلم، شمېره: ۳۷۹۵

[۵۹] مسلم، شمېره: ۴۳۱۶

[۶۰] بخاري، شمېره: ۶۰۵۰، مسلم، شمېره: ۴۳۱۳، ۴۳۱۵

[۶۱] مسلم، شمېره: ۴۲۹۸

[۶۲] مسلم، شمېره: ۴۳۰۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ویې پوښتل: اې د الله رسوله! خپل خادم څو ځله معاف کړم؟. دی چوپ شو، هغه بیا پوښتنه وکړه، دی چوپ وو. درېیم ځل یې پوښتنه وکړه نو ده وویل: په ورځ کې اویا ځله.[۶۳]

۳) د خطایي قتل، ظهار او دا ډول نورو ګناهونو پر مهال یې د مړیي ازادول کفاره او صدقه وبلله.[۶۴]

۴) د ټولو وړتیا درلودونکو مینځو او مړیانو د نکاح امر یې وکړ څو له اخلاقي او ټولنیز پلوه د نورو سیالان شي.[۶۵]

۵) که دا نکاح د نورو له مینځو سره وشي نو څرنګه چې په دې کې د نکاح او ملکیت د حقوقو تر منځ د ټکر وېره وه له همدې وجې یې پر احتیاط ټینګار وکړ، مګر بیا یې هم اجازه ورکړه چې که له ازادو ښځو سره د نکاح وس ونه لري نو له مسلمانو او پاک لمنو مینځو سره دي د هغوی د بادارانو په اجازه نکاح وکړي. بل حکم یې دا هم وکړ چې په نکاح کې دي د هغوی ولور حتما ورکړل شي چې ورو -ورو د ازادو ښځو معیار ته راشي، قرآني وینا ده:

وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مِّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلاَ مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ ... ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ وَأَن تَصْبِرُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

(النساء ۴ : ۲۵)

"او په تاسو کې چې څوک له ازادو مېرمنو سره د نکاح وس نه لري دوی دي له هغو مسلمانو مینځو سره نکاح وکړي چې ستاسو په ملکیت کې وي، الله ستاسو په ایمان ښه خبر دی، تاسو ټول له یوه جنس څخه یاست ځکه نو له دې مینځو سره د هغوی د بادارانو په اجازه نکاح وکړئ او له قانون سره سم یې مهر ورکړئ په دې شرط چې هغوی پاک لمنې وي، نه په ښکاره بد کاري کوي او نه په پټه اشنایي کوونکې وي ... په تاسو کې دا اجازه د هغو لپاره ده چې په سختي کې له لوبدو وېره لري او

[۶۳] ابوداود، شمېره: ۵۱۶۴، ترمذي، شمېره: ۱۹۴۹
[۶۴] النساء ۴ : ۹۲، المجادلة ۸۰ : ۳ ، المائدة ۵ : ۸۹
[۶۵] النور ۲۴ : ۳۲، ۳۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کـه صـبر وکړئ نـو دا درتـه ډېـره غـوره ده او الله
بخښونکی شفقت يې ابدي دی."

۶) د زکات په مصرف ځايونو کي يې د (وفي الرقاب) يو مستقل باب را منځ ته کړ چې د مرېيانو او مينځو د خلاصولو په دې کمپاين کي د بيت المال مرسته هم ورسره يو ځای شي.[٦٦]

۷) زنا يې جرم وبلله چې په نتيجه کي يې په مينځو د بدکاري کولو ټول مرکزونه په خپله بند شول او که چا په پټه د دې کارو -بارد جاري ساتلو هڅه وکړه نو عبرتناکې سزا وې ورکړل شوې.[٦٧]

۸) خلګو ته وويل شول چې دوی ټول د الله مرېيان دي ځکه دي نو د مينځو او مرېيانو لپاره د عبد او امة د الفاظو کارولو پرځای د فتی او فتاة الفاظ استعمال شي څو د دوی په اړه د خلګو ذهنيت بدلون ومومي او له پېړيو چې کوم تصورات را منځ ته شوي هغه بدل شي.[٦٨]

۹) هغه مهال د مرېيانو د ترلاسه کولو يوه لويه وسيله جنګي بنديان وو، کله چې مسلمانانو ته په لاس ورغلل نو قرآن څرګنده کړه چې هغوی دي مرېيان کېږي نه بلکې بنديان دي شي او تر دې وروسته به صرف دوه صورتونه وي يا دي د فديې په بدل کي خوشي شي او يا دي يې له معاوضې پرته د احسان په توګه ازاد کړي. تر دې وروسته د مسلمانانو لپاره له دې پرته هيڅ صورت روا نه دی.[٦٩]

---

[٦٦] التوبه ۹ : ۶۰

[٦٧] د تفصيلاتو لپاره وګورئ په همدې کتاب کي حدود او تعزيرات

[٦٨] مسلم، شمېره: ۵۸۷۵، ۵۸۷۷

[٦٩] محمد ۴۷ : ۴ د تفصيل لپاره يې وګورئ په همدې کتاب کي د جهاد قانون

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳

د سیاست قانون

الله چې انسان له کوم فطرت سره پیدا کړی د هغه یوه حتمي نتیجه دا هم ده چې د تمدن غواړي او بیا دا تمدن د خپلې ارادې او اختیار له ناسمې کارونې څخه د ژغورلو لپاره ژر یا وروسته تر خپل منځ د یوه ټولنیز نظم پیدا کولو ته مجبور پرې. په انساني تاریخ کې سیاست او حکومت د انسان د دې غوښتنې او مجبوریت له منځه را پیدا شوی او تر څو چې انسان وي نو که وهم غواړي له دې څخه پر نجات موندل بریالي کېدای نه شي ځکه نو د عقل غوښتنه داده چې هغه په نړۍ کې له حکومت پرته د یوې ټولنې او تمدن د خوب لیدلو پر ځای د ځان لپاره د داسې رغونکې معاهدې را منځ ته کولو هڅه وکړي چې د ټولنیزې اداړې په سپېڅلتیا د ده لپاره د یوه غوره حکومت بنسټ چمتو کړای شي. په دې کې شک نه شته چې د انسان فطرت هغه ته په عمومي ډول دا لاره ورښودلې او پر همدې لاره یې تلو ته چمتو کړی دی، مګر تر دې مهاله چې یې کومې پایلې څرګندې شوې او په دې نړۍ کې یې هر سړی په خپلو سترګو لیدلای شي، یوازې هماغه تر وروستي بریده د دې حقیقت د ثابتولو لپاره کافي دي چې د ژوند د نورو چارو په څېر انساني عقل په دې معامله کې هم له اسماني لارښوونې پرته ځینې بنسټیزې پربکړې په غوڅ ډول نه شي کولای. د انسان همدې اړتیا ته په پام الله د خپل کتاب قرآن او خپل استازي محمد ﷺ په وسیله موږ ته د سیاست یو قانون راکړی دی. دا قانون چې پر کومو بحثونو مشتمل دی هغه دادي:

بنسټیز اصول

اصلي دنده

ديني مسئولیتونه

تابعیت او د هغه حقوق

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د حکومت جوړښت

لاندي به د همدې قانون په اړه د قرآن کریم نصوص واضح کړو.

بنسټیز اصول

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً

(النساء ۴ : ۵۹)

"اې مومنانو! د الله، رسول او خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، که مو تر منځ په کومه معامله کې اختلاف شو نو الله او رسول ته یې وسپارئ، که تاسو پر الله او د قیامت پر ورځ ایمان لرئ، همدا ښه ده او انجام یې هم غوره دی."

دا حکم هغه مهال ورکړل شو چې قرآن نازلېده، رسول الله ﷺ په خپله د مسلمانانو په منځ کې موجود وو او چې کله به یې وغوښتل خپلې شخړې یې هغه ته راجع کولای شوای. څرګنده ده چې د الله او رسول دا حیثیت ابدي دی، له همدې کبله چې په هره معامله کې دوی د تل لپاره کوم حکم ورکړی، په هغو کې مسلمان چارواکي د دولت مشران وي او که د پارلمان غړي، تر قیامته له خپله ځانه د هیڅ پرېکړې حق نه لري. د چارواکو احکام تر دې اطاعت وروسته او د هغو په رڼا کې منل کېدای شي، له دې اطاعت پرته یا هغو څخه په ازادېدو یې هیڅ حیثیت نه شته، ځکه نو مسلمانان په خپل دولت کې داسې قانون نه شي جوړولای چې د الله او رسول د احکامو خلاف وي او یا په هغو کې د دوی هدایاتو ته پام نه وي شوی. یقینا مومنان له خپلو چارواکو سره د اختلاف حق لري مګر له الله او رسول سره هیڅوک اختلاف نه شي کولای، بلکې که له چارواکو څخه دا ډول معامله ترسره شي او په دې کې د قرآن او سنت لارښوونه وي نو پرېکړه به یې حتما د همدې هدایت په رڼا کې کېږي.

خو د الله او رسول تر دې اطاعت لاندي د چارواکو اطاعت ځینې لازم اړخونه لري چې رسول الله ﷺ په خپلو لارښوونو کې بیان کړي دي:

اول دا چې د هغوی تر قیادت لاندي کوم دولتي سیستم را منځ ته کېږي باید مسلمانان په پوره ډول ورسره ټرلي وي، رسول الله ﷺ له دې سیستم څخه په الجماعة او السلطان تعبیر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړی او په دې اړه یې هر مسلمان مکلف کړی چې په هیڅ حالت کې تر پښې نه شي، ان له دې څخه وتل یې د اسلام وتلو په معنا بللي او ویلي یې دي چې که کوم مسلمان له دې څخه په بېلېدو ومړ نو د جاهلیت په مرګ به مري. د ده وینا ده:

من رأى من اميره شيء يكرهه فليصبر عليه فانه من فارق من الجماعة شبرا فمات الا مات ميتة جاهلية. (بخاري، شمېره: ۷۰۵۴)

"څوک چې له خپل واکمن څخه ناخوښه شي وویني نو باید صبر وکړي ځکه که څوک د مسلمانانو له ټولنیز جوړښت څخه یوه لوښت جلا شي او په همدې حالت کې ومري نو د جاهلیت په مرګ مړ شو."

همدا روایت په یوه بله طریقه داسې نقل شوی دی:

من كره من اميره شيئا فليصبر فانه من خرج من السلطان شبرا مات ميتة جاهلية. (بخاري، شمېره: ۷۰۵۳)

"که چا ته دیو واکمن کوم شی خوند نه ورکوي نو باید صبر وکړي ځکه څوک چې یوه لوښت هم د واک له اطاعت څخه ووزي او په همدې حالت کې ومري نو پر جاهلیت مړ شو."

د سیاسي ګډوډیو او د فتنې و فساد په زمانه کې هم د رسول الله ﷺ لارښوونه داده چې یو مسلمان باید د اجتماعي سیستم پر خلاف په ګام اخیستلو کې نه یوازې شریک نه شي بلکې له پوره وفا سره دي د هغه اطاعت وکړي. د مسلم په یوه روایت کې حذیفه ﷺ ته د ده دا لارښوونه چې فالزم جماعة المسلمين و امامهم[1] (په داسې حالت کې د مسلمانانو له اجتماعي نظم او واکمن سره ټینګ ودرېږه). د دولت په اړه د دین پر همدې دریځ دلالت کوي.

دویم دا چې هغوی دي د قانون پیروي کوي، دوی ته چې کوم امر وشي د تېښتې او فرار پر ځای دي په پوره توجو واوري او ودي مني، هیڅ اختلاف، خپګان، تعصب او هیڅ ډول ذهني تردد دي هم له قانون څخه د بې لارۍ سبب ونه ګرزي مګر دا چې کوم قانون د الله د فرمان خلاف را منځ ته شي. ده ویلي:

عليك السمع و الطاعة بعسرك و يسرك و "پر تا لازمه ده چې په سختي او اسانی،

[1] بخاري، شمېره: ۳۶۰۶، مسلم، شمېره: ۴۷۸۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

منشطک و مکرهک و اثرة علیک. (مسلم، شمېره: ۷۵۴)

خوشالي او خپګان او حق خوړلو کي د خپلو واکنمو اطاعت وکړي."

علی المرء المسلم السمع و الطاعة فیما احب و کره الا ان یؤمر بمعصیة فان امر بمعصة فلا سمع و لا طاعة. (مسلم، شمېره: ۴۷۶۳)

پر مسلمان لازمه ده چې د خوښي او نا خوښي په هر حالت کي د خپل واکمن خبره واوري او ويې مني مګر دا چې د ګناه امر ورته وکړي، که يې ورته د ګناه امر وکړ نو نه دي اوري او نه دي مني.

اسمعوا و اطیعوا و ان استعمل علیکم عبدحبشی کان رأسه زبیبة.(بخاري، شمېره: ۷۱۴۲)

واورئ او اطاعت وکړئ که څه هم پر تاسو داسي حبشي مړپۍ واکمن شي چې سر يې د منبو کې په څېر وي.

څرګنده ده چې د چا واکو د اطاعت دا حکم صرف د مسلمانو واکمنو لپاره دی، دسورت النساء په یاد ایت کي له اولی الامر سره د (منکم) له الفاظو همدا معلومېږي، رسول الله ﷺ وضاحت کړی چې د یو چا د مسلمانی لپاره چې په قرآن کي کوم شرایط بیان شوي دي له هغو څخه تر انحراف وروسته د هغوی په اړه د اطاعت دا حکم دوام نه لري، د عباده بن صامت په روایت کي دي:

دعانا النبی ﷺ فبایعناه فقال: فیما اخذ علینا ان بایعنا علی السمع و الطاعة في منشطنا و مکرهنا و عسرنا و یسرنا و اثرة علینا و ان لا ننازع الامر اهله الا ان تروا کفرا بواحا عندکم من الله فیه برهان. (بخاري، شمېره: ۷۰۵۶)

"رسول الله ﷺ موږ بیعت ته وربللو نو بیعت مو ورسره وکړ، د راوي وینا ده: په هغو کي چې د کوم څه وعده ترې واخیستل شوه دا وې: موږ به اطاعت کوو او منو به يې، له خوښۍ او ناخوښۍ سره وي او که له نه زړه سره، پر موږ اساني وي او که تنګي او په داسي حال کي چې حق مو نه را کول کېږي او موږ به له خپلو واکمنو سره د واک په معامله کي شخړه نه کوو، تاسي صرف په هغه صورت کي ورسره جګړه کولای شئ چې د دوی له لوري ښکاره کفر وویني او له تاسو سره په دې معامله کي د الله څرګند دلیل وي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدارنګه په ځینو روایاتو کې دي:

انه یستعمل علیکم امراء فتعرفون و تنکرون فمن کره فقد برء و من انکر فقد سلم، و لکن من رضی و تابع. قالوا یا رسول الله: الا نقاتلهم؟، قال: لا ما صلوا. (مسلم، شمېره: ۴۸۰۱)

پر تاسو به د داسې خلګو حکومت وي چې ځینې خبرې به مو یې خوښې او ځینې به مو یې نه وي خوښې نو چا چې بدې خبرې خوښې نه کړې هغه خلاص شو او چا چې ترې انکار وکړ هغه هم خوندي شو، مګر څوک چې په راضي شو او پیروي یې وکړه نو هغه به وپوښتل شي. صحابه وو پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! په داسې حالت کې ورسره ونه جنګېږو؟. ده وویل: نه تر څو چې لمونځ کوي.

شرار ائمتکم الذین تبغضونهم و یبغضونکم و تلعنونهم و یلعنونکم قیل یا رسول الله: افلا ننابذهم بالسیف؟، فقال: لا ما اقاموا فیکم الصلوة. (مسلم، شمېره: ۴۸۰۴)

ستاسو تر ټولو بد واکمن هغه دي چې تاسو له دوی کرکه کوئ او دوی له تاسو، تاسو پر دوی لعنت وایاست او دوی پر تاسو، پوښتنه وشوه چې اې د الله رسوله! که داسې حالت وي نو پر خلاف یې توره پورته نه کړو؟. ده وویل: نه تر څو چې لمونځ کوي.

مګر دې حد ته تر رسېدو وروسته هم د واکمنو پر خلاف یو څوک تر هغو د بغاوت حق نه لري چې د مسلمانانو ځرګند اکثریت یې ملاتړ ونه کړي، ځکه دا به بیا د حکومت پر خلاف نه بلکې د مسلمانانو پر خلاف بغاوت وي چې د اسلامي شریعت له مخې ځمکنی فساد دی او په قرآن کې یې د قتل سزا ټاکل شوې ده.[۲] رسول الله ﷺ ویلي:

من اتاکم و امرکم جمیع علی رجل واحد یرید ان یشق عصاکم او یفرق جماعتکم فاقتلوا. (مسلم، شمېره: ۴۷۹۸)

"که تاسو د یو چا پر مشرتوب را غونډ یاست او څوک مو ډلې د ټوټه کولو یا په اجتماعي نظم کې د بېلتون اچولو لپاره را پورته شي نو ویې وژنئ."

دا خبره هم باید ځرګنده وي چې که دا مسلح بغاوت وي نو هغه ټول شرایط ورته

[۲] المایدة ۵ : ۳۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

متوجې کېږي چې په اسلامي شریعت کې د جهاد او قتال لپاره بیان شوي، ځکه نو هیڅ مسلمان ته روا نه ده چې د هغو له پوره کولو پرته د خپلو واکمنو پر خلاف دا ډول کوم ګام واخلي.

اصلي دنده

إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا (النساء ۴ : ۵۸)

" الله تاسو ته امر کوي چې امانتونه د هغوی حقدارو ته وسپارئ او چې کله د خلګو تر منځ پرېکړه کوئ نو په عدالت سره يې کوئ، ډېره ښه خبره هغه ده چې الله يې درته نصيحت کوي بې شکه الله اورېدونکی او ليدونکی دی."

په سورت النساء کې چې چيرې د الله، رسول او چارواکو د اطاعت هغه بنسټيز اصول بيان شوي چې پورته مو يې وضاحت وکړله دې سره متصل لومړی دا ايت دا حقيقت تشريح کوي چې که د دې اصولو پر بنسټ کوم دولت را منځ ته شي د هغه اصلي دنده همدا ده چې د ملت امانتونه د وړتيا پر بنسټ خلګو ته وسپاري او د ژوند په هره ځانګه کې په خپل وروستي شکل د عدل او انصاف د را منځ ته کولو هڅې وکړي. استاذ امام امين احسن اصلاحي د دې ايت په تفسير کې تر وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ لاندې ليکي:

" ... دا د امانت د ترټولو مهم اړخ تفصيل هم دی او له واک سره چې کوم مسئوليت ترلی د هغه وضاحت هم، چا ته چې الله په ځمکه کې واک ورکوي د هغوی لومړنی دنده داده چې د خلګو تر منځ پيدا کېدونکې شخړې په عدل او انصاف سره تصفيه کړي، د عدل مطلب دادی چې د قانون له مخې د بډای او بې وزلي، شريف او لوبډلي، تور او سره تر منځ هيڅ توپير نه وي، انصاف د اخيستلو او خرڅولو شی ونه ګرزي، پلويتوب، تعصب او تساهل ته لار پيدا نه شي او هيڅ پشار، د شتمنې اغېز او وېره و تمه پرې د اغېز فرصت تر لاسه نه کړي. هر چا ته چې الله په ځمکه کې واک ورکړی هدف يې همدا عدالت دی ځکه نو دا ترټولو لوی مسئوليت دی، د الله په نزد عادل واکمن ډېر لوی اجر لري او د ظالم سزا هم سخته ده. پر همدې بنسټ يې ويلي چې الله تاسو ته ډېر قېمتي نصيحت کوي په دې کې کوتاهي مه کوئ، په پای کې يې خپل صفتونه سميع او بصير د دې لپاره يادوي چې په ياد ولرئ الله هر څه اوري او وينې، له ده څخه هر ډول پټه بې انصافي هم پټېدونکې نه ده." (تدبر قرآن ۳ / ۳۲۳)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

صحابه کرامو چې د روم او ایران پر دولتونو کوم بریدونه وکړل نو همدا حقیقت یې په دې الفاظو بیان کړی چې موږ له هغه دعوت سره راغلي یو چې که په تاسو کې څوک وغواړي د انسانانو له بندګۍ څخه د الله بندګۍ ته راشي او د دنیا له تنګۍ څخه په وتلو د هغې پراختیا او د دینونو له ظلم څخه په وتلو د اسلام د عدالت پر لور راشي.[3]

رسول الله ﷺ همدې ته په پام ټینګار کړی چې د دولت هیڅ دنده دې داسې چا ته نه ورکول کېږي چې دې یې حریص وي ځکه له هغه څخه په چارو کې د عدالت هیله نه شي کېدای. د ده وینا ده:

انا والله لا نولی علی هذا العمل احدا سئله و لا احدا حرص علیه. (مسلم، شمېره: ۴۷۱۷)

"قسم په الله! موږ به یې داسې چا ته ورنه کړو چې دې یې غواړي او یا یې حریص وي."

صحابه وو ته یې هم لارښوونه کړې چې په دې معامله کې له الله وویرېږي او د واک غوښتونکي نه شي، ده ویلي:

لا تسئل الامارة فانک ان اتیتها عن مسئلة وکلت الیها و ان اتیتها من غیر مسئلة اعنت علیها. (بخاري، شمېره: ۶۶۲۲)

"مشرتوب مه غواړه، که ستا د غوښتنې په نتیجه کې درکړل شي نو ته به وروسپارل شې او که دې له غوښتنې پرته ترلاسه کړنو د الله له خوا به یې درسره مرسته وشي."

تاریخ شاهدي ورکوي چې د همدې عدالت د پرځای کېدلو لپاره خلفاء راشدینو د فریاد کوونکو او نقد کوونکو لپاره تل خپلې دروازې پرانیستې وې، د غربت ژوند یې وکړ ان ګنډلې جامې یې اغوستلې، تخت یې د پوزیو وو او د خپلو عوامو په منځ کې یې د دوی په څېر او د دوی له معیار سره سم داسې ژوند وکړ چې ځمکې او اسمانوویل:

سلطنت اهل دل فقر هی،شاهي نهین یعني د زړونو درلودونکو پاچاهي فقر دی نه شاهي.

[3] تاریخ الامم و الملکوک د ابن جریر طبري ۴ / ۷۰۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دیني مسئولیتونه

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلاَةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ (الحج ۲۲ : ۴۱)

" مومنان هغه دي چې که موږ په دې ځمکه کې واک ورکړو نو دوی به لمونځ کوي، زکات به ورکوي، په ښو به امر کوي او د بدو مخه به نیسي."

دسورت الحج دا ایت هغه دیني مسئولیتونه بیانوي چې د ځمکې په یوه برخه کې د واک تر موندلو وروسته د مسلمانانو اجتماعي جوړښت ته راجع کېږي. لمونځ دي وشي، زکات دي ورکړي، په ښو دي امر کوي او د بدۍ مخه دي ونیسي. په دې ایت کې پر مسلمانانو د هغوی د اجتماعي حیثیت په توګه دا څلور شیان لازم شوي دي.

د قرآن د دې حکم په عملي کولو کې چې د دولت په توګه د لمانځه کولو کوم سنت رسول الله ﷺ را منځ ته کړل د هغه له مخې دي:

۱) له خلکو غوښتنه وشي چې که هغوی مسلمانان وي نو د خپل ایمان او اسلام د شهادت په توګه دي لمونځ وکړي.

۲) د جمعې د لمانځه وینا او امامت دي د پلازمینې په مرکزي جومات کې د هیواد مشر، د ولایتونو والیان او په ښارونو اداري تشکیلاتو کې د هغوی چارواکي ترسره کوي.

همدارنګه د زکات په اړه دا سنت را منځ ته شوی چې د دولت په مسلمانو وګړو کې به هر هغه څوک چې زکات پرې فرض وي د خپلو مالونو، څارویو او حاصلاتو تر اکلې حصه له سرمایې ښلوي او حتما به یې حکومت ته سپاري، حکومت به له نورو مصارفو سره د هغو په وسله د خپلو اړو وګړو اړتیاوې پوره کوي او د هغوی تر فریاد وړاندې به د دوی دروازو ته په ور رسېدو د هغو د پوره کولو هڅه کوي.

د قرآن حکم دی چې که مسلمانان زکات ورکړي نو واکمن یې د دوی له خوښې پرته پرې کومه مالیه نه شي لګولای، الله ویلي:

فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ "نو که دوی توبه وباسي، لمونځ وکړي او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سَبِيلَهُمْ (التوبة ۹ : ۵) زکات ورکړي نو لاريې پرېږدئ."

په خير د امر کوونکو او له بدي څخه د راګرزوونکو په اړه د الله لارښوونه ده چې د دولت له لوري دي دې کار ته رسمي کسان وټاکل شي. په آل عمران کې دي:

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (آل عمران ۳ : ۱۰۴)

"او بايد په تاسو کې ځينې ټاکلي کسان وي چې نېکي ته دعوت کوي، د ښو امر وکړي او له بدو منعه (تاسو دې ته پام وکړئ) او (په ياد ولرئ چې څوک دا دول وکړي) هغوی به بريا وموميږ."

په شريعت کې چې د ځينو جرمونو لپاره کومې سزاوې ټاکل شوې دي هغه د همدې ايت د يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ د حکم فروعات دي.[۴]

څرګنده ده چې دا مسئوليت به په ځينو چارو کې د دعوت او بلنې په وسيله او په ځينو چارو کې د قانون په زور ترسره کېږي. دلومړنۍ صورت لپاره د جمعې منبر دی چې په همدې موخه د چارواکو لپاره ځانګړی شوی دی او د دويم صورت لپاره د پوليسو اداره ده چې د مسلمانانو په دولت کې د همدې مسئوليت پوره کولو لپاره را منځ ته شوې او له خپلو مشخصو حدودو سره سم د دې کار لپاره تل په فعاليت اخته وي.

همدا د دولت ديني مسئوليتونه دي، په ټوله کې چې هر دولت را منځ ته کېږي نو د امنيت، دفاع او هيواد د مادي ارام لپاره په هر حالت کې هڅې کوي خو که د دولت چارې د مسلمانانو په لاس کې وي نو له هغوی څخه د قرآن غوښتنه داده چې په هيڅ حالت کې لمانځه او زکات ته له پاملرنې، د خير له تلقين او بديو له مخينوي څخه غافل او بې پروا نه شي.

تابعيت او حقوق يې

۱) فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ (التوبة ۹ : ۱۱)

"نو که توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو په دين کې مو وروڼه دي."

[۴] د دې ايت په دې مفهوم د پوهېدو لپاره وګورئ په دې کتاب کې د دعوت قانون.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ (التوبة ۹ : ۵)

"نو که دوی توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو لاريې پرپرېدئ."

د سورت التوبې دا ایاتونه د بیان په یوه لړۍ کې راغلي دي، قرآن ویلي چې د حج پر مهال دي دا اعلان وشي چې که د عربو په مشرکینو کې څوک دا درې شرطونه پوره کړي هغه ستاسو دیني وروڼه دي او تاسو ته د الله حکم دادی چې تر دې وروسته یې لار پرپرېدئ.

۱) له کفر او شرک څخه په توبه ایستلو اسلام ومني.

۲) د دولت د اداري لپاره بیت المال ته زکات ورکړي. رسول الله ﷺ د قرآن د همدې حکم په وضاحت کې ویلي:

امرت ان اقاتل الناس حتى يشهد ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول الله و يقيموا الصلوة و يؤتوا الزكاة فاذا فعلوا عصموا منى دمائهم و اموالهم الا بحقها و حسابهم على الله.

(مسلم، شمېره: ۱۲۹)

"ما ته امر شوی چې له خلګو سره تر هغو جګړه وکړم چې د لا اله الا الله محمد رسول الله شاهدي ورکړي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي، که دوی دا شرایط ومني نو ځانونه او مالونه یې خوندي دي، مګر دا چې په دې اړه د کوم حق له کبله یې خوندیتوب ختم شي خو حساب یې پر الله دی."

دا حکم د عربو د مشرکینو لپاره وو، مګر څرګنده ده چې کومو کسانو ته د الله د رسول له لوري حجت واضح شو او له دوی څخه مستقیما د الله او رسول په حکومت کې له دې پرته بله غوښتنه ونه شوه نو تر دې وروسته له نورو خلګو ببخي نه شي کېدای. د تابعیت د حقوقو او دندو په اړه چې د قرآن په دې اياتونو کې کوم بنسټیز اصول معلومېږي هغه دادي:

° په دې روایت کې باید د جنګ له یادونې څخه کوم ناسم فکر پیدا نه شي، دا صرف د دې لپاره ویل شوي چې هغه مهال معامله د عربو له مشرکینو سره وه، د دوی په اړه قرآن وضاحت کړی وو چې د رسول الله ﷺ له لوري د دلیل تر وضاحت وروسته به هغوی په هر حال کې د اسلام او تورې تر منځ یو غوره کوي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اول دا چې کوم کسان دا د ږې شرطونه پوره کړي نو له دې پرته چې د الله په نزد یې حیثیت څه دی هغوی به د قانون او سیاست له مخې مسلمانان بلل کېږي او له هغو ټولو حقوقو به برخمن وي چې د یو مسلمان په توګه یې باید په خپل دولت کې ولري.

دویم دا چې عام مسلمانان وي او که چارواکي د دې شرطونو تر پوره کېدو وروسته د دوی خپل منځي اړیکه حتما د ورورګلوی ده، دوی د یوه بل وروڼه دي او په دې ډول د قانوني حقوقو له مخې یو شان دي، د دوی تر منځ د هیڅ توپیر لپاره په اسلام کې احتمال نه شي منل کېدای. قرآن د همدې لپاره د فَاِخْوانكُم فِي الدِّينِ الفاظ کارولي، یعني هغوی ستاسو دیني وروڼه ګرزي. ښکاره ده چې د دین له لفظ څخه دلته مراد اسلام دی او د رسول الله ﷺ صحابه وو ته یې د (فاخوانکم) په الفاظو سره د خطاب په کولو لارښوونه کړې چې د دې شرطونو تر پوره کېدو وروسته به د دولت په اداره کې ستاسو او د نویو ایمان راوړونکو حیثیت یو ډول وي، ستاسو او د هغوی په قانوني حقوقو کې به له هیڅ پلوه کوم توپیر نه وي.

درېیم دا چې د ورور ګلوی د دې اړیکې تر را منځ ته کېدو وروسته ټولو مسلمانانو ته عوام وي او که چارواکي مستقیما هغه ټول مسئولیتونه راجع کېږي چې باید د عقل او فطرت له مخې یې یو ورور د بل په وړاندې ولري.

څلورم دا چې که په اخرت کې د ځواب له مخې اسلام له خپلو منونکو هر ډول غوښتنه کوي، د هغوی اجتماعي نظم چې له مسلمانو وګړو کوم څه غوښتلای شي دا هماغه د دې غوښتنې دي چې الله په دې ایاتونو کې په خپله له پوره وضاحت سره بیان کړې دي. په دې کې نه د کمبوت امکان شته او نه د زیادت، د نړۍ رب پرې په خپله ټاپه لګولې. له همدې کبله هیڅ قانون، هیڅ ماده، هیڅ حکومت، هیڅ شورا او هیڅ پارلمان نور تر قیامته د دې شرایطو تر پوره کولو وروسته د مسلمانانو د ځان، مال، عزت او عقل و رایې پر خلاف هیڅ ډول تېری نه شي کولای. له همدې کبله چې تر رسول الله ﷺ وروسته د مسلمانانو د دولت لومړي واکمن ابو بکر صدیق ؓ د زکات د نه ورکوونکو پر خلاف د عملیاتو امر وکړ نو د خلګو د نیوکو په ځواب کې یې دا حقیقت په غوڅ ډول داسې واضح کړ:

قال الله تعالى فان تابوا و اقاموا الصلاة و اتوا الزكاة فخلوا سبيلهم و الله لا اسئل فوقهن و

"الله ویلي چې که تر دې وروسته دوی توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو لار یې پرېږدئ، قسم په الله! زه پر دې شرطونو نه د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لا اقصر دونهن. زیادت غوښتنه کوم او نه به یې کمبوت وزغمم."
(احکام القرآن د جصاص ۳ / ۸۲)

څرګنده ده چې دولت خپل مسلمان وګړي د جرم له کولو را ګرزولای او سزا یې ورکولای شي، مګر د دین په ضروري اړتیاوو کې له لمانځه او زکات پرته هیڅ شی پر خلګو د قانون په زور نه شي عملي کېدای، د مثال په توګه هغوی ته د روژې نیولو امر نه شي کولای، که په دوی کې د چا په اړه ورته څرګنده شي چې له وس درلود و سره -سره حج نه کوي نو مجبورولای یې نه شي، د جهاد او قتال لپاره د جبري جلب هیڅ قانون پرې نه شي نافذولای. لنډه دا چې د جرایمو په معامله کې یې د واک دایره تر ورو ستي بریده پراخه ده، مګر د شریعت په اوامرو کې له لمانځه او زکات پرته په ټولو چارو کې یوازې د دعوت، هڅونې او روزنې و ښوونې په وسیله د مسلمانانو د اصلاح هڅه کولای شي. په دا ډول ټولو معاملاتو په اړه له دې پرته د واک په دایره کې بل هیڅ شی نه لري.

رسول الله ﷺ له همدې کبله د حجة الوداع په وینا کې ویلي وو:

ان دمائکم و اموالکم و اعراضکم بینکم حرام کحرمة یومکم هذا في شهرکم هذا فی بلدکم هذا.(بخاري، شمېره: ۶۷)

"ستاسو وینې، مالونه او عزت پر تاسو داسې حرام دي لکه ستاسو د دې ورځې حرمت په دې میاشت او دې ښار کې."

دا د مسلمانانو حقوق دي، پاتې شول د دولت نامسلمان وګړي نو د حالاتو او مستحقینو له مخې او د نړۍ والو معاهدو پر بنسټ چې موږ ورسره کومه معامله وغواړو کولای یې شو. په دې لړ کې زموږ لپاره غوره نمونه هغه معاهده دي چې رسول الله ﷺ د حجت تر وضاحت وړاندې د مدینې له یهودو سره کړې وه او په تاریخ کې د میثاق مدینه په نوم مشهوره ده. مسلمانانو له نورو قومونو سره دا ډول نور تړونونه هم کړي دي او څرګنده ده چې د حالاتو له مخې پر بېلابېلو شرایطو کېدای شي. که د مدینې تړون ته وګورئ نو په هغه کې دا ماده په پوره صراحت ثبت ده چې په مدینه کې د رسول الله ﷺ تر واک منلو وروسته یهود د مسلمانانو په څېر یوه بېله ډله ده، ځکه به نو دوی هماغه حقوق لري لکه د مدینې په دې دولت کې چې یې مسلمان وګړي لري:

و ان یهود بني عوف امة مع المؤمنین لليهود له دې تړون سره سم د بني عوف یهود د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دینهم و للمسلمین دینهم موالیهم و انفسهم.
(السیرة النبویة د ابن هشام ۲ / ۱۰۷)

مسلمانانو په څېر مستقله ډله ګڼل کېږي، د یهودو به خپل دین او د مسلمانانو به خپل دین وي او ترونوال به یې ټول پر خپل دین وي.

دلته باید څوک د سورت التوبې دا ایت قَاتِلُوْا الذین لا یؤمنون د دې نظر پر خلاف وړاندې نه کړي، د دې ایت له الفاظو او سیاق و سباق څخه ښکاري چې حکم یې د هغو اهل کتابو په اړه وو چې رسول الله ﷺ پرې حجت پوره کړ او د دوی د کفر په سزا کې له الهي قانون سره سم د عذاب ورکولو دا امر پرې نافذ شو چې که غواړې له قتل څخه ځان وساتي نو د دولت د تابعیت لپاره دي:

لومړی جزیه ورکړي،

دویم دي د دولت په اداره کې د مسلمانانو تر لاس لاندې ژوند ومني.

الهي وینا ده:

قَاتِلُواْ الَّذِینَ لاَ یُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْیَوْمِ الآخِرِ وَلاَ یُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ یَدِینُونَ دِینَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِینَ أُوتُواْ الْکِتَابَ حَتَّى یُعْطُواْ الْجِزْیَةَ عَن یَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (التوبة ۹ : ۲۹)

"له دې (اهل کتابو) سره وجنګېږئ چې نه پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان راوړي او نه چې الله او رسول څه حرام کړي هغه حرام بولي او نه حق دین کوي (له دوی سره) تر هغو (وجنګېږئ) چې په مغلوبېدو جزیه ورکړي او دوی خوار وي."

د سورت التوبې دا حکم د حجت پوره کولو د قانون یوه فرع او تر هغه قوم پورې ځانګړی وو چې حجت ورباندې پوره شو، تر دې وروسته نور د نړۍ له هیڅ نامسلمان سره تعلق نه لري.

حکومتي سیستم

وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَیْنَهُمْ (الشوری ۴۲ : ۳۸)

"او د دوی چارې په خپل منځي مشوره وي."

د اسلام په سیاسي قانون کې د حکومتي سیستم بنسټ همدا ایت دی، په سورت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الشوری کې د درو الفاظو دې جملې چې په خپل ځان کې د معانیو کومه نړۍ نغښتې تفصیل یې دادی:

په دې کې لومړی د امر لفظ دی، دا په عربي ژبه کې په څو معناوو کارېږي مګر د ایت ځای او محل دلیل دی چې د نظام په معنا دی. په دې لفظ کې دا معنا د حکم د پراخ مفهوم له املا را پیدا شوې، کله چې حکم له خلګو سره تړاو پیدا کوي نو د ځان لپاره پولې ټاکي او اصول و ضوابط جوړوي. په دې وخت کې یې اطلاق د اقتدار پر احکامو او ټولنیز نظم دواړو کېږي، که غور وشي نو زمونږ په ژبه کې نظام د همدې مفهوم د تعبیر لپاره کارېږي.

څرنګه چې په دې ځای کې قرآن د غایب ضمیر ته له اضافت پرته په بل صفت د هغه تخصیص نه دی کړی له همدې کبله به یکې د نظام هر اړخ شامل ګڼل کېږي. ښاري ستونزې، ملي او ولایتي چارې، سیاسي او ټولنیز احکام، د قانون جوړونې اصول، د واکونو ورسپارنه او سلب، د چارواکو ګومارنه او ګوښه کول، د ټولنیز ژوند لپاره د دین تعبیر، لنډه دا چې د دولتي نظام ټولې چارې به په دې ایت کې له بیان شوي اصل سره تړلې وي. د دولت هیڅ څانګه به له دې دایرې څخه دباندې او هیڅ برخه به یې له نفوذ څخه خالي نه وي.

تر دې وروسته شوری ده، دا د فعلی د وزن مصدر دی او د مشورې کولو په معنا دی. په یاد ایت کې د خبر په واقع کېدو نورد جملې مفهوم هغه نه دی چې په وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ [٦] کې دی، که یې هدف همدا خبره وای نو غالبا به یې الفاظ داسې وای: و فی الامرهم یشاورون (او په چارو کې له دوی څخه مشوره اخیستل کېږي) په دې صورت کې اړینه وه چې باید ټولنه وړاندې پر امیر او مامور وېشلې وای، امیر به یا د الله له خوا ټاکل شوی وای او یا به یې د زور او ځواک په وسیله اقتدار تر لاسه کاوه، یا به د کوم معصوم امام له خوا ټاکل کېده.

په هر حال چې له هره ځایه راتلای او په هر ډول واک ته رسېدای یوازې به په دې پابند وو چې په ملي چارو کې د نظر تر خپلولو وړاندې له خلګو څخه مشوره واخلي. پر هغه د اجماع یا اکثریت د پرېکړې د پلي کولو بندیزنه شوای لګېدلای، د نظر د منلو او رد

[٦] آل عمران ٣ : ١٥٩ (په چارو کې له دوی سره مشوره کوه نو کله چې کومه پرېکړه وکړې پر الله توکل کوه)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اختیار به له ده سره وای، که ده غوښتي وای نو د یو چا نظر به یې مانه او که یې خوښه وای له څه شک پرته به یې رد اوه.

مګر د امرهم شوری بینهم په ترکیب کي چې د اسلو بو کوم بدلون راغلی د هغو تقاضا داده چې په خپله د امیر مشرتوب د شورا په وسیله را منځ ته شي، نظام د مشورې له مخې جوړ شي او په مشوره کي د ټولو حقوق یو ډول وي. څه چې په مشوره جوړښت نو ماتېدل یې هم په مشوره وي، د څه شي د را منځ ته کولو لپاره چې مشوره واخیستل شي د هر سړي رایه یې د وجود برخه وګرزي. که د اجماع او اتفاقي پرېکړې له مخې فیصله ونه شي نو د شخړو د حل لپاره د اکثریت نظر ومنل شي. مثلا موږ په خپله ژبه کي وایو چې د دې کور د ملکیت پرېکړه به د دې لسو وروڼو په مشوره کېږي، د دې ښکاره معنا داده چې لس وروڼه د پرېکړې واک لري او د هیڅا نظر پر بل د ترجیح وړ نه دی، که هغوی په اتفاق یو پې پرېکړې ته ورسېږي نو بیا خبره ده که نه د دوی د اکثریت رایه به پرېکنده بلل کېږي، مګر که همدا خبره داسي وشي چې د کور د ملکیت په اړه د پرېکړې پر مهال به له دې لسو وروڼو مشوره اخیستل کېږي نو معنا به یې دا وي چې د پریکړې اختیار له دې لسو وروڼو پرته له بل چا سره دی. اصلي نظر به هغه ورکوي او د هغه نظر به د عملي کولو وړ وي، البته د نظر تر خپلولو وړاندې په کار ده چې له دې وروڼو سره هم مشوره وکړي. ښکاره ده چې په دې صورت کي دی دهغو په اجماع مکلف دی، د هغوی د اکثریت د پرېکړې منل ورته ضروري نه دي.

څرنګه چې زموږ په اند د مسلمانانو د ټولنیز نظام اساس پر امرهم شوری بینهم دی له همدې کبله به د مشرانو او چارواکو ټاکنه او د حکومت و امارت جوړښت په مشوره وي او د امارت تر سمبالولو وروسته به هم دا اختیار نه لري چې په ملي چارو کي د مسلمانانو اتفاق یا د اکثریت رایه رد کړي.

د تفهیم القرآن لیکوال مولانا ابو الأعلی مودودي د دې ایت په تفسیر کي لیکي:

" د امرهم شوری بینهم اصل د خپل نوعیت او فطرت له مخې د پنځو خبرو غوښتنه کوي، لومړی دا چې ملي چارې د کومو خلکو له حقوقو او ګټو سره تړاو لري هغوی به د نظر څرګندولو پوره ازادي لري او دوی به په بشپړ ډول په دې خبرو چې چارې یې څه ډول پر مخ ځي او د دې پوره حق به هم لري چې که د معاملاتو په مدیریت کي تېروتنه، خامي او نیمګړتیا ووینې نو نقد پرې وکړای شي، د لاریون حق ولري او که نه اصلاح

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي نو مشران يې رد و بدل کړای شي. د خلګو د خولو په بندولو لاسونو و پښو ته يې د ولچکونو په اچولو او ناخبرو ساتلو د ټولنيزو چارو چلول څرګنده بې دينې ده چې هيڅوک يې هم د امرهم شوری بينهم د اصولو پيروي نه شي ګڼلای.

دويم دا چې د ټولنيزو چارو مديريت کوم چا ته سپارل کېږي هغه به د خلګو په خوښه ټاکل کېږي او هغوی به په خپله خوښه کي ازاد وي. د زور، ډار، حرص، تمې، پيسو، چل – ول، د سيسو او مکاريو په وسيله ترلاسه شوې خوښي حقيقي رضا نه ده، د يو ملت سم مشر هغه څوک نه شي کېدای چې په هره طريقه د مشرتوب هڅه کوي بلکي هغه دی چې خلګ يې په خپله خوښه او رضا مشر کړي.

درېيم دا چې مشرته د مشورې ورکولو لپاره هم بايد داسي کسان وټاکل شي چې ملت پرې باور کړی وي او څرګنده خبره ده چې داسي کسان هيڅکله په سمه معنا باور درلودونکي نه شي کېدای چې د پشار، پيسو، دروغو او د سيسو په کارولو او يا د خلګو په بې لارې کولو د استازيتوب مقام ترلاسه کړي.

څلورم دا چې مشوره ورکوونکی له خپل علم، ايمان او وجدان سره سمه مشوره ورکړي او د دا ډول نظر څرګندولو پوره واک ولري، په کوم ځای کي چې دا ډول ازادي نه وي او هلته مشاور د حرص يا وېرې پر بنسټ او يا په فساد کي ښکيلېدو له کبله د خپل علم او ضمير پر خلاف مشوره ورکړي هلته به په حقيقت کي خيانت او غداري وي نه د امرهم شوری بينهم پيروي.

پنځم دا چې د شورا وړ کسانو اجماع کومه مشوره ورکړي، يا د دوی د اکثريت ملاتړ ولري نو هغه به منل کېږي ځکه که يو شخص يا يوه ډله د ټولو د خبرې تر اوږدو وروسته د خپلې پرېکړې اختيار ولري نو مشوره بې ارزښته کېږي. الله داسي نه وايي چې د دوی په چارو کي ترې مشوره اخيستل کېږي، بلکي داسي وايي چې چارې يې په خپل منځي مشوره پر مخ ځي. دا لارښوونه صرف د مشورې په اخيستلو نه عملي کېږي بلکي اړينه ده چې په مشوره کي په اتفاق يا اکثريت سره کومه پرېکړه وشي چارې له هغې سره سمې پر مخ ولاړې شي." (۵۰۹/۴)

رسول الله ﷺ د همدې اصولو له مخې تر خپل وفات يو څه موده وړاندې پرېکړه وکړه چې د حکومت لپاره به تر ده وروسته د ده ځای ناستی د انصارو پر ځای قريش وي، ده ويلي:

ان هذا الامر في قريش لا يعاديهم احد الا "زمونږ واک به تر هغو له قريشو سره وي چې پر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كبه الله في النار على وجهه ما اقاموا الدين.
(بخاري، شمېره: ۷۱۳۹)

دين ولاړ وي په دې کې چې يې هر څوک مخالفت وکړي الله به يې پرمخې اورته واچوي."

د دې پرېکړې علت يې دا ښودلی:

الناس تبع لقريش في هذا الشان مسلم تبع لمسلمهم و كافرهم تبع لكافرهم.
(بخاري، شمېره: ۳۴۹۵)

" خلک په دې چاره کې د قريشو تابع دي، مومنان يې د مومنانو تابع دي او کافران يې د کافرانو."

په دې ډول رسول الله ﷺ دا خبره بېخي څرګنده کړه چې د عربي مسلمانانو باور پر قريشو دی ځکه نو د قرآن د دې هدايت امرهم شورى بينهم په رڼا کې د ټولو عربو تر منځ د عامه مشرتوب وړتيا له دوی پرته بل څوک نه شي درلودای او د واک د ليږد دا پرېکړه د نژادي لوړتيا او يا نسلي ترجيح پر بنسټ نه بلکې د دوی د مقام له کبله شوې ده.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴

مالي قانون

الله چې د خپل وروستي رسول په وسیله بشریت ته د مالي تزکیې کوم قانون ورکړی د هغه اصول پر دې بنا دي چې الله دا نړۍ د ازموینې لپاره را منځ ته کړې ځکه یې نو سیستم داسي جوړ کړی چې دلته ټول خلک یوه بل ته د احتیاج درلودونکو په توګه پیدا شوي دي. د دې نړۍ تر ټولو لوړ شخصیتونه هم د خپلو اړتیاوو لپاره د نورو پر لور لاسنیوي ته محتاج دي او د دې اړتیاوو په لړ کې ډېرو ټیټ رتبه انسانانو ته هم رجوع کېږي. دلته هر څوک خپل رول لري او هیڅوک بل ته له اړتیا پرته نه شي پاتېدای. د نړۍ رب په دې ځای کي د هر سړیي د ځېرکتیا، وړتیا، ذوق، میلان او وسایلو وامکاناتو تر منځ لوی توپیر رامنځ ته کړی دئ. د همدې توپیر په نتیجه کي چې کومه ټولنه را منځ ته کېږي په هغې کي که له یوې خوا د علم او پوهې هغه څښتنان پیدا کېږي چې له پوهې یې نړۍ رڼا تر لاسه کوي، داسي لیکوالان ژبړي چې قلم یې د لفظ او معنا تړاو وته ابدیت ورکوي، هغه څېړونکي پیدا کېږي چې نویو پنځونو ته یې نړۍ شاباسی وایي، هغه مشران پیدا کېږي چې د تدابیرو او سیاست له کبله یې د ژوند ټولنیزې ستونزې حل کېږي، هغه سمون پال پیدا کېږي چې د هڅو له کبله یې انسانیت شعور تر لاسه کوي او هغه واکمن پیدا کېږي چې هوډ او حوصله یې د تاریخ لوری بدلوي، نو بل لور ته هغه مزدوران، کروندګر، خادمان، نوکران او جارو کښ کسان هم زېږي چې د خواړی معجزې ښیي، سره زر را باسي، په نغري کي د خولې خوږولو وسایل پیدا کوي، کورد سپینو زرو په څېر ځلوي، لارې د تګ لپاره چمتو وي، ودانۍ د اسمان خبرونه راوړي او ناولتیا سمدستي خپل بستر ورنغاړي، قرآن ویلي:

نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ

"په دې دنیوي ژوند کي موږ دوی مالي وسایل وېشلي او (داسي مو وېشلي دي چې) د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ (الزخرف ۴۳ : ۳۲)

ځینو مرتبه مو پر ځینو لوړه کړې څو له یوه بل څخه کار واخلي او ستا د رب رحمت تر هغه څه غوره دی چې دوی یې را غونډوي."

د رتبو د دې توپیر په را منځ ته کولو د نړۍ والو رب دا ګوري چې دوی دا لوړ او ټیټ د خپل منځي احترام او ګډ و هڅو په وسیله نېکه ټولنه او غوره تمدن را منځ ته کوي او که د یوه بل پر خلاف د خپلو فسادونو او حماقتونو له کبله په دې نړۍ کې د فساد په هڅو بوختېږي چې په دې توګه په دنیا کې هم رسوا کېږي او په اخرت کې هم د ده د عذاب وړ ګرزي؟. الله ویلي:

وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ (الأنبياء ۲۱ : ۳۵)

"او موږ مو په خیر و شر د امتحان لپاره اخته کوو او تاسو به زموږ لور ته را ګرزئ."

د انسان همدا ازمویښه ده چې په هغې کې د بریا لپاره الله د خپلو رسولانو په وسیله دوی ته لارښوونه وکړه او په مالي چارو کې یې د سپېڅلتیا او تزکیې لپاره خپل یو قانون ورکړی چې لنډیز یې دادی.

۱) که مسلمان زکات ورکړي نو دوی چې په روا لارو د کومې شتمنۍ څښتنان دي د الله او رسول له لوري له ټاکلي حق پرته ور څخه نه شي اخیستل کېدای، ان دولت یې پر دې زکات سربېره له خپلو مسلمانو وګړو څخه د دوی له خوښې پرته هیڅ ډول مالیه هم نه شي اخیستلای.

۲) ټولې داسې شتمنۍ او جایدادونه چې د کوم شخص ملکیت نه دي یا نه شي کېدای هغه باید د دولت تر واک لاندې وي، څو دا ملي شتمني د شتمنو لاس ته نه ولوېږي او هغه خلک هم تر پې ګټه واخلي چې د خپلو اړتیاوو لپاره نورو ته اړوي او همدا راز په اجتماعي نظم پورې تړلې ځیني نورې اړتیاوې هم پرې رفعه کړای شي.

۳) په باطلو لارو د نورو د مال خوراک ممنوع دی، سود او قمار د دې لړۍ تر ټولو ناوړه جرمونه دي. له دې پرته باید د نورو مالي معاملاتو د روا او ناروا پربکړه هم د همدې اصولو په رڼا کې وشي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴) په راکړه -ورکړه، پور، وصیت او دا ډول نورو مالي چارو کي لیکنه او شاهدي ضروري ده، په دې کي غفلت ځیني وختونه د لویو اخلاقي فسادونو سبب ګرزي.

۵) د هر مسلمان شتمني باید د هغه تر مرګ وروسته حتما په لاندینۍ طریقه د هغه پر وارثانو ووېشل شي:

که پر مړي قرض باندي وي نو تر ټولو لومړی به هغه ورکول کېږي، بیا که یې کوم وصیت کړی وي هغه به پوره کوي او وروسته به میراث وېشل کېږي.

د وارث په حق کي وصیت نه شي کېدای، مګر که د هغه حالات یا یو خدمت او ضرورت په ځانګړي حالت کي د دې غوښتنه کوي. همدارنګه داسي څوک د مړي وارث نه شي کېدای چي له هغه سره یې د خپلې وینا او عمل له کبله د قرابت بنسټ له منځه وړی وي.

مورو پلار او مېړه و ماینې ته د برخې ترورکړې وروسته د میراث حقدار د مړي اولادونه دي، که د مړي زوی نه وي او په اولادونو کي یې دوې یا تر دوو ډېرې نجونې وي نو هغوی ته به د پاتي میراث دوه ثلثه ورکول کېږي او که یوه نجلۍ وي نو د نیمایي حق لري، که د مړي اولادونه ټول نارینه وي نو ټول مال به پرې وېشل کېږي، که نجونې او هلکان دواړه وي نو د یوه هلک برخه به له دوو ښځو سره برابره وي او په دې صورت کي به هم ټول مال پر دوی وېشل کېږي.

د اولاد په نه شتون کي د مړي ورونه او خوندې د اولاد ځای نیسي، که مورو پلار او مېړه یا ماینه شتون ولري نو د هغوی د برخې ترورکړې وروسته به یې همدوی وارثان وي، پر نارینه وو او ښځو د حصو د وېشلو طریقه هماغه ده چي پورته د اولاد په اړه بیان شوه.

مړی اولاد ولري یا نه خو خوندې او ورونه یې وي نو په مورو پلار کي به هر یوه ته د میراث شپږمه برخه ورکول کېږي، که ورونه او خوندې هم نه وي او یوازي مورو پلار یې وارثان وي نو د میراث یو ثلث د مور او پاتي دوه ثلثه د پلار حق دی.

که مړی نارینه وي او اولاد ولري نو ښځې ته به یې د میراث اتمه برخه ورکول کېږي او که یې اولاد نه وي نو د څلورمې برخې حق لري، که مړی ښځه وي او اولاد ونه لري نو نیم میراث یې د مېړه دی او که اولاد ولري نو مېړه ته به یې څلورمه برخه ورکول کېږي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې وارثانو په نه شتون کې که مړی وغواړی نو بل څوک د میراث وارث ګرزولای شي، کوم څوک چې وارث ټاکل شوی وي نو که خپلوي ولري او د ده یو ورور یا خور وي نو څلورمه برخه او که تر یوه ډېر ورونه او خوندې وي نو هغوی ته د یوه ثلث تر ورکړې وروسته پاتې ۶/۵ یا دوه ثلثه به هغه ته ورکول کېږي.

موږ به همدلته د دې قانون وضاحت وکړو.

د ملکیت درناوی

فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ (التوبة ۹ : ۵)

"نو که دوی توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي لاره يې پرېږدئ."

په سورت التوبه کې دا ایت د عربي مشرکینو په مخ کې د هغو شرایطو د وضاحت لپاره راغلی چې تر پوره کولو وروسته یې دوی د مسلمانانو په توګه د هغوی د دولت تابعیت تر لاسه کولای شوای. په دې کې چې که د فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ یعني د دوی لار پرېږدئ پر الفاظو که غور وشي نو په پوره صراحت سره د دې خبرې غوښتنه کوي چې په دې ایت کې د بیان شویو شرایطو تر پوره کولو وروسته که هغوی د دولت تابعیت غوره کړي نو لکه څرنګه چې د دولت اداره د هغوی د ځان، عزت، عقل او نظر پر خلاف تېری نه شوای کولای، همدا رازې د هغوی د ملکیتونو، جایدادونو او شتمنیو پر خلاف هم د هیڅ ډول تېري حق نه درلود، که هغوی اسلام منلای، لمونځ یې کړی او د زکات ورکړې ته چمتو شوي وای نو د نړۍ والو د رب حکم دا وو چې تر دې وروسته دې یې لار پرېښودل شي. د الله دې حتمي فرمان له مخې که یې یو موټی غنم، یوه لوښت ځمکه، یوه روپۍ او یوه دانه غله تر غوښتلای نو تر زکات وروسته یې په زور تر نه شوای اخیستلای. رسول الله ﷺ یې په وضاحت کې ویلي:

امرت ان اقاتل الناس حتى يشهدوا ان لا اله وكرم[1] چې د لا الـه الا الله محمـد رسـول الله — "ما ته امر شوی چې له خلګو سره تر هغو جګړه

[1] په دې روایاتو کې د جنګ یادونه باید ناسم پوهاوی را منځ ته نه کړي، د دې یادونه صرف له دې کبله شوې چې هغه وخت معامله د عربو له مشرکینو سره وه د دوی په اړه قران وضاحت کړی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الا الله و ان محمدا رسول الله فاذا فعلوه عصموا منی دمائهم و اموالهم الا بحق الاسلام و حسابهم علی الله. (بخاري، شمېره: ۲۵)

شاهدي ورکړي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي، که دا شرایط ومني نو د دوی ځانونه او مالونه به له ما خوندي وي، مګر دا چې په دې اړه د یوه حق له مخې ورځخه بې برخې شي[۲] پاتي شو حساب یې نو هغه پر الله دی."

همدا امر د مسلمانانو د هر دولت لپاره هم دی، ځکه کله چې الله په خپله رسول ته د ده په حکومت کې د دې اجازه نه ده ورکړې چې له خلګو څخه تر دې ور هاخوا نوري غوښتنې وکړي نو نور څرنګه دا حق درلودای شي؟ ځکه نو د همدې ایت له مخې حکومت له زکات پرته چې فیصدي یې الله د خپل رسول په وسیله په بیلابیلو مالونو کې ټاکلې له خپلو مسلمانو وګړو څخه د دوی له خوښې پرته هیڅ مالیه نه شي اخیستلای، رسول الله ﷺ د حجة الوداع پر مهال خلګو ته خبرو رکړې چې د مسلمانانو د ځان او ابرو په څېر د هغوی د مال حرمت او درناوی هم ابدي دی، د الله له اجازې پرته یې هیڅوک تر پښو نه شي لاندي کولای. ده ویلي:

ان دمائكم و اموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا.

(مسلم، شمېره: ۲۹۵۰)

"بې شکه ستاسو وینه او ستاسو مالونه داسي حرام دي لکه ستاسو دا ورځ، په دې میاشت او دې ښار کې."

ملي شتمنی

مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لاَ يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأَغْنِيَاء مِنكُمْ(الحشر ۵۹ : ۷)

"الله چې د دې کلیو د اوسېدونکو کوم څه خپل رسول ته ورکړي هغه به د رسول، د هغه د قریبانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو لپاره ځانګړي وي، د دې لپاره چې ستاسو د شتمنو تر منځ پاتي نه شي."

چې د رسول الله ﷺ له لوري د حق تر وضاحت وروسته به په هر حال کې د اسلام او تورې تر منځ یو مني.

[۲] دمثال په ډول څوک ووژني او د سزا په توګه هغه ووژل شي یا دیت ترې واخیستل شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا ایت چې په کوم سیاق کې نازل شوی که یې په سورت الحشر کې ولولو نو ترې ښکاري چې کله د رسول اللهﷺ په وخت کې خلګو له دښمن څخه بې جنګه د نیول شویو مالونو، ځمکو او جایدادونو په اړه دا غوښتنه وکړه چې پر دوی دې تقسیم شي نو قرآن یې له منلو ډډه وکړه او ویې ویل چې هغه باید د شخصي ملکیت پر ځای د دین او ملت د ملي اړتیاوو، د قوم د غریبانو او بې وزلو د مرستې او کفالت لپاره وقف شي څو یوازې د شتمنو ترمنځ پاتې نه شي.

څرنګه چې دا شتمنۍ د مسلمانانو له مرستې پرته صرف د الله په فضل تر لاسه شوې وې ځکه نو ټولې د همدې هدف لپاره ځانګړې شوې، د عربو په ټاپو وزمه کې د رسول اللهﷺ د جهاد او قتال ځانګړې ډول ته په پام د هغه مهال عمومي غنیمتونه هم د الله او رسول ملکیت وو.[3] مګر څرنګه چې یې په تر لاسه کولو کې خلګو مرسته کړې وه او هغه مهال په جګړه کې شخصي وسله، اسونه، اوښان او نور جګړییز وسایل کار بدل ان د لارې توښه به یې هم په خپله اخیسته ځکه نو اړینه وه چې پر مجاهدینو ووېشل شي خو بیا هم قرآن امر کوي چې پنځمه برخه دې یې د همدې مقصد لپاره تر بېله شي.

وَاعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ (الأنفال ۸ : ۴۱)

"او پوه شئ چې تاسو کوم غنیمتونه تر لاسه کړي د هغو پنځمه برخه به د الله، رسول، د ده د قریبانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو لپاره ځانګړې وي."

په دې سره د مسلمانانو هره ټولنیزه اداره دا لا رښوونه تر لاسه کوي چې کومې شتمنۍ او جایدادونه شخصي ملکیت نه وي او یا نه شي کېدای هغه باید دولتي ملکیت وبلل شي او د ټولنې له ځینو اړتیاوو سره باید د هغو خلګو اړتیاوې هم تر پوره کړي چې د خپلو طبعي کمزوریو او یا له اسبابو او وسایلو څخه د محرومیت پر بنسټ نورو ته اړوي.

پاتې شوه د دې شتمنیو د انتظام مسئله نو هغه شریعت حالاتو او مصالحو ته پرېښې ده، له همدې کبله چې د مسلمانانو چارواکي د دوی د نظر او مشورې د خاوندانو له سلا وروسته کومه طریقه وغواړي غوره کولای یې شي. څرګنده ده چې رسول اللهﷺ په خپل

[3] الأنفال ۸ : ۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وخت کي د خیبر ځمکې د همدې لپاره په بزګري ورکړې.[۴] ځینې برخې چې یې کومو کسانو ته ځانګړې کړې هغوی ته یې وسپارلې، [۵] ځینې یې خوندي سیمې وګرزولې، [۶] په ځینو شیانو کې یې ټول مسلمانان یو ډول شریکان کړل، [۷] له ځینو چینو او ویالو څخه یې د ګټې اخیستلو لپاره د الاقرب فالاقرب قانون را منځ ته کړ [۸] او عمر فاروق ﷺ د خپل خلافت پر مهال د عراق او شام نیول شوې سیمې د هغوی پخوانیو مالکانو ته وسپارلې او د حاصلاتو له مخې یې معلومه مالیه پرې وټاکله.[۹]

ناروا مالونه خوړل

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ (النساء ۴ : ۲۹)

"اې مومنانو! تر خپل منځ د یوه بل مالونه په باطلو طریقو مه خورئ مګر دا چې ستاسو د خوښې په سوداګري سره وي."

په دې ایت کي په هغو طریقو د نورو د مالونو له خوړلو منعه شوې ده چې د عدل، انصاف، قانون، دیانت او صداقت خلاف وي. په اسلام کي د هر ډول مالي معاملاتو په اړه د ټولو حرمتونو بنسټ همدا الهي حکم دی. رشوت، غلا، غصب، غلطه وینا، په ګناه کي مرسته، غبن، خیانت او د لوبډلي مال له سم اعلان څخه د تېښتې په وسیله د نورو مال خوړل ټول تر همدې لاندې دي. پر دې شیانو بحث ته اړتیا نه شته ځکه ګناه یې د نړۍ په ټولو قوانینو او هر دین و شریعت کي منل شوې ده. هغه معاملات چې د نورو لپاره د زیان او تېر ایستنې سبب ګرزي هم د دې یوه څانګه ده، رسول الله ﷺ چې یې په خپله زمانه کي کوم شکلونه ممنوع ګڼلي هغه دادي:

---

[۴] مسلم، شمېره: ۳۹۶۷

[۵] ابوداود، شمېره: ۳۰۵۸

[۶] بخاري، شمېره: ۲۳۷۰، احمد، شمېره: ۱۶۲۲۷

[۷] ابن ماجه، شمېره: ۲۴۷۳

[۸] بخاري، شمېره: ۲۳۶۱

[۹] کتاب الخراج د ابو یوسف: ۲۶ - ۲۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر قبضې وړاندې د یو شي پلورل.[۱۰]

د کوټې په حساب غله را نیول او خپل ځای ته تر نقل وړاندې یې پلورل.[۱۱]

د کلیوال لپاره د ښارې خرید و فروخت.[۱۲]

یوازې د ټپر ایستنې لپاره یو تر بل قیمت لوړول.[۱۳]

د بل چا د سودا پر مهال د خپلې سودا هڅه.[۱۴]

محقله یعنې په وږیو کې د خپل کروندې خرڅول.[۱۵]

مذابنه یعنې د را لوېدلو خورماوو په بدل کې د ونو د خورماوو پلورل.[۱۶]

معاومه یعنې د څو کلونو لپاره د ونو میوه پلورل.[۱۷]

ثنیا یعنې په بیه کې نامعلومه استثنا کول. شکل یې داسې وو چې غله پلورونکې به ویل: دا مې پرتا پلورلې مګر یو څه به ترې بېلوم.[۱۸]

ملامسه یعنې که هر یو له غور او فکر پرته د بل جامې ته لاس ور وړې نو بیه وشوه.[۱۹]

منابذه یعنې کله چې هر یو خپل شی بل ته ور وغورځوې نو بیه ترسره شي.[۲۰]

بیع الی حبل الحبلة یعنې اوښ داسې خرڅ کړې چې که اوښه کوم څه وزېږوي، بیا یې هغه بچي حمل واخلي او لنګه شي نو سودا وشوه.[۲۱]

---

[۱۰] بخاري، شمېره: ۲۱۳۲، مسلم، شمېره: ۳۸۳۹

[۱۱] بخاري، شمېره: ۲۱۲۴، مسلم، شمېره: ۳۸۴۱

[۱۲] بخاري، شمېره: ۲۱۶۱، مسلم، شمېره: ۳۴۵۹

[۱۳] بخاري، شمېره: ۲۱۴۲، مسلم، شمېره: ۳۸۱۸

[۱۴] بخاري، شمېره: ۲۱۶۱، مسلم، شمېره: ۳۴۵۹

[۱۵] بخاري، شمېره: ۲۱۷۲، ۲۱۷۳، ۲۱۸۴، ۲۱۸۶

[۱۶] بخاري، شمېره: ۲۱۷۲، ۲۱۷۳، ۲۱۸۴، ۲۱۸۶

[۱۷] مسلم، شمېره: ۳۹۱۳

[۱۸] مسلم، شمېره: ۳۹۱۳

[۱۹] بخاري، شمېره: ۵۸۴، مسلم، شمېره: ۳۸۰۱

[۲۰] بخاري، شمېره: ۲۱۴۴، مسلم، شمېره: ۳۸۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیع الحصاة یعني د شګو بیه، دې عموما دوه شکلونه درلودل یو دا چې د جاهلیت پر مهال به خلګو د ځمکې سودا کوله بیا به یې ډبرې غورځولې او چې تر کومه ځایه به رسېدې هغه به یې د ځمکې مساحت باله او د خرڅې شوې ځمکې په توګه به یې اخیستونکي ته سپارله. دویم دا چې د ډبرو په غورځولو به یې ویل چې پر کومه څه وغورځي هماغه خرڅ شوی دی.[۲۲]

تر سمبدو وړاندې د ونو مېوه خرڅول.[۲۳]

تر سپینوالي او له افتونو تر خوندیتوب وړاندې د وږیو پلورل.[۲۴]

پر خپل ورور له وضاحت پرته د عیبجن شي خرڅول.[۲۵]

تر خرڅولو وړاندې د اوښې او یا پسه په غولانځ کې شېدې ساتل.[۲۶]

بازار ته تر رسېدو وړاندې له سودا ګرو سره لیدل او د هغوی د مال اخیستلو هڅه.[۲۷]

وار له مخې د قیمت په ورکولو داسې بیع کول چې د تیارېدو پر مهال به یې ورکوي مګر دا چې معامله په تاکلې اندازه، معلوم تول او مشخصې مودې لپاره وي.[۲۸]

مخابره یعني د بزګرۍ هغه شکلونه چې پکې د کروندګر ګټه معلومه وي.[۲۹]

په حصه سره د ځمکې داسې ورکول چې د یوې معلومې برخې حاصلات یې د مالک حق وبلل شي.[۳۰]

---

[۲۱] بخاري، شمېره: ۲۱۴۳، مسلم، شمېره: ۳۸۱۰
[۲۲] مسلم، شمېره: ۳۸۰۸
[۲۳] بخاري، شمېره: ۱۴۸۶، مسلم، شمېره: ۳۸۶۵
[۲۴] بخاري، شمېره: ۱۴۸۶، مسلم، شمېره: ۳۸۶۴
[۲۵] ابن ماجه، شمېره: ۲۲۴۶
[۲۶] بخاري، شمېره: ۲۱۴۸، مسلم، شمېره: ۳۸۱۵
[۲۷] بخاري، شمېره: ۲۱۶۵، مسلم، شمېره: ۳۸۱۹
[۲۸] بخاري، شمېره: ۲۲۴۰، مسلم، شمېره: ۴۱۱۸
[۲۹] بخاري، شمېره: ۲۳۸۱، مسلم، شمېره: ۳۹۱۱
[۳۰] بخاري، شمېره: ۲۳۲۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مشترک جایداد ونه د هغو شریکانو ته له فرصت ورکولو پرته خرڅول مګر دا چې حدود یې معلوم او لاړې ښلي شي.[۳۱]

د خرڅولو او را نیولو، کښت او نورو همدا شکلونه رسول الله ﷺ ممنوع بللي دي، د هغو په اړه باید دلته دا خبره روښانه شي چې دا د تاوان او تېر ایستنې پر کوم علت بنا دي که د احوالو او شرایطو په بدلون یو وخت دا علت له منځه ولاړ شي نو لکه څرنګه چې به یې ممانعت له منځه ځي همدا رنګه چې د تمدن د پرمختګ په نتیجه کې دا علت په کومه نوې معامله کې ثابت شي نو اباحت به یې دوام نه لري.

سود او قمار هم په ناروا ډول د مال په خوړلو کې داخل دي، موږ به یې په اړه د قرآن نظر دلته په یو څه تفصیل سره بیان کړو.

قمار

د قمار په اړه هر سړی پوهېږي چې صرف بخت ازموینه ده او قرآن رجس من عمل الشیطان (ناولی شیطاني کار) بللی، د دې تعبیر له غوره کولو څخه ښکاره معلومېږي چې د اخلاقي فساد پر بنسټ غوره شوی چې د انسان په شخصیت کې پیدا کېږي او وروروي ټول وجود احاطه کوي. علت یې دادی چې کله د مالي فعالیت بنسټ پر راکړه ورکړه، خدمت او مرسته ایښودل شوی وي نو لکه څرنګه چې له املې په انسان کې د لوړو اخلاقو قوه پیاوړې کېږي همدا راز که یې بنسټ پر هغو شیانو وي چې صرف تصادف او بخت ازموینه وي نو له کبله یې په انسان کې له محنت، خواري، خدمت او سرښندنې څخه د تېښتي روحیه پیدا کېږي او بیا د انسان په شخصیت کې د بې همتۍ او لتې هغه رذیل اخلاق وده کوي او وروروي، ناموس، وفا، حیا، غیرت او شخصي خپلواکۍ هر احساس له منځه وړي ان انسان د الله له یاد او لمانځه څخه بې پروا کېږي او له نورو سره په ځان کې د مینې، وروړګلوۍ پر ځای د کرکې او دښمنۍ احساسات پیدا کوي. الله په سورت المایده کې ویلي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ

"اې مومنانو! شراب، قمار، څلي او د قسمت غشي بالکل چټل شیطاني کارونه دي ځکه نو

[۳۱] بخاري، شمېره: ۲۲۵۷، مسلم، شمېره: ۴۱۲۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ * إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ* (المائدة ۵ : ۹۰، ۹۱)

ځان تري وساتئ چې بريالي شئ، شيطان خو همدا غواړي چې په شرابو او قمار مو اخته کړي، ستاسو تر منځ کرکه او دښمني واچوي او د الله له ياد و لمانځه څخه مو غافل کړي نو ايا له دې شيانو ځان ساتئ؟."

د قمار په اړه يو په زړه پوري حقيقت داهم دی چې تر اسلام وړاندي په عربي ټولنه کي د شتمنو له لوري د سخاوت ښودلو يوه طريقه او له بې وزلو سره د مرستې يوه ذريعه وه، د هغوی په شتمنو کي دا دود وو چې کله به د سړځګي موسم را ورسېد، د شمال سارې بادونه به را والوتل او په سيمه کي به وچکالي غوندي حالت پيدا شو نو دوی به په بېلابېلو ځايونو کي را ټولېدل، د شرابو جامونه به يې وېشل او د خمار و مستۍ په حالت کي به يې يوه اوښه نيوله او حلالوله به يې. مالک چې به يې هر څومره قيمت وغوښت ورکاوه يې او په غوښه يې قمار کاوه. په داسي ځايونو کي به بې وزلي او مسکينان له وړاندي را ټول وو او هر قمار باز چې به څومره غوښه ګټله پردوی به يې تقسيموله. دا په عربي جاهليت کي د ډېر لوی ويار شی وو او کومو کسانو چې به دا مبله جوړوله يا به يې پکي برخه اخيسته هغه ډېر سخي بلل کېده او شاعرانو به يې په خپلو قصيدو کي د سخاوت او کرم داستانونه بيانول او د دې بر خلاف چې به کوم کسان له دې مېلو ګوښه وو هغوی يې برم يا بخيلان بلل.

د قمار او شرابو همدا ګټې وې چې له کبله يې څه وخت منعه وبلل شول نو خلګ شکمن ول خو قرآن څرګنده کړه چې ګټه يې پر خپل ځای مګر په انساني شخصيت کي چې کوم اخلاقي فساد پيدا کوي نو هغه ته په پام هيڅکله منل کېدای نه شي. الله ويلي:

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا (البقرة ۲ : ۲۱۹)

"دوی له تا څخه د شرابو او قمار په اړه پوښتي، ورته ووايه په دې دواړو کي لويه ګناه ده او د خلګو لپاره ګټې هم لري، مګر ګناه يې تر ګټې ډېره ده."

سود

سود هم يو داسي اخلاقي نجاست دی چې پکي ښکېل کسان او اداري د نورو ګټې او تاوان ته له پام پرته په هر حالت کي د خپلې ګټې لپاره د پورو ړي پر سر سپاره وي. د دې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره په عربي کي د ربا لفظ کارول شوی او قرآن هم استعمال کړی دی. له عربي ژبې سره اشنا هر سړی پوهېږي چې له دې څخه مراد هغه معلومه ګټه ده چې قرض ورکوونکی یې له خپل پورو ړي څخه پر دې بنسټ اخلي چې تر ځانګړې مودې یې د پیسو د کارولو اجازه ورکړي. قرآن کریم له دې څخه په سختي منعه کړې او د بقرې په سورت کي یې ویلي دي:

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَـئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (البقرة ۲ : ۲۷۵)

"کوم کسان چې سود خوري د قیامت په ورځ به بالکل د هغه کس په څېر را پورته شي چې شیطان په خپل لمس لېونی کړی وي ځکه دوی ویل: بیع خو هم د سود په څېر ده او حیراني داده چې الله بیع روا کړې او سود یې حرام کړی دی، نو چا ته چې د هغه د رب له خوا خبر راغی او منع شو نو څه چې یې کړي هغه شوي معامله یې له الله سره ده او څوک چې بیا هم را وګرزي نو هغه دوزخیان دي او تل به پکښې وي."

په همدې سورت کي یې وړاندي ویلي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ * فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ*

(البقرة ۲ : ۲۷۸، ۲۷۹)

"اې مومنانو! کـه تاسو ربـتـني ایمان درلـود ونکي یاست نو له الله وو پرېږئ او پاتي سود پرېږدئ، که مو داسي ونه کړل نو د الله او رسول له لوري د جنګ اعلان واورئ او که توبه وباسئ نو اصلي سرمایه مو حق ده، نه به تاسو ظلم کوئ او نه به پر تاسو ظلم کېږي."

قرآن په دې ایاتونو کي د قیامت پر مهال د لېونو په څېر د سود خورو را پورته کېدلو وجه دا ښودلې چې دوی پر دې حیراني څرګندوله چې الله بیع او اخیستنه حلال کړې او سود یې حرام بللی دی، حال دا چې تر منځ یې هیڅ توپیر نه شته، که یو سوداګر پر خپله سرمایه ګټه کولای شي نو که یو سرمایه دار پر خپله سرمایه د نفعې غوښتنه وکړي نو هغه ولي مجرم ګڼل کېږي؟ د قرآن په نزد دا یوه داسي د لېونتوب خبره ده چې د وینا کوونکو د جزا او عمل تر منځ باید د مشابهت د قانون له مخې په قیامت کي د لېونیانو په څېر را پورته شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استاذ امام امین احسن اصلاحي د سود خورو پر تعجب څرګندولو د تبصرې په کولو د دې ایت په تفسیر کي لیکلي:

"په دې اعتراض سره دا خبره بېخي په ډاګه شوه چې پر بیع د سود قیاسوونکو لپونیانو نسل په دنیا کي نوی نه بلکي ډېر لرغونی دی، قرآن دا قیاس د توجو وړ نه دی بللی ځکه چې دا بېخي ښکاره باطل او د قیاس کوونکو د دماغي خرابي دلیل دی. یو سوداګر خپله سرمایه د داسي مال پر تجارت لګوي چې د خلګو په کار وي، دی د خواري، زحمت او خطر په ګالو دا مال د هغو کسانو لپاره د ګټې وړ ګرزوي چې په خپله شخصي هڅه یې اول تر لاسه کولای نه شوای او که یې تر لاسه کړی وای نو قیمت به یې تر هغه ډېروو چې سوداګر ورته برابر کړی، سوداګر خپله سرمایه او مال څرګند بازار ته د مقابلې لپاره وړاندي کوي او د ګټو فیصدي یې د بازار پورته والی او کښته والی ټاکي. ممکن د همدې پورته کېدو او کښته کېدو له کبله بېخي ډېوالي شي او ممکن یو څه ګټه تر لاسه کړي، په دا ډول معامله کي یې هم لاس داسي تړلی چې یو ځل د یوې روپۍ شی په یوه روپۍ دوو انو یا څلورو انو پلوري او له دې څخه هم تر هغو ګټه نه شي اخیستلای چې دوې روپۍ یې له ټولو خطرونو او پورته کېدو و کښته کېدو څخه په تېرېدو بېرته میدان ته را نه شي او د ټولنې په خدمت دځان لپاره استحقاق پیدا نه کړي. ښه تاسي ووایاست د یوه سوداګر د دې سره ښېندنې، غیرت او خدمت سرمایه د سود خور له هغې ډېر زړې لټې، بې غیرتې او انسان دښمنه سرمایې سره څرنګه پرتله کېدای شي چې د یوه وېښته تاوان زغملو ته چمتو نه ده خو د ګټو لپاره پر سرونو سپرېږي." (تدبر قرآن ۱/ ۶۳۲)

که څه هم قرآن د سود اخیستل حرام بللي مګر د دې حرمت یوه لازمي نتیجه دا هم ده چې له څه عذر پرته یې ورکوونکي هم[۳۲] د تعاون علی الاثم د اصل پر بنسټ یو ډول مجرم وبلل شي. د وهب بن عبدالله په روایت کي دي:

لعن النبی ﷺ آکل الربا و مؤکله. (بخاري، شمېره: ۵۳۴۷)

رسول الله ﷺ پر سود خوړونکي او ور خوړونکي دواړو لعنت ویلی دی.

همدارنګه رسول الله ﷺ د شیانو بدلولو په صورت کي د پورد معاملو پر مهال د سود له هر ډول څخه د ځان ساتنې هدایت کړی دی، ده ویلي:

[۳۲] له دې څخه مراد هغه کسان دي چې د سودي کاروبار د استازي په توګه له دا ډول کسانو یا ادارو سره کار کوي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الذهب بالذهب وزنا بوزن مثلا بمثل و الفضة بالفضة وزنا بوزن مثلا بمثل فمن زاد و استزاد فهو ربا. (مسلم، شمېره: ۴۰۶۸)

"که تاسو سره زر په پور وپلورئ نو په بدل کې يې هماغه سره زر واخلئ، په هماغه وزن او هغه ډول او که سپين زر و پلورئ نو په بدل کې يې هماغه سپين زر واخلئ په هماغه وزن او هغه ډول ځکه چا چې زيادت ورکړ او زيادت يې وغوښت نو دا سود دی."

الورق بالذهب ربا الا هاء وهاء و البر بالبر ربا الا هاء و هاء و الشعر بالشعير ربا الا هاء و هاء و التمر بالتمر ربا الا هاء وهاء.

(مسلم، شمېره: ۴۰۵۹)

"که د سرو زرو په بدل کې سپين زر په پور وپلورئ نو سود دی،[۳۳] د غنمو په مقابل کې د نورو غنمو،[۳۴] د اوربشو په مقابل کې د نورو وربشو او د خورما وو په مقابل کې د نورو خورما وو خرڅولو کې هم دا صورت دی خو که دا معامله په نغده وي نو پروا نه لري."

د دې روایاتو صحیح مفهوم هماغه دی چې مو ورپورته په خپله ترجمه کې واضح کړی، رسول الله ﷺ همدا ویلي وو. که روایات په همدې بڼه پاتې شوی وای نو خلګو به يې په مفهوم کې تېروتنه نه کولای، مګر په ځینو نورو طریقو کې د راویانو ناسم فهم له هغو څخه د دویم روایت د هاء و هاء مفهوم په لومړي روایت کې او له لومړي روایت څخه د الذهب بالذهب الفاظ د الورق بالذهب پر ځای راوړي او داسي يې سره ګډ وډ کړي دي چې اوس يې د خلګو لپاره حکم يوه نه حلېدونکې معما ده. په فقه کې د ربا الفضل مسئله د همدې ګډ وډ ی په نتېجه کې را پیدا شوې که نه حقیقت هماغه دی چې رسول الله ﷺ په خپله وینا کې څرګند کړی چې انما الربا في النسية[۳۵] (سود یوازې په پور کې وي).

دلته باید دا خبره هم څرګنده شي چې سود یوازې له هغو شیانو سره تړاو لري چې کارونه يې په خپل حیثیت هغه له منځه وړي او پورو ړی يې دویم ځل په بیا پیدا کولو

---

[۳۳] دا د وسیلې ختمولو حکم دی، له دې وېرې يې خلګ تر پې منعه کړي چې دا د پور معامله ده ځکه به نو د نوعې د اختلاف له امله پکې حتما یو څه کمبوت او زیادت وي.

[۳۴] څرنګه چې دا جمله پر الورق بالذهب عطف ده او هلته د صنف اختلاف بېخي ښکاره دی له همدې وجې په البر بالبر کې د عربیت له مخې د لومړي بر معنا په بل ډول غنمو سره کېدای شي.

[۳۵] مسلم، شمېره: ۴۰۸۹، ۴۰۹۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مالک ته په ور سپارنه کي له ستونزو سره مخ کېږي. په دې کي شک نه شته چې که د زیادت غوښتنه وشي نو د عقل او نقل دواړو له مخې ظلم دی، مګر د دې بر خلاف هغه شیان چې د وجود له ساتلو سره ترې استفاده کېږي او تر استعمال وروسته چې په هر حالت کي وي خپل اصل مالک ته سپارل کېږي نو د هغو د استعمال عوض کرایه ده او څرګنده ده چې پر دې هیڅ اعتراض نه شي کېدای.

همدا راز باید دا خبره هم روښانه شي چې قرض که بې وزلي او غریب ته ورکول شوی وي او که د کاروبار یا رغونې د نقشې لپاره، دا شی د ربا د حقیقت په تاکنه کي هیڅ دخل نه لري. دا خبره بېخي منل شوې چې په عربي ژبه کي سود د قرض ورکوونکي هدف او د پور اخیستونکي ډول او حیثیت ته له پام پرته صرف پر هغه معلومه زیاتونه کېږي چې د پور پر پیسو واخیستل شي. دا خبره په خپله قرآن روښانه کړې چې د هغه د نزول په زمانه کي سودي پور تر ډېره د کاروباري خلکو په مال کي د زیادت لپاره ورکول کېده، الله ویلي:

وَمَا آتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِندَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُم مِّن زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ (الروم ۳۰ : ۳۹)

"او کوم سودي پور چې تاسو د دې لپاره ورکوئ چې د نورو په مالونو کي ګټه وکړي نو د الله په نزد وده نه کوي او تاسو چې د الله د رضا لپاره کوم زکات ورکړئ نو ورکوونکي يې د الله په نزد خپل مال ډېروي."

وګورئ د لِّيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ (د دې لپاره چې د نورو په مالونو کي وده وکړي) الفاظ نه یوازې غریبانو ته ورکول کېدونکو صرفي قرضونو لپاره په هیڅ ډول مناسب نه دي بلکي په ښکاره وایي چې هغه مهال سودي قرضې په عمومي ډول د تجارتي اهدافو لپاره ورکول کېدې او په دې توګه ګواکي د قرآن له تعبیر سره سم د نورو په مال کي وده کول وو. دا خبره د سورت البقرې له دې ایت څخه هم معلومېږي:

وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (البقرة ۲ : ۲۸۰)

"او که پورونړی تنګلاسی وي نو د لاس تر خلاصېدو وخت ورکړئ او که يې وبخښئ نو دا درته غوره ده، که پوهېږئ."

استاذ امام امین احسن اصلاحي يې په تفسیر کي ليکي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" دا مهال ځینې کم سواده دا دعوه کوي چې په عربو کې د قرآن تر نزول وړاندې کوم سود دود وو هغه یوازې سرداري سود وو ، بې وزلو او غریبو کسانو به د ژوند د اړتیاوو تر لاسه کولو لپاره له سردارانو څخه سود اخیسته او سردارانو به له دې مظلومانو لوی – لوی سود ونه تر لاسه کول، قرآن همدا سود ربا بللې او حرام کړی یې دی. پاتې شول هغه کاروباري قرضونه چې دا مهال دود دي نو دا نه په هغه زمانه کې موجود وو او نه یې قرآن د حرمت او کراهیت په اړه بحث کړی دی. د دې خلګو ډېر څرګند ځواب په خپله په همدې ایت کې موجود دی. کله چې قرآن حکم کوي که پور وړی تنګلاسی (ذو عسرة) وي نو تر پراختیا (میسرة) موندلو وخت ورکړئ نو ګواکې دې ایت په لوړ اواز اعلان وکړ چې هغه مهال قرض اخیستونکي شتمن او مالدار هم وو ، بلکې که دلته اسلوبو ته خپل پوره حق ورکړل شي نو دا خبره تر ې ښکاري چې د قرضي راکړې – ورکړې معامله تر ډېره په مالدارانو کې وه البته د دې امکان هم وو چې که کوم قرضدار په تنګلاسي اخته وي او د سردار اصلي پیسې هم نه شي ورکولای نو په اړه یې دا لارښوونه وشوه چې دی دې د هغه د مالي حالت تر برابرېدو وخت ورکړي او که اصلي سرمایه ور وبخښي نو لا ښه ده. د دې معنا اشاره د ایت له الفاظو ښکاري ځکه ویلي یې دي: وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ (که قرضدار تنګلاسی وي نو تر پراختیا موندلو دي وخت ورکړل شي) په عربي ژبه کې (ان) د عامو او عادي حالاتو لپاره نه کارېږي بلکې د ډېرنیو او نادرو حالاتو لپاره وي. په عربي کې د عامو حالاتو لپاره اذا دی که په همدې رنا کې غور وشي نو د ایت له الفاظو په ښکاره معلومېږي چې هغه مهال په عمومي ډول قرض اخیستونکي شتمن وو مګر کله – کله به داسي حالت هم پیدا کېده چې څه به یې نه درلودل، یا به تر قرض اخیستلو وروسته غریب شو نو له هغوی سره یې د دې رعایت لارښوونه کړې ده." (تدبر قرآن ۱ / ۶۳۸)

تر دې وروسته یې د خپل دې بحث نتیجه داسي بیان کړې:

" څرګنده ده چې شتمن کسان د خپل ژوند د بنسټیزو اړتیاوو لپاره سردارانو ته رجوع نه کوي بلکې د خپلو سوداګریزو موخو لپاره پور اخلي، نو د هغوی د پور او اوسنیو هغو قرضونو تر منځ څه توپیر دی چې د تجارتي او کاروباري اهدافو لپاره اخیستل کېږي؟."

(تدبر قرآن ۱ / ۶۲۹)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لیکنه او شاهدي

(۱)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلاَ يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّهُ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّهَ رَبَّهُ وَلاَ يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا فَإِن كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لاَ يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء أَن تَضِلَّ إْحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى وَلاَ يَأْبَ الشُّهَدَاء إِذَا مَا دُعُواْ وَلاَ تَسْأَمُوْاْ أَن تَكْتُبُوْهُ صَغِيرًا أَو كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ اللّهِ وَأَقْومُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلاَّ تَرْتَابُواْ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلاَّ تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوْاْ إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَلاَ يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلاَ شَهِيدٌ وَإِن تَفْعَلُواْ فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّهُ وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ * وَإِن كُنتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُواْ كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللّهَ رَبَّهُ وَلاَ تَكْتُمُواْ الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ* (البقرة ۲ : ۲۸۲، ۲۸۳)

"اې مومنانو! کله چې تاسو ترټاکلې مودې د پور راکړه ورکړه وکړئ نو ویې لیکئ او باید ستاسو ترمنځ یې یو لیکونکی په انصاف ولیکي، څوک چې په لیکنه پوهېږي هغه دي له لیکنې انکار نه کوي بلکي لکه څرنګه چې الله ده ته ورزده کړې نو ورو ته دي هم ولیکي او دا اسناد باید هغه څوک ولیکي چې ده ته حق راجع کېږي، دی دي له خپل رب الله څخه ووېرېږي او هیڅ کمی دي پکې نه کوي نو که د حق راجع کېدونکی کمزوری او ضعیف وي یا لیکل نه شي کولای نو باید ولي یې په انصاف سره ولیکي او تاسو پرې د خپلو نارینه وو دوه کسان شاهدان کړئ او که دوه نارینه نه وي نو ستاسو د خوښې له شاهدانو دي یو نارینه او دوې ښځې شاهدان شي، دوې ښځې د دې لپاره چې که یوه بې لارې شي نو دویمه یې وریاده کړي او شاهدان چې هر وخت وغوښتل شي باید انکار ونه کړي، لویه معامله وي او که کوچنۍ ترخپلې مودې په لیکنه کې یې سستي مه کوئ د الله په نزد دا طریقه ډېره عادلانه ده، شاهدي ښه برابروي او په شبهاتو کې ستاسو د لوېدو امکان کمېږي، هو! که معامله مخامخ او لاس په لاس وي نو نه لیکل یې پروا نه لري او د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سودا پر مهال هم شاهدان ونیسئ او (خبر اوسئ چې) لیکونکي یا شاهدي ورکوونکي ته دي هیڅ زیان نه رسېږي او که تاسو داسي وکړل نو دا هغه ګناه ده چې له تاسو سره به پیوسته شي، له الله وېرېږئ او (په دې پوه شئ چې) الله تاسو ته تعلیم درکوي او الله په هر څه خبر دی، که تاسو په سفر کي واست او لیکونکي ونه موندل شو نو د قرض معامله د ګرو قبضولو په صورت کي هم کېدای شي. که پریوه بل د باور حالت پیدا شي نو له چا سره چې (د ګرو شوي شي) امانت ایښودل شوی نو امانت دي ور وسپاري او له خپل رب الله څخه وېرېږئ (او پر دې معامله شاهدان ونیسئ) او شاهدي (چې په هر صورت کي هم وي) هیڅکله يې مه پټوئ (او یاد ولرئ) چې څوک يې پټه کړي د هغه زړه ګناهګار دی او (یاد ولرئ چې) تاسو څه کوئ الله پرې پوهېږي."

په دې ایت کي يې له شخړو څخه د خوندیتوب لپاره مسلمانانو ته په راکړه -ورکړه، قرض او دا ډول نورو مالي معاملاتو کي د لیکنې او شاهدي امر کړی. د دې احکامو کوم لنډیز چې استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل تفسیر تدبر قرآن کي بیان کړی په مطلب د بنه پوهېدو لپاره يې دلته د همده په الفاظو نقلوو. استاذ امام لیکي:

"۱) کله چې د پوریوه راکړه -ورکړه تر ټاکلي وخته وي نو اسناد دي يې ولیکل شي.

۲) اسناد دي د دواړو غاړو په شتون کي یو لیکونکی په انصاف ولیکي. په دې کي دي هیڅ فساد نه کوي او څوک چې په لیکنه پوهېږي هغه باید له دې خدمت څخه انکار ونه کړي، د لیکنې استعداد یو الهي نعمت دی، د هغه شکر دادی چې انسان د اړتیا پر مهال خلګو ته په کار ورشي. دې لارښوونې ته ځکه اړتیا شوه چې هغه مهال په لیک - لوست پوهېدونکي کسان لږ وو، نه د اسنادو لیکنې و ثبت رسمي شکل را منځ ته شوی وو او نه دا کار دومره اسان وو.

۳) د اسنادو لیکنې مسئولیت به پر قرض اخیستونکي وي، دی به په اسنادو کي اقرار کوي چې زه فلانی د فلاني زوی دومره قرضدار یم او د لیکونکی په څېر دی هم مسئول دی چې په اقرار کي تقوا ته په پام وکړي او هیڅکله د حقدار د حق کمولو هڅه ونه کړي.

۴) که هغه سړی ناپوه، کمزوری او یا د لیکلو وړتیا نه لري نو ولي یا وکیل دي يې د ده پر ځای په انصاف او صداقت سره اسناد ولیکي.

۵) پر دې به د نارینه وو شاهدي ثبت وي چې په اړه يې ویل شوي: من رجالکم یعني له خپلو کسانو څخه به وي او له دې څخه پریوه وخت دوې خبرې نېکاري یوه دا چې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلمان وي، دویمه دا چې د ناستې -پاستې او تعلق له خلګو څخه وي، دواړې غاړې یې پېژني. دویم هدایت دادی چې (ممن ترضون) یعنې د اخلاقو و عمل له مخې باوري، معتبر او ایماندار وي.

۶) که د یادو صفاتو دوه نارینه ونه موندل شي نو یو نارینه او دوې ښځې غوره کېدای شي، د دوو ښځو شرط د دې لپاره ایښودل شوی چې که یوه تېروتنه وکړي نو د دویمې یادونه و تنبیه به یې مخه ونیسي. دا د ښځې د سپکاوي اړخ نه دی، بلکې د هغې ذهني خصوصیاتو، حالت او بوختیاوو ته په پام دا د دې لپاره یو لوی مسئولیت دی ځکه یې نو شریعت په ترسره کولو کې د دې لپاره د ملګرتیا انتظام هم کړی.

۷) کوم کسان چې د اسنادو شاهدان وي د غوښتنې پر وخت باید له شاهدي ونه تښتي، ځکه د حق شاهدي یو لوی ټولنیز خدمت هم دی او د شهداء الله کېدو له کبله د دې امت د مسئولیت یوه برخه هم.

۸) د قرضي راکړې -ورکړې معامله لویه وي او که کوچنۍ خو لاس په لاس نه وي بلکې د یو څه مودې لپاره وي نو باید لیکنه یې سخته ونه بلل شي څوک چې یې د تکلیف له کبله ځنډوي هغوی ډېر وخت د لټې له امله په داسې شخړو اخته کېږي چې نتیجې یې ډېرې سختې وي.

۹) د الله په نزد پورتنۍ لارښوونې حق و عدالت ته نژدې، د شاهدۍ سموونکې او له شخړو څخه ژغورونکې دي ځکه یې نو د ټولنیزو سمونو لپاره ترسره کول ضروري دي.

۱۰) د لاس په لاس معاملاتو لپاره د لیکنې پابندي نه شته.

۱۱) خو که یو مهم شی خرڅ شوی او رانیول شوی وي نو باید شاهدان ونیول شي څو د شخړو پر مهال حل اسانه وي.

۱۲) د جنجال پر مهال باید هیڅ لوری لیکونکي او شاهد ته د زیان رسولو هڅه ونه کړي، لیکونکی او شاهد یو مهم، ټولنیز او تمدني خدمت ترسره کوي ځکه به نوله څه علت پرته د زیان رسولو نتیجه دا وي چې محتاط او باوري کسان به د لیکنې و نورو له مسئولیت څخه تښتي او خلګ به له حرفوي شاهدانو پرته د باوري شاهد په موندلو کې له ستونزو سره مخ شي. دا مهال چې باوري او هوښیار کسان د شاهدۍ او نورو له مسئولیت څخه تښتي وجه یې همدا ده چې کله یوه معامله په شخړه واوړي نو شاهدان یې تاوانې کېږي. هغوی بې چاره ګان د سپکاوي، تښتونې، مالي زیان بلکې تر قتله د ظلمونو ښنه ګرزي، قرآن دا ډول شرارتونه منعه کړل او ویې ویل چې څوک دا ډول حرکت وکړي نو باید وپوهېږي چې دا کومه کوچنۍ نافرماني نه ده څو په اسانۍ سره معاف شي بلکې یو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

داسي فسق دی چي ورسره پیوست به شي او له بدو نتیجو څخه به یې ځان خلاصول ستونزمن وي." (تدبر قرآن ۱/ ۶۴۰)

د دې ایت په پای کي الله د ګروی حکم بیان کړی چي که یو څوک په سفر کي وي او لیکونکی پیدا نه کړي نو د قرض معامله د ګرو اخیستو په صورت هم کېدای شي البته له دې سره یې دا خبره روښانه کړې چي د ګروي اجازه صرف تر هغه مهاله ده چي د قرض ورکوونکي لپاره د اطمنان حالت نه وي پیدا شوی، د الله امر دی چي کله دا حالت پیدا شي نو باید پر قرض د شاهدانو په نیولو دي ګرو شوی شی حتما ورو سپاري. استاذ امام د دې حکم په وضاحت کي لیکي:

" ... کله چي پریوه بل د باور لپاره اړوند شیان پیدا شي مثلا د سفر په ختمېدو کورته راشي د اسنادو د لیکنې لپاره کاتب او شاهدان ومومندل شي، دخپلوانو په شتون کي د قرض معامله تصدیق شي او د دې لپاره هیڅ معقوله وجه پاتي نه وي چي قرض ورکوونکی له ګرو پرته هیڅ باور ونه کړای شي نو هغه ته په کار ده چي ګرو شوی شی ور وسپاري او د خپل اطمنان لپاره دي هغه لاره خپله کړي چي پورته یې بیان شوی دی. دلته د ګروي له مال څخه په امانت تعبیر شوی دی او له دې څخه ښکاري چي ګرو له قرض ورکوونکي سره امانت دی چي ساتنه یې ضروري ده او له هغه هیڅ ډول ګټه اخیستل جواز نه لري." (تدبر قرآن ۱/ ۶۴۳)

د دوو نارینه وو په نه شتون کي چي دې ایاتونو د یوه نارینه او دوو ښځو کومه قاعده بیان کړې که څه هم ځای یې مشخص نه دی خو زمونږ فقهاوو چي ترې څه ډول فهم اخیستی دی له همدې کبله اړینه ده چي په اړه یې دا دوې خبرې هم روښانه شي.

اوله دا چي دا قاعده د پېښو له شاهدي سره هیڅ تعلق نه لري دا یوازي د اسنادو له شهادت سره تړلې ده، هر څوک پوهېږي چي د اسنادو لپاره شاهدان مونږ غوره کوو او د پېښو په شاهدي کي هلته د شاهد شتون یوه تصادفي معامله وي، که مونږ اسناد لیکو یا په یوه معامله کي اقرار کوو نو زمونږ اختیار دی چي څوک مو خوښ وي هغه شاهد وګرزوو مګر د زنا، غلا، قتل، لوټماري او دا ډول نورو جرمونو پر مهال چي هر څوک موجود وي هغه شاهد کېدای شي. د شاهدی د دې دوو صورتونو تر منځ توپیر دومره څرګند دی چي یو د بل لپاره د قیاس بنسټ نه شي کېدای.

دویمه دا چي د ایت په مقام و محل او اسلوبو په بیان کي د دې خبرې هیڅ امکان نه شته چي له قانون او محکمې سره اړوند وبلل شي. په دې کي محکمې ته په تګ کولو دا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبره نه ده شوې چې که دا ډول کومه دعوه وړاندې شي نو له دعوه کوونکي څخه دومره شمېر شاهدان وغواړئ، مخاطبین یې په قرض د راکړې -ورکړې معامله کوونکي دي او په دې ایت کې هغوی ته لارښوونه شوې چې که تر تاکلې مودې دا ډول معامله کوي نو اسناد دې یې ولیکي او له شخړو و زیان څخه د ساتنې لپاره دې هغه شاهدان غوره کړي چې د غوره اخلاقو څښتنان، باوري، معتبر او ایماندار هم وي او د خپلو حالاتو او مصروفیتونو له مخې دا مسئولیت په ښه طریقه بشپړولای هم شي. همدا وجه ده چې په دې کې اصلا د دوو نارینه وود شهادت او که دوه نارینه نه وي نو له نارینه څخه د دوو ښځو شاهدانو تاکلو لارښوونه شوې چې که په کور کې ناسته دا مېرمن د محکمې په چاپېریال کې په وېره اخته شي نو له ابهام او ډاډ څخه د شاهدۍ ژغورلو لپاره یې یوه بله مېرمن ملګرتیا وکړي. ښکاره ده چې د دې ایت معنا نه دا ده او نه کېدای شي چې په محکمه کې دعوه هغه وخت ثابتېږي چې کله لږ تر لږه دوه نارینه یا یو نارینه او دوې ښځې د هغې په اړه شاهدي ورکړي. دا یوه ټولنیزه لارښوونه ده چې که یې خلګ پلې کړي نو له شخړو به خوندي شي، دوی یې باید د خپلې ښېګڼې او بریا لپاره عملي کړي مګر دا د دعوو د پرېکړې لپاره د شاهدۍ کوم نصاب نه دی چې محکمه یې په رعایت مکلفه ده. د دا ډول ټولو هدایاتو په اړه یې ویلي چې دا طریقه د الله په نزد ډېره پر انصاف ولاړه ده، شاهدي سمه ساتي او په دې سره په شبهاتو کې د لوېدو امکان کمېږي.

(۲)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الأَرْضِ فَأَصَابَتْكُم مُّصِيبَةُ الْمَوْتِ تَحْبِسُونَهُمَا مِن بَعْدِ الصَّلاَةِ فَيُقْسِمَانِ بِاللّهِ إِنِ ارْتَبْتُمْ لاَ نَشْتَرِي بِهِ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَلاَ نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّهِ إِنَّا إِذًا لَّمِنَ الآثِمِينَ * فَإِنْ عُثِرَ عَلَى أَنَّهُمَا اسْتَحَقَّا إِثْمًا فَآخَرَانِ يَقُومَانُ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِينَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الأَوْلَيَانِ فَيُقْسِمَانِ بِاللّهِ لَشَهَادَتُنَا أَحَقُّ مِن شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَا إِنَّا إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ * ذَلِكَ أَدْنَى أَن يَأْتُواْ بِالشَّهَادَةِ عَلَى وَجْهِهَا أَوْ يَخَافُواْ أَن تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ وَاتَّقُوا اللّهَ وَاسْمَعُواْ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ* (المائدة ۲ : ۱۰۶-۱۰۸)

" اې مومنانو! که په تاسو کې څوک مري او وصیت کوي نو د دې لپاره به شاهدي داسې وي چې ستاسو دوه باوري کسان شاهدان شي او که تاسو په سفر کې واست او د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مرګ مصیبت درباندې راغی نو ستاسو نور دې دا مسئولیت ترسره کړي تاسو به یې تر لمانځه وروسته را وګرزوئ، که مو شک وو هغوی به په الله قسم وکړي چې موږ به د دې شاهدي په بدل کې نه کوم قیمت ومنو که څه هم خپلوان وي او نه به د الله دا شاهدي پټه کړو، که مو داسي وکړل نو بې شکه ګناهګار یو، که بیا معلومه شي چې دوی کوم حق تر پښو لاندې کړی نو د دوی پر ځای دي دوه نور کسان د هغو خلکو پر ځای ودرېږي چې دې مخکینیو شاهدانو یې حق خوړلی بیا دي په الله قسم وکړي چې زمونږ شاهدي تر دې دوو شاهدانو ډېره پر حق ده او په خپله شاهدي کې مو هیڅ تېری نه دی کړی. که مو داسي کړي وي نو بې شکه ظالمان یو، په دې طریقه سره ډېره هیله شته چې هغوی به سمه شاهدي ورکړي یا به لږ تر لږه له دې وویرېږي چې د دوی شاهدي به د نورو تر شاهدي وروسته رد شي (داسي وکړئ) له الله ووېرېږئ، واورئ او (په یاد ولرئ چې) الله فاسقانو ته هیڅکله لار نه ورښيي."

په دې ایاتونو کې د وصیت په اړه په هماغومره تاکید سره لارښوونه شوې چې پورته د معاملې او قرض په اړه شوې وه، لنډیز یې دادی:

۱) که څوک مري او د خپل مال په اړه وصیت کوي نو باید له خپلو مسلمانو وروڼو دوه باوري کسان شاهدان کړي.

۲) که څوک په سفر کې د مرګ له دې مرحلې سره مخ شي او هلته د شاهدي لپاره مسلمانان نه وي نو د مجبوریت پر مهال نا مسلمان هم شاهدان کولای شي.

۳) په مسلمانانو کې چې کوم دوه کسان د شاهدي لپاره غوره شي که دهغوی په اړه اندېښنه وي چې دیو چا په پلوی به خپله شاهدي تغیر کړي نو د مخنیوي په غرض یې دا تدبیر خپلېدای شي چې تر یو لمانځه وروسته په کې مسجد را وګرزول شي او د الله په نوم تر قسم واخیستل شي چې دوی به د خپلې دنیوي ګټې او خپل قریب یا عزیز په ملاتړ په خپله شاهدي کې هیڅ بدلون نه راولي او که یې راولي نو ګناهګار به وي.

۴) باید شاهدانو ته معلومه وي چې دا شهادة الله یعني د الله شاهدي ده، که یې پکې لږ خیانت هم وکړ نو نه یوازې د بندګانو بلکې د الله خاین به هم وبلل شي.

۵) که له دې سره - سره معلومه شي چې شاهدانو د وصیت کوونکي د وصیت پر خلاف دیو چا پلوي کړې یا یې کوم حق خوړلی نو د چا حق چې خوړل شوی له هغو څخه دي دوه کسان پورته شي قسم دي وکړي چې موږ د شاهدي تر دې استحقاق درلود ونکو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ډېر ربنتني یو. په دې معامله کې مو له حق څخه هیڅ تجاوز نه دی کړی او په پوره مسئولیت سره وایو چې که مو داسې وکړل نو د الله په نزد به ظالمان یو.

۶) له شاهدانو سره د دې زاید حساب ګټه داده چې له دې وړې به ممکن سمه شاهدي ورکړي، ځکه له دوی سره به وړه وي چې که یې کوم فساد وکړ نو قسمونه به یې د نورو په قسمونو باطل وبلل شي او د شهادت له استحقاق سره -سره به یې شاهدي رد شي.

د میراث وېش

(۱)

كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ* فَمَن بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ إِنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ* فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ* (البقرة ۲: ۱۸۰-۱۸۲)

"که په تاسو کې څوک مري او مال ترې پاتې وي نو د وراندي لازمه ده چې د مور او پلار او خپلوانو لپاره قانوني وصیت وکړئ، دا پر متقیانو حق دی. نو څوک چې وصیت تر اوربدو وروسته بدل کړي نو ګناه یې پر بدلوونکو وده، بې شکه الله سمیع او علیم دی، البته څوک چې د وصیت کوونکي له خوا د پلویتوب یا حق خوړلو اندېښنه ولري او د دوی ترمنځ روغه وکړي نو په دې کې ګناه نه شته بې شکه الله غفور او رحیم دی."

په دې ایاتونو کې د مور و پلار او خپلوانو لپاره د قانوني وصیت حکم شوی دی چې دا د عربو دود وو، د دې ځای وروسته هغه قانون ونیو چې د سورت النساء په ایاتونو کې بیان شوی دی. الله د مور و پلار او خپلوانو برخې د نساء په دې ایاتونو کې په خپله تاکلې او هغه یې خپل وصیت بللی دی. وجه دا ښودل شوې چې انسان نه پوهېږي په دې خپلوانو کې یې د ګټې له مخې نژدې کس څوک دی؟. دا حصې ېښې معلومې دي او پکې د زیادت او کمبوت هیڅ امکان نه شته. الله ویلي:

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا (النساء ۴

"(ستاسو) مور و پلار او خپلوان چې څه پرېږدي په هغو کې د نارینه وو هم یوه برخه ده او (ستاسو) مور و پلار او خپلوان چې څه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۷: پرېږدي ښځې پکې هم يوه برخه لري، دا ميراث لږ وي او که ډېر د يوې ټاکلې حصې په توګه."

نو دا خبره بېخي څرګنده شوه چې نور هر مسلمان له دې قانون سره سم په وصيت مکلف دی او د رواجي وصيت حکم له منځه ولاړ، مګر کله چې دا حکم ورکړل شو نو هدف يې څه وو؟. استاذ امام امين احسن اصلاحي د دې پوښتنې په ځواب کې ليکي:

"په دې ايت کې چې د مور و پلار او خپلوانو لپاره د کوم وصيت امر وشو هغه د رواج له مخې د هغه لنډ مهاله دور لپاره وو چې لا هم اسلامي ټولنه پيا وړې شوې نه وه څو د ميراث وېشلو هغه وروستی امر ورکړل شوی وای چې په سورت النور کې نازل شو. د دې حکم د نزول لپاره د حالاتو تر برابرېدو وړاندې دا عارضي حکم نازل شو او هدف يې دوې ګټې وې يو خو په سملاسي ډول تر يوه بريده د هغو حصه درلودونکو د حق ساتنه وه چې د تعصبونو له کبله يې حقوق تر پښو لاندې کېدل او بل له سره د هغه دود را ژوندي کول وو چې له لرغونې زمانې د عربو په غوره کسانو کې معتبر وو، خو اوس ورو -ورو د جاهليت تر ګرځ او غبار لاندې پر له منځه تلو وو چې همدا رواج هغه قانون ته ذهنونه چمتو کړای شي چې په دې اړه نازلېدونکی وو." (تدبر قرآن ۱/ ۴۳۹)

(۲)

۱) يُوصِيكُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ فَإِن كُنَّ نِسَاء فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ (النساء ۴: ۱۱)

"الله ستاسو د اولاد په اړه درته هدايت کوي چې د نارينه برخه له دوو ښځو سره برابره ده، نو که په اولاد کې تر دوو زياتې نجونې وي نو د ميراث دوه ثلثه دي ورکړل شي او که يوه نجلۍ وي نو نيمايي د دې دی."

په سورت النساء کې د ميراث وېشلو همدا هدايت دی چې د پورتنۍ ايت حکم يې بدل کړی، په دې کې تر ټولو وړاندې د اولاد حصې بيان شوې دي. د يُوصِيكُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ جمله د لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ لپاره د مقدمې په توګه راغلې ده، څرګنده ده چې د اولاد لفظ ښځې او نارينه دواړو ته عام دی نو د کلام ترکيب داسې کېږي: للذكر منهم مثل حظ الانثيين يعني الله تاسو ته د اولاد په اړه لارښوونه کوي چې په دوی کې به د نارينه حصه له دوو ښځو سره برابره وي، که دا حکم پر لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ ختم شوی وای نو معنا يې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا وه:

۱) که د مړي په اولاد کي یو نارینه او یوه ښځه وي نو نارینه ته به د ښځې دوه چنده ورکول کېږي.

۲) که نارینه او ښځې تر دې زیاتې وي نو د مړي میراث به داسي وېشل کېږي چې د هر نارینه برخه به له دوو ښځو سره برابره وي.

۳) که اولاد نه صرف نارینه یا ښځې وي نو ټول میراث به هغه ته ورکول کېږي چې موجود وي.

څرګنده ده چې دا درېیمه خبره هم د دې اسلوب لازمي تقاضا ده، که مور په خپله ژبه کي داسي وایو: دا پیسې د مسکینانو لپاره دي او په دې کي به د نارینه مسکین برخه د دوو مسکینو ښځو په اندازه وي نو معنا یې داده چې پیسې په حقیقت کي د فقیرانو لپاره ورکړل شوې دي. له همدې کبله که فقیر نارینه وي نو ټولې پیسې به پر دوی تقسیمېږي او که ښځې وي نو هم به داسي کېږي مګر حکم دلته پای ته نه دی رسېدلی بلکي قرآن له دې سره د یوې متصلې استثنا په وسیله وضاحت کړی چې هدف یې دا نه دی.

فَإِن كُنَّ نِسَاء فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ له لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ څخه استثنا ده، یعني که د مړي په اولاد ونو کي صرف دوې یا ډېرې ښځې وي نو په هر حالت کي به یې برخه دوه ثلثه وي.

وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ دا پر هماغه عطف دی، یعني که صرف یوه ښځه وي نو د نیمایي حق لري. پورته مو د فوق اثنین مفهوم په دوو یا تر دوو زاید بیان کړی دی وجه یې داده چې زمونږ په نزد د عربیت له مخې وړاندي د اثنتین لفظ محذوف دی، که مونږ د قرآن په ژبه د یوې ښځې او د دوو یا تر دوو د زیاتو ښځو حصه د دووی په حصو کي د تویېر له مخې جلا - جلا بیانول غواړو نو د دې دوې طریقې دي چې که هدف له صعودي ترتیب سره بیان وي نو لومړی به د یوې او وروسته د دوو ښځو برخه بیانېږي، که تر دوو د زیاتو برخه هماغه د دوو دا وي نو په لفظونو یې بیان ته اړتیا نه شته، کله چې تر یوې سمدستي وروسته د دوو حصه داسي بیان شي چې د یوې تر حصې زیاته وي نو څرګنده معنا یې داده چې تر دوو د زیاتو حکم هم هغه د دوو دادی. که یې مونږ له نزولي ترتیب سره بیانوو نو څرنګه چې د دې لپاره د فوق اثنتین او اثنتین الفاظ د عربیت له مخې مناسب نه دي ځکه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

به نو له دوو څخه د زیاتو د حصې تر بیانولو وروسته د یوې حصه بیانېږي. په دې اسلوبو کې به له فوق اثنتین څخه د کلام پیل په خپله دلیل وي چې تر دې وړاندې د اثنتین لفظ محذوف دی، که غور وشي نو قرینه یې ښکاره ده. د دې ترتیب ښکلا غوښتنه کوي چې تر فوق اثنتین وړاندې د اثنتین لفظ ونه کارول شي او د ژبې د صحت تقاضا داده چې کله له فوق اثنتین څخه خبره پیل شي نو وروسته د اثنتین ذکر نه وي، دلته په قرآن کې دا برخې له نزولي ترتیب سره بیان شوې ځکه نو د حذف اسلوب په پام کې نیول شوي دي. د سورت النساء په اخیري ایت کې همدا برخې له صعودي ترتیب سره بیان شوې دي، که وګورئ هلته تر اثنتین وروسته د فوق اثنتین لفظ حذف شوی دی: إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ فَإِن كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ [٣٦]

٢) وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ (النساء ۴ : ۱۱)

" او که د مړې اولاد وي نو په مور و پلار کې د هر یوه لپاره یې شپږمه برخه ده او که یې اولاد نه وي مور و پلار یې وارثان وي نو د مور برخه یوه درېیمه ده او که مړې خوندې او ورونه ولري نو د مور لپاره هماغه شپږمه برخه ده، کله چې د مړي شوی وصیت پوره او پرده باندې قرض ادا شي."

په دې کې تر مور و پلار وروسته د اولاد برخې بیان شوې دي، د وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ جمله پر فَإِن كُنَّ نِسَاء او وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً باندې نه بلکې هغه ټول حکم عطف ده چې پورته د اولاد په اړه بیان شوی، نو دلته به عطف د جمع لپاره نه بلکې د استدراک لپاره بلل کېږي ځکه په لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ کې خو دا خبره بیان شوه چې د نارینه برخه به له دوو ښځو سره برابره وي مګر دا چې څومره به وي تشخیص یې نه وو شوی، دا هماغه ډول اسلوب دي لکه مور چې په خپله ژبه کې وایو: دا روپۍ د ماشومانو لپاره دي، هلکانو ته تر نجونو دوه چنده ورکړئ او په دې کې نیمې روپۍ ستاسو د پلار

[٣٦] النساء ۴ : ۱۷۶)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره دي. دې جملو ته پام وکړئ د ویونکي مطلب ښکاره دی، هر څوک چې له ژبې سره اشنا وي همدا مطلب به ترې واخلي چې روپۍ په حقیقت کې د ماشومانو لپاره ورکړل شوې دي له همدې کبله که خبره پر لومړنیو دوو جملو ختمه شوې وای نو ټولې روپۍ پر نجونو او هلکانو په هماغه تناسب وېشل کېدې چې په دې جملو کې بیان شوی دی مګر څرنګه چې ویونکي تر دې وروسته پلار ته د نیمو روپو د ورکولو خبره کړې له همدې کبله اړینه ده چې اول د پلار برخه ورکړل شي او چې څه پاتې شي وروسته یې پر ماشومانو ووېشي. پورته مو د اولادونو د حصو په بیانولو ویلي چې فَإِن كُنَّ نِسَاءً لَّهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ ۚ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ ۚ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۚ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ ۚ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَإِن كَانُوا أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ ۚ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ ۖ فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا ۖ فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُولَٰئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا ۚ أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ۚ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۖ كِتَابَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ ۚ فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُم ۚ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ۚ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ ۚ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنكُمْ ۚ وَأَن تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ وَاللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَن تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا إِن تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ۚ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ ۚ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا وَالَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ ۗ وَمَن يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللَّهُ ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةً يُضَاعِفْهَا وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ الْأَرْضُ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنتُمْ سُكَارَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُوا ۚ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُونَ الضَّلَالَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا السَّبِيلَ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰ أَدْبَارِهَا أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَٰؤُلَاءِ أَهْدَىٰ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۖ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ بِهِ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ۖ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ذَٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ عَلِيمًا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ ۖ فَإِنْ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُم بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ يَا لَيْتَنِي كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ ۖ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَا أَخَّرْتَنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِ اللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ۖ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ۖ وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۗ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوا ۗ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۗ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا سَتَجِدُونَ آخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَأُولَٰئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً ۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَ

تر دې وروسته د ایت پاتې برخې ته پام وکړئ:

په إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ او په فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ کې د ولد لفظ نارینه او ښځې دواړو ته عام دی او په عربي ژبه کې یې دا معنا مشهوره ده. دا لفظ دلته او د مېړه ومایني په برخه کې هم استعمال شوی دی، زمونږ په نزد یې هر ځای معنا همدا ده، لغت پوهان په ښکاره وایي چې هو یقع علی الواحد و الجمع و الذکر و الانثی په دې ایاتونو کې یې د نارینه اولادونو لپاره د خاصولو هیڅ دلیل نه شته، نجلی و هلک یو وي او که دوه په اولاد کې یوازي نجونې وي او که صرف هلکان، په نفې او اثبات کې به په هر حال د دې شرط اطلاق کېږي.

تر فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ وروسته د عربیت له قانون سره و لابیه الثلثان یا دې ته ورته الفاظ محذوف دي، د دې حذف قرینه داده چې قرآن د دې تقسیم لپاره وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ شرط ایښی دی ځکه نو مذکور په خپله پر محذوف دلیل دی. کله چې موږ وایو که د دې پیسو وارثان صرف زید او علي وي نو د زید برخه به یوه –درېیمه وي، نو تر دې وروسته دې وینا ته اړتیا نه شته چې پاتې دوې –درېیمې د علي دي.

تر فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ وروسته هم زمونږ په اند د ولایه یا دې ته ورته الفاظ حذف شوي دي، د دې قرینه هم بېخي ښکاره ده. که ورونه او خوندې موجود وي نو د مور برخه هماغه ده چې پورته د اولاد په شتون کې بیان شوې ده یا ذکر شوي الفاظ په خپله د دې دلیل دی چې باید د پلار برخه هم هغه وي په الفاظو یې بیانولو ته اړتیا نه وه. که لوستونکی د قرآني ژبې ذوق ولري نو له څه تکلف پرته به په وشي چې د مور برخه اصل ته رد شوې نو د پلار برخه به په خپله ردېږي.

د دې کلام جوړښت داسي دی:

" که اولاد وي نو په مور و پلار کې د هریوه برخه شپږ پر یو ده ۱/۶ او که اولاد نه وي صرف مور و پلار یې وارثان وي نو د مور لپاره درې پر یو ده ۱/۳ خو که خوندې او ورونه وي نو د مور لپاره هماغه ۱/۶ ده."

پام وکړئ چې کلام په خپله ناري وهي نو د پلار لپاره هم هغه ۱/۶ ده.

له دې حکم څخه په ډاګه شوه چې الله د اولاد په نه شتون کې خوندې او ورونه د هغوی پر ځای تاکلي دي، زمونږ دا نظر د همدې سورت و روستی ایت هم بیانوي خو وضاحت به یې وړاندې پر خپل خای وکړو. زمونږ په اند په دې ایت کې د اخوة لفظ صرف پر وجود

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دلالت کوي، له دې څخه هدف دا ښودل دي چې د وروڼو او خوندو په شتون کې عام تر دې چې یو وي، که دوه یا تر دوو زیات، د مور و پلار حصه هم اصل ته ګرزي، په دا ډول اسلوبو کې جمع د عدد بیانولو لپاره نه صرف د وجود بیانولو لپاره راځي، د یو حماسي شعر دی:

ایاک و الامر الذی توسعت موارده ضاقت علیک المصادر

له هغې معاملې ځان وساته چې د ننوتو لارې یې پراخې او د وتو لارې یې تنګې وي، شاعر دلته د مواردو او مصادر الفاظ جمع راوړي دي. هغه څوک به ډېر ظالم وي چې دوایي په دې شعر کې له یوې داسې معاملې د ځان ساتنې خبره شوې چې موارد او مصادر یې په هر حال کې درې یا تر درو زیات وي. له دې شعر څخه بې شکه په معامله کې د مورد او مصدر وجود ثابتېږي مګر څرګنده ده چې د شاعر هدف د هغو تعداد نه دی. په یوه معامله کې دلاس وهلو او له هغې د ببلېدو طریقه یوه هم کېدای شي او تر لس زیاتې هم، همدارنګه مړی ترشا د یوه وروڼو او خورې په پرېښودو هم رخصتېدای شي او د لسو خوندو وروڼو په درلودو هم، د اخـــوة لفظ دې ټولو ته شاملېږي. د دې مفهوم لپاره د جمع دا اسلوب په هره ژبه کې عام دي، کله چې موږ دوایو که له تا سره ماشومان وي نو دا شریني ورکړه هیڅوک له دې څخه دا معنا نه اخلي چې که مخاطب یو ماشوم ولري نو څرنګه چې متکلم د ماشومانو جمع لفظ کارولی له همدې کبله هغه یو په هیڅ حال کې د شیرینۍ وېشلو حقدار نه شي کېدای. له دې جملې څخه هغه څوک دا معنا اخیستلای شي چې ژبه د اسلوبو بیانولو پرځای د منطق او ریاضي د اصولو له مخې فهموي.

د حکم په اخیر کې د مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ د هدایت مطلب دادی چې که پر مړي پور باندي وي نو تر ټولو وړاندي به یې له میراث څخه هغه ایستل کېږي، بیا چې یې کوم وصیت کړی وي هغه به پوره کېږي او وروسته به میراث وېشل کېږي. دلته که څه هم پور د لفظ له مخې وروسته دی خو حکما وړاندي بلل کېږي ځکه د پورورې حق د مړي په ژوند کې وجود لري او د چا لپاره چې وصیت شوی د هغه حق د وصیت کوونکي تر مرګ وړاندي وجود نه لري او په ایت کې وصیت صرف د بیاني ښکلا لپاره مخته شوی دی.

٣) آبَآؤُكُمْ وَأَبناؤُكُمْ لاَ تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعاً فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيما حَكِيمًا (سورت النساء ۴ : ۱۱)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" تاسو نه پوهېږئ چې ستاسو په مور و پلار او اولاد کې کوم یو د ګټې له مخې در نژدې دی؟، دا د الله ټاکلې فریضه ده بې شکه الله علیم او حکیم دی."

د کلام په منځ کې چې دا ایت د کوم هدف لپاره راغلی هغه دا دی چې خلګو ته وښودل شي د دوی لپاره ممکنه نه وه چې د میراث وېشلو په معامله کې یې پر انصاف ولاړه پرېکړه کړې وای، په اولادونو او مور و پلار کې کوم یو د ګټې له مخې ور نژدې دی دوی پرې نه پوهېږي، د دې لپاره د عقل او علم له مخې بنسټ نه شي منل کېدای ځکه یې نو دا پرېکړه خپل رب کولای شوای. ده چې کوم خپلوان د مړي وارثان بللي د دوی په هکله هماغه قانون انصاف دی چې ده په خپله بیان کړی دی، د الله له خوا تر دې نازل کړي قانون وروسته هیڅ مړی د خپلوي پر بنسټ د الله په ټاکلو وارثانو کې یو چا ته د وصیت اختیار نه لري. دا تقسیم د الله پر علم او حکمت بنا دی، د ده په هر حکم کې ژوره فلسفه ده او علم یې پر هر څه احاطه کړې ده. انسان له هر ډول هڅو سره -سره نه د ده د علم پراختیا ته رسېدای شي او نه یې په ټولو حکمتونو پوهېدای شي. که هغه مومن بنده وي نو د ده لپاره مناسبه داده چې حکم یې واوري او د ده په مخ کې سر ټیټ کړي.

مګر د دې معنا دا نه ده چې که د وارثانو یوه اړتیا، د هغوی یو خدمت او یا داسې بل شی تقاضا وکړي نو هم یې په حق کې وصیت نه شي کېدای. په ایت کې چې د کوم یې ګټې د زیادت یا کمبوت علم تر الله ځانګړی شوی هغه د خپلوی ګټه ده، دا له هغو اړتیاوو او ګټو سره هیڅ تعلق نه لري چې مور ته معلومې او څرګندې دي ځکه نو وصیت کېدای شي مګر د الهي وصیت په مقابل کې نور هیڅ مسلمان د خپلوی پر بنسټ د خپل وصیت د وړاندې کولو جرأت نه شي کولای. په دې ایاتونو کې چې بیا -بیا د مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ کوم الفاظ راځي له دې څخه هم مراد داسې یو وصیت دی چې له وارثانو پرته نورو ته او یا د وارثانو د یوې اړتیا یا د دوی د خدمت په بدل کې په خپله همدوی ته وشي.

د ایت اصل هدف همدا دی، مګر که فکر وشي نو په ډېره نازکه طریقه دا خبره هم ترې ښکاري چې د میراث حق پر کوم بنسټ را منځ ته کېږي هغه ګټور قرابت دی او په حصو کې د توپیر وجه هم د هغو د تر لاسه کوونکو له لوري د مړي لپاره د دوی د ګټې زیادت یا کمبوت دی. هر سړی پوهېږي چې تر واده وروسته د ښځو ګټه تر ډېره د دوی مېړونو ته رسېږي، په دې ډول مېرمن د خپل مېړه ملګرتیا کوي مګر مېړه له ملګرتیا سره د دوی د لګښتونو مسئول هم وي ځکه نو د نارینه وو برخه تر ښځو او د مېړه برخه تر مېرمنې دوه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چنده زیاته تاکل شوي. د مور و پلار، اولاد، وروڼو، خوندو، میړه، مایني او نورو خپلوانو په اړیکه کي دا ګڼه طبعا موجوده ده او په عامو حالاتو کي پر همدې بنسټ له څه شرط پرته وارثان بلل کیږي، مګر که په دوی کي یو د خپل وارث لپاره د ګټې پر ځای سراسر تاوان وګرزي نو د الله له لوري د علت دا حکم تقاضا کوي چې له میراث څخه بې برخې شي. رسول الله ﷺ له همدې کبله د عربي ټاپو وزمې د مشرکینو او یهودو و نصاراوو په اړه ویلي:

لا یرث المسلم الکافر و لا الکافر المسلم. (بخاري، شمېره: ۶۷۶۴)

"نه به مسلمان په دوی کي د کوم کافر وارث وي او نه دا کافر د کوم مسلمان."

یعني د دلیل تر وضاحت وروسته چې کله دا کافران د الله او مسلمانانو ښکاره دښمنان وګرزېدل نو د لازمي نتیجې په توګه یې د دوی او مسلمانانو تر منځ د قرابت ګڼه هم د تل لپاره ختمه شوه ځکه نو په خپل منځ کي د یوه بل وارث نه شي کېدای.

له دې ایت څخه ضمنا دا لاربښوونه هم معلومه شوه چې که د میراث یوه برخه پاتي شي او مړي یې څوک وارث نه وي ګرزولی نو باید هغه چا ته ورکړل شي چې ګڼه یې ډېره وي. د بخاري په یوه روایت کي رسول الله ﷺ همدا خبره کړې ده.

الحقوا الفرائض باهلها فما ترکت الفرائض فلاولی رجل ذکر. (بخاري، شمېره: ۶۷۴۶)

"وارثانو ته خپله برخه ورکړئ، که څه پاتي شي نو د تر ټولو قریب نارینه لپاره دي."

۴) وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ (النساء ۴: ۱۲)

"او ستاسو میرمنو چې څه پرېښي که یې اولاد نه وو نو نیم به یې ستاسو وي او که اولاد ولري د میراث یوه څلورمه برخه ستاسو ده خو کله چې د دوی کړی وصیت پوره او ورباندي قرض ادا شي او د هغوی لپاره ستاسو د میراث څلورمه برخه ده، که مو اولاد نه وو او که اولاد ولرئ نو ستاسو د میراث اتمه برخه د دوی ده، کله چې ستاسو کړی وصیت پوره او درباندي پور ادا شي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا له هره پلوه د مېړه او ماینې تاکلې او څرګندې برخې دي، په دې کې د لفظ او معنا له پلوه هیڅ ستونزه نه شته. پر و (ولابویه) د عطف له کبله به د مړې د وصیت تر پوره کولو او قرض ادا کولو وروسته د مور و پلار د برخو په څېر دا برخې هم له ټول میراث څخه ورکول کېږي.

۵) وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَإِن كَانُوا أَكْثَرَ مِن ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاء فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ (النساء ۴ : ۱۲)

" او که کوم نارینه یا یوه ښځه د هغه د کلاله تعلق پر بنسټ وارث کرزي او هغه یو ورور یا یوه خور ولري نو له دوی دوو څخه هر یوه ته به شپږمه برخه ورکول کېږي او که تر دې ډېر وي نو په یوه ثلث کې به ټول شریکان وي، کله چې شوی وصیت او پور ادا شي، پرته له دې چې ضرر ورسول شي. دا د الله له خوا وصیت دی او الله علیم او حلیم دی."

دا تر اولاد، مور و پلار او مېړه و ماینې وروسته د نورو خپلوانو په اړه هدایت دی، په دې ایت کې کلاله ډېر مهم لفظ دی. د خپل اصل له مخې د کلال یعني ضعف او عجز په معنا مصدر دی، د اعشی په یوه بیت کې دي:

فآليت لا ارثی لها من كلالة

نو ما لوړه وکړه چې زه به پر دې د خپل ضعف او عجز له وجې رحم نه کوم.

متمم بن نویره وایي:

فكانا بعد الكلالة والسرى ــ علج تغاليه قذور ملمع

" هغه او ښه د شپې تر سفر او سترې وروسته ګواکې هغه ځنګلي خر دی چې تر پ لوغزه خره هم د وړاندې تلو هڅه کوي."

لغت پوهانو یې د مجاز له مخې عموما درې معناوې بیان کړې دي:

یو هغه څوک چې تر شا په اولاد او مور و پلار کې هیڅوک ونه لري.

دویم هغه قرابت چې د اولاد او مور و پلار له خوا څخه نه وي.

درېیم د یو چا هغه خپلوان چې له ده سره د اولاد او مور و پلار تعلق ونه لري.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زمخشري په الکشاف کي ليکي:

يطلق على ثلاثة: على من لم يخلف ولداً و لا والداً، و على من ليس بولد و لا والد من المخلفين، و على القرابة من غير جهة الولد والوالد. و منه قولهم: ماورث المجد عن كلالة كما تقول: ما صمت عن عيّ، و ما كف عن جبن. و الكلالة في الاصل مصدر بمعنى الكلال وهو ذهاب القوة من الاعياء. قال الاعشى: فآليت لا ارثى لها من كلالة، فاستعيرت للقرابة من غير جهة الولد و الوالد لانها بالاضافة الى قرابتهما كآلة ضعيفة، و اذا جعل صفة للموروث او الوارث فبمعنى ذى كلالة كما تقول: فلان من قرابتى، تريد من ذوى قرابتى، ويجوز ان تكون صفة كالهجاجة و الفقاقة للاحمق. (۱/ ۵۱۶)

"د کلالې درې معناوې دي: دا د هغه چا لپاره اسم صفت دی چې ترشا يې اولاد او پلار نه وي، هغو وروسته پاتو کسانو ته هم ويل کېږي چې له مړي سره د اولاد او پلار تعلق ونه لري او د هغه قرابت لپاره هم کارېږي چې د اولاد او پلار له خوا نه وي. عرب وايي: ما ورث المجد عن کلالة (هغه د لرې تعلق له وجې د لويي وارث نه شو) همدارنګه تاسو وايئ: ما صمت عن عی (هغه په خبرو کې د بې وسۍ له وجې خاموشه نه شوه) او ماکف عن جبن (هغه د بې زړه توب له کبله منعه نه شو) او کلالې په اصل کې د کلال په معنا مصدر دی او د کلال معنا ده د بې وسۍ له کبله د توان له لاسه ورکول، د اعشى بيت دی: فآليت لا ارثى لها من کلالة (ما لوړه وکړه چې پر هغې به د ضعف له وجې رحم نه کوم) په مجازي ډول د هغه قرابت لپاره مستعمل شو چې د پلار او اولاد له لورې نه وي، ځکه دا قرابت د هغه قرابت په پرتله ضعيف دی چې د پلار او اولاد له خوا وي او کله چې د مړي يا وارث صفت ګرزي نو د ذو کلالة په معنا وي، په همدې طريقه تاسو فلان من قرابة يعني فلان من ذوی قرابتی وايئ او دا د هجاجة او فقاقة په څېر د احمق په معنا اسم صفت هم کېدای شي."

لومړۍ معنا: يعني د هغه چا لپاره يې استعمال چې ترشا يې اولاد او پلار نه وي که څه هم د عربيت له اصولو سره سم دی خو موږ يې په عربي کلام کي هيڅ ببلګه پيدا نه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړای شوه.

دویمه معنا: یعني د هغه قرابت لپاره یې استعمال چې د اولاد او پلار له خوا نه وي په عربي کلام کي بېلګي لري، طرماح وایي:

یهز سلاحا لم یرثه کلالة یشک به منها غموض المغابن

"د خپله توره ښوروي چې د لرې تعلق له وجې یې وارث نه شو، د یې په دې سره د ورنو پټه برخه سوری کوي."

د عامر بن طفیل یو بیت دی:

وما سودتنی عامر عن کلالة

"او د عامر قبیلې زه د لرې تعلق له وجې نه یم مشر کړی."

په لسان العرب کي دي:

والعرب تقول لم یرثه کلالة ای لم یرثه عن عرب وایي: لم یرثه کلالة یعني د لرې تعلق له عرض بل عن قرب و استحقاق. (۵۹۲/۱۱) وجې وارث نه شو بلکي د نژدېکت او استحقاق له وجې یې وراثت ترلاسه کړ.

درېیمه معنا: یعني د یو چا د هغو خپلوانو لپاره یې استعمال چې له ده سره د اولاد او پلار تعلق و نه لري په قطعي شواهدو ثابت دی.

حماسي شاعر یزید بن الحکم الثقفي خپل زوی ته په نصیحت کولو وایي:

و المرء یبخل بالحقو ق و للکلالة ما یسیم

"انسان د حقوقو په ادا کولو کي له بخله کار اخلي او د ده تر مرګ وروسته یې په ځنګل کي څړ کوونکي حیوانات د ده لرې خپلوان شړي."

ازهري د یو شاعر شعر نقل کړی دی:

فان ابا المرء احمی له و مولی الکلالة لا یغضب

"کله چې پر سړي ظلم وشي نو پلار یې په ملاتړ تر تولو ډېر غوسه کېږي، کلاله د خپل -خپلوان لپاره د ده د پلار په څېر نه غوسه کېږي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د یوه څارایي وینا ده:

مالی کثیر و یرثنی کلالة متراخة نسبهم. (لسان العرب ۱۱/ ۵۹۲)

"زما مال بېخي ډېر دی او لرې خپلوان مي وارثان دي."

د امام مسلم په روایت کي یې دا الفاظ نقل شوي دي:

یا رسول الله انما یرثنی کلالة. (شمېره: ۴۸۴۱)

"اې د الله رسوله! زما رسولان صرف کلاله دي."

په ډېرو تفسیري روایاتو کي یې هم دا معنا بیان شوې، ابو بکر الجصاص په احکام القرآن کي لیکي:

و روی عن ابی بکر الصدیق و علی و ابن عباس فی احدی الروایتین ان الکلالة ما عدی الوالد و الولد و روی محمد بن سالم عن الشعبی عن ابن مسعود انه قال: الکلالة ما خلا الوالد و الولد و عن زید بن ثابت مثله. (۸۷/۲)

"له ابو بکر صدیق ﷺ او علي ﷺ څخه روایت دی چې له پلار او اولاد پرته ټول کلاله دي، په دې اړه له ابن عباس ﷺ څخه دوه روایتونه دي. په یوه کي یې همدا سي ویلي، محمد بن سالم له شعبي او هغه له ابن مسعود څخه روایت کړی چې ویې ویل: له پلار او اولاد پرته ټول کلاله دي او له زید بن ثابت څخه هم دې ته ورته روایت شوی دی."

که یاد ایت ته وګورو نو ترکومه ځایه چې په لومړی معنا پوري تړلې که څه هم دلته فقهاوو په اتفاق همدا معنا اخیستې مګر په خپله په ایت کي دلیل شته چې دلته د دې معنا مراد ول په هیڅ ډول ممکن نه دي.

فکر وکړئ له یُوصِیکُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِکُمْ څخه چې د بیان کومه لړی پیلېږي په هغه کي الله د اولاد او مور و پلار د برخې تر بیانولو وروسته د وصیت پر تعمیل د مِن بَعْدِ وَصِیَّةٍ یُوصِي بِهَا أَوْ دَیْنٍ په الفاظو ټینګار کړی دی. د مېړه او مایني په برخو کي د همدې لپاره د مِن بَعْدِ وَصِیَّةٍ یُوصِینَ بِهَا أَوْ دَیْنٍ او د مِّن بَعْدِ وَصِیَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَیْنٍ الفاظ راغلي دي. که د غور په نظر وګورئ نو په دې ټولو ځایونو کي معلوم فعل کارول شوی او د یوصي،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یوصین او توصـــون په جملو کې د هر ضمیر مرجع په ښکاره ذکر ده، مګر د قرآن یو زده کوونکی له دې حقیقت څخه سترګې نه شي پټولای چې د کلاله په احکامو کې همدا لفظ مجهول دی. دا بدلون په ښکاره ښیي چې په إِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَو امْرَأَةٌ کې د یوصي فاعل یعني میراث پرېښود ونکی ذکر نه دی ځکه نو په ایت کې کلالة په هیڅ ډول د مړي لپاره اسم صفت نه شي بلل کېدای. دا تغیر یقیني دلیل دی چې قرآن کریم دلته دا لفظ په لومړی معنا یعني د هغه چا لپاره چې ترشا یې له اولاد او پلار څخه یو هم نه وي نه دی کارولی.

پاتې شوه دویمه او درېیمه معنا نو څرنګه چې دهرې معنا په مراد ولو د ایت مدعا یوه پاتېږي ځکه نو یوې ته ترجیح به صرف د ښکلي ترکیب له وجې وي.

زمونږ په اند په ایت کې یورث د افعال د باب مجهوله صیغه ده، کلاله یې مفعول له دی، کان ناقصه دی، رجل او امرأة د کان اسم دی او یورث یې خبر نو د همدې ترکیب له وجې یې ترجمه داده: او که کوم نارینه یا ښځه د هغه د کلاله تعلق پر بنسټ وارث ټاکل کېږي.

ښکاره ده چې د وارث ټاکلو اختیار له مړي سره وي او په دې سیاق کې د یورث معنا دا کېدای شي چې د هغو وارثانو په نه شتون کې د میراث وارث ټاکل کېږي چې برخې یې پورته بیان شوې دي.

وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَإِن كَانُوٓاْ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاء فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ يعني که صرف د یوه قرابت له خپلوانو کوم نارینه یا یوه ښځه وارث ټاکل کېږي نو څوک چې وارث ګرزي هغه یو ورور یا یوه خور ولري نو دی چې د کوم مال وارث ګرزول شوی د هغه شپږمه برخه به یې ورور یا خور ته ورکول کېږي او که یې خوندې او ورونه تر یوه زیات وي نو ټول به په یوه ثلث کې یو ډول شریکان وي. تر دې وروسته دې وینا ته ضرورت نه شته چې پاته ۵/۶ یا دوه ثلثه به وارث ټاکل شوي نر یا ښځې ته ورکول کېږي، که مورږوایو چې زید ستا زوی د دې روپو وارث ټاکلی دی خو که هغه کوم ورور ولري نو د یوه ثلث حقدار دی. هر سړی به له دې جملې څخه دا مطلب واخلي چې د ورور تر برخې وروسته به پاتې روپۍ هغه زوی ته ورکول کېږي چې وارث ټاکل شوی دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن دا هدایت پر ډېر لوی حکمت بنا دی، مړ کېدونکی شخص په کلاله خپلوانو کې خپل ورور، خور، ماما، ترور، تورې او نور وارثان ګرزولای شي مګر ځرګنده ده چې کوم ورور یا ماما وارث وګرزول شي مړی بل ورور او ماما هم درلودای شي. همدا معامله د اکا، ترور، خاله او نورو هم ده. یو څوک د خپلې شخصي خوښې پر بنسټ یو ماما یا یوې ترور ته ترجیح ورکولای شي خو الله دا خوښه نه کړه چې د یوه قرابت نور خپلوان دي بېخي بې برخې شي ځکه یې نو لارښوونه وکړه چې که څوک د مثال په ډول خپل اکا زید د پاتي میراث وارث ګرزوي او دی د عثمان او احمد په نوم اکاګان هم ولري نو زید چې د میراث د کومې برخې وارث ټاکل شوی پر عثمان او احمد یې د درېیمې برخې تر وېشلو وروسته پاتي میراث زید ته ورکول کېږي.

د ایت په پای کې د غَيْرَ مُضَآرٍّ، وَصِيَّةً مِّنَ اللّهِ، وَاللّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ الفاظ د دې خبرداري لپاره راغلي چې باید د وارث ټاکلو دا عمل د کوم حقدار لپاره د تاوان سبب نه شي، الله په وصیت کې د ضرر رسونې د مخنیوي لپاره د اصلي وارثانو برخې په خپله ټاکلې دي مګر څرنګه چې د کلاله د ایت له مخې مړی د خپلې خوښې یو خپلوان وارث ټاکلای شي ځکه یې نو د دې حکم تر بیانولو وروسته وویل چې د هغه په کارونه باید د چا حق تر پښو لاندې نه شي. دا زما و ستا مشوره نه بلکې د نړۍ والو د رب وصیت دی. د هغه بنده چې قصدا کوم حقدار بې برخې کوي نو باید پوه شي چې الله یې په هر عمل خبر دی او که په ناپوهې تېروتنه ترې کېږي نو خالق یې زغم درلودونکی دی او د خپلو بندګانو ګناهونه بخښي، دی نرمې خوښوونکی دی، پر بندګانو تر خپل وس بوج نه راولي، د ده په حکمونو کې د دوی لپاره اساني ده تنګي او سختي نه شته.

۶) يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلاَلَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ فَإِن كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ وَإِن كَانُواْ إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَاء فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّواْ وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (النساء ۴ : ۱۷۶)

" خلګ له تا فتوا غواړي، ووایه الله تاسو ته د کلاله وارثانو په اړه فتوا درکوي که یو څوک بې اولاده مړ شي او یوه خور ولري نو د هغې نیم میراث دی او که خور بې اولاده مړه شي نو وروریې وارث دی او که خوندې دوې وي نو د ده په میراث کې به دوه ثلثه ورکول

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي او که څو وروڼه او خوندې نارینه و ښځې وي نو د نارینه برخه له دوو ښځو سره برابره ده، الله ستاسو لپاره بیان کوي چې بې لارې نه شئ او الله په هر څه خبر دی."

تر دې وړاندې چې د إِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً کوم تعبیر بیان شو څرنګه چې د هغه له مخې وروڼه، خوندې، اکا، ماما، تورې، ترور او نور ټول کلاله دي او میراث پرېښودونکی چې په دوی کې څوک وغواړي وارث یې ټاکلای شي ځکه نو ممکنه وه چې دی کوم اکا، ماما، تورې، ترور او نورو ته پر خپلو خوندو او وروڼو ترجیح ورکړي او دا مناسبه نه وه، ځکه له اولاد و روسته په ټولو خپلویو کې وروڼه او خوندې ډېر نژدې دي. عقل غوښتنه کوي چې باید په دې صورت کې د میراث لویه برخه هغوی ته ورکړل شي، تر دې وړاندې وویل شول چې که خوندې او وروڼه موجود وي نو په مورو پلار کې به هریوه ته د میراث شپږمه برخه ورکول کېږي، څرنګه چې دا هماغه د اولاد په شتون کې ټاکل شوې برخې دي له همدې کبله سوال پیدا کېږي چې ایا په دې صورت کې هم مړی دا واک لري چې که وغواړي نو خوندې او وروڼه وارثان کړي او که یې خوښه شي بې برخې یې کړي. مورې پورته د ایتونو په تفصیل کې لیکلي چې د بیان له اسلوبو ښکاري چې د اولاد په نه شتون کې وروڼه او خوندې د مړي وارثان دي، مګر څرګنده ده چې د اسلوبو د بیان دا دلالت د الفاظو د مفهوم په څېر له احتمال څخه خالي نه وي چې پر دې مسئله بحث ته امکان پاتې نه شي. که اولاد موجود نه وي نو د خوندو او وروڼو په اړه دا پوښتنه نن هم پیدا کېدای شي او د رسول الله ﷺ په وخت کې هم پیدا شوه. له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی:

يقول جاء رسول الله ﷺ يعودني و انا مريض لا اعقل فتوضأ و صب علي من وضوئه فعقلت، فقلت يا رسول الله: لمن الميراث انما يرثني الكلالة؟ فنزلت اية الفرايض.

(بخاري، شمېره: ۱۹۴)

"دی وایي چې رسول الله ﷺ مې پوښتنې ته راغی زه ناروغ وم بې هوښې را باندې راغلې وه، ده اودس وکړ او هغه اوبه یې را باندې وپاشلې زه پرسد شوم ومې ویل: ای د الله رسوله! زما میراث به د چا وي، کلاله مې وارثان دي؟. په دې سره د میراث[۳۷] ایت نازل شو."

[۳۷] د مسلم په (۴۱۴۸) شمېره حدیث کې وضاحت دی چې دلته د میراث له ایت څخه مراد د سورت النساء همدغه وروستی ایت دی چې پکې د خوندو او وروڼو برخې بیان شوې دي. همدا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې حدیث له دې الفاظو انما یرثنی الکلالة، فنزلت ایت الفرایض څخه دا خبره په ډاګه کېږي چې پوښتنه په کلاله وارثانو کې خاص د وروڼو او خوندو د میراث په اړه وه او د سورت النساء وروستی ایت د همدې پوښتنې په ځواب کې نازل شوی دی.

دا د قرآن ځانګړي اسلوب دي چې پکې پوښتنې ډېر په لنډ ډول نقلېږي، د پوښتنې ډول، ځای، اطراف او اړخونه په عمومي ډول له هغه ځواب څخه څرګندېږي چې وروسته په قرآن کې راځي. همدې شي ته د پام نه کولو له کبله خلګ د قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الكَلَالَةِ په تعبیر کې له سختو ستونزو سره مخ شوي دي، په داسې حال کې چې دلته هم پوښتنې ته د ځواب له زاویې وکتل شي نو د متکلم هدف له څه شک پرته څرګندېږي. که غور وکړو نو هماغه د يُوصِيكُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ اسلوب دي، هلته د مړي د وارث اولاد په اړه وصیت دی او دلته د مړي د کلاله خپلوانو په اړه فتوا ده. د الکلاله پر لفظ د الف لام دخول دلیل دی چې پوښتنه په کلاله وارثانو کې د ځانګړو خپلوانو په اړه ده او له ځواب څخه ښکاري چې دا خپلوان د مړي خوندې او وروڼه دي. په ټولو کلاله خپلوانو کې د یوه مثلا اکا، ماما، ورور، خور، ترور او تورې د وارث ټاکلو اجازه د میراث په ایاتونو کې بیان شوې، دلته تر عامو روسته د خاص یادونه ده. همدې شي ته په پام د ایت مفهوم دادی: ووایه! الله تاسو ته په کلاله خپلوانو کې د خوندو او وروڼو په اړه فتوا درکوي د دې اسلوب بل مثال د سورت البقرة په دې ایت يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأهِلَّةِ [۳۸] کې موجود دی.

د إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ الفاظ د خوندو او وروڼو د میراث لپاره هماغه ډول شرط دی لکه په فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ کې، هلته یې معنا داده چې که مړی بې اولاده وي او صرف مور و پلار یې میراث وړي نو حصه به یې دا وي او دلته یې مفهوم دادی چې که مړی اولاد ونه لري او وروڼه و خوندې ولري نو برخې یې داسې دي. په دې شرط سره څرګنده شوه چې خوندې او وروڼه صرف د اولاد په نه شتون کې میراث درلودلای شي، که اولاد موجود وي نو په میراث کې یې هیڅ برخه نه شته، مګر که مړی د سورت النساء په دوولسم ایت کې د کلاله د عام حکم له مخې په هغوی کې د پاتې میراث وارث

راز د بخاري په (۶۷۴۳) شمېره حدیث کې د دې خبرې صراحت هم شوی چې د هغه په وارثانو کې صرف خوندې وې.

[۳۸] البقرة ۲ : ۱۸۹، وګورئ تدبر قرآن د امین احسن اصلاحي ۱ / ۴۷۱

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وتاکي.

دلته چي د خوندو او وروڼو کومې برخې بیان شوې دي د هغو او اولاد د برخو تر منځ هیڅ توپیر نه شته، د وَإِن كَانُواْ إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَاء فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ اسلوب د دې دلیل دی چي دا برخې به هم د مور و پلار او میړه یا مایني تر حصو وروسته له پاتي میراث څخه ورکول کېږي. دلیل مو یې د اولاد د برخو په وضاحت کي ذکر کړی دی، نو د میراث کومه برخه چي پر خوندو او وروڼو وېشل کېږي که مړی صرف خوندې ولري نو د قرآن له هدایت سره سم به دوی ته هم د هغه دوه ثلثه او یا نیم ورکول کېږي.

لکه څرنګه چي موږ وړاندي وویل: دا خبره یوولسم او دوولسم ایت هم روښانه کړې وه چي د اولاد په نه شتون کي یې خوندې او وروڼه پرځای درېږي، مګر د نساء دې ایت هغه بیان په ښکاره الفاظو کړی دی ځکه هلته ممکنه وه چي خلګ د بیان د اسلوبو په دلالت د نه پوهېدو له کبله غلط شي، تر دې وضاحت وروسته دا اهتمام پاتي نه شو ځکه یې نو ویلي چي يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّواْ وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۵

د دعوت قانون

د دين يوه مهمه غوښتنه داده چې څوک په دې دنيا کې حق خپل کړي نو وروسته دې يې نورو ته هم سپارښتنه او نصيحت کوي. د دين د همدې غوښتنې لپاره په عمومي ډول د دعوت او تبليغ اصطلاح کارېږي، مسلمانان تل په دې حقيقت خبر دي چې الله موږ ته د ايمان او نېک عمل کومه رښا راکړې پر موږ دا حق لري چې نور هم ترې بې برخې نه کړو. د دې مسئوليت همدې ارزښت ته په پام چې الله په کوم ځای کې انسانانو ته د سياست، اقتصاد، عباداتو او نورو چارو په لړ کې خپل شريعت ورکړی هلته يې د دعوت لپاره په دې شريعت کې تل يو تفصيلي قانون بيان کړی دی. د دې قانون له مطالعې څخه ښکاري چې په هغه کې د مومنانو بېلابېلو رتبو ته په پام په بېخي جلا - جلا بڼو هغوی ته د دعوت دا مسئوليت راجع دی، په مطلب د پوهېدو لپاره موږ دا قانون تر دې سرليکونو لاندې بيانولای شو:

نبوي دعوت

د ابراهيم د اولادې دعوت

د علماوو دعوت

دولتي دعوت

فردي دعوت

د دعوت تګلاره

لاندې به تر همدې عنوانونو لاندې په دې اړه د قرآن کريم لارښوونې بيان کړو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نبوي دعوت

يَأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا * وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا*

(الأحزاب ۳۳ : ۴۵، ۴۶)

"اې رسوله! ته مو شاهدي ورکوونکی، زېری کوونکی، وېروونکی او د الله په اجازه د هغه لور ته دعوت کوونکی (او د انسانانو د هدایت لپاره) د یو روښانه څراغ په څېر لېږلی یې."

همدا د رسول الله ﷺ دعوتي مسئولیت دی چې قرآن یې په دې ایاتونو کې پوره تفصیل بیان کړی دی، دې دنیا ته چې د الله هر رسول راغلی نوله قرآن څخه ښکاري چې د همدې دعوت الی الله او انذار و بشارت لپاره راغلی دی. د سورت البقره په دې ایت: كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ [1] همدا خبره بیان شوې، په دې نبیانو کې چې الله کومو ته د رسالت دنده وسپارله نو د هغوی په اړه قرآن ویلي چې دوی باید د خپلو قومونو د وېرولو دنده د شاهدي تر مقامه رسولې وای، د قرآن په اصطلاح یې معنا داده چې خلګو ته حق په داسي ډول څرګند شي چې تر هغه وروسته ور څخه د سرغړونې هیڅ امکان نه وي. لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ [2] (چې تر رسولانو وروسته خلګ د الله په وړاندې عذر ونه لري) طریقه یې داسي وي چې الله دا رسولان د خپلې پرېکړې د څرګندولو لپاره غوره کوي او بیا تر قیامت وړاندې د دوی په وسیله په همدې دنیا کې وړوکی قیامت را منځ ته کوي. دوی ته ویل کېږي چې که له الله سره پر خپله کړې ژمنه ودرېږي نو په همدې دنیا کې به یې جزا ورکړل شوي او که سرغړونه وکړي نو سزا ورکول کېږي. د دې نتیجه دا وي چې موجودیت یې د خلګو لپاره یوه الهي نښه ګرزي او ګواکي له دوی سره الله پر ځمکه ګرزي - را ګرزي او د عدالت په کولو ټاکل کوي. له دې سره هغوی ته امر کېږي چې دوی د سر په ستر ګو کوم حق لیدلی هغه ته بلنه وکړي او الهي هدایت خلګو ته له څه کمونې او زیاتونې پرته په بشپړ قاطعیت سره ورسوي. همدا شهادت دی، کله چې ترسره شي نو په دنیا او اخرت دواړو کې د الهي پرېکړې بنسټ

---

[1] البقرة ۲ : ۲۱۳ (خلګ یو امت وو (نو اختلاف یې وکړ) الله د بشارت او انذار لپاره نبیان ور ولېږل)

[2] النساء ۴ : ۱۶۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ګرزي، له همدې کبله الله دې رسولانو ته بریا ورکوي او د هغوی د دعوت پر منکرینو خپل عذاب نازلوي، د سورت الأحزاب په دې ایاتونو کې د شاهداً لفظ د رسول الله ﷺ د همدې دندې بیانولو لپاره کارول شوی دی. د نبیانو انذار او بشارت خو د هیڅ وضاحت غوښتنه نه کوي مګر د رسول معامله له دې یو څه بېله ده، هغوی چې له انذار او بشارت سره د شهادت پر کومه دنده ګومارل کېږي د هغې د غوښتنې له مخې یې دعوت ځینې پراوونه او دا پراوونه ځینې حتمي پایلې لري چې د دوی ځانګړتیا ده. دا د دعوت له بل شکل سره توپیر نه لري، موږ به دلته د رسولانو د دعوت همدا پراوونه په تفصیل سره بیان کړو.

انذار

دا د همدې دعوت لومړنۍ مرحله ده، انذار له ناوړه پایلو څخه د خلکو خبرول دي. له قرآنه ښکاري چې د الله رسول تل خپل قوم له دوو عذابونو خبراوه، یو هغه چې منکرین به یې په قیامت کې ورسره مخ شي او بل هغه چې د هغه د دعوت په وړاندې پر بغاوت کوونکو به په همدې دنیا کې راځي. دوی خپل قوم ته وایي چې پر دې ځمکه د وړوکي قیامت د راتلو لپاره را لېږل شوي، کله چې د دوی په دعوت سره الهي حجت پوره شي نو د ده قوم به حتما په همدې دنیا کې د خپل بغاوت نتیجه وویني. د قرآن په شپږم باب کې سورت القمر د همدې انذار غوره مثال دی، په دې کې له رسولانو سره اړوند د خپل سنت په یادولو الله د ډېر ګوابنې په اسلوب ویلي: أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُوْلَئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءةٌ فِي الزُّبُرِ[2] (ایا ستاسو دا منکرین تر هغو یو څه غوره دي او که د دوی لپاره په کتابونو کې بخښنه لیکل شوې؟) د قرآن په وروستي باب کې له الملک (۶۷) څخه تر الجن (۷۲) پورې شپږ سورتونه په خپله د هماغه د نظم له مخې په پوره باور د همدې مرحلې سورتونه دي. د دې سورتونو له مطالعې څخه د قرآن هر زده کوونکی هغه لهجه، اسلوب او د استدلال طرز اټکلولای شي چې د الله رسول یې په دې مرحله کې خپلوي. قرآن په سورت القلم کې د باغ د څښتنانو په تمثیل بیانولو سره د دې انذار خلاصه داسې بیان کړې ده:

كَذَلِكَ الْعَذَابُ وَلَعَذَابُ الآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ (القلم ۶۸ : ۳۳) "(اې د ام القرى اوسېدونکو! تاسو دا رسول دروغ بولئ نو ګورئ) همدا سې عذاب به

[2] ۵۴ : ۴۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درباندې راشي او د اخرت عذاب خو تر دې ډېر لوی دی، کاش! دا خلګ پرې پوهېدلای."

څرنګه چې دا انذار حتما په دې دنیا کې یوې ضروري نتیجې ته رسېږي له همدې کبله پکې اصلا هغو خلګو ته خطاب وي چې له یوه نه یوه اړخه په خپل قوم کې اثر او رسوخ لري، عوام یې په خپل علم، عمل او سپرت و اخلاقو کې پیروي کوي، د دوی ناروغي د نورو ناروغي او روغتیا یې د نورو د روغتیا سبب وي، د هغوی د زړه و دماغ فتحه د ټولو د فتحې وسیله وي، د هغوی د مادي وسایلو او امکاناتو ډېرښت د حق ځواک ډېر کړای شي، په خپل ذهني ځواک سره دعوت د علم او عمل په بې کچې ځواک اړولو وړتیا لري او تر څو چې عوام د دوی د دلیلونو ماتې، د هغوی د فکر و فلسفې د جړو ختمېدل او د هغوی د اخلاقو او سیاست د ننګو مانیو رېږدېدلي بنسټونه په خپلو سترګو ونه وینې تر هغه وخته نه د حق دعوت لپاره زړه نښه کولای شي، نه د زړو باورونو له ګرداب څخه وتلای شي، نه یې په اړه له تذبذب څخه خلاصېدای شي او نه دیو دعوت په ملاتړ هغه ذهني وده احساسولای شي چې له هغه څخه د صبر په تر لاسه کولو د بدر او حنین د مجاهدینو په څېر د دې بتانو د ځواک او عظمت طلسم مات کړي.

په قرآن کریم کې چې د رسولانو د انذار دا خصوصیت په څه ډول څرګندېږي د وضاحت په اړه یې استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل کتاب «دعوت دین اور اس کا طریقه کار» کې لیکي:

"... ابراهیم علیه السلام تر ټولو وړاندې خپلې هغې کورنۍ ته دعوت ورکړ چې د قوم د مذهبي لارښوونې دنده یې درلوده، بیا یې هغه پاچا ته دعوت ورکړ چې په لاس کې یې د سیاسي اقتدار واګې وې او ځان یې د خلګو د ژوند او مرګ مالک ګڼلی وو ... الله موسی علیه السلام ته امر وکړ چې تر هر څه اول فرعون مخاطب کړه ... عیسی علیه السلام تر ټولو لومړی د یهودو علماوو ته دعوت ورکړ، همدا راز په قرآن کریم کې د نوح، هود او شعیب علیهم السلام ټولو دعوتونه ذکر دي، په دوی کې هر نبي تر ټولو وړاندې د خپل وخت چارواکي او لویان ننګولي او د هغوی پر افکارو او نظریاتو یې ګوزار کړی دی. د ټولو په پای کې رسول الله ﷺ را ولېږل شو او امر یې ورته وکړ چې خپل نژدې قریبان ووېروه، هغوی د عربو د دیني او پلرني (Patriarchical) حکومت مشران وو او په همدې سره یې د عربو اخلاقي او سیاسي مشري کوله. (۴۹)

الهي وینا ده:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لاَ رَيْبَ فِيهِ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ

(الشوری ۴۲: ۷)

"او همداسي موتا ته دا عربي قرآن وحي کړ چي د ام القری او شاوخوا اوسېدنکي ووېروې او د محشر په هغه ورځ يې خبر کړې چې په راتلو کې يې هيڅ شک نه شته، هلته به يوه ډله جنت ته ځي او يوه دوزخ ته."

عامه انذار

دا دويمه مرحله ده، د انذار او دې مرحلې تر منځ صرف دومره توپير دی چې په هغې کې دعوت افراد و يا ځينې شخصي مجلسونو ته وړاندې کېږي، مګر په دې مرحله کې رسول ته امر کېږي چې په ښکاره د خپل قوم د دعوت لپاره ملا وتړي او تر کومه بريده او کومو وسايلو سره چې ممکنه وي د خپل دعوت اوازد دوی غوږونو ته ورسوي. د رسولانو په دعوت کې دا مرحله ډېره سخته وي، قرآن وايي چې کله د رسول الله ﷺ د دعوت دا مرحله را ورسېده نو دې ته د چمتو کېدو لپاره ورته د قيام الليل امر وشو. د قرآن مزمل سورت په همدې وخت کې نازل شوی دی، په دې کې الله هغه ته دشپې د لمانځه لپاره د پورته کېدو، په دې کې ورو –ورو د قرآن ويلو، د خپل رب صفاتو ته د توجو په کولو، د هغه په ياد د خپل زړه ابادولو، د ده په حمد او تسبيحاتو د ژبې لندولو او دشپې په يوازيتوب کې ده ته په توجو سره د پام اړونې لارښوونه وکړه او ويې ويل: دا هدايت د دې لپاره درته کوو چې إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً [۴] (ژر به د يوې درنې وينا بوج دربانديواچوو) تر دې په وروسته سورت کې هغه بوج پرې واچول شو او وويل شول:

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ * وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ * وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ * وَلاَ تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ * وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ *

(المدثر ۷۴: ۱-۷)

"اې په جامه کې نغښتې! پورته شه او د عام انذار لپاره ودرېږه، د خپل رب لويي بيان کړه، خپل زړه پاک ساته او د شرک له دې ناولتيا لرې اوسه او ګوره په ډېر ګټلو خپلې هڅې مه پرېږده او د خپل رب د پرېکړې په انتظار صبر کوه."

[۴] المزمل ۷۳: ۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې مرحله کې هم د دعوت ترتیب هغه ډول وي او د رسول اصل مخاطبین د قوم مشران، چارواکي او د پرېکړو خاوندان وي، مګر د عامه وېرونې سختي هغه غبرګون هم په پوره ځواک را پورته کوي چې د انذار په مرحله کې دا ډول نه وو څرګند شوی. پر رسول الله ﷺ چې تر ټولو وړاندې کومو خلګو ایمان راووړ نو څرنګه چې یې ډېری نوي ځوانان وو ځکه نو دا غبرګون هم په اول سر کې د هغوی د عزیزانو، دوستانو او خپلوانو له خوا څرګند شو. د قوم مشران هغه وخت میدان ته راغلل چې ویې لیدل د رسول دعوت نور په ټولنه کې مخ پر غوړېدو دی، بیا چې دوی څه وکړل او پر دې مهال رسول الله ﷺ ته د کومې تګلارې خپلولو لارښوونه وشوه هغه د دې مرحلې په سورتونو کې ځای پر ځای بیان شوې ده. د سورت یونس له دې دوو ځایونو څخه یې یو څه اټکل کېدای شي، الله ویلي:

وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لاَ يَرْجُونَ لِقَاءنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَـذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَاء نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (یونس ۱۰ : ۱۵)

" او کله چې دوی ته زموږ څرګند ایاتونه اورول کېږي نو هغه کسان چې له موږ سره د لیدو تمه نه لري، وایي: د دې پر ځای کوم بل قرآن راوړه یا یې یو څه ترمیم وکړه، دوی ته ووایه: دا زما کار نه دی چې له خپله ځانه یې بدل کړم، زه د هغې وحې پیروي کوم چې ما ته راځي، که مې د خپل رب نافرماني وکړه نو د یوې لویې ورځې له عذاب څخه وېرېږم."

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي شَكٍّ مِّن دِينِي فَلاَ أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ وَلَـكِنْ أَعْبُدُ اللّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ * وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ* (یونس ۱۰ : ۱۰۴، ۱۰۵)

" دوی ته ووایه: اې خلګو! که تاسو زما پر دین شکمن یاست نو واورئ تاسو چې له الله پرته د څه عبادت کوئ زه یې عبادت نه کوم بلکې د هغه الله عبادت کوم چې تاسو مړه کوي او ما ته امر شوی چې له مومنانو څخه شم او امر شوی چې له پوره ګوښه توب سره خپل مخ د سیده دین لور ته کړم او هیڅکله له مشرکانو څخه نه شم."

همدا مقام دی چې هغه ته تر رسېدو وروسته بیا په همدې مرحله کې هغه وخت هم راځي چې رسول ته په دې متکبرینو پسې د ډېر نه شله کېدو امر کېږي او ورته وایي چې نور اصلا د خپلو ملګرو روزنې ته پام واړوه. په قرآن کې دا هدایت داسې بیان شوی دی:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَا أَنتَ بِمَلُومٍ * وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَى تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ* (الذاريات ۵۱ : ۵۴، ۵۵)

"ځکه نو نور له دوی مخ واړوه، نور پرتا هیڅ ملامتي نه شته او یادونه کوه ځکه یادونه مومنانو ته ګټه لري."

عَبَسَ وَتَوَلَّى * أَن جَاءهُ الأَعْمَى * وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى * أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَى * أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى * فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّى * وَمَا عَلَيْكَ أَلاَّ يَزَّكَّى * وَأَمَّا مَن جَاءكَ يَسْعَى * وَهُوَ يَخْشَى * فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّى * كَلاَّ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ * فَمَن شَاء ذَكَرَهُ * فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ * مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ * بِأَيْدِي سَفَرَةٍ * كِرَامٍ بَرَرَةٍ* (عبس ۸۰ : ۱ - ۱۶)

"تندی یې تریو کړ او مخ یې واړاوه په دې چې (د قریشو له سردارانو سره د ده مجلس ته) هغه ړوند راغی او (اې رسوله!) تا ته څه معلومه ده چې شاید هغه (پوښتنه کوله او) اصلاح کېده، یا (تا ورته اوروله) ده هغه نصیحت اوږد او دې نصیحت ورته ګټه کوله، څوک چې بې پروایي کوي ته ور پسې یې، په داسي حال کي چې که اصلاح نه شي پرتا یې هیڅ مسئولیت نه شته او څوک چې تاته په مینه راځي (اوله الله) وېرېږي نو ته هغه ته پام نه کوې، هیڅکله نه! (په هغوی پسې شله کېدو ته هیڅکله اړتیا نه شته) دا یو نصیحت دی نو د چا زړه چې غواړي نصیحت دې ترلاسه کړي (او که د چا زړه غواړي په غوږونو کې دې ګوتې واچوي) د احترام وړ، لوړ، په مکرمو صحیفو کې د ډېرو عزتمنو او وفادارو لیکوالو په لاسونو کې."

اتمام حجت (د حق بشپړ وضاحت)

دا درېیمه مرحله ده، دې ته په رسېدو حقایق داسي روښانه کېږي چې له اوږدونکو سره هیڅ عذر نه وي، له همدې شي څخه په اصطلاح کي په اتمام حجت تعبیر کېږي یعني څه چې وړاندې کېږي هغه په دلیل سره داسي ثابت شي چې له ضد، تعصب او عناد پرته بل هیڅ شی انسان انکار ته نه شي چمتو کولای، څرګنده ده چې په دې کي د الله له پرېکړې سره اسلوب، استدلال، کلام، د رسول شخصیت، صفات او علم و عمل هر شی اغېزناک دي ان معامله په صاف اسمان کي د لمر په څېر روښانه کېږي. په دې وخت کي رسول تر ډېره د خپلو مخاطبینو انجام هم څرګندوي او په دعوت کي هم بالکل د وروستي خبرداري

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لهجه خپلوي. د قرآن کريم په فيل او قريش سورتونو کي چې د نبوي دعوت د دې مرحلې په پای کي نازل شوي دا دواړه شيان ښکاره ثرګند دي، الله ويلي:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ * أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ * وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ * تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ * فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ* (الفيل ١٠٥: ١-٥)

"تا ونه ليدل چې ستا رب د فيل له څښتنانو سره څه وکړل؟، ايا د هغوی پلان يې بې لارې نه کړ؟، پر دوی يې ډلې -ډلې مرغان مسلط نه کړل؟ (داسې چې) تا د پخې خټې په ډبرو ويشتل او ده د خوړل شوې پروړې په څېر کړل."

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ* إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ* فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ * الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ* (قريش ١٠٦: ١-٤)

"د قريشو د مينې له کبله (که بل هيڅ نه وي د حرم په امن سيوري کي) د سړځګي او تودوخي له سفرونو سره د دوی د اشنا کېدو له کبله ورته په کار ده چې د هغه کور د څښتن عبادت وکړي چې (د دې شنډو غرونو) په لوږه کې يې خوراک ورکړ او (د هغه) په وېره کې يې امن ورکړ."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

که غور وکړئ نو لومړی سورت قريش دې حقيقت ته متوجې کوي چې کوم رب ستاسو په مخ کي خپل دښمنان داسي وځپل که يې تاسو د دښمنۍ ته ملا وترئ نو برخليک به مو له هغو بېل نه وي او دويم سورت دوی ته لارښوونه کوي چې تاسو د کوم کور سرپرستي کوئ دا د همدې کور مالک دی چې پر تاسو يې د رزق او امن پېرزوينه کړې ده، ځکه نو بايد لږ تر لږه د هغه داحق ورکړئ چې په دې دنيا کي د ده بندګان پاتي شئ. د دعوت په دې مرحله کي د رسول اسلوب همدا وي.

هجرت او برأت

دا څلورمه مرحله ده، د الله رسول چې کله په ورستۍ کچه د تبليغ حق ادا کړي او دليل پوره شي نو دا مرحله را رسېږي، په دې کي د قومي مشرانو جرمي پرېکړه ليک هم له وضاحت سره ورته بيانېږي او دا خبره ورته هم کوي چې د هغه د صبر کاسه ډکه شوې ځکه به يې نو په ځمکه کي جړې غوڅې شي. له دې سره رسول ته هم زېری ورکول کېږي چې د الهي نصرت څرګندېدو وخت را رسېدلی دی، دی او ملګري به يې خلاصون وموميږي او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوی چې په کومه ځمکه کې کمزوري او بې وسه وو هلته به فتحه او بریا تر لاسه کړې. له همدې کبله د خپل قوم له تکفیر او عقیدوې و مذهب څخه د بې زاري په اعلانولو د هغوی پربښودو ته چمتو شه. د رسول الله ﷺ په دعوت کې چې دا هر څه په ډول وشول د قرآن له دې سورتونو په ډاګه کېږي:

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ * فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ * وَلاَ يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ * فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَن صَلاَتِهِمْ سَاهُونَ * الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ * وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ*

(الماعون ۱۰۷: ۱-۷)

" (اې رسوله!) ایا هغه دي وليد چې د جزا ورځ دروغ ګڼي، دا خو هماغه دی چې یتیم یې تېله کاوه او د مسکینانو خوراک ته یې هڅونه نه کوله، ځکه نو هلاکت دی (د حرم په خوا کې) د هغو لمونځ کوونکو لپاره چې د خپلو لمنځونو (له حقیقت څخه) بې پروا دي، هغه چې د ریا (عبادت) کوي او د ورکړې د ادنی شي ورکولو ته هم تیار نه وي."

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ* (الكوثر)

(اې رسوله!) موږ تا ته دا لوی خیر (خپل دا کور) درکړ، له همدې وجې (نور پکې) خاص د خپل رب لپاره لمونځ کوه او د ده لپاره قرباني کوه، په دې کې شک نه شته چې ستا د دې دښمن جړې غوڅې شوې دي هیڅ نوم اخیستونکی به یې پاتې نه شي.

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ * لاَ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلاَ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ*(الكافرون)

(اې رسوله! اعلان وکړه چې اې کافرانو زه به د هغو شیانو عبادت ونه کړم چې تاسو یې عبادت کوئ او نه به تاسو هیڅکله (یوازي) د هغه عبادت وکړئ چې زه یې عبادت کوم او نه زه تر دې وړاندې کله د هغو شیانو د عبادت لپاره تیار شوی یم چې تاسو یې عبادت کړی او نه تاسو (یوازي) د هغه د عبادت لپاره چمتو شوي یاست چې زه یې عبادت کوم (ځکه نو نور) ستاسو خپل دین او زما خپل دین دی.

إِذَا جَاء نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ * وَرَأَيْتَ النَّاسَ

کله چې د الله مرسته او هغه فتحه راشي (چې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا * فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا* (النصر)

موبړيې له تا سره وعده کړې) او ته د الله په دين کې د ډلو -ډلو خلګو دخول ووينې نو د خپل رب له حمد سره د هغه تسبيحات وايه او معافي ترې غواړه (ځکه چې) دی ډېر معافي کوونکی دی.

تر دې وروسته رسول ته د هجرت امر کېږي، له قرآن څخه ښکاري چې د هجرت دا حکم الله ورکوي، رسول يې په خپل اجتهاد سره پرېکړه نه شي کولای. له همدې کبله د هيڅ انسان لپاره د خپل عقل او نظر له مخې دا پرېکړه کول چې د ده له خوا دليل پوره شوی او د قوم له لوري نور د حق دعوت په اړه د هيڅ مثبت غبرګون هيله نه شي کېدای په هيڅ ډول ممکنه نه ده. کله چې د الله فرشتې د لوط عليه السلام د قوم په اړه له دې پرېکړې سره د ابراهيم عليه السلام په څېر يو ستر رسول ته ورغلې نو هغه تر وخت وړاندې وګڼله او په دې اړه يې ورسره مجادله وکړه.[5] يونس عليه السلام چې کله په خپله رايه دا پرېکړه وکړه نو الله سخته سزا ورکړه[6] او د هغه تر رجوع وروسته د ده د قوم په ايمان سره ثابته شوه چې د هدايت د توفيق وخت صرف الله ته معلوم دی. قرآن کريم د دې مثال په وړاندې کولو ښودلې ده چې بايد د الله رسول په دې معامله کې له پوره صبر سره د الهي پرېکړې انتظار وکړي. دی په خپل فکر سره د دې نظر په خپلولو چې د ده له خوا د فرض دعوت پوره حق ادا شوی خپل قوم نه شي پرېښودای، پر ده لازمه ده چې کوم مسئوليت ور سپارل شوی پر له پسې تر هغه وخته دوام ورکړي چې د ده رب پرېکړه وکړي نور حجت پوره شوی، د قوم مهلت ختم شو او رسول يې نور پرېښودای شي.

جزا او سزا

دا وروستۍ مرحله ده، په دې کې د اسمان عدالت پر ځمکه را منځ ته کېږي الهي پرېکړه پلې کېږي او د رسول پر قوم يو وړو کی قيامت رائي. په قرآن کې چې د رسولانو د انذار کوم تاريخ بيان شوی له هغه ښکاري چې پر دې مهال عموما دوه حالتونه را منځ ته کېږي، يو دا چې د رسول د ملګرو شمېر هم لږ وي او د هجرت لپاره کوم ځای هم نه لري. دويم دا چې هغه له ګڼو ملګرو سره يو ځای وزي او تر وتلو وړاندې الله په يوه سيمه کې د

[5] هود ۱۱ : ۷۴ - ۷۶

[6] الصافات ۳۷ : ۱۳۹ - ۱۴۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خپلواک او ځواکمن اوسېدو وسایل ورکوي. په دې دواړو حالتونو کې د رسولانو په اړه د الله هغه سنت حتما پلي کېږي چې په قرآن کې داسې بیان شوي:

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ * كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ* (المجادلة ۵۸: ۲۰، ۲۱)

"بې شکه کوم کسان چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي هغوی به خوار شي، الله لیکلي چې زه به بریالی کېږم او زما رسولان هم بې شکه الله قوي ډېر غالب دی."

په لومړي صورت کې د قوم تر پرېښودو وروسته دا رسوایي داسې پرې راځي چې د اسمان پوځونه را کښته کېږي، د شګو او ډبرو توپان راځي او د ګردونو و بادونو لښکر پر قوم داسې برید کوي چې د رسول په مخالفینو کې هیڅوک هم پر دې ځمکه نه پاتېږي. له قرآنه ښکاري چې د نوح، لوط، صالح، شعیب او دا ډول نورو قومونو سره همدا چلند وشو، له دې څخه یوازې بني اسرائیل مستثنا پاتې شول چې په حقیقت کې له توحید سره د تړاو له کبله د عیسی علیه السلام تر پرېښودو وروسته هغوی د هلاکت پر ځای د تل لپاره پرې د مغلوبیت عذاب مسلط شو. په دویم حالت کې د عذاب دا پرېکړه د رسول او ملګرو د تورو په وسیله نافذېږي، څرګنده ده چې په دې صورت کې قوم ته وخت ورکول کېږي او رسول د دې مودې پر مهال د هجرت په تاتوبي کې پر مخاطبینو د حق وضاحت هم کوي او پرده ایمان راوړونکي تر روزنې، سپېڅلتیا او تزکیې وروسته د حق او باطل د جګړې لپاره هم چمتو کوي. د هجرت په تاتوبي کې خپل ځواک داسې پیاوړی کوي چې په مرسته یې د منکرینو ریښې او د حقپالو د بریا جګړه ترسره کړای شي. د دې ټول بهیر پایله دا راوزي چې د رسول مخالفین او ملاتړي داسې څرګندېږي چې له الهي سنت سره سم تر پرېکړې وړاندې هره ډله له خپلو ټولو ځانګړتیاوو سره بېخي بېله ښکاري. له قرآنه معلومېږي چې دواړو غاړو ته عموما دریو ډوله خلک وي: په مخالفینو کې عناد درلودونکي، فرصت غوښتونکي او بې پروا. په ملاتړو کې لومړني مومنان (سابقون الاولون) په ښه طریقه پیروي کوونکي، کمزوري او منافقین.

له عناد کوونکو څخه مراد هغه کسان دي چې د دعوتي اغېز له څرګندېدو سره په ډاګه او پوره شور د هغه مقابلې ته درېږي، د دوی د مخالفت علت جاهلي تعصب هم کېدای شي او حسد، تکبر و ګټې هم. د مخالفت دا دریې لاملونه د نوعیت له مخې یو ډول مګر د خپل حقیقت له مخې بېخي بېل دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لومړی لامل په عمومي ډول هغه کسان مقابلې ته هڅوي چې د خپلې زمانې له جاهلیت سره پوره اخلاص ولري او د هغه نظام ربنتیې خادمان وي، دوی د رسول دعوت د خپل نظام او د هغه په شالید کې د موجودو پلرنیو دودونو لپاره یوه ننګونه بولي او د هغه مقابلې ته راځي. څرنګه چې د دوی مخالفت د قومي تعصب له کبله وي له همدې کبله پکې سپکاوی او رذالت نه وي. دوی که مخالف پاتېږي نو د ابو جهل په څېر د قوم پالنې له پوره ولولې سره مخالف وي او که ایمان راوړي نو د عمر او حمزه په څېر د زړه له اخلاص او صداقت سره ایمان قبلوي.

دویم لامل عموما هغه کسان عناد ته هڅوي چې د وخت په اداره کې نسل پر نسل د دیني یا دنیوي واک څښتنان پاتې شوي وي، دوی له مشرتوب او رهبري سره داسې عادي وي چې د هیڅ رسول مشرتوب او رهبریت منل ورته ممکن نه وي او حتمي هڅه یې دا وي چې حق د ځان تابع کړي. د رسول الله ﷺ په زمانه کې همدا کسان وو چې ویل یې: که الله خپل حق نازلولای نو ولې یې د طایف او ام القرى پر یوه مشر نه نازلاوه؟.[7] یهودو هم له رسول الله ﷺ سره پر همدې بنسټ مخالفت وکړ.[8] د عیسی علیه السلام په زمانه کې د بني اسرائیلو مذهبي مخکښان، فقهاء او ظاهر پال پر همدې بنا د ایمان له نعمت څخه بې برخې شول او د ده دا خبره په بشپړ ډول پرې صادقه شوه چې د ستنې په سپم د اوښ ننوتل تر دې ډېر اسان دي چې شتمن د الله پاچاهي ته داخل شي.[9] دا ډول کسان په پیل کې رسول او د هغه دعوت دواړه سپک ګڼي او له پامه یې غورزوي خو کله چې وینې پر خلګو یې اغېز زیاتېږي نو د حسد په اور سوځي او هر هغه څه کوي چې په دې نړۍ کې یې حاسدین د خپلو مخالفینو په وړاندې ترسره کوي.

درېیم لامل په عمومي توګه هغه کسان مخالفت ته چمتو کوي چې له خپلو شخصي ګټو پرته هیڅکله د بل شي لیدو ته چمتو نه وي، دوی په هره چاره کې د خپل شخصیت غلامان، پر هر ګام د برخې غوښتونکي او د هر شي د حق و باطل په پرېکړه کې د خپل ځان په پاملرنه عادي وي، نو د همدې اخلاقي ټیټوالي او رذالت له کبله صرف خپلو ګټو ته وفادار پاتېدای شي. د دوی لپاره د رسول دعوت منل او ستونزې یې زغمل په هیڅ ډول

---

[7] الزخرف ۴۳ : ۳۱

[8] البقرة ۲ : ۱۰۹

[9] متی ۱۹ : ۲۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ممکن نه وي، د رسول الله ﷺ د دعوت په مقابل کي د ابو لهب چلند يې يوه بېلګه ده.

له فرصت غوښتونکو څخه مراد هغه خلګ دي چې دوی ته تر يوه بريده د نبوي دعوت حقانيت څرګند وي، مګر دوی صرف د يوه شي د حقانيت منلو پر ځای دې ته انتظار وي چې راتلونکی د دې دعوت په اړه څه پربکړه کوي، ځکه نو د رسول په وړاندې ډېر فعاليت نه ښيي مګر تل د مخالفينو ملاتړي او شپه او ورځ په دې اخته وي چې د حق او باطل تر منځ د روغي - جوړې کوم شکل پيدا شي او په دې معامله کي د کومې پربکړې زحمت ونه زغمي. دا ډول کسان د ازموينې او اخ و ډب په زمانه کي د رسول په اړه ځينې ښې خبرې هم کولای شي او کله - کله د هغه په هکله خپله خوښي هم ښودلای شي، په زړه کي يې د بريا غوښتونکی هم کېدای شي او ځينې وختونه يې مالي يا اخلاقي مرسته هم کولای شي. خو هغه مهال يې منل او د هغه لپاره د ستونزو زغملو ته چمتو کېدل ورته په هيڅ ډول ممکن نه وي.

له بې پروا څخه مراد هغه عام وګړي دي چې له ذهني او مالي پلوه د موجوده نظام تابع او په هره معامله کي د خپل وخت د مذهبي مخکښانو او سياسي رهبرانو ملاتړي وي او دوی هم د نبوي دعوت په چارو کي د هغوی په اشارو ناڅي او د دوی له خوا يوه اقدام ته منتظر وي. په لومړی مرحله کي يې عموما تګلاره همدا وي، خو تر دې وروسته چې کله د دوی مشران د رسول په مخالفت کي ميدان ته را کښته کېږي نو د علم او استدلال او سبرت و کردار له پلوه چې د دوی د مشرانو او رسول تر منځ کوم تو پير وي هغه بېخي څرګندېږي. په دې وخت کي دوی پر خپلو مشرانو بد ګومانه کېږي او له هغوی څخه په بېلبدو د رسول لور ته مخ کوي. همدا بدلون د دوی ځيني زړور او د لوړ کردار څښتنان ګام اخيستلو ته چمتو کوي او په نتيجه کي يې يو په بل پسې له رسول سره يو ځای کېږي.

په قرآن کي د لومړنيو (سابقين اولين) اصطلاح د هغو خلګو لپاره کارول شوې چې د حق دعوت په اوربدو د هغه پر لور ورځي او هرې نتيجې ته له پام پرته د خپل هر څه قربانولو ته چمتو کېږي. دا هغه کسان دي چې فطرت يې نېک، عقل يې وېښ، زړه يې ژوندی، سترګې يې پرانيستې، غوږونه يې اوربدونکي او دماغ يې د هرې سمې خبرې فهم او منلو ته بشپړ تيار وي. دوی شيانو ته د عقل او فطرت په رڼا کي ګوري او کله چې يې پر صحت ډاډه شي نو له هر ډول احساساتو او تعصب پرته او له ټولو خطرونو په بې پروايي په څرګنده هغه منې او اعتراف يې کوي. دوی د سبرت او کردار له مخې د خپل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قوم منتخب ګلونه او په خپله سیمه کې د همالیې او الوند غرونو په څېر اوچت وي. د دوی لپاره د حق دعوت نا اشنا شی نه بلکې د دوی د زړه اواز، د وجدان ږغ او د روح نغمه وي. دوی همدې ته ستر ګې پرلار وي چې یو څوک پاځېږي او د هغه د ملګرتیا لپاره په خپل زړه او ځان د هغوی خدمت ته حاضر شي. کله چې رسول دخپل دعوت اواز اوچتوي نو دوی نه پلمې جوړوی، نه یې مرتبې او نسل ته ګوري، نه یې تېر او حال شني، نه د شخصیت پلمې تراشي، نه معجزې غواړي، نه دلیلونه وړاندې کوي او نه اوږده بحثونه کوي، بلکې سمدستي د دې په ویلو چې ما فکر وکړ همدا مي په زړه کې دي د هغه دعوت ته هرکلی وایي او له دې هوډ سره اوږه په اوږه د ده په څنګ کې درېږي چې هیڅکله به تر پې شا ته نه وي.

ولو قطعوا رأسی لدیک واوصانی

په احسان پیروي کوونکي هغه کسان دي چې د لومړنیو تر اقدام وروسته د هغوی په لیدو حق ته متوجې کېږي، دوی له عقلي او اخلاقي پلوه د لومړي صف کسان نه وي خو په دویم کې واقعا تر ټولو غوره وي. هغوی که د لومړنیو په څېر په خپله نه وړاندې کېږي نو د خپلو مخکښانو د جرأت و عزیمت، د حق لپاره د هغوی په مخته تګ او د دې لارې په ستونزو کې د هغوی د ثبات په لیدو ورته شاتګ هم ممکن نه وي. بې شکه د حق دعوت عقلي او استدلالي قوت یې دومره نه اغېزمنوي، مګر د مېړنیو ولولې او هوډ یې ژر یا وروسته حتما تابع کوي خو بیا هم رسول د دوی په معامله کې یو څه هڅوته اړوي. د حق په اړه چې د دوی په زړه کې کومې پوښتنې پیدا کېږي او یا یې نور پیدا کولای شي که هغه ټولې لرې شي او مخته یې د عزم او همت ځینې بېلګې وړاندې شي نو د فطرت زنګ یې له منځه ځي. تر دې وروسته که الله توفیق ورکړ نو د رسول ملاتړي او په هره ازمویښه کې یې له پوره اخلاص او حوصلې سره ملګري کېږي.

د کمزورو او منافقینو تر منځ صرف ظاهري ورته والی وي، د خپل نېت او ارادې له مخې ډېرې سره بېل وي ځکه یې نو باید اوصاف او ځانګړتیاوې هم د غسي جلا - جلا وبلل شي.

له کمزورو څخه هغه کسان مراد دي چې د رسول دعوت په یوه نه یوه مرحله بلکې ډېر وختونه په پیل کې مني او اراده یې همدا وي چې په خپل ژوند کې به یې غوښتنې پوره کوي، مګر د خپل ارادې ځواک د کمزورتیا له امله بیا - بیا لوېږي او پاځېږي مګر د دوی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ښېګڼه دا وي چې کله هر ځل ولوېږي نو د خپلې توبې او استغفار په وسیله خپلې خطاوې له منځه وړي او په هر حالت کې د حق پر لاره خپل یون ته دوام ورکوي.

د دې بر خلاف منافقین هغه کسان دي چې کله د عارضي اغېز پر بنسټ او ځینې وختونه تر ډېر غور وروسته د فساد په نیت د رسول ملاتړ کوي، په لومړي سر کې تل د مُذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَلِكَ لاَ إِلَى هَـؤُلاء وَلاَ إِلَى هَـؤُلاء [10] انځور وي او په دویم صورت کې د مومنانو تر منځ د دښمنانو جاسوسي کوي او رول یې هغه وي چې له دا ډول جاسوسانو څخه یې تمه کېدای شي.[11]

د رسول په مخاطبینو کې چې کله د ملاتړو او مخالفینو دواړه لوري په بشپړ ډول څرګندېږي او رسول هم د خپلو ملګرو په بدرګه جګړې ته چمتو کېږي نو الهي محکمه خپله پرېکړه اوروي، د رسول الله ﷺ په دعوت کې چې دا پرېکړه څرنګه صادره شوه تفصیلات یې دادي:

۱) د قریشو په مشرۍ ټول سرکښان په بدر کې ووژل شول، یوازې ابو لهب وو چې له دې عذاب څخه یې د ځان ساتنې هڅه وکړه او په جګړه کې شامل نه شو. قرآن یې په اړه اعلان کړی وو چې دی به هم حتما له خپلو ملګرو او ملاتړو سره هلاک کېږي.[12] په بدر کې د قریشو تر ماتې اووه ورځې وروسته دا وړاندوینه ټکي په ټکي پوره شوه او د قریشو دا مشر دیوې ناروغۍ له کبله داسي له منځه ولاړ چې تر مرګ وروسته هم تر درو ورځو څوک ورنغی ان تر دې چې مړی یې وروست او بد بویي یې خپره شوه او بالاخره دېوال ته ځېرمه په ډبرو پټ شو.

۲) په احد او احزاب کې د مسلمانانو تر سپېڅلتیا او تزکیې وروسته د عربي مشرکینو ټولو فرصت غوښتونکوا و بې پروا کسانو ته ضرب الاجل ورکړل شو چې د دوی لپاره څلور میاشتې وخت دی، تر دې وروسته به داسي خوارووونکی عذاب پرې

---

[10] النساء ۴ : ۱۴۳ (تر منځ ځوړند وي، نه دې خوا ته وي نه هغې خوا ته)

[11] د نبوي مخاطبینو د ځانګړتیاوو دا بیان د استاذ امام امین احسن اصلاحي له کتاب دعوت دین اور اس کا طریقہ کار څخه اخیستل شوی دی.

[12] اللهب ۱۱۱ : ۱-۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلط شي چې په دې دنيا کې به ورځخه د وتلو هيڅ لار ونه شي موندلای.[۱۳]

۳) په نهم هجري کې د حج اکبر پر مهال اعلان وشو چې د حرامو مياشتو تر تېرېدو وروسته چې مسلمانان دغه مشرکين هر ځای ومومي ودي وژني، مګر دا چې ايمان راوړي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي. له دې څخه يوازې هغه کسان مستثنا دي چې رسول ورسره ټړونونه کړي، د دې ټړونونو په اړه لاربنوونه وشوه چې تاکلې موده دې يې پوره شي. د دې بنکاره معنا دا وه چې د مودې تر پوره کېدو وروسته به دا ټړونوال هم له هغه برخليک سره مخ کېږي چې د مشرکينو لپاره تاکل شوی دی.[۱۴]

۴) د اهل کتابو د ټولو ډلو په اړه امر وشو چې دوی به د جزيې په ورکړه د مسلمانانو تر لاس لاندې ژوند کوي، دوی ته وويل شول چې که يې د الله پر بکړه ونه منله نو د رسول او د هغه د ملګرو تورې به دوی هم دوزخ ته ورسوي.[۱۵]

۵) منافقينو ته خبر ورکړل شو چې که توبه وباسي نو په همدې کې يې خير دی، که نه دوی به هم ژر له هغه برخليک سره مخ شي چې د منکرينو لپاره تاکل شوی دی.[۱۶]

۶) په مخلصينو کې چې کومو کسانو تېروتنې کړې وې هغوی تر يو څه سزا وروسته وبخښل شول.[۱۷] او کمزورو مسلمانانو ته زېری ورکړل شو چې که د توبې او اصلاح پر دريځ ودرېږي نو هيله ده چې الله به دوی هم وبخښي.[۱۸]

۷) د لومړنيو په مشرۍ د عربي خاورې واک او د حرم سرپرستي مسلمانانو ته وسپارل شوه او په دې توګه د الله هغه ژمنه پوره شوه چې د دوی لپاره په سورت النور کې داسې بيان شوې:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا

"په تاسو کې چې کومو خلکو ايمان راوړ او نېک اعمال يې وکړل له هغوی سره د الله وعده

---

[۱۳] التوبة ۹: ۱، ۲
[۱۴] التوبة ۹: ۳-۵
[۱۵] التوبة ۹: ۲۹
[۱۶] التوبة ۹: ۷۴، ۱۰۱
[۱۷] التوبة ۹: ۱۱۸
[۱۸] التوبة ۹: ۱۰۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (النور ۲۴: ۵۵)

ده چې دوی ته به په دې هیواد کې داسې واک ورکړي لکه څرنګه چې یې تر دوی وړاندې کسانو ته ورکړی وو او د دوی هغه دین به پیاوړی کړي چې ده ورته خوښ کړی او وېره به یې په امنیت بدله کړي، دوی به صرف زما عبادت کوي، له ما سره به هیڅ شی نه شریکوي او څوک چې تر دې وروسته بیا منکر شي نو همدوی به نافرمان وبلل شي."

د ابراهیم د اولادې دعوت

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ (الحج ۲۲: ۷۸)

"او د الله په لار کې داسې جهاد وکړئ چې څرنګه یې حق دی، ده تاسو (د دې مسئولیت لپاره) غوره کړي یاست او پر تاسو یې د دین په اړه هیڅ تنګي نه ده راوستې، ستاسو لپاره یې د خپل پلار ابراهیم طریقه خوښه کړې، ده پر تاسو د مسلمان نوم اینبی تر دې وړاندې هم او د دې (وروستي رسالت) پر مهال هم، د دې لپاره (یې غوره کړي یاست چې) رسول پر تاسو شاهد وي او د نړۍ پر پاتې خلګو تاسو (د دې دین) شاهدان شئ."

دا د دعوت هماغه شاهدي ده چې تر دې وړاندې یې د رسول په دعوت کې یادونه شوې ده، د سورت الحج په دې ایت کې قرآن ویلي چې الله د ابراهیم اولاده د همدې شاهدۍ لپاره هغه ډول غوره کړې او د هغه د تقاضاوو پوره کولو لپاره یې ورته د هڅو امر کړی لکه په انسانانو کې چې ځینې ستر شخصیتونه د نبوت او رسالت لپاره غوره کوي، ده ویلي:

إِنَّ اللّهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ (آل عمران ۳: ۳۳)

"الله ادم، نوح او د ابراهیم و عمران کورنۍ ته پر دنیا والو ترجیح ورکړه (د هغوی د هدایت لپاره یې) غوره کړل."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رسول د دعوت تر عنوان لاندې مو وویل چې د اشاهدي یوازې بلنه او تبلیغ نه دی بلکې له دې سره د الهي پرېکړې ظهور هم دی. په قرآن کریم او نورو اسماني کتابونو کې چې یې کوم تاریخ بیان شوی لنډیز یې دادی چې په لومړۍ ځل د نوح علیه السلام په دعوت کې څرګنده شوه. تر دې وروسته الله د نړۍ ټولو قومونو ته وخت پر وخت خپل رسول د همدې پرېکړې څرګندولو لپاره ورلېږلی دی. تر دې چې ابراهیم علیه السلام رسول شو او الله پرېکړه وکړه چې نور به دا دنده د یوې ډلې په توګه د ده اولادې ته هم ورکول کېږي او د دوی په وسیله به ټولې نړۍ ته د دین پیغام رسول کېږي. په قرآن او بایبل دواړو کې د همدې نړۍ والې پرېکړې تاریخ په ډېر تفصیل سره بیان شوی، قرآن د تین او زیتون، طور سنین او د مکې امن ښار په قسم کې د همدې یادونه کړې ده. زیتون هغه غر دی چې له هغه د عیسی علیه السلام تر پورته کېدو وروسته یې پر منکرینو تر قیامته د عذاب اعلان وشو او په بني اسرائیلو کې د هغه د منونکو یوه نوې ډله نصارا را منځ ته شول. تین پر همدې غره پروت یو کلی دی.[19] د طور غره په اړه څرګنده ده چې بني اسرائیلو د یو امت په توګه خپل ژوند له همدې غره پیل کړ، له ام القری څخه بني اسماعیلو د خپل ملي ژوند بنسټ کېښود او د الله پر ځمکه د هغه د عبادت لومړني مرکز بیت الحرام چارې دوی ته وسپارل شوې. له دې څخه په ډاګه شوه چې دا درې ځایونه د ابراهیم د اولادې لپاره د الهي پرېکړې ځایونه دي، قرآن یې د شاهدۍ په وړاندې کولو ویلي چې په دنیا کې د دې جزا او سزا تر لیدو وروسته هغه څه شی دی چې په قیامت کې د الله جزا او سزا دروغ بللای شي؟، ده ویلي:

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ * وَطُورِ سِينِينَ * وَهَذَا الْبَلَدِ الأَمِينِ* لَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ * ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ * إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ * فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ * أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ* (التين)

"تین او زیتون شاهدي ورکوي او طور سنین و (ستاسو) دا امن ښار مکه هم چې انسان مو (پر دې ځایونو) پیدا کړ، نو هغه وخت یې جوړښت ډېر ښه وو، بیا مو په ذلت اخته کړ داسې چې په خپله په ذلت کې لوېدونکی شو، پاتې شول هغه چې پر ایمان پاتې دي او نېک اعمال یې کړي نو د دوی لپاره داسې اجر دی چې هیڅکله به ختم نه شي، (اې رسوله!) تر

[19] په انجیل کې یې د Beth Phage په نوم یادونه شوې ده، په دې کې Phage هماغه Fig دی چې په عربي کې ورته تین وایي. په لوقا (۱۹: ۲۹) کې دي چې کله عیسی علیه السلام بیت المقدس ته راغی نو ښار ته تر ننوتلو وړاندې همدلته تم شو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې وروسته کوم شی دی چې د جزا د ورځې په اړه تا دروغجن بولي؟ (له دوی وپوښته چې) ایا الله تر ټولو فیصله کوونکو ښه فیصله کوونکی نه دی؟."

په سورت البقره کې الله له همدې وجې بني اسماعیل منځنۍ ډله امة وسطا بللي، د دوی یوه لوړ ته الله او د هغه رسول او بل لوړ ته ناس یعني د دنیا ټول قومونه دي او ویلي یې دي چې رسول پر تاسو کومه شاهدي ورکړې تر دې وروسته به یې پر نوره نړۍ تاسو ورکوئ.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا (البقرة ۲ : ۱۴۳)

"او همدا سې مو تاسې یوه منځنۍ ډله کړاست چې تاسو پر خلګو (د حق) شاهدي ورکوونکي شئ او رسول پر تاسو شاهد شي."

همدا خبره په آل عمران کې داسې بیان شوې:

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ (آل عمران ۳ : ۱۱۰)

"تاسو هغه غوره ډله یاست چې پر خلګو (د حق د شاهدي لپاره) را ایستل شوي یاست (ځکه نو) تاسو (یو بل ته) د نېکۍ امر کوئ، له بدۍ یې را ګرزوئ او پر الله ربښتنی ایمان لرئ."

د ابراهیم د اولادې همدا مسئولیت دی چې که یې دوی پوره کړي او له څه کمبوت او زیادت پرته یې په بشپړ ډول د نړۍ ټولو ملتونو ته ورسوي نو د نه منلو په صورت کې به الله پر دې قومونو بری ورکړي او د بې لارې کېدو په صورت کې به د هماغوی په وسیله د ذلت او محکومیت په عذاب اخته شي. بني اسرائیل او بني اسماعیل دا مهال له همدې عذاب سره مخ دي.

په سورت الزمر کې چې د قیامت د جزا او سزا پر مهال د کومو شاهدانو د را بللو بلنه شوې زمونږ په نزد له هغو څخه هم مراد د ابراهیم علیه السلام همدا اولاده ده، الله چې په دنیا کې دوی ته د شاهدي کومه دنده ورکړې پر همدې بنسټ به دوی په قیامت کې هماغسې د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شاهدی لپاره را وبلل شي لکه انبیاء چي به را بلل کېږي. تر ټولو وړاندي به له دوی پوښتنه وشي چي د حق په اړه يې چلند څه وو او دوی ته چي تر خلګو د هغه د رسولو کوم مسئولیت سپارل شوی وو ایا واقعا يې ترسره کړ؟. الله ویلي:

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَن شَاء اللّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ * وَأَشْرَقَتِ الأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاء وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ*

(الزمر ۳۹ : ۶۸، ۶۹)

" او په دې ورځ به صور پو شي نو په اسمانو او ځمکه کي چي څوک دي ټول به بې سده شي پرته له هغو چي ستا د رب اراده وي، بیا به دویم ځل صور پو کړل شي نو ناڅاپه به را پاڅي او ګوري به، ځمکه به په دې ورځ د خپل رب په رڼا روښانه شي، د اعمالو کتاب به کېښودل شي، ټول رسولان او هغه کسان به را وغوښتل شي چي د شهادت دنده ور سپارل شوې وه او د خلګو تر منځ به په بشپړ ډول له حق سره سمه پرېکړه وکړي داسي چي پر دوی به هیڅ ظلم ونه شي."

د علماوو دعوت

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ (التوبة ۹ : ۱۲۲)

" او د ټولو مسلمانانو لپاره خو دا ممکنه نه وه چي دې کار ته وتلي وای، مګر داسي ولي ونه شول چي د دوی له هرې ډلې یو څه کسان راغلي وای، په دین کي يې پوهه موندلې وای او (د پوهي تر موندلو وروسته) چي کله خپل قوم ته ور ستنېدای نو هغوی يې وېرولي وای، ښایي دوی ځان ساتلی وای."

د دعوت دا امر د علماوو لپاره دی، الله ویلي چي دا کار د ټولو مسلمانانو لپاره ممکن نه دی مګر د دوی په هره ډله کي باید حتما ځینې کسان د دې لپاره ووزي چي دین زده کړي او خپل قوم د یو وېرووونکي په توګه د الله له عذاب څخه وژغوري.

که د سورت التوبې پر دې ایت غور وشي نو لومړی خبره ترې دا معلومېږي چي په دې کي د دعوت کوم حکم بیان شوی دی الله هر مسلمان پرې نه دی مکلف کړی، د ایت پیل په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې جمله شوی چې د ټولو مسلمانانو لپاره دې کار ته تګ ممکن نه وو او دا یو ښکاره حقیقت دی. ټول خلګ نه له یو ډول وړتیا سره پیدا شوي او نه په دې نړۍ کې هغوی ته یو ډول فرصتونه برابرېږي، د یو دیني عالم په توګه د خپل قوم وېرولو هیله له هر مسلمان څخه نه شي کېدای. الله په دې ایت کې دا خبره په ډاګه کړه چې د دې کار لپاره باید ټول مسلمانان نه بلکې له هرې ډلې یو څو کسان ووزي.

دویمه خبره دا ثابته شوه چې کوم څوک دې کار ته د وتلو اراده کوي د هغه لپاره اړینه ده چې لومړی ژور دیني علم ولري، د دې لپاره په ایت کې د (ليتفقهوا في الدين) الفاظ استعمال شوي دي. د دې معنا داده چې هغوی په دین کې پوهه تر لاسه کړي، له فهم څخه یې برخمن شي او په حقیقت یې وپوهېږي، په ځندو سترګو خلګو ته لار ور ښوونکی نه وي، بلکې تر کار پیلولو وړاندې دین داسې زده کړي لکه څرنګه چې یې د زده کړې حق دی او دا شی تر رسول الله ﷺ وروسته له قرآن او سنت سره د مستقیمې اړیکې په وسیله پیدا کېدای شي ځکه نو اړینه ده چې د دې کار پیلوونکي د قرآن او سنت په علومو کې ژوره پوهه تر لاسه کړي، څو له پوره باور سره د خلګو په مخ کې د دین شرح او وضاحت وکړای شي.

درېیمه خبره دا ثابته شوه چې دوی د علم تر زده کړې وروسته د دعوت کوم مسئولیت ترسره کوي هغه د خپل نوعیت له مخې یوازې انذار دی، یعني دا چې خلګ د اخرت د تیاریو لپاره را وېښ شي. که غور وکړئ نو دا عیني هماغه کار دی چې د الله نبي او رسول یې په خپل قوم کې کوي، له دې معلومه شوه چې تر رسول الله ﷺ وروسته د انذار دنده د ده د امت علماوو ته لېږدول شوې او د نبوت له ختمېدو وروسته به نور تر قیامته دا مسئولیت دوی ترسره کوي.

څلورمه خبره دا ثابته شوه چې د دې دعوت د هر داعي اصل مخاطب د هغوی خپل قوم دی ځکه یې نو ویلي: وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيْهِمْ (او دوی چې کله را ستانه شي نو خپل قوم ووېروي) د ایت همدا برخه د دې دعوت دایره تشخیصوي او دې ته هیڅ امکان نه پرېږدي چې داعي د اصلي حقدارانو په خوشي کولو دا شتمني پر نورو ووېشي.

پنځمه خبره دا ثابته شوه چې د دې دعوت هدف باید په هر حالت کې دا وي چې خلګ د الله په اړه خبردار شي، په ایت کې همدا مقصد د لعلهم يحذرون یعني څو ځان وساتي په الفاظو بیان شوی دی، معنا خلګ احتیاط وکړي چې د دوی په فردي او ټولنیز ژوند کې د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دین کومې غوښتنې ورسره تړلې د هغو په اړه سستي، بې پروايي، بغاوت او سرکښي په دنیا او اخرت کې د دوی لپاره د تباهۍ سبب ونه ګرزي. د نړۍ مشرتوب نېکانو ته وسپارل شي، دین برلاسی وي او د الله هره خبره لوړتیا پیدا کړي، بې شکه دا د هر داعي هیله کېدای شي او باید وي، مګر د دې ایت له مخې د دعوت اصل هدف همدا دی چې خلګ د اخرت له عذاب څخه وژغورل شي او په قیامت کې له هیڅ رسوایي سره مخ نه شي.

له دې څخه معلومه شوه چې د سورت التوبې دا ایت د دیني پوهې درلودونکي په دې مکلف ګرزوي چې د وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ[20] په احساس سره دي له خپل توان او استعداد سره سم د امت په هر کلي او هر قوم کې دا دعوت ژوندی وساتي، خپل قوم او د هغوی د پرېکړو واک درلودونکي دي له پوره خواخوږۍ او زړه سوي سره د دوی په دندو او مسئولیتونو خبر کړي، د دوی لپاره دي دین په هره کچه بیان او تشریح کړي، له هره اړخه دي حق ته را وبولي، د مخ اړونې په نتیجو دي خبر کړي او څو چې ژوندي وي په همدې پایلو دي خبروي ان د ظالمو واکمنو ظلم دي یې هم له دې کار څخه منعه نه کړای شي. د دیني علماوو لپاره همدا تر ټولو ستر جهاد دی چې تل یې په دې دنیا کې کولای شي.

د امت په تاریخ کې چې د دعوت او عزیمت په نوم کوم کار شوی د هغه ماخذ په حقیقت کې همدا ایت دی، دا د الله لویه پېرزوینه ده چې زمونږ د تاریخ هیڅ دور له هغو خلګو خالي نه دی پاتې شوی چې د بدعت او ضلالت په دې پورې پرپوړ تیارو کې یې د خپل څراغ رڼا تېزه کړې، د لارې پر سر درېدلي او د نړۍ له هر څه څخه په بې پروایي یې خلګو ته د حق دعوت ورکړی دی، هغوی د دې هیڅ پروا نه کوي چې خلګ څه غواړي او د کومو شیانو غوښتونکي دي؟، د دوی ټوله مینه صرف له حق سره وي او د خپل زړه و دماغ ټول ځواکونه پر همدې مصرفوي نړۍ یې په غوښتنو خبره کړي. دی له خلګو هیڅ نه غواړي بلکې له خپل رب څخه چې څه تر لاسه کوي په هغې پر سخاوت سره یې د دوی په ځولۍ کې اچوي ځکه نو په هر وخت کې هغه د میر شخصیت، د وجود خلاصه او د ځمکې مالګه ګرزي.

د دې دعوت همدا نوعیت دی چې هغه ته په پام باید دې څو خبرو ته حتما پام وشي:

---

[20] الحج ۲۲ : ۷۸ (د الله په لار کې داسې جهاد وکړئ لکه څرنګه چې یې حق دی)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اول دا چې د دې کار لپاره را پاڅېدونکی له کوم حق سره رائي باید پر هغه یې خپل ایمان ډېر پوخ وي، دوی چې خلکو ته هره خبره وړاندې کوي باید زړه او دماغ یې داسې پرې ډاډه وي چې دوی په خپله هم احساس کړي چې دا یې د زړه او از او د روح ږغ دی چې پر خوله یې راغلی. دې میدان ته په داسې حال کې را کښته شي چې ټول شخصیت یې الله ته سپارلی وي او څه ته چې خلک را بولي د هغه په اړه تر هر څه لومړی په خپله دا اعلان وکړي چې د زړه له تله او پوره وجود سره یې وربانديې ایمان راوړی دی:

قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّـــهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ* (الأنعام ۶ : ۱۶۲، ۱۶۳)

" ووایه: زما لمونځ او زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ د نړۍ والو د رب الله لپاره دي، هیڅ شریک نه لري او ما ته یې همدا امر کړی او زه اول مسلمان یم."

دویم دا چې د دوی په قول او عمل کې باید له هیڅ اړخه تضاد نه وي، دوی چې د کوم څه بیرغ پورته کړي تر ټولو اول یې په خپله وکړي او خلکو ته چې د کوم حق دعوت ورکوي د دوی عمل یې شاهد وي. قرآن په دې اړه ډېر واضح دی چې دا د بې عمله واعظانو نه بلکې هغو هوډمنو کارندی چې مخاطب ته تر نصیحت وړاندې خپل ځان اصلاح کړي او همدا یې اړ باسي چې ډېر په ډاګه او روستې شکل هغه حق غوره کړي چې د دوی د رب له لوري ده ته واضح شوی. قرآن د یهودي علماوو په غندنه ویلي چې تاسو د دین او شریعت عالمان یاست او نه پوهېږئ چې د عقل او نقل له مخې ستاسو مسئولیت تر نورو زیات دی، مګر ډېر افسوس چې عوامو ته په ډېر زور او شور د حقوقو او دندو د ترسره کولو سپارښتنه کوئ خو خپل ځانونه مو له یاده ایستلي:

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنـــتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ (البقرة ۲ : ۴۴)

" ایا تاسو خلک په نېکي امر کوئ او خپل ځانونه هېروئ؟ په داسې حال کې چې کتاب لولئ، ایا له عقله کار نه اخلئ؟."

درېیم دا چې د حق په معامله کې هیڅکله له سستي کار وانه خلي، د دین هر وړوکی حقیقت چې ورته څرګند شي له زړه یې ومني، په ژبه یې شاهدي ورکړي او د ملامتوونکو له ګوت نیونې پرته یې د نړۍ مخ ته له څه زیادت او کمبوت پرته وړاندې کړي، په هیڅ حال کې یې زیاتونې او ترمیم ته چمتو نه وي، ټول حق چې په قرآن او سنت څه ډول ثابت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی له پوره هدایت او ټولو احکامو سره یو ځای یې خلکو ته بیان کړي او هر هغه شی چې په یوه ډول له دې سره مخالف وي له څه شک پرته رد کړي. له دوی څخه چې د دین په اړه هره پوښتنه وشي نو که په دین کې وي هیڅکله یې پټه نه کړي او هغه ډول یې بیان کړي چې څرنګه په حقیقت کې دی او په څه ډول یې دوی مني. مګر د دې معنا دا نه ده چې هره خبره دي له ځای او مناسبت پرته بیانوي، په دې کې شک نه شته چې حق باید تل په سمه طریقه، مناسب ځای او سم مخاطب ته بیان شي مګر د کومې شخصي ګټې، وېرې، تعصب او یا مصلحت پر بنسټ یې پټول او له شاهدی څخه یې ډډه دا هغه شیان نه دي چې لږ تر لږه یې د دې داعیانو لپاره په دین کې شونتیا ومنل شي.

د دې کار لپاره چې د الله کوم نبي را ولېږل شو د هغه په اړه الله د قانون په توګه دا خبره کړې چې الله د ده لپاره کوم حالات او کړاوونه تقسیم کړي دا د کوم زحمت لپاره نه دي. ځکه نو دوئ ته په کار ده چې خپل مسئولیت ملامتونکو ته له پامه پرته ترسره کړي او په دې معامله کې له الله پرته د هیچا پروا ونه ساتي:

مَّا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا * الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالَاتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا اللَّهَ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيبًا* (الأحزاب ٣٣ : ٣٨، ٣٩)

"او الله چې پر نبي څه فرض کړي په دې کې هیڅ تنګي نه شته همدا د هغو ټولو نبیانو په اړه د الله سنت دی چې وړاندې تېر شوي او د الله د پرېکړې لپاره یو وخت ټاکلی وو، هغه چې د الله پیغامونه یې رسول، له ده وېرېدل او له ده پرته یې له هیچا وېره نه وه، د حساب لپاره بس صرف الله کافي دی."

په سورت المایده کې یې رسول الله ﷺ ته خاص خطاب کړی ویلي یې دي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ* (المائدة ٥ : ٦٧)

"اې رسوله! پرته چې د خپل رب له لوري څه نازل شوي هغه په ښه ډول ورسوه او (په وه شه چې) که دې داسي ونه کړل نو د ده پیغام دې نه دی رسولی او (ډاډه اوسه چې) الله به تا له خلکو وساتي، بې شکه الله به دې کافرانو ته هیڅکله هدایت ونه کړي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څلورم دا چې قرآن دي د خپل انذار وسېله وګرزوي، ځکه د فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ [21] او وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا [22] په الفاظو قرآن د همدې امر کړی دی، رسول الله ﷺ پر همدې بنسټ د ټولې نړۍ لپاره نذیر دی او علماء په حقیقت کې د ده همدا انذار تر خلګو رسوي: تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا [23] همدا رازيې ويلي:

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ (الأنعام ۶ : ۱۹)

"او ما ته يې د دې قرآن وحي کړې چې زه يې په وسېله تاسو او هغه څوک هم ووېروم چې ور ورسېږي."

دولتي دعوت

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (آل عمران ۳ : ۱۰۴)

"او باید په تاسو کې ځینې کسان تاکلي وي چې نېکۍ ته بلنه کوي، په ښو چارو امر او له بدۍ منعه کوي (تاسو دې ته پام وکړئ) او (په یاد ولرئ چې څوک داسې وکړي) هماغوی به بریالي وي."

د دې ایت له الفاظو ښکاري چې مسلمانان يې په فردي توګه نه بلکې په ټولیزه ډول مخاطب دي ځکه نو دا حکم له واکمنو سره تړاو لري. الله ویلي چې که مسلمانان د ځمکې په یوه برخه کې سیاسي خپلواکي ولري نو له خپله منځه دي ځینې کسان پر دې کار وګومارې چې خلګ خیر ته را وبولي، له بدۍ يې منعه کړي او د ښو سپارښتنه ورته وکړي.

څرګنده ده چې دا مسئولیت په ځینو چارو کې د دعوت او تبلیغ په وسېله او په ځینو چارو کې به د قانون په زور پوره کېږي، د لومړي صورت لپاره د جمعې منبر دی چې په

[21] ق ۵۰ : ۴۵ (نو د دې قرآن په وسېله هغو خلګو ته نصیحت وکړه چې زما له وعید څخه وېرېږي)
[22] الفرقان ۲۵ : ۵۲ (په همدې وسېله له دوی سره په پوره طاقت جهاد وکړه)
[23] الفرقان ۲۵ : ۱ (هغه ذات ډېر برکتمن دی چې پر خپل بنده يې دا فرقان نازل کړ چې د ټول عالم لپاره نذیر شي)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدې موخه د چارواکو لپاره ځانګړی شوی دی او د دویم صورت لپاره د پولیسو اداره ده چې د مسلمانانو په دولت کې د همدې مسئولیت پوره کولو لپاره را منځ ته کېږي او له خپلو مشخصو حدودو سره سم تل د دې کار په ترسره کولو بوخت وي.

له دې حکم څخه معلومه شوه چې د قرآن له مخې په مسلمانانو کې د حکومت تر جوړښت وروسته دا مسئولیت د دوی چارواکو ته متوجې کېږي چې خلګ نېکۍ ته را وبولي، له بدو یې منعه کړي او د ښو چارو سپارښتنه ورته وکړي. پر دوی لازمه ده چې له دولتي نظم سره د ټرلو نورو طبعي مسئولیتونو له تر څنګ خپله دا دنده هم حتما پوره کړي:

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلاَةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الأُمُورِ (الحج ۲۲ : ۴۱)

"او دا (مومنان) هغه خلګ دي چې که موږ په ځمکه کې واک ورکړو لمونځ به کوي، زکات به ورکوي، په ښو چارو به امر کوي او له بدو به منعه کوي."

فردي دعوت

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ (التوبة ۹ : ۷۱)

"مومنان نارینه او مومنې ښځې د یوه بل دوستان دي، یو بل په ښو امر کوي او له بدو یې را ګرزوي."

په دې ایت کې پر ښو د سپارښتنې لپاره د امر لفظ راغلی دی، په عربي ژبه کې دا د حکم په څېر د سپارښتنې او نصیحت، مشورې او ترغیب په معنا هم راځي. د وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ په الفاظو سره د ایت پیل د دې دلیل دی چې دلته یې معنا همدا ده، الله ویلي: په انساني فطرت کې چې کوم څه د خیر په توګه پېژندل کېږي د هغو سپارښتنه وشي او کوم څه چې فطرت نه خوښوي خلګ ترې منعه شي. په سورت العصر کې همدا مضمون له یوه بل اړخ څخه د تواصوا بالحق او تواصوا بالصبر په الفاظو بیان شوی، ویلي یې دي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَالْعَصْرِ * إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ* (العصر ۱۰۳)

"زمانه شاهدي وركوي چې دا انسان به تاواني شي مګر هغه نه چې ايمان يې راوړ او نېک اعمال يې وکړل، يوه بل ته يې د حق او پر حق د صبر نصيحت وکړ."

له دې څخه معلومه شوه چې دا د هر فرد دنده او د ايمان له بنسټيزو غوښتنو څخه يوه ده، موږ عالمان يو او که عام خلګ، په خپل کلي کې اوسو او که په ځنګل کې، د نا مسلمانو په دولت کې يو او که د مسلمانانو تر دولتي چوکاټ لاندې د وګړو په توګه ژوند کوو. دا مو په هر حالت کې مکلفيت دی، که مومن نېک اعمال وکړي او د ايمان دا تقاضا هم پوره کړي نو قرآن ضمانت ورکړی چې په دنيا او اخرت کې به د الله له عذاب څخه خوندي وي او د جنت تلپاتې پاچاهي به تر لاسه کړي.

په دې ايا تونو کې چې د دې کار کوم شکل بيان شوی له هغه څخه دا هم معلومه شوه چې د دعوت په دې بڼه کې بلونکی او را بلل کېدونکی جلا - جلا نه دي، بلکې هر سړی چې هر وخت په څه ډول را بلونکی دی هماغسې را بلل کېدونکی هم دی. قرآن د بعضهم اولياء بعض په الفاظو همدې لور ته اشاره کړې، دا دنده پلار د زوی او زوی د پلار، مېړه د مايني او ماينه د مېړه، ورور د خور او خور د ورور، دوست د يوه دوست او هغه د ده، ګاونډی د ګاونډي لپاره، لنډه دا چې هر سړی يې له ده سره د اړوند شخص په اړه بايد پوره کړي. دوی چې هر ځای وويني اړوند و کسانو يې د حق خلاف طريقه غوره کړې نو بايد له خپل علم، توان او استعداد سره سم هغوی ته د بڼه چلند خپلولو نصيحت وکړي، ممکن سهار موږ يو څوک نېکيو ته وهڅوو او ماښام هغه زموږ لپاره دا خدمت ترسره کړي، نن موږ يو چا ته حق ور وپېژنو او سبا يې هغه موږ ته سپارښتنه وکړي. لنډه دا چې هر کله فرصت و موندل شي نو بايد هر مسلمان د خپل عمل په دايره کې حتما دا کار ترسره کړي.

په دې دايره کې دا هم اړينه ده چې نژدې والي او بيا لومړيتوب ته پام وشي، انسان بايد تر هر څه اول له دوزخ څخه د خپلې کورنۍ د ساتلو هڅه وکړي، دی بايد وپوهېږي چې که د نورو دروازه ورټکوي او خپله کورنۍ يې شپه او ورځ د دوزخ لپاره سون توکي برابروي نو کېدای شي چې له ټولو هڅو سره - سره يې همدا نيمګړتيا په دنيا او اخرت کې د ده لپاره د عذاب سبب وګرزي. الله ويلي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (التحريم ٦٦ : ٦)

"اې مومنانو! خپل ځان او خپله کورنۍ له هغه اوره وژغورئ چې سون تو کې به يې دا خلک او هغه ډبرې وي (چې دوی يې لمانځي) پر دوی به تونـد خويـه او سـخت زړې فرشتې مقـررې وي، الله چې به کوم امر ورکوي دوی به يې په عملي کولو کې نافرماني نه کوي او هغه څه به کوي چې دوی ته يې امر وشي."

دلته بايد دا خبره هم څرګنده شي چې هر سړی د فعاليت په دې ساحه کې د واک يوه دايره هم لري، په دنيا کې د الله قانون دادی چې د هوښيارتوب کلونو تـه تـر رسېدو وروسته انسان د يوې ښځې مېړه او په نتيجه کې يې د ماشومانو پلار شي. د انسان همدا دواړه حيثيتونه د دين او فطرت له مخې هغه تـه د واک يوه دايره چمتو کوي، د مېړه په توګه پر ښځه او د پلار په توګه پر ماشومانو همدا واک دی چې له کبله يې هر سړی مکلف دی د خپل واک په دايره کې د ټولو کسانو د هر ډول معاملاتو مسئول وبلل شي. رسول الله ﷺ ويلي:

الا کلکم راع و کلکم مسئول عن رعيته. (بخاري، شمېره: ٢٥٥٤)

"خبردار! په تاسو کې هر سړی شپون دی او د خپلې رمې په اړه به ترې پوښتنه وشي."

د انسان همدا د واک دايره ده چې په اړه يې مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې که دوی کوم ناوړه کار وويني نو د له منځه وړلو هڅه دې وکړي. نبوي وينا ده:

من رأى منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه و ذالک اضعف الايمان. (مسلم، شمېره: ١٧٧)

"که په تاسو کې څوک (د خپل واک په دايره کې) کومه بدي ووينې نو بايد په لاس يې مخه ونيسي، که يې د دې جرأت نه وي نو په ژبه او که دا هم نه شي کولای نو په زړه کې دې بده وګڼي او دا د ايمان تر ټولو ټيټه درجه ده."

دلته د (ان لم يستطع) الفاظ د هغه توان لپاره نه دي استعمال شوي چې انسان په يو شي مکلف کوي، بلکې د جرأت او همت په معنا کارول شوي چې د ايمان په قوت او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کمزوری، سره ډېر یا کمېږي ځکه نو د اختیار په دایره کي د هر سړي لومړنی کار همدا دی چي که په خپله د دین کوم مصلحت مانع نه وي نو د منکر مخه په زور ونیسي. په همدې دایره کي يې په ژبه د مخنیوي درجه دویمه ده او د زړه کرکه هغه وروستۍ درجه ده چي که انسان دا هم ونه لري نو بیا يې معنا همدا ده چي د ده په زړه کي د ایمان هیڅ ذره پاتي نه ده.

که پر دې روایت د قرآن په رڼا کي غور وشي نو سم تعبیر يې همدا کېدای شي چي موږ بیان کړ، مېړه، پلار او واکمن ټول د دې روایت له مخې د خپل واک په دایره کي په دې مکلف دي چي د منکر مخه په زور ونیسي، له دې پرته چي هر شکل خپلوي نو یقینا به د کمزوري ایمان ننبه وي مګر له دې دایرې څخه بهر دا ډول ګام اخیستل جهاد نه بلکي تر ټولو بد فساد دی چي هیڅکله په دین کي کومه شونتیا نه شي درلودای. قرآن په دې معامله کي ببخي څرګند دی چي د الله هیڅ رسول ته د داعي په توګه له وعظ او څرګند تبلیغ پرته د بل هیڅ اقدام اجازه نه ده ورکړل شوې. الله ویلي:

إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ * لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ * "ته نصیحت کوونکی يې، نه پر دوی کوم څارندوی."
(الغاشیة ۸۸ : ۲۱، ۲۲)

دعوتي تګلاره

ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ * وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ* (النحل ۱۶ : ۱۲۵، ۱۲۶)

"د خپل رب لور ته له حکمت او ښه نصیحت سره بلنه وکړه او له دوی سره په غوره طریقه بحث وکړه، بې شکه ستا رب په هغو هم ښه پوهېږي چي بې لارې دي او په هغو هم چي هدایت يې مونډلی او که بدله اخلئ نو دومره واخلئ چي تاسو ته کوم تکلیف رسېدلی او که صبر وکړئ نو دا د صبر کوونکو لپاره ډېر غوره دی."

که څه هم د سورت النحل د دې اياتونو مخاطب رسول الله ﷺ او د هغه صحابه دي او له همدې پلوه په حقیقت کي د رسول له انذار سره تړاو لري خو ښکاره ده چي حکم يې په هره

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

طریقه عام دی. د دعوت د هر شکل لپاره د تګلارې او پالیسي اصلي اصول همدا ایاتونه دي، په دې کي چې د الله کوم حکم بیان شوی هغه پر لاندینیو ټکو بنا دی:

یو دا چې دعوت باید تل په حکمت، وعظ او بحث په غوره طریقه سره وړاندې شي، په دې ایاتونو کي له حکمت څخه مراد دلایل او براهین دي او له نېک نصیحت څخه مراد د خواخوږۍ وعظ و نصیحت دی. مطلب دادی چې داعي هره خبره کوي نو د دلیل، برهان، علم او عقل په رڼا کي دي وکړي، دخبرو ډول دي یې د غوسه ناک او هیبت اچوونکي نه وي، بلکي د خیر غوښتونکي، مشفق او مینه ناک توجو اړوونکي په ټهر وي، ان که کوم وخت د بحث او مباحثې نوبت هم راشي نو د دې لپاره مناسبه طریقه غوره کړي او که یې په ځواب کي مخالفین وپارېږي نو د حق داعي د خښتې په مقابل کي په ډېره د ځواب ورکولو پر ځای تل متمدن او مهذب دریځ خپل کړي.

دویم دا چې د داعي مسئولیت صرف تر دعوته محدود دی یعني خبره ورسوي، حق له هره پلوه واضح شي او له خپله لوري په ترغیب او سپارښتنه کي هیڅ لټې ونه کړي، که یې خپله دادنده په ښه طریقه ترسره کړه نو مسئولیت یې خلاص شو. د خلګو د هدایت او ضلالت چاره د الله په لاس کي ده، دی هغه هم پېژني چې بې لارې شوي او په هغو هم خبر دی چې لارې موندلې ده، له هر سړي سره به مناسبه معامله کېږي. داعي باید نه ځارونکی وي، نه د خپلو مخالفینو لپاره د جنت او دوزخ د پرېکړو صادروونکی. دا ټولي چارې له الله سره ترلې او د حق د داعي مسئولیت صرف رسول دي او باید له خپل دې مسئولیت څخه هیڅکله تجاوز ونه کړي، د رسول الله ﷺ په دعوت کي دا حقیقت قرآن ځینې ځایونه داسي بیان کړی دی:

إِنَّكَ لاَ تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاء وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ

(القصص ۲۸: ۵۶)

"ته چې چا ته وغواړې هدایت کولای یې نه شې بلکي الله چې (له خپل قانون سره سم) چا ته وغواړي هدایت کوي یې او دی په هغو ښه پوهېږي چې هدایت یې موندلی دی."

إِن تَحْرِصْ عَلَى هُدَاهُمْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي مَن يُضِلُّ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ (النحل ۱۶: ۳۷)

"که ته د دوی پر هدایت حریص یې نو (باید درته څرګنده وي چې) الله هغو ته هدایت نه کوي چې (له خپل قانون سره سم) یې ګمراه کوي او د دا ډول خلګو هیڅ مرستندوی نه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شته."

اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ لا إِلَـــهَ إِلاَّ هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ * وَلَوْ شَاء اللّهُ مَـــا أَشْرَكُواْ وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا وَمَا أَنـــتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ* (الأنعام ۶ : ۱۰۶، ۱۰۷)

"ته صرف د هغه څه پیروي وکړه چې ستا د رب له لوري یې درته وحې شوې، له ده پرته هیڅ معبود نه شته او له دې مشرکینو اعراض وکړه او (پوه شه چې) که الله غوښتي وای نو دوی به شرک نه کولای او (دا هم چې) ته مو پر دوی نه ځارونکی ګرزولی یې او نه یې ضامن یې."

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ * لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ* (الغاشية ۸۸ : ۲۱، ۲۲)

فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلاَغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ (الرعد ۱۳: ۴۰)

"(اې رسوله!) ته یادونه کوه، ته صرف یادوونکی یې، پر دوی ځارونکی نه یې."

"پر تا صرف رسول دي او د دوی حساب پر موږ دی."

درېیم دا چې که د دعوت مخاطبین ظلم و تېری او زور و نه پیل کړي نو داعي په اخلاقي حدود و کي دننه د دومره بدلې اخیستلو حق لري چې څومره تکلیف ورسېدلی، مګر د الله خوښه داده چې له صبره کار واخیستل شي. د صبر معنا داده چې د حق داعي هر ډول تکلیف وزغمي، مګر نه د انتقام لپاره کوم ګام واخلي او نه له ستونزو و تکلیفونو څخه په وېرېدو په خپل دریځ کې تغیر او ترمیم ته چمتو شي. په داسي حالت کې له صبر کوونکو سره د لوی نعمت وعده شوې ده، د دوی لپاره به یې غوره نتیجه هم په دنیا کې څرګنده شي او هم به په قیامت کې که الله وغوښتل د هغ غوره نتیجه وروښیي. قرآن یو بل ځای په دعوتي هڅو کې د بدی د بدلې نه اخیستلو او په مقابل کې یې د ښه چلند خپلولو دا لارښوونه داسي بیان کړې:

وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِـــالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ *وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ * وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّـــمِيعُ الْعَلِيمُ*

"او بدي و نېکي یو ډول نه دي، ته د بدی مخه په هغه خیر ونیسه چې غوره ده نو وبه ګورې چې ستا او د کوم چا تر منځ دښمني وه هغه دي ګواکي یو فعال دوست دی او (په یاد ولره چې) دا پوهه نه ترلاسه کوي مګر صبر کوونکي او نه یې مومي مګر هغه چې د لویي برخې څښتنان وي او که ته (په دې معامله کې) د شیطان له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(حم السجدة ۴۱: ۳۴ - ۳۶) لوري کومه پاروونه احساس کړي نو د الله پناه وغواړه بې شکه دی ډېر اورېدونکی ډېر پوه دی."

څرګنده ده دا شی هغه مهال تر لاسه کېدای شي چې کله داعي په لومړي قدم کې د دې حقیقت له درک سره میدان ته کښته شي چې په دې لار کې د ازموینې ځینې داسې پړاوونه هم راځي چې مال به یې له منځه ځي، باغونه به یې له ریښو وزي، غمونه به پرې راځي، لاس و مټ به یې غوڅېږي، سر به بایللي او خپل روح به روح اخیستونکي ته سپاري. د ګوابنونو او هڅونې د ټولو حربو لوری به یوازې د حق د داعي پر لوروي، دوېرې او تمې ټولې طریقې به له خپل مسیر څخه دده د اړولو لپاره وقف وي، دی به زندان ته سپاري، شا به یې په لښتو وهي، بندونه به یې شلېږي، په ناولو حوضونو کې به ځورند وي، د قربانۍ په مقدس ځای کې به یې په ډبرو ولي او غوڅ شوی سر به یې د نڅېدونکو حضور ته وړاندې کېږي. دی به له دې باور سره میدان ته راوزي چې کوم مالک ورته هدایت کړی او ده ته یې د دې دعوت مسئولیت سپارلی د دې لارې په ټولو ستونزو کې به ورسره حتما مرسته هم کوي:

وَمَا لَنَا أَلاَّ نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّهِ وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَى مَا آذَيْتُمُونَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ (ابراهیم ۱۴: ۱۲)

"او موږ به ولې پر الله باور نه کوو په داسې حال کې چې موږ ته یې زموږ لارې ښودلې، تاسو چې هر تکلیف را ورسوئ موږ به یې وزغمو او (موږ ته معلومه ده چې) توکل کوونکي باید پر الله توکل وکړي."

د دیني دعوت لپاره هم همدا درې شیان د تګلارې بنسټونه دي، په دې کې وروستي دوه یې د نور تفصیل غوښتنه نه کوي مګر په حکمت او پند سره د دعوت وړاندې کولو څو ضروریات دي چې د حق په دعوت کې یې ماخذ د انبیاء علیهم السلام تګلاره ده. استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په خپل کتاب «دعوت دین اور اس کا طریقہ کار» کې وضاحت کړی او موږ به یې دلته لنډیز بیان کړو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ذهني وړتيا ته پاملرنه

لومړی شی دا دی چې هر داعي باید د خپلو مخاطبینو له ذهني سویې سره سم دعوت وکړي، کوم کسان چې د دین په بنسټونو نه وي خبر دوی ته هغه اصولي لارښوونې نه شي بیانېدای چې له دې بنسټونو را زېږي او څوک چې لا هم بنسټیز هدایات زده کوي هغوی ته تفصیلات، لوازم، جزیات او فروع وړاندي کول په هیڅ ډول مناسب نه دي. که په دین کې د فلسفې او حکمت مسایل عامو وګړو ته نه شي بیانېدای نو هغو ته له پام پرته د قانون او شریعت تفصیلات د پوهانو زړونو ته هم نه شي کښته کېدای. استاذ امام لیکي:

"کوم کسان چې په دې نظام او د انبیاء کرامو د دعوتي تګلارې په نښې ګڼو نه پوهېږي هغوی د الهي معرفت تر پیدا کولو وړاندي نه یوازي خلګ د لمانځه بلکي تهجد او اشراق پابند ګرزوي، هغوی د نبي د اړتیا او د هغه د اطاعت و اتباع د باور تر وړاندي کولو وړاندي د خلګو د ږیرو، شونډانو او پرتګونو ناپ اخلي، هغوی پر اخرت د رښتني او پاخه باور تر پیدا کولو وړاندي په خلګو کې د وېرې، تقوا، تواضع او خاکساري د جمال لیدلو هیله لري. د دې سرچپه هڅو له کبله یوه لور ته ږیرې اوږدېږي، لنګونه خپل حد ته راځي، په ناسته -پاسته، خندا، خبرو او هر څه کې یو ډول مصنوعي تواضع څرګندېږي او ظاهرا په خوراک، څښلو، ارمېږی، پرنجې او هر څه کې د سنتو پیروي را منځ ته کېږي خو څرنګه چې دا هر څه په غیر منطقي او فطري ډول را منځ ته شوي وي له همدې کبله د دې ټولي تقوا حقیقت له دې پرته بل څه نه وي چې له غوماشی سره احتیاط کوي، خو اوښ په بډه وهي." (دعوت دین: ۸۰)

همدا شی باید د هغو خلګو په روزنه کې پلی شي چې دعوت منې، د رسول الله ﷺ د سېرت له مطالعې ښکاري چې ده صدیق او فاروق، عثمان او علي، معاذ بن جبل، سعد بن معاذ، زید بن ثابت، جابر بن عبدالله، عبدالله بن مسعود او دا ډول سترو صحابه کرامو توجو کوم څه ته اړوله او په کومو چارو کې یې له دوی سره محاسبه کوله، دوی ته یې کوم څه ویل عامو صحابه وو ته یې نه ویل. ده چې به په کومه طریقه یوه څارایي ته دین ور ښود دا به له هغې بالکل بېله وه چې کومه طریقه به یې له مشرانو سره غوره کوله، یوازي له معاذ بن جبل او ابو ذر غفاري سره د ده د چلند له مطالعې دا خبره ښکي په ډاګه کېږي چې ده په دې معامله کې د کومو شیانو ساتنې ته پام کاوه؟.

د دې یو اړخ دا هم دی چې خلګو ته هر څه ور ښودل کېږي، ورو -ورو او درجه پر درجه ور وښودل شي څو د دوی په زړه او دماغ کې ځای ونیسي او د عمل برخه یې وګرزي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوی چې څومره تر لاسه کوي په خپل باطن کې یې پاخه کړي، بیا نور زیات شیان ورکړل شي او په دا ډول ورته وسپارل شي چې نه پر کمزوري بوج شي او نه د زیاتو وړتیا درلودونکو د مینې د مړاوي کېدو سبب وګرزي. استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کې لیکلي:

" د حق د داعي کار په سم ډول د یو بزګر له کار سره پرتله کېدای شي، لکه څرنګه چې د هغه هدف صرف په دې سره نه شي تر لاسه کېدای چې په ځمکه کې د تخم په پاشلو خلاص شي، همدارنګه د یوه داعي کار هم صرف په دې سره پای ته نه شي رسېدای چې خلګو ته د یو څه وعظ په کولو ویده شي بلکې د دې هدف د پوره کولو لپاره اړینه ده چې په ده کې له غور ول شوي دعوت سره هغه مینه وي چې یو مسئولیت پېژندونکی کروندګر یې له پاشلي تخم سره لري. لکه څرنګه چې کروندګر په ځمکه کې د پاشلي تخم ریښې نیول ځاري، پر وخت اوبه ورکوي، د هوا له نه موافقت څخه یې ژغوري، سمه وده ورکوي چې بې ځایه وابنه یې د پرمختګ په لار کې خنډ ونه ګرزي، د الوتونکو مرغانو او د ځمکې د څارویو له بریده خوندي وي او کله چې تریوې مودې په همدې فکر د خپلې ورځې اطمنان او د شپې سکون له لاسه ورکوي، په پرله پسې خواریو او مسلسله څارنه یې ساتي بیا نو ورځې او د خپل کړاو مېوه تر لاسه کوي، همدارنګه د حق یو داعي هم په هغه صورت کې د خپل دعوت مېوه تر لاسه کوي چې له دعوت سره - سره د روزنې د زړه خوږینوو نکې لړۍ زغمولو وړتیا او همت ولري. که نه لکه څرنګه چې د یو بې پروا کروندګر پاشلی تخم د ځمکې او هوا د توپانونو او د مرغانو و حیواناتو بریدونو ته د خوشي کولو له وجې ختمېږي همدا شان د یوه داعي دعوت هم صرف په بېدیا کې یوه چیغه ګرزي."

(دعوت دین: ۱۵۲)

الله ویلي: ده چې د خپل کتاب په نزول کې د تدریج کومه طریقه غوره کړې هدف یې همدا دی. په سورت الاسراء کې دي:

وَقُرْآناً فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلاً (الأسراء ۱۷: ۱۰۶)

" او موږ دا قرآن د دې لپاره لږ - لږ نازل کړی چې ته یې ورو - ورو خلګو ته واوروې او موږ په ډېر تدبیر سره نازل کړی دی."

همدارنګه یې په سورت الفرقان کې ویلي:

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلاَ نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ " او د کافرانو وویل: پر دې سړي دا قرآن

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلاً

(الفرقان ۲۵ : ۳۲)

ولي په يوه وار نازل نه شو؟، موږ همداسي وکړل د دې لپاره چې په وسيله يې ستا زړه پياوړی کړو او (همدا وجه ده چې) موږ ورو - ورو بيان کړی دی."

ام المؤمنين عائشه ﷺ يې په وضاحت کي وايي:

انما نزل اول ما نزل منه سورة من المفصل فيها ذكر الجنة والنار، حتى اذا ثاب الناس الى الاسلام نزل الحلال و الحرام، و لو نزل اول شيء لا تشربوا الخمر لقالوا: لا ندع الخمر ابدا و لو نزل لا تزنوا لقالوا: لا ندع الزنا ابدا.

(بخاري، شمېره: ۴۹۹۳)

" په قرآن کي چې تر ټولو وړاندي کوم شی نازل شو هغه د المفصل يو سورت وو او په کي د جنت او دوزخ يادونه وه، کله چې خلک د اسلام دايرې ته راغلل نو د حلالو او حرامو احکام نازل شول او (حقيقت دادی چې) که په پيل کي دا حکم راغلی وای چې شراب مه څښئ نو خلکو به ويل: موږ به هيڅکله شراب پرې نه ږدو او که دا حکم نازل شوی وای چې زنا مه کوئ، نو دوی به ويلي وو چې موږ به هيڅکله زنا پرې نه ږدو."

رواني حالت ته پاملرنه

دويم شی دادی چې له ذهني وړتيا سره د مخاطب رواني حالت ته هم بايد پام وشي، لکه څرنګه چې بې وخته باران پر ځمکه اغيز نه لري بلکي ځيني وختونه سر چپه د تاوان سبب ګرزي همدارنګه که د زړه او دماغ بېلابېلو حالاتو ته له پامه پرته کوم دعوت وړاندي شي نو په زړونو او ذهنونو کي ځای نه نيسي. د دعوت په کار کي بايد صرف پر دې باور ونه شي چې حق به د خپل داخلي توان پر بنسټ د خلکو زړونو ته کښته شي، بلکي بايد دې ته هم وکتل شي چې کوم کسان د دې حق اوږدونکي دي ايا هغوی يې له نفسياتي پلوه اوږدو او فهم ته چمتو دي؟.

په دې لړ کي چې د حق يو داعي له کومو حالاتو سره مخ کېږي هغه ټول يو ډول نه شي کېدای مګر په دې اړه چې له قرآن او حديث څخه کوم اصولي شيان معلوم ېږي دلته يې وضاحت کوو:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) خلګو ته چې د دین هره خبره وړاندې کېږي باید تل له دې پلوه وړاندې شي چې مخاطب د کرکې او نابلدتیا پر ځای الفت او اسانې احساس کړي. یو شی له یوه پلوه اسانه او له بله پلوه سخت وي، که د دعوت په پیل کې د دې هماغه ارخ څرګند شي چې دهر ډول نا اشنا کسانو لپاره هم په خپل ذات کې د زړه را ښکون ډېر امکان ولري نو وروسته دا هیله کېدای شي چې هغوی ظاهرا له خپل ذهن سره نا مناسب شیان هم ورو - ورو قبول کړي. د رسول الله ﷺ وینا ده: بشروا و لا تنفروا [۲۴] یعني خلګو ته زېری ورکړئ، په هغوی کې کرکه مه خپروئ. ده د یو اصل په توګه ویلي:

فانما بعثتم میسرین و لم تبعثوا معسرین. (بخاري، شمېره: ۶۱۲۸)

"تاسو اسانې کوونکي را لېږل شوي یاست، نه سختي کوونکي."

۲) د خپلو اوږدونکو پر عقایدو د زړو او محبوبو کسانو د نقد لپاره هم باید داسې اسلوب غوره نه شي چې په دوی کې د جاهلي تعصب پاڅون او سبب وګرزي. په خپلو خبرو کې باید دې ته ځانګړې پاملرنه وشي چې د ځان او مخاطبینو د مشرانو تر منځ د غوراوي او ترجیح له ځایونو د امکان تر حده ډډه وشي او ټول زور د خپل نظر پر وضاحت او هدف پر موندلو ولګول شي. د حق پالنې د ولولې او باطل د رد په جذبه کې باید داسې څه ونه ویل شي چې مخاطب ړوند او کوڼ کړي او هره خبسته و تیږه چې په لاس ورځي هغه اخلي او غورځوي یې، په سورت الأنعام کې یې ویلي:

وَلاَ تَسُبُّواْ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ فَيَسُبُّواْ اللّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ (الأنعام ۶ : ۱۰۸)

"او دوی چې له الله پرته کوم څه را بولي ښکنځل ورته مه کوئ چې (په نتیجه کې به یې) هغوی د تجاوز په کولو په ناپوهي الله ته ښکنځلې پیل کړي."

۳) د دعوت په مخاطبینو کې چې کوم کسان د خپل قوم مشران او مخکښان وي د هغوی په اړه باید دې خبرې ته ځانګړې پاملرنه وشي چې هغوی د نورو له لورې په خپل عزت او درناوي عادت دي، له همدې کبله باید د داعي د بیان او خطاب په اسلوبو کې د هغوی پر نفسیاتو داسې ګوزار ونه شي چې همدا شی د دوی لپاره د حق په قبلولو کې

[۲۴] بخاري، شمېره: ۶۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خنډ وګرزي. رسول الله ﷺ خپلو دوو سترو استازو موسی او هارون ته په همدې اړه داسي ویلي:

اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى * فَقُولاَ لَهُ قَوْلاً لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى* (طه ۲۰: ۴۳، ۴۴)

"تاسو دواړه فرعون ته ورشئ بې شکه هغه ډېره سرکښي کړې او په نرمي سره دعوت ورکړئ، ممکن دی نصیحت ومني یا (له خپل رب څخه) ووپرېږي."

ان که کوم وخت د دې خلګو د اخلاقو او کردار پر تېتوالي نقد په خپله د دعوت اړتیا وګرزي نو د دې لپاره باید نا مستقیم اسلوب غوره شي. په قرآن کي یې غوره بېلګه د قریشو د مشرۍ په اړه په سورت القلم کي د الله داتبصره ده:

وَلاَ تُطِعْ كُلَّ حَلاَّفٍ مَّهِينٍ * هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ * مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ * عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ * أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ* إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الأَوَّلِينَ* (القلم ۶۸: ۱۰-۱۵)

"او ته دهر دروغجن قسم خورونکي، سپک، اشاره باز، شیطان، د بنو کارونو د مخ نیوونکي، ترحد تېرېدونکي، حق خورونکي، ډېر زړي او پردي برسېره د بې اصله خبره مه اوره دا ځکه چې له ده سره مال او اولاد دی، کله چې زمونږ ایاتونه ورته بیان شي نو وایي: دا د پخوانیو افسانې دي."

۴) کله چې د دعوت مخاطبین د اعتراض، عیب لټولو، طنز، تعریض او ملنډو و تکبر پر لور مایل وي نو په دې حالت کي باید نه یوازي هغوی ته دعوت ورو ړاندي نه شي بلکي که د دعوت تر ورو ړاندي کولو وروسته هم پر مخاطب داسي حالت راشي نو داعي ته په کار ده چې د بحث په ختمولو له هغه ځایه ولاړ شي او د مناسب فرصت پر مهال خلګو ته خپله خبره ورا ندي کړي. الله ویلي:

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلاَ تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (الأنعام ۶: ۶۸)

"او که کله هغه کسان وویني چې زمونږ د ایاتونو عیب را باسي نو تر هغه وخته ور څخه ببل شه چې یوه بله خبره پیلوي او که شیطان در څخه هېر کړل نو تر یاد وروسته هیڅکله له دې ظالمانو سره مه کښېنه."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۵) اړینه ده چې داعي په دعوت کې له تنګي، اوږدو خبرو، د بې ځایه بیان لپاره له بې صبرۍ، بې ضرورته تکرار او خبرو کې له یوې طریقې غوره کولو ځان وساتي. همدارنګه چې کله مخاطب په داسې فعالیت بوخت وي چې د هغه په پرېښودو د دعوت لورته پاملرنه یې پر طبیعت سخته وي نو په دې وخت کې هم باید هغه ته د دعوت له وړاندې کولو ډډه وشي.

عن ابی وائل قال: کان عبدالله یذکر الناس فی کل خمیس، فقال له رجل: یا ابا عبد الرحمن، لوددت انک ذکرتنا کل یوم، قال: اما انه یمنعنی من ذلک انی اکره ان املکم و انی اتخولکم بالموعظة کما کان النبی ﷺ یتخولنا بها مخافة السامة علینا.

(بخاري، شمېره: ۷۰)

"له ابو وایل څخه روایت دی چې عبدالله به د هرې پنج شنبې په ورځ خلکو ته نصیحت کاوه، یو چا ورته وویل: ای ابو عبد الرحمانه! زه غواړم چې ته راته هره ورځ نصیحت وکړې. ده وویل: زه ځکه داسې نه کوم چې دربانديې بوج نه شي، زه به هم د هغسې رخصتي په کولو نصیحت کوم لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ موږ ته د دا ډول رخصتي په کولو نصیحت کاوه چې پرموږ دروند نه شي."

رسول الله ﷺ د خطبې لنډوالی د ویناوال د پوهې نښه ګڼلې، ده ویلي:

ان طول صلوة الرجل و قصر خطبته مئنة من فقهه فاطیلوا الصلوة واقصروا الخطبة، و ان من البیان سحرا. (مسلم، شمېره: ۲۰۰۹)

"د یو سړي اوږد لمونځ او لنډه وینا یې د پوهې نښه ده، ځکه نو لمونځ اوږد کوئ او خطبه لنډه وایاست او په وینا کې ځینې وینا وې جادو کوي."

همدارنګه د رسول الله ﷺ دیوه صحابي ابن عباس وینا ده:

حدث الناس کل جمعة مرة، فان ابیت فمرتین، فان اکثرت فثلاث مرار، و لا تمل الناس هذا القرآن، ولا الفینک تاتی القوم وهم فی حدیث من حدیثهم فتقص علیهم فتقطع علیهم حدیثهم فتملهم و لکن انصت، فاذا

"خلکو ته د هرې جمعې په ورځ وعظ او نصیحت کوه، که یې تر دې ډېروې نو په اونۍ کې یې دوه ځله او که یې تر دې هم ډېروې نو درې ځله یې کوه، خلک له دې قرآن څخه مه خواتوري کوه او زه دې باید داسې ونه وینم چې تاسو یو قوم ته ورشئ هغوی په خپل مجلس اخته وي تاسو یې د خبرو په منځ کې ورولوبږئ

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مروک فحدثهم وهم يشتهونه.
(بخاري، شمېره: ۶۳۳۷)

وعظ او نصيحت شروع کړئ او په دې ډول يې بې زاره کړئ، داسې مه کوئ او خاموش اوسئ بيا چې کله خلک غوښتنه وکړي نو وروايې ورئ داسې چې هغوی يې د اورېدو غوښتنه ولري."

۶) لکه څرنګه چې بايد دحق داعي له بې ځايه خبرو ډډه وکړي همدا راز بايد تل د خبرو فرصت ته په انتظار هم وي، کله چې احساس کړي زړونه د ځانګړي حالت له امله د وعظ اورېدو ته چمتو دي او د روحونو کړکۍ د دې خوشالوونکي نسيم وړمو ته پرانيستي دي نو خپل کار دي وکړي. يوسف عليه السلام څرنګه په يو دا ډول فرصت کې په مينه او ولوله د زندان د تمبو شا ته خپلو ملګرو ته دعوت ورانديکړ؟:

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانَ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ * قَالَ لاَ يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلاَّ نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَن يَأْتِيكُمَا ذَلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لاَّ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَهُم بِالآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ* وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَآئِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ مَا كَانَ لَنَا أَن نُّشْرِكَ بِاللّهِ مِن شَيْءٍ ذَلِكَ مِن فَضْلِ اللّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَشْكُرُونَ * يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ * مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِ إِلاَّ أَسْمَاء سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَآؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ أَمَرَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ * يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا

"او له ده سره دوه نور زلميان هم زندان ته راغلل، په هغو کې يوه وويل: ما خوب ليده چې شراب جوړوم او دويم وويل: خوب مي ليد چې پر سر مي ډوډۍ بار کړې او مرغان تري خوراک کوي مور ته يې تعبير بيان کړه، مور وينو چې ته يو نيک سړی يې. يوسف وويل: دلته چې تاسو ته کوم خوراک راوړل کيږي د هغه تر راتلو وړاندي به يې درته تعبير وايم، دا د هغه علم برخه ده چې زما رب را ښودلې ده. حقيقت دادی چې زه د هغو خلکو طريقه نه منم چې پر الله باور نه لري او د اخرت منکر دي، ما د خپلو مشرانو ابراهيم، اسحاق او يعقوب لاره خپله کړې ده، مور حق نه لرو چې يو څوک له الله سره شريک کړو، دا پر مور او تاسو انسانانو د الله فضل دی مګر ډېر خلک شکر نه باسي. د زندان ملګرو! ايا ډېر پالونکي غوره دي که يو الله چې پر تولو غالب دی؟، تاسو چې له دې پرته کوم څه لمانځئ هغه صرف نومونه دي چې تاسو او ستاسو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا وَأَمَّا الآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِن رَّأْسِهِ قُضِيَ الأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ*

(یوسف ۱۲ : ۳۶ - ۴۱)

پلار ونیکه پرې ایښي دي، الله یې هیڅ دلیل نه دی نازل کړی ټول واک د الله دی، ده امر کړی چې له ده پرته هیڅوک مه لمانځئ همدا سیده دین دی مګر ډېری خلګ نه پوهېږي. د زندان ملګرو! په تاسو کې به یو خپل بادار ته شراب ورکوي او دویم به په دار شي او مرغان به یې کوپړۍ خوري، د هغې خبرې پرېکړه شوې چې تاسو یې په اړه پوښتنه کوله."

استاذ امام امین احسن اصلاحي د یوسف علیه السلام پر دې دعوت د تبصرې په کولو کاږي:

" دې ته په یوه نظر کولو د ټولې پېښې انځور د سترګو مخ ته درېږي، له یوسف علیه السلام سره یو ځای زندان ته دوه کسان راځي، دواړه خوب وینې او د تعبیر معلومولو ته یې لېوال وي، د زندان په کسانو کې یوسف علیه السلام ورته له هره پلوه داسي څوک ښکاري چې په دې موخه د هغه لور ته رجوع کولای شي نو له درناوي او احترام سره خپل خوب ورته وړاندې کوي، یوسف علیه السلام په همدې وخت کې داسي نه کوي چې د خوب په تعبیر یې رخصت کړي او یا یې د درناوي له عقیدې څخه په ګټه اخیستو پرته دوی د خپل شخصیت او لوییې سپرولو هڅه وکړي او ځان ته شخصي ګټه ورسوي، بلکې د هغوی دا پاملرنه غنیمت بولي او هغه دعوت ورته وړاندې کوي چې د دوی له زړه سره پیوند پېږي او د وړاندې کولو لپاره یې داسي طریقه غوره کړه چې ګواکې د خبرو په لړۍ کې خبرې پیدا شي، نه دا چې په شعوري ډول یې خبرو ته ځان جوړ کړی وي. له دې څخه یو مهم حقیقت دا څرګند شو چې لکه څرنګه چې کروندګر د تخم شیندنې لپاره د باران په تمه وي همدارنګه باید یو داعي پر خپل شاوخوا نظر وساتي چې کوم وخت د ده لپاره په زړونو کې هغه پاملرنه پیدا کېږي چې د ده د دعوتي تخم شیندنې لپاره د فصل او موسم کار ورکولای شي؟ او دویمه خبره دا معلومه شوه چې کله د الله په فضل دا ډول فرصت ومومندل شي نو نه یې ضایع کول روا دي او نه یې له دې لوړ هدف پرته د بل غرض لپاره کارول روا دي. خپل چارو کې کسان چې کله دا ډول فرصتونه تر لاسه کوي نو د حق دعوت کارولو پر ځای یې هڅه دا وي چې د خپلو شخصي موخو د تر لاسه کولو وسیله یې کړي. دا مهال زموږ علماء او مشایخ عموما په همدې ناروغۍ اخته دي، دوی چې کله دیو چا زړه ځان ته رامات کړي نو ډېر خوشالېږي مګر د دوی خوښي هغه ډول نه وي لکه یوسف علیه السلام چې د خپلو ملګرو په توجو خوښ شو بلکې دا خوشالي د هغې غنې د خوشالۍ په څېر وي چې پر خپل ځان د جال په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تاوولو د مچانو په انتظار وي، کله چې مچ د ځان پر لور پر راتګ وينې نو له ډېرې خوښۍ نڅا کوي چې يو چاغ ښکار مې تر لاسه کړ." (دعوت دين: ۱۴۵)

۷) دعوت بايد تل له اتفاق څخه د اختلاف او له منل شويو مسايلو څخه د جنجالي مسايلو پر لور ولاړ شي، مخاطب چې کوم څه مني او د ده لپاره نا اشنا نه دي د هغو له اقرار او اعتراف څخه په پيل کولو ورو -ورو له دې مسلماتو څخه د را پيدا کېدونکو هغو لازمي چارو پر لور وړاندي تګ په کار دی چې مخاطب له اشنا څخه د نا اشنا شيانو د تلو پر مهال بالکل په نه احساسېدونکې طريقه هغو حقايقو ته ورسېږي چې د حق يو داعي يې پرې منل غواړي. رسول الله ﷺ ته الله همدا لارښوونه داسي بيان کړې:

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ * يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِي إِبْرَاهِيمَ وَمَا أُنزِلَتِ التَّورَاةُ وَالإِنجِيلُ إِلاَّ مِن بَعْدِهِ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ * هَاأَنتُمْ هَؤُلاء حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهِ عِلمٌ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ * مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلاَ نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ* (آل عمران ۳ : ۶۴ - ۶۷)

"ووايه: اې اهل کتابو! هغې خبرې ته راشئ چې زمونږ او ستاسو تر منځ يو ډول ده هغه دا چې موږ به له الله پرته د بل هيچا عبادت نه کوو، له هغه سره به هيڅوک نه شريکوو او په موږ کې به هيڅوک يو بل له الله پرته خپل پالونکی نه ګرزوو، که دوی اعراض وکړي نو ووايه چې شاهدان اوسئ موږ مسلمانان يو، اې اهل کتابو! تاسو ولې د ابراهيم په اړه دلايل وياست؟ په داسي حال کې چې تورات او انجيل خو تر ابراهيم وروسته نازل شوي دي، ايا تاسو نه پوهېږئ؟. تاسو د هغه څه په اړه استدلال وکړ چې پرې پوهېدئ، مګر اوس ولې د هغه څه په اړه دليل وياست چې هيڅ علم يې درته نه شته؟ (او حقيقت دادی چې) الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ، ابراهيم نه يهودي وو او نه نصراني بلکې يو حنيف مسلمان وو او له دې مشرکانو څخه هم نه وو."

۸) که مخاطب د ضد او تعصب له امله د استدلال پر ځای درغليو ته چمتو شي نو هغه دليل بايد په داسي ډول وړاندي شي چې که يې دی وهم نه مني نو لږ تر لږه د شخړو او لانجو فرصت پيدا نه کړای شي، غوره بېلګه يې له نمرود سره د ابراهيم عليه السلام مناظره ده:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَآجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِـــي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِـــي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْـــرَاهِيمُ فَإِنَّ اللّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (البقرة ۲ : ۲۵۸)

"ایا هغه څوک دي ونه لیدل چې له ابراهیم سره یې د ده د رب په اړه صرف له دې وجې شخړه پیل کړه چې الله پاچاهي ورکړې وه، هغه مهال چې کله ابراهیم ورته وویل: زما رب خو هغه دی چې مرګ او ژوند کوي، ده ځواب ورکړ چې زه هم مرګ او ژوند کوم. ابراهیم سمدستي وویل: نو داسي ده چې الله لمر له ختیځه را خېژوي ته یې له لوېدیځه را وخېژوه. د دې په اوږدو له حق څخه منکر ببخي حیران پاتي شو (او حقیقت دادی چې) الله هیڅکله داسي ظالمانو ته هدایت نه کوي."

د خبرو ډول

درپیم شی دادی چې د حق دعوت هدف صرف دیوه حقیقت واضح کول نه بلکي دادی چې هغه حقیقت داسي څرګند او د بیان په داسي شکل واضح شي چې په عوامو او خواصو کي هیڅوک یې د فهم له ستونزې سره مخ نه شي، له همدې کبله باید د حق داعي حتما دا هڅه وکړي چې خپله خبره په داسي اغېزناکو، زړه وړونکو او فطري اسلوبو بیان کړي چې د چا په خاوره کي لږ وړتیا هم وي د ده تخم پکي ریښې واچوي او د مخ اړوونکو په اړه دا خبره ببخي څرګنده شي چې د دوی په بېدیاوو کي د یو شي د را ټوکېدو هیڅ هیله نه شي کېدای. د دعوت همدې اړتیا ته په پام چې کله موسی علیه السلام ته رسالت وسپارل شو نو له الله یې دا دعا وغوښته:

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي * وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي * وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي * يَفْقَهُوا قَوْلِي * وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي * هَارُونَ أَخِي * اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي * وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي * كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا * وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا * إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا*

"اې زما ربه! سینه مي پرانیزه، کار مي اسانه کړه او د ژبې غوټه مي خلاصه کړه چې خلک مي په خبرو وپوهېږي او زما له کورنۍ یو وزیر را سره وګومارې، هارون زما ورور، د ده په وسیله مي ملا پیاوړې کړه او زما په مسئولیت کي یې را سره شریک کړه چې موږ ستا تسبیحات ډېر وویایو، تا ډېر یاد کړو بې شکه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(طه ۲۰: ۲۵-۳۵) ته تل زمونږ څارونکی یې."

د حق داعي چې باید دې ته په پام د خپل کلام په اسلوب کې کومې ځانګړتیاوې پیدا کړي هغه دادي:

۱) خبره یې باید تل سپینه او څرګنده وي، په دې نړۍ کې چې له مونږ سره د قرآن په ښه د حق دعوت ترټولو وتلې کومه نمونه موجوده ده د هغې په اړه الله ویلي:

وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ * نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ * عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ * بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ*

(الشعراء ۲۶: ۱۹۲-۱۹۵)

" او بې شکه دا د نړۍ والو د رب له لورې په ډېره پاملرنه نازل شوی، ستا پر زړه روح الامین نازل کړی چې ته له خبرورکوونکو څخه شې، په ډېره څرګنده عربي ژبه."

استاذ امام امین احسن اصلاحي د انبیاء علیهم السلام او نورو سترو داعیانو د بیاني ځانګړتیاوو په بیانولو لیکلي دي:

" ... دوی د خپل وخت په هغه ژبه خبرې کوي چې له هر ډول ښېګڼې او شفافیت سره خپله موخه د قوم هرې کړۍ ته ورسولای شي، په هغې کې نه اجمال او ابهام وي، نه بې ځایه اوږدوالی، نه د استعارو او تشبیهاتو ډېرښت، نه د عقل کړوونکو اشارو زیاتوالی، نه د درنو او نا اشنا الفاظو ذخیره او نه د رکاکت او ابتذال کوم څرک. څرګنده ژبه، بې تکلفه استعارې او د مجاز په بڼه څرګندوونکي تشبیهات او تمثیلونه وي، پر دې سربېره د غوسې پر ځای زړه سوی، د سختي پر ځای نرمي او د تصنع پر ځای سادګي او روڼوالی. دوی د خپل وخت په بېلابېلو ډولونو کې هغه ډول غوره کوي چې د وقار، اغېز او هدف بیانولو لپاره ترټولو مناسب او جالب وي. بیا د خپل نفس په لورتیا، د خپلې دعوتي ولولې په حرارت و زړه سوي، د خپلې پوهې په باور، ایمان او تر دې هر څه پورته د خپل مطلب د پوهاوي په ژوره غوښتنه داسي ترقي ورکوي چې خپل نوی سبک پیدا کوي او هغه په خپله د بېلګې او نمونې کار ورکوي. د دې سبک اصلي ځانګړتیا زړه را ښکونې او د پوهاوي ورتیا وي مګر له دې سره -سره پکې د روانې او ساده توب له امله داسي ادبي ښکلا هم پیدا کېږي چې په وړاندې یې د سترو ادیبانو کلام بېخي بې روحه ښکاري، له هره لفظه یې شیره څاڅي او له هرې جملې یې روحي غذا تر لاسه کېږي. اغېزیې نه یوازې د اشخاصو بلکې د ملتونو ژوند بدلوي او دا د حق د یوه داعي په لاس کې هغه ځواک دی چې وسلوال پوځونه یې هم مقابله نه شي کولای." (دعوت دین: ۱۰۸)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) داعي بايد په يوه طريقه او طرز د خبرو په کولو له خپلې دندې او وړې سپکې نه کړي بلکي بايد خپله موخه په داسي بېلابېلو او مختلفو طريقو وړاندي کړي چې ملاتړي او مخالفين ټول يې ووايي چې ده د رسونې حق ادا کړ:

وَكَذَلِكَ نُصَرِّفُ الآيَاتِ وَلِيَقُولُوا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (الأنعام ۶ : ۱۰۵)

"او موږ خپل دليلونه همداسي په بېلابېلو طريقو وړاندي کوو چې پر دوی حجت قايم شي او ووايي: تا په ښه طريقه را ته واوراوه او د دې لپاره چې کوم کسان پوهېدل غواړي هغوی ته يې وضاحت وکړو."

۳) د حق د داعي کلام بايد يوازې د حجت او استدلال غوره نمونه نه وي بلکي اړينه ده چې له داسي ولولې او جوشه ډک وي چې کله خلک مخاطب کړي نو په دعوت کې يې د خپل زړه خبرې د ده په ژبه واوري، د قرآن کريم د وروستيو دوو بابو مکي سورتونه د همدا ډول کلام غوره بېلګې دي، کوم چې ولولئ نو د وينا وال په لفظونو کې شعلې دي، په اوازونو کې يې برېښنا ده او په لهجه کې يې سيند د لوړو او اسمان څکو غرونو له څوکو درو ته په رابهېدو ليدل کېږي. څرګنده ده چې د داعي په کلام کې دا ځانګړتيا وې د هغه له تينګې عقيدې، پاخه باور، ايمان او د زړه په تل کې له مخاطبينو سره له خواخوږۍ او زړه سوي څخه سرچينه اخلي او په همدې دنيا کې يې د قيامت جارچي ګرزوي، د رسول الله ﷺ په اړه ويل شوي:

كان رسول الله ﷺ اذا خطب احمرت عيناه و علا صلوته و اشتد غضبه حتى كانه منذر جيش يقول: صبحكم و مساكم.
(مسلم، شمېره: ۲۰۰۵)

"رسول الله ﷺ چې به کله وينا کوله نو سترګې به يې سرې، اواز به يې اوچت او احساسات به يې سخت شول، ان داسي به ښکارېده لکه د پوځ د راتلو په خبرو رکولو چې خلګو ته وايي: هغوی به پرتاسو يا سهار برېد وکړي يا ماښام."

۴) له دې جوش، ولولې او د حجت و استدلال له تودوخي سره -سره بايد د حق داعي تل د مناظرې په څېر کلام څخه ځان وساتي، ان که کوم مخاطب دا دريځ خپل کړي نو ده ته په کار ده چې د مخ اړونې لاروونيسي او دې ته دې پام نه کوي چې دا يې بريا بلل کېږي او که ماتې، دی بايد په دې ښه خبر وي چې د حق دعوت او مناظرو تر منځ داسي تضاد دی چې دواړه هيڅکله سره يو ځای کېدای نه شي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَلاَ يُنَازِعُنَّكَ فِي الأَمْرِ وَادْعُ إِلَى رَبِّكَ إِنَّكَ لَعَلَى هُدًى مُّسْتَقِيمٍ * وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ * اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ* (الحج ٢٢: ٦٧-٦٩)

"نو نور دوی له تا سره په دې معامله کې شخړه ونه کړای شي او ته همداسي د خپل رب لور ته بلنه کوه، بې شکه ته پر مستقیمه لارې او که دوی له تا سره شخړه وکړي ووایه چې تاسو څه کوئ، الله ښه پرې پوهیږي، الله به د قیامت په ورځ ستاسو تر منځ د هغه څه پریکړه وکړي چې تاسو پکې اختلاف کوئ."

۵) د حق د داعي خبرې باید تل له خپل هدف سره تړلې، له موخې سره پیوستې او خپل منزل سره پیوندې وي، د ده په خبرو کې باید داسي همغږي، توافق او ورته والی وي چې هر ځای یې واوروي نو داسي څرګنده شي چې صرف همدا یو او واز د هرې موضوع او مضمون په اړه د هغه له وجود څخه راوتلی او صرف یو ځای دی چې هغه ته د رسېدو لپاره ناکرار ښکاري. قرآن کریم له پیله تر پایه د دا دول کلام غوره نمونه ده، د حق دعوت کار کوونکي یې باید صرف له همدې پلوه بیا-بیا وګوري.

د استدلال طریقه

څلورم شی دادی چې د حق داعیان باید د کلام د طرز په څېر د خپل استدلال په طریقه کې هم د امکان تر بریده هغه ځانګړتیاوې پیدا کړي چې موږ یې د انبیاوو په کلام کې وینو. الله خپل کتاب قرآن کریم د همدې ځانګړتیاوو درلودونکې علمي او ادبي ټوټې په توګه نازل کړی دی، که دا کتاب په تدبر سره ولوستل شي نو په استدلال کې یې له پیله تر پایه دا شی ښکې څرګند احساسېږي. د استدلال د طریقې همدا ځانګړتیاوې به له یوه مناسب ترتیب سره همدلته بیان کړو.

لومړی ځانګړتیا داده چې انبیاء علیهم السلام هیڅکله د حجت او استدلال هغه مصنوعي طریقې نه خپلوي چې په یوه قوم کې د ساده علمي حقیقتونو له فن ګرزېدو څخه پیدا کېږي او د علمي لوبو له ځینو مینه والو پوهانو پرته بل هیڅوک ورسره لېوالتیا نه لري، هغوی د دې برخلاف د خپل استدلال لپاره ښکې ساده، فطري او خالص مواد غوره کوي او د عامه عقل د منلو شویو حقیقتونو په استناد یې د دومره ژوندي او خوځنده فکر په توګه وړاندې کوي چې عقل وینښوي، ذهن بیدار وي او په مړو زړونو کې د ژوند څپې خپروي، د هغوی د استدلال همدا فطري اسلوب دي چې پر بنسټ یې پر زړه و دماغ هر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زنګ نه درلودونکی سړی بې اختیاره دې وینا ته مجبورېږي چې ما فکر کاوه دا زما په زړه کې هم دي.

دویمه ځانګړتیا داده چې هغه د خپل استدلال دعوه ترتیبوي او په داسي طریقه یې د خپل مخاطب مخ ته ږدي چې د هغه په خبرو کې صرف دلیل نه مومي، له دې سره په ځان کې د هغه په وسیله د استدلال وړتیا هم پیدا کوي، د منطقیانو په څېر د خپل استدلال د صغرى او کبرى د ترتیبولو پر ځای به خپل مخاطب د استدلال د سرچینې لور ته متوجې کوي، ځینې لوازم به یې په خپله بیانوي او د ځینو لور ته به صرف په اشاره اکتفا کوي او ځینې به بېخي څرګندوي. له دې څخه چې کومې بدیهي نتیجې ترلاسه کېږي هغه به د مخاطب فهم ته پرېږدي، تر دې چې هغه یې په خپل فکر او تدبر سره په خپله ومني او بیا به د پوره ورځې په رڼا کې هغه حقایق وویني چې دی یې ورته رسول غواړي. په دې توګه له اجمال څخه تفصیل، له اصل څخه فرعې، له کلیې څخه جزیې، له بدیهي څخه نظري او مشهود څخه لازم ته د رسېدو داسي ترتیب برابروي چې هغه نه یوازي د هغه مطلب د خپل زړه پر تخته لولي بلکې د هغه د استدلال له طرزه د حکمت او معرفت هغه رڼا ترلاسه کوي چې د نفسونو او افاقو د هر ډول تیارو پردې څېري او د ده د فکر په ساحه کې داسي څرګندېږي چې په اړه یې لږ تر لږه د هغه په زړه کې هیڅ شک او ګومان نه پاتېږي.

دریمه ځانګړتیا داده چې هغه نه د مخاطب غلط مشهور د استدلال بنسټ ګرزوي او نه د نورو یوه نظریه او واهمه د خپل استدلالي عمارت لپاره د اساس په توګه کاروي، دی تل د خپل استدلال بنسټ پر داسي پیاوړو دلایلو دروي چې نه پرې د زمانې او حالاتو بدلونونه هیڅکله له یوه اړخه اغېز کوي او نه یې د افکارو او اندونو بدلون ژوبلوي، هغه د خپل دلیل دعوه پر هغه څه دروي چې په حقانیت یې بشپړ باور وي او د خپل همدې صفت له کبله د یوه حق اثبات تولو وسیله ګرزي. د هغه د استدلالي طرز همدا ځانګړتیا ده چې پر بنسټ یې د هغه کلام د وخت له زرګونو بدلونونو وروسته هم له یو ډول تاثیر سره زړونو ته لار مومي او د ذهنونو په تابع کولو کې بریالی کېږي.

څلورمه ځانګړتیا داده چې هیڅکله د استدلال الزامي طریقه نه خپلوي، یعنې هیڅکله په بحث او استدلال کې دا تېروتنه نه کوي چې په کوم ځای کې یې پر خبره نیوکه وشي نو سمدستي د خپل مخاطب له عقیدې او مذهب څخه هم دا ډول بېلګې وړاندې کړي. څرنګه چې د استدلال دا طریقه له هره پلوه ناسمه ده او په دې سره د حق اثبات څه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې وجود يې هم تر شک لاندې راځي له همدې کبله انبياء عليهم السلام ترې تل ډډه کړې او خپله خبره د خپلو دلايلو پر بنسټ په مخاطب منې او د هغوی له زړګونو نيوکو سره - سره پر خپله دې طريقه ټينګ وي.

پنځمه ځانګړتيا داده چې د دوی استدلال تل د هغوی او مخاطبينو تر منځ له ګډ ارزښت څخه سرچينه اخلي او بيا ورو -ورو د اختلافونو پر لورځي، دوی لومړی په خپل مخاطب هغه څه منې چې په دې نړۍ کې د نفسونو او افاقو د مسلماتو، تاريخي حقايقو، د عقلي او فطري بديهياتو او علمي باورونو په توګه منل کېږي او په اړه يې هيڅ د سالم فطرت څښتن د رد او اختلاف لار نه مومي. دوی له همدې اساساتو څخه په پيل کولو خپله خبره د هغو د لوازمو په توګه وړاندې کوي او په دې توګه د مخاطب لپاره ظاهرا يو ډېر نا اشنا شی هم ورو -ورو داسې اشنا ګرزي چې بېخي په غير محسوسه طريقه يې منې او بيا چې يې څه منلي د هغو د لوازمو منلو ته هم چمتو کېږي.

د دعوت طريقې

پنځم شی دادی چې داعي بايد د دعوت پر يوه طريقه ټينګار ونه کړي بلکې له پند او حکمت سره نورو ته د خپلې خبرې رسولو لپاره بايد هغه ټولې لارې غوره کړي چې د هغه په زمانه کې د دې هدف لپاره ګټورې او اغېزناکې ثابتېدای شي. که د نبيانو تاريخ ولولئ نو دا خبره ترې جوتېږي چې په دې معامله کې تل د حالاتو او زمانې رعايت ته پام شوی، کله چې خلګ د ليک -لوست له فن سره نا اشنا وو نو د الله نبيانو د ژبنۍ سپارښتنې طريقه غوره کړه او خبرې يې د روايا تو په شکل نسل په نسل منونکو ته لېږدول کېدې. هغه مهال دعوت يوازې د شخصي اړيکو، ژبنيو اظهارو بيانو او د اورېدونکو په دماغونو کې د هغه د ساتنې د وړتيا پر بنسټ وو، مګر کله چې د ليک -لوست فن را منځ ته شو نو انبياوو هم خپل دعوت د قلم او کتاب په وسيله وړاندې کړ، تورات او زبور او انجيل و قرآن دا ټول کتابونه په همدې وخت کې نازل شول. په هغه ټولنه کې چې د ناستې -پاستې، افکارو د بدلون او ټولنيزو چارو د پرېکړو کومې طريقې دود وې او د دين و اخلاقو له مخې سمې وې نو له دې ټولو څخه هم پوره ګټه واخيستل شوه. رسول الله ﷺ د خپلې کورنۍ مشران مېلمستيا ته را وبلل او خپل دعوت يې ورته وړاندې کړ، د صفا غره ته په ختلو يې د خپل قوم له دود سره سم د حق شعار اوچت کړ، د ام القری او طايف له مشرانو سره يې په خپله وليدل، د حج په موسم کې يې د بېلابېلو قبيلو مشرانو ته پيغام

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورساوه، ځینو مهمو کسانو ته یې خپل استازي ور ولېږل، د عربو موسمي بازارونو ته په خپله ولاړ او د دعوت فرصت یې پیدا کړ، ځینو کسانو ته یې لیکونه هم ولېږل، لنډه دا چې هغه مهال په عربو کې خلګو ته د خپلې خبرې رسولو هره طریقه دود وه، ده هغه ټولې وکارولې، استاذ امام یې په وضاحت کې لیکي:

" الله خبر په ځینو دیني کړیو کې دا فکر ولي خپور شوی چې د تبلیغ معیاري او نبوي طریقه داده چې سړی په لاس کې یوه لکړه او په ځولۍ کې لږ نخود واخلي په دعوت ووزي، نه یې په پښو چوتې وي، نه پر سر خولۍ، په کلیو وګرزي او کوم څوک چې هر ځای په مخه ورشي هغه یې اوري او که نه دعوت ورته شروع کړي. که پر کوم ښار تېرېږي نو چې هلته په کومه څلور لارې کې درې -څلور کسان وویني همالته د وینا لپاره ودرېږي، په اور ګاډي، تم ځای، بازار او سړک کې چې هر ځای ګڼه -ګوڼه وي همالته یې وعظ شروع شي، هر مجلس ته ور ننوزي، په هر کانفرانس کې خپل ځای پیدا کوي او پر هره چوتره درېږي، اورېدونکي ستړي وي خو دی په وینا نه ستړی کېږي، خلګ یې له تعقیب څخه وېرېږي مګر دی د الهي پوځ په توګه د هر چا پر سر مسلط وي، خلګ یې د سوال او ځواب له وېرې پټ ګرزي بلکې ډېر وختونه په زور بد و بې ادبي او ګستاخي کوي مګر دی له هماغه ولولې او جوش سره خپل کار ته دوام ورکوي، چیرې چې ترې د وعظ غوښتنه وشي وعظ کوي، په کوم ځای کې چې ترې د مېلاد غوښتنه وشي مېلاد وایي او په کوم ځای کې چې له مخالفینو او منکرینو سره مخ شي هلته د ملا په کړولو د مناظرې میدان ته هم ورځي. همدا د تبلیغ اصلي طریقه او د رښتني مبلغ صحیح انځور دی چې زموږ د ډېرو دیندارو خلګو په ذهن کې یې ځای نیولی دی، ممکن دوی د دعوت او تبلیغ د اوسنیو پرمختللو او علمي طریقو له لږ ګټې منکر نه وي، مګر د دوی په نظر د خیر او برکت طریقه همدا ده چې د دوی په اند رسولانو غوره کړې وه.

زما په اند دا طریقه د انبیاوو تګلاره بلل یو څه د انبیاوو په طریقه د نا خبرتیا نتیجه ده او یو څه د دې ښاغلیو د دې غوښتنې چې د دوی غوره کړې طریقه یوه سپېڅلې او مقدسه طریقه وګرزي (ځکه دوی له هغې طریقې پرته د بلې د خپلولو وړتیا هم نه لري) تر کومه ځایه چې موږ د انبیاوو د تبلیغ طریقه مطالعه کړې نو موږ دې نتیجې ته رسېدلي یو چې هغوی د تبلیغ کومې طریقې کارولې د هغوی په وخت کې تر ټولو غوره او پر مختللې طریقې وې او د حالاتو له بدلون او تمدني پرمختګ سره بدلیدې هم او دا د دې خبرې ثبوت دی چې په دې معامله کې پر یوه طریقه ټینګار صحیح نه دی، بلکې د حق داعیانو ته په کار ده چې هر وخت د زده کړې او تبلیغ لپاره هغه طریقه غوره کړي چې د دوی په زمانه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي موجوده وي او په غوره کولو يې دوی خپلې هڅې او وړتياوې ډېرې ګټورې او ښې پايلې درلودونکې ګرزولای شي." (دعوت دين: ۸۵)

البته په دې معامله کي بايد دې څو شيانو ته پام وشي:

يو دا چې د دعوت لپاره دي هيڅکله داسي طريقه نه غوره کېږي چې د دين او اخلاقو له پلوه کوم عيب ولري، که تر دې په وړاندينۍ کومه طريقه کي دا ډول شی موجود وي نو بايد د هغه تر خوشي کولو وروسته خپله شي، رسول الله ﷺ چې کله خپل قوم د صفا پر غره را وغوښت نو د عربي دود دونو له مخې که څه هم دا طريقه هغه چا غوره کوله چې يو لوڅ وېروونکی به وو مګر دا وېروونکی چې به د جامو په څېرلو څه ډول لوڅېده رسول الله ﷺ هيڅکله ونه زغمله.

دويم دا چې هغه طريقې دي هيڅ وخت نه غوره کېږي چې دعوت ته زيان رسوي او يا د داعي وقار ته تاوان وي، کله چې د رسول الله ﷺ په دعوت کي يو وخت داسي وېره پيدا شوه نو الله وويل:

أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى * فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّى * وَمَا عَلَيْكَ أَلاَّ يَزَّكَّى * وَأَمَّا مَن جَاءكَ يَسْعَى * وَهُوَ يَخْشَى * فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّى * كَلاَّ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ * فَمَن شَاء ذَكَرَهُ * فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ * مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ * بِأَيْدِي سَفَرَةٍ * كِرَامٍ بَرَرَةٍ*

(عبس ۸۰: ۵ - ۱۶)

"نو څوک چې بې پروا دي په هغو پسې يې، په داسي حال کي چې که هغه اصلاح نه شي نو پر تا يې هيڅ مسئوليت نه شته او څوک چې په مينه درته راځي او (له الله) وېرېږي هم نو ته ورته پام نه کوې، (هيڅکله په هغوی پسې شله کېدو ته اړتيا نه شته) دا يوه يادونه ده نو د چا چې زړه غواړي پند دي ترې واخلي (او د چا چې زړه غواړي په غوږونو کي دي ګوتې ونيسي) د ادب وړ، لوړو او پاکو صحيفو کي د ډېرو عزتمنو او وفادارو ليکونکو په لاسونو کي."

درېيم دا چې هغه طريقه دي هم هيڅکله نه غوره کېږي چې د دعوت هدف ته زيان رسوي او د زړونو په نرمولو د ودې د وړتيا موندلو پر ځای يې نور سختوي، د دې يو مثال هغه مناظرې دي چې زمونږ په مذهبي کړيو کي عيني په هماغه ډول ترسره کېږي لکه د پهلوانانو لپاره چې د غېږو تاييا کېږي، په داسي حال کي چې الله په دې اړه مونږ ته په خپل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کتاب کي کومه لارښوونه کړې هغه داده:

وَلاَ تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلاَّ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلاَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنزِلَ إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَهُنَا وَإِلَهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ (العنبکوت ۲۹ : ۴۶)

"او له اهل کتابو سره بحث مه کوه مګر په غوره طریقه پرته له هغو خلګو چې په دوی کي ظالمان دي او ووایه چې مونږ پر هغه څه ایمان راوړی چې را ته نازل شوي او پر هغه څه مو هم ایمان دی چې پر تاسو نازل شوي، زمونږ او ستاسو معبود یو دی او مونږ د همده فرمان منونکي یو."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۶

د جهاد قانون

امن او ازادي د انساني تمدن اړتياوې دي، د فرد له بغاوت څخه د ساتنې لپاره تادیب او سزاوې تاکل شوې دي، مګر که قومونه بغاوت وکړي نو هر سړی پوهېږي چې پر خلاف يې له تورې پورته کولو پرته بله چاره نه شته. تر څه وخته چې خبرې -اترې او تفاهم ګټه ولري نو د تورې پورته کول به هیڅوک روا ونه بولي، مګر کله چې دیو قوم بغاوت او فساد دې حد ته ورسېږي چې په نصیحت او خبرو -اترو يې پرلار کول ممکن نه وي نو انسان حق لري چې پر خلاف يې توره پورته کړي او تر هغه وخته دوام ورکړي چې په نړۍ کې د امن او خپلواکۍ فضا نه وي پر ځای شوې. د قرآن وینا ده چې که د تورې پورته کولو دا اجازه نه وای نو د قومونو بغاوت به تر دې حده رسېدلی وو چې د تمدن ویجاړې څه چې عبادت ځایونه به هم ویجاړېدل او پر هغو ځایو به ګردونه پراته وو چې نن پکې شپه او ورځ د نړۍ والو د رب نوم اخیستل کېږي او د ده لمانځنه کېږي:

وَلَوْلاَ دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا (الحج ۲۲ : ۴۰)

"او که الله دیوه بل په وسیله د خلکو مخه نه نیولای نو خانقاوې، کلیساوې، عبادت ځایونه او مسجدونه به چې پکې د الله نوم ډېر یاد ېږي ټول ویران شوي وای."

دا جهاد او قتال دی[1] مګر په قرآن کې حکم د دوو ډولونو لپاره راغلی:

یو د ظلم او تېري پر خلاف.

[1] جهاد په یوه چاره کې د خپلو ټولو هڅو او توان کارول دي، په قرآن کې چې دا تعبیر په څه ډول د الله په لارکې د عامو هڅو لپاره کارول شوی همدا راز د قتال في سبیل الله لپاره هم استعمال شوی دی، دلته يې مراد همدا دویم مفهوم دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم تر اتمام حجت يا د حق تر وضاحت وروسته له هغه څخه د منكرينو پر خلاف.

اول صورت د شريعت ابدي حكم دى او په همدې موخه جهاد د هغه مصلحت لپاره كېږي چې پورته بيان شو، دويم صورت له شريعت سره نه بلكي د الله د اتمام حجت له هغه قانون سره تړاو لري چې تل په دې دنيا كي د ده په مستقيم امر او هغو شخصيتونو په وسيله عملي كېږي چې دى د رسالت دنده ورسپاري.

په انساني تاريخ كي دا دنده په وروستي ځل محمد رسول الله ﷺ تر لاسه كړه.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (يونس ١٠: ٤٧)

"او د هر امت لپاره يو رسول دى، كله چې يې رسول راشي نو د دوى تر منځ په انصاف پرېكړه كېږي او پر دوى هيڅ ظلم نه كېږي."

د دې قانون له مخې چې كله پر كوم قوم د دې رسولانو په وسيله د الله حجت پوره شي نو پر منكرينو يې په همدې دنيا كي عذاب راځي، دا عذاب له اسمانه هم راځي او په ځينو حالاتو كي د حقپالو د تورې په وسيله هم چې په نتيجه كي يې منكرين حتما مغلوبېږي او پر خاوره يې په پوره ځواك سره حق غالبېږي.[٢] د رسول الله ﷺ له خوا د حجت تر اتمام وروسته همدا دويم حالت پېښ شو، لكه څرنگه چې يې ده او ملگرو ته د ظلم او تېرې پر خلاف د قتال امر وشو همدا راز په دې موخه هم ورته د تورې پورته كولو لارښوونه وشوه، دا يو الهي كار وو چې د انسان په لاسونو پوره شو او بايد ديوه الهي سنت په توگه ورته وكتل شي. له انساني اخلاقياتو سره هيڅ تعلق نه لري، ده يُعَذِّبْهُمُ اللّهُ بِأَيْدِيكُمْ [٣] (الله به دوى ته ستاسو په لاسونو سزا وركړي) په الفاظو كي همدا حقيقت بيان شوى دى. لاندې به د همدې دواړو صورتونو په اړه د قرآني اياتونو وضاحت وكړو.

د جهاد اجازه

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ * الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلاَّ أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ* (الحج ٢٢: ٣٩، ٤٠)

[٢] ابراهيم ١٤: ١٣، ١٤، المجادلة ٥٨: ٢٠، ٢١

[٣] التوبة ٩: ١٤

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"له چا سره چې جګړه وشي هغوی ته د جګړې اجازه ده ځکه چې پر دوی ظلم شوی او الله يې حتما د مرستې قدرت لري، هغه چې په ناحقه له خپلو کورونو شړل شوي صرف پر دې خبره چې دوی ويل: زمونږ رب الله دی."

دا د قرآن لومړني اياتونه دي چې پکې مهاجرينو صحابه وو ته د دې اجازه ورکړل شوه چې که وغواړي نو د يرغل پر خلاف د جنګ اقدام کولای شي، قرآن ويلي: دوی هغه خلګ وو چې له څه پرې پرته صرف په دې جرم له کورونو ايستلو ته مجبور کړای شول چې الله خپل رب بولي، که د قريشو د ظلمونو او زورونو پر ټول داستان غور وشي نو هغه په دې يوه جمله کې را غونډ شوی دی، ځکه يو څوک د خپل وطن او کور خوشي کولو ته تر هغو نه چمتو کېږي چې د وطن ځمکه پرې تنګه نه کړای شي. د بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا اشاره هم دې ظلمونو ته ده او قرآن پر همدې بنسټ مسلمانانو ته دا حق ورکړی چې نور د يرغل پر خلاف توره پورته کولای شي.

دوی ته دا حق د يوې ډلې په توګه ورکړل شوی دی، د ژبې له اسلوبو سره اشنا هر سړی پوهېږي چې په قرآن کې د قتال يا جګړې هر ايت چې راغلی مسلمانان يې په فردي توګه مخاطب نه دي. د حدودو او تعزيراتو په څېر دوی ته د دې اياتونو خطاب هم د يوې ډلې په توګه دی ځکه نو په دې معامله کې هر ډول اقدام د دوی د اجتماعي نظم او اداري حق دی، په دوی کې يو فرد يا يوه ډله هيڅکله دا حق نه لري چې د دوی له لوري د دا ډول ګام اخيستلو پرېکړه وکړي. د سورت الحج په يادو اياتونو کې د اذن لفظ پر همدې حقيقت دلالت کوي، د دې معنا داده چې له جګړې سره تړلې لومړنۍ مسئله د روا او ناروا ده، الله د قريشو له لوري له ظلم او تېري سره –سره د رسالت په زمانه کې د ټولنيزې اداري د جوړښت تر کوم شرط پورې کېدو وروسته مسلمانانو ته اجازه ورکړې له هغه پرته اوس هم د مسلمانانو لپاره جواز نه شي درلودای،[4] رسول الله ﷺ پر همدې بنسټ ويلي دي:

---

[4] دا مهال ځيني کسان د دې په رد کې د حديبيې تر سولې وروسته د قريشو پر خلاف د ابو بصير ﷺ په غلچکي بريدونو استدلال وايي چې دا صرف د علم او فکر بې وزلي ده، قرآن کريم د انفال (۸) سورت په (۷۲) ايت کې په پوره صراحت سره ويلي چې کومو کسانو د هجرت په کولو مدينې ته تګ ونه کړای شو د هغو په اړه رسول الله ﷺ او د مدينې د دولت مسلمانان هيڅ مسئوليت نه لري. يوازې دا نه بلکې د بخاري له يوه روايت (شمېره: ۲۷۳۱، ۲۷۳۲) سره سم په خپله رسول... ...الله ﷺ د ابو بصير پر يوه اقدام د تبصرې په توګه وويل: ويل امه مسعر حرب لـو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

انما الامام جنة يقاتل من ورائه و يتقى به. (بخاري، شمېره: ۲۹۵۷)

" د مسلمانانو واکمن د هغوی ډال دی، د هغه تر شا به جګړه کېږي او خلک به پرې ځان ساتي."

د جهاد امر

وَقَاتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُواْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ * وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ وَلاَ تُقَاتِلُوهُمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِن قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاء الْكَافِرِينَ * فَإِنِ انتَهَوْاْ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ * وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلّهِ فَإِنِ انتَهَواْ فَلاَ عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ *الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ* (البقرة ۲ : ۱۹۰ - ۱۹۴)

" او د الله په لار کي له هغو خلکو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګېږي او (په دې کي) تېری مه کوئ بې شکه الله تېریګر نه خوښوي او دوی چې چیري وموميئ ویې وژنئ او له هغه ځایه یې وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یاست او (په یاد ولرئ چې) فتنه تر قتل ډېر بد شی دی، د مسجد الحرام په خوا کي تاسو ورسره اول جګړه مه کوئ څو چې دوی درسره جګړه ونه کړي، که دوی جګړه وکړه نو (له څه شک پرته) یې ووژنئ، د دا ډول منکرینو همدا سزا ده، مګر که (دوی له خپل دې انکار څخه) لاس واخلي نو الله بخښونکی مهربان دی او تاسو له دوی سره تر هغو جګړه کوئ چې فتنه پاتي نه شي او (په دې ځمکه کي) دین خاص د الله شي، مګر که دوی لاس واخیست نو (پوه شئ چې) یوازي د ظالمانو پر خلاف اقدام روا دی، د حرامې میاشتې بدله حرامه میاشت ده او (همداسي) د نورو حرمتونو بدلې هم دي، له همدې کبله چې څوک درباندي ظلم وکړي نو تاسو یې د هغه ظلم په اندازه ځواب ورکړئ، له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې الله له هغو سره دی چې د ده د حدودو پیروي کوي."

کان له احد (د ده مور دي خواره شي، که لږ ملګري پیدا کړي نو د جنګ اور به بل کړي) له دې څخه اټکل کېدای شي چې د هغه په اړه یې نظر څه وو؟.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په سورت الحج کې د جګړې تر اجازې وروسته یې قران کریم حکم اصلا په همدې ایاتونو کې بیان کړی دی، له دې پرته چې په قرآن کې هر ځای د جګړې یادونه شوې د همدې ایاتونو د تفصیل، تاکید او د هغو په حکم د عمل په نتیجه کې د پیدا شویو ځینو پوښتنو د وضاحت لپاره راغلې.[۵] په سورت البقره کې یې د یادونې وجه داده چې د قبلې په توګه د بیت الله تر تاکل کېدو وروسته خلګ حج ته ناکرار وو، له هغوی سره اندېښنه پیدا شوه چې دا مهال قریش د حج په وړاندې خنډ دي، که دوی مقاومت وکړ نو جنګ را منځ ته کېدای شي او په دې کې به حرامې میاشتې مشکل جوړ کړي. له همدې کبله پوښتنه وشوه نو قرآن وضاحت وکړ چې د هغو حرمت باید وساتل شي، خو که د قریشو له لوري کوم ګام اوچت شو نو مسلمانانو ته د الله حکم دا دی چې مقاومت دې په توره له منځه یوسي. د ایاتونو سیاق همدا دی، مګر قرآن خبره دلته پای ته ونه رسوله بلکې له دې سره یې د راتلونکي جنګ مسئولیت، د هغه علت او اخلاقي حدود ان که غور وکړو نو په دې کې یې د ګام اخیستلو هدف همداسې بیان کړی چې موږ په مقدمه کې د جګړې کوم دوه صورتونه یاد کړل د هغو حدود ښخې مشخص ګرزي. موږ به دلته د همدې بحثونو تفصیل بیان کړو.

د مسئولیت ډول

له دې ایاتونو چې لومړی کومه خبره ښکاري هغه داده چې په دې کې صرف دومره نه دي ویل شوي چې مسلمانان د بیت الله د حج په لار کې د قریشو د مقاومت ختمولو لپاره توره پورته کولای شي، بلکې تر دې په وړاندې تلویې هغوی ته امر کړی چې دوی دي د دې هدف لپاره پر له پسې تر هغو توره وچلوي چې فتنه پاتې نه شي او د حرم په خاوره کې دین صرف د الله شي. څرګنده ده چې دا یو لوی مسئولیت دی او د مسلمانانو د ټولنیزې اداري جګړییز او اخلاقي ځواک ته له پام پرته نه شي سپارل کېدای. قرآن په سورت الأنفال کې روښانه کړې چې دې ته پام شوی او په بېلابېلو پراوونو کې د همدې رعایت له مخې کم او زیات شوی دی، کله چې په لومړی مرحله کې د مسلمانانو د ډلې ډېری غړي د مهاجرینو او انصارو لومړني کسانوو او د ایمان و اخلاقو له پلوه پکې هیڅ ډول کمزوري نه وه نو د هغوی یوه د لسو په وړاندې د دې مسئولیت په پوره کولو مکلف وو. الله ویلي:

---

[۵] د بېلګې په توګه د همدې سورت په (۲۴۴) ایت کې.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ يَغْلِبُواْ أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لاَّ يَفْقَهُونَ (الأنفال ٨ : ٦٥)

" اې نبي! دا مومنان جګړې ته وپاروه که په تاسو کې شل صبر کوونکي وي نو پر دوو سوو به بریالي شي او که دا ډول سل وي نو د دې کافرانو پر زرو به بریالي شي ځکه دوی له پوهې بې برخې خلګ دي."

استاذ امام امین احسن اصلاحي د دې پوهې په وضاحت کې لیکي:

" همدا پوهه د انسان اصل جوهر دی، کله چې مومن بنده له دې پوهې سره د جګړې ډګر ته ځي نو په خپل یوازیني وجود کې دیوه لښکر قوت احساسوي، دی په خپل راسته اړخ کې الهي نصرت ویني او مرګ یې تر ژوند ډېر خوښ وي ځکه د ده پوهه یې په وړاندي هغه منزل روښانه کوي چې د الله په لار کې د شهیدانو لپاره ځانګړی شوی دی. همدا پوهه په ده کې هغه صبر او ثبات پیدا کوي چې له دې پوهې څخه پر بې برخې لسو کسانو یې پیاوړی کوي." (تدبر قرآن ۳ / ۵۰۶)

دا لومړنۍ مرحله وه او تر دې وروسته نوي خلګ مسلمانان شول، که څه هم په دې مرحله کې د مسلمانانو شمېر ډېر شو مګر د دیني پوهې له پلوه د لومړنیو مسلمانانو په څېر نه وو، نو الله تر دې د مسئولیت بوج هم سپک کړ او ویې ویل:

الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُواْ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ (الأنفال ٨ : ٦٦)

" البته الله دا مهال ستاسو بوج سپک کړ ځکه دی وپوهېد چې په تاسو کې ځینې کمزوري خلګ دي، نو که په تاسو کې سل صابر کسان وي پر دوو سوو به بریالي شي او که دا ډول زر وي نو د الله په حکم به پر دوو زرو بریالي شي او (حقیقت دادی چې) الله د هغو ملګرې دی چې (د ده په لار کې) صبر کوونکي دي."

همدا معامله د عملیاتو د اړتیا له مخې هم وشوه، د بدر، احد، تبوک او نورو پر مهال هر مسلمان په دې مسئولیت مکلف وبلل شو او کومو کسانو چې د دې هدف لپاره په تګ کې کمزوري وښوده هغوی د الله له لوري له سخت حساب سره مخ شول، ان یو ځای دا ګوابنه وشوه چې که دوی ته د الله په لار کې تر جهاد خپله کورنۍ او مالونه و جایداد ونه محبوب وي نو انتظار دي وکړي چې الله خپله فیصله صادره کړي او دوی هم په هغه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

برخليک اخته کړي چې د رسول د تکذيب کوونکو لپاره تاکل شوی دی.[۱۴] مګر د کومو عملياتو لپاره چې د ټولو مسلمانانو وتلو ته اړتيا نه وه هلته الله څرګنده کړه چې نوره دا معامله د غوره درجې ترلاسه کول دي، که څه هم د فضيلت دا درجه عادي شی نه دی خو په دې وخت کې جهاد ته د تلو مسئوليت ټولو مسلمانانو ته نه راجع کېږي:

يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُوْلِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فَضَّلَ اللّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلاًّ وَعَدَ اللّهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا * دَرَجَاتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ اللّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا* (النساء ۴: ۹۵، ۹۶)

"په مسلمانانو کې چې کوم کسان له عذر پرته پر کور ناست وي او څوک د الله په لار کې په خپل ځان او مال جهاد وکړي دا دواړه سره برابر ښه نه شي، الله په ځان او مال جهاد کوونکو ته پر ناستو کسانو يوه درجه لوړتيا ورکړې او (حقيقت دادی چې) الله له دواړو سره غوره وعده کړې او دا چې مجاهدينو ته الله پر ناستو کسانو د يو لوی اجر فضيلت ورکړی دی. د ده له لوري درجې، مغفرت او رحمت او الله بخښونکی ډېر مهربان دی."

مګر قرآن يو بل ځای دا خبره په پوره صراحت سره کړې چې د الله په امر يو ځل ميدان ته تر کښته کېدو و روسته بې زړه توب او پر شا تېښته د هيڅ مسلمان خاصيت نه شي کېدای، دا الله دومره لويه ګناه بللې چې پر دې يې د جهنم ګواښنه کړې. په سورت الأنفال کې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفاً فَلاَ تُوَلُّوهُمُ الأَدْبَارَ * وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاء بِغَضَبٍ مِّنَ اللّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ* (الأنفال ۸: ۱۵، ۱۶)

"اې مومنانو! کله چې تاسو د يوه منظم پوځ په شکل د دې کافرانو مقابلې ته ورشئ نو شا مه ورګرزوئ او (پوه شئ چې) چا په دې وخت کې شا وګرزوله پرته له دې چې د جګړې لپاره چمتو کېدونکی يا د خپل پوځ له بلې برخې سره يو ځای کېدونکی وي نو هغه د الله له غضب سره راستون شو، ځای يې جهنم دی او هغه ډېر بد تم ځای دی."

[۱۴] التوبة ۹: ۲۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استاذ امام د دې ایاتونو په تفسیر کې لیکي:

" دلته مسلمانانو ته د را روانو جګړو په اړه لارښوونه کېږي چې کله مو د منظم پوځ په شکل له دښمن سره مقابله وي نو شا مه ورګرزوئ، دا هدایت د الله پر هغو تائیداتو بنا دی چې پورته یاد شول او ویې ویل: د چا تر شا چې د الله او د هغه د فرشتو مرسته او کومک وي هغوی ته ناروا ده چې دښمن ته شا ور وګرزوي.

وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ یعني په دې صورت کې دښمن ته د شا ور ګرزولو په اړه یې ویلي چې د هغه له غضب سره به را وګرزي او ځای یې جهنم دی. له دې معلومه شوه چې دا د کفر او ارتداد په څېر جرم دی، ښکاره ده چې د دې جرم سختي په دې وجه ده چې ځوک د جګړې له ډګره تښتي هغه په خپل بې زړه توب سره ډېر وخت د خپل پوځ بلکي ټول ملت لپاره سخت خطرات پیدا کوي.

إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ یعني له دې څخه هغه شکلونه استثنا دي چې یو پوځي یې د کوم جنګي تکتیک لپاره غوره کوي او یا داسي حالت پېښ شي چې له خپل یوه سنګر څخه بل سنګر ته پر شا کېږي. مطلب دا چې د تښتي په توګه شا اړونه ناروا ده، هغه شاتګ ترې وتلی دی چې د جنګي تکتیک په توګ وي." (تدبر قرآن ۳ / ۴۵۰)

د قرآن له دې تصریحاتو دا درې خبرې ښکې په ډاګه شوې:

اول دا چې که ظلم او تېری موجود هم وي نو جهاد تر هغه وخته نه فرض کېږي چې د دښمن په وړاندې د مسلمانانو جګړییز ځواک تر ځانګړي حده ونه رسېږي. له لومړنیو کسانو سره د نورو خلکو تر یو ځای کېدو وروسته الله دا حد د رسول الله ﷺ په زمانه کې د دوو په وړاندې یو ټاکلی وو، په وروسته وختونو کې خو داتصور نه شي کېدای چې تر دې دې زیادت شي ځکه نو د مسلمانانو لپاره اړینه ده چې د جهاد او قتال د دې مسئولیت غوره کولو لپاره دې نه یوازې د خپل اخلاقي وجود د پیاوړتیا هڅه وکړي بلکي خپل جګړییز ځواک دې حتما هغې درجې ته لوړ کړي چې قرآن د نبوي زمانې مسلمانانو ته د هغه وخت حالت ته په پام امر کړی وو:

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُواْ

" او د دې کافرانو لپاره چې تر کومه ممکنه وي جګړییز ځواک او ټرلي اسان چمتو کړئ چې په دې سره مو د الله او ستاسو پر دې دښمنانو رعب ولوېږي او له دوی پرته پر هغو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لاَ تُظْلَمُونَ (الأنفال ۸ : ۶۰)

نورو هم چې تاسو يې نه پېژنئ (مګر) الله يې پېژني او (پوه شئ چې) د الله په دې لار کې چې تاسو هر څه هم ولګوئ تاسو ته به پوره درکړل شي او هيڅ ظلم به درسره ونه شي."

دويم دا چې په جهاد کې عملا ونډه نه اخيستل يوازې په هغه صورت کې جرم دی چې کله کوم مسلمان له عام مارش[۷] سره – سره پر کور ناست وي، په دې وخت کې يقينا دا د نفاق په څېر ستر جرم ګرزي. که دا حالت نه وي نو جهاد يو فضيلت دی چې بايد هر څوک يې د ترلاسه کولو هيله ولري، مګر بيا هم د فضيلت درجه لري او دا له هغو فرايضو څخه نه دی چې که ترسره نه شي نو انسان مجرم ګرزي.

درېيم دا چې د الله په لار کې د جګړې لپاره ميدان ته تر کښته کېدو وروسته بې زړه توب او تېښته حرام دي، بايد هيڅ مسلمان دا کار ونه کړي، دا د الله پر مرسته د نه باور، تر اخرت دنيا ته د ترجيح ورکولو او ژوند صرف تر خپل تدبير د محدود بللو جرم دی چې له ايمان سره يې هيڅ امکان نه شي منل کېدای.

د جګړې هدف

له دې ايا تونو دويمه خبره دا ښکاري چې په دې کې د کومې جګړې امر شوی هغه نه د نفسي غوښتنې لپاره ده، نه د مال او دولت، نه د هيواد نيونې او حکومت، نه د شهرت او نوم ايستنې، نه د غيرت و ملاتړ او يا تعصب و عداوت د جذبې سړولو لپاره. لکه څرنګه چې تر قاتلوا وروسته د في سبيل الله له قيد څخه ښکاري صرف د الله د رضا لپاره ده، قرآن د دې حکم په پيل کې روښانه کړې چې له دې قتال سره د انسان ځانځاني او خود غرضي هيڅ تړاو نه لري، دا د الله جنګ دی چې د ده بندګان يې د ده په امر او د ده له هدايت سره سم في سبيل الله يعني د الله په لار کې ترسره کوي. په دې جګړه کې د هغوی رول يوازې د وسايلو او اندامونو دی، دوی په دې کې خپل هيڅ هدف نه لري بلکې الهي اهداف پوره کوي ځکه نو له دې حيثيت څخه د سر د يوه وېښته په اندازه انحراف نه شي کولای، په سورت النساء کې يې ويلي:

---

[۷] يعني داسې حالت راشي چې د مسلمانانو چارواکي او د پرېکړو واک درلودونکي هر مسلمان جهاد ته ور وغواړي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الَّذِينَ آمَنُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُواْ أَوْلِيَاء الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا

(النساء ۴ : ۷۶)

"کومو کسانو چې ایمان راوړی هغوی د الله په لار کې جنګېږي او کوم کسان چې منکرین دي هغوی د شیطان په لار کې جنګېږي، نو تاسو د شیطان له دې دوستانو سره وجنګېږئ تاسو باید باور ولرئ چې د شیطان تکتیک په حقیقت کې ډېر کمزوری وي."

د قرآن دا مطلب په ځینو ځایونو کې رسول الله ﷺ هم په ډېر ښه ډول واضح کړی دی، له ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت دی چې یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ویې پوښتل چې یو څوک د غنیمت د مال لپاره جنګېږي، یو څوک د نوم او شهرت لپاره جنګېږي او یو څوک د خپلې زړورتیا ښودلو لپاره جنګېږي، په دوی کې کوم یو د الله په لار کې جګړه کوي؟. رسول الله ﷺ ځواب ورکړ چې د الله په لار کې جګړه خو صرف دهغه ده چې یوازې د الهي کلمې د لوړتیا لپاره میدان ته کښته شي.[۸] له ابو امامه باهلي څخه روایت دی چې یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی ویې ویل: د هغه چا په اړه څه وایې چې د مالي ګټې او نوم لپاره جګړه کوي، ده ته به څه ورکول کېږي؟. رسول الله ﷺ ځواب ورکړ: هغه به هیڅ تر لاسه نه کړي. دې سړي دریځله همدا پوښتنه وکړه او رسول الله ﷺ هماغه ځواب ورکړ، ان تر دې چې ویې ویل: الله د هیچا عمل هم تر هغه وخته نه منې چې په اخلاص او صرف د ده د رضا لپاره نه وي.[۹]

له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې یو ځل رسول الله ﷺ وویل: د قیامت په ورځ به تر ټولو وړاندې د درو کسانو پربکړه وشي لومړی دهغه چا چې په جګړه کې وژل شوی وي، الله به خپل نعمتونه ورياد کړي دی به یې ومني، نو الله به ترې وپوښتي چې تا زما لپاره څه وکړل؟. دی به ووایي: ما ستا لپاره جګړه وکړه ان تر دې چې شهید شوم، الله به ووایي: تا دروغ وویل، جګړه دي د دې لپاره کړې وه چې خلګ دي زړورتیا ومني نو همداسي وشول. بیا به یې الله د عذاب امر وکړي او په پرمخي کشېدو به دوزخ ته واچول شي.[۱۰]

---

[۸] بخاري، شمېره: ۲۸۱۰، مسلم، شمېره: ۴۹۱۹

[۹] نسايي، شمېره: ۳۱۴۲

[۱۰] مسلم، شمېره: ۴۹۲۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له عباده بن صامت څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: که څوک د الله په لار کې جګړې ته ووزي او د اوښ ټرلو د یوې رسۍ نیت هم وکړي نو یوازې همغه رسۍ به ورکړل شي، له دې پرته به هیڅ ونه مومي.[11]

د معاذ بن جبل وینا ده چې رسول الله ﷺ یو ځای وویل: جګړې دوه ډوله دي چا چې خالص د الهي رضا لپاره جګړه وکړه، د خپل واکمن امر یې ومانه، خپله غوره شتمني یې مصرف کړه، له خپلو ملګرو سره یې د نرمۍ چلند وکړ او ځان یې له فساد څخه وساته نو د ده خوب او ویښتیا ټول به ثواب ولري او چا چې د ځان ښودنې، شهرت او نوم لپاره توره پورته کړه، د خپل واکمن مخالفت یې وکړ او په ځمکه کې یې فساد خپور کړ نو هغه به هیڅکله خلاص نه شي.[12]

د همدې نوعیت له کبله د دې جګړې ثواب هم بې ساري ښودل شوی دی، الله ویلي:

وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ* يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ*

(آل عمران ۳ : ۱۶۰ - ۱۷۱)

"او کوم کسان چې د الله په لار کې وژل شوي پر هغوی د مړو خیال مه کوئ (هغوی مړي نه دي) بلکې د خپل رب په حضور کې ژوندي دي، روزي ورکول کیږي، الله چې له خپله فضله څه ورکړي په هغو خوشاله دي او د هغو خلکو په اړه زیږي تر لاسه کوي چې له دوی څخه په پاتې شویو کې لا هم ورسره یو ځای شوي نه دي چې پر دوی به هم نه څه ویره وي او نه غم، دوی د الله په نعمت او فضل خوشاله دي او دې خبره چې الله به د مومنانو اجر ضایع نه کړي."

له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: که کوم څوک د الله په لار کې جهاد کوي (او الله ښه پوهیږي چې څوک د ده د لارې مجاهد دی) مثال یې د هغه چا په څیر دی چې د ورځې روژه نیسي او د شپې لمونځ کوي او الله په خپله لار کې جهاد کوونکو

[11] نسایي، شمېره: ۳۱۴۰

[12] نسایي، شمېره: ۲۴۰۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسئولیت اخیستی چې که دوی ووژل شي نو سیده به جنت ته ځي، که نه له اجر او ثواب او د غنیمت له مال سره به کور ته روغ را ګرزي.[۱۳]

د همدې وینا ده چې یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ویې ویل: ما ته یو داسي عمل راوښیه چې اجر او ثواب یې له جهاد سره برابر وي. ده وویل:

داسي هیڅ عمل نه شته، بیا یې وپوښتل: ایا یو څوک داسي کولای شي چې کله مجاهدین له کورونو ووزي نو دی مسجد ته ولاړ شي، مسلسل لمونځ کوي، هیڅ دمه نه اخلي، پر له پسې روژې نیسي او هیڅ یې ونه خوري. هغه وویل: داسي څوک کولای شي؟.[۱۴]

له همدې ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: په جنت کې الله د خپلو مجاهدینو لپاره سل درجې چمتو کړې دي، د هرو دوو درجو تر منځ یې دومره واټن دی لکه د ځمکې او اسمان تر منځ.[۱۵]

له همده څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل: په هغه رب قسم! چې زما ځان یې په ولکه کې دی که هر څوک د الله په لار کې ژوبل شي (او الله ښه پوهیږي چې څوک واقعا د ده په لار کې ژوبل شوی دی) هغه به د قیامت په ورځ داسي راشي چې د وینو رنګ به یې د وینو او خوشي به یې د مشکو وي.[۱۶]

د ابن جبروینا ده چې رسول الله ﷺ وویل: د کوم بنده پښې چې د الله په لار کې په ګردونو ولړل شي نو د دوزخ اور به یې لمس هم نه کړي.[۱۷]

سهل بن سعد وایي چې رسول الله ﷺ وویل: له دښمن څخه د ساتنې لپاره پر پوله یوه ورځ تېرول تر دنیا او هر څه یې غوره ده.[۱۸]

---

[۱۳] بخاري، شمېره: ۲۷۸۷
[۱۴] بخاري، شمېره: ۲۷۸۵
[۱۵] بخاري، شمېره: ۲۷۹۰
[۱۶] بخاري، شمېره: ۲۸۰۳، مسلم، شمېره: ۴۸۵۹
[۱۷] بخاري، شمېره: ۲۸۱۱
[۱۸] بخاري، شمېره: ۲۸۹۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اخلاقي حدود

له دې اياتونو څخه درېيمه خبره دا په ډاګه شوه چې د الله په لار کې دا جګړه اخلاقي حدود و ته له پامه پرته نه شي کېدای، اخلاقيات په هر حال کې او تر هر څه وړاندې دي. الله د جګړې او نښتې پر مهال هم له دې څخه د سرغړونې اجازه هيڅا ته نه ده ورکړې ځکه يې نو ويلي چې په دوی کې څوک جګړې ته راشي له هغوی سره وجنګېږئ، تاسو چې يې له کومه ښاره شړلي ياست له هماغه ځايه يې وشړئ او دوی چې هر ځای په لاس درشي وېې وژنئ، د دوی د ظلم او تېري، همدارنګه د رسول له لوري د حجت تر پوره کولو وروسته دا هر څه درته جايز دي مګر له دې سره -سره بايد دې دوو خبرو ته پام وشي:

يوه داچې بايد د يو حرمت تر پښو لاندې کولو پيل ستاسو له لوري نه وي، له مسجد حرام سره او په حرامو مياشتو کې قتال صرف په هغه صورت کې کېدای شي چې پيل د دوی له خوا وي، ستاسو له لوري بايد هيڅکله پيل ونه شي.

دويمه داچې تاسو د تېري ځواب د هماغه تېري په اندازه ورکولای شئ، د نور زيادت حق نه لرئ، له دوی سره وجنګېږئ خو له ځانه زيادت مه کوئ، په ياد ولرئ چې تېريګر د الله سخت بد ايسي او د ده مرسته يوازې له هغو خلکو سره شاملېږي چې په هيڅ حالت کې د ده حدود مات نه کړي. په يادو اياتونو کې قرآن کريم دا دوې خبرې په خپلو بېساړې اسلوبو داسې بيان کړې دي:

الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ(البقرة ۲ : ۱۹۴)

" د حرامې مياشتې بدله حرامه مياشت ده او د نورو حرمتونو بدله همداسې ده، نو چې څوک پر تاسو تېری وکړي نو تاسو يې د هغه تېري په اندازه ځواب ورکړئ، له الله وويرېږئ او پوه شئ چې الله د ده د حدودو له پابندي کوونکو سره دی. "

استاذ امام د دې ايت په تفسير کې ليکي:

" ... مطلب دا چې په حرامو مياشتو او د حرم په حدودو کې دننه جنګ او جګړه لويه ګناه ده، مګر کله چې کافران ستاسو په اړه د دې حرمت خيال نه ساتي نو تاسو هم حق لرئ چې د قصاص په توګه دوی هم له دې حرمت څخه بې برخې کړئ، په شريعت کې دهر چا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځان محترم دی، مګر کله چې څوک د بل د ځان درناوی نه کوي او وژنې یې نو په قصاص کې یې دی هم د ځان ساتنې له حق څخه په بې برخې کېدو وژل کېږي. همدا راز د حرامو میاشتو او حرم د حدودو درناوی ثابت دی خو په دې شرط چې کفار یې هم درناوي ته پام وکړي او په دې کې نور د خپل ظلم او تېري ننښه ونه ګرزوي، مګر کله چې د دوی تورې په دې میاشتو او د امن په دې ښار کې له تېکو راوزي نو دوی د دې وړ دي چې په قصاص کې د امن او احترام له دې حقوقو بې برخې شي، ورپسې یې زیاته کړې چې په حرامو میاشتو کې د قصاص اخیستلو د ضرورت په څېر د همدا سي نورو حرمتونو قصاص هم شته، یعني دوی چې تاسي د کوم محترم شي له حقوقو بې برخې کړي نو تاسو یې هم په قصاص کې د حرمت له حق څخه د بې برخې کولو واک لرئ، نو څرنګه چې هغوی د ګام په اخیستلو د حرم او حرامو میاشتو درناوی ترپښو لاندې کوي او ستاسو مخالفت کوي نو تاسو هم د سوک ځواب په سوک ورکړئ، البته د تقوا حدود و ته پام کوئ، ستاسو له لوري باید د کوم حد په ماتولو کې نه پیل وشي او نه تر حد زیات ګام واخیستل شي، د الله مرسته او ملاتړ له هغو خلکو سره دی چې په هر ډول حالاتو کې له ده وېرېږي."

(تدبر قرآن ۱ / ۴۷۹)

د همدې حکم په ضمن کې چې قرآن تر ټولو کوم مهم هدایت بیان کړی هغه په وعده وفا ده، الله غدر او وعده ماتول تر ټولو بده ګناه بللې. د ظلم و تېري او د حجت تر پوره کېدو وروسته د حق د منکرینو پر خلاف جهاد په دوارو شکلونو کې یې مسلمانانو ته څرګنده کړې چې له هیڅ قوم سره د خپل کړي تړون مخالفت نه شي کولای. سورت التوبة د حق پر منکرینو د عذاب سورت دی او په دې کې یې رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو ته له عربي مشرکینو سره د ټولو تړونونو په ختمولو د وروستي ګام اخیستلو امر کړی دی، خو په هغه کې یې هم دومره خبره څرګنده کړې چې که کوم تړون تر تاکلې مودې شوی وي نو باید حتما پوره شي.[۱۹] همدا راز په سورت الأنفال کې په دا ګه ویل شوي: که یو معاهد قوم پر مسلمانانو ظلم هم کوي نو د تړون په مخالفت کولو ورسره مرسته نه شي کېدای. الله ویلي:

وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلاَيَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُواْ وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي

"پاتي شول هغه خلک چې ایمان یې راوړی مګر هجرت یې نه دی کړی نو له دوی سره مو تر هغو د ولایت کومه اړیکه نه شته چې د هجرت

[۱۹] التوبة ۹ : ۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلاَّ عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

(الأنفال ٨ : ٧٢)

په کولو راغلي نه وي او که له تاسو د دين په معامله کي مرسته وغواړي نو پر تاسو يې مرسته لازمه ده مګر د داسي قوم پر خلاف نه چې تاسو ورسره تړون کړی وي او (حقيقت دادی چې) تاسو څه کوئ الله يې وينې."

رسول الله ﷺ هم په ګڼو ځايونو کي د وعدې ماتول غندلي دي، له ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: د هر غدار او وعده ماتوونکي د خيانت لپاره به د قيامت په ورځ د هغه د غدر په اندازه يو بيرغ ودرول شي او ياد ولرئ چې که پاچا غداري وکړي او وعده ماتوي نو تر هغه لوی غدار نه شته.[٢٠]

له عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل: که څوک يو معاهد ووژني د قيامت په ورځ به يې د جنت بوی هم په نصيب نه شي په داسي حال کي چې بوی يې د څلوېښتو کالو په فاصله احساسېږي.[٢١]

مګر که له دويمه اړخه د خيانت وېره وي نو مسلمانان يقينا دا حق لري چې دوی يې هم د قرآن په ټکو هغه معاهده على السواء دوی مخ ته ورو غورځوي، الله ويلي:

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاء إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الخَائِنِينَ

(الأنفال ٨ : ٥٨)

" نو که له يو قوم څخه د وعدې ماتولو اندېښنه ولري نو ته يې هم په برابر ډول ښکاره وعده د دوی مخ ته ورو غورځوه، په دې کي شک نه شته چې الله خاينان نه خوښوي."

استاذ امام يې په وضاحت کي ليکلي دي:

" د على السواء مفهوم دادی چې تاسو هم د دوی په څېر د کام اخيستلو حق لرئ، له دې څخه معلومېږي چې بايد د خبثې ځواب په ډېره ورنه کړل شي بلکي په کار ده سره برابر وي، ځينو خلګو له دې څخه دا لازمه کړې چې دويم اړخ ته بايد د معاهدې ختمولو خبر ورکړل شي. زه يې د دې خبرې لپاره په يادو الفاظو کي هيڅ دليل نه وينم، البته داخبره ترې استنباط کېدای شي چې صرف يوه فرضي اندېښنه د کومې معاهدې د ناقانونه

[٢٠] مسلم، شمېره: ٤٥٣٨

[٢١] بخاري، شمېره: ٣١٦٦

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ګرزولو لپاره کفایت نه کوي بلکي باید عملا یې د مخالفت اظهار شوی وي، ځکه لومړی چي دلته د تخافن کوم فعل استعمال شوی دی په هغه کي په خپله تاکید دی او د علی السواء له قید څخه هم ښکاري." (تدبر قرآن ۳ / ۴۹۹)

رسول اللهﷺ همدا خبره داسي توضیح کړې ده:

من کان بینه و بین قوم عهد فلا یحلن عهدا و لا یشدنه حتی یمضی امده او ینبذ الیهم علی سوائی. (ترمذي، شمېره: ۱۵۸۰)

"له کوم قوم سره چي ترون شوی وي نو د مودې تر پوره کېدو دي پکي تغیر او بدلون نه راځي او که د خیانت وېره وي نو په برابره ډول دي ښکاره د هغوی مخ ته ور وغورزول شي."

پر دې سربېره چي په قرآن او حدیث کي کومې لارښوونې شوې دي هغه دادي:

۱) جګړې ته د وتلو پر مهال دي د تکبر او ځان ښودنې رویه نه غوره کېږي، قرآن چي په سورت الأنفال کي کوم ځای مسلمانانو ته په ټینګار سره سپارښتنه کړې چي په داسي ځایونو کي دي الله ډېر یاد وي هلته یې دا نصیحت هم کړی چي دوی دي د هغو خلکو طریقه نه خپلوي چي د خپل ګڼ شمېر او اسبابو و وسایلو د زیادت غرور ښیيي او جګړې ته روانېږي. ویلي یې دي: دا ډول غرور او تکبر د هیڅ مومن له شان سره مناسب نه دی، یوازیتوب وي او که له خلکو سره یو ځای ناسته باید د الله پر بندګانو په هر حال کي د بندګۍ تواضع او خاکساري څرګنده وي ځکه د دوی جګړه صرف یو جنګ نه بلکي د الله عبادت دی او ضروري ده چي د هغوی دا حالت هر ځای موجود وي:

وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَارِهِم بَطَرًا وَرِئَاء النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ وَاللّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ (الأنفال ۸ : ۴۷)

"او د هغو کسانو په څېر مه کېږئ چي له خپلو کورونو څخه په تکبر او خلکو ته په ځان ورښودلو ووزي او طریقه یې داده چي د الله د لارې مخه نیسي، په داسي حال کي چي دوی څه کوي الله پرې احاطه کړې."

۲) کوم کسان چي د جګړې پر مهال له یو وجې بې پرې او سبدل غواړي د هغوی پر خلاف دي هیڅ ګام نه اخیستل کېږي، په سورت النساء کي د هغو مسلمانانو پر حالت بحث شوی چي د خپلې کمزورۍ او بې زړه توب له امله یې نه د خپل قوم په ملتیا له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلمانانو سره د جګړې تیاری درلود او نه د مسلمانانو په ملتیا له خپل قوم سره جګړې ته چمتو وو. الله ویلي چې د دوی پر خلاف باید هیڅ ګام وانه خیستل شي:

أَوْ جَآؤُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُواْ قَوْمَهُمْ وَلَوْ شَاء اللّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْاْ إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلاً (النساء ۴ : ۹۰)

" یا هغه کسان چې تاسو ته راشي نه له تاسو سره د جګړې وس لري نه له خپل قوم سره او (داسي دي چې) که الله غوښتي وای نو پر تاسو به یې زړور کړي وو او درسره جنګیدل به نو که دوی بیل پاتي شي او له تاسو سره جګړه ونه کړي، د سولي لاس درته وغزوي نو الله د هغوی پر خلاف تاسو ته د هیڅ اقدام اجازه نه درکوي."

۳) هغه خلګ باید ونه وژل شي چې د عقل او دود له مخې په جګړه کې برخه نه شي اخیستلای او یا یې نه اخلي، له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چې یو ځل د جنګ پر مهال یوه ښځه ووژل شوه نو رسول الله ﷺ خلګ په سختي د ښځو او ماشومانو له وژلو څخه منعه کړل.[۲۲]

د ښمن باید په اور ونه سوځول شي، له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې یو ځل رسول الله ﷺ مو ږته د جګړې پر لورد تلو امر وکړ نو راته ویې ویل: که فلاني دوه کسان مو پیدا کړل نو ویې سوځوئ، خو کله چې روانېدو نو ور ویې غوښتو ویې ویل: ما درته امر کړی وو چې فلانی او فلانی په اور وسوځوئ مګر سمه داده چې د اور عذاب صرف الله ورکولای شي نو که مو دا کسان ومونډل ویې وژنئ.[۲۳]

۵) لوتماري دي نه کوي، عبدالله بن یزید وایي چې رسول الله ﷺ له دې څخه سخته منعه وکړه چې د ښمن په سیمه کې د وړاندې تګ په کولو د عامو خلګو مالونه لوټ شي.[۲۴]

د یوه انصاري روایت دی چې د جهاد په یوه سفر کې لښکریانو د سختې اړتیا له مخې

---

[۲۲] بخاري، شمېره: ۳۰۱۵، مسلم، شمېره: ۴۵۴۷

[۲۳] بخاري، شمېره: ۳۰۱۶

[۲۴] بخاري، شمېره: ۲۴۷۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځيني پسونه لوټ کړل او غوښتل يې غوښه يې پخه کړي. رسول الله ﷺ ته خبر ورسېد نو ديګونه يې چپه کړل او ويې ويل: لوټ شوی مال ترمرداری غوره نه دي.[۲۵]

۶) مثله دي نه کېږي، بريده روايت کوي چې رسول الله ﷺ به د پوځيانو لېږلو پر مهال کومې لارښوونې کولې په هغو کې به يې پر دې خبره هم ډېر ټينګار کاوه چې د مړو سپکاوی او د غړيو پرې کول بايد هيڅکله ونه شي.[۲۶]

۷) لارې دي نه بندېږي، د معاذ بن انس وينا ده چې يو ځل رسول الله ﷺ سره جهاد ته ولاړ نو ويې ليدل چې خلګ د پرې او اچولو ځايونه تنګوي او مسافر لوټي، رسول الله ﷺ ته يې شکايت ورسېد نو ده سمدستي اعلان وکړ چې که څوک د پرې او ځايونه تنګ کړي او يا مسافر ولوټي د هغه هيڅ جهاد نه شته.[۲۷]

د ګام اخيستلو موخه

ثلورمه خبره د ګام اخيستلو موخه ده، د سورت البقرې په دې اياتونو کې له پوره سپيناوي سره ويل شوي چې جګړه به تر هغو دوام کوي چې څو دا دوه اهداف په بشپړ ډول نه وي ترلاسه شوي:

يو دا چې فتنه نه وي ختمه شوې.

دويم دا چې د عربو په خاوره کې دين صرف د الله شي.

د لومړي هدف لپاره په قرآن کې د حتى لا تكون فتنة الفاظ راغلي، د سورت الأنفال (۸) په (۳۹) ايت کې هم د جګړې هدف په زيات وکم همدې الفاظو بيان شوی دی، د دې فتنې معنا چې قرآن دلته تر اشد من القتل (تر قتل هم لوی جرم بللې) داده چې په زور او جبر له دين څخه دې يو چا د اړولو هڅه وشي، له همدې څخه په انګريزي کې د (Persecution) په لفظ تعبير کېږي او په قرآن کې ځای پر ځای په همدې معنا استعمال شوی دی. په دې کې شک نه شته چې دا واقعا هم تر قتل ډېر لوی جرم دی، الله دا دنيا د ازموينې لپاره تخليق کړې او په دې کې يې انسانانو ته حق ورکړی چې د خپلې ازادې

---

[۲۵] ابوداود، شمېره: ۲۷۰۵

[۲۶] مسلم، شمېره: ۴۵۲۲

[۲۷] ابوداود، شمېره: ۲۶۲۹، ابو يعلى، شمېره: ۱۴۸۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پریکړي له مخې کوم دین او کوم فکر خپلوي غوره دي کړي، نو که یو څوک یا یوه ډله نور کسان په زور د هغه دین پرېښودو ته مجبور وي نو دا په حقیقت کې د دې نړۍ لپاره د ټولې الهي نقشې پر خلاف د جګړې اعلان دی. کله چې په یشرب کې د مسلمانانو رسمي دولت را منځ ته شو نو هغوی ته امر وشو چې په دې خاوره کې پر محمد رسول الله د ایمان راوړونکو لپاره د فتنې کوم حالت بیان شوی د ختمولو لپاره یې تورې در واخلئ او تر هغو دوام ورکړئ چې تر کومه دا حالت پاتي وي. قرآن په سورت النساء کې دا حکم په ډېرو اغېزناکو اسلوبو داسې بیان کړی دی:

وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا * الَّذِينَ آمَنُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُواْ أَوْلِيَاء الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا* (النساء ۴ : ۷۵، ۷۶)

"او په تاسو څه شوي؟ چې د الله په لار کې او د هغو بې وسه نارینه وو، ښځو او ماشومانو لپاره جګړه نه کوئ چې د فریاد په کولو وایي: اې زمونږ ربه! د ظالمانو له دې کلي مو وباسه، ته را ته خپل خواخوږی پیدا کړه او مونږ ته له خپله لوري مرستندوی را ولېږه (تاسو ته باید معلومه وي چې) کومو کسانو ایمان راوړی هغوی د الله په لار کې جنګېږي او منکرین د شیطان په لار کې جګړه کوي نو تاسو هم د شیطان له دې ملاتړو سره وجنګېږئ د شیطان تکتیک په هر حال کې ضعف وي."

د فتنې پر خلاف د جګړې دا حکم په قرآن کې ځینې نور ځایونه هم بیان شوی دی، په دې کې شک نه شته چې په زور له خپل دین څخه د ګرزولو دود نن په نړۍ کې تر ډېره له منځه تللی دی، مګر تر کومه چې انسان انسان دی نو نه شي ویل کېدای چې دا به کله او بیا په کومه بڼه ژوندی شي؟ ځکه نو د قرآن دا حکم تر قیامته پاتي دی، که د الله پر ځمکه داسې کومه فتنه سر را پورته کړي او د مسلمانانو حکومت دومره توان ولري چې له منځه یې یووړلای شي نو وربانديې لازمه ده چې د مسلمانانو د مرستې لپاره را پاڅېږي او د الله په لار کې د جنګ اعلان وکړي. د مسلمانانو لپاره د قرآن دا هدایت ابدي دی او د نړۍ هیڅ قانون یې هم ختمولای نه شي.

دلته پوښتنه پیدا کېږي چې له مذهبي جبر پرته د ظلم او تېري کوم نور شکلونه پیدا کېدای شي ایا د هغو حکم به دا نه وي؟، ځواب یې دادی چې د مسلمانانو د ځان، مال،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عقل او نظر پر خلاف باید د ظلم او تېري ټول شکلونه درجه پر درجه تر همدې لاندې وبلل شي. قرآن په سورت الحجرات کې لارښوونه کړې چې که د مومنانو یوه ډله د خپلو وروڼو پر خلاف د یرغل جرم وکړي او د سولې له هڅو سره -سره تړې لاس وانه خلي نو باید ورسره جګړه وشي:

وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ * إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ* (الحجرات ۴۹ : ۹، ۱۰)

"که کله د مسلمانانو دوې ډلې سره په جګړه شي نو تر منځ یې سوله وکړئ، که بیا په هغوی کې یوه پر بلې تېری کوي نو له تېري کوونکو سره وجنګېږئ تر دې چې د الله د پرېکړې پر خوا راشي. که هغه را وګرزي نو د دواړو لوروتر منځ په انصاف سره سوله وکړئ او سم عدالت کوئ ځکه الله انصاف کوونکي خوښوي. مسلمانان خو د یوه بل وروڼه دي ځکه نو د خپلو وروڼو تر منځ سوله وکړئ او له الله وېرېږئ چې پر تاسو رحم وکړي."

په دې ایاتونو کې چې کوم حکم بیان شوی لنډیز یې دادی:

۱) که کله د مسلمانانو دوې ډلې سره اخته شي نو نور مسلمانان باید په دې سره بې پرې نه شي چې یوه پردی، جګړه یې وبولي او دا هم ورته روانه ده چې د حق او نا حق له پلټنې پرته صرف د کورني، قبایلي او ګوندي تعصب په ولوله د ځینو ملاتړ او د ځینو مخالفت وکړي. د دوی لپاره سمه طریقه داده چې په ټوله معامله ښه سر خلاص کړي او د دواړو لوروتر منځ د سولې هڅه وکړي.

۲) که دواړه لوري سولې ته چمتو نه وي او یا تر چمتو کېدو وروسته یو ځل بیا د ظلم او تېري طریقه خپله کړي نو د مسلمانانو مسئولیت ده چې که وس ولري دخپل منظم حکومت تر مشرۍ لاندې دي پر خلاف تر هغو وجنګېږي چې منځګړو د دواړو لوروتر مخې ته کومه پرېکړه ایښې وه هغې ته سر تیټ کړي. الله له دې فیصلې څخه په امر الله تعبیر کړی دی، معنا یې داده چې که یوه غاړه له دې څخه تېښته کوي نو ګواکې د الله د حکم په وړاندې له سر تیټولو څخه تېښتي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳) که دواړه لوري سولي ته چمتو شي نو الله ویلي: په هغوی کي دي نه د چا بې ځایه رعایت کېږي او نه دي پر چا د عدل خلاف پشار راوستل کېږي بلکي له انصاف سره سمه سوله دي وشي او د چا چې څومره تاوان شوی هغه دي پوره کړي.

څرګنده ده چې دا حکم یوازې له هغه صورت سره تړاو لري چې د مسلمانانو رسمي حکومت موجود وي او ترمشرۍ لاندې یې جګړه کېدای شي او که دا صورت نه وي نو د حذیفه ﷺ دې پوښتنې په ځواب کي ورته رسول الله ﷺ لارښوونه کړې چې باید هر مسلمان له دې فتنې څخه بېل شي:

قلت فان لم یکن لهم جماعة و لا امام، قال فاعتزل تلک الفرق کلها ولو ان تعض باصل شجرة حتی یدرکک الموت و انت علی ذالک. (بخاري، شمېره: ۷۰۸۴)

"ما پوښتنه وکړه چې که د مسلمانانو ټولنیز جوړښت او واکمن نه وي؟. ده وویل: په داسي حالت کي له ټولو ډلو ګوښه شه، که څه هم د مرګ تر مهاله د ونې ریښې چیچې."

د دویم هدف لپاره په بقره او انفال دواړو کي په ترتیب سره د یَکونَ الدِّینُ لله او یَکونَ الدِّینُ کُلُّهُ لله تعبیر غوره شوی دی، تر دې وړاندې د قاتلوهم په الفاظو د جګړې حکم شوی دی. د کلام له سیاق څخه څرګنده ده چې په دې کي د منصوب ضمیر مرجع د عربو مشرکین دي ځکه نو داخبره بېخي یقیني ده چې دلته د دې الفاظو معنا له دې پرته بله هیڅ نه شي کېدای چې د عربو په خاوره کي ټول دین د الله لپاره شي. دا هدف صرف په دوو صورتونو کي تر لاسه کېدای شوای یو دا چې له حق دین پرته د ټولو دینونو منونکي ووژل شي او دویم دا چې له هره پلوه مغلوب شي ځکه نو کله چې د سولې او جګړې تر ډېرو مراحلو په تېرېدو منکرین په بشپړ ډول مغلوب شول نو بالاخره همدا دوې طریقې غوره شوې، د عربو مشرکینو که ایمان نه راوړو نو د هغوی د وژلو امر وشو او د یهودو او نصارا وو په اړه یې لارښوونه وکړه چې له دوی څخه دي جزیه واخیستل شي او په بشپړ محکومیت او مغلوبیت دي په دې سیمه کي د اوسېدو اجازه ورکړل شي، البته په دوی کي چې کوم عناد کوونکي وو نو کوم وخت چې امکان پیدا شو قتل او یا جلا وطن شول.

مورد په مقدمه کي لیکلي چې د دې هدف لپاره رسول الله ﷺ او د ده ملګرو کوم اقدامات کړي او دوی ته د جګړې کوم امر شوی هغه له شریعت سره نه بلکي د الله د حجت پوره کولو له قانون سره تړاو لري، په دې کتاب کي یې ځای پر ځای تفصیل بیان شوی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی. لنډیز یې دادی چې کله پر یو قوم د الله حجت پوره کېږي نو د حق پر منکرینو په همدې دنیا کې الهي عذاب راځي، قرآن وایي: د عذاب دا پرېکړه د رسولانو له خوا د انذار، عامه وېرونې، حجت پوره کولو او تر دې وروسته د هجرت او برأت له مراحلو څخه په تېرېدو صادرېږي او په داسي توګه راځي چې د اسمان عدالت پر ځمکه قایمېږي، د الله پرېکړه څرګندېږي او د رسول پر مخاطبینو یو وړو کی قیامت راځي، په قرآن کې چې یې کوم تاریخ بیان شوی له هغه څخه ښکاري چې په دې وخت کې عموما دوه حالتونه پېښېږي یو دا چې د رسول د ملګرو شمېر هم لږ وي او د هجرت لپاره کوم ځای هم نه لري. دویم دا چې هغه له خپلو ګڼو ملګرو سره وزي او تر وتلو وړاندې الله ورته په ځمکه کې له ازادۍ او واک سره د مېشتېدو وسایل برابروي، په دې دواړو صورتونو کې د رسولانو په اړه د الله هغه سنت حتما پلي کېږي چې په قران کې داسي بیان شوی:

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ * كَتَبَ اللَّهُ لأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ* (المجادلة ۵۸ : ۲۰، ۲۱)

"بې شکه کوم کسان چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي هغوی به خوار شي، الله لیکلي چې زه به غالب یم او زما رسولان هم، بې شکه الله قوي ډېر پیاوړی دی."

په لومړي صورت کې د رسول له خوا د قوم تر پرېښودو وروسته پرې ذلت داسي مسلط کېږي چې د اسمان پوځونه نازلېږي، د شګو او ډبرو توپان راځي او د باد او وربڼو لښکر پر هغه قوم داسي برید کوي چې د رسول په مخالفینو کې هیڅ یو یې هم پر ځمکه پاتي نه شي. له قرآنه ښکاري چې د نوح، لوط، صالح، شعیب او دا ډول نورو قومونو سره همداسي معامله وشوه، له دې څخه یوازې بني اسرائیل مستثنا پاتي شول چې په حقیقت کې له توحید سره د تړاو په وجه د عیسی علیه السلام له خوا د دوی تر پرېښودو وروسته پرې د هلاکت پر ځای د همېشني مغلوبیت عذاب مسلط شو.

په دویم صورت کې د عذاب دا پرېکړه د رسول او ملګرو د تورو په وسیله نافذېږي، په دې صورت کې قوم ته یو څه وخت ورکول کېږي او په دې موده کې رسول د هجرت پر مخاطبینو حجت هم پوره کوي او پر ځان د ایمان راوړونکو تر روزنې، پاکونې او تزکیې وروسته هغوی د حق او باطل د دې جګړې لپاره هم چمتو کوي او د هجرت په سیمه کې خپل واک داسي ټینګوي چې په مرسته یې د دې منکرینو د له منځه وړلو او حقپالو د بریا جګړه ترسره کړای شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رسول الله ﷺ په اړه همدا دویم حالت رامنځ ته شو، د حجت تر اتمام وروسته لومړی یهود مغلوب شول، دوی چې د ټرون له امله کوم خوندیتوب درلود نو هر چا چې هغه ټرون مات کړ د الله او رسول په دروغ ګڼلو دا سزا پرې پلي شوه، رسول الله ﷺ بنو قینقاع، خیبر او بنو نضیر د شام پر لور وشړل[۲۸] او بیا یې پر خیبر د برید په کولو هلته هم د دوی ځواک درې –وړې کړ.[۲۹] تر دې وړاندې له همدوی څخه ابو رافع او کعب بن اشرف د هغوی په کورونو کې ووژل شول.[۳۰] بنو قریظه وو چې د خندق په غزا کې غداري وکړه[۳۱] او د احزابو وربځې ولاړې او له بهره د کوم برید وېره پاتې نه شوه نو رسول الله ﷺ سمدستي کلابند کړل، هغوی د توان په بایللو غوښتنه وکړه چې سعد بن معاذ زمورږ په اړه کومه پرېکړه وکړي منو یې، په دې سره سعد اتفاقا درېیمګړی وټاکل شو، ځرنګه چې هغه مهال د دوی لپاره په قرآن کې معلومه سزا نه وه له همدې کبله سعد ﷺ له تورات سره سمه[۳۲] پرېکړه وکړه چې د بنو قریظه ټول بالغ نارینه دې ووژل شي، ښځې او ماشومان دې بندیان شي او ټول مال دې یې پر مسلمانانو ووېشل شي. د سعد بن معاذ ﷺ دا پرېکړه پلې شوه او له هغې سره سم د دوی ټول نارینه ووژل شول.[۳۳] تر دې وروسته په دې اړه بله دیاد وړپېښه نه ده شوې ان تر دې چې الله په سورت التوبه کې د دوی په اړه حتمي پرېکړه نازله کړه، ده ویلي:

قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُواْ الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (التوبة ۹ : ۲۹)

"له هغو اهل کتابو سره جګړه وکړئ چې نه پر الله ایمان لري، نه د قیامت ورځ منې، نه چې الله او رسول یې څه حرام بللي هغه حرام بولي او نه حق دین خپل دین ګرزوي (له دوی سره) تر هغو جګړه وکړئ چې په مغلوبېدو جزیه ورکړي او خوار شي."

---

[۲۸] السیرة النبویة د ابن هشام ۳ / ۴۰ – ۴۲، ۱۵۱ – ۱۶۰

[۲۹] السیرة النبویة د ابن هشام ۳ / ۲۵۵ – ۲۷۷

[۳۰] السیرة النبویة د ابن هشام ۳ / ۴۳ – ۴۸، ۲۱۵ – ۲۱۷، الطبقات الکبری د ابن سعد ۲ / ۲۸

[۳۱] السیرة النبویة د ابن هشام ۳ / ۱۸۰، ۱۸۲

[۳۲] اشتنا ۲۰ : ۱۰ – ۱۴

[۳۳] بخاري، شمېره: ۴۱۲۱، ۴۱۲۲، مسلم، شمېره: ۴۵۹۶، ۴۵۹۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا حکم د یهودو او نصاراوو دواړو په اړه وو، د الله د وروستي رسول له لوري د حجت پوره کېدو په نتیجه کي د جړو ایستلو د عذاب له لیاقت سره -سره دا د دوی لپاره ډېر لوی رعایت وو او صرف له توحید سره د تړاو په وجه ورسره وشو، مګر دوی له دې څخه فایده وانه خیسته او له دې نړۍ څخه د رسول الله ﷺ تر رخصتېدو وروسته یې یو ځل بیا غدر او د وعدې ماتولو لاره ونیوله[۳۴] ځکه نو عمر فاروق ﷺ د خیبر یهود او د نجران نصارا بالاخره د تل لپاره له عربي ټاپو وزمې وشړل او په دې توګه د دوی په اړه د الله هغه وینا پوره شوه چې په قرآن کي یې داسي بیان کړې:

وَلَوْلاَ أَن كَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَلاَءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ (الحشر ۵۹ : ۳)

"او که الله د دوی لپاره له وطنه شړل نه وای لیکلي نو په همدې دنیا کي به یې د عذاب په ورکولو د دوی نښې- نښانې له منځه وړې وای او په اخرت کي خو ورته د دوزخ عذاب ټاکل شوی دی."

کله چې د عربو مشرکین هم دا ډول مغلوب شول نو په سورت التوبه کي اعلان وشو چې نور به په راتلونکي کي له دوی سره هیڅ ټرون نه وي او د دوی لپاره څلور میاشتې وخت دی، له دې وروسته به د رسوایي داسي عذاب پرې مسلط شي چې په دې دنیا کي به ترې د وتلو هیڅ لار ونه شي موندلای.[۳۵] کله چې مکه فتحه شوه او په څه ډول د هغوی ځینې سرکښان د بدر او احد په زندانیانو کي وژل شوي ول، همدا راز په دې وخت کي هم ووژل شول. تر دې وړاندې د دوی په اړه د سورت التوبې دا حکم نازل شوی وو چې د حج اکبر پر مهال دې د دې خبرې اعلان وشي چې د حرامو میاشتو تر تېرېدو وروسته که مسلمانان دا مشرکین هر ځای وموميي ودي وژني، مګر داچې ایمان راوړي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي. له دې څخه صرف هغه کسان مستثنا شول چې تر ټاکلې مودې ورسره ټرون نه شوي وو، د هغوی په اړه لاربښوونه وشوه چې که کوم مخالفت ونه کړي نو د ټرون موده دې یې پوره شي. د دې ښکاره مطلب دا وو چې د ټرون تر پوره کېدو وروسته به دوی هم له هغه برخلیک سره مخ کېږي چې د ټولي عربي ټاپو وزمې د ګردو مشرکینو

---

[۳۴] بخاري، شمېره: ۲۷۳۰، کتاب الخراج د ابو یوسف: ۴۲، فتوح البلدان د بلاذري: ۷۳، الکامل في التاریخ د ابن اثیر ۲ / ۱۱۲

[۳۵] التوبة ۹ : ۱، ۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره تاکل شوی دی. د ایمان نه راوړلو په صورت کې دا د هغوی لپاره د عام وژنې اعلان وو چې په قرآن کې داسې بیان شوی دی:

وَأَذَانٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الأَكْبَرِ أَنَّ اللّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّهِ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ * إِلاَّ الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُواْ عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّواْ إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ * فَإِذَا انسَلَخَ الأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُواْ الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُواْ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ*

(التوبة ۹: ۳-۵)

"د الله او د هغه د رسول له لوري دي د حج اکبر په ورځ کې اعلان وشي چې الله له دې مشرکینو بېزاره دی او د ده رسول هم، نو که توبه وباسئ همدا درته غوره ده او که مو مخ واړاوه نو پوه شئ چې الله عاجزولای نه شئ او (اې رسوله!) دې منکرینو ته د یو دردوونکي عذاب زېری ورکړه، له دې څخه یوازې هغه مشرکین مستثنا دي چې تاسو ورسره ترون کړی، دوی پکې نه کوم خیانت کړی او نه یې ستاسو پر خلاف مرسته کړې نو د دوی وعده تر تاکلې مودې پوره کړئ یقینا الله هغه خلک خوښوي چې د حدود و پیروي کوي، کله چې حرامې میاشتې تېرې شي نو دا مشرکین چې هر ځای په لاس درشي وژنئ یې، نیسئ یې، کلابند یې کړئ او هر ځای ورته کمین ونیسئ مګر که توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو لاره یې پرېږدئ، بې شکه الله بخښونکی سراسر رحمت دی."

په دې ګامونو سره د جګړې هغه هدف په بشپړ ډول پوره شو چې په یکون الدین کله لله کې بیان شوی، خو پر همدې مهال رسول الله ﷺ خپل دعوت له عربي ټاپو وزمې بهر نړۍ قومونو ته هم وړاندې کړ[۳۶] او د هغوی مشرانو ته یې د لیکونو په لېږلو[۳۷] څرګنده کړه

---

[۳۶] دا پېښه د حدیبیې تر سولې وروسته هغه مهال وشوه چې له قریشو سره د سولییز ترون په نتیجه کې د ده لپاره د دعوت پراخولو فرصت پیدا شو.

[۳۷] د دې مشرانو نومونه دادي: ۱) د حبشې پاچا نجاشي. ۲) د مصر پاچا مقوقس. ۳) د فارس پاچا خسرو پرویز. ۴) د روم پاچا قیصر. ۵) د بحرین واکمن منذر بن ساوي. ۶) د یمامه واکمن هوذه بن علي. ۷) د دمشق والي حارث بن ابی شمر. ۸) د عمان پاچا جیفر

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې نور نو صرف اسلام د دوی د سلامتي ضمانت ورکولای شي.[۳۸] د دې معنا دا وه چې د ده په وسیله د الله کوم حجت د عربو پر مشرکینو او یهودو و نصاراوو پوره شوی هغه به له نړۍ څخه د ده تر تلو وړاندې له تاپو وزمې بهر پر دې قومونو هم پوره کېږي. د دې حتمي نتیجه دا وه چې د رسولانو له لوري د حجت تر پوره کولو وروسته په همدې دنیا کې د جزا او سزا قانون پر دې قومونو هم تطبیق شي، نو همداسې وشول او په تاپو وزمه کې د خپل حکومت تر پیاوړې کولو وروسته صحابه کرامو له دې اعلان سره پر هغو قومونو برید وکړ چې یا اسلام ومنئ او یا په مغلوبېدو د جزیې ورکړې ته چمتو شئ، نور ستاسو لپاره د ژوند کولو بل هیڅ صورت نه دی پاتې، په دوی کې هیڅ قوم هم د حقیقت له مخې د شرک ملاتړی نه وو ، که نه له دوی سره به هم هغه معامله کېده چې د عربو له مشرکینو سره شوې وه.

له دې څخه په ډاګه شوه چې دا صرف جګړه نه وه بلکې د الله هغه عذاب وو چې د حجت تر پوره کېدو وروسته له الهي سنت سره سم او د یوې الهي پرېکړې په توګه لومړی د عربو پر مشرکینو او یهودو و نصاراوو او تر دې وروسته له عربو دباندې پر ځینو قومونو نازل شو ځکه نو دا ببخي یقیني ده چې د حق د منکرینو پر خلاف د جګړې او په نتیجه کې یې پر مغلوبو شویو د جزیې تاکلو محکومیت او تر لاس لاندې کولو حق تر دې وروسته د تل لپاره ختم شوی دی، نور تر قیامته نه کوم څوک د نړۍ پر یو قوم د دې هدف لپاره برید کولای شي او نه د کوم قوم په لاندې کولو او محکومیت پرې د جزیې تاکلو جرأت کولای شي. د مسلمانانو لپاره د جګړې صرف یو صورت پاتې دی او هغه د ظلم و تېري پر خلاف جګړه ده، نور همدا د الله په لار کې قتال دی له دې پرته د هیڅ هدف لپاره هم د دین په نوم جګړه نه شي کېدای.

الهي مرسته

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لاَّ يَفْقَهُونَ * الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ* (الأنفال ۸ : ۶۵، ۶۶)

[۳۸] بخاري، شمېره: ۲۹۴۱، مسلم، شمېره: ۴۶۰۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اې نبي! مسلمانان جګړې ته وهڅوه که په تاسو کې شل صبر کوونکي وي نو پر دوو سوو به بریالي شي او که دا ډول سل وي نو د دې کافرانو پر زرو به برلاسي شي ځکه دوی پوهه نه لري، البته دا مهال الله ستاسو بوج سپک کړ ځکه چې په وه شو په تاسو کې یو څه کمزوري پیدا شوې، نو که ستاسو سل صبر کوونکي وي پر دوو سوو به بریالي شي او که دا ډول زر وي نو د الله په مرسته به پر دوو زرو بریالي شي او (حقیقت دادی چې) الله د هغو خلګو ملاتړ کوي چې (د ده په لار کې) صبر کوونکي وي."

د سورت الأنفال دا ایاتونه چې په څه ډول د جهادي مسئولیت حد بیانوي همدارنګه په جګړه او جهاد کې د الهي مرستې قانون هم په بشپړ ډول مشخصوي، په دې کې دا خبره سپینه شوې چې په جګړه کې د الهي مرستې معامله پر اتکل نه ده چې خلګ څرنګه غواړي د الله مرسته هماغسي راشي، د دې لپاره الله یو قانون تاکلی او له هماغه سره سم د خپلو بندګانو مرسته کوي. که پر ایاتونو غور وشي نو ترې ښکاري چې د الهي مرستې دا قانون پر لاندینیو مادو بنا دی:

اول دا چې د الهي مرستې لپاره تر ټولو بنسټیز شی صبر او ثبات دی، د مسلمانانو هیڅ ډله تر هغو د دې وړتیا نه لري چې په ځان کې دا صفت پیدا نه کړي، که له دې بې برخې کومه ډله جهاد ته کښته کېږي نو باید له الله څخه د هیڅ مرستې هیله ونه لري. په دې ایاتونو کې د صابرون او صابرة له صفاتو څخه همدا خبره څرګندېږي او د ایاتونو په پای کې د والله مع الصابرین الفاظ هم پر دې حقیقت دلالت کوي.

دویم دا چې جګړې ته د ورتلو لپاره مادي ځواک اړین دی، په دې کې شک نه شته چې هر څه کېږي د الله په حکم وي او انسان باید اصلي باور د نړۍ پرروب ولري مګر له دې سره دا هم حقیقت دی چې الله دا دنیا د اسبابو په توګه پیدا کړې، د نړۍ همدا نقشه غوښتنه کوي چې که د نېکي او خیر لپاره کوم ګام اخیستل کېږي نو د دې لپاره باید په هر حالت کې ضروري وسایل چمتو شي. دا اسباب او وسایل باید څه ډول وي؟ الله د انفال په دې ایاتونو کې د دښمن د ځواک یوه پرتله وړاندې کړې. که دا شی وجود ونه لري نو باید مسلمانان یې د تر لاسه کولو هڅه وکړي. که تر دې وړاندې د جهاد په مینه او یا د احساساتو په مغلوبیت کې څوک ګام اخلي نو مسئولیت یې پر هغه دی، په دې صورت کې له ده سره د الله له لوري هیڅکله د مرستې وعده نه ده شوې.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېيم دا چې د مادي قوت کمی څه شی پوره کوي هغه ایماني ځواک دی، په عَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا او بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لاَّ يَفْقَهُونَ کي همدا خبره بیان شوې، په عربي ژبه کي د ضعف لفظ یوازې د فزیکي او مادي کمزورۍ لپاره نه راځي بلکي د ایمان، مورال، پوهې او معرفت د کمزورۍ لپاره هم کارېږي. همدا راز دلته د لا يفقهون معنا د دې په مقابل کي له ایماني پوهې څخه محرومیت دی، ځکه یې نو ویلي چې د حق منکرین دا بصیرت نه لري او پر تاسو یې د دې نعمت پېرزوینه کړې. له همدې کبله که ستاسو سل د زرو په مقابل کي وي نو د الله په مرسته به وربانديږي.

د سورې له جوړښته ښکاري چې دا پرتله د بدر د جګړې پر مهال ده، تر دې وروسته ډېر داسي نوي کسان اسلام ته راغلل چې د عزم او بصیرت له مخې له لومړنیو سره برابر نه وو، که څه هم په نتیجه کي یې د مسلمانانو شمېر لوړ شو مګر ایماني ځواک یې په هغه کچه پاتي نه شو چې لومړنیو درلود. له همدې امله الله وویل چې اوس تناسب د یوه او دوو دی، که سل صابر مسلمانان وي نو پر دوو سوو او که زر صابر کسان وي نو د الله په حکم به پر دوو زرو بریالي شي.

د الهي نصرت دا قانون د هغو سپېڅلو اشخاصو د ډلې لپاره بیان شوی چې د رسول الله ﷺ په ملګرتیا او د الله په مخامخ حکم د جهاد ډګر ته ولاړل، په وروسته زمانه کي باید اتکل وشي چې د مسلمانانو ایماني حالت ته په پام دا پرتله تر کومې کچې کمه او زیاتېدای شي؟.

د جګړې بندیان

فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاء حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا (محمد ۴۷ : ۴)

" کله چې له دې منکرینو سره مخ شئ نو تر هغه وخته د غاړو وهل دي چې ښه یې وځپئ، کله چې یې په بند ونیسئ نو بیا یې ښه تینګ کړئ، وروسته احسان کول او یا فدیه اخیستل دي (له دوی سره باید ستاسو دا معامله تر هغه وخته وي چې) جګړه خپله وسله غورزوي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ایت له الفاظو ښکاري چې دا په هغه وخت کې نازل شوی چې مسلمانان لا هم عملا له جګړې سره نه وو مخ شوي خو حالاتو ښوده چې هره شېبه پېښېدای شي. په همدې وخت کې مسلمانانو ته وویل شول چې که د عربي خاورې له دې مشرکینو سره مخ شئ نو اصلي غوښتنه د غاړو وهلو ده، د رسول الله ﷺ له لوري د دلیل ترپوره کېدو وروسته پر خپل کفر د ټینګار له امله د هیڅ رعایت وړ نه دي، که مقابلې ته راشي نو ښه یې وځپئ، د بندیانو نیولو ګام باید هغه وخت واخیستل شي چې د تورې چلولو حق ادا شوی وي خو که مو بندیان کړل نو یا به بدله اخلئ او یا به یې له بدلې پرته خوشي کوئ، تر دې وروسته له دې پرته بله معامله نه شئ کولای. تر څو چې په دوی کې د جګړې روحیه نه وي ځپل شوې، ستاسو لپاره همدا امر دی[39] ځکه یې نو وروسته ویلي: ذالک یعني تاسو به همداسي کوئ.

په ایت کې د دې لپاره د فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاء الفاظ راغلي، منّاً د محذوف فعل مصدر دی او د قتل په مقابل کې نه بلکې د فدیې په مقابل کې راغلی دی، له ژبې سره اشنا کس پوهېږي چې که د فداءً معنا د فدیې په اخیستلو پرېښودل وي نو له إمّا سره د مقابل کېدو له کبله به د مناً معنا هم د احسان په توګه خوشي کول وي، له دې څخه د احسان بل صورت نه شي مراد کېدای.

که څه هم د سورت محمد دا حکم د عربي مشرکینو په اړه بیان شوی مګر له هره پلوه عام دی، علت یې دادی چې کله تر زنداني کېدو وروسته د رسول له منکرینو سره له احسان او فدیې پرته بله معامله نه شي کېدای نو له نورو سره خو ښځي نه شي کېدای.

البته له دې څخه درې ډوله زندانیان مستثنا وو:

یو هغه معاندین چې په اړه یې د الله فیصله همدا وه چې د دلیل پوره کېدو د قانون له مخې هر ځای وموندل شي سمدستي دي ووژل شي، لکه د بدر او احد په زندانیانو کې عقبه بن ابی معیط، نضر بن الحارث،[40] ابو عزه،[41] همدارنګه د مکې ځینې هغه کسان چې د فتحې پر مهال له عامه بخښنې څخه مستثنا وبلل شول.[42]

---

[39] دا خبره یې ځکه وکړه چې تر جګړې وروسته له دوی سره کومه معامله کېدونکې وه په هغه کې له اسلام او تورې پرته د درېیم صورت امکان نه وو.

[40] السیرة النبویه د ابن هشام ۲ / ۲۱۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم د بني قريظه وو خلګ چې پر دوی د هغوی خپل تاکلی قانون نافذ شو او په نتيجه کې يې نارينه قتل او ښځې و ماشومان يې تر زنداني کېدو وروسته وپلورل شول.[۴۳]

درېيم هغه زندانيان چې له وړاندې مينځې او مرېيان وو او په ځينو وختونو کې په همدې وجه پر خلګو ووېشل شول.[۴۴]

څرګنده ده چې دا د رې ډولونه د سورت محمد له ياد شوي حکم سره ټرلي نه وو، له همدې کبله که هغو ته له پام پرته په دې معامله کې د رسول الله ﷺ د وخت پېښې مطالعه شي نو په پوره ډاډ سره دا خبره کېدای شي چې رسول الله ﷺ د جنګ له عامو بنديانو سره له دې حکم پرته بله هيڅ معامله نه ده کړې بلکې څه چې يې کړې عيني د همدې حکم په پيروي يې کړې دي.

تفصيلات يې دادي:

۱) زنداني چې تر څه وخته د حکومت په بند کې وو له هغه سره ډېر ښه چلند وشو، د بدر د زندانيانو په اړه ثابته ده چې د صحابه کرامو پر کورونو ووېشل شول او رسول الله ﷺ لارښوونه وکړه چې استوصوا بالاساری خيرا[۴۵] (له دې بنديانو سره ښه چلند کوئ) په هغوی کې د يوه زنداني ابو عزيز وينا ده چې زه د کومو انصارو په کور کې بند يوم ما ته به يې سهار او مابنام ډوډۍ راکوله او په خپله به يې خورما وې خوړلې.[۴۶] کله چې د يمامه مشر ثمامه بن اثال ونيول شو نو د زندان پر مهال د رسول الله ﷺ په امر ورته غوره خوراک او شيدې چمتو کېدې.[۴۷]

---

[۴۱] السيرة النبوية د ابن هشام ۳ / ۸۳

[۴۲] السيرة النبوية د ابن هشام ۴ / ۴۱

[۴۳] بخاري، شمېره: ۴۱۲۲، مسلم، شمېره: ۴۵۹۸، السيرة النبوية د ابن هشام ۳ / ۱۸۸، ۱۸۹، ۱۹۲

[۴۴] بخاري، شمېره: ۳۱۴۴، مسلم، شمېره: ۴۲۹۴، ۴۶۲۱، السيرة النبوية د ابن هشام ۴ / ۱۰۵

[۴۵] السيرة النبوية د ابن هشام ۲ / ۲۱۷

[۴۶] السيرة النبوية د ابن هشام ۲ / ۲۱۷

[۴۷] السيرة النبوية د ابن هشام ۴ / ۲۱۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) د بدر په جګړې زندانیان د فدیې په اخیستلو خوشي شول، په هغو کي چې چا مالي فدیه ورکولای شوای له هغوی څخه د یوه بندي پر سر له زرو تر څلورو زرو قیمت واخیستل شو او چا چې د مالي فدیې وس نه درلود پر هغوی یې دا شرط کښښود چې د انصارو لسو -لسو ماشومانو ته لیک -لوست ورزده کړي. د ابو سفیان زوی عمرو د سعد بن نعمان په تبادله کي چې ابو سفیان نیولی وو ازاد شو.[۴۸] د بنو مصطلق د غزا په بندیانو کي جویریه رضی اللہ عنہا د هغې د پلار حارث بن ابی ضرار له خوا د فدیې په ورکولو ازاده شوه.[۴۹] ابو بکر صدیق رضی اللہ عنہ عملیاتو ته ولېږل شو، هلته یې زندانیان ونیول چې یوه پکي ډېره ښکلې ښځه وه، رسول الله ﷺ مکې ته ولېږله او د هغې په بدل کي یې څو مسلمان زندانیان را خوشي کړل.[۵۰] د بني عقیل یو زنداني یې طایف ته ولېږه د ثقیف له قبیلې څخه یې همداسي دوه مسلمانان پرې را خوشي کړل.[۵۱]

۳) ځیني زندانیان له فدیې پرته خوشي شول، د بدر په زندانیانو کي ابو العاص مطلب بن حنطب، وهب بن عمیر بن وهب او ابو عزه همداسي ازاد شول.[۵۲] د حدیبیې د سولې پر مهال د مکې اتیا کسانو د تنعیم له لورې دشپې بري وکړ، ټول یې ونیول شول او رسول الله ﷺ همداسي خوشي کړل.[۵۳] ثمامه بن اثال چې پورته یې یادونه وشوه دی هم له څه فدیې پرته خوشي شو.[۵۴]

۴) ځیني وختونه زندانیان پر خلکو تقسیم شول چې د فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً پر اصولو له دوی یا یې له خپلوانو سره معامله وکړي، د بنو مصطلق د غزا زندانیان یې همدا ډول خلکو ته ورکړل مګر د جویریې رضی اللہ عنہا تر ازادېدو وروسته چې رسول الله ﷺ ورسره نکاح وکړه نو ټولو مسلمانانو د خپلې برخې زندانیان په دې وینا له څه فدیې پرته خوشي کړل

---

[۴۸] الطبقات الکبری د ابن سعد ۲ / ۲۲، السیرة النبویة د ابن هشام ۲ / ۲۲۱

[۴۹] السیرة النبویة د ابن هشام ۳ / ۲۳۲

[۵۰] مسلم، شمېره: ۴۵۷۳، ابوداود، شمېره: ۲۶۹۷

[۵۱] مسلم، شمېره: ۴۲۴۵، ترمذي، شمېره: ۱۵۶۸، احمد، شمېره: ۱۹۳۲۶، ۱۹۳۷۸

[۵۲] السیرة النبویة د ابن هشام ۲ / ۲۲۸، ۳ / ۵۰

[۵۳] مسلم، شمېره: ۴۶۷۹، ابوداود، شمېره: ۲۶۸۸

[۵۴] بخاري، شمېره: ۴۳۷۳، مسلم، شمېره: ۴۵۸۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې دا نور د رسول الله ﷺ خپلوان دي او په دې ډول د سلو کورنيو کسان خوشي شول.[۵۵] رسول الله ﷺ د هوازن د سريې زندانيان هم له خلګو واخيستل او مفت يې ازاد کړل.[۵۶] د حنين په غزا کې هم داسې وشول، کله چې د هوازن قبيلې پلاوی د خپلو زندانيانو د خوشي کولو لپاره راغی نو هغه يې وپښلي وو، دوی يې غوښتنه وکړه نو رسول الله ﷺ ټول مسلمانان را غونډ کړل او ويې ويل: داخلګ له تو بې سره راغلي دي، زما نظر دادی چې زندانيان يې خوشي شي، څوک چې يې له فديې پرته پرېږدي نو همداسې دي وکړي او څوک چې فديه غواړي هغوی ته به د حکومت له لوري فديه ورکړل شي. په نتيجه کې يې شپږ زره زندانيان خوشي شول او چا چې د فديې غوښتنه وکړه نو د حکومت له لوري فديه ورکړل شوه.[۵۷]

۵) کومې ښځې چې د همدې اصولو له مخې خلګو ته ورکړل شوې او د هغوی پلرونه، وروڼه، مېړنه او نور په جګړو کې وژل شوي وو نو خلګو عموما تر ازادولو وروسته ورسره نکاح وکړه. د خيبر په زندانيانو کې رسول الله ﷺ له صفيې رضی الله عنها سره په همدې ډول نکاح وکړه.[۵۸]

د غنيمت مالونه

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأَنفَالِ قُلِ الأَنفَالُ لِلّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (الأنفال ۸ : ۱)

" دوی له تا د غنيمتونو په اړه پوښتي ورته ووايه چې غنيمتونه خو ټول د الله او د رسول دي نو که ربښتني مومنان ياست له الله ووېرېږئ، خپل منځي اړيکې سمې کړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ."

دا ايت چې په کوم سورت کې راغلی د هغه له مطالعې څرګنديږي چې د عربو له مشرکينو سره تر لومړی جګړې وروسته سمدستي په مسلمانانو کې دا شخړه پيدا شوې وه چې په دې کې کوم غنيمت نيول شوی هغه بايد څه ډول ووېشل شي؟. قرآن د همدې

---

[۵۵] السيرة النبوية د ابن هشام ۳ / ۲۳۱

[۵۶] السيرة النبوية د ابن کثير ۳ / ۴۵۳

[۵۷] بخاري، شمېره: ۴۳۱۸، ۴۳۱۹، السيرة النبوية د ابن هشام ۴ / ۱۰۴ - ۱۰۶

[۵۸] بخاري، شمېره: ۴۲۰۱، مسلم، شمېره: ۳۴۹۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شخړې په اړه خبر ورکړ او په دې لړ کې يې خپله پرېکړه واورولـه چې د جنګونو د غنيمت پر شتمني د هيڅا حق نه شته، دا هر څه د الله او د رسول دي او دوی چې په دې اړه کوم څه وغواړي لـه خپل نظر سره سم يې کولای شي. د دې علت هماغـه دی چې وړاندي مو په تفصيل سره بيان کړ او ومو ويـل: د رسول اللهﷺ پر مهال دا جګړې تر ډېره د حجت پوره کولو الهي قانون له مخې شوې وې او په دې کې د جنګېدونکو حيثيت اصلا د وسايلو او اعضاوو وو. هغوی د الله په امر د جګړې ډګر ته کښته شول او مستقيما يې د ده د فرشتو په مرسته بريا وموندە، له همدې کبله الله د دې جګړې پر غنيمتونو د هغوی هيڅ حق ونه مانه خو په همدې سورت کې يې وروسته ويلي چې له دې سره –سره دي دا ټول مال نه بلکې د هغو پنځمه برخه د ټولنيزو چارو لپاره ځانګړې شي او پاتې دي پر مجاهدينو ووېشل شي. الله ويلي:

وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ (الأنفال ٨ : ٤١)

"او پوه شه چې تاسو کوم څه غنيمت کړي د هغو پنځمه برخه د الله، د هغـه د رسول، د ده د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو لپاره ده."

څرګنده ده چې دا تقسيم هم صرف له دې امله وشو چې په هر حال خلګو جګړه کړې وه، لګښت يې هم خپل وو او د جګړييزو اړتياوو لپاره يې وسله، اسونه، اوښان او نور هم په خپله چمتو کړي وو، له همدې کبله چې کله مسلمانانو دا ډول مالونه له څه تکليف او سختي پرته تر لاسه کړل نو قرآن څرګنده کړه چې دا دين و ملت د ټولنيزو اړتياوو او ملت د بې وزلو و مسکينانو لپاره ځانګړي شوي، هيڅ برخه به يې پر مجاهدينو نه وېشل کېږي:

وَمَا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلاَ رِكَابٍ وَلَكِنَّ اللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُ عَلَى مَن يَشَاء وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ * مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ (الحشر ٥٩ : ٦، ٧)

"او الله چې له دې خلګو څخه څه اخيستي او خپل رسول ته يې ورکړي پر هغو تاسو خپل اوښان او اسونه نه دي په منډه کړي بلکې الله دی چې پر چا وغواړي خپل رسول مسلط کوي او الله پر هر څه قادر دی. الله چې د دې کليو له خلګو کوم څه خپل رسول ته ورکړي هغـه د الله، د هغـه د رسـول، د ده د قريبـانو، يتيمـانو، مسکينانو او مسافرو لپاره دي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دلته او تر دې وړاندې د سورت الأنفال په ایت کې الله هغه ټولنیز اهداف بیان کړي چې د هغو لپاره یې دا مالونه ځانګړي کړي ول، تر ټولو لومړی حق د الله بیان شوی څرګنده ده چې الله له هر څه څخه غني او بې نیازه دی، د ده په نوم برخه دین ته ځانګړې کېږي ځکه به یې نو اصلي لګښت ځای هغه کار وي چې د مسلمانانو اداره یې د خپل مسئولیت له مخې د دین د مرستې، ساتنې او دفاع لپاره ترسره کوي.

دویم حق د رسول ښودل شوی، هغه مهال رسول الله ﷺ له نبوت او رسالت سره د مسلمانانو د حکومتي چارو مسئول هم وو او د ده د ژوند هره شېبه د همدې دندې په ترسره کولو لګېده، له دې دندې سره یې د خپل ژوند لپاره د کار کولو امکان نه وو. په همدې حالت کې اړینه شوه چې په دې مال کې ده ته هم حق ورکړل شي، دې د کوم شخصي ملکیت بڼه نه درلوده چې د ده پر وارثانو وېشل شوی وای. ځکه نو له دنیا څخه د رسول الله ﷺ تر تلو وروسته له ده څخه د هغو کارونو پر لور ولېږدېد چې د ده پر ځای د مسلمانانو اداره ترسره کول.

درېیم حق د خپلوانو ښودل شوی، څرګنده ده چې له دې څخه د ده هغه قریبان مراد دي چې ساتنه یې د ده پر غاړه وه او د اړتیاوو پوره کول یې ده له اخلاقي پلوه خپله دنده ګڼله، ده د ټولو مسلمانانو لپاره د پلار حیثیت درلود ځکه نو تر ده وروسته دا دنده د کولتور او شریعت له مخې د مسلمانانو د اداري پر غاړه شوه او د قریبانو دا حق هم د هغوی تر ژوند هغه ډول پاتې وو.

څلورم حق د یتیمانو، مسکینانو او مسافرو دی، د هغوی د حق په بیانولو یې هغه "ل " نه دی تکرار کړی چې وړاندې له الله، رسول او ذی القربی دریو سره ذکر شوی دی، بلکې د ذی القربی په ضمن کې یې یادونه کړې. له دې څخه یې هدف د همدې ډلې عزت زیاتول دي چې ګواکې دوی هم د رسول الله ﷺ تر قریبانو لاندې رائي، دا حق هیڅ وضاحت ته اړتیا نه لري، هره هغه ټولنه چې د دې ډلې د اړتیاوو لپاره احساس ونه لري، یتیم پکې زورول کېږي، مسکین یې وږی وي او د مسافرو د حال پوښتونکی نه وي هغې ته د اسلامي ټولنې سپېڅلی نوم نه شي ورکول کېدای.

د غنیمت د مالونو په اړه له دې بحث څخه په ډاګه شوه چې دا په حقیقت کې د ټولنیزو اهدافو لپاره ځانګړی شوی دی، د الله له لورې پکې مجاهدینو ته هیڅ ابدي حق نه دی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټاکلی چې د مسلمانانو حکومت یې په هر حالت کې د ورکړې مسئول وي، هغه چې د خپلو تمدني اړتیاوو او حالاتو له مخې کومه طریقه وغواړي غوره کولای یې شي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۷

حدود او تعزیرات

که اراده او اختیار له یوې خوا په دې نړۍ کې د انسان لپاره ترټولو لوی ویاړ دی، له بلې خوا یې لازمي نتیجه دا هم ده چې ناوړه کارونه یې بیا -بیا په ځمکه کې فساد پیدا کوي او په دې توګه د انسان په اړه د فرشتو هغه خبره رښتیا کېږي چې د هغه د تخلیق پر مهال یې الله ته کړې وه:

أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ (البقرة ۲ : ۳۰) "(اې ربه!) ایا ته هغه څوک پیدا کوې چې په ځمکه کې به فساد کوي او وینې به بهوي؟."

په انساني تاریخ کې ترټولو لومړی دا فساد د آدم علیه السلام د زوی قابل په لاس څرګند شو، له دې سره یو ځای دا اړتیا هم پېښه شوه چې انسان باید په خپله د انسان له شر څخه د ساتنې تدابیر خپل کړي. د جرم او سزا ټول اصول د همدې ضرورت له مخې را منځ ته شوي دي. په دې کې اصل هدف د شر او فساد د ریښو ایستل دي او باید وي، مګر کومو کسانو چې د الهي هدایت په منلو د هغه پر رسولانو ایمان راوړی د هغوی معامله د عامو مجرمینو په څېر نه ده. له قرآن څخه ښکاري چې که دوی د ځان، مال، ناموس او یا اجتماعي نظم پر خلاف کوم لوی جرم وکړي نو د الله پرېکړه ده چې دوی ته دې په دې دنیا کې عذاب ورکړل شي څو د نورو لپاره عبرت وګرزي او دوی ته د دې الهي عذاب په لیدو د اخرت عذاب ورياد شي. همدا رنګه به دا عذاب د هغو مجرمینو لپاره چې توبه وباسي او د سمون لار خپله کړي له ګناه د ځان پاکولو وسیله شي. دا عذاب چې د کومو سزاوو په بڼه ورکول کېږي، هغه تل سخت پاتې شوې وجه یې داده چې د دې سزاوو هدف صرف د جرم له منځه وړل نه بلکې هغو ټولو خلګو ته د الهي عذاب خوند ورڅکل او نورو ته د عبرت ګرزېدل هم دي چې ځانونه یې په پوره شعور سره الله او د هغه رسولانو ته سپارلي،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له هغوی سره یې د اطاعت ژمنه کړې، د دوی دین یې د خپل دین په توګه منلی او تر دې وروسته په دې لویو جرایمو کې داسې بنکیل شوي چې الله د دوی راز څرګند کړ او معامله تر محاکمې ورسېده.

هغه جرمونه دادي:

۱) جګړه او په ځمکه کې فساد

۲) مرګ او ژوبله

۳) زنا

۴) قذف

۵) غلا

باید د دې جرایمو په اړه دا شی له پیله څرګند شي چې د دې سزا وو حکم مسلمانانو ته په انفرادي توګه نه بلکې د مسلمانانو ټولنې ته ورکړل شوی او د هغوی له اداري جوړښت سره تړاو لري او دا یوه څرګنده خبره ده. له همدې کبله یې حکم د قرآن په هماغو سورتونو کې بیان شوی چې په یثرب کې رسول الله ﷺ ته د واک لېږدېدو پر مهال نازل کړل او هلته د مسلمانانو رسمي نظام موجود وو. پر همدې بنسټ که کوم څوک یا ډله په یوه ځمکه کې سیاسي واک نه لري نو هغوی هیڅکله دا حق نه شي درلودای چې په دې سزا وو کې یوه یې پر کوم مجرم نافذه کړي. د قرآن په اصطلاح کې د فاجلدوا او فاقطعوا مخاطب د مسلمانانو چارواکي او مشران دي، عام مسلمانان د دې احکامو مخاطب نه دي. ابو بکر جصاص په خپل کتاب احکام القرآن کې لیکي:

و قد علم من قرع سمعه هذا الخطاب من اهل العلم ان المخاطبين بذلک هم الائمة دون عامة الناس، فکان تقديره: فليقطع الائمة و الحکام ايديهما و ليجلدهما الائمة والحکام.

(۲۸۳/۳)

"هر عالم چې دا خطاب اوري نو سمدستي پوهېږي چې خطاب یې عامو مسلمانانو ته نه بلکې مشرانو او چارواکو ته دی، نو د مثال په توګه د کلام جوړښت داسې کېږي: نو په کار ده چې مشران او چارواکي یې لاسونه غوڅ کړي او پرشا یې په درو ووهي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په شريعت کي چې د کومو جرمونو سزا تاکل شوې هغه همدا دي، تر دې د وړو او يا له دې پرته د نورو لويو جرايمو معامله الله د مسلمانانو د چارو پر مخ بوونکو ته پرېښې، هغوی چې په خپل منځي مشوره کوم قانون جوړ کړي جوړولای يې شي، مګر بيا هم دومره خبره ثابته ده چې د قرآن له مخې د مرګ سزا له قتل او په ځمکه کي له فساد پرته پر بل جرم نه شي ورکول کېدای. الله په پوره صراحت سره ويلي چې بني اسرائيلو ته شريعت ورکړل شو نو هماغه وخت وليکل شول چې له دې دوو جرمونو پرته په فرد او حکومت کي هيڅوک دا حق نه لري چې د چا ځان واخلي او ويې وژني، په مايده کي دي:

مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا (المائدة ۵ : ۳۲)

"که چا څوک د بل نفس له بدلې او په ځمکه کي له فساد پرته قتل کړ نو ګواکي ټول انسانان يې ووژل."

لاندي به د همدې جرمونو په اړه د قرآني ايا تونو وضاحت وکړو.

جګړه او په ځمکه کي فساد

إِنَّمَا جَزَاء الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُواْ أَوْ يُصَلَّبُواْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ * إِلاَّ الَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُواْ عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ* (المائدة ۵ : ۳۳، ۳۴)

"کوم کسان چې له الله او رسول سره جنګېږي او په ځمکه کي د فساد لپاره هلې ځلې کوي د هغوی سزا همدا ده چې يا په عبرتناکه توګه ووژل شي، يا په دار شي، يا يې لاس او پښې بې ترتيبه غوڅ شي او يا له وطن څخه وشړل شي. دا يې د دې دنيا رسوايي ده او د دوی لپاره په اخرت کي ډېر لوی عذاب دی، مګر که څوک وړاندي تر دې توبه وباسي چې تاسو پرې قدرت پيدا کوئ نو پوه شئ چې الله بخښونکی شفقت يې ابدي دی."

که د الله رسول په دنيا کي موجود وي او خلګ د ده د حکومت پر مهال د هغه ديوه حکم او يا پربکړې پر خلاف بغاوت وکړي نو دا له الله او رسول سره جګړه او په ځمکه کي فساد دی، دا د هغه حالت لپاره کارېږي چې يو فرد او يا يوه ډله له قانون څخه په بغاوت کولو د خلګو د ځان، مال، عزت، عقل او نظر پر خلاف جګړه پيل کړي. وژنې، ترهګرې،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زنا، په زور جنسي تېری او غلا و لوټمار پیل شي، یا خلګ بد کاري خپل کسب وګرزوي، په ښکاره بد معاشي پیل کړي او یا د خپلې بې لاری، بد معاشۍ او جنسي انحراف له املې د عزتمنو او شریفو خلګو د عفت لپاره خطره وګرزي، د دولت پر خلاف بغاوت وکړي او یا د تښتونو، تخریب، ویر اچونې او دا ډول نورو لویو جرمونو په وسیله د حکومت لپاره د ثبات او امنیت ستونزې پیدا کړي نو همدا په ځمکه کي فساد دی، د هغوی د ځپلو لپاره په دې ایاتونو کي دا څلور سزاوې بیان شوې دي:

وژل

په دار ځړول

بې ترتیبه یې د لاسونو او پښو پرې کول

له وطنه شړل

د دې سزاوو تفصیل دادی:

تقتیل (په عبرتناکه توګه وژل)

په ایت کي د دې سزا لپاره د أَن يُقَتَّلُوا الفاظ راغلي، د دې معنا داده چې له الله او رسول سره د جګړې او په ځمکه کي د فساد کوونکي دې مجرم سزا صرف قتل نه بلکي په عبرتناکه توګه وژل دي. دلیل یې دادی چې دلته قتل د تقتیل په بڼه راغلی، له عربي سره اشنا کس پوهېږي چې د لفظ په جوړښت کي زیاتونه یې د فعل د شدت او مبالغې لپاره را منځ ته شوې ده ځکه نو دلته تقتیل د بد تقتیل په معنا دی نو د حکم تقاضا داده چې دا مجرمین په داسې ډول قتل او ووژل شي چې د نورو لپاره عبرت او پند شي. زما په اند رجم یعني په ډبرو ویشتل هم تر دې حکم لاندې دي او رسول الله ﷺ په خپله زمانه کي ځینو بې لارو مجرمینو ته د همدې ایت د حکم له مخې دا سزا ورکړې ده.

تصلیب (په دار ځړول)

دا د صلب تفعیل دی ځکه یې نو ویلي: أَوْ يُصَلَّبُوا یعني داسې خلګ دي په دار کړل شي بلکي په عبرتناک ډول دي په دار وځړول شي. دار د لرګي هغه وسیله ده چې د مجرم پر لاسونو او پښو مېخونه ټک وهي او تر هغه وخته یې ځوړند وي چې ساه یې خېژي. د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سزا دا ډول کم عبرت نه لري، مګر په ایت کې د تصلیب د لفظ غوښتنه داده چې د دې لپاره هم هغه لاره غوره شي چې ډېره دردوونکې او له سخته عبرته ډکه وي.

بې ترتیبه دلاسو او پښو غوڅول

أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ د دې سزا لپاره د قرآن الفاظ همدا دي، بالکل ښکاره ده چې د بې ترتیبه غوڅولو امر هم د عبرت لپاره دی او هدف یې دادی چې که دغه ډول مجرم وهم بخښل شي نو باید د عبرت یوه نمونه وي او د شر اچونې ټول وسایل یې له کاره ولوېږي.

له وطنه شړل

د دې سزا لپاره د أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ تعبیر غوره شوی، یعني هغوی دي له سیمې وشړل شي. دا د دې مجرمینو لپاره تر ټولو کمه سزا ده، لومړی، دوې سزاوې مجرم له منځه وړي، د درېیمې سزا په نتیجه کې له لاسونو او پښو څخه بې برخې د عبرت د یوې نمونې په توګه ژوندی وي او څلورمه یا وروستۍ سزا د هغه ځان او بدن ته د تاوان له رسولو پرته یې صرف له وطن او کور څخه بې برخې کوي. د قرآن د الفاظو تقاضا داده چې په عامو حالاتو کې دي د دې صورت لپاره دا سزا ورکړل شي، خو که دا په کوم ډول ممکنه نه وي نو په ځانګړې سیمه کې د مجرم په بندي کولو او یا یې په خپل کور کې په نظر بندولو سره به هم د دې حکم هدف یقینا پوره شي.

په قرآن کې دا سزاوې د «او» له حرف سره بیان شوې دي، د دې معنا داده چې دلته قرآن کریم حکومت ته دا اختیار ورکړی دی چې د جرم ډول، د مجرم حالاتو او د جرم موجودو او راتلونکو اغېزو ته په پام چې کومه سزا مناسبه وګڼي نو دا ډول مجرمینو ته یې ورکولای شي. د عبرتناکې وژنې او په دار کولو غوندې سزاوو سره یې له وطنه د شړلو سزا د دې لپاره راوړل شوې چې که په سزا کې له سختې سره د حالاتو غوښتنه وي نو له مجرم سره د نرمي کولو امکان هم پاتې شي. د رسول الله ﷺ په اړه ثابته ده چې په خپله زمانه کې یې د اوباشانو ځینو هغو مجرمینو ته چې د حالاتو او جرم د نوعیت له مخې تر یو څه بریده د رعایت وړ وو د مایدې د همدې ایت له مخې له وطنه شړلي او هغه مجرمین یې چې ورسره د رعایت امکان نه وو د همدې ایت د حکم پر بنسټ رجم کړي دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د زنا او اوباشي د ځینو مجرمینو په اړه د واده او نه واده په اړه د رسول اللهﷺ پوښتنه هم د دې لپاره وه خو فقهاوو په تېروتنه د حکم علت بللې، له همدې وجې يې د واده درلودونکو زانیانو په اړه د سورت النور د درو ایت منسوخ بللی، ګواکي د معاملې نوعیت دا وو چې دا ډول مجرمینو ته د سزا پر مهال له هغوی سره د رعایت کولو لپاره له نورو ډېرو شیانو سره دې ته هم کتل کېدل چې واده لري او که نه؟، خو دوی هم په همدې سره اړولی او په دې توګه يې د اسلام د حدودو او تعزیراتو په قانون کي يو داسي بې پیونده شی ور دا خل کړی چې د عقل او نقل دواړو له مخې بېخي بې بنسټه دی.

استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل تفسیر تدبر قرآن کي لیکي:

" ... په دا ډول حالاتو کي يوازي دې ته پام نه کېږي چې د مجرمینو ډلې صرف مالي زیان رسولای شي، بلکي تر دې ور هاخوا د وخت، مقام او مجرمینو د ډلې، ارادو او د هغو اغېزو ته کتنه کېږي. مثلا که د جګړې یا نا امنۍ زمانه وي نو حتما سختو ګامو ته اړتیا پېښېږي، همدارنګه که سیمه سرحدي او یا د دښمن د سیسو مرکز وي نو هم اغېزناک فعالیت ته اړتیا ده، که د مفسدینو مشر یو ډېر خطرناک کس وي او دا وېره لیدل کېږي چې که وخت ورکړل شي نو د ډېرو خلګو ځان، مال، عزت او عفت ته به خطر پېښ کړي نو هم حالاتو ته په پام به اغېزمن ګام اخلي. لنډه دا چې په دې کي اصل ارزښت د جزي پېښو نه بلکي د بغاوت، د مجموعي اغېز او د ملت و هیواد د ګټو دی." (۲/ ۵۰۶)

رسول اللهﷺ د ځینو حرفوي زناکارو مجرمینو په اړه ویلي:

خذوا عني خذوا عني فقد جعل الله لهن سبيلا... البكر بالبكر جلد مأة و نفي سنة و الثيب بالثيب جلد مأة و الرجم.

(مسلم، شمېره: ۴۴۱۴)

"له ما يې واخلئ، له ما يې واخلئ، له ما يې واخلئ د الله د دې ښځو لپاره لار پیدا کړه، په دې مجرمینو کي که بې واده له بې واده سره وي نو سل درې او له وطنه شړل دي او که ودګنی له ودګنی ښځې سره وي نو سل درې او رجم دی."

په دې روایت کي د جعل الله لهن اشاره هغو ښځو ته ده چې له قضیې څخه د خلاصون لپاره يې لنډ مهالی حکم په سورت النساء کي بیان شوی او ویلي يې دي:

وَاللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُواْ

"او ستاسو په ښځو کي چې کومې بد کاري کوي نو په اړه يې خپل څلور شاهدان را

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عَلَيْهِنَّ أَرْبَعةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللّـهُ لَهُنَّ سَبِيلاً (النساء ۴ : ۱۵)

وغواړئ[1] کـه هغـوی شـاهدي ورکـړي نـو پـه کورونو کي يې تر هغو بنديانې کړئ چې مرګ يې واخلي او يا د دوی لپاره الله کومه لار پيدا کړي."

د اللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَـةَ (هغه ښځې چې بد کاري کوي) اسلوب دليل دی چې دا د حرفوي بد لمنو ښځه يادونه ده، څرنګه چې په دې سورت کي معامله د ښځې وي ځکه نو د نارينه په اړه څه نه دي ويل شوي.[2] رسول الله ﷺ د همدا سي مجرمينو په اړه ويلي چې دوی يوازي د زنا مجرمين نه بلکي له دې سره د بد معاشۍ او جنسي بې لارۍ د عادت خپلولو له کبله په ځمکه کي د فساد جرم هم کوي، له همدې کبله په دوی کي ځيني هغه مجرمين چې د خپلو حالاتو له مخې د رعايت وړ دي، دوی ته دي د زنا په جرم د سورت النور (۲۴) د دويم ايت له مخې سل درې او د دوی له شر و فساد څخه دي د ټولنې د خلاصون لپاره همدې لوټمار کوونکو ته د خپل جرم د سزا له وجې د مايدې (۵) د (۳۳) پر بنسټ د جلا وطنۍ سزا ورکړل شي او په دوی کي دي هغه مجرمين چې هيڅ رعايت ورسره ممکن نه دی، د مايدې د همدې ايت د ان يقتلوا د حکم له مخې رجم شي.

په روايت کي د بې واده او ودګني الفاظ د همدې اصولو د وضاحت لپاره راغلي، پاتي شوه له رجم سره د سلو درو د سزا يادونه نو دا صرف قانوني وضاحت دی، په روايا تو ثابته ده چې رسول الله ﷺ يې بيان کړی خو له رجم سره د درو سزا يې هيڅ مجرم ته نه ده ورکړې، ځکه له مرګ سره د بلې سزا يو ځای کول د اخلاقي قانون خلاف دي. د زندان، درو او جرمانې په ټولو سزا وو کي دوو شيانو ته پاملرنه کېږي:

يو د ټولنې عبرت او دويم په راتلونکي کي مجرم ته خبرداری او تاديب ورکول، ښکاره ده چې د مرګ په صورت کي تاديب او خبرداري ته هيڅ اړتيا نه شته، له همدې کبله چې کله په بېلابېلو جرمونو کي کوم چا ته سزا ورکول کېږي او په دې کي د مرګ سزا هم وي نو په قانون، پرېکړه او حکم کي دا ټولې سزاوې بيانېږي مګر عملا له مرګ پرته په عمومي توګه بله سـزا نـه نافذېږي.

---

[1] يعني د دې خبرې شاهدي چې هغوی په ربنتيا د زنا حرفوي بد کارې ميرمنې دي.

[2] په همدې د نه پوهېدو له امله دا ايت زمونږ په تفسيرونو کي په يوه نه حلېدونکې معما بدل شوی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ایت په الفاظو کي د یسعون، یحاربون او نورو د یو ځای کولو اسلوب دې خبرې ته اشاره ده چې که مجرمین منظمه ډله ولري نو سزا یې هم باید په فردي توګه نه بلکي هغې ډلې ته د ډلې په توګه ورکړل شي. که د مجرمینو یوې ډلې په ځمکه کي د فساد له مخې قتل، انسان تښتونه، زنا، تخریب، ویره اچونه او دا سي نور جرایم کړي وي نو دې تحقیق ته اړتیا نه شته چې په مشخصه توګه جرم په کومو لاسونو ترسره شوی او کومو نه دی کړی، بلکي د ډلې په توګه به یې هر غړی پرې بلل کېږي او حتما به ورسره همدا ډول چلند کېږي.

په ایت کي د ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا الفاظ د دې خبرداري لپاره راغلي چې دا ډول مجرمینو ته دي د سزا پر مهال د چا په زړه کي د خواخوږۍ احساس نه پیدا کېږي، هغه رب چې د دوی خالق دی تر دې جرمونو وروسته د ده پرېکړه همدا ده چې دوی په دې دنیا کي بالکل رسوا شي. د دې سزا هدف همدا دی او باید په هر حال کي ورته پام وشي. استاذ امام لیکي:

" ... په دنیا کي دا رسوایي به د نورو لپاره د عبرت او پند اخیستلو وسیله شي او له کبله به یې په هغو خلګو کی هم له قانون څخه وېره او د هغه درناوی پیدا شي چې صرف د قانون ګټې او عظمت ته په پام یې احترام نه کوي، دا مهال چې د جرم او مجرمینو د فلسفې په نوم د خواخوږۍ او زړه سوي کوم فکر پیدا شوی د همدې په نتیجه کي که ظاهرا انسان هر څومره پرمختګ کوي خو له نړۍ همدومره دوزخ جوړېږي، اسلام د دا ډول بې بنسټه افکارو ملاتړ نه کوي، د هغه قانون پر هوایي نظریاتو نه بلکي انساني فطرت بنا دی."

(تدبر قرآن ۲/ ۵۰۷)

د همدې سزاوو په اړه إِلاَّ الَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُواْ عَلَيْهِمْ په الفاظو کي دا شرط هم لګول شوی چې که دا ډول مجرمین د حکومت تر کوم اقدام وړاندې په خپله ځان قانون ته وسپاري نو بیا به ورسره د عامو مجرمینو په څېر چلند کېږي او د جګړې یا په ځمکه کي د فساد مجرمین به نه بلل کېږي. استاذ امام لیکلي:

" دا خاص واک به د هغو باغیانو پر خلاف کارول کېږي چې د حکومت له خوا د حالاتو تر کنټرول وړاندې خپل بغاوت ته دوام ورکوي او حکومت هغوی په خپل زور او طاقت سره ځپلي وي، کوم کسان چې د حکومت تر کام وړاندې توبه وباسي او خپل ځان اصلاح کړي د هغوی پر خلاف د مخکیني چلند پر بنسټ دا ډول هیڅ اقدام جایز نه دی بلکي له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوی سره به د عام قانون پر بنسټ چلند کېږي، که د دوی په لاس د عامو ښارياتو حقوق ضايع شوي وي نو د امکان تر حده دي يې د جبيره کولو هڅه وکړي، که په ايت کي د فاعلمواد لفظ زور په ذهن کي وساتل شي نو دا خبره ترې په ډاګه کېږي چې تر مغلوبيت وړاندي د توبې او ځان اصلاح کولو په معامله کي د حکومت لپاره د انتقام هيڅ ګام جايز نه دی، الله غفور او رحيم دی نو چې دی تر نيول کېدو وړاندي توبه ايستونکي او ځان اصلاح کوونکي بخښي نو د ده د بندګانو چلند به ولي له هغه ښه وي؟."

(تدبر قرآن ۲/ ۵۰۸)

البته دلته بايد دا خبره هم څرګنده شي چې د چاره نه درلودو له وجې د جرم منونکو معامله له دې ښه ده، د هغوی په اړه يقينا حکومت دا واک لري چې که وغواړي نو د رعايت له ورکړې ډډه کولای شي.

مرګ ژوبله

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالأُنثَى بِالأُنثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاء إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ * وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِيْ الأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ* (البقرة ۲ : ۱۷۸، ۱۷۹)

"اې مومنانو! په تاسو کي چې څوک ووژل شي پر تاسو يې قصاص فرض دی، داسي چې که قاتل ازاد وي نو په بدل کي به يې هماغه ازاد او که غلام وي نو په بدل کي يې هماغه غلام او که ښځه وي نو په بدل کي يې هماغه ښځه ده، نو له چا سره چې خپل ورور کوم رعايت وکړي (تاسو يې دا رعايت منلای شئ مګر) تر دې وروسته اړينه ده چې له قانون سره سمه پيروي يې وشي او هر ډول ديت په سم ډول ورکړل شي، دا ستاسو د رب له لوري يو ډول رعايت او پر تاسو لورينه ده نو که څوک تر دې وروسته ظلم وکړي د هغه لپاره دردوونکی عذاب دی، ستاسو لپاره په قصاص کي ژوند دی، اې د عقل خاوندانو! څو د الهي حدود و پيروي وکړئ."

د قصاص دا حکم زموږ په څېر د مخکينيو امتونو لپاره هم وو، قرآن د تورات په حواله ويلي دي:

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ "او موږ پر دوی فرض کړې وه چې د نفس په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بِالْعَيْنِ وَالأَنفَ بِالأَنفِ وَالأُذُنَ بِالأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (المائدة ۵ : ۴۵)

مقابل کي نفس، د سترګو په بدل کي ستر ګه، د پزې په بدل کي پزه، د غوږ په مقابل کي غوږ، د غاښ په مقابل کي غاښ او همدا سي د نورو ټپونو هم قصاص دی، نو چا چې بخښنه وکړه د هغه لپاره کفاره ده او څوک چې د الله له نازل کړي شریعت سره سمه پریکړه ونه کړي هماغوی به ظالمان وي."

له دې ایت څخه په ډاګه شوه چې دا قانون صرف د قتل لپاره نه بلکي د یو چا د ژوبلولو او کوم غړي ته یې د زیان رسولو لپاره هم دی، د قرآن له مخې دا ټول سخت درانه جرمونه دي مګر تر کومه ځایه چې په قتل پوري تړاو لري نو هغه یې د ټول انسانیت قتل بللی دی. الهي وینا ده:

مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا (المائدة ۵ : ۳۲)

"چا چې څوک پرته د بل له وژلو او یا په ځمکه کې له فساد کولو قتل کړنو ګواکي ټول انسانان یې ووژل او چا چې یو نفس وژغوره ګواکي ټول انسانان یې وژغورل."

په همدې سورت کي قرآن کریم د دې جرم کوونکي په ځانګړي ډول د یو مسلمان وژونکي د ابدي جهنم وړ بللي او په پوره صراحت سره یې ویلي دي:

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (النساء ۴ : ۹۳)

"او څوک چې یو مسلمان په قصد ووژني سزا یې دوزخ ده تل به پکي وي، پر هغه د الله غضب او لعنت شوی او د ده لپاره یې لوی عذاب چمتو کړی دی."

د دې جرم په اړه چې د قرآن کریم د نظر له مخې د هغه منونکو ته کومې دندې متوجې کیږي او په کوم څه مکلف بلل کیږي د استاذ امام امین احسن اصلاحي په الفاظو دادي:

"یو دا چې د قتل هره پېښه په ټول ملت کي یو شور پیدا کړي څو چې یې قصاص نه وي اخیستل شوی هر سړی داسي احساسوي چې تر دې مهاله یې کوم خوندیتوب درلود له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه بې برخې شوی دی، قانون د ټولو ساتونکی وي. که قانون مات شي نو یوازي مقتول نه دی وژل شوی بلکي هر سړی د قتل هدف دی.

دویم دا چې د قاتل موندنه یوازي د مقتول د وارثانو دنده نه بلکي د ټول ملت دنده ده، ځکه قاتل صرف مقتول نه دی وژلی بلکي ټول یې وژلي دي.

درېیم دا چې که څوک په خطر کي ولیدل شي نو د پردي جنګ په بللو یې له پامه غورزول هیڅا ته روا نه دي بلکي د توان تر اندازې یې ساتنه او خوندیتوب اړین دی، که څه هم په خپله له ستونزې سره مخ شي ځکه کوم څوک چې د مظلوم ملاتړ او دفاع کوي هغه صرف د مظلوم ملاتړی نه دی بلکي د ټول مخلوق ملاتړی دی چې دی هم پکښې دی.

څلورم دا چې که څوک د چا قتل پټوي او یا د قاتل په اړه د دروغو شاهدي ورکوي، یا یې ضامن ګرزي، هغه ته پناه ورکوي، شعوري وکیل یې ګرزي، له پوهې سره - سره یې جرم ور بخښي نو هغه ګواکي دا هر څه د ځان، پلار، ورور او زوی د وژلو لپاره کوي، ځکه ویل شوي چې په قصاص کي ژوند دی." (تدبر قرآن ۲/ ۵۰۳)

د قرآن په یادو ایاتونو کي چې د دې جرم لپاره د سزا کوم قانون بیان شوی هغه دا څلور مادې لري:

اول دا چې قصاص د مسلمانانو ټولنیزې اداري ته د الله له خوا یو سپارل شوی فرض دی، په دې کي د اسلامي ټولنې ژوند دی او د مسلمانانو لپاره د الله هغه نازل کړی قانون دی چې یوازي ظالمان تر مخ اړوي ځکه نو دا د حکومت دنده ده چې که یې د واک په سیمه کي څوک ووژل شي، وژونکي یې وموميي، ویې نیسي او له قانون سره سم تر قصاص واخلي.

دویم دا چې باید د قصاص په معامله کي پوره مساوات ته پام وشي، که غلام قاتل وي نو په بدل کي دي یې هماغه غلام او که ازاد قاتل وي نو په بدل کي دي یې هماغه ازاد ووژل شي، د یو چا ټولنیزه او قومي مرتبه باید په دې معامله کي هیڅکله د ترجیح سبب ونه ګرزي.

درېیم دا چې که د مجروح یا مقتول خپلوان د نفس په مقابل کي د نفس، د غړي په مقابل کي د غړي او ټپ په مقابل کي د ټپ غوښتنه ونه کړي او له مجرم سره نرمي ته تیار وي نو محکمه د جرم نوعیت او د مجرم حالاتو ته په پام تر دې کمه سزا هم ورکولای شي. قرآن ویلي: دا د رب له خوا د خلګو لپاره یو رعایت او پردوی پېرزوینه ده، که له دې جرم

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څخه اغېزمن شوي کسان دا شی غوره کړي نو د الله په حضور کي به يې د ګناهونو د بخښنې کفاره شي.

څلورم دا چې په دې صورت کي به د مجروح يا مقتول خپلوانو ته ديت ورکول کېږي، الله ويلي: دا به له قانون سره سم او په ډېره ښه طريقه ادا کېږي، استاذ امام ليکي:

" په ښه طريقه د ورکړې تاکيد يې د دې لپاره کړی چې په عربو کي عموما ديت نغد نه بلکي د جنس او مال په شکل وو، له همدې کبله که به يې د ورکوونکو نېت سم نه وو نو ډېر چلونه پکي کېدل. دا ډېره په اسانۍ ممکنه ده چې د اوښانو، پسونو، غلې او خورما وو ديت د مقدار له مخې پوره ورکړل شي مګر د حقيقت او کيفيت له مخې يې صرف وار تېر کړی وي. که داسي وشي نو معنا يې داده چې کومو کسانو د يو چا پر نفس د شرعي اختيار له موندلو سره هغه ته بخښنه کړې نو د دې احسان درناوی نه دی شوی، حال دا چې د دوی له لوري د مال په ورکولو راضي شوی وو، د دوی د احسان ځواب بايد په احسان ورکړل شوی وای يعني ديت په دومره سخاوت، ښه طريقه او پراخ زړه سره ورکړل شي چې هغوی د دې تکليف احساس ونه کړي چې د خپل دوست د وينو په بدل کي يې د پسونو او مال په قبلولو غلطي يا بې غيرتي کړې ده." (تدبر قرآن ۱/ ۴۳۴)

په دې قانون کي چې مجرم ته د رعايت ورکولو پر مهال د مقتول د اولياوو خوښې ته کوم ارزښت ورکول شوی هغه ډېر حکيمانه دی، دا شی نه يوازي د هغوی د انتقام اور مړ کوي بلکي د مرګ او ژوبلي په ځېر جرايمو لړلې ټولنه کي د دې زهر لپاره تاريا ک ګرزي. استاذ امام ليکي:

" ... د قاتل پر ځان د مقتول د وارثانو مستقيم اختيار په موندلو له يوې خوا د هغوی د ډېر لوی تېپ رغېدو شکل پيدا کېږي او له بلې خوا که دوی په دې صورت کي د نرمي کوم چلند غوره کړي نو دا به يې پر قاتل او کورنۍ مستقيم احسان وي چې تر ډېرو غوره پايلو تمه کېدای شي." (تدبر قرآن ۱/ ۴۳۳)

مګر د دې معنا دا نه ده چې که په کوم ځای کي د مسلمانانو رسمي حکومت نه وي او د قصاص معامله د مقتول له وارثانو سره تر او پيدا کړي نو دوی د خپل دې حيثيت له مخې تېری وکړي او د مثال په توګه د انتقام په ولولو له د قاتل پر ځای د نورو د وژلو په هڅو پسې شي او يا د خپل شرافت، لوړ مقام او لوی نوم په ګومان د خپل مړيې په بدل کي ازاد او د ښځې په بدل کي د نارينه د وژلو غوښتونکي شي. يا مجرم په کړوونکې طريقه ووژني، تر وژلو وروسته يې په مړي زړه سور کړي او يا د قتل داسي طريقه غوره شي چې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

منعه بلل شوې لکه په اور سوځول او د بدن غړي يې پرې کول. همدارنګه د ټپ په صورت کې چې کله له مجرم څخه بدله اخیستل کېږي نو هغه ته تر ورا وښتي تاوان د زیات تاوان وېره وي نو دوی دي د غړي په بدل کې د غړي او زخم په بدل کې پر زخم ټینګار وکړي، کله چې رسول الله ﷺ په مکه کې وو او په مدینه کې يې رسمي حکومت نه درلود نو الله وویل:

وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلاَ يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا (الأسراء ۱۷ : ۳۳)

"او څوک چې په ظلم وژل شوی وي نو موږ يې ولي ته اختیار ورکړی دی، هغه دي په قتل کې له حدود و تېری نه کوي ځکه چې مرسته يې شوې ده."

په دې کې شک نه شته چې قصاص ظاهرا مرګ دی، مګر د قرآن وینا ده چې دا په حقیقت کې د ټول انسانیت لپاره د ژوند ضمانت دی او د دې لپاره لازمي شوی چې خلګ د الهي حدود و اطاعت وکړي. استاذ امام لیکي:

"... دا ژوند له فردي پلوه نه بلکي له ټولنیز پلوه دی، که یو څوک د قتل په جرم وژل کېږي نو ظاهرا خو ګواکي تر یوه نفس وروسته بل نفس هم له منځه ولاړ مګر که د حقیقت له مخې وکتل شي په دې وژنه د ټولي ټولنې د ژوند ضمانت پیدا کېږي، که هغه نه وای وژل شوی نو دی چې په کومه ذهني خرابي اخته وو او یو بې ګناه انسان يې وژلی وو هغې خرابۍ به ټولي ټولنې ته سرایت کړی وای، یوه ناروغي له بلې فرق لري. کومې ناروغۍ چې د وژنې، شوکې، غلا، زنا او نورو په څېر د خطرناکو جرمونو سبب ګرزي مثال يې د هغو ناروغیو په څېر دی چې د ټول بدن د ژغورنې لپاره ډېر وختونه د جسم یو غړی غوڅېږي، که څه هم د غړي غوڅول یو بې رحمه کار ښکاري خو ډاکټر دې بې رحمۍ ته مجبورېږي، که هغه پر طبیعت د پشار په راوړلو دا بې رحمي خپله نه کړي نو د یوه غړي په خواخوږي به د ناروغ ټول بدن هلاکت ته وسپاري، ټولنه د خپل ټولنیز حیثیت له مخې یوه بدن ته ورته ده، د دې جسم په ځینو اعضاوو کې هم ډېر وختونه دا ډول فساد پیدا کېږي چې علاج او درملنه يې ممکنه نه وي بلکي د ناروغ غړي په عملیاتو يې له ټول بدن څخه بېلول ضروري وي، که دا فکر وشي چې هغه غړی ناروغ دی ځکه نو د نرمي او خواخوږي حق لري نو د دې نرمي نتیجه دا کېدای شي چې یوه ورځ هغه غړی ټول بدن خراب او هلاک کړي." (تدبر قرآن ۱ / ۴۳۶)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۲)

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطَئًا وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلاَّ أَن يَصَّدَّقُواْ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةً فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللّهِ وَكَانَ اللّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا

(النساء ۴ : ۹۲)

" او هيڅ مسلمان ته روا نه ده چې بل مسلمان ووژني مګر که په تېروتنه داسې وشي، که څوک په تېروتنه کوم مسلمان ووژني نو پر هغه لازمه ده چې يو مسلمان مرپيی ازاد کړي او د وژل شوي خپلوانو ته ديت ورکړي، خو که يې هغوی ورته وبخښي. که مقتول ستاسو د دښمن قوم غړی وي خو مسلمان وي، نو د يوه مسلمان مرپيي ازادول کافي دي او که هغه د معاهد قوم غړی وي نو وارثانو ته به يې ديت هم ورکول کېږي او تاسو به يو مسلمان مرپيی هم ازادوئ، څوک چې مرپيی نه لري هغه به دوې مياشتې پر له پسې روژه نيسي. دا د الله له خوا د دې ګناه د توبې ايستلو طريقه ده او الله عليم او حکيم دی."

دا قانون درې مادې لري:

اول دا چې که وژل شوی د اسلامي دولت مسلمان تبعه وي، يا د اسلامي دولت تبعه نه وي خو له معاهد قوم سره تعلق لري نو پر وژونکي يې لازمه ده چې که ونه بخښل شي نو له قانون سره سم ديت ورکړي او د دې جرم په کفاره خپل رب ته د توبې لپاره يو مسلمان مرپيی هم ازاد کړي. دويم دا چې که هغه د دښمن قوم مسلمان وي نو پر قاتل يې هيڅ ديت نه شته په دې صورت کې يوازې همدا کفايت کوي چې د خپلې دې ګناه د جبران لپاره يو مسلمان مرپيی ازاد کړي. درېيم دا چې که په دې دواړو صورتونو کې مرپيی نه وي نو په بدل کې دي يې پر له پسې دوې مياشتې روژه ونيسي.

دا په تېروتنه[۳] د يو چا د وژلو حکم دئ، مګر څرګنده ده چې د دا ډول تېښونو حکم هم بايد دغه ډول وي، د هغو ديت به هم ورکوي او د ديت د مقدار په اندازه به حتما روژې هم نيسي يعني که د يوه زخم ديت يو ثلث وتاکل شي نو حتما به د کفارې شل روژې هم نيسي.

[۳] که په تېروتنه نه وي نو دا قانون ورسره تعلق نه لري، د بخاري په (۱۴۹۹) روايت کې دي چې العجماء جبارو البئر جبار و المعدن جبار (که يې حيوان ووهي، په څاه کې ولوېږي او يا په کان کې د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قصدي او خطا په دې قانون کي خو د قصاص او کفارې معامله بېخي بېکاره ده، مګر د مرګ ژوبلي په دې صورتونو کي به دیت په کومه طریقه او څومره ورکول کېږي؟. پورته چې د سورت النساء کوم ایت نقل شوی په هغه کي یې د دې لپاره د دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ الفاظ کارولي دي، که ځیر شو نو د دیت لفظ نکره دی. د اسم نکرې په اړه راته څرګنده ده چې د مفهوم په تعین کي له لغت، دود او کلام د سیاق له دلالت پرته بل شي ته اړتیا نه لري ځکه نو د دیت معنا دا شوه چې هغه شی چې د دیت په نوم پېژندل شوی دی او د دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ الفاظو حکم چې پر کوم مطلب دلالت کوي هغه له دې پرته بل څه نه دی چې د مخاطب په کولتور کي د څه شي نوم دیت دی هغه د مقتول وارثانو ته وسپارل شي. په سورت البقره کي چې قرآن کوم ځای د قصدي قتل د دیت حکم بیان کړی هلته یې همدا خبره د معروف د لفظ له صراحت سره کړې ده:

فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاء إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ (البقرة ۲ : ۱۷۸) "نو له چا سره چې خپل ورور کوم رعایت وکړي نو له قانون سره سمه پیروي دي یې وشي او هر ډول دیت دي په ښه ډول ادا شي."

د نساء او بقرې له دې ایاتونو بېکاري چې د خطا او قصدي دواړو قتلونو په اړه د قرآن حکم همدا دی چې دیت دي د ټولنې او قانون له رواج سره سم ورکړل شي. قرآن په خپله نه خاص مقدار ټاکلی او نه یې زمونږ لپاره د نارینه، ښځې، مرېیې، ازاد، مسلمان او نا مسلمان په دیت کي د کوم توپیر پیروي لازمه کړې ده.

رسول الله ﷺ په خپل وخت کي د عربو له دود سره د دیت پربکړې کړې دي، د فقهې او حدیثو په کتابونو کي چې د دیت کوم مقدار بیان شوی دا د هماغه وخت له دود سره سم وو.

د عربو هغه طریقه د دوی د تمدني حالاتو او تهذیبي دودونو پر بنسټ وه، د زمانې خوځښت د تاریخ په کتاب کي څورلس سوه پانې اړولې دي، د تمدني حالاتو او کولتور ترمنځ د ځمکې او اسمان توپیر را منځ ته شوی دی، مونږ دیت نه په اوښانو ورکولای شو او نه په دې دورکي د اوښانو له مخې د دیت ټاکنه هوښیاري ده. د عاقلې ډول بالکل بدل

پېښې له وجې مړ شي نو پر مالک یې هیڅ مسئولیت نه شته.) یعني که په داسي شکل مړ شي چې د مالک تېروتنه پکي دخل ونه لري نو مسئولیت نه شته.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شوی او د خطا قتل هغه شکلونه را منځ ته شوي چې هغه مهال يې تصور ممکن هم نه وو، قرآني لارښوونې دهر وخت او هرې ټولنې لپاره دي ځکه يې نو په دې مسئله کې د معروف يا قانون د پيروي امر کړی دی. د دې قراني حکم له مخې هره ټولنه په خپل قانون مکلفه ده، پر معروف د مبني قوانينو په اړه دا هم بېخي ځرګنده ده چې د حالاتو او زمانې په بدلون تغير کولای شي او که د کومې ټولنې چارواکي وغواړي نو د خپلو اجتماعي ګټو پر بنسټ يې له سره ترتيبولای شي.

زنا

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلاَ تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ * الزَّانِي لاَ يَنكِحُ إِلاَّ زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لاَ يَنكِحُهَا إِلاَّ زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ* (النور ۲۴ : ۲، ۳)

" زاني نارينه وي او که ښځه په دواړو کې هريو سل درې ووهئ او د الله د دې حکم په تعميل کې له دوی سره هيڅ نرمي مه کوئ، که تاسو پر الله او قيامت ايمان درلود ونکي ياست او د هغوی د دې سزا پر مهال بايد هلته يوه ډله موجوده وي. زاني دي نکاح نه کوي مګر له زانيې او مشرکې سره او له دې زانيې سره دي نکاح نه کوي مګر کوم زاني او يا مشرک، دا مومنانو ته په هر حال کې حرام دي."

د زنا په اړه د سزا لومړی حکم په سورت النساء کې راغلی دی، هلته يې معلومه سزا نه ده بيان شوې بلکې صرف دومره ويل شوي چې تر څو د حرفوي زناکارو ښځو په اړه کوم حکم نه وي نازل شوی هغوی دي په کورونو کې بند شي او د دې جرم عام ترسره کوونکي دي وزورول شي څو د توبې په ايستلو د خپل عمل اصلاح ته چمتو شي. په زورونه کې له ترتنې او زجر، سپکاوي او ذلالت او نصيحت و ملامتي څخه نيولې د اصلاح تر حده ډېول هم شامل دي. قرآن ويلي:

وَاللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُواْ عَلَيْهِنَّ أَرْبَعةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىَ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ

" او ستاسو په ښځو کې چې کومې يې بد کاري کوي پر هغوی خپل څلور شاهدان را وغواړئ نو که هغوی شاهدي ورکړي په کور کې يې بنديانې کړئ، تر دې چې مرګ يې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَوْ يَجْعَلَ اللّهُ لَهُنَّ سَبِيلاً * وَاللَّذَانَ يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُواْ عَنْهُمَا إِنَّ اللّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا*(النساء ۴ : ۱۵، ۱۶)

واخلي يا الله ورته كومه لار پيدا كړي او په تاسو كي چي كوم نارينه او ښځې دا فحاشي كوي هغوی وزوروئ، كه يې توبه وايستله او ځان يې اصلاح كړ نو ويې بخښئ، بې شكه الله توبه قبلوونكی او رحم كوونكی دی."

په سورت النور كي د زنا تر رسمي حكم نازلېدو پورې د شريعت حكم همدا وو، د سورت النور يادو اياتونو دا حكم ختم كړ او د زنا كوونكو لپاره يوه مشخصه ابدي سزا وټاكل شوه. تفصيلات يې دادي:

۱) زاني نارينه وي او كه ښځه كه يې جرم ثابت شي نو د سلو درو سزا به ورکول كېږي، د دې لپاره چي رسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو كومه لار غوره كړې او د حديثو و فقهې په كتابونو كي يې د هغه وخت له ځينو قضيو څخه كوم شكل په ډاګه كېږي هغه دادی:

الف: د وهلو لپاره دره كارېږي او كه لنبتې په دواړو صورتونو كي نه بايد ډېرې پنډې اوسختې وي او نه ډېرې نرۍ او نرمې، بلكي بايد د منځنۍ درجې وي.[۴]

ب: مجرم بايد لوڅ او يا پر تخته په تړلو ونه وهل شي.[۵]

ج: وهل بايد پر يوه ځای او داسي نه وي چي زخم را منځ ته كړي بلكي له مخ او فرجو پرته دي پر ټول بدن ووهي.[۶]

د: كه ښځه اميدواره وي نو له زېږون وروسته دي د نفاس تر تېرېدو وخت ورکړل شي.[۷]

۲) مجرم ته دي دا سزا د يوې مسلمانې ډلې په شتون كي ورکړل شي چي د دوی لپاره شرم او د نورو لپاره د پند سبب شي. قرآن ويلي چي د مومنانو حكومت او محكمه بايد په

---

[۴] احكام القرآن د جصاص ۳ / ۲۶۲، احكام القرآن د ابن العربي ۳ / ۱۳۲۷

[۵] احكام القرآن د جصاص ۳ / ۲۶۱، ۲۶۲

[۶] احكام القرآن د جصاص ۳ / ۲۶۰، احكام القران د ابن العربي ۳ / ۱۳۲۷، ابوداود، شمېره: ۴۴۹۳، احمد، شمېره: ۷۲۷۹

[۷] احكام القرآن ابن العربي ۱ / ۴۰۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې معامله کې هیڅ نرمي ونه کړي، له مجرم سره سختي ځکه ضروري ده چې د ټولنې پیاوړتیا د خپلوی، د ټراوونو پر سپېڅلتیا او له هر ډول ګډ -وډی، و فساد څخه پر خوندیتوب ولاړ دی. که ځیر شو نو زنا دا شی له منځه وړي او ټولنه د حیواناتو او څارویو په رمه بدلوي او یو ښک تمدن له خپل بنسټ څخه بې برخې کوي. له همدې کبله یې ویلي: وَلاَ تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ (د الله د دې حکم په نافذولو کې دي له تاسو سره پر دوی زړه سوی پیدا نه شي) استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په تفسیر کې لیکي:

" ... یعني په نافذولو کې دي یې نرمي، سستي او سترګې پټولو ته اجازه نه ورکول کېږي، نه دي له ښځې سره نرمي کېږي، نه له نارینه، نه له غریب او نه له شتمن سره، بې پرې او په تنفیذ کې له څه رعایت پرته د الهي حدودو پلي کول پر الله او اخرت د ایمان حتمي تقاضا ده، ځوک چې په دې معامله کې سستي او نرمي کوي پر الله او اخرت یې ایمان معتبر نه دی. دا خبره هم د پام وړ ده چې د سزا په بیان کې تر نارینه د ښځو یادونه وړاندې ده، وجه یې داده چې زنا د ښځې له خوښې پرته نه شي کېدای او دا هم ده چې د کمزوري صنف له کبله په دې چاره کې له هغې سره د خواخوږۍ، ډېرېدو امکان زیات دی ځکه یې نو دلته د هغې ذکر لومړی کړ چې د بیان له اسلوبو څرګنده شي چې په دې معامله کې د الله په نزد له هیڅا سره رعایت نه شته، ښځه وي او که نارینه." (تدبر قرآن ۵ / ۳۶۲)

د الهي حدودو په نفاذ کې همدا احساس دی چې رسول الله ﷺ ترې دا ډول تعبیر کړی:

وایم الله لو ان فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت یدها. (بخاري، شمېره: ۴۳۰۴)

" قسم په الله! که د محمد لور فاطمې هم غلا کړې وای نو ضرور به مې یې لاس غوڅ کړی وای."

۳) تر دې سزا وروسته باید کوم پاک لمنی مسلمان نارینه یا ښځه له دې زانې یا زانیې سره نکاح ونه کړي، د قرآن وینا ده چې که تر دې وروسته نکاح غواړي نو له کوم زاني، یا مشرک او یا زانیه یا مشرکې سره دي وکړي. یوې مومنې ته هیڅکله د دې اجازه نه شته چې ځان یوه زاني ته وسپاري او نه کوم مومن ته روا ده چې خپل کور ته د دې نجاست راوړلو ته چمتو شي. دا ډول هره نکاح باطله ده، د لا ینکح الفاظ د نهې په معنا دي او الله یې په وضاحت کې ویلی: و حرم ذالک علی المؤمنین یعني دا پر مومنانو حرامې شوې دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مګر لکه څرنګه چې مو وړاندې وویل: دا حکم یوازې د هغو زناکارو په اړه دی چې د جرم تر ثبوت وروسته د زنا وړ وبلل شي، په الزاني لا ینکح او په الزانیة لا ینکحها کې تر اول الزانیة و الزاني وروسته په الف لام سره د بیا ذکر قاعده پر همدې دلالت کوي او په دې اسلوب کې د بل هیڅ نظر لپاره امکان نه شي پاتې کېدای.

۴) څرنګه چې د غلا په څېر قرآن په دې سزا کې هم د صفت صیغې اختیار کړې ځکه نو دا هم د دې جرم اخیري سزا ده او یوازې هغو مجرمانو ته به ورکول کېږي چې جرم یې بېخي په وروستي شکل ترسره شوی وي او د خپلو حالاتو له مخې د هیڅ رعایت لیاقت ونه لري ځکه نو سزا نه زغمونکي معذورین، مجبور او له جرم څخه د ځان ساتنې اړین چاپېریال، حالات او له حفاظت څخه بې برخې خلګ ټول تر پې حتما مستثنا دي. قرآن کریم د هغو بنځو په اړه چې مالکانو یې بد کاري ته مجبورولې په پوره صراحت سره ویلي دي:

وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِن بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (النور ۲۴ : ۳۳)

"او څوک چې یې دې ته مجبورې کړي نو تر دې جبر وروسته الله د دوی لپاره غفور او رحیم دی."

همدارنګه رسول الله ﷺ د خپل وخت د مینځو په اړه ویلي چې له کورنۍ ساتنې څخه دمحرومیت او نیمګړي اخلاقي تربیت له امله هم دا سزا نه شي ورکول کېدای، ان په هغه صورت کې چې مالکانو او مېړونو یې پاک لمنۍ ته پوره توجو کړې وي هم به دوی ته نیمه سزا ورکول کېږي یعني د سلو پر ځای به پنځوس درې وهل کېږي. په سورت النساء کې دي:

فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ (النساء ۴ : ۲۵)

"کله چې هغوی پاک لمنې وساتل شي او بد کاري وکړي نو د دوی لپاره د هغې سزا نیمایي ده چې د ازادو بنځو لپاره ټاکل شوې ده."

قذف

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلاَ تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ * إِلاَّ الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ * وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاء إِلاَّ أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ * وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ وَيَدْرَأُ * عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ * وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ* (النور ۲۴ : ۴ - ۹)

"او کوم کسان چې پر پاک لمنو ښځو تور ولګوي بیا څلور شاهدان را نه ولي نو سل درې یې ووهئ او بیا یې هیڅکله شاهدي مه منئ، همدوی فاسقان دي، مګر څوک چې تر دې وروسته توبه وباسي او ځان اصلاح کړي نو الله غفور او رحیم دی او څوک چې پر خپلو ښځو تور ولګوي او له ځان پرته بل شاهد ونه لري نو شاهدي یې داده چې څلور ځله د الله په نوم قسم وکړي ووایي چې دی رښتنی دی او پنځم وار ووایي: که به دی دروغجن وي د الله لعنت دي وربانديوي او له ښځې څخه سزا داسي لرې کړای شي چې څلور ځله د الله له نوم سره په قسم ووایي چې دی دروغجن دی او پنځم وار ووایي چې پر دې دي د الله لعنت وي که به دی په خپل تور کې رښتنی وي."

همدا د قذف حکم دی، که څه هم په دې ایاتونو کې یوازې پر ښځو تور یاد شوی مګر دا په عربي ژبه کې د علی سبیل التغلیب اسلوب دي او صرف د دې لپاره غوره شوي چې د دا ډول تورونو هدف عموما ښځې وي او ټولنه یې په اړه زیات حساسیت هم لري ځکه نو په علت کې د اشتراک له کبله دا حکم د نارینه او ښځو دواړو لپاره عام دی او یوازې تر ښځو ځانګړی نه شي بلل کېدای.

په دې کې د قذف دوه صورتونه بیان شوي:

یو دا چې یو سړی پر شریف او پاک لمنې ښځې یا نارینه د زنا تور ولګوي.

دویم دا چې دا ډول معامله د کومې ښځې او میړه تر منځ پیدا شي.

په لومړي سر کې د قرآن حکم دادی چې دا سړی به په هر حالت کې څلور عیني شاهدان راولي، تر دې په کم صورت کې هیڅکله هم تور نه ثابتیږي. په دې کار کې اسناد، حالات او طبي معاینه ټول بې معنا دي، که یو سړی بې ابرو او سپک وي نو د جرم د ثبوت لپاره دا هر څه ډېر ارزښت لري مګر که څوک په شرافت او عفت پېژندل شوی وي نو قرآن غواړي چې که کومه تېروتنه تري وهم شي نو پرده دي وربانديو لوبیږي او په ټولنه کې دي رسوا نه شي ځکه نو په دې صورت کې څلور عیني شاهدان غواړي او که تور لګوونکی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاته راشي نو حتما به د قذف مجرم بلل کېږي.

په قرآن کي يې سزا داده:

۱) هغه دي سل درې ووهل شي.

۲) د هغه شاهدي دي د تل لپاره ختمه شي يعني بيا دي يې په هيڅ معامله کي شاهدي نه قبلېږي او په ټولنه کي دي يې عام حيثيت ښځي ختم شي.

اتيا دورې او د شهادت ردول د دې جرم دنيوي سزا ده او لکه څرنګه چې الله ويلي: دا کسان د ده په نزد فاسقان دي مګر دا چې توبه وباسي او ځان اصلاح کړي.

او په دويم صورت کي چې دا خبره د ښځې او مېړه تر منځ پيدا شي نو د قرآن وينا ده چې که شاهدي نه وي نو د معاملې پرېکړه به په قسم سره کېږي. د دې لپاره په اسلامي فقه کي د لعان اصطلاح کارول شوې ده، شکل يې داسي دی چې څلور ځله به مېړه په لوړه وايي چې دی کوم تور لګوي په هغه کي رښتنی دی او پنځم ځل به وايي چې که به دی په دې تور کي دروغجن وي نو پر ده دي د الله لعنت وي، که يې په ځواب کي ښځه دا ډول دفاع ونه کړي نو د زنا هغه سزا به ورکول کېږي چې د دې لپاره په قرآن کي ټاکل شوې ده.[۸] خو که هغه دا تور ونه مني نو صرف په هغه صورت کي به له سزا خلاصېږي چې څلور ځله د الله د نوم په اخيستلو لوړه وکړي او ووايي: دا سړی دروغجن دی او پنځم ځل زياته کړي چې که به دی رښتيا وايي پر ما دي د الله غضب وي. دا معامله به په هغه صورت کي هم وي چې ښځه پر مېړه تور ولګوي.

غلا

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهُمَا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ * فَمَن تَابَ مِن بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ*

---

[۸] يعني د سلو درو سزا چې د دې لپاره د يدرء عنها العذاب الفاظ راغلي، د همدې مفهوم لپاره تر دې اياتونو وړاندي په دويم ايت کي د عذابهما تعبير غوره شوی دی. د عربي ژبې علماء پوهېږي چې په هغې کي دا ښځي منل شوی قانون دی چې که معرفه بيرته معرفه ذکر شي او د ممانعت بله قرينه نه وي نو عيني لومړنی شی يې مراد وي ځکه نو له سلو درو پرته بله سزا په هيڅ ډول مراد بدلای نه شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(المائدة ۵ : ۳۸، ۳۹)

"او غل نروي که ښځه د دواړو لاسونه پرې کړئ، د دوی د عمل د سزا او الله له لوري د عبرتناکې سزا په توګه او الله غالب او حکیم دی، نو چا چې تر خپل دې ظلم وروسته توبه وایسته او ځان یې اصلاح کړ نو الله به پرې د کرم نظر وکړي بې شکه الله ډېر بخښونکی مهربان دی."

په دې ایاتونو کې چې د غلا د سزا کوم قانون بیان شوی هغه دا مادې لري:

۱) د لاس پرې کول: دا سزا د هر نارینه او ښځینه غله لپاره ده. د دې لپاره قرآن د سارق او سارقة الفاظ کارولي، د عربي ژبې د بلاغت په اسلوبو خبر هر سړی پوهېږي چې دا د صفت صیغې دي چې د فعل په پېښېدو کې پر اهتمام دلالت کوي ځکه نو د غلا پر هغه فعل تطبیقېدای شي چې کوونکی یې غله او یا غل وبلل شي. له همدې کبله که کوم ماشوم د خپل پلار او یا کومه ښځه د خپل مېړه له جیب څخه څو روپۍ واخلي یا یو څوک د ډېر عادي قېمت شی غلا کړي، یا د باغ مېوه وشکوي، له کښت څخه سبزي یوسي، په ناخوندي ځای کې پروت شی واخلي، بې ساتونکي پر خپل سر ایله کوم غویی، ګامېښه او یا پسه بوزي، یا د ډېر مجبوریت او اضطرار په حالت کې دا کار ترسره کړي نو بې شکه دا ناوړه کړنې دي او باید تادیب و خبرداری هم ورکړل شي مګر هغه غلا نه ده چې د قرآن په دې ایاتونو کې یې حکم بیان شوی دی ځکه نو دا وروستی سزا ده او یوازې په هغه صورت کې به ورکول کېږي چې مجرم ته خپل جرم د نوعیت او حالاتو له مخې د هیڅ ډول رعایت ورنه وي.

۲) د لاس پرې کولو دا سزا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّٰهِ ده، ځکه نو د نورو لپاره د هغه د دې سزا عبرت ګرزېدل او د خپلې کړنې د ځواب په مناسبت دا کار که له یوې خوا دا غوښتنه کوي چې لاس یې غوڅ شي له بلې خوا دا غوښتنه هم کوي چې راسته لاس یې غوڅ شي ځکه که ځیر شئ نو په انسانانو کې همدا لاس د کار کولو د وسیلې حیثیت لري او دا هم څرګنده ده چې له لاس سره د هیڅ قید نه شتون پر بنا به له مړوند څخه غوڅېږي.

۳) جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّٰهِ د همدې سزا هدف دی، یعني دا د عمل سزا هم ده او د نورو لپاره د عبرت وسیله هم چې د دې سزا په لیدو وپوهېږي کوم خدای چې په دنیا کې دا سزا ټاکلې هغه به په اخرت کې له خپلو سرغړونکو بندګانو سره څه کوي؟ نو د دنیا په حرص کې دي خپل اخرت نه بربادوي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د سزا اصل هدف همدا دی، خو دا هم یو حقیقت دی چې په کومه ټولنه کې دا ډول سزاوې نافذې وي نو د جرایمو په مخنیوي کې مرسته کوي. دا یوه ضمني ګټه ده باید پام ورته وشي، استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په وضاحت کې لیکي:

" ... په دې کې د لاس پرېکولو دوه سببونه بیان شوي دي یو دا چې دا د جرم سزا ده، دویمه دا چې نکال دی. د نکال معنا داسې سزا ورکول دي چې نور ترې عبرت واخلي، د دواړو تر منځ د حرف عطف نه شتون د دې خبرې دلیل دی چې په دې سزا کې دواړه شیان پر یوه مهال مراد دي یعني د عمل سزا هم ده او د نورو لپاره پند هم. ځوک چې یې پر یوه مهال دواړو ارخونو ته نظر نه کوي هغه ډېر ځله په دې تشویش اخته کېږي چې د جرم له پلوه سزا ډېره سخته ده، حال دا چې په دې سزا کې یوازې د هغه جرم سزا مطلب نه ده چې مجرم کړی بلکې د هغو ډېرو جرایمو مخنیوی هم پکې شامل دی چې دی یې په خپل فعل سره هغه وخت سبب کېدای شي چې ده ته د نورو د حوصلو تېټوونکې سزا ورنه کړای شي. د جنس په څېر د مال لوړه هم په انسانانو کې ډېره ده، که دې حرص ته لږ مهلت ورکړل شي نو څه نتیجې درلودای شي؟، د اندازه کولو لپاره یې د دا مهال په حالاتو کې د عبرت ډېر څه شته، په دې شرط چې د لیدونکې ستر ګې موجود دې وي، که دا مهال د هر ډول پرمختللي هیواد د یوه کال هغه وپروونکي جرایم را یو ځای شي چې صرف د غلا له کبله پېښېږي نو د سترګو پرانیستلو لپاره بس دي. مګر د نوي تهذیب د ځېل شوي انسان تندی د دې په اوربد و خولې کوي چې پر غلا د یو چا لاس غوځ شي مګر په هغو زرګونو زړه بورې نوونکو پېښو یې زړه نه درد ېږي چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د غلا له املې را منځ ته کېږي. غلا یو شخصي جرم نه دی، بلکې دا د هغو جرمونو مجموعه ده چې ډول - ډول نور جرمونه زېږوي، که د غلا مخنیوی وشي نو نور به یا ېښې نېستي شي او یا به تر ډېره بریده کم شي، تجربه شاهدي ورکوي چې په غلا د لاس په پرې کولو نه یوازې د غلاوو پېښې تر ډېره بریده کمې شوې دي بلکې نور جرمونه هم کم شوي دي، نو که د لاس په پرې کولو سره زرګونه سرونه، زرګونه کورنۍ او زرګونه عزتونه خوندي کېږي، د ظلم، بد بختۍ او کښت و نسل د بربادۍ ډېروسایل ختمېږي نو سالم عقل خو همدا وایي چې دا ډېره ګرانه سودا نه ده بلکې ډېر برکت لري، مګر د اوسنۍ زمانې عقل پلورونکي پرې نه پوهېږي." (تدبر قرآن ۲ / ۵۱۲)

۴) دا صرف د غلا د نیوي سزا ده، پاتې شو اخرت نو هلته په توبه او اصلاح سره نجات تر لاسه کېدای شي، د دنیا سزا نه د توبې بدل ده او نه توبه د دې لپاره د بدل حیثیت لري ځکه به نو حکومت له توبې او اصلاح سره -سره حتما دا سزا نافذوي او په دنیا کې تر دې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سزا موندلو وروسته هم د اخرت کار په توبه او اصلاح سره سمبږي چې له دې سره هیله شته دا به د هغه مجرم لپاره له ګناه څخه د پاکېدو وسیله شي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۸

خوراک او څښاک

قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَن يَكُونَ مَيْتَـةً أَوْ دَمًـا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَـاغٍ وَلاَ عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (الأنعام ۶ : ۱۴۵)

" ووایه زه خو په هغې وحې کي چې ما ته کېږي پر هیڅ خوړونکي هیڅ د خوراک شی حرام نه مومم مګر دا چې مړزګه، بهیدلې وینه او د خنځیر غوښه وي ځکه دا هر څه ناپاک دي او یا د الله په نافرماني کولو له هغه پرته د بل چا په نوم حلال شي. دې ته که هم څوک داسي مجبور شي چې نه یې غوښتونکی وي، نه ترحد تېرېږي (نو هغه ګناهګار نه دی) ځکه چې الله یقینا بخښونکی سراسر رحمت دی."

دین له هره پلوه د انساني نفس تزکیه غواړي ځکه یې نو تل پر دې ټینګار کړی چې د باطن له سپېځلتیا سره یو ځای د خوراک او څښاک په شیانو کي هم باید د پاک او چټل توپیر ته پام وشي. د پالل شویو حیواناتو د ښکار په اړه یوې پوښتنې په ځواب کي الله د کلي قانون په ډول ویلي دي: أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ [۱] (تاسو ته ټول پاک شیان حلال دي) له دې څخه دا په خپله څرګنده شوه چې خبایث یا چټل شیان په هر حال ممنوع دي، یهودو او نصارا وو چې په دې معامله کي د افراط او تفریط کومه رویه خپله کړه هغې ته په پام الله رسول الله ﷺ ته د ایمان پر لورد هغوی په را بللو همدا حقیقت داسي بیان کړی دی:

وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِـثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَـتْ عَلَيْهِمْ

" (دا رسول) دوی ته پاک شیان حلالوي او چټل حراموي، د دوی هغه بوج ترې لرې کوي او کړۍ یې ماتوي چې تر اوسه وربانديدي."

[۱] المائدة ۵ : ۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(الأعراف ۷ : ۱۵۷)

په شریعت کي هیڅکله د دې پاکو او چټلو شیانو جامع او مانع فهرست نه دی وړاندې شوی ځکه د انسان فطرت په دې معامله کي هغه ته عموما سمه لارښوونه کوي او هغه له څه ستونزې پرته دا پریکړه کوي چې کوم شی پاک او کوم شی چټل دی؟. هغه تل په دې پوهیږي چې زمری، پړانګ، فیل، باز، کارګه، شاهین، لړم، کیشپ او په خپله انسان د خوراک شیان نه دي. هغه ته څرګنده ده چې اس او خر د دسترخوان د خوند لپاره نه بلکي د سپرلۍ لپاره دي، د دې حیواناتو د بولو او مرداری په نجاست هم بشپړ خبر دی او د نشیي توکو په چټلتیا د پوهېدو لپاره هم عقل پّ عمومي ډول سمې نتیجې ته رسېږي، ځکه نو الهي شریعت په دې معامله کي انسان اصلا د خپل فطرت پر لارښوونه پرېښی. له رسول الله ﷺ څخه چې د ښکار کوونکو درنده ګانو، منګول درلودونکو مرغانو [۲]، جلاله [۳]، کورني خره [۴] او نورو د غوښې خوړلو په منعه کي کوم روایات نقل شوي هغه د همدې روایت د فطرت بیان دی، په قرآن کي د شرابو د منعې په اړه راغلی حکم هم له دې ډلې څخه دی. خلګو چې کله د قرآن نازلېدو پر مهال د هغو ځینو ګټو ته په پام نه بیا پوښتنه وکړه نو الله وویل چې ګناه یې تر ګټو ډېره ده. [۵] بیا یې د مایدې په سورت کي په پوره صراحت سره دا حقیقت واضح کړ چې دا شیطاني ناولتیا ده او باید هر مسلمان تر ځان وساتي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (المائدة ۵ : ۹۰)

"اې مومنانو! شراب، قمار، څلي او د قسمت غشي ټول چټل شیطاني کارونه دي ځکه نو ډډه ترې وکړئ چې بری ومومئ."

دا هر څه د فطرت بیان دی په دې کي شک نه شته چې کله - کله د انسان دا فطرت مسخ کېږي، مګر په دنیا کي د انساني عاداتو مطالعه ښیي چې ګڼ شمېر یې په دې اړه

---

[۲] مسلم، شمېره: ۴۹۹۴

[۳] نسایي، شمېره: ۴۴۵۲ له دې څخه مراد هغه حیوانات دي چې د مرداریو خوړلو له کبله بد بویه شوي وي.

[۴] بخاري، شمېره: ۴۲۱۶، مسلم، شمېره: ۳۴۳۱

[۵] البقره ۲ : ۲۱۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عموما نه تېر وزي ځکه نو قرآن دا ډول کوم شی خپله موضوع نه ده ګرزولې. په دې اړه د شریعت موضوع صرف هغه حیوانات او د دوی اړوند شیان دي چې د حلت او حرمت په اړه د انسانانو لپاره صرف د عقل او فطرت پر بنسټ پرېکړه ممکنه نه وه. خنځیر د أنعامو په څېر څارویو څخه دی مګر د درنده ګانو په څېر غوښه هم خوري نو ایا خوراک یې روا وبلل شي او که نه؟. هغه حیوانات چې مړیې تر حلالولو وروسته خورو، که له حلالولو پرته مړه شي نو حکم یې باید څه وي؟ ایا وینه یې د بولو او مرداریو په څېر چټله ده او که پاکه و حلاله بلله کېږي؟. که د الله له نوم پرته د بل چا په نوم ذبح شي نو بیا به هم حلال وي؟. څرنګه چې د انسان لپاره د دې پوښتنو ځرګند او واضح ځواب سخت وو له همدې کبله الله د خپلو نبیانو په وسیله ورته وویل چې خنځیر، وینه، مړزګه او له الله پرته د بل چا په نوم حلال شوی حیوان هم د خوراک لپاره پاک نه دي او باید انسان تر ډډه وکړي. په دې معامله کې د شریعت موضوع اصلا همدا څلور شیان دي، له همدې کبله قرآن په خپلو ځایونو کې د قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ او ځینې ځایونه د انما په الفاظو له پوره حصر سره ویلي چې الله صرف همدا څلور شیان حرام کړي دي.

د سورت الأنعام ایت مو پورته نقل کړ، د الفاظو له لړ بدلون سره همدا حکم د بقرې (۲) په (۱۷۳-۱۷۴) او نحل (۱۶) په (۱۱۵) ایاتونو کې هم بیان شوی دی، بیا یې الله د مایدې په سورت کې ځینې اړخونه تشریح کړي دي.

په دې کې لومړنی شی میتـــه ده. په دې اړه له ځینو کسانو سره دا شبهه پیدا کېدای شوای چې په طبعي مرګ د مړه شوي او ناڅاپي حوادثو له کبله د وژل شویو حیواناتو تر منځ توپیر شته او که به دواړه یو ډول بلل کېږي؟. قرآن ځواب ورکړی چې دواړه یو ډول دي، همدارنګه د درنده ګانو له خوا څیرې شوی حیوان هم مردار دی مګر دا چې تر ژوندي موندل کېدو وروسته ذبح شي، الله ویلي:

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِـــهِ وَالْمُنْخَنِقَـــةُ وَالْمَوْقُـــوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَـــا ذَكَّيْتُمْ (المایده ۵ : ۳)

" پرتاسو مړزګه، وینه، د خنځیر غوښه او د غیر الله په نوم ذبیحه حرامه شوې او (پر همدې بنسټ) هغه حیوان هم چې په خپه کولو مړ شوی وي، په زخمي کېدو مړ شوی وي، له لوړه ځایه په رالوېدو مړ شوی وي، په ښکر مړ شوی وي او یا کوم درنده حیوان څیرلی وي، پرته له

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغو چې تاسو يې (تر ژوندي موندلو وروسته) حلال کړئ."

په دې احکامو کې د ميتة لفظ د عرف او عادت له مخې استعمال شوی دی، شک نه شته چې په عربي ژبه کې يو لغوي مفهوم هم لري مګر کله چې په همدې رعايت سره ذکر شي نو د پښتو د مړۍ په څېر يې معنا هر مړ شوی شی نه دی، په دې ډول يې د لفظ په مفهوم کې يو ډول تخصيص پيدا کېږي او د ژبې له اسلوبو سره بلد هر سړی پکې مړ ملخ او مړ ماهی شامل نه بولي، د لغتو امام زمخشري ليکي:

قصد ما يتفاهمه الناس و يتعارفونه فی العادة، الا ترى ان القائل اذا قال: اكل فلان ميتة، لم يسبق الوهم الى السمک و الجراد كما لو قال: اكل دما، لم يسبق الى الكبد و الطحال، ولاعتبار العادة و التعارف قالوا: من حلف لا ياكل لحما فاكل سمكا لم يحنث، و ان اكل لحما فی الحقيقة. (الكشاف ۱/ ۲۴)

"په قرآن کې د ميتة لفظ د عرف او عادت له مخې کارول شوی دی، ايا تاسو نه ګورئ چې کله يو څوک ووايي: فلاني مړ ګه وخوړه نو زمونږ فکر هيڅکله ماهي او ملخ ته نه ځي لکه څرنګه چې هغه ووايي: فلاني وينه وخوړه نو زمونږ په ذهن کې تريخی او وينه نه را ګرزي. د همدې عرف او عادت پر بنسټ فقهاوو ويلي چې که څوک د غوښو له خوړلو قسم وکړي او بيا ماهی وخوري نو قسم يې نه ماتېږي حال داچې په حقيقت کې يې غوښه خوړلې ده."

د سمندر په اړه د رسول الله ﷺ دا وينا ده چې هو الطهور ماءه والحل ميتته [6] هم هغه تخصيص دی او په دې کې له ميتتې څخه مراد ماهی او دا ډول نور هغه شيان دي چې د لغت له مخې ميتته ورته ويل کېدای شي خو د عرف او عادت له مخې ميتته نه شي بلل کېدای.

پورته چې مو د مائدې کوم ايت نقل کړ هلته د ميتتې تر تفصيل او ما اكل السبع وروسته د الا ما ذكيتم له الفاظو دا هم په ډاګه کېږي چې يوازې د تذکيې پر بنسټ مړ شوی حيوان مردار نه دی. تذکيه د انبياء عليهم السلام را منځ ته کړې سنت دی او په اصطلاح کې چې د کوم مفهوم لپاره کارېږي، هغه دادی چې په يوه تېز شي حيوان زخمي

[6] نسايي، شمېره: ۵۹ (اوبه يې پاکې او مړ ګه يې حلاله ده)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شي او وينه يې په داسي توګه وبهېږي چې مرګ يې د وينو د بهېدو له کبله را منځ ته شي. د حيوان د وژلو همدا صورت دی چې په دې سره يې غوښه د وينو له مرداری په بشپړ ډول پاکېږي.

د دې اصل طريقه ذبح يا نحر دی، ذبح د غوايي، پسه او دا ډول نورو حيوانات لپاره ځانګړې ده او نحر د اوښ او دا ډول نورو حيواناتو لپاره. د ذبحې مطلب داده چې په يو شي سره د ستوني او مری (د خوراک پايپ) يا ستوني او ودجين (د غاړې رګونه) رګونه غوڅ شي او نحر داده چې د حيوان په غاړه کې د نيزې په څېر تېره شی داسي ورښخ کړل شي چې د وينو داره تري ووزي او د وينو په بهېدو بالاخره حيوان ساه ورکړي.

که کوم وخت په دې طريقه عمل ممکن نه وي نو څه به کېږي؟، رسول الله ﷺ يې ځواب دا ورکړی دی چې په هر شي سره يې داسي زخمي کول کفايت کوي چې ټوله وينه يې وبهوي:

عن عدی بن حاتم قال: قلت يا رسول الله ارأيت ان احدنا اصاب صيدا و ليس معه سكين ايذبح بالمروة و شقة العصى؟ فقال: امرر الدم بما شئت و يذكر اسم الله.

(ابوداود، شمېره: ۲۸۲۴)

"له عدي بن حاتم ﷺ څخه روايت دی چې ما وويل: اې د الله رسوله! دا ووايه که په موږ کې يو څوک ښکار وکړي او چاړه ورسره نه وي نو ايا د ډبرې او يا لرګي په ټوټه يې حلال کړي؟. ده وويل: په هر څه چې وي وينه يې وبهوه او د الله نوم پرې ياد کړه."

په غشي او ټوپک سره د ښکار دروا او ناروا فيصله به هم له دې قانون سره سمه کېږي، که پالل شوي حيوانات ښکار وکړي نو د قرآن وضاحت کړی چې د هغه حکم هم دادی. دا ډول ښکار که ژوندی ونه موندل شي نو هم بايد مړ ګڼه ونه بلل شي.[۷] الله ويلي:

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ

"دوی پوښتي: څه شی ورته حلال شوي دي؟. ووايه تاسو ته ټول پاک شيان حلال دي او په ښکاري حيواناتو کې چې تاسو له هغه علم

[۷] که څيری شوی نه وي او له وبری مړ شي نو بيا مړ ګڼه ده، همدارنګه که پرې شوی نه وي او ژوندی وموندل شي نو حتما بايد ذبح شي، له دې پرته په هيڅ ډول د تذکيې تقاضا پوره کېدای نه شي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّهُ فَكُلُواْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُواْ اسْمَ اللّهِ عَلَيْهِ وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ

(المائدة ۵ : ۴)

څخه څه ور ښودلي او روزلي مو دي چې تاسو ته الله در ښودلي (د هغوی ښکار هم حلال دی) نو له هغه څه خوراک وکړئ چې ستاسو لپاره یې نیولي وي (او د حیوان تر پرېښودو وړاندي) پرې د الله نوم واخلئ[۸] او له الله وویرېږئ بې شکه چې الله ډېر چټک حساب کوونکی دی."

د مائدې دا ایت چې په کوم سیاق کې راغلی له هغه ښکاري چې تر دې په مخکینې ایت کې د وحشي حیوان له خوا څیرې شوی حیوان یوازې په هغه صورت کې حلال بلل شوی وو چې په ژوندي حالت کې ذبح شي، ځکه نو دا پوښتنه پیدا شوه چې که پالل شوی حیوان ښکار وخوري او تر ذبحې وړاندې مړ شي نو حکم به یې څه وي؟. په دې ایت کې دا ځواب ورکړل شو چې د دا ډول حیوان له خوا څیرل یې تذکیه ده، له همدې کبله بې ذبحې خوړل کېدای شي مګر ضروري ده چې د خپل مالک لپاره یې ونیسي، که یې خوراک تري کړی وو نو شوی ښکار یې نه دی روا. په ایت کې دا شرط د مما امسکن علیکم په الفاظو بیان شوی، په دې معامله کې د درنده ګانو او مرغانو د ښکار تر منځ د توپیر هم هیڅ وجه نه شته، ځکه دومره روزنه د درنده ګانو په څېر باز، تېوس او شاهین هم قبلوي. رسول الله ﷺ د قرآن دا مطلب په دې الفاظو تشریح کړی دی:

اذا ارسلت کلبک فاذکر اسم الله علیه، فان ادرکته لم یقتل فاذبح واذکر اسم الله علیه، و ان ادرکته قد قتل و لم یاکل کل فقد امسکه علیک، و ان وجدته قد اکل منه فلا طعم منه شیئا فانما امسک علی نفسه، و ان خالط

"ته چې کله سپی خوشي کوې نو د الله نوم پرې یاده که یې ښکار نه وو وژلی نو د الله په نوم یې حلال کړه او که یې وژلی وو خوراک یې نه وو تري کړی نو خوړلای یې شې ځکه ستا لپاره یې نیولی دی او که یې خوړلی وو نو خوراک یې جایز نه وو ځکه ځان ته یې نیولی دی او که

[۸] زمونږ په نزد دلته د ضمیر مرجع و ما علمتم من الجوارح کېدای شي، یوه وجه یې داده چې که یې مرجع مما امسکن وبلل شي نو دا به یوازې د هغه څه بیا تکرار..... شي چې د الا ما ذکیتم په الفاظو بیان شوي او که د فکلوا اړوند و بلل شي نو د خوراک له عامو ادابو سره تړلې یوه خبره دلته هیڅ ځای نه لري.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كلبک كلابا فقتلن فلم ياكلن فلا تاكل منه شيئا، فانک لاتدری ايها قتل.
(نسايي، شمېره: ۴۲۶۸)

له خپل سپي سره بل سپی هم پر ښکار وويني او خو ډلی يې نه وي نو مه يې خوره ځکه چې ته نه پوهېږې چې په دوی کې کوم يوه وژلی دی؟."

په ايت کې تر ميتة وروسته دويم او درېيم شی بهيدلې وينه او د خنځير غوښه ده، په دې کې د خنځير د غوښې معامله هيڅ وضاحت ته اړتيا نه لري البته د بهيدلې وينې په اړه بايد دا خبره روښانه شي چې د دې لپاره د دمامسفوحا کوم الفاظ راغلي د دې مفهوم هماغه دی چې په عمومي خبرو -اترو کې ترې اخيستل کېږي. که څه هم د تريخي او ينې په اړه هم ويل کېدای شي چې په حقيقت کې وينه ده مګر لکه څرنګه چې مو پورته د زمخشري په حواله وويل: د عام عرف تقاضا داده چې د وينې اطلاق پرې ونه شي. همدا راز د مسفوحا له قيد څخه ښکاري چې په رګونو او شريانونو کې بنده وينه هم د حرمت له دې حکم څخه مستثنا ده.

تر دې وروسته څلورم او وروستی شی د غير الله په نوم ذبيحه ده، قرآن د سورت الأنعام په يا د ايت کې څرګنده کړې چې د دې حرمت علت په خپله د حيوان ظاهري نجاست نه بلکې د حلالوونکي فسق دی، څرنګه چې د غير الله په نوم ذبح کول يو شرکي کار دی له همدې کبله په فسق ترې تعبير شوی دی او څرګنده ده چې دا د علم او عقيدې څټلتيا ده. دا ډول څټلتيا چې له هر شي سره يو ځای شي د عقل تقاضا داده چې تر همدې حکم لاندې وبلل شي. قرآن کريم په سورت المائدة کې ځينې شيان د همدې حکم پر بنسټ ممنوع بللي دي، الهي وينا ده:

وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ (المايدة ۵ : ۳)

" او هغه (حيوانات هم حرام دي) چې د چا پر دربار ذبح شوی وي او دا هم چې (تاسو يې غوښه) پر غشو تقسيم کړئ، دا هر څه د فسق کارونه دي."

استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په تفسير کې ليکي:

" وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ نصب ځای، مزار او دبارته وايي، په عربو کې داسي ځايونه او دربارونه ډېر وو چې ديبانو، ديوتاګانو، پيريانو او بلاوو د خوشالولو لپاره به قربانۍ ورکول کېدې. قرآن دا ډول ذبحې هم حرامې وبللې، د قرآن له الفاظو دا خبره په ښکاره

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

معلومېږي چې د دې حرمت صرف دربارونو ته د نژدېکت او ثواب په نیت له ذبحې څخه پیدا کېږي. پر دې بحث نه دی کړی چې د الله نوم پرې یاد شوی او که د غیر الله، که یې حرمت د غیر الله د نوم په اخیستلو وای نو بیل ذکر ته یې اړتیا نه وه، پورته د ما اهل لغیر الله به یادونه شوې هماغه کافي وه. زمونږ په نزد په دې حکم کې هغه قربانۍ هم داخلې دي چې مزارونو او قبرونو ته وړاندې کېږي، په دې کې هم د مزار او قبر د څښتن خوشالي مطلب وي. د ذبحې پر مهال د الله نوم یاد شي او که د قبر و مزار د خاوند دا یې په حرمت کې هیڅ دخل نه لري بلکې د مقام رول مهم دی.

وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ د استقسام معنا ده برخې یا قسمت و تقدیر معلومول، ازلام د قمار یا پال غشو ته ویل کېږي. په عربو کې د پال غشي هم دود وو چې دوی له خپل فکر سره سم پرې د غیب پرېکړې معلومولې او د قمار غشي هم رواج وو چې په وسیله به یې غوښه او یا نور شیان ګټل، د سورت البقرې په تفسیر کې مو تر خمر او میسر لاندې ولیکل چې عربو به د شراب څښلو مجلسونه جوړول، پر دې مهال چې به یې د چا اوښ وغوښت حلالاوه به یې، مالک به یې د هغه د خوښې په قیمت راضي کاوه او بیا به یې پر غوښو قمار کاوه. د غوښو کومه کوټه چې به یې ګټله هغه به یې پخولې، خوړې یې، شرابونه یې څښل او ډېر وختونه به یې په دې خمار کې داسې جګړې کولې چې تر کلونو به قبیلې له یوه بل سره اخته وې او په سلګونو انسانان به وژل کېدل، زما په اند دلته له استقسام بالازلام څخه همدا دویم صورت مراد دی." (تدبر قرآن ۲/ ۴۵۶)

هغه ذبیحه هم تر دې لاندې ده چې نه د الله نوم پرې یاد شوی وي او نه د بل، قرآن دا هم هغه ډول فسق بللی لکه ما اهل لغیر الله به چې یې بللی دی، په سورت الأنعام کې یې د حیواناتو په اړه د ځینو عربي توهماتو په ردولو ویلي دي:

وَلاَ تَأْكُلُواْ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ (الأنعام ۶: ۱۲۱)

"او تاسو له هغه حیوانه خوراک مه کوئ چې د الله په نوم نه وي ذبح شوی بې شکه دا فسق دی او شیطانان یې خپلو ملګرو ته وحي کوي څو له تاسو سره شخړه وکړي (او تاسو ته باید معلومه وي چې) که مو د دوی خبره ومنله نو تاسو به هم مشرکان شئ."

پر ذبیحه او ښکار د الله نوم نه یادول ولې داسې فسق دی چې په نتیجه کې یې حیوان په و ما اهل لغیر الله به په حکم کې داخل شي؟، استاذ امام یې د دعوا ملو په بیانولو لیکي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"اول دا چې هر کار د الله له نوم او د هغه له تکبیر پرته وشي نو لکه څرنګه چې د بسم په الله تفسیر کې څرګنده کړه بې برکته وي، د الله له هر لوی او کوچني نعمت څخه د ګټې اخیستلو پر مهال اړینه ده چې د ده نوم پرې یاد شي څو د بندګانو له خوا د ده د انعام او احسان اعتراف او اقرار وشي. له دا ډول اعتراف او اقرار پرته چې کوم څوک په یو شي کې تصرف کوي نو دا تصرف یې غاصبانه دی او په غصب سره هیڅ حق نه شي را منځ ته کېدای بلکې دا بې باکي او سرکښي ده چې د الله په نزد د سزا وړ ده.

دویم د نفس د درناوي تقاضا داده چې د ذبحې پر مهال پرې د الله نوم یاد شي، نفس چې د هر چا وي یو محترم شی دی. که موږ ته الله اجازه نه وای راکړې نو د هیڅ حیوان نفس اخیستل را ته روا نه وو. موږ ته دا حق صرف د الله په اجازه راکړل شوی له همدې کبله اړینه ده چې کله موږ له هغو څخه د یو چا نفس اخلو صرف د الله په نوم یې واخلو، که د الله نوم یاد نه کړو او یا د الله له نوم سره د بل نوم واخلو او یا د غیر الله په نوم ذبح کړو نو دا د هغو د ځان او د هغه د خالق دواړو بې ادبي ده.

درېیم دا چې په دې سره د شرک یوه پراخه دروازه ترڅ کېږي، کوم چا چې د دینونو تاریخ مطالعه کړی دی هغه پوهېږي چې د حیواناتو قرباني، نذر او شکرانه د تاریخ له پیله په عباداتو کې ډېر ارزښت لري. د همدې ارزښت له کبله یې په شرکي مذاهبو کې هم ډېره وده وکړه، هر قوم چې د غیر الله په عقیده او نیازمندۍ اخته شوي هغوی په بېلابېلو شکلونو د غیر الله د راضي کولو لپاره د حیواناتو قرباني ورکړې. په قرآن کې چې د انسان د بې لارې کولو په اړه د شیطان کوم ګوابن موجود دی په هغو کې هم لکه څرنګه چې مو یې په خپل ځای کې سپینا وی کړی ده د بې لارې کولو دا ځانګړې وسیله یاده کړې ده. اسلام د دې ټولو شرکي لارو د بندولو لپاره د حیواناتو پر نفس د الله د نوم قلف ولګاوه چې د الله له نوم پرته یې په بل نوم خلاصول حرام بلل شوي. که له دې کیلي پرته یې په بله کیلي د خلاصولو او یا د ماتولو هڅه وکړي نو دا کار هم ناروا دی او پر کوم حیوان چې دا ناروا تصرف شوی هغه هم حرام دی." (تدبر قرآن ۳ / ۱۵۷)

همدا حالت د هغې ذبیحې او ښکار هم دی چې د الله نوم پرې یاد شوی وي مګر نوم اخیستونکی یې الله نه مني او یا یې مني مګر د خدایانو په ډله کې د یوه لوی رب په توګه یې مني او شرک یې اصلا خپل دین ګرزولی وي، څرګنده ده چې د ذبحې پر مهال د شرک کوونکو او مشرک د ذبیحې تر منځ هیڅ توپیر نه شي کېدای، له همدې کبله قرآن د مسلمانانو لپاره له دوی پرته یوازې د اهل کتابو ذبیحه حلاله بللې ده ځکه هغوی په حقیقت کې توحید مني، الهي وینا ده:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ (المائدة ۵ : ۵)

"نو ستاسو لپاره ټول پاک شیان حلال شوي او د اهل کتابو خوراک تاسو ته حلال دی او ستاسو خوراک دوی ته."

له دې حرامو شیانو یوازې د اضطرار حالت استثنا دی او هغه هم غیر باغ و لا عاد یعني داسې چې نه به د انسان غوښتنه وي او نه به تر حق تېری کوي، د بقرې او نحل په ایاتونو کې همدا خبره بالکل په همدې الفاظو بیان شوې. البته د مایدې په الفاظو کې لږ توپیر ویلی یې دي:

فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ (المایدة ۵ : ۳)

"نو که څوک د لوږې له لاسه مجبور شي کوم حرام شی وخوري پرته له دې چې ګناه ته مایل وي نو الله بخښونکی سراسر رحمت دی."

استاذ امام یې په وضاحت کې لیکي:

"... د مخمصې معنا ده لوږه، د لوږې له کبله د مجبوریت معنا داده چې انسان په داسې لوږه اخته شي چې د مرګ او حرام شي د انتخاب تر منځ ظاهرا بله هیڅ لار نه وي، په داسې حالت کې اجازه ده چې له هر حرام شي څخه په ګټه اخیستلو خپل ځان ساتلای شي. له دې سره د غیر متجانف قید هماغه مفهوم بیانوي چې بل ځای د غیر باغ ولا عاد په الفاظو ذکر شوی دی یعني نه یې زړه غوښتونکی وي او نه تر اړتیا تېرېږي. د مخمصې له قید څخه دا خبره ښکاره شوه چې که په کوم ځای کې بل خوراک موجود وي هلته صرف د دې عذر پر بنسټ چې شرعي ذبیحه نه موندل کېږي لکه د اروپا او امریکا په اکثرو هیوادونو کې هیڅوا ته د ناروا روا کولو حق نه شته، غوښه د ژوند د دوام لپاره ښکې اړینه نه ده، په نورو خوراکونو نه یوازې د ژوند بلکې صحت معیار هم ښه کېدای شي. د غیر متجانف لاثم قید دا حقیقت څرګندوي چې رخصت په هر حال کې رخصت دی او حرام په هر شکل حرام دی، نه حرام شی د مور په شیدو بدلېدای شي او نه رخصت ابدي سند دی ځکه نو دا خبره هیڅ ته روا نه ده چې د اضطرار تر حد تېر شي. که دې بندیزونو ته په پام څوک خپل ژوند وژغوري نو الله بخښونکی او مهربان دی او که له دې اجازې څخه په ګټه اخیستلو د خپل نفسي خواهش پوره کولو لارې خلاصوي نو مسئولیت یې پرده دی، دا اجازه به ورته د قیامت په ورځ عذر ونه ګرزي." (تدبر قرآن ۲ / ۴۵۸)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا ټول شیان لکه څرنګه چې د قرآن له دې اياتونو معلومېږي يوازې د خوراک او څښاک لپاره حرام دي، پاتې شول د هغو نور استعمالات نو هغه بالکل روا دي هيڅ مومن بايد په دې کې شکمن نه شي. د ابن عباس ﷺ له يوه روايت سره سم چې دا خبره په خپله رسول الله ﷺ يو ځای په پوره صراحت سره کړې ده:

قال: تصدق على مولاة لميمونة بشاة فماتت، فمر بها رسول الله ﷺ ، فقال: هلا اخذتم اهابها فدبغتموه فانتفعتم به؟ فقالوا: انها ميتة، فقال: انما حرم اكلها.

(مسلم، شمېره: ۸۰۶)

"د ميمونې ﷺ يوې مينځې ته په خيرات کې پسه ورکړل شوی وو، هغه مردار شو. رسول الله ﷺ هلته تېرېده نو ويې ويل: پوست مو يې ولې نه دی ايستلی چې تر پخېدو وروسته مو ورڅخه ګټه اخيستې وای؟. خلګو وويل: دا خو مردار دی. ده وويل: صرف خوراک يې مردار دی."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۹

دودونه او اداب

د انسان د نفس اصلاح چې د ژوند کولو په کومو طریقو او د تمدن په کومو نښو څرګندېږي همدې ته موږ په اصطلاح کې دودونه او اداب وایو، د انساني ټولنې هیڅ تاریخ له دې دودونو او ادابو خالي نه دی پاتې شوی. موږ یې په هره قبیله، هر قوم او هر تهذیب کې یو ډول دود او د یو عمومي قانون له مخې په یوه ډول پلي وینو. قومونه او ملتونه تر ډېره د یوه بل په مقابل کې په همدې سره پېژندل کېږي، انبیاء علیهم السلام چې کوم دین راوړی دوی هم خپل منونکي په دا ډول ځینو دودونو او ادابو مکلفوي. د دین هدف د نفس تزکیه ده، ځکه نو دا دیني دودونه او اداب هم دې مقصد ته په پام تاکل شوي دي. رسول الله ﷺ چې کله نبي شو نو په دې کې یې ډېر د ابراهیمي دین د کولتور په توګه په عربو کې دود وو، له څو شیانو پرته ده پکې هیڅ زیاتونه نه ده کړې. دا تر قرآن وړاندې دي او د یو سنت حیثیت لري چې د رسول الله ﷺ تر تقریر او تائید وروسته د صحابه کرامو په اجماع او عملي تواتر امت ته نقل شوي دي. اوس یې ماخذ د امت اجماع ده او پر همدې بنسټ هر ځای په ټول امت کې منل کېږي، موږ به د انبیاء علیهم السلام تاکلي همدا دودونه او اداب همدلته په ترتیب سره بیان کړو.

۱) د الله له نوم سره په راسته لاس خوراک او څښاک:

په دې کې لومړی شی د الله د نعمتونو اقرار او په هغو کې د برکت دعا ده او دویم شی تل د دې حقیقت یاد ساتل دي چې د قیامت په ورځ به کومو کسانو ته نعمتونه ورکول کېږي هغوی به خپله عمل نامه په راسته لاس نیولې وي. مومن بنده چې کله په داسي ځایونو کې د راسته اړخ رعایت کوي نو ګواکې د هغه له خوا یو سمبولیک اظهار وي چې دی هم په قیامت کې د نبي اړخو په ډله کې شاملېدل غواړي. رسول الله ﷺ په خپلو لارښوونو کې د انبیاء علیهم السلام په دې سنت پر عمل کولو داسي ټینګار کړی دی:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بسم الله و كل بيمينک. (بخاري، شمېره: ۵۳۷۶) "د الله له نوم سره يې په راسته لاس خوره."

اذا اكل احدكم فليكل بيمينه و اذا شرب فليشرب بيمينه.(مسلم، شمېره: ۵۲۶۵) "كله چې په تاسو كې څوک خوراک او څښاک كوي نو په راسته لاس دي خوري او څښي."

۲) د مخامخ كېدو پر مهال السلام عليكم او ځواب يې: دا په دنيا او اخرت كې د سلامتي دعا ده چې مسلمانان يې د ليدو پر مهال يوه بل ته كوي، پيلوونكى السلام عليكم او ځوابوونكى وعليكم السلام وايي. د دې يادونه په قرآن كې هم شته او د رسول الله ﷺ په ويناوو كې هم، ده يې طريقه دا ښودلې ده:

يسلم الصغير على الكبير و المار على القاعد و القليل على الكثير.(بخاري، شمېره: ۶۲۳۱) "كشر دي مشر، روان دي ناست او لږ دي ډېرو ته سلام كوي."

۳) د پرنجې پر مهال الحمدلله او په ځواب كې يې يرحمک الله ويل.

د انسان په وجود كې پرنجې له عامې ګډ-وډې څخه د نجات وسېله ده، پر دې د الله شكر او په ځواب كې يې د رحمت د دعا طريقه د انبياء عليهم السلام په دين كې د دې لپاره تاكل شوې چې مومن بنده تل په دې حقيقت خبر وي چې په دنيا او اخرت كې د الله رحمت يوازې د هغه د شكر ايستونكو بندګانو لپاره ځانګړې دى، له ځينو رواياتو معلومېږي چې پيل يې د روح تر پوكلو وروسته د ادم عليه السلام له لومړۍ بيدارۍ څخه وشو.[1] په عربي ژبه كې د دې عمل لپاره د تشنيت لفظ دليل دى چې دا يو لرغونى سنت دى او رسول الله ﷺ په خپل امت كې همداسې دوام ورکړى دى. د ده وينا ده:

اذا عطس احدكم فليقل الحمدلله و ليقل اخوه او صاحبه يرحمک الله، فاذا قال له يرحمک الله، فليقل: يهديكم الله و يصلح كه په تاسو كې څوک پرنجې وكړي نو بايد الحمدلله[2] ووايي او د هغه ورور يا ملګرى دي په ځواب كې يرحمک الله[3] ووايي، كله چې هغه

[1] ترمذي، شمېره: ۳۳۶۸
[2] الله له شكر
[3] پرتا دي د الله رحمت وي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بالکم. (بخاري، شمېره: ۶۲۲۴)

يرحمک الله ووايي نو اورېدونکی دي په ځواب کي ووايي: الله دي تا ته هدايت وکړي او ستا حالت دي سم کړي.

۴) د بريتونو کمول.

۵) تر نامه لاندي وېښتان اخيستل.

۶) د بغلونو وېښتان پاکول.

۷) د لويو نوکانو غوڅول.

۸) د هلکانو سنتي.

دا پنځه شيان د ادابو له ډلې دي، لوی بريتونه د انسان په شکل کي يو ډول د غرور تاثير پيدا کوي او د خوراک و څښاک په لوښو کي په لوېدو يې چټل کوي هم. لوی نوکان د خيرو پر نيولو سربېره له درنده ګانو سره مشابهت هم څرګندوي، ځکه نو هدايت شوی چې بريتونه دي کوچني شي او لوی نوکان دي غوڅ شي. پاتي نور شيان د بدن د پاکولو لپاره اړين دي، رسول الله ﷺ ورته دومره پاملرنه کوله چې د ځينو لپاره يې وخت ټاکلی دی. له انس رضي الله عنه څخه روايت دی:

و قت لنا في قص الشارب و تقليم الاظفار و نتف الابط و حلق العانة ان لا نترک اکثر من اربعين ليلة. (مسلم، شمېره: ۵۵۹)

"موږ ته د بريتو غوڅولو، نوکانو پرې کولو، بغل د وېښتانو پاکولو او تر نامه لاندي وېښتانو د اخيستو وخت ټاکل شوی وو چې بايد تر څلوېښت ورځې زيات پاتي نه شي."

تر رسالت وړاندي هم عربو عموما پرې عمل کاوه.[۴] دا فطري سنن دي چې انبياء عليهم السلام د تزکيې او تطهير لپاره د ډېر اهميت پر بنسټ د دين لازمي برخه ګرزولي دي، رسول الله ﷺ ويلي:

الفطرة خمس الختان و الاستحداد و قص الشارب و تقليم الاظفار و نتف الاباط.

"پنځه شيان له فطرت څخه دي: سنتي، تر نامه لاندي وېښتانو صفا کول، د بريتونو کمول، د

[۴] المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۶/ ۳۴۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(بخاري، شمېره: ۵۸۹۱) لويـو نوکـانو غوڅـول او د بغلونـو د وېښـتانو صفايي."

۹) د پزې، خولې او غاښونو پاکول.

انبياء عليهم السلام چې په خپلو پيروانو کې د پاکي او طهارت د کوم ذوق پيدا کول غوښتل د همدې تقاضا ده چې د دې شيانو پاکي ته هم د يو سنت حيثيت ورکړل شي، په تاريخ کې يې د عربو د ديني شعايرو په توګه يادونه کېږي. [۵]

امت ته چې د رسول الله ﷺ د اوداسه کومه طريقه نقل شوې له هغې ښکاري چې د هر اوداسه پر مهال به يې په ډېره پاملرنه مضمضه[۶] او استنشاق[۷] کول. د غاښونو پاکي ته يې هم دا ډول پاملرنه کړې ده ان ده ويلي:

لو لا ان اشق على امتى لامرتهم بالسواک مع كل صلوة. (بخاري، شمېره: ۸۸۷)

"که له ما سره دا فکر نه واى چې پر امت به مې سخته شي نو د هر لمانځه پر وخت به مې د غاښو پاکولو امر ورکړى وو."

۱۰) استنجا.

څارا ګڼښت ته تر ټېرېدو وروسته په پوره احتياط د بدن صفايي هم د ابراهيمي دين سنت ده. [۹] حالاتو ته په پام په اوبو هم ترسره کېداى شي او د خاورې په لوڅو او دا ډول بل شي هم، له رواياتو ښکاري چې رسول الله ﷺ عموما اوبه کارولې. د ابو هريره ﷺ په روايت کې دي:

كان النبى ﷺ اذا اتى الخلاء اتيته بماء فى تور او ركوة فاستنجى ثم مسح يده على الارض. (ابوداود، شمېره: ۴۵)

"رسول الله ﷺ چې به کله څارا ګڼښت ته ولاړ نو ما به په لوښي يا ګوډي کې اوبه ورو ورې، ده به پرې استنجا وهله او د پاکي لپاره به يې لاس پر ځمکه مښل."

---

[۵] المفصل في تاريخ العرب جواد علي ۶ / ۳۴۶

[۶] د خولې پاکولو لپاره پرې اوبه رغړول

[۷] د پزې پاکولو لپاره پکې اوبه اچول

[۹] المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام د جواد علي ۶ / ۳۴۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱۱) تر حیض او نفاس ورسته غسل. دا هم یو لرغونی سنت دی، تر حیض او نفاس وروسته چې کله د وینو راتګ بند شي نو ښځې باید حتما غسل وکړي، په قرآن کې چې هم الله چیرې پر دې مهال د ښځې او میړه تر منځ د تعلق حکم بیان کړی هلته یې په دې ډول د هغه یادونه کړې ده:

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىَ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ

(البقرة ۲ : ۲۲۲)

"او دوی له تا د حیض په اړه پوښتي، ووایه: دا مرداري ده د حیض په حالت کې له ښځو ګوښه شئ او تر څو چې له وینو پاکې نه شئ مه ور نژدې کېږئ کله چې په لمبېدو پاکې شي نو له هغه ځایه ورشئ چې الله یې امر درته کړی، بې شکه الله توبه ایستونکي او پاکي کوونکي خوښوي."

استاذ امام امین احسن الهي یې په تفسیر کې لیکي:

"په دې ایت کې د طهر او تطهر دوه الفاظ کارول شوي، د طهر معنا داده چې د ښځې ناپاک حالت ختم او وینه یې ودریږي او د تطهر معنا داده چې ښځه په لمبېدو د پاکې حالت ته راشي. په ایت کې ښځې ته د ورتلو لپاره طهر شرط بلل شوی او ورسره یې ویلي دي چې کله پاکي تر لاسه کړي نو بیا ورشئ. له دې څخه ښکاري چې د نژدېکت د منعې اصل علت وینه ده ځکه نو د هغې تر بندېدو وروسته دا بندیز له منځه ځي مګر سمه طریقه داده چې کله ښځه په لمبېدو پاکه شي نو ورسره یو ځای شي." (تدبر قرآن ۱ / ۵۲۶)

۱۲) د جنابت غسل.

د انبیاء علیهم السلام په دین کې د دې غسل حکم هم تل موجود پاتې شوی دی، الله په ځانګړې ډول تر لمانځه وړاندې پرې داسې ټینګار کړی دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنتُمْ سُكَارَى حَتَّىَ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلاَ جُنُبًا إِلاَّ عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىَ تَغْتَسِلُواْ (النساء ۴ : ۴۳)

"اې مومنانو! د نشې په حالت کې لمانځه ته تر هغو مه ور نژدې کېږئ چې څه په ژبه وایاست پرې وپوهېږئ او د جنابت په حالت کې هم تر هغه وخته چې غسل ونه کړئ، مګر دا چې د لمانځه په ځای کې صرف تېرېدل هدف وي."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په سورت المايده کي همدا حکم د وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُواْ [9] په الفاظو بيان شوی دی، دلته له جنابت څخه د نجاست هغه حالت مراد دی چې يو چا ته د جنسي اړيکو او يا انزال له املو ورپېښېږي. تر دې وروسته د پاکي لپاره غسل ضروري دی چې بايد په پوره توجو سره وشي. په قرآن کي د اطهروا او تغتسلوا الفاظ د عربيت له مخې پر همدې دلالت کوي. د دې غسل په اړه چې په روايا تو کي د رسول الله ﷺ کومه طريقه نقل شوې، تفصيل يې دادی:

لومړی دي لاس ومينځل شي.

بيا دي فرج په چپ لاس ومينځي او بنه دي پاک کړي.

بيا دي ټول اودس وکړي خو پښې دي په پای کي ومينځي.

په وېښتانو کي دي ګوتې واچوي او وبه دي داسي وربانديتوی کړي چې ښه خو ته يې ورسېږي.

بيا دي پر ټول بدن اوبه وبهوي او په اخير کي دي پښې ومينځي.

په دې اړه چې تر مور پوري له عائشې او ميمونې رضی الله عنهما څخه کوم روايات را رسېدلي لاندي يې نقلوو.

عن عائشة رضی الله عنها قالت: كان رسول الله ﷺ اذا اغتسل من الجناة يبدأ فيغسل يديه، ثم يفرغ يمينه على شماله فيغسل فرجه، ثم يتوضأ وضوءه للصلوة، ثم يأخذ الماء فيدخل اصابعه فی اصول الشعر حتى اذا رأى ان قد استبرأ حفن على رأسه ثلاث حفنات، ثم افاض على سائر جسده، ثم غسل رجليه. (مسلم، شمېره: ۷۱۸)

"له عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله د جنابت غسل کاوه لومړی به يې دواړه لاسونه ومينځل بيا به يې په راسته لاس پر چپ لاس اوبه واچولې، خپل فرج به يې پرې پاک کړل، بيا به يې د لمانځه په څېر اودس وکړ، ورپسې به يې اوبه ور واخيستې خپلې ګوتې به يې د وېښتانو په بېخونو کي واچولې کله چې به پوه شو اوبه پوست ته رسېدلې نو پر خپل سر به يې درې لپې اوبه توی کړې، وروسته به يې پر ټول بدن اوبه وبهولې بيا به يې دواړې پښې ومينځلې."

[9] المايدة ۵ : ۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عن ابن عباس، قال حدثتني خالتي ميمونة قالت: ادنيت لرسول الله صلى الله عليه وسلم غسله من الجنابة، فغسل كفيه مرتين او ثلاثا، ثم ادخل يده في الاناء، ثم افرغ به على فرجه و غسله بشماله، ثم ضرب بشماله الارض فدلكها دلكا شديدا، ثم توضأ وضوءه للصلوة، ثم افرغ على رأسه ثلاث حفنات ملء كفه، ثم غسل سائر جسده، ثم تنحى عن مقامه ذلك فغسل رجليه.

(مسلم، شمېره: ۷۲۲)

"له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې ما ته مې تورې ميمونې وويل: ما رسول الله ته د جنابت د غسل اوبه ور وړې، نو ده لومړی دواړه لاسونه دوه يا درې ځله ومينځل بيا يې لاس په لوښي کې واچول، پر خپلو فرجو يې اوبه وبهولې او په چپ لاس يې ومينځل، بيا يې خپل لاسونه په ځمکه ښه وموښل، بيا چې د لمانځه لپاره څرنګه اودس کېږي، هغه ډول اودس يې وکړ، وروسته يې درې ځله پر سر ډکه لپه اوبه وبهولې، بيا يې ټول بدن ومينځه، ورپسې له هغه ځايه لرې شو او دواړې پښې يې ومينځلې."

۱۳) د مړي غسل.

دا غسل هم د انبياء عليهم السلام له سنتو څخه دی،[۱۰] که څه هم پر بدن د اوبو په ښه بهولو بشپړېږي مګر په دين کې چې پاکي او صفايي څومره ارزښت لري هغې ته په پام بايد تر ممکنه حده په پوره توجو سره ورکړل شي. رسول الله ﷺ چې په دې اړه يون ځای کومې لارښوونې کړې دي، هغه دادي:

اغسلنها ثلاثا او خمسا او اكثر من ذالك ان رأيتن ذالك بماء و سدر و اجعلن في الاخرة كافورا او شيئا من كافور.

(بخاري، شمېره: ۱۲۵۸)

"دې ته درې يا پنځه ځله غسل ورکړئ او که مناسبه وګڼئ نو تر دې هم څو ځله زيات د اوبو او بيرې له پاڼو سره غسل ورکړئ او د پرې منځلو په اخيري وار کافور اويا يې وويل: يو څه کافور هم ورسره يو ځای کړئ."

اغسلنها وترا ثلاثا او خمسا او سبعا ابدأن

"دا تاک واري ومينځئ، درې، پنځه يا اووه،

---

[۱۰] په عامو حالاتو کې يې هر مسلمان مړي ته ورکول ضروري دي خو که په کوم بېړني حالت کې د مړي غسل او کفن و نور د تکليف سبب شي نو له غسل او کفن پرته هم ښخېدای شي. د بخاري په (۱۳۴۷) روايت کې دي چې رسول الله ﷺ د احد شهيدان همداسي ښخ کړل. فقهاوو دا حالت د شهادت له مرګ سره تړلی دی، حال دا چې دا يوه عامه استثنا ده او په دين کې د رخصت پر هغو اصولو بنا ده چې د هغه په ټولو احکامو کې ورته پام شوی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بمامنيها و مواضع الوضوء منها.
(بخاري، شمېره: ۱۲۵۴)

له ښي اړخه او هغو اعضاوو پيل وکړئ چې اودس پرې کېږي."

۱۴) کفن ورکول.

تر غسل وروسته مړي ته کفن ورکول هم د ابراهيمي دين سنت دی، که څه هم دا د يوه ځادر په وراغوستلو پوره کېدای شي مګر د مړي د درناوي غوښتنه داده چې د پوره توجو طريقه غوره شي، له عائشې ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته د وړينې جامې، د درو يمني ځادرونو کفن ورواغوستل شو چې پکې کميس او لنګوټه نه وه.[11]

رسول الله ﷺ ويلي:

اذا کفن احدکم اخاه فليحسن کفنه.
(مسلم، شمېره: ۲۱۸۵)

"که په تاسو کې څوک خپل ورور ته کفن ورکوي نو بايد ښه کفن ورکړي."

۱۵) ښخول.

خپل هدف ته د مړي رسولو لپاره د انبياء عليهم السلام په دين کې هغه ځمکې په قبر کې ښخېږي.[12] د دې لپاره کومه ځانګړې طريقه نه ده ټاکل شوې، د سيده کندې په کښلو پرې چت اچوي، يو اړخ يې کاږي او مړي پکې ږدي يا که يې په تابوت کې خاورو ته سپاري له دې ټولو طريقو کار اخيستل کېدای شي، البته رسول الله ﷺ د قبر له پخولو او بيا د ودانۍ له جوړولو منعه کړې ده.[13] په ځينو روايتو کې ويل شوي چې رسول الله ﷺ د ښخولو پر مهال د سر له لوري د درې ځله پر قبر خاوره هم اچولې ده.[14]

۱۶) کوچنی اختر. ۱۷) لوی اختر.

---

[11] بخاري، شمېره: ۱۲۶۴، مسلم، شمېره: ۱۲۷۹

[12] دا هم د عامو حالاتو طريقه ده، که په سمندري ييړې يا کښتۍ کې مړی وشي او تر ساحله په رسېدو کې يې د ځنډ وېره وي نو له دې پرته بله چاره نه شته چې اوبو ته يې واچوي.

[13] مسلم، شمېره: ۲۲۴۵

[14] ابن ماجه، شمېره: ۱۵۶۵ دا که څه هم د مدلس معنعن روايت دی مګر په تاريخ دمشق الکبير (۳۳/۶۵) کې يې د سماع تصريح شته.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسول الله ﷺ دا دواړه اخترونه د الله په لار ښوونه د مسلمانانو لپاره ټاکلي دي، تر اسلام وړاندي د عربي مشرکينو په دودونو کي د يوم السبع، يوم السباسب او دا ډول نورو اخترونو يادونه موندل کېږي. د بني اسرائيلو په شريعت کي هم د اختر ورځې وې مګر له تورات او نورو صحيفو ښکاري چې دا تر ډېره د هغوی د تاريخ مهم پېښې وي. الله په خپل وروستي شريعت کي د مسلمانانو لپاره د اختر دا دوې خوښۍ وټاکلې او دواړې يې د اسلام او تقوا له څرګندو شعارونو سره وترلې.

کوچنی اختر هر کال د روژې په پای ته رسېدو د شوال په لومړۍ نېټه د روژې د عبادت ترپوره کېدو وروسته او لوی اختر د ذی الحجې په لسمه د ابراهيم عليه السلام د قربانۍ يادولو په توګه لمانځل کېږي. له روایاتو ښکاري چې دا دواړې میلې تر هجرت وروسته په مدينه کي وټاکل شوې.

د انس رضي الله عنه وينا ده:

قدم رسول الله ﷺ المدينة و لهم يومان يلعبون فيهما فقال رسول الله ﷺ : ما هذان اليومان؟ قالوا: كنا نلعب فيهما في الجاهلية. قال: ان الله عز وجل قد ابدلكم بهما خيرا منهما يوم الفطر و يوم النحر.

(احمد، شمېره: ۱۳۲۱۰)

"کله چې رسول الله ﷺ مکې ته راغی نو هلته خلکو د لوبو او خوښۍ دوې ورځې درلودې، ده وويل: دا څنګه ورځې دي؟. خلکو وويل: دا په جاهليت کي زموږ د لوبو او تماشې ورځې وې. رسول الله ﷺ وويل: الله د دې پر ځای ستاسو لپاره تر هغو دوې غوره ورځې ټاکلې دي چې د کوچني اختر او لوی اختر ورځې دي."

په دې ورځو کي چې د سنت په توګه کوم اعمال ترسره شوي او موږ يې تفصيل د دې کتاب د عباداتو په قانون کي بيان کړی هغه دادي:

۱) سرسايه (صدقه فطر)

۲) لمونځ او خطبه

۳) قرباني

۴) د تشريق په ورځو کي تر هر لمانځه وروسته تکبيرونه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د کوچني او لوی اختر دا دواړې خوښې د ذکر، شکر او تفریح لپاره ځانګړې دي، له ام المؤمنین عائشې ﷺ څخه روایت دی چې کله یو ځل د دې پلار ابو بکر الصدیق د دې په کور کې وینځې د بدلو له ویلو منعه کړې نو رسول الله ﷺ وویل:

یا ابا بکر ان لکل قوم عیدا و هذا عیدنا. (بخاري، شمېره: ۹۵۲)

"اې ابو بکره! (دوی بدلو ته پرېږده) د هر قوم یو اختر وي او دا زموږ اختر دی."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱۰

قسم او کفاره يې

لاَ يُؤَاخِذُكُمُ اللّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَـكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ وَاحْفَظُواْ أَيْمَانَكُمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (المايدة ۵ : ۸۹)

" الله به تاسو پر هغو قسمونو ونه نيسي چې پې ارادې يې کوئ مګر کوم قسمونه چې د زړه په اراده کوئ پر هغه به مو ونيسي، که دا ډول قسم مات شي نو کفاره يې داده چې لسو مسکينانو ته د هغه معيار خوراک ورکړای شي چې تاسو يې په عمومي ډول خپلې کورنۍ ته ورکوئ، يا دي د اغوستلو جامې ورکړل شي يا دي يو مرپيی ازاد شي، څوک چې دا نه شي کولای د هغه لپاره درې روژې دي. دا ستاسو د قسمونو کفاره ده چې کله قسم وکړئ او خپل قسمونه ساتئ، په دې ډول الله تاسو ته د خپلو ايـاتونو وضاحت کوي چې د ده شکر وباسئ."

په دين کې قسم ډېر ارزښت لري، په وعده وفا د اسلام له بنسټيزو اخلاقو څخه ده چې قسم يې نوره هم پياوړې کوي، کله چې مسلمان د خپل عزم، ارادې او يا وعدې په اړه په الله لوړه کوي نو ګواکې خپل رب او د نړۍ واکمن پر هغه خبره شاهد ګرزوي، د انساني تمدن په ټولو ټولنيزو او سياسي چارو او ټرونونو کې تل قسم د ټينګښت وسيله پاتې شوې، الله پر همدې بنسټ په قرآن کې بني اسرائيلو ته له ده سره د کړې ژمنې په وريادولو د هغوی قسم ذکر کړی او خبر يې ورکړی چې پر کومه ژمنه يې خپل رب شاهد ګرزولی د هغې د ماتولو جرأت دي نه کوي. ده ويلي:

وَأَوْفُواْ بِعَهْدِ اللّهِ إِذَا عَاهَـدتُّمْ وَلاَ تَنقُضُـواْ الأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّهَ عَلَيْكُمْ

" او له الله سره خپله ژمنه پوره کړئ چې کله مو کړې وي او قسمونه تر پخبدو وروسته مه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كَفِيلاً إِنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُـونَ (النحل ۱۶ : ۹۱) ماتوئ، کله چې مو الله پر ځان شاهد ګرزولی وي، بې شکه الله په هغه څه پوهېږي چې تاسو يې کوئ."

د قسم له دې ارزښت سره -سره ډېر ځله داسې حالات پېښېږي چې د انسان لپاره د قسم پوره کول ممکن نه وي او يا احساسوي چې په دې سره به د الله، ځان او نورو کوم حق تر پښو لاندې شي. په دې صورت کې قسم ماتېدای شي، بلکې په ځينو صورتونو کې د قسم ماتول د دين و اخلاقو له مخې ضروري وي، د همدې لپاره په شريعت کې د کفارې طريقه ټاکل شوې ده. پورته يې د مايدې په ايت کې حکم بيان شوی دی، د قسم او کفارې د ټول حکم لنډيز دا دی:

۱) ځيني وختونه قسم ببخې پالتو، بې ګټې او بې معنا وي. په دې کې شک نه شته چې بايد مومن بنده له دې هم ځان وساتي خو دا پر خپلو بندګانو د الله بې کچې لورينه ده چې پر دا ډول قسمونو به يې په دنيا او اخرت کې ونه نيسي.

۲) د دې بر خلاف که قسم له ټينګ هوډ او د زړه له ارادې سره شوی وي، د هغه په وسيله کومه ژمنه او تړون را منځ ته شوی وي، پر حقوقو او دندو اغېزولري او يا د الله پر کوم تحليل او تحريم اثر کولای شي نو پر دې به ورسره الله حتما حساب وکړي ځکه نو بايد انسان د دا ډول قسم په معامله کې بې پروا او غافل نه شي بلکې بايد په ټول مسئوليت سره يې وساتي.

۳) که دا ډول قسم له يوې وجې مات شي نو د کفارې ورکړه يې ضروري ده، طريقه يې داده چې قسم کوونکی دي لسو مسکينانو ته د هغه معيار خوراک ورکړي چې په عمومي توګه يې خپلې کورنۍ ته ورکوي، يا دي د اغوستلو جامې ورکړي او يا دي يو مربيی ازاد کړي که په دې کې هيڅ شی ونه لري نو درې ورځې روژه به نيسي. دا د قسم په اړه د قرآن حکم دی، رسول الله ﷺ يې په وضاحت کې درې خبرې کړې دي:

لومړی دا چې نذر هم يو ډول قسم دی ځکه به يې نو نذر هماغه وي چې په قرآن کې د قسم لپاره بيان شوی:

كفارة النذر كفارة اليمين. "د نذر کفاره د قسم د کفارې په څېر ده."

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(مسلم، شمېره: ۴۲۵۳)

دويمه داچې قسم بايد د هيڅ غوره خيريه کار خنډ نه شي:

اذا حلفت على يمين فرأيت غيرها خيرا منـــها فكفر عن يمينک وأت الذى هو خير.

(بخاري، شمېره: ۶۶۲۲)

"که پر کوم کار لوړه وکړې او تر هغه ښه شی ووينې نو د قسم د کفارې په ورکړه هغه ښه کار وکړه."

درېيمه داچې د الله له نوم پرته د بل چا په نوم قسم هم يو ډول شرک دی ځکه نو بايد قسم صرف د الله په نوم وشي:

من حلف بغير الله فقد اشرک.

(ابوداود، شمېره: ۳۲۵۱)

"چا چې له الله پرته د بل چا په نوم قسم وخوړ نو شرک يې وکړ."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وروستی خبرې

د الله تعالی شکر دی چې د دې کتاب لیکلو کوم کار مې په (۱۹۹۰ = ۱۴۱۰ هـ ق) کې کوم مهال پیل کړی نن اوولس کاله وروسته بشپړ شو. دا د هغه ټول دین بیان دی چې د الله د وروستي رسول محمد ﷺ په وسیله بشریت ته ورکول شوی دی، هغه د فقهې، کلام، فلسفې او تصوف له هر ډول اختلاط پرته بې څه زیادت او کمبوته خالص د قرآن او سنتو پر بنسټ په همدې کتاب کې وړاندې شوی دی.

په روایاتو کې چې د رسول الله ﷺ په حواله کوم څه بیان شوي هغه د تائید په توګه راغلي دي او هماغه یې منل شوي دي چې د روایت د صحت لپاره د محدثینو پر را منځ ته کړو معیارونو پوره خبژي، له دې څخه د کمې درجې هیڅ روایت ته پکې ځای نه دی ورکړل شوی.

په دې کتاب کې چې د قرآن او سنت کوم تعبیر وړاندې شوی هغه ته د رسېدو لپاره مې د هر هغه نظر او فکر تل ته په کښته کېدو او فهم هڅه کړې چې له مخکینیو او وروستنیو علماوو څخه نقل شوي دي.

څه چې منل شوي د هغو د ملاتړو د لږوالي او ډېروالي، یا نوم او شخصیت پر بنسټ نه بلکې د هغوی د دلایلو پر بنسټ منل شوي دي.

د امام فراهي او استاذ امام امین احسن اصلاحي اندونه د دې کتاب بنسټ جوړوي، مګر په هغو کې هم هیڅ شی له دې امله نه دی منل شوی چې دې ستړو علماوو ویلي دي. ما ډېر ځله میاشتې - میاشتې غور کړی او یوازې د دلایلو د صحت او نه صحت پر بنسټ یې د رد او قبول پرېکړه شوې ده.

داسې څو ځایونه شته چې هلته که له یوې خوا زما نظر د نورو علماوو او محققینو له نظرونو سره موافق نه دی، همدا رنګه له خپلو دې مشرانو سره هم تر ډېره بریده بېل دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مګر بیا هم دا یو انساني کار دی چې هیڅکله له تېروتنو پاکېدای نه شي، زه یې بیا - بیا مطالعه کوم او پکې ترمیم و زیاتونه کوم، وخت پر وخت یې کوم بابونه خپاره شوي د هغو په لیدو هر سړی اټکل کولای شي چې که ما ته د ژبې او بیان، علم او نظر او اخذ و استنباط هره غلطي څرګنده شوې نو په وروسته چاپ کې مې له څه شک پرته اصلاح کړې ده. زه هر وخت دې ته چمتو یم چې که په راتلونکي کې ما ته د دې کتاب کومه تېروتنه څرګنده او یا را وښودل شي نو ان شاء الله اصلاح به یې کړم، زه له دې څخه د الله پناه غواړم چې د دین په اړه قصدا کومه تېروتنه وکړم او یا پرې ټینګ شم.

د خپل رب د پېرزویني له اقرار او مننې سره دلته له ګران ورور شیخ افضال احمد څخه ځانګړې مننه کوم چې په دې ټوله موده کې یې زه له مالي هڅو بې نیازه کړم او زما ټولې اړتیاوې یې له ډېرې مینې او په وړین تندي پوره کړې. همدا حالت مې د میرمنې هم دی، که د دې اخلاص او مرسته نه وای نو د کورنۍ له ستونزو سره یې په ارام زړه پوره کول اسان نه وو.

زما د شخصي چارو په څارنه کې د ګران ورور شکیل الرحمن، ډاکټر منیر احمد، محمد انیس مفتي او الطاف محمود مینه او مرسته هم له هره پلوه د مننې وړ ده. په تېرو دوو کلونو کې دا دنده ګران ورور شاهد مولود او عمران کریم تر لاسه کړې، له دوی څخه هم مننه کوم، همدا راز د هغو شاګردانو او دوستانو مننه وی هم یم چې د دوی د مشورو او کتنې له امله مې د دې کتاب د ځینو نیمګړتیاوو په لرې کولو کې مرسته تر لاسه کړې، په دوی کې ښاغلی عمار خان یاسر، ښاغلی معز امجد او ښاغلی طالب محسن د ځانګړې یادونې وړ دي.

دا کار ښاغلي محمد رفیع مفتي او ښاغلي افتخار تبسم هم ترسره کړی. د دې کتاب ټول روایات دوی دوو په دقیق نظر جاجولي او د هغو د رد و قبول په اړه یې ګټورې مشورې راکړې چې ډېرې مې یې منلې دي، له ښاغلي شهزاد سلیم څخه د مننې څرګنده ده چې هم ضروري دي چې د دې کتاب له پوره کولو سره یې د هغه انګریزي ژباړه هم پوره کړه.

د دې کتاب د چاپ چارې د المورد د تصنیف او تالیف په څانګه کې ښاغلي منظور الحسن او د هغه کار کوونکو ترسره کړې دي، د دوی مننه هم واجب ده. دوی چې دا کار په څومره زحمت او خواري ترسره کوي له هره پلوه د شاباسي وړ دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا د یوه زده کوونکي د فکر او څېړنې نتیجه ده او په همدې توګه وړاندې کېږي، له الله څخه دعا غواړم چې که په دې توګه د دین کوم خدمت ترسره شوی وي نو ویې منې او زما د مغفرت وسیله یې کړي، همدا مو هیله ده او له دې پرته مو د زړه هر ارمان رخصت شوی دی.

جاوید

المورد لاهور

جمعه ۲۷/ اپریل/ ۲۰۰۷

۹/ ربیع الثاني/ ۱۴۲۸هـ ق

د ژباړې پای

۲۰۱۵/ ۶ جون/ ۱۱

ماخوستن نهه بجې

کوته - بلوچستان

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ماخذونہ

۱) الاتقان فی علوم القرآن، السیوطي، جلال الدین بن عبد الرحمن بن ابی بکر (م ۹۱۱ ھ)، دار الکتاب العربي، بیروت، لومڑی چاپ ۱۴۱۹ھ/ ۱۹۱۹

۲) الاحسان في تقریب صحیح ابن حبان، البستي، ابو حاتم محمد بن حبان (م ۳۵۴ ھ)، ترتیب: الفارسي، علاء الدین علی بن بلبان (م ۷۳۹ ھ)، دار المعرفہ، بیروت لومڑی چاپ، ۱۴۲۵ھ/ ۲۰۰۴م

۳) احکام القرآن، الجصاص، ابو بکر احمد بن علی الرازي (م ۳۷۰ ھ)، دار الکتاب العربي، بیروت

۴) احکام القرآن، ابن العربي، ابو بکر محمد بن عبداللہ (م ۵۴۳ ھ)، دار احیاء التراث العربي، بیروت

۵) اخبار مکہ، الازرقی، ابوالولید محمد بن عبداللہ بن احمد، مکتبۃ الثقافہ، مکۃ المکرمہ، لسم چاپ، ۱۴۲۳ھ/ ۲۰۰۲م

۶) الاستیعاب فی معرفۃ الاصحاب، ابن عبدالبر، ابو عمر یوسف بن عبداللہ بن محمد بن عبدالبر (م ۴۶۳ ھ)، دار الجیل، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۱۲ھ/ ۱۹۹۲م

۷) انوار التنزیل واسرار التاویل، البیضاوی، ناصر الدین ابوالخیر عبداللہ بن عمر (م ۷۹۱ ھ)، شرکۃ مکتبۃ و مطبعۃ مصطفی البابی الحلبی واولادہ، مصر، لومڑی چاپ، ۱۳۵۸ھ/ ۱۹۳۹م

۸) برہان، جاوید احمد غامدی، المورد، لاہور، ثلورم چاپ، ۲۰۰۶م

۹) البرہان فی علوم القرآن، الزرکشی، بدرالدین محمد بن عبداللہ بن بہادر (م ۷۹۴ ھ)، دار المعرفہ، بیروت، دویم چاپ، ۱۴۱۵ھ/ ۱۹۹۴م

۱۰) تاریخ الامم والملوک، الطبری، ابوجعفر محمد بن جریر (م ۳۱۰ ھ)، دار الفکر، بیروت، ۱۳۹۹ھ/ ۱۹۷۹م

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱۱) تاریخ دمشق الکبیر، ابن عساکر، ابو القاسم علی بن الحسن الدمشقی (م ۵۷۱ ھ)، تحقیق: ابو عبد اللہ علی عاشور الجنوبی، دار احیاء التراث العربی، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۲۱ھ/ ۲۰۰۱م

۱۲) تاریخ یحییٰ بن معین (م ۲۳۳ ھ)، روایۃ الدوری: ابو الفضل العباس بن محمد (م ۲۷۱ ھ)، تحقیق و تعلیق: عبد اللہ احمد حسن، دار القلم، بیروت

۱۳) تدبر قرآن، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، فاران فاؤنڈیشن، لاہور، پنجم چاپ، ۱۴۱۳ھ/ ۱۹۹۳م

۱۴) تزکیہ نفس، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، فاران فاونڈیشن، لاہور، پنجم چاپ، ۲۰۰۶م

۱۵) تفسیر القرآن العظیم، ابن کثیر، ابو الفداء اسماعیل بن عمر بن کثیر (م ۷۷۴ ھ)، امجد اکیڈمی، لاہور، ۱۴۰۳ھ/ ۱۹۸۲م

۱۶) التفسیر الکبیر، الرازی، ابو عبد اللہ محمد بن عمر بن حسین (م ۶۰۶ ھ)، دار الکتب العلمیہ، طہران، دویم چاپ

۱۷) تفہیم القرآن، سید ابو الاعلیٰ مودودی، ادارہ ترجمان القرآن، لاہور، اتہ دپرشم چاپ، ۱۴۲۶ھ/ ۲۰۰۵م

۱۸) تنویر الحوالک علیٰ موطأ مالک، السیوطی، جلال الدین عبد الرحمن بن ابی بکر (م ۹۱۱ ھ)، شرکۃ مکتبۃ و مطبعۃ مصطفی البابی الحلبی و اولادہ، مصر، ۱۳۷۰ ھ/ ۱۹۵۱م

۱۹) توضیحات، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، اسلامک پبلیکیشنز، لاہور، ۱۹۸۶م

۲۰) جامع البیان، الطبری، ابو جعفر محمد بن جریر (م ۳۱۰ ھ)، تحقیق: محمود شاکر، دار احیاء التراث العربی، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۲۱ھ/ ۲۰۰۱م

۲۱) الجامع الصحیح، البخاری، ابو عبد اللہ محمد بن اسماعیل (م ۲۵۶ ھ)، دار السلام، الریاض، دویم چاپ، ۱۴۱۹ھ/ ۱۹۹۹م

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲۲)الجامع الصحیح، مسلم، ابو الحسین مسلم بن الحجاج النیسابوری (م ۲۶۱ھ)، دارالسلام، الریاض، دویم چاپ، ۱۴۲۱ھ/۲۰۰۰م

۲۳)الجامع الکبیر، الترمذی، ابو عیسیٰ محمد بن عیسیٰ بن سورہ (م ۲۷۹ھ)، دارالغرب الاسلامی، بیروت، دویم چاپ، ۱۹۹۸م

۲۴)حقیقت شرک و توحید، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، فاران فاؤنڈیشن، لاہور، ۱۴۰۹ھ/۱۹۸۸م

۲۵)خزانۃ الادب ولب لباب لسان العرب، البغدادی، عبدالقادر بن عمر (م ۱۰۹۳ھ)، دارصادر، بیروت، لومڑی چاپ

۲۶)دعوت دین اور اُس کا طریق کار، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، فاران فاؤنڈیشن، لاہور، دویم چاپ، ۱۴۱۰ھ/۱۹۸۹م

۲۷)الرأی الصحیح فی من ھو الذبیح، الفراھی، عبدالحمید (م ۱۳۴۹ھ)، ترجمہ: امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، مکتبہ مرکزی انجمن خدام القرآن، لاہور، ۱۳۹۹ھ/۱۹۷۵م

۲۸)رسائل الامام الفراھي فی علوم القرآن، الفراھي، عبدالحمید (م ۱۳۴۹ھ)، الدائرۃ الحمیدیہ، سرای میر، اعظم گڑھ، دویم چاپ، ۱۴۱۱ھ/۱۹۹۱م

۲۹)الروض الانف، السھیلی، ابو القاسم عبدالرحمن بن عبداللہ (م ۵۸۱ھ)، داراحیاء التراث العربی، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۲۱ھ/۲۰۰۰م

۳۰)الروض الدانی الی المعجم الصغیر، الطبرانی، ابو القاسم سلیمان بن احمد بن ایوب (م ۳۶۰ھ)، محمد شکور محمود الحاج امریر، المکتب الاسلامی، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۰۵ھ/۱۹۸۵م

۳۱)سنن ابن ماجہ، القزوینی، ابو عبداللہ محمد بن یزید (م ۲۷۳ھ)، دارالکتب العلمیہ، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۱۹ھ/۱۹۹۸م

۳۲)سنن ابی داؤد، السجستانی، سلیمان بن الاشعث (م ۲۷۵م)، دارالجیل، بیروت، ۱۴۱۲ھ/۱۹۹۲م

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳۳) السنن الکبری، البیهقی، ابوبکر احمد بن الحسین بن علی (م ۴۵۸ھ)، دارالکتب العلمیه، بیروت، درپیم چاپ، ۱۴۲۴ھ/۲۰۰۳م

۳۴) سنن النسائی الصغریٰ، النسائی، ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب (م ۳۰۳ھ)، دارالسلام، الریاض، ۱۴۲۰ھ/۱۹۹۹م

۳۵) السیرة النبویة، ابن کثیر ، ابوالفداء اسماعیل بن عمر بن کثیر (م ۷۷۴ھ)، دارا حیاء التراث العربی، بیروت

۳۶) السیرة النبویة، ابن هشام، ابو محمد عبدالملک بن هشام (م ۲۱۳ھ)، دارالخیر، بیروت، دویم چاپ، ۱۴۱۶ھ/۱۹۹۵م

۳۷) السیرة النبویة، ابن اسحاق، محمد بن اسحاق بن یسار المطلبی (م ۱۵۱ھ)، دارالکتب العلمیة، بیروت، لومړی چاپ، ۱۴۲۴ھ/۲۰۰۴م

۳۹) شرح المواهب اللدنیة، الزرقانی، محمد بن عبدالباقی (م ۱۱۲۲ھ)،

المطبعة الازهریة، مصر، لومړی چاپ، ۱۳۲۷ھ

۳۹) صحیح ابن خزیمه، النیسابوری، ابوبکر محمد بن اسحاق بن خزیمه (م ۳۱۱ھ)، تحقیق و تخریج: ډاکټر محمد مصطفی الاعظمی، المکتب الاسلامی، بیروت، دویم چاپ، ۱۴۱۲ھ/۱۹۹۲م

۴۰) الطبقات الکبریٰ، کاتب الواقدی ، محمد بن سعد بن منیع (م ۲۳۰ھ)، دارالفکر، بیروت، لومړی چاپ، ۱۴۱۴ھ/۱۹۹۴م

۴۱) عبقات، شاه اسماعیل دهلوی (م ۱۲۴۶ھ)، قلمی نسخه، پنجاب یونیورسټی لائبریری، لاهور

۴۲) فتوح البلدان، البلاذری، ابوالحسن احمد بن یحییٰ (م ۲۷۳ھ) ، دارالکتب العلمیه، بیروت، ۱۳۹۸ھ/۱۹۷۸م

۴۳) القائد الیٰ عیون العقائد ، الفراهي، عبدالحمید (م ۱۳۴۹ھ)، الدائرة الحمیدیه، سرای میر، اعظم ګړه، لومړی چاپ، ۱۳۹۵ھ/ ۱۹۷۵م

۴۴) الکامل فی التاریخ، ابن الاثیر، عزالدین ابوالحسن علی بن محمد الجزری (م ۶۳۰ھ)، دارالکتاب العربی، بیروت، ۱۴۲۷ھ/۲۰۰۶م

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴۵) کتاب الخراج، قاضی ابو یوسف یعقوب بن ابراھیم (م ۱۸۲ھ)، دار المعرفہ، بیروت

۴۶) الکشاف، الزمخشری، ابو القاسم محمود بن عمر (م ۵۳۸ھ)، دار احیاء التراث العربی، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۱۷ھ/۱۹۹۷م

۴۷) الکفایۃ فی علم الروایۃ، خطیب بغدادی، ابو بکر احمد بن علی بن ثابت (م ۴۶۳ ھ)، دائرۃ المعارف العثمانیہ، حیدر آباد دکن، ۱۳۵۷ھ

۴۸) لسان العرب، ابن منظور، ابو الفضل محمد بن مکرم بن منظور الافریقی (م ۷۱۱ ھ)، دار صادر، بیروت

۴۹) مبادی تدبر حدیث، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، فاران فاؤنڈیشن، لاہور، دویم چاپ، ۱۴۱۴ھ/۱۹۹۴م

۵۰) مبادی تدبر قرآن، امین احسن اصلاحی (م ۱۴۱۸ھ)، فاران فاؤنڈیشن، لاہور، ۱۴۰۸ھ/۱۹۸۸م

۵۱) مجموعہ تفاسیر فراھي، الفراھي، عبد الحمید (م ۱۳۴۹ھ)، فاران فاؤنڈیشن، لاہور، لومڑی چاپ، ۱۴۱۲ھ/۱۹۹۱م

۵۲) مذہب اور جدید چیلنج، وحید الدین خان، المکتبۃ الاشرفیۃ، لاہور

۵۳) المزھر فی علوم اللغۃ والادب، السیوطی، جلال الدین عبد الرحمن بن ابی بکر (م ۹۱۱ھ)، دار الکتب العلمیۃ، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۹۹۸م

۵۴) المستدرک علی الصحیحین، الحاکم، ابو عبد اللہ محمد بن عبد اللہ النیسابوری (م ۴۰۵ھ)، مکتبۃ نزار مصطفی الباز، مکۃ المکرمہ، لومڑی چاپ، ۱۴۲۲ھ/۲۰۰۰م

۵۵) المسند، ابن حنبل، ابو عبد اللہ احمد بن محمد بن حنبل الشیبانی (م ۲۴۱ھ)، دار احیاء التراث العربی، بیروت، ۱۴۱۵ھ/۱۹۹۴م

۵۶) مسند ابو یعلیٰ، الموصلی، ابو یعلیٰ احمد بن علی بن المثنی التمیمی (م ۳۰۷ ھ)، تحقیق: ظھیر الدین عبد الرحمن، دار الفکر، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۲۲ھ/۲۰۰۲م

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۵۷)المصنف فی الاحادیث والآثار، ابن ابی شیبہ، ابوبکر عبداللہ بن محمد بن ابی شیبہ الکوفی (م ۲۳۵ھ)، دارالکتب العلمیہ، بیروت، دویم چاپ، ۱۴۲۶ھ/۲۰۰۵م

۵۸)المعجم الاوسط، الطبرانی، ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب (م ۳۶۰ھ)، تحقیق: محمد حسن محمد حسن اسمعیل الشافعی، دارالکتب العلمیہ، بیروت، لومڑی چاپ، ۱۴۲۰ھ/۱۹۹۹م

۵۹)المفصل فی تاریخ العرب قبل الاسلام، ڈاکٹر جواد علی، دارالعلم للملایین، بیروت، دویم چاپ، ۱۹۷۶م

۶۰)المعجم الکبیر، الطبرانی، ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب (م ۳۶۰ھ)، تحقیق: حمدی بن عبدالمجید السلفی، مکتبۃ الزہرائ، الموصل، دویم چاپ، ۱۴۰۴ھ/ ۱۹۸۳م

۶۱)الموطا ،المدنی، ابوعبداللہ مالک بن انس (م ۱۷۹ھ)، روایت: الاندلسی، یحیی بن یحیی بن کثیر (م ۲۳۴ھ)، المکتبۃ الحقانیہ، پشاور

۶۲) Judaism in Islam، ابراھم کیتش، بلاچ پبلشنگ کمپنی، نیو یارک، لومڑی چاپ، ۱۹۵۴م

۶۳) The Decline and Fall of the Roman Empire، ایڈورڈ گبن، دی ماڈرن لائبریری، نیویارک

۶۴) Commentary The Talmud of Babylonia; An Academic، جي نیوزنر، اسکالرز پریس، ایٹلانٹا، ۱۹۹۶م

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المورد
د علم او څېړنې اداره